# ارمغانِ خوشحال

مقدمہ

سید رسول رسا

یونیورسٹی بک ایجنسی

پشاور

POHA
Ketabton.com
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارمغان خوشحال

سره د مقدمې د

میاں سید رسول رسا

یونیورسټي بک ایجنسي
خیبر بازار
پیښور

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقوق د ناشر په حق کښ محفوظ دی

دکتاب نوم ——— ارمغانِ خوشحال

مقدمه ——— سید رسول رسا

دچاپ کال ——— اول ځل: ۱۹۶۷ء
دویم ځل: ۲۰۰۱ء

تعداد ——— یو زر (۱۰۰۰)

خورونکې ——— یونیورسټي بک ایجنسی خیبر بازار پیښور

چاپ ځائے ——— ماسټر پریس محله جنګی پیښور

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترون

①

سرا یولن ها دل او سرا ولف کیرو

ته

چاچه دَ خوشحال خان ختک منتخب کلام

دَ انګریزي شعر په جامه کښې ننني، دُنیا ته

څرګند کړو۔

رسا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پيش لفظ

دَ نوښار دَ ادبي جرګې دَ انتظام دَ لاندې په ۱۹۳۸ء کښې دَ خوشحال خان بابا په مزار، په اول ځل يوه جلسه، او مشاعره شوې وه. په دې غونډه کښې ما دَ خوشحال خان په شخصيت، دَ هغهٔ په فلسفهٔ حيات، او دَ هغهٔ په شاعرئ يوه لنډه شان مقاله لوستې وه. دَ دې مقالې ځنې اقتباسات په دې اوسني مضمون کښې ځائے په ځائے ورکړے شوي دي.

دا هغه زمانه وه چه دَ فيرنګيانو شهنشاهيت بنهٔ په زور کښې وُو. او دَ فيرنګيانو دَ شهنشاهيت دَ سورې دَ لاندې هندوانو دَ متحده هندوستان په اساس دَ مهاتما ګاندهي دَ قيادت دَ لاندې، نهٔ يوازې دَ هندو شهنشاهيت دپاره مزکه تياره وله، بلکه دَ عدم تشدد دَ فلسفهٔ حيات په نوم هغوئ لکه دَ يونان دَ "کوسلندانِ قديم" په شان دَ مسلمان قوم دَ خوئ بوئ بدلولو کوشش هم کولو. او شيرانو ته ئے دا تعليم ورکولو چه دَ ګډے شوند دَ شير دَ ژوند نه غوره او افضل دے حالانکه روستو واقعاتو دا ثابته کړه چه دَ عدم تشدد دَ فلسفې لوئے قائد مهاتما ګاندهي خپله فلسفه، دَ هندو قوم دَ حيات دپاره ضروري او مفيده نهٔ ګڼله، او هندو قوم ئے دَ دے فلسفې په عملي کولو مجبورول نهٔ غوښتل. دا صرف دَ فيرنګيانو دَ شهنشاهيت دَ لړے کولو، او دَ هندو شهنشاهيت دَ قائمولو دپاره دَ هغهٔ سياسي او کلتوري شاطرانه چال وُو. دَ آزادئ نه پس چه دَ هندو قوم اولنئ جګړه دَ مسلمان قوم سره په کشمير راغله نو دَ عدم تشدد، دَ فلسفهٔ حيات نوي قائد مهاتما ګاندهي خپله فتوي ورکړه چه په کشمير کښې هندوانو ته دَ مسلمانانو خلاف زور استعمالول ضروري دي.

زمونږ په ادبي مشاهيرو کښې، دَ هغه وخته سره خوشحال خان صرف يو ده دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې تیره شوې ده چه دَ هغهٔ افکار او شاعري موثر دَ انګریز قوم دَ شهنشاهیت او دَ هندو قوم دَ سیاسي او کلتوري چالبازو خلاف په کامیابۍ سره استعمالولې شول. چنانچه ما په خپله مقاله کښې دَ خوشحال خان مردانه او اسلامي فلسفهٔ حیات، دَ مهاتما دَ عدم تشدد دَ زنانه فلسفهٔ حیات په ضد کښې دَ "پښتو او پښتون" دَ عنوان دَ لاندې په اختصار سره بیان کړه. او دَ انګریزي شهنشاهیت او دَ راتلونکې هندو شهنشاهیت دَ مخالفت په خیال، دَ هغهٔ په سیاسي افکارو م هم یوه لنډه شان تبصره اوکړه. او ورسره ورسره م دَ هغهٔ دَ شاعرۍ په عظمت، جامعیّت او تنوع هم بحث اوکړو.

دا زما په خوشحال خان په نثر کښې اولنې مضمون وُو. او دا هغه وخت لیکلې شوې او چاپ شوې وُو، چه دَ فیرنګیانو شهنشاهیت سِنځ په زور کښې وُو. او دَ برصغیر دَ آزادۍ جنګ روان وُو. دَ آزادۍ جنګ په آخر کښې په کامیابۍ سره ختم شو. خو دَ مهاتما ګاندهي دَ متحدهٔ هندوستان او متحده قومیت، سیاسي او کلتوري شاطرانه چال ناکامیابه شو. دَ هغهٔ په مقابله کښې یو بل مردِ مجاهد راپاځید وچه دَ قائد اعظم محمدعلي جناح په نامهٔ مشهور دې. او دَ پاکستان دَ اسلامي جمهوریت معمار او پلار دې. هغه دَ ګاندهي سیاست او فلسفه، دَ هندوستان دَ مسلمان ملت دپاره سمِ قاتل اوګڼړل او په آخر کښې ئې دَ زبردست انګریزي شهنشاهیت واکداران او دَ چلباز هندو سیاست لیډران په دې مجبوره کړل چه آزاد هند په دوه برخو کښې اوویشي. یوه برخه دَ هندو، هندوستان شوه او بله برخه دَ هندوستان دَ مسلمان ملت خانته یو آزاد او خودمختاره پاکستان شو.

حقیقت کښې دَ پاکستان اسلامي ریاست، دَ هغې زبردست تاریخي کشمکش ما حاصل دې چه په برصغیر کښې دَ هندومت او دَ اسلام ترمینځه څهٔ کم وزیات زرکاله روان وُو. او په آخر کښې دَ هند دَ مسلمان ملت په فتح تمام شو، یعني پاکستان جوړ شو. چه دَ هند دَ مسلمانانو یو مشترکه آزاد، جمهوري اسلامي مملکت دې. او دَ برصغیر دَ هر اصل او نسل دَ مسلمانانو ورکښې مساوي حیثیت او مساوي برخه ده. څوک ورکښې بادشاه او رعیت نشته. په دې کښې بنګالي، سندهي، پنجابي، بلوچ، پښتون او مهاجر په یوشان مساوي حقوق او مساوي حیثیت لري. او دَ مسلمانانو دَ ورورولۍ او اخوت یوه ژوندئ نمونه او ژوندئ مثال دې.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پاکستان دَ جوړيدو نه پس څنې پښتنو ليکونکو په خوشحال خان محققانه او جامع کتابونه ليکلي دي چه په دوئ کښې دَ دوست محمد خان کامل، خوشحال خان خټک او دَ مير عبدالصمد خان، خوشحال او اقبال کافي شهرت حاصل کړے دے. خو څنې داسے پښتانه ليکوال هم شته، چه هغوئ دَ انګريزي شهنشاهيت په زمانه کښې دَ خوشحال خان نوم قدرے هم په خوله نه اخستو. خو اوس دَ خپلو خود غرضانه او غلط سياسي اغراضو دپاره خوشحال خان په رنګ رنګ ستائي. او نهٔ يوازے دَ هغهٔ اشعار او افکار دَ پاکستان دَ آزاد اسلامي جمهوري رياست په خلاف استعمالوي - بلکه دَ هغهٔ اسلامي تعليمات او شاعري خلقوته په غلطه طريقه وړاندِ کوي. او هغه محض په طور دَ يو نسلي علمبردار او امام پيش کوي. او دَ ځهٔ مخصوصو حالاتو په بناچه هغهٔ دَ مغلو دَ نسلي شهنشاهيت خلاف کومه مجاهده کړے ده. هغه تاريخي کشمکش، هغوئ اوس عمدًا دَ خوشحال خان په نوم، دَ پاکستان دَ جمهوري اسلامي سلطنت خلاف دَ نسلي پروپيګنډے په سلسله کښې استعمالوي. او دغه شان دَ پښتنو دَ ګمراه کولو کوشش کوي. او پښتانهٔ دَ خپل وطن او مملکت يعني پاکستان خلاف دَ خپلو ذاتي او خود غرضانه سياسي اغراضو دپاره اودرول او جنګول غواړي.

په دے وجه ما ضروري اوګڼله چه دَ خوشحال خان په شاعرئ بيا ځهٔ اوليکم او دَ خوشحال خان دَ مغلو سره کشمکش او دَ هغهٔ تاريخي او ادبي شخصيت او دَ هغهٔ تعليمات، افکار، شاعري او فلسفهٔ حيات په صحيح طريقه لوستونکو ته وړاندِ کړم.

زهٔ دَ خپل دوست مياں فضل مېنِ صاحب، مالک دَ يونيورسټي بک ايجنسي شکريه اداکوم چه هغوئ دَ "ارمغانِ خوشحال" دَ مقدمے، ترتيب او شرحے دپاره ماته او وئيل. او ماته ئے دا موقع راکړه چه دَ خوشحال خان شخصيت او شاعري يو ځل بيا شائقينو ته پيش کړم.

سيد رسول رَسا

۳۰/ ريس کورس کار پوسٹر

پښاور کينٹ



Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ خوشحال خان شخصیت او شاعري

## دَ خوشحال علاقه، دَ خوشحال زمانه او دَ هغې زمانې

## تاریخي پس منظر

دَ خوشحال خان خټک دَ اوسیدو ځائے یوه داسے علاقه ده چه دَ وسطِ ایشیا او دَ وسطِ ایشیا دَ خواوُ شا علاقو نه چه دَ هند و پاکستان په نیم قارهٔ دَ زمانهٔ قدیم نه کوم حمله کونکي راتلل نو هم په دغه علاقه به تیریدل او هم دغه ئے لار وه - دَ خیبر نه تر اټکه پورے چه کومه علاقه پرته ده دا دَ هند و پاکستان دَ براعظمګۍ دروازه ده. او په دے وجه دے علاقے، او دَ دے علاقے خلقو، دَ هندوستان څهٔ چه دَ ایشیا په تاریخ جوړولو کښے اهم کار کړے دے. دَ وسطِ ایشیا نه آریه په دے لار هندوستان ته راغلي دي - دَ وسطِ ایشیا او دَ وسطِ ایشیا دَ خواوُ شا دَ علاقے نور قومونه لکه کوشانیان، تورانیان، ایرانیان، هُن او منګول وغیره هم په دے لار تیر شوي دي - دَ دُنیا لوئے لوئے فاتحان لکه سکندر، محمودِ غزنوی، شهاب الدین غوری، چنګیز خان، تیمور لنګ، بابر، نادر شاه افشار او احمد شاه ابدالي وغیره هم په دے لار هند ته تلي دي.

دَ دے وجه دا وه چه دَ هندوستان دَ پارهٔ دَ همالیے غر په شمال او شمال مشرق کښے دَ یو قدرتي فصیل کار ورکولو - او په همالیه راتیریدل دَ پخوانو حمله کونکو دَ پاره تقریبًا ناممکن وُو. صرف دَ هندوستان په شمال مغرب کښے خو داسے قدرتي درے وے چه په دغه درو هندوستان ته راتلل آسان وُو - او حمله کونکو به هم دغه درے استعمالولے - او دَ سند، پنجاب او ګنګا زرخیزے میداني علاقے به ئے په خپل تسلط کښے راوستے او حکومت به ئے پرے کولو - هندوستان دَ سرو زرو مرغۍ وه - او هرچا به غوښتل چه دا مرغۍ په خپله قبضه کښے راولي. او دَ هندوستان دَ زرخیز وطن دَ زرعي او معدني خزانو مالک شي -

دَ مغلو دَ زمانے نه وړاندِ په هندوستان، په سوونو کاله دَ پښتنو حکومت تیر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وُو۔ او دا حکومت صرف دَ پښتنو يوې لوئې قبيلې او دَ هغې قبيلې مختلف شاخونو کړې دے. غوريان، خلجيان او لوديان ټول غلجيان وُو۔ بلکه په بابر پسے چه څهٔ لږه موده سوريانو کوم حکومت کړے دے، دا هم غلجيان وُو۔ په هند څهٔ چه په ايران هم چه دَ پښتنو څهٔ لږه موده حکومت پاتے شوے دے نو هغه هم هوتکو کړے دے چه دَ غلجيانو يو شاخ دے۔ دَ دے نه علاوه دَ غزنويانو د پاره هم په هر ميدان کښے توره غلجيانو کړے ده۔

خوشحال خان خټک دَ ډهلی دَ بادشاهانو يوه ورکوټے تاريخچه په يوه قصيده کښے دا سے ورکړے ده۔ دَ دے قصيدے اولنے شعر دا دے:۔

دَ ډهلی دَ شهر ښهٔ شان و شوکت وُو
لور په لور ئے ښکلے ښکلے عمارت وُو

په دے قصيده کښے خوشحال وائی چه بابر هم دَ پښتنو په برکت دَ ډهلی تخت او نيوُو۔ يو طرف ته خو دَ بابر په فوځ کښے ډير پښتانهٔ شامل وُو او بل طرف ته بابر دَ پښتنو دَ ترهٔورولئ او جګړو نه فائده واخسته۔ دولت خان لودی ئے دَ ځان سره کړو او دَ هغهٔ په امداد ئے ابراهيم لودی ته دَ پانی پت په ميدان کښے شکست ورکړو۔ دا جنګ په تاريخ کښے دَ پانی پت دَ اول جنګ په نامهٔ يادېږی چه په کال ۱۵۲۷ء کښے شوے دے۔ ابراهيم لودی خپله هم په دے جنګ کښے قتل شو۔ او د غه شان بابر په هند دَ پښتنو دَ حکومت خاتمه او کړه۔ او دَ مغلو حکومت ئے قائم کړو۔

مغل دَ وسط ايشيا خلق وُو۔ او دَ مغلو دَ حکومت د پاره دا لازمی وه چه دَ خپل وطن سره قومی رابطه او ساتی. ځکه چه دوئ ته دَ وطن دَ اعتباری لښکرو او فوځيانو هر وخت ضرورت وُو۔ او دوئ ته دا کومک او دا امداد هله رسيدے شو چه دَ هندوستان او خراسان ترمينځه بادشاهی لار ئے خلاصه ساتلے او په دے لار ئے مکمل تسلط وے۔ دا لار دَ زمانهٔ قديم نه دَ اټک په خواؤ شا کښے تيريدله۔ دَ لنډی او دَ اباسين دَ مقام اتصال نه لر په بره په ژمی کښے په اباسين تيريدل آسان دی۔ په دے وجه دَ شمال مغرب نه چه دَ هندوستان دَ فتح کولو د پاره به فاتحان راتلل نو هغوئ به په ژمی کښے اټک ته ځان رسولو۔ او دَ اټک په خواوشا کښے به دَ اباسين نه پورے وتل او دَ هندوستان په لوری به تلل۔

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغل شهنشاه اکبر چه په اول ځل اټک ته راغے او د اټک په اهميت پوهـ شو نو دلته ئے د يوے مضبوطے قلا د جوړولو حکم ورکړو چه تراوسه پورے محکمه ولاړه ده۔ او د اکبر بادشاه د قلا په نوم ياديږي۔

د اټک د خواؤ شا علاقه هغه اهمه علاقه ده چرته چه خوشحال خان خټک اوسيد و۔ او خوشحال خان خټک چه په کومه زمانه کښے اوسيدو، د هغے زمانے يو مختصر تاريخي پس منظر په لنډو کښے ما د تمهيد په طور څکه بيان کړو چه لوستونکو ته د مغلو او د پښتنو د تاريخي کشمکش متعلق څهٔ لږ ډير معلومات د اول نه حاصل شي۔ او د دے معلوماتو په رڼړا کښے د خوشحال خان خټک د تاريخي کردار او شخصيت صحيح جائزه واخلی۔

# د خوشحال خان خټک خاندان

د کوهاټ ضلع د خټکو کور دے۔ يعني د خټکو لويه حصه په کوهاټ پرته ده۔ په کوهاټ کښے د خټکو دوه لوئے شاخونه دی۔ يو بولاق او بل تری۔ د خوشحال خټک د غور نيکهٔ نوم اکوړے ؤو۔ دے تری خټک ؤو۔ د ملک اکوړي په زمانه کښے هم د خټکو لويه حصه په کوهاټ پرته وه۔ خو ملک اکوړے خپله د کوهاټ نه راغلو او د اټک په خواؤشا کښے د هغے بادشاهي لاره په غاړه آباد شو، کومه چه د اټک نه په نوښار پيښور ته تلے ده۔ او اوس په جرنيلي سړک ياديږي۔ د اسے معلوميږي چه په هغه زمانه کښے هم د نوښار او اټک ترمينځه خټک آباد ؤو۔ او د دے خټکو او هغه خټکو کوم چه د ملک اکوړي سره د کوهاټ نه راغلي ؤو، اکوړے مشر شو۔ ملک اکوړي د سرائے په نوم د مغلو د بادشاهي سړک په غاړه يو کلے آباد کړو، چه ترننه پورے آباد دے۔ او د سرائے اکوړي په نوم مشهور دے۔ خوشحال خان په بندي خانه کښے د خپل غور نيکهٔ د کلي، يعني د سرائے اکوړي تعريف داسے کوی:-

رحمت په اکوړي چه ئے اونيوؤ ځائے د سرائے
چه بنهٔ فهم ئے وکړے باور وکړه ځائے دے ځائے
الخ . . . . . . . . . . . . .

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبر بادشاه چه په دویم ځل د روه د کوهستاني علاقې په لوري راغلو نو دهغه جرنیل مال سنګهه او نورو معتمد یېو ورسره د ملک اکوړي پېژندګلوي اوکړه. ملک اکوړے د کوهاټ د تیرې نه راغلے وُو. مان سنګهه بادشاه ته اووئیل چه دا ملک په دې علاقه کښې یو بارسوخه سړے دے. اوکهٔ بادشاه سلامت دهٔ ته د اټک او پېښور ترمینځه د بادشاهي سړک حفاظت حواله کړي نو دا کار به ډې په ښه طریقه سرته اورسوي. په دې زمانه کښې یوسفزو به د اټک په بادشاهي لاره چپاؤونه وهل او قافلې به ئې لوټلے. او به سړک امن نهٔ وُو. بادشاه ته اووئیلے شول چه چونکه د ملک اکوړي او د هغهٔ د قبیلے د یوسفزو سره عداوت دے په دے وجه د خپل ذاتي او قبائیلي اغراضو سرته د رسولو دپاره به هم ملک اکوړے په اخلاص سره د سړک حفاظت کوي. بادشاه او منلو او ملک اکوړي ته ئے د نوښار او اټک ترمینځه علاقه په طور د جاګیر ورکړه. د دے نه علاوه ملک اکوړي ته په بادشاهي لاره د محصول ټولولو حق هم ورکړے شو. په تاریخ کښے د ملک اکوړي د شهرت سره په اول ځل د خټک قبیلے نوم هم یاد شو. ګني تر او سه پورے دا قبیله دومره په ګمنامۍ کښے پرته وه چه بابر په بابرنامه کښے د پښتنو د ټولولو قبیلو ذکر کړے دے خو خټک ئے ورکښے نهٔ دي یاد کړي.

د ملک اکوړي د ځوئے نوم یحیٰی خان وُو او د یحیٰی خان ځوئے شهباز خان وُو. او خوشحال خان د شهباز خان ځوئے وُو. خوشحال خان خپل پلار او نیکونه په یوه قصیده کښے داسے ستائیلي دي: ــه

پلار مې شهباز خان په سخاوت لکه حاتم وُو ... نره ئے د زمري په توره تیروُو تر رستمه

ټینګ ولاړ په شرعه تلئے کار وُو په رښتیا کښے ... خط سواد ئے نهٔ وُو نوردانا وُو له فهمه

خو به نیکهٔ ستا ئېم یحیٰی خان جنت ئے ځائے شه ... روغ لکه یوسف وُو درست تر سره تر قدمه

بل سړے کهٔ سور وُو دے پیاده سره به سم وُو ... قد قامت ئے هومره د مړانے چار پرے تمه

بل نیکهٔ خم ملک اکوړ چه په خټک کښے

دهٔ راوړه دا بخره د لوئي مقدمه

# د یوسفزو او خټکو ترمینځه د قبائیلي جنګونو بنیاد

داسے معلومیږي چه د ملک اکوړي نه وړاندې د خټکو څوک سر نهٔ وُو. ملک اکوړي چه سرائے آباد کړو. او په دے علاقه کښے میشته شو نو د خټکو تور زن او مدبر مشر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا شو. دَ ختټکو خپله علاقه او چوبه او غرنیزه ده. دوئ ته ضرورت وُو، او دَ دوئ خواهش ؤُ چه دَ سیند نه پورے دَ مندړو او یوسفزو نه څهٔ مزکه را لاندِ کړی. او هلته آباد شی. دَدے دپاره دَ یوسفزوا و دَ ختټکو ترمینځه به همیشه خونړی قبائیلی جنګونه کیدل.

ملک اکوړی ته چه بادشاهی حمایت حاصل شو نو دا جنګونه نور هم تیز شول. یوخوا مغلو دا غوښتل چه پښتانهٔ سرهٔ خپلو کښے په جنګ کړی نو دوئ به ورنه خلاص شی. دَدے غرض دپارهٔ دوئ دَ خپلو زړو دښمنانو یعنی یوسفزو خلاف ختټک استعمالول شروع کړل او بل خوا ته ختټکو بادشاهی حمایت دَ یوسفزو سره په قبائیلی جنګونو کښے غنیمت اوګڼړلو او دغه شان دَ یوسفزو او دَ ختټکو ترمینځه سخته پریوته.

دَ بابر دَ زمانے راسے، بلکه دَ هغهٔ نه وړاندِ هم په پښتنو کښے دَ مغلو قدیمی دښمنان یوسفزی وُو. او په ټولو پښتنو کښے دَ یوسفزو قبیله ډیره سرتیره، آزادی پسند او بهادرهٔ مشهورهٔ وه. په هند کښے دَ مغلو دَ حکومت بانی مبانی ظهیرالدین بابر به یوسفزو خپلے تنزئ شلولے دے خو دَ دوئ په مطیع کولو کښے نهٔ وُو کامیاب شوے. او اوس دَ هغهٔ دَ نمسی مغل اعظم شهنشاه جلال الدین اکبر چه دَ هند په تخت ئے دَ ۱۵۵۶ئ نه تر ۱۶۰۵ئ پورے حکومت کړے دے دا قدارزمانه وه. او هغهٔ دا اراده کړے وه چه کوم کار دَ هغهٔ پلار نیکهٔ نه، نهٔ وُو شوے هغه سرته اورسئ. یعنی یوسفزی خپل رعیت کړی. او دَ یوسف زو آزادی سلب کړی. اکبر په اول ځل اټک ته خپل ناسکه ورور مرزا حکیم چه دَ کابل ګورنر وُو. او دَ اکبر نه باغی شوے وُو، په تعاقب کښے په ۱۵۸۱ئ کښے راغلے وُو.

دا دَ جون میاشت وه. او دَ جون جولائی په میاشت کښے یوخوا ته کهٔ دَ اټک شا ؤخوا ته علاقه ګرم تنور شی نو بل خوا ته اباسین هم بنهٔ او خیژی او یورے وتل پرے ګران شی. دَ اکبر فوځونه پنځوس ورځے په اټک معطل شول. اکبر دَ اټک په اهمیت پوه شو او بیربل ته ئے او وئیل چه دلته یوه مضبوطه قلا تعمیر کړه.

اکبر په اول ځل په دے سفر کښے خیبر هم اولیدو او په خیبر کښے په اول ځل ارت، خوشحال سړک ئے هم جوړ کړو.

دَ اکبر جرنیل مان سنګهه دَ مرزا حکیم او دَ هغهٔ دَ تره فریدون فوځونو ته دَ کابل سره نژدے دوه ځله شکست ورکړو. او اکبر په ۹، آګست کال ۱۵۸۱ئ کښے دَ خپل نیکهٔ بابر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیږه ور تیری بنار کښې داخل شو. خوشحاله لړه موده پس خپله د کابل نه راستون شو. او د کابل تخت ئے خپلې خور بخت النساء ته حواله کړو او هغه بیا خپل وروړ مرزا حکیم ته دوباره واوسپارلو.

## په پیښور کښې د روښنیانو تحریک او مغل

د کابل نه په واپسئ کښې اکبر ته په اټک یو داسې خوله پې مخې خلکو پیش کړے شو. د دې خلکو عمر په دے وخت کښې صرف څوارلس کاله وُو. اکبر ته او ونیلے شول چه د خلکو د مغلو د تاج او تخت خطرناک دښمن دے. او په بادشاهی علاقه کښې امن خرابوی. خو اکبر د خلکو معاف کړو. او د بند نه ئے آزاد کړو.

داخلکو د روښنیه تحریک د بانی مبانی بایزید انصاری پنځم ځوئے جلال الدین وُو چه پښتنو کښې په جلاله مشهور دے. بایزید انصاری څوک وُو؟ دهٔ په پښتنو کښې کوم مذهبی تحریک چلولے دے؟ او دهٔ د مغلو خلاف د آزادئ کوم جنګونه کړی دی؟

د دے سوالونو د جواب دپاره د روښنیه تحریک یو مختصر بیان به دلته بے ځایه نهٔ وی. بایزید انصاری د مشرقی پنجاب په جالندهر نوم ښار کښې په سنه ۱۵۲۵ء کښې پیدا شوے وُو. د دهٔ مور پلار د کانی ګروم دوچه د محسود و په علاقه کښې یو لوئے او مشهور کلے دے. د بایزید د پلار نوم عبدالله وُو. د بایزید د پیدائش نه وروسته د دهٔ مور پلار کانی ګروم ته واپس راغلل. او بایزید خپله کانی ګروم کښې لوئے شو. کانی ګروم کښې تراوسه زیاته آبادی د اورمړو ده. او تراوسه د کانی ګروم اورمړ اورمړی ژبه وائی.

د بایزید پلار به ځانته انصاری نهٔ وے خو بایزید د خپل خاندان د ومینے سرے وُو چه ځان ئے په انصاری مشهور کړو. شاید دا په دے وجه چه خلقو کښې خپل عزت او وقار زیات کړی چه ګنی د دوی خاندان د عربو نه راغلے دے. او دوی د مدینے د مشهور انصارو اولاد دے. له دے قسمه واقعات په مسلمانانو کښې عام دی. د هرے علاقے مسلمانان کوشش کوی چه په څهٔ چل د عربو سره خپله رشته او جنګوی. ځکه چه عالم اسلام کښې د عربو د مشهور وخاندانونو او قبیلو ډیر قدر دے. چونکه هر سړے په خپل ماحول او معاشره کښې عزت او قدر غواړی نو ډیر هوښیار خلق ځان په سید شو قریشیانو، فاروقیانو، صدیقیانو او میان ګانو وغیره مشهور کړی. او خپله شجره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library


بدله کړی. په افغانستان کښې د نورستانیانو پوړ قبیله، چه اول په کافرو مشهوره وه اوس ځان ته قریش وائی.

خیر دا جمله معترضه وه خو معلومیږی دا چه بایزید انصاری که پښتون نهٔ وُو نو شاید چه اورمړ خو ضرور وُو - او په اورمړو کښې د ښهٔ خاندان نه وُو - او انصاری خطاب ئې ځان ته ځکه غوره کړو چه په خلقو کښې ئې لږ قدر او عزت زیات شی لکه پښتون چه لږ موړ شی نو بیا ځان د مغلو په خطاب "خان" مشهور کړی. ځکه چه خان د پښتون په مقابله کښې د عزت تکے دے - د بایزید روښنیه تحریک د هغهٔ خپل پلار عبدالله هم خوښ نهٔ کړو - او د پلار او د ځوئے خپلو کښې سخت جنګ اوشو. چه په دے جنګ کښې بایزید سخت زخمی شو. او څهٔ موده پس ئې خپل وطن پریښودو - او ننګرهار کښې ئې د مهمندو سره پناه واخسته.

روښنیه تحریک د مهمندو نه ورو ورو خلیلو او د هشتنګر په محمدزو کښې خور شو.

په ابتدا کښې روښنیه تحریک په یوسفزو کښې هم زور نیولے وُو خو دلته د پیر بابا مریدانو د بایزید سخت مخالفت شروع کړو - د بایزید په مقابله کښې اخون درویزه بابا اودریدو - بایزید ئې د پیر روښن په ځائے په پیرتاریک مشهور کړو - او په یوسفزو کښې ئې تقریباً د بایزید تحریک ختم کړو - بایزید اوس د تیراه مخه اوکړه - تیراه کښې بایزید پیروړ او نیولو - آفریدی، بنګش، اورکزی، خلیل او مهمند د بایزید د جنډے لاندِ جمع شول. او دے مذهبی تحریک اوس سیاسی شکل اختیار کړو - بایزید د پښتنو په علاقه کښې د مغلو د شهنشاهیت ختمولو دپاره آواز اوچت کړو - او د پښتنو خو قبیلے د بایزید هم خیال شولے - اکبر خپله هم په هندوستان کښې د یو نوی مذهب علمبردار وُو چه دا مذهب د مسلمانانو په نزد د الحاد دویم نوم وُو - خو اکبر به ورته دینِ الٰهی وے - او بایزید چه په ځینو عقائدو کښې یو نوے لار ایستے وه - او د دهٔ دا نوے مذهبی تحریک هم عام مسلمانانو ښهٔ نهٔ ګڼړلو، د اکبر په مقابله کښې اودریدو - او د مغلو مقابلے ته تیار شو - د کابل د ګورنر د مرزا حکیم ترهٔ فریدون بایزید ګرفتار کړو او په هغهٔ ئې د مرتد الزام اولګولو - خو بایزید د خپلے نوے عقیدے نه انکاری شو او د زړے مسلمانئ اقرار ئې اوکړو - فریدون هغه پریښود - شاید چه په دے وجه چه قبائیلو کښې بغاوت اونشی - خو بایزید چه تیراه ته واپس شو نو په مغلو ئې اعلانیه چپاوونه شروع کړل او په کامیابئ سره - خو آخر په

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګرهار کښې د اوسني جلال آباد سره نږدې د مغلو سره د پښتنو خونړۍ جنګ کښې قتل شو. په دې جنګ کښې د مغلو جرنیل محسن خان وو او په دغه جنګ کښې د روښانیه قبائلو ډیر نقصان شوې وو. خو دا په حقیقت کښې د شهنشاه اکبر د بابري مغلو خلاف د پښتنو په خپل وطن کښې اولنۍ جنګ وو. بایزید او د بایزید د جانشینانو تر ډېرو پورې د پښتنو په علاقه ژور اثر پاتې شوې دې. بایزید او د هغه جانشینان د پښتنو د یو شو قبیلو منلي شوي مشران پاتې شوي دي. او دوئ د مشرۍ په ډیره میړانه، هوښیارۍ او حکمت عملي سره کړې ده. بایزید او د بایزید خاندان همیشه د مغلو مخالفت کړې دې او په پښتنو کښې ئې د مغلو د شهنشاهیت خلاف د آزادۍ روح برقرار ساتلې دې.

د بایزید د نوې عقیدې او د روښانیه تحریک روح روان د وحدت الوجود مسئله وه چه موجد ئې د سپین محي الدّین ثاني وو چه په ابن العربي مشهور دې. او هغه دا خیال د افلاطون د نظریهٔ امثال نه اخذ کړې وو. خو دا مسئله حقیقت کښې د نظریهٔ امثال نقل نهٔ وو البته یو نوې شکل ئې ضرور وو. د وحدت الوجود مسئله د عجمي تصرف بنیاد ګڼي چه د مسلمانانو په زړهٔ او دماغ ئې د ژوند په ځائې جمود خور کړې دې.

بایزید د وحدت الوجود په مسئله کښې تصرف اوکړو او د دې مسئلې سره ئې د بدهـ د انتقال روح یا تناسخ مسئله ګډه کړه. او ځان ئې خلقو ته مظهر الله پیش کړو.

خپلو مریدانو ته به ئې تلقین کولو چه کوم خلقو ته ځما د نوې او صحیح تعلیم تو سره نهٔ ده حاصله، هغه ګمراهان دي. د هغوئ قتل روا دې. او جائداد ئې مالِ غنیمت دې. لوټل ئې پکار دي. شاید چه په دې وجه او ځنې د مغلو نه د نفرت په وجه ځنې قبائل د بایزید مریدان شول او په مغلو ئې تاتار جوړ کړو.

د بایزید مشهور تصنیف خیرالبیان دې چه اوس ئې پښتو کښې محبت پېژنوی عجیبه خبره ده چه خوشحال خان خټک د بایزید د عقائدو یا سیاسي تحریک په بره یا مخالفت کښې له هیڅ قِسمه، جامع تنقید یا تحسین په نظم یا په نثر کښې نهٔ دې پرېښې. حالانکه بایزید د خوشحال خان زمانې ته ډېر نږدې وو. او په سیاسي حوزه خوشحال خان هم خیال وو. خو خوشحال خان د بایزید د ... مګر ...

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے شعر نه ئے معلومیږی ـــ

ږړۀ دَ درویزه غونډِ ایمان بنائیم و دۀ ته
دے دَ پیر روښان غونډِ دَ کفر که تلقین

دَ بایزید دَ وفات نه پس په یوسفزو کښے دَ هغۀ دَ اولاد خلاف دَ نفرت جذ به تردے حده خوره شوه چه دَ حمزه ملک دَ سرداری دَ لاندِ دَ ټوپئ کلی سره نزدے دَ روښنیانو او یوسفزو سخت جنګ اوشو. روښنیانو شکست اوخوړو - دَ بایزید درے ځامن شیخ عمر، خیرالدین او نورالدین قتل شول او جلاله په جنګ کښے بدبد زخمی شو. یوسفزو ژوندے اونیولو خو دَ هغۀ دَ کم عمرئ لحاظ ئے اوکړو. قتل ئے نکړو. البته دَ اکبر بادشاه په حضور کښے ئے لاس نیولے پیش کړو اولکه څنګه چه مونږ وړاندِ عرض کړے دے، اکبر هغه معاف کړو او آزاد ئے کړو. اکبر بادشاه چه په کال ۱۵۸۶ء کښے دوباره اټک ته راغے نو بیربل دَ اټک قلا تیاره کړے وه. دلته هغه دیره شو او خبر شو چه مان سنګهه دَ مرزا حکیم ځامن مطیع کړل. مرزا حکیم خپله په کال ۱۵۸۵ء کښے وفات شوے ؤو. خو دَ مرزا حکیم ترۀ فریدون ئے دَ مطیع کولو نه پس نظربند کړو. او بیا څۀ موده پس ئے مکے ته اولیږلو. خو اکبر چه داخل حقیقت کښے دَ کشمیر دَ فتح کولو په خاطر راغلے ؤو هغۀ ته معلومه شوه چه کشمیر او کابل فتح کول خو آسان دی څکه چه دا دواړه ځایونه هغۀ فتح کړل ولے دَ پښتنو سرحدی قبائل فتح کول ګران کار دے. په خیبر کښے قبائیل دَ اکبر دَ فوځونو په مقابله کښے جلاله اودرولے ؤو. هغه جلاله چه اکبر معاف کړے ؤو. دَ جلاله په لښکر کښے آفریدی، مهمند او خلیل شامل ؤو.

دَ بایزید اولاد دَ اکبر او دَ جهانګیر هغه ټولے منصوبے ګډے وډے کړے کومے چه دوئ وخت په وخت دَ قبائیلو دَ مطیع کولو دپاره کړے وے. او قبائیل ئے دَ مغلو دَ پنجے نه آزاد اوساتل. اکبر چه دَ اټک په قلا دیره ؤو نو دَ څنے قبائیلی مشرانو یوه جرګه ورته راغله چه ورکښے خلیل مهمند وغیره شامل ؤو. او ورته ئے دَ یوسفزو او مندړو خلاف شکایت اوکړو. چه دوئ بادشاهی لاره لوټی. او بدنامه ئے مونږ ته راځی. ترخو پورے چه دَ یوسفزو ګوشمالی اونشی، په بادشاهی لاره هیڅرے امن نۀ شی قائمیدے.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاید چه دا جرګه دَ اکبر په وینا راغلې وه څکه چه یوسفزو ته سزا ورکول دا ول سرنه د هغهٔ پروګرام کښې شامل وُو۔ او هغهٔ په یوسفزو دَ حملې دپاره د محض یوه بانه لټوله۔

اکبر دَ زین خان، بیربل او حکیم ابوالفتح په مشرئ کښې چه د یوسفزو دَ کوشمالئ دپاره کوم بادشاهی لښکرا ولیږلو او دَ دې لښکر چه څهٔ حال شو هغه یوه اهمه تاریخی واقعه ده۔ دَ بونیر دَ ډګر سرهٔ نزدې په کړپه کښې بادشاهی فوځ یوسفزو دا سې راګیر کړو چه دَ مغلو اتهٔ زرهٔ فوځ تباه شو۔ بیربل په جنګ کښې قتل شو۔ او حکیم ابوالفتح او زین خان په مشکله، دوه پښې خپلې، دوه پردئ په تیښته ځان خلاص کړو۔ او دَ وهلې زیلې فوځ سرهٔ اټک ته راواوښتل۔ او بادشاه ئې دَ شکست نه خبر کړو۔ دا دَ مغلو دَ یوسفزو په علاقه کښې یو تاریخی شکست دے۔ دَ دې شکست په وجه دَ یوسفزو په علاقه کښې دَ مغلو ټولې منصوبې نیمګړې پاتې شوې۔

اکبر بیا اراده کړې وه چه یوسفزو ته او جلاله ته سزا ورکړي۔ دَ یوسفزو خوئے نور هیڅ وران نهٔ کړے شول۔ البته په سمه کښې ئے یوخو تلاګانے جوړے کړے او په جلاله پسے ئے ډیرے حملے اوکړے خو هغه ئے بندی نهٔ کړے شو۔۔۔ وئیلې شي چه په کال ۱۵۹۲ء کښې بادشاهی فوځونو څوارلس زره تاریکیان او نیول۔ جلاله خپله غزنی طرفته اوتښتیدو او دَ غزنی په ښار ئے حمله اوکړه۔ او ښار ئے اولوټولو او ډیر مال دَ ته په کوتو ورغلو خو دغه چه دا مال په غلا را ایستو نو په هزاره داړے ماړو باندې پیښ شو او دَ هغوئ سره په جنګ کښې په یوه ګولئ اولګیدو او مړ شو۔ خو دَ روښنیانو دَ مغلو خلاف تحریک دَ جلاله دَ مرګ نه پس هم جاري وُو۔ او دَ مغل شهنشاه جهانګیر دپاره دردِ سر وُو۔

دَ اکبر بادشاه دَ یوسفزو خلاف په جنګونو کښې خټکو ته دا فائده اورسیدهٔ چه ملک اکوړی او دَ هغهٔ جانشینو دَ مندنړو او یوسفزو کانی علاقه لاندې کړه۔ او دَ کا ټلنګ دَ غرونو خواؤشا دَ سوات په سرحد دَ خټکو ډیر کلی آبادشول۔ دا علاقه دَ بانیزد په نامهٔ مشهوره ده۔ او دَ یوسفزو او دَ مندنړو دَ علاقې په مقام اتصال پرته ده، او مندنړ دَ یوسفزو نه بیلوی۔

دَ خوشحال خان تر زمانے پورے دَ مغلو سره چه دَ یوسفزو، مندنړو او دَ پښتنو نورو قبیلو کوم جنګونه کړی دی په دے جنګونو کښې خټک همیشه دَ مغلو په پره جنګیدل

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی۔ او دَ یوسفزو خلاف په جنګونو کښې دَ خوشحال خان غورنیکهٔ اکوړے، نیکهٔ یحیٰی خان او پلار شهباز خان په قول دَ خوشحال خان درے واړه شهیدان شوی دی۔ خوشحال خان وائی ؎

پلار نیکهٔ مې شهیدان وګورته تللی
پُښت په پُښت مې هنر داد ے آل په آل

دَ یوسفزو سره جنګونه خوشحال خان ته په میراث کښې پاتے شوی وُو۔ دَ خوشحال خان خاندان دَ مغلو دَ لاسه جوړ وُو۔ او پلار په نیکهٔ دَ مغلو جاګیرداران راغلی وُو۔ دَ مغلو سره وفاداری او دَ یوسفزو سره دښمنی هغهٔ ته په سررشته کښې پاتے وه۔

خټک چه وړاندِ ذکر شوے دے دَ خوشحال خان غورنیکهٔ ملک اکوړے چه دَ ډیری نه اټک ته راغلے وُو۔ دَ کوهاټ دَ خټکو دَ تری خانګے نه وُو۔ دَ مغل شهنشاه اکبر جاګیردار وُو او دَ بادشاه سره ئے دَ شپاړسمے صدئ په روستئ نیمائی کښې ملاقات شوے وُو هغه وخت چه اکبر په ۱۵۸۱ء کښې په دویم ځل په اټک دیره شوے وُو۔

ملک اکوړے دَ مغلو وفادار او دَ یوسفزو دښمن وُو۔ دا سے معلومیږی چه تر څو اکبر ژوندے وُو ملک اکوړے هم ژوندے وُو۔ اکبر په ۱۶۰۵ء کښې وفات شو او هغهٔ پسے دَ هغهٔ ځوئے مغل شهنشاه نورالدین جهانګیر په تخت کښیناستو۔ دَ کال ۱۶۰۵ء نه یعنی دَ اکبر دَ مرګ نه تر ۱۷۰۷ء پورے یعنی دَ اورنګ زیب دَ مرګه پورے تقریباً څهٔ دپاسه سل کاله کیږی۔ په دے زمانه کښې یوخوا دَ مغلو بادشاهان جهانګیر، شاهجهان او اورنګزیب برسرِ اقتدار وُو او بل خوا ته دَ خوشحال خان نیکهٔ یحیٰی خان، پلار شهباز خان او خوشحال خان خپله دَ خټک قبیلے مشران وُو۔ دَ خوشحال خان پلار نیکهٔ لکه دَ خوشحال خان دَ غور نیکهٔ په شان دَ مغلو وفادار او دَ یوسفزو دښمنان وُو۔ او خوشحال خان خپله هم دَ بند نه وړاندِ دَ مغلو وفادار وُو او دَ یوسفزو دښمن۔ خو دَ بند نه روستو هغه دَ مغلو دښمن او دَ یوسفزو سره دَ روغے خواهان او د هغوئی نه دَ امداد طلبګار وُو۔

خوشحال خان دَ جهانګیر بادشاه په زمانه کښې په کال ۱۶۱۳ء کښې په سرائے اکوړی کښې زیږیدلے وُو۔ خوشحال خان لا دَ دیارلسو کالو هلک وُو چه دَ خپل پلار شهباز خان سره ئے دَ یوسفزو خلاف په یو جنګ کښې شمولیت اوکړو۔ په دے جنګ کښې دَ یوسفزو مشر بهاکو خان وُو۔ دا جنګ دَ سرائے اکوړی نه پنځه میله لرے دَ جهانګیری کلی کښې شوے وُو۔

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دے جنګ کښے ختټکو ماته کړے وه۔

په کال ۱۹۴۰ کښے شهباز خان په یوسفزو بیا حمله اوکړه۔ په دے جنګ کښے هم خوشحال خان د پلار سره ؤو۔ دا جنګ د تورو مایارو سره نزدے شوے ؤو۔ په دے جنګ کښے شهباز خان سخت زخمي شو۔ خوشحال خان هم زخمي شو۔ ختټکو ماتے اوکړه۔ او شهباز خان د پنځوسو کالو په عمر کښے په ۱۶۴۱ء کښے وفات شو۔

خوشحال خان چونکه د پلار مشر ځوئے ؤو نو د پلار د وفات نه پس د خپلے قبیلے په صلاح او مشوره سره، د ختټکو سردار او مشر شو۔ هغه اول کار دا اوکړو چه په یوسفزو ئے د پلار د بدل اخستو په خاطر حمله اوکړه۔ د طورو مایارو په خوا کښے د ختټکو او یوسفزو ترمینځه سخت جنګ اوشو۔ په دے جنګ کښے ختټکو برے بیا موندو۔ او یوسفزو ماتے اوکړه۔ خوشحال خان د خپل پلار بدل واخستو او یوسفزو ته ئے سخت نقصان اورسولو۔

د پلار د وفات نه پس خوشحال خان قام مشر کړے ؤو خو اوس په کال ۱۶۴۱ء شاهجهان بادشاه هم د یو فرمانِ شاهي په ذریعه خوشحال خان د ختټک قوم سردار او منلو۔ او د بادشاهي سړک حفاظت ئے ورته اوسپارلو۔

# خوشحال خان او شاهجهان

د جهانګیر په زمانه کښے خوشحال خان هلک ؤو۔ چه جهانګیر وفات شو نو د خوشحال خان عمر ایله څوارلس کاله ؤو۔ په دے وجه د جهانګیر متعلق چه خوشحال خان څۀ و یلي دي هغه شاید چه د خپل پلار نه ئے آوریدلي دي۔ د جهانګیر سره د خوشحال خان خپله هیڅ معامله نۀ ده راغلے۔ د هغۀ د جهانګیر سره له هیڅ قسمه تعلقات نۀ ؤو۔ خو د خلقو نه چه ئے څۀ خبرے آوریدلے دے د هغ په حواله وائی چه د جهانګیر په زمانه کښے هند جنت ؤو۔ لکه چه وائی ـــ

بیا له پسه جهانګیر د اکبر ځو یه
چه د دۀ په دور هند لکه جنت ؤو

خو شاهجهان، خوشحال خان خپله پیژندلو۔ د شاهجهان سره د هغۀ ملاقاتونه شوي ؤو۔ او د شاهجهان په ډیرو جنګونو کښے هغۀ خپله حصه اخستے وه او د مغلو د طرفه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مغلو دَ مخالفو سره جنګيدلے وو - او بادشاهی خدمات ئے ډیر په اخلاص سره کړی وُو. هغه شاهجهان ته قدردان وائی - او دَ شاهجهان ډیر مدّاح دے. لکه چه وائی ــه

دَ هغه دور بادشاه وُو قدردان شاهجهان
دَ بيلا خائے و ما راکړو پرے اوس شومه حکمران

شاهجهان چه خوشحال خان دَ ختټکو سردار اؤمنلو، نو خوشحال خان دهلی ته لاهور او دَ اصالت خان او امانت خان په ذريعه چه شاهی دربار کښے مخور اميران وُو. خپل خدمات ئے بادشاه ته پيش کړل. په دغه ورځو کښے دَ کانګړے راجه جګت سنګهه دَ بادشاه نه باغی شوے وُو. بادشاه جګت سنګهه ته دَ سزا ورکولو دپاره دَ خپل کشر ځوئے مراد بخش دَ کمان دَ لاندې يو قوی فوځ اوليږلو -

په تاراګړه دَ حملے کولو دپاره مراد بخش، دَ دربار دوه معتمد اميران يعنی بهادرخان او اصالت خان مقرر کړل - خوشحال خان دَ دوئ سره دَ قلا په تسخير کښے حصه واخسته او ښه په بهادرئ سره ئے جنګ اوکړو. قلعه فتح شوه - او خوشحال خان ته دَ خپلو خدماتو په عوض کښے شاهی خلعت عطا کړے شو - او جاګير ئے هم زيات شو -

په کال ۱۶۴۵ء کښے چه دَ بلخ او بدخشان مهم شروع شو - او شهزاده مراد بخش چه دَ يو لوئے فوځ سره دَ بدخشان دَ مهم سرکولو دپاره بادشاه راؤليږلو نو خوشحال خان هم په دے مهم کښے شامل شو - او لکه دَ تاراګړه دَ محاذ ئے دَ بهادرخان او اصالت خان په مشرئ کښے دَ ستائينے وړ خدمتونه اوکړل -

په کال ۱۶۴۹ء کښے چه شاهجهان بادشاه خپله دَ قندهار دَ مهم سرته دَ رسولو دپاره په اټک راپورے وتو او کابل ته تلو نو خوشحال خان ئے استقبال اوکړو - او چه بادشاه کابل ته اورسيدو نو خوشحال خان ئے په دربار کښے حاضر شو - او دَ يوسفزو دَ کشالے ذکرئے ورسره اوکړو - بادشاه دَ يوسفزو دَ ملک انتظام خوشحال خان ته اوسپارلو او دَ لنډی سيند پورے غاړه قطب طرف ته دَ يوسفزو په علاقه کښے يو خو کلی ئے خوشحال خان ته په جاګير کښے ورکړل -

يوسفزی په دے جاګير ډير خفه شول او خپل مشر بهاکوخان ئے دهلی ته اوليږلو چه دَ بادشاه په دربار کښے پيش شی - او خپل فرياد اوکړی - بهاکوخان چه دهلی ته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورسیدو نو دَ شاهجهان دَ مشرځوئې دارا شکوه حمایت ورته حاصل شو. او هغهٔ خپل پلاد شاه جهان ته خواست اوکړو چه یوسفزي او بخښئ او ورپسې ئې زیاته کړه چه دَ خوشحال خان نه دِ دَ یوسفزو دَ کلو جاګیر واخستې شي. او بهاکوخان ته دِ ورکړې شي. شاه جهان دَ دارا شکوه خبره اومنله. دَ یوسفزو دَ علاقې جاګیرې دَ خوشحال خان نه واخستو، اوبهاکوخان ته ئې ورکړو.

دا دَ مغلو په دربار کښې دَ یوسفزو. دَ خټکو خلاف اولنئ کامیابي وه. حقیقت دا دې چه دَ خوشحال خان خاندان دَ مغلو حمایت خکه کولو چه دوئ دَ خټکو سرداران او مشران وُو. او دَ خټکو دَ یوسفزو سره قبائیلي جګړې چه مونږ ئې دَ لنډي سیند پورې غاړه، دَ یوسفزو په علاقه قبضه کول وُو، دَ ابتدا نه را روانې وې. دَ یوسفزو دَ مغلوسره دَ بابر دَ زمانې راسې جګړې کیدلې خو دَ اکبر په زمانه کښې چه دا جګړې تیزې شوې نو خټکو دَ یوسفزو په مقابله کښې بادشاهي پشتي کتله، چه یوسفزي دَ بادشاهي زور په ذریعه اووهي او دَ سیند پورې علاقه کښې ځان ته ځائې اومزکه پیدا کړي. دَ خوشحال خان غور نیکهٔ ملک اکوړې په دې پالیسئ کښې کامیاب شوې وُو. او دَ اکبر بادشاه حمایت ورته حاصل شوې وُو. دَ اکبر فوځونو چه دَ غرهٔ دَ یوسفزو دَ لاسه بد بد شکست اوخوړلو او په دې جنګ کښې بیربل قتل شو. نو اکبر دَ سخت یوسفزو ته دَ سزا ورکولو اراده اوکړه. او خټکو دَ بادشاه دَ دې رویې نه فائده واخسته او دَ لنډي سیند قطب طرف ته په سمه کښې ئې خپل کلي آباد کړل چه اوس دا علاقه دَ بانډرو په نوم یادیږي. دَ دې په وجه دَ خټکو او یوسفزو بین القبائیلي جګړې لا نور تیزې شوې. او دَ دوئ دښمني پخه شوه. چه دا دښمني پوره سل کاله پاتې شوه. یعنې دَ اکبر دَ زمانې نه دَ اورنګ زیب تر زمانې پورې. او دَ دې دښمنئ هله اهم واړولو چه دَ خوشحال خان دَ مغل بادشاه اورنګ زیب سره پس له بندهٔ پریوته. دَ خټکو او یوسفزو په دې جګړو کښې لکه څنګه چه معلومه ده، دَ مغلو دا پالیسي وه چه خټک دَ خپلو دښمنانو یوسفزو خلاف دَ خپلو بادشاهي مفادو دپاره استعمال کړي. او دَ خټکو دا پالیسي وه چه دَ مغلو طاقت او اثر رسوخ، دَ خپلو دښمنانو یوسفزو خلاف دَ خپلو قبائیلي مفادو په حمایت کښې حاصل کړي. دَ اکبر نه تر اورنګ زیب پورې دَ مغلو او دَ خټکو، دَ یوسفزو خلاف یوه پره وه. څکه چه یوسفزي دَ دواړو دښمنان وُو. او دَ دښمن دښمنان اکثر خپلو کښې دوستان وي. په دې وجه دَ اکبر نه تر اورنګ زیب پورې په پښتنو کښې دَ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library


مغلو خلاف چه کومه ډله جنګېدله، د دې قیادت د یوسفزو په لاس کښې وُو. او په پښتنو کښې د مغلو په پره کښې چه کومه ډله جنګېدله د دې مشران ختټک وُو. د خوشحال خان غور نیکهٔ، نیکهٔ او پلار درے واړهٔ د یوسفزو سره په جنګونو کښې مړهٔ شوی دی. نو له دې کبله د خوشحال خان د یوسفزو سره تاریخی دښمنی وه او یوسفزو د مغلو حکومت ته سر نهٔ کښیښو. خو د شاه جهان په زمانه کښې لکه د بهاکوخان او د داراشکوه د ملاقات نه چه ظاهره وه، یوسفزی مجبور شول چه خپله پالیسی بدله کړی. یوسفزو د ختټکو سره خو خپل عداوت بحال اوساتلو خو کوشش ئے اوکړو چه د مغلو سره صلح اوکړی. او په دې صلح کښې دا مصلحت وُو چه د ختټکو د قبضے نه خپل علاقه بچ کړی.

دا سے معلومېږی چه مغلو هم په دې زمانه کښې یوسفزو طرفته خپله رویه څهٔ لږه ډیره بدله کړه. او داراشکوه خیال اوکړو چه دښمن که په کوره مری نو په زهرو ئے څهٔ ته وژنے. که یوسفزی بغیر د جنګ نه، د ختټکو د ویرے تسلیم کیږی، او د مغلو متابعت کوی نو د یوسفزو دا رویه د مغلو د شهنشاهیت په نفع تمامیږی. په دې وجه هغهٔ په بهاکوخان احسان اوکړو. د خوشحال خان د یوسفزو د علاقے جاګیرے ختم کړو او دائے د یوسفزو مشر بهاکوخان ته ورکړو. ځکه چه د داراشکوه خیال وُو چه ختټک خو هسے هم د مغلو په جیب کښې دی. یوسفزی رضا کول پکار دی. او دا سے معلومېږی چه خوشحال خان هم په دې خبره څهٔ بداونهٔ منل. هغهٔ د شاه جهان خدمت هم هغه شان په راستئ کولو خو په زړهٔ کښې د داراشکوه دښمن شو.

خوشحال خان چه د جهانګیر او د شاه جهان په صفت نهٔ مړیږی نو د دې دا مطلب نهٔ دے چه ګوندې د جهانګیر او شاه جهان په زمانه کښې د مغلو رویه، پښتنو طرف ته په مجموعی حیثیت بدله شوې وه. یا د پښتنو په رویه کښې من حیث القوم او ملّت، مغلو طرف ته څهٔ فرق راغلے وُو. د دواړو قومونو تاریخی دښمنی بحال وه. صرف د مغلو زور وُو. او پښتانهٔ نفاق او خانه جنګیانو کمزوری کړی وُو. په دې وجه د مغلو حکومت ئے نهٔ شوا ړولے. البته چه کله نا کله موقع به ورته په لاس ورغله نو د مغلو خبر به ئے واخستو. خوشحال خان د جهانګیر او د شاه جهان ځکه تعریف کوی چه دوئ د خوشحال خان د کورنۍ او قبیلے سره ښهٔ سلوک کولو. او د یوسفزو په مقابله کښې به ئے د ختټکو پره کوله. په دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجه خوشحال خان دَ دوئ نه خوشحال وُو.

## خوشحال خان او اورنګ زیب!

په کال ۱۶۵۷ء کښې شاه جهان ناروغ شو. او دَ سلطنت د کاروبار نه پاتې شو. دَ بادشاه دَ علالت په وجه دَ هغهٔ په ځامنو کښې دَ تخت نشینئ دپاره جنګونه شروع شول. دا جنګونه په کال ۱۶۵۸ء کښې ښهٔ تیز شول. مشر شهزاده داراشکوه. او شهزاده شجاع ځان ځان ته دَ تخت او تاج حاصلولو دپاره جنګیدل. او اورنګ زیب او کشر شهزاده مراد بخش سره ملګری وُو. دَ شاه جهان ټول سلطنت په دے جنګونو کښې برخې برخې شو. هر ځائے پرے جنګې جوړے شوے خو آخر دَ شهزادګانو په دے جنګونو کښې اورنګ زیب کامیاب شو.

اورنګ زیب خپل پلار شاه جهان چه دَ مشر ځوئے داراشکوه طرفدار وُو، دَ آګرے په قلا کښې نظربند کړو. داراشکوه او مراد بخش ئے اووژل. او شجاع ئے داسے ورک کړو چه هیڅ پته ئے اونهٔ لګیده چه څهٔ شو.

دَ اورنګ زیب دپاره اوس میدان صفا وُو. هغه بادشاه شو او دَ عالمګیر لقب ئے اختیار کړو. دا کال ۱۶۵۹ء وُو.

دَ تخت نشینئ دَ جنګونو په دوران کښې دَ یوسفزو مشر بهاکو خان. دَ شهزاده داراشکوه ملګرے وُو. داراشکوه خوشحال هم خپل هم خیال کول غوښتل. خو خوشحال خان اونهٔ منله. او دَ بهاکو خان لښکر چه دَ داراشکوه دَ استقبال دپاره دَ اباسین په غاړه جمع شوے وُو په هغهٔ ئے حمله اوکړه او هغه ئے تس نس کړو. دغه شان شهزاده داراشکوه دَ یوسفزو په علاقه کښې په پناه اخستلو کښې کامیاب نهٔ شو. دَ تخت نشینئ په جنګونو کښې چه خوشحال خان دَ اورنګ زیب کوم خدمات حاصل کړی وُو. دَ دغے خدماتو په بنا اورنګ زیب چه دَ مغلو دَ تاج او تخت مالک شو او دَ دهلی په تخت کیناستو نو خوشحال خان ته ئے لکه دَ خپل پلار شاهجهان په شان دَ خټکو سرداری او دَ بادشاهی لارے حفاظت او سپارلو او یو ځل بیا خوشحال خان دَ یوسفزو په مقابله کښې دَ مغل بادشاه منظور نظر شو.

په دے زمانه کښې مهابت خان دَ کابل دَ صوبے ګورنر وُو.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



گورنرۍ دَ لاندِ وُو. دا هغه مهابت خان دے چه په پيښور ښار کښې دَ دهٔ يادگار دَ مهابت خانؒ جماعت دے. اودے دَ علی مردان خان څوئے وُوچه دَ صفويانو په دربار کښې مشهور اميروُو او دَ صفويانو له طرفه دَ قندهار گورنر وُو خو صفويانو سرهٔ ئے تکې اوکړه او قندهار ئے شاجهانؒ ته حواله کړو.

خوشحال خان دَ مهابت خان منظورِ نظر وُو. خو په کال ۱۶۶۱ء کښې مهابت خانؒ دکن ته بدل کړے شو او دَ هغهٔ په ځائے سيد امير دَ کابل صوبه دار مقرر شو. په پيښور کښې دَ سيد اميرؒ نائب عبدالرحيم وُو. دَ دے تبديلو سره دَ خوشحال خان دَ تقدير ستورے هم گردش کښې راغے، داسے معلوميږی چه دَ سيد امير او عبدالرحيم، دَ خټکو او دَ يوسفزو په جگړو کښې دَ داراشکوه پاليسی خوښه وه او دَ خټکو په مقابله کښې دَ يوسفزو امداد ته آماده شول. او دَ بهاکو خان مرسته ئے اوکړه.

دَ اورنگ په تخت نشينئ پسے نږ يو شاهی فرمان جاری شو. دا فرمان دَ راهدارئ دَ محصول دَ معافئ دپاره وُو. او دَ سرحدی علاقو نه علاوه په درست مملکت حاوی وُو. خو په سرحدی علاقو کښې دَ مخصوصو حالاتو په بنا دَ دے فرمان نفاذ نهٔ وُو شوے. عبدالرحيم دَ سيد امير په صلاح او دَ بادشاه په اجازت اوس دَ دے فرمان دَ نفاذ اجازت دَ سرحدی علاقو دپاره هم واخستو. او دَ پلار دَ نيکهٔ دَ وخته چه خوشحال خان ته په اټک دَ راهدارئ دَ محصول اخستو کوم اجازت مغل بادشاهانو ورکړے وُو هغه منسوخ شو. او دغه شان دَ خوشحال خان په وقار او آمدنئ کښې فرق راغلو. دَ خوشحال خان په دے حکم ډېر خفه شو. خو په خولهٔ ئے هيڅ اونهٔ وئيل. او هم هغه شان ئے دَ مغل بادشاه خدمت په رښتئ کولو. خو دا حکم په حقيقت کښې دَ يوسازش نتيجه وه. چه په دے کښې دَ خوشحال خان دَ خپل خاندان څښے افراد هم شامل وُو. او دا دَ خوشحال خان دَ گرفتارئ دپاره يوه بهانه وه.

بهاکو خان چه په کومه ورځ په ډهلی کښې داراشکوه سره کتلی وُو دَ هغ ورځے نه دَ ډهلی په دربار کښې دَ خوشحال خان وقار کم شوے وُو. او دَ مغلو په ذمه دارو افسرانو کښې دا خيال پيدا شوے وُو چه خټکو ډيره موده دَ شاهی طاقت نه استفاده اوکړه او دَ شاهی طاقت په زور ئے دَ خپلو دښمنانو يوسفزو نه مزکه هم لاندِ کړه او هغوئ ئے ذليل

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم کړل - او بله دا چه ختکو حقیقت کښے خپل دښمنان بادشاهي دښمنان ګرځولي دي - او ناحق ئے مغل او یوسفزی خپلو کښے اچولي دي - او دوئ په قلار ناست دي مزے کوي. بکار ده چه مغل بادشاهان دا پالیسي بدله کړي - او د هغه قبائیلو سره دوستانه تعلقات جوړ کړي کوم چه د ختکو نه زیات زورداردي - او د مغلو تاج او تخت دپاره زیات خطرناک دي. که د ختکو په ځائے دغه قبائیل حکومت خپل کړي نو دا د حکومت دپاره زیاته فائده منده خبره ده - داسے معلومیږي چه سید امیر او عبدالرحیم هم د دغه ټولي د افسرانو نه وُو -

سید امیر چه د عبدالرحیم په ویناد بادشاه نه دا اجازت واخستو چه د راهدار د محصول د ممانعت دپاره د سختے پالیسئ نه کار اخستل بکار دي. او کوم سرداران چه د دے پالیسئ مخالفت کوي هغوئ سره سخت سلوک کول ضروري دي نو خوشحال خان پسے په سنه ۱۶۶۴ء کښے حکم اولیږلو چه پیښور ته راشه او ما سره اووینه. خوشحال خان د حکم تعمیل اوکړو - پیښور ته راغلو او هلته مغل ګورنر ګرفتار کړو - او په هتکړو او بیړو کښے ئے دهلي ته روان کړو - په دے وخت کښے د خوشحال خان عمر پنځوس کاله وُو -

خوشحال خان د راجپوتانے د جے پور ښار سره نزدے د رنتهنبور په قلا کښے قریباً دوه نیم کاله قید تیر کړو - او بیا آګرے ته راوستے شو - او هلته آزاد کړے شو - او بیا د آګرے نه دهلي ته راغلو، خو وطن ته د راتلو اجازت ورته نهٔ وُو - او دیلي کښے هم یو قسم ته بندي وُو چه خانه نشین ورته وائي -

خوشحال خان دا ټول واقعات د یو اوږد ترکیب ، بند ، ذوالقافیتین په شکل کښے په تفصیل سره لیکلي دي - دا ترکیب بند د دے بیت نه شروع کیږي -

خهٔ د بد و خوب وُو چه م اولید و سحر
ستر ګے م رنړے کړے نا قرار شوم په بستر

په دے ترکیب بند کښے خوشحال د خپلو نیولو واقعه ، دهلي ته د بوتللو قصه او په قید کښے د مصیبتونو، غمونو او سختو واقعات په تفصیل سره بیان کړي دي - د دے نه علاوه خوشحال خان چه د پیښور نه تر دهلي پورے د بادشاهي لارے کومے نښانے ، یعنی د کلو او د ځایونو نومونه ورکړي دي - د هغے نه معلومیږي چه دا بادشاهي لار په هغه زمانه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې هم تقریباً دغه وه، کومه چه نن ورځ په جرنیلي سړک یادیږی. دَ دے ترکیب بند نه علاوه دَ هندَ دَ قید په دوران کښې خوشحال خان نور هم ډیر نظمونه، غزلونه، قطعات او قصیدے لیکلی دی. په دے شعرونو کښې په وطن پسے ارمان، دَ خپلو مصیبتونو حال، دَ دوستانو او خپلوانو په فراق کښې ستاینے او دَ مغلونه دَ نفرت اظهار بیاموندے شی. او دا ہسے معلومیږی چه خوشحال خان دَ قید په دوران کښے، دَ مغلوَ مخالفت او دَ مغلونه دَ انتقام اخستو اراده پخه کړے وه. دا لاندِ اشعار دَ نمونے په طور ملاحظه کړئ.

پس له بنده دے دا عزم دَ خوشحال دَ خاطر جزم
یا نیولے مخ مکے ته یا مغلو سره رزم
یا یو کُنج دَ غرهٔ نیولے
نمونځ، روژه دَ لوستو بزم

خوشحال خان دَ اورنګ زیب خلاف چه کوم اشعار لیکلی دی، دا اشعار هم شاید چه دَ قید وبند دَ ورځو یادګار دے. تقریباً په شلو نظمونو، غزلونو، قطعاتو او قصیدو وغیره کښے خوشحال خان، اورنګ زیب ته په شاعرانه طرز کښے بد رد وئیلی دی. او دَ زړهٔ براس ئے ویستے دے. دَ دے اشعارو دا نمونے دَ لوستو دی:-

تفاوت دَ خپل پردی وربانډِ نشته کهٔ ئے ګورے اورنګ زیب بادشاه ګمراه دے
دَ اورنګ بادشاه په دور آرام نشته چیا وئیل چه جهان خانے دَ آرام ګاه دے
لکه مخ دپاسه تور سیاه لیدهٔ شی اندرون ئے هغه هسے تور سیاه دے
کهٔ ئے نیت وته ئے ګورے یو یزید دے
کهٔ طاعت وته ئے ګورے اهل الله دے

را معلوم شو دَ اورنګ عدل و انصاف دَ دهٔ بنه مسلمانی بنهٔ اعتکاف
سکه ورونړه وار په وار واړه وژلی پلار په بند کښے اچولے په مصاف
کهٔ هزار ځله خوک سروهی په مزکه یا په صوم ترشمځ ورولی ناف
خو دِ نیت دَ بنهٔ عمل سره جوړنهٔ شی عبادت، طاعت درے واړه دی خلاف
چه دَ ژبے لاړ یوه دَ زړهٔ ئے بله په چاړهٔ ئے شو ځیګر شګاف شګاف
مار دَ تن دپاسه بنهٔ بنائسته روغ دے وے نه اندرون لری ناصاف

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړنې په کړه کړده پېروئيل ئې لـړ وي       د نامردو لږ عمل وي پېرونې د ف

که دلې دخوشحال لاس په ظالم نشته
د قيامت په ورځ ئې خدائے مکړه معاف

سيد امير تراوه کاله پورې دکابل دصوبې، صوبه دار پاتې شو. خو په دې دوران کښې ددې علاقې امن ورځ تر ورځ خرابيدو. او په مغلو به ځائے په ځائے چپوې کېدل.

دخوشحال خان په هند کښې دنظربندئ په دوران کښې په کال ۱۰۷۶ کښې يوسفزي بيا باغي شول. مغلو دا بغاوت په ځو مياشتو کښې ختم کړو. خو بادشاه غوښتل چه يو داسې سړے دکابل صوبه دار مقرر کړي، چه په حالاتو قابو بيا مومي. بادشاه په دے حقله خپله دخوشحال خان نه صلاح واخسته او آخر په کال ۱۰۷۸ کښې بادشاه سيد امير لرې کړو. او دهغه په ځائے ئې مهابت خان په دويم ځل دکابل صوبه دار مقرر کړو.

مهابت خان دخوشحال خان د پاره هم سفارش او کړو چه په وطن ته آزاد شي. بادشاه د مهابت خان سفارش او منلو او خوشحال خان يو ځل بيا وطن ته د مهابت خان سره راغے. خو د قيد نه پس چه کوم خوشحال خان وطن ته راغلے وو، دا هغه خوشحال خان نه وو کوم چه د مغلو د قيد نه اول موږ ليدلے وو. په دے خوشحال خان او هغه خوشحال خان کښې د مزکې او د آسمان فرق دے. د قيد نه پس خوشحال خان هغه مشهور، معروف، غيرتي ننګيالے پښتون سردار او ليډر دے چه پښتانه ئې په صفت نه مړيږي. او د پښتون په تاريخ کښې ئې ځان ته يو مستقل ځائے پيدا کړے دے.

مهابت خان چه په دويم ځل د کابل صوبه دار مقرر کړے شو نو بادشاه هغه ته او وئيل چه د يوسفزو د علاقې خاطرخواه انتظام او بندوبست وکړه. مهابت خان په دے سلسله کښې خوشحال خان، د يوسفزو خلاف حسب معمول استعمالول غوښتل. او ورته ئې او وئيل چه هزاري منصب او د يوسفزو سرداري د خپله خوږ يوسفزو په علاقه کښې په لنګرکوټ کښې چه بادشاه کومه قلاجوړول غواړي، د هغې په جوړولو کښې بادشاهي فوځونو سره تعاون او امداد او کړه. خو خوشحال خان انکار وکړو او مهابت خان ته ئې مشوره ورکړه چه دا قلاجوړول بکار نه دي. خوشحال خان مهابت خان ته دا هم ووے چه ځما د قيد په دوران کښې بادشاه حکم کړے وو چه ځما بال بچ دِ هم بندي کړے شي. زه بره ږده

(c) ketabton.com: The Digital Library



طور دِ دهلی ته اولیږلے شی. اوخما بال بچ ته چه پته اولګیده چه بادشاه هغوی دهلی ته لیږی، نوخپله علاقه ئے پریښوه اودَیوسفزو په علاقه کښے ئے پناه واخسته. اوسرهٔ دَ دښمنئ یوسفزو هغوته پناه ورکړه. اودیرپه قدر او عزت ئے اوساتل. زهٔ دَیوسفزو دا احسان نهٔ شم هیرولے - مهابت خان پوهٔ شو چه دا هغه خوشحال خان نهٔ دے کوم چه دَقید نه وړاندِ دَ مغلو خدمتګار او تابعدار وو. نو دَخوشحال خان دَامداد نه ئے طمع قطع شوه اودَخوشحال خان دَامداد نه بغیرئے دَلنګرکوټ قلاجوړه کړه. خوشحال خان په دَحقله وائی: ـ

لنګرکوټ مغلو ساز کړو     زهٔ په ننګ بیا دَافغان شوم

که یوسف زوکهٔ مندړ وُو     زهٔ دَ دواړو نګهبان شوم

مهابت خان داخل ډیره موده دَ کابل صوبه دار پاتے نشو. دوه کاله پس یعنی په سنه ۱۶۷۰ کښے بدل شو. او دَ هغهٔ په ځائے دَ کابل ګورنر محمد امین خان مقرر شو. محمد امین خان دَدے نه وړاندِ دَ کابل ګورنر پاتے شوے وُو. محمد امین دَمیرجمله ځوئے وُو. میرجمله په دکن کښے دَګولکنډے اوسید ونکے وُو. او دَلعلونو سوداګر وُو. او ډیر مالدار او امیر سړے وُو.

محمد امین خان دَاورنګ زیب معتمد او منظورِ نظر وُو. دَاورنګ زیب خیال وُو چه محمد امین خان به دَپښتنو شورش رفع دفع کړی. او په دے خیال، بادشاه هغه دَ کابل صوبه دار مقرر کړو. محمد امین خان دیانتدار خو مغروره او بدخویه سړے وُو. او هیڅ جرأت نهٔ شو کولے چه دَ هغهٔ دَ رائے مخالفت اوکړی.

دَقید نه پس خوشحال خان مغلو ته په زړهٔ کښے یښیدلو. خو لا تر اوسه ئے څهٔ عملی قدم دَمغلو خلاف نهٔ وُو اخستے. البته دَمغلو دَملازمت نه لاس په سر شوے وُو.

## دَخیبر جنګ او خوشحال خان، ایمل خان او دریا خان

دَمغلو دَکابل صوبه دار په اوړی کښے کابل کښے اوسیدو او په ژمی کښے به پېښور ته راکوزیدو. دا کال سنه ۱۶۷۲ وُو. دَپسرلی موسم وُو. او دَ روه کوهستانونه دَپسرلی په زیړو سرو ګلونو ګلزار وُو. دَمغلو ګورنر محمد امین خان دَمعمول وخت نه لږ وړاندِ. دَاوړی تیرولو دپاره دَکابل په طرف روان شو.

قصه داوه چه په ګنړ کښے یو څو مغلو سپاهیانو دَیوے صافئ جینئ سره چیړلی وُو.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



صافیانو په دې جینۍ غیرت اوکړو او درې مغل سپاهیان ئې اووژل. د مغلو د کوټ حاکم حسین بیګ د صافیانو ملکان را وغوښتل، او ورنه ئې مطالبه اوکړه. چه د مقتولانو قاتلان سرکار ته حواله کړئ. ملکانو انکار اوکړو. اوس د خواږښا د نورو قبیلو ملکانانو ته حسین بیګ اووې چه صافیانو ته سزا ورکړئ. او د دوی کلی او کورونه اوسیزئ او لوټ ئې کړئ. د خواږښا د قبیلو ملکانانو، د خپلو جاګیرونو په خاطر. په ناخوالئ د مغلو د امداد د پاره لښکر جمع کړو. خو په پټه ئې صافیانو ته خبر ورکړو چه تاسو د پښتو او ننګ و ناموس کار کړے دے، په یو پښتنه ښځه مو غیرت خوړلے دے. زمونږ زړونه تاسو سره دے. مونږ د مغلو په پړه کښے د مجبورئ نه لښکر جمع کړے دے.

حسین بیګ په صافیانو حمله اوکړه خو شکست ئې اوخوړو. او د دے واقعے په وجه د خواږښا ټول قبائیل د صافیانو په پړه کښے او د مغلو خلاف جنګ ته تیار شول.

حسین بیګ د دے واقعے نه محمد امین خان خبر کړو. محمد امین خان ډیر سخت شو او د تاوه، د وخت نه اول، د اوړی تیروُلو د پاره کابل ته روان شو. خیال ئې دا وُو چه په لاره به د صافیانو خبر هم واخلی. او داسے سزا به ورکړی چه د نورو پښتنو د پاره به مثال شی. او درست پښتون قوم به پرے اوویریږی.

محمد امین خان د یو لوئے لښکر سره، چه په دے لښکر کښے د نورو پښتنو نه علاوه د اورکزو ملکانان، خوشحال خان خټک او د مهمندو مستجاب خان ارباب هم شامل وُو. د خیبر په طرف روان شو.

صافیان هم د محمد امین خان د اراد ے نه خبر شوی وُو. هغوی د مهمندو آفریدو او شینوارو نه د پښتو او د پښتون په نوم امداد اوغوښتو. هغوی ټول د پښتون د ننګ په نوم راپاسیدل. او مغلو ته ئې خیبر اونیولو. د پښتنو د دے لښکر په ځامړه مشری دوه مشهورو ملکانانو ایمل خان او دریا خان کوله. دا هغه ایمل خان او دریا خان دی چه خوشحال خان ئې په صفت نه مړیږی. او په دیوان کښے د دوی د مړانے، شجاعت ننګ ریښتونے دوستئ او پښتونولئ بیا بیا ذکر کوی. د مغلو د صوبه دار محمد امین خان لښکر چه جمرود ته اورسیدو نو ورته پته اولګیده چه قبائیلو ورته خیبر نیولے دے. هغوئ د پښتنو مشرانو نه صلاح واخسته چه څه کول پکار دی. خوشحال خان ورته ووے چه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library


زهٔ پښتنو سره دَ جنګ کولو صلاح نهٔ ورکوم - خو محمد امین خان ورته پېغور ورکړو چه په قید کښې وے نو ما به دَ خلاصی دپاره سفارشونه دِ کول - نو اوس ته څما مقابله کښې دَ پښتنو سره همدردی لرے - محمد امین خان چه دَ خوشحال خان خټک نه نا اُمیده شو نو دَ مهمند مستجاب خان ارباب ئے سره دَ یوے جرګے قبائیلو ته اولیږلو چه ورته او وائے چه لاره پریږدی ګنی نتیجه به ئے دَ قبائیلو په حق کښې ښه نهٔ وی - قبائیلو دا دبکه او دا جرګه اونهٔ منله - او محمد امین خان لښکر ته حکم ورکړو چه په زور لاره اوکړئ او قبائیلو ته سزا ورکړئ - دَ محمد امین خان لښکر تر علی مسجده، په خیر خیریت اورسید و او تر لواړګی پورے ورته څهٔ لویه واقعه پیښه نهٔ شوه - خو چه لواړګی ته لښکر لنډی خانے طرف ته روان شو، نو دَ لواړګی او لنډی خانے ترمینځ په تنګئ کښې پښتنو قبائیلو دَ مغلو فوځ راګیر کړو - سړک ئے ورته دَ اول نه بند کړے ؤو - او سړک کښې ئے ورته لوئے لوئے ډبرے او تیږے غورزولے وے - او کندے ئے کنستے وے - دا هغه ځائے دے چه دلته شنوارو او افریدو په سنه ۱۹۳۶ کښې پنډت نهرو هم راګیر کړے ؤو -

محمد امین خان لښکر ته حکم ورکړو چه دَ جنګ دپاره صف آرائی اوکړئ - هاتیان دَ لښکر وړاندِ شول او حمله ئے اوکړه - پښتنو پرے دَ غره نه دَ کاڼو باران اوورولو - دَ مغلو لښکر ډیر وارخطا شو - او ډیر خلق ورکښې مړهٔ شول - مغل لښکر پستنه شو - او قبائیل تورے په لاس دَ غره نه راکوز شول او لاس په لاس جنګ شروع شو - جنګ تول ورځ جاری ؤو - خو مغلو ځان ته لاره اونهٔ کړے شوه -

اوس محمد امین خان ته چا صلاح ورکړه چه یوه بله لار هم شته په هغے به دَ لښکر پورے وتل آسان وی - دا لار دَ تاترے دَ وِلے سره نږدے تیره شویده - او په دے وجه په دغه لار دَ اوبوځهٔ کمے نشته - محمد امین خان دا صلاح اومنله، خو دا په حقیقت کښې چل ؤو - دَ محمد امین خان مات کړی لښکر چه دَ تاترے په لار روان شو، نو لا ښهٔ په جال کښې ګیر شو - او پښتنو قبائیلو تباه کړو -

محمد امین خان خپله په بهٔ پټه لار یو معتمد قبائیلی راوویستو - او پیښور ته ئے راورسولو - وئیلے شی چه دَ خیبر په جنګ کښې دَ مغل کلهم لښکر تباه شو - خو صرف محمد امین خان او دَ هغهٔ څلور ملګری دَ دے جنګ نه ژوندی پاتے شو - دا دَ مغل فوځ مکمل

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکست وُو ـ او دَ پښتنو مکمله فتح ـ دَ خیبر جنګ د مغلو ملا ماته کړه ـ د مغلو لښکر، خزانه، اسونه، هاتیان، هرڅه تباه شول ـ او دَ پښتنو لاس ته راغلل ـ نور څو نور ـ خپله د محمد امین خان ښځه، مور، خور او لور پښتنو او نیسلوے ـ او دَ محمد امین خان سرځېره په منګر تیا کښې نور مغل افسران وُو ـ دَ هغوئ زنانه هم پښتنو ته په لاس ورغلے ـ مغلوته دَ صافي جیني بے عزتي کرانه پریوته ـ او مغل ایله اوس دَ پښتنو دَ غیرت دَ جذبے نه خبر شول ـ خو وخت تیر دُو ـ چه څهٔ کید ونکي وُو ـ هغه شوی وُو ـ

څهٔ موده پس دَ محمد امین خان لور، خور او مور په ډیر پو خلاصے شوے خو دَ محمد امین خان ښځه دَ شرم نه واپس رانغله ـ او باقي تول عمرے دَ دُنیا نه کناره کشي اختیار کړه ـ او هم په دغه کښے وفات شوه ـ

دَ خوشحال خان دَ اندازے مطابق، دَ خیبر په جنګ کښے دَ مغلو څلوېښت زره فوځ تباه شوے وُو ـ چه په دے کښے دَ محمد امین خان خوئے مرزا عبدالله او دَ خور خاوند مرزا سلطان کربلائي هم شامل وُو ـ خوشحال خان وائي ـ

اول جنګ دَ لوهے شادَ تاترے وُو
چه څلوېښت زره مغل شول تار په تار

خویندے لونړه ئے په بند دَ پښتنو شوے
اس، اوښان، هاتیان الجه قطار قطار

دلته دا سوال پیدا کیږي چه خوشحال خان خپله دَ خیبر په عظیم جنګ کښے څهٔ کول، آیا هغه دَ مغلو طرفدار وُو که دَ پښتنو؟ یا غیر جانبدار پاتے شوے دے؟

سَر اولف کیرو په خپل مشهور تصنیف "پښتانهٔ" کښے لیکي، چه صحیح سور دا نهٔ معلومیږي چه خوشحال خان په دے جنګ کښے څهٔ کړي دي ـ خو اغلب ګمان دا دے چه هغه دَ مغل لښکر سره صرف ترجمه وو ده لاړ دے ـ او بیا واپس شوے دے ـ

کیرو دَ "خوشحال دَ نظمونو" په نوم چه کوم کتاب لیکلے دے ـ دَ دے کتاب په دیباچه کښے لیکي چه خوشحال خان دَ خیبر په جنګ کښے چه کومه قصیده لیکلے ده، دَ دے قصیدے نه معلومیږي چه خوشحال خان دَ پښتنو په دے عظیمه فتح نهٔ صرف خوشحالي ښکاره کړے ده بلکه ورسره ورسره پښتانهٔ ئے دَ راتلونکي مصیبتونو نه هم خبردار کړي دي او دَ محمد امین خان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library


تباهي او بدبختي ئے هم په دردناکه طريقه ستائيلے ده۔

کيرو په دے کتاب کښے بيا وائي چه دا نهٔ معلوميږي چه خوشحال خپله په دے جنګ کښے څهٔ کړي دي. خو خوشحال خان دَ خيبر فتح، دَ خپل کمان او دَ خپلو دوه افريد و يارانو يعني ايمل خان او درياخان دَ کمان دَ لاندِ دَ مغلو خلاف دَ پښتنو تولو کښے لويه او ولنئ فتح ګنړي۔

کيرو دا هم وائي چه دَ ايمل خان نوم دَ افريدو په زړونو کښے تر اوسه ژوندے دے. او دَ افريدو په علاقه کښے دَ ايمل خان په نوم ډير ځايونه ياديږي. خو دَ ايمل خان په تولو کښے بنهٔ يادګار دَ کوهاټ دَ درے په خله کښے دَ ايمل چبوتره نوم ځائے دے چه دَ ايمل خان نوم دَ افريدو په علاقه کښے ژوندے ساتي۔

خو دوست محمد خان کامل دا نهٔ مني. دوست محمد خان کامل ليکي چه "په دے جنګ کښے خوشحال خان دَ پښتنو په مقابله کښے دَ خپل يو محسن له خاطره شامل شوے وُو. او چه شامل شو نو بنهٔ په کلکه ئے جنګ او کړو کني دَ هغهٔ همدردي خو دَ پښتنو سره وه - او دا ئے غوښته چه دا جنګ او نشي۔

او بيا ليکي چه "مغلو او بادشاهي فوځ کښے چه کوم پښتانهٔ وُو هغوی کښے خوشحال خان هم بنهٔ کوشش دَ مغلو دپاره او کړو. خو پښتنو فتح بيا مونده. او بادشاهي لښکر ماتے او کړه. محمد امين خان دَ يو خو پښتنو جمعدارانو سره دَ علي مسجد په لار پېښور ته راغے او نور لښکر چه خوشحال خان هم پکښے وُو دَ تاترے په لار واپس شو"

دوست محمد خان دا هم ليکي چه "دَ دے جنګ نه زړپس خوشحال يوه قصيده ليکلے وه چه مطلع ئے دا وه او په قصيدو کښے دَ "ر" په پتئ کښے درج ده۔

چه دانا تر نادان لا وژنی بتر
مګر نهٔ دے دا ژوندون څهٔ معتبر

په دے قصيده کښے يو طرف ته دَ محمد امين خان او دَ هغهٔ دَ اهل وعيال په تباهي باندِ په ډيره دردناکه طريقه افسوس شوے دے او ورسره دَ پښتنو دَ فتحے ذکر هم کوي او پښتنو ته تنبيه او خبردارے هم ورکوي چه هسے نه چه غافل شئ. خوشحال خان ته کهٔ دَ محمد امين خان په بربادئ افسوس وُو نو ورسره دَ مغلو په تباهئ دَ اورنګ زيب وقار ته په صدمے او دَ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون په کامیابئ خوشحالي هم وه. او دغه خوشحالي د دے قصیدے او دغې نورو اشعارو (چه د دے واقع ذکر پکښے شوے دے) د لب و لهجے نه هم ښکاره ده.

په دے باره کښے زۀ خپله نۀ د سر اولف کیرو د رائے سره اتفاق کوم او نۀ د دوست محمد خان کامل د رائے سره. د دوست محمد خان کامل د "خوشحال خان خټک" د لوستو نه پس سړے مجبوره وی چه په دغه زمانه کښے د مغلو نه د آزادئ حاصلولو د پاره چه د پښتنو او مغلو ترمینځه کوم کشمکش تیز شوے دے او کوم جنګونه شوی دی چه د دے جنګونو کښے د پښتون د آزادئ د تحریک مشر د خوشحال خان په ځائے ایمل خان اوګنړی.

په دے کښے شک نشته چه د مغلو د قید او بند نه وړاندې چه کوم خوشحال خان مونږ وینو هغه د مغلو یو جاګیردار، طرفدار، نمک خوار او وفادار نواب دے. لکه چه د فرنګیانو په زمانه کښے هم ډیر پښتانۀ نوابان او خان بهادران موجود وُو. او دغے نواب خوشحال خان د مغلو د پاره پښتنو سره جنګونه کول. خو د قید نه پس چه کوم خوشحال خان مونږ ته ښکاری هغه بیل سړے دے. هغه یو غیرتی پښتون ښکاریږی دے چه د پښتنو په ننګ د مغلو خلاف کربسته ولاړ دے، او د پښتنو د اتفاق او اتحاد د پاره کوشان او سرګردان دے. او پښتانۀ د مغلو خلاف په دے جذبه جنګوی چه د مغلو د غلامۍ نه ئے خلاص کړی.

دا سے معلومیږی چه دوست محمد خان کامل د قید و بند نه پس د نوی کردار خوشحال خان سره نۀ دے پیژندلے. او دغه شان هغه د خوشحال خان په صحیح کردار پیش کولو کښے څۀ لږه ډیره غلطی ضرور کوی. کامل صاحب په خپل کتاب "خوشحال خان خټک" کښے د خیبر د جنګ عنوان "ایمل کی شورش" ایښے دے. او په دے خبره ئے ډیر زور ورکړے دے چه دا ایمل افریدے نۀ وُو مهمند وُو. او یو پیدائشی جرنیل وُو. او د خیبر جنګ د ایمل خان د کمان د لاندې شوے دے. او خوشحال خان خټک ئے په دے جنګ کښے هم د مغلو طرفدار ښائیلے دے. دا سے طرفدار چه د مغل او پښتون په دے تاریخی جنګ کښے هم، خوشحال خان د پښتون په مقابله کښے، د مغل په پره کښے ولاړ دے. او ښۀ د زړۀ د اخلاصه.

په نول کتاب کښے کامل صاحب، صرف د ایمل خان کردار په دا سے طریقه پیش کوی چه د سړی پرے سودا وشی. چه د مغلو په مقابله کښے د پښتون ولی وحُبّ وطنئ د جذبے په خاطر صرف ایمل خان را وچت شوے وُو. او ښۀ په نره د مغلو مقابے له ودریدے وُو. او په

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے تولہ جګړه کښے خوشحال خان محض یوه جمله معترضه وه چه کله نا کله به ئے دَ مغلو په مقابله کښے دَ پښتنو طرفداری اوکړه. ګنی په حیثیت مجموعی ئے دَ پښتنو خلاف، دَ مغل دپاره هرجائز او ناجائز صرف په دے خیال کړے دے چه هغهٔ ته او دَ هغهٔ خاندان ته او دَ هغهٔ قبیلے ته پکښے څهٔ ذاتی مفاد حاصل شي. او چه دَ مغلو نه دَ ذاتیاتو په بناء، دَ قید و بند نه پس متنفر شو. نو بیا هم دَ خیبر په جنګ کښے ئے دَ محسن محمد امین خان طرفداری، دَ پښتنو په مقابله کښے بنهٔ په نره اوکړه. خوایمل شکست ورکړو. او جنګ ئے بائیلو. او چار و ناچار دَ مغلو سره خوشحال خان هم دَ میدان نه اوتښتیدو.

کامل صاحب شاید چه دَ خوشحال خان له دے قسمه کردار په دے خیال پیش کوی چه دَ اورنګ زیب عالمګیر په مقابله کښے ولاړ وُو. او اورنګ زیب عالمګیر یو مُسلمان بادشاه وُو، نو هسے نه چه په خوشحال خان خوک بد اووائی. چه دَ مُسلمان بادشاه او بیا دَ هغے مُسلمان بادشاه مخالفت ئے وے کولو کوم چه دَ هند و یوخ دښمن وُو. او په هندوستان کښے ئے دَ صحیح اسلامی تعلیماتو احیاء غوښته. او دَ چا دَ پالیسیٔ په پره کښے چه علامه شبلی دَ "عهدِ عالمګیری" په نوم یو غټ کتاب هم لیکلے دے.

شاید چه په دے وجه کامل صاحب کوشش کوی چه دَ خوشحال خان دَ مغلو خلاف دَ جنګونو په حقله دَ جواز څهٔ صورت پیدا کړی. او داثا بته کړی چه خوشحال خان خود عالمګیر خاندانی تابعدار او خدمتګار وُو. او په مغلو ئے هیڅ بدنهٔ وُو پیرزو. خو مغلو چه ورباندِ بلا وجه خو کرته ظلمونه اوکړل نو مجبوره شو چه دَ اورنګ زیب عالمګیر او دَ مغلو خلاف اودریږی. ګنی دَ مغلو خلاف په قامی جذبه کښے جنګونه صرف ایمل خان کړی دی.

کامل صاحب ته دا هم معلومه ده چه ډیرو نامتو مؤرخینو او مستند و تاریخدانو ایمل خان آفریدے یاد کړے دے. خو کامل صاحب دا کوشش کوی چه ثابته کړی چه ایمل خان مهمند وُو.

ځما په خیال دا نقطه هډو دومره اهمیت نهٔ لری چه سړے پرے سرخوږے کړی چه ایمل خان مهمند یا آفریدے وُو. ځکه چه دا نقطه په حیثیت مجموعی، نهٔ دَ پښتون قوم څهٔ لاینحله مسئله حل کولے شي او نهٔ دَ خوشحال خان خټک په تاریخی شخصیت څهٔ اثر یا رڼا غورزولے شي. که ایمل خان مهمند وُو، یا آفریدے خو ظاهره ده چه دَ مغلو مخالفت ئے بنهٔ په نره کړے دے. او خوشحال خان خټک دَ ایمل خان او دریاخان دَ دے قامی خدمت ډیره ډیره ستائنه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې ده ـ او تعریف ئې کړې دے.

بهرحال نږهٔ کامل صاحب سره اتفاق کوم چه ایمل خان مهمند ؤو. ځکه چه خوشحال خان ختک خپله دوه ځایه هغهٔ ته مهمند وئیلې دی. هغه دوه ځایونه دا دی:

دَ ایمل فتور آغاز شو دَ مهمندو هم عنان شوم

افریدیو، شنوارو، زړهٔ پهٔ اُلجه بنهٔ کړو ایمل خان مهمند په ننګ په اُلجه دواړه
دَ خوشحال ختک په بخره خو یو ننګ دے
تر نظر بورے ئې هیڅ ده دُنیا واړه

خوشحال خان یو بل ځائے کښې دَ خیبر دَ جنګ په حقله وائی ـــه

دویم دَ محرم ورځ دَ شنبے کال دَ غــفــج نهٔ غشی ؤو نهٔ توره چه مغلو او کړو[۱۳۵] یج
شنوارو ـ افریدیو، دَ ډکے خوارو مهمندو
روپئ په خروار بورے، مڼران واړه پـه یـج

او دا هم وائی ـــه

څهٔ شنواری، څهٔ مهمند، څهٔ افریدی ؤو
چه ئې مات کړو دَ صوبے واړه لښکر

او دَ دے قصیدے خاتمه په دے بیت کوی ـــه

مستجاب مهمند پهٔ جرګه دَ مغــل ده
زهٔ خوشحال ختک خوباږیم ځائے م غــر

کهٔ چرے خوشحال خان په دے جنګ کښې رښتیا، دَ زړهٔ دَ اخلاص، دَ پښتون خلاف دَ مغل په پوره کښې جنګ کړے وے، او بیا دا جنګ ئې با ئیللې وے نو شاید چه اول خو به ئې په دے موضوع هډو قصیده نهٔ وه لیکلے ځکه چه دَ دے جنګ با ئیلات لکه څومره چه دَ محمد امین خان دپاره شرم ؤو، دغسې دَ خوشحال خان دپاره هم شرم ؤو ـ دواړو شکست خوړلے ؤو ـ او کهٔ نه، قصیده ئې خامخا لیکله نو دَ خوشحال خان ختک نه دا اُمید کیدے شی چه په قصیده کښې به ئې ذکر کړے وے چه جنګ م دَ مغل دپاره، دَ پښتون خلاف، دَ یو محسن په خاطر بنهٔ په نره او کړو خو ماتے م اوکړه ـ او شکست م اوخوړو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ما ته دا سې معلومیږي چې په دې جنګ کښې خوشحال خان د سیاست نه کار اخستې دې. د قید وبند نه پس، هغه مغلو ته په زړه د زړه کښې خو تکیدو. او چې د لنګر کوټ د قلا په باره کښې خپل دوست او محسن مهابت خان ورته د تعاون د پاره اووې نو خوشحال خان ورته صفا انکار او کړو.

کله خوشحال خان خپل محسن مهابت خان ته صفا انکار کولے شو نو هغه خپل محسن امین خان ته هم صفا وئیلے شول چې د پښتنو خلاف، د مغلو د پاره جنګونه نه شم کولے. خو هغه دا سې اونه کړل. نو په دې کښې مصلحت ؤو. خوشحال خان په ظاهره د مغلو سره شو خو پټ راز بازئے د پښتنو سره ؤو. او دغه وجه ده چې د پښتنو په فتح هغه د خوشحالئ اظهار کړے دے او خپله فتح ئے ګڼلے ده. او قصیده ئے پرے لیکلے ده. او وئیلی ئے دي چې زه صرف په دې جنګ کښې د پښتون په ننګ ولاړ ؤم. او محض د پښتون په ننګ م دا کار کړے دے. او ایمل خان د ننګ او لجه د واړو د پاره جنګ کړے دے.

په قصیده کښې خوشحال خان، مستجاب مهمند ته، چې د زړه نه د مغلو سره ؤو، بد وئیلی دی. هغه وائي چې مستجاب مهمند خود مغلو چړګله وه. او ورسره ځان ته باز وائی.

په قصیده کښې خوشحال خان دا نه وائي چې دا جنګ محض د ایمل خان مهمند په مشرئ کښې شوے ؤو. بلکه هغه په یو بل ځائے کښې، ایمل خان او دریا خان دواړه یو شان ستائي.

او س که مونږ د کامل صاحب او منو چې په دې جنګ کښې لکه د مستجاب مهمند په شان، خوشحال خان هم پټ او آشکاره، د پښتنو خلاف د مغلو ملګرے ؤو، او بیا دا سې کلک ملګرے چې په قول د کامل صاحب" په بادشاهي لښکر کښې چې کوم پښتانه شامل ؤو. د خوشحال خان نه علاوه، نورو ټولو د جنګ نه کناره کشي کوله. صرف خوشحال خان او د هغه سړو، د زړه د اخلاصه د مغلو په پره کښې جنګ کولو. خو هیڅ ئے ترے جوړه نه کړه." نو پس د شکست نه به خوشحال خان په کومه خوله ځان ستائیلو او ځان ته به ئے باز وے. او د کامل صاحب د خیبر د معرکے هیرو، ایمل خان متعلق به ئے ولے وئیل چې هغه د ننګ او د الجه په خاطر دا جنګ کړے ؤو او صرف خوشحال خان د پښتون د ننګ په خاطر په دې جنګ کښې شامل ؤو. حقیقت دا معلومیږي چې د خیبر په جنګ کښې د پښتنو پټ جرنیل، خوشحال خان خپله ؤو. او ایمل خان او دریا خان د دې جنګ ظاهري مشران ؤو. خوشحال خان ته په دې زور نه ورکوی چې ایمل خان او دریا خان آفریدی ؤو، یا مهمند. خو د دوئ د ملګرتیا، مړانے، شجاعت او ښه ځوانتوب تعریف ضرور کوی.

د خوشحال خان هغه مشهوره قصیده چې سرئے د دې مصرعے نه شروع کیږی ـــه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا له کومه راپیدا شو دا بهار

مونږ ته د ایمل خان او دریا خان په حقله دا دوه یادگار شعرونه په گوته کوی —

ایمل خان دریاخان دواړه مړگ ئے مه وے
هیڅ تقصیر دواړو او نکړو وار په وار
دخیبر دره ئے سره کړله په وینو
په کړاپه ئے هم روان کړو دهندو کار

په دے پوره قصیده کښے، خوشحال خان چه د پښتنو د مغلو خلاف کوم شپږ د برئ او فتحے جنگونه ستائیلی دی، په دے فهرست کښے د خیبر جنگ اول راځی. او په دے فتح هغهٔ فخر کړے دے. کهٔ دا چرته د هغهٔ، د مغلو په ږه کښے، او د پښتنو خلاف، چه په قول د کامل صاحب صرف ایمل خان ئے قیادت کولو، خپل شکست وُو. نو دا جنگ به هغهٔ بیا بیا په فخر سره څهٔ ته ستائیلو. او د ایمل خان به ئے دومره تعریفونه څهٔ ته کول. خو حقیقت دا نهٔ وُو.

خوشحال خان خپل محسن، محمد امین خان ته بیا تے شو دا دلیل چه په جمرود کښے صلاح ورکړه چه پښتنو سره جنگ یا سختی نهٔ ده بکار. دا غریب خلق دی. خو چه هغهٔ ورته پیغور ورکړو نو خوشحال خان د زړهٔ د اخلاصه، د پښتنو خلاف او د مغلو په ږه کښے جنگ ته تیار شو. او د دوستئ حق ئے ادا کړو. نو دا دلیل ما ته کمزورے ښکاری.

معلومیږی دا چه خوشحال خان چه محمد امین خان ته په روغ نیتئ صلاح ورکړه. او د جنگ نهٔ ئے منع کړو. او محمد امین خان د هغهٔ خبره اونهٔ منله، بلکه بدئے پرے اوکنړل نو دا د محمد امین خان خپل قصور وُو. خوشحال خان خپله غاړه خلاصه کړه. د دے نه پس، خوشحال خان د پښتو په دے متل عمل اوکړو چه "یارته پند ورکړه، اوکهٔ پند نهٔ منی نو د شکو پنډ ورکړه". د خوشحال خان د پند نه پس محمد امین خان ته د شکو پنډ ورکړو. او د پښتنو قبائیلو سره ئے د مغلو د تباهئ دپاره سازش اوکړو، او ښهٔ کامیاب سازش. د انګریزئ متل دے چه په جنګ او مینه کښے هر څهٔ روا دی. د قید نه پس د مغلو سره د خوشحال خان په جنگ شروع شوے وُو. د خیبر جنگ د خوشحال خان د هغهٔ د تدبر او سیاسی حکمت عملئ نتیجه وه. او د خوشحال خان د پښتنو د برئ او فتح دپاره عزم کړے وُو. او دا فتح د مغلو خلاف اولنئ فتح وه.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام ـ دَ مغلو شهنشاهیت، خوشحال خان او پښتانهٔ

دلته یوه بله مسئله هم حل کول غواړی ـ او هغه دا چه دَ خوشحال خان دپاره دَ مغلو دَ شهنشاه اورنګ زیب عالمګیر، چه مُسلمان بادشاه وُو مخالفت جائز وُو او که نهٔ.
نو دا یوه باریکه نقطه ده ـ او دا نقطه لږ وضاحت غواړی.

اسلام دَ شهنشاهیت، بادشاهت او سرمایه دارانه او جاګیردارانه نظام دَ لرے کولو دپاره راغلے وُو ـ اسلام اصل نسل ته هیڅ وقعت نهٔ ورکولو ـ په اسلام کښے هر مُسلمان دَ بل مسلمان رورور دے ـ اسلام کښے دَ شرافت معیار، اصل او نسل، مال او دولت نهٔ وُو ـ بلکه تقوٰی او اخلاق وُو ـ اسلام یو اخلاقی نظام دُنیا ته راوړے وُو چه بنیاد ئے توحید وُو ـ دَ قیصر او کسرٰی شهنشاهیت اسلام دړے وړے اوړے وُو ـ او سرمایه دار ته اسلام دَ مرګ پیغام وُو ـ خو دَ خلفائے راشدین نه پس چه کوم اسلامی سلطنتونه جوړ شول هغوئ لکه دَ قیصر او کسرٰی په شان بیا شهنشاهیت قائم کړو ـ او هم په هغه اصولو روان شول ـ په کومو سرمایه دارانه اصولو چه دَ قیصر او کسرٰی حکومتونه چلیدل، دا په حقیقت کښے دَ اسلامی طرز دَ حکومت مخالفت وُو ـ او اسلام چه دَ معاشرے دپاره کوم اصول وضع کړی وُو ـ دَ هغے اصولو، دَ اسلام په نوم او دَ خدائے تعالیٰ په نوم په جار ماتول وُو ـ سپین ته تور وئیل وُو او تور ته سپین ـ ورځ ته شپه وئیل وُو او شپے ته ورځ ـ

دَ دے مختصر تمهید په رڼا کښے او س مونږ دَ مغلو دَ شهنشاهیت او دَ مغلو دَ حکومت او دَ مغلو دَ پښتنو سره کشمکش او دَ جنګونو جائزه اخلو ـ

دَ مغلو نه وړاندِ په هند کښے پښتنو خپل بادشاهت او شهنشاهیت قائم کړے وُو ـ

مونږ دا نهٔ وایو چه په هند کښے دَ پښتنو شهنشاهیت یا بادشاهت په اسلامی اصولو چلیدو ـ یعنی په هغه اسلامی اصولو، په کومو چه دَ خلیفه عمرؓ اسلامی خلافت قائم وُو ـ خو دومره قدرے خبره ضرور وه چه دَ هند دَ پښتنو بادشاهانو په زمانه کښے اسلام په هند کښے په سُرعت سره خوریدو ـ او دَ هغوئ په زمانه کښے، یا په زور یا په رضا هندوان په یو درز مُسلمانیدل ـ او هغوئ اسلام دَ هندومت ضد ګڼڵو ـ اسلام توحید وُو، او هندومت شرک وُو ـ او هغوئ هیچرے دا کوشش نهٔ وُو کړے چه دَ اسلام او کفر ترمینځه محض دَ خپلو سیاسی اغراضو په خاطر صلح او کړی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د دواړو مذهبونو نه يو مشترک مذهب جوړ کړي او د هندوانو راجپوتو سره د سياسي اغراضو دپاره داسې خوږ ه کړي چه رشتې ورسره اوکړي. او حکومت کښې هغوئ حصه دار او برخې خور کړي. او باقي مسلمانان د هغوئ په زور غلام او تابع او ساتي.

خو مغلو چه د پښتنو شهنشاهيت په هند کښې ختم کړو او بابر چه مغل وُو. ابراهيم لودهي ته چه پښتون وُو، د پاني پت په اولنۍ جنګ کښې شکست ورکړو. نو د پښتنو د نسلي شهنشاهيت په ځائے په هند کښې د مغلو نسلي شهنشاهيت قائم شو. په دے کښې د مسلمان او د غير مسلمان سوال نهٔ وُو. پښتانهٔ او مغل دواړهٔ مسلمانان وُو. خو د دواړو بادشاهانو ملوکانه اغراض بيل وُو. پښتنو په هند خپله بادشاهي غوښتله او مغلو خپله. او په دې وجه دواړه نسلونه د يو بل سره برسرپيکار وُو. په دے کشمکش کښې د اسلامي او غير اسلامي سلطنت سوال نهٔ پيدا کيدو. دا د دوه مسلمانانو قومونو د هند د بادشاهت حاصلولو دپاره د زور جنګ وُو. او په دے وجه يا دواړه په حق وُو يا دواړه په ناحقه. يا دواړو ناجائز او ناروا کول يا دواړو کول. نهٔ د پښتنو شهنشاهيت د حضرت عمرؓ خلافت وُو او نهٔ د مغلو شهنشاهيت د حضرت عمرؓ د خلافت نمونه وه.

البته مغلو چه د پښتنو نه حکومت واخستونو محض د خپلو ملوکانه اغراضو د حاصلولو دپاره او د خپل حکومت د ټينګولو دپاره ئې د اسلام او کفر سره خپلو کښې صلح اوکړه او د اسلام او د کفر نه ئې يو مشترکه دين جوړ کړو چه اکبر يه ورته دينِ الٰهي وے. او دا خالص الحاد وُو. د مغلو حکومت بحيثيت مجموعي د ښځو او د شرابو دلداده وُو. او هغوئ چه په هند کښې د کوم نوي ثقافت بنياد کيښودو، دا اسلامي ثقافت نهٔ وُو. بلکه د اسلام او د کفر امتزاج وُو. د مغل مسلمان او د هندو راجپوت د مشترکه ثقافتونو يو معجونِ مرکب وُو.

د مغلو په زمانه کښې هندوانو ته موقع په لاس ورغله چه د حاکم قوم خوئ بوئ او اخلاق بدل کړي او په خپل خوئ بوئ او اخلاقو ئې راواړوي. پښتنو چه د مغلو د شهنشاهيت مخالفت کونو هغوئ په دې کښې حق بجانب وُو. ځکه چه مغل ته هندو راجپوت د مسلمان پښتون نه زيات نژدے وُو د هندو راجپوت سره د مغل د وينے رشته او خپلولي وه. او مغل بادشاهانو به اکثر د پښتون مسلمان د ګوشمالۍ دپاره يا بيربل راوليږلو، يا مان سنګهـ او يا چرته مهاراجه جسونت سنګهـ يا راجه رام سنګهـ.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتانۀ، خوشحال خان او دَ مغل شهنشاه عالمګیر سره کشمکش

دَ پورته بحث په رڼا کښې به اوس مونږ دَ خوشحال خان او دَ عالمګیر دَ کشمکش جائزه واخلو. خوشحال خان دَ عالمګیر یو جاګیردار او منصب دار وُو. او بنۀ په راستۍ سره ئې دَ هغۀ خدمت کولو. لکه چه وائي ــ

لکه نۀ وُم په راستۍ به دو راستۍ کښې
دَ مغل په خدمت نۀ وُو بل افغان

خوَدَ اورنګ دِ بندنه پس هم دغه جاګیردار او منصبدار خوشحال خان دَ اورنګ زیب دَ ذات او دَ اورنګ زیب دَ شهنشاهیت سخت دښمن شو. ځکه چه دۀ ته معلومه شوه چه دَ مغل په شهنشاهیت کښې دَ پښتون مسلمان هیڅ عزت. هیڅ وقار او هیڅ قدر نشته. مغل، پښتون محض یو مرئي او غلام ګڼړي. او هیچرې مغل پښتون ته دَ ځان سره یو حیثیت نۀ ورکوي. هغه پوهـ شو چه پښتون کۀ دَ مغل دپاره هرڅۀ اوکړي خو دَ مغل په نظر کښې دَ پښتون نه هیچرې مغل نۀ شي جوړیدې. لکه چه وائي ــ

کۀ هزار کاندِ پښتون مغل به نۀ شي
بویه داچه دَ زړۀ او باسي دا خیال

او بیا وائي ــ

او رئې پورې په منصب په نوکرئ شه
چه ترفهم و تر نظر دَ مغل کک یم

دَ اورنګ زیب عالمګیر متعلق چه دَ قید په دوران کښې او پس له قیده خوشحال خان کومه رائې قائمه کړې وه هغه دَ دې اشعارو نه واضحه ده ــ

څۀ یوازې په ما نۀ ده کۀ ژوندې وي
اورنګ شاه بادشاه به ډیر کاندي پائمال
دۀ په لاس دَ بخت نصر ظلم واخست
زۀ دَ دۀ دَ لاسه بند لکه دانیال
حق ناحق ئې چه څوک راشي په منګل کښې
خواروي ئې غم ئې نۀ وي، دَ وبال
چه په پلار باندِ ئې نۀ ده صرفه کړې
په نور چائې څۀ صرفه، څۀ ئې اشکال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ رښتیا وایم دا هسې بادشاه نهٔ وی
وا ړه کارئے دَ رهزن دے، د داړې وال

یو په ظلم، یو په مکر نور څوک نشته
کهٔ حجاج وی کهٔ یزید وی دَ دهٔ سیال

دهغهٔ بادشاه به څوک دَغاړے طوق شی
چه دے نهٔ لری دَ عدل اعتدال

نهٔ انصاف شته، نهٔ تمیز، نهٔ نور دَ عدل
په دربارئے تاریکی ده، غول و غال

په دورات دَ دے بادشاه هوښیار دهغه دے
چه وطن که په فرنګ یه پرتګال

په خوشحال با ندِ څو وارد ے دا دے راغے
خدائے دِ درست جهان ساتی دَ دے جیپال

په یو بل ځائے کښے دَ اورنګ زیب متعلق وائی ــ

دَ بادشاه دَ بدنیتی کمے نشته!!!
په بد نیت ئے آزار واخست دَ خپل پلار

ځکه اوس دَ چا باور ور باندِ نهٔ شی
هم بدنیت دے هم بد قول هم مکار

بله هیڅ لیدله نهٔ شی په دا مینځ کښے
یا مغل دَ مینځ ورک یا پښتون خوار

دَ خوشحال خان دَ دے پورتنو اشعارو نه معلومیږی چه اورنګ زیب یو خدا ترس، منصف عادل، صاف زړهٔ او پیشخلے او سپین څلے مسلمان بادشاه نهٔ ؤ. بلکه هغه یو داسے مسلمان ؤ چه دَ بادشاهۍ حاصلولو دپاره ئے خپل پلار قید کړے او خپل رو ترونه ئے وژلی ؤ. او دَ مذهب په ظاهر یا تو یعنی په مونځ، روژه ئے دَ خلقو دَ غلولو دپاره مخ سپین کړے ؤ. ځو نکه کیر وچه وائی په حقیقت کښے دهغهٔ زړهٔ دَ مذهبی منافقت نه ډک ؤ - یعنی هغهٔ مذهب دَ خپل ملوکانه اغراضو دَ حاصلولو دپاره یو آلهٔ کار جوړ کړے ؤ. دَ خوشحال خان تر نزده دَ مذهب دَ پردے په شا دَ اورنګ زیب اصلی


A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کردار، دَیو ظالم او ناترسه غاصب انسان ؤو. چه هر عمل ئے دَ شر نه ډک ؤو۔
مونږ به دَ خوشحال خان دے رائے ته ډیر وقعت نهٔ ؤو ورکړے. ځکه چه مونږ ته معلومه ده چه دَ خوشحال خان دَ اورنګ زیب عالمګیر سره ورانه شوے وه او په دے وجه شاید چه دَ خوشحال خان دا رائے په ذاتیاتو مبنی وی. خو دَ خوشحال نه علاوه زمونږ درویش او صوفی شاعر عبدالرحمان بابا هم چه خوشحال خان پسے نزدے تیر شوے دے، دَ هغے وخت دَ مغلو حاکما نو دَ لاسه داسے سر تکوی۔

په سبب دَ ظالمانو حاکمانو ∴ کوراؤ کور او پیښور دړے واړه یو دی

نو دَ دے نه معلومیږی چه دَ خوشحال خان په رائے کښے ضرور څهٔ صداقت شته۔

خبره دا ده چه عام خلق دَ مذهب دَ روح نه نا واقف وی. او هغوئ دَ مذهب په ظاهر یا تو او رسوماتو پسے ځی. نو کهٔ یو سړے ظاهری شان و شوکت دَ یو مذهبی سړی جوړ کړی نو باطنی عمل کهٔ ئے هر څهٔ وی، خو په خلقو کښے په ښهٔ سړی او په مسلمان سړی مشهور شی. دَ اورنګ زیب عالمګیر دَ ښے مسلمانئ چرچه هم په دے وجه شوے وه چه هغهٔ خپل ظاهری شان و شوکت دَ ښهٔ مسلمان جوړ کړو نو خلقو دَ هغهٔ ټولے ګناهانے معاف کړے. ځکه چه شرع هم ظاهر ګوری او خلق هم ظاهر ګوری. خو حقیقت څهٔ بل شان ؤو۔

دَ خوشحال خان په زمانه کښے دَ پښتنو او دَ مغلو جګړو ډیر زور نیولے ؤو. او خوشحال خان چه دے قامی جنګ کښے دَ مغلو نه راواوښید و او دَ پښتنو په ننګ ئے توره او تړله. نو هغه په دے کښے حق بجانب ؤو. دَ خوشحال خان خیال ؤو چه مغل پښتنو ته دَ حقارت په نظر ګوری. او پښتون خپل سیال نهٔ ګڼړی بلکه خپل مرئے او غلام ئے ګڼړی. په دے وجه پښتون ته پکار دی چه مغل دَ خپل وطن نه اوباسی او دَ مغل دَ غلامئ نه ځان خلاص کړی۔

اول خو لکه چه ما ذکر کړے دے شهنشاهیت او بادشاهت دَ اسلام په ضد کښے ولاړ ؤو، په دے وجه هغه خلق چه دَ مسلمان بادشاه په نوم دَ اورنګ زیب دَ ملوکیت پره کوی. هغه دَ یو غیر اسلامی سیاسی نظام پشتی کوی. مُسلمان او بادشاه په حقیقت کښے اجتماع ضدین دی. بادشاهت دَ مسلمان دپاره نا روا دے. په اسلام کښے صرف خلافت روا دے او دَ اخلافت دَ یو منتخب شوی امیر پکار دے۔ او دَ امیر انتخاب به هم صرف صاحب الرائے مسلمانان کوی چه تقوی او اسلامی اخلاقی ژوند کښے ثانی نه لری. خو خود غرضه خلقو ورو ورو دَ اسلام دَ سیاسی نظام نه بادشاهت او ملوکیت جوړ کړو. او هغه هم موروثی ملوکیت، چه په اسلام کښے سروپ نا روا دے. او بیا دا ناروا ملوکیت

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې د اسلام جزو او ګرځولو . او د مُسلمان بادشاه کلمه داسې عام شوه چه دا د مُسلمان دپاره د ایمان جزو شو . او څوک چه د مُسلمان بادشاه د خرافاتو نه ډک حکومت نه مني . د هغهٔ قتل روا ګڼړلے شي . په مُسلمانانو کښې دا ذهنیت حقیقت کښې د مُسلمانانو د زوال سبب ګرځیدلے دے . و مُسلمان ملت ئې ذلیل کړے دے .

خوشحال خان خپله هم د قید و بند نه وړاندِ هم له دے قسمه مُسلمان بادشاه تابع وُو . او د داسې مُسلمانانو بادشاهانو د ملوکیت مِتې وے . کهٔ هغهٔ په ژوند کښې څهٔ غلطي کړے وه نو هغه ئې د قید و بند نه وړاندِ کړے ده . چه د یو غیر اسلامي شهنشاهیت د ناروا سیاسي نظام پُشتي ئې کوله . د قید و بند نه روستو چه په هغهٔ کښې یو نوے احساس او نوے شعور پیدا شوے دے . دا د ستائنے ده دے . د دے نوی سیاسي شعور په برکت هغهٔ د مغلو د ناروا نسلي شهنشاهیت چه د مُسلمان بادشاه د پردے د لاندِ د حیواني ظلم او زور د ویم نوم وُو خلقو ته عریان او ښائیلو . او خلق د مغلو په شهنشاهي منافقت پوهه شول . او د مغلو د زور ظلم نه ئې د ځان خلاصولو دپاره مردانه کوششونه شروع کړل . خوشحال خان د اورنګ زیب د نسلي شهنشاهیت متعلق وائي ـــــ

اطاعت د اولو الامر ځکه نهٔ کړم
خلیفه د زمانے په زړهٔ کافر دے

پښتون مُسلمان به د مغل مُسلمان د اسلامي رورولۍ او اخوت هله خیال ساتلو . کهٔ چرے د اسلام د اصولو او تعلیماتو مطابق ، مغل مُسلمان ، پښتون مُسلمان ته د ځان سره یو شان اسلامي حیثیت او اقتصادي حیثیت ورکړے دے . خو مغلو نه ده چه د مغلو د شهنشاهیت څهٔ نورے تقاضے وے او داچه نور هر څهٔ وے خو اسلامي نهٔ وے . خوشحال خان د مغلو د شهنشاهیت په اصولو جوړ ، تش په نوم او جعلي اسلامي حکومت منلو ته تیار نهٔ وُو . ځکه چه دا صرف د مغلو نسلي حکومت وُو . او په هیڅ رنګ او هیڅ شکل کښې اسلامي نهٔ وُو . صرف د اسلام په مقدس نوم مغلو خپل ملوکانه اغراض حاصلول . او خپل غاصبانه حکومت ئې په مُسلمانانو چلولو . او هغه هم د ذاتي اغراضو دپاره .

په داسې صورت حال کښې خوشحال خان مجبور وُو چه د مغلو مقابله اوکړي . او د پښتون مُسلمان ملي شان او قومي حیثیت او ملي سیرت په آزادانه طور برقرار اوساتي . او پښتون کښې په قسما قسم طریقو ، په پیغورونو ، په طعنو ، په تعریفونو او د غیرت او پښتو په ردیونو وغیره ملي شعور او حس بیدار کړي . او اتحاد او اتفاق ورکښې راولي . او د مغلو مقابلے ته ئې اودروي .

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَخوشحال خان خیال وُو چه دَمغل هیڅ حق نشته چه دَ پښتون په وطن دِ قابض وی. او پښتون دِ په زور ظلم مرئیه او غلام ساتی. خوشحال خان مغل دَ پښتون دَ وطن نه ایستل غوښتل، او په آخری عمر کښې دا دَ هغهٔ یوه عقیده جوړه شوے وه لکه چه وائی ـــ

دا نادره عقیده لکه ځما ده

لا عجب کهٔ بل پیدا هسے افغان شی

دَ نمونے په طور دلته دَ خوشحال خان ځنې هغه اشعار ورکوم. دَ کوم نه چه دَ خوشحال خان دَ دے نادرے عقیدے وضاحت کیږی. یعنی په دے لاندِ اشعارو کښې هغهٔ دَ مغلو او دَ اورنګ زیب نه دَ نفرت اظهار کړے دے. دَ پښتنو بے اتفاقۍ ستائیلے ده. او په خپل ننګیالیتوب ئے فخر کړے دے.

POHA

چه مغل و ته مِ او تړله توره
درست پښتون مِ و عالم و ته ښکاره کړو

خټک کله په شماره په حساب یاد وُو
خټک ما دَ اولسونو په شماره کړو

اتفاق په پښتنو کښې پیدا نهٔ شو
ګنی ما به دَ مغل ګریوان پاره کړو

قدیمی دَ پښتنو جهل و خرتوب وُو
اوس په طمع دَ حرص دردمې لمیانه

کهٔ ربښتیا وایم شیرشاه دا هسے نهٔ وُو
لکه مونږ ه یو پیدا له کوهستانه

لا ترا وسه ئے مازغهٔ په قرار نهٔ دی
چا چه ما سره و هلے سر په سنګ دے

لا په خوب کښې په لرزه پریوزی له کټه
چه دَ چا ترغوږ ځما دَ تورے شرنګ دے

کهٔ په دا دورِ مِ ګورے هغه زهٔ یم
چه مِ داغ په خاطر ایښے دَ اورنګ دے

درست جهان مِ و مغل و ته خیبر کړو
ځائے په ځائے پښتانهٔ و ته قلنګ دے

ځنې زهٔ لوئے دعوٰی لرم په زړهٔ کښې
ولے څهٔ کړم چه پښتون واړه بے ننګ دے

کهٔ مِ عمر په شماره ترشپیتهٔ تیر دے
لا په کار کښې دَ سورنئ هسے اُزبک یم

دَ افغان په ننګ مِ او تړلـــه توره
ننګیالے دَ زمانے خوشحال خټک یم

هرهٔ چار دَ پښتانهٔ تر مغل ښه ده
اتفاق ورځنه نهٔ شته ډیرا رمان

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بهلول او دَ شیرشاه خبرے آورم    چه په هند کښے پښتانۀ وو بادشاهان
شپږ اووۀ پیړئ ئے هسے بادشاهي وه    چه په دوئ پورے درست خلق وو حیران
یا هغه پښتانۀ نور وُو دا څۀ نور شول    یا د خدائے دے اوس داهسے شان فرمان
کۀ توفیق دَ اتفاق پښتانۀ مومی !
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

ومغل و ته چه گورم ، هغه هسے مغل نشته    دَ توره وارئے تیر دے اوس ورپاتے یو قلم دے
پښتون په ښه روښنئ په فریب په تیښتالو نو    په مائے اثر نۀ شي لا په ما دَ خدائے کرم دے
نۀ مچ یم نۀ قارغۀ یم چه په ګډو مړو ګرځم    یا باز یم یا شاهین یم په ځپل ښکار م زړۀ خرم دے
کۀ ماغوندِ نور هم وے په دَ کار به ډیر خوشحال وُم    چه ماغوندِ څوک نشته ځکه پروت راباندِ غم دے
ایمل خان دریاخان دواړه په ښۀ رنګ تیر شول په ننګ کښے
دَ دواړو په فراق کښے ، ځما تل آه و ماتم دے؛

پښتانۀ لکه مګس وربانِدِ ګرځی    ورته ایښے دَ مغل دَ حلوا تال دے
نورے واړه تکیے وار په وار خوړ شوے    اوس په مینځ کښے یو کوم دَ ذوالجلال دے
ایمل خان دریاخان دواړه خوردبین لاړل
اوس خو پاتے ومغل ته یو خوشحال دے

اورنګ زیب راته یو کال وشو چه پروت دے    په صورت حیران، پریشان په زړۀ افګار
کال په کال امرایان دی چه پریوځی    چه طوفان شولے لښکرے کوم ئے شمار
خزانے دَ هندوستان دی راخوړ شوے    سرۀ مُهران دی ننوزی په کُهسار
پښتانۀ چه نور څۀ فکر کا نابود دی    بے له توره ئے خلاصے نشته په بل کار
ترمغلو پښتانۀ په توره ښۀ دی    کۀ په پوهه پښتانۀ وے څه هوښیار
اولسونه چه سند و بله ، او که    بادشاهان ورته سجود کاندی اختیار
نۀ تنها یکښے په غم دَ نام وننګ یم    یوسف زئ فراغت په کښت و کار
آفریدی، مهمند، شنواری کوره څۀ کا    دَ مغلو لښکر پروت په ننګرهار
په لښکر لښکر ناره شوم ورته ستړے    دا کا نړۀ راته نۀ هیڅوک وائی نۀ څه د
مرګ ځما په پوهه بهتر ترداژوندون دے    دَ عزت سره چه نۀ وی ژوند کار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه به په جهان کښې ژوندي نه وي
د خوشحال خټک به پاتې شي سروزګار

ومغل وته به هسې کار ښکاره کړم    چه راضي را څخه روح د فرید خان شي
اورنګ زیب بادشاه زړه ډک په لاهور داغ    ګوره کاندې به څوک ورانځوک به ودان شي
په جهان د ننګیالي دي دا دوه کاره    یا به اوخوري ککري یا به کامران شي
د مزریو مړ نتوب په ښکر نه دے    مېړه ئې هر کله یوازې په خپل ځان شي

آزادي تر بادشاهۍ لا تیرې کا
چه د بل د حکم لاندې شي زندان شي

پښتانه واړه بدخوئ دي    کور په کور کاندې غوبرزئ
یو چه سرکاندي په پورته    بل ئې اووهي مغزئ

هغه زیست چه د عزت له مخه نه وي    چه ئې کا په هغه زیست پورې هک پک یم
په خپل نام و ننګ چه راشم لیونے شم    خبردار کله په سود و زیان د لک یم
هر پښتون چه د مغلو نوکري کا    که زه د هغې واړو بهترک یم
چه منصب م د مغل خوښ ملک ډم    چه منصب د مغل نشته اوس ملک یم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته    شکر دا چه په خپل حکم په خپل وک یم
نه م کار په خاص و عام نه په دیوان شته    نه په دروازه د هر یوه مردک یم
آزادي ده په ساده سپینه جامه کښې    خلاص له غمه د زربفت او د میلک یم
د وښو جو ګړې هسې راته ښې شوې!    وائې ناست په مجلونو د آهک یم
که اوګره د بتوشته په شلمبو سپینه
د مغلو پلاؤ پاتې ډیر پرې ډک یم

۱- پښتانه په عقل پوهه چه ناکس دي    کوته سپي د قصابانو د جوس دي
۲- بادشاهي ئې د مغل په زړه با ئیله    د مغل د منصبونو په هوس دي
۳- اوښ له بار ره په خپل کور کښې ورغلے    په اولجه د اوښ د غاړې د جرس دي
۴- د نفرین لائق په تام سړبني دي
له اوله که دا نور ورپسې پس دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه اقبالؒ په "جاوید نامه" کښې د پښتون د خوئ بوئ د بیان په سلسله کښې د خوشحال خان خټک په پورتنو اشعارو کښې د دریم نمبر شعر ترجمه کړے ده ؎

اشترے یابد اگر افغانِ حُر | بایراق و سازو با انبارِ دُر
همتِ دونش ازاں انبارِ دُر
میشود خوشنود با زنگِ شتر

داوه مغل او اورنگ زیب طرف ته د خوشحال خان خټک رویّه. او هغهٔ دا رویّه پس له تجربے او د مغل سره د زیست روزګار اختیار کړے وه. هغهٔ مغل ښهٔ پیژندهٔ. او هغهٔ پښتون هم ښهٔ پیژندو. د مغل سرهٔ د هغهٔ د پلار نیکهٔ له وخته معامله وه. او په معامله ئے پیژندلے وُو. او د پښتون د فطرت نه خو هغه خود واقف وُو چه خپله پښتون وُو. او شپه او ورځ به پښتنو کښې اوسیدو. او ورسره ئے کار روزګار، جنګ جګړے، جرګے او مرګے وے. ځکه خو علامه اقبالؒ خوشحال خان ته شاعرِ افغان شناس وائی. او صحیح وائی. ځکه چه خوشحال خان که پښتون نهٔ پیژندلو نو بیا هیڅ پښتون تر اوسه چا پیژندلے نهٔ دے۔

خوشحال خان به د مغل د مذهب او اسلامی رورولئ لحاظ هله ساتلو، که چرے مغل په اصلی معنو کښې د اسلام په بنیادی اصولو عمل کولے. یعنی دا چه هر مسلمان د بل مُسلمان رور دے. او د بل مُسلمان برابر دے۔ او دا رورولی تشه د خولے رورولی نهٔ ده. بلکه دا رورولی د یو شان سیاسی او اقتصادی حیثیت ده. په دے رورولئ کښې ټول مُسلمانان یو شان دی. نهٔ پکښې څوک مغل شته، نهٔ افغان. نهٔ ترک شته نهٔ ایرانی. نهٔ عرب شته، نهٔ عجم. نهٔ پکښې څوک بادشاه شته نهٔ فقیر. اسلامی رورولی ټولو مسلمانانو ته د یووالی او عالمګیر اخوت سبق درکوی. او ټول مُسلمانان د توحید د حفاظت او اشاعت دپاره په یو صف کښې اودروی. لکه علامه اقبالؒ چه وائی ؎

ایک ہوں مسلم حرم کی پاسبانی کے لئے
نیل کے ساحل سے لے کرتا بخاکِ کاشغر

د اسلام د بے نظیره رورولئ او برابرئ مثال دا دے، که د غلام د سورلئ وار راشی نو هیڅ پرواه نشته، که د ټول عجم شاهان، امیران او نوابان د قیصر او کسری سره د اسلام د خلیفه په انتظار کښې ولاړ وی. خلونه به د خپلے سورلئ د وار مطابق د سور غلام د اوښ مُهار نیولے د قیصر عظیم الشان شاهنشاهی دربار ته بیا ده تلل فخر ګڼړی. او ټولے دُنیا ته به د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمبردار سبق ورکوی چه دَ اسلام دَ ساده خو دَ ذی شان تمدّن دَ کامیابیٔ راز دَ مسلمانانو دَ برابرئ او مساواتو او دورولئ او اخوت په اصول کښې تړلے پروت دے۔ اسلام کښې دَ انسان انسانی حیثیت یو دے۔ اسلام دَ وقارِ آدم او دَ تکمیلِ اخلاق دپاره راغلے دے۔

په پورتنی مثال کښې مونږ په اسلام کښې دَ حیثیت دَ برابرئ ذکر اوکړو۔ اوس په اسلام کښې دَ معاشی او اقتصادی برابرئ مثال هم واورئ۔ دَ مُسلمانانو خلیفه دَ یمنی څادرونو نه جوړه نوے جُبّه اغوستے ده۔ دا څادرونه مُسلمانانو ته په مالِ غنیمت کښې راغلی دی۔ او په ممبر ولاړ دے مُسلمانانو ته وعظ او نصیحت کوی۔ په دے کښې دَ جمع نه یو مسلمان پاسی او خلیفه ته دَ ټولو مُسلمانانو په وړاندِ وائی۔ مونږ نهٔ ستا حکم منو، نهٔ ستا وعظ آورو۔ خلیفه ورته په حیرت کښې تپوس کوی چه ولے؟ مُسلمان ورته وائی ځکه چه تا دَ مُسلمانانو په مال غنیمت کښې خیانت کړے دے۔ یعنی څادرونه چه راغلی ؤ نو ستا هم یو څادر رسیدلے ؤو۔ او ته دَ نورو نه په قد کښې لوئے هم ئے۔ نو دَ نورو مُسلمانانو ورته جُبه جوړه نهٔ شوه۔ او ستا ورته جُبه جوړه شوه۔ دا ځکه چه تا خیانت کړے دے۔ او ځان ته دِ دَ یو په ځائے دوه څادرونه په ویش کښې بیل کړی دی۔ خلیفه خپل ځوئے ته مخ اړوی، چه جواب ورکړه۔ دَ خلیفه ځوئے مُسلمان ته وائی چه خلیفه خیانت نهٔ دے کړے۔ خو خلیفه چه دَ جُبے جوړولو اراده اوکړه۔ ما ورته خپل څادر ورکړو۔ او دغه شان یو دَ خلیفه خپل څادر شو او یو ځما۔ نو دَ دواړو څادرونو نه دَ خلیفه جُبه جوړه شوه۔

دا حال ؤو دَ اسلام دَ عالمګیر اخوت او مساوات۔ اوس دَ دے په رڼا کښې اوګورئ چه دَ مغلو شهنشاهیت څهٔ څیز ؤو۔ آیا دا اسلامی ؤو که غیر اسلامی۔

اسلام دَ شاه او ګدا تمیز ورک کړے ؤو او محمود او ایاز ئے په یوصف کښې اودرولی ؤو۔ غریب او مالدار ته ئے یو شان حیثیت ورکړے ؤو۔

دَ اسلامی ژوند دَ اصولو مطابق دَ حیثیت او شرافت معیار تقویٰ ده۔ په اسلام کښې چه څوک زیات تقویٰ دار دے۔ اخلاقی ژوند تیروی۔ هغه مالدار دے۔ هغه لوئے سړے دے۔ هغه خطاب یافته دے۔ هغه کرسی نشین دے۔ هغه خدائے پاک ته نزدے دے۔ هغهٔ ته خدائے پاک حیثیت ورکړے دے۔ اسلامی حیثیت په مال او عهده نهٔ دے۔ اسلامی حیثیت دَ مادی ژوند په آرام او آسائش نهٔ دے۔ اسلامی ژوند هغه اخلاقی او روحانی ژوند دے چه دَ دُنیا نه کناره کشی نهٔ بنائی۔ دَ دُنیا دَ کاروبار تلقین ورکوی خو په دا سے طریقه چه "دِل به یار، دست

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



به کار" -

خلیفه حضرت عمرؓ دَاسلام دَ دے فلسفهٔ حیات په عمل سره دُنیا ته سبق ورکولو - او خوشحال خان خټک، دَخپل هم مذهب مغل، دَمذهبی قومیت څکه خیال نهٔ ساتلو چه مغل دَاسلام په بنیادی اصولو هیچرے عمل پیرا نهٔ وُو - مغلو لکه دَ نن ورځے دَمالدارو مُسلمانانو په شان، مذهب یو رائج رواج او مقبول فیشن قبول کړے وُو، خو حقیقت کښے هغوئ مذهب دَخپل کار ایستلو وملوکانه اغراضو او دُنیاوی مادی حیثیت، او آرام او آسائش دپارهٔ یو آلهٔ کارجوړ کړے وُو - مغل هیچرے پښتون مُسلمان ته دَ یو مذهبی رور په سترګه نهٔ کتل - او نهٔ دَ مغل په سترګه ورته کتل. بلکه مغلو پښتانهٔ خپل مریان او غلامان ګڼل - دَ مغلو په اسلامی حکومت کښے دَ اسلامی رشتے او خپلولئ په سبب مغل مُسلمان هیچرے پښتون مُسلمان ته یو شان سیاسی حیثیت، مذهبی حیثیت، قومی حیثیت او اقتصادی حیثیت نهٔ ورکولو -

پښتون مُسلمان دَ مغل مُسلمان لکه دَ غیر مُسلمانانو په شان یو ذلیل او محکوم رعیت وُو. مغل دَ خپلے اسلامی مذهبی عقیدے هیچرے په عملی، دُنیاوی ژوند کښے پابند نهٔ وُو. مغل لکه دَ نن ورځے دَ مُسلمانانو، تش په نوم مُسلمان خو وُو - لیکن په عملی ژوند کښے مغل صرف په هغے اسلامی اصولو باندے عمل پیرا وُو، کوم اصول چه دَ هغهٔ دَ بادشاهئ او ذاتی اغراضو دَ مفادو موافق وُو - هغه اسلام مغل نهٔ منلو کوم چه دَ هغهٔ دَ دُنیاوی او شاهی مفادو موافق نهٔ وُو -

مغل مُسلمان ته هغه هِند وبیربل، مان سنګه او جسونت سنګه ډیر نزدے وُو کوم چه دَ پښتون مُسلمان دَ کوشمالئ دپارهٔ به دَ هندوستان نه راروان شول او دَ پښتون په سر به سوارهٔ شول - او دَ پښتون ټول وطن به ئے تباه برباد او لتاړ کړو - دغه دَ مغل مُسلمانی وه او دغه ئے عمل -

دَ عربو اسلامی حکومت بیشکه چه په ړومبی دور کښے یعنی دَ خلفائے راشدین په زمانه کښے اعتقاداً او عملاً دَ اسلامی اصولو او تعلیماتو پابند وُو - او دَ دے دپاره په حقیقی طور اسلامی حکومت وُو - دَ عربو اسلامی حکومت په دے دور کښے، تر عربی نسل یا قوم پورے محدود نهٔ وُو - بلکه دَ عربو قومیت هغه عالمګیر مذهبی قومیت وُو چه دَ هغے عظیم الشان قومیت ممبرجوړیدو دپارهٔ دَ عرب نسل شرط نهٔ وُو - خوصرف اسلام راوړل واحد شرط وُو - نو بیا هغه که دَ هر ملک وُو - هر څنګ به ئے وُو - دَ هر نسل نه به وُو - پس هغه ټول امتیاز به دَ مینځ نه اووتو - هر عجمی به عربی شواد دَ اسلام دَ لوئے مذهبی قومیت فرد به شو - دَ هغهٔ به اسلامی حیثیت قائم شو - هغه به دَ اسلام

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عالمګیره رورولۍ کښې شامل شو۔ او په اسلامي حکومت کښې به ئې لکه د نورو مسلمانانو په شان مساوي حصه او منلې شوه۔ دا سې حصه او دا سې حیثیت، څرنګه چه به د وخت د خلیفه وُو۔

د عربو د عالمګیر تمدن د کامیابۍ هم دغه راز وُو چه د ټولو مسلمانانو مشترکه قومیت اسلام وُو۔ یعنی مذهبي قومیت یا لو یه انساني برادري او خپلولي۔

نسلي یا وطني قومیت عربو نۀ پیژندلو۔ په مسلمان عرب او په مسلمان عجم کښې هیڅ فرق نۀ وُو۔ په اسلامي حکومت کښې به د دواړو یو شان حیثیت وُو۔ دواړه به په یو شان د حصې دعویداران وُو۔ په اصل او نسل فخر، عربو د مسلمانانو د مشترکه قومیت دپاره یو لعنت ګنړلو۔ د اسلامي حکومت حفاظت په هر مسلمان فرض وُو۔ ځکه چه هر مسلمان د هغې حکومت مالک وُو۔ د هر مسلمان په هغې کښې یو شان اسلامي او سیاسي حیثیت وُو۔

د عربو په اسلامي حکومت کښې یو مسلمان د بل مسلمان مریئے او غلام نۀ وُو۔ بلکه هر مسلمان د بل مسلمان برابر حیثیت لرلو۔ هر مسلمان د بل مسلمان رور وُو۔ مسلماني لکه د نن ورځې په شان د مسلماني په نوم د یو بل سره دهوکه نۀ وه۔ او د ذاتي مفادو د حصول دپاره یوه آله نۀ وه۔ بلکه مسلماني یو الهي او روحاني مذهب وُو۔ یوه روحاني رورولي وه۔ یوه اسلامي برابري وه۔ یوه بې مثاله دینداري وه۔ یوه بې نظیره تقوی وه۔ د خود غرضۍ او د خود غرضه دنیاوي مالدارو خلقو دپاره د غریبو په مرئ چاړه نۀ وه۔ د قرآن پاک پیغام د حق پیغام وُو۔ د غریبو، د خوارو او د نادارو مددګار وُو۔ او د ظالمانو سرمایه دارو په سر یو مهارت وُو۔ د خواجه دپاره مرګ وُو۔ لکه علامه اقبالؒ چه په جاوید نامه کښې ملّت روسیه ته د سید جمال الدین افغاني په خوله پیغام ورکوی سه

چیست قرآن، خواجه را پیغام مرگ
دست گیر بندۀ بے ساز و برگ

او د دې دپاره هر مسلمان د اسلام سپاهي وُو۔ او سپاهي هم د کوم جلیل القدر شان؟ که مړ شوے دے نو شهید وُو۔ که ژوندے او سیدے نو غازي۔ پس په دین دُنیا جنتي وُو۔

د اسلام د سپاهي یا غازي دا بې مثاله اعتقاد د مسلمانانو د دُنیا د ډیرې لوئې حصې په دومره لږه موده کښې د فتح کولو راز وُو۔ د یو دا سې فوځ طاقت ته څوک ټینګیدے شو؟ څوک چه د ژوند نه په مرګ زیات خوشحال وُو۔ او د چا په ژوند کښې چه لوئې خواهش په اسلامي جنګ یا غزا کښې مرګ حاصلول وُو۔

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مغلو اسلامي حکومت هیچرې په دې رنګ کښې نهٔ وُو. هغه یو قامي. نسلي، ملکي یا ذاتي حکومت وُو چه دَ هغې ټول مفاد دَ مغل قوم تر حلقې پورې محدود وُو. دَ پښتون مُسلمان په هغې کښې هیڅ حصه نهٔ وه. پښتون مُسلمان دَ مغل مُسلمان یوادنیٰ رعیت او محکوم قوم وُو او مغلو به محکوم قومونو ته کهٔ هغه مُسلمانان وُو او کهٔ غیر مُسلمانان دَ حقارت په نظر کتل. او خپل غلامان او مریان به ئې ګڼل. دَ دې دپاره خوشحال خان حق بجانب وُو چه دَ مغلو دَ شهنشاهیت نه ئې بغاوت اوکړو. او پښتانهٔ ئې دَ مغلو دَ غلامۍ نه خلاصول. په دې جنګ کښې یو خوا ته پښتانهٔ وُو، هغه هم برخې برخې، تار په تار او منتشر. څهٔ دَ مغلو سره ملګري وُو او څهٔ دَ مغلو خلاف. او بل خوا ته مغل او دَ هغوئ ملګري هندوان راجپوت وُو. خوشحال خان په داسې حالاتو کښې دَ مغلو زبردست شهنشاهیت مقابلې ته ولاړ وُو. او ښهٔ په نره ئې دَ مغلو مقابله کوله. اګرچه په خپل ژوند کښې هغه په دې مقصد کښې کامیاب نهٔ شو چه مغل ئې دَ خپل ملک نه بېخي شړلې وې. او دا ناکامي هغهٔ خپله هم په خپلو اشعارو کښې څو څو کرته ستائیلې ده. خو دَ مغلو نسلي شهنشاهیت هغهٔ داسې کمزورې کړې چه بیا دَ مغلو دَ شهنشاهیت ودرې پوخ محل په نړېدو شو. او دَ مغلو او دَ پښتنو دَ دې تاریخي کشمکش نه دُنیا دا سبق زده کړو چه هر بادشاه یا هر حکومت چه پښتنو طرف ته دَ مغلو پالیسي، یا دَ اورنګ زیب عالمګیر پالیسي اختیار کړي. یعنې دا چه پښتانهٔ خپل مریان ګڼړي، او دَ مریانو سلوک ورسره کوي. پښتانهٔ به داسې حکومت یا داسې بادشاه ته هیچرې وفادار نهٔ وي.

## دَ خیبرد شکست نه پس :-

دَ خیبر شکست دَ محمد امین خان ملاماته کړه. او دَ هغهٔ لوئي په خپل سر ماته شوه. په خیبر پسې دَ مغلو دویم لوئې شکست په ګندهاب وُو. ګندهاب دَ شبقدر نه قبلې طرف ته دَ مهمند په علاقه کښې پروت دې. دَ ګندهاب جنګ په کال ۱۶۷۳ع کښې شوې وُو. په دې جنګ کښې دَ پښتنو دَ لښکر مشر ایمل خان وُو. او دَ مغلو دَ فوځ کمان دَ شجاعت خان او جسونت سنګه په لاس کښې وُو دا جنګ خوشحال خان په خپله مشهوره قصیده "بیا له کومه راپیدا شو دا بهار" کښې په یو بیت کښې داسې ستائیلې دې سه

بیا له پسته جسونت سنګه، شجاعت خان وُو
چه ایمل ئې په ګندهاب ویوست دَ مار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې جنګ کښې د مغلو د فوځ سرلښکر شجاعت خان قتل شو. او مهاراجه جسونت سنګه په تیښته ځان خلاص کړو. د ګندهاب د جنګ نه وړاندې په دوآبه او په نوښار هم جنګونه شوي ؤو او په دې جنګونو کښې هم مغلو شکست خوړلے ؤو. دا جنګونه په پوره توګه ذکر شوي قصیده کښې خوشحال خان داسې ستائیلي دي:-

دویم جنګ میر حسیني په دوابه کښې چه ئې او ټکیده سر لکه د مار
بیاله پسه د نوښار د کوټ جنګ ؤو
چه م اوکیښ تر مغلو خپل خمار

د مغلو د نوښار په قلا خوشحال خان او ایمل خان په شریکه حمله کړې وه او فتح کړې ئې وه. خلورم جنګ د مغلو سره په کال ۱۶۷۴ کښې په خاپښ شوے ؤو. خاپښ دره، د غرۀ د مهمند و په علاقه کښې، د شبقدر نه قطب قبلے طرف ته پرته ده. دا جنګ خوشحال خان داسې ستائي:-

شپږم جنګ مکرم خان شمشیر خان دواړه
چه ایمل کړل په خاپښ کښې تار په تار

د خاپښ په جنګ کښې هم د پښتنو د لښکر مشر ایمل خان ؤو. او دلته هم د مغلو فوځ شکست اوخوړو.

## د مهابت خان په دریم ځل د کابل صوبے صوبه دار مقرریدل

د خیبر په شکست پسے زر اورنګ زیب عالمګیر، محمد امین خان د کابل د صوبیدارۍ نه لرے کړو. او د هغۀ په ځائے په دریم ځل مهابت خان د کابل د صوبے صوبه دار مقرر کړو. د اورنګ زیب عالمګیر او س پوخ یقین راغلے ؤو چه د سرحدی علاقے قبائیل بغیر د مهابت خان نه نور څوک نۀ شي سمولے.

## د اورنګ زیب عالمګیر خپله حسن ابدال ته راتلل.

په خیبر، ګندهاب او خاپښ کښې چه مغل فوځونو د پښتنو د لاسه پرله پسے شکستونه اوخوړل، نو د دے شکستونو په وجه اورنګ زیب عالمګیر ډیر پریشان شو. هغۀ فیصله اوکړه چه خپله د سرحدی علاقو د قبائیلو د ګوشمالۍ د پاره راشي. چنانچه په کال ۱۶۷۴ کښې اورنګ زیب خپله راغلو او د سرحدی علاقے د جنګونو د نګرانۍ کارونه په خپل لاس کښې واخستو. هغۀ د خپل غړ نیکۀ اکبر په لار روان شو. په حسن ابدال پړاو ئې واچولو او د پښتنو د مطیع کولو کارونه شروع کړو.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مهابت خان او خوشحال خان

مهابت خان چه په دریم خل دکابل صوبه دار مقرر شو نو بیا ئے خوشحال خان ته د مغلو سره دَ تعاون او ملګرتیا اووے. خو خوشحال خان دَ قید نیس. هغه خوشحال خان نهٔ ؤو. کوم خوشحال خان چه هغهٔ د قید و بند نه وړاندِ پیژندو. خوشحال خان خپل دوست مهابت خان ته اووے چه دَ مغلو نه زړهٔ ستړے ناستیم. او دَ پښتنو خلاف دَ مغلو هیڅ پره نه شم کولے ؎

کهٔ خوشحال پنج هزاری که، مه ئے وینه
دَ مغل دَ نوکرئ دے اغیړے

خوشحال خان اوس دَ مغلو خلاف پټ. آشکاره جنګیدلو. او د پښتنو په ننګ او دریدے ؤو. دَ خیبر دَ معرکے هغه پټ جرنیل ؤو. په نوښارے دَ ایمل خان سره د مغلو خلاف په جاړ حمله کړے وه. په کند هاب او خاپښ کښے همدردی او صلاح مشوره ئے د ایمل سره وه. اوس دَ مغلو دَ منصب او جاګیر دم په خوشحال خان نهٔ چلیدو. خوشحال خان اوس دَ ختکو سرداری خپل مشر ځوئے اشرف خان ته اوسپارله. هغه اوس په جاړ دَ مغلو نه یاغی ؤو. او خپل ژوندئے لګه دَ یو وطن دوست پښتون سردار او لیډر تیرول شروع کړل. مهابت خان چه پوهٔ شو چه خوشحال خان دَ مغلو نه باغی دے نو دَ سیاست نه ئے کار واخستو. په خپل کور کښے ئے ورله خپل ځوئے بهرام دښمن کړو. بهرام دَ خوشحال خان دریم ځوئے ؤو او دَ خوشحال خان نه په دے خفه ؤو چه هغهٔ دَ ختکو سرداری اشرف خان ته ولے حواله کړے ده.

# خوشحال خان او بهرام خان

بهرام خان دَ خوشحال خان هغه ناخلف ځوئے دے چه په خپل کلیات کښے ورته خوشحال خان ځائے په ځائے ډیر سر ټکولے دے. او ډیر بد ردئے ورته وئیلی دی. په یوځائے کښے خوشحال خان وائی:۔ بهرام هغه خنزیر دے :: چه لائق دے د تفنګ

یو بل ځائے کښے بهرام ته داسے وائی ؎

تا هُنر دَ سرداریٔ نۀ زده بهرامه — سرداری دِ په خپل دو کړه بدنامه
هم تمامے خیلخانے لره بلا شوے — هم خپل ځان لره بلاشوے بد فرجامه
تا طاهر دَ کم عقلئ په جرګو مهر کړو — او فارغ شوے دَ طاهر دَ انتقامه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاخیل ځان لره دمرګ رخنه پیدا کړه | خیلخانه دِ په بدخوئ کړه بے آرامه
په دا هسے بدخویئ بے بخته نهٔ ئے | چه لانهٔ ئے دخونی هاتی ترڅ رامه
مشر رور دِ په زندان کړو تهٔ خانی کړے | داخانی دِ شه په ځان پورے حرامه
چه خانیٔ ته دِ هوس دزړهٔ په زور کړو | لاخانیٔ وه ستا دزړهٔ اندیښنه خامه

نور دِ نوم ځما دخویو په شمار مهٔ شه
دخوشحال ختک وینا په دا تمامه

وائی چه خوشحال خان د بهرام متعلق دا وصیت کړے ؤو چه پس له مرګه کهٔ بهرام ځما د اولاد په لاس ګیر شی نو په تورهٔ دِ ئے دوه ټوټے کړی - نیم دِ ځما د قبر سرته اوسیزی. او نیم د قبر پښو ته -

خوشحال خان ډیر ځایه بهرام او د هغهٔ ملګرو مغلو ته شکستونه ورکړل - خو د بهرام په سازش سره په کال ۱۰۸۳هـ کښے اشرف خان د مغلو په لاس بندی شو او د بیجاپور (دکن) په قلا کښے لس کاله بندی پاتے شو - او هم هلته وفات شو - اشرف خان هم لکه دخپل پلار شاعر ؤو - صاحبِ دیوان دے او هجری تخلص لری - د اشرف خان په بندی کیدو پسے د ختکو سرداری مغلو بهرام ته او بخښله - د بهرام او د هغهٔ دخوئ مکرم خان د لاسه خوشحال خان ترخپله مرګه ډیر په عذاب پاتے شوے دے -

## خوشحال خان او بنګش

قبائیلو کښے دخوشحال خان کهٔ یو طرف ته جنګونه د یوسفزو سره پاتے شوی دی نو بل خوا ته د بنګښو سره هم دخوشحال خان ډیر خونړی جنګونه شوی دی - د یوسفزو سره دخوشحال خان او دخوشحال خان د خیلخانے دجنګونو ذکر مونږ کړے دے - دلته په اختصار سره دخوشحال خان د بنګښو سره دجنګونو ذکر کوو.

شیرمحمد خان بنګښ چه د بنګښو سردار ؤو - هغهٔ د تری - بولاق محال سودا دمغلو دمقامی حاکم مرزا مغل سره اوکړه - دا کال ۱۰۵۲هـ ؤو - چونکه په دے محال دخوشحال خان دکورنیٔ قدیمی دعوی وه، او چونکه د دے محال خلقو هم غوښتل چه دا محال دخوشحال خان دکورنیٔ سره پاتے شی نو خوشحال خان خپل ترهٔ خادی خان د دے محال د سرکولو دپاره اولیږلو -

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ترې بولاق عالمو ورسره ملا تړا وکړه - او دَ بنګښو سره په هنګو جنګ اوشو - بنګښو ماتے اوکړه. خوځهٔ موده پس دَ بنګښو سردار شیر محمد بیا جنګ ته تیار شو. دا کال ۱۶۵۳ء وو. خوشحال خان دَ دے جنګ د پاره خپل مشر ځوئے اشرف خان او خپل مشر تړهٔ بهادر خان اولیږلو. په دے جنګ کښے هم بنګښو ماتے اوکړه او خټکو جنګ اوګټلو.

په دے جنګ پسے دریم جنګ دَ خټکو او بنګښو ترمینځه دَ عورزیو تول سره اوشو. دَ دے جنګ مشر، دَ خوشحال خان تړهٔ خادی خان وُو. دا ځل خټکو دَ بنګښو یو قوی لښکر مات کړو. ډیر بنګښ ئے اووژل او ډیر مال ورته په ګوتو ورغلو. په دے پسے مشهور جنګ چه دَ خوشحال خان او دَ بنګښو دَ سردار شیر محمد چه دَ مغلو طرفدار وُو، ترمینځه شوے دے. دا دَ ګنبت جنګ دے. دا هغه وخت وُو چه اورنګ زیب عالمګیر په حسن ابدال پروت وُو. کال ۱۶۷۶ء وُو. په دے جنګ کښے خوشحال خان خپله او دَ هغهٔ ځوئے عبدالقادر خان زخمی شوے وُو. او خټکو دَ بنګښو د لاسه شکست خوړلے وُو. دَ دے جنګ حال خوشحال خان په دردناکو اشعارو کښے بیان کړے دے چه اول شعر ئے دا دے ـ

دَ بنګښ په توره مات نهٔ یم با ور کړه
دَ ګنبت په جنګ م ماتے آسمانی ده

دَ ګنبت په جنګ پسے دَ خټکو او بنګښو ترمینځه فیصله کن جنګ په ډوډه اوشو. دا کال ۱۶۸۰ء وُو. په دے جنګ کښے خټکو بنګښو ته شکست فاش ورکړو. ډیر بنګښ قتل شول. او خټکو ته ډیر مال په لاس ورغلو. دَ دے جنګ حال خوشحال خان په هغه مشهوره قصیده کښے بیان کړے دے چه دَ دے شعر نه شروع کیږی ـ

څو وا نخلی له غلیمه انتقام
مرد نهٔ خوب کا، نهٔ خوارهٔ کا، نهٔ آرام

دا قصیده دَ بیانیه او رزمیه شاعرئ یو شاهکار دے.

دَ خوشحال خان دَ بنګښو او دَ یوسفزو سره چه کوم جنګونه شوی دی، په دے کښے فرق دا وُو چه یوسف زی دَ مغلو خلاف وُو. او چه خوشحال خان په کومه زمانه کښے دَ یوسفزو سره جنګونه کول نو خوشحال خان دَ مغلو په طرف وُو. او دَ مغلو منصبدار وُو.

دَ بنګښو سره دَ جنګونو کیفیت بل وُو. دَ بنګښو سره چه دَ خوشحال خان کوم آخری


A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه جنګونه په کنبت او پوره کړی دی، دَ دے جنګونو په زمانه کښے خوشحال خان دَ مغلو مخالف ؤو او بنګښ دَ مغلو په طرف ؤد۔

## دَ اورنګ زیب عالمګیر دَ زور او دَ زرو پالیسی

اورنګ زیب عالمګیر لکه څنګه چه معلومه ده، اول دَ پښتنو خلاف دَ زور مظاهره اوکړه خو چه په خیبر، ګندهاب او خاپښ مغلو پرله پسے شکستونه اوخوړل۔ نو اورنګ زیب خپله راغلو او په حسن ابدال پریوتو۔ او په پښتنو کښے ئے دَ نفاق خورولو په غرض زر خواره کړل۔ معلومه خبره ده چه دَ پښتون خوار خو غیرتی قوم، په آله آسانه زر ورته سرنه ټیټوی، خو زر ورته دَ تینګے نړ دی۔ اورنګ زیب چه زر راخواره کړل نو خوشحال خان پوه شو چه اوس به کامیاب شی۔ خوشحال خان په چغه اووے ۔

خزانے دَ هندوستان دی راخورے شوے
سرۀ مُهران دی نوری په کُهسار

خوار پښتون حسبِ عادت زر قبول کړل او بادشاهی ئے دَ مغلو په زرو بائیله۔ اورنګ زیب په عارضی طور تر یوه حده په خپل مقصد کښے کامیاب شو۔

## دَ خوشحال خان آخری عمر

دَ خوشحال خان آخری عمر دَ غمونو او مصیبتونو یو داستان دے۔ یو خوا دَ هغۀ په خپل خاندان کښے دَ هغۀ دښمنان پیدا شول۔ خپل ځوئے بهرام ئے دښمن شو۔ بل خوا مغل دَ هغۀ نه خفه ؤو۔ او هغه دَ مغلو دَ سترګو اغزے ؤو۔ هغۀ کوشش کولو چه دَ پښتنو نه یو قوم جوړ کړی۔ او دَ پښتنو مختلفو قبیلو کښے اتفاق پیدا کړی۔ او په یو مرکز ئے راجمع کړی۔ او دَ مغلو سره ئے اوجنګوی۔ خو پښتانۀ دَ مغلو، زرو، منصبونو، جاګیرونو، خطابونو او انعامونو داسے بے خونده کړی ؤو چه دَ خوشحال خان دَ ملی آزادی سندرے ئے نۀ آوریدے۔ په دے حقله خوشحال خان خپله ناکامیابی داسے ستائی ۔

کۀ هر څوئے سموم را نۀ سمیږی
چه کا بړۀ دی دَ بدبختو ورېبوږ و نه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان دَ یوسفزو دَ علاقے دوره اوکړه. او کوشش ئے اوکړو چه دَ سمے یوسفزی دَ مغلو خلاف دَ ځان سره ملګری کړی. خو هلته ئے هم څۀ کامیابی بیا نۀ مونده.

دَ سوات په سفر کښے چه خوشحال خان دَ سوات او دَ سواتیانو متعلق کوم اشعار وئیلی دی دا هم دَ دلچسپئ نه خالی نۀ دی. دَ مثال په طور دا اشعار اولولئ ـــه

دوه کاره دی په سوات کښے کۀ خفی دی کۀ جلی
مخزن دَ درویزه دے یا دفتر دَ شیخ ملی

او بیا وائی ـــه

کۀ ژوندے شی افلاطون په سوات کښے وُنسی سکون
اکوړیو ته بیان کا کتابونه دَ فنون!
هدایه کفایه دواړه په پښتو کاندِ موزون
دوئ به وائی چه دا څۀ دی
مخزن بۀ دے دَ اخون

خوشحال خان چه دَ یوسفزو دَ امداد نه نا اُمیده شو، نو دَ یوسفزو ئے ډیر بد وئیلی دی. خو دَ انصاف تقاضا دا ده چه دَ یوسفزو خلاف خوشحال خان دَ مغلو دپاره ډیر څۀ کړی وُو. او اوس چه دَ خوشحال خان زړۀ دَ مغلونه بد شوے وُو نو دَ هغۀ نه هیر وُو چه دَ یوسفزو سرۀ هغۀ دَ مغلو په خاطر څومره بد کړی دی. خو هغۀ او هغے جنګ دَ پښتون دَ ننګ جنګ ګڼړلو. او دَ سوات او دَ سمے یوسفزیو ئے دا پار وُل چه دَ هغۀ سرۀ دَ مغلو خلاف ملا تړاوکړی.

آفریدو هغۀ ته ډیر امداد ورکړے وُو. دَ دریاخان او ایمل خان په مشرئ کښے آفریدو دَ خوشحال خان سرۀ دَ مغلو خلاف ښۀ کومک کړے وُو. او ترمرګه پورے ورسره ټینګ ولاړ وُو. خو په یوسفزو کښے هغه ناکامیابه شو. او دَ دے ناکامیابئ تاریخی پس منظر موږ ته معلوم دے.

اول خټک دَ مغلو منظورِ نظر وُو. او چه یوسفزو دَ مغلو سره جنګونه کول نو دَ مغلو به امداد سرۀ خټکو، دَ یوسفزو ډیره علاقه لاندِ کړے وه. خو اوس په خټکو راغله. او خټک دَ مغلو مقابلے ته اودریدل. نو کۀ یوسفزو دَ هغوئ امداد نۀ کولو، نو یوسفزی په دے کښے حق بجانب وُو. خو دا سے معلومیږی چه خوشحال خان دا تاریخی پس منظر نۀ لیدو. او یوسفزو ته ئے بد رد وے. حالانکه هغۀ چه دَ یوسفزو سرۀ څۀ کړی دُو. دَ هغے په دنیا کښے هغۀ ته یکار دُو چه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوسفزو ئې بد نهٔ وئیلې - خو دَ خوشحال خانَ په نظر کښې یوسفزی ځکه بد وُو چه یو خو دَ هغهٔ پلار په نیکهٔ دښمنان راغلی وُو او بله دا چه دَ مغلو خلاف ئې دَ هغهٔ سره ملا تړ نهٔ کولو. لکه چه وائی ـــ

کهٔ سودا دہ، کهٔ خوښې کهٔ نوکری دہ
نور پښتون دے له مغلو نه ویزار

په دا دور چه کو تَونه پکښې سازشول
یوسفزیُ تر دا دواړو دی مردار

کشمیری به هم دا هسې رنګه نهٔ وی
چه نر ښځې دَ مغلو خدمتګار

او بیا وائی ـــ

دَ مغل په طباخ ډیر یوسف منډړ دی ❘ لکه وږی چې ډیریږی درنګ تودرنګ
کهٔ کعبه، کهٔ ئې قبله دہ، خوښه ګه دہ ❘ په پیسه پسې به دروی تر فرسنګ

کهٔ پیسه دَ ملنګی په لباس مومی
مصلې به دَ ګیدړ کا پسې لنګ

یو بل ځائے کښې وائی ـــ

زهٔ تنها پکښې په غم دَ نام و ننګ یم
یوسفزیُ فراغت په کښت و کار

خو سره دَ دے تاریخی دښمنیٔ بیا هم چه خوشحال خان دَ سوات نه واپس شو- نو یوسفزو لښکر راټول کړو- او دَ خوشحال خان ملګری شول- شهباز ګړهے سره ئے، دَ مغلو دَ لښکر سره جنګ اوکړو- او دَ مغلو لښکر ته ئے شکست ورکړو -

دغه شان ځائے په ځائے دَ مغلو او پښتنو جنګونه لګیدلی وُو- کله پښتانهٔ بر، مغل لر- او کله مغل بر، پښتانهٔ لر- دوهٔ غرونه سره په جنګ ورغلی وُو- او یو بل ته ئے ډ غرے ورکولے- لکه خوشحال خان چه وائی ـــ

سره ورغلل دوهٔ غرونه ❘ یو مغل دویم پښتون

خو اورنګ زیب دَ زور او زر او په برکت دَ پښتنو په مقابله کښې کامیاب شو- دَ خیبر دره ئے دَ مغلو دَ آمد و رفت دپاره خلاصه کړه- او په کال ۱۶۷۶ء کښې اورنګ زیب دَ حسن ابدال نه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



واپس دهلی ته ستون شو.

په دے دوران کښے دَ پښتنو په علاقه کښے قحط او خشک سالئ ډیر زور اوکړو. مرضونه او وباګانے هم شروع شوے. او اوبه دجنګ پښتانه او زبیل. او خوشحال نے هم ستړے کړه. خوشحال خان بیا هم همت نهٔ بائیلو. هغه دَ مغل په مقابله کښے دَ پښتون په ننګ ولاړ وُو. او په دے ننګ کښے کهٔ یو طرف ته هغهٔ دَ مغلو مقابله کوله نو بل خواته دَ خپلے قبیلے او خاندان دَ ځینے بد بختو افرادو مقابله ئے هم په غاړه وه.

دَ خوشحال خان دَ ژوند په دوستو څو کالو کښے بهرام دَ زړهٔ داخلاصه کوشش کولو چه خپل پلار بندی کړی. او مغلو ته ئے حواله کړی. او په دے غرض هغهٔ یو ځل خپل څوئے مکرم خان او لیږلو چه نیکهٔ ګرفتار کړی. او په زولنو کښے ئے بندی راولی. خوشحال خان چه خبر شو نو په ضعیفئ او پیرئ کښے هم لکه دَ زمری جنګ ته تیار شو. او خپل نمسی ته ئے دَ مقابلے دعوت ورکړو. خو هغهٔ کښے دومره همت نهٔ وُو چه سپین ګیری شیر ببر ته ئے لاس اچولے وے. مکرم خان ناکامیابه پلار ته واپس راغلو. بهرام خان څوئے ته غصه شو. ډیر بد ردے ورته او وئیل او حکم ئے ورته ورکړو، چه فوراً خوشحال خان مړ یا ژوندے اونیسه. مکرم خان دَ نیکهٔ دَ نیولو دپاره دوباره لاړو. او بهرام دَ پیښور دَ مغلو ګورنر نه امداد اوغوښتو چه بوډا شیر موراګیر کړے دے. سړی را اولیږه چه ګرفتار ئے کړو. خوشحال خان چه دَ دے واقعاتو نه خبر شو نو شپه په شپه دَ آفریدو علاقے ته واوړیدو. او دَ مغلو دَ بند نه ئے ځان خلاص کړو.

دَ دے واقعے نه پس، خوشحال خان څهٔ لږ موده نور هم ژوندے وُو خو له دے نه پس ئے په ژوندانهٔ دَ اکوړی لیدل نصیب نهٔ شو.

آخر دَ شپږ اویاؤ کالو په عمر کښے یعنی په کال ۱۶۸۹ئهٔ کښے دَ آفریدو په علاقه کښے وفات شو. او دے غیرتی پښتون سردار دَ مرګ په وخت کښے خپلو خپلوانو ته دا وصیت پرے ښودو چه ځما قبر دا سے ځائے کښے جوړ کړئ چه دَ مغلو دَ آسونو دَ ګردونو نه په امان وی. علامه اقبال دَ خوشحال خان دا وصیت په "بالِ جبریل" کښے دا سے نظم کړے دے:-

| | |
|---|---|
| قبائل ہوں ملت کی وحدت میں گم | کہ ہو نام افغانیوں کا بلند |
| محبت مجھے ان جوانوں سے ہے | ستاروں پہ جو ڈالتے ہیں کمند |
| مغل سے کسی طرح کمتر نہیں | کہستان کا یہ بچہ ارجمند |

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کہوں تجھ سے اے ہمنشین دل کی بات　　وہ مدفن ہے خوشحال خان کو پسند
اُڑا کر نہ لائے جہاں باد کوہ
مغل شہسواروں کی گردِ سمند

# دَ اورنګ زیب عالمګیر وفات او دَ مغلو زوال

په کال ۱۷۰۷ کښې اورنګ زیب عالمګیر وفات شو۔ او دَ اورنګ زیب دَ وفات سره دَ مغلو دَ حکومت ستوري هم په ډوبيدو شو۔ دَ خوشحال خان نمسي او دَ اشرف خان ځوئ افضل خان چه دَ تاريخ مرصّع مصنّف دے ليکي چه دَ اورنګ زيب دَ حکومت په آخري ولسو کالو کښې دَ کوهاټ او بنو علاقه تقريبًا دَ مغلو نه باغي وه۔ دا دَ خوشحال خان دَ توري او دَ قلم برکت وُو چه دَ پښتنو په علاقه کښې ئې دَ مغلو نه دومره نفرت پيدا کړ چه پښتنو دا اراده اوکړه چه دَ مغلو نه ځان آزاد کړي۔ دَ اورنګ زيب عالمګير دَ وفات نه لږه موده پس دَ کابل ولايت يا صوبه تقريبًا دَ مغلو دَ ګرفت نه آزاده شوې وه۔ يعني هسې تش په نوم دَ مغلو دَ حکومت دَ لاندې وه۔ او په کال ۱۷۳۹ کښې چه نادرشاه افشار په هند حمله اوکړه نو هغهٔ دَ قبائيلو عداوت دَ دهلي تخت ته منسوب کړو۔ حالانکه حقيقي واقعات دا وُو چه خوشحال خان خټک چه دَ آزادئ کوم تخم کرلے وُو، دَ هغې په وجه دَ پښتنو علاقه دَ مغلو دَ غلامئ نه ډيره بخوا آزاده شوې وه۔ کهٔ چرے اورنګ زيب دَ پښتنو سره او دَ پښتنو دَ مشر خوشحال خان سره خپل تعلقات ښهٔ ساتلي وے نو يقينًا چه پښتانهٔ به دَ مغلو دَ حکومت دَ استحکام دپاره هميشه کمرکس، تيار ولاړ وُو او غير مسلمو به دَ مغلو حکومت هيچرے نهٔ وے کمزورے کړے۔ خو دَ اورنګ زيب غلطے پاليسئ پښتانهٔ دَ مغلو دَ سلطنت دښمنان کړل۔ او نتيجه ئې دا اوخته چه نادرشاه افشار چه په هندوستان حمله اوکړه نو دَ دهٔ خلهٔ لږه ډيره مقابله پښتنو قبائيلو اوکړه۔ ګني باقي تر دهلي خو ميدان صاف وُو۔ کهٔ چرے پښتانهٔ په دے موقع دَ مغلو نه خوشحاله وے۔ او دَ مغلو دَ حکومت په شا دَ زړهٔ نه ولاړ وے نو نادرشاه افشار به هيچرے تر دهلي نهٔ وُو رسيدلے۔ دَ هغهٔ ټول طاقت به دَ پښتنو په علاقه کښې ختم شوے وُو۔ او دَ مغلو هندوستان به دَ هغهٔ دَ حملے نه بچ پاتے شوے وُو۔ خو پښتنو سره ورانه دَ مغلو تاريخي غلطي وه۔ چه دَ مغلو په نقصان تمامه شوه۔

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو، پښتون او خوشحال خان

دَ خوشحال خان دَ ژوند په حالاتو او دَ خوشحال خان دَ معلوماتو په کشمکش مونږ څۀ لږه ډيره رڼا واچوله - دَ دے نه به لوستونکو خوشحال خان په حيثيت دَ يو سړی پيژندلے وی خو دَ خوشحال خان په حيثيت دَ يو پښتون يا نمونه، پښتون يا ننګيالے . پښتون يا ننګيال پيژندلو دپاره مونږ ضروری ګڼړو چه په پښتو او پښتون بحث اوکړو. او دَ دے الفاظو چه دَ پښتون په معاشره کښے څۀ مفهوم دے. دَ هغه مفهوم تحليل او تجزيه اوکړو.

دَ پښتو کلمه دوه معنیٰ دَه - پښتو پښتانۀ خپلے ژبے ته وائی . او پښتو پښتانۀ خپل ملی سيرت ته وائی - دَ دُنيا په هيڅ قوم کښے ملی ژبه دَ ملی سيرت په معنیٰ کښے نۀ استعماليږی - دا امتيازی خصوصيت صرف دَ پښتو په کلمه کښے دے . يعنی فارسی وان دانۀ وائی چه تاکښے فارسی شته يا نشته . يا عرب دانۀ وائی چه تاکښے عربی شته يا نشته . يا انګريزان دانۀ وائی چه تاکښے انګريزی شته يا نشته . خو صرف پښتانۀ وائی چه تاکښے پښتو شته يا نشته .

پښتو يوه ډيره پُر معنیٰ او جامع کلمه دَه - او دا دَ پښتون قوم دَ حيات په هر اړخ جاری دَه . پښتو دَ پښتنو دَ ملی ژوند ، عزت ، شرافت ، ننګ، لوړوالی ، غيرت او حميت يو داسے معيار دے چه پښتنه په دے تله پښتون تلی . او کوم پښتون چه دَ پښتونه پريوزی نو دَ پښتنو دَ نظره هم پريوزی . دَ پښتون په پښتو کښے که يو خوا ته ننګ ، مړانه ، شجاعت ، ميلمستيا ، بدل ، سخاوت ، غيرت ، عفو ، استقلال ، سخت کوشی ، عزم ، دَ ارادے پخلګی ، پت ، پخه ملګرتيا ، پخه دوستی ، ساده ګی ، صاف ګوئی - حق ګوئی ، بے باکی ، ايثار او قربانی او سيالی وغيره ښۀ صفات موجود دی ، نو بل خوا ته ورکښے فضول دود . دستور او رواجونه ، بے ځايه او بے موجبه ضد ، په ذات پات بے ځايه غرور او تکبر ، يو ګونده دَ زمانے جاهليت ، جهل ، تربور ولی او پخه دښمنی . کسب ګر او هنرمند او غير پښتانۀ ته په سپک نظر کتل . بے ځايه خرڅونه ، بے ځايه انفراديت او بے موجبه انتها پسندی وغيره هم شامل دی .

دَ پښتون پښتو دَ اسلام قبلولو نه وړاندِ هم دَ پښتون قوم يوه ضابطۀ حيات وه . او دَ اسلام قبلولو نه پس هم دَ پښتون پښتو قائمه دَه - يا اسلام دَ پښتون په پښتو ضرور خپل رنګ خيژولے دے خو بيخی ئے خپله کړے نۀ دَه . يعنی مونږ دا نۀ شو ويلے چه پښتو دَ اسلامی اخلاقو مجموعے ته وائی . يا ګنی پښتو او اسلام يو څيز دے . دَ پښتون په پښتو کښے تراوسه داسے اجزاء شته چه هغه دَ اسلامی ، اخلاقی ژوند سره سمے نۀ خوری .

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانهٔ خپله وائی چه پښتو نيم کفر دے۔ او پښتانهٔ نيم قرآن مني او نيم نهٔ مني۔ يعني دَخپل مطلب قرآن مني، يعني هغه قرآن مني چه دَ پښتو سره سمون خوري۔ او هغه قرآن نهٔ مني چه پښتو سره سمون نهٔ خوري۔ يعني پښتانهٔ رواج مني او شريعت نهٔ مني۔ او رواج ځکه مني چه رواج په نسبت دَ شريعت دَ دوئ پښتو ته زيات نزدے دے۔

نو معلومه دا شوه چه دَ پښتون دا پښتو په ځنے خوبيانو او صفتونو کښے اسلامي ده۔ او په ځنے خاميانو کښے غير اسلامي ده۔ يعني دَ اسلام دَ اثر دَ لاندې دَ پښتون پښتو ځنے اسلامي اخلاق منلي دي۔ يا دَ هغې سره ئے توارد شوے دے۔ او په دے وجه اسلام ته را نزدے شوے ده۔ يا به دا او وايو چه اسلامي اخلاق دَ دے قوم مزاج ته نزدے وُو۔ په دے وجه چه اسلام سره غلو نو دوئ په اير قبول کړو۔ او دَ قوم نه قوم مُسلمان شو۔ او مسلمانانو اسلام دَ پښتون او پښتو يو جزو او ګرځيدو۔ خو دا صرف رواجي اسلام دے۔ هغه ظاهري اسلام چه کوم پښتنو کښے رائج دے۔ او کوم چه پښتانهٔ حقيقي اسلام ګنړي. خوږه پښتو او اسلام هم معنیٰ الفاظ نهٔ ګنړم۔ په دواړو کښے ډير فرق دے۔ پښتو دَ پښتون قوم دَ ملي خوبيانو او ځنے خوبونو او دود دستورونو دَ مجموعے نوم دے۔ يعني دا دَ پښتون ملي سيرت دے۔ او اسلام دَ يو مکمل اخلاقي نظام دَ ضوابطو نوم دے۔ چه دا نظام دَ بنيا د موږ دَ دين دُنيا دَ نجات دپاره دَ الله پاک دَ يو مکمل دين په شکل کښے دَ خپل محبوب او آخري پيغمبر حضرت محمد صلے الله عليه وسلم په ذريعه را ليږلے دے۔ او دا دَ بنيادم دپاره يو رحمت دے۔ او دَ خلاصي لار ده۔

زمونږ دَ دور ځنے ليکونکي البته کوشش کوی چه دا دواړه لفظونه هم معنیٰ او ګرځوی او اسلام ته پښتو او وائی۔ او پښتو ته اسلام۔ دا يوهٔ کوشش دے او تعميري کوشش دے۔ خو په شرط دَ دے چه پښتانهٔ دَ پښتو په نوم دَ اسلام اخلاقي نظام خپل کړی۔ او په هغے عمل اوکړی۔ خو په دے کښے دا ويره هم شته چه هسے نه چه پښتانهٔ خپل روايتي او رواجي پښتو اسلام اوګنړی۔ او دَ اسلام دَ مکمل اخلاقي نظام نه محرومه پاتے شي۔

دلته يوه بله نکته هم دَ وضاحت غواړی او هغه دا چه زمونږ دَ دور ځنے پوهان وائی چه پښتون او مُسلمان هم معنیٰ لفظونه دی۔ يعني چه پښتون وی نو خامخا به مُسلمان وی۔ دا خبره ترڅهٔ حده رښتيا ده ځکه چه رواجي مُسلماني دَ پښتون مُسلمان دَ پښتو يو جزو لاينفک ګرځيدلے دے۔ پښتون من حيث القوم مُسلمان شوے دے۔ او دا امتياز صرف پښتون قوم ته حاصل دے چه دَ قوم نه قوم مُسلمان شوے دے۔ خپله عربو کښے هم من حيث القوم دا امتياز نشته۔ عربو کښے هم عيسايان او

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



يهوديان وغيره شته خو پښتون کلهم مُسلمان دے. او د پښتون قوم ژبه هم ښځې د مُسلمانانو ژبه ده. او د دے ژبے د نظم او نثر ليکونکي هم، صرف پښتانۀ مُسلمانان تيرشوي دي. او س هم پښتانۀ مُسلمانان دي. غيرمسلمو د دے ژبے په نثر او نظم کښے هيڅ کار نۀ دے کړے.

نو په دے اعتبار سره کۀ پښتنو کښے څوک مذهب بدل کړي. د مثال په طور عيسائي شي نو هغه د پښتنو د ميزان نه او غورزيږي. او پښتانۀ ئے هم د پښتون نۀ گڼړي. اگرچه نسلاً هغه بيا هم پښتون وي. او ژبه ئے هم پښتو وي. خو چونکه مذهباً مُسلمان نۀ وي په دے وجه په پښتون قوم کښے هغه خپل وقار بائيلي. او د پښتنو د ملي برادرئ نه تقريباً خارج شي.

عن کۀ په مُسلمانئ کښے د څۀ خاص فرقے مُسلمان شي نو بيا د پښتنو د برادرئ نه نۀ وځي. پښتانۀ ئے پښتون گڼړي خو په سپک نظر ورته گوري. اکثر پښتانۀ سنيان او حنفي مذهب دي. او د پښتنو د عزت هم دغه معيار دے. چه پښتون د مُسلمان وي. او سُني دِ وي. خو په پښتنو کښے اهل تشيّع او احمديان هم شته. او دوئ پښتنو کښے د پښتنو په شان اوسي. او پښتانۀ ئے غيرپښتانۀ نۀ گڼړي. البته سنيان پښتانۀ ورته په درنه سترگه نۀ گوري. خو دا مذهبي فرق هر ځائے شته. دا فرق صرف د پښتون ترمعاشرے پورے نۀ دے محدود. په مُسلمانانو کښے هر ځائے يو د مذهبي فرقے بے مذهبي فرقے ته د حقارت او نفرت په نظر گوري. دا محض مذهبي تنگ نظري ده.

په دے خو مونږ متفق شو چه پښتون وي او د پښتنو په برادرئ او معاشره کښے شامل پښتون وي نو هغه به مذهباً خامخا مُسلمان وي. خو د پښتون کلمه په يوه بله معنیٰ کښے هم پښتانۀ استعمالوي. په دے معنیٰ کښے پښتون د پښتو په ځائے استعماليږي.

مونږ وړاندې ذکر کړے دے چه پښتو د پښتنو د ملي سيرت او د ملي کردار نوم دے. دا کردار چه پښتون په هر چا کښے اووينې کۀ هغه پښتون وي، کۀ غيرپښتون. کۀ مُسلمان وي کۀ غيرمُسلمان نو پښتانۀ وائي چه ډير پښتون سړے دے. يعني د پښتون د ملي سيرت يا پښتو حامل دے. لکه چه پښتانۀ وائي دا پښتون انگريز دے. د دے دا مطلب نۀ وي چه گني دا انگريز مُسلمان دے. انگريز خو نۀ نسلاً پښتون دے او نه عقيدتاً مُسلمان دے. خو د دے دا مطلب وي چه په دے انگريز کښے د پښتون ملي او طبيعي کردار بيا مونده شي. يعني په خوئ بوئ کښے د يو نمونه پښتون کردار لري.

په خپلو کښے هم پښتانۀ وائي چه فلانے ډير پښتون سړے دے. د دے دا مطلب نۀ وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه فلانے دیربنه مُسلمان سړے دے۔ بلکه ددے مطلب داوی چه په دے سړی کښے پښتو پرته ده۔ کردارئے دَ نمونه پښتون دے۔ او دَ پښتو په لاره و چاره روان دے۔

دَدے نه دا واضحه شوه چه پښتانهٔ دَ پښتون او پښتو الفاظ صرف دَ اسلام او دَ مُسلمانئ په معنو کښے نهٔ استعمالوی۔ بلکه دا د وئ دَ خپل مخصوص ملی کردار د پاره استعمالوی۔ چه څنګے خبرے ورکښے اسلامی دی څنګے غیر اسلامی۔ یعنی نسلاً چه کوم سړے پښتون دے۔ یعنی دَ پښتون سړی په کور کښے پیدا شوے دے، دَ هغې پښتون په کور کښے، چه دَ پښتنو په معاشره کښے سیال دے۔ نو هغه به خامخا مُسلمان وی۔ خو ضروری نه ده چه هر پښتون چه مُسلمان وی نو هغه دِ پښتون هم وی۔ یعنی دَ پښتو په لاره و چاره دِ روان وی او دَ یو نمونه پښتون خوئ بوئ او کردار دِ لری۔ په دے لحاظ، پښتون او مُسلمان هم معنیٰ لفظونه نهٔ دی۔ په دے کښے فرق دے۔ یعنی دا چه هر پښتون مُسلمان دے۔ خو نهٔ هر مُسلمان پښتون دے۔ او نهٔ هر پښتون، پښتون دے۔

دَدے نقطے په مزید وضاحت دا سے او کړو چه یو غیر مُسلم ایرانے، عرب وغیره جوړیدے شی خو هغه پښتون نهٔ شی جوړیدے۔ ځکه چه پښتون به غیر مُسلم نهٔ وی۔ خامخا به مُسلمان وی۔ البته یو غیر مُسلم پښتون عرب، پښتون ایرانے، پښتون انګریز وغیره جوړے شی۔ خو په شرط دَ دے چه په هغهٔ کښے یو نمونه پښتون کردار موجود وی۔

په یو نمونه پښتون کښے علاوه دَ پښتو دَ نورو خوبیانو او خاصیا تونه دَدے خوصفتونو موجودګی لازمی ده۔ یعنی دا چه میلمه دوست دِ وی۔ تورزن دِ وی۔ دَ پښتون دَ ننګ محافظ دِ وی۔ دَحمیّت خاوند دِ وی۔ او دَ غیرت پاسبان دِ وی۔ او پوخ دوست او پوخ ملګرے دِ دی۔ او دَ پخے او قوی ارادے مالک دِ وی۔ او ژبه دِ ئے پښتو وی۔ او دَ پښتنو دَ یو شریف خاندان او مستند قبیلے سره دِ تعلق لری۔ اوس نمونه پښتون او دَ نمونه پښتون پښتو به پریږدو۔ او دَ یو عام پښتون دَ کردار تجزیه به او کړو۔ دَ پښتون کردار اجتماع ضدّین دے۔ په پښتون کښے خوبۍ هم ډیرے دی او خامیانے هم ډیرے لری۔ پښتون خوار دے او پیسے ډیرے په سختئ، محنت او مشقت ګټی۔ پښتون دَ خوارئ قیمتئ نه دومره ویریږی چه دَ پښتون په علیک سلیک اوکړه بره کښے هم چه یو ورته وائی "ستړے مشے" نو بل ورته دُعا اوکړی "خوار مشے"۔ خو سره دَدے چه پښتون په پښتو کښے راشی نو دا په سخته ګټلے پیسے داسے په بے دردئ سره والوزوی چه سړے ورته حیران پاتے شی دَ ښادئ۔ غمئ دود دستور، تنے اوکورئ، دَ فضول او بے ځایه خرڅ یوه مثالی نمونه ده۔

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دکه خوله بهاو وائی، چه پیسے څه وی. پیسے خو د ځوان د لاس خیرے دے.

پښتون زمینداری، کوډه، چاړی او د سرمزدوری د عزت کار گڼړی. خوکسب، هنر، تجارت او سوداګری ته په سپک نظر ګوری.

پښتون بهادر، توره زن دے. په مړانه او شجاعت فخر کوی. پښتون ته ډرن وئیل لوئے کنځل دی. دا کنځل پښتون هیڅ رے نشی برداشت کولے. او ډرن او ویریدونکی ته په سپک نظر ګوری. پښتون پیدا شوے ننګیالے، جنګیالے او توریالے دے. ښه لښکری دے. خو ښه سپاهی نهٔ دے. پښتون ضابطه نهٔ منی. او د ضابطے ترسیورے لاندې آزاد ول غواړی. پښتون ښهٔ فاتح دے. خو ښهٔ منظم نهٔ دے. لښکرے او کړی. ملکونه فتح کړی. خو چه انتظام ته خبره راشی نو بیا و رکښے نهٔ دے. چه انتظام ورته په غاړه شی نو دے هرڅهٔ په ځائے پریږدی او خپلو غرونو ته واپس لاړ شی. چه څهٔ ورته په لوټ مار کښے په لاس ورغلی وی. هغه اوخوری او کله په یوه تره ناست تیر وائی او کله په بله تره.

پښتون غصه ناک او تند مزاج دے. پښتون جذباتی دے. چه په قهر کښے راشی په نهٔ څهٔ خبره مړګ او کړی او خپل ځان، مال حال او خاندان تباه کړی. پښتون خپله بے عزتی نهٔ شی برداشت کولے. په خپل عزت او د خاندان په عزت هرڅهٔ با ئیللو ته تیار دے.

پښتون په بدل ژوندے دے. پښتون خپل بدل هیڅ رے نهٔ پریږدی. وائی چه پښتو کا نړے په اوبو کښے نهٔ ورستیږی. پښتون غیور او حسور دے. د ښځے په عزت او عصمت همیشه قتلونه او مرګونه کوی.

پښتون د رسم و رواج پابند دے. په عزیزولی کښے لاندې راتلل نهٔ خوښوی. د ترور او ترسره سیالی کوی، چه په هر قیمت وی. پښتون جمهوریت پسند دے. ځان د بل پښتون او د تړور عزیز همیشه برابر ګڼړی. که خپله ډیر خوار وی. او رور عزیز د قام تیپے و خاندان افراد ئے ډیر مضبوط او مالدار وی، خو دے ورنه ځان هیڅ رے لاندې نهٔ ګڼړی. ئے برابر ګڼړی. خپلے قضیئے، تنازعے او جګړے په جرګه فیصله کوی. پښتون ډے ... دے په یره جنبه پوهیږی. او یره جنبه ئے ژوند دے.

پښتون نه ورځلوی، او په زور پوهیږی. او چه زور پرے راشی نو سرهم ورته کیږدی. لکه چه وائی، پښتون د رب مسلمان دے. پښتون په سندرو او موسیقۍ مئین دے خو دم ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدے شی. او دَ پښتون په معاشره کښے دم بے عزته بنیادم گڼلے شی.

پښتون کښے انفرادیت دے. په اتحاد او اتفاق کار نهٔ شی کولے. ځان ځان ته ئے پروزوی. دَ پښتون امتیازی نخښه بے اتفاقی ده. هر پښتون ځان ته سیر وائی. چرته کښ ورکښے هیڅوک نشته. او هم دغه دَ پښتون دَ بد بختئ سبب دے. خو دَدے دا مطلب نهٔ دے چه گنی پښتون مشرکشر نهٔ پیژنی. پښتون دَ بل پښتون سره حسد او ضد کوی. پښتانهٔ دَ یو بل ښیے را کاږی. او دَ یو بل په کمی خوښ دی. دَ دوو تربور غورزول خپل فخر گڼی. پښتون انتها پسند دے. درمیانه روی نلری. یا یو کار ښهٔ کول غواړی. یا ئے نهٔ کول غواړی.

پښتون تربور یعنی خپل دَ تره زوئے دښمن گڼی. او تربورولی دَ دښمنئ دویم نوم دے. دَ پښتون عمر دَ رور تربور سره په جگړو کښے تیریږی. خاندانی جگړے دَ پښتون امتیازی نښه ده. پښتون چه وهے نو ورور تربور ورته اولمسوه. په ورور تربور ئے او وهه.

پښتون کښے ضد، جهل او تکبر دے. چه په څهٔ خبره اونبلی کهٔ صحیح وی کهٔ غلط کهٔ پره وی کهٔ وره خو سرته ئے رسوی. پښتون په اصل نسل او پښتو ډیر فخر کوی. تر دے پورے چه کلی کښے دوه پښتانهٔ اوسی نو هر یو به وائی چه دا بل دهوبی، نداف، جولا او کسبگر دے. او زهٔ اصیل پښتون یم.

دَ پښتون مذهب خوښ دے خو ملا جو پیدل ورته عار ښکاری. ملا په پښتون کښے سپک دے. پښتون دَ مسلمانئ هغه برخه منی یعنی عمل پرے کوی چه دَ دهٔ دَ پښتو سره ئے سمون خوړلے دے. او هغه برخه ئے نهٔ منی یعنی عمل پرے نهٔ کوی کومه چه دَ پښتو سره برابر نهٔ ده. او خپله وائی چه پښتو نیم کفر دے. خو بیا هم په پښتو ټینگ دے. پښتون شهوتی دے خو حیادار دے. دَ نفس او دَ شهوت په کار تفخر نهٔ کوی. بلکه دا یو سپک کار گڼی. او پټ په پټه ئے کوی. دَ شهوت نمود او نمائش ورته شوم او عار ښکاری.

پښتون پوخ دوست او کلک دښمن دے. په دوستئ او دښمنئ کښے هر څهٔ روا گڼی. پښتون منافق نهٔ دے. چه څهٔ ئے په زړهٔ وی هغه ئے په خوله وی. دَ زړهٔ جذبات یعنی نفرت یا محبت پټولے نهٔ شی.

پښتون ساده او صاف گو دے. خو حق گو نهٔ دے. په پره جنبه او دوستئ دښمنئ کښے همیشه دَ ناحقے گواهی او شاهدی کوی. او په دروغو قسمونو خوړلو ته هم تیار شی.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتنو کښې هره قبیله خان نه قام وائی - د پښتون د مشترکه قومیت تصور نهٔ شته - هره قبیله د بلې قبیلې سره په جنګ وی - او هر خاندان ، بل خاندان ته لاندې وتے وی۔ پښتون د مشرلحاظ - او د سپینو وېښتو او سپینې ږیرې عزت کوی - پښتون د عمر په لحاظ د حفظ مراتب قائلٌ دے مشر کشر پیژنی - او کشران د مشرانو عزت کوی - او مخې ته ورته نهٔ راځی۔

پښتون سخی خوښوی او په بخیل بد وائی - پښتون کښې خان او سردار هغه دے چه یو خواته کټهل ، بخښل او خوره ول کوی - او بل خواته تړل پړاستل ، مړانه او توره زنی کوی۔

پښتون خپل دښمن غورزول غواړی ، چه په هرځل وی - د دښمن د غورزولو دپاره هر فریب ، هره حیله او مکر روا ګنړی - او د کمینه نه کمینه کار کولو ته تیار شی۔

پښتون جاه پرست او دولت پرست دے - پښتون خود غرضه او خود پرست دے - خو مطلبی نهٔ دے - یعنی دوستی محض د مطلب دپاره نهٔ کوی - پښتون سخت کوش او خواری کش دے - تن آسانے نهٔ دے۔

پښتون سوال کول ذلت ګنړی - او سوال کر ته په بد نظر ګوری - خو خیرات او صدقه ورکولو کښې مړنے دے - پښتون پیر پرست او مزار پرست دے - د پیرانو ، سیدانو ، میاګانو ، او باباګانو معتقد دے - پښتون توهم پرست دے - د توهماتو نه ویریږی - او توهمات منی۔

پښتون د تعویذ ، کوډو ، منتر ، جادو قائل دے - پښتون د خپل عزت او ورے دے ، چه په پسته خوله ورسره خبرے کوے او په دره نه ستوګه ورته ګورے نو په خوږه خوږه کښې هرڅهٔ کار ترے اخستے شے - خو سخت کلام سړی ته برندیږی - او کنځل او بے عزتی نشی برداشت کولے۔

پښتون غیر پښتون ته په سپک نظر ګوری او په پښتنو کښې هم چه کوم سړے د پښتو د میزانه پریوزی ، هغه سپک شی - پښتون په ښځه لاس نهٔ اوچتوی - ښځې سره جنګ کول عار ګنړی - پښتون سره چه زور ، ظلم او بے انصافی اوشی نو په نزه کښې ئے ساتی - او چه وارئے راشی نو بدل ضرور اخلی۔

پښتون عفوه او درګذر هم کوی - خو د ننواتی په شکل کښې که ګوره نه د جرګے مرکے په شکل کښې ورشے نو د لوئے نه لوئے جرم به درته او بخښی۔

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون میلمه دوست او ډوډۍ ماردے . پښتون په اولاد مئین دے خو د خلقو ګڅکښې ورسره مینه عار ګڼړی . او اولاد په رُعب کښې ساتی .

پښتون په ښځه مئین دے . او د ښځې په عزت خپل سر ورکوی . خو د ښځې نمائش ورته مرګ دے . پښتون دا نئ چه د ښځې دپاره یا کور دے او یا ګور دے . البته په ښځې کار کول او سخت کار کول خپل حق ګڼړی . ښځه په زمیندارئ کښې ورسره امداد کوی . لرګی او وابښهٔ پرے راوړی . او مال پرے څروی .

پښتون د مال ډیر اودرے دے . او د مال حاصلولو دپارهٔ هرڅهٔ ته تیار شی یعنی حرام ، رشوت ، پړے ، دروغ ، غلا ، داړه ، فریب ، ټګی او قتل وغیره .

پښتون د علم ډیر شوق نهٔ لری . او په خپل قدیمی جهالت کښې خوښ دے . دا د خپل کلتور بوجز ګڼړی . که علم حاصل هم کړی خو د جهالت خوئونه نهٔ پریږدی .

پښتون د کپړو په نمائش نهٔ دے خوښ . ساده ، څیره پړه جامه ، دا سے جامه ، چه د جسم اندامونه په ښهٔ شان پټوی ، د پښتون خوښه ده .

پښتون لونګودے . کفایت شعار نهٔ دے . چه څهٔ ګټی هغه ختمی . د صبا غم نهٔ کوی . پښتون ځان په نفساتی معیار تلی او بل په اخلاقی معیار . د بل په سترګه کښې خسترے ورته شاه تیر ښکاری . او په خپله سترګه کښې شاه تیر خسترے .

پښتون د مذهب د ظاهریاتو پابند دے . خو د مذهب د روح نه ناواقف دے . د پښتون جمعداری او په بل حکم چلول ډیر خوښ وی . خو حکم منل ورته ښهٔ نهٔ ښکاری . په دے وجه ښهٔ افسر دے . خو ښهٔ ماتحت نهٔ دے .

پښتون د نشو شوقین دے . خو نشئی سړے ئے خوښ نهٔ وی . پښتون چه غټ پښتون ته ډیر لوئے عزت او خطاب ورکوی ، نو وائی چه دا ډیر پښتون سړے دے . یعنی اپله د ځان سړه ئے سم کړی .

پښتون د ننګ بنده دے . په پښتو نیت او ننګ چه او ډیری نو سرا و مال دواړه پرے د ڈ کړی . د پښتون په کلچر په ثقافت کښې په حیثیت مجموعی د بنی اسرائیلو و عربو ترضرور شته . خو دا خالص اسرائیلی کلچر یا عربی مدنیت هم نهٔ دے . دا د دوئ د خپل وطنی کلچر یا پښتو او د عربو د اسرائیلی ثقافت یو مجعون مرکب دے .

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون د عهدے او د مال اوږے دے - په خطابونو، منصبونو او جاګیرونو مئین دے، د دے دپاره هره ناروا کوی - هم ځان په بل خرڅوی - هم قام او دین او ایمان خرڅوی -

پښتون سنګدل دے - په ظلم نهٔ شرمیږی خو په زړهٔ چه ئے کله کله راشی نو رحم هم کوی - پښتون جهان ګرد او جهان ګشت دے - خو په وطن هم ډیر مئین دے - په درست جهان کښے اوګرځی خو زړهٔ ئے په وطن کښے وی - بل وطن کښے تل د خپل وطن ارمان کوی - او چه موقعه بیاموی نو د مرګ نه وړاندِ خپل وطن ته ځان رسوی -

پښتون آزادی پسند دے - او په خپله آزادئ تل فخر کوی - پښتون لوړ، خور ته په خپل مال او جائداد کښے برخه نهٔ ورکوی - او د وادهٔ په وخت کښے په لوړ، خور پیسے هم اخلی -

د پښتو او پښتون د دے تجزیے او تحلیل نه پس اوس به مونږ د خوشحال خان خټک د شخصیت جائزه واخلو - او د هغهٔ د شخصیت په مختلفو اړخونو به بحث اوکړو -

# خوشحال خان په حیثیت د یو پښتون سردار

د خوشحال خان د شخصیت د مختلفو اړخونو د مطالعے نه ظاهره ده چه هغه یو نمونه ننګیالے پښتون سردار وُو - او د پښتنو د سردارئ په نازک خو مشکل هنر ښه پوهیدلو - د هغهٔ په کردار کښے د پښتون قوم خوبئ او خامئ دواړه بیاموندے شی - خو خوبئ ورکښے د خامیانو په نسبت ډیرے دی - او دا خوبئ صرف په یو ډیر اوچت انسان کښے په نظر راځی - د خوشحال خان پیژندل په حقیقت کښے د پښتون پیژندل دی - او نهٔ صرف د پښتون پیژندل دی بلکه د یو پښتون خان یا سردار پیژندل دی - او نهٔ صرف د یو پښتون خان یا سردار پیژندل دی، بلکه د یو ننګیالی پښتون خان یا سردار پیژندل دی -

د خوشحال خان په کردار کښے مونږ ته لویه خامی دا ښکاری چه هغه د پلار د مرګ نه پس لکه د پلار نیکهٔ په شان په حیثیت د خټکو د سردار، د مغلو منصبدار او جاګیردار شو - او د مغلو دپاره ئے خپل هم قوم یوسفزو سره جنګونه کول - مونږ دا منو چه دا د هغهٔ د کردار کمزوری ده - خو په حقیقت کښے د هغهٔ کمزوری نهٔ ده - دا د هغے قوم کمزوری ده - یعنی د پښتون قوم اوچ دے خو دا حقیقت کښے د هغهٔ کمزوری نهٔ ده - دا د هغے قوم کمزوری ده - د کوم قوم چه خوشحال خان نمائنده دے - د پښتنو په تاریخ کښے، او د پښتنو په معاشره کښے به خومره پښتانهٔ تیرشوی وی - او یا به ژوندی وی، چه هغوئ ته به عهده، منصب

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاگیر، انعام او مال په لاس ورځي. او هغوئ به ورنه دَ قام په خاطر مخ وا ړوی. او یا دَ دُنیاوی مفادو په خاطر به دَ قام مرئ پرے نکړي.

بله داچه دَ خوشحال خان په زمانه کښے دَ مشترکه قومیت تصوّر هم نه وو. هرے قبیلے به خان ته قام وے. لکه چه اوس هم هره قبیله ځان ته قام وائی. او په بین القبائلی جګړو کښے هرے قبیلے به دا کوشش کولو چه په هر چل چه وی، خپله دښمنه قبیله او وهی. او مړانه او همّت بنهٔ خوانتوب او لوئی په دے کښے وه چه قبائیلی جنګونو کښے خپله قبیله اوچته کړی. او دښمنه قبیله او غورزوی. نو خوشحال خان که هم دا کوشش کولو چه خټک ئے دَ یوسفزو په مقابله کښے اوچتول. عن که دَ مغلو په امداد سره وُو نو دا په حقیقت کښے دَ هغې قوم کمزوری وه. دَ کوم قوم چه خوشحال خان سردار وُو. خوشحال خان شاید چه دَ مغلو خدمت هم ځکه په راستئ کولو چه هغهٔ خپل خیال کښے خپله قبیله په یوسفزو اوچتوله. او دا دَ هغه وخته سره، دومره بے مناسبه کار نهٔ وُو. لکه چه وائی ؎

زهٔ دَ یوسفزئ په ځان زهر وُم قاتل؛
بل مقصود مِ نهٔ وُو، په خدمت کښے دَ مغل

بله داچه یوطرف ته خو خوشحال خان دَ مغلو په پره کښے دَ یوسفزو سره جنګونه کول، چه دَ مغلو دښمنان وُو. او بل خوا ته خوشحال خان دَ مغلو دَ مرضئ خلاف دَ بنګښو سره جنګونه کول چه دَ مغلو طرفدار وُو. نو دَ دے نه معلومیږی چه دَ هغهٔ بین القبائلی جنګونه دومره دَ مغلو په خاطر نهٔ وُو لکه خومره چه دَ خپلے قبیلے یعنی دَ خټکو دَ برترئ او لوئے والی په خاطر وُو. او په دے حیثیت دَ خپلے قبیلے دَ سردار، هغهٔ دا جنګونه لکه دَ یو نمونه پښتون په شان بنهٔ په جرأت سره کړی دی. او په دے جنګونو کښے ئے بنه مړانه او بهادری ښائیلے ده. لکه ځنګه چه یو پښتون سردار ته پکار وه.

دَ مشترکه قومیت تصور دَ خوشحال خان نه وړاندِ، دا سے معلومیږی چه په دومره منظمه او بنه طریقه هډو بل پښتون پیش کړے نهٔ دے. او خوشحال خان خپله هم دے نتیجے ته پس له تلخو تجربو نه رسیدلے وُو. دَ مشترکه قومیت تصور، قومی، یا ملی پښتو ده. او دا خیز دَ پښتون په فطرت کښے نشته. دَ دے خیز دَ پیدا کولو کوشش، په پښتون کښے خوشحال خان په اول ځل کړے دے. او هغه هم په دے کښے نا کامیاب شوے دے.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پښتون دَ پښتوارتقائی مدارج دادی چه اول هر پښتون دَخپل ځوندون دَحفاظت اوعزت خیال ساتی ـ اوخپل ژوندَ پښتنو په معاشره کښې دَ پښتنو په لاره وچلوی اوتیرول غواړی ـ کهٔ ډیر بوهه اواصیل پښتون وی نو هغه دَخان سره دَخپل خاندان دَحفاظت اوعزت خیال هم ساتی ـ اودائے خواهش وی چه دَ هغهٔ خاندان دِهم په پښتنو کښې چا لاندې نهٔ شی ـ اوچه ډیر اوچت ،پوهه اوشریف پښتون خان یا سردار وی نوهغه بیا دَ خواهش لری چه دَ هغهٔ قبیله دِهم دَ پښتو په لاره وچلیږی اوکښې دَ نورو قبیلو نه اوچته وی ـ وبا عزته ژوند دِ تیروی ـ اودَ قبیلے حفاظت اوعزت لکه دَخپل خان اوخاندان په شان ضروری ګنړی ـ

POHA

دَخوشحال خان خټک په زمانه کښې دَ پښتو اوچت نصب العین هم ترد غے پورے وُو ـ او په دغه معیار هغه دَاول سړنه ،پونمونه پښتون سردار وُو ـ

دَ پښتو درېیمه ارتقائی درجه یعنی داچه اصیل اوننګیالے پښتون به دَخپل ځان ، خاندان او قبیلے دَحفاظت اوعزت سره دَ پښتون قوم بحیثیت مجموعی دَحفاظت اوعزت خیال دَ نورو قومونو په مقابله کښې غوره ګنړی ـ او دَ دے ملی پښتو دپاره به خپل ځان ، ځان او قبیله قربانوی ـ دا تصور دَ خوشحال خان دَ زمانے په پښتون کښې نهٔ وُو ـ هغهٔ په اول ځل دَ کوشش اوکړو چه دا مفکوره پښتون ته ورانده کړی ـ اودَ دے مفکورے دپاره ئے جدوجهد شروع کړو ـ خو چونکه دا خیز دَ پښتون په سوډاپاتوا وفطرت کښې نهٔ وُو ـ دَدے دپاره هغه په دے کوشش کښې پاتے راغلو ـ دَ قید نه پس تو چه کوم خوشحال خان وینو ـ داخوشحال خان دَ هغے خامئ نه پاک دے دَکومے خامئ چه موږ ذکر کړے دے ـ یعنی هغهٔ دَمغل منصب پرېښو اودَ پښتون په ننګ داسے کلک اودرید وچه ترمرګه پورے ئے دغه دَ خپل ژوند مرام اومقصد اوګرځولو ـ دا خوشحال خان دَ ډیرو اوچتو خوبیانو او وصفتونو مالک دے ـ او دا نهٔ صرف دَ پښتون دَ یوے قبیلے سردار دے بلکه دَ ټولو پښتون قوم یو لیډر دے ـ اولیډر هم داسے لیډر لکه نن چه په مغربی قومونو کښې دَ لیډرئ تصور دے ـ دا خوشحال خان پیدا شوے خو دَ مشرق په نا پوهه کهستانی وطن کښې دے خو دَ قومیت سبق ئے دَ مغربینه پرده کړے دے ـ او دَ قومی پښتو علمبردار دے ـ

دَ سردارئ چه په اشعارو کښې خوشحال خان کوم تصور پیش کوی دَ دے تصور او

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دے خوبیا نو نمونه دَخوشحال خان خټک ذات وُو۔

خوشحال خان وائی ؎

چه کټل، خوړل، بخښل که خان هغه
چه توره لری دَ توری ځوان هغه

دَخوشحال خان دَ سردارئ ژوند هم دغه شانې وُو ۔ په دے شعرچه څومره دَ خوشحال خان خپله عمل وُو، بل یو پښتون پرے عمل نهٔ دے کړے ۔خوشحال خان دَ سردارئ په حقله ډیرخهٔ ویلی دی۔ او تش ویلی ئے نهٔ دی بلکه عمل ئے هم پرے کړے دے۔ دا لاندینی اشعار اولولئ ؎

خانی کار دَ هرچا نهٔ دے دَ هغهٔ دے — چه صرفه ئے نهٔ په زر وی نهٔ په سر
یکباره ئے په نظر کښے شرم ننګ وی — دَ دُنیا په سودا و زیان نهٔ وی خبر
سردار هغه دے چه شرم ننګ لری — مدام دَ شرم توره تر ځنګ لری
صرفه په زر نهٔ کا، صرفه په سر نهٔ کا — چه دښمنان له هغو جنګ لری
چه مئین په وسله نهٔ وی — مرد دِ نهٔ وائی وځان ته
لاس دِ سرهٔ کړی ستر ګے توری — ځان دِ وجوړ وی ځوان ته
یا تکیه دَ یوهٔ خدائ ده یا دَ توری — په جر ګو مرکو نهٔ شی کار تمام
چه صرفه کاندِ په سر — یا صرفه کاندِ په زر
نهٔ به خان نهٔ به سلطان شی — نهٔ به خیل کاندی کشور
چه په ځان مېړنے نهٔ وی — مرتوب نهٔ کا لښکر
دَ مېړه یو مرتوب په لښکر نهٔ وی — میړنے هر کله یوازے په خیل ځان شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پښتون سردار دپاره دَ مړانې او شجاعت نه علاوه سخاوت هم ضروري دے۔ او خوشحال خان دومره ښهٔ خوان وُو چه سره دَ دے دومره لوئے خانئ او سردارئ، هیچرے زکوٰة پرے فرض شوے نهٔ وُو۔ دَ هغهٔ دَ سخاوت دروازه لکه دحاتم دَ هرچا دپاره هر وخت خلاصه وه۔ خوشحال خان وائی ـــ

کهٔ کنجونه دَ قارون درته انبار شی
به هرلوری ئے غورځوه په سخاوت

دَ خوشحال خان په دے خپله دنیا خپله په مکمل طور عمل وُو۔ او عمل ئے هم په دے رنګ :۔

کهٔ حاتم غوندِ کرم کړے دَ مهـــرانو
دَ یوے دَمـړئ په چا مهٔ بـږده منت

خوشحال خان په خپل مال کښے دَ هر غریب پښتون حصه ګڼړله۔ او دسترخوان ئے دَ هرچا دپاره غوړیدلے پروت وُو۔ انغرے به ئے سړیدو ته نهٔ پریښو۔ دیګ به ئے هر وخت بانډِ وُو۔ او لنګر به ئے جاری دُو۔ او چه وفات شو نوحال ئے دا وُو، لکه چه خپله ئے دُعا غوښتې وه ـــ

چه کالی ئے پاتے نهٔ شی مرده شوے ته
خدا یه ورکړے وخوشحال هسے رحلت

ژوندئے دا سے پاک وُوچه دَ هغې زمانے مشهور ولی پیر شیخ رحمکار یعنی کاکا صاحب علیه الرحمة وصیت کړے وُوچه چونکه په دے زمانه کښے په شریعت محکم سړے، دَخوشحال خان خټک نه بغیر بل څوک نشی کیدے۔ دَ دے دپاره کهٔ چرے ممکنه وی نوما ته دِ هغه غسل راکړی او قبر ته م دِ هم هغه کوز کړی۔

دَ همت ئے دا حال وُوچه په پیرئ او ضعیفئ کښے چه بهرام خپل څوئے مکرم خان دَ نیکهٔ دَ ګرفتارئ دپاره اولیږلو نو دهٔ توپک په غاړه کړو او دَ مکرم خان سره ئے دَ مقابلے دعوت ورکړو، خو دَ هغوئ همت اونهٔ شو۔ او واپس لاړل۔ خوشحال خان وائی ـــ

کهٔ آسمان دِ دَ مزری په خولهٔ کښے ورکړی
دَ مزری په خولهٔ کښے مهٔ پریږدهٔ همت

دَ خوشحال خان خپل همت هم دَ دے شعر ژوندے تصویر وُو۔ داوه دَ خوشحال خان خټک سرداری، څومره ښهٔ خوان وُو، څومره نمونه خان وُو۔ څومره لوئے وطن دوست وُو۔ څومره لوئے بهادر وُو۔ څومره لوئے لیډر وُو۔ څومره بے مثله سخی وُو۔ څومره په شخصیت...

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلمه دوست وُو۔ خومره لوئے عالم وُو۔ خومره بنهٔ شاعر وُو۔ او خومره پاک مُسلمان وُو۔ دَ خوشحال خان خټک کردار، دَ یو تورىيالى، ننګيالى، جنګيالى، فرهنګيالى او غيرتمند، سخى، شريف او اصيل پښتون خان دے۔ دا سے خان او سردار چه په پښتنو کښے بل دا سے او چت نمونه سردار ترا وسه نهٔ دے پيدا شوے۔

خپله وائی ؎
۱۔ نهٔ به څما غونډ بل ننګيالے راشى
نهٔ به څما غونډ بل جنګيالے راشى
۲۔ خټک لا پرېږده په درست افغان کښے
عجب کهٔ هسے فرهنګيالے راشى

POHA

## خوشحال خان په حيثيت دَ کردار او دَ ګفتار دَ غازى:-

خوشحال خان په حيثيت دَ يو مردِ شمشيرزن او دَ کردار دَ غازى مونږ څهٔ لږ ډير او پيژندو۔ خوشحال خان دَ ديارلسو کالو په عمر کښے تورے ته لاس کړو۔ او دَ پلار سره دَ جهانګيرى په جنګ کښے په اول ځل شامل شو۔ او دا توره دَ هغهٔ دَ لاس نه هله او غورزيده چه دَ شپږ اويا دَ کالو په عمر کښے دَ آفريدو په علاقه کښے وفات شو۔ يعنى صرف ملک الموت دا مجاز لرلو چه دَ پښتون دَ دے بے نظيره مردِ شمشيرزن دَ لاسه توره او غورزوى۔ او دَ آرام په خوب ئے اوده کړى۔ دَ بل چا څهٔ مجال وُو چه دَ خوشحال خان په شان تورىيالے ئے دَ تورے دَ کارنه ايړولے وے۔ توره دَ هغهٔ ژوند وُو۔ توره دَ هغهٔ ننګ وُو۔ او هغه پيدا شوے تورے ته وُو۔ خپل حال خپله دا سے ستائى ؎

په آبا و په اجدا دخان و سردار يم
کارنامے لرم دَ جنګ و دَ جدال!
کهٔ برے کهٔ هزيمت واړه ليدلى
خوئى خصلت لرم دَ قتل دَ قتال
پلار نيکهٔ م شهيدان وګورته تلى
پشتا پشت م هُنر دا دے آل په آل
کهٔ دَ جنګ دَ پرهار و نو درته وا يم
چه له درده به م تن وُو لکه نال
يو پرهار به م لا روغ په وجود نهٔ وُو
بل پرهار به م په تن شو يا په ډال
چه قضا دَ سرى نهٔ وى سرے نهٔ مرى
کهٔ ئے درست صورت په غشو شى غربال

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یو بل ځائے کښے وائی ـــه

بخره ئے د تیغ راکړه په اصل کښے پښتون یم
پلار په نیکه نه یم ، بے دولته ، بے حشمه

خوخوشحال خان تش د تورے خاوند نه ؤو ، هغه د قلم خاوند هم ؤو یعنی د گفتار غازي هم ؤو . او د پښتون قوم یولوئے مفکر ، معلم ، فلاسفر او شاعر هم تیر شوے دے .

ډاکټر اقبال په جاوید نامه کښے د خوشحال خان پیژندګلو داسے کوی .

خوش سرود آن شاعرِ افغان شناس — آنچه بیند ، باز گوید ، بے هراس
آن حکیمِ ملتِ افغانیان — آن طبیبِ علتِ افغانیان
رازِ قومے دید و بے باکانه گفت
حرفِ حق با شوخئ رندانه گفت

په دے کښے هیڅ شک نشته چه خوشحال خان لکه څنګه چه علامه اقبال وائی ، افغان شناس ؤو . حکیم ملت ؤو . او د ملت افغانیه ، د علتونو طبیب ؤو . د هغه کلیات او نور تصنیفونه ګواهی ورکوی چه لکه هغه چه پښتون قوم پیژندلے ؤو ، داسے بل هیچا نه دے پیژندلے . لکه چه د هغه د تورے شرنګا او خرپا چه دښمن به په خوب کښے هم واوریده ، نو په لړزه به د کټ نه پریوتو . داسے د بل پښتون توره به په مشکله پیدا شی . خپله وائی ـــه

لا په خوب کښے په لړزه پریوزی له کټ نه
چه د چا ترغوږ ځما د تورے شرنګ دے

د غه شان د هغه په قلم کښے هم لکه اقبال چه د نطشے په حقله وائی ، د تندر غرزا ، ډزا او غرهار ؤو ـ ډیر نه وردار قلم ئے لرلو ـ

در نئے کلکش غریوے تندر است

او خوشحال خان پخپله وائی ـــه

په پښتو شعر چه ما علم بلند کړو
د خبرو ملک مے فتح په سمند کړو
الخ . . . . . . . . . .

او په یوه بله لویه قصیده کښے هغه د خپل پیدائشی شاعرانه فطرت . . .

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعرو شاعرئ او دَ شاعر سړی او دَ خپلې شاعرئ یو اوږد بیان نظم کړے دے چه سر ئے دَدے شعر نه شروع کیږی ـ

نړهٔ دَ شعر په کار هیڅ نۀ یم خوشحال
ولے خدائے م کړو په غاړه دا مقال

دَ خوشحال خان نړ وردار او پښتون قلم لکه دَ هغهٔ دَ پښتنې تورے په شان هم غوڅه کوی ـ او هم مرهم دے ـ هغه چه دَ پښتنو په خوئ بوئ او دَ پښتنو په عاداتو او خصلتونو او دَ مختلفو قبیلو دَ نر او ښځو متعلق څهٔ ویلی دی ، هغه صرف یو افغان شناس شاعر ویلے شی ـ اګرچه هغهٔ رښتیا ویلی دی ، خو رښتیا تراخهٔ وی ـ په دے وجه په خلقو بد لګی ـ دَ مثال په طور دا لاندِ شعرونه او لولئ ـ

چه دَ سړوه په ملک کښے بنهٔ پښتون یادیږی
نن مهمند ، بنګښ ، ورک زی ، آفریدی دی
دَ مهمندو سپی بهتر دی تر بنګښه
کهٔ هزار ځله مهمند بد تر ترسپی دی
چوهړی دَ افریدیو ورک زئ
آفریدی کهٔ همه واړه چوهړی دی
هرچه بنهٔ دَ پښتنو نخواه دی حال ئے دادے
هغو بدو تر ئے خوک وائی سړی دی
له ژوندیو پښتنو ښیګړه نهٔ شته
هرچه بنهٔ وُو هغه ګل دَګور بندی دی

دَ خپلو ختکو متعلق وائی :-

دَ ختکو سپی بهتر تر یوسفزو دی
کهٔ ختک دی هم په خوئ ترسپی بسیار
په زرګونو راته لاف کړاوس یو نشته    آشنائی دَ هرچا بنه ده بے ختکه
مروت ، یادی ترے مهٔ غواړه خوشحاله
هر سړے چه ادب هٔ او ښنبی له اتکه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه یو هم د زړهٔ ساتونے پکښے نشته

توبه، توبه د خټکو د اولسه

د خټکو نه زهٔ هومره زړهٔ ناخوښ دے
چه توبه د هممکی خټک له نامه

د نعمت په قدر هیڅ خبردار نهٔ دی
نوم خټک به زهٔ خلاص نهٔ وی له انعامه

د وفا په ځائے هم واړه جفا ده
چه به ماته رسیده له خپله قامه

خټک واړه د دودام دی، کهٔ ئے ګورے
څوک به څهٔ غواړی خپلوی له ددو دامه

د پښتنو متعلق وائی سه

پښتانهٔ کهٔ آدم زاد دی
په خویونو کښے هُناد دی

نهٔ حکمت لری نهٔ عقل
خوښ هر ګوره په فساد دی

یو د بل په کمی ناست دی
څکه تل په بلا یاد دی

دا لا شکر کړه خوشحاله
چه بندی نهٔ دی آزاد دی

او یو بل ځائے کښے وائی سه

د عفریت دی کهٔ د دیو دے، کهٔ د ددے
د آدم له نسله نهٔ ګنړم افغان

کهٔ هر څو ورته د پند خبرے وائے
د پلار پندے هم بشهٔ نهٔ لګی په ځان

# دَ خوشحال خان تصانیف

د پښتو ژبے د نثر او نظم دواړو بابا آدم خوشحال خان خټک دے۔ لکه خپله
چه وائی سه
کهٔ د نظم، کهٔ د نثر، کهٔ د خط دے

په پښتو ئے به زهٔ حق دے بے حسابه
نهٔ پخوا پکښے کتاب وُو نهٔ خط وُو
دا دی ما پکښے تصنیف کړل څو کتابه

خوشحال خان د نظم او نثر د ډیرو کتابونو مصنف دے چه د ځنو نومونه ئے کیږی۔

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي :. ۱- کلیات خوشحال خان ۲- دستارنامه ۳- فضل نامه ۴- بازنامه
۵- سوات نامه ۶- زنځيري ۷- بياض ۸- هدايه ۹- آئينه ۱۰- فراق نامه
۱۱- فرضنامه ۱۲- طبّ منظوم

دَخوشحال خان په ټولو تصانيفو کښې چه کوم موږ ته را رسيدلي دي، او موجود دي، په نظم کښې دَ خوشحال خان کلّيات يو اهم کتاب دے. دا نهٔ يوازے په اهميت کښې دَ پښتو دَ نظم بائيبل دے. بلکه دَ مضامينو په تنوّع، وسعت او همه گيرئ کښې هم دَ پښتو شاهنامه ده. بغير دَ دے کتاب دَ لوستونه دَ پښتون دَ فطرت په گوناگون، رنګارنګ او قسما قسم پيچيده ساده گئ پوهيدل ګران کار دے. او لکه څنګه چه موږ وړاندې وئيلي دي، دَ پښتون دَ پيژندلو دپاره، دَ خوشحال خان کلّيات لوستل ضروري دي.

دَ خوشحال خان په کليات کښې دَ انساني فطرت بالعموم او دَ پښتون دَ فطرت بالخصوص ډيره غرقه مطالعه او مشاهده ده. او دَ مضامينو ورکښې دومره فراواني ده چه دَ پښتو په ادب کښې څهٔ چه دَ دُنيا په ادب کښې، دَ نظم له دے قسمه ديوانونه ډيرکم دي.

دَ نظم دَ ټيکنيک دَ نقطهٔ نګاه نه هم دَ خوشحال خان کليات په پښتو ادب کښې، يو يګانه دُر دے. او ډيرا صناف لري. مثلاً غزل، رباعي، قطعه، قصيده، مخمّس، مسدس، معشر، ترکيب بند، مربّع، مثنوي او ترجيع بند وغيره.

لکه چه دَ فارسئ دَ ادب بهترينه سرمايه دَ فردوسي شاهنامه ده، دغه شان دَ پښتو په ادب کښې، دَ هر لحاظ نه لوړ او اوچت ادبي او فني شاهکار، دَ خوشحال خان ديوان دے. کهٔ دَ پښتو دَ ادب ټوله سرمايه يو خوا کړے او دَ خوشحال خان کليات بل خوا، نو بيا به هم دَ خوشحال خان ديوان پرے دروند وي.

دَ خوشحال خان په کليات کښې مفيد، اخلاقي، ادبي، علمي، تاريخي، نفسياتي او معاشرتي معلومات بيامونده شي. دا کليات په حقيقت کښې دَ پښتون دَ فطرت دَ هر اړخ يوه پوره انسائيکلو پيډيا ده. دَ تاريخي جنګونو حالات په دے کښې دي. دَ دهلي دَ ښار مختصر خو منظوم تاريخ په دے کښې درج دے. دَ حکمت، اخلاق خبرے، دَ موعظت او سياست خبرے، دَ پښتون دَ تهذيب او تمدّن، دَ ننګ مړانے او غيرت خبرے په دے کښې دي. دَ نظامِ حکومت او دَ سردارئ دَ فن او هنر په خبرو دا ديوان بنا ئيسته دے. دَ عقائد و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرقو، او دَ مذهب فلسفه دا کتاب لری۔ دَ پښتنو دَ ترښځو، دَ قبیلو او خیلونو کردار په دے کښے منظوم پروت دے۔ دَ انسانی فطرت او نفسیاتو توضیحات او تشریحات دا دیوان په ګوته کوی۔ دَ عشق و محبت دَ نازک او نفیس راز، رموز نه هم دا دیوان ډک ښکاری۔ دَ مناظرِ قدرت، حسین بیانونه په دے کلیات کښے درج دی۔ قندِ فارسی په دے کتاب کښے بیاموندے شی۔ دَ مرکّب نظمونو یعنی فارسی، پښتو، پښتنو هندی مصالحدار، عجیبه او خوندناک شعرونه په دے کښے درج دی۔ دَ تصوّف نازکے مسئلے په دے دیوان کښے حل شوی دی۔ غرض دا چه دیوان خُهٔ دے یو جامِ جهان نما دے۔ او دَ دے ادبی جهان په شا دَ خوشحال خان عجیبه کردار سړے هر وخت او په هر شعر کښے محسوسوی۔ کله سړے دَ روه دَ کوهستانونو دا بے مثله ننګیال لکه دَ شیرِ ببر په شان په قهر او غرهبا وینی او کله لکه دَ شیراز دَ بلبلِ هزارداستا په شان په شیرینو او زړهٔ سوانو غزلو، بدلو ګویان او مشغول ښکاری۔ کله لکه دَ طوفانی او موجزن سمندر په شان په غرهارا و شور کښے او چتیږی او راخلاصیږی۔ او کله لکه دَ رباب دَ لطیفو او خوږو نغمو په شان په شیرین ګفتار مشغول معلومیږی۔

دَ کلیّات نه علاوه دَ خوشحال خان "دستارنامه" دَ پښتنو په قدیم او جدید نثر دواړو کښے یو ډیر اوچت کتاب دے۔ دَ دے کتاب نثر، لکه دَ خوشحال خان دَ نظم په شان معیاری دے۔ او نمونه نثر دے۔ تراوسه پورے څما په خیال په پښتو ژبه کښے دَ دے نه ښهٔ نثر چا نهٔ دے لیکلے۔

دَ خوشحال خان شخصیت کښے دَ توری او دَ قلم داسے حسین امتزاج دے۔ او داسے ښکلے ملګرتیائے ده چه ګمان نهٔ کړم چه دَ دُنیا په ادب کښے له دے قسمه ادبی شخصیت بل پیدا شی۔ دلته شاعر جرنیل دے۔ او ډیر دا اوچتے پائے جرنیل۔ او جرنیل شاعر دے۔ او ډیر لوړ شاعر دے۔ دَ یو داسے شخصیت پیدا کیدل ډیره ګرانه خبره ده۔

کهٔ لے ګورے نو خوشحال خان په میدانِ جنګ کښے پخپله رستم دے۔ په کمالِ شجاعت او دلاوری سره دَ فنونِ جنګ په هر پهلو او هر اړخ کښے، خپله بهادری، شجاعت او یکتائی ښائی۔ اوس به تیراندازوی۔ اوس به دَ خدنګ او تفنګ کار ته ورانډ وی۔ اوس به ګُرز غوړزوی۔ اوس به شمشیرزن او باتور شهسواروی۔ توره به ئے په لاس وی۔ او دَ مغلو دَ فوځ صفونو کښے به ئے دَ قتل او مقاتلے بازار ګرم کړے وی او چه بیائے ګورے نو دَ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے شاه زوره بهادر، جنګی سپاهی سردار خوشحال خان نه به، یونادر او صاحبِ کمال شاعر جوړ شوے وی. دَ خپلو جنګی کارنامو واقعه نګاری به داسے په تفصیل، ادبیّت او شاعرانه خوبصورتئ سره بیانوی، چه ته به وائے چه کنی دَ ذو د یونان هومر دے. یا دَ ایران فردوسی، یا دَ انګلستان بائرن دے. دَ خپل رستمی ځان رستمی واقعات په صفحه دلاویزه رزمیه شعرونو کښے بیان کړی دی چه فردوسی ورته کوته په خوله حیران او دریږی. فردوسی چه دَ عربو ایران ته دَ راتلو او دَ زمانے دَ ګردش نه دَ فریاد، خپل نوشته جذبات را الهرزوونکی بیان ته فکر او کړی.

زشیرِ شترخوان او سوسمار — عرب را بجائے رسید است کار
که تختِ کیان راکنند آرزو — تفو بر تو، اے چرخِ ګردان تفو

او بیا دَ خوشحال خان د مغلو دَ پښتون وطن ته دَ راتلو، او دَ زمانے دَ ګردش نه، دَ فریاد کولو بیان او لولی نو په زړه کښے لږ شرمنده شان شی ـ

رابنکاره شوے کج فهمئ دَ جهان — دَ جهان دَ کج فهمئ الامان!
داهم ځائے دَ تعجب دے که ئے وینے — په باز ونو چه غوټے دهی زاغان
داهم ځائے دَ تعجب دے که ئے وینے — چه مغل کاندی بازئ په افغان
داهم ځائے دَ تعجب دے که ئے وینے — چه ګیدړ په وازدو ډک اُوری شیران

داهم ځائے دَ تعجب دَ حیرانئ دے
چه لښکرے په خوشحال کړه بهرام خان

که ئے ګورے نو یو ساعت پس جنګی خوشحال خان دَ هومر او فردوسی خوا پریږدی. دَ حافظ او خیام سره دَ فارس په ګلګونه میخانه کښے کښینی، شومه دم شوی وی. چُپ چُپیا وی. دَ شیرازشنهٔ باغونه او چمنونه وی. دَ سپوږمئ شپه وی. او ماه جبین هم. یو خوبرو او خوشرو، ساقی ورله سرهٔ شراب په شنه پیالئ کښے نیولی وی. او خوشحال خان ورته په مستانه او رندانه آواز کښے دَ عشق او محبت غزلے او بدلے وائی ـ

راله نیسی جانانه، دَ شرابو پیمانه
دَ شرابو پیمانه، راله نیسی جانانه

دَ چنګ رباب زړهٔ راکښونکو نغمو محفل ګرم کړے وی. هرطرف ته مئے وی، میخانے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی، روئے نگار وی. سبزه زار وی او جو ئبار وی، خوشحالی وی. بے هوشی وی، مستی وی شاعر و ساقی ملگرے وی. او د واعظ نه بیزار. او ورته په دکه خوله وائی:-

مست یم مے پرست یم رندی کرمه، کرمه، کرمه!
واوره محتسبه! باده خورمه، خورمه، خورمه

لا رد محبت وه، تل به روغ سلامت نهٔ ووم
زهٔ چه په دا هسے لارے تلمه. تلمه، تلمه

الخ ..................

او بیا وائی ؎ زهٔ خوشرابی یم شیخه څهٔ راسره جنګ کړے
برخے ازلی دی، کاش کهٔ ما د خان په رنګ کړے

الخ ..................

او واعظ ته په رندانه محفل کښے د دین لاره داسے ښائی ؎
په څهٔ شان ئے دواړه زلفے کږ په کږ کړے
یکباره ئے د عالم مینے په پڅ کړے

الخ ..................

او کوری په مستانه او رندانه انداز کښے ساقی ته څهٔ رنګ په خوند، خوند خبرے کوی:- آشفته د د جمال یم همیشه د په دا خیال یم
نور و مینو ته م شاکړه مئین ستا په زلف وخال یم

الخ ..................

او بیا وائی ؎ په څهٔ چل ئے ځائے نیولے ستا ترخنګ دے؟
د رقیب خبره مهٔ منه بد رنګ دے

الخ ..................

یو ساعت پس چه په خود کښے راشی. او د مستانه او رندانه شراب و نشه ئے کوزه شی نو د شیراز د خوب داسے مکمله نقشه را کاږی، چه هیڅوک دا ګمان نهٔ شی کولے چه ګنی خوشحال خان د روه د کوهستان یو جنګی سردار دے. او ټول عمر ئے د جنګ جګړو سره کار دے. بلکه د سړی دا خیال پیدا شی چه د ایران یو عیش پسند، د شراب او کباب

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولداده، خوش کلام شاعر دے۔ اوتول عمرئے دَ فارس دَ رنګینې شعر و شاعرئ په شغل کښې تیر شوے دے۔ کۀ دَ مناظرِ فطرت دَ مشاهدو باریک بین او شاهد باز خوشحال ته فکر او کړئ نو وائی بهٔ چه ټول عمرئے دَ انګلستان په پُر فضا سبزه زارونو کښې تیر کړے دے۔ دَ انګریز شاعر " ورډز ورتهٔ " سره هم پیاله وهم نواله او سیدلے دے۔ دواړه یوشان لوئے شوی دی۔ یوشان ئے تربیت اخستے دے۔ او یوشان دَ قدرت دَ ننداره و دلداده دی ؎

چه موسم م دَ ګلونو دَ ګلزار شی  نرم نرم ترشح په مرغزار شی

دَ هغهٔ لهٔ بخته خوک برابری که  چه په هسے وخت ئے سیر په ګلزار شی ... الخ

او کۀ دَ علم اخلاق نه واقف، دَ تصوف په رموز و پوهه، او کۀ مذهبیاتو او ادبیاتو ماهر صوفی خوشحال خان مو په نظر راشی نو وائے بهٔ چه دَ مولانائے روم صاحبؒ شاګردی ئے کړے ده او دَ ؎ " بشنو از نے چون حکایت مے کند ؛ وزجدائیها شکایت مے کند " په راز پوهه دے۔ دَ عشق دَ فلسفے رازئے په یو رباعی کښې داسے ستائیلے دے ؎

چا په وخت دَ ځنکدن ووے مجنون ته  وخت نازک دے په زړهٔ یاد و لره خدائے

دهٔ ووے زړهٔ م دَ لیلیٰ دَ مینے پُر دے

یکښې نشته دے دَ نورو یادو ځائے

او یلئے دَ شیخ سعدی صاحبؒ سره سبق ویلے دے۔ دَ هغهٔ جماعتی پاتے شوے دے۔ دواړو یو ځائے سیاحت کړے دے۔ او دواړو دَ علمِ اخلاق سبق دَ یو اُستاذ نه زده کړے دے۔ فرق صرف دومره دے چه سعدی صاحبؒ خپله خولهٔ په ایران کښې پرانسته او خوشحال خټک دَ پښتون په کوهستانی وطن کښې دا رنګ ګویان شو ؎

غصب ملوک لره دروغ مُلا لره  بُخل غنی لره فحش نساء لره

دا څلور توکه هر ګوره بد دی

فکرچه راغے په زړهٔ کښې مالره

غرض داچه خوشحال خان یو داسے بے نظیره صاحب سیف، او صاحبِ قلم شاعر تیر شوے دے چه په خپل دیوان کښې ئے دَ هر رنګ دَ انسانی جذباتو ترجمانی عموماً او دَ جنګ جذبو دَ قومی حمیت، عزت، غیرت او ننګ دَ نادر بیانا تو خصوصاً یوه مکمله، بے نظیره نقشه پیش کړے ده۔ او کۀ خپلو جنګی، رزمیه جذباتو او ظها رخوئے په داسے زور دار والفاظو کښې کړے دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په آورېدو ئې تراوسه پورې دَ هر پښتون خومنه زېږ زېږ شي۔

# خوشحال خان په حیثیت دَ یو مُسلمان

خوشحال خان خټک په مذهبي عقائدو کښې سوچه او پوخ مُسلمان دے۔ په اهلِ سنت والجماعت کښې حنفي المذهب وُو۔ په یوه قصیده کښې دَ خپلو مذهبي عقائدو متعلق داسې وائي

پُشت په پُشت راغلے مُسلمان محمدیؐ یم — چار دَ چار یارانو سره واړه منم سمه

درست په دا پوهېږم چه څلور مذهبه حق دی — خو دَ حنفي مذهب دعوی لرم محکمه

مینه ئې په زړه کښې دَ علماؤ راکړه ډېره — مینه ئې دَ دور دَ شېخانو راکړه کمه

نهٔ خراباتي، نهٔ قمارباز، نهٔ زناکار یم

نهٔ قاضي مفتي چه ئې نظر په څو درمه

دَ خوشحال خان دَ اشعارو نه معلومېږي چه په هغهٔ کښې حُبّ رسولؐ ډېر وُو۔ او دَ اهل بیتو سره ئې هم ډېر عقیدت وُو۔ او ورباندې مئین وُو۔ دَ خوشحال خان دَ لاندې اشعارو نه دَ هغهٔ دَ عشق رسولؐ اندازه ولګوئ ؎

دَ خدائے عرفان م اوشو په عرفان دَ محمدؐ

پاک دے محمدؐ، پاک دے سبحان دَ محمدؐ ......... الخ

خوشحال خان دَ حضرت علی کرم الله وجهه سره هم ډېر عقیدت لرلو۔ او دَ اهل سنت دَ امامانو نه علاوه دَ اثنا عشره، دولس واړه امامان ئې هم دَ هدایت او احترام مستحق ګڼل۔ دَ حضرت علیؓ په تعریف کښې دَ خوشحال خان دا لاندېني اشعار دَ لوستو دی ؎

کهٔ یکسار دِ وه دَ خدائے پېژندګلي

پیروي دَ محمدؐ کړه دَ علیؓ

............. الخ

خوشحال خان په هغې مُسلمانانو بد وائي څوک چه دَ حضرت علیؓ مخالفت کوي۔ یا دَ حضرت عمرؓ۔ دَ خوشحال خټک په عقیده دَ خلفائے اربعه قدر، عزت او احترام دَ مُسلمان دَ مذهبي عقائدو جزو لاینفک دے۔ او څوک چه په دوئ کښې دَ هر یو قدح کوي، دَ هغهٔ په مُسلمانئ کښې خلل دے۔ خوشحال خان دَ مُسلمانانو دَ فرقوا و تنازعونه او چت وُو۔ او ډېر یو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



متوازن او راسخ مُسلمان وُو. هغه دَ عقیدے اظهار دا سے کوی۔ ؎

چه په سب دَ ابوبکرؓ او دَ عُمر دی
چه په خولۀ کلمه لولی هم کافر دی
.............. الخ

رسول کریم صلی الله علیه وسلم دَ حضرت ابوبکر صدیقؓ او دَ حضرت عمرؓ متعلق به وے چه په دے دواړو کښے دَ نبوّت جوهر دے. او دَ حضرت ابوبکر صدیقؓ متعلق بہ ئے فرمائیل چه زۀ او ابوبکرؓ دواړه په مثال دَ اَس زغل دَ آسونو یُو. زۀ مخکښے شوم او ابوبکر په ما ایمان راوړو. کۀ هغه مخکښے شوے وے نو ما به پرے ایمان راوړے وُو. او دَ حضرت علی کرم الله وجههٗ متعلق به ئے فرمائیل چه زۀ دَ علم ښار دیم او علیؓ ئے دروازه دۀ. دَ علم باطن خاوندان وائی چه ولایت بغیر دَ حضرت علیؓ دَ مهر نه، نۀ تصدیق کیږی. دَ خوشحال خان چه دَ حضرت علیؓ او دَ هغهٔ دَ آل او اولاد او دَ اصحابو سره کوم محبت وُو. دَ لاندِ اشعارو نه ظاهر دے ؎

انبیاء تر محمدؐ پورے معلوم دی
لکه ستوری تر آفتاب پورے معدوم دی
........... الخ

دلته شاید چه څوک دا سوال اوکړی، چه خوشحال خان، چه دومره ښۀ مُسلمان وُو نو دَ مغلو سره ئے جګړے ولے کولے. او بیا دَ مُسلمان بادشاه اورنګ زیب عالمګیر سره ئے ولے دا سے پخه دښمنی وه.

دَ دے سوال جواب ما وړاندِ ورکړے دے. خو دلته بیا په اختصار سره عرض کوم چه دَ اسلام لوئے اتحادی، مذهبی قومیت چه دَ مُسلمانانو دَ خود غرضو، بد عملو، نفاق او خپلو کښے دَ جنګ جګړو وجه دړے وړے لاړو. نو دَ مُسلمانانو، دَ نسل، نسل، ځان ځان ته حکومتونو او بادشاهئ غرض دے. ځان ځانئ کښے پښتنو هم کوشش اوکړو چه ځان ته حکومت او بادشاهی جوړه کړی. او په دے کوشش کښے پښتانۀ کامیاب شول. او په هند کښے ئے خپل نسلی شهنشاهیت قائم کړو. خو مغلو مُسلمانانو دَ پښتنو مُسلمانانو دا شهنشاهیت ختم کړو. او خپل نسلی شهنشاهیت ئے ځان ته قائم کړو. چه دا اسلامی حکومت نۀ وُو.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکه یوه نسلي، مغلي با دشاهي وه - او دے باد شاهئ لکه [illegible]
نهٔ صرف خپل غلامان جوړول غوښتل بلکه ټولې دَ پښتون [illegible]

دَ خوشحال خان دَ مغلو خلاف آواز اوچتول او دَ هغوی [illegible] حقیقت کښې
دَ مغلو دَ نسلي شهنشاهیت دَ جابرانه او ظالمانه رویې ردِ عمل ؤو - او [illegible]
لکه څنګه چه کیرو وائي اورنګ زیب عالمګیر هم محض یو منافق، ظالم [illegible]
شهنشاه ګڼړلو چه دَ پښتنو نوغے ئے ایستل غوښتل - او په دے وجه [illegible]
. . . خوشحال خان رواګڼړلو . دَ اورنګ زیب متعلق خوشحال خان خټک وائي [illegible]

دَ دے دور شیخان دیردی لور په لور | اورنګ زیب بادشاه دَ وا [illegible]
په هغه چاره قلم ساز کا قرآن کښې | په هغه چاره شاه رګ پرے کا دَ [illegible]

په رکوع کښې تسبیحات دَ پلار دَ مرګ کا
په سجود کښې زوری خپله مشره خور

په دے کښې شک نشته چه اورنګ زیب سره دَ خوشحال خان ذاتي دښمني هم وه اورنګ زیب خوشحال خان اوهٔ کاله په هند کښې اسیر او جلا وطن ساتلے ؤو - او هغه هم بے قصوره - لکه خپله چه وائي ـــه

په ناحق دَ اورنګ زیب په بند بندی یم | خدائے خبر دے په تهمت او په بهتان
زهٔ پښتان کښې ګناه نهٔ وینم په خدا یګو | ولے نور خلق خبر ے کا شان شان

دَ ګناه یم سر رشته نهٔ ده معلومه
مګر خپل هنر دَ ځان وینم تاوان

خو دَ اورنګ زیب دَ پلار بندی کول او دَ رونړو، دَ تخت حاصلولو او ټینګولو په خاطر وژل یو حقیقت دے - او خوشحال خان، دَ اورنګ زیب دَ نورو عیبونو سره، دا حقیقت بیا بیا ستائی - او په دے وجه دَ اورنګ زیب مخالفت ثواب ګڼړی. نو ځما خیال دے، که څوک په دے وجه خوشحال خان ته بد وائي. یا بنهٔ مسلمان ورته نهٔ وائي، نو هغه به په کومه خولهٔ اورنګ زیب ته بنهٔ مسلمان او وائي.

خوشحال خان دَ مذهب په ظاهریاتو او رسوماتو نهٔ خطا کیدو - هغهٔ دَ مذهب روح ته کتل - او په دے وجه هغهٔ اورنګ زیب بنهٔ پیژندلو - او په اورنګ زیب ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بد وے۔ خوشحال خان دَ مذهب متعلق وائی ؎

زۀ خو دَ زړۀ درد غواړم په هر یوۀ مذهب کښے
ستا زده دا چلونه، چه نقلونه رنګارنګ کړے

# دَ خوشحال خان اخلاق او عادات

خوشحال خان دَ اوچتو اخلاقو پښتون سردار وُو۔ په میلمستیا، مروّت، سخاوت کښے ئے خپله ثانی نۀ لرله۔ په ورکړه کښے مشهور وُو۔ او لکه دَ هغے وخت دَ پښتنو خانانو په شان دَ ښکار ډیر شوقی وُو۔ او دَ باز په ښکار ډیر مئین وُو۔ اسونه، بازونه او ښکاری سپی دَ خوشحال خان ډیر خوښ وُو۔ او ډیر په شوق به ئے پالل۔

دَ بازونو دَ مرضونو، دَ بازونو دَ علاج، دَ بازونو دَ عادتونو او ښکار نه ښۀ واقف وُو۔ دَ خوشحال خان مشهور تصنیف بازنامه موثر ترښائی چه هغه دَ بازونو په علم کښے هم یکتا وُو۔

دَ باز ښکار، دَ خوشحال خان په شاعرئ ژور اثر غورزولے وُو۔ دَ هغۀ په شاعرئ کښے دَ مردانه پرندو او ښکاری مرغانو لکه باز، شاهین، عقاب وغیره ډیر ذکر دے۔ او دَ دے پرندو دَ ښکار، او خوئ بوئ نه هغه چه کوم شاعرانه استعارات او تشبیهات اخذ کړی دی هغه دَ پښتو دَ شاعرئ یوه قابلِ قدر سرمایه ده۔

خوشحال خان خپله یو تورزن، جنګی سردار وُو۔ مړانه، شجاعت، تورزنی دَ هغۀ په وینه کښے اخښلی راغلی وُو۔ هغه په فنونِ جنګ کښے ماهر وُو۔ او لکه دَ بازونو دَ ښکار په شان دَ جنګ مشاهده او تجربه دَ هغۀ ذاتی ده۔ هغۀ خپله جنګونه کړی وُو۔ او جنګونه ئے لیدلی وُو۔ او په دے وجه دَ هغۀ په شاعرئ دَ جنګونو، دَ قتل قتال او وخون خرابے پوهکاره اثر دے۔ هغۀ دَ دے مشاهدے او تجربے نه هم ډیر ښکلی شاعرانه استعارات او تشبیهات پیدا کړی دی۔

خوشحال خان پیدا شوے شاعر، عاشق مزاج او حسن پرست وُو۔ خو عیاش او باش نۀ وُو۔ خپله وائی چه نۀ خراباتی یم۔ نۀ قمارباز یم، نۀ زناکار یم۔ او دا صحیح وائی۔ په هغۀ کښے له هیڅ قسمه بد عادت نۀ وُو۔ البته جنسی جذبات ئے فراوان او قوی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤو۔ او جنسي هيجان ئې ډير ؤو۔ خوله دے قسمه خواهشاتو د تسکين د پاره ئې نا روا، حرام او ناجائز نهٔ کول۔ يعني د زنا نه ئې ځان ساتلے دے۔ البته و دونه ئې ډير کړي ؤو۔ د خپلو جنسي تجرباتو او مشاهدو ذکر ئې په کليات کښې په ځاځائ سره کړے دے۔ دا هم د هغهٔ په صاف ګوئي او حق ګوئي دلالت کوي۔

خوشحال خان عالم ؤو، او علم دوست ؤو، او عالمانو سره ئې ناسته پاسته خوښه وه۔ د هغه زمانې په عربئ او فارسئ کښې چه څهٔ مروج علمونه ؤو، دا سے معلوميږي چه د دغه علوموئې غرقه مطالعه کړے وه۔ په فارسئ ژبه ئې ښهٔ قابو ؤو۔ او په فارسئ کښې ئې هم شاعري کوله۔ او په کوم کثرت او صحيح طريقه چه هغهٔ په خپل نظم او نثر کښې د عربئ د الفاظو او لغتونو استعمال کړے دے، د هغې نه معلوميږي چه په عربئ ژبه ئې هم عبور ؤو۔ د کلام نه ئې معلوميږي چه د قرآن پاک د تعليماتو نه ښهٔ خبر ؤو۔ او د ديني علومو په زده کولو کښې ئې هم ښه دلچسپي اخستے وه۔ په پښتو کښې ئې د اسلامي فقهې مشهور کتاب "هدايه" ترجمه کړے دے۔ په يو بل کتاب فضل نامه کښې ئې فقهي او مذهبي مسائل راجمع کړي دي۔ او د وړوکي بحر مثنوي کښې ئې نظم کړي دي۔

جنګ۔ توره۔ باز، کتاب او قلم ئې په ژوند کښې پسنديده مشاغل ؤو۔ او په آخري عمر کښې خو صرف قلم او کتاب ئې شغل ؤو۔ لکه چه وائي ؎

چه م يار دے، يا قلم دے، يا کتاب دے
اوس دے يار ئې پاتے په ابصار شوم

ښکلي مخ ته د ښکلي نه ؤو۔ لکه چه وائي ؎

څهٔ له راته وائې چه په ښکليو نظر مهٔ کړه  سترګې چه پيدا دي خو ديدار له کړه کنه

او سرود ئې ډير خوښ ؤو۔ لکه چه وائي ؎

د خوشحال د خوشحالئ وخت هم دا دے
چه رباب سرينده جوړ سره غږيږي

د قوي اراده، خود داره انسان ؤو۔ او د پښتون د ننګ د مقدسے جذبے ژوندے مثال ؤو۔ خپله ننګيالے ؤو۔ او د ننګيالو، شاه ځلمو ډير قدردان ؤو۔ د تورو خرپا، شرنګا او پرقا ئې خوښه وه۔ او نيزے په غاړه چه ځوانانو به آسونه په ترپولو کړل،


A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نودده زړه به هم په ګړیدو شو. وینه به ئې ګرمه شوه. په سیلئ به سور شو. توره په لاس نیزه په غاړه به جنګ ته روان شو.

چه خوږورے د مغلو منصبدار وُو، نو بنهٔ په راستئ ئې د مغلو خدمت کولو. او چه د مغلو سره ئې ورانه شوه نو بیا تر مرګه مرګه ئې ورسره روغه او نشوه. او مغلو ته ئې سر ټیټ نه کړو. یعني یو بنهٔ دوست او پوخ دښمن وُو.

خان سیاستدان او مدبّر هم وُو. او د خپل بنهٔ تدبّر او سیاست نه به ئې په موقع، موقع بنهٔ کار اخستو. خوشحال خان متدیّن وُو. د صوم وصلوٰة پابند، او په شرعه محکم ولاړ وُو. په عقائد وکښے سوچه مُسلمان وُو. طبیعت کښے ئې د خانئ سختي او دُرشتي وه. خود زور او ظلم نه ئې خان ساتلو. او همیشه به ئې د خوارو، نیستمندو امداد کولو. پیدا ئشي جرنیل او تجربه کار حاکم وُو. د سردارئ او د حاکمئ په هُنر بنهٔ پوهیدو. د خپل اولس سره خپل تعلقات به ئې دوستانه او مشفقانه وُو. خود خپل مټ ډلاندِ به ئې ساتل. خوږ دُل، خوړل او بخښل ئې د ژوند اصول وُو. د طبابت او حکمت په کار هم بنهٔ حاوی وُو. د حفظانِ صحت د اصولو نه واقف وُو. د صحت البدن په نوم ئې پوره رساله هم لیکلے وه.

یو شفیق خوبار ُعبه پلار وُو. ځامنو ته ئې همیشه د ننګ، د توره زنئ او شجاعت تعلیم او تربیت ورکولو. د اشعارو نه ئې سرے انداززه لګولے شي چه یو بنهٔ مینه ناک خاوند هم وُو. په خبرو کښے ئې سنجیدګي او متانت وُو. خو د ظرافت نه به ئې هم کار اخستو.

په ژوند کښے د جد وجهد او سخت کوشئ قائل وُو. او د زمری، باز او شاهین ژوند ئې ځان ته نمونه ګرځولے وُو. او هم په دغه ئې عمل وُو.

خان صاف ګو وُو، حق ګو وُو او د حق پرستومل وُو. یعني سپینه به ئې کوله. سپینه به ئې وئیله. او په زړهٔ سپین خلق ئې خوښ وُو.

په پیرئ کښے ئې هم ځوان زړهٔ لرلو او په ظریفانه خبرو او اشعارو به ئې زړهٔ خوشحال ساتلو. لکه چه وائی ؎

خوشحال خټک که زوړ شـو　　عیب ئې کوم دے ګید ی خـرو
د آسمان په دور نوړی　　بوئ د مښکو د عـنـبرو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ډیر کاله پرے تیر شی! بوئ لا بشهٔ شی دَ اګرو
چا پرے ګوته ایښے نهٔ ده دَ نړ ورانی په ګوهرو
په هر بازار چه ورشی
قدر نهٔ ځی دَ سرو زرو

دَ خوشحال خان دَ اخلاقو، عاداتو، کارناموا و تصانیفو دَ لوستو نه پس سړے ګمان کوی چه ګنی دَ روه دَ غرونو، دا سپین کته شهباز بشر نهٔ ؤ، بلکه فوق البشر ؤ۔

# دَ خوشحال خان اولاد

خان ډیر کثیر الاولاد بنیادم ؤ۔ محمد نواز ختک دَ ښاغلی پښتون په دیباچه کښے لیکی چه خوشحال خان ختک دَ درے دیرشو لونړ و او اوهٔ پنځوس ځامنو پلار ؤ۔ په دوئ کښے پینځهٔ خلویښت اولادے لوئے شوی او کمال ته رسید لی ؤ۔

دَ یو روایت مطابق دَ خوشحال خان ختک دَ شپیتو نه زیات خوتش ځامن ؤ او دیرش لونړه وے۔ دَ ځامنو تعداد او خوئ بوئ په حقله خوشحال خان ډیر ځهٔ ځائے په ځائے په خپل کلیات کښے وئیلی دی۔ لکه چه وائی ــــ

اتهٔ ویشت لرم ځویه نشته یو دَ بل په رنګ
اشرف م لائق ځوئے دے دریغه نهٔ وے په خوئ پرنګ
صدر دَ نورځهٔ نهٔ دے خوئے غواړی په پالنګ
بهرام هغه خنزیر دے چه لائق دے دَ تفنګ
خانان هغه شاهین دے چه ئے سرهٔ په وینو چنګ
باز په لاس دَ عظیم کار دے یا مزرے دے یا پلنګ
نظام وریښمین سر وبال دے پورے غوته موتے بنګ
یحیٰی خالد دا دواړه بوالعجب لری فرهنګ
په واړه وکښے آزاد دے هم دَ سر دغے هم دَ جنګ
بخت ناک هغه ځلے دے نشته بل دَ دهٔ په رنګ

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماڵوجلو دا دواړه ترک ژوندی په مزکه ړنګ
نو دَ غشي اغزين دے
سر اغزے دے يا خدنګ

او دَ خپلو لونړو متعلق په کلّيات کښې دا سے وائی ـ

هر څوک پلار دَ لونړو مړ شه په ډير غم شی مبتلا
څو چه لونړه وی په کور کښې په کور وی هومره بلا
څما په کور کښې ديرش دی که تر ديرش دی ډيرے لا
کهٔ به غم ږوهم دَ دے ږو راسره صبا ، بيګاه
هم بخپله خدائے وادهٔ کړے
چه له سرا به شوم جُدا

خوشحال خان خټک په خپل ديوان کښې دَ خپلو څامنو او بالخصوص دَ بهرام دَ لاسه ډير سر ټکولے دے . او ډير بد ردئے ورته وئيلی دی . خو دَ نظام په مرګ ئے ډيره ډهرد ناکه مرثيه دَ قصيدے په تشکل کښې ليکلے دهٔ . دا زړهٔ سيزونکے مرثيه دَ دے شعرونه شروع کيږی ـ

څهٔ داغونه ږدے په زړهٔ باندَ فلکه
چه نظام دِ له ما بيل کړهٔ خوائے دِ که
........... الخ

او په دے مرثيه کښې چه خوشحال خان په کوم انداز سره دَ پښتون دَ ننګ او ورسره دَ خپل ننګ او قومی جذبے اظهار کړے دے ، دا دهغې خلقو په مخ ښيږه ده . کاشکے ځوان دَ پښتانهٔ په ننګ کښې مړوے نهٔ چه ګورلړه ـ وان شوله توشکه
چه دَ قام په ننګ کښې ومره هغه خو يه
په عالم کښې دَ خپل پلار غاړه کا لکه

اوګورئ دَ خوشحال خان ځلے ځوئے دَ شبر و اوهٔ ديشتو کالو په عمر کښې وفات شوے دے . او پلار ته کهٔ دَ دے نيازبين او خوانی مرګ ځوئے په مرګ څهٔ آرمان ورځی . نو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دا چه په کټ پوزی وله مړشو ۔ دَ پښتون په ننګ کښے ولے مړنه شو ۔ او په ارمان کښے وائی ــه کاشکے خوان دَ پښتانهٔ .....

نظیری صرف دومره قدرے وئیلی وُو چه ــه

کسے که کُشته نه شد از قبیلهٔ ما نیست

او اقبال دَ نظیری دَا مصرعه په دے شاندار طریقه اوستائیله ــه

به ملکِ جم نه دہم ، مصرعهٔ نظیری را

کسے که کُشته نه شد از قبیلهٔ ما نیست

کهٔ اقبال دَ خوشحال خان خټک دَ مرثیے دا اشعار، چه دَ خپل نیازبین خوئے په مرګ ئے وئیلی دی، آوریدلے وے۔ نو کورئ چه دَ قامولئ او پښتونولئ دا نایاب دُر به ئے په کوم قیمت اخستے وے ۔ او په کوم او چت شاعرانه رنګ کښے به ئے ستائیلے وے.

دَ خوشحال خان خټک دَ دے ابیاتو نه په ښهٔ شان معلومیږی چه دَ هغهٔ په زړهٔ او دماغ او روح صرف یوه مقدّسه او پاکه جذبه غالبه وه ۔ او هغه دَ پښتون دَ ننګ جذبه وه ۔ هغهٔ هم دَ دغه جذبے دَ لاندِ دَ اورنګ زیب دَ مغلی حکومت مقابله کړے ده۔ په دے باب کښے نورخیزونه فروعی وُو. چه معنوی تکے ورکښے هم دغه دَ پښتون دَ ننګ خبره وه۔

په یوه بله قصیده کښے، دَ خپلو خامنو دَ لاسه داسے فریاد کوی ــه

یا دَ خپل اولاد دَ لاسه شاهجهان نه دهٔ

یا خوشحال دے، په فریاد په نارهٔ سر

او بیا وائی ــه

| | |
|---|---|
| ناخلف مِ حواله کړهٔ په تقدیر | نصیحت وربانِدِ نهٔ کاندی تاثیر |
| بد فرزند دِ خدائے دَ هیچا بیدا مکړهٔ | په خصلت ئے پلار په خان دی مور پهٔ دیر |
| دریغه یو پکښے شهباز شوے یا خوشحال شوے | شل پنځهٔ لوم همه صغیر کبیر |
| مشران ئے دَ دشړئ ګندهٔ پشم | کشران دی په مثال او مهٔ حریر |
| نالائق خو په دموره پیدا مهٔ شه | دا لابهٔ که څخئے او ذیری خنزیر |

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو لائق ځوئ تر زرو ځویو بښهٔ دے
ډیر به ځئ که ښوک چه نۀ وی دلپذیر

یو ه بله قصیده کښے وائی ـــ

چه م اولیدهٔ دَ خپلو ځویو کار ځو به واړه جگرخون دی دَ خپل پلار
خوځما کره زړولی دی ډیر ځو یه دَ نور چانډ دی پیدا په دا دیار
موافق م په خور منځ یو ځو یه نشته هګی واړه دَ خپل غرض دی یار

نور ترد ا دپاسه شکر کړه خوشحاله
چه له تا نه خپل بابا نهٔ وُو آزار

په یوه قطعه کښے داسے وائی ـــ

ګوبنے ګوبنے ځما ځان لره بلا شول چه پیدا دی هګی ځما له ځانه
کهٔ پنځوس دی کهٔ شپیتهٔ دی داغ دَ زړهٔ دی
یو ځو لا پکښے آفت شول تر دا میانه

په بله قطعه کښے داسے وائی ـــ

وعالم ته خوشحال زوړ ځو یه ځوانان دی
دَ زاړهٔ بلا په سر دَ دیو ځوانانو!

پلارئ دَ رسته ورځ په ښکار وژنی اَسونه
په پالکئ کښے ځی په رنګ دَ رنځورانو.

کهٔ په شمار په حساب ډیر شو ته نزدے دی
همه واړه دی په شمار دَ نامردانو

دَ خوشحال خان خټک په ځامنو کښے مشهور دا لاندینی دی:-
اشرف خان - سعادت خان - بهرام خان - عابد خان - عبد القادر خان -
صدر خان - ګوهر خان - سکندر خان - او نظام خان - په دوئ کښے لکه دَ پلار په شان ښهٔ شاعران دادی:- اشرف خان - عبد القادر خان - سکندر خان - صدر خان - ګوهر خان -

او په دوئ کښے لکه دَ پلار په شان تورزن عابد خان وُو - دَ دوړه په جنګ کښے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عابد خان ډېره مړانه ښائيلې وه. اشرف خان هجري د خوشحال خان په ژوند ... کښې. ټولو کښې مشر وُو. پلار په خپل ژوند دهٔ ته د خټکو سرداري حواله کړې وه. خو مغلو ونيولو. لس کاله د بيجاپور په قلا کښې بندي وُو. او هم هلته وفات شو. د دهٔ ځوئے افضل خان د پښتنو تاريخ ليکلے دے چه په تاريخ مرصّع مشهور دے.

عبدالقادر خان خټک هم د پښتو ژبې ډېر لوئے شاعر تېر شوے دے. صاحب ديوان دے او د سعدیؒ گلستان او د جامی يوسف زليخائے پښتو کړې دی.

د خوشحال خان خټک په لونړو کښې بی بی حليمه، شاعره او فاضله وه.

# خوشحال او اقبالؒ

مير عبدالصمد خان آفريدی چه د خوشحال او اقبالؒ په نوم يو جامع کتاب ليکلے دے. په دے کتاب کښې ځنې خبرې، هغه ډېرے د کار ليکلی دی. او په دے وجه دا يو ډېر قابلِ قدر کتاب دے. ځما د عبدالصمد خان د ځنې نظرياتو سره مکمل اتفاق دے. خو د هغهٔ د ځنې نورو نظريو سره زهٔ متفق نهٔ يم. زهٔ دلته په هغه ټولو خبرو بحث نهٔ شم کولے، کوم چه مير صاحب په خپل قابلِ قدر کتاب کښې په تفصيل سره ليکلی دی. البته د "خوشحال خان او اقبالؒ" د فلسفهٔ حيات، د هغوئ د تصوّر د انسان، د هغوئ مشترکه تعليمات او پيغام. او د ډاکټر اقبال چه د خوشحال خان خټک سره کوم عقيدت وُو. د دے موضوعاتو په سلسله کښې په اختصار سره څهٔ عرض کول غواړم.

ځما په خيال د خوشحال خان د فلسفهٔ حيات مرکز او محور "پښتو" وه. او د ډاکټر اقبال د فلسفهٔ حيات محور او مرکز "خودی" وه. خوشحال خان لکه د اقبال په شان يوه منظمه فلسفهٔ حيات نهٔ لرله خو د پښتون په اسلامی معاشره کښې چه د برگزيده او اعلیٰ ژوند د تيرولو دپاره د هغهٔ په ذهن کښې کوم مقتدر اقدار ځائے شوی وُو. او د دغ اقدارو نه چه د هغهٔ په ذهن کښې کومه فلسفهٔ حيات جوړه شوے وه. هغهٔ په خپلو اشعارو کښې د دغ اقدارو بيا بيا ذکر کوی. او د دغ اقدارو مدّاح دے. او خپل قوم ته د دغه پيغام ورلاندِ کوی.

چونکه په اسلامی ملکونو کښې هر څومره لوئے مفکّرين، فلسفيان او شاعران چه

(c) ketabton.com: The Digital Library


تیرشوي دي، دَدوئ دَ شاعرانه الهام سرچشمه دَاسلام دَمقدس دین تعلیمات ؤو۔ دَ دے دپارهٔ دَ دوئ په شاعرانه تعلیماتو او پیغاماتو کښے مشترک اقدار پیردي۔ او دامستند اسلامي اقدار دي۔ یعنی دَاسلام دَ فلسفهٔ اخلاق اقدار دي۔

دَ دے نه علاوه ، دَخوشحال خان چه څهٔ مطالعه وه ، هغه دَ عربئ او فارسئ تر کتابونو پورے محدوده وه۔ او په عربئ او فارسئ کښے لوئے مفکرین ، شعراء او ادیبان اکثر مُسلمانان تیرشوي دي۔ په دے وجه دَخوشحال خان دَ تصنیفاتو ادبي پس منظر هم دَ مُسلمانانو عالمانو او مصنفینو دَ کتابونو نه جوړ شوے ؤو۔ خو عجیبه خبره دهٔ چه هغه لکه دَ اقبال په شان دَ عجمي فلسفے او شاعرئ دَ جمودي روح دَ اثر نه بچ پاتے شوے دے۔ او دَ هغهٔ دَ شاعرئ طرز، رنګ او اظهار عجمي نهٔ دے، بلکه عربي دے۔ یا دَ عربي طرز افغاني دے۔ علامه اقبال دَخوشحال خان خټک دَ شاعرئ متعلق فرمائي :۔

"دَخوشحال خان په شاعرئ کښے دَ ابتدائي عربو دَ شاعرئ روح کار فرما دے۔ چه مونږ دَ هغهٔ دَ شاعرئ مطالعه کوؤ نو دَ هغهٔ په شاعرئ کښے دَ بیان سادګي او حق ګوئي په واضحه شکل په نظر راځي۔ او دَ هغهٔ په شاعرئ کښے دَ عربو دَ شاعرئ په شان ، دَ آزادئ، او دَ جنګ سره دَ مینے اظهار بیا موندے شي۔ او دَ ژوند په حقله دَ هغهٔ دَ نقطهٔ نظر او تنقید رنګ هم، دَ عربو په رنګ کښے رنګ دے۔"

اقبال وړاندے لیکي :۔

"دَ خوشحال خان خټک دَ شاعرئ نمونے زهٔ دَ راورټي دَخوشحال خان دَ نظمونو دَ لفظي ترجمے نه پیش کوم۔ دَ دے ترجمو نه به ، دَ پښتو دَ دے عظیم شاعر دَ پُرجوشه حُب الوطنئ، دَ هغهٔ دَ ارمانونو او خواهشاتو، او دَ هغهٔ دَ انساني فطرت دَ غرئ مطالعے علم قارئینو ته اوشي۔ په دے کښے څهٔ شک نشته چه خوشحال خان دَ اورنګ زیب خلاف څهٔ ترخې خبرے هم کړې دي۔ خو دا دَ اورنګ زیب خلاف دَ یو داسے دښمن خیالات دي چه هغه ئے په هند کښے اوهٔ کاله قید ساتلے ؤو۔ او هند دَخوشحال خان دپاره یو داسے ملک ؤو چه دَ دے ملک متعلق هغه خپله وائي ؎

چه سړے او بهٔ دَ غرهٔ نشته په هند کښے
ترے توبه ، کهٔ واړه ډک وي له نعیمه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



قارئین ته به معلومه وي چه په نثر کښې علامه اقبال، سوائے دَخوشحال خان نه، بل ډیو شاعر په تعریف کښې څهٔ نهٔ دي لیکلي. او دَخوشحال خان دَ شعر و شاعرئ اندازه هغهٔ صرف دَخوشحال خان دَ سلو ترجمه شوي نظمونو نه اخستے وه. او هغه هم په انګریزئ ژبه کښې لفظي ترجمه وه. او ډیره بے خونده ترجمه وه. او مترجم کپتان راورټي، لکه دَ نورو مستشرقینو په شان دَ خوشحال خان دَ کلیات نه هغه نظمونه منتخب کړي وُو. کوم چه هغهٔ دَ مغلو سره دَ جنګ وجدل په سلسله کښې لیکلي دي. او یا دَ منظر کشئ او رومان ومحبت سره تعلق لري. کهٔ چرے علامه اقبال دَ خوشحال خان خټک شاعري په پښتو کښې مطالعه کړے وے او دَ ټول کلیات مطالعه ئے کړے وے، او دَ خوشحال خان هغه اخلاقي، نفسیاتي، معاشرتي، ادبي او دَ علم وحکمت نه ډکه شاعري ئے لوستے وے، کومه چه دَ انسان دَ فطرت په هر اړخ رڼا غورزوي نو کورے چه بیا به ئے لا دَ خوشحال خان په تعریف او صفت کښې څهٔ لیکل. حقیقت دا دے چه دَ اقبال خپل ادبي، شاعرانه او فلسفیانه مزاج، خوشحال خان ته ډومره نزدے وُو چه هغهٔ دَ لږ څهٔ نه. دَ خوشحال خان دَ شاعرئ او شخصیت اندازه واخسته. او دَ هغهٔ مدّاح شو. او دا ئے غوښتل چه دَ برصغیر مُسلمانان دَ خوشحال خان دَ افکار واو تعلیماتو نه مستفید شي. ځکه چه هغهٔ دَ خوشحال خان په شاعرئ کښې دَ ژوند او حیات پیغام لید و. او دَ هغهٔ خپلو خیالاتو ته دَ خوشحال خان شاعري نزدے وه. خو دَ دے دا مطلب نهٔ دے لکه څنګه چه ځمونږ دَ دور ځنې پوهان لیکي، چه دَ خوشحال خان "پښتو" دَ اقبال "خودي" ده. او په دواړو کښې هیڅ فرق نشته دے. مونږ دَ "پښتو" دَ کلمے تشریح په وضاحت سره کړے ده. دَ "پښتو" او چت او ښهٔ اړخ شجاعت، مړانه، سخاوت، میلمستیا، غیرت، همت، اولوالعزمي استقلال او دَ ارادے پخنګي وغیره اسلامي صفات دي. خو په "پښتو" کښې ځنې غیر اسلامي عناصر هم شته. برخلاف دَ دے دَ اقبال "خودي" دَ یو مکمل اخلاقي نظام دَ لاندې، دَ فرد او دَ ملّت دَ تربیت نوم دے. مونږ دلته دَ اقبال دَ خودئ او بیخودئ په فلسفه مختصر شان بحث کوُو. چه لوستونکو ته دا فرق واضحه شي.

دَ خودئ کلمه، دَ خودسرئ او غرور په معنو کښې مستعمل ده. خو اقبال دا کلمه دَ شخصیت دَ اسلامي اخلاقي تربیت په معنو کښې استعمال کړه. یعني اقبال خودي، دَ خود شناسئ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خدائے شناسئ په معنو کښې استعمالوی۔ او د شخصیت تربیت د تَخَلّقُو با لاخلاق الله د اصول مطابق کول غواړی چه دا د توحید فلسفه ده۔ توحید محض تر یو خیاله۔ یا یو اعتقاده، یا یو نظریئے پورے محدود نهٔ دے۔ د توحید بے انتها برکات دی په مدعائے تکمیلِ بشریت دے۔ او نائبِ حق جوړیدل دی۔

فقراء وائی چه فکر او ذکر د قلب وظیفه ده، عشق د روح وظیفه ده۔ او عرفان د سِرّ وظیفه ده۔ د توحید په اصولو او تعلیماتو د مؤمن فقیر تربیت او د هغهٔ د شخصیت یا د خودی نشو ونما هم په دغه درے تدریجی مدارجو کیږی، چه غایت ئے نیابت یا عرفان دے۔

اوله مرحله په دے لاره کښے د مکمل اطاعت ده۔ یعنی د شریعت مکمله پابندی او د هرے لوئے وړے ګناه نه ځان ساتل۔ دویمه مرحله، د ضبط نفس او / طریقت ده۔ په دے مرحله کښے بنیادم به د امراضِ قلب یا د سفلی خودئ نه ځان ساتی۔ رذیل او حیوانی خواهشات به وژنی او په زړهٔ کښے به رحمانی او ربّانی او تخلیقی او مطهر خواهشات پیدا کوی۔ او دریمه مرحله د نیابت، حقیقت یا د خدائے شناسئ یا د عرفان ده۔

ډاکټر اقبال د خودئ د فلسفے د تشکیل دپاره د مغرب او مشرق د فلسفیانو، عالمانو، صوفیانو او شاعرانو د افکارو نه استفاده کړے ده۔ او د خودئ ارتقائی مدارج ئے قائم کړی دی۔ او د خودئ په فلسفه ئے ځان پوهه کړے دے۔ د خودئ د تربیت په سلسله کښے اوله مرحله د ځان د پیژندلو ده۔ په دے حقله په مغربی فلسفیانو کښے اقبال د فشټے د ایغو یا ایګو یا د خودئ د نظریئے نه متاثر شوے دے۔ او د خودئ د ارتقائی نشو ونما قائل شوے دے۔ هغهٔ د ایګو ترجمه خودی او کړه۔ او خود به معنیٰ ئے ځان، او خودی د ځان متعین کولو یا پیژندلو په معنو کښے ئے استعمالول شروع کړل۔

د خودئ د پیژندلو په سلسله کښے اول سوال دا پیدا کیږی چه دا "زهٔ" یا ځان د بنیادم څهٔ څیز دے؟ دویم سوال دا دے چه دا ځان پیژندل څهٔ دی؟ او دریم دا چه دا "زهٔ" یا "ځان" ته ارتقائی نشو ونما ورکول څهٔ څیز دے؟

د دے درے واړو سوالونو جواب بنیادم هله بیاموهی چه په خپل شخصیت کښے د عمل یو والے پیدا کړی، یعنی د توحید په لاره روان شی۔ په ځان کښے د عمل یو والے څهٔ څیز دے۔ نو دا د خپل شخصیت د توحید د اصولو او تعلیماتو مطابق بنا کول یا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعمیر کول دی . دا دَ شخصیت دَ ظاهر او باطن تعمیر دے . او دَ مُسلمان دپاره دغه تعمیر، دغه عمل، یعنی دَ توحید په اصولو، یعنی دَ قرآنِ پاک په تعلیماتو عمل کول اخلاق عمل دے او اخلاق ژوند دے . او اخلاقی ژوند دَ مُسلمان اخلاق پوهه یا دَ روح پوهه زیاتوی . دَ نتشے دَ فوق البشر دَ خیال نه، اقبال دَ انسانِ کامل خیال اخذ کړے دے . نتشے دَ اطاعت او ضبطِ نفس دوه مدارج دَ انسان دَ ارتقائی نشو و نما دپاره مقرر کړی دی . خو دَ دے نه وړاندِ هغهٔ سره څهٔ مثبت فلسفهٔ حیات نهٔ وه . دلته هغه او نښتو . او حیوانی طاقت حاصلولو ئے دَ بنیادم دپاره دَ فوق البشر په شکل کښے دَ ارتقا انتها اوګرځوله . نتشے نهٔ دَ خدائے قائل ؤو، نهٔ دَ موجوده بنیادم دَ خیر او شر او دَ عُقبیٰ او آخرت . دَ هغهٔ قلب دَ مومن ؤو خو دماغ ئے کافر . یعنی هغهٔ په خپل جذباتِ قلب او افکارِ دماغ کښے تمیز نهٔ شو کولے .

اقبال دَ توحید په فلسفه پوهیدلو . هغهٔ دَ قرآن پاک دَ تعلیماتو په رنړا کښے . دَ انسانی روح په ارتقائی مدارجو کښے دَ قربتِ الٰهی یا نیابتِ الٰهی مقام آخری او حتمی مقرر کړو . او دَ خپلے ټولے شاعرئ مغز ئے نیابت الٰهی اوګرځولو . دَ نتشے دَ فوق البشر انتها دَ چنګیز او دَ هلاکو په شان دَ حیوانی طاقت مجسمه جوړیدل دی . خو دَ اقبال دَ نائبِ حق یا مردِ مومن انتها او منتها دَ رسول اکرم صلعم اوچت او مقدس شخصیت دے .

دَ "ډارون" نه ډیر وړاندِ "رومی" دَ ارتقا خیال پیش کړے دے . دَ ډارون ارتقا خو صرف دَ امیبا نه، دَ انسان تر موجوده شکل پورے محدوده ده . دَ رومی ارتقا، دَ جمادات نه شروع کیږی نباتات ته رسی . او دَ نباتات نه حیوانات ته . او دَ حیوانات نه انسان ته رسی . دَ انسان نه تر فرشتو . او دَ فرشتو نه وړاندِ دَ روح ارتقا، او دَ روح دَ ارتقائی مدارجو معراج ذاتِ پاک او واحد دے .

محی الدین ثانی چه مشهور په العربی دے، هم دَ انسانی روح دَ ارتقائی مدارجو ذکر کوی . او دَ روح په نشو و نما بحث کوی . او الجبلی هم دَ انسانِ کامل تصور چه پیش کوی، نو دَ روح په ارتقا زور ورکوی . خو دَ اقبال دَ خودئ ارتقائی مدارج دَ متقدمینو په دے سلسله کښے، همه کاؤش په یوه منظمه او مکمله طریقه پیش کول دی . دَ اقبال خودی دَ قوتونو نه آګاهی، یا سیرِ جان نه شروع کیږی . او سیرِ جهان ته ځان پیژندلو، یعنی دَ خپلو قوتونو نه آګاهی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوری ځي ـ اول ځان قابو کول دي اودا په اطاعت او ضبطِ نفس سره ـ چه ځان د فتح کړد نو بیا دَجهان تسخیر دے ـ یعنې جهان آګاه به جوړیږے ـ ماهرِ نفسیات، دَخود آګاه، جهان آګاه او خدا آګاه درے مدارج په خپله ژبه کښے دا سے بیانوی ـ چه اول شعورِ ساده دے ـ بیا شعورِ ذات دے ـ او بیا شعورِ کائنات ـ شعورِ ساده دَغفلت ژوند دے ـ شعورِ ذات خودآګاهي ده ـ یا دَ بیدارئ ژوند دے ـ او شعورِ کائنات، ژوند بیا موندل، یا په ژوند حاوی کیدل دی. دَحقیقتِ اشیاء عِلم آخری علم دے ـ او دا دَ علم انتها ده ـ

صوفیاء، لکه څنګه چه ما وړاندِ ذکر کړے دے، دا درے مدارج دا سے بښائی ـ ذکر او فکر دَ قلب وظیفه ده، عشق دَ روح وظیفه ده او عرفان دَ سِرّ وظیفه ده ـ برګسان وائي چه بنیادم کښے درے بنیادی ځیزونه دی ـ اول غریزه، یا شعورِ ساده دے ـ دوېم عقل او دریم عشق یا وجدان ـ عقل ته په شعورِ ساده فوقیت دے ـ او عشق یا وجدان ته په عقل ـ

اقبال دَخودئ دَ فلسفے په تشکیل کښے، په مشرقی صوفیاؤ کښے، ډیر امداد دَ رومی نه اخستے دے ـ او په مغربی مفکرینو کښے دَ فشټے، نټشے او برګسان نه، خو دَ اقبال دَخودئ فلسفه په حقیقت کښے دَ قرآنی تعلیماتو فلسفه ده چه بنیاد ئے توحید دے ـ او اسلامی، اخلاقی نظام پیش کوی ـ او دَ مومن دَ روحانی او اخلاقی تربیت لار ښائی ـ

دَ بیخودئ معنیٰ بے هوشی، مدهوشی یا الیونتوب دے ـ خو اقبال لکه دَخودئ په شان دَ بیخودئ تکے هم په یوه نوے معنیٰ کښے استعمالوی ـ دَ اقبال تر نزده بیخودی دا ده، چه سړے دَ معاشرے په خاطر، یا دَخدمتِ خلق په خاطر دَخود غرضئ، او دَ ځان دَ منفعت ژوند پریږدی ـ یعنې خپله انفرادی خودی، په ملی خودئ کښے مدغم کړی ـ

دَ اقبال خیال دے چه دَ انفرادی خودئ دَ نشو ونما او تربیت دپاره معاشره پکار ده، یوه دا سے صالحه معاشره چه انفرادی خودی ورکښے تربیت بیا مومی ـ او دا اسلامی معاشره ده ـ

دَ مُسلمان دَخودئ تربیت به هله کیږی چه دَ خپلے خودئ دَ تربیت سره سره دَ معاشرے تربیت هم کوی ـ او دغه شان اسلامی معاشره به ورځ تر ورځه په اخلاقی ژوند کښے ترقی کوی ـ دَ ملت اجتماعی ژوند به دَ ترقئ په لور روان وی ـ او دَ ملت ملی سیرت به،

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلامي اخلاقي شروندکښې خپل معراج ته رسي.

دَ اقبال تر نزده په معاشره کښې دَ فرد منفرد حیثیت به قائم وي. قطره به دریاب کښې ځان نهٔ فنا کوي. بلکه قطره به په حیثیت دَ یوې مرغلرې قائمه او جاودان وي. اودَ ټول دریاب دَ ښائست باعث به وي. دَ انفرادي شخصیت ختمول اسلام کښې نشته. بلکه اسلام کښې دَ شخصیت قائمول شروند دے. اقبال دَ دے قائل هم نهٔ دے چه دَ الله پاک په ذات کښې دَ مومن ذات دِ مدغم او فنا شي. بلکه اقبال وائي چه دَ صالح مومن شخصیت ته فنا نشته. صالح مومن به دَ باري تعالیٰ په آغوشِ شفقت کښې تل تر تله ژوندے وي. او ځان ته یو منفرد شخصیت به لري. دَ قطرے عزت دا دے، چه په ځان کښې قائمه وي. دَ قطرے عزت دا نهٔ دے چه په سمندر کښې فنا شي.

دَ اقبال شاعري او دَ اقبال دَ خودئ فلسفه په حقیقت کښې دَ قرآنِ پاک دَ تعلیماتو یا دَ توحید دَ تعلیماتو او اصولو او اخلاقي نظام یوه شاعرانه او ادبي شرحه ده.

دَ خوشحال خان شاعري له دے قسمه، هیڅ جامع او منظمه اسلامي فلسفهٔ حیات نهٔ لري. دَ خوشحال په شاعرئ کښې ځائے په ځائے اسلامي تعلیمات بیا موندے شي. او دَ اسلامي اخلاقو، دَ اسلامي مشاهیرو، او دَ اسلامي فلسفهٔ حیات ستائنه کوي. خو په حقیقت کښې دَ خوشحال خان دَ شاعرئ امتیازي غښتنه داده چه دا دَ پښتو او دَ پښتون دَ صفاتو او ژوند شارحه ده. دَ دے نه علاوه دَ خوشحال خان په شاعرئ کښې دَ انساني فطرت غرقه مطالعه ده. خوشحال خان نهٔ صرف افغان شناس ؤ بلکه انسان شناس هم ؤ.

اقبال خپل اکثر خیالات او افکار دَ مغرب او مشرق دَ مفکرینو، صوفیاؤ، عالمانو، فلسفیانو او شاعرانو دَ کلام نه اخذ کړي دي. او دَ هر چا نه ئے خکه کړے ده. مثلاً عشق په عقل دَ فضیلت خیال ئے دَ رومي نه، دَ انساني روح دَ ارتقائي مدارجو خیال ئے دَ ابن العربي نه، الجیلي او رومي نه، دَ سختئ او سخت کوشئ او دَ فوق البشر یا انسانِ کامل خیال ئے دَ نټشے نه دَ حرکت او تغیر خیال ئے دَ برګسان نه، او دَ مردانه پرندو لکه باز، شاهین، عقاب، دَ همت، جرأت او مردانګئ خیال ئے دَ خوشحال خان او نټشے نه. خو سره دَ دے دَ اقبال خپل فکر او تخیل ډیر اوچت ؤ. او هغهٔ چه دَ هر ځائے نه څهٔ خیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



او فکر اخستی دے، په هغې کښې ئے قابلِ قدر اضافه کړے ده. او یو داسې نوے انداز او نوے شاعرانه او ادبي جدت او لذت ئے ورکښې پیدا کړے دے، چه داسې نه ښکاري، چه گوندې هغهٔ زاړهٔ شراب په نوے پیاله کښې پیش کوي. بلکه داسې معلومیږي چه هغه نوي شراب په نوے پیاله کښې پیش کوي. او د هغهٔ ټول خیالات او افکار طبعزاد دي. د بل چا نه ئے هیڅ نهٔ دي اخذ کړي.

اقبال چه په کومه دلاویزه، ادبي او شاعرانه رنګ کښې اسلامي تعلیمات، زمونږ د زمانے مغرب زده مُسلمانانو ته پیش کړي دي، د دے په برکت په هغوئ کښې څهٔ نه څهٔ اسلامي روح بیدار شوے دے. او د اسلام د تعلیماتو احیاء شوے ده. او دا بیشکه چه یو ډیر قابلِ قدر خدمت دے. مُسلمان ملت د ډاکټر اقبال داګران قدر خدمات هیڅ نهٔ شي هیروُلے. هغه یوازے د برِصغیر د مسلمانانو مقبول او مشهور شاعر نهٔ دے بلکه هغه شاعرِ اسلام دے. د هغهٔ شاعري د ټولے دُنیا د مُسلمانانو د اتحاد، اتفاق او ترقۍ دپاره د ژوند پیغام دے.

اقبال د خوشحال خان خټک نه تقریباً درے سوه کاله روستو پیدا شوے دے. او ډیر موده ئے د مشرق او مغرب په کالجونو او یونیورسټو کښې سبق ایزده کړے او سبق ښودلے دے. په دے وجه دا اقبال د علم وسعت ته خوشحال خان خټک نهٔ رسي.

د خوشحال خان خټک ټول علم د هغه زمانے تر مکتبونو، یا د چا ملاسره په جماعت یا په کور کښې تر څو کتابونو لوستو پورے محدود وُو. خو خوشحال خان پیدا شوے جینس یا نابغه وُو. هغهٔ ته د کالجونو او یونیورسټو د علم ضرورت نهٔ وُو. هغهٔ ته په اقبال دا فوقیت دے چه هغه یوازے د گفتار غازي نهٔ دے بلکه د کردار غازي هم دے. د هغهٔ ټول عمر په جنګونو او قتل وقتال او قید ونو بندونو او د کورا او د بهر خانه جنګیا نو کښې تیر شوے دے. او ژوند هغهٔ ته د تالیف او تصنیف یا د لوستلو او لیکلو د کار دپاره ډیر کم فرصت ورکړے دے. خو سره د دے هغه د یو ضخیم کُلیات خاوند دے. او نهٔ یوازے شاعر دے، بلکه حکیم دے، فلسفي دے، سیاستدان دے. ماهر نفسیات او جنسیات دے. قانون دان دے، حاکم دے، ښکاري دے، لیډر دے، سپاهي دے، جرنیل دے، عالمِ دین دے. مترجم دے. او د درځنو کتابونو مصنف دے. او هر یو کتاب ئے تقریباً په نوي موضوع او په نوي مضمون لیکلے دے.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان ختک خپل شاعرانه افکار او خیالات دَ خپل ژوند دَ تجرباتو او مشاهداتو نه اخذ کړي دي. هغه دَ انساني فطرت بالعموم او دَ پښتون دَ ژوند بالخصوص یو ډیر لوئے ترجمان او مُفسِّر دے. او دَ باز و شاهین دَ ښکار نه چه څومره شاعرانه او ادبي مضامین او تشبیهات او استعارات هغهٔ ایستي دي، دا ټول دَ هغهٔ په ذاتي تجربه او مشاهده مبني دي. شاید چه دَ اقبال نه سوا بل یو شاعر هم دَ دے مضمون نه دومره تشبیهات او استعارات نهٔ دي اخذ کړي.

خوشحال خان په حیثیت دَ یو شاعر ډیر لوئے شاعر تیر شوے دے. البته اقبال په حیثیت دَ یو فلسفي شاعر او دَ اسلام دَ فلسفهٔ حیات دَ مفسر او ترجمان ډیر لوئے مفکر دے. او په دے کښے دَ خوشحال خان او دَ اقبال هیڅ مقابله نشي کیدے.

دَ خوشحال خان په شان همه ګیر او همه دان شخصیت پیدا کول ګران دي. دا هغه شخصیت دے چه په پیړو پیړو کښے هم نهٔ پیدا کیږي.

عجیبه خبره ده چه دَ اقبال او خوشحال خان په شاعرانه افکارو کښے دومره زیات توارد دے چه میرعبدالصمدخان دَ دے شاعرانه توارد په برکت دَ دوئ په پیغام او تعلیماتو یو ضخیم کتاب لیکلے دے. او دا ئے ثابته کړیده چه دَ پاکستان دَ دے دواړو لویو شاعرانو بنیادي تعلیمات یو دي. او هغه اسلامي دي. او دا غلط فهمي ئے لرے کړے ده چه دَ پښتنو دا عظیم شاعر محض نسل پرست ؤ. او ټوله شاعري ئے محض دَ نسلي عظمت دپاره کړے ده.

میرعبدالصمدخان په دعوی سره وائي. او څهٔ ورسره اتفاق دے چه دَ پښتو ژبے دا عظیم شاعر پاک او وچت مُسلمان ؤ. او دَ پاکستان شاعر ؤ. او لکه دَ اقبال په شان دَ مُسلمان ملّت رهنما ؤ. او دَ دے خبرے ثبوت دَ هغهٔ خپل خیالات او افکار دي.

دَ خوشحال خان ختک نسلي شاعري او دَ اورنګ زیب مخالفت، محض یو بحث خیز ؤ. او دَ هغے دَ جواز دپاره موږ په تفصیل سره وضاحت کړے دے، خو دَ هغهٔ دَ شاعرئ عظمت په دے کښے دے چه هغه دَ انساني فطرت نباض ؤ. او دَ هغهٔ فلسفهٔ حیات مردانه ده. او دَ ژوند دَ مردانه اقدارو تبلیغ کوي. او په دے صفتونو کښے دَ اقبال او خوشحال په شاعرئ کښے ډیر نزدیکت دے.

اوس به موږ دَ خوشحال او اقبال دَ څهٔ هغه موضوعاتو ذکر او کړو کوم چه دَ دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو ولویو شاعرانو په شاعرئ کښې مشترک دی۔

## دَ اقبال شاهین اودَ خوشحال شاهین

دَ اقبال شاهین دَ مردِ مومن دَ اخلاقي ژوند، او اخلاقي خوئي بوئي او صفاتو نمونه ده۔ دَ مردِ مومن دَ اوچت کردار دَ بیانولو دپاره، هغه دَ باز، شاهین، شهباز او عقاب صفتونه اوخوئ بوئ په ګوته کړي دي. خوشحال هم دَ دے مردانه پرندو صفات، یعنی مړانه، جرأت، بلندپروازی، همت او پاکیزه فطرت، دَ اوچت او اعلیٰ کردار او شخصیت دَ انسان دَ خوئ بوئ او خوبیانو بیانولو دپاره استعمال کړي دي۔

دَ دواړو لویو شاعرانو شاهین، دَ اوچت انسان دَ صفتونو او مردانه خوبیانو مظهر دے۔ یعنی شاهین دَ پرندو او مارغانو دَ دُنیا قلندر دے۔ او قلندرانه خوبئ لری۔ او مردِ خدا یا اوچت اخلاق انسان دَ بنیادمو دَ دُنیا شاهین دے۔

استعارات او تشبیهات چه دَ شاهین او باز دَ خوئ بوئ نه اقبال او خوشحال اخستی دی په هغې کښې فرق صرف دا دے چه خوشحال خپله ښکاری ؤو او هغهٔ دَ خپلے مشاهدے او تجربے په بِنا دَ باز او شاهین دَ مردانه، قلندرانه، درویشانه او مجاهدانه خوبیانو نه خبر ؤو۔ اودَ اقبال په دے سلسله کښې خپله مشاهده او تجربه نهٔ وه۔ خو هغهٔ دَ خوشحال خان او نټشے په شاعرئ کښې دَ دے پرندو دَ مردانه صفاتو دَ ذکر اذکار نه متأثر شوے دے۔ او هغهٔ ته چه دَ مردِ مؤمن دَ مردانه کردار، دَ شاعرانه تشریح ضرورت پیښ شوے دے نو هغهٔ باز او شاهین طرف ته رجوع کړے ده۔ او دَ دے پرندو دَ خوئ او بوئ نه ئے اوچت شاعرانه مضامین پیدا کړي دي۔

## فلسفهٔ ستیز او سخت کوشی

په اقبال او خوشحال دواړو کښې دَ سخت کوشئ او ستیز او جدّ وجهد په فلسفه زور دے۔ او دواړه دَ سخت کوشئ او جفا کشئ صفات او عادتونه دَ ژوند ښکښه او دَ ژوندی اوسیدو دپاره لابُد او لازمی ګنړی۔

دَ اقبال مخاطبه، تن آسانی، تباه شوی، منتشر، پست او پریوتی مُسلمان قوم طرف

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وه - او دَ هغهٔ ترنژده دا تباهي په مسلمانانو کښې دَ عجمي تصوّف، دَ بيکاره او جمود ګړ فلسفې دَ قبلولو په وجه راغلې وه - او دا دَ وحدة الوجود دَ مسئلې براهِ راست نتيجه وه - په مسلمانانو هغه وخت راغلې ډو کوم چه په عيسائي قوم يو وخت کښې تيرشوې وُو - په يوه زمانه کښې عيسايان دا سې بے عمله او تن آسانه شوي وُو چه په دے بے ځايه بحثونه کول چه عيسي عليه السلام خمبيره روټۍ خوړله او که نهٔ پتيره - او په دے بحث کښې دا سې يو وخت وُو چه په قسطنطنيه کښې دَ ټول يورپ لوئے لوئے عيسايان پادريان جمع شوي وُو - او فوځونه او بادشاهان هم جمع شوي وُو - او دَ پادريانو بحث ئے آوريدلو - په دے کښې چا ورته اووے چه دَ مُسلمانانو فوځونه راغلل او ساعت ګړئ ته به دَ ښار نه چاپيره شي - مقابلے ته تيار شئ. خو پادريانو ورته جواب ورکړو چه دَ دښمن مقابله ضروري نهٔ ده - خو دا ضروري ده چه فيصله اوشي چه حضرت عيسيٰ عليه السلام به خمبيره ډ ډوډئ خوړله او که پتيره - په دے کښې دَ مُسلمانانو فوځونه راغلل او بے ډزه ډوزه ئے ښار واخستو - او پادريانئے سره دَ فوځونو بندي کړل -

په عيسائي دُنيا کښې دَ دے ذهنيت خلاف په اول ځل ډير په شدت سره نټشے آواز اوچت کړو - او عيسائي دُنيائے دَ مرګ دَ خوب نه را اولړزوله - نټشے خپله لامذهبه ؤو - خدائے پاک ئے نهٔ منلو - او عيسيٰ عليه السلام ته ئے بُزدل، بے ښے او بے عمله وے - او دَ مسيحيت خلاف ئے سخت جهاد کړے دے خو عيسائي دُنيائے دَ سخت کوشئ او دَ ستيزه دَ عمل خواته راوا ړوله - اقبال دَ نټشے متعلق وائي:-

آنکه بر طرز حرم بُت خانه ساخت
قلب او مومن دماغش کافر است

اقبال چه يورپ ته لاړ و نو دَ يورپ په دُنيا دَ نټشے او برګسان افکار خواره وُو - اقبال دَ دے دواړو لويو فلسفيانو دَ خيالاتو او افکارو نه ډير متأثر شو - او هغهٔ چه دَ دُنيائے اسلام جائزه واخسته نو دے نتيجے ته اورسيد و چه دَ مُسلمانانو دَ جمود او مرګ علاج دَ دے چه مخے دَ ژوند جفاکشئ او سخت کوشئ طرف ته شي - او دَ ژوند دَ بے پناه جدوجهد دَ پاره ئے ځان تيار کړي -

هغه وخت دَ نټشے دَ فلسفے دَ اثر لاندِ دَ يورپ دا نعره وه چه دَ خطرے او دَ جنګ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجهد ژوند تیرول پکاردی. اقبال داخیالات جذب کړل او مُسلمانانو ته ئې هم دغه سبق ورکول شروع کړل. ـــه

به دریا غلط و باموجش درآویز
حیاتِ جاودان اندر ستیز است

دَخوشحال خان خطاب پُښتنې معاشرے ته وُو. پښتانهٔ بے عمله او تن آسانی خو نهٔ وُو. بے اتفاقه او خوارهٔ وارهٔ پراتهٔ وُو. او دَ سیاسی نقطهٔ نظر نه ورباندِ ادبار او جمود خور وُو. خوشحال خان په هغوئ کښے دَ سیاسی شعور، ننګ، مړانے، جرأت، بهادرئ، همت، حمیت، پت، قومی غیرت، پښتو او آزادئ تبلیغ شروع کړو. او په پښتنو کښے ئې دَ اتفاق پیدا کولو او دَ ملی ننګ راپیدا کولو کوشش او کړو.

خوشحال دَ اقبال او دَ یورپ دَ سخت کوشئ او دَ ستیز دَ علمبردارانو مفکرینو نه په سوونو کاله وړاندِ تیرشوے وُو. هغهٔ دَحیات دا فلسفه دَ پښتنو دَ مخصوص ماحول نه جذب کړے وه. دا فلسفه په حقیقت کښے دَ پښتنې معاشرے دَ امروزه ژوند جزولاینفک دے. او دا ځیز دَ پښتون قوم په رګ و ریشه کښے اخپلے راغلے دے. پښتون بغیر دَ جفاکشئ، سخت کوشئ او دَ خطرے ژوند هډو ژوندے پاتېدلے نهٔ شی. دَ پښتون قوم دَ مخصوص ماحول دا تقاضا ده چه پښتون به دَ جدوجهد، خطرا او مړانے ژوند تیروی. خو دَ مغلو دَ زبردست شهنشاهیت دَ اثر لاندِ دَ پښتنو دَ ملی ننګ جذبه، څهٔ لږه ډیره سړه شوے وه. او خوشحال خان په پښتنو کښے دَ ژوند ګرمی او حرارت بیا را الرزول غوښتل، او دَ پښتون په قومی حمیت او غیرت کښے ئې ساه اچوله.

اقبال چه کوم مُسلمان مخاطب کولو، دا کهٔ یو طرف ته دَ عجمی تصوف، جمودی فلسفے زېلے وُو نو بل خوا ته دَ یورپینو اقوامو زبردست شهنشاهیت هم زبېلے او تباه کړے وُو. په نولسمه صدئ کښے دَ یورپینو اقوامو دا پالیسی وه چه مُسلمان ملّت برخې برخې او تار په تار کړی. او دَ هغوئ نه دَ پان اسلامزم او دَ اسلام دَ عالمګیر او بین الاقوامی اخوت، برادرئ او رورولئ جذبه اوباسی. او دَدے په ځائے په هغوئ کښے نسلی قومیت پیدا کړی. او دَ نسلی قومیت په شر او فتنه ئې دَ یو بل نه جدا کړی.

اقبال کوشش کولو چه په تباه شُده، بے اتفاقه او مفلوک الحال مُسلمان ملّت کښے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي اخلاق بيا راژوندي کړي. او هغوئ کښې دَ اسلام دَ عالمګير اُخوّت جذبه را ولړزوي. او هغوئ کښې دَ پان اسلامِزم هغه زوړ سياسي شعور بيا را بيدار کړي. کوم چه هغوئ دَ يورپ دَ سياست دَ اثر لاندِ هير کړے وُو.

دَ اسلامي اخلاقي ژوند دَ احياء په سلسله کښې هغهٔ دَ ستيز، جد وجهد او دَ سخت کوشش په ژوند زور ورکړو. او مُسلمانانو ته ئې همت، شجاعت، حميّت، غيرت او اسلامي فقر ورانديز کړل. او دَ دے اقدار و دَ خپلولو دپاره ئې زبردست جهاد او کړو. او مُسلمانانو ته ئې سبق ورکړو چه يو موټے شئ. متفق او متحد شئ او دَ توحيد دَ حفاظت او اشاعت دپاره لکه دَ چټانو مُسلمانانو په شان ملا او تړئ. اقبال دَ شهنشاهيت، سرمايه دارانه او جاګيردارانه نظام خلاف هم سخت جهاد او کړو. او مُسلمانانو ته ئې اووے چه دا دَ غيراسلامي طرزِ حکومت شاطرانه چالونه دي. دَ دے نظام نه ځان او ساتئ. اسلام کښې دين، سياست دے، او سياست دين. دين چه دَ سياست نه جدا شي نو چنګيزي پاتے شي. او سرمايه دارانه نظام دَ چنګيزئ مختلف شکلونه دي. هغهٔ غريب، خوار، نادار مُسلمان، يعني مزدور او زميندار ته په چغه اووے چه دَ دے لعنت او ظلم نه ځان خلاص کړئ. اسلام کښې شهنشاهيت او سرمايه داري نشته.

هغهٔ دَ وطنيت مخالفت هم او کړو. او په زوردارهٔ الفاظو کښې ئې مُسلمانان خبردار کړل چه نسلي او وطني قوميت غيراسلامي دے. دا دَ مُسلمانانو دَ برخې برخې کولو دپاره يورپ يوه حربه رااېستي ده. او مُسلمان وطنونه او قومونه ئې په قصد په دے بلا اخته کړي دي.

## په خوشحال خان او اقبال کښې رجائيّت

خوشحال خان خټک ډير مُصيبتونه، تکليفونه، سختيځ، کړاوونه، ناکامئ او ناکاميابئ ليدلے وے. خو شاعرئ کښې ئې رجائيت زيات او قنوطيت کم دے. چه په قهرشئ نو دَ زمري او غړمبيږي. هرچا ته بد رد او وائي. خو لکه دَ بنځو دَ غم او وير، ژړا او سوګ نه کوي. زيات نه زيات خپلے خپلخانے ته، يعني خپلو ځامنو ته او خپلو وطنيانو ته دَ غيرت، پښتو، ننګ او پت پيغورونه ورکړي. او دَ بے همتئ، نفاق او دَ جمود دَ نشتوُ خوب نه ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ رابیدا ارولو کوشش اوکړی- په پښتو کښې دَ خوشحال خان دَ شاعرئ نه زیاته دَ رجائیت شاعری بله نشته-

دَ اقبال نه چارچاپیره دَ قنوطیت ماحول لکه دَ یوخول په شان چاپیره ؤو- او دَ شاعرئ او دَ ادب په کوم ماحول کښې چه هغهٔ سترګے غړولے وے- هغه ټول دَ قنوطیت نه لبریز ؤو-

دَ ولی دکنی نه واخله ترمیرؔ، میرؔدرد، غالبؔ، داغؔ او حالیؔ پورے دَ اس دو ټوله شاعری دَ غم سانډے وے- دَ درد اوښکے وے- دَ جمود او مرګ ساړهٔ ساړهٔ اسویلی ؤو- دَ ښځو انګولا او ژړا وه خودَ ژوند تانده او ښیرازه پلوشے ورکښے نهٔ وے- په دے ټول غم انګیز ماحول کښې حالیؔ غځهٔ لږ ډیر دَ ژوند آواز اوچت کړے ؤو- خو دَ هغهٔ مسدّس هم حقیقت کښې یوه اوږده مرثیه ده چه دَ ښځوانو مُسلمانانو لوئی او شان ژاړی- او دَ اوسنو مُسلمانانو په جمود، مرګ، ادبار او بے همتئ دَ غم او ښکے توئوی-

دَ اقبال شاعری دَ قنوطیت په دے فرسوده او مرګ آلود ماحول کښے، په حقیقی معنو کښے دَ ژوند چغه ده- دَ رجائیت آواز دے-

اقبال په دے کښے دَ خوشحال خان همنوا ښکاری- دَ اقبال شاعری لکه دَ خوشحال دَ شاعرئ په شان دَ ژوند نه ډکه ده- اقبال مُسلمان ملت ته دَ اسلام ژوندئ فلسفهٔ حیات وړاندِ کړه- او په دے وجه دَ اقبال په شاعرئ کښے لکه دَ غالبؔ دَ شاعرئ په شان شو ښمارن نهٔ ځلیږی، بلکه دَ هغهٔ په شاعرئ کښے، خوشحال ځلیږی او غرمبیږی-

## دَ خوشحال او اقبال په شاعرئ کښے آرزو، جُستجو او مُدّعا

ژوند دَ اُمید دویم نوم دے- پښتانهٔ وائی چه ژوند په اُمید خوږے شی- په ژوند کښے دَ رجائیت او تعمیری اُمید قائم ساتلو دپاره بلند خیالی، اوچته مُدعا، او دَ لوړو آرمانونو او خواهشاتو نه ډک زړهٔ پکار دے- چه مدعا او مقصد، هدف او مرام اُوچت وی- چه عزائم بلند وی- چه طریقِ عمل اوچت او اعلیٰ وی، نو نتائج او حصول به ئے اس و مرو اوچت وی- دَ نظر او خیال بلندی، دَ مدّعالوړوالے ئے سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال کښې زور دے بلند خیاله په بلند مقام به اوسې
څۀ علاج دَ پست خیالۍ کړه. ثریا نظر پیدا کړه

چه مدعا او مطلب اُوچت وی، نو دَیوه داسې مدّعا په حاصلولو، خوړولو او کامیابولو کښې طالب به هر وخت بوخت وی،ا و زُوبه ترقی او مخ په وړاندې به روان وی. کۀ اوچته آرزو، کۀ اوچته مدعا، اوکۀ اوچت ارمان نۀ وی، نو اوچت عمل به هم نۀ وی - دَ هر اوچت عمل دپاره دَ بنیاد په ډېره کښې تاند او اُوچت ارمان او خواهش ضروری دے - چه آرزو اُوچته وی، دَ هغې کامیابی مَخ نظر وی. نو بنیادم دَ ناکامیانو، بائلاتو او مخالفتونو پرواه نۀ کوی - خو همیشه نظر دَ مدّعا په کامیابۍ ساتی. او دغه شان نا اُمیدی ئې څرو ند کښې نۀ راځی -

دَ اقبال اوچته مدعا، دَ اسلام دَ شروع حجازی شان سر دوباره پیدا کول ؤو، او پرېوتی مُسلمان قوم ته دعوتِ عمل ؤو - اقبال داخپله اوچته مدعا داسې ستائی ـــ

نگاہِ عشق دلِ زندہ کی تلاش میں ہے
شکارِ مردہ سزاوارِ شاہباز نہیں

او خوشحال خان خټک داخپل اوچت مقصد داسې ستائی ـــ

لکه باز په لوئے لوئے ښکار څما نظر دے
نه چه ګرځی ګونګټ نیسی باد خورک یم

دَ خوشحال خان اوچته آرزو او لوړ آرمان، دَ مغل مقابله کښې، دَ پښتون راوچتول ؤو - او پښتون ته سر دوباره دَ هند حکومت ورپه لاس کول ؤو - او دَ پښتون دَ مغلو دَ شهنشاهیت نه خلاصول ؤو. او دَدے اوچتې مدعا دَ حصول دپاره هغۀ تر مرګه کلکه ملا تړلے وه - او تر مرګه ئې دَ مغلو سره جنګ جاری ساتلے دے - او دا لوړ مقصد په زړۀ کښې ګور ته آرمانی لاړ دے - دغه شان اقبال هم، دَ مُسلمان ملّت دَ شروع په زړۀ کښې ګور ته آرمانی لاړ دے - دغه شان اقبال هم، دَ مُسلمان ملّت دَ شروع حجازی شان، دَ سر دوباره راوستو آرزو او جستجو کښې درست عمر تیر کړے دے - او دَ مُسلمانانو یخوانے کردار او شان ئې ډیر ستائیلے دے - او هم دغه اوچت ارمان په زړۀ کښې دَ دُنیا نه رخصت شوے دے -

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په خوشحال خان او اقبال کښې حق گوئي، او بیباکي

دَ ډاکټر اقبال یو شعر دے ۔

آئین جوان مردان حق گوئی و بیباکی
اللہ کے شیروں کو آتی نہیں روباہی

خوشحال خان ختک دَ ډاکټر اقبال دَ دے شعر یوه ژوندئ نمونه وه ۔ دَ هغهٔ حق گوئي او بیباکي دَ هغهٔ دَ کلیات نه واضحه ده ۔ او دَ هغهٔ جوانمردی دَ هغهٔ دَ کردار نه ظاهره ده ۔ دَ خوشحال خان خپل کردار دَ شیر او شاهین دے ۔ او دَ هغهٔ شاعری دَ شیر او شاهین دَ کردار ترجمانه ده ۔ دَ خوشحال خان په شاعرئ کښې چه څومره حق گوئي او بیباکي ده، گمان نکړم چه دَ بل یو شاعر په شاعرئ کښې دا صفت په دے شدت سره بیاموندے شي ۔ دغه شان څمونږ په زمانه کښې دَ ډاکټر اقبال شاعری دَ حق گویئ او بیباکئ یوه داسے نادره نمونه ده، چه دَ خوشحال خان نه علاوه، بل دَ یو شاعر په شاعرئ کښې، دا صفت دومره په شدت سره نهٔ شي بیاموندے ۔

# دَ خوشحال ننگیال او دَ اقبال مردِ مومن

دَ مثالی او دَ آئیډیل انسان تصور ډیرو مفکرینو پیش کړے دے ۔ په مغرب کښې دَ نټشے دَ فوق البشر تصور په دے باره کښې شهرت لری ۔ خو چونکه نټشے دَ اسلام دَ توحید دَ فلسفے نه ناخبروُو ۔ په دے وجه دَ نټشے مثالی انسان کښې خامئ پاتے شوی دی ۔ هغه انسانِ کامل نهٔ دے ۔ دَ نطشے فوق البشر، دَ حیوانی طاقت او ابلیسی عقل یو قوی هیکل دیو دے ۔ خو دَ عشق نه عاری دے ۔ چونکه دَ مکمل انسان دپارهٔ مکمل جسم، مکمل عقل یا مکمل دماغ او مکمل عشق یا مکمل قلب ضروری دی، دَ دے دپاره دَ نټشے فوق البشر نامکمل پاتے شوے دے ۔

دَ مکمل جسم، مکمل عقل او مکمل عشق، مکمل او حسین امتزاج به مکمل یا آئیډیل بنیادم وی ۔ خو دا آئیډیل به همیشه آئیډیل وی ۔ دا عملی کیدے نشی ۔ افلاطون په خپل خیالی ریاست یاری پبلک کښې دَ خپل تصور مکمل حاکم، دَ فلاسفر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنګ یا فلسفي بادشاه په شکل کښې پیش کړے دے. خو فلسفي بادشاه کښې هم دَ عشق دَ عنصر کمے دے.

الجبلي "انسانِ کامل" نومې کتاب لیکلے دے. او په دے کتاب کښې هغهٔ دَ کامل انسان تصوّر پیش کړے دے. دَ الجبلي کامل انسان، دَ اسلامي تعلیماتو په رڼا کښې لیکلے شوے دے. په دے وجه دَ اقبال، انسانِ کامل ته په ځنې صفتونو کښې ډیر نزدے دے. خو دلیسے واضحه تصوّر نهٔ لري. لکه څنګه چه اقبال دَ مردِ مومن تصور په وضاحت سره پیش کړے دے.

دَ خوشحال خان خټک دَ ننګیال تصوّرهم، چونکه دَ اسلامي تعلیماتو په رڼا کښې جوړ شوے دے، په دے وجه دَ اقبال انسانِ کامل، یا مردِ مومن ته نزدے دے. دَ خوشحال خان خټک ننګیال دَ مردِ مومن په هغه صفتونو موصوف دے. خو بحیثیت مجموعي، دَ ننګ جذبه پرے غالبه ده. او په دے وجه دَ خوشحال ننګیال دَ ننګ دَ صفت یوه مقتدرترینه او مثالي نمونه ده.

دَ خوشحال خان دَ ننګیال په تصوّر دَ پوهیدو نه اول ضروري ده چه سړے دَ مردِ مومن، مردِ حُر او مردِ قلندر په تصوّر پوهه شي.

مردِ مومن دَ اسلامي فلسفهٔ حیات نمونه یا مثالي انسان دے. او دَ اسلامي فلسفهٔ حیات مغز او بُنیادي خیال دَ توحید دے.

توحید څهٔ څیز دے؟ دا صرف په یو خدائے تعالیٰ اعتقاد نهٔ دے بلکه دا دَ باریتعالیٰ عزّاسمهٔ صفات په قلب کښې جذب کول او پیدا کول دي. او دَ تُخَلِّقُوْا بِالْاَخْلَاقِ اللّٰه په فلسفه عمل کول دي. او دغه شان دَ اللّٰه پاک سره صفاتي مشابهت پیدا کول دي. دَ توحید لاره په حقیقت کښې دَ عشقِ الٰهي لاره ده. او حاصل ئے دَ مومن فقیر کردار او شخصیت دے. دَ توحید دَ خیال نه بل بلند خیال ناممکن دے. او همدغه شان دَ مومن فقیر دَ کردار او شخصیت نه بل بلند کردار او شخصیت ناممکن دے.

کوم بنیادم چه دَ توحید په لاره روان شي نو هغهٔ کښې دَ مردِ مومن صفات وده او کړي او دا صفات ورکښې ورځ تر ورځه محکم کیږي. او ځلا ئے نیسي. دا صفات په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت کښې الهی صفات دی۔ دَ مردِ مومن مکمل شکل دَ رسولِ پاکؐ خپل شخصیت دے۔ هر مسلمان ته پکار دی چه دَ رسولِ پاکؐ اخلاق ژوند خپل کړی۔ او دَ رسولِ پاکؐ صفات ځان کښې پیدا کړی۔

دَ اقبال دَ مردِ مومن هم دغه تصوّر دے۔ او هغه په مردِ مومن کښې هم دَ غه صفات گوری۔ او هم دغه صفات ورکښې پیدا کول غواړی۔ په دے وجه دَ اقبال مردِ مومن، مردِ آزاد، مردِ قلندر، مردِ کامل، او بندهٔ مولا صفات، لکه دَ نتشے په شان محض یو خیالی انسان نهٔ دے بلکه هغه یو عملی انسان دے۔ اسلام داسے بنیادم پیدا کړی دی۔ او همیشه به ئے پیدا کوی۔ علامه اقبال مردِ مومن داسے ستائی ؎

ہاتھ ہے اللہ کا، بندۂ مومن کا ہاتھ
غالب وکار آفریں، کارکشا، کارساز
خاکی و نوری نہاد بندۂ مولا صفات
ہر دو جہاں سے غنی، اُس کا دل بے نیاز
اُسکی امیدیں قلیل، اس کے مقاصد جلیل
اس کی ادا دل فریب، اس کی نگہ دلنواز
نرم دم گفتگو، گرم دم جستجو!
رزم ہو یا بزم ہو پاک دل و پاکباز

او خوشحال خپل ننگیال داسے ستائی:-

مرد هغه چه همت ناک، برکت ناک
دَ عالمه سره خوږ په زیست وژواک
مخ ئے مخ قول ئے قول عهد ئے عهد
نهٔ دروغ نهٔ ئے فریب نهٔ تش تپاک
لږ وئیل ډیرے کول په خاموشئ کښے
دَ غنچے غونډ خولهٔ پوره سینه چاک
چه خبره دَ پستئ دَ بلندئ شی
په لوړئ لکه آسمان په پستئ خاک
په تمکین کښے لکه سرو، په پستئ کښے
په هر لور ځانگے ځنگورے لکه تاک
لکه گل شگفته روئے، تازه باغ کښے
همیشه دَ بنو بلبلو پرے بلغاک

او گورئ چه دَ خوشحال ننگیال، دَ اقبال مردِ مومن ته څومره نژدے دے۔ او دا په دے چه دواړو دَ خپل تصوّر انسان، دَ قرآنِ پاک دَ تعلیماتو او دَ توحید دَ فلسفے نه اخذ کړے دے۔ او په خپل خپل رنگ کښے ئے رنگ کړے دے۔

...
...
...

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوشحال خان خټک او پاکستان

څو نور دَ دور دَ پښتو ژبې څخه لیکونکي دَ پاکستان جوړېدو نه پس دَ خوشحال خان اشعار او دَ خوشحال خان شخصیت په داسې رنګ کښې پېش کوي لکه چه خوشحال خان ته معلومه وه چه دَ هغهٔ دَ مرګ نه تقریبًا درې سوه کاله روستو به دَ هندوستان دَ هر نسل کُلهم مُسلمانان په شریکه دَ هندوانو او فیرنګیانو دَ متفقه طاقت، دَ مخالفت باوجود. ځان ته یو خود مختار، آزاد، جمهوري، اسلامي مملکت دَ پاکستان په نوم جوړوي - او دَ دغې پاکستان به خوشحال خان هیڅ بې هیڅه دښمن وي -

څما په خیال کهٔ نن خوشحال خان ژوندے وے نو هغه به اولنے سړے وے چه دَ خپلې تُورے او قلم په ذریعه به، دَ پاکستان خدمت او حفاظت ته کمرکس ولاړ وے - لکه چه دَ هغهٔ وطنیان پښتانهٔ نن پاکستان خپل آزاد، جمهوري، اسلامي ریاست ګڼړي - او دَ پاکستان دپاره خپل مال او سر دا وُکولو ته هروخت تیار دي - او دَ هغې عملي ثبوت دادے چه دَ پاکستان دَ جوړېدو سره، چه دَ پاکستان دَ هندوانو سره په کشمیر جګړه راغله، نو دَ پاکستان دا شمشیر زن مېړے دَ پاکستان په کار راغلے - او دَ کشمیر دَ غزا دپاره پښتانهٔ سر په تلي میدان ته راووتل او خپل مال او سرئې په کشمیر کښې دَ پاکستان دپاره داؤ کړل - او کهٔ صبا ته خدا نخواسته بیا هم په کشمیر یا په څهٔ بلې مِلّي تنازعے دَ پاکستان دَ کوم بیروني طاقت سره مقابله راغله نو پښتانهٔ به دَ پاکستان دَ حفاظت او سالمیّت دپاره دَ هرچا نه وړاندِ جنګ ته روان وي - او دا ځکه چه پاکستان دَ پښتنو خپل ریاست او خپل وطن دے. او دَ دے وطن ساتل هر پښتون خپل فرض او خپله مِلّي وظیفه ګڼړي -

پاکستان په حقیقت کښې دَ خوشحال خان خټک دَ خوبونو تعبیر دے - او خوشحال خان خټک کهٔ دَ مغلو دَ نسلي شهنشاهیت په ورانولو کښې کامیاب شوے دے - نو هغهٔ په هندوستان کښې دَ مُسلمانانو یو داسې ریاست قائم کړے ؤ، په کومو اصولو چه نن پاکستان قائم شوے دے - یعني یو داسې ریاست چه په هغې کښې دَ هر نسل دَ مُسلمان به یو شان برخه وے - او دَ ټولو مُسلمانانو به ورکښې یو شان حقوق او یو شان حیثیت وے - هغهٔ چه دَ مغلو دَ نسلي شهنشاهیت مخالفت کولو نو دَ هغې وجه دا وه چه هغهٔ محسوسوله چه په مغلي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهنشاهیت کښې دَ هر مُسلمان نه یوشان برخه ده اونهٔ ئې یوشان حیثیت دے۔ او دا هغهٔ ته غیر اسلامی فعل ښکاریدو۔ او دَ هغهٔ خیال دَو، خیال څهٔ چه حقیقت دُوچه دَ پښتون نه هیچرے مغل نهٔ شی جوړیدے۔ یعنی مغل پښتون ته هیچرے دَ خان سره سم حیثیت او برخه په حکومت کښې نهٔ ورکوی۔ او نهٔ ورسره دَ انصاف او دَ انسانیت سلوک کوی۔

خوشحال خان وائی سه

کهٔ هزار کاندِ پښتون مغل به نشی | بویه داچه دَ زړهٔ او باسی دا خیال

او دَ اورنګ زیب عالمګیر دَ بے انصافئ متعلق لیکی:-

په ناحق دَ اورنګ زیب په بند بندی یم | خدائے خبردے په تهمت او په بهتان

زړهٔ په څان کښې ګناه نهٔ وینم خدائے یودے | ولے نور خلق خبرے کا شان شان

دَ ګناه یم سررشته معلومه نهٔ ده | مګر خپل هُنر دَ خان وینم تاوان

بادشاهانو سره ترس دَ زړهٔ بائده دے | مروّت غور رسی، عدل واحسان

څوک به چا لره په داد، په فریاد ورشی

چه په ظلم راضی مند شول، بادشاهان

دَ دے نه صفا معلومیږی چه هغهٔ دَ مغلو او دَ مغلی اورنګ زیب هیڅ بے هیڅه دښمن نهٔ دَو۔ او نهٔ ئے په دے خیال دښمن دُوچه مغل، مغل دی۔ او دَ دے دپاره دَ دوئ مخالفت ضروری دے۔ هغه دَ مغلو دَ حکومت څکه مخالف شوچه هغهٔ ته معلومه شوه چه مغلی حکومت اسلامی حکومت نهٔ دے۔ دا محض یو نسلی شهنشاهیت دے چه دَ مغل نسل دَ فائدے لپاره قائم دے۔ او په زور ظلم او په بے انصافئ چلی۔ او بغیر دَ مغلونه دَ نورو مسلمانانو ورکښې هیڅ نشته۔ کهٔ چرے دَ پاکستان په شان دَ مغلو په حکومت کښې دَ ټولو مُسلمانانو یو شان حیثیت او یو شان برخه وے۔ او په انصاف او جمهوریت قائم وے نو خوشحال خان به ئے هیچرے مخالفت نهٔ وے کړے۔ بلکه هغهٔ به دَ یو داسے اسلامی حکومت دَ سالمیّت او حفاظت دپارهٔ هر وخت ملا تړلے تیار ولاړ وے۔ کوم خلق چه دَ پاکستان دَ جوړیدو نه پس، خوشحال خان په حیثیت دَ یو نسلی هیرو، په دے خیال پیش کوی چه دَ هغهٔ دَ شخصیت او اشعارو په ذریعه دَ پاکستان سالمیّت ته نقصان اورسئ او دَ پاکستان دَ آزاد، اسلامی جمهوری ریاست دننه، نسلی فرقے او

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسلي جګړې پيدا کړي او په دې چل ول پاکستان کمزورے کړي او بيائے ختم کړي.
نو دا خلق نه پوهېږي چې د پاکستان سره غداري کوي بلکه د خوشحال خان سره هم غداري او ظلم کوي. او د هغهٔ اسلامي تعليمات په غلط رنګ خلقو ته پيش کوي. په پاکستان کښې د مغل، افغان، پنجابي، بلوچي او بنګالي وغيره **يعني د ټولو** مُسلمانانو مساوي حقوق دي. او يو شان حيثيت لري. او هم دغه د خوشحال خان تعليمات ؤو.

عجيبه خبره خو دا ده چه کوم وخت د مغلو د شهنشاهيت ختميدو پسے دويم لوئے شهنشاهيت په دے وطن د فيرنګيانو راغلو، او دا وطن فيرنګيانو ونيولو. نو دغه وخت ؤو چه د فيرنګيانو د غيرملکي او غيرمذهبي شهنشاهيت خلاف. د خوشحال خان شخصيت او د هغهٔ اشعار استعمال شوے دے. خو په دغه وخت کښې زمونږ هغه رونړه چه اوس ئے خوشحال د خپلو سياسي اغراضو، سره ته د رسولو دپاره په پيرئے نيولے دے. هغه وخت د خوشحال خان په باره کښې داسے خاموشه ؤو، چه تا به وے چه ګني مارچو کړي دي او په خولهٔ تيک دي. خو اوس د پاکستان د جمهوري اسلامي حکومت خلاف، خوشحال خان په غلط رنګ کښې دُنيا ته پيش کوي. او د خوشحال خان غوندې پاک او پوخ مُسلمان نه ئے محض يو تنګ نظرے نسلي هيرو جوړ کړے دے. او هغه اشعار چه هغهٔ د مغلو د نسلي شهنشاهيت خلاف په تيره شوے زمانه کښې د مخصوص حالاتو په بنا وئيلي ؤو. او د هغه وخته سره ئے جواز لرلو. هغه نن د پاکستان د اسلامي حکومت خلاف، بے ځايه په غلط رنګ کښې استعمالوي، چه د موجوده حالاتو او زمانے سره، د دغے اشعارو هيڅ مناسبت نشته. خوشحال خان په دے رنګ کښې پيش کول محض د خوشحال خان سپکول دي. او هغه د اوچت شاعرانه مقام نه لاندې راغورزول دي.

د عصرِ حاضر د روح جُدا تقاضے دي. زمونږ په زمانه کښې او د خوشحال خان په زمانه کښې د آسمان او د مزکے فرق دے. موجوده زمانه د نسلي بادشاهئ او نسلي شهنشاهيت نه ده. په موجوده زمانه کښې د بنيادم دوه غټ دښمنان دي. يو ايټم بم او دويم نسلي شهنشاهيت. د بادشاهانو زمانه لاړه. اوس د عام خلقو د وقار زمانه ده. په دے زمانه کښې وړے وړے نسلي بادشاهئ جوړول، يا خانئ

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړول دَ بنی نوع انسان توهین دے. دا دَ وقارِ آدم زمانه ده. اصل نسل په دے زمانه کښے هیڅ معنیٰ نهٔ لری. هر بنیادم، کهٔ هغه تور دے او کهٔ سپین. کهٔ هغه مغل دے او کهٔ افغان، دَ بل برابر دے. او دَ بل په شان دے. دَ نسل او وینے په وجه ځے په یو بل فوقیت نشته، چه دَ هر نسل نه وی. نن ورځ هر بنیادم با وقاره، اخلاقی، معاشی، روحانی او کلتوری ژوند غواړی. او دَ نورو سره ئے سم غواړی. او په دے خوک نهٔ غولیږی چه دَ خپل نسل یو بنیادم دِ بادشاه کړی. او دَ دُنیا هر څهٔ دِ دَ بادشاه دپاره مخصوص کړی. او نور خلق دِ ذلیل، دَ خوارئ، نیستئ او وږُناورو په شان، ژوند په دے خیال تیروی چه دَ دوئ دَ نسل یو سړے بادشاه دے او هغه دَ بادشاهئ ژوند تیروی. دَ نسل په نوم څهٔ چه دَ غلط او رواجی مذهب په نوم هم دَ تیرو تلو زمانه لاړه. په هره زمانه کښے اقدار بدلیږی. زمونږ دَ زمانے، دَ نوی اقدارو نوے مطالبات او نوی تقاضے دی. دا دَ جمهوریت زمانه ده. او یوازے دَ سیاسی جمهوریت زمانه هم نهٔ ده. دا فی الحقیقت دَ اقتصادی جمهوریت او آزادئ زمانه ده. په دے زمانه کښے محض سیاسی آزادی هم څهٔ خیز نهٔ دے. کهٔ سیاسی آزادئ سره اقتصادی آزادی نهٔ وی نو دا سے سیاسی آزادی نن ورځ چلبازی کنړلے شی. او دَ غلامئ دویم نوم دے. کوم خلق چه په دے زمانه کښے خوشحال خان په دے خیال بوس بوس کوی، چه دَ خوشحال خان په نوم به دَ پخوانئ زمانے په شان دړے وړے نسلی خانئ او بادشاهئ جوړے کړی. او دَ دے عصر بیدار پښتانهٔ به دَ ذاتی اغراضو او مفادو په خاطر، دَ نسلی خانئ او بادشاهئ دپاره استعمال کړی. نو دا ئےتو دِ په سویره او تړی. هغه زمانه لاړه، هغه تیره هیره زمانه واپس نهٔ راځی.

وقتِ شعر و شاعری، بگذشت و رفت

# خوشحال خان دَ پاکستان شاعر

دَ ډاکټر اقبال متعلق همیشه وئیلے شی چه هغه دَ پاکستان شاعر دے. بے شکه چه ډاکټر اقبال دَ پاکستان شاعر دے. څهٔ خو په دے وجه چه هغهٔ دَ پاکستان تصور پیش کړے ؤو. او څهٔ په دے وجه هم چه دَ هغهٔ تعلیمات، دَ پاکستان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ رياست بنيادي اصول دي۔ او دا تعليمات دَ قرآنِ پاک او دَ اسلام دَ بنيادي خيال توحيد نه اخذ شوي دي۔ خوشحال خان خټک ته هم مونږ دَ پاکستان شاعر وئيلې شو۔ ځکه خو په دې وجه چه هغه دَ پاکستان په خاوره کښې پروت دے۔ او پاکستان دَ هغه وطن دے۔ او ځکه په دے وجه چه دَ پاکستان دَ برصغير دَ مُسلمانانو هغه واحد اسلامي رياست دے، دَ کوم قِسم رياست چه خوشحال خان خټک، په خپله زمانه کښې دَ برصغير، دَ مُسلمانانو دَ پاره غوښتلو۔ او ځکه په دے وجه هم چه دَ خوشحال خان خټک تعليمات لکه دَ ډاکټر اقبال په شان دَ اسلامي فلسفهٔ حيات ترجمان دي۔ دَ مغلو سره دَ کشمکش په سلسله کښې چه کوم اشعار هغهٔ وئيلي دي۔ کهٔ هغه ورنه يو طرف ته کړو نو په باقي افکارو او خيالاتو کښې دَ خوشحال خان خټک شاعري دَ ډاکټر اقبال شاعرئ ته ډيره نزدے ده۔

دَ پاکستان په خاوره کښې چه کوم پخواني يا اوسني شاعران، اديبان، بزرګان، فلسفيان او عالمان تيرشوي دي، يا موجود دي، دا ټول بالخصوص، او په باقي عالمِ اسلام کښې چه کوم پخواني يا اوسني مُسلمانان شاعران، اديبان، فلسفيان، بزرګان او عالمان تيرشوي دي يا موجود دي، دا ټول بالعموم، زمونږ دَ ثقافتي، ادبي، کلتوري ښووند قيمتي سرمايه ده۔ او دوئ زمونږ علمي، ادبي او ثقافتي مشاهير دي۔ په دوئ کښې په مغربي پاکستان کښې خوشحال خان خټک يو ممتاز حيثيت لري۔ خوشحال خان خټک لکه دَ ډاکټر اقبال په شان دَ پاکستان شاعر دے او دَ هغهٔ اسلامي تعليمات عام کول پکار دي۔ ځکه چه دَ هغهٔ بلند افکار او خيالات دَ پاکستان دَ آزادئ، سالميت او حفاظت دَ پاره کهٔ په صحيح طريقه پيش کړے شي، نو ډير مفيد ثابتيدے شي۔

## دَ خوشحال خان خټک شاعري او دَ خوشحال خان دَ شاعرئ مقام

**ادبي پس منظر:۔** دَ خوشحال خان خټک دَ نثر او نظم نه معلوميږي چه هغه دَ عربئ او فارسئ ښهٔ عالم وُو۔ او دَ علمِ دين نه هم ښهٔ واقف وُو۔ هغه دَ پښتو دَ شاعرئ په هغه دور کښې پيدا شوے وُو چه پښتو دَ فارسئ دَ شاعرئ رنګ قبول کړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤو. او دَ فارسئ دَ ادب دَ پښتو په ادب کافی اثر غورزیدلے وُو. پښتو دَ دے جوګه وه چه یولوئے شاعر، ادیب ورکښے دَ خپلو اُوچتو افکارو او خیالاتو اظهار اوکړے شی.

مرزاخان انصاری، دَ خوشحال خان خټک نه وړاندِ په پښتو کښے دَ اوچتے پائے غزل ګو شاعر تیر شوے دے. خو دَ هغهٔ په شاعرئ مذهبی رنګ غالب ؤو. او دَ بایزید انصاری دَ تصوف دَ نظریاتو وړاندِ غرق اثر ؤو.

دَ خوشحال خان خټک په زمانه کښے فارسی بادشاهی ژبه وه. یعنی نهٔ صرف دَ مغلو دَ دربار او حکومت ژبه وه، بلکه دَ علم او شعر و شاعرئ ژبه هم وه. هرچا به کوشش کولو چه دَ مغلو شاهی دربار ته دَ رسیدلو دپاره دَ فارسئ په لیک او لوست کښے قابلیت پیدا کړی او په شعر و شاعرئ کښے دَ شهرت حاصلولو دپاره خو په فارسئ کښے شعر وئیل ډیر ضروری ؤو.

خوشحال خان خټک دَ زمانے دَ ضرورت مطابق په فارسئ کښے اعلیٰ قابلیت حاصل کړے ؤو. او په فارسئ کښے ئے شاعری هم کوله. خو خوشحال خان ئے محسوسه کړه، چه شعر و شاعری بغیر دَ خپلے ژبے نه په بله ژبه کښے عبث کار دے.

دَ پښتو دَ شاعرئ اول دور دَ هجری سن په حساب سره تر اومے صدئ پورے رسی. په دے دور کښے دَ پښتو شاعری په خالصه یا سُوچه پښتو ژبه کښے وه. او دَ عربئ او فارسئ دَ الفاظو ورکښے ډیر کم استعمال دے.

دَ پښتو دَ شاعرئ دویم دور دَ ۸ هجری نه شروع کیږی. په دے دور کښے دَ پښتو په شاعرئ، دَ عربی او فارسی شاعری پوره پوره حاوی شوے وه. دَ عربئ او فارسئ علوم او افکار، پښتو ته راوخپلول شروع شوی ؤو.

هم په دے زمانه کښے، دَ پښتو په شاعرئ کښے دَ تصوف رواج هم اوشو. او پښتنو شاعرانو دَ فارسئ دَ مشهورو صوفیانو شاعرانو نقل شروع کړو. دَ پښتو دَ شاعرئ په دے دور کښے ډیر لوئے لوئے شاعران پیدا شول. دا دَ پښتو دَ شاعرئ سره زری زمانه وه. په دے دور کښے دَ پښتنو شاعری خپل معراج ته اورسیده.

اخون درویزهؒ، بایزید انصاری، مرزاخان انصاری، خوشحال خان خټک، عبدالرحمان بابا او عبدالحمید مهمند وغیره ټول دَ دے دور یادګار دے.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دے دور کښے علاوه د نورو نه، د پښتو د ادب دوه عظیم شاعران یعنی خوشحال خان خټک او عبدالرحمان بابا پیدا شوی دی - او د دے دواړو شاعرانو کلام نه موږ د ادب اصلی سرمایه ده - که یو کوه نور دے نوبل دریائے نور دے - دا دواړه لعلونه د پښتو د ادبی تاج زینت دی -

که ایران او د ایران شاعری سعدیؒ او حافظ پیدا کړی دی - که په انګریزئ کښے شکسپیر او ملټن دی - که په اتلی کښے ورجل او ډینټے زیږیدلی دی - که یونان په هومر فخر کوی نو موږ هم په دکه خولهٔ وئیلے شو چه زموږ په ادب کښے هم څوک شته - چه موږ ئے په احترام سره نوم نه اخلو او زموږ د ادب ځلاندی ستوری دی - دا یو خوشحال خان خټک او بل عبدالرحمان باباؒ دے -

ځما په خیال د خوشحال خان خټک نه وړاندِ چه په پښتو کښے هر څو مره شاعران او ادیبان تیر شوی دی، د هغوی مثال د خوشحال خان خټک په وړاندِ د هغه ستورو دے چه نمر ښکاره شی او تیږی او ټول د نظره فنا شی - په حقیقی معنو کښے خوشحال خان خټک د پښتو د شاعرئ بابا آدم دے - د پښتو په شاعرئ کښے نهٔ د خوشحال خان نه وړاندِ او نهٔ د خوشحال نه روستو د خوشحال خان هو مره لوئے شاعر پیدا شوے دے - خوشحال خان نه موږ د ادب نمر دے - خوشحال خان زموږ هومر دے - خوشحال خان زموږ ملټن دے - خوشحال خان زموږ ډینټے دے - خوشحال خان زموږ ګوټے دے - خوشحال زموږ فردوسی دے - خوشحال خان زموږ سعدیؒ دے - خوشحال خان زموږ ټیګور دے - خوشحال خان زموږ اقبالؒ دے - د خوشحال خان د شاعرئ د عظمت او جامعیّت نه انکار د نمر د رڼا نه انکار کول دی -

## د خوشحال خان په شاعرئ د تربیّت او د ماحول اثر

خوشحال خان خټک د یوخان په کور کښے پیدا شوے وُو چه د خټکو د قبیلے سردار وُو - د ورکوتوالی نه ئے د خانئ لارے چارے په کور کښے لیدلے کتلے دے - او د هغه حساس پښتون دماغ د خانئ او د سردارئ ماحول په ښهٔ شان جذب کړے وُو - د دیارلس کالو نه ئے په جنګونو شروع اوکړه او ټول عمر ئے په جنګونو کښے تیر شو - او مرګ ئے هم د خپل

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورکلی نه لړې په آفرید و کښې اوشو۔

خوشحال خان خټک ته په ورکوتوالی کښې بلاګانې او مصیبتونه ورترغاړه شوی ؤو، خو دَ ژوند او ریشه ئې وه، بچ شو۔ دَ اتو کالو په عمر کښې دَ خپرَد لاندِ ناست ؤو چه کانړې پرې راپریوتو، تندے ئې سخت زخمي شو۔ اوهٔ اتهٔ ورځې ئې حالت ډیر خراب ؤو خو آخرالله پاک ورته شفا ورکړه۔

نهوميے وادهٔ ئې دَ اتلسو کالو په عمر کښې اوشو۔ دَ جنج په ورځ تبے اونیولو۔ دولس ورځے ناجوړه ؤو۔ آخر په دولسمه ورځ ئې تبه اوشلیده، او شفایاب شو۔ دَ دې نه معلومیږی چه قدرت هغه دَ ورکوتوالی نه دَ مصیبتونو او تکلیفونو دَ ژوند سره خپله بلَد ولو۔ او دَ ژوند دَ جفاکشئ او سخت کوشئ دپاره ئې تیار ولو۔ دَ هغهٔ په شاعرئ، دَ هغهٔ دَ مخصوص تربیت او قسمت غرق اثردے۔ چونکه هغه دَ ورکوتوالی نه بلاګانوته لاندِ وتے ؤو او یا بلاګانے ورته ترغاړه شوے وے۔ په دے وجه په شاعرئ کښې ئې په مړانه، په همت او جفاکشئ ډیر زور ورکړے دے۔ هغه جفاکشی ژوند کنړی۔ او دَ ژوند دَ مصیبتونو سره مردانه وار مقابله، دَ مردانه ژوند یو لازمی جز ګڼړی۔ دَ مثال په طور لاندینی اشعار ئې اولولئ ؎

کهٔ په زر رنګه خوبئ آراسته وی
چه خلمے په بلا برنهٔ وی هم هیڅ
په جهان کښې کهٔ څوک ان دی هم هغه دی
چه وسختے وته ونیسی ځانونه
وا ړه زړونه فراغت دی په بنادئ کښې
چه په غم کښې مردانه شی زړهٔ هغه

اوس به دَ خوشحال خان خټک دَ پیدائش دَ جغرافیائی ماحول جائزه واخلو۔ ځکه چه دَ ماحول اثر دَ ګرد ونواح دَ فضا او آب و هوا اثر، دَ تربیت اثر او دَ ژوند ون دَ واقعاتو اثر دَ هر شاعر په کلام باندِ خپل نمایان اثر غوړ زوی۔ دَ خوشحال خان شاعری هم دَ دے اثراتو نه خالی نهٔ ده۔

خوشحال خان خټک په سرائے اکوړی کښې پیدا شوے ؤو۔ دَ سرائے اکوړی کلے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لنډي سیند جنوبي غاړې ته پروت دے ۔ دا تقریباً د یوسفزو او د خټکو د علاقے مقام اتصال دے ۔ سرائے کلے د هغهٔ غورنیکهٔ ملک اکوړی د اکبر بادشاه په زمانه کښے آباد کړے وُو ۔ او دا د خراسان او هندوستان د بادشاهی لارے په څنډه پروت دے ۔ اکوړی ته اټک په څو میله کښے پروت دے ۔ او دا اټک سره نزدے اباسین او لنډے سیند یو ځائے کیږی د سرائے سویلی غاړے ته د خټکو بنجرے میرے او سور اړا کنجی پټی او وچ غرونه دی ۔ خو د سیند پورے غاړه ورته د یوسف زو آباده او سرسبزه علاقه پرته ده ۔

د خوشحال خان خټک په شاعرئ د دے مخصوص جغرافیائی ماحول غرق اثر نګاری د هغهٔ شاعرانه دماغ د دے ماحول نه ډیر شاعرانه مضامین ایستی دی ۔ په قید او بند کښے چه هغهٔ ته کوم وطن یادیږی ۔ هغه هم دغه سرائے ، دغه اباسین ۔ دغه لنډے سیند دغه اټک ۔ دغه د خټکو وچ غرونه او په دغه او چو غرونو کښے د پلوسو بوټی او د پلوسو د بوټو ګلونه ، دغه خیرآباد او میرکلان د خټکو کلی ، او هم په دے کلو او وچ وطن په هوا او اوبو پسے هغه په بندی خانه کښے ارمان کوی ۔ په دے سلسله کښے د خوشحال خان لاندینی اشعار د نمونے په طور اولولئ ۔

کهٔ ګذر په خیرآباد اوکړے نسیمه!
یا دِ ګشت وشی د سرائے د سیند په سیمه

په بار بار سلام څما ورته عرض کړه
ورسره څما د لوریه څو تسلیمه

............ الخ

یو بل ځائے کښے وائی ـ

ګل شوے د خوړے د بنړ پلوسے خوشحاله ولے بې ګشته اوسے

کشت د ګلونو ، ښکار د بازونو کړه
چه کوس ته ډیرے غوښے یوسے

د خوشحال خان خټک کړوسے کاظم خان شیدا هم په رامپور (هند) کښے مسافر ناست د وطن پلوسے دا سے یادوی :

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



گلونه اوګړل د سروه پلوسے    که دا پیام م نسیمه یوسے
خوشبو په تا ده د وطن نسیمه
دا م دعا شي چه تا زه اوسے

# دَشعروشاعرئ نظريه، اوشعردَخوشحال خان په نظرکښے

دلته دَ شعر وشاعرئ په نظریاتو بحث کول به غیرضروری وی خود خوشحال خان خټک په شاعرئ دَ پوهیدلو دپاره که یو لنډ شان بحث په دے موضوع اوکړے شی نو به ځایه به نهٔ وی.

لکه ځنګه چه ادب دَ فنون لطیفه یو قسم دے، دغه شان شاعری، دَادب یو قسم دے. اودَ ادب تعریف داسے شوے دے چه دَ ادبی الفاظو په وسیله دَخپلو احساساتو او جذباتو او ادراکاتو په داسے طرز کښے اظهار او شی چه دَ آوریدونکی یا لوستونکی په زړهٔ کښے هم هغه شان احساسات را اولرزوی ځنګه چه دَ لیکلو په وخت کښے دَادیب په زړهٔ کښے سرالړزیدلی وُو. یعنی ادب محض دَ جذباتو، احساساتو، افکارو او روحی حالاتو، دَادبی الفاظو په ذریعه اظهار نهٔ دے بلکه دَ یو ذهن نه بل ذهن ته انتقال او ابلاغ هم پکښے ملحوظ او شرط دے. که ادیب په دے انتقال او ابلاغ کښے پاتے راشی نو محض اظهار دَ هغهٔ مقام په ادب کښے نشی قائمولے. دَ هغهٔ دَ اظهار مفهوم لکه ځنګه چه وئیلے شی په بطن شاعر کښے پاتے شی. دَادبی اظهار دپاره دَ ادبی کلماتو انتخاب او دَ بلاغت او فصاحت دَ مراعاتو په رنړا کښے. دَ ادبی کلماتو ښکلے ترکیب او بنا ښته استعمال هم ځنے نقادان ضروری ګنړی. دَ ژوند هر اړخ دَ ادب دپاره موزون مضمون کیدے شی. خو په شرط دَ دے، که څوک ئے په ادبی رنګ کښے پیش کړے شی.

دَ ادب دوه لوئے قسمونه دی. یعنی یو ادبِ محض او بل ادب مخلوط. ادبِ محض هغه ادب ته وئیلے شی چه ادب دَ ادب په خاطر وی. یعنی دَ لطیفو او نفیسو جذباتو او احساساتو ادبی اظهار او ابلاغ محض دَ ادب په خاطر شوے وی. دَ احساس دَ ادبی اظهار او انتقال څه بل مقصد یا بله غایه نهٔ وی لکه عاشقانه غزلے او بدلے. او هغه نثر چه جذباتی رنګ ورکښے دَ معنوی خوبیانو په نسبت زیات وی.

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبِ محض هم بې کاره څیز نه دے، بلکه یو قوي افادي اړخ لري. او هغه دا چه په دے ذریعه ادیبان دَ انساني، جذباتي مفاهمت او همدردئ رشته خوروي. او بنیاد مو کښې دَ جذباتي ژوند یو والے پیدا کوي. او دغه شان دَ انساني همدردئ په خورولو او عام کولو کښې ادیب امداد کوي. او دَ انسان دَ فطرت شناسئ په علم کښې اضافه کوي.

مخلوط ادب دے ته وائي چه لیکونکے کوم تاریخي، علمي، اجتماعي او سائنسي مضمون په ادبي پیرایه کښې اولیکي. یعني په داسے طرز کښې ئے اولیکي چه دَ معنوي رنګ په نسبت جذباتي رنګ په مضمون کښې غالب راشي. داسے ادب ته، ادب دَ سبق په خاطر، یا دَ ژوند په خاطر هم ویلے شي. دلته ادب محض واسطه ده - غایه نه ده. لکه چه په ادبِ محض کښې ادب غایه ده واسطه نهٔ ده.

خو په ادیب او شاعر کښې یا ادب او وعظ کښې غټ فرق دا دے چه دَ ادیب دَ پوهولو او اظهار طریقه لطیفه او نفیسه وي. او طبیعت ورته خپله رجوع کوي. او په خوشحالئ ئے قبلوي. او دَ واعظ دَ پوهولو طریقه درنه او بارِ خاطر وي. طبیعت ئے نهٔ مني او ورنه فرار کوي. او دَ هغې وجه دا وي چه دَ واعظ خطبه ادبي اظهار نهٔ لري. او په وعظ کښې معنوي او دَ سبق رنګ دَ جذباتو مقابله کښې غالب وي. لکه څنګه چه په ادب کښې دَ جذباتو رنګ دَ معنوي رنګ په مقابله کښې غالب وي.

شاعري، لکه څنګه چه ما وړاندِ ذکر کړے دے، دَ ادب یو قسم دے. او دَ ادب دَ تعریف دَ لاندِ راځي. دَ شعر ډیر تعریفونه شوي دي خو لکه دَ ادب په شان دَ شعر صحیح تعریف هم دا دے چه انسان دَ خپلو احساساتو، جذباتو او عواطفو اظهار په داسے رنګ کښې اوکړي چه دَ آورید ونکي یا لوستونکي احساسات هم په هغه شان راوپارېږي. لکه څنګه چه دَ شاعر دَ شاعرانه تجربے او مشاهدے په وخت کښې راپارېدلي وُو. که په داسے کلام کښې وزن او قافیه وي نو هم شعر دے او که نهٔ وي نو هم شعر دے.

لکه دَ ادب په شان، شاعري هم په دوه قسمه ده - یوه شاعري دَ ادب په خاطر او بله شاعري دَ سبق، ژوند یا اصلاح په خاطر. لکه دَ ادب په شان دَ شاعرئ دواړه قسمونه دَ کار څیز دے. او دواړه افادي اړخونه لري. دَ خوشحال خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختک شاعری دَ شاعرئ په دے دواړو لویو برخو یا قسمونو حاوی ده . او موږ به دَ هغهٔ دَ شاعرئ عظمت او جامعیت دَ شاعرئ دَ دے دوه لویو قسمونو په تله تلو . او جاج به ئے اخلو . په حقیقت کښے دَ هغهٔ شاعری په دے دواړو لویو قسمونو کښے دَ کمال جامعیّت او عظمت لری .

## شاعری خپله دَ خوشحال خان په نظر کښے څهٔ څیز دے

نو دا دَ هغهٔ دَ خپلے خولے نه واورئ :-

لکه غشی لره بویه تیر انداز — هسے شعر لره بویه سحر ساز

همیشه دَ زړهٔ په لاس تله دَ وزن — نزیات وکم دَ وزن یو تورے غماز

.................. الخ

او په یوه قصیده کښے خوشحال خان دَ خپلے شاعرئ حال بالخصوص او دَ شعر و شاعرئ حال بالعموم په ډیر وضاحت سره بیان کړے دے . په دے قصیده کښے خوشحال خان ختک وائی چه دَ هغهٔ شعر آمد دے ، آورنهٔ دے . یعنی دا چه هغه پیدا شوے شاعر دے او شاعری ئے په سرشت کښے دَ ازل نه لیکلی راغلے ده .

لکه چه خپله وائی ؎

طبیعت م عطائی ، نهٔ دَ تحصیل دے — کهٔ خبر یم دَ املا په استعمال

نهٔ په فکر نهٔ په ذکر رابرخیر شی — ناګهانه لکه ورے دَ بشکال

تفکر دَ شاعرئ لړمون شین کهٔ

دَ غلیم دِ په نصیب شی دا اشغال

او په شاعر چه دَ شعر چپه راشی هغه داسے بیانوی :-

سرهوا لکه تپ ژن هسے وڅیږی — دَ خپل ځان سره خولهٔ پټه خواب سوال

خلق بنځ په خوب اوده وی دے بے خوبه — دَ پالنګ د پاسه خوب وی پر محال

پټ په پټه وبله آوری ترصباحه — دَ بنهٔ لفظ دَ بنهٔ مضمون په اتصال

چه دَ شعر فکر ورشو په مجلس کښے — نور عالم خندا هوس کا . دے ملال

چه دَ شعر فکر ورشی په نما نځهٔ کښے — دَ اَعُوذُ ذال بدل کاندِ په دال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه د شعر فکر ورشي په خوا پډ کښې سپينې دريږي په مزه شي ورته کال
کله کله ځ مخ پټ شي په ډېر فکر چه په دغه د ليو نتوب شي احتمال
دا همه د خپلې پوهې نتيجه ده
چه شاعر له فکره نه وي فارغ بال

د دې اشعارو په خوند هغه څوک پوهيږي، په چا چه خپله کله کله دا چپې تيرېږي د شاعرانه تجربې ډېر ښکلې بيان دے.

خوشحال خان خټک د شاعرانه تجرباتو د جنوني چپو نه سرهم ټکوي او وائي:

کاشکې زه بې تربې ګونګ وے شاعر نه وے
تر دا هسې ګويايئ بنه ځم لال

په دې شعر کښې خوشحال خان خټک د يو بل حقيقت اظهار هم اوکړو. هسې خو د هر بنيادم جذبات يا شاعرانه جذبات په خاص حالاتو کښې راپيدا کيږي او راپاريږي. خو عام خلق د خپلو جذباتو او احساساتو شاعرانه يا ادبي اظهار نه شي کولے. او په دې وجه ګونګيان شاعران وي. خو کوم خلق چه د خپلو احساساتو او جذباتو شاعرانه يا ادبي اظهار کولے شي هغه ناطق يا ګويان شاعران وي.

خوشحال خان خټک هم وائي چه کاشکې زه هم ګونګ شاعر وے او د ګويايئ د زحمت نه خلاص وے.

خوشحال خان خټک په دې قصيده کښې شاعريئ ته حيض الرجال هم ويلي دي او بد ئې نه دي ويلي ځکه چه د شاعرانه فکر او تجربې مثال د حيض دے. اګرچه دا يوه مکروه تشبيه ده. خو د حقيقت نه ډکه مناسب تشبيه ده ؎

دا خبره بده نه ده چا ويلې!
په تحقيق چه شعر حيض دے د رجال

د خوشحال خان خټک شاعري د تفرّ اوتعالی نه هم خالي نه ده. ځکه چه هغه په خپل کليات کښې ځائې په ځائې په خپله پښتو او ننګ فخر کوي. د غه شان هغه په خپله شاعريئ هم فخر کوي. چونکه په هغه زمانه کښې نمونه ادب او شاعري په فارسئ کښې وه. په دې وجه پښتنو شاعرانو به د خپلې شاعريئ موازنه د فارسئ د

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعرۍ سره کوله - خوشحال خان خټک وائي چه

چه خوشحال خټک ئے وائي په پښتو ژبه خبرے
په فارسي ژبه به نهٔ وي کهٔ پوهیږے سخن هسے

اوبیا په یو بل ځائے کښے، په قصیده کښے خپله دا سے اقرار کوي چه

په فارسۍ ژبه کهٔ نور ترما بهتر دي
په پښتو ژبه م مهٔ غواړه مثال

## دَ شاعرۍ ژبه، او دَ خوشحال خان دَ شاعرۍ ژبه او محاوره

دَ شاعرۍ دَ ژبے متعلق په انګریزي ادب کښے، دَ دوه لویو شاعرانو یعنې دَ کالرِج او ورډز ورتھ ترمینځهٔ دلچسپه مباحثه تیره شوے ده -

دَ کالرِج خیال وُو چه شاعرانه تجربه، عامیانه تجربه نهٔ ده - دا یوه فوق العاده آفاقي او الهامي تجربه ده - په دے وجه دَ شعر ژبه هم عامیانه ژبه نهٔ شي کیدے - بلکه شعرته مخصوصه الهامي ژبه پکار ده چه دَ عامے ژبے نه ممتازه وي -

ورډزورتھ دَ دهٔ سره اتفاق اونهٔ کړو - دَ هغهٔ خیال وُو چه دَ شعر تجربه بے شکه چه الهامي او آفاقي وه خو دَ دے الهامي او فوق العاده تجربے دَ اثر دَ لاندِ چه الهامي جذبات په شدّت سره راولړزیږي نو هغه وخت دا سے تجربه په الفاظو کښے بندول ګران دي - دغه تجربه دَ هغه وخت سره دَ انسان په زړهٔ یو نهٔ هیریدونکے نقش پریږدي - او جذبات چه ساړهٔ شي او په قلار شي نو شاعر دغه جذبات، په سړه سینه، په قلار وخت کښے، په ارام، په عامیانه، شائسته ژبه کښے اوتړي - چه په عامو خلقو دَ اوریدو یا لوستو سره اثر اوکړي - په مثال کښے ورډزورتھ دَ خپلے شاعرۍ ژبه پیش کړه - هغهٔ اووے چه ځما شاعرانه تجربه الهامي او آفاقي دي - خو ځما دَ شاعرۍ ژبه عامیانه ده -

کالرِج پرے اعتراض اوکړو، وے ته چه څهٔ ته عامیانه ژبه وائے، هغه نسبتًا عام فهمه ضرور ده خو عامیانه نهٔ ده - عام سړے نه دا سے ژبه ویلے شي او نهٔ ئے لیکلے شي دا سے ژبه صرف یو شاعر لیکلے شي -

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت دا دے چه دَ شعرد ژبے، دَ شعرد عناصرو او اصلی اجزاؤ په باب کښے ډیر اختلاف دے. څوک چه په شعر کښے وزن یا بحر، ردیف او قافیه ډیر مهم بولی. څوک ادبی صنعتونه او محسانات دَ شعر روح او ماحصل گنړی. او څوک شعری صنائع او بدائع چه څنے لفظی دی او څنے معنوی، دَ شعر سرمایه حسابوی. او دَ شعر قدر و قیمت او خوبئ په دغه تله تلی. دَ دوئ ترنزده، بنهٔ شعر هغه دے چه کوم معنوی صنعت لری. لکه صنعتِ طباق. صنعتِ مقابله. صنعتِ عکس او صنعتِ رجوع وغیره. او یا هغه شعر بنهٔ بولی چه ورکښے دَ صنعی صنائعو نه کار اخستے شوے وی. لکه قلب، اشتقاق، ذوالقافیتین او متلونه وغیره. خو داتول محض دَ شعر رخت او زیور، لباس او کالی دی. دَ شعرنا وے بلند، آفاقی، تخیل او اُوچت شاعرانه خیال دے. او هم دغه په شعر کښے بنیادی څیز دے. چه شاعرانه خیال دے. او هم دغه په شعر کښے بنیادی څیز دے. چه شاعرانه خیال دَ شاعر کوتوته راشی، نو دَ دے خیال، دَ دے دلبر، دَ دے پری و پیکر اظهار کهٔ په بنا نُسته او ادبی الفاظو کښے اوشی. یعنی کهٔ پیکرته کالی او رخت و زیور بنکلی واچولے شی نو بنا نُست ئے یو په دوه شی. کاظم خان شیدا وائی سه

مضمون دَ شعر لکه پیکر دے     بنا نُسته الفاظ ئے رخت و زیور دے

ورله ضروردی دا دواړه څیزه
پیکر کهٔ هر څو دلربا تر دے

دَ خوشحال خان ختک په شاعرئ کښے دا دواړه توکه، یعنی پیکری خیال او دَ پیکری خیال شاعرانه او دلربانه اظهار په کثرت سره بیاموندے شی. دَ هغهٔ دیوان له هر قسمه افکارو، خیالاتو، مضامینو او شاعرانه صفتونو او محاسناتو یوه داسے بنکلے گلدسته ده چه په پښتو ادب کښے دَ دے ثانی نهٔ شی بیاموندے. دَ مثال په طور دا شعرونه اوگورئ:

په بل ځائے م پیوند ونهٔ ئے دَ یار غمه     تهٔ څما دَ زړهٔ دَ مات کودی رغائے

ستا په زلفو کښے م خوار خاطر بنا د نهٔ شو
دَ مومن په کفرستان کښے څهٔ حرمت وی

کهٔ او ژغوری کبلئ په مرغزار کښے     دَ خوارهٔ ورپل ترسیوری ستو ...

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خوشحال خان خټک دَ شعر ژبه، ساده خوالهامي او ادبي ژبه ده. عام ژبې ته نږدې، خو عام ژبه نهٔ ده. دَ هغهٔ په دیوان کښې دَ پښتنو دهرې طبقې او هرې قبیلې دَ مخصوصو الفاظو استعمال شوې دے. او په دې وجه دَ هغهٔ دَ شعر ژبه، عالمګیر وسعت لري. خو په حیثیت مجموعي په محاوره کښې دَ خټکو ژبه ده.

## دَ خوشحال خان شاعرانه مضامین

دَ شاعرانه مضامینو په تړلو کښې لکه پیر محمد کاکړ چه وائي، خوشحال خان یو بحر مواج دے. میجر راورټي هم پښتیا وائي چه دَ شاعرانه مضامینو په تنوع کښې خوشحال خان دَ مشرق په نسبت، دَ مغرب شاعرانو ته نږدې دے. دَ هغهٔ دَ شاعرئ دیاره دَ انساني ژوند هر اړخ یو موزون مضمون دے ځکه چه هغه ئې په قادر الکلامئ سره په شاعرانه او ادبي رنګ کښې پیش کولے شي. په دې صنعت کښې دَ پښتو په ادب کښې یکتا دے.

خوشحال خان خټک ته الله پاک یو ډیر زرخیزا و مضمون خیز شاعرانه دماغ او قلب ورکړے دے. دَ هغهٔ قلب او دماغ دَ شاعرانه تنوّع نه لبریز دے. هغه یو ښکلے او جمالي دماغ او قلب لری. چه دَ ژوند واقعاتو او دَ ماحول اثراتو ورکښې جلال هم پیدا کړے دے. داسې قلب او دماغ لکه چه ځنګه خوشحال خان خټک لرلو. یو جلیل القدر شاعر ته پیدائشي عطیه ورکیدے شي. دا په تربیت او کسب چرې بیا موم‌ي. خو تربیت یا کسب داسې دماغ پیدا کولے نشي. ځکه خو وائي چه شاعران خوک جوړولے نشي. شاعران پیدا شوی شاعران وی. دا یو عطیه او بخشش دے.

یو ښهٔ شاعر دَ بلند قوّتِ تخیّل خاوند وی. دَ هغهٔ حسن بینو سترګو ته، په غرونو، ځنګلونو کښې. په ګلونو او ګلزارونو کښې. په شنو چمنونو، او دَ شنو ونو په بڼونو کښې، دَ سیند ونو او ولو دَ اوبو په روانئ کښې او دَ شفق او افق په لاله زارونو کښې، دَ صحرا دَ ماهتابي شپې په چپه چپیا کښې، دَ عشق او حُسن دَ ښاپیرو، دلاویز، رنګین او حسین وطنونه او کورونه ښکاري. هغه دَ حسن دَ پریانو، ښاپیرو ښکلے وطن، سره دَ خپل همه صفتونو په یو دلربا او دلکش رنګ کښې وینی. یو عام سړے دَ شاعر په مقابله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د شاعر په دے زړه راکښونکی حسین او دلربا منظرونو کښې ډیر کم رومانی کیفیت محسوسوی. دا مخصوص احساس د شاعر برخه ده. او دا صرف د شاعر د شاعرانه تخیل کرشمه ده. چه هغه ته د معمول په امروزه قدرتی منظرونو کښې هغه څه ښکاری چه بل څوک ئے نهٔ وینی. دا حقیقت دے چه شاعر ته په هر یو قدرتی منظر کښې د خپل جمالی دماغ او قلب د اندرونی بنائست یوه حسینه ننداره او آئینه په نظر راځی. د کائنات د جمال د نورانی تماشے لید وته د احساس او جذب نه لبریز زړه پکار دے. او هغه د شاعر زړه دے.

منطقی د عقل په همسا د حقیقت جال لټوی. لیکن د شاعر د تیز قوت احساس د ذکاوت او د خیال د رفعت صحیح ترجمان هغه آسمانی او وجدانی کیفیت دے. څله ئے ډاکټر اقبال ضربِ کلیم وائی. او دے ورته په عقل ډیره ترجیح ورکوی. دا د انسان په قلب کښې د حُبّ یا د عشق جذبه ده. او دا د روح وظیفه ده.

شاعر سره د کلیمؑ همساوی، هغه نبّاضِ قدرت وی. او دے د پیر منطقی، فلسفی او سائنسدان ده ته لا ندے. او دے اشرف، افضل او ممتاز وی. د شاعر تیز عقابی نظر د قدرت د حقیقت بربنډه او عُریان تماشه وینی. د فلسفی په دماغ د استدلال د پردو حجاب پروت وی. فلسفی د څیزونو تلاش کوی. خو شاعر څیزونه بیزی شاعر څیزونه وینی، د شاعر نظر لګی، هغهٔ ته څیزونه ښکاری.

د فلسفی د پیژندلو طریقه بے ربطه او بے نظمه، منتشر حقیقتونو کښې ربط او نظم پیدا کول دی. او په دے چل حقیقت الحقائق ته ځان رسول دی. او دا د پرونو په تیاره کښې ډوسه وی. خو شاعر د کائنات روستے حقیقت په خپل پهلو او غیزے کښې نزدے وینی. شاعر ته لکه د فلسفی د لټون او تلاش ضرورت نهٔ وی. کاظم خان شیدا د شاعر دا اُوچته مرتبه د خپل دیوان په سر ومبی شعر کښې دا سے له خدایه غواړی سه

الهی د محبت درد و فغان را !
په معصوم کنار د نمرغوندے جانان را

د حسن و عشق د حقیقت الحقائق د پرده نشین، بے نقابه او بے حجابه ننداره چه شاعر او وینی نو هغه ئے نورو خلقو ته هم ښئیل غواړی. لیکن د شاعر د ښئیلو طریقه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسفیانه او استدلالی نهٔ دهٔ - وجدانی دهٔ - یعني شاعري دَ وجدان دوئيم نوم دے - دَ شاعر عقابی روح چه دَ وجدان دَ چپے دَ اثر لاندِ دَ عرش بام ته اوخیژي نو هغه دَ لامکان او لازمان دَ وطن، دَ مکاني او زماني نقشے اظهار په یو داسے ژبه کښے اوکړي چه یو خاص آفاقي رفعت خولري، خو په ظاهر دَ عام خلقو دَ روزمره، رنګین دلاویزه، عام فهمه الفاظو یو شسته آسماني تجرباتو او جذباتو اظهار او دَ نمود جامه زمیني اوګرځي - عاشقانه شاعري چه دَ جانان دَ خط او خال، مے، نغمے او چنګ ونے او ترنګ تنګ مضمون پورے محدوده شي - نو هم ځان ته یو افادي پهلولري - خو دَ کم شاعریا وړوکي شاعر په لاس کښے، په ځائے دَ دے چه دَ آسماني، وجداني او مسرت انګیز جذباتو سرچینه شي، دَ مادي او هیجاني او نفساني خواهشاتو دَ تسکین او لذت سبب اوګرځي - او له دے قسمه شاعري دَ اخلاقي کمزورئ سبب شي - او دَ ناپوهه خلقو دپاره مخرب الاخلاق ثابته شي - انساني، فولادي رګ وریشه کمزورے کړي - او سړے دَ ژوند دَ سخت حقیقت دَ برداشت کولو نه ستړے پټول شروع کړي -

دَ خوشحال خان خټک شاعري سره دَ صاف ګوئي او دَ هجوو، هزل، دَ انسان دَ بصیرت دپاره مدد او معاون دهٔ - ځکه چه دَ هغهٔ په هزلیاتو کښے هم دَ انسان دَ نفسیاتي جنسي او سفلي اړخ یوه غرقه مطالعه دهٔ چه بنیادم ورنه سبق اخستے شي - او دَ خپلے سفلي خودئ، تجزیه، تحلیل او اصلاح کولے شي - او دَ هغهٔ صوفیانه کلام یا شاعري بحیثیت مجموعي دَ عشق او حُسن - هغه دِلآویزه پاک اوصاف بیان دے چه دَ بنیادم دَ وجدان تسکین کوي - او بنیادم ته دَ ژوند دَ جمالي اړخ یوه حسینه نندارهٔ په ګوته کوي - دَ ژوند دَ رګ او ریشے دَ مضبوطولو دپاره دَ هغهٔ دَ سخت کوشئ او جفا کشئ، شاعري او اخلاقي شاعري لوستل بکار دي - او دَ جذ وجهد او څوانمردئ او ننګ دَ جذبے په تحریک کښے دَ راوستو دپارهٔ دَ هغهٔ دَ رزمیه او وطني شاعرئ نه استفاده کول بکار دي - چه نن هم لکه دَ هومر او فردوسي دَ شاعرئ په شان دَ هغهٔ رزمیه قصیدے او پُرجوشه او ولوله انګیزه غزلے او بدلے زړهٔ رپونکي، وینه تودونکي، زړهٔ ګرمونکي او جذبات راپارونکي وي - دَ خوشحال خان خټک دَ جنګي اشعارو، استعاراتو او تشبیهاتو په آورید وسره، نن هم دَ هر پښتون خرمن ذیږه زیږه شي - او وینته ئے بیرته شي -

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان خټک د خپلې رزمیه شاعرۍ متعلق وائي:-

څما شه به نه ده اور ده
ګذارونه د توپک کا

د هغه د شاعرۍ شاعرانه لب ولهجه ځکه چه دیو جنګی سردار او شاعر نه اُمید کیدے شي. مردانه او تحکمانه ده. د هغه جنګ جویانه او د ننګ نه ډک خیالات د هغه د ژوند تیرولو په حق کښې نظریه او د هغه شاعرانه مرصّعات او محاسنات ټول مردانه دي. او بنیادم د ژوند د جهاد دپاره تیار وي. او د ژوند رګ وریشه ورکښې مضبوطوي. څما په خیال په ټولو پښتنو شاعرانو کښې صرف د خوشحال خان خټک دیوان. علاوه د نورو خوبیانو نه د پښتنو د وطنی رنګ د شاعرۍ ښکلې آئینه ده. ځکه چه د خوشحال خان په کلّیات کښې د پښتون د ساده ژوندون تیزا و جنګیالی فطرت او ملکی حالت پوره او مکمله نقشه ده. د هغه په دیوان کښې د پښتون د سخت ژوند د تیرولو په کور کور کښې د مُشت ګریوانۍ په کلی کلی کښې د پرو جنبو په قبیله قبیله کښې د جنګ جګړو او د مارکښاینۍ په خیل خیل کښې د ملکۍ او خانۍ د زور زیاتی او ظلمونو، د ټپو پرانستلو او د رعب قائمولو، د مغلو سره د پښتون د جګړو، د پښتون د علاقے د بیلو بیلو ټپو او حصو او قبیلو، د خلقو د خوئ بوئ، د بود وباش، د خوانمردۍ، د میلمستیا، او نور تمدن او تهذیب معیار، د پښتنو د مختلفو قبیلو او علاقو د جینکو او ښځو بیان او د پښتون په حیثیتِ مجموعی د اخلاقو معیار، جنګی خوئ، ننګ او مړانه، سیاسی او اولسی حالت، حُبّ الوطنی، دلاورۍ، شجاعت، د زور او زرخواهش، د پښتون د جهل او بُغض، حسد او کینه، احمق او خرتوب، د خپلو جنګونو پُرجوش بیانات، خپل خانداني حالات، د خپل زوزاد ذکر مذکور، د خپل خوئ بهرام خان د ناخلفۍ نه سر ټکول، د خپل وخت د مشهور تاریخي یا جنګی قصو ذکر مذکور. د دهلی د ښار مختصر منظوم تاریخ، د قحط سالو او وباګانو او د نورو آفتونو ذکر، ځائے په ځائے د طب، حکمت، رموز مملکت، صحت البدن او فلسفے خبرے. د شعر و شاعرۍ متعلق نظریات او خیالات، د علم اخلاق بیانات، د خپل مذهبي عقائدو بیان، حمد، نعت او مناقب، هجو وهزل، د موسمونو ښکلی شاعرانه بیانات، د قدرتی ننداره عرقه شاعرانه مطالعه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بانړ ونو دَ تربیت او دَ ښکارخبرې، دَ عشق و محبت غزلیات، رباعیات او قطعات، په رنګارنګ مضامینو ورداړے قصیدے، په تاریخ ګوییٔ وغیره کښې شاعرانه زوربښئیل، دَ پښتوژبے دَ ترقیٔ په حقله ابیات، دَ پښتون تهذیب دَ خوروړلو کوشش، دَ نوکریٔ او منصبداریٔ بدوئیل، دَ پښتون قوم دَ مغلو دَ غلامیٔ نه دَ آزادولو کوشش، په خپل ننګ، سرداریٔ او شاعریٔ فخریه اشعار، خپل حال په قید ونو او مسافرو کښې، په قید وبند کښې په وطن پسے ارمان، دَ زمانے دَ ګردش نه ژړا او فریاد، دَ اورنګ زیب دَ عالمګیر سره دَ اوبش فتنه ساتل او دَ هغې بار بار ذکر کول. پښتون ته دَ قومیت تعلیم ورکول، صوفیانه کلام کښې خپل زوربښئیل او دَ نوروډیرو مضامینو شاعرانه او ادبی ذکر مذکور بیاموندے شی. عرض دا چه دَ مضامینو دَ تنوّع په لحاظ سره، دَ خوشحال خان دیوان یو بحرِ ذخار دے. او بحر مواج دے. او دَ انسان دَ ژوند دَ هر احساس ترجمان او دَ هرے مشاهدے شاهد دے. دَ پښتو ژبے حدانے مکره کهٔ تولہ ادبی ذخیره ضائع شی، او یو دَ خوشحال خان دیوان بچ پاتے شی نو بیا هم څه په خیال، دَ خوشحال خان خټک کلیات په دے بیعه مونږ ته ګران نهٔ پریوځی.

او کهٔ چرے نن هم پښتون دَ خپل نمونه ادب یوه بهترینه ګلدسته او شاهکارینه تحفه یو غیر قوم ته پیش کول غواړی، نو څما په ذهن کښې دَ خوشحال خان خټک دَ کلیات نه بغیر بل کتاب نهٔ راځی.

## دَ خوشحال خان وطنی او رزمیّه شاعری :-

دَ خوشحال خان خټک په وطنی او رزمیّه شاعریٔ مونږ په ضمنی طور، په دے مضمون کښې دومره څهٔ اووے چه بیا دَ دَغے موضوع تکرار او دَ خوشحال خان خټک دَ شاعریٔ دَ دے برخے نمونے وړکول غیرضروری ګنړم. خو په حیثیتِ مجموعی کهٔ مونږ ووایو، چه دَ خوشحال خان وطنیت شاعری ده. او شاعری ئے وطنیت دے. نو څهٔ ډیر بے ځایه به نهٔ وی. څکه چه هغه دَ خپلے همه ګیرے او عالمګیرے شاعریٔ زور دَ وطنیت په شاعریٔ کښې ښائیلے دے. دَ هغهٔ په روح کښې دَ شاعریٔ فن او دَ وطنیت جذبه داسے پیرلی شوی دی چه جدا کول ئے ګران دی. خو دَ دے دا مطلب نهٔ دے چه دَ هغهٔ دَ وطنیت دَ شاعریٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه علاوه نورې شاعرۍ وقعت نهٔ لري. د هغهٔ شاعرۍ د انسان د فطرت په حيثيت مجموعي ترجماني کوي او د هغهٔ په افغان فطرت کښې، د اسلام تعليمات داسې اخښلي شوي دي چې حقيقت کښې د هغهٔ وطني شاعري هم يو کونه د هغهٔ د اسلامي فطرت يوه نتوته ده. خو دا نتوته يا برخه ئې د نور فطرت په مقابله کښې لږه زياته نمايان او ښکاره ده. په دې وجه ځنې خلق يا قصدًا يا په غلطۍ هغهٔ ته محض د نسلي شاعرۍ علمبردار وائي. خو دا تجربه څنګه چه مونږ وړاندې په تفصيل سره ذکر کړې دے، صحيح نهٔ ده. د مير عبدالصمد خان د خوشحال او اقبال د جامع او حقيقت افروز کتاب لوستو نه پس، خوشحال خان ته محض د نسلي شاعرۍ امام وئيل، د حقيقت نه سترګې پټول دي. هغه داسې بنهٔ اسلامي شاعر دے لکه چه هغه بنهٔ وطني شاعر دے. د اقبال خپله شاعري هم په ابتدا کښې د وطنيت د جذبې علمبرداره وه. او بيا روستو د اسلام په رنګ کښې رنګ شوې ده.

## عجمي تصوّف او دَ خوشحال خان خټک په شاعرۍ کښې حقيقت او مجاز

افلاطون دَ يوناني تصوّف بابا دے. دَ افلاطون نظريهٔ امثال او دَ حُسن محض نظريه دَ عجمي تصوّف بنياد ګڼړلے شي. اګرچه په ظاهره دَ وحدت الوجود مسئله دَ عجمي تصوّف روح ښکاري.

دَ افلاطون خيال دٔ چه کومه دُنيا مونږ ته په نظر راځي، دا حقيقت نهٔ دے. حقيقي دُنيا بله ده. هغه دَ عالمِ امثال دُنيا ده. زمونږ دُنيا، لکه څنګه چه مونږ ته ښکاري دا دَ حقيقي دُنيا محض يو سوره ده. يا دَ حقيقي دُنيا يو عکس دے.

هغهٔ دَ دُنيا دَ څيزونو مثال داسې ورکړے دے چه لکه يو سړے دَ يو لوئے غار په خولهٔ کښې ناست وي. غار طرف ته ئې مخ کړے وي او دُنيا ته ئې شا وي. دَ غار دَ خولې په وړاندې خود دَ بُنيادم په شان قسما قِسم مخلوقات تير بيږي او دَ دے مخلوقاتو مخامخ دَ غار دننه سورے پريوزي. دَ غار په خوله کښې ناست سړي ته دَ مخلوقاتو صرف سورے ښکاري. خو حقيقي مخلوقات ورته نهٔ ښکاري. څکه چه مخلوقاتو ته دَ هغهٔ شا ده. او غار ته ئې مخ دے. لکه دَ نن زمانې مثال به داوي چه سينما هال کښې يو سړے ناست وي. دَ سينما په

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرده هغه تصویرونه وینی کوم چه دَ سینما په شا دَ پټ مشین نه رااوزی او دَ عکس په شکل کښې په پرده پریوزي - یا ډیره صحیح تشبیه به دا وی چه لکه دَ سویرو په ډرامه کښې ایکټران کوم چه په ډرامه کښې اداکاری کوی، هغهٔ ته نهٔ ښکاری خودَ هغوئ دَ اداکارئ یا ایکټنګ سویره په پرده پریوزی - او تماشګیر صرف دَ ایکټنګ یا دَ اداکارئ سویره په پرده وینی -

دَ افلاطون دَ حُسنِ محض نظریه دا وه چه دَ جمالِ حقیقی ښکلا اول بنیادم ته په یو حسین مخ کښې خپله جلوه اوښئ او بیا دغه جمال بنیادم ته په هرمخ کښې ښکاری - او بیا ټول کائنات ورته په دغه نُور منوّر ښکاری - دَ افلاطون دَ حسنِ محض نظریه په دے شعر کښې بنده دهٔ ـ

اول خوښ م دَ یار حُسن، بیا م خوښ هغه حسین ؤو!
اوس په دا سے ځائے مقیم یم چه م خوښ دے خیال دَ حُسن

یعنی دَ بنیادم روح چه دَ عشق دَ جذبے په برکت دَ لطافت یو اوچت مقام حاصل کړی نو بیا لکه دَ سحر خیز عقاب غوندِ، دَ حسن په هغه بسیطه فِضا کښې چورلندی خوری، چرته چه دَ کائنات، دَ خالق دَ ازلی حُسن لازوال نمود، بےنقابه ښکاری - دا دَ افلاطونی دُنیا دَ حسنِ محض دَ نظریئے هغه روستے حقیقت دے - هغه روستئ درجه دهٔ - کوم ځائے چه سړے دَ دُنیا اوما فیها نه بےخبره وی - دَ حُسنِ ازل له نوره معموره، جلوه ګاه کښې ناست غوټه تماشه کوی - دا هغه حسین او ښکارین منظر دے - چرته چه حُسن فی نفسهٖ، دَ وجود له قیده آزاد یو نورانی نمود حاصل کړی - دا یو دا سے حالت وی چرته چه سړے دَ حُسن دَ خیال شیدائی وی - دَ څهٔ خاص حسین څیز سره حُبّ نهٔ لری - په هرڅهٔ مئین وی - او دَ هرڅهٔ نه بے نیازوی - صوفیاء دے ته دَ حضور شغل یا مقام وائی -

عبدالقادر خان خټک دَ حقیقت او مجاز دا رشته په یو شعر کښې دا سے ستائیلے دهٔ:-

خوخبر نهٔ دے وګړے له دے رازه ـ
ګنی بیل حقیقت نهٔ دے له مجازه

دَ وحدت الوجود دَ خیال بابا دَ سپین محي الدین العربی دے - دَ تصوّف دَ دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئلې خلاصه مطلب دا دے چه په عالم کښې په رنګونو او لکونو مختلف څیزونه په نظر راځی. دا ظاهرې کثرت په حقیقت کښې وحدتِ محض دے. یا د وحدتِ محض مختلف شکلونه یا رنګونه دی. په ټولو څیزونو کښې هغه "یو" "هغه" احد جاری او ساری دے او په هر څیز کښې، دَ هغهٔ حسن دے. یا هغه دے، بل څهٔ څیز نشته. موجودات او ممکنات واړه په وحدت کښې دَ کثرت او په کثرت کښې دَ وحدت کرشمه ده. چونکه دَ وحدت الوجود دَ فلسفې نه چه صوفیاؤ کومه نتیجه اخذ کړې وه، هغه دا ده. چه دُنیا او ما فیها هیڅ وقعت نهٔ لری. ځکه چه دَ دُنیا هیڅ څیز حقیقی نهٔ دے. دَدے دپاره دَ دُنیا په څیزونو کښې ښهٔ لګول عبث کار دے. دَ وحدت الوجود فلسفه، دَ عجمی تصوف بنیادی خیال اوګرځیدو. او دَدے فلسفې دَ اثر لاندې په عالمِ اسلام جمود خور شو. خو دَ شاعرئ دپاره چونکه دا مضمون ډیر موزون او رنګین ؤو، په دے وجه دَ تصوّف دا بنیادی خیال دَ عجمی شاعرئ نشه شوه. او دَ عجمی تصوّف او عجمی شاعرئ دَ اثر لاندې چه څومره ملکونه راغلل، هغو ټولو دا خیال قبول کړو. او دَ هغوئ په شاعرئ کښې دا خیال داخل شو.

دَ وحدت الوجود دَ فلسفې نه چه کومه نتیجه صوفیاؤ ایستے ده، دا هم هغه دَ افلاطون خیال دے چه دَ موجوداتو دُنیا حقیقی نهٔ ده. او دَ افلاطون دَ حسنِ محض نظریه په عجمی تصوّف کښې دا سے داخله شوه چه دَ عجمی شاعرئ روح شو. او په عجمی شاعرئ کښې ئے خوند، رنګینی، لطافت، نزاکت او یو روحانی حرارت او ګرمی پیدا کړل. او دَ عجم دَ شاعرئ معیار ئے اوچت کړو.

په تصوّف کښې دَ وحدت الوجود دَ مسئلې اصطلاح په هندوستان کښې مجدد الف ثانی کړې ده. هغوئ او فرمائیل چه دا په حقیقی تصوّف کښې یو مقام دے. او پکار ده چه سالک دَ دے مقام نه اوځی. که سالک په دے مقام کښې اونښتو نو لاره ترے خطا شوه او په بلو بلو سر شو. په اسلامی تصوّف کښې دَ دُنیا ژوند، دَ آخرت دپاره یوه باړئ ده. یوه توښه ده. دا بیکاره ژوند نهٔ دے. دُنیا حقیقی ده او ښهٔ ده، لکه رحمان بابا چه وائی ؎

ښه ده ښه ده دا دُنیا
چه توښه ده دَ عقبیٰ

دُنیا پریښودل نشته. مُسلمان دُنیا پریښودل راهبی ده. اسلامی تصوّف کښې دُنیا پریښودل نشته. مُسلمان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دُنیاوی ژوند دَاسلام دَ اصولو او تعلیماتو مطابق تیروی۔ او نظر به ئې هر وخت په خدائے تعالیٰ وی۔ یعنی "دست به کار، دِل به یار" په اصول به عمل کوی۔ کهٔ مُسلمان دُنیا پریږدی نو دَ اسلامی تصوّف دَ نقطهٔ نګاه نه۔ دا غیر اسلامی خیز دے۔

خو په شاعرئ کښے دَ حقیقت او مجاز دَ الفاظو سرچشمه تصوّف دے۔ شاعری دَ جذباتو دَ اظهار نوم دے۔ او دَ تصوّف په برکت په جذباتو کښے پاکوالے او شدّت پیدا شو۔ او چونکه دَ تصوف خمیر عشقِ حقیقی یا عشقِ الٰهی دے او عشقِ حقیقی بیخی دَ یو پاک جوش او لوئے مطهرے او مقدسے جذبے نوم دے۔ چه دا جذبه په بنیادم کښے اُوچت اخلاق او روحانی ژوند او پوهه پیدا کوی۔ په دے وجه چه شاعرئ کښے دَ تصوّف مضمون ځائے اونیولو نو دَ عشقِ مجازی خبرو هم خوند پیدا کړو۔ او په عجمی شعر کښے په حیثیتِ مجموعی یو ژوندے ادبی روح او ځلیدو۔ او دَ اهلِ دل او اهلِ هوس، دواړو په اشعارو کښے تاثیر پیدا شو۔ او دَ عجم په شاعرئ کښے دَ یو نوی باب اضافه اوشوه۔ لکه څنګه چه وړاندِ ذکر شوے دے۔ دَ خوشحال خان په زمانه کښے دَ پښتو شاعرئ کښے هم تصوّف داخل شوے وُو۔ او اګرچه خوشحال خان خپله صوفی مشرب سړے نهٔ وُو۔ هغه یو فعال وُو۔ یو جنګی سردار وُو۔ او شپه او ورځ ئے دَ جنګ سره سروکار وُو۔ خو دَ هغهٔ دَ صوفیانه کلام دَ لوستونه داسے معلومیږی چه هغه دَ تصوف دَ باریکاتو نه خبر وُو۔ او شاید دَ هغے وجه دا وه چه هغهٔ دَ خپل وخت دَ عالمانو او صوفیاؤ سره ناسته پاسته کوله۔ او دَ هغوئ دَ صحبت او افکارو دَ هغهٔ په خیالاتو اثر وُو۔ څکه خو دَ هغهٔ په شاعرئ کښے دَ رزم او بزم سره سره دَ تصوف رنړا هم ځلیږی۔ او هغهٔ چه په کوم تصوف عمل کړے وُو۔ هغه عجمی نهٔ وُو بلکه اسلامی وُو۔ یعنی په لاس و پښو ئے دُنیاوی کار کولو۔ په لاس کښے ئے توره وه۔ خو په زړهٔ کښے ئے دَ خدائے تعالیٰ خوف وُو۔ او زړهٔ ئے مُسلمان وُو۔ البته دَ هغهٔ په شاعرئ کښے عجمی تصوف اثر کړے وُو۔ او څنے اشعار هغهٔ دَ وحدت الوجود دَ مسئلے دَ اثر لاندِ وئیلی دی۔ لکه دَ مثال په طور دا اشعار اوګورئ:۔

په هر څهٔ کښے ننداره دَ هغے مخ کړم
چه له ډیرے پیدائئ نه ناپدید شو

خوشحال خان په یو بل شعر کښے وائی سه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ درویش په زړهٔ کښې درست کتاب مرقوم دے
کهٔ په خولهٔ ئے دَ عربو لُغت نهٔ زده

دَ دے شعر نه معلومیږی چه هغهٔ دَ اسلامی تعلیماتو او اسلامی تصوف روح په ښهٔ شان جذب کړے وُو۔ حضرت علی کرم الله وجههٔ چه دَ اسلامی تصوف بابا دَے خپل ځوئے حسنؓ ته وائی چه اے ځویه تهٔ په حقیقت کښې اُم الکتاب ئے۔ هرڅهٔ چه دی په تا کښې دی۔ دَ تا نه بهرڅهٔ نشته۔ اسلامی فقیر خپله دَ لا اله مظهر شی او په خپل قلب کښې کتاب جذب کړی۔ خوشحال خان خټک په پورته شعر کښې، دَ اسلامی فقر دے طرف ته اشاره کړے ده۔

دَ اسلامی فقیر دَ توکّل دَ ژوند په باره کښې دَ خوشحال خان هغه غزل چه ورکښې دا شعر درج دے۔ ډیر قابلِ تحسین دے۔

کهٔ لړه ده کهٔ ډیره، واړه او شمیره په تیزه!
په خوئ دَ پیغمبر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

اسلامی تصوف دَ ظاهر او باطن تعمیر دے۔ او دَ ظاهر او باطن تعمیر صرف دَ توحید په اصولو کیدے شی۔ دَ توحید دَ بحر لامبوزن، او شنا ور، په صراطِ مستقیم روان وی۔ دَ موحد نظر دَ باقی دُنیا نه مایوس شوے وی۔ او صرف په یو ذاتِ واحد او احدئے نظر وی۔ دَ عشق دَ تګ دَ یو داسے لاره وی۔ دماغی حالت او روحی کیفیت خوشحال خان داسے بیانوی۔

هر تشنه چه دَ وحدت په سیند سیراب شهٔ
نور همه جهان ورهٔ وته سراب شهٔ

او په یوه رباعی کښې عارفان داسے ستائی چه

عارفان دَ سر په سترګو ګوتے کیږدی
دَ خپل زړهٔ په سترګو ګوری تماشا کا

دا عالم لکه طفلان ورته ښکاریږی
دَ طفلانو په بازئ پورے خندا کا

دَ بنیادم دا لیونتوب چه خپل عقل، اختیار او اراده په خپله خوښه او رضا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دَ الله پاک دَ عقلِ کل، اختیار، ارادے تابع کړو، او دَ الله پاک په رنګ کښے رنګ شي او دَ الله پاک عاشق او دیوانه شي، دا یو داسے مبارک فعل دے چه دَ هر عاقل او فرزانه دَ فعل نه افضل دے. یو داسے دیوانه، داسے مجنون او داسے لیونی ته لیونے وئیل هم لیونتوب دے. خوشحال خان خټک دا مطلب په یو شعر کښے په اختصار سره داسے بیانوی. ؎

عاقلانو ځکه خوړ ننګه حکمت دے
لیونیو یو دَ عقل حکمت نهٔ زده

په دے شعر کښے خوشحال خان خټک په ابلیسئ، زیرکئ یا شیطانی عقل باندے په عجیبه شاعرانه طرز کښے طنز کړے دے. وائی چه دَ عشق لیونی، هغه عقل نهٔ لری، کوم خرد، دانش یا عقل چه دَ دُنیا او نړی عاقلان لری او هغوئ دے عقل ته حکمت او دانائی وائی. خوشحال خان خټک یو بل ځائے کښے وائی ؎

دَ عشق کار په لیونتوب دے نور څهٔ نهٔ دے
را شه واؤره نهٔ په عقل، نهٔ شعور

عارف دَ عشقِ الٰهی په اور کښے تل عمر سوزی او هم په دغه اور کښے لکه دَ سمندر په شان، نهٔ صرف پائی بلکه ګلعذار هم وی. او په دغه اور کښے لذت هم بیامومی. عشق هغه سوز دے، هغه اور دے، چه دَ دوزخ اور هم ترینه امان غوښتے دے. دا اور په هر اور غالب دے. چه خالق اور پیدا کړو نو اور ترے تپوس او کړو چه زهٔ دِ ولے پیدا کړم؟ ورته او وئیلے شول چه ته دَ ذریعه دَ عذاب سازشوے ئے.

اور او وئیل چه ما ته به په څهٔ عذاب راکیدے شی؟ ورته او وئیلے شول چه په نارِ کبرئ. دَ خپلو عاشقانو دَ زړونو په اور. خوشحال خان خټک وائی ؎

دَ دوزخ لمبے به کار په عاشق نهٔ کا
چه ئے تاؤ دَ دروني دے په دا دال

په یو بل ځائے کښے، په یوه رباعی کښے دَ عاشقانو یا عارفانو قلبی کیفیت خوشحال خان خټک داسے بیانوی ؎

جهان که واړه سره سورا ورشی
ګمان او مهٔ کړه چه عارف نور شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ سمندر غوندې په اورکښې کاږ ، ښهٔ که
عارف ئې مهٔ گڼړه ، مخ دِ ئې تورشی

دا وه دَ خوشحال خان ختک دَحقیقت شاعری، یا دَ صوفیانه کلام نمونه. اوس دَخوشحال خان ختک دَ عاشقانه کلام یا دَ مجاز دَ شاعرئ نمونه اوګورئ. خوشحال خان خپله په شاعرئ کښې دَحقیقت او مجاز رشته دا سې ستائی ـ

په تورآس دَحقیقت ناوے سوره که په سپین مخ پلو نیولے دَ مجاز
سل جلوے ، سل کرشمے ، سل مکیزونه
په نظرکښې ئې ښکاره دَ ستړګو ناز

دَخوشحال خان ځنې عاشقانه کلام دَ تصوف سره دا سې پیرلے دے چه په مجاز کښې هم لوستونکے ، دَحقیقی عشق ګرمی محسوسوی - عاشقانه غزلیات چه دَخوشحال خان ختک ډیر زوردار دی. او خان ته یو امتیازی نوے رنګ لری. دَ مثال په طور دَ خوشحال خان دا غزل اولولئ :-

په ځان او په جهان کښې ما دوه څیزه دی اوکښلی
په ځان کښې دواړه سترګے په جهان کښې واړه کښلی

الخ . . . . . . . . . . . . .

او بیا دا خوندناک غزل اولولئ :-

توره چه تیریږي خو لګدار لره کنه
زلفې چه ولول شي خوخپل یار لره کنه

الخ . . . . . . . . . . . .

لاندِ درج شوے مسلسل غزل چه خوشحال خان ختک، دَ آدم خیلو آفریدیو په تعریف کښې لیکلے دے. دَ هغهٔ دَ مجازی شاعرئ ښکلے نمونه ده -

آدم خیلے آفریدئ دی سرے او سپینے
پکښې شته دی ښائسته په رنګ رنګینے

الخ . . . . . . . . . . . .

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوشحال خان په حیثیت د یو غزل گو شاعر

خوشحال خان خټک د پښتو په غزل کښې ساه واچوله - او د غزل لمن ئې د هر قسم مضمون د اظهار د پاره موزونه او تیاره کړه - د هغهٔ په خپلو غزلونو کښې نهٔ صرف د عاشقانه احساساتو، خیالاتو او جذباتو اظهار دے - بلکه هغه غزل د هر قسم مضمون د پاره په کامیابئ سره استعمالوی - تصوف، فلسفه، اخلاق، پند و نصائح، حکمت، وطنیت، حسن و عشق وغیره د هغهٔ د غزلونو مضامین دی - هغهٔ لکه د فارسئ د نورو اصنافو په شان د پښتو د غزل بابا دے - هغهٔ د غزل تنګه او محدوده لمن وسیع کړه - او غزل ته ئې په خپله شاعرئ کښې یو اُوچت مقام ورکړو - د هغهٔ په غزل کښې د مضامینو دومره تنوّع ده چه هغه محض د غزل په ذریعه د خپل زړهٔ او دماغ د هر فکر او هر احساس په مکمل طور اظهار کولے شی - او کړے ئې دے - هغهٔ د فارسئ غزل دا سے پښتون کړو، او د پښتو مزاج ته ئې دا سے نژدے کړو چه سړے وائی چه دا صنف د پښتو په شاعرئ کښې خارجی اثر نهٔ دے - بلکه ځائی دے - کومه روانی، سلاست، انفرادیت او د معنیٰ او د الفاظو رنګینی چه د خوشحال خان په غزل کښې ده، د بل پښتون شاعر په غزل کښې نهٔ شی بیا مونده - د هغهٔ په غزل کښې تخیّلی او واقعی حقائق دومره په ښه طریقه پیرلی شوی دی چه د فارسئ د قادر الکلام او اوچتو شاعرانو سره مقابله کوی - د هغهٔ په غزلو کښې نادر تشبیهات او استعارات چه د خپل ژوند د ذاتی تجربے او د ماحول د وطنی مشاهدے نه اخذ شوی دی، په کثرت سره بیا مونده شی - د مضامینو بلندی هم، د هغهٔ په غزل کښې معراج ته رسیدلے ده - که د خوشحال خان د غزل نه علاوه، او د نورهیڅ هم نهٔ وے و ئیلے نو بیا هم د پښتو په شاعرئ کښې به هغهٔ ته یو داسے اوچت مقام حاصل وُو چه د بل پښتون شاعر رسائی به ورته کرانه وه - دا لاندِ شعرونه په مختلفو مضامینو، د هغهٔ د غزلونو نه پیش کوو چه د هغهٔ د غزل رفعت، تنوّع او جامعیت لوستونکو ته معلوم او ثابت شی ے

د خوشحال قدر که اوس په هیچا نشته
پس له مرګه به ئې یاد کړه ډیر عالم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان یو کتوری شوزه په مثل د میږی یم
حیران پکښې جار ووزم لاس و پښې پکښې وهمه

دُنیا وته چه ګورم، کار وبار ته د وګړی
د اوره کیو تماشې دی زه ئې هم ورسره کړمه

. . .
. . .
. . .

لکه څوک چه خواږه شهد او خوری، خوښ شی
هسې خوښ د شګو لېو په کنځل یم

دَ جمال خوبی دِ زیاته تر آفتاب ده
د نظر د پاره نوم د پاندِ ماه پردم

که م چرې لاس د واک در ور سیږی
په سپین مخ به دِ د غاښ نخښې سیاه پردم

که نیولې زرکه باز پریږدی له چنګه
زه به هم له لاسه پرېږدم شوخ وشنګه

. . .
. . .
. . .

هر ناوک چه د قضاله شسته خیژی
زمانه د خوشحال زړه ورته آماج که

. . .
. . .
. . .

زړه م ستا په زلفو بند شو، تا کباب کړو
څوک شهباز هم د کباب د پاره نیسی

نورې واړه تکیې وار په وار خورې شوې
دَ خوشحال ختک تکیه په یوه خدائے ده

دَ ختک د ننګ جرګه نشته خوشحاله
راوتلی دی له کومو نسبونو

که دِ زړه دے چه م مینه د رښکاره شی
راشه و نیسه و مخ ته آئینه

سر دِ در دمی، مال دِ درومی، پت دِ نه ځی
دَ سړی دَ چارې کل خوبئ په پت دی

په بنا دئ کښې دِ ئې شکر سړې کاندی
په غمونو کښې دَ صبر چار فرحت ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دروغ ترخولے اوباسی کله خولهٔ ده
چه رښتیا ترخولے اوباسی خولهٔ هغه

چه له دوسته له دښمنه ښهٔ سلوک کا
دَ هغوسړیو ښه زندګانی ده !

دَمنت دارو که مرم پکار م نهٔ دی
کهٔ علاج لره م راشی مسیحا هم

دَ هغهٔ قدرلرم ترے به ځار یږم !!!
چه په غم کښے چاره جوړ ُ دَ بیچاره دے

طالبان ئے دَ جهال لکه حاجیان دی
چه کعبے لره ورځی په لارو لارو

هوښیارانو ځکه ږدِ یرے اندیښنے دی
چه ملنګ دَ مصلےّ هغه انند که

دَخانیُ دَ تورے کار ښته په عشق کښے
معشوقے وته مرئیے اوسه خوشے اله

پُښتنے جُونه م اولیدے په سترګو
چه ځوک تُرکے دَ خطاستائی خطا دی

زهٔ حیران یم په داخلقو نهٔ پوهیږم
تږی مری، ولاړ ترحلقه په دریا کښے

دا هم ظلم دے کهٔ ګورے
چه بے میٹو ځی پسرے

چه سړے له غمه خلاص که
هغه ځهٔ دے قناعت دے

نفس وماته حق ناحق کا، ناحق حق کا
تل دَ دهٔ ترفرموده پورے لاچار یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړهٔ چه ستا ونغ ته ګکوړم
زړهٔ م نهٔ کیږی ګلزار ته

ونورچا وته وړان مهٔ وایه خوشحاله   چه په قول وعهد وران شو وران هغه

چه ئے تهٔ په ګیډه اوخوړے حبطه شی
دَ مجلس سره چه خوړشی خوان هغه

کهٔ په اصل پښتنه دَهندوستان ئے
دا دَظلم خوئے دِ زده کړو له مغلو

چرګ دِ خپل چرګ والے کا کهٔ ئے رضا ده
چه له بازه بازی کا، دَ دهٔ قضا ده

څما اوښکے دَ توکل په جوش پیدا دی
لکه اورچه له کبابه نم اخراج کا

واړه زړونه فراغت وی خوشحالئ کښے   چه په غم کښے مردانه شی زړهٔ هغه

چه په عشق سره ژوندی دی هغه نهٔ مری
چه بے عشقه ژوندی ګرځی، مړهٔ هغه

ډیرے مینے آشنائی څهٔ یکار نهٔ دی
یوهٔ زړهٔ لره یوه آشنائی بس ده

عاشق یو لکه یوهٔ په شمال پائی
بل په غټو سترګو خوب کا لکه سویه

له اښله ئے رند رند، زاهد زاهد کړ د
زړهٔ به ډکے پیالے اخلم تهٔ تسبیح کړه

دَعالم ډیرے خبرے لور په لور تورے لبنکرے
زړهٔ م نهٔ خوزی له ځایه غرخوهسے وی کنه

نشته بانګ دَ مؤذن په درست تیراه
مګر واورے بانګ دَ چرګ په سحرګاه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په ذرهٔ ئے د وحدت ډیوه شوه بله
تجلّی به ئے له مخه ځی ، آفتاب شه

تورے تورے زلفے کبود خال لکه کوتره
راشه که دِ کورے پرے بندی یو ځه شهباز ئے

پښتنے جونه دِ زلفے باد ته نیسی
چه شمال ئے بوئی راوړی په رنتهبور کښے

دَ ښتوؤ نه همه ښتوگی زیږی
که ایغر ئے دَ عرب یا دَ عراق دے

چه دَ خلقو نیک خواهی لرے په زړهٔ کښے
مبارک شه بادشاهی لرے په زړهٔ کښے

غم ئے بے حکمته نهٔ دے پیدا کړے
دَ نامرد دَ مرد په مینځ کښے غم محک دے

دَ خوشحال کلام شیرین دے تر نباتو
چه په خوند ئے خبر نهٔ دے ورته کروت دے

دَ راحت په وخت دَ یار تجربه نهٔ شی
چه محنت دِ سره واخلی یار دِ دے

جنتی زلفے ئے پاس په سینه ځانگی
یمانی بار خوئے گل غوندِ نها شی

لکه باد کله ئے مخ کله ئے شا ده
بیهوده غرور دَ هرچا په دولت شی

که صورت وته دِ گورم په صورت کښے یو حیوان ئے
که معنو وته دِ گورم شهزاده دَ کل جهان ئے

ما خوشحال چه په پښتو شعر بیان کړو
دَ پښتو ژبه به اوس په آب وتاب شی

...

...

...

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ چرګان غرغره دار دي
بیا هم باز وته لاچار دي

آفرین دې په وشیلو شه د خوشحال په
په بیان دا یې عجب شعر رنګین دی

دَ خوشحال سره چه کښیني یو ځو کاله
دا دَ غرهٔ ختک به واړه شاعران شي

# دَ خوشحال خان ختک اخلاقي او فلسفیانه شاعري

POHA

دَ خوشحال خان شاعرۍ لکه څنګه چه مونږ وړاندِ ذکر اوکړو دَ وطنیت سره دَ تصوّف ئے هم څهٔ نه څهٔ رنګ قبول کړے دے۔ اوچونکه تصوّف دَ فارسۍ دَ شاعرۍ یو جز ولاینفک ګرځیدلے دے، په دے وجه دَ پښتو په شاعرۍ چه دَ تصوّف رنګ دَ فارسۍ دَ شاعرۍ دَ اثر دَ لاندِ اوختو۔ نو دَ خان سره ئے دَ تصوّف نور لوازما هم راوړل.

په فارسۍ کښے دَ صوفیانه شاعرۍ دَ ترقۍ یولوئے سبب دا وُو چه دَ ابتدا نه دَ تصوّف سره اخلاقي مسائل هم شامل شوی وُو۔ چونکه دَ تصوّف اودَ خدائے پیژندګلو کښے غرق اونهٔ شلید ونکے تعلق دے۔ او اخلاق دَ تصوّف یوجزو ګرځیدلے وُو او احیاء العلوم دَ اخلاقو دَ فن دقیق اسرار عام کړی وو۔ او محقّق طوسي په اخلاقِ ناصري کښے، دَ ارسطو فلسفیانه اخلاق په ښهٔ شان اداکړی وُو، نو په دے سبب دَ فارسۍ په شاعرۍ کښے دَ اخلاقو کافی سرمایه جمع شوے وه۔ اودَ اخلاقو دا سرمایه دَ فارسۍ شاعرۍ دَ تصوّف په برخه کښے راغلی وه۔ نو په فارسي شاعرۍ کښے دَ تصوّف او دَ اخلاقو سره سره په شپږمه صدۍ کښے دَ فلسفے هم عام رواج اوشو۔ او په مذهبی ډله کښے هم دَ فلسفے کتابونه دا سے مقبول شول چه په درسی نصاب کښے شامل شول۔ او نتیجه ئے دا شوه چه دَ فارسۍ دَ شاعرانو په کلام کښے تصوّف، فلسفه او اخلاق درے واړه رائج شول چونکه دَ تصوّف او دَ اخلاقو ډیرے مسئلے، دَ فلسفیانه افکارو سره خلط ملط شي۔ لکه وجودِ باری، وحدتِ وجود، جبر و اختیار، حقیقتِ روح وغیره - له دے کبله په دے مسئلو کښے دَ فلسفے نه کار اخستل ضروری شول۔ نتیجه ئے دا شوه چه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ اخلاقو او فلسفې په زور، دَ تصوّف لمنه نوره هم وسيع، دقيقه او عميقه شوه۔

خوشحال خان خټک چونکه تصوّف په خپلې شاعرۍ کښې، دَ فارسۍ دَ شاعرۍ دَ اثرلاندې قبول کړے وُو۔ په دے وجه په فارسي شاعرۍ کښې چه دَ تصوف کوم شکل وُو، هغه دَ خوشحال خان خټک پښتو شاعرۍ کښې هم شامل شو۔ يعنې دَ تصوف سره اخلاق او فلسفه هم راغلل او عدل دَ تدبير او رموزِ مملکت هم دَ هغهٔ دَ شاعرۍ جزو او گرځيدل۔ اگرچه عدل و تدبير په حقيقت کښې دَ سياست جزو دے۔ خو چونکه دَ سياست دَ اخلاقو سره هم قوي رشته ده نو خوشحال خان رموزِ مملکت هم په خپلې اخلاقي شاعرۍ کښې شامل کړل۔ او دغه شان دَ هغهٔ شاعرۍ کښې دَ جامعيت او همه گيرۍ صفت نور هم زيات شو۔ خو دا خبره موږ ته هيرول نهٔ دي پکار چه دَ خوشحال خان په شاعرۍ کښې دَ فارسۍ دَ شاعرۍ مذکوره اجزاء په اصلي شکل کښې پاتے نهٔ شول۔ هغهٔ دا ټول علمونه دَ خپل پښتون طبيعت په زور دَ پښتو په رنگ کښې رنگ کړل او پښتانهٔ ئے کړل او دَ پښتنو دَ طبيعت او مزاج مطابق او موافق ئے او گرځول۔ او دغه شان دَ هغهٔ اخلاقي او فلسفيانه شاعرۍ دَ پښتون دَ تکميلِ اخلاق دپاره ډيره مفيده شوه ځکه چه دا دَ پښتون دَ استعدادي تربيت او طبيعت او مزاج موافقه ده۔ او دَ عجمي تصوف په نسبت اسلامي تصوف ته نږدے ده۔

مړانه، پت، ننگ، همّت، جدوجهد، سخت کوشي، اُميد، عملِ پيهم، مسلسل کوشش او دَ باز شهباز او دَ شاهين عادات او خوئ بوئ، دَ هغهٔ دَ اخلاقي او فلسفيانه شاعرۍ اجزاء دي۔ دَ دے نه علاوه عدل، حکمت، احسان، اخلاص، عشق، قناعت، تواضع، سخاوت، ميلمستيا، شکر، توبه، مناجات، حمد و ثناء، همدردي، قول او عهد، حسنِ سلوک، عفوه، خود اعتمادي، توکّل، حق گوئي او بيباکي، عزم، صبر او شکر، محنت او رښتيا وغيره، دَ هغهٔ دَ اخلاقي شاعرۍ سرمايه ده۔ چه دا ټول اسلامي صفات او اسلامي اخلاق دي۔

خوشحال خان خټک دا مضامين، په ساده خوږ شاعرانه طرز کښې ترلي دي۔ کهٔ له دے قسمه اخلاقي مضامين په ادبي او شاعرانه طرز کښے ادا نهٔ شي نو محض خشکه فلسفه يا دَ واعظ خُطبه پاتے شي۔ خوشحال خان خټک لکه ځنګه چه دَ يو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوئ عظیم شاعر نه اُمید کیدے شی، دا خشک مضامین په دلچسپه ادبی او شاعرانه طرز کښے او تړل، چه په لوستونکی دَ آورید لو سره اثر کوی. دلته دَ خوشحال خان خټک دَ اخلاقی شاعرئ دَ نمونے ورکولو ضرورت نهٔ گنړم. ځکه چه دَ مضمون په دوران کښے ځائے په ځائے دَ هغهٔ دَ اخلاقی شاعرئ ډیرے نمونے راغلی دی.

# خوشحال خان دَ فطرت شاعر

خوشحال خان خټک په فطرت نګاری کښے هم یو اُوچت مقام لری. خوشحال خان دَ حسن بنده وُو. په حُسن مئین وُو. کهٔ دا حُسن دَ بنیادم په مخ کښے وُو، یا دَ فطرت په مخکښے، دَ خوشحال خان دَ حسن بین نظر نه بچ نهٔ شو تلے. هغهٔ دَ خپلے حسن پرستئ ترجمانی په یو شعر کښے داسے کوی ؎

دَ ښکلیو دَ جمال په ننداره کښے مِ خدائے بیاموند

لرِ نهٔ دی له مجازه، حقیقت ته رسید لی

خوشحال خان خټک هغه سرسبزه شاداب، ګلګون او حسین دماغ او حسن بینے سترګے لرلے، چه صرف یو اوچت شاعر ته پیدائشی بخشش او عطیه ورکیدے شی.

حسن دَ کائنات په رګ او ریشه کښے چارچاپیره منتشر پروت دے. دَ خوشحال خان خټک په شان دَ اُوچت شاعر حسن بینے سترګے لکه دَ مقناطیس، دَ منتشر حسن ذرّات راټولوی. جمع کوی ئے. او دَ نظم په شکل کښے یو حسین ترتیب ورکوی. زمونږ چارچاپیره یو ښکلے کائنات پروت دے، غرونه، ځنګلونه، سیندونه، شین آسمان او په شین آسمان کښے نمر سپوږمئ، او دَ ستورو محفلونه ټول ښائسته دی. شنهٔ چمنونه، رَوان رودونه، ګلزارونه، مرغزارونه څومره دلکش ښائست لری. رنګ رنګ مارغان او دَ مارغانو ښکلے نغمے او آوازونه، په قسم قسم او نے پیرسل قسمه رنګین ګلونه واړه حسین دی. دَ موسمونو تبدیلئ او دَ هر موسم ځان ځان نه خرقی او ښائست، په آسمان کښے مستے وریځے او دَ دے وریځو نه دَ خوندبارانونه، په غرونو سپینے پیغلے واوُرے، په چمنونو او ګلزارونو کښے خرامان، خرامان نسیم. دا ټول داسے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه راکښونکے ننداره دی چه د شاعر حقیقت بین او حسن بین دماغ ورکښے د بنائست یو جهان وینی. شاعر د ماحول د بے زبانه، خاموش خوحسین نیچر، د پوشیده رازونو، د طلسمی ژبے نه واقف وی. او هغه د قدرت عجیبه نوشت تکی ولاړ ولے شی. شاعر د کائنات د حقیقت غوسنځ مزکه په خپل تیز عقابی نظر شلولے شی. او د قدرت د حسین شړ وند کرمه او ښکلے تماشه بے نقابه او بے حجابه لیدے شی.

د قدرت د عناصرو رنګین مناظر هر وخت د یوے کرے سینما په شان په رنګ رنګ او په قسم قسم ښکلے نندارے ساز وی. خو هغه بنیادم ئے په خوند پوهیږی چه لکه د شاعر غوندِ حسن بین وی. او ژور نظرئے لګی.

خوشحال خان خټک شاعر دٔو. او یولوئے شاعر دٔو. او حُسن بین شاعر دٔو. د هغهٔ کلّیات کښے د فطرت نګارئ داسے ښکلے نمونے شته دے چه سړے ئے په جرأت سره د انګریزئ ژبے د فطرت نګار شاعر ورډز ورتھ د اشعارو په مقابله کښے پیش کولے شی.

د خوشحال خان خټک د فطرت نګارئ د شاعرئ نمونه په دے لاندینو دؤو نظمونو کښے اوګورئ. یو نظم په "پسرلی" دے او بل په "منی" یا خزان.

## پسرلے

چه موسم د ګلونو د ګلزار شی! نرم نرم ترشح په مرغزار شی!
د هغهٔ له بخته څوک برابری که چه په هسے وخت ئے سیر په ګلزار شی

الخ..............

## خزان

چه تحویل شی د میزان توغ شړ ګند کا زمستان
توغ ئے څخهٔ د سهیل ستورے چه ښکاره شی په آسمان
د غارمهٔ په رنځ رنځور وی بیا تندرست شی داجهان

الخ..........

# قندِ فارسی

د خوشحال خان خټک د کلّیات یوه برخه د فارسئ د شاعرئ ده. هغه خپله وائی چه په فارسئ کښے خما نه بهترا وغوره شاعران موندے شی. خو په پښتو کښے خما سیال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته۔ دَ هغهٔ دَ فارسئ دَ کلام نه معلومیږي چه د هغهٔ په زمانه کښې، چه کوم قِسم فارسي دَ مغلو په هندي دربار کښې رائج وه په دغه فارسئ خوشحال خان خټک په بنهٔ شان خاوي وُو۔ خو دَ هغهٔ دَ فارسئ دَ کلام مقابله کهٔ مونږ دَ هغهٔ دَ پښتو کلام سره اوکړو نو مونږ ته به دا حقیقت په بنهٔ شان واضح شي چه کوم خلق چه شاعري دَ موروني ژبې نه په بله ژبه کښې کوي، هغوئ بیشکه چه غلطي کوي۔ دَ شاعر شاعري صرف په موروني ژبه کښې کمال ته رسیدے شي۔ ځکه چه شاعري کښې لکه دَ خیال په شان ژبې ته هم ډیر وقعت حاصل دے۔ او شاعر چه پردئ ژبه دَ خپل خیال دَ اظهار دپاره استعمالوي، نو بعینه دَ هغې دا مثال دے، لکه سړے چه خپل خوږ او نیازبین څوئے عمدا میرېنے مور ته په دے خیال حواله کړي چه دا به ئے لکه دَ خپلے مور په مینه او محبت ساتي۔ او دغه شان ځان ته خپله دهوکه ورکړي۔ نو دَ شاعرانه او ادبي اظهار دپارهٔ، پردئ ژبه هم، شاعر هیڅ کړے په هغه قادر الکلامئ او شیرینئ سره نهٔ شي استعمالولے لکه چه ځنګه دَ خپلے ژبې استعمال کولے شي۔

بنه ده چه خوشحال خان خټک فارسي صرف دَ ژبې د ذائقے بدلولو دپاره استعمال کړے ده او څهٔ لږ غزلونه او نظمونه ئے په فارسئ کښې ویئلي دي۔ او دَ خپلے اصلي او اُوچتے شاعرئ دپارهٔ ئے موروني ژبه پښتو استعمال کړے ده۔ کهٔ خدائے مکړه هغهٔ دَ خپلے شاعرئ دپارهٔ دَ پښتو په ځائے فارسي ژبه کړے وے نو ډیره لویه غلطي به ئے کړے وه۔ او دَ هغهٔ دَ شاعرئ حیثیت به دَ شهباز په ځائے دَ یو تپس پائے شوے وے۔ او دا دُر او ګوهر به سنګریزے جوړے شوے وے۔

مونږ دَ هغهٔ دَ فارسئ کلام دَ دے جوګه نهٔ ګنړو چه په تفخر سره ئے لوستونکو ته پیش کړو۔ په خپل ځائے بنهٔ دے، خو دَ فارسئ دَ اُستاذانو شاعرانو په مقابله کښې څهٔ خاص حیثیت نهٔ لري۔

## دَ خوشحال خان خټک دَ شاعرئ فکر و فن

دَ خوشحال خان خټک دَ شاعرئ په فکر و فن مونږ په دے طویل مضمون کښې ځ ئے په ځائے بحث کړے دے۔ دلته صرف په اختصار سره په دے موضوع څهٔ لیکل به مناسب

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی۔ دَ تفصیل ضرورت نشته۔

دَ خوشحال خان خټک دَ فکرسنګِ بنیاد دَ ننګ او ننګیال فلسفه ده۔ دَ ننګ او ننګیال وضاحت مونږ په تفصیل سره کړے دے۔ ننګ دَ نمونه یا مثالی پښتون دَ اخلاقی او غیرتی ژوند رده ده۔ او ننګیال هغه نمونه یا مثالی پښتون ته وائی چه دَ هغهٔ په اُوچت اخلاقی ژوند دَ ننګ جذبه حاوی وی۔ یا ننګ دَ هغهٔ دَ اخلاقی ژوند محور او مرکز وی۔ دَ ننګیال په خودئ کښے دَ پښتون دَ پښتو، سفلی خودی یا دَ جهل او ناجائز ضد نه وتی عادتونه او خویونه، نهٔ دی شامل۔ دَ هغهٔ خودی صرف دَ پښتون دَ ارفع خودئ، یا اوچت اسلامی اخلاقی ژوند مظهر دے۔ یعنی ننګیال یو نمونه یا مثالی شریف پښتون مُسلمان ته وائی۔ او دَ اخلاقی اقدارو یو داسے مثالی انسان دے چه په حیثیتِ مجموعی په مقابله دَ نورو اخلاقی صفتونو دَ هغهٔ په شخصیت، ننګ، مړانه، همت او شجاعت ضریات حاوی وی۔

خوشحال خان خټک په خپلو اشعارو کښے دَ یو داسے مثالی پښتون بیا بیا ذکر کوی او دَ هغهٔ صفتونه او ننګ په رنګ رنګ ستائی۔ یو داسے انسان دَ هغهٔ دَ وطنی، اخلاقی او فلسفیانه شاعرئ ماحصل دے او هغه په خپل ځان کښے او په خپل شخصیت کښے دَ پښتون دَ ننګیال دَ تصوّر یو خړ شان تصویر وینی۔ په دے وجه هغه خپل ځان دَ خپلے زمانے دَ نورو پښتنو نه غوره او زیات قابلِ عزت ګڼړی۔ له دے قسمه تعالی او تفخر دَ هغهٔ دَ شاعرئ یوه امتیازی نخښه ده۔ اوس به دَ خوشحال خان خټک دَ شاعرئ په فن یو لنډ شان بحث او کړو۔ دَ هغهٔ دَ کلیات نه ظاهره ده چه هغهٔ دَ پښتو دَ عوامی شاعرئ مقبول او رائج فن ته هیڅ وقعت نهٔ دے ورکړے۔ یعنی هغهٔ ټپے، لوبے، ټکتئ، نیمکئ، چاربیتے او بدلے وغیره نهٔ دی وئیلی۔ دَ هغهٔ دَ شاعرئ دَ فن تنسته بُوده دَ فارسئ دَ شاعرئ ده۔ شاید دَ دے وجه دا وی چه دَ هغهٔ په زمانه کښے دَ فارسئ شاعری نمونه شاعری وه او دَ فارسئ په طرز کښے شاعری کول دَ عزت خیز ؤ۔ او لویو او شریفو خلقو دَ خپلے شاعرئ دپاره دَ فارسئ دَ شاعرئ طرز او طور طریقے خوښے کړے وے۔ او دَ هغے په مقابله کښے دَ پښتو دَ عوامی شاعرئ فن او طرز سپک ؤ۔ دا صرف دَ عامیانه او ناخوانده کلی والو شاعرانو دپاره مخصوص ؤ۔ چه پښتانهٔ ورته اخونان وائی۔ او په سپک نظر ورته کوری۔

خوشحال خان خټک دَ خپلے شاعرئ دَ فن متعلق په یوه لویه قصیده کښے په تفصیل سره بحث کړے دے۔ هغه وائی چه ځما نه وړاندِ دَ پښتو شاعری بے خونده وه۔ نهٔ پکښے وزن ؤ، نهٔ بحر

POHA
بوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤو. او دعوی لری چه په پښتو شاعرئ کښے صرف هغهٔ دَ زړهٔ په زور او په ډیر تلاش او محنت یو څو بحرونه راپیدا کړل او پښتو شاعرئ ئے په اوزانو برابره کړه. دَ متقدمینو متعلق وائی چه دَ هغوئ په شاعرئ کښے هم میزان نهٔ وُو او بے وزنه وه. خوشحال خان خټک وائی چه دا خوزهٔ یم چه په پښتو کښے بے مثاله قصیدے لیکم. دَ دلبرو دَ زلف وخال، سترګو او ورو خو په تعریفونو کښے غزلونه وایم. او خما رباعیات، قطعات او مثنویانے همه دُر او ګوهر دی. او بیا وائی چه په پښتو کښے ما دَ شاعرئ اهتمام اوکړو ځکه چه دَ پښتو شاعری خما نه وړاندے جامده وه. او دَ ښېچا سیاله نهٔ وه. دَ وزن، تقطیع، او عروض نه بے خبره وه. په غزل کښے ئے نهٔ مقطع، نهٔ مطلع، نهٔ صنعت، نهٔ تشبیه، نهٔ مثال، نهٔ استعاره خو چه الله پاک ته دَ پښتو دَ شاعرئ دَ ترقئ او آبیارئ خیال راغلو نو زهٔ ئے شاعر کړم. او س خما نه وروستو چه په پښتو کښے څوک شاعری کوی. نو هغه به خما نه په شعر و شاعرئ کښے بنهٔ وی.

خوشحال خان خټک شاعری دَ مدحو ویلو ذریعه نهٔ ګنړی. هغه په هغو شاعرانو ډیر بد وائی چه دَ انعام او اکرام په لالچ دَ بادشاهانو او امیرانو په دربار کښے حاضریږی، او دَ هغوئ مدحیه قصیدے وائی.

خوشحال خان خټک ورپسے زیاته کړے ده چه شاعری دَ هر فاسق او فاجر کار نهٔ دے. او نهٔ دا دَ هر او ر ستړګی کنګال او قلاش دَ وس خبره ده. شعرګوئی خو یا دَ سالک کار دے، یا دَ مالک او یا دَ یو دردمند عاشق کار دے. او یا دَ ابدال. هغه وائی چه دَ هغه شاعر به ژبه پوله ئ او خیږه چه دَ شاعرئ دُر او ګوهر دَ دُنیا دَ مال او زر په خاطر پیری او پلوری. او بیا وائی چه شاعری خو یا دَ بادشاهانو کار دے، یا دَ هزل ګویانو. دَ شاعرئ عیبونه خو نشیات دی. خو فنِ شاعری اقبال منده ده. دَ شعر په ذریعه دَ حسن، بادشاهی او دَ کمال، یاد پاتے کیدے شی. دَ شاعرئ په ذریعه په دانایئ، علم او حکمت کښے اضافه کیږی خو په شرط دَ دے چه دَ شعر استعمال په ځائے وی. چه دَ شعر تنسته بوده صحیح وی. نو بیا دَ شعر نه کله اطلس جوړ شی کله شال. او بیا وائی چه شاعر دَ نورو خلقو نه مختلف قلبی کیفیت لری. هغه هر وخت دَ افکارو په تخلیق کښے مشغول وی.

دَ شعر و شاعرئ متعلق، دَ خوشحال خان خټک پورتنی افکار، په هغه قصیدے کښے دی چه سرئ دا دے :-

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ دَ شعر پہ کال هیڅ نۀ یم خوشحال
ولے خدائے م کړۀ پہ غاړه دا مقال

پہ قصیده کښے هغه خپله اقرار کوی چه دَ هغۀ دَ شاعرئ تیکنیک او فن دَ فارسئ نقل دے او دَ شعر و شاعرئ دپاره ئے حد ونه هم مقرر کړی دی یعنی دا چه دَ شعر استعمال څنګه کول پکار دی؟ په کومو مضامینو قلم استعمالول بنۀ دی او په کومو بد؟

حقیقت دا دے چه خوشحال خان خټک دَ فارسئ دَ شاعرئ تیکنیک اخستے دے. خو دا تیکنیک ئے خپل کړے دے - او دَ پښتو ژبے مزاج او استعداد ته ئے برابر کړے دے. خو نقل کښے ئے داسے ساه او داسے ژوند پیدا کړے دے چه دَ اصل نه سړی ته زیات مرغوب او ښکلے ښکاری ؎

داځۀ شعر نۀ دے چه خوشحال خټک بیان کړو
وا ړه لعل و دُر دی، دَ بیان په تار پیئیلی

میاں سید رسول رَسا
نمبر ۲۰ - ریس کورس ګارډنز
پشاور کینټ

**نوټ:-** دَ دے مقالے په لیکلو کښے علاوه دَ نورو ډیرو کتابونو، چه په خوشحال خان او دَ هغۀ په شاعرئ لیکلے شوی دی، ما دَ لاندِ کتابونو نه ډیر امداد اخستے دے:-

۱- پښتانۀ (دَی پټهانز) - مصنف: سر اولف کیرو
۲- دَ خوشحال خان نظمونه - مصنفین: هاول او کیرو
۳- تاریخ مرصّع مصنف: افضل خان خټک
۴- دَ پښتو ګرائمر مصنف: راورټی
۵- دَ خوشحال خان دَ نظمونو ترجمه. مصنف: بیډلف
۶- دَ افغانانو دَ نولسمے صدئ شاعری - مصنف: راورټی
۷- خوشحال او اقبال مصنف: میر عبد الصمد خان
۸- خوشحال خان خټک مصنف: دوست محمد خان کامل

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ عنواناتو

# فهرِسُت

## اول توک

### قصیدے


| | |
|---|---|
| ۱- پاک الله ته | ۱ |
| ۲- دَ رسولِ پاکؐ په صفت کښے | ۲ |
| ۳- دَ رسولِ پاکؐ په صفت کښے | ۳ |
| ۴- په تعریف کښے دَخپل شعر | ۴ |
| ۵- شعرحیض الرّجال دے | ۵ |
| ۶- شعرحیض الرّجال دے | ۶ |
| ۷- دَ ډوډے جنگ | ۱۲ |
| ۸- دَ پښتون ننګِله او دَ مغل سره پتنه | ۱۳ |
| ۹- په خیبر کښے دَ مغل شکست | ۱۷ |
| ۱۰- دَ اورنگ زیب نه فریاد | ۱۹ |
| ۱۱- دَ اورنگ زیب نه شکایت او دَخپلے مرانے ستائنه | ۲۰ |
| ۱۲- دَ مغل په بند کښے دَ ارمانی زړهٔ فریاد | ۲۳ |
| ۱۳- مغل دپاره خدمتونه او دَمغل په خوشحال ظلمونه | ۲۶ |
| ۱۴- په قندهار جنگ او نتیجه ئے قحط سالی او نحوست | ۲۷ |
| ۱۵- دَ فلک ستمونه او دَ پښتون دَ بے دفایئ نه فریادونه | ۲۹ |
| ۱۶- مشران او خان ستائیل او خپلخانے نه فریاد | ۳۰ |
| ۱۷- دَخپلے مرانے ستائینه او خان ته داډگیرنه | ۳۰ |


POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۱۸- دَ خپلو ځامنونه فریاد | ۳۸ |
| ۱۹- دَ خپل ناخلف ځوئے بهرام نه سرتکول | ۴۱ |
| ۲۰- دَ خپلو ځامنونه بیزاری | ۴۲ |
| ۲۱- بهرام ته | ۴۳ |
| ۲۲- دَ دُنیا حال | ۴۵ |
| ۲۳- دانا او نادان | ۵۰ |
| ۲۴- دَ غواص دَ کال وبا | ۵۰ |
| ۲۵- دَ دُنیا بے وفائی | ۵۲ |
| ۲۶- په خوئ بوئ دَ اصل او دَ کم اصل | ۵۳ |
| ۲۷- په تعریف دَ شرعے شریفے | ۵۴ |
| ۲۸- پند و نصائح | ۵۵ |
| ۲۹- دَ حکمت او دَ صحت خبرے | ۵۶ |
| ۳۰- دَ بوس وکنار رموز او اسرار | ۵۹ |
| ۳۱- صرف اصیله ښځه اصیل اولاد راوړی | ۶۰ |
| ۳۲- دَ نظام په وفات | ۶۱ |
| ۳۳- دَ دُنیا بے ثباتی او بے وفائی | ۶۲ |
| ۳۴- دَ خپلے عقیدے، مشرانو او مرانے په باب کښے | ۶۴ |
| ۳۵- خپل حال | ۶۷ |
| ۳۶- دَ شیے او دَ ورځے مباحثه | ۶۸ |
| ۳۷- دَ خپلو ګناهونو نه توبه ګار او دَ خپلے عقیدے اقرار | ۷۰ |
| ۳۸- دَ بهار ننداره او دَ خپلے خود داری اظهار | ۷۱ |
| ۳۹- ژمی ته هر کلے | ۷۲ |
| ۴۰- دَ اُستاذ دَ خولے پند ونه | ۷۴ |
| ۴۱- دَ دهلی دَ ښار مختصر تاریخ او بیان | ۷۶ |
| ۴۲- لنډئ بازنامه | ۷۸ |


Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




۴۳- پاکه ربه تاته سوال دے ۱۰
۴۴- په دُنیا پورے نږه مهٔ تړه ۱۱
۴۵- خپل یار ته ۱۳
۴۶- نصیحت ۱۴
۴۷- خورے ورے ملغلرے ۱۶
۴۸- دَکوک شاستر یو باب ۱۸
۴۹- دَ بهار منظرونه ۲۰
۵۰- دَهجران نا اُمیدئ کښے ۲۲
۵۱- دَمعشوقے په صفت کښے ۲۳
۵۲- دَ دروغ صورت ستائنه او په هند کښے دَخپل قید حال ۲۵
۵۳- لعل او دُر په تار پیئیلی ۲۶
۵۴- دَمملکت او دَ معاشرے رموز ۲۷
۵۵- دَ شهاد وصال ارمان ۱۰۰
۵۶- دَدیرشو بیتونو بازنامه ۱۰۱
۵۷- دَکاسیرئ په باره کښے ۱۰۲
۵۸- لارے دی بے شماره هر دیار له وردرومی ۱۰۴
۵۹- لیونے خو یو خوشحال دے. ۱۰۵

## دویم توک،

رُباعیانے ۱۰۷

## دریم توک،

غزلے ۳۰۹


Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خلورم توک


## قطعات اومتفرقات ۶۷۳

| | |
|---|---|
| ۱- مسدس | ۷۵۶ |
| ۲- ترکیب بند | ۷۵۷ |
| ۳- ترجیع بند | ۷۵۹ |
| ۴- مخمس | ۷۶۱ |
| ۵- ترکیب بند ذوالقافیتین | ۷۶۳ |
| ۶- مربع | ۷۷۲ |
| ۷- معشر | ۷۷۳ |
| ۸- مسدّس | ۷۷۴ |
| ۹- مخمس | ۷۷۶ |
| ۱۰- مربع | ۷۷۹ |
| ۱۱- قطعات | ۷۸۰ |
| ۱۲- مثنوی | ۷۸۱ |


# پنځم توک


فارسی کلام ۷۸۵


# شپږم توک


فضل نامه ۸۰۱


POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۱- صفت دَ پاک رسولؐ | ۸۰۳ |
| ۲- بیان دَ چار یارؓ | ۸۰۳ |
| ۳- ذکر اسامی دَ امامانو | ۸۰۵ |
| ۴- ذکر تالیف دَ کتاب | ۸۰۵ |
| ۵- **باب دَ معرفت دَ پیغمبرانو** | ۸۰۶ |
| ۶- فصل- ذکر دَ معرفت | ۸۰۶ |
| ۷- فصل- ایمان راوړنه په حشر | ۸۰۶ |
| ۸- **باب- خلق درے گروه پیدا دے** | ۸۰۷ |
| ۹- فصل- ذکر دَ پلِ صراط دَ گذر | ۸۰۸ |
| ۱۰- فصل- دَ بعثت یعنی پس دَ مرګه ژوندون | ۸۱۰ |
| ۱۱- فصل- دَ دوزخ او دَ دوزخیانو | ۸۱۰ |
| ۱۲- فصل- تعریف دَ جنتونو دَ جنت دَ نعمتونو | ۸۱۱ |
| ۱۳- دریم باب- ذکر عبادت و معرفت چه سړ لازم وملزوم دی. | ۸۱۳ |
| ۱۴- فصل- دَ اهلِ کبائر او کبیره ګناهونه چه څو دی | ۸۱۳ |
| ۱۵- فصل- ذکر دَ خیر او دَ شر | ۸۱۵ |
| ۱۶- فصل- ذکر دَ ګناه او په ګناه باندِ توبه | ۸۱۶ |
| ۱۷- تعریف دَ اخلاص دَ طاعت نه دَ ریا دَ عبادت | ۸۱۷ |
| ۱۸- فصل- صفت دَ علم او دَ علم دَ فضیلت | ۸۱۷ |
| ۱۹- فصل- اثبات دَ نبوّت | ۸۱۹ |
| ۲۰- فصل- فضائل دَ رسولؐ دَ اصحابو او خلاف په مراتبو دَ دوئ | ۸۲۰ |
| ۲۱- فصل- تعریف دَ امام اعظمؒ او دَ هغهٔ دَ مذهب | ۸۲۱ |
| ۲۲- څلورم باب- ذکر دَ طهارت او دَ فرض واجب او سنت | ۸۲۲ |
| ۲۳- فصل- ذکر علامت دَ بلاغت | ۸۲۳ |
| ۲۴- فصل- دَ فرض دَ واجب دَ سنت دَ ادبونو | ۸۲۴ |
| ۲۵- فصل- ادب دَ خلاچه چارچوبۍ یا صحرا لره تلهٔ کا | ۸۲۴ |


Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۲۶- پنځم باب - ذکر د وضو د هره کاره | ۸۲۶ |
| ۲۷- فصل- فرائض د وضو | ۸۲۷ |
| ۲۸- فصل- ذکر د وضو د سنتونو | ۸۲۷ |
| ۲۹- فصل- د اودس د مکروهات | ۸۲۷ |
| ۳۰- فصل- د وضو دعوات | ۸۲۷ |
| ۳۱- فصل- د اتومستئلو د وضو د نمانځهٔ په کار | ۸۳۰ |
| ۳۲- فصل- ذکر د تیمّم | ۸۳۱ |
| ۳۳- فصل- په موزه مسح کول | ۸۳۲ |
| ۳۴- فصل- لس څیزه سنت د ابراهیم پیغمبر | ۸۳۲ |
| ۳۵- فصل- ذکر د نارینه د عورتنی د ادبو | ۸۳۳ |
| ۳۶- فصل- د غسل په څو نوعه | ۸۳۳ |
| ۳۷- فصل- صفت د غسل | ۸۳۴ |
| ۳۸- فصل- ذکر د څلورو پاکیو | ۸۳۷ |
| ۳۹- شپږم باب- ذکر د نمانځهٔ د هر باب | ۸۴۰ |
| ۴۰- فصل- د نمانځهٔ د نیت | ۸۴۱ |
| ۴۱- فصل- د نمانځهٔ د فرضو | ۸۴۲ |
| ۴۲- فصل- د نمانځهٔ د واجبات | ۸۴۲ |
| ۴۳- فصل- د نمانځهٔ د سنتونو | ۸۴۳ |
| ۴۴- فصل- د نمانځهٔ د ادبونو | ۸۴۴ |
| ۴۵- فصل- د نمانځهٔ د مکروهات | ۸۴۴ |
| ۴۶- فصل- فرق د مردانو د زنانو | ۸۴۵ |
| ۴۷- فصل- د هغه فعل چه خلل د نمانځهٔ لری | ۸۴۶ |
| ۴۸- فصل- د نمانځه دپاره شناخت د قبلې | ۸۴۷ |
| ۴۹- فصل- ذکر د سجده سهوه | ۸۴۸ |
| ۵۰- فصل- ذکر د نمانځه د موافقت یعنی وختونه | ۸۴۸ |


POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




۵۱- فصل ۸۴۹
۵۲- فصل- په دا درے وخته چه نمونځ پکښے سوا نۀ دے ۸۴۹
۵۳- فصل- درے وخته چه نفل نمونځ نۀ کیږی ۸۴۹
۵۴- فصل- ذکر دَ اذان دَ اقامت ۸۵۰
۵۵- فصل- ذکر دَ امام چه حق اوی ۸۵۰
۵۶- فصل- ذکر دَ نمانځۀ دَ قرأت ۸۵۱
۵۷- فصل- ذکر دَ قضا نمونځونو ۸۵۲
۵۸- فصل- چه په نمانځه کښے اودس مات شی ۸۵۳
۵۹- فصل- دَ بیمار دَ نمانځه ۸۵۳
۶۰- فصل- دَ سجدۀ تلاوت ۸۵۴
۶۱- فصل- دَ جُمع دَ نمانځه ۸۵۴
۶۲- فصل- دَ عید دَ نمانځه ۸۵۵
۶۳- فصل- ذکر دَ کسوف وخسوف دَ نمانځه ۸۵۵
۶۴- فصل- دَ استسقاء دَ نمانځه ۸۵۶
۶۵- فصل- دَ تراویح دَ نمانځه ۸۵۷
۶۶- فصل- دَ نفل دَ نمانځه ۸۵۷
۶۷- فصل- ذکر دَ نفل دَ نمونځونو ۸۵۸
۶۸- فصل- دَ نفل نمانځه وختونه ۸۵۹
۶۹- فصل- دَ شپے دَ نمونځونو فضیلت ۸۵۹
۷۰- فصل- ثواب دَ نمانځه چه بنځۀ ئے ادا کا ۸۶۰
۷۱- فصل- عذاب عقوبت دَ تارک نماز [illegible]
۷۲- فصل- ثواب دَجماعت او دَ تکبیر اولیٰ ۸۶۰
۷۳- فصل- عذاب عقوبت دَ تنها گذار ۸۶۲
۷۴- فصل- اُوم باب- ذکر دَ زکوٰۃ دَ عشر دهر باب ۸۶۲
۷۵- فصل- شرطونه دَ زکوٰۃ ۸۶۳


Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۷۶- فصل دَ زکوٰة | ۸۶۳ |
| ۷۷- فصل- ذکر دَ زکوٰة | ۸۶۳ |
| ۷۸- فصل- زکوٰة دَ اوښانو | ۸۶۵ |
| ۷۹- فصل- زکوٰة دَ غواؤ | ۸۶۶ |
| ۸۰- فصل- زکوٰة دَ پسونو دَ بزو | ۸۶۶ |
| ۸۱- فصل- عُشر دَ خراج | ۸۶۷ |
| ۸۲- فصل- ذکر دَ هغو چه دَ زکوٰة مستحق دی | ۸۶۹ |
| ۸۳- فصل- ذکر دَ هغو دَ ثواب چه زکوٰة بنهٔ اوباسی | ۸۷۰ |
| ۸۴- فصل- ذکر دَ هغو دَ عذاب چه زکوٰة نهٔ ورکوی | ۸۷۰ |
| ۸۵- ا تم باب- ذکر دَ روژه دَ هرهٔ بابه | ۸۷۱ |
| ۸۶- فصل- روژه دَ کفارت | ۸۷۲ |
| ۸۷- فصل- ذکر دَ هغو چه خوراک پرے رغیږی | ۸۷۳ |
| ۸۸- فصل- چه دَ روژو دَ کفارت غاړه خلاصیږی | ۸۷۳ |
| ۸۹- فصل- ذکر دَ نذر دَ روژے دَ نیت | ۸۷۴ |
| ۹۰- فصل- | ۸۷۴ |
| ۹۱- فصل دَ روژے دَ ثواب | ۸۷۵ |
| ۹۲- فصل- دَ روژے دَ اعتکاف | ۸۷۶ |
| ۹۳- فصل- دَ عید فطر سرسایه وغیره | ۸۷۶ |
| ۹۴- فصل- ذکر دَ مال چه حج پرے فرض کیږی | ۸۷۷ |
| ۹۵- فصل- دَ عید دَ قربانۍ | ۸۷۸ |
| ۹۶- فصل- ذکر دَ کشتار یعنی دَ مذبوح | ۸۷۹ |
| ۹۷- فصل- ذکر دَ ښکار دَ جواز | ۸۸۰ |
| ۹۸- نهم باب- ذکر دَ جهاد وغزا ثواب دَ غازیانو وشهیدانو | ۸۸۱ |
| ۹۹- فصل- ذکر دَ شهیدانو چه دوه رنګه وی | ۸۸۲ |
| ۱۰۰- فصل- ذکر دَ مُرده دَ غُسل. | ۸۸۳ |


Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۰۱- فصل- دَجنازے دَ نمانځه ثواب ۸۸۳
۱۰۲- فصل ۸۸۵
۱۰۳- فصل- ثواب دَ صبر په مصیبت کښے ۸۸۶
۱۰۴- فصل- عذاب چه په مړده پسے جزع فزع کوی ۸۸۷
۱۰۵- فصل- عذاب دَ هغه ښځوچه په مړده باندِ ویرکوی ۸۸۸
۱۰۶- فصل- دَ کفر دَ کلمات ۸۸۸
۱۰۷- کلمات دَ کفر دَ زور دَ مخه نورمکروه کارونه
۱۰۸- لسم باب- ذکر دَ کفارتونو په څو نوعه ۸۹۴
۱۰۹- فصل- کفارت دَ ایلاء ۸۹۵
۱۱۰- یوولسم باب- ذکر دَ نکاح دَ استبراء ۸۹۶
۱۱۱- فصل- ذکر دَ نکاح دَ ایجاب قبول وغیره ۸۹۷
۱۱۲- فصل- دَ محارموچه نکاح ئے نهٔ رغیږی ۹۰۰
۱۱۳- فصل- دایه چه په پیو محارمے دی ۹۰۱
۱۱۴- فصل- ذکر دَ طلاق ۹۰۳
۱۱۵- فصل- ذکر دَ طلاق دَ نکاح ۹۰۶
۱۱۶- فصل- دَ طلاق دَ حلالے ۹۰۷
۱۱۷- فصل- لقطه چه څوک بیاموهی ۹۰۷
۱۱۸- فصل- ذکر دَ بیع وشراء ۹۰۸
۱۱۹- فصل- دَ حلال- دَحرام- دَبیع ۹۰۹
۱۲۰- فصل- دَ گواهی دَ شاهدی ۹۱۰
۱۲۱- فصل- ذکر دَ ایمان دَ شپږ وحصارونو ۹۱۰
۱۲۲- فصل- ادب دَ طعام دَ خوراک ۹۱۱
۱۲۳- فصل- ادب دَ اوبو دَ څښلو ۹۱۲
۱۲۴- فصل- دَ خلال ۹۱۳
۱۲۵- فصل- دَ مهمان دَا دبونو ۹۱۳


Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۱۲۶- فصل دَ مهمانی دَ ثواب | ۹۱۵ |
| ۱۲۷- فصل- آداب له کوره واتهٔ په چرته تلهٔ | ۹۱۷ |
| ۱۲۸- فصل- آداب دَ نماستی | ۹۱۸ |
| ۱۲۹- فصل- جواب دَ ونړی دَ عطسی | ۹۱۹ |
| ۱۳۰- فصل- ادب دَ سلام | ۹۲۰ |
| ۱۳۱- فصل- وجوب دَ کسب | ۹۲۱ |
| ۱۳۲- فصل- مذکور دَ صحبت دَ ادبونو | ۹۲۳ |
| ۱۳۳- فصل- آداب دَ عورتے دَ میرهٔ دَ زیست روزگار کښے | ۹۲۴ |
| ۱۳۴- فصل- تعریف دَ عورتینے | ۹۲۵ |
| ۱۳۵- فصل- تعریف دَ حمام | ۹۲۸ |
| ۱۳۶- فصل- ذکر دَ ادویات | ۹۲۹ |
| ۱۳۷- فصل- دَ سترګو دَ دارو | ۹۳۰ |
| ۱۳۸- ایضاً | ۹۳۱ |
| ۱۳۹- ایضاً | ۹۳۱ |
| ۱۴۰- دارو دَ سترګو دَ کدورت | ۹۳۱ |
| ۱۴۱- فصل- دارو دَ سترګو دَ نزول چه آب مروارید ئے بولی | ۹۳۲ |
| ۱۴۲- فصل- دارو دَ نزول یعنی آب مروارید | ۹۳۲ |
| ۱۴۳- دارو دَ یرقات | ۹۳۳ |
| ۱۴۴- علاج دَ پښک | ۹۳۳ |
| ۱۴۵- دارو دَ ګنده دانے | ۹۳۳ |
| ۱۴۶- دارو دَ ټوخی | ۹۳۴ |
| ۱۴۷- ایضاً | ۹۳۴ |
| ۱۴۸- نورهم | ۹۳۴ |
| ۱۴۹- دارو دَ استسقاء | ۹۳۴ |
| ۱۵۰- دارو دَ نهٔ چرولو | ۹۳۵ |


Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ک


| | |
|---|---|
| ۱۵۱- بل رنګ | ۹۳۵ |
| ۱۵۲- دارو دَ قوتِ باه | ۹۳۶ |
| ۱۵۳- دارو دَ قوتِ باه مباشرت | ۹۳۶ |
| ۱۵۴- دا هم دَ قوتِ باه دارو دی | ۹۳۶ |
| ۱۵۵- معجونِ نبیؐ | ۹۳۷ |
| ۱۵۶- علاج دَ مرد بسته | ۹۳۷ |
| ۱۵۷- دارو دَ بواسیر | ۹۳۸ |
| ۱۵۸- دارو دَ نفس دَ خلط دَ هر خلط دا اشتها و ډیرول دَ رنګ ښهٔ کیدل | ۹۳۸ |
| ۱۵۹- دَ نفس خوږې دارو | ۹۳۹ |
| ۱۶۰- ایضاً | ۹۳۹ |
| ۱۶۱- دارو دیګر | ۹۳۹ |
| ۱۶۲- فائده | ۹۴۰ |
| ۱۶۳- جلاب | ۹۴۰ |
| ۱۶۴- دارو دَ جاولی دَ تبې | ۹۴۰ |
| ۱۶۵- دا دارو هم مسهل دی یعنی جلاب | ۹۴۰ |
| ۱۶۶- دَ وجود دَ باد دارو | ۹۴۱ |
| ۱۶۷- دارو دَ بادلقوه | ۹۴۲ |
| ۱۶۸- دارو دَ باد لقوه | ۹۴۲ |
| ۱۶۹- دارو دَ خفته باد | ۹۴۲ |
| ۱۷۰- فائده دَ سپیلنو | ۹۴۲ |
| ۱۷۱- دارو دَ بول بسته | ۹۴۲ |
| ۱۷۲- دارو دَ سنګ مثانے | ۹۴۳ |
| ۱۷۳- دارو دَ پرمیو دَ زحمت | ۹۴۳ |
| ۱۷۴- ایضاً | ۹۴۳ |
| ۱۷۵- دارو | ۹۴۳ |


Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۶- علاج دَ دردِ سر ۹۴۳
۱۷۷- فصل- فائده دَ ویښے وښکلو ۹۴۳
۱۷۸- فصل- ذکر دَ عورت دَ حمل ۹۴۵
۱۷۹- فصل- حق دَ خدائے پاک په بنده ۹۴۶
۱۸۰- فصل- حق دَ خویش و اقربا ۹۴۷
۱۸۱- فصل- حق دَ یتیمانو ۹۴۸
۱۸۲- فصل- حق دَ درویشانو ۹۴۸
۱۸۳- فصل- حق دَ همسایه ګانو ۹۴۹
۱۸۴- فصل- حق دَ مرد په عورت ۹۴۹
۱۸۵- فصل- حق دَ عورتے په خپل میړهٔ ۹۵۲
۱۸۶- فصل- حق دَ بندګانو په خپل څښتن ۹۵۳
۱۸۷- فصل- حق دَ شاګرد په اُستاذ باندِ ۹۵۴
۱۸۸- فصل- حق دَ پیر اُستاذ په مرید په شاګردانو باندِ ۹۵۴
۱۸۹- فصل- حق دَ فرزند په پلار ۹۵۵
۱۹۰- فصل- ثواب دَ قرآن چه فرزندئے لولی ۹۵۶
۱۹۱- څوارلسم باب- ذکر خوارج دَ باغی ذمی دَ خراج وغیره ۹۵۷
۱۹۲- فصل- ذکر دَ جزیه دَ غنیمت ۹۵۸
۱۹۳- فصل- دَ خراج ۹۵۸
۱۹۴- فصل- حکم دَ مرتده ۹۵۹
۱۹۵- فصل- ذکر دَ مورث دَ فلاکت دے ۹۵۹
۱۹۶- فصل- ذکر دَ ایام منحوسه ۹۶۱
۱۹۷- فصل- ذکر دَ رجال الغیب ۹۶۱
۱۹۸- فصل- فالنامه مصحف ۹۶۲
۱۹۹- پنځلسم باب- ذکر دَ تسابیح دَ حاجت دَ نمانځه ۹۶۵
۲۰۰- فصل دَ حاجت دَ نمانځه ۹۶۷

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲۰۱- فصل- دَ نمونځ دَ شبِ برات ۹۶۷
۲۰۲- فصل - نمونځ دَ سه ۹۶۷
۲۰۳- فصل- دَ نمونځ دَ اختر په شپه ۹۶۸
۲۰۴- فصل- دَ لوئ اختر په شپه ۹۶۸
۲۰۵- فصل- نمونځ دَ جُمعې په ورځ ۹۶۸
۲۰۶- نمونځ دَ شنبې په ورځ ۹۶۹
۲۰۷- نمونځ دَ یکشنبې په ورځ ۹۶۹
۲۰۸- نمونځ دَ دوشنبې په ورځ ۹۶۹
۲۰۹- نمونځ دَ سه شنبې په ورځ ۹۶۹
۲۱۰- نمونځ دَ چارشنبې په ورځ ۹۷۰
۲۱۱- نمونځ دَ پنجشنبې په ورځ ۹۷۰
۲۱۲- نور نومونه دَ باری تعالیٰ ۹۷۰
۲۱۳- خاتمه - شکرانه - دَ کتاب څو بیتونه ۹۷۱


# اُوم توک

## بازنامه


۹۷۳
۱- ړومبې فصل په بیان دَ پیژندګلئ دَ باز کښے ۹۷۵
۲- دویم فصل په بیان دَ رنګ دَ باز کښے ۹۷۶
۳- دریم فصل په بیان دَ اشیان دَ باز کښے ۹۷۶
۴- څلورم فصل په بیان دَ تریناک باز کښے ۹۷۷
۵- پنځم فصل په بیان دَ بندونو دَ باز کښے ۹۷۸
۶- شپږم فصل په بیان دَ پیژندلو دَ پیخال دَ باز کښے ۹۷۸
۷- اُوم فصل په بیان دَ نوی باز کښے ۹۷۸
۸- اتم فصل په بیان دَ آموخته کولو دَ باز کښے ۹۷۹
۹- نهم فصل په بیان دَ آموخته کولو دَ باز په ښکار دَ مرغابئ ۹۸۰


POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۱۰- لسم فصل په بيان دَ ښکار کولو دَ نورو مرغانو په باز باندِ | ۹۸۱ |
| ۱۱- يوولسم فصل په تشويق دَ بازونو دَ ښکار کښے دَ غزل په طرز | ۹۸۲ |
| ۱۲- دولسم فصل په بيان دَ تعريف دَ جُره کښے | ۹۸۲ |
| ۱۳- ديارلسم فصل په بيان دَ ښکار دَ باښے | ۹۸۳ |
| ۱۴- څوارلسم فصل په بيان دَ نيولو اوساتلو دَ نوی باز کښے | ۹۸۴ |
| ۱۵- پنځلسم فصل په غزل سره په بيان دَصافولو دَ باز کښے | ۹۸۵ |
| ۱۶- شپاړسم فصل په بيان دَ مهره ورکولو باز لره | ۹۸۶ |
| ۱۷- اُولسم فصل په بيان دَ راايستلو دَ باز له کريزه | ۹۸۷ |
| ۱۸- اتلسم فصل په بيان دَ کښينولو دَ بازونو په کريز | ۹۸۸ |
| ۱۹- نولسم فصل په بيان دَ دارو کولو دَ باز په سبب دَ خط په کريز کښے | ۹۸۹ |
| ۲۰- شلم فصل په بيان دَ راايستلو دَ باز له کريزه | ۹۹۰ |
| ۲۱- يوويشتم فصل په بيان دَ بتوله کولو دَ باز او دَ باښے | ۹۹۱ |
| ۲۲- دوه ويشتم فصل په بيان دَ خورب کولو دَ ډنګر باز کښے | ۹۹۱ |
| ۲۳- درويشتم فصل په بيان دَ طعمه کښے چه دَکوم ځنا ور ښه ده | ۹۹۳ |
| ۲۴- څليريشتم فصل په بيان دَ آبدارے دَغوښے ورکولو | ۹۹۳ |
| ۲۵- پنځويشتم فصل په صحيح تعريف اوتشويق دَميرښکارئ په طرز دَغزل | ۹۹۴ |
| ۲۶- شپږويشتم فصل په بيان دَښکار دَ شاهين کښے | ۹۹۵ |
| ۲۷- اُوه ويشتم فصل په بيان دَ ستکشئ دَچرغ کښے | ۹۹۶ |
| ۲۸- اته ويشتم فصل په بيان دَ رنګونو دَ مارغانو کښے | ۹۹۸ |
| ۲۹- نهه ويشتم فصل په بيان دَ رنګونو دَ چرغ کښے | ۹۹۸ |
| ۳۰- ديرشم فصل په بيان دَ تيارولو دَچرغ کښے | ۹۹۹ |
| ۳۱- يوديرشم فصل په بيان دَ اصل په بارئ کښے | ۱۰۰۰ |
| ۳۲- دوه ديرشم فصل په بيان دَجفت کيدلو دَ غيرجنس کښے | ۱۰۰۱ |
| ۳۳- درے ديرشم فصل په بيان دَ راويستلو دَبچو له هانه | ۱۰۰۱ |
| ۳۴- څلور ديرشم فصل په بيان دَ ابتدا دَ ميرښکارئ کښے | ۱۰۰۲ |


Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۵- پنځه دیرشم فصل په بیان دَ خلط دَ باز په سبب دَ غوښې ۱۰۰۳
۳۶- شپږ دیرشم فصل په بیان دَ رحمت دَ قیل قورت او دمه کښې ۱۰۰۵
۳۷- اُوهٔ دیرشم فصل په بیان دَ چینجی دَ باز کښې ۱۰۰۵
۳۸- اتهٔ دیرشم فصل په بیان دَ توخې دَ دومې ۱۰۰۵
۳۹- نههٔ دیرشم فصل په بیان دَ علاج دَ سپږو دَ باز کښې ۱۰۰۷
۴۰- څلویښتم فصل په بیان دَ عقلې دَ باز کښې ۱۰۰۷
۴۱- یوڅلویښتم فصل په بیان دَ پردے دَ سترګو دَ باز کښې ۱۰۰۷
۴۲- دوه څلویښتم فصل په بیان دَ خشکئ دَ باز کښې ۱۰۰۸
۴۳- درے څلویښتم فصل په بیان دَ علاج دَ باز کښې چه اوچه غوښې ئے خوړلے وی ۱۰۰۸
۴۴- څلورڅلویښتم فصل په علاج دَ سستئ دَ باز کښې ۱۰۰۹
۴۵- پنځه څلویښتم فصل په علاج دَ سرګردان دَ باز کښې ۱۰۰۹
۴۶- شپږڅلویښتم فصل په بیان دَ علاج دَ بادو دَ باز کښې ۱۰۱۰
۴۷- اُوهٔ څلویښتم فصل په بیان دَ متفرقاتو کښې ۱۰۱۰
۴۸- متفرقه ۱۰۱۱
۴۹- متفرقه ۱۰۱۱
۵۰- متفرقه ۱۰۱۱
۵۱- متفرقه ۱۰۱۱
۵۲- متفرقه ۱۰۱۱
۵۳- متفرقه ۱۰۱۲
۵۴- دغه رنګه ۱۰۱۲
۵۵- متفرقه ۱۰۱۲
۵۶- دَ باز دَ تاؤ دارو ۱۰۱۲
۵۷- متفرقه ۱۰۱۳
۵۸- متفرقه ۱۰۱۳

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۹- ایضاً ۱۰۱۳
۶۰- ایضاً ۱۰۱۳
۶۱- ایضاً ۱۰۱۳
۶۲- متفرقه ۱۰۱۴
۶۳- ایضاً ۱۰۱۴
۶۴- متفرقه ۱۰۱۵

# اتم توک

سوات نامه ۱۰۱۷
۱- دا دَخان کلان قصیده ده په احوال دَ جنګ جدل
چه له مغل له مخالفته وو- ۱۰۲۲
۲- فصل ۱۰۲۵
۳- فصل ۱۰۲۷
۴- فصل ۱۰۳۲

کتابت: غلام لطیف، چیرلرے۔ ۱۹۹۸- ستمبر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اول ټوک

POHA

# قصيدې

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاک الله ته

زۀ مدد غواړم له تا نه اے یوه خدایه احده
کۀ مدد دِ راسره وی چاربه نۀ شی ځما بده

زۀ عاجز مرئیے دستا یم تا به ستایم ستا په فضل
ستا ثنا صفت به وایم خو نۀ توان لرم بے حده

ستا ثنا ده ترحد تیره دَ بیابان ترشګو ډیره
هسے څوک دے چه خیرش دَ دیو شګو له عدده

نۀ ته زوېږئ نۀ ته ځوان ئے لکه وے هسے یکسان ئے
لکه وے هسے به وینه له ازله تر ابده

مرکه سبع سموات ده واړه کونه کائنات ده
واړه تا کوښی پیدا کړل بے دَ نورو له مدده

دا همه واړه ملکونه تا زوول له کاف و نونه
هم والدئے دَ ملکونو هم منکرئے له ولده

کۀ سپید دے کۀ سیاه دے په وحدت دستا ګواه دے
تۀ محیط له هرۀ څیزه له سفیدو له اسوده

دستا کار واړه خوبی دے په خوبیٔ او په نیکیٔ دے
دا و مونږ وته رسیږی کله نیکه کله بده

دا شامت ځمونږه خپل دے چه موکار هسے مشکل دے
ګنړه تۀ خۀ هسے نۀ ئے چه خپل ور ترے له رده

هرچه نۀ دِ ذو په نغوته تا لبیک ووے هغو ته
چه په یا صنم ویل کښے دا غلط دی یا صمده

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ پوښتنه کړې له حاله چه دې حال ښهٔ وو تر قاله
دَ بلالؓ اَشهد قبول شهٔ دَ دیو نورو له اشهده

دَ خوشحال ویل او مهٔ دی لائق ستا دَ صفت نهٔ دی
ستا په فضل به پخیږی دا او مهٔ ویل اَحده

## دَ رسول پاکؐ په صفت کښې

دَ خدائے عرفان م وشو په عرفان دَ محمدؐ
پاک دے محمد پاک دے سبحان دَ محمدؐ

راشه نظر وکړه په طٰهٰ په یٰسین با ندِ
خدائے دے صفت کړے په قرآن دَ محمدؐ

ډیر خلق پیدا دی انبیاءؑ کهٔ اولیاءؒ دی
نشته په خلقت کښې بل په شان دَ محمدؐ

ډیر خلق کهٔ یو کړے اِنس و جنس دواړه جهانه
لا تر وا ړهٔ و بهٔ دے کوښے ځان دَ محمدؐ

شط دَ رودِ نیل کهٔ دَ موسیٰ په حکم وشو
شق دَ قمر وشو په فرمان دَ محمدؐ

خوان خوړ دَ موسیٰؑ مَنّ و سلویٰ یو لک وکړی
اِنس و جن مړیږی تل په خوان دَ محمدؐ

دور دَ ناقوس کهٔ یو څو وخته وو فانی شو
تل به تر قیامته وی آذان دَ محمدؐ

نهٔ دی قسیس رهبان قائم په خپل دین و مذهب کښې
نهٔ زر قسیس رهبان نه یو سلمانؓ دَ محمدؐ

یو لک څلیریشت زره زیات وکم پیغمبران دی
کل واړه مدام دی ثنا خوان دَ محمدؐ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیک ئے جبرئیل دَ رفرف جلب نیولے
پاس ئے چه معراج ؤو په آسمان دَ محمدؐ

څۀ دے دا آسمان ولاړ بے ستنے بے شهتیره
دے یو مختصر هلک ایوان دَ محمدؐ

دا جهان هغه جهان کۀ دواړه سرۀ یو کړے
لا تر دانه لوئے دے بل جهان دَ محمدؐ

واړه جنتونه پکښے څو رنګ نعمتونه
څۀ دے درته وایم یو بوستان دَ محمدؐ

څۀ دی دوزخونه پکښے هومره عذابونه
جوړ دے د دښمنو ته یو زندان دَ محمدؐ

ورځ چه دَ قیامت وی مرسلان بره په هیبت وی
هورته به جولان وی په میدان دَ محمدؐ

خواست به نور څوک نۀ کا دَ خسته ؤ عاصیانو
خواست به محمدؐ کا خاندان دَ محمدؐ

سل صلوٰةَ تل له ما په آل تقی نقی شه
سل درود دې تل په چار یاران دَ محمدؐ

لاس دې لګولی ما خوشحال په دواړه کونه
غم اندوه م نشته په دامان دَ محمدؐ

## دَ رسولِ پاکؐ په صِفت کښے

انبیاءؑ تر محمدؐ پورے معلوم دی — لکه ستوری تر آفتاب پورے معدوم دی
مرتبه ئے تر آسمانه ده بلنده — دَ براق ئے دَ آسمان دپاسه سلوم دی
کۀ توریت دے کۀ انجیل دے کۀ زبور دے — دا همه دَ دۀ په نام سره مرقوم دی
محمدؐ ئے دَ غبرا خلقه بولی — کروبی ئے ذاکران دَ احمد نوم دی

Poha Foundation
A.S.KB

په طفیل ئې پیدا شوی دوه جهانه
په ما زاغ ئې و نظر وته مذموم دی

په معجزه ئې د قمر کمر دوه نیم کړه
په اعجاز کښې که پولاد وچا ته موم دی

چه د عرش ئې په نعلینو بډائی شوه
چه د پښتو ئې خاورې نهٔ شول هغه شوم دی

یکتنهائې د جهان مهم آغاز کړه
د دښمنو فکر ئې نهٔ ؤ و چه هجوم دی

بادشاهان ئې واړه ځان کړی مریونه
که د چین دی که د هند دی که د روم دی

په افلاس کښې به د جهل خوار و زار شی
چه د شرع له دولته ئې محروم دی

سرګشته د ضلالت په تِه کښې ګرځی
چه دښمنهٔ ئې د خسرانو یا د زقوم دی

هر اصحابؓ ئې لکه ستورې د هُدیٰ دی
د هُدیٰ د لارې ښیون کاندِ نجوم دی

که خلاف ئې د اصحاب په مینځ کښې وشی
د مفهومو کار هغو زده چه مفهوم دی

چه په جنګ کښې د علیؓ له لوریه وهل
په هغو باندِ ګواهی له چه مرحوم دی

په یزید باندِ لعنت شه په اعوان ئې
چه په تیغ ئې د نبیؐ نمسی مظلوم دی

د امت ئې برګزین دی اثنا عشر
په بزرګی کښې د همه جهان مخدوم دی

د خوشحال خټک دِ حشر له هغو شی
چه دوستدار د پنجتن پاک چارده معصوم دی

## په تعریف کښې د خپل شعر

په پښتو شعر چه ما علم بلند کړ
د خبرو ملک م فتح په سمند کړ

مدعی د تورې شپې اورا ورکې ؤو
د سهیل غوندِ م ځان باندِ خرګند کړ

راز د زړهٔ ننه ساتهٔ نهٔ شی په زړهٔ کښې
په ساتهٔ کښې ئې استاذ و ما ته پند کړ

یو په حال او په ماضی کښې هسې نهٔ وه
چه ښکاره ئې د خبرو را ته خوند کړ

د میرزا دیوان م و مانړهٔ په ګوډی
مسخره م ارزانی خویشکی ښمند کړ

که دولت ؤ که واصل ؤ که دا نور ؤ
په خبرو م د هر یوهٔ ریشخند کړ

قتلې م ورته سازې کړې د قند و
د اور بشو په ډوډئ یو چه بیا شخوند کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لعل و دُرِ ورته و پیپیل دَ نظم
دَ مشکنړو بنجاره مِ مستمند کړه

هر کلام مِ وارِدات دی یا الهام دے
چه موزون مِ په تقطیع دَ بحر بند کړه

په تشبیه او په تمثیل په نزاکت کښې
عذوبت مِ دَ خبرے چند درچند کړه

په تازه تازه مضمون دَ پښتو شعر
په معنیٰ مِ دَ شیراز او دَ خجند کړه

دَ بوستان ونے مِ وارِه پیوندی دی
حقیقت مِ دَ مجاز سره پیوند کړه

نهٔ اندوه دَ مدح و ذم نهٔ هغه کس یم
چه دَ زړهٔ په زور مِ شعر چا پسند کړه

په پارسیٔ ژبه مِ هم ژبه ګویا ده
په پښتو ژبه مِ خلق بهره مند کړه

دَ جاهل په بڅرهٔ تش سر شور ول وی
آفرین مِ په خبرو دانشمند کړه

یا به درست په حسد ډک یا به جاهل وی
چا چه زړهٔ په دا خبرو ناخورسند کړه

جاهلان لکه قارغهٔ ګندګی خوارهٔ دی
شنو طوطیانو به دَ زړهٔ مِهر په قند کړه

نهٔ مِ سود نهٔ مِ مقصود شته په دا کار کښې
محبت حُما په غاړه دا کمند کړه

کهٔ نور سود له شعره نهٔ لرم دا بس دے
چه حاسد مِ دَ حسد په اور سپند کړه

چا حُما مروند تینګ نهٔ کړه په دا کار کښې
ما ذ هر سړی نه خلاص په زور مروند کړه

هم دِ نارد ے هم دِ سخ کهٔ فهم وکړے
زړهٔ چه تا دَ شاعریٔ کار پسند کړه

سخ دِ دا چه سخندان دَ زمانے شوے
زار دِ دا چه دِ په فکر زړهٔ نژند کړه

تر قیامته به یادیږی په جهان کښې
هر سړے چه خدائے په فضل ارجمند کړه

عشقه تهٔ ترا اورنګزیب بادشاه بهتر ئے
چه خوشحال دِ په عالم کښې سربلند کړه

## شعر حیض الرِّجال دے

زهٔ دَ شعر په کار هیڅ نهٔ یم خوشحال
ولے خدائے مِ کړهٔ په غاړه دا مقال

نهٔ په فکر نهٔ په ذکر را برسیر شی
ناګهانه لکه وورے دَ پشکال

رنګ حُما دَ شعر هیڅ سره ساز نهٔ دے
لکه سپے را پسے ګرځیٔ په دنبال

ښکاری سپے چه دَ نخچیر په ښکار کښې بندهٔ شی
له خوښیٔ ئے په مخ مږی سر ور ځال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ د شعر وئیل هر څو د صفت وي ‏ ‏ بیا په شعر کښې پیدا شي انفعال
داخبره بده نهٔ ده چا و ئیلے ‏ ‏ په تحقیق چه شعر حیض دے د رجال
په جهان تر شاعرئ بد څهٔ نشته ‏ ‏ خدائے اخته مکړه سړے په دا جنجال
تفکر د شاعرئ لړمون شین کا ‏ ‏ د غلیم دِ په نصیب شي دا اشغال
یوئے زړهٔ له واړه خلقو نه جدا شي ‏ ‏ بل اخته وي د خپل فکر په نکال
بل د هیچا ناخونده پرجهان نهٔ وړی ‏ ‏ بل د هر سړی د خوئ وي بدسگال
بل کهٔ هر څو دُر گوهر بیبئ په شعر ‏ ‏ عیب جوئے ئے جاسوسی کا د افعال
هر شاعرئے په وئیلو کټ منډی کا ‏ ‏ کهٔ په شعر کښې ئے من ئے دے مثقال
بل په هسےشان دروغ پکښې وئیل شي ‏ ‏ چه پخپله دروغژن شي دم در حال
د یار مخ د لاله گل سره نسبت کا ‏ ‏ د لاله د یار له مخه څهٔ مثال
د هوسئ د نافے وینے نابودے ‏ ‏ برابری کا د یار له خط و خال
د یار قد له سرو وُنے سره سم کا ‏ ‏ سرو ونه ده په باغ کښې نونهال
د معشوقے تورے سترگے غمزه کړے ‏ ‏ په غزل کا لکه سترگے د غزال
سره هوا لکه تبرژن هسے وټیری ‏ ‏ د خپل ځان سره خوله یئے خواب سوال
خلق خوښ په خوب اوده وي ډیبے خوبه ‏ ‏ د پالنگ دپاسه خوب وی پرے محال
پټ په پټ وبله آوری ترصباحه ‏ ‏ د بنهٔ لفظ د بنهٔ مضمون په اتصال
چه د شعر فکر ورشي په مجلس کښې ‏ ‏ نور عالم خندا هوس کا دے ملال
چه د شعر فکر ورشي په نمانځهٔ کښې ‏ ‏ د اَعُوذُ ذال بدل کاندی په دال
چه د شعر فکر ورشي په خوارهٔ کښې ‏ ‏ سپینے دریڅے په مزه شي ورته گال
کله کله ئے مخ پټ شي په ډیر فکر ‏ ‏ چه په دهٔ د لیونتوب شي احتمال
دا همه د خپلے بوهے نتیجه ده ‏ ‏ چه شاعر له فکره نهٔ وي فارغبال
فلاکت د شاعرئ سره مل دے ‏ ‏ کهٔ شاعر سړے لری جاه و جلال
د دُنیا په مال ئے هیڅ نهٔ وی وتنه ‏ ‏ لا شه وگوره دا مال او دا منال
سمرقند او بخارا څهٔ هغه زهٔ یم ‏ ‏ چه جهان بخښم د کښلي مخ په خال
مادا څو توکه چه ولیدل د شعر ‏ ‏ هئے توبه! د شاعرئ له افعال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشکه زهٔ بې ژبه ګونګ وې شاعر نهٔ وې ... تر دا هسې ګویایئ بنهٔ وُم لال
کهٔ رښتیا وایم چه غورم پرې وکړه ... شعرکار دې دَ ملوک یا دَ هزال
کهٔ دَ شعر مذمت عیبونه ډیر دی ... دا هُنر دَ شعر بنهٔ لرې اقبال
دُر ګوهر یا دَ لولئ یا دَ بی بی دی ... بنهٔ قماش یا دَ بادشاه یا دَ رذال
چه دَ شعر په سبب سړه یا دیرږی ... کهٔ حَسن دے کهٔ خسرو دے کهٔ کمال
دَ دوزخ لمبې به کار په عاشق نهٔ کا ... چه ئے تاؤ دَ دروغے دے په دا دال
دانائ علم وحکمت پکښې زیاتیږی ... خوګ چه بنهٔ وکا دَ شعر استعمال
دَ خبرو تنسته چه وَاو دے شی ... خوګ اطلس وودی په شعر ځنے شال
دَ هر بحر ئے په شمار واړهٔ حرفونه ... په تقطیع سره ئے جمع افصال
دَ صفت کښلے تکئ پکښې سړوغې ... دَ تجنیس او دَ ترجیع او دَ اشکال
په عروض کښې کارستان وکا حیران شے ... دَ خبرو ناوی کښینوی تمثال
کرامت دے یا اعجاز دے یا جادو دے ... چه په شعر پیدا شی له قوال
په هر بیت ئے هسې رنګ شولے وړپاخی ... لکه زیږی په ډیر درد سره اطفال
دَ شاعر ویئل او بو سره نسبت کا ... ښورے تلخې اوبهٔ یا خوږے زلال
شعرکار دَ هر فاسق دَ فاجر نهٔ دے ... نهٔ دَ هر یوهٔ وږ سترګی دَ ګنګال
شعرکار یا دَ سالک یا دَ مالک دے ... دَ عاشق دے دَ دردمن دے دَ ابدال
دَ هغهٔ شاعردانے وشه په ژبه ... چه دَ شعر دُر دانے پلوری په مال
چه دَ شعر و شاعرئ مذکور وشو ... څهٔ خو غوږ باسه ځما په حسبِ حال
قصیدے لرم غرا له هر بابه ... په حکمت په نصیحت کښې مالا مال
په تعریف دَ دلبرانو غزلونه ... په صفت دَ سترګو وروځو زلفو خال
رباعی ده کهٔ قطعه کهٔ مثنوی ده ... همګی واړهٔ ګوهر دی در و لال
په فارسئ ژبه کهٔ نور ترما بهتر دی ... په پښتو ژبه م مهٔ غواړه مثال
طبیعت م عطائ نهٔ دَ تحصیل دے ... کهٔ خبر یم دَ املا په استعمال
یو ساعت به م په درس شل م په ښکار دی ... کله ښکار پریښنوم دَ کسب دَ کمال
دَ جهان تحصیل به کل واړه ځما دی ... کهٔ اخته نهٔ وے دَ ښکار په اشتغال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



غابښ وتلی ښیره سپینه لا تراوسه
بند وبست دَ پښتو شعر ما پیدا کړه
نهٔ ئې وزن نهٔ تقطیع نهٔ ئې عروض وُو
دَ غزل نه ئې مطلع نه ئې مقطع وه
مګر زهٔ ئې چه ګویا په شاعرئ کړم
په دا بند وبست به نور ترما بهتر شی
نن ځما ځویه یو ځو دی برخوردار شه
کهٔ دَ شعر وئیل عیب یا هُنر دے
محبت دَ هما ئې سیوره ده کهٔ څهٔ دے
دَ عاشق له زړګه وبهوی وینې
زړهٔ چه خوږ دَ ښکلی مخ دَ مینې نهٔ وی
عاشقان چه په ښهٔ مخ کا هومره مینه
ګلستان ځما دَ مینې شګفته شو
ګلدستې ئې لور په لور په ملک خورې شوې
هر مضمون ته چه دَ زړهٔ توجه وکړم
شبستان م دَ ابکارو معنو ځائې دے
دَ الهام غُند خبروی چه رادرومی
درست دیوان م لکه باغ دَ علم ګنج دے
دَ دیوان م کهٔ بیت بیت سره حساب کړې
په غزل په رباعی م زړهٔ متین دے
په هجران کښې ئې بلبل غوندې فریاد کړم
چه به ما لیدل په سترګو هغه لاړل
دَ هغو دلبرو ښې شوې تورې خاورې
دَ ځړیو به ئې ښاغ لکه رباب وُو
په دیدن به ئې له درده رغیدل وُو

بازبه لاس ګرځم په غرونو په جبال
ګڼړه شعر دَ پښتو وُو غیر سال
دوه مصراعې ئې دَ خفیف بحر دوه طال
نه ئې صفت نهٔ ئې تشبیه نهٔ ئې مثال
پښتانهٔ ئې پوهول ایزد تعال
پس له ما چه کا دَ شعر قیل و قال
چه په دا هُنر کښې نهٔ لری همال
دَ ښهٔ مخ له محبته ئې دے حال
کهٔ کیمیا دے زر کوی سنګ و صلصال
چه جرّاح دَ معشوقې وهی قیفال
پکښې مات شه دَ تیرهٔ توبری سفال
مګر خدائې وینی دَ ښکلیو په جمال
پرې وهی شیدا بلبله پر و بال
ترکابله ترکشمیره تر بنګال
طبیعت ئې راکوی په استعمال
تی ئې نمو هم په غدوّ په آصال
چه ځما په زړهٔ نزول کا لایزال
پکښې هر رنګه ګلونه هر نهال
ترڅلویښت زره به تیرشی په سرکال
چه مداح یم دَ دلبرو دَ جمال
کهٔ ئې نهٔ موسم ګلونه دَ وصال
مخ ئې زهٔ په تصور وینم په خیال
چه په ښنوئې ژړنګیدل راته خلخال
په آواز به ئې دِما وُو وجد و حال
جدائی ئې لکه درد وُو دَ اسهال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ځوانۍ په وخت ښهٔ سره جوړېږي ‌ ‌ ‌ ډیرے جونه یو ځلے سره همسال
که یو دم ئے جدائي وبله اوشي ‌ ‌ ‌ زړهٔ ئے بیا وی وَ وصال ته کشال
په نوبت نوبت ئې ولیدے دلبرے ‌ ‌ ‌ یاد دَ تور و ویښتو عشق ؤو یاد دَ خال
اوس دا نوے ښائسته که هر څو یار کړم ‌ ‌ ‌ دَ ځوانانو څهٔ پروا په پیرِ زال
که بوسه ورځنے غواړم ورنزدے شم ‌ ‌ ‌ په خندا خندا ئې غوږ کا په ناخوال
دَ هغهٔ یاری په کار نهٔ ده دَ کښلیو ‌ ‌ ‌ چه په مخ باندِ ئے نهٔ وینے تور وال
چه دَ کاروبارهٔ ووزی په زوړوالی ‌ ‌ ‌ ګوم صفت دَ هغه خرهٔ کا خر دلال
ږیره که سپینه ښږیره تور دې په خضاب کا ‌ ‌ ‌ ځوانے ښځے وته ځان کا ځوان رجال
نهٔ دَ سپینې ږیرے عیب په خضاب ځي ‌ ‌ ‌ نهٔ دَ تمیز عیب پټیږی په سعال
دَ سړي دَ عمر کار راته ښکاره شو ‌ ‌ ‌ کله بدر کله سلخ کله هلال
په ځوانۍ کښے هر کار په سړي زیب کا ‌ ‌ ‌ په پیرۍ کښے زښتی لری هر خیال
دَ ناړهٔ نه زړهٔ دَ ځوانے ښځے خوږین دے ‌ ‌ ‌ که ساقي ئے په نعمت او په نوال
دَ ځوانۍ وخته که بیا را تلے په بیرته ‌ ‌ ‌ ما به ځار کړه ترخیل ځان واړه اموال
ما وے ګوره لا به کله زړهٔ ژړیږم ‌ ‌ ‌ پیرۍ مخے ته راتله په استقبال
داهم ښهٔ چه ئې پرے سود دَ خاطر کیږی ‌ ‌ ‌ چه تازه دلبره وینم به دا کال
په بوسه دَ شکرلبو زوړ ځوانیږی ‌ ‌ ‌ داخبره تجربه ده دَ خوشحال
باز دَ خپله ښکاره نهٔ وزی چه زوړ شی ‌ ‌ ‌ تر ناړهٔ مزری ځاریږه ځوان شغال
چه دلبرے ظاهر بینے شوے بدکار دے ‌ ‌ ‌ دَ انصاف رانجهٔ ئے وشوے په کحال
عاشقان په سپین ویښته کله زړیږی ‌ ‌ ‌ لا په ګور کښے به ئے هم نهٔ شی احوال
دَ ایمان سلامتي دَ هغه کس ده ‌ ‌ ‌ چه ښهٔ مخ وینی په وخت دَ ارتحال
چه دَ کښلیو دَ جمال برکت ډیر دے ‌ ‌ ‌ مخ ئې ځکه مبارک نیسی په فال
په محشر به مینه وړمه دَ دل سنګو ‌ ‌ ‌ که به دا درنیږی تله دَ اعمال
زهٔ مداح دَ هیچا نهٔ یم بے دَ کښلیو ‌ ‌ ‌ دَ نور چا په صفت نهٔ لرم یو قال
زړهٔ څهٔ خدائے په کښلی مخ باندِ مئین دے ‌ ‌ ‌ ګوره احسن القصص په استدلال
نهٔ ئې طمع له چا ده چه مدح ګوئے شوے ‌ ‌ ‌ نهٔ ئې چا سره لباس شته نهٔ تیتال

Poha Foundation
A.S.KB

کهٔ له هجوے له غندنے درته وایم
فردوسی لری ښوبیته له محموده
چه دَ دور شهنشاه دَ ذم لائق شو
ماهم هیڅ تقصیر په ذم دَ چا ونهٔ کړه
کهٔ محمود بنده زاده وُو دَ خپل پلار وُو
چه په رنګ په خوئ خصلت دَ بابا نهٔ وی
درست عالم په خوئ خصلت دَ خپل بادشاهٔ وی
کهٔ له خپله حقیقته درته وایم
په آباؤ په اجداد خان و سردار یم
کهٔ برے کهٔ هزیمت وارهٔ لیدلی
پلار نیکهٔ م شهیدان ګور ته تللی
کهٔ به ډیر په هزیمت راځخه توئے شول
لکه وُم په خپل همت بیا به هغه وُم
کهٔ دَ جنګ دَ پرهار ونو درته وایم
یو پرهار م به لا روغ په وجود نهٔ وُو
چه قضا دَ سړی نهٔ وی سړے نهٔ مری
قدردان ځما دَ کار شاهِ جهان وُو
چه نیک خواه بد خواه همه ورته یکسان دی
چه دَ دهٔ دَ بادشاهئ دَور وشو
په دوران ئے درست جهان سرهٔ ګل وشو
چه په خپل بابائے نهٔ دهٔ صرف کړے
چه دَ ښو سړیو قدر باندِ نشته
لکه دے ځما زوال وته ناظر دے
دا همه ځما دَ توره صدقه دهٔ
نن به درست دَ هندوستان دولت دَ دوئ وُو

فردوسی م په دا کار کښے نهٔ دے سیال
زهٔ لرم دَ اورنګ زیب دَ ذم جوال
دَ غندنے ګنړه هریواق سقال
دَ اورنګ بادشاه په غاړه دا وبال
په زړونه کښے خونهٔ وُو دَ بل آل
هغه څو یه دَ بل آل لری مآل
لکه دے وی دَ عالم وی دا خصال
زهٔ ځائی یم دَ مغل نمک حلال
کارنامے لرم دَ جنګ او دَ جدال
خوئ خصلت لرم دَ قتل دَ قتال
پښتا پښت م هنر دا دے آل په آل
واندِ ر وستو په یمین او په شمال
په بل جنګ کښے ونصرت ته په آمال
چه له درده م به تن وُو لکه نال
بل پرهار م به په تن شو یا به ډال
کهٔ ئے درست صورت په غشیو شی غربال
دا اورنګ بادشاه ښکاره دے خود احوال
نهٔ تمیز نهٔ ئے دَ عدل اعتدال
په دوران ئے لوی په لور دے اختلال
نهٔ به وائے زمانه شوه دَ دجال
دَ جفائے په دا نور و څهٔ اهمال
ځکه زهٔ ورځنے ګرځم په جبال
زهٔ لا نهٔ غواړم دَ دهٔ هسے زوال
پښتانهٔ چه پرګنے خوری سیور غال
پښتانهٔ کهٔ کم همت نهٔ وے جهال

(c) ketabton.com: The Digital Library
POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یګانه ځوانان کهٔ زر له ما سره وے
نور ځما وُو په پنجاب باندِ یرغال

کهٔ هر څوئے ساتړم رانهٔ سازیږی
پښتانهٔ دی دَ تیږیو کانړیو دیوال

هومره قام هومره عالم سردارئے هسے
سرګردان ګرځه په تیښته دا منوال

دَ دانا سردار دَ تیښتے شرم نشته
چه علاج کا دَ غلیم دَ استیصال

چه په مرګ دِ غلیم سخ کا هسے مهٔ مره
وسردار و ته هم دا دے استقلال

تراویاؤ کالونو تیر شو ځما عُمر
زړهٔ هغه دے تن پیرئ کړ پائمال

لکه ما به له مغل و هلے تُورے
دریغه دریغه په ځوانئ وے دا حال

نوے میاشت ده محرم غصه ئے کال دے
په غلیم مِ غصه وریژه دا کال

خدایه هومره مهلت ورکړے په دُنیا کښے
چه کاږه کارونه سم کاندی خوشحال

## شعر حیض الرّجال دے

په ځان او په جهان کښے ما دوه څیزه دی وکښلی
په ځان کښے دواړه سترګے په جهان کښے واړه کښلی

دَ زلفو په هوائے بیخودی ځما نصیب شوه
له ځانه په جهانه تل بیخود دی مارخوړلی

دَ کښلیو په جمال په ننداره کښے ما خدائے بیاموند
لږ نهٔ دی له مجازه حقیقت ته رسیدلی

ښهٔ مخ وته چه ګورم په دوه سترګو نهٔ مړیږم
دَ تن وینښتهٔ مِ واړه وازے سترګے دی ختلی

سیه دل دَ محبت له سوزه سازه خبر نهٔ شول
په کار دَ پتنګانو مچان نهٔ دی پوهیدلی

دَ هغهٔ خونی له تیغه دَ خلاصئ فکر ومهٔ کړه
چه دے له ناترسئ زړهٔ وکاږی دَ وژلی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خدائے ملامتونه کوښي کوښي تهمتونه
په عشق کښې دَ وګړي ماخهٔ لړ نهٔ دي زغملي

ښځهٔ مخ په مثال ګل شو زړهٔ ځما لکه بلبل شو
شيدا بلبله هرچرته چه ګل دے هورے يلي

مدد وکړه دَ وينو دَ ژړا په وخت اے دِله
نور اوښکے پاتے نهٔ شوے چه ډيرډير م دي ژړلي

دَ شعر خهٔ ثنا کوم چه دے حيض الرّجال دے
بد کړ کا چه له دهٔ نه ډير زيانونه رسيدلي

کهٔ شعر ته نظر کړے په خپل اصل کښې بد نهٔ دے
بد دا چه خوک په شعر کښې ويل کا نا پسندلي

چه چا دے شعر کړے بے ميزانه بے عروضه
دا هيڅ شاعري نهٔ ده يو خوسپي دي تهميدلي

پارسي شعر م هم زده سليقه لرم دَ واړو
پښتو شعر م خوښ شو هرخوک خپل ګنړ ښاغلي

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبيه کښې
پښتو ويل م عين تر پارسۍ دي رسولي

پښتو ژبه مشکله دَ دے بحر موندهٔ نهٔ شي
هم مالره يو خو بحره په ډير مښسود راغلي

له چا نه په پښتو کښې ما ميزان ليدلے نهٔ دے
ميرزا په دا زبان کهٔ ويل کړي دي تللي

مخزن م دَ اخوند چه تمامي په نظر کښنيوت
په دهٔ کښې نهٔ عروض شته نهٔ ئے بحر ماموندلي

دانا به پرے پوهيږي دَ ناپوهو کار پرے نشته
دا دُرچه دَ بيان په تار خوشحال خټک پيئيلي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کذاب دے کۀ دا شعرلکه دۀ پښتو بیان کړم
کۀ هسے ویل اوس شی یا پخوا دی چا ویلی
دَ شعر په ویلو ډیرخوښ نۀ یم ولے څۀ کړم
چه نړۀ مې بے اختیاره کله کله ورته زغلی

په شل کاله کښے ډیګ څما دَ شعر په اوربار شو
په دا دوره مې پوخ کړ چه شپیتۀ کاله مې تللی
حاسد مې کۀ په شعرله حسده ګوته کښیږدی
چه دے مومی له شعره واړه دۀ ورته بخښلی

دَ شعر په ویل کښے کۀ مقصود لری هم دا دے
په دا بهانه مې ګوندِ چرے یا دکا ناز ولی
په تورکِسوۀ کښے پټه رنګینه معنیٰ وګوره
زرشو یو مې سرۀ زړله توروشکو دی ایستلی
دوه بحرۀ دوه مطلع لری کۀ دا قصیدۀ ګورے
زر یو اتیا کالونه په صفر کښے ما وئیلی

# دَ روړے جنګ

څو وانخلی له غلیمه انتقام
مرد نۀ خوب کا نۀ خوراک کا نۀ آرام
چه دَ ننګ او دَ ناموس اندوه ئے نۀ وی
دَ هغۀ سړی به نۀ وی احترام
کۀ همت او حمیّت غیرت پکښے وی
تر خښتنه به بهترکنړی غلام
په ورو ورو پرے قدم ږدی ورباندِ خیژی
په یوه ځله څوک نۀ خیژی په بام
په طلب کښے کۀ سستی نۀ وی باورکړه
دَ ژوندون اوبۀ به بیاموے په کام
واړه ورځے سرۀ نۀ دی برابرے
کله دړد کله داړوکاندی ایام
دَ مردئ دَ نامردئ ترمینځ میل نۀ دے
تفاوت ئے په ذړه دے یا په کام

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ بل ترلاسه ورغے دَ بل شو
چه په ذات ئے پلارنیکهٔ تورے وهلے
دَ کنبت غصه مِ اووته له دِلـه
چه په مخ ئے فتح دروهی عابدخان دے
خدائے ئے عمرِ دَ خپل پلارکړه کام اونام هم
غلیمان دِ ترے حذر خوری کهٔ پوهیږی
چه داهسے تورزن روړئے خدائے پیداکړ
دَ لښکروکا رخهٔ هسے آسان نهٔ دے
چه دَ بخت یوځو ویښتهٔ لری په سرکښے
چه رښتینے ترسر تیر بخښل خوشحال کا
دَ مزری بچه ورمیږ دَ نیله گاؤ دے
دَ میدان هوسئ یو یو تازی نیسی
دَ ړوړه حصارئے درست په وینو سورکړو
دَ ړوړے حصارخهٔ هسے آسان نهٔ وُو
پاس په غرهٔ باندِ محکم وُو چا وهلے
دَ خاوند په حکم هسے فتح وشوه
دَ اوو کوتونوکار دَ خدائے په حُکم
لهِ هیبته په آسمان کښے په لرزه شو
دَ توپکو دَ ویشتلو په لوگیو
دَ ختکو نیزے هسے تلے په غرهٔ
دَ ختکو نیزه باز وسورو توئے کړهٔ
ډیرځوانان غاړه غړئ شول په داجنگ کښے
صدرخان لاچیرے جنگ لیدلے نهٔ وُو
دَ شاهین مرغے چه والوزی له ځالے
شجاعت دَ هوښیارانو بنائسته وی

مرد به خپل لری دَ خپل فکر زمام
پرے جوړیږی کار دَ تورے دَ صمصام
خدائے چه راکړ په ړوړه دَ فتحے کام
په هرځائے دَ خپل باباکا تازه نام
په غلیم دِ ئے لاس براوسی مدام
تیرهٔ تیغ ئے اژدها دے خون آشام
پرے دِ فخر کا همه ورونړه مُدام
چه پرے هر سړے به مومی انتظام
دَ هغهٔ په مخ ظفر دروهی مُدام
دَ هغهٔ دَ وړاندِ سرکښیږدی انام
کیدړ تروړے ئے مړیږی په لحـام
ړوړی غپ په کلی ډیرکړځی انعام
په ړوړه باندِ چه وشو قتل عام
چهٔ ئے فتح تیرید له په اوهام
دَ کوهاټ ترکوټ ئے بنهٔ وُو استحکام
چهٔ ئے کار شو په دوه ورځو سرانجام
وارپه وار شو په هفته کښے انصرام
چه دَ تور وخرپا واوُریدهٔ بهرام
بل آسمان اتم پیدا شو کبود فام
لکه ستن په خیمه درومی دَ خیام
دَ بنگښو دَ سور و فوځ تمام
کهٔ تقصیر نهٔ وُو دَ تورو دَ سهام
په داجنگ ئے نیزه سره کړه په خصام
په کاتهٔ کا نور وزانیو ته پیغام
بدجلب حبطه وُمری بد لغام

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ جهان بنادئ واړہ دَ هغو دی ‌ ‌ ‌ چه په حکم دَ یوهٔ لری قیام

دَ ګنبت ارمان مِ درست له دِله وُوَت ‌ ‌ ‌ کۀ شکست ؤوکه پرهار ؤوکهٔ دُشنام

په بد بوئ دَ کشتګانو مزکه خسا شوه ‌ ‌ ‌ چه ریزه ریزه شوهٔ په ډوډه کښے په حسام

عنایت سردار چه څهٔ ملک مبرے وُو ‌ ‌ ‌ دَ ډوډے په جنګ شول مالګه دَ طعام

دَ بنګښ بخرہ دَ پالے دَ چُوکے ده ‌ ‌ ‌ نور دِ ننباسی تُوره په نیام

څوک چه خپل کسب پریږدی بل کسب نیسی ‌ ‌ ‌ تر هغهٔ نه به بل نهٔ وی عقل خام

کۀ ګاوز په جنګ باتور دے جنګ ئے هیر دے ‌ ‌ ‌ چه په سر وخوری څپیړه دَ ضیغام

کۀ بنګښ څخه څهٔ ننګ وے پرے به نهٔ کړے ‌ ‌ ‌ ما دَ دهٔ له ډکه باغه یو بادام

چه بے ننګه چارے کا په واړو ورشه ‌ ‌ ‌ لکه راغے په بنګښو دا هنګام

چه دَ فکر بدرقه ورځخه نهٔ وی ‌ ‌ ‌ بخته کار به په لاره نهٔ اخلی یو ګام

دَ بنګښو شامت خپل سزائے دا ده ‌ ‌ ‌ چه په غوبښوئے مریږی دَ دو دام

هرکهتر چه دَ مهتر سره ستیزه کا ‌ ‌ ‌ دَ عمل سزا به مومی په انجام

هسے غم الم ماتم وربانډِ راغے ‌ ‌ ‌ رڼرا ورځ شوه دَ کوهاټ په عالَم شام

دَ کوهاټ په عالَم واړهٔ عالم ډک شو ‌ ‌ ‌ دَ بنګښو کړه لاړه تر بګرام

بد مذهب رافضی ډیر دی په بنګښ کښے ‌ ‌ ‌ چه خبر نهٔ دی دَ شرع په احکام

نا سنت په مردګانو کښے هم ډیر وُو ‌ ‌ ‌ په دا جنګ کښے چه عالم شو انعدام

بنګښ کله پښتانهٔ دی ګوره څوک دی ‌ ‌ ‌ نهٔ ئے ذات نهٔ ئے مذهب نهٔ ئے امام

دَ بنګښ له بده بویه به خلاص نهٔ وی ‌ ‌ ‌ کۀ په ملک کښے سړی ووینے تمام

دَ بنګښ په زړهٔ کښے ډیره شیطانی ده ‌ ‌ ‌ کۀ په خولهٔ وتاته شیخ شی دَ بسطام

کۀ مِ پښه په ګنبت وښوئیده څهٔ شو ؟ ‌ ‌ ‌ په همت مِ ثابتی وه دَ اقدام

دَ ډوډه په جنګ کښے بیا دَ میږو ډک شو ‌ ‌ ‌ په ګنبت کښے چه خالی ؤو هغه جام

بنهٔ چه مخ دَ هغه سوبے رابشکارهٔ شو ‌ ‌ ‌ چه لیدله مِ په خوب او په الهام

هغه کار چه ترسر ورسیږی بخت دے ‌ ‌ ‌ چه په زړهٔ ګرځی په ویښه په منام

دَ سړی مراد هاله درشی په غیږ کښے ‌ ‌ ‌ چه راضی شی ذوالجلال والاکرام

تل تیره توره وهه کۀ حکم نهٔ وی ‌ ‌ ‌ یو ویښتهٔ به کنډ ؤ نهٔ کا دَ اندام

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تری دی کۀ بولاق رحمت پرے باندِ
په سیالۍ تُورے وهلے واړه قام

چه اول ئے خپل نشان په غونډۍ لګ کړ
په رحمت دَ اَتړوخیلو وُو ناکام

دَ تیری دَ منډ هنرو بنه تنبه وه
په دا کار کښے دَ یوسف په اهتمام

شاهی بیګ مرزا دارو یو خوسوارۀ وُو
نۀ وُو نور دَ خوترے نمک حرام

په دا هسے وخت یو دوه ایسوړی نۀ وُو
نۀ خورم نۀ درویش خیل وُو بد فرجام

شابی خیل کۀ مکوړی وُو په اولجه شول
دَ خوږ مو تښے بنۀ وکړ خرام

عالم خان صاحب اولاد جمال الدین دے
په ساغری په بنګی خیل کښے دَ اکرام

شاهی بیګ ساغری په تن ملک میرے دے
ترشیرا اول دَ دۀ کړی کار تمام

په دا جنګ کښے اولجے وشولے بے شمار
دَ بنوجونو دَ اَسونو دَ انعام

توره زغرے کۀ لیندے وے کۀ درستے وے
په وسلو سره معمور شو هرکدام

شیږ اوۀ زره ختک وُو په دا جنګ کښے
په اولجه سره خوشنود شو هرکدام

دَ ګنبت جنګ م په ننګ دَ پښتانۀ وُو
بل غرض م په منځ نۀ وُو نۀ مُرام

یو په لس وربانډِ وشوه یو په شل وه
کۀ لښکر په دوه کړے وے مقام

دَ دے جنګ نارے به دروی په ملکونو
پرے خوښیږی به همه پښتون په نام

چه دَ دے سوبے آوازوشی په هند کښے
بیا به ژغ شی دَ بادشاه په خاصؔ عام

چه په نام پښتون غوخیږی پرے خوښیږی
اورنګ زیب هسے بادشاه دے دَ اسلام

دَ اسد تحویل نهر یو نوی رجب وُو
په دریم دَ جنګ آغاز شو دا کلام

په کاغذ کښلی خبرے پاتو کیږی
دا بیان په بیاض خکه شو ارقام

په غلیم باندِ دَ هسے فتح تل وه
لکه دا فتح چه وشوه والسلام

## دَ پښتون نه کِله اودَ مغل سره پټنه

بیاله کومه را پیدا شو دا بهار
چه په هر لوری ئے ملک کړ دیو ګلزار

ارغوان دی ضمیران سوسن ریحان دی
یاسمن دی نسترن نرګس ګلنار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسرلی ګلونه ډیر په هرهر رنګ شسته
ولې سرۀ لاله دی لا پکښې اوخار

جونه موتي موتي ګل بڼدی په ګریوان کښې
دځوانانو ګلدستې دی په دستار

مغنی په چغانه لیندئ کښېږده
په نغمو په پردو وغواړه هرتار

ساقی راشه ډکې پیالې راکړه
چه دمیو په مستئ کښې شم سرشار

پښتنو ځلمیو بیا لاسونه سرۀ کړۀ
لکه بازمنګلې سرې کا په خپل ښکار

سپینې تورې ئې ګلګونې کړې په وینو
په اهار کښې شګفته شو لاله زار

ایمل خان دریاخان دواړه مرګ ئې نۀ وې
هیڅ تقصیر دواړو ونۀ کړ وار په وار

دخیبر دره ئې سرۀ کړله په وینو
په کړپه ئې هم روان کړ دندو کار

ترکړپه ترباجوړه سمې غرونه
په لړزه په زلزله شول په بار بار

په هغه لوری چه کیږی ښځم کال دے
هرۀ ورځ دسپینو تورو خرپهار

چه په دالوری نرۀ راغلم خبطه شوم
نرۀ مرداریم کۀ داخلق دی مردار

په لښکر لښکرنارے شوم ورته ستړے
داکانړۀ راته نه مهیرک وائی نۀ ځار

چه احوال دیوسفزیو را معلوم شو
لواغروماته ښۀ ښۀ ؤو نۀ دمغار

دختکو سپی بهتر تریوسف زیو
کۀ ختک دی هم په خوئ ترسپی بیکار

درست پښتون ترقندهاره ترا ټکه
سره یو دننګ په کار پټ وآشکار

ګوره څوجنګونه وشو په هرلوری
ولې هیڅ دیوسفزیو نشته عار

اول جنګ دلوړے شا دتهترو ؤو
چه خلوینښت زره مغل شول تار په تار

خوبندے لونړه ئې په بند دپښتنو شوے
آس اوښان هاتیان اولجه قطار قطار

دویم جنګ میرحسینی په دوابه کښې
چه ئې وتکیدۀ سر لکه دمار

بیا له پسه دنوښهر دکوټ جنګ ؤو
چه م وکیښ ترمغلو خپل خمار

بیا له پسه جسونت سنګه شجاعت خان ؤو
چه ایمل ئې په ګندهاب ویوست دمار

شپږم جنګ مکرم خان شمشیرخان دواړه
چه ایمل کړل په خاپښ کښې تار په تار

چه ځما په یاد دی لوئے جنګونه دادی
دهلکو په هرلوری نشته شمار

همیشه فتح ونصرت دے لا تراوسه
پس له داده بیا تکیه په کردګار

اورنګ زیب راته یوکال اوشوچه پروت دے
په صورت حیران پریشان په زړۀ افګار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال په کال اُمرایان دي چه پرېوزي
چه طوفان شولې لښکرې کوم ئې شمار

خزانې دَ هندوستان دي راخورې شوې
سره مُهران دي نئوزي په کُهسار

دا دَ هیچا په اتلس فکره نهٔ وُو
چه به دا کار ونه شي په دا دیار

دَ بادشاه دَ بد نیتیٔ کمې نشته
په بدنیت ئې آزار واخست دَخپل پلار

خکه اوس دَ چا باور ورباندِ نشي
هم بدنیت دے هم بدقول هم مکار

بله هیڅ لیدله نهٔ شي په دا مینځ کښې
یا مغل دَ مینځه ورک یا پښتون خوار

کهٔ گردش دَ آسمان دا دے چه لیدهٔ شي
کهٔ دَ خدائے رضا په دا وي راغے وار

آسمان هرکله پېرې یک رنګے نهٔ کا
کاه په کام دَ ګل جار وُوزي کاه په خار

په دا هسې وخت چه وخت دَ نام و ننګ دے
دا بې ننګه پښتانهٔ کا څهٔ رفتار

پښتانهٔ چه نورڅهٔ فکر کا ناپوه دي
بې دَ تورې خلاصې نشته په بل کار

ترمغلو پښتانهٔ په توره ښهٔ دي
کهٔ په پوهه پښتانهٔ وے څهٔ هوښیار

اولسونه چه سند و بلهٔ وکا
بادشاهان ورته سجود کاندي اختیار

کهٔ نفاق کهٔ اتفاق کهٔ جهل پوهه
دَ هرچا دَ خدائے په لاس ده هره چار

افریدي مهمند شنواري گوره څهٔ کا
دَ مغلو لښکر پروت په ننګرهار

زهٔ تنها پکښې په غم دَ نام و ننګ یم
یوسف زئي فراغت په کښت و کار

اوس چه هسې بې ننګي بې ناموسي کا
عاقبت به ورښکاره شي خپله چار

مرګ څما په پوهه ښهٔ تر دا ژوندون دے
دَ عزت سره چه نهٔ وي زیست روزګار

همیشه به په جهان کښې ژوندون نهٔ وي
دَ خوشحال ختک به پاتې شي یادګار

دَ درېیم خور اول کال دَ غفو (۱۰۸۶هـ) دُو
ماچه ووے په برمول کښې دا اشعار

# په خیبر کښې دَ مغل شکست

چه دانا ترنادان لا وړنې بتر
مګر نهٔ دے دا ژوندون څهٔ معتبر

چه رم فهم فکر وکړهٔ باور وکړه
په دا باغ کښې ګل له خار دے برابر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له کوموغرونو راغے چرته دړومی　　اباسين لا په داهيڅ نۀ دے خبر
دَ شلمان غرونه په دا کله خبر دی　　په شلمان کښے چه زړګونه شول ډبر
نۀ آسمان ځنے خبر دے نۀ دا مزکه　　چه عالَم شو په طوفان زير و زبر
په يوۀ زمان کښے څۀ قدرت ښکاره کا　　څۀ قادر دے توانا الله اکبر
مکافات دَ کوم ګناه دَ کوم شامت دے　　چه ډبر دَ مير جمله شو درست تبر
چه دا هسے ئې پيرے کړلے بنيادے　　دَ فلک په سر کښے شته څۀ شور و شر
نۀ په ډير ده نۀ په لږ دَه خدائے په کړه ده　　لږ لښکر په ډير لښکر مومی ظفر
څه شنواری څۀ مهمند څۀ افريدی وُو　　چه ئې مات کړ دَ صوبے واړه لښکر
دا طوفان چه په مغلو باندِ ساز شو　　په کشتن په اُلجو هيڅ مکړه نظر
کۀ آسونه کۀ فيلان کۀ اسبابونه　　په انبار انبار سپين زرۀ و يا سرۀ زر
هغه ښے پری پيکرے دَ پالکيو　　ملکی پرے پورے لال و دُر ګوهر
په زړګونو پښتنو کړے ترځان لاندِ　　دا به څوک کا دَ مغل له زړۀ بدر
دا کينه به يو په سله تر او باسی　　کۀ ئے لاس شی په جمله پښتانۀ بر
پښتنو څه کۀ شته څۀ عقل پوهه　　ايل ياغی دِ ځنے کاندی اوس حذر
دا متل دَ زمانے دے څۀ اوس نۀ دے　　چه نامرد خر په پالان وهی نۀ خر

مستجاب مهمند کۀ جرګه دَ مغل ده
زۀ خوشحال خټک خوبازيم ځائے مِ غر

# دَ اورنګ زيب نه فرياد

هغه خدائے چه بندی کړے ئے دَ خوشحال　　هم هغه به ئے خلاصے کا په هر حال
مۀ منت دَ خويشکی ميشکی باندِ بار شه　　نۀ منت دَ باقل زئ دَ بقال
نيستی واړه په نصيب دَ بيګ محمد شوه　　بے ننګی واړه په بخره دَ جلال
نام و ننګ ناموس کۀ دا دا افغانی وی　　چه ښکاره ئے شو په دا دور احوال
اول مور دَ درست غوری په خره غوڅ لے　　بيا دَ واړو پښتو ژبی په دنبال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دانا سازے چه په ما شوځه په دوق شوے
که د سمے که دغره دی یوسف زئی
دخپل خان صفت به نه کړم چه زه خه یم
ما د دوئ سره د ننګ پالنه بنه زده
د حریف قدر حریف وته بنکاره دے
قیمتی د قیمتی سره جوړیږی
که خما د دوئ سند وبله یو شی
که خوشحال خټک وار بیا موند په جهان کښے
زه له خپله خدایه خوښ له خپله قومه
هغه خوک چه د بدئ د معرکے دی
که کفران ئے د نعمت په جهان کړے
دغه یو خو کالعدم دے په معنیٰ کښے
خجالت لره ئے خر وهی په کیږه
خر به هیڅکله د آس برابر نه شی
مبنکیرک خو مبنکیرک دے باز به نشی
د اوږدو پیښو خو سازه کړی میږوخوک کا
خال وخط پرے حبطه ځان د خندا کا
عاقبت هغه چیندخ په خوارئ خوار شی
حبشی دِ نوم په ځان د هلال کیږدی
په سهند و سترګو را نجه زیبائی نه کا
چه لوئ غواړے هنر د لوئ زده کړه
د سړی لوئ په رنګ په پساله نه ده
نه د خلقو بدنامی نه جام د زرو
په داسے رنګه کار به راضی نه شول
که ئے خویه نمسی ماوے په کور کړی

درو غږن یم که پرے نه شوے سروممال
هګی مزری دی مه ئے وے زوال
لرو بر واړه ورباره دی یا شغال
که مو عمر سره تیر دے په قتال
بنیبنه کړ په بنیبنه کړ زده کلال. کلال
په یوه مزی بیبل شی دُر و لال
څوک د مور څویه لری د مخ مجال
خود به و وینی د دے چارے مآل
په عزت دِ لری واړه ذوالجلال
خجالت ورلره بس د خپل افعال
خود به بیا مومی جزا د خپل اعمال
دغه بل د دجال خر دے یا دجال
که ساله چارے کا ندی غیر سال
که د آس غونډِ پیدا کا شُم او بال
که اوږده لری ترپاز و پر وبال
هو بنیارانو ته بنکاره دے دا مثال
چه بد رنګه بنځه کښیږدی په مخ خال
چه وا ته کاله دریابه په جبال
په داتش نامه به هیڅ نشی هلال
نا قابل دِ هوس نه کا د اقبال
بے زینه دی په محل خاته محال
په همت ده په هنر ده په خصال
نه د خلقو نیکنامی په لاس سفال
که ئے فکر اندیښنه وے یو مثقال
د عزت م به لاهم نه ؤو کیتال

پوهه POHA

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوځوکا هم ژوندے وُم په دُنیا کښې
خود به ئے واوُرم دَمدو دَ بابا حال

که څهٔ حق شته دَ نیکئ په جهان کښې
ناسپاس به ګرفتار شی په نکال

زاوُزاد به ئې بشخیړی بے کفنه
په جهان کښې به رسوا ګرځی کنګال

واړه هسے چارے کاچه پکار نهٔ وی
چه ئے پاسی زمانه په استیصال

ما پخپله په ځان کړی دی دا چاړے
چه مِ وکړه وناهلو دا منال

چه همیش په یوهٔ حال وی هغه خدائے دے
په سړیِ باندِ تل نهٔ وی یو حال

کهٔ په نحس طالع بند شوم عیب نشته
کله کله تندر هم نیسی هلال

ځلوینبت کاله مِ خوړه کامرانی وکړه
څهٔ شو چرخ که مخالف شو یو نیم کال

نهٔ پرکیږی نهٔ فریاد کا نهٔ چیچل کا
هرهوښیار مرغهٔ چه لاندِ شی تر جال

وتقدیر وته ځان وسپاره یکباره
راضی نهٔ وی په پرخاش او په جنجال

دَخدائے حکم چارے نهٔ دی بے حکمته
هیڅ دَدے خبرے نشته قیل و قال

خپلو رونړو یوسفؑ واچوهٔ کوهی ته
مشرف شو دے په جاه او په جلال

واړه چارے په قسمت په مشیت شی
باد په لاس دَ منجم دے دَ رمّال

دَهغهٔ چه زړهٔ محکم په توکل دے
نهٔ په خوب باندِ نظر کا نهٔ په فال

څهٔ یوازے په مانهٔ ده که ژوندے وی
اورنګ شاه بادشاه به ډیر کاندِ پائمال

دهٔ په لاس دَ بخت نصر ظلم واخست
زړهٔ دَدهٔ له لاسه بند لکه دانیال

حق ناحق ئے چه څوک راشی په منګل کښې
خوارَ وی ئے غم ئے نهٔ وی دَ وبال

چه په پلار باندِ ئے نهٔ ده صرفه کړے
په نور چا ئے څهٔ صرفه څهٔ ئے اشکال

کهٔ رښتیا وایم دا هسے بادشاه نهٔ وی
واړه کار ئے دَ رهزن دے دَ داړوال

یو په ظلم یو په مکر نور څوک نشته
که حجاج وی که یزید وی دَ دهٔ سیال

دَهغهٔ بادشاه به مونځ دَغاړے طوق شی
چه دے نهٔ لری دَ عدل اعتدال

نهٔ انصاف شته نهٔ تمیز نهٔ نور دَ عدل
په دربار ئے تاریکی ده غول و غال

امرکان ئے همګی دَ دهٔ په رنګ دی
هر حیله دَ خپل کردار کا استعمال

چه په اصل په نسب ئے نظر وکړے
لږ په دیو کښې اصیل دی ډیر هزال

دَګدائے له لاسه هم یوچګ رانیسی
که په کور کښې ئے مهران دی په جوال

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستید میرا و میربابا دواړه حاضر دی
د کابل صوبه خرابه هغه سک کړه
په دوران د دے بادشاه هوښیار هغه دے
مقرب ئے فدائی عبدالقوی دے
یوسفیه د ګجرات د ده قاضی دے
په دربار کښے ئے عزت د بل چا نشته
د نیکئ حکم ډیر په تأمل کا
اول دے بیائے د انور د خدائے دیاره
په خوشحال باندِ خوار دے دادے راغے
په دا هسے حال هم شکر کړے بویه
په بل کال م ویره شی لاړه دِ نه شی
پښتانه لره منصب نه دے غضب دے
که هزار کاندِ پښتون مغل به نه شی
د هاتی د مزری روغه که څوک غواړی
پښتانه لره شهرئ انهیرے بنه دی
ماوے زه به د مغل په نوکرئ کښے
په ناحق ئے خنځیرونه را په پښو کړل
امرکان م په دربار کښے ډیر نیکخواه دی
آفرین د میرجمله په څویه باندِ
که هزار تورے چارے غشی وریږی
که بادشاه که اُمرا خما دپاره
بل میرخان د خلیل خان څویه تلاش کا
چه په نیمه خوله ئے کار کیږی د خلقو
لا تراوسه کار موقوف په اراده دے
چه له بخته یاری نه وی په داڅه شی

که د دے خبرے غواړے استدلال
دا بل سپے په بنارس کاندی دا چال
چه وطن کا په فرنګ په پرتګال
چه تل کاندی د بدئ اشتغال
چه د ده غوندِ به نه وی بل هزال
پیشکاران ئے دی بدذات او بدسګال
د بدئ حکم کا په استعمال
چه په پسه چاړه واړه کړئ حلال
خدائے دِ درست جهان ساتی د دے جیبال
که سږکال م کړه لاړه ترهنګال
په ملکونو ترشوال او تر توروال
چه تلاش د اضافو کا لا بے دال
بویه داچه له زړه وباسی داخیال
هیڅ د دے خبرے نشته احتمال
نه اغوستے د مغل د مجرے شال
رکیبونه کړم د سرو د سپینو نال
واه واه هسے نوازش هسے آمال
په خاطر د سید میر دی [illegible] لال
چه نن دے دے میربخشی په استقلال
ده خما په سرنیولے دے حیل [illegible] ال
د هرچا سره د دے جواب سوال
بل د نیکو نیت لیده شی د کوتوال
د خلاصی م همیشه کاندی جدال
ګوره څه دے لا د دے چارے مآل
که جهان دِ نیک خواهی کا ماه و سال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ رنځور رحمت دَ خدائ په حکم د رومی    په طبیب باندِ خوسعی ده کمال

مخ دِ تور دَ سیّد شمس شی دواړه لوریه    چه هر کوره بے بدل دے په تیتال

دَ خلاصئ خلل دهٔ کړ کړ په مینځ کښے    چه ئے کړ په ضامنئ کښے اهمال

کهٔ دَ بند او دَ زندان مشکل آسان شی    وار په وار به خدائے آسان کا کل اشکال

په خیله پسے گلونه دَ بهار دی    په اهار پسے را درومی پشکال

چه په ژمی بناخ بُری وشی دَ وے    په بهار کښے ئے لابنهٔ وی پروبال

لا به کله دَ خلاصئ زیرے وشی    چه بنادی م شی په اهل وپه عیال

چه همیش په خوشحالئ آموخته وی    هغه زړونه دِ خدائے نهٔ لری ملال

انتظار دَ دے خبرے ډیر عالم کا    وے خوار خټک به وار ه شی نهال

لا به کله هغه وخت هغه ساعت شی    چه به وینم دَ یارانو بنهٔ جمال

دَ هجران محنت به واړه فراموش شی    کهٔ بنادی را باندِ وشی دَ وصال

څوک به خاندی څوک ژړا کا څوک به آه کا    په هر ځائے چه دا بیان بولی قوال

زر پنځه اویا کالونه دَ هجرت وُو

په آغاز دَ نوی کال شو دا مقال

# دَ اورنګ زیب نه شکایت او دَ خپلے مړا ستائینے

پرورده کهٔ دَ مغلو په نمک یم    دَ اورنګ له جوره هم له غریوه ډک یم

په ناحق ئے په زندان کړم یوځو کاله    خدائے خبر دے کهٔ په خپل ګناه زهٔ شک یم

پښتنو سره زړهٔ تور دے دَ مغلو    خبردار ئے په نیتونو یک په یک یم

کهٔ سره کهٔ ناسره راته معلوم دی    په دا کار کښے په معنیٰ لکه محک یم

یا زهٔ باز ووم یا شاهین شاه جهان ته    دَ اورنګ وته قارغهٔ یا مبنکیرک یم

هغه زیست چه دَ عزت له مخه نهٔ وی    چه ئے کا په هغه زیست پورے هک پک یم

اور ئے پورے په منصب په نوکرئ شه    چه تر فهم و تر نظر دَ مغل ګک یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل نام و ننګ چه راشم لیونے شم
چه په طمع د ادهرو زغلی و شست ته
تر قضا پورے د هیچا حاجت نشته
و بینا و ته سوړ مهر یم د زړو
هیڅ له قدره م وګړے خبر نهٔ دے
د چنے ترګلو ډیر دے څما قدر
لکه باز په لوے لوے ښکار څما نظر دے
چه په غوښو ے وزګار هغه مزک یم
په دا سپینه ږیره شرم عزت ښهٔ دے
کهٔ عالم راته کُن تاؤ کا غم م نشته
په دانش په شعور نهٔ ده په قسمت ده
هر پښتون چه د مغلو نوکری کا
چه منصب م د مغل خوړ یو ملِک وُم
د فرمان د پروانے حکم ئے نشته
نهٔ م کار په خاص و عام نهٔ په دیوان دے
نهٔ تصدیق شته نهٔ یادداشت شته نه توجیه
هر کیدی به چه له ما سرکوزی غوښته
کهٔ په بدو باندِ شُوم شوم زړهٔ ئے خهٔ کړم
هر ساعت را باندِ عید د استغنا دے
پښتانهٔ لره شړیٔ انډیرے بس دی
آزادی ده په ساده سپینه جامه کښے
د وښو جونګړیٔ هسے راته ښے شوے
کهٔ اوګره د بتهو شته په شلمبو سپینه
چه نیولے م دا هوډ د ننګ و نام دے
په بل غشی ټوپک هیڅ ویشتلے نهٔ یم

خبردار کله په سود و زیان د لک یم
ګمان مکړه چه هغه ناپوه سمک یم
او کهٔ نه تر ځړپړهٔ ذئب لا زیرک یم
په دلیل د نابینا لکه پوچک یم
کهٔ ربښتیا وایم د سترګو مردمک یم
و بے شناختو ته ګل د پنیرک یم
نهٔ چه ګرځی ګوګتې نیسی با دخورک یم
نه چه وے د وښو خوری هغه مږک یم
څهٔ به نورے چارے کړم مګر خوږک یم
په ربښتیا ویل د ډیرو پُول پُونک یم
چه دا هسے سرګردان لکه پتنګ یم
کهٔ دِ زړه ده د هغے واړه و بهتړک یم
چه منصب د مغل نشته اوس ملک یم
شکر دا چه په خپل حکم په خپل وک یم
نهٔ په در ولاړ د هر یوهٔ مردک یم
نهٔ په فکر د سند نهٔ د دستک یم
د هغهٔ د سرپا تُوره یا کوتک یم
لکه ښهٔ ستورے په اصل مُبارک یم
کهٔ په نور عالم ژړا زهٔ په خرسک یم
نهٔ په فکر د مسند نهٔ د توشک یم
خلاص له غمه د زربفت او د میدک یم
واپے ناست په مخلونو د آشک یم
د مغلو پولاؤ یا تو ډیر پرے پک یم
کهٔ له خپله هوډه واوړم کنیزک یم
کهٔ ویشتلے یم خو بیا په خپل ټوپک یم

POHA پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه شهپر م بټي خیل ډوکنډ کړ شول    پروا دار په لنډو پرونو د بارک یم
د کوریز بټړې م توئې لکه باڼه کړے    ګمان مه کړه چه بے پرونو بنا پیرک یم
سکه ورونړه م ترې دی حال ئې دا دے    که بولاقو نه لا لړے یو خپک یم
په دروغ دروغ وعدے نفاق آمیزے    ما غلوی ورته په مثل د کودک یم
تف په ډیره د همه واړو بارکو    لا ځما په ډیره هم که زړه بارک یم
که د واړو پښتنو راته تسلیم دے    زړه خو بیا د صبا کئي انا خښتک یم
نن خو قام راسره ډیره جفا اوکړه    ګانده بیا د خدائے وحکم وته څک یم
که خټکو راته شا کړه مخ ئې تور شه    زړه یوازے په تکیه د خدائے شیرک یم
که څه حق یاد وروری یا د نیکئ شته    و پاداش وته په طمع د هر یک یم
مهمندی ځما د کړے لاس و پښے دی    راضی مند د افریدیو په کومک یم
ډیر چینې چه تراوش وکا دریاب شي    چه لیده شم اوس خو دایم یو بولک یم
کړلانړي سړبني څو پښتانه دی    زړه د ننګ په کار له واړو مشترک یم
د هرچا سره چه کښیني هم هغه شي    اوس م نیمه ژبه خوښه شوه شیتک یم
چه دا هسے رنګ ځما په سیله ګرځي    منت دار په ګرځید نه د فلک یم
که م عمر په شماره ترشیته تیر دے    لا په کار د سوارئ لکه اوزبک یم

د افغان په ننګ م وتړله تورہ
ننګیالے د زمانے خوشحال خټک یم

# د مغل په بند کښے د ارمانی زړه فریاد

زمانے له بنو یارانو نه مهجور کړم    څۀ بلانے مبتلا په ډیر ضرور کړم
د بنړو او ښکے م پاسه پرے تاروونه    بیلتانۀ په تن په مثل د طنبور کړم
اوس په ما د خوشحالئ نوم جوړنۀ دے    چه دا هسے زمانے له غمه پور کړم
ماوے ترق به سره وچوم له غمونو    ولے لا تراوسه پا یم خدائے صبور کړم

Poha Foundation
A.S.KB

نوره واړه پښتونخوا به ځائے میشته ده
خو یو زهٔ دے زمانے پکښے منصور کړم

اشرف خان په نایوهۍ په غم کښے ونښت
زهٔ د دهٔ غمونو لا په زړهٔ رنځور کړم

جدائی د صدرخان لکه سورا ور ؤو
کهٔ د واړهٔ فرزندانو غم چور چور کړم

سل تنړاکے مې هر آه سره په زړهٔ شی
په دروني ئے لکه ویرے د انګور کړم

هغه وخت مګر د خدائے په وعده راشی
چه به بیا د خیلخانے سره سرور کړم

ذهر مې خالونه داغ ځما د زړهٔ دے
زهٔ حیران ئے یا د ول په کوم دستور کړم

دا ارمان مې هیڅ ارمان سره سم نهٔ دے
کهٔ په زړهٔ کښے ارمانونه نامحصور کړم

مرګه هومره مهلت راکړه په جهان کښے
چه جمدر د مدعی په وینو شور کړم

چه مې اوس له لاسه اووتے آسمان شوے
د هغو خبرو څهٔ لره مذکور کړم

کهٔ ئے درست د مهتوزور راته ښکاره کړه
بیا فلک سره کشتی په خپل دستور کړم

نهٔ به بیا په غاړه کښیږدم د ننګ توره
نهٔ به بیا په قوم کښے کښینم نهٔ به هور کړم

عجب مار مې جار وتلے تر دؤو ښیښو دے
مګر لوئے پاړو پیدا شی چه ئے دور کړم

مست هاتیان خونی مزری په زنځیر کیږی
بویه دا چه ځان فلک وته تربور کړم

په خپل آه مې با ورشته اثر به ؤ کا
رقیبان به اورلړونی د تنور کړم

یو دوه سرے مار مې پروت په دواړو ښیښو کے
په دیدن ئے له نشاطه نه نفور کړم

پاړوکان د پیښور واړهٔ ناقص ؤو
دایم هند لره روان شوم کهٔ ئے دور کړم

چه مې فکر د ازل په تورے وشی
په دا کار کښے خپل پردی واړهٔ معذور کړم

دا بیان مې د عقد په کال ویلے
په شعبان چه د لاهور په سیند عبور کړم

١٠٧٤ھ

واړه خلق د خوشحال په پت ولاړدی
بخته تا له کومه لوریه راحضور کړم

## مغل د پاره خدمتونه او د مغل په خوشحال ظلمونه

راته درست د دهلی ښار ؤو بوستان
چه پکښے ؤو باز باقی سعادت خان

په هغهٔ زمان چه دوئ له ماروان شول
بلا سخت یم چه ئے نهٔ مرم په هجران

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ دیو دَ دیدنه نه محرم شوم
کهٔ رښتیا وایم زهٔ اوس شوم په زندان

خیلخانه مِ لکه باغ زهٔ ئے باغوان ؤم
څهٔ عجب وبله جوړ ؤو باغ باغوان

زمانه چه باغ باغوان وبله بېل کا
دا بیلتون په دوائړ توکه دے خرېزان

چه یو گل دَ دغه باغ وینی په سترگو
په باغوان باندِ ښادی وی هر زمان

دَ مجنون څېره تصویر په کاغذ گوره
زهٔ هم هسے هډ و پوست یم استخوان

په جهان کښے هر څوک یو ځله په مرگ مری
زهٔ بے مرگ مرم نهٔ یو ځل زمان زمان

په ناحق دَ اورنگ زیب په بند بندی یم
خدائے خبر دے په تهمت او په بهتان

زهٔ په ځان کښے گناه نهٔ وینم په خدائیگو
ولے نور خلق خبرے کا شان شان

دَ گناه مِ سر رشته نهٔ ده معلومه
مگر خپل هنر دَ ځان وینم تاوان

لکه زهٔ ؤم په راستئ په درستئ کښے
دَ مغل په خدمت نهٔ ؤو بل افغان

بادشاهانو لره ترس دَ زړهٔ بایدهٔ دے
مروت، غورږنی، عدل و احسان

څوک به چالره په داد او په فریاد ځی
چه په ظلم راضی من شول بادشاهان

چه ځما په خیلخانه په ولس وشول
وړِ نهٔ شی په هندو په مسلمان

چه دَ خپل پردی تمیز ورباندِ ورک شو
بادشاهان دَ خپل دولت کاندی نقصان

اورنگ شاه بادشاه کهٔ تل کا هسے چارے
لکه اوس ئے په لاس و نیوے امان

یا سرکال یا په بل کال به خلق واورِی
چه جویونه شی دَ سرو وینو روان

زهٔ لا څهٔ یم نور به هم ځما په رنگ کا
څو خانان دی نوم په نوم دَ کوهستان

چه زړهٔ سوے په پلار په څویه باندِ نهٔ کا
دَ دغهٔ به څهٔ صرفه وی په جهان

له غروره هسے مست بے خوده لاړ دے
چه نظر ئے هورے پاس دے په آسمان

دَ داد خواه ځواب کو تېئ یا کوتک دے
په دربار چه ئے غوغا کا دادخواهان

وبه نهٔ وائی چه ولے دا دِ څهٔ کړل
کهٔ په ملک ئے قتل عام کاندی خانان

نهٔ یو حرف دَ صوبه دار نه شی محضره
چه رقوم ئے په خپل مهر کا قاضیان

رفتگی بهِه رشوت حمایت بویه
کهٔ څوک غواړی دَ خپل کار سر و سامان

دَ هرچا څخه چه داخو یونه نهٔ وی
په دربار به سرگشته گرځی حیران

طبیبانو ته هیڅ مهٔ وایه خوشحاله
قادر خدائے به وکا ستا دَ درد درمان

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په قندهار جنګ او نتیجه ئې قحط سالي

بیا دِ څهٔ فتنې آغازې کړې آسمانه — چې عباس دِ را روان کړ له ایرانه
شاه جهان لا په اندوه دَ ترکستان وُو — تا ناګاهه بله چار کړه ورعیانه
منصوبې دِ هومره نهٔ دی چې ئې شمار شي — هسې توبه توبه له تا ستا له دورانه
کله کله ستا فتنې لا په څهٔ رنګ وې — ولې دا ځلې سو کړې نهٔ کړې ودانه
یو سختي او بل نځوری دِ په ملک زور کړه — بل دِ بر برکت واخست له جهانه
درپوهیږم چې هغه دِ لا په یاد دی — چې خلاص شوی وُو دا واره له طوفانه
ځوهمه واړه کسکر وبله نهٔ کړې — خوابه ستا نشی سړه په یو خوځانه
دَ کابل میوې خوراک دی دَ طوطیانو — پرې خوارهٔ شول تورقارغان له هندوستانه
یو شدت دَ بادشاهانو ترمینځ پریوت — بل دا ملک شو یو څو کاله بې بارانه
دَ آدی ځښتن دُعا کړې چې نرخ ګران کړې — للمی کار په زړهٔ پریشان مینه ویرانه
غَه سړی چې به په زور میلمانهٔ غوښتل — اوس سرټیټ کاندی تیریږی ترمهمانه
ما په عمر هسې کار لیدلے نهٔ وُو — نهٔ م کله آوریدلے وُو له چانه
چې پسر له لوږې مړې پدرئے ګوري — دَ پسر اندوه ئې نهٔ وی بې له ځانه
هندوستان به ګوره څهٔ شي ستا له فعله — خدائې دِ ورک کړه رافضي علي مردانه
له هغې ورځې چې راغلې په دا ملک کښې — غم دِ راوړ ترسپاهه تر دهقانه
چې دا هسې شوم قدم دِ په ملک کړو کړه — چې دِ ګورم څهٔ ناپوهٔ ئې شاه جهانه
کهٔ دا ملک له اولیاؤ نه خالي وې — په دا ملک به نزدکن پیبنه وه ګرانه
کهٔ دِ حکم دَ عالم دَ ورانئ نهٔ وی — رزق دَ هرچا ورکوه دَ رزق ضمانه

خوشحال تل شکر وکاږی خوبش له تا دې
تا په دهٔ له هره توکه کړهٔ پریوانه

Poha Foundation
A.S.KB

# دَ فلک ستمونه

## او دَ پښتون دَ بې وفائئ نه فریادونه

خبر مهٔ شې دَ فلک په ستمونه — په خاطر کښې لرم څو رنګه غمونه
چه همیش به ئې سر پرې ږدم په ښو ورځو — اوس هغه ځما په سر ږدي قدمونه
چه به تل ځما کرم ته په امید وُو — بار به وي په ما منت په کرمونه
چه ځما په مرهم روغ په دُنیا پائي — هم هغه خاندي ځما په مرهمونه
زړهٔ ئې چالره وهم قدر ئې چا نه دهٔ — په اورو سیزه دا تورې قلمونه
څهٔ یوازې ننګ په ما راغلې نهٔ دې — پښتانهٔ ډېر دي په غرونه په سمونه
یا به وار به دَ مغلو درم پرېږدي — یا به زړهٔ هم په لاس واخلم درمونه
چه ښو ړوا خوري دَ مغلو وار به سپي دي — دَ سګانو په خوله څهٔ اخلم نومونه
که خټک دي که بنګښ دي که ورکزي دي — وار په وار ئې په کور اوشه ماتمونه
یا رم خپل قهرا رمان تر هر چا وکښې — یا رم پرېښوې دا دَ ننګ شیمونه
له پردیو نه به څهٔ لره مانړهٔ کړم — چه خپل هم را باندِ باسي اړمونه
ناخلف ځویه دَ چا کره لوئ مهٔ شه — چه و پلار و ته کندي کا قسمونه
هسې ځویه رِم نهٔ ولیدل په ډېر کښې — چه په مخ کښې ئې دا ورځې علمونه
چه شاعر په خپل غلط فکر خبر شي — پرې خکوي دَ غلطئ رقمونه
چه ځما سرهئ کا پورې حیران یم — خپل پردي فن او فنون سحر دمونه

ګور به هم په ژړا سر کړم که ئې ورورم
نهٔ خوشحال دَ زړهٔ دا هومره المونه

## مشران او خان ستائیل او خیلخانې نه فریاد

راشه واوره دا دستان — نیک و بد پکښې بیان !

(c) ketabton.com: The Digital Library
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم عبرت هم نصیحت دے — پرے دِ پوهـ شی دانایان
زهٔ خوشحال دَ شهباز خان یم — چه تورزن یم کان په کان
شهباز خان دَ یحیی خان ؤو — چه بل نهٔ ؤو هسے ځوان
یحیی خان دَ اکوړی ؤو — چه په توره شو سلطان
هم په توره مړنے ؤو — تیرانداز ؤو شخ کمان
چه غلیم به ئے پیدا شو — زړئے ځائے ؤو گورستان
همئے تیغ ؤو همئے دیگ ؤو — همئے خُلق ؤو هم احسان
په هغه ستوری پیدا ؤو — هم پرے زیږی بادشاهان
لا پیدا په جهان نهٔ ؤو — پرے خبر ؤو درویشان
دَ اکبر بادشاه په دوړ — شو دَ خپل اُولس تورخان
چه له دهٔ سره به ناست ؤو — هغه واړه ؤو شیران
هت ناک باسل باذل ؤو — په هر کار کښے صادقان
گور ته رنگ په وینو لاړل — چه همه ؤو سرداران
قبیله شوه سره ډیره — اکثر بنهٔ لائق ځوانان
متفق په هره چاره — نوم ناموس په واړو گران
دَ هجرت زر دوه ویشت سن ؤو — چه زهٔ راغلم په جهان
هغه کال پوره پنځوس ؤو — چه شهید شو شهباز خان
دَ هغهٔ دور بادشاه ؤو — قدردان شاهِ جهان
دَ پلار ځائے ئے وما راکړ — په اولس شوم حکمران
کهٔ دَ تورے کهٔ دَ ورکړے — هیڅ مِ پرے نهٔ یش ارمان
لکه خرخ مِ دَ بابا ؤو — ځما لا ؤو دوچندان
واړه دیرش زره خټک دی — درست ځما ؤو په فرمان
په لښکر به ځما خرخ ؤو — یا مِ خرخ ؤو په مهمان
کهٔ ځما کره به سل ؤو — زر به تلهٔ په خاندان
درست خټک ځما په دور — نامور شو په دوران

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ خټک په مزکه پروت وُو — پاس مې پووړې په آسمان
کهٔ څهٔ عیش کهٔ عشرت وُو — زړهٔ مې سوړ کړ په هرشان
کهٔ اَسونه کهٔ بازونه — گشت دَ باغ او دَ بوستان
زر وماته هسې خوار وُو — لکه خاورې دَ بیابان
نهٔ زکوٰة په ما واجب شو — په درست عمر نهٔ قربان
چه ئې خپل عزت پکار وی — زر به خوار کا هغه ځوان
تر اورنگ بادشاه مې ویوست — تاؤ دَ بند او دَ زندان
نقش مې کښېناوهٔ دَ تورے — په هندو په مُسلمان
دَ خپل ځان صفت به څهٔ کړم — مګر نور ئې کا بیان
ښې ښې ناوے په کور راغلے — پلار نیکهٔ خانان میران
دَ اویا کالو نو اوس یم — په دا ماهِ رمضان
کال زریو نوی هجرت دے — هم تحویل دے دَ میزان
واړهٔ دیرش ځویه لرمه — اوس حاضر په دا آوان
چه په عُمر شوم اطلس — دَ شباب په عنفوان
راکړه راغله جینئ — پلار نیکهٔ ئې بد ذاتان
بل هُنر کسب ئې نهٔ وُو — سفیهان وُو پاده بان
بد سرشت په خو کرسئ — احمقان په خوئ دَ دان
سَکه پلار په تیغ وژلے — هم دَ رونړو قاتلان
په خپل کور کښې سره وژنه — تل نفاق شدت ترمیان
نهٔ په شرم پوهیدلی — نهٔ په دین نهٔ په ایمان
خپل قسمت کړه را ترغاړه — دَ دے هسې خاندان
مشران ځویه مې واړه — خدائے له دے نه کړل حیان
څهٔ بلا ده چه راتله به — دا څما په شبستان
خپل بابا کړه راترغاړه — دَ دے هسې خاندان
دَ دے هسې به څهٔ حال وی — چه دا شان لری نیکان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړهٔ خوږ په یوهٔ نهٔ شو
واړه یو تربل آخته دی
یو وَ پلار نیکهٔ ته نهٔ شو
په سپلمئ په ګنډېری کښې
په میوه به ئې خوږ نهٔ شی
څهٔ بې ځایه تربیت وُو
چه په بد بوټی محنت کا
نهٔ ئې ننګ شته نهٔ ئې شرم
زړهٔ غلیم دَ اورنګ زیب یم
زهٔ په ننګ دَ پښتانهٔ یم
لکه سپی هسې چاړ وُوزی
دَ منصب په اِضافو دی
څما لاس ور باندِ ړسی
په دا هومره رسوایئ
چه ئې پلار سره غلیم وی
چه په واړه وکښې آرشد دے
دَ مور پلار نیکهٔ ته نهٔ دے
په شړوندون م خپل ځلئ ورکړه
زړئ تول کړل په لکونو
لوئ څما په نوم په توره
دَ خپل ځان په شیرازئ دی
بد خواهانو سره خاندی
بښهٔ کاروونه چه څما وُو
یو په دهٔ کښې پیدا نهٔ شو
کهٔ ئې بولم ګلستان ته

خوږ دَ زړهٔ دی خوږ دَ ځان
په خپل کور کښې جنګ جویان
همګی دَ مور په شان
کهٔ پیوند شی تاک رمان
دَ چا کام دَ چا دهسان
چه به ما کاوهٔ ارمان
غرامت دے په باغوان
څهٔ نابود دی دا سګان
سر په غرهٔ په بیابان
دوئ نیولی مغلان
دَ مغل په آش و نان
تل په ما پسې روان
لا واههٔ نهٔ شی خپل ځان
بیا بد مهٔ ګڼړه خپل ځان
هم هغه ئې زړهٔ او ځان
نن یادیږی اشرفخان
دا ناکس دے لا بل شان
باندِ زړهٔ شوم مهربان
طبیلې ئې عراقیان
خوارَ وی م فرزندان
تار په تار برادران
په زړهٔ چوی نیک خواهان
یا څما دَ دود مان
ورته خلق دی حیران
باندِ اور دے ګلستان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ګونګټ اغوندِ جار وُوزی | په سرګین او په ګودان
دے نامرد له نامردئ | تل له ړونړو نه ترسان
دَ ګلونو په پټی کښے | ګرځي ځان ته خارستان
بنهٔ لائق څویه م نور دی | ولے خدائے کړل کشران
ړین دَ زړو په خرهٔ پروت دے | په بنهٔ آس باندِ پالان
قسمت کاندی خپلے چارے | نهٔ علاج شته نهٔ درمان
تربیت څما په دهٔ وُو | په بنوره باندِ باران
کهٔ م ولوستل و دهٔ ته | کتابونه دَ لقمان
نهٔ اثر وربانډِ وشو | نهٔ ئے ځائے شول په جنان
دَ پنډ اور په سوخته لګی | نهٔ دَ پشم په ریسمان
کهٔ سرود ورته آغاز کړے | سرود څهٔ اوری ګران
آئینه کهٔ ورته کښیږدے | په کښے څهٔ ګوری کوړان
له قرآنه کهٔ وئیل کړے | خو انکار کا کافران
حمیده به پکښے لږ وی | ذمیمه چندان چندان
لکه دے دے په حسد کښے | بل به نهٔ وی هیڅ انسان
سرتر پایه وهم ویره | په خیل څویه بدګمان
دَ مردئ په کاروبار کښے | ترخرنانو شه قربان
ترځلونیښت کالو نه تیر شول | باندِ خرخ نهٔ شو پیکان
په هرځائے چه په جنګ پیښ شي | تل ئے تیښته په میدان
مرصّع تُوره تر ملا کا | تیزی بنهٔ بنهٔ عراقیان
نهٔ ئے تُوره چرته سره کړه | نهٔ ئے خوږ شو برګستوان
کهٔ یو کور لږی لکونه | څنے شوُم ډوډمی مهمان
کهٔ څهٔ لږ و ډیرئے خرخ شته | په هزّال په قلتبان
دَ دُنیا په حساب تللے | همیشه لکه هندوان
ذکر فکرئے دَ زړو | تولوی روپئ مهران

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شُوم منحوس لئیم سفله دے
ځائے دَ مرد ورځنه نشته
ځان ستایه په ډیرو ژرو
شُوم مکار محیل بے شرم
دَ بزرګۍ په کار خبر نه
برآمد ویل پرے اور دے
څنے زشت کارونه نور دی
یا خودے مهٔ وے له مانه
چه څما څهٔ بندوبست وُو
هنګامه ده لا په منځ کښې
ژهٔ په نقش دَ خپل چارے
دے په وهم په وسواس کښې
خپل شامت دَ بد فعلۍ
چه څما سره خوک ټول شی
چه څما دَ لښکر غبز شی
ژهٔ په لویو اندیښنو کښې
چه دا دوه کاره خوښیږی
چه څما سره خوک نهٔ وی
څما خویه له ما نیسی
و مغلو ته مجرا کا
ژهٔ دُ دهٔ په کار خندان یم
چه څما له غمه واوُری
چه څما سره بدی کا
په چمته کښې لوئے غرځائے کا
دے لا هرڅهٔ ورته وائی

مصاحب ئے همچنان
ورته ناست دی نامردان
نادار بوله خپل بزرګان
ډیرویونکی بد ژبان
په ژور کړه دَ بزرګۍ شان
خوشامد باندِ ریحان
څهٔ ئے اخلم په زبان
یا ژهٔ مهٔ وے په جهان
دهٔ بد بخت کړو واړه وران
دَ مغل او دَ افغان
کهٔ څهٔ شی سروسامان
تل له ما دے هراسان
ورته ناست په هر مکان
دَ دهٔ ژړهٔ شی نور لړزان
او بهٔ کیږی دَ دهٔ ځان
دے په کور کښې دے غران
دا احمق سفله نادان
بل چه سوړئے وی دیګدان
اقربا، برادران
چه خپل پلارِم کړدا شان
دے څما په کار خندان
بے حسابه شی شادان
پرے رحمت کا مغلان
په کوڅه کښې ږدی عمّان
ورسره شی فارسی خوان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مغل په زور یې لاندې
څما ملک کړو درست تر ځان

نه یې مال وماته پرېښو
نه نوکر نه غلامان

نه په ملک یم نه په نور څه
خپل عزت دے په ما ګران

خدائے خوار په دین دُنیا کا
د عزت یم کا نقصان

ځنې سپي یې را پسے کړل
په تېرې کښې بد دهان

چه ناپوهے په خپل ځان کا
هسے نه کا دښمنان

رسوائي شوه ترمنځ پېښه
نه څه ورک نه یې څه زیان

د سزا په سنګنے مات کړ
د همه واړو دندان

نظام پور لره آس راغلم
دغه ګوئے دغه میدان

چه یم وار ورباند ساز شي
بیا را وړاندې کا دوستان

وار د هرے چارے تیر شو
فکر لویے دے دا زمان

هرچه وی هغه به وشي
څو لاحول په شیطان

قافیه شوه سره تنګه
د زغملو نشته توان

اوس همه چارے ترشا شوے
خو هم دا مهم ترمیان

حماقتے لکه اور شو
څما زړه یې کړ بریان

چه اساس د تُورے کښېږدم
دا نامرد یې کا غلطان

چه څما کره پیدا شو
څه آفت دے د آسمان

نن به هیڅوک هسے نه وی
لکه زه په زړه پریشان

که کښېنم نام و ناموس ځي
که پاڅم پاڅي طوفان

په دے کش مکش کښې تیر شو
په ما عمر رائیګان

پښتنو وکړے ګټنے
څما کور دا هسے وران

د یوه سړي شامت دے
چه خوارېږي درست جهان

د ګټنے وخت تېرېږي
واویلا افغان افغان

ځواني لاړه پیري راغله
په پسرلي راغے خزان

چه به ما ورباندې مټ کړه
مشکل کار به شو آسان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا کار باندې مت دے — کهٔ آسان ئې کا سبحان
مفاجات دِ ئې نصیب شي — بائې تور مار جانستان
چه هیڅوک پرې بدنام نشي — هسې ګور ته شي روان

لکه عاق دے عاق دِ دروي
دین دُنیا دواړه خُسران

## دَخپلې مړانې ستائنه او ځان ته ډاډګیرنه

چه په خوا په خاطرنهٔ هسې عیان شي — غُنچه ځهٔ چاړې پیدا په دا جهان شي
په لاچئ په ځو تره وکړ ځید لم — اوس مې ګشت دَا فریدیو په میدان شي
لکه باز په یوهٔ غرهٔ ګرځي بل ګوري — بیا ځما نظر د سوات په کوهستان شي
دَمغل منصبې پریښو هسې خوښ یم — لکه خلاص دَلویه بنده بندیوان شي
دا نادره عقیده لکه ځما ده — لا عجب کهٔ بل پیدا هسې افغان شي
کهٔ مې چیرې ننګیالي په لاسو کښیوزي — پرې به لړې داځما دَ زړهٔ ارمان شي
ومغل وته به هسې کار ښکاره کړم — چه راضي را څخه روح دَ فریدخان شي
په اعُوذُ به ئې فتح کړم کهٔ خدائې کا — په دا کار کښې کهٔ څوک ماوته شیطان شي
په هر کار چه همت وتړي له دِ لیه — کهٔ اغزي وي هغه کار وته ریحان شي
کهٔ فرښته وي بې بدئ به پاتې نهٔ وي — چه قرین ورسره هر کله بدان شي
چه ئې خپله پوهه نهٔ وي ښهٔ هغه دې — چه دَ بل سړي په پند پسې روان شي
هیڅ بهبود خبره وانهٔ وړې له چانه — بیهوده خبرې پرې تر دا میان شي
زړهٔ به نن غرض ونکاندهٔ ته پرې نن دم — کهٔ دَنکاندهٔ دَ ژوندون سرګِ ضمان شي
چه خندا په خوب کښې وینې وژاړه دې — دَ نادانو یاري سود کښې دا زیان شي
په یوهٔ بځې وسوځي درست کلې — په یوهٔ خبره لاړ واړه ایمان شي
ساقي نن ځما په دور جام ګردان کړه — ګوره نکاندهٔ به دَ چا دَ وَر ګردان شي
اورنګ زیب بادشاه زهٔ ډک په لاهور راغې — ګوره نکاندهٔ به څوک ورانځوک په ودان شي


A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کښت لوه باران او باد پکار دے
دَ عالم هولے په خلق په احسان شی

درومه هیڅ دَ میاشت دَ کال خبرے مکړه
هره ورځ پیرے څوشانه دَ آسمان شی

ډیر وتاوته نن لاڼ دَ یارئ کا
کانده ستا و سرته ګښیني غلمان شی

په جهان دَ ننګیالی دی دا دوه کاره
یا به او خوری ککرئ یا به کامران شی

دَ بازونو دَ کارګا نو مصاف وینم
تر دا مینځ به ئے دَ وینو دروان شی

عاقبت به خدائے ظفر کا دَ بازانو
تار په تار به آواره واړه کارګان شی

چه وکا رته ئے حیران دی داخولږ دی
ډیر عالم به وخوشحال وته حیران شی

چه په داغ باندِ ئے زړدے څهٔ خوښیږدی
نور به کوم دَ لیونی پلتے سامان شی

دَ مزریو مرتوب په لښکر نهٔ وی
منهٔئے هرکله یوازے په خیل ځان شی

آزادی تر بادشاهئ لا تیرے کا
چه دَ بل تر حکم لاندِ شی زندان شی

چه په څهٔ دِ زړهٔ مشغول شی هغه واړه
په سلوک کښے ستا دَ لارے رهزنان شی

# دَ خپلو ځامنو نه فریاد

ناخلف م حواله کړ په تقدیر
نصیحت ورباندِ نهٔ کا ندی تاثیر

خوئ خصلت چه ازلی وی نهٔ نوریږی
په ارشاد او په تلقین دَ کامل پیر

بد فرزند دِ خدائے دَ هیچا پیدا نهٔ کا
په خصلت ئے پلار په ځان ګمور پهٔ ویر

چه نصیب دَ بولهب وُو نور څهٔ نهٔ شو
محمدؐ که ئے نصیحت کړ یا تدبیر

عیسیؑ یونادان هوښیار نهٔ کړ په عمر
کهٔ راندهٔ ئے په نفس شول ډیر بصیر

محمدؐ دَ ابوجهل خوئ نور نهٔ کړ
نهٔ خصلت دَ بولهب بیا موند تغیر

وهوښیار ته دَ ناپوهه عقل خنظل دے
ونادان ته خپله پوهه شهد و شیر

چه بدخوئ په چا کښے کښیني نو عادت شی
عادت نهٔ درومی له شخصه په تعزیر

یو زمان به خالی نهٔ وی له عذابه
چه خپل خوئ شی وسړی وته سعیر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ سرائۓ دَ کاروانونو تل پائمال وی
دَ نااهل سړی کار دَ جاهل کوم دے
دَ ناقصے پوهے پِدل پکار نهٔ دے
یو جهان هسے کړوړه ماته بیړئ
بل ږم څو یه نالائق خیلخانه ورانه
درسته مُوخه تیرانداز سړے خطا کا
واړه زړونه په دانش سره سم نهٔ دی
په نری آواز په تراه له هرڅهٔ درومی
تفاوت دَ هر وجود لکه مرغونه
دَ کوتاه تر ونے نهٔ رسی لاسونه
په هُنر دَ هنرمند پیچے ناخوال کا
کشکے دا دعوٰی عالم کاندی منظوره
په صابن وللے زړهٔ کے دَ هغه کس دے
چه په هسے زړهٔ به گردغبار پریاسی
زمانه دَ ربابی دَ لاس رباب ده
چه په خوا په خاطر نهٔ وی را پیدا شی
په لحظه لحظه احوال دَ جهان نور شی
هره ورځ دَ زملنے احوال بدلیږی
په ساعت کښے رنگ وخوند دَ چارے نور شی
فراغت دِ مُبارک شی دَ کیدړو
باد باران ساړهٔ غارمهٔ لره پکار شی
یائے ځائے په سردرو چه لیدهٔ نشی
چه بزلئ دَ دهقان په تول شی سازه
دَ دولت دَ ناوے مهر ککرئ ده
بے دولت چه له دولته نه محروم دے

په نادان دخپله پوهه غم بهیر
چه مهمل ئے عبارت خالی تفسیر
دَ دانا فکر خطر لوی خطیر
چه مغل پښتون یه غم وبلا خیر
زړهٔ په زړهٔ له زملنے هسے دلگیر
دَ ښکئ په سر دَ اوړی لکی تیر
دَ چازړهٔ لکه دریاب دَ چا غدیر
دَ هو ښیارسړی به کار وی دَ تعجیر
یو همائے شو یو قارغهٔ شو بل تجیر
بیا دَ ونو دَ میوو کاندی تفسیر
بے هُنر چه په هُنر نهٔ وی خبیر
چه سهار پاخی دَ نمر کاندی تحقیر
چه په زړهٔ کښے ئے نفاق نهٔ وی تزویر
مکانات ئے لاس په لاس شی دستگیر
هر زمان نوے نغمے دَ بم و زیر
په لحظه لحظه کښے چارے دَ تاثیر
دَ صبا دَ چارے ذکر په ضمیر
هره شپه نوی خوبونه نور تعبیر
وینه پېئ شی پئ شلومبے شلومبے پنیر
دَ مزری دَ غاړے بخره دے زنځیر
عاقلان چه مشقت کا په تعمیر
دَ مزریو یا وژل دی یا زنځیر
په زړهٔ ډیر له دهقانئ شی زهیر
پلو غوته ئے دُنیا ده واوُره خُیر
دائے واړه په همت کښے دَ تقصیر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاقبت دَ نا قابل دولت برباد وی
کله خرخ دَ زر ندے آرد دَ هغه وړ کا
مار چو به دِ تن دَ مار په شکل ساز کا
دَ کیمخواب وتمے مهٔ غوره سترگے
چه ئے پاس په اوږد واچوی پړانگ پش شی
دَ ناکام د پارهٔ پاسه په سر کیږی
کله خپل نمود په رنگ دَ میوُو وکا
پکښے واړه بیهوده حبطه حشو
ناهموار دے ناهنجار دے ناپکار دے
برامد وربانډِ صوت دَ غراب دے
قباحت ئے دَ فاسق دَ نالائق دے
په جهان کښے بے شعور ړ ذاله طبعه
نهٔ دَ نوم دے نهٔ دَ ننگ دے نهٔ دَ شرم
چه پیشو ورته په خو فکرئے نشته
تربیت بے ځایه واړه حبطه دے
ړۀ ئے هیڅ په تربیت نهٔ کړم تقصیر
دَ نطفے اثر م لاړ پکښے ضائع شو
کهٔ لوگے دا او فرزند دے په داخهٔ شو
سررشته دِ ما دَ چارے هغه خط شو
په مقدار دَ حیلے چارے فکر غم کا
دریغه یو پکښے شهباز شوے یا خوشحال شوے
مشران ئے دَ شرئ گنده پښتم
ړمانه دِ ئے په قصد په کینه نهٔ شی
سیم وزر مس وتا نبه ترے پیدا کیږی
چه قابل دی هغه خویه یا ښنده شه

په طالع کهٔ یا امیر شی یا وزیر
چه غنم په ناپوهئ کښی گنړی شعیر
په خپل ځان کښے به دَ مار کښیږی دَ تاثیر
په وریښمو کښے چینجی دی دَ حریر
په تکی تکی شالونه دَ کشمیر
لکه زیږ غونډِ په وخت دَ زمهریر
کله خونه شی دَ ماشیو خرابجیر
لکه فرد دَ لغمانیو دَ تقریر
بد سیرت دے بد فطرت دے بدخمیر
خوشامد پرے دَ بلبلے ښهٔ صفیر
ظرافت ئے دَ یا وه دے دَ شریر
حمیت غیرت ئے تللے له ضمیر
دَ بخیے دے دَ صندوق دے دَ توفیر
هوسیږی لکه مژک په دنانیر
کشیده دَ ږرو نهٔ شی په حصیر
ولے څهٔ کړم ناخلف دے بدضمیر
واړه یئ دَ مرجانئ لری تاثیر
چه نهٔ تاؤ نهٔ لکه اور هسے مُنیر
چه بے فکره دَ انشا نبکلے تقریر
په دُنیا کښے کهٔ غنی دے کهٔ فقیر
شل پینځه لرم همه صغیر کبیر
کشران دی په مثال اُومهٔ حریر
چه یو خو پکښے گوهر دی بے نظیر
دَ مورنس لکه بوته دے دَ اکسیر
ناقابل دِ لا هلاک شی سرو تیر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نالائق ځویه دَ موره پیدا مهٔ شه
دا لا بنهٔ کهٔ ځنې وزیږي خنزیر

یو لائق ځویه ترڼ رو ځویو بنهٔ دے
ډیر به ځهٔ کا ځوک چه نهٔ وي دلپذیر

دَ شوال وروستئ ورځ کال دَ غفا دے
ماچه دا شپیتهٔ بیتونه کړل تحریر

خپل تدبیر دَ لاسه مهٔ پریږده خوشحاله
کهٔ کار ونه حواله دي په تقدیر

## دَ خپل ناخلف ځوئے بهرام نه سرټکول

بنهٔ کهٔ وزیږي دَ ډیکے بنځے مار
نهٔ زړوولے ځنې ځویه ناهموار

یا دَ چرګ غونډِ چا پیر کړئي ترچرګو
یا بلبلے توت خورے دي بهتي خوار

سرائے هرګورهٔ بد ولد دے چه ېم وکوت
له بانړونو نه پیداشي مژک مار

کهٔ په سلوکښے یو بنهٔ شو غنیمت دے
چه په سرائے کښے بنځه سور کاندِ شلوار

دَ محنت دَ مشقت دَ صبر نهٔ دي
دَ راحت دَ فراغت دي دَ تلوار

نهٔ ئے شرم نهٔ ئے ننګ شته دَ میړونو
ځما ځویه دَ بل سړو رنهٔ ئې غمخوار

نهٔ یو باز دَ سردړونهٔ ډیرے چرګے
دَ ځنګلو نو مزړے یوګیدړ هزار

اکوړے یحیٰی شهباز واړه سرهٔ زر ډُو
په خپل دور واړهٔ بنهٔ تیر کړو خپل وار

هم په ورکړه هم په تُوره هم په عدل
په دا درے توکه درے واړه ډُوا وځار

په بهرام باندِ چه وار راغے اوس ګورهٔ
چه ئے ځهٔ رنګه بدنام کړهٔ دا نامدار

کهٔ زهٔ دیو غوندِ نهٔ یم بارے شُکر
چه په ما باندِ بدنام نهٔ شو تبار

هغه پلار بے بختته نهٔ وي په جهان کښے
چه خلف ورځنې پاتے شي یادګار

اوس فاسده زمانه ده له زړانو
ناخلف نااهل زیږي بدکردار

اکوړے یحیٰی شهباز واړه مزري وُو
زهٔ هم نهٔ یم دَ ګیدړو په قطار

واړه تیر په مزري توب کښے شو په تُوره
په خپل دور واړو بنهٔ تیر کړ خپل وار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپلو ځامنو نه بیزاری

چه زما ولیده د خپلو ځویو کار
خو چه وزیږی د پلار د ځان بلا شی
چه تندرست تر و تازه وی پړے خوښیږی
خو ځوئے بڼیره بریت لا نهٔ وی هومره ګل وی
چه د خپل قوت خښتن شی دماغ واخلی
په هزار رنګه هوا په زړهٔ کښے ور شی
له خودئ هسے مست بے خوده لاړ شی
وخت ئے هیڅ د هلکوالی په یاد نهٔ وی
کرنګ په خولهٔ باندِ راغلے تن لړے
توان طاقت د مچ شړل ورڅخه نهٔ ؤو
که ئے غل د مور په غیږ کښے کړل متیازے
که مور پلار ئے وښو چارو دَته بولی
نورے چارے ورته واړه حبطه وی
یکباره د خود رائی په سیند کښے ډوب وی
چه د زیست او د روزګار شعور پیدا کا
ځوک بهرام غونډِ منحوس بدبخت بخیل شی
منافق لئیم مردود د زمانے شی
ځوک یحیٰی غونډِ او دهٔ غافل پیدا شی
ځوک سدو غونډِ نامرد عبد الزوجه شی
ځوک مالو غونډِ جلو غونډِ پیدا شی
خو ځما کره زوولی دی ډیر ځویه
خو د واړو کاروبار وتا ته شمارم

ځویه واړهٔ ځګر خون دی د خپل پلار
په خدمت په تربیت ئے شی ګرفتار
د زړهٔ نول ئے شی چه لږ ئے شی بیمار
د ویښتو سره ئے مخ پیدا کا خار
د ځوانئ له خیاله سم نهٔ ځی په لار
ورځ او شپه سره شوریږی ناقرار
خو یو زهٔ یم چه پیدا شم په دا دار
چه به پروت ؤو په اورنړی کښے خوار و زار
په ګندګئ کښے په بدبوئ ګندهٔ مردار
په ساتنه به ئے مور کا وهٔ تیمار
په دا کار به ئے نهٔ عیب ؤو نه ئے عار
نصیحت د مور او پلار وی ورته نار
هم هغه کا چه په زړهٔ ئے خپله چار
چه واته ئے ځنے نهٔ وی په کنار
کاروبار ئے په څو رنګه شی اظهار
په شامت ئے خیلخانه شی تار په تار
د خپل پلار سره آغاز کاندی کارزار
چه هیڅ کار نیولے نهٔ شی اُستوار
په تنګسه له خپله پلاره شی ویزار
سراسر واړهٔ نابود او ناپکار
د نور چا نهٔ دی پیدا په دا دیار
که ئے شمارم درماندهٔ به شم په شمار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



موافق م په خور منځ یوځویه نشته
همګی واړه دَخپل غرض دی یار

که ما زده وے چه دَځویو هسې کاردے
ما به نړنا کاوه نه کور دَ کورړ وزګار

حال ځما دَ اولاد دادے چه م دوے
په اولاد دَ نورو نه یم خبردار

اورنګ زیب بادشاه هم ځوئے دشاهجهان دے
خبردار به ئے دَده په کار وبار

مال اولاد دواړه فتنه دی په جهان کښې
په دا دواړه به زړه نه ترې هوښیار

یا په دا زمانه خوئ دَخلقو نور شو
یا ځو زو دا جهان هسې زو مکار

نورتر دا د پاسه شکر کړه خوشحاله
چه له تا نه خپل بابا نه زو آزار

که دَ درست جهان دولت دَستا په لاس کښې
په اخلاص به دِ دَ پلار ترسر کړ ځار

اوس تا هسې ځویه راوړه هم بد ته ئے
چه ترسربه دِ ځار نه کا یو دینار

نور لا هم وئیلے نه شم ګوندِ ښه وی
سرشته دَ دواړو بده کړه سردار

دَ هجرت زرکالونه نه ترے کم دی
چه نړئ کښې م آغاز کړ دا اشعار

عابد خان په دا محنت راسره مل دے
چه کانړه شی پرے ځما دَ زړه پرهار

خالد خان نجو شاکر طاهر دا هم دی
مجاهد کامران همه شه برخوردار

دَ بهرام لښکرے پروتے په تیری دی
اُمید دے چه خدائے زرکا شرمسار

# بهرام ته

ځما زړه له چانه روغ نه دَے بهرامه
دَ هرچا سره م زیست دے له ناکامه

نوکری ځوانی دا دواړه لکه بام دی
په پیرئ کښې له ما لاړل دواړه بامه

اوس دا دواړه بامه ستادی نندارهٔ کړه
غافل مه شه یو زمان ترصبح وشامه

په دا او بن بانډِ چه ستا بجا وه ایښے
رسوه ئے چه پرے نه وزے تر مقامه

خودِ دا ننداره شی شُکر وکاږه
په چانه وی دا خوښی علی الدوامه

تَوَلَّا تَبَرَّا بویه په اسلام کښې
چه ئے نه وی هغه نه دے له اسلامه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهل شرته دَ شاهین منګل پیدا کړه
اهلِ خیر و ته حلیم شه ترحمامه

خوږ توان توفیق رسیږی بیرون مهٔ شه
په هردم دَ پښتانهٔ له ننګ و نامه

په فرمان دَ بادشاهانو خهٔ باور دے
چه بتر دے دَ قاضیانو تر اعلامه

دَ مغلو دولت خواه اوسه خو ژوے
و نفرو ته ئے هم کړهٔ سل سلامه

دَ هغهٔ به فیروزی په جهان نهٔ وی
چه ئے وخوری دَ چا مالګه کا حرامه

کهٔ دِ زړهٔ وی چه به پائے لکه خضرؑ
دَ نیکئ نوم ژوندے دے تل مدامه

تهٔ دَ چا وجام ته هیله اُمید مهٔ کړه
حریفان دِ باده نوش وی ستا له جامه

دَ ګنګاش دَ پرخاش بنهٔ خوانان پیدا کړه
چه پرے چار دَ ملک و مال شی انتظامه

خوړه خوروه غوته ساته دَ کار دپاره
کامرانی شی دَ دُنیا له سر انجامه

بنهٔ سردار وته دَ نوم خزانه بویه
کهٔ نور هیڅ ورځنه نهٔ وی بے له نامه

ورکول ټُورے و هل دا دواړه بویه
چه پرے چار دَ سردارئ شی انصرامه

یا تکیه دَ یوهٔ خدائے ده یا دَ ټُورے
په جرګو مرکو به نهٔ شی کار تمامه

کهٔ سردار دَ خلقو زړ لری هُنره
بند و بست دَ عالم نهٔ شی بے صمصامه

رخنه ګر دَ ملک په خونه کښے ماران دی
چه ماران دَ خونے شته خوبے کدامه

کهٔ دِ نقش دَ ټُورے کښینی راته غوږ کړه
کام روا به شے هالهٔ له هره کامه

رعایت له رعیته سره بنهٔ دے
دا هاله چه بیرون نهٔ وی له احکامه

چه خلاف دَ حاکم کا خلاصے ئے نهٔ وی
رعیت په لږ ګناه له قتلِ عامه

دَ ختکو نه م هومره زړهٔ ناخوښ دے
چه تو به دَ همګی ختک له نامه

دَ نعمت په قدر هیڅ خبردار نهٔ دی
نوم ختک به م خلاص نهٔ وی له انعامه

دَ وفا په ځائے همه واړه جفا ده
چه به ما ته رسیده له خپله قامه

ختک واړه دَ دودام دی که ئے ګورے
څوک به څهٔ غواړي خپلوی له ددو دامه

چه ئے خوښ کړے یا ئے دوست کړے لابلا شی
دَ ددائو څهٔ غرض له احترامه

کهٔ زمونږه خانه نهٔ وے ختک ورک وُو
دَ خواجه په نوم اصیل دی څوغلامه

کهٔ په ټُوره ختک خپل کړے ګُندِ خپل کړے
ګنړه هیڅ به ئے خپل نهٔ کړے له اکرامه

اول خپلے خیلخانے وَ ته نظر کړه
چه په لاس واړه و نیولے ده څهٔ خامه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتفاق دَ خیلخانے عجب دولت دے | په نفاق ئے واړه وُوزی له آرامه
همګی شهد و شکر قند و نبات دی | هیڅ برهم مهٔ شه دَ رونړو له دشنامه
چه په شرم نام و ننګ سره شریک وی | په هرکار وبله نهٔ وی بے آلامه
خو جفا دَ خپلو وړے هومره به ښاد شے | کهٔ دَ خپلو جفا سخته وی مدامه
دَ ګلاب دَ ګلو هومره اغزی پیاد وی | خوئے بوئ راغلے نهٔ وی ترمشامه
ښهٔ ځوانان به خپل هودېږ نړدی له لاسه | کهٔ ئے سر شی دَ خونی مزری تر ژامه
کهٔ تل تورے غشی خوری ملاتے دَ جنګ وړی | مرد به سوړ نهٔ شی په زړهٔ له انتقامه
کلیله دمنه به خو کړے راشه ګوره | چه خهٔ دُرم درته توئ کړهٔ له کلامه

چه دَ زړهٔ هغه ګوهر به پکښے موے
کهٔ پرے پوه شے له آغازه له انجامه

# دَ دُنیا حال

اے چه خیال کړے په دُنیا | دُنیا څهٔ ده بے وفا
کهٔ دِ یو زمان زړهٔ ښهٔ کا | بیا دِ زړ کا په ژړا
راحت نشته په دُنیا کښے | اَلدُّنیَا دَارُ الْبَلَا
دُنیا مهٔ ګڼړه خهٔ نور څهٔ | دا ده ځائے دَ استنجا
زهٔ چه تا ګورم حیران شم | اے ابله مشتِ ګیا
هر زمان نوی خیالونه | هر ساعت نوے هوا
یو دِ زړهٔ زړ دِ یاری | یو دِ سر سل دِ سودا
کله مست شے دَ مال و ملک شے | کله مست شے دَ صهبا
دَ مسند دپاسه کښینے | لور په لوړ دِ مستکا
په یوهٔ لوری غلطان شے | چاته مخ و چاته شا
خوک و تاوته ولاړ وی | په تسلیم په سل جفا
خوک له تا سره مجلس کا | واړه هزل مشغولا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوک له ورا یه درته ناست وی — ژغوی چنگ و سُرنا
خوک په ور دِرته للیږی — په نمط ستا دَ بقا
حاجبانو ته وئیل کا — کۀ مو ورسی دُعا
تۀ په ځائے بےخوده پروت ئے — نۀ دِ غم نۀ دِ پروا
هئ فریاد فریاد له تا نه — هئ توبه توبه له تا
نۀ دِ غوږ دَ آوریدو شته — نۀ دِ سترگے شته بینا
بےهوده په ځان غره ئے — حبطه ئے په رښتیا
فلک ډیر زیر و زبر کړل — چه تر تا وُو هم والا
تۀ په مثل دَ دانے ئے — دا فلک لکه آسیا
ډیرے تا غونډِ میده کړل — اوس ئے وار دے هم په تا
کۀ بادشاه دَ درست جهان ئے — خوږ بیا تشه غوغا
څۀ دعوی ئے دَ جهان کړے — نور به هم وُو ستا پخوا
نۀ سلیمان وُو نۀ ئے تخت وُو — نۀ آصف دَ برخیا
نۀ بهرام وُو نۀ ئے گور وُو — نۀ سکندر وُو نۀ دارا
نۀ جمشید وُو نۀ ئے جام وُو — نۀ قباد وُو نۀ کسرا
په شمار کښے به مانده شم — زیات ئے خوشمار تر دا
کۀ هزار کۀ سل هزار وُو — پوکۀ لږ دا وُو هم ډیر لا
واړه لاړ له دے جهانه — جهان واچول ترشا
غه شاهان چه ذی شوکت وُو — څۀ ئے هم شته هویدا
سامانی په جهان هم وُو — سلجوقی وُو هم پیدا
غزنوی وُو په غزنی کښے — چه ئے کړے هم غزا
څۀ نشان ئے موندۀ نشی — دَ برک نه دَ یحیی
کروفر دَ عباسیو — مگر ډوب شو په دریا
دَ فلک فریب پټ نۀ دے — چه ئے تل کاندِ له تا
کله زر وتا ته بنۀ کا — کله آس او غیلے غوا

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله خو یه درته ښنهٔ کا | کله خویش او اقرب
نهٔ به زر وتا ته پریږدی | نهٔ مالونه نهٔ اشیا
په شدادئے فساد کړے | په قارون ئے وکړ لا
نهٔ ته پلار ئے دَ ځامنو | نهٔ ځامن دی خو یه ستا
په خپل ځان دَ هرچا کار دے | کهٔ پسر دے کهٔ بابا
حلق په خپلو لاړ و لوند دے | دَ ګدا هم دَ بادشاه
تهٔ دَ ځان ئے زهٔ دَ ځان یم | تهٔ جدا ئے زهٔ جدا
غم ښادی دَ هغو بخره | چه لری ژړا خندا
کهٔ حشم دِ شی بے شماره | خزانے دی بے احصا
چه اجل در لره راشی | نهٔ هغه پکار نهٔ دا
لکه هسے ړنګه کار دے | راشه واوره اے فتا
مهیا و مرګ ته کښینه | سر انجام کړه دَ عقبا
کهٔ دِ توان وشی تقوی کړه | کهٔ تقوی نهٔ وی فتوا
بهشت ځائے دَ نورچا نهٔ دے | خدائے یاد کړی اتقیا
کهٔ بخیله پارسا نهٔ ئے | خاکِ پائے شه دَ پارسا
هرچه شته شریک له واړو | مشترک دی هدایا
کهٔ غنی ئے سخاوت کړه | بل به نهٔ وی مبتلا
یو چه خلاص وی له حسابه | په همت لکه عنقا
په شوکت لکه شهباز شه | نهٔ ئے رنګ نهٔ ئے معنا
خوره خوروه له خپلو لیچو | غضنفر شه نهٔ روبا
سخاوت کړه خو یه تا شی | اسراف نشته دَ سخا
په سر تورے پرے ناړے کړه | چه تالا دُنیا تالا
چه ئے قطع غرائق کړل | په آسمان کښیناست عیسیٰؑ
دَ عسل په دود شیرین شه | نهٔ حنظل نهٔ ګندنا
مهٔ لړم شه مهٔ افعی شه | غم فزا راحت زدا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بار دَ نورو په ګردن وړه — خپل بار مهٔ کښېږده په چا
جهان ځائے دَ مکافات دے — بد به مومې چه بد کا
دَ بدئ جزا بدی ده — دَ نیکئ نیکی سزا
چه به کېږی تورے خاورے — خېسر خاورے کړه پخوا
کهٔ په حسن لکه ګل شے — یا تر ګل شے هم ښیبا
بیا دِ ځائے دے تورے خاورے — تار په تار واړه اعضا
داځهٔ تورے خاورے نهٔ دی — چه پرے ځې صبا بېګا
همګی جونه ځلمی دی — خاورے شوی دَ بیدیا
چه په سترګو باندِ پښے ږدے — بارے رو ږده څهٔ خوپا
دَ پسرلی ګلونه ښنهٔ دی — کهٔ ئے تل دړلے بقا
مزکه سبزه زرغونه شی — دَ حمل په ابتدا
رنګا رنګ ګلونه واشی — هم په باغ هم په صحرا
نهٔ یو ګل دَ بل په رنګ وی — نهٔ ئے بوئ سره همتا
یوڅو ورځے شګفته شی — زر فنا شی په جوړا
تر بلبلے نا پوه څوک دے — یا کم عقله ستر بوړا
چه په هسے څیز ئے مینه — چه ئے څو ورځے بقا
هغه څیز چه بے وفا وی — نړهٔ پرے نهٔ تړی دانا
په جهان کښے مینه هم وه — دَ یوسفؑ دَ زلیخا
کهٔ ویسه وه کهٔ رامین وُو — کهٔ مجنون وُو کهٔ لیلا
کهٔ فرهاد وُو کهٔ شیرینه — کهٔ وامق وُو کهٔ عذرا
اوس ئے نخښے لیدے نهٔ شی — دے جهان کړل فوفنا
نهٔ به ګل دَ چمن پرېږدی — نهٔ بلبله نهٔ طوطا
نهٔ به طفل ځنے خلاص شی — نهٔ سپین ږیرے نهٔ برنا
نهٔ به پاتے عشق دَ ځوان شی — نهٔ ښنهٔ حسن دَ خوبا
ګاه دَ ځویه لور په غم شی — ګاه دَ یار او دَ آشنا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه پس له ما دا څهٔ کا — حال به څهٔ شی د دنیا
غم دَ خوی کړے دَ لونړو — هم د سور هم د سپینا
ولے هسے فکر نهٔ کړے — چه په دا څهٔ دی پیدا
بخرے ادس نه دی اول دی — چه نهٔ ارض وُو نهٔ سما
خپل قسمت به هرڅوک مومی — کهٔ افلاس وی کهٔ غنا
څهٔ اندوه دَ یو نفس کړے — اے دَ نفس په غم شیدا
خو دَ نفس ځله دِ ومری — کهٔ کشکاب وی کهٔ حلوا
غرض تن دے تن دِ پټ وی — کهٔ خاصه وی کهٔ خامتا
کهٔ دَ نفس په نغوته دروے — تا به زر کاندی رسوا
نفس په دا راغلے نهٔ دے — چه روا بیا ناروا
چه ارواح پرے خوبنی مومی — هغه چار کښره اعلا
مټ په علم کړه چه علم — اژدها دے هم عصا
یا په علم کښے لذت دے — یا په عشق کښے د مولا
نور همه چارے عبث دی — که اعلیٰ دی کهٔ ادنیٰ
کهٔ ته تِریو کښینے خوشحاله — دَ فلک ترو څهٔ پروا
اندیښنو ته زړهٔ ورمهٔ کړه — څو حیات ئے په دُنیا
کهٔ تل خوبن اوسے تل خاندِ — هٔ اِسم با مسمّا
ترهغهٔ نادان څوک نشته — چه نن غمخوری د صبا
غم غیرت په یوهٔ لورکړه — خاطر صاف شه د هرچا
دَ صبا اندوه نن مهٔ کړه — گوره څهٔ وشی فردا
واړه وسپاره و خدائے ته — کهٔ دوستان دی کهٔ اعدا
کهٔ لقمان شے په حکمت کښے — یا کهٔ بوعلی سینا
نهٔ به لاره دَ مرگی بند کړے — نهٔ به خلاص شے له قضا
دَ قضا سره جنگ نهٔ شی — وقضا ور ورده رضا
کهٔ رضا په قضا ورکړے — نور خوشحال ئے په رښتیا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دانا او نادان

کهٔ دروغ کا کهٔ رښتیا　　هرڅهٔ ښهٔ دی دَ دانا
تر دانا دِ زهٔ ځاریږم　　نادانان واړه تر ما
مړهٔ ئے پاخول له ګوره　　نابینائے کړل بینا
یو نادان ئے دانا نهٔ کړ　　په درست عمر مسیحا
نادان ځان لره بلا دے　　هم جهان لره بلا
چه نادان وکا دا ورانه　　هسے نهٔ کا اژدها
نادانان دی ناپوهان دی　　نن څما کړه پیدا
لکه دوئ کاندی دا چارے　　دا مِ نهٔ وے په آبا
دَ ناجنسو نه پیدا شول　　کهٔ دود نور شو دَ دُنیا
دَ یوهٔ پلاره زوولی　　سره تل شور او غوغا
کهٔ څلویښت دی کهٔ پنځوس دی　　سره واړه شا په شا
مال و ملک دولت مِ زغوره　　په دا حال کښے رښتنا
اتفاق پکښے باقی شه　　دا نفاق ئے شه فنا
نفس شیطان دواړهٔ بلا دی　　راشه ګوره دا بلا
چه په دے بلا پائمال دی　　شهیدان دَ کربلا
خدایه تهٔ ئے چه خپل کړهٔ کړے　　دا بلا پیدا کړه تا
له حکمته خالی نهٔ دی　　کړهٔ دِ واړه دی زیبا

زهٔ خوشحال دَ دهٔ له لاسه
دا فریاد کوم په چا

# دَ غواص دَ کال وبا

دَ غواص دَ کال وبا　　خدائے مهٔ راوله بیا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکوړخیل م پکښې ومړل — لوئ هلک مرد و نسا
بخت ناک خان م پکښې ومړ — مورئ هم بوته قضا
یو هلک ئې ؤو راپاتې — ورپسې شهٔ زر فنا
چا ته ژاړم له دې غمه — سود م کوم دې دَ ژړا
لور په لور په دا لمبو کښې — عالم پروت په واویلا
تر دکنه تر کابله — راخوړه شوه دا بلا
په لکونو عالم ومړ — چه ښهرونه شول صحرا
اول قحط بیا وباوه — په هر لوری وه غوغا
سرفراز دَ سعادت ؤو — ښې نمسي م ؤو زیبا
هم حافظ دَ درست قرآن ؤو — هم په خط ؤو بې همتا
دَ ښکار سپې ئې ؤو ساتلې — لیونې شو بې غوغا
لاس ئې زروړ بې خبره — چه کانړهٔ ئې خپل آشنا
دې ئې وچیچهٔ په لاسو — لاعلاج شو لا دوا
په دا کال له ما قضا کړ — په ارمان ارمان جدا
کال حصغ شو وبا لاړه — هم عسرت کړه راته شا
بارانونه دی وریږی — ودانی شوه په دُنیا
نهٔ تل غم وی نهٔ ښادی وی — وار په وار وی هغه دا
په هر حال شکر بائده دې — چه بد تره نهٔ شی لا
اوس خهٔ غم دَ عالمګیر دې — چه عالم ئې کړ رسوا
دَ وبا غوندې زر ورک شوې — بل یو ښهٔ شوې راپیدا
یو خوشحال دا دُعا نهٔ کړه — درست جهان کا دا دُعا

اِجابت به ئې زروشی
کهٔ دَ خدائ وی پرې رضا

... * ...

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ دُنیا بے وفائی

ډېرهٔ سفر له دے دُنیا په تحقیق دے په رښتیا
کهٔ څهٔ ډېر کاله پائیږے هم دِ نهٔ وینم اَحیا
راشه اوګوره همزولي چه ئے ځائے دے په بیدیا
باندِ جوړ دَ خاورو غَلي زړغونه باندِ ګیا
کهٔ ئے ګور کړے سره بیرته هیڅ به نهٔ وی مهیّا
کهٔ نارے ورباندِ وکړے هیڅ به نهٔ شی درګویا
چه داحال وینے په سترګو ولے هسے ئے عمیا
چه بیړئ پکښے ډېر ورځي څهٔ خونی دے دا دریا
تورے خاورے شول په ګور کښے چه دَ سترګو وُو توتیا
داجهان فنا پذیر دے تر ثرٰی تر ثُریّا
دَ دُنیا راحت محنت دے تاریکی ئے ده ضیا
کهٔ دَ عیش طلبګار ئے دَ جنجال نه ئے جویا
تر اطلس بښه ده شړئ تر ګلیم بښه ده بوریا
زړهٔ تړل په دُنیا مهٔ کړه بود ئے نشته دَ اشیا
مونږ په مثل دَ دانے یُو پاس په مونږ ګرځی آسیا
چه خپل ګور لره راحت وړي هغه څوک دی اَتقیا
چه خپل ګور لره زحمت وړي هغه څوک دی اَشقیا
باندِ پریوزی موټے خاورے په مرګ نهٔ مری اولیا
اولیا دی په جهان کښے په مثال لکه کیمیا
دَ باطن خیرے ورکیږی په صحبت دَ اَصفیا
یو سجود په اخلاص ښهٔ دے نهٔ سل ډېره په ریا
همګی دَ ښو خویونو وابسته دی په حیا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خوشحال ژوندون په خدلئ دے
نهٔ شهباز دے سنهٔ یحیا

# په خوئ بوئ دَ اَصل او دَ کم اَصل

چه یوځل ښیکره وو ینې له چا
په بوهٔ ئې شال بدئ کړه ترشا

دروغژن سړے دَ عفوے لائق نهٔ دے
په رښتو باندې عفوه ده روا

غلطي دَ بګانه غلطي نهٔ ده
په خطا دَ بېګانه بویه عطا

کهٔ له یاره نه ترخې خبرے واورے
خوږ شیرین خواږهٔ ئې وګڼه په خندا

دَ کم ذات سره یاري آشنائي مهٔ کړه
له کم ذاته به بیا نهٔ مومے وفا

رخنه ګر دَ ملک هرګز دَ پریښو نهٔ دے
کهٔ هرڅو ئې شفاعت کا شیخ مُلا

مرد به خپله وینا ژغوري څوژوندے
دَ نامرد وینا نن شته نشته صبا

دَ ښاروپو په حساب دي سړي نهٔ دي
غوبانهٔ شپانهٔ چه بیائي غیلې غوا

چه ستا عیب تا ته وائي یار هغه دے
نهٔ چه نور و وته وائي عیب ستا

بازاري سړے بهتر تر روستائي دے
کهٔ هرڅو دَ بازاري نشته حیا

کهٔ سړے پیرے دِ وژني وبه نهٔ مرے
خوچه نهٔ وي رسیدلی ستا قضا

بندخُما په رضا یو نشته یاران م
په یاري یاري کښې کا خپله رضا

چه خُما دَ مرګ مشتاق ؤو هغه دمړل
نهٔ لا دائم ژوندے پائم په دُنیا

مړني په خپله تُوره نظر نهٔ کا
ښائسته په خپل جمال دي نابینا

مست او ښان م هسے شان وړمست یار و نهٔ
چه په لوړ په ژور نهٔ اوري سپرو ا

شناخت اَدب شرم سړیو لره بویه
په دا درے توکه خاروے نهٔ دے آشنا

چه ئې مور وپلار ښچي سُچی ززولی
په هغهٔ کښې به خطا نهٔ شي پیدا

چه دَ سپي په پښُولو ئے کاخوک ورغمے
لکه سپے هسے ورغومے کا غبیا

داخبره وهرچا وته ښکاره ده
چه دَ ښو غوښونه ښه کیږي ښوروا

عاقل ډیر عیب دَ خان په عقل پټ کا
نادان لږ په ناپوهئ کا رسوا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ویل بنیل به هیڅکله بنهٔ نشي
چه بد بخت له موره پلاره شي پیدا

چه خپل بار په هیڅانهٔ بړدی بار دَ بل وړي
هم هغه سړے لائق دے دَ ثنا

چه په زړهٔ کښې ئې چراغ دَ عقل بل شي
ورځ و شپه ده په هغهٔ باندِ رڼا

سجنجل دَ خپل استاد لری په زړهٔ کښې
چه ګویا شو دَ خوشحال دَ زړهٔ طوطا

# په تعریف دَ شرعے شریفے

کهٔ له کوره توښه نهٔ واخلی غریب
په خوارئ بدئ به مومی خپل نصیب

چه وخواست وته ولاړ وی یا حرص ته
له ژوندون نه به ویزارشي عنقریب

دَ چا زخم دَ چا حد دَ چا تعزیر دے
هر سړے په خپل انداز مومی تأدیب

کهٔ انصاف وعدل داد سیاست نهٔ وے
شک به نهٔ وُو دَ وګړی په تخریب

عالمان دَ شریعت لکه چراغ دی
لور په لور دَ اشنا یئ اَسالیب

دا دَ مزکے مخ ئې واړه په حساب دے
بیرونه تر شرعے نشته یوجریب

په دانه دانه غلے واړه حساب دی
په حساب کښې هم مویز دی هم زبیب

دَ دریاب اوبهٔ دَ شرعے په حساب دی
و هر څهٔ ته ئے وړکړے دے ترتیب

دا همه واړه دَ شرعے خدمتګار دی
محتسب، قاضی، مفتی، ملا، خطیب

عاقبت مرید دَ شرعے دَ اُمیّ شو
کهٔ خبرے بوعلی کړے عندلیب

په جهان کښې بل رقیب دَ شرعے نشته
کهٔ رقیب دے یو شیطان ئې دے رقیب

مخالف دَ شرعے واړه شیطانی ده
مخ ئے تور شه چه عمل کا په تکذیب

چه غم خور دِ دَ هر کار نهٔ دے په دین کښې
نه دِ یار دے نهٔ محب دے نهٔ حبیب

دَ عنصر دَ صنائع فکرونه پریږده
کهٔ پوهیږے شرعه نور لری ترکیب

فلاسفه معتزله واړه ګمراه دی
چه بے شرعے په خپل رائے کاندِ ترغیب

دوه اویا ملته واړه آلوده دی
پکښې یو ملت دَ شرعے دے نجیب

رنځ زحمت دِ خدائے درنهٔ کاندِ خوشحاله
ګنړه کړه دارو دَ شرعے په طبیب

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پند و نصائح

درته وښیم کیمیا د سعادت ... د بدانو سره مه کوه صحبت
مه بدګوئ مه بدآموزمه بداندیش شه ... که دِ زړه ځوی چه درنه رسي آفت
که لوئي غواړې ځان کم ګڼړه تر بله ... بل تر دا دپاسه نشته نصیحت
په دوستانو تلطف کړه خو په تا شي ... د دشمن سره هم ښه کوه خلقت
د نیک خواه خبره نغوږه پرې عمل کړه ... نانعمانو ته تیار دي ندامت
د نمانځه تر قضا ګرانه دا قضا ده ... چه قضا شي د څلورو مصلحت
نوراني کا هغه ځائ چه سره کښیني ... دیرینه څلور هوښیار په مشورت
په اخلاص چه په دعا لاسونه هسک کا ... وربه پرانت شي د فتحې د نصرت
بې ګنګاشه به هیڅ کار په لاس وانخلي ... چه خبردي د ګنګاش په برکت
چه په تشه تواضع کښې ګټه کیږي ... هومره سود نشته د ډک طباخ دست
که ګنجونه د قارون درته انبار شي ... په هر لوري غوږ ږده په سخاوت
ناپوهان به ئې پریږدي روستو بل ته ... عاقلان به وړاندِ بیا ئې خپل دولت
ناپوهان که ئې شدت و ته تیار دي ... لا ئې نه دي خبردار په حقیقت
څو دوستئ د دنیا ډیرې وي په زړه کښې ... هغه هومره ډیر فساد دئ قباحت
شور غوغا جنګ وجدل به تر مینځ نه وو ... که هرڅوک سره راضي وې په قسمت
که حاتم غوندِ کرم کړې د مهرانو ... د یوه مړي په چا مه ږده منت
څو بدانو سره بد شې هومره ښه وي ... ولې عفوه کرم ډیر لري لذت
د نابوده دنیا هیڅ متاعه نه ده ... چه به کاندي عاقلان باندِ شدت
که دِ سر ځي که دِ مال ځي که دِ نور څه ... استوار اوسه په کار د رفاقت
په ظاهر باطن کفران د نعمت مه کړه ... هوا خواه اوسه د خپل ولي نعمت
که راحت غواړې په ځان محنت قبول کړه ... بې محنته هیڅوک نه مومي راحت
که دارو په خواست موندل شي مه ئې اخله ... که دِ مرګ وته نږدې کاندِ زحمت

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که آسمان دِ د مزري په خوله کښېږدي ورکا — د مزري په خوله کښېمه پرېږده همت
د عمل ذخیره واستوه د وړاندِ — دا یو څو ورځې ژوندون دے غنیمت
په اوبو چه روانه دي شړنږے مړه ده — په ورځ نهر خونونه کړه په شریعت
که ژوندون دے هم د نه که په جهان کښې — چه یا دیری د سړی د خو خصلت
دا راحت لکه د فقر د پوزی دے — دا راحت نشته په تخت د سلطنت

چه کالی ئے پاتے نهٔ شي مرده شوئے ته
خدایه ورکړے وخوشحال هسے رحلت

# د حکمت او د صحت خبرے

د حکمت ویل به وایم مختصر — په معنیٰ کښې قیمتي لکه گوهر
په هفته کښې صحبت یو ځلے بائیده دے — که هر څو وربانِدِ عشق وي زور زور
د صحبت په کار کښې ډېر فکر بائیده دے — خوب آس شي په یوه گذار ډېر نگر
دا د ملا او به ئے واړه دُر گوهر دي — که سړے ئې شي د قدر نه خبر
دُر گوهر به هغه څوک لوني بے ځا یه — چه په پوهه کښې ابله وي کیدی خر
په ډېر رنگه دخول کیږي بهتر دا دے — چه ترنا وي ښځه لاندِ ته زبر
چه دِ عمر د پنځوسو کالو تیر شي — په دخول کښې یا وه ډېرمه کړه ذکر
که قوت زیاتوے تل خوره شودے پئ — چه تر دا نه دارو نشته معتبر
په مړه کیده صحبت په شومه مکړه — پس له خوبه ئے پرے جور کړه په سحر
چه حاجت د غسل وشي زر ولامبه — پس له لامبو لږ څهٔ وخوره گرم و تر
د شهوت چه ضعیفي لرے گوښنه — په بادام او په پسته طا نفے خر
دا خلور توکه نفاخ او مبهي دي — یو چنړه، نوبیا، کاځره، بیل هیپر
که د غرهٔ د مرغهٔ په تریخي خان لکه کړے — د جماع لذت به بیا مومے بیشتر
د سړے ښځے صحبت دے لکه زهر — هر سړے دِ ځنے وکاندی حذر
د هغې ښځې صحبت لکه دارو دے — چه ئے لور نهٔ وي نه وولے یا پسر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ دِ لاس په بکره برشي پرته مهٔ پرږدهٔ
دَ مخ رنګ تازهٔ کوي صحبت دَ بکرے
تر زعفرانو تر عنبرو لری ډیره
زعفران خوره کهٔ دِ دَ زړهٔ تازګی غواړے
په تودو اوبو چه اوبړے ژړے لامبی
مستکی مستکی وخوره درته وایم
کهٔ دَ غرهٔ دَ برزو په ترېخې ئے علاج کړے
کهٔ توبرے له زخمه نهٔ خیژی خرچنګم
کهٔ اوبهٔ دَ پیازو شهد و سره وخوړے
په خوراک دَ یاسمین درومی څو رنځه
ناست و نماست دِ دَ سړی په اعتدال دی
په هغه کلی کښے خونه میشته مهٔ کړه
ګرد غبار غارمهٔ چیقړ هوا بدبو یه
په څلور فصله کښے ښهٔ فصل بهار دے
ډیر زحمت په وخت دَ منی پیدا کیږی
رنځ زحمت دَ ژمستان په فصل لږ وی
چه په شپه له خوبه ویښ شے اوبهٔ مه څښه
دَ چند نرو مسهل خوراک دواړه بهتر دی
خدائے دِ توخے دَ سیارے دَ چا ونهٔ کا
دَ مولئ پانړے ښے دی بېخ ئے بد دے
دَ مولئ په خوراک کښے دی دوه ګټے
چه دَ مینے ماستے خورے زحمت به موے
کهٔ ماسته پئ به خورے خوئے دَ برزو څو ره
کهٔ دَ غوا دَ برزو شلومبے خورے زیان ئے نشته
کهٔ به پئ څښے شو دے پئ دَ برزو څښه

کهٔ دِ خانے شي په هغهٔ جهان سقر
و...کوی سستي دَ تن درد و کمر
په خوراک او په بخور نفع اکثر
ولے لا تر زعفرانو ښهٔ عنبر
په دا کار کښے تندرستي دهٔ دَ بشر
چه خوراک ئے په مثال دے لکه زر
رنځوری به دِ پرے نږدی دَ بصر
باندِ و ... به شی بدر
دَ فاسدو ... پریږدی اثر
ترسیرے، ... فالج هم درد سر
په سارهٔ په غارمه مهٔ بویه سفر
چه دریاب ئے په جنوب په شمال غر
رنځ علت وبا پیدا کیږی اکثر
تابستان ... کانډی لاغر
لکه سِل ... قولنج بلا بتر
دَ سارهٔ نه ... په نهر
په نهارهٔ هم اوبهٔ لږی ضرر
په بدن کهٔ ... بهتر
اوکهٔ نه ورته ... شیر خر
مګر ... په چېر
بدهضمی ... کاندی بتر
ترخوا ... بهتر
هم هغه چه ... شیرین تر
اشتها دَ سړی ... کا په خور
کهٔ غوښې ... خوړ دَ بقر


A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ تمغری دَ حلوان غوښې اعلی دی    لا تر خورب مرغی ښهٔ دے دَ کوتر
کهٔ دَ پیازو په خوړ و شهوت زیاتیږی    ولے ډیر خواړهٔ ئے زیان دے دَ بصر
کهٔ هزار رنګه طعام دے په جهان کښې    تر ډودوړئ نه بل خواړهٔ نشته بهتر
کهٔ یخنی اوډوړئ موړے نورځهٔ مهٔ خوره    چه بهتر نهٔ دی تر دا شیر و شکر
کله کله هوګه خوره چه سودئے ډیر دے    په سفر به ئے همیش خوری دانشور
ځو ترشی په جهان شته واړه زحمت ده    دَ صفرا علاج په دے شی مقرر
کهٔ ئے موړے اوړے ژمے کبینه خوړه    خو په سودئے خبرمهٔ کړه خیل پدر
خوږ او تریو انار همه واړهٔ دارو دی    فوائد دَ خوارهٔ لا دی افزون تر
په سابو کښې د سوږے سابهٔ مفید دے    ولے بویه چه محرور ئے خوری کمتر
کهٔ اوبهٔ دی دَ باران یا دَ چینې دی    دَ کوهی اوبهٔ ضرر دے دَ بشر
ښې سړے خوړے اوبهٔ دَ سړی ځان دے    ولے تود خواړهٔ سړے اوبهٔ ضرر
چه تودے اوبهٔ څوک څښی غارمه وهلے    پرے نقصان دَ اشتها شی رنګ اصفر
تود ګچرے دَ غوا غوړی په وخت دَ ژمی    تر حلوا تر سلوا زیات لری هُنر
دَ صحرا ویلنے خوره پرے به ورکیږی    کهٔ دَ نس موړه لرے اوکړه باور
دَ باغی ویلنی سود دَ خوراک ډیر دے    په وجود کښې دَ باد نهٔ پرېږدی اثر
په خوراک توره بنګره زاړهٔ خلمی کا    کهٔ خوراک ئے څوک یو کال کا مقرر
لیونی ګلاب داړلی لره ښهٔ دے    کهٔ پرهار کا دَ هلک په بولو تر
کهٔ دَ نغن سره ئے خوړے خټکے ښهٔ دے    په نهاره ئے خوړل دی تنها شر
حرارت لره کاسنی چه خدائے پیدا کړه    نوردارو په خولهٔ یا دمهٔ کړه خشک و تر
وریتهٔ کړی بنګ هم ورک کاندی نرخوږے    ورسره شربت نبات بویه شکر
دَ تازه پنیر خوړل سړے فربه کا    ولے بویه چه دانا ئے خوری کم تر
په کماله ځوانئ قصد دَ قیفال بویه    ګونا ګون زحمت ورکیږی په داجر
خوچه ډیر طلبګار نهٔ شے خواړهٔ مهٔ خوره    هرزمان په شغوتد کښې مهٔ شه لکه ښتر
دَ طبیب دارو هاله خوره چه حاذق وی    دَ ناقص طبیب دارو لری خطر
خوشبوئ ځولکوے هومره فائده ده    تندرستی ده هم سنت دَ پیغمبر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَصفرا زحمت به دروی لهٔ هغهٔ نه　　چه ښهٔ حُسن وته کاندی تل نظر

دَ بلغم زحمت به دروی له هغهٔ نه
چه غثیان په هره میاشت کا مقرر

## دَ بوس وکنار رموز او اسرار

اول زړهٔ ښهٔ کړه دَ یار　　ښهٔ په بوس و په کنار

بیا له پسه کهٔ پوهیږې　　وصحبت ته شه تیار

په وړو وړو لذت آخله　　ښوریدهٔ کړه په وار وار

دَ شهوت په توشیدهٔ کښے　　په تعجیل شه په تلوار

چه فارغ شے له شهوته　　په سینه ئے شه قرار

دَ خپل یار مقصود پوره کړه　　دَخپل یار اوسه غم خوار

خولهٔ ئے پاس کښیږده په شونډو　　کښلوَه ئے گل عذار

په هفته کښے یو صحبت کړه　　کهٔ هرځوئے قوت دار

مکرر صحبت بلا دے　　ستا به وباسی دمار

سړیتوب بویه په کار کښے　　عادت مهٔ کړه دَ حمار

دغه ځائے لکه کوهے دے　　پکښے مهٔ شه نګونسار

کهٔ شهوت په امساک بند کړے　　په سوزاک به شے بیمار

تل شودهٔ پیئ دَ بزو خوره　　یا دَ غوا ښبنه په بهار

ورسره میده لونګ کړه　　له شودو پیو شه ځار

مهٔ معجون خوره مه څهٔ نور څهٔ　　دَ ځان مهٔ غواړه آزار

تل ثرید خوره دَ ښو پسونو　　ورسره څهٔ خو اَچار

دوپیازه دَ چرګو هم خوره
نور به څهٔ وائیم بسیار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صرف اصیله ښځه اصیل اولاد راوړي

هر سړی چه لیونی نه کا خپل ذکر ... په هر ځای کښې ئې منړی خاورې په سر
د صحبت په کار کښې ډیر فکر بایده دے ... له صحبته پیدا کیږی خیر و شر
چه سیپۍ د دریاب نه وی اصیله ... کله ښه ترې پیدا کیږی دُر گوهر
په دا کار په توره ږیره خبر نه ووم ... دا یم اوس په سپینه ږیره شوم خبر
ښځه کښلې ښائسته پاکیزه بویه ... چه ئې پلار نیکه له ځایه معتبر
شرمناکه پرده پوښه دلاوره ... آراسته په عقل وهوش په ښه هنر
نه وهمی نه وسواسی نه بدمعاشه ... نه ئې مینه په دُنیا نه زر زیور
که دا هسې محبوبه په لاس کښیوزی ... له وجوده ئې پیدا شی ښه پسر
چه ئې مور وپلار تفچاق وی خدائے دِ نه کا ... چه بها نړ ځنې پیدا شی لکه خر
ترمیرمنې وینځه ښه ده په ښه خوئ کښې ... نه میرمن چه نه ئې خوئ وی نه بشر
آدم زاد په اصل واړه آدم زاد دی ... ښه هغه چه ښه ئې خوئ لکه سره زر
طالعمن قابل یو خویه د پلار بس دے ... نه نابود خویه په کور کښې جوړ لښکر
چه حیا شرم لری فرزند هغه دے ... د فرزند خو دِ ربنتیا غواړی پدر
چه ئې شرم حیا نه وی نه راست گو وی ... پلار دِ کاله هغه خویه نه حذر
چه نیک خواه د بابا نه وی هغه خویه ... گوره دے د ځه بلا لری اشر
خپل وجود د خپل وجود په بدئ نه وی ... بل وجود د بل وجود غواړی ضرر
که د خپل خویه په سود پلار ښه کیږی ... ښه فرزند به ځنې نه ساتی خپل سر
ابراهیمؑ چه اسماعیلؑ ته تیغ تیار کړ ... اسماعیلؑ ابا ونه کړه په دا چر
اوس د دے زمانے خویه خویه نه دی ... مارلړم زیږی که لا تر دا بتر

یا د خپل اولاد د لاسه شاه جهان زده
یا خوشحال ده په فریاد په ناره سر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ نظام په وفات

څه داغونه بړدے په زړهٔ باندِ فلکه
چه نظام دِ له ما بیل کړخوائے ډکه

خدایه ته خو ستمګرنهٔ ئے داغهٔ کړے
خالقه دِ په دا کارکړه هکه پکه

په لحد کښے هغه مخ خوړے په چینجیو
چه دَ هیچا پرے پیرزونهٔ وه ځوانکه

په غمونو کښے دِ څوړ په دُنیا پائی
کهٔ دَ زړهٔ په ارمان تهٔ ومړے کودکه

کښکلے ځوان دَ بیښتانهٔ په تنګ کښے مړوے
نه چه ګور لره روان شوله تولتکه

چه دَ قام په ننګ کښے ومړ هغه ځویه
په عالم کښے دَخپل پلارغاړه کا لکه

رنګ دَ اوښکو سره ویوست ځما سترګو
نور به نهٔ راشی ځما دَ مردمکه

لاس و دست دِ سره درست درهم برهم کړی
دریغه دریغه لاس درنهٔ رسی فلکه

نظام لس میاشتے بیمار زهٔ په شل کړو هله
دا شل کړو هله راته لاډیر شول ترلکه

هغه وخت به بیرته نهٔ راشی نظامه
چه به نهٔ وتے دَخپل بابا له وَکه

کهٔ حیا وه کهٔ وفا وه کهٔ صفا وه
شایُسته ستا په وجود وه هره یکه

اسماعیل غوندِ به دے راته تسلیم ؤو
کهٔ په حلق مِ دَ نظام کښیښوه کزلکه

کهٔ دَ پلار په رضا ځوئی دروی جنت ته
سکه نظام ورلره ورغے بے شکه

خدائے مِ نور ګلونه جوړلره په باغ کښے
کهٔ یو ګل ورځنے پریوت له خونکه

زهٔ به ولے هیسے ژاړم یا به نهٔ خوړم
کهٔ په نهٔ ژړا مِ مل شے زړهٔ به جکه

خوږ زوندے په دُنیا پایم خدائے دِ نهٔ کا
ستا خېره ځما دَ زړهٔ له تختے حکه

دَ نظام دَ غشی یو برابر نهٔ دے
کهٔ خوشحال په زړهٔ خوړلی ډیر ناوکه

مګر زړهٔ ئے دَ ها تی وی چه زغمی ئے
دا شیتئی چه دَخوشحال په زړهٔ شوه لکه

* ... * ... *

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ دُنیا بے ثباتی او بے وفائی

همراهانو دِ کوچ وکړ واړه لاړل تر منزلــه
تهٔ لا کلک په خوب اودهٔ ئے اے خُما دِله غافله

له نیستئ وهستئ ته، له هستئ و نیستئ ته
کاروانونه دی چلیږی، قوافــلــه قوافــلــه

لارم واړه کِل ولاړ ئے دہ، تهٔ په سهل تیتوسورے ئے
بنهٔ سواران دی پکښے تللی، واوره تښته له دے کِله

دَ دُنیا په دریاب ډوبه، دَ پایاب طمع ومهٔ کړه
دا پایاب دے ډیرو غوښتے، خبرنهٔ شول له ساحله

وکنارته به ونهٔ وزے، له دے هسے شان دریابــه
په ساحل ئے خبرنهٔ دی، بے له اهلِ سواحله

دَ دُنیا حاصل ئے واړه، ناکامی او رنځوری دہ
کهٔ دَچا پکښے حاصل شی، هم ئے مهٔ گنړه حاصله

له قسمته به نه کم نه به څهٔ زیات په ډیر کوشش کړے
هم هغه به در رسیږی چه دِ بخره پرواټله

دُنیا خو وبله آسپے چه مقصود دے په دُنیا کښے
خو یو نغن یوه شړئ، نوره واړه ده فاضله

په قضائے رضا دروړه هرچه ستا په باب ئے کړی
په هیڅ رنګ به دفع نهٔ شی، په تعویذ په حماٹله

خپلولا سوخپلو پښو وته وګوره نظر وکړه
دا همه واړه دَخدائے په، معرفت دی دلائله

همیشه ولاړ ئے چه خدائے م، پیژندلے په یکی دے
کهٔ دِ خدائے وُو پیژندلے، مینه مهٔ کړه په باطله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له خدایه راته وایه، بل یو کوم دی چه پیدا کا
آدمي له تورو خاورو، په دا شکل و شمائله

په خوردن او په خفتن کښې له چارپائے برابر مهٔ شه
دَ عمل په کاروبار کښې مهٔ شه کم تر عوامله

دَ دُنیا په کاروبار کښې په خوب حده بیدار ئې
دَ ښهٔ دین په کار کښې څهٔ رنګه اوده ئې سُست کاهله

په خپل حسن غره مهٔ شه کهٔ په حُسن لکه ګل شے
زمانه به دِ ښهره په، یو څو ورځے کا زائله

په دولت کښې په حشمت کښې، کهٔ سنجر شے یا طغول شے
یوه غښنه راښکاره کړه له سنجره له طغرله

دَ بدانو نه دِ هیڅوک دَ نیکئ اُمید ونهٔ کا
دَ عسل خوارهٔ به نهٔ مومے له زهرِ هلاهله

دَ هغهٔ عالم خبره چه عمل په دهٔ کښې نهٔ وی
په مثال لکه براق دے چه جدا ځي له عامله

غه عالِم چه عمل نهٔ لری په مثل لکه خر دے
باندِ څو کتابه کښلی مشقت ئے بے حاصله

چه ګفتار کردار ئې وارهٔ موافق سره یو رنګ شي
هاله هر رنګه خبره، اثر کاندی له قائله

په زیبا ګفتار دِ هیڅ تقصیر ونهٔ کړاے خوشحاله
کهٔ کردار دِ هم زیبا وے چار به ولے وه مشکله

## په پیریٔ کښې عشق بازي څهٔ پکار نهٔ ده

پارینه چارے چه سر نشته خوشحاله
دا دَ سر چارے به هم نهٔ وی تر کاله

دا سر کال چه دَ غصې دی چه غصد شي
اُمید وار او سه له بخته له اقباله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخت اقبال کۀ وتا درکا هسے ناوے
چه مهتاب ئې منفعل دے ترجماله

ستا به دوه کالونه وی دَ عمر
سود فائده ئې راته وایه له وصاله

دوه اویا به دِ هاله دَ زړۀ په کام ؤو
کۀ ځوانی ورسره هم وے اِتصاله

دَ پیرئ په وخت کښې هر هوس کنده دی
لا په تیره عشق بازی ده غیرِساله

دَ دلبرو مینه چا دا هو مره راکړه
چه ئې هیڅکله خالی نۀ یم له خیاله

## دَ خپلے عقیدے، مشرانو او مرانے په باب کښې

دَ خدائے منت را باندِ چه ئې هست کړم له عدمه
بل خلقت ئې نۀ کړم راپیدا شوم له آدمهٔ

پښت په پښت راغلے مسلمان محمدیٔ یم
چار دَ چار یارانو سره واړه منم سمه

درست په دا پوهیږم چه څلور مذهبه حق دی
زۀ هم دَ حنفی مذهب دعوی لرم محکمه

مینه ئې په زړۀ کښې دَ علماؤ راکړه ډیره
مینه په دَ دور دَ شیخانو راکړه کمه

نۀ خراباتی نۀ قمار باز نۀ زنا کار یم
نۀ قاضی مفتی چه ئې نظر په څو دِرمه

برخه ئې دَ تیغ راکړه په اصل کښې پښتون یم
پلار په نیکۀ نۀ یم بے دولته بے حشمه

پلار مې سور کفن وکورته لاړ نیکو ده واړه
ډیر خلق پرے ومرخون ئې لاړ شو از عالمه

پلار مې شهباز خان په بیرون لکه حاتم ؤو
زړۀ ئې دَ مزری په توره تیر ؤو تر رستمه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهینګ ولاړ په شرعَ تل ئے کار وُو په رښتیا کښے
خط سواد ئے نهٔ وُو نور دانا وُو له فهمه

څوبه نیکهٔ ستایم یحیٰی خان جنت ئے ځائے شه
ړوغ لکه یوسف وُو درست ترسره تر قدمه

بل سړے کهٔ سور وے دے پیاده سره برسم وو
قد قامت ئے هومره دَ مړلنے چار ېٔ تمه

بل نیکهٔ څما ملک اکوچه په خټک کښے
دهٔ راوړه دا بخره دَ لویئ مقدمه

دیرش کالونه وشول چه مِ پلار دے شهید شوٰ
مړ کړ یوسف زیو ماهم اورکړه باندِ سَمه

نور پښتانهٔ ډیردی خو یوزهٔ پکښے توره یم
واخلم، ورکړم، بندکړم، پریږدم، دوژنم تر دَمه

ډیرو ولسونو غلیمی را سره وکړه
سرئے راته کوز کړ هاله خلاص شول له ما تمه

یو یوسف زئ دے چه په مائے منت بار کړ
لا په اکوزیو دَ ننګ چار دهٔ مُسَلَّمَه

زهٔ چه دَ غعد په کال بندی دَ اورنګ زیب شوم
کورا و خیلخانه مِ پکښے ډیره وه له دَمه

څو کاله بندی کړم اورنګ زیب په هندوستان کښے
ړوغ راغلم ترکوره بیائے خلاص شوم له سِتمه

هرچه زهٔ ئے وژلم په زندان کښے هغه واړه
ومړل خوار شول ورک شول خالی نهٔ دی اَلَمه

زهٔ لکه یوسفؑ له بنده خلاص شوم کامرانی کړم
پاک پاکیزه زر وُم اور مِ نهٔ کړه بها کمه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوئے م اشرف خان دَ چه خورشوے کور پرے تول دے
زۀ چه په بند لاہم خیلخانه م شوه برهمه

ځلیر پشت ځویه نور لرم یو دے یکښے چه لوئے دے
واړه برخوردار شه خدائے وساته له غمه

اوس پنځۀ نمسی لرم افضل دَ اشرف خان دے
خدائے برخوردار کړه په دۀ پیره لرم تمه

یو م سکه رور دے چه ئے لار دَ حق نیولے
دوه رونړه م نور دی یو په نم دویم بے نمه

ځائے م ملک پور دے چه ئے سرائے بولی وګړے
قام اولس م پروت دے ترلکئ په غرۀ په سمه

شل زره ځوانان لرم همه له یوۀ ذاته
واړه یکانګ شا په خدمت کښے راته خمه

څۀ شو شمشیرخان ترین کۀ پوخ پنجهزاری دے
ماوته هیڅ نۀ دے مکربے اُومۀ شلغمه

ځو به دَ منصب په زورځما برابری کا
څۀ مجال دَ ګړے چه سیالی کا له ضیغمه

خوار شه یوسف زئ چه ترین ئے حاکمی کا
اوس کۀ ښکار دَ باز کاندی هیلئ نۀ دهٔ کرمه

زړۀ دَ شاهجهان بادشاه دننه دَ زړۀ سره وُم
چار م اورنګ زیب په نادانئ کړه برهمه

دم وهلے نۀ شم څوک م داد دَ لاسه نۀ کا
داغ لرم په زړۀ کښے بے طبیبه بے مرهمه

څو زړه سواره دی سرګردانه په ځو کاله
زړۀ کۀ په زړۀ روغ وے چار به ولے وه درهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل کاله کۀ تیر شی دا مهم به فیصل نشی
دا رنګه چه کیږی ګوره خله وشی له همه

خوچه په خو کاله شمشیرخان ترین کار کړے
مابه په خو میاشتے واړه چار کړه مستحکمه

دا مکر فریب چه دَ حیات ترین هُنر دے
کله دا د مرد دے ؟ دا دَ ښځے دے عالمه

پوهه تمیز نشته دا فلک په سترګو ړوند دے
ښځه دَ خانئ په خطاب کا مکرّمه

دا اِنشا اِملا واړه چه دے دَ شیطانئ کا
تل بانډِ نفرین اوری له لوحه له قلمه

حال حقیقت وایم چه هرچا وته معلوم شی
زۀ څۀ شاعر نۀ یم هسئ توبه له مدح، ذمه

# خپل حال

چه قانع دَ زمانے په خشک و تر یم
کۀ م پیژنے بادشاه دَ بحر و بر یم

نۀ م تخت نۀ م افسر نۀ م سپاه شته
په تسخیر دَ درست جهان ختلے نمر یم

په دروں کښے م پراته دی ډیر ګنجونه
په معنیٰ کښے لکه کان دَ سیم و زر یم

کۀ م لاس لکه دریاب خالی لیدۀ شی
دَ ټېټر دننه ډک په دُر ګوهر یم

دَ طالع په سود و زیان م نظر نشته
سرتر پایه درست وجود واړه هُنر یم

کۀ م حلق له تندے وچ شی په همت کښے
پروا دار کله په حوض دَ کوثر یم

لا یو شور را څخے لاړ نۀ وی بل را شی
مګر زۀ پیدا په ورځ دَ شور و شر یم

کۀ لوئی م دَ آسمان سره سیالی کا
په پستئ تر تور خاورو نه بتر یم

په سپین والی کۀ م زړۀ تر دا ډیر سپین دے
په توروالی دَ دوزخ دَ اور شرر یم

څوک م پرے مۀ وزه دَ قهر تر کمرو
کۀ په حکم په سکون لکه تورغر یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باطن وته م گوره که دانا ئې — په ظاهر صورت که هر څو محقّر یم
د حاتم غوندې م خیل وحشم نشته — په عطا که له حاتمه برابر یم
سخاوت م په تقلید په رسم نه دے — زهٔ له ځایه د سخي بابا پسر یم
نه دا یو عیب ځما نه ډیر هُنره — چه بهرام ځما پسر زهٔ ئې پدر یم
په وگړي م خبرے د مردۍ دي — په همت کښے په هر لوړي نامَور یم
د یاقوت د ا دبو غم نشته له اوره — که دایم د زمانے په اور کښے د ر یم
خپل پردي سره ډیر حلم هم بنه نه دے — زهٔ داهسے درمانده په درگذر یم
څوک دِ هیڅ گمان په ما د دروغونه کا — چه په ملک کښے لیونی دي زهٔ ئې سر یم
لا پردي راسره برگرندے وکا — زهٔ د خپلو په سلام کله په چر یم
څوک دِ لاف د خپلوالي راته نه کا — چه په حال د نیک وبدو بنهٔ خبر یم

زیست روزگار به م د خلقو سره نه شي
زهٔ خوشحال له واړه خلقه مرور یم

## د شپے او ورځے مباحثه

ځُجت د ورځو شپو دے تهٔ ئې ونغوړه همدمه!
که بنهٔ فهم پرے اوکړے زړهٔ به خلاص کړے له اَلَمه

چه ورځ د شپے ځجت کړو یو د بله ئې صفت کړو
وئیل ئې منتشر شول هم له مدحه هم له ذمه
شپے ووے چه اے ورځے ځما فضل تر تا زیات دے
په دا سبب چه زهٔ یم په اَزل تر تا قدمه

دوستان د خدائے طاعت اوبندګي ډیره په شپه کا
د شپے سجده به قدر وي د ورځے له قیمه
موسیٰ وکوه طور ته له قومه تلل په شپه کړل
هم لوط په شپه جدا شوله بیداد اوله ستمه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدؐ له آسمانه په شپه کړه میاشت راکوزه
معراج وته ئې تلنه هم په شپه وه له حرمه

یو خو وخته په تا کښې دي چه مونځ دے پکښې منع
نور درسته په طاعت په عبادت یم مکرمه

تر نورو میاشتو بهه ده په فضل و په شرف کښې
یوه شپه دَ شبقدر خبر واخله له عالمه

آسمان وته چه ګورے په ورځ یو شین ګنبت دے
په شپه چه ورته ګورے بنائسته دے تر ارمه

زهٔ شپه یم ستر پوشه عیب فاشه مِ ته ورځ ئے
راحت مومی له مانه ته مِ ډکه ئې له غمه

چه ورځې مِ دَ شپې نه دا دَ مدح ویل غوږ کړهٔ
په ورو ئې ورته اووے چه خوله پټه کړه له ضمه

لږ وار وماته راکړه چه زهٔ هم درته ووایم
څو ته هسې کډیږې په خبرو نا محکمه

روژه چه مؤمنان سړی لری واړه په ورځ ده
مجمع په عرفات باندِ په ورځ دے له اُممه

اختر دے که جمعه ده که عمره که عاشوره ده
همه واړه په ورځ دی دا له عقله له فهمه

په وقت دَ قیامت به دَ عالم حشر په ورځ وی
ایجاد دَ واړه خلقو هم په ورځ وُو له عدمه

په ما ستر کے رڼا شی دَ عالم په تا تیارے
یادیږم په ویل کښې رڼا ورځ له تورے تمه

خما خهره ګونه ده له اسلامه ستا دَ کفر
دَ عید جامه خما ده ستا جامه ده له ماتمه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ په مثل دَ بادشاه ئے میاشت و ستوری دِ لښکرې
لښکردِ تار په تارشی چه ورځ وخیژی له همه

کهٔ پټ وی په وریځ کښے هم ترمیاشتے نمرتیرے کا
همه عالم خبردے چه زر بنهٔ دی له دِرمه

چه سیر دَ ګلونو دَ ګلزار کا یا څوک ښکار کا
هغو ته په قطعَ نهٔ ده شپه له ورځے سَمه

په ماکښے فریضه نمونځ نه ډیرپه تاکښے لږ دی
په تاکښے څکه کم شو چه تهٔ ئے له ما نه کمه

POHA

# دَخپلو ګناهونو نه توبه ګار او دَ خپلے عقیدے اقرار

زهٔ په خپلو ګناهونو توبه ګار یم
چه م کړی دی په واړو شرمسار یم

په دا سپینه ږیره ما فضیحت مکړه
کهٔ په توره ږیره هرڅو بزه ګار یم

اوس وماته توان توفیق دَطاعت راکړه
ستا و فضل اوکرم ته اُمید وار یم

ستاله لوریه همګی فضل و کرم دے
زهٔ دَخپلو شامتونو نه په ډار یم

نورعالم م په کردار خبردار نهٔ دے
زهٔ پخپله خبر دار په خپل کردار یم

په عمل به هسے کبر و جهود نهٔ وی
لکه زهٔ په خپل عمل کښے خواروزار یم

هندو هم په نیمه شپه پاڅی خپل جپ کا
ترهندو نه دَعمل په کار لاخوار یم

زهٔ په سلو فتنو لاړم په سجده سر بږدم
همګی عمر داهسے مونځ ګذار یم

نهٔ ثواب دَ جماعت نه سود دَ نفل
دَ قضا نمونځونو هم لا تاوان دار یم

کهٔ حلال وی کهٔ حرام مزه ئے بو یه
په مزه دَ لقمے کله پروادار یم

خلق څما په فعل ګور ته لاړے
لا دَ نورو وژو ته په تلوار یم

نفس وماته حق ناحق کا ناحق حق کا
تل دَ دهٔ په فرموده پورے ناچار یم

راکښے خوئی خصلت دَ دوه او یا فرقو دے
په ظاهر دَ مومنانو په قطار یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهوا په دریابونو کښې غوټې خورم
دحرص په حصارونو کښې حصار یم

که په رسم په تقلید مُسلمانی شی
سنځ ځما مسلمانانو سره شمار یم

نفس شیطان راته په هره ساه په خودی
تررووستنئ ساهے زه ځنئ په ډار یم

حمیده م لکه زر ذمیمه شکے
تورے خاورے م په سر دی که زردار یم

اعتقاد ئے دخاصانو وما راکړه
که زه هرڅو په عمل کښې خوار و زار یم

دکونینو پیدا کړونے لاشریک ئے
په دا هومره اعتقاد کښې اُستوار یم

که فرښتے که کتابونه دآسمان دی
په همه پیغمبرانو په اقرار یم

دقیامت په ورځ قایل یم بے ګمانه
نیک و بد واړه له تا دی خبردار یم

پس له مرګه به ژوندون دخلائق وی
په دا واړه وکښې له شرکه نه ویزار یم

پیغامبر م محمّدؐ دَ عبدالله دے
مینه دارئے په اصحاب په چهاریار یم

امامان ئے دَ اولاد واړه برحق دی
ترمهدیٔ پورے دَ واړو خدمتګار یم

چه دبښنه ئے دَ اولادؓ اودَ اصحابؓ دی
په وکښنه ئے دَ بیخ اودَ تبار یم

دَ مذهب ښښتن ځلور دی پنځه نه دی
حنفی سُنی مذهب دَ دین په کار یم

دَعذاب طاقت م هیڅ نشته بخښنه م
ودرګاه لره دِ درغلم طیار یم

چه هم ځک له ګناهونو هم مغرور وی
نه خوشحال هغه بنده دخپل غفار یم

# دَ بهار ننداره
# اودَخپلے خودداری اظهار

دَ نوروز منت په باغ دے په صحرا هم
نورانی ئے شی له فیضه هغه، دا هم

چه په باغ کښې رنګارنګ ګلونه واشی
غنیمت ده دَ ګلونو تماشا هم

لخلخے دَ نوبهار په هرمشام ځی
ګلدستے ئے خندوی پیر و برنا هم

دَ ګلونو هار په غاړه دَ دلبرو
شرموی لعل و یاقوت لولو لالا هم

دَ معشوقو په زلفینو کښې ځائے وکا
بنانشته ګلونه پاس په وربل لا هم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَرغوان کۀ بنفشه کۀ شقائق دی
زیبائی لری یوځانے جدا جدا هم

په هر ګل باندِ تهتر مسرې بلبلے
بیاله شوقه په هوا کاندی نوا هم

دَ هر ګل په مخ چه سرګښیږ دی بلبله
پرے غلطان غلطان راځی بادِ صبا هم

په ګلزار پسے بلبله دل کباب دهٔ
په ارمان ئے ځګرخون دے دَ مینا هم

ځوک په عیش په عشرت کښے ځوک په غم کښے
ځنے څهٔ چارے لیدۀ شی په دُنیا هم

دَ قفس بلبله ژاړی ګریانی کا
چه به چیرے په ګلګشت والوزو بیا هم

په هغو ځما سلام مادِ هم یاد کا
په ګلزار کښے چه نګار لری صهبا هم

ښوبهاره م بے میو معشوقه ځی
داخود رائے فلک څهٔ چارے کا په ما هم

ماوے زر به ښرخ ځما په کام راوخوری
ولے ډیر تعطیل ئے وکړ لائے کا هم

چه وخپلے کامرانئ ته م شا کړه
غم اندوه دَ فلک نۀ لرم پروا هم

دَ سفله منت به هیڅ دانا وانخلی
چه خبرۀ په خصلت شی په عطا هم

دَ منت دارو کۀ مرم بکارِم نۀ دی
کۀ علاج لره م راشی مسیحا هم

دَ فرښتو آمین منت دے په دُعا کښے
لاجرم ورځنے پته کړم دُعا هم

دَ جهان غمونه واړه پکښے ځائے شول
شکر دا چه زړهٔ ئے لوئے راکړو وما هم

چه لیدلے دِ وفا دَ هغه یار وی
په دوه سترګو قبلوهٔ دَ دهٔ جفا هم

ښا پیرئ مخ په خوب کښے رابښکاره کړ
لیونتوب م ورسره موندهٔ سودا هم

کۀ خوشحال دَ یار وصال په دُنیا مومی
تمامی دُنیا ترے ځار شه مافیها هم

## ژمی ته هر کلے

چه تحویل شی دَ میزان
توغ خړ ګند کا زمستان

توغ ئے څۀ دَ سهیل ستورے
چه ښکاره شی په آسمان

دَ غارمۀ په رنځ رنځور وی
بیا تند.ست شی دا جهان

دَ خوړو لذت پیدا شی
اُبه ولګی په ځان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیږ په غیږ سره نما ستے
لب په لب شی مشتاقان
دَ جامے قدر خرګند شی
زرین قبول کا عراقیان
یۀ په زغره ځوان خبروی
نۀ آس دروند په برګستوان
چه دَ ښکار هوس ناکی کا
پرے ښادی شی دَا آوان
دَ شمال مرغونه واړه
په جنوب شی سراسروان
نوی باز راشی له سواته
لکه ښۀ سیلی جوګیان
دَ سپوږمۍ په شغله یون کا
زغ کا زانرے په آسمان
قاز او بطے راسورے شی
هم هیلئ صد چندان
زرګے کوزے شی وَسَم ته
په دانه دَ دهقانان
تغدری لکه دړونی
ځان خرګند کا په میدان
کۀ شاهین کۀ څرخ که بازوی
راځئ واخلی میر ښکاران
دَ صدبرګ ګلونه واشی
په رنګ ښۀ وی تر زعفران
خوک دَ ښکار په هوس ګرځی
خوک په سیل دَ بوستان
عباسی په دوه درے رنګه
سپین او زیړ وی ارغوان
دَ چنبے دَ ګلو بوئ ځی
دَ هر بوټی تر ګریوان
دَ سبزې ئے تما شا شی
لا په تیره دَ ریحان
په تنکی تنکی ښاخونه
هرکه ونه شی شان شان
کۀ بلبلے کۀ طوطیان دی
لور په لور کاندی فغان
دَ دے هسے وخت هوا به
مګر مومے په جنان
کۀ رښتیا وایم دا وخت م
په پسرلی لری زرجهان
دَ دے وخت په مخ خلاصے وی
دَ پسرلی په مخ زندان
په خوشحال دِ قدر ډیر دے
یمانی ستوریه جان جان

چه دیدن دِ ورښکاره شی
نور په دۀ ګرے خط پریوان

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ استاذ دَ خولے پندونه

خپل استاد وماته دوئے څو پندونه
هر یو پند ئے مرغلرے دی لا لونه

وے ئے هره بدی کړه هغه بد مۀ کړه
چه له لاسه دِ آزار شی دَ چا زړونه

کۀ دِ زړۀ دے چه بد نۀ موئے له چا نه
اول تۀ پریږده دَ بدو خصلتونه

دَ شهوت په نغوته مۀ ځه شهوت اور دے
په دا اور دَ ډیرو سوی دی کورونه

تۀ کینه نه حسد له هیڅ مۀ کړه
دَ ازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه

دَ هرچا سره دَ ښو سلوک بایدۀ دے
په بدئ کښے څۀ فائده ده څۀ سودونه

دَ دُنیا په مال دَ نیکو نوم حاصل کړه
تل جهان وچا ته نۀ پریږدی سودونه

دَ هرچا سره نرمی ملائمت کړه
ګُندوی چه په دا خپل کړے دَچا زړونه

خپل پردی ته دَ زړۀ راز خبرے مکړه
دَ بخے دننه ښۀ دی خپل رختونه

خوش خوئی هر کوره ښه ده نۀ داهومره
چه په باغ کښے دِ خرتیزے وهی خرونه

هغه کار چه په نرمی ترسره کیږی
څۀ حاجت چه رساوۀ شی ترچنګونه

وهغو ته کۀ قهر کړے روا دے
چه لری دَ بدو فعل بد خویونه

دَ هغو په مرګ ثواب ګټلے بویه
چه ئے سیزی له شومته غارے غرونه

کۀ دشمن دِ ډیر زبون ته څخے پار کړه
په یوه بڅری و سوزی ښهرونه

دَ دشمن په تملق غلطی مۀ کړه
دَ رُستم غوندِ هم مړۀ دی په مکرونه

عاقبت به خپل ورغوے په غاښ پرے کا
هرچه کار کا دَ دشمن په درمونه

چه دِ لاس په دشمن برشی پرے ئے مۀ ږده
عاقلان به ژوندی نۀ پریږدی ماړونه

کۀ پخپله دَ خپل خان په بدئ نۀ ئے
دَ مارونو په غارمه مۀ ږده لاسونه

په خپلوانو باندِ دومره خشم مۀ کړه
چه پردی درڅخے تښتی په ملکونه

دَ بادشاه په مهر مینه غره مۀ شه
زورور په لږ ګناه وهی سرونه

بادشاهان چه په چا مخ کا دَ بدئ
وسیندونه ته تړل نۀ شی بندونه

په هغے معشوقے څۀ باور دَ کړو دے
چه په هرلوری یاران لری نازکونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذ پیپلو پا نړے خوره نهٔ دغه پاستی
کهٔ عمل کهٔ وکالت کهٔ پیر و پلور دے
له بدخویه سره هیڅ بدی تهٔ مهٔ کړه
ذکم ذات په ښو خبرو غلط مهٔ شه
په هر کار کښے چه درپیښ شی بیړه مکړه
چه دِ قول له چا وکړ نور ئے مهٔ کړه
په رښتیا کهٔ په دروغ وی سوګند مهٔ خوره
ذحرص سترګے مړے په قناعت کړه
کهٔ هرڅو دِ علم ډیر چه عمل نهٔ کړے
ذ ښهٔ دین دپاره علم دانش ښهٔ دے
په جهان کښے کهٔ مردان دی هم هغه دی
په لښکر کښے دِ هم ساد وی هم دِ غلهٔ وی
چه بد انو سره ښهٔ کړے قباحت دے
عاقبت به ملګیری درڅخه پرے کا
کهٔ دِ روردے کهٔ دِ خوئے دے چه بدکار شو
چه بد فعله بد غرض وبله ناست وی
چه په کالو مشران تهٔ ئے حرمت کړه
چه ذ ښځو ترآواز پورے زبون وی
په هغه کور کښے چه ښځه چرګه بانګ لی
هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
کهٔ دِ زړهٔ له وینو ډک شی و دشمن ته
په هر کار به دِ لاس بر وی په خوانئ کښے
په خوانئ کښے چه دِ کار له لاسه ووځی
درته وایم چه په کوم توکی به درووند دے

چه ئے خورے ذ نوکرئ په شرطونه
ذ هوښیار له لاسه ښهٔ یشی کارونه
غلیمان ورلره بس دی خپل خویونه
ذ ګناه ډیر وُنه خوارهٔ لری ګلونه
په تلوار سره ورانیږی جوړ کارونه
تل په عهد قول ټینګ وی ښهٔ میړونه
منافق دے چه ډیر ډیر خوری سوګندونه
چه په کور کښے دِ انبار شی نعمتونه
تهٔ حمار ئے په تا لښلی کتابونه
نه په دا چه پرے لُوټے پردی کورونه
چه و سختئ وته ونیسی ځانونه
کله غشی په کارکیږی کله ګرزونه
ذ بدانو خو هم تور ښهٔ وی مخونه
چه په لارے ترتاتیر دردمې ملونه
په خیبره ئے کاږ ذکا وسمیږونه
ذ هغوله ناستی تښته په کروهونه
بیا هغه چه دِ په ځائے دی لکه ترونه
په جهان کښے هغه زیږه دلا زبونه
ذ هغو خو [illegible] کښتونه
مه عمل کوه په [illegible] بونه
هر [illegible] کار [illegible]
لږ و دیره زبان مهٔ راوړه غمونه
کهٔ طاعت کهٔ عبادت کهٔ نور کارونه
په پیرئ به ذ ورنهٔ رسی لاسونه
چه ذ هرچا سره نهٔ کړے خوابونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه اوسه خولهٔ پټه لکه ناوے | چه ضرور شی هاله وکړه دوه حرفونه
ترهغهٔ به نا معقول په جهان څوک وی | چه همیش په خندا سپین لری غاښونه
کهٔ خبره کهٔ خندا کړے ځکی ځکی | هره چار ترحساب مهٔ کوه بیرونه
کهٔ دِ زړهٔ دے چه دِ عیب ښکاره نشی | چا ته مهٔ شماره دَ خلقو پټ عیبونه
کهٔ ترتانه په قوت دَ مهتوزیات وی | دَ هغهٔ سره حُجت مهٔ کړه بحثونه
چه توانیږے دَ هغې خبرے لاف کړه | او کهٔ نهٔ په دروغ مهٔ وهه لافونه
په دښمنو کښے چه دَ جنګو خرخشے وی | تهٔ بے غمه خپل هوس کړه خپل کارونه
کهٔ دِ واؤریدل چه بیا و بله دروغ شول | نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه دَ ښځو نه بتر دے هغه څوک دے | چه دَ ښځو سره کا مصلحتونه
په جهان کښے چه پرے ننګ و نام کا ټهٔ شی | کهٔ پوهیږے خاربهٔ مړ و نه کړی آسونه
خدائے هغه په دواړه کونه دی نمنځلی | چه په ورځے عدل و داد په شپه مونځونه
چه په زړهٔ په تا مئین دَ هغو ناز وړه | تل نیازمنو سره وړی دی نیازونه

دَ اصیل ښیوه خپل اصل نه لباس دے
په زربانو کښے بیا ټم وی یا مریونه

# دَ دهلی دَ ښار مختصر تاریخ او بیان

دَ دهلی دَ ښهر ښهٔ شان و شوکت ؤو | لور په لورے کښلے کښلے عمارت ؤو
ښائسته ئے بازارونه ؤو دَ ښهر | مهیا ئے په بازار کښے هر نعمت ؤو
دَ شا نهر فوارے دی په هر کور کښے | دَ بازار به ئے څهٔ کم بیګه وسعت ؤو
په دهلی باندِ ګواهی دَ جنت وله | کهٔ راغلے په دُنیا چیرے جنت ؤو
دَ بادشاه دَ خاص و عام به څهٔ تعریف کړم | وخوابګاه وته ئے عقل به حیرت ؤو
چه بهجوړ دَ شاهجهان بادشاه دربار شو | په دربار کښے به ئے دوه او یا ملت ؤو
کهٔ هوائے دَ عراق دَ خراسان وے | دَ جنت به د دهلی سره غیرت ؤو
دا زینت چه شاهجهان و دهلی ورکړ | بل باد شاه کله ورکړے دا زینت ؤو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ دهلي بنا دَچا په لاس ده شوے
همګي به نوم په نوم درته بيان کړم
دَ دهلي بنا اول اوکړه خو هانړ و
دَ اسلام بادشاه اول معزالدين وُو
چه دهلےئے رانيوهٔ له پتهو را يه
چه ئے سر دَ پتهورا پريکړ له تنه
بيا له پسه قطب الدين دَدهٔ مړيئے وُو
بيا له پسه شمس الدين دَدهٔ پالک وُو
بيا له پسه فيروزشاه دَشمس الدين وُو
بيا له پسه رضي لور دَشمس الدين وه
بيا له پسه معزالدين دَ شمس الدين وُو
بيا له پسه ناصرالدين دَشمس الدين وُو
بيا سلطان معزالدين کيقباد وُو
بيا سلطان جلال الدين په سرير کښيناست
بيا نمسے دَ فيروزشاه علاوالدين وُو
بيا له پسه قطب الدين دَعلائی وُو
بيا له پسه تغلق شاه چه اُمراء وُو
بيا سلطان محمدشاه دَ تغلق شاه وُو
بيا له پسه فيروز شاه چه دَدهٔ تره وُو
بيا سلطان محمدشاه دَ فيروزشاه وُو
بيا سلطان غياث الدين دَفيروزشاه وُو
بيا له پسه آبابکر په تخت کښيناست
بيا له پسه سکندرشاه دَ محمد شاه وُو
بيائے رور ناصرالدين په سرير کښيناست
بيا له پسه چه تيمور په هند راکښيوت

په نوبت نوبت دَچا پړے سلطنت وُو
چه دهريو دَ خهٔ خوئی خهٔ خاصيت وُو
پړے دَ ديو تير خو کاله سلطنت وُو
چه يو کال ئے په دهلي کښے اقامت وُو
په دا کار کښے ئے ډير کړے مشقت وُو
شپږ سو دولس کاله کم سن دَهجرت وُو
چه پريښے ئے په هند په نيابت وُو
چه په خلقو ئے آواز دَ عدالت وُو
چه په هند کښے بے نظير په سخاوت وُو
چه راضي ځنے سپاه او رعيت وُو
چه هرګوره دَ غليم ځنے هيبت وُو
چه مشهور په عدالت په عبادت وُو
ورځخه چه هم صورت او هم سيرت وُو
چه په اصل کښے غلجے دَ ولايت وُو
چه په خلق او په کرم دَدهٔ شهرت وُو
چه هميش ئے مخ په عيش او په عشرت وُو
پرورش ئے دَ غلجيو په دولت وُو
چه دَدهٔ په عصر خلق فراغت وُو
چه په هند دَدهٔ دَ چارے خاتمت وُو
چه دَ پلار په زندګئی ئے سلطنت وُو
چه ينولے ئے له ورور ه مملکت وُو
چه دے هم دَ فيروزشاه له ذُريت وُو
چه په تخت ئے يوه نيمه مياشت مهلت وُو
چه په دهٔ دَ ښو خوانانو ډير قيمت وُو
خضرخان ته ئے ورکړے سلطنت وُو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا سلطان مبارک شاه دَ خضر خان ځو    چه ښکاره ئے له جبینه سیادت ځو
بیا سلطان محمد شاه دَ دهٔ ورارهٔ ځو    چه پښتون دَ دهٔ په عهد په عزت ځو
بیا سلطان علاوالدین ځو دَ دهٔ ځویه    چه اکثرئے دَ نساء سره صحبت ځو
بیا بهلول لودین بادشاه شو دَ دهلی    چه په تخت ئے نههٔ ویشت کاله سکونت ځو
بیا له پسه دَ بهلول ځوئے سکندر ځو    چه عمل ئے موافق په شریعت ځو
بیا له پسه ابراهیم ځو د دهٔ ځویه    چه بابر سره ئے جنګ په پانی پت ځو
بیا له پسه دَ دهلی بادشاه بابر شو    چه ئے کار دَ پښتانهٔ په برکت ځو
بیا له پسه دَ بابر ځوئے همایون ځو    چه بے حده ئے لښکر ډیرئے دولت ځو
بیا له پسه شاه عالم دَ حسن سور ځو    چه همایون دَ دهٔ دَ لاسه هزیمت ځو
بیا له پسه اسلام شاه دَ شاه عالم ځو    چه له پلاره نه هم زیات دَ دهٔ جراٌت ځو
بیا له پسه عادل شاه دَ دهٔ تربور ځو    چه پښتون دَ دهٔ په دور فضیحت ځو
بیا له پسه دَ همایون ځویه اکبر شو    چه وهرلوری ته مل دَ دهٔ نصرت ځو
بیا له پسه جهانګیر دَ اکبر ځویه    چه دَ دهٔ په دور هند لکه جنت ځو
اوس بادشاه شاهِ جهان دَ جهانګیر دے    چه په بلخ په بدخشان دَ دهٔ نوبت ځو
زهٔ خوشحال چه دا شمار کړم شاعرنهٔ یم    په دا کار م آزمیلے طبیعت ځو
کهٔ م شعر شاعری خړکندولے    ما به کړے ډیر دَ خیل بادشاه صفت ځو
چه دَ هند سیر م وکړ اوس م ووے    کښړه دا تاریخ لا رغهٔ ځما په نیت ځو
کهٔ دَ دے ویلو کال غواړے له ما نه    په حساب کښے وا وره کال دَ قرشت ځو

ابتدا دَ دے بیان په نماز پښین وه
دَ ما ښام په وخت ئے شوے نهایت ځو

# لنډئ بازنامه

کهٔ هوس دَ باز دَ ښکار لرے پسره    خبر دار ئے شه له عیبه له هنره
ځود باز وزرنری مهین باریک دی    درونده په وزن هومره چارئے ده بهتره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



. رنګ ترکیب وته ئے مهٔ غروه سترګے
دَ هر باز چه سترګے سرے وی ژبه توره
څو ډیر اوږد غاړه اوږده اوږدے هم پلنے
ترسپین باز نه قدر ډیر دَخشین باز دَے
سپینه ژبه په شاتور اوږدے بار یکے
دَ میزان نیولے بنهٔ دے یا دَ قوس
خپله مینه ئے په دام په جال بندی کا
میزانی نیولے دم درحال ښکار ه کړه
په درست ژمی ئے ساته په تاوده ځائے کښے
دَ بازونو هُنر هسے آسان نهٔ دے
نوے باز چه اول ښهٔ په چرګ تیار شی
چه یو څو باؤلی وخوری ستا له لاسه
چه پکه پکه ئے سیر کړه څلویښت لاسه
نوے باز دِ دَصبا په وخت الوزی
خوئ خصلت دَ ښودَ بد وخهٔ پکښے دے
هر یو باز کوښے خپل خوئ لری خپل فعل
چوز هالهٔ صاف کړے بویه چه فربه وی
دَ صافئ داوهٔ حبه نبات دی
کهٔ سره نبات دِ ورکړ عیب نشته
چه دَ باز په هر علت زحمت خبر شی
باز چه ترګوُیز وباسی میرشکار دے
باز چه دوزی له کریزه هالهٔ پوخ شی
دَ چا باز دِ په دارو آموخته نهٔ شی
سیه چشم لره ډیره پهره بویه
لږ خوراک دَ باز صحت ډیرئے زحمت دے

چه څهٔ لونے وی هغه باز نیسه په غوره
هغه نهٔ وی بے مړانے بے سیره
دَ ترکیب وینائے دا ده مختصره
چه دَ پاسه شائے شنه سینه اَحمره
څوږند لم لکیور ګران دے په ګا څره
په عقرب نیولے نهٔ وی بے ضرره
کهٔ دَ باز په ځان بلا شوله کوتره
دَ عقرب نیولے پرانزه په ویره
تماغه ئے په بهار واخله له سره
چه ئے طمع سرے کاله یوهٔ هره
بیا باولی ورلره بویه هنر وره
بیائے ښکار ورله روان کړه برادره
نور به ښکار ته غاړه کښیږدی برابره
یا چه پاتو شی پنځه ګړئ له نمره
هم ګی دَ باز ښکار یږی له بصره
خبردار ئے شه له اصله له جوهره
دَ صافئ تکلیف واخله له لاغره
تریوهٔ دِ مالګه نهٔ وی افزون تَره
دا هالهٔ کهٔ ئے پیدا کړه لره بره
میرشکاری دَ هغه کس ده معتبره
کنه واړه دَ دهٔ چار ګنړه اَبتره
په چوزئ کښے اومه خښته ده نیمتره
دست کشی ورنړه بس ده هُنر وره
کلال چشم لره بس ده دوه دوه پهره
یک خوره طعمه ئے نهٔ ده بے خطره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارچینی دَ پرمهرے سره لا نرم دی ‌‌‌‌‌‌ دَ سپیړ مو نسوارے یو سی رنځ له سره
دَ ساړهٔ داروے مښک او مومیائی دی ‌‌‌‌‌‌ هم دیړے ترینجے باز ساتی بے ضره
کهٔ دارو دَ خوشخوئی خوری په ژمی ‌‌‌‌‌‌ دَ بد باز به بدخوئی ووځی له سره
دَ اغیږ داروے دا دی نورځهٔ نهٔ دی ‌‌‌‌‌‌ چه یو دوه ورځے ئے منع کړے له خوره
کهٔ تازه طمع ئے رد کړه په داخهٔ شی ‌‌‌‌‌‌ چه دَ کیږے طعمه وجار باسی ویره
په ساړهٔ ژمی دَ باد دپاسه ورکړه ‌‌‌‌‌‌ دَ کوکری طعمه درے ورځے مکرره
دَ حلوان غوښے دِ خوری دَ وړے چرگے ‌‌‌‌‌‌ دَ تارو تمځری یا دَ کور کوتره
چه دَ زرکے غوښه تل خوری کړیز نهٔ کا ‌‌‌‌‌‌ مرغاوئ ده وکړیز وته بهتره
په ساړهٔ دِ چکس نغښتے په نمد وی ‌‌‌‌‌‌ چه فارغ وی دَ ساړهٔ له هره شره
باز چه موړ په چکس واچوے له ورایه ‌‌‌‌‌‌ په دا کار به یا تو نهٔ شی بے ضرره
ډک تغار دَ اوبو تل کیږ ده و باز ته ‌‌‌‌‌‌ په ساړهٔ غارمهٔ داچار کړه مقرره
دَ مڅکوری غوښے ښے دی په کړیز کښے ‌‌‌‌‌‌ یا هالهٔ چه باز با ښه شی کلنجره
چه په شپه په ورځ فریاد په هر ساعت کا ‌‌‌‌‌‌ دَ هغهٔ علاج خربښت دے له لاغره
هغه باز به دَ باښے نه لا تیز پر وی ‌‌‌‌‌‌ چه مهین دَ نکئ بال نری شهپره
هغه باز چه ساړی نهٔ نیسی ناقص دے ‌‌‌‌‌‌ کهٔ هیلئ یا سرخاب نیسی بے مره
کهٔ دَ ژمی په وخت ښے نیسی بتهیرے ‌‌‌‌‌‌ تر باښے نه هغه باز ګنړه تیز پره
تری ناک بُزم تولک ترځُوز کم نهٔ دی ‌‌‌‌‌‌ په وهنه ترچوز لا دی افزون تره
دَ شاهین په ښکار به کاندی هغه ښه ‌‌‌‌‌‌ چه ساتی په هر شاهین پنځه نفره
دَ مرغونو زمرے چرغ دے کهٔ ئے ګورے ‌‌‌‌‌‌ خو میر ښکار ورلره ښهٔ بویه پسره

کهٔ دَ باز مینه په ښه جُره ماتیږی
ولے ښه باښه ترے لا ګنړه بهتره

## پاکه ربه تاته سوال دے

خدایه تهٔ خما پرده مهٔ کړه پاره ‌‌‌‌‌‌ بد بم مهٔ کړه وعالم وته ښکاره
هغه لار چه دَ نیکئ دَ نیکنا مئ ده ‌‌‌‌‌‌ په هغه لاره م بیا یه هموارره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ دین دَ دُنیا نښے چارے پکښے دی
په دُنیا کښے مِ همیش لره زړهٔ جمع
نفس شیطان دواړه قرین دی په شماره کښے
مالره په مُلهمه په لوّامه کښے
کهٔ هر خو مِ لوئے گناه له لاسه وشی
په توبه کښے هسے رنګه ثبات راکړه
کبیره راته ګنده غوښے دَ خوک کړه
ذمیمه مِ دا ر په دار له دِله واخله
دَ بد بخته ستاره مِ امان اوکړه
توان توفیق دَ عبادت دَ طاعت راکړه
په حساب کتاب مِ رنګ دَ خلاصی نشته
چه اروا مِ له قالبه نه جدا شی
چه کراماً کاتبین راځخه خوښ شی
مخ مِ سور لره همیش په استغنا کښے
تر ایمان چه مِ چا پیر دَ یقین کوټ کے
په دُنیا کښے مِ عزیز لره تر تلو
وخت آخر شو غافل مهٔ اوسه خوشحاله

همیشه مِ په هغه چارو کماره
پریشانی دِ ځنے اوسی کناره
رابنکاره لره دَ دواړو مکاره
تهٔ مِ وژغوره له نفس اَماره
په توبه سره ئے تهٔ کړه آواره
چه توبه مِ ماته نهٔ شی دوباره
صغیره کړه راته غوښے دَ فاره
چه په زړهٔ کښے ضمیمه کے خونخواره
راسره لره نیک بخته ستاره
زهٔ خاکی بنده عاجز یم بے چاره
ما یک لخته خپل کرم ته وسپاره
نور مِ بیایه دَ جنت په ننداره
هسے رنګ مِ کورستان نه وسپاره
په طمع مِ ذیره مهٔ کړه رخساره
سلامت ئے وساته برج وباره
آل اولاد مِ پیدا مهٔ کړه هیڅ کاره
یو څو ورځے شپے باقی دی په شماره

## په دُنیا پورے زړهٔ مهٔ تړه

عاقلان چه په دُنیا نهٔ کا وتنه
په دُنیا وتنه دانهٔ ده هوښیاره
دَ دُنیا مالونه واړه سره آسپه
دَ سلیمانؑ غونډِ ئے پاسه په سر کښیږده
زیست روزګار دَ چار یارانو غونډِ وکړه
ابا بکرؓ ځخه هیڅ نهٔ وُو بادشاه وُو

دَ یقین په سترګو وینی تړ وتنه
چه دَ هیڅ په دُنیا مال نهٔ دی وتنه
دَ دُنیا په مال دَ زړهٔ نهٔ وی تړنه
نهٔ قارون غونډِ ئے ږده دَ زړهٔ دننه
په روزګار دَ هر یوهٔ وکړه پوښتنه
کهٔ عمرؓ دَ خزانو وُو په ساتنه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ عثمانؓ تونګری غنا ځائی وه — دَ علیؓ په خرځیده واړه ګټنه
ډیر اصحابؓ دَ پیغمبرؐ غنی مالدار ؤو — امّا هیڅ ئې په دُنیا نهٔ وه وتنه
مؤمنان دِ پیروی کا دَ اصحابوؓ — دَ اصحابو وه دَ شرعے په لار تلنه
په هر کار کښې چه بې شرعے سړے پل ږدی — هغه پل به ئې سر یږی په بوښتنه
شریعت وائی چه ښځه خوره ښځهٔ اغونده — په حلال او په حرام کوه پوښتنه
چه دَ چا په باغ کښې کړ شے فهم او کړه — ناړوا نظرئې مهٔ وکړه په ونه
ښځې محبوبې لو بوه په پالنګ خوب کړه — ناړوا مهٔ کړه دَ سترګو اړونه
کهٔ دَ تخت دپاسه کښینې مُبارک شه — خو ثابت په شریعت او سه مئینه
سل خونونه په فتوی په روایت کړه — خو له شرعے نه بیرون مهٔ شړمومنه
دَ باغوان په اذن تولے ونے ستا دی — چه ړوانهٔ وی نظر مکړه په وُنه
کهٔ دِ چیرے ناړوا له لاسه وشی — په توبه وکړه وحق ته جاړوتنه
څوک به هسې پاک معصوم لکه فرښته شی — دَ سړی جامهٔ که سپینهٔ که ریمنه
دَ توبې صابون به هیڅ باندِ برے نړدی — کهٔ دَ ځان جامه دِ هرڅو وی خیرنه
په هر کار کښې هسې کار کړه ځکې ځکې — چه څوک نهٔ وائی وتاته دروغژنه
دَ سړی خو اعتقاد او ترس دَ خدائےؐ دے — یا چه هرزمانِ دَ مرګ کا یادَوُنه
چه دا درے توکی لری اتکل م نهٔ شی — چه به خدائےؐ رسولؐ راضیؓ وی لږدهٔ نه
دانایان به غافل نهٔ اوسی له مرګه — دَ مرګ دَ فوځ ناخا په دهٔ وهنه
مرګ به تا پسے دائِم هسے طلب کا — لکه څوک دَ ورک کالی کاندی مرستنه
کهٔ دَ اوسپنو په کوټ کښې ځان خوندی کړے — عزرائیلؑ به دِ خبر واخلی دښنه
ژیات وکم به دِ یو دم دَ ژوندون نهٔ وی — هغه دم چه دِ پوره شی دَ مرګ ژمنه
بار تړه تکل په تلو کوه خوشحاله — همرهانو دِ غوغا وکړه په لښنه
لرے ملک وته سفر دے فکر وکړه — بیا په بیارته دَ چا مهٔ ګنړه راتلنه

چه سفر بے توښے کا ارمان به یوسی
ګورستان لره له دے ځایه ده ورنه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل یار ته

یارم ذوق د تماشې کا له اغیاره
د خاطر طمع مې هسې رنګه نه وه
چه یک لخته مې وباسي له خاطره
مګر خون څما په شرع کښې روا شو
زه حیران ووم په دا کار نه پوهېږم
هودا یو ګناه لرم زه ګناهګار یم
که دا ستا مینه ګناه زه ګناهګار یم
ګنړه بل ګناه زه نه وینم په ځان کښې
زه سنګار د صورت وکړم په امید شم
ته پېره په ما ونکړې دلماندہ شم
لکه بند بلبله تا ذخوړم په قفس کښې
په وګړی څما ستا مینه ښکاره ده
دا چه اوس په ما جفا جور همیش کړې
د وګړی د بېغوره به مې خلاص کړې
که ته وګورې دا شرط د مینې نه دی
د لیلی او د مجنون مینه په یاد کړه
چه فصاد ئې په لیلی نشتر ګذار کړ
په معنی کښې سره دوه تنه یو تن کا
معشوقې مې وعاشق وته وېل کړه

زه فریاد ناری وهم چه یاره یاره
چه به هسې رنګه ظلم کا یکباره
فراغت به شي څما د زړه له زاره
چه جلاد مې وېرد نه کا له آزاره
چه ګناه مې ثابت نه زه ګناهګاره
چه په تا باندې خاوند کړم مینه داره
که دا ستا مینه بدکاره زه بدکاره
نور ستم را باندې مه کړه ستمګاره
چه به ته په ما پېره راوړې دلداره
و شرمېږم د همه خپله سنګاره
چه جدا یم ستا د وصل له بهاره
چه مئین دې په فلانئ فلانه بې شماره
تر وګړی پورې زه یم شرمساره
که له خپله وصله ما کړې دلقراره
چه په مینه کښې ته روغ ئې زه بیماره
مګر نه ده دا خبره درې اظهاره
د مجنون د رګه تله د وینو داره
محبت هسې اثر لري اې یاره
دا د دوئ له حاله وشول خوګفتاره

ما خوشحال خټه دا اشعار ویلې نه دي
یوا سرار مې هویدا کړ له آشعاره

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نصیحت

مخ دَ مغو تور شه چه ئے مینې نفسانی دی
یوه مینه باقی ده نورې کل مینې فانی دی

نَس یو کوته سپي دې نورخهٔ نهٔ کاندی خوغواړی
هرچه ورکوی کا مغه خیر په سګبانی دی

مهٔ کړه دَ نس نغوته دَ هوی په لوری مهٔ ځه
واړه دَ نس چارې شیطانی نه رحمانی دی

زړهٔ په چا بنهٔ مهٔ کړه کهٔ دِ ځویه کهٔ دِ رونړه
ملهٔ دَ تنګیي نشته هیڅوک واړه ځان ځانی دی

رنګ دَ دُنیا وړک شه څو ډیر جمع کړے مالونه
هومره ډیر پریشان شے جمع نهٔ دی پریشانی دی

غم دَ مغو نشته چه هیڅ نهٔ لری په کور کښې
غم کاندی مغه چه دَ دُنیا په ودانی دی

مانهٔ دی ویلی له کتابه دی ختلی
غوږ دِ باسی خلق داخبرے حقانی دی

کر دَ بدو مهٔ کړه بدکاران دَ بدو کر کا
هرچه نیکوکار دی دَ نیکئ په دهقانی دی

هرچه نیکی وکا بیا بدی ورباندِ کاندی
کور دَ عمل روغ کا بیائے خیر په ویرانی دی

نشته هسې زړونه چه اخلاص لری په زړهٔ کښې
وخت دَ آخر راغے آشنائی زبانی دی

نهٔ په چا کمیږی نهٔ ئے کار دَ زیاتید و شته
نورے بهٔ ئے نهٔ کا هرچه بخرے آسمانی دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ عبادت [illegible] گور په [illegible] دی

هرچه ډیر [illegible] په [illegible] دی

درست تحصیل تمام کړه په داکله دانشمند ئے

حرف ورلره بس دے چه عالم رباني دی

گانده به په گور کښے وے [illegible]

نن دِ سر ترپایه کهٔ جامے [illegible] دی

ما قرآن منلے چه نازل دے له آسمانه

نوره ته بخښلے چه خبرے یُوناني دی

وخورے خملے پاڅے نهٔ دِ فکر [illegible]

ته ُخهٔ سړے نهٔ ئے داخوبونه [illegible] دی

مهٔ اوسه بے ذکره همیشه اوسه په فکر

ذکر و فکر واړه دَ زړهٔ کار دے روحاني دی

راعلم په دا عمرچه م سپین دَ سر [illegible]

لام دَ زړهٔ توری هغه هسے شیطاني دی

ډیر همزولی لاړل تورے خاورے شول په گور کښے

لاړل کاروانونه یوځو پاتے کاروانی دی

ډیرشاهان خانان چه دعوے ئے دَجهان کړے

راشه کهٔ ئے گورے اوس په گور کښے زنداني دی

روغ کړه محلونه پکښے کښینوه بنے جونه

مرګ به دِ ترے بیل کا نهٔ چه داجاوداني دی

بروت به ئے په خاوره و ترسر لاندِ اُومهٔ خښته

اوس کهٔ دِ سرو برو دی نهالئ کاشاني دی

ډیرخلق نایوه دی چه ئے ډار نهٔ شی له مرګه

خاندی هوسیږی په خوځوښ په ناداني دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر مبنود ئے وکړ دَ دُنیا په ودانئ
تش لاسونه لاړل نور ئے نا ست په ودانی دی

دا فکر ومهٔ کړه چه زهٔ ځوان یم مرګ م نشته
ډیر تنکی ځلمی وګور ته تللی په ځوانی دی
مرګ لکه یو باز دے په هوا وهی کوتره
فهم فکر وکړه چه دِ بلبنی طولانی دی
چا وته ویل کړم ترجمان نشته په مینځ کښے
زهٔ سمرقندے یم یاران واړه ملتانی دی
امر کړه خوشحاله پستنه اوسه له نهی
هرچه نهی کاندی هغه زر په پښیمانی دی

POHA

## خورے ورے مرغلرے

چه په وختئے دَ بهار عشرت پرے دے — بادشاهی ئے مبارک شه لکه کے دے
په دا باغ کښے ډیر ګلونه شګفته شی — دَ لاله غونډِ دَ چا په زړهٔ کښے کے دے
چه په کور کښے ئے جا رووزی یو خو کښبلی — دَ هغهٔ په اتګنړ هر کله سپرلے دے
مجنون غاړ په عشق کښے وکړه زهٔ خاموش یم — کهٔ انصاف وی تر مجنون م لا تیرے دے
هغه هوړ هغه دماغ را پاتے نهٔ شو — کهٔ زړهٔ سوے را باندِ کړے ځانئے د زړهٔ سوے دے
خط دے ستا په مخ کهٔ پښے په مبنک کړے — دَ چینے دَ ګل په پانړے ولاړ میږے دے
په یوسفؑ باندِ دا هومره غوغا نهٔ وه — خریدار ئے په لکونو، یو ځلمے دے
خدایه تهٔ چه بنا نُسته له دُنیا بیائے — مګر ستا هورے دَ حورو ځهٔ کمے دے
دم، دُعا، توری، تعویذ، ستانے، رویونه — چه په هینځ کښے موندهٔ نشی هسے شے دے
دا خپل ځان م چه پیشکش کړو خپل یار ته — وسلیمان ته دَ میږی په لاس ملخے دے
همیشه دَ هغه سنګ چه باندِ وشی — تش نظرئے په معنیٰ وهمائے پے دے
سپینه خولهٔ ئے وما راکړه وم موړ شوم — وے ئے خواره وږیه دا خو نیمګړے دے

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا رم هسې رنګه ځائې وکړهٔ په سترګو
کهٔ هرڅو شیرین آشنا وی چه جدا شی
حسن، ناز، مهرنیاز، فتنې، جنګونه
شکر دا چه نهٔ م یو سر کړ نهٔ بل سر
کهٔ فرښتې دی کهٔ پیری دی غم ئې نشته
دَ غافل په سپینه ږیره غلط مهٔ شه
ماچه ستا دَ مرېئې والی لافه وکړه
دا لوئې زالره بس ده په عالم کښې
دَ هغهٔ یاری په نهٔ یاری شمارلې
یا دا درست خلق هوښیار زهٔ لیونے یم
واړه مینه ده پوهیږم چه ئې زیر کړم
کهٔ هرڅو ئې پوهوم پرے نهٔ پوهیږی
یوه ورځ به نوبهار راشی بلبلې
چه چادم وهلے نهٔ شو وهغهٔ ته
زملنے دَ خلقو حال راته څرګند کړ
کهٔ جزا سزا ورنهٔ کړے په ځان خاندے
خوچه والوزی له ځلے منګل سرے کا
مزری توب بویه دَ توره په میدان کښې
کهٔ دَ جنګ په کار کښې ډیر دی حکمتونه
هغه سرچه زیب ورکړے وافسر ځو
ځان دَ ست دپاره سیزی هندوکئ
په طلبئې سرګشته په کلیو ګرځم
چه ګندئې جنبې وشوے غم پیدا شو
جال مرغونو لره پټ په وښو ښیئ
بند په بندئې نظر کړه خوندئې آخله

چه وهرلوری ته ګورم واړه دے دے
په مجانئې نورځهٔ هیڅ نشته یو هے دے
په دا څونوکه دِ کوم سرے مخے دے
کهٔ په دوو سترګوم پښې یار تلے دے
چه ئې غم لره پیدا کړ دا سړے دے
دَ هلک غونډ ئې لا په خوله کښېنے دے
دَ اورنګ غونډ بادشاه هما مرغئې دے
کهٔ دِ ووے چه حیران عاشق مسے دے
چه ئې نن له تا خندا کانده مانړے دے
یا یو زهٔ هوښیار دا خلق لیونے دے
عام عالم راته ویل دا ستا زیړے دے
زیست روز کار ورسره مهٔ شه خاروے دے
هومره ډیره اندوه مهٔ کوه کهٔ دے دے
راشه ګوره چه دَ چا باندِ غورځے دے
په یوهٔ زمان دِ خپل په بل پردے دے
چه له را په دَ بل رالئې کا کهٔ دِ خوے دے
په وهلو آموخته دَ باغ مرغ دے
په خالی میدان هریو ګیدړ مزرے دے
چه دَ سرصرفه ونهٔ کړی نور برے دے
اوس ئې ګوره چه دَ کوم پالیز کودے دے
چه ئې هومره همت نهٔ وی نورسوړے دے
کهٔ ئې خدائے زالره راکا یو کالے دے
هغه ځائې دَ اور لمبے شی چه لوګے دے
په سوګندئې باورمهٔ کړه تنولے دے
دَ دانا دَ خولې کلام لکه ګینے دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاص وعام دِطمع کابخره به مومی لوئ وادهٔ لویه خوره لوئے ئے خونے دے
نهٔ یم هیڅ کله خالی له یوے میینے
ما خوشحال چه پیژندلے کینږا وبنے دے

# دَکوک شاستریو باب

ترُوختهٔ ترپریوتهٔ څو بنځے پیدا کیږی
خودی په جهان واړه څلور ذاته حسابیږی
گل فامے، نیک فرجامے، دَدودامے، فیل اندامے
هم دادی چه م ووے پرے دِ هرڅوک وپوهیږی

گل فامے دی هغه چه نیلوفرغوندِ ئے تن وی
له تنه ئے بنهٔ بوئ دروهی بوراباندِ څرخیږی
بنے غتے تورے سترگے لوئے بانړهٔ نرئ ئے وروځے
کهٔ پان خوری کهٔ شراب خوری ترمرئ ئے بنکاره کیږی

غنچه غوندِ ئے خولهٔ تنگه سرئے گرد نرئ پوزه
بارخونے لکه گل دَچنبے سپین نازک ځلیږی
پلن وچولے، سرے شونړے، هلک چاه ئے په زنخ کښے
واړهٔ هموار غا ښونه په خندا کښے سپین بریښیږی

بنے سپینے دَ کے لیچے گرد وږغوی اوږدے گوتے
هرڅائے ته چه ئے گورے هیڅ لقب پرے نهٔ جوړیږی
دَ تیو سرئے تورتی ئے هلک سینه کشاده
په قد سمه ثابته سم الف شی چه ودریږی

دَ سرویښتهٔ ئے تور نرئ اوږدٔ دلول ئے زلفے
په ځان لکه باغکه چه ویښتهٔ پرے نهٔ نمائیږی

Poha Foundation
A.S.KB

د سپوږمۍ وینښته ئې هم نرۍ په نښت شمارلې
ورنونه کوناتي ئې بنهٔ لیدل شي چه خوزیږي

ډېر خوب لږ ئې خوراک کیږه ئې ناسته ملانرۍ
آلت پکښې نامهٔ څخه په ګوته څرګندیږي

لږ قهره عقلمنده کم دخوله مهربانه
ساده لږ خندا خو هم په شونډو کښې موسیږي

ګل فامه خوږ ووے، نیک فرجامه درته ستا یم
په حسن په بنائست کښې و ګلفاموته رسیږي

دا دوه دوه توکه ئې نهٔ وي چه بوړا باندې خرخیږي
یا پان خوري یا شراب خوري ترمرئې ئې ظاهریږي

وینښته ئې په وجود باندې هم لږ و ډېر لیدل شي
نهٔ ځکه وي نهٔ بدرنګه په وجود ئې بنهٔ جوړیږي

خوراک په اندازه خوري خوشبوئي ئې لګېډان وي
لږ خوب کا ډېره لاهړي تل په سحر سحر ویښیږي

مئینه په هوس وي خنده رویه شیوه ناکه
په لوبو په سندرو په سرود ئې زړهٔ خوښیږي

نهٔ غم نهٔ دلګیري کا همیشه تروتازه وي
په خپلو سهیلیو مینه کا باندې خوږیږي

د خپل میړهٔ په بد په بنهٔ په هرچاره نازیږي
کهٔ بل سړے سرهٔ زر وي ورته خاورې څرګندیږي

په نیت جوړه په پټ جوړے ظاهر باطن یو رنګه
د یار د پټ دپاره د کباب غونډې وریتیږي

رښتیا خبره هم په ډېر ضرور په ډېر ناکام کا
دروغ خوئې هرګز په خولهٔ په ژبه نهٔ جوړیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خولهٔ پاکه په زړهٔ پاکه بې ويرې بې وسواسه
په غولي په جرس ئې هيڅ ناپاکه نهٔ تيريږي

له ځانه ئې خوږ بوئي دَ کبينهٔ غوندِ خوږ دروُمي
دخول وته ئې زړهٔ دَخپل ميرهٔ په رضا کيږي

تعريف دَ ددو داموِ درته وکړم راته غوږ کړه
په زړهٔ کُلپه ناغسه په خبره نهٔ شرميږي

بدګويه بد زبانه ډيروي لړه خبره
ځان تود بوئې ئې له ځانه دَ ليوهٔ غوندِ بهيږي

ميُنه په چيچل وي په سکونډل وي په داړل وي
له تاوه ئې هم هرکله خښتګ مښتګ لمديږي

ويښتهٔ ئې دَ سوځږهٔ دَ تن هم ځږهٔ ګرلند بدونګي
يکدِله ګيډَ وړه په خوړلو نهٔ مړيږي

ميوه لونګ جائفل لاچي په دائې غرض نهٔ وي
تروهٔ ترخهٔ سوندِ مونږ بلا بترنه ئې زړهٔ کيږي

چه تاوُ خاربنت درپاڅي ناقراره شي شوريږي
کهٔ لوئې وي کهٔ هلک وي وهرچا وته قهريږي

نهٔ پت ګوري نهٔ شرم نه ئې حق وته نظر وي
دَخپل ميرهٔ په غيږ کښې زړهٔ ئې نوروته پړقيږي

دَ کلي دَ محلت ناپاکې ښځې ورته ناستې
دَ بدو بدکارو نو قصې وائي مشغوليږي

چه خپل ميرهٔ ئې بولي ورته ځان کالکه حيزه
بل ځائې چه بدکاري کا په شل ځله نهٔ سړيږي

زيارت ميارت بانه کا دَ رنځور منځور پوښتنه
چه لاړه په هرلور شي دَهرچا سره خواريږي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس ښوي باسه وماته مخ نه تور دَ ددو دا سو
بيان دَ فيل اندامو هم ضرور دے بيانيږي

کته مخ بدکولکونه وروځے پلنے وړے سترګے
لوئے سر ويښته ئے ځږه تيره سرونه سوځليږي

درست خان کته، لاس پښے کته، کتے دَ لاسوګوتے
بدشونډے دا هم ورے چه سپے ځنے ويريږي

يو دروند آواز هم دروند په زړه هم سخته ناشولته
کم مِهره قهرش نه چه بل خاندي دا غښيږي

هاتي غوندِ خوراک کا دَ هاتي غوندِ ترے بوئ خي
په عشق په محبت په مهر مينه نهٔ پوهيږي

خوارهٔ ماړهٔ چه وخوري اروړمي په وازه خولهٔ کا
لاس پښے په بيا رته بيا رته هر ځائے پريوري وغزيږي

دَ چين او دَ ماچين په ملک کښے ډيرے دي ګل فامے
دَ هند په لته هم خال خال په چرته څرګنديږي

کشمير فرخار کا بل قندهار خو چه خراسان دے
په دا کښے نيک فرجامے ډيرے ډيرے موندلے کيږي

هيڅ ملک کشور اقليم له نيک فرجامو خالي نهٔ دے
په هر لوري نوبت دَ ور دَ دوئ دے چه ږغيږي

آسمان چه ورځ او شپه قرارے نهٔ کا هسے ګرځي
ترسره دَ نيک فرجامو زهٔ خوشحال وايم ځاريږي

## دَ بهار منظرونه

چه موسم مِ دَ ګلونو دَ ګلزار شي — نرم نرم ترشح په مرغزار شي
دَ هغهٔ له بخته خوک برابري کا — چه په هسے وخت ئے سير په ګلزار شي

POHA
پوهنه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ځما طالع له ما سره مدد کا
چه م ناسته دَ صورت په هسې ځائې ده
په دا ځائې چه دَ ابدالو نظر وشو
په چمن کښې ئې اوبۀ درومې روانې
په دا هسې پاکیزه اوبو سلسالو
دَ سړی سترګې روښانې زړۀ خوشحال کا
• چه له پاسه نه اوبۀ راځي په کښته
هغه ځائې چه دَ مرمرو فوارې دی
تۀ به وائې دَ آسمان تناغو زار شوه
چه په سرئې دَ حوضونو څوک ګذر کا
مرغاوي په حوضونو کښې غوټې کی
تۀ به وائې دَ نمرود دَ اور لمبې دی
سه برګه ئې عجائب سره وودلی
په اطراف دَ هر چمن شګفته شوی
په دا باغ کښې دَ ګلو کمې نشته
کۀ سل برګ کۀ بنفشه کۀ ارغوان دې
دَ هغۀ صانع تر صنعه صدقه شم
واړه وني ئې آسمان سره سیالی کا
په هزار رنګه نوا شی دَ مرغونو
دَ مرغونو دِ نوا له موجه شوری
عمارت ئې ګچ وهلے پکښې کړے
دوه سو تیر سو رهروان ګما پکښې طرح
لطافت ئې دَ هوا ترحده تیر دے
کۀ زاړۀ په دۀ کښې کښیناستے ځلمي شوے
• دا مکان به دَ بهشت سره داخل کا

بخت دِ هر کله دا هسې مددګار شی
چه ثنائې په لته دَ هندوبار شی
عاقبت به په همه جهان اوښار شی
په سبزه باندِ نارې دَ جوئبار شی
شماتت ئې دَ کشمیر په شاله مار شی
چه اوبۀ دَ فوارو سره تارتار شی
وائې سپینې مرغلرې دی نثار شی
ترغه ځائې دِ دارم تماشه ګار شی
چه اوبۀ ئې رارواني دَ آبشار شی
وائې پاس په آئینو باندِ رفتار شی
دَ لعل په مخکښې ناست دَ بازو ښکار شی
سرۀ لاله چه په چمن کښې انتشار شی
فرق ئې لا دَ یراقونو تر کنار شی
دَ زنبقو، دَ سوسنو هم دیدار شی
دَ همه واړو دَ چا په ژبه شمار شی
دَ هر ګل په نندارۀ خاطر قرار شی
چه ئې هسې دَ قدرت په لاس نګار شی
ولے فرق پکښې دَ ولې دَ چنار شی
هغه دم چه په چنار وکښې چغار شی
نۀ له بادۀ شوریدۀ نۀ دَ اشجار شی
په هر کور کښې دَ جویونو شرهار شی
دَ سپین والی ئې تیرے په سپین چوتار شی
پکښې روغ به دَ اتیا کالو بیمار شی
په هوائې ځما هسې اعتبار شی
کۀ رضوان ئې له نشاطه خبردار شی

Poha Foundation
A.S.KB

همگی صفتونے تیر دے ترحسابه
له همه وُکه وئیل کوم طومار شی
دا بنا د آصف خان له لاسه شوے
او په حکم د خورم پکښے داکار شی
زړا نهٔ پنځوس کالونه د هجرت وُو
د نوروز په دولسم چه داگفتار شی
په خوشحال وُو هم دا هومره چه ویل تُول
نور د عقل حکم نهٔ دے چه تکرار شی

# د هجران نا امیدئ کښے

معطر م دغه گل په بوئ مشام دے
چه جمال ئے د بلبل د زړه آرام دے
د گلونو حسن ښه دے بلا دا شوه
چه ئے وصل په آغاز پورے انجام دے
دا د گلو خوئ خصلت دے په چمن کښے
چه را تلهٔ ئے ډیر لا رغهٔ لږ ئے مقام دے
گله ته چه له بلبله مخ جاړ باسے
مگر ستا په خپل بنائست امید مدام دے
د بهار د سرو گلونو صفت څو کړم
ولے بے یاره هر گل د زهرو جام دے
د اجل ساعت که هر څو گران یا ډیر ی
نهٔ چه سخت د جدائئ ترهنگام دے
جدائی م به هرگز قبوله نهٔ کړه
ولے څو کړم د قضا په لاس زمام دے
چه هوس م د وصال په وخت وُ د کړے
هجر خیر په هغه هومره انتقام دے
ظاهری صورت په تن سړے لیدهٔ شي
ځان او زړهٔ م د هوږے چه دلارام دے
خوب خندا م له خاطره فراموش شهٔ
په ویشتلو باندِ خوب خندا حرام دے
هغه خاورے ترعنبرو لا تیرے کا
چه خوبا پرے قدم ایښے په حرام دے
گرفتار ئے خوځان کا ډی لا تیښگیږی
د شهئ د زلفو لا د بلا دام دے
زړهٔ م بے د عشق له کاره نهٔ خوښیږی
د دُنیا روزگار م واړه په ناکام دے
د زړهٔ درد او محبت زړهٔ لره بس دے
د آتش م یو بخرے هم تمام دے
عندلیب م په قفس کښے گریانی کا
زاغ په خهٔ په زیرو گلو کښے انعام دے
دوه منځین چه سره وویني په سترگو
هم د سترگو په کا ته کښے ئے اکرام دے
نور عالم سره په خولهٔ سلام علیک کا
د یارانو هم په زړهٔ سره سلام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے چه طمع دَ تورسترګو له یارئ کړے — دَ صحرا آهو هم کله چا ته رام دے
چه په قند د په ګلابوئے پیغور شی — یوئے ښے خوږے ښکنځل بل ئے پیغام دے
طبل خۀ لره پنهان وهی له خلقه — دَ مغوچه پریوتلے طشت تربام دے
نور چه تل ډکے پیالے تشوی ښۀ دی
په یوه پیاله خوشحال ختک بدنام دے

## دَ معشوقے په صفت کښے

تورکیسو دِ په چند نړ باندِ ښامار دی — تورے زلفے دَ سنبل دَ نوبهار دی
تورے سترګے دِ هوسئ دَ ختا شوی — چه وخروته پرتے په سنبل زار دی
تورے وروځے دِ لینده با نړۀ دِ غشی — عاشقان ئے زخمی شوی په ګذار دی
مصفا تندے دِ ښۀ دے تر بلوره — بیدلان ئے په سرونو خریدار دی
دغه خال چه دِ دَ وړوځو په پیوند دے — دَ ختا دَ ملک اصلی نافے ترے زار دی
سپینه پوزه دِ غوټئ دَ زنبق ده — چه چاپیر ترے نور ګلونه دَ ګلزار دی
ښا ګوش دِ نسترن دے غوړیدلے — دَ چنبے ترګلو بِه دواړه رُخسار دی
سپینه خولهٔ که دِ غنچے سره نسبت کړم — دَ غنچے غوټئ کله شکربار دی
دواړه سرے شونډے دِ ښے دی تر سرو لالو — سپین غاښونه بے بها درشهوار دی
ښا نُسته زنه دِ سیب دَ سمرقند ده — چه خواږۀ ئے تر نباتو نه بسیار دی
صراحی دَ سپینو زړو سپینه غاړه — سیم آسا اوږے دِ هم په دغه شمار دی
واړه تن دِ دَ حلب تر ښیښے صاف دے — چه رازونه دَ دوون ترے نمودار دی
سپینے لیچے دِ مصرئ تورے تیرے کړے — چه خونونه ئے په غاړه سل هزار دی
دَ یاقوتو نګینے دِ سرۀ نوکونه — ځائے په ځائے دِ په اوږدو ګوتو قرار دی
چه مِ ستا دَ تیو ښه ننداره وکړه — هغه کلک په لذت ډک خواږۀ انار دی
دَ نامهٔ غوټئ دِ ګل دے دَ ګلابو — کینړا و ښی دَ ګلو پاڼړے پړے انبار دی
دَ نامهٔ دِ کښته دم وهلے نهٔ شم — هم مغوزده چه خبر په دا اسرار دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه وملا وکوناتیو دِ ګمر — آویزاندے پاغوندے په نری تار دی
دَ پنډ یو ترصفت دِ نهٔ رسیږم — ولے سپینے په سپینوالی ترچوتار دی
سپینے پښے دِ دَ زنیق دګلو پانړے — دَ پښو ګوتے دِ کلئ دَ انار دی
تمام قد دِ په مثال دَ صبر ونه — ولے سم ولاړ دِ عین دَ چنار دی
سرترپایه ننداره ئے ځان دِ جوړ کړ — ترتا ځار واړه رانئ دَ هندوبار دی
ستا مثال په هندوبار کښے راښکاره شو — دَ لوبیا دانه یوه مترخوار دی
دَ تیکئ دَ ډکدکئ لعل او دُر دِ — ګوبنی ګوبنی واړه کیل ونه تیار دی

تهٔ خو ډیر مهر کوے عمر دِ ډیر شه
دَ خوشحال ختک دِ نش مهر پکار دے

# دَ روغ صورت ستائنه
# او په هند کښے دَ خپل قید حال

چه بهتر ترهر نعمت دے — کهٔ نعمت دے روغ صورت دے
چه ئے دا نعمت روزی دے — سرترپایه عنایت دے
کهٔ ئے پیژنے تهٔ قدر — روغ صورت لوئے نعمت دے
ستا دَ ګوبنی ځان یوازے — ترجهانه زیات قیمت دے
کهٔ دِ ځان نهٔ وی جهان وی — په عدم ئے اشارت دے
دا جهان لکه معنیٰ شو — ستا وجود ئے عبارت دے
چه په ځائے ئے عبارت وی — دَ معنو هومره قوت دے
دَ صورت دَ خوشحالئ — مدار واړه په صحت دے
چه صحت دَ صورت نهٔ وی — ورته خس مال ودولت دے
رنځ په کور کښے هم بلا وی — لاځهٔ نور ځهٔ په غربت دے
آس چه ړو دروږمي په لارے — بریوتهٔ ځنے آفت دے
پښه م هسے رنګ په درد شوه — چه تیریږی یو ساعت دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ سربلا په پښو شوه
دا لا خیر خیریت دے

په دا هم شکر بائده دے
یو بتر تر بل زحمت دے

ما وے تیر شو ولے پوه شوم
لا ځهٔ پاتے مصیبت دے

ما وے اوس خو مهربان شو
لا ئے ما سره شدت دے

هند په ما باندِ دوزخ شو
کهٔ په نور عالم جنت دے

بندیوان وړلره راغلم
دا یو خو میاشتے فرصت دے

هغه شان لکه بندی وُم
ترے ړم لا بتر محنت دے

هره ورځ ورتلهٔ دربار ته
گوره دا ځهٔ مشقت دے

دَ بل حکم پرے زندان شی
چه په خپل حکم عادت دے

نهٔ شیرین خواړهٔ یاران شته
نهٔ دَ چا سره صحبت دے

نهٔ خپل وړکړل را نیول شته
نهٔ خپل حکم حکومت دے

نهٔ دَ ښکار هوا هوس شته
نهٔ دَ نورو مصلحت دے

یو په بل پوښتنه نهٔ کا
هسے ښهر بدخصلت دے

په شمارهٔ یو خو سړی دی
چه ئے جوړ راسره نیت دے

یو اکبر په غم شریک وُو
هغه هم په خپل عشرت دے

کهٔ بادشاه دے کهٔ خانان دی
راښکاره ئے حال حالت دے

دَ هیچا برکت نشته
ځان ځانی شوه قیامت دے

ماچه دا قصیده ووه
په دهلی ړم اِقامت دے

خلورمه دَ رجب وه
زړ او هٔ اویا هجرت دے

نورځهٔ مهٔ وایه خوشحاله
کهٔ ځهٔ وائے قباحت دے

## لعل او دُر په تار پیئیلی

توړ ویښتهٔ ئے نهٔ دی په وړو کوځو او دلی
واړه ښاماران دی په چند نړ باندِ ختلی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړګې ورووځې نهٔ دي نهٔ مژګان نهٔ ئې زلفينې
دائې د دعوې وته فوځونه دي تړلي

سپين بارخوئې نهٔ دي نهٔ خولې پړې بريښيدلي
ګل دي دَ ګلابو دَ صبا پرخې وهلي

تنګه خولهٔ ئې نهٔ ده چه ئې نهٔ وينې په ستړګو
دُرج دې دَ ګوهرولعل ودُر پکښې ساتلي

هيڅ په مينځ کښې نشته چه ئې دم کړې يا سحر
واښه ئې دَ ستړګو په جادو ښرونه وکښلي

دوه ستړګې ئې هسې چه څوينې پرې تاراج شوې
خدائګو چه آخرله مابه لوټ کاندي کتلي

وګورهٔ وماته دَ شهسوارهٔ روش دا دې
نخښتې ته نظر کا بيا له پسه نخښه ولي

څيرچه وجمال ته کتے نهٔ شم سبب دا دې
څيرهٔ هيڅ نهٔ دي وآفتاب وته کتلي

ستا دَ دراحرام م ستا دَ مخ په نيت تړلے
نهٔ دي بې مقصوده وکعبې وته څوک تللي

تل کهٔ دودسته تندې وهې څهٔ فائده د ه
ستا دَ عشق په غم کښې عاشقان په زړهٔ نتلي

داخبره مکړه چه څماله لوريه واوښه
هرچه راته وائې نوښهٔ واړه دي منلي

څهٔ به دِ په ياد کړم څهٔ منت به په چا بار کړے
ووايه چه څوک دِ په بښکنځل هم دي نمنځلي

پند وايم وتاته ګله نهٔ کړمه دا بسهٔ کړې
ستا په سرچه لوړي هغه تا له وَر ساتلي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسره دِ نيت کهٔ دَ اخلاص او يارئ نهٔ دے
تش لباس خوشته دے تاخهٔ لړ نهٔ دی غلولی

تل کهٔ هسے مينے په اغيار کړے لکه اوس دی
تل به دِ په کور وی دَ خپل يار مغل ختلی
ماسره کهٔ تل جنګ وغوغا کوے پړ خوښ يم
مرم چه رقيبان به دِ او رَبل کاندی په کلی

مرهٔ مے دَ غمزے په تيرهٔ تيغ ځهٔ هومره نهٔ دی
يائے چه ښوک ښغ کا يائے دروغ کاندی ښوک ځلی
کوک په کوک لهٔ ژاړم ستا په کوئے کښے عيب مکړه
درد چه بے دوا شی خونارے وهی ويشتلی

خال دَ نيلو کښيږده چه په ګلو باندِ بيږ کړے
اوردی ډيرے سترګے لور په لور په يوهٔ کښلی
يو دِ ستادَ مخ غوندِ هم ښوک راته ښکاره کا
هر چرته په باغ کښے کهٔ ډير ګل دی غوړيدلی

خدائګو رهٔ به هيڅ بلا وتا وته پرے نږدم
چيرے په جهان کهٔ يودَ بل بلا اخلی
ځارئے ترهغت شم چه ئے ستا ديدن او لجه کړه
ستا په درچه ناست دی په سپيرو ايرو لړلی

سترګے دِ ګواهی په نوی خون لی دَ خوارانو
په دروغه بهانه کړے چه شراب م دی نوشلی
نهٔ زړهٔ لرم نهٔ دين لرم نهٔ صبر شته نهٔ عقل
دا ګل واړهٔ لاکله په ښهٔ مخ دی ما خندلی

خوبا چه دَ رنجو په بانه ميل وهی په سترګو
امداد کاندی دَ سترګو چه کهٔ ښے له زړونو ښبلی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبا په آئينه کښې چه خپل خان وته نظر کا
حساب غواړي له محه چه د زړه ونه کې نوښې

دَ شونډو په ارمان ئې خما ځان په شونډ وراغے
چه مرګ کا دَحيات او به چا هم دي آؤريدلی

داڅهٔ شعر نهٔ دے چه خوشحال خټک بيان کړ
واړه لعل ودُر دي دَ بيان په تار پيئيلي

## دَ مملکت اودَ معاشرے رموز

POHA

هراَحمق چه په دُنيا خاوند دَجاه شي
نور و تلے ځُنے نهٔ شي جاه ئے چاه شي

په ويل دَ مرسلانو نهٔ ګرو هيږي
دَ فرعون اودَ نمرود غوندِ ګمراه شي

دَ دُنيا دَ مال او ملک هغه لائق دے
چه سليمان غوندے خوئ شي چه بادشاه شي

خو کهٔ ډير عيب لري عيب ئے پټ شي
اَس کهٔ لږ عيب پيدا کا دَ پائيګاه شي

سپين چوتار دِ ځان ساتي له توره تکيه
دَ ماش رنګو عيب کوم دے نهٔ سياه شي

دَ عسل خواږهٔ مچئ زده نه چه مچ زده
چه عسل وته نزدے شي نور تباه شي

بدان سل بدئ کا پرواه ئے نهٔ وي
په يوه خطا نيکان په غم په آه شي

دَ نيکانو په خطا عفوه لازم ده
دَ بدانو چه ګناه بخښنے ګناه شي

پند هوښيار وته پکار دے و نادان ته
چه دَ نيکو نصيحت کړے لا بدراه شي

درست جهان ئے کهٔ نيکخواه شي سود ئے کوم دے
دَ هرچا چه خپل خصلت دَځان بدخواه شي

دَ کلاه لائق يا باز دے يا شاهين دے
په داڅهٔ کهٔ دَ کارګه په سر کلاه شي

هرجولاه په تنسته کښيني څهٔ ووئ
نه خاصه ؤو دل په هريوهٔ جولاه شي

په زرګونو پکښے کښينا ستل ترے لاړل
ګوره ځلئے به لا دَخو ؤو داخرګاه شي

دَ يوسف غوندِ په خوب بنده عزيز کا
محمدٌ وته دَ غنړے تار پناه شي

سببونه ئے په غم کښے اندوخته شته
مبتلا دِ دَ اندوه په دا آګاه شي

رنځ محنت چه په سړي باندِ ورد رومي
دا په دا چه اودهٔ نهٔ وي انتباه شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَعاقل صحبت عاقل لره راحت دے — دَجاهل سره ئے ناسته په اِکراه شی
دَهغې مزکے نه لرے لرے گرځه — په هغه مزکه چه تل زهر گیاه شی
اعتماد په رفیقانو پاتے نهٔ شو — یو دِ مال و ملک تالاکه نور گواه شی
دامستی دَخرابات په مینځ کښے نشته — دامستی لکه په مینځ دَخانقاه شی
داکوتاهے پا ینځے هاله پکار دی — که ئے لاس دَ بدو چارو نه کوتاه شی
شپه دَهرچا عیب پټ کاچه بیگاه شی — تور و سپین هالهٔ څرگند کاچه پگاه شی
دَسړی قدر قیمت په اعتبار شی — چه خوار زهٔ ورځنے لاهل گنے کاه شی

داغرغر فکر چه تهٔ لرے خوشحاله
ستا به کومه چاره سره په بیگاه شی

# دَشهادِ وصال ارمان

کهٔ په زړهٔ کښے م دَیار مهر وفا وے — که دارنگ به نصیب خواری څما وے
نهٔ چه هومره پسے ژاړم خلق خاندی — دریغه مخ څما دَیار لیدلے چا وے
چه م وینی غرځهٔ غونډِ تر هیرېږی — کهٔ په خوئ راسره لږ غونډِ آشنا وے
دَهجران شپه م یلدا شوه نهٔ تیرېږی — یا په خوب څهٔ خواوده شوے یا صبا وے
دَدورئ اندیښنے له مینځه لاړے — بیا دَیار په مخ م ذوق او تماشا وے
دَقصد منو په ویل له ما مانړے کا — ما به حال ورته عرضه کړکهٔ پخلا وے
ترنقاب ئے مخ ښکاره کړلے وماته — دین دُنیا م ورته واړهٔ رونما وے
هوښیاری دَدُنیا مال دولت دَنورو — چه ملنگ دَمصلے شوم خوهم دا وے
اے چه ولئ ښنیبنه ماته کړه پارساشه — ښهٔ ویل کړے دَ بهار په وخت پارسا وے
دَشرابو جام په لاس توبه په شونډ و — یا یک لخته لایعقل وے یا تقوی وے
داکشور له سرتر پایه کفرستان شو — یا م څلئ کړے غارے غرونه یا غزا وے
نهٔ به سپک نهٔ به بد نام نهٔ به بد بوئ و — کهٔ بورا غونډِ گو نکټ په گل شیدا وے
دَرقیب دَمرگ آواز او شو په کلی — سخ په دا ساعت کهٔ داویل رښتیا وے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږه خوله ئې دخوږو شکرو خوان ده
په دا خوان باندې زړه وېښ یک تنها وے
سونتي م به دنورو هومره نهٔ کړه
کهٔ په ما باندې نظر مهرِ دِ تا وے
دکا کلو تر نافې به ئې خجل شوه
کهٔ حاضره اوس هوسئ دختن وے
دشندی دنرګس فرق به سره نهٔ وُو
کهٔ ګلونه دچمن وا په دېدن بیا وے

همیشه دِ مخامخ ورته ښکنځل کړے
دخوشحال ختک و تا وته دُعا وے

# دَ دیرشو بیتونو بازنامه

تجربه شوه راته چار دَ بازدارۍ
سررشته ده دَ تمامے میر ښکارۍ
په سرو ورو ئې مزے لرے کړه له ستر ګو
چه ونهٔ پړکیږی باز په هوښیارۍ
په صبا بیګائې تل په غوښه بوله
هم په غوښه ئې کار کړه دَ تیارۍ
په تاوده منی اول چه په لاس راشی
هغه باز ته ورکړه خوشے بیدارۍ
چه تمام تناب په غوښه ښهٔ تیار شی
بیا دَچرګ سره ئې کار کړه دَ یارۍ
درے څلور چرګان چه وخوری نور پرے ښکار کړه
بیو لاس ئې سَیَروه په دلدارۍ
په طلب په ښکارئې هسے رنګ تیار کړه
چه ئې نهٔ وی کج خُلقئ ناهموارۍ
کهٔ څلویښت لاسه یکه یکه ښکار وخوری
هغه باز لره به ورنشی خوارۍ
په ساړهٔ ژمی کهٔ باز راشی په لاس کښے
فکر مهٔ کړه دَ هغهٔ دَ تیارۍ
تمام ژمے ئې ساتهٔ په تماغه کښے
په هنر کړه په پسرلی دَ بازدارۍ
بازکهٔ دے خانه کریز دے په ساړهٔ
کله چوز بیخی دَ ژمی دَ شوارۍ
ګرم ځائې ساته بازونه چوز په ژمی
په ساړهٔ مومی په ژمی بیمارۍ
له لوګی نه له ساړهٔ نه له غارمهٔ نه
خو په تا شی باز ساته په بے شمارۍ
هر بازدار چه بازحیران کړ دَ سزا دے
په سزائې کوتک مار وکړ ماریۍ
باز چه ښهٔ وی ښهٔ بازدار ورلره بویه
جګی جګی په بدکس ئې مهٔ سپارۍ
تغدرے دَ باز معراج دے چه پرے سیر شی
په کلنګ په قازئې هیڅ مهٔ ګزارۍ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَچوزِ بازصافی ضرر دہ صافئے مکړه
دَ انار اوبهٔ یرے خوره په نهارئ

پرمهره دَ دارچینی سره ضرور دہ
هم دِ تل کیږی دَباز طعمه دارئ

بازنه خورب نه ډنګرپه مقدار ښهٔ دے
کج خلقی واخلی دَګوشت په بسیارئ

بازچه ښکار خطا کوی ګناه ئے نهٔ وی
دا ګناه دے دَ بازدار دَ بدکارئ

ښهٔ بازدار به ښهٔ کریز و باز ته ورکا
بد بازدار لری څوړنګه بدکارئ

دارچینی زعفران چه دوئ ورباخهٔ کا
په کریز کښے دَ غواغوږ دارو شمارئ

بازچه صاف کړے په کریز کښے بیائے واخله
بے پروا مهٔ شه دَ باز دَ غمخوارئ

دستکشی طعمه داری شب بیداری دہ
دا درے توکه دی دَ باز دَ همموارئ

همیشه دِ ئے له حاله خبردار وی
چه باز ونو سره کاندی څوک یارئ

ښځه باز په یوهٔ خوئ سره پیدا دی
ځنے مهٔ غواړه هرګز وفادارئ

دَبازښکار دِ ملوک کله کله کاندی
هره ورځ ئے دے خلل دَ سرداریٔ

مخ په ښځو یا شراب یاچه په ښکار کا
دا درے توکه دی دَمرد هرزه کارئ

څهٔ خو صبرِ سقوطری دَوخته ورکړه
که خطا کا باز طعمه په بدخوارئ

دَ دومے علاج ئے تریخے دے دَ پرے
خو همدا دارو وباز وته خارئ

نه تمامه بازنامه نه دا دیرش بیته
که ئے یاد کړے دَخوشحال دَ یادګارئ

# دَ کاسیرئ په باره کښے

مخ تور دَ کاسیرئ چه دا کار دے شیطانی
خوښی دَ یوهٔ درنګ دَ همه عمر پښیمانی

کاسیر سړے هغه وی چه ئے نهٔ وی عقل پوهه
یا دے په ذات په اصل کښے پیدا وی نقصانی

شهوت بده بلا ده چه په دا بلا قادرشی
هم دا ده که ئے کوړے دَسړی پهلوانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدو همراهانو په صحبت کښې سړې خوار شي
یا غل شي یا رهزن شي یا بنګي قمار زاني

په ملک ورځنې تښتنه بد همراه دِ هغه کس دې
چه ستا تر فهم بښې کا بدې چارې نفساني

دا دوه سړي غلیم دي ذهر چا په حقیقت کښې
که فهم فکر او کړې ځکې بد تر غلهٔ زاني

چه نهٔ پسندے په خپل ځان هغه مهٔ پسندیه بل ځان
هم دا ده که ئے ګورے په صحیح مسلماني

چه بل وته نظر کا یا آواز دَ بل غوږ باسي
دَ ښځې زنا هم دا ده نور پرے کړه بدګماني

سپئ چه سپیے شي سپے خپل ځان لره پیدا کا
څهٔ سُود که بده ښځه په دیوال کړے زنداني

چه ئے مور بدکاره نهٔ وي لورئے کله ورانکاري کا
دَ مورله ځانه راوړي لُور دَ خوئے ویراني

کهٔ ګډه په بازار شي په کوڅه کوڅه جارُوزي
دَ پاکو پاکدامنو سترجوړ دے رباني

چه پاکه پاکدامنه په حیا په دین مئینه
دَ مرد په کور کښې کښیني مرد دِ کاندي کامراني

چه بے خپله حلاله ځان وبل وته برمنډ کا
دَ مرګ ده هغه ښځه نورئے څهٔ زندګاني

خو ځیزه دَ میراث دي زهٔ ئے وایم له کتابه
زحمت دَ مولیسئ، بوئ دَ تخرګ، قُلتباني

کهٔ هر خو خطاوینے بیا خو ښه پرده پوښي ده
عطا په خطا بویه سهوه کیږي اِنساني

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکانو سره زیست روزګار په مینه محبت کړه
بدانو سره زیست روزګار رهم بو یه لِسانی
چه عقل شعور راغی بده چارشوه راته بده
آفسوس په هغه چاروچه به شوے په نادانی
خوشحال که نبی نهٔ دے نصیحت خوئے خوارمکړه
اِلهام دے چه ئے وائی دا کلام په افغانی

## لاړے دی بیشماره هر دیار لره وردرومی

POHA

لاړے دی بے شماره هر دیار لره وردرومی
تلے په هغه لارے چه خپل یار لره وردرومی
خوک ئے بے زیباره په خپل بخت کا ورکناره
خوک په زړهٔ ورزلی و زیبار لره وردرومی
سل جشنه نوروزه ترهغه ساعت ځاریږه
هرچه دلداده عاشق خپل یار لره وردرومی
خورنګه نافے ئے په هرچین کښے دی دَختن یو
خلق په ناحقه چین تاتار لره وردرومی
نورعالم ئے واړه وار په وار په ځان مئین کړ
اوس په شین شین پرهیزګار لره وردرومی
زړهٔ مِ دَ دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
ګوره دا ځان خونی تورمار لره وردرومی
مرم دَخدائے دپاره په شتاب شتاب رادرومه
چرے هم طبیب رو رو بیمار لره وردرومی
ځم دَیار په لوری په هوا هوس خوبنی کړم
ذوق کاندی بلبلے چه ګلزار لره وردرومی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخ دَ هغو لاسو چه په سپين مړوند ستم کا
سخ دَ هغو غاښو چه رخسار لره ورړ دروحي

مخ ئې وربښکاره کړ دَ زاهد زهد ئې يـووړ
بيا ئې څنګ تا ؤ کړ بل ناتار لره وردرومي

سخ دَ ناپوهانو چه هيڅ غم اندوه ئې نشته
هرچه څه غمونه وي هوښيار لره وردرومي

تش لاسونه ووزي دَ بازار له نعمتونو
هرچه کيسه تشه و بازار لره ورړ دروحي

هرڅوک چه طلب کا پته نۀ ده دا خبره
هرکله مطلوب وطلبکار لره ورړ دروحي

وائي چه هردم په خوږو زړو کا پرهارونه
زخم دَ زخمک چه وهر تار لره وردرومي

نورجهان سقر شو باندِ سرائې دارالقرار دے
کله به خوشحال دارالقرار لره وردرومي

سل فکرونه وکړه تردا نشته بل بنۀ فکر
چارے واړه خدائې کا کار اختيار لره وردرومي

ويښ اوسه خوشحاله ماليدلي دي پير غلونه
کور دَ اودو ړونږ کا بيا بيدار لره وردرومي

## ليونے خو يو خوشحال دے

نشته هيڅ يو تش جنجال دے په دا مينځ کښے
چه په مکر دَ ويښته د پا سه دردمي
دَ يزيد دَ شمر نه نه دَ حجاج دي

خالي بحث او قيل و قال دے په دا مينځ کښے
شل په دوا ړو پښو يو زال دے په دا مينځ کښے
دور دور دَ دجال دے په دا مينځ کښے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ شراب شته نهٔ ګلاب شته ښیښه ډکه
قارورهٔ که خهٔ تمثال ګړی په دا مینځ کښې

دښمنی له واړه سروهی له ډاګه
دَ آشتیٔ کار محال دے په دا مینځ کښې

ګوره څو ګلے به پریوزی دواړه لوړیه
زید و عمر اختلال دے په دا مینځ کښې

سررشته دَچارے هیڅ نهٔ ده معلومه
خوهم هسے غول وغال ګړی په دا مینځ کښې

یو څلور نیغ خوشول خوبه وشی
یو یو کوته په هرکال ګړی په دا مینځ کښې

چه ئې کاندی چه ئې وینم چه ئې آوردم
دَ هرچا مکر تیهال دے په دا مینځ کښې

دا واړهٔ واړهٔ خو ډیرم دی لیدلی
دَ کمو کټو زاوال دے په دا مینځ کښې

دروغژن چه هومرهٔ نهٔ دی په دُنیا کښې
دَ رښتنو څهٔ مجال ګړی په دا مینځ کښې

آواره نوره ګټه تلف مهٔ شه
چه ګټلي ملک و مال دے په دا مینځ کښې

چه ئې هرچرته ځکوی وریسے درومی
یو عجب شترمثال ګړی په دا مینځ کښې

خرئې یا سهٔ دَسړیو په سر ګرځی
شل به دواړو ښو دجال ګړی په دا مینځ کښې

دَ تهوانو بیعه بنه کا تر آسونو
نادیدهٔ ګنده دلال دے په دا مینځ کښې

یو به سله سل به هیڅ کا یو سړے وی
کومه ګران کومه اِشکال ګړی په دا مینځ کښې

چه په چاړ نصیحت وینا نګیری
دا یو خوب دے یو خیال ګړی په دا مینځ کښې

پښتانهٔ مغل هندکی واړه هوښیار دی
لیونے خو یو خوشحال ګړی په دا مینځ کښې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دومیم ٹوک

# رُباعیانی

POHA
پوھیہ
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که واړه خلق ثنا د خدائ کا — نور هر څه پرېږدي خود هائ هائ کا
ثنائ ډېره ده تر حساب تېره — څوک به ئ کومه ثنا په ځائ کا

د باغ ګلونه عجب نمائ کا — ځني غوږ ږدي ځني آئ آئ کا
سوسن ته ګوره په هومره ژبه — بې حرف وصوته ثنا د خدائ کا

ته قهقهه خانده عاشق که غم کا — غم کا بې تا نه تل تل ماتم کا
یوسف که هر څو خه بنه نو مېږي — په به ئ چېرې له تا عالم کا

فلک کج رو دې کار ونه کج کا — دانا په غم کښې نادان فرج کا
د صافو میو پیالې درو څښنوي — بیا پکښې هومره خمار مزج کا

لقمه حرامه نطفه ناپاک کا — فرزند چه وشي چارې بې باک کا
تقوی په دواړه ګونه لوئ کار لري — په هر هر کار کښې خوا فرحناک کا

یو موتې خاورې زیبا صورت کا — نړه ئ کښېږده د معرفت کا
ګویائ ژبه په خپل صفت کا — بیائ له خاورو سره لت پت کا

زردي چه زېرمه د ننګ وشرم کا — صحبت د هر چا و بله کرم کا
ډېر ګران کارونه په زر آسان شي — زر په فولاد کښېږدې فولاد هم نرم کا

ژاړه خوشحاله که تل دا دود کا — چه پېښې ستا په مینه مبنود کا
چه را ښکاره شي په خوب وخیال کښې — دا بخت نه ړه م په دا هم سود کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیخان چه هسې اوږدۀ نمونځونه کلی
پکښې رنګین رنګین ګنډې وریښمین سکنې
پکښې باغونه اَسونه جُونه کا
پکښې دَ سپینو دَ سرو ګنجونه کا

شودۀ چه رغاندی ثنا دَ دوغ کا
فرق دَ خبرو وئیلو ډیر دے
هرځوک پوهیږی چه دا دروغ کا
وکیل چه بد وی روغ کا ناروغ کا

کۀ بدخواهان دِ بنیرے غوغا کا
خوشحاله غم دَ بنیرو هیڅ مه کړه
لادِ ئے ډیرے په هر صبا کا
سل کۀ بنیرے کا دوه سو دُعا کا

ورځ ... کړه شی خدائے دِ اَمان کا
چه ... وه بیا هسې سمه شی
دا هسې فضل مګر سبحان کا
فکر دِ هر ځوک سره په ځان کا

چه کښینی ستانه دَ زلفو راز کا
کۀ هر څو نازکړے ناز به دِ زۀ وړم
هغه دِ فکر دور و دراز کا
دَ کښلیو دود دے په عاشق ناز کا

چه طبیب ئے دَ زړۀ په زور پکا
دَ ور څۀ نور شۀ کۀ څۀ بلا شوه
دا روئے درد شی ځان دَ پیغور کا
دَ شهسوارئ لاف خر سور کا

هو ښیار پخپله ورته ځان پړ کا
کۀ دولت من چه ناانصاف وی
نادان ورځی په قاضی غړ پړ کا
په وړاندِ روستو ځان دَ کیږ کا

مردان نن جنګ کا آشتی صبا کا
خوئے ژړاوی هومره خندا وی
چه سره کښینی صلح و صفا کا
خوئے جفاوی هومره وفا کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



څُنې يوه کا څُنې دوې درې کا ‌ ‌ ‌ په انځورونو کشيدې سرې کا
دَ دُنيا خلق يارى يارى کړى ‌ ‌ ‌ چه سُودئ نهٔ وى يارى ئې پرې کا

ماهير ليدلى چه شطرنج کا ‌ ‌ ‌ څُنې شطرنج کا څُنې صدرنج کا
څُنې وتلى دَ دو و يک وى ‌ ‌ ‌ څُنې ذوقونه په شش و پنج کا

څو دِ زړهٔ خاندى خولهٔ دِ خندا کا ‌ ‌ ‌ چه زړهٔ دِ ژاړى سترګې ژړا کا
مدار دَ هرې چارې په زړهٔ دے ‌ ‌ ‌ زړهٔ دِ مفتى دے هره فتوىٰ کا

هندو دَ قندو وزن په تلو کا ‌ ‌ ‌ خوشحال ئې ګوره ترلب و تلو کا
شکرې وخورى مزه ئې لاړه شى ‌ ‌ ‌ خوږې خبرې لذت ترتلو کا

ورځ دَ قيامت ده حذر له هرچا ‌ ‌ ‌ پرهيزګره خوشحاله باور له هرچا
ورورنړه کهٔ څويه دَخپل غرض دى ‌ ‌ ‌ په کار کښې يشى تېر له هرچا

دا پند دِ هرڅوک سره سند کا ‌ ‌ ‌ هوښيار به نهٔ وى چه څوک حسد کا
همراه چه ښهٔ وى بد سړے ښهٔ کا ‌ ‌ ‌ همراه چه بد وى ښهٔ سړے بد کا

چه له حرامه سړے نفرت کا ‌ ‌ ‌ خدائې به ئې اَرت حلال نعمت کا
هومره به لوئې مرتبې مومى ‌ ‌ ‌ چه دَ نيکانو سره صحبت کا

خوشحال چه تشه مينه په بل کا ‌ ‌ ‌ ترحلق به پورته خالى وېل کا
خدائې ئې ورپرېږده يوهسې يار لرى ‌ ‌ ‌ په قهر راشى ورته ښکنځل کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باغ کښې خلق په میوه شخوند کا
ترخهٔ هم بنهٔ دی په دا جهان کښې

په خوله کښې هره میوه خیل خوند کا
دَ خوږ و قدر ترخهٔ څرګند کا

لوئی هغه ده چه لوئی خدائے ورکا
لوئی له خدایه ده نهٔ له همایه ده

لوئی هغه ده چه کتخدائے ورکا
دَ خدائے په حکم سورے همائے ورکا

په ګل چه هومره مینه بلبل کا
دَ بنا ئسته ؤ عاشقان ډیر دی

سیل دَ بلبلو باندِ غلغل کا
عالم به ولے احداد دَ ګل کا

ډیر ډیر فکرونه چه آدم زاد کا
چه ډیر دروغ وائی فسق فساد کا

عقل ئے لاړ شی جنون بنیاد کا
خیل ځان پخپله په بلا یاد کا

قابل کهٔ تبنتی دولت ته شا کا
بدر هلال شی هلال شی بدر

دولت ئے مخے و ته راتلهٔ بیابیا کا
په کم و کاست کښې کله پروا کا

خاص به له عامه اختلاط کم کا
پړانګ چه ګیدړو سره جارُوزی

که کا بدکار کا په ځان ستم کا
خیل ځان پخپله له ګیدړو سم کا

څوک چه له خلقه شور وغوغا کا
چه عاقلان دی چه صابران دی

نا پوه حریص دے هغه چه دا کا
ښځه به کله جنجال له چا کا

هوښیار به مینه په ورمونو زیاته کا
محتاج دَ نورو و نورو نغریو شی

ورونه دایم کهٔ څوک مخ راته کا
سړے چه خپله کتوه ماته کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه چه په پېسول سره وتاته زيب کا ګڼړه يو ټک وی مکر فريب کا
ښځه هم هغه ګڼړه چه پېسول ئې نهٔ وی تاخت دِ په دين وپه دل شکيب کا

عاشق دِ هيڅوک ملامت نهٔ کا زړهٔ ئې خپل نهٔ دے ويل دٔ څهٔ کا
اوړے دَ عقل په خونه ولګی چه دَ دلبرے سترګے ترنړهٔ کا

قاضی چه اوم وی بے علمه کار کا هم خپل ځان خوار کا هم خلق خوار کا
غلط غلط لولی خطا وائی وسل لعنت ته خپل ځان تيار کا

شيخان چه هومره بندګی طاعت کا کهٔ اجر غواړی څهٔ قباحت کا
هغه بنده به نابود بنده وی چه به په طمعَ دَ جنتن خدمت کا

احمق چه يو بنتے خپل زړهٔ زبان کا په ويل ګډ شی ويل شان شان کا
هرچه په زړهٔ کښے څهٔ نيک وبدلری هغه به واړه درته بيان کا

ګل چه په باغ کښے جامه رنګينه کا خوچه تازه وی بلبل پرے مينه کا
په بنهٔ صورت سره په بنهٔ نکهت سره ګل دَ بلبلے مينه متينه کا

وګړی واړهٔ کاروونه خپل کا مردان هغه دی چه کار دَ بل کا
خوک چه آرام ګټی دَ نيکو نام ګټی دَ خوږو زړونو دارو به تل کا

ځنے په تلم ګردن دراز کا ځنے په زهد په شيخئ ناز کا
ما سر نيولے دَ عشق په کار دے ما دِ په دا کښے خدائے سرفراز کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیلاب په خوشحالی غوبر پیدا کا　　بنیاد ئې نشته غوبر په دا کا
چه لوئې وی نورئې صفت ثنا کا　　دریاب چه لوئې وی کا په غوغا کا

چه خاندی نوړو وته کتل کا　　ژاړه خوشحاله داخوښی که تال کا
سترګې ئې نهٔ دی دواړه قصاب دی　　چړې په لاس کښې وایړد کټل کا

بې له بندګئ دِ بنده نور هیڅ نهٔ کا　　په لړ په ډیر دِ له خښتن پیږ نهٔ کا
کهٔ ئې ومرګ ته په قهر وکاږی　　بنده دِ تیښته دَ خښتن له تلیږ نهٔ کا

چه طبیبان م دَ رنځ درمان نهٔ کا　　رنځ م کهٔ ډیرشی بیا دِ ارمان نهٔ کا
کفر کهٔ کوړے فرمان دَ نفس دے　　مومن به ځیچرے دَ نفس فرمان نهٔ کا

کهٔ څوک پیداشی چه عدل وداد کا　　غوږ دَ دردمنو په داد فریاد کا
چه مقرب دی عرض ئې لګیږی　　عمرئې ډیرشه خوشحال دِ یاد کا

توره چه بیا مومی غازی غزا کا　　توره چه نهٔ وی غزا ته شا کا
توفیق له تا نه تقوی له مانه　　توفیق چه نهٔ وی څوک به تقوی کا

یو چه رښتیا کا دویم دروغ کا　　عجب کهٔ کار به دروغو رزغ کا
رښتیا غوړی دی دروغ متیاز دے　　چراغ په غوړو سوزی فروغ کا

ځان به په قدر هغه فرزند کا　　چه چارے واړه دَ پلار پسند کا
روښ ئې واړه دَ پلار روښ دی　　خپل نوم تر پلاره ترنیکهٔ بلند کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ډېر دخول کا یا ډېر خوراک کا — چه ډېر وېل کا ځان به هلاک کا
دخول ډېر خر کا خوراک ډېر ستور کا — په سړي هوبن کښې د سړي خیل ژواک کا

لېنده هغه ځکوه چه مټ د خور نهٔ کا — بنځه هغه کوه چه زور د لړ نهٔ کا
د هغې غوښې کباب په خولهٔ مهٔ کړه — چه په سکروټې قطره څڅېږي نهٔ کا

څوک چه بدذات ته علم هنر ورکا — خوني رهزن ته توره خنجر ورکا
د ځان غلیم به د ګرګ بچړے ساتي — خیل به ئے نهٔ شي کهٔ خیل ځیګر ورکا

ګنے بند بند کا وتا شکر درکا — سر د صدف پرېکړه وتا ګوهر درکا
بتر تر کانړي مهٔ شه خوشحاله — کانړے چه وسېزے وتا ته زر درکا

نهٔ سرداري ورکا نهٔ زرکاري ورکا — نهٔ لوئے ملکونه او بهٔ جاري ورکا
چه له ازله خدائے څوک نمځلي دي — هغه سړیو ته خدائے هوښیاري ورکا

چه نوکري کا څوک ډېر ګنده کا — سړے آزاد وي خیل ځان بنده کا
تر آزادئ نه بهتر هیڅ نشته — چه څوک په کور کښې خپله دنده کا

اولاد چه ښهٔ شي راحت د زړهٔ کا — اولاد چه بد شي ښهٔ پلار مور پړهٔ کا
اولاد چه ښهٔ شي بد مور پلار ښهٔ کا — اولاد چه بد شي رنځور د زړهٔ کا

ما وے نن شپه به راسره تېره کا — رانه به شمع د مخ برسېره کا
سنګین م بخت ؤ چه درسته شپه ئے — وعده د وصل له دل وهېره کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښیار به هیچرې بې ځایه کار نه کا
په خوله به لاس به هیڅوک آزار نه کا
هم به بې وخته د خولې گفتار نه کا
چه بدکردار دې هغه به یار نه کا

سړې آزاد وي آزاد دې بنده کا
هومره خواریږي څو آزاد زړه لري
بنده لا پرېږده لا ئې گنده کا
په څو خوړ نکه ئې بیا شرمنده کا

هوښیار به هیڅکله ويل باطل نه کا
د خپل راز ځائې به ئې نه په زړه کښې وي
هم هر یو چا ته دراز ویل نه کا
د زړه بې حکمه به خبره تل نه کا

طمع بلاده اصیل بنده کا
ما ډیر لیدلی دی چه طمع نه لري
بنه بنه سړي وي دا ئې گنده کا
په بادشاهانو پورې خنده کا

سړې د نیکو عمل ارشد کا
چه بخت ئې بنه شي عمل هم بنه کا
دا ئې حاله وي چه بخت مدد کا
چه بخت ئې بد شي عمل هم بد کا

ډیر دي چه تاته خپل ځان ملک کا
نَعُوذُ بِالله چه بنه ئې خیر کړې
په بنو خبرو ځان به فلک کا
شیطان ترځان پورې لکه کودک کا

چه عاشقۍ ته هوا هوس کا
چه عشق م ولیده پرې خندا راشي
خپل ځان د وژاړي خپل ځان دې خس کا
چه عاشقۍ ته هوا هر کس کا

سفله بخیله خپل ځان رسوا کا
سفله قاضي مه شه شراب روا کا
چه دولت مند شي غیرې هوا کا
سفله طبیب مه شه رنځ لا دوا کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په ځوانئ کښې پرهیز دَ کک کا — کهٔ آدم زادوی کار دَ ملک کا
پرهیز پیرئ لره پکار دے — تش دِ په وخت دَ ځوانئ زړهٔ ډک کا

ژوندی کهٔ هرڅو شړپا غوغا کا — مړهٔ کله بیا رته راتلنه بیا کا
سکه لکه دود دَ ژوندیرڅهٔ دے — دے دِ په صبر کښې کار دَ دُنیا کا

دَ اور دَ تیغ سره سړے بازئ نهٔ کا — له مار لړم سره مهم سازئ نهٔ کا
چه نهٔ تدبیر لری نرجود نهٔ توره — هغه سړے به سرفرازئ نهٔ کا

زردی چه هرچا ته اعجاز معلوم کا — معدوم موجود کا موجود معدوم کا
وینهٔ میرمن کا خادم مخدوم کا — زر په سندان کښېږدے سندان هم موم کا

مغرور په چرخ مهٔ شه کهٔ دِ سلطان کا — زبون دَ چرخ مهٔ شه کهٔ دِ چوپان کا
خوارهٔ ترڅهٔ ئې بقا هیڅ نهٔ لری — نوی نقشونه په هر زمان کا

خیز چه کم یاب شی عزت پیدا کا — زنګی په هند کښې قیمت پیدا کا
حلوا چه موړ خوری لذت ئې وی — ډوډئ په وږی نذت پیدا کا

نوری نوری سره موافقت کا — ناری ناری سره مواصلت کا
طوطی طوطی سره موانست کا — زاغ دَ زاغانو سره الفت کا

کهٔ هرڅو سعی کوشش څوک وکا — نهٔ به بنهٔ بدکا نهٔ به بد بنهٔ کا
وائی چه ځوئے م هوښیار قابل شی — چه خدائے ئې نهٔ کا خوشحال به څهٔ کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرد به د تیرو چارو ارمان نهٔ کا — رنځور چه ومري څوک ئې درمان نهٔ کا
مردان هغه دي چه شرم ننګ لري — لاف دِ د شرم دا بې شرمان نهٔ کا

غني کهٔ هرڅو د زرو ویش کا — پروا پرې نهٔ لري صبر درویش کا
دا صبر بنهٔ دے د غني تر ورکړو — صبر به نور نور نعمت درپیش کا

نامرد هغه دے چه وچا ته څهٔ ورکا — منت دپاسه وربانږِ زبر کا
په رنځ کښې ومره هغه دارو مهٔ خوره — چه په منت ئې ونا څوک درکا

پلو کهٔ کښلے له مخه لرے کا — راته په مهر خندا خبرے کا
ما به توانګرکه د لعلو ډېرو — هم را به توئې تږ خولے شکرے کا

پایبنت ئې لنډ وي چه څوک لباس کا — ږغ به ئې تور شي چه کوز او پاس کا
په شان شان خولے دي شان شان خبرے — نادان چه وائي هوښیار قیاس کا

هغه باز چه په عصفور غوټے کا — کهٔ دے څهٔ باز دے کار د بانبے کا
د بزرګانو همت بلند بویه — کار دِ په قدر د مرتبے کا

فولادي توره وي له لویه تبه — ترلا بدهٔ ده بدګویه ژبه
ډیرے بلا به درځنه واوړي — ژبه کهٔ بند کړے د پند طالبه

په واک چه نهٔ لري په کام کښې ژبه — کهٔ ګونګ شي بنهٔ دے په لویه تبه
په بده ژبه ځان ځي جهان ځي — ایمان لا هم ځي واوره طالبه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالع که ډک لرم له هره عیبه
چه څوک م پاڅی په غلیمی
یو کار م ښهٔ دے بے شک و ریبه
وربانډ پرېوزی بلا له غیبه

چه ډیروېل که به ډېره ژبه
د باغ بلبلو و ته نظر کا
څوئے چه ژبه هومره ئے تبه
په خپله ژبه د قفس طالبه

د میو مسته هغه محبوبه
سر تو سره راغله څوئے غلفینے
درسته په مشکو به ګلابو ډوبه
بوسه ئے راکړه تر قند و خوبه

چه زړهٔ فارغ اری له مکره ریبه
د بل په عیب هاله نظر لره
هغه به مومی نصرت له غیبه
کهٔ ځان دِ خلاص وی له هرهٔ عیبه

بنځه چه خلاصه وی له هره عیبه
په مصلحت به ئے چرته بیاموے
زړهٔ ئے خالی وی له مکره ریبه
مګر پیدا شی چیرے له غیبه

څوڅو نکرونه څوڅو آشوبه
داخل م وشوه په ځکینے سوبه
زړهٔ م په غم کښے سترګے بے خوبه
نور توبه توبه له مئین توبه

لنډئ به وانهٔ وړی له لنډی توبه
کهٔ هم عمر سپے حلوا خور وی
لولئ به وانوړی له لولی توبه
منع به نهٔ شی سپے له سپی توبه

خوبره نمړئ ده که خوبره ژبه
هنرهم دادے کهٔ دا هنر لرے
چه څوک پرے خپل کړے ځما صاحبه
چار به دِ تل وی ترسیال غالبه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه رَو یو نهٔ وی دَ زړهٔ دَ ژبے
چه بد بوئ لری ډیره تریخی لری
تل به نیولے وی هغه په تبے
خکه غوخیږی سر د شړبے

سړی خالی شول له سړیتوبه
په بل کښے شل دی په خپل کښے سل دی
دَ چاچه کورم فتنے آشوبه
بل وی کهٔ خپل وی ترے توبه توبه

تیراهٔ مِ ولیدهٔ راغلم تر سواته
عقل همت مِ دَ چا و نهٔ لیدهٔ
پښتون مِ ولیدهٔ دا لوئے لوئے ذاته
په بیارته راغلم ناست یم ملامته

چه په وار وارئے له مانه بوته
پیرئ وکړے را باندِ چارے
خُماخوبئے په چرته بوته
فولادی تُوره یم خوړلے پروته

په چرته لاړے دَ لوبو وخته
پرے خبر نهٔ یم یو اوهٔ غلهٔ وُو
تهٔ چا تالا کړے دَ خوانئ رخته
راته په خُوږُو شپه ورځ یک لخته

نیکان له خپل خویه خصلته
عفوه بدا نو لره پیدا دهٔ
خلاص وی له هره عیبه علته
نومیدی مهٔ کړه تهٔ له رحمته

نهٔ ننګ نهٔ شرم نهٔ حمیت شته
خُویه چه لوئے شی زوال دَ پلار غواړی
نهٔ مهر مینه نهٔ محبت شته
نن په دا دور دَ [illegible] شته

کهٔ دِ په تن کښے دَ نس هوا شته
کهٔ کار په حکم دَ روح آغاز کړے
بالغ لا نهٔ ئے نهٔ دِ صفا نشته
فیروز مندی دِ به دین دُنیا شته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هر څو کاندې څهٔ کمے نهٔ یاتے — میخورې ښښے کا د څښو ماتے
که ئے خلل په ایمان کښے نهٔ وی — مومن به نهٔ شی په دوزخ پاتے

مخ د ساقي ګوره څو لا بهار شته — غوږ په رباب لره څو ئے لا تار شته
شیخان د زارۍ ته خاندہ رندا وسه — غم د ګناه مهٔ کوه چه استغفار شته

کهٔ مردئے مهٔ پرېږده مردی له دسته — مرد دے د پاسه ښځه د ه پسته
مرد چه تر ښځه پورے زبون شی — مردی ئے نیست شوه ښځه شوه هسته

هُنر م جوړ کا و تخت و تاج ته — طالع م ناست دے تاخت و تاراج ته
بل ارمان نهٔ لرم ارمان م دا دے — چه پیری راغله حُما علاج ته

چه ئے کاسه کړه د مجنون ماته — مینه ئے لا شوه په لیلیٰ زیاته
جور د کښلیو په معنیٰ مهر دے — بښکنځل ئے ښهٔ دی تر ښهٔ نباته

چه پکښے لوئے شی بے مصلحته — خونه خالی شی له برکته
تر بد بخت څویه نیک بخته لور ښه ده — فرزند د نهٔ وی بے سعادته

لکه چه شوی دی حُما له دسته — شوی به نهٔ وی له ے پرسته
شهوت بلا دے سړے ګمراه کا — ددهٔ مستی ده تر هر څهٔ مسته

د چا په مرګ شی خونه میراته — حُما بے مرګه شوه لا ته پاته
ښه چه دا هسے شوه زهٔ هم پر ګوښ یم — چه لا را نهٔ شوه دا بلا زیاته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه بدے چارے بنے شی و چا ته
چه کار دَ کړلو وی پکښے کاهل شی
هغه سازیږی بدے بلا ته
ترڅو چه بې خوږی نشته دویم وماته

که دَ ګلابو دَ ګل خاروونه شته
اول ئے روئ ګوره بیائے بنه بوئ ګوره
بیائے په ګل کښے ډیر ډیر کارونه شته
بیائے پسولو کښے قیمت کو پارونه شته

که ډیرے کښلی په صورت بزرګی شته
هرچاچه ولیدهٔ زړهٔ ئے پرے بائیلو
لکه مهرودهٔ دَ کښلو پرګے شته
خوشحال ویریږی ددهٔ هم ستړګے شته

بنکارد تو یک نشته نهٔ بنکارد باز شته
کتاب قلم لرم اوس پرے ویریږم
که م په زړهٔ کښے دَ دوای و راز شته
دا دَ پیرئ ناز او نیاز شته

چه برهٔ ئے وروستم نږدے ډ ګوره ته
له سخته رنځه ئے تندرستی راکړه
بیائے چه راوستم دَ دُنیا کور ته
ګوره ساقی م بیا کوم شرشورته

ستا ترچشمانو خُمار دَ مُل کښیناسته
چه دِ رخساره ورته بنکاره کړه
ستا ترخبرو ژغ دَ بلبل کښیناست
څکه په سپینو خولو کښے ګل کښیناست

خود دِ دولت شته هومره عزت شته
چه پیری راشی دواړه په مخ وړی
خود دِ صحت شته هومره راحت شته
کهٔ دِ دولت شته کهٔ دِ صحت شته

هرڅوک په کار کا بے مصلحته
کهٔ بخت نهٔ هرڅو کارونه ساز کا
هیڅ به ونه خوری بر له دولته
خالی به نهٔ وی له ... مستته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه کارے بیائ فلک په کښته　　چارے به کا ندی بے مصلحته
تجبیر کۀ ځیردے چه بے تدبیردے　　په خزه بند شی له دے شامته

مهر په زړۀ کښے ځما دَیار نشته　　ځما په زړۀ کښے صبر قرار نشته
نۀ ځوک غمخور لرم نۀ زرنۀ زور لرم　　وچا ته دم وهم ځائے دَگفتار نشته

ژبه مِ نۀ دَری بے نصیحته　　وایم دَ عمر له حلاوته
اول ځوانی ده بیا تندرستی ده　　بیائے خوبی ده له بنه دولته

چه مستغنی وی له نصیحته　　هغه به نۀ وی بے قباحته
یا به احمق وی یا به بدذات وی　　یا به محروم وی له بنۀ دولته

چا ته به راز وایم چه مِ رازدار نشته　　غم مِ به څوک اخلی چه غمګسار نشته
کیمیا به بیامومے وفا به نۀ مومے　　هزار یاران لرم یو وفادار نشته

چه باز دِ لاسه شی چیرے له دسته　　په غرۀ په سمه کړه ورپسے مرسته
هُنر هم هسے یو یاغی باز دے　　طلب ئے نۀ کړے په همت پسته

تیراه مِ وغوبنت رسم مِ وکوت　　رنځ مِ دواړو ځایونو والوت
یم دے کۀ غم دے په برمول کښے　　په کرولو مِ پوستکے وخوت

کامل چه وګوری وکائنات ته　　نظرئے وشی وهر ذرات ته
په هر ذرات کښے هستی دَحق وینی　　دلیل ئے ورولی دَحق وذات ته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرهار په دهٔ باندِ کهٔ دَ سوزن نشته
دَ شهیدانو جنازه بویه
عاشق شهید دے په داکښے ظن نشته
دَ شهیدانو غسل کفن نشته

غم دے کهٔ غردے راباندِ پریوت
راباندِ تل تل دَ غم تاختونه دی
کهٔ سرے لمبے دی زړهٔ مِ پرے کښیوت
زبون ئے بیا موندم خوړ پسے ووت

درته پښتو وایم صافه سلیسه
ذات ئے خبیث دے هندکئ هرګز مکړه
بهره کهٔ واخلے له دے حدیثه
چه ترے پیدا نشی یو خو خبیثه

کهٔ مِ په سر شے دَ مینے تاجه
بیدرد دِ تا دَ قدر خبر نهٔ دے
نور به مِ خلاص کړے دَ غم له باجه
ماته راد رومه دَ غم تاراجه

ښځه چه ورشی تر چل و پنجه
کهٔ خان ترے موے ترے پستنه اوسه
خوبی ئے لاړه ماردہ سے ګنجه
خلاص ئے له رنج شه خلاص ئے تر ګنجه

اے چه دِ نول دے حما له مخه
په عشق کښے مرد اوسه پروائے مکړه
دَ رقیبانو به بده رخه
زهٔ به دِ نهٔ کړم دَ چا په سخه

خلق په ما کا کینه هم رخه
بیل شوم له یاره ژوندے لا یم
کهٔ خدائے مِ نهٔ کا دَ چا په سخه
خو دِ یر شرمیږم دَ یار له مخه

زمانه اوردہ تهٔ لکه سپانده
هم به لوګے شے هم به ایرے شے
کهٔ نن ونهٔ سوے په اور کښے کانده
کهٔ ژاړے ژاړه کهٔ خاندے خانده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران چه وشی په پټی باندِ — هالهٔ تازه شی خوبئ کاندی
زړهٔ م پټے دے باران دَ مهر — پرے تازه کیږم ښو راته کاندی

سرے څهٔ خیز دے چه څهٔ به کاندی — خالی تش نوم دے اختیار پرے باندِ
کهٔ بادشاهان دی کهٔ لوئے خانان دی — زورے هیڅ نهٔ دے دَ قضا په وړاندِ

ترے چه سخت وی ساعت پرے باندِ — خورے اوبهٔ ورشی سرے ورباندِ
وخت دَ اَهاړوی تهٔ راته ووایه — چه ښو خوبنی به حاصله کاندِ

اوبن م تیار دے کجاوه باندِ — یاران م لاړل واړه دَ وړاندِ
دایم روان یم وریسے درومم — جرس فریاد کا خبر راکاندِ

وماته ښوستلئے شیخه نابوده — دَ جنت حورے نور نور مقصوده
نن به گلرنگه معشوقه کورم — ځما توبه ده له نسیه سوده

کهٔ هرڅو دُورے درازے بلیږ دے — پوپه مزل به واړه په مزکه کښیږدے
حاصل دَ عمر خو دا دوه توکه دی — چه وړاندِ ورو ستړه دروستو پریږدے

مرد دَ میدان دے بنځه دَ کټ ده — نهٔ دا خبره دَ غشی دَ وټ ده
دَ اوبن بارونه په تاڅوک نهٔ لیږدی — مردی کهٔ کورے څهٔ خو پاملت ده

هم م خیالونه هم م بنیوه زده — هم م په عشق کښے دَ راز پرده زده
چه یار م نشته دا واړه هیڅ دی — کهٔ یار م وشی یاری م ښه زده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ګل د باغ کا خندا بنیاده　　بلبلے ژاړی په ډېر فریاده
خوک په خندا کړے خوک په ژړا کړے　　دا چارے ستا دی د صبا باده

واوره دوه پنده ښما فرزنده　　طمع حرص لری خواری څو کنده
دولت د صبر د قناعت دے　　هماۓ چه خلاص دے له هر بنده

کهٔ دِ د خضر پیاله خوړلے ده　　دا نا هستی د ژوندون ژوبلے ده
هرچه کمال لری هغه زوال لری　　هستی نیستی ئے سره تړلے ده

چرګان بے وخته بانګونه کاندِ　　بیاځهٔ بلادی باندِ هراندِ
زهٔ ئے بے وخته له یاره بیل کړم　　چاره ئے سازه شه په ستونی باندِ

هواهوس کړے په قهقهه خاندے　　بے غمه خوب کړے پالنګ دړاندِ
بنهٔ مبارک شه ښادی درباندِ　　غمونهٔ لرے د کور د وړاندِ

په کوهِ قاف کښے کهٔ رهبر د وړاندِ　　کهٔ دروغی نهٔ به وی سختی درباندِ
کهٔ بے رهبره په سم میدان دروے　　خوځو بلا به شی په تا هراندِ

قافلے لاړے ترما د وړاندِ　　زهٔ ګوډ بارګیر کتهٔ [illegible]
وړپیسے دروسم سره شوریږم　　پریوزم څار شکی بازی [illegible]

چه زغلونه د آسونو کاندِ　　نظر دِ کوږ لری په مزے باندِ
چه آس په لوړو ژوړو زغلی　　آس ئے پریوزی ترځان د [illegible]

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوک چه خبر نهٔ شی دَ خط له خونده — قلم به نهٔ رږدی په حرف بے بنده
شماره دَ نوړو حرفونو څو کړم — چه یو الف دے په درے پیونده

زمانه اور ده اے نانغتا ننده — تهٔ وچ لرگے نهٔ لبنسته تانده
دا اور به تا وته په منډه درشی — کهٔ ژاړے ژاړه کهٔ خاندے خانده

تهٔ دا وینا کړه له ما نه یاده — بهره آخله دَ بهار له باده
لکه دا بادئے په واړو ونو کا — هسے به ستا کا دړونه بناده

وږے چه نغن مومی شکر ډِ کاندِ — غوږی کهٔ نهٔ مومی پاسه ورباندِ
ستړے دِ شکر کا کهٔ اس ئے نهٔ وی — په لار کهٔ خر وینی ترځان دَ لاندِ

چه سختے چارے لرے دَ وراندِ — په څهٔ بے غمه په قهقهه خاندے
هسے په زړهٔ کښے فکر ونهٔ کړے — چه هومره څوک دی ترخا ورو لاندے

کهٔ ئے ترسپینو سرو کړه لاندِ — دا واړه هیڅ دی په بدرنګه باندِ
کهٔ ئے دَ پوزے لونګ هم نهٔ وی — ښځهٔ مخ بے پسوله زیبائی کاندِ

دُنیا چه هسے وبله بلیږدی — چه څهٔ ترے آخلے ورباندِ ریږدی
خبر لا نهٔ ئے په دا خبره — نامرده واوره چه کښیږدی پریږدی

هغه چه عار کړی دَ خوشحال له پنده — بلا پرے روسته آسمان څرګنده
ورته زرګونه بلا خولے وازے کا — سرے چه دوزی دَ نیک خواه له پنده

POHA
پوهنه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنګ کښې مې کړه تربل دَ وړاندِ
ژوندے که پاتے شے خان دِ عزیز کړه

نور به خبرے د رخنے کا سند
که وهرے وهرے رحمت د ږباندِ

خزان وهلے دِ له ښا ښاد ده
وخت دَ بهار شو بیا به ارمان کړے

غافل هم مهٔ شے له دے ارشاد ده
بهره نن اخله دَ بهار له باده

عاشقه خانده نن خوچه خاندے
طالع که هر کله هسے مدد کا

بنهٔ مخ ترتاشو لاندِ ته باندِ
تل تل به هسے ترماشي لاندِ

تل که بښیګړه له آدم زاد ده
درته به خیر شي په سل بدئ

نهٔ بنهٔ که وکړے خهٔ کمی زیاد ده
هیڅ به دِ نهٔ کا بښیګړه یاد ده

زړهٔ که چه هسے په قهقهه خاندِ
هر څوک چه خاندي ښادئ کاندِ

هم دا خندا دِ کړه دَ باز د وړاندِ
غمونه ورشي په هغو باندِ

خلق چه هومره یارئ کانیو
مرګے ئے له ډیرو غمونو خلاص کا

خان کا پخپله ترغمونو لاندِ
منت دَ مرګ دے په هرچا باندِ

لُولُو دِ غابښ دي یاقوت دِ شونډے
چه تاڅوک وویني په تا میئن نشي

دَ ډیرو خونے درپسے ړونډے
په زړهٔ دا نهٔ دي یا سخت پوهٔ دے

هومره بلا دي وتاته پنډے
ګوره په کومه بلا به سرشي

چه شمارئے نشته پټے برمنډے
چه پکښنے تهٔ ګرځے په منډے منډے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَحسن نام لرے عاشق غلام لرے
خیال به تهٔ نهٔ کړے خیال به نورخوک کا
باده په جام لرے دَ زړهٔ هرکام لرے
چه دَخوبئ اسباب تمام لرے

دهن دِ میم دے زلفینے دام لرے
خیال به تهٔ نهٔ کړے خیال به نورخوک کا
ذقن دِ سیم دے سترګے بادام لرے
چه په دا دور دَحسن نام لرے

تن یو غلاف دے زړهٔ پکښے تُوره
مدار په تُوره دے په غلاف نهٔ ده
دَ تور دَ سپین نهٔ ده وینا منظوره
چارئ په هرچا ده مشهوره

په زلفو کفر په زړهٔ اسلام لرے
خیال به تهٔ نهٔ کړے خیال به نورخوک کا
دَ سترګو سحر په زړونو عام لرے
چه نن څهٔ ځان ګڼړے هغه غلام لرے

کهٔ خُلئ دَ امن خوراک پوشاک لرے
مه په طاعت کړه خلوت ګزین اوسه
شکر وکا بڼه نورڅهٔ بلغاک لرے
خضر دَ وخت ئے کهٔ نفس هلاک لرے

کهٔ خپسر خوار کړے تر تورے خاورے
جفا دَ خلقو په مخ په شا وړے
په هرچا سوړ شے ترسړے واوړے
رنګ رنګ ګلونه به له تنه راوړے

اسمان دے دریغه دا یوخو کاره
تل تل به وار دَ ځوانئ نهٔ وی
تل تل به نهٔ وی تازه بهاره
تل تل به نهٔ موسے مهرله یاره

چوز باز چه ووینی دجال کوتره
لګړ کهٔ هرڅو غوټه تیره لری
پرواه ئے نهٔ وی له خپله سره
نه برابره بیا لره بره

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرچه نهٔ وی دَ عشق له کاره
بے یارهٔ عمر څهٔ عمر نهٔ دے

په هغه کس وی یاری دشواره
زړهٔ په گورشی سړے بے یاره

په ما څهٔ کار لرے د رومه هوښیاره
نهٔ څوک ادیب لرم نه څوک طبیب لرم

زهٔ لیونے یم مینه شُـد یاره
دردِ م له یار دے دارو له یاره

گل دَ گلابو شوے چه رنګ وبوئ لرے
دریغه دا کاردِ په ذات کښے نهٔ وے

شیدا بلبله په هر هر سوئ لرے
وفا دِ نشته دا خوئ بدخوئ لرے

په ځان خبرشه چه چرته ځائے لرے
ځائے دِ په پورته ترملکوت دے

چه تخت نشینے څه هوړے وهائے لرے
چه ناسوتی شوے خوے دَ گدائے لرے

هومره بدلے هومره سندرے
فهم م وکړه دَ عشق په کار کښے

تمامے نهٔ شوے دَ عشق خبرے
لرے نزدے دی نزدے دی لرے

څوک چه یادیږی په نزدے لرے
ځنے خبرے لکه مشکنړے دی

ترهر چا ښے دی دَ یار خبرے
ځنے خبرے دی مـر غلرے

کهٔ رنګ ماهی خورے کهٔ مرهٔ یاره خورے
ځوانی چه لاړهٔ هوښیار هیڅ نهٔ ئے

ځوانی چه لاړه دا آوارهٔ خورے
غم دَ ځوانئ چه دوباره خورے

توږے زلفینے په مخ شان شان لرے
دَ نوږو کوډو حاجت هیڅ نشته

اُوربل په وچولی پریشان پریشان دے
دَ سترګو سحر جهان جهان لرے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرګوره بنه ئے دَ زرګر هُنره — چه سپین جدا کړے له سیم و زره
تردا دپاسه کبوترباز دے — دَ بنځے ها کا جدا له نره

تورغرونه سپین کړے په سپینے واوره — په سبزه شنے کړے دا تورے خاورے
رنګ رنګ ګلونه چمن ته ورکړے — باده دا ته ئے چه داخله راوړے

چه رابنکاره شی په خوخو طوره — ښوښو فتنے لری ښو هوره ښوره
بل فکر مهٔ کړه بل ګمان مهٔ کړه — فریاد م واوره دے دَیار له جوره

کهٔ قایمُ اللّیل ئے کهٔ صائم الدَّهر — غم به لا ډیر کړے دَخدائے دَ قهر
دَ مخلصانو خطر لا ډیر دے — سرے شکرے خوری پکښے وی زهر

باغ ونے وچے لری هم ترے — هم ئے بهتر شته هم ئے کهترے
په سایه ګورے په میوه ډکے — تهٔ هغه ونے ګڼړه بهترے

راشه بنیګړه دَ ونے ګوره — خپل ځان په نمر کا بل که ترسیوره
په سنګ ئے وولے میوه درواچوی — خصلت له ونے واخله اے وروره

کهٔ تل تل نومړی په خولهٔ شکرے — خوند به ورنهٔ کا په دا خبرے
مزه به هله دَ شکرو بیاموے — چه خولهٔ پرے ووهے چه ئے ونغرے

تهٔ یوطلسم ئے بے اعتباره — له خاورو باده له آب و ناره
اول هم هیڅ وے بیا به هم هیڅ شے — په ځان خبرشه دَ خدائے دپاره

POHA پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه زه غوښته هغه نګاره — غاړه غړئ ده راسره یاره
په سخ زه مه کړه دَ رقیبانو — دُعا زه داده پروردګاره

حیران یم پاکه پروردګاره — تاچه پیدا کړل دا دواړه داره
محتاج هیڅ نهٔ ئے دَ څهٔ دپاره — دا هومره نقش هومره نګاره

کهٔ ئے وفا درلے ښے دی دلبرے — ولے هیڅ نهٔ دی په دا خبرے
دَ تور زلفو دَ مهربوئ نښته — کهٔ په نمود دی لکه عنبرے

کهٔ لعل و دُر دی دَ خوشحال خبرے — چه ته ئے نهٔ منے له تا دی لرے
بخرے دَ هرچا جدا جدا دی — کارګان ګندګی خوری طوطیان شکرے

له لارے مهٔ غړیږه خوځه په لارے — کهٔ پریوزے پاڅه خوځه په لارے
بے لارے واړه غُولان دَ دان دی — غولان دَ دان نښته خوځه په لارے

تل دَ کمزوری وی دا یو خو کاره — مکر دروغ کا په خو اِنکاره
ښځه کمزورے ده څکه اِنکار کا — په دا سبب ده هومره مکاره

په خولهٔ خبرے له کردګاره — په زړهٔ خبرے له ګبنت وکاره
فریاد فریاد دے په هسے زیست کښے — توبه توبه ده له هسے کاره

چه ښځهٔ مردان دی دَ دین دَ لارے — پټے به نهٔ وی دَ دیو چارے
اوبهٔ چه نهٔ وی روا په شرع — هغه اوبهٔ به ګنړی مردارے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مور په نس کښے فرښتے اے يارہ          دَ سړی وکښې دا يو څو کارہ
رزق او فعلونه عمر بخهٔ بد بخت          دا وسوے دی دَ څهٔ دپارہ

کهٔ زر هُنره په هرو بنستهٔ لرے          بيا به په کار کښے توکل تهٔ لرے
خوشحاله يو نشته چه زړهٔ پوے بنهٔ کړے          نن ورځ کهٔ خوٚيه نمسی شپيتهٔ لرے

کهٔ چار دَ عقل لرے بسيارہ          چارپائے به نهٔ کړے گويا هوښيارہ
تهٔ خاموشی زده کړه له چارپايانو          چه خاموشی لری فائده تيارہ

پور کهٔ دَ مړے دے تښتته له پوره          اور کهٔ لږکے دے تښتته له اوره
دښمن کهٔ سهل زحمت کهٔ لږ دے          بے غم ترے مهٔ اوسه اے ځما روره

دَ مار کهٔ نهٔ وی په تن کښے زهر          سردار کهٔ نهٔ لری خنجر دَ قهر
دا دواړه توکه به ځما په پوهه          نهٔ ياد په کلی وی نه ياد په ښهر

دَ بابا خوٚيه دَ بابا سپلاره          په زلفو ليله په مخ نهاره
يوسفؑ کهٔ هر څو ښائسته روغ وٚو          گويا سمن وٚو ستا له گلزاره

بے عيبه يار نشته په ملک هوښياره          په عيب مکړه زړهٔ بد له ياره
کهٔ گرځے واړه باغونه وگورے          گل به بيا نهٔ مومے خالی له خاره

په زړهٔ م هومره نهٔ دی انبارے          چه ئے قلم کا په کاغذ نگارے
يا بيا نيږی ځما په ژبه          يائے قاصد کا درته تکرارے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرے چه کښینې تر سرو سیورے — غا رمهٔ پړے تیروی کهٔ ته ئے کورے
رضا ئے نهٔ شی وپاخیدو ته — که ئے لمبه کړے په لمن پورے

ثنا صفت کا عالَم له میوره — نقش ونګار لری په خوخو طوره
نظرچه وکا وخپلو ښښو ته — زړه ئے اَخته شی په ډیرډیرخوره

خوشحاله څوبه غمونه نغرے — غم به دِ کله شی له دِله لرے
سترګے رِم وختے دَ آسمان ویرته — که ئے چیرے وار راشی هاله خبرے

څوک دے چه واوړی له بده کاره — څوئے وا نهٔ ړوے پروردګاره
توبه هاله بنه ده له توبه ګاره — چه ته ئے ټینګ کړے پروردګاره

دَ هوښیارانو خوښے خبرے — قند دی نبات دی شهد و شکرے
نادان په مثل ٔغل خواره خر دے — دَ خوښ وخوند دے ورځنے لرے

خپل بند وبست دے دَ هرے چارے — پاکے مشکوکے شته اوبهٔ مردارے
پاکے اوبهٔ بویه زیست او روزګار لره — مردارے کله دی سزاوارے

هرڅوک چه لاف وهی دَ عشق له کاره — عاشقی چیرے ده لاهسے خواره
په مړو ایرو کښے بځرے چیرے وی — عاشقان مړهٔ دی دَ یار دپاره

شراب خوښی لری په څښنل بسیاره — خوښی ئے نهٔ وی بیا ئے له خماره
هرچه دولت لری نکبت دَ یار لری — غره دِ نهٔ شی په ځان یکباره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه یادولے شي ګذشته چارے
ګوندِ څوک پند واخلي ځانۍ ذحذر دے
فائده نشته شته څهٔ خو بارے
غلط نورنهٔ دروي په غلط لارے

منت دَچامهٔ وړه دَ یوے تُورے
نورڅوک لا پریږده کهٔ څویه زور وي
شونډے کښے مهٔ ږده په غوړے سپورے
اور کړه دَدوئ په خپلوئ پورے

آسمان پیړے لوی ځما پسره!
په غم کښے طمع دَ ښادمانئ کړه
مهٔ ډیرغافل شه مهٔ ډیرے سره
په ښادمانئ کښے له غمه ویره

کال دَ عقچ وو په خیبر کښے هُورے
مهمند شینواری څو آفریدی وُو
مُغل بند شوے هم کُنډے بورے
واړهٔ وهلے دَ یادو تُورے

چه بادشاهانو ته واخلي تُورے
کهٔ بیا باور کا په بادشاهانو
دَ دوئ خبرے شي په ملک مشهورے
هغه به میندے په ځان کا بُورے

ښځے م ولیدے ډیرے بے شمارے
چه نهٔ کا نهٔ کا چه کا خو وکا
پیاکے نیک زنے بدے بدکارے
دَ مرد په غیږ کښے ناپاکے چارے

په لاس چه واخلي مردارے چارے
کهٔ نهٔ ئے مرګ وي نهٔ ئے طلاق وي
نوم شي دَ ښځے دَ زناکارے
په مردئے بند شي دَ جنت لارے

ځُویه بدبخت شي په دا دوه کاره
بدبخت چه کښیني په ګلستان کښے
عاصي له خدایه عاصي له پلاره
ګل به ئے نهٔ شي نصیب بے خاره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مفلس دے کۀ څۀ غنا لري | کۀ څۀ غنا لري ولے غنا لري
کۀ حق دَ چارے یا دَ آشنا لري | ورځنے ولے ځان نا آشنا لري

په چاچه وشی دَ همائے سیوره | دولت وردرومی له هره لوره
مهر دَ خاصو دَ همائے سیورے دے | په چاچه وشی دا سیوره ګوره

کاتۀ دَ سترګو دَ خولے خبرے | وچرته تلنه نزدے بیا لرے
دا چارے واړه په لاس دَ زړۀ دی | بادشاه دے زړۀ دے وجود لښکرے

بے قدره نۀ دی دَ راز خبرے | دَ راز خبرے دی مرغلرے
ځائے دننه دَ زړۀ صندوق دے | وربه دے نۀ کړے همدم تۀ لرے

دا سحر ګره دُنیا مکاره | ځویه ویزاره کاله موره پلاره
چه دے له موره پلاره ویزار کا | هسے دا هم شی ځنے ویزاره

پاکان به دړومی په پاکے لارے | ناپاک به کاندی ناپاکے چارے
چه سترګے نۀ لری وته به څۀ بنیمٔ | دَ هرهر باغ دی میوے تیارے

چه رابنکاره شوے دَدُنیا چارے | فکرم لاړشی په لارے لارے
فکرم سترے په بیا رته راشی | دَ وراندِ راشی لاړے حصارے

خلق چه غواړی لوړے ژورے | له مانه مۀ غواړه تۀ دا خبرے
په پټے سترګے به نندارے کړم | چه راته یودی نزدے هم لرے

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ ډېر مونځونه روژه تل تل لري
کهٔ دوزخي ئې دوزخ به مومي
هغه به مومي قسمت چه خپل لري
کهٔ جنتي ئې څهٔ غم و دل لري

سخ دِ په کور دې چه دا څو چارې
ښهٔ ښهٔ ځايونه ښهٔ ښهٔ بويونه
لري په کور کښې ښې ښې نګارې
حمام په عطرو جامې بوئيدارې

چه ښهٔ ږوولي وي له موره پلاره
کهٔ باندِ خيرې يا تکې پريوزي
ښه تنسته لري سپينه چوتاره
پاکيزګي ده ورته ستياره

ځار تر هوښيار شم دَ هوښيار خبرې
دَ نادانانو ريښتيا څهٔ سود لري
دروغ ريښتيائې دي وارهٔ شکرې
چه ئې خبرې دي له خيره لرې

اَرمان دې دريغه ځما ګلزاره
مزکې ظاهر م درلره درغې
غنچه ريژېږي اُوس له شاخساره
بدرنګ ئې مهٔ کړه دَ خدائې دپاره

دَ احمقانو بې ځايه چارې
ښيګړه دا ده چه رنګ ئې مهٔ کوه
څهٔ هومره نهٔ دي چه تهٔ ئې شمارې
ورسره مهٔ ږده قدم په لارې

نن په نظر راغله يوه وزيره
زلفې ئې ښې وې دَ تيبت ترمښکو
ښه ترتيبت وه هم ترکشميره
په تورو سترګو وه دَ کشمير ميره

څوک چه مردود شي له پيره ميره
ږړونه چه زيږونه دي لکه ماران دي
خالي به نهٔ وي له غمه ويره
زهر و مُهره لري په ځان خبيره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندی تورسکا نږدی له موره پلاره
تاثیر که تخم آب وهوا لری
پښتانه واړه سره سپین ای یاره
ته واړه وګڼره له کسر د کاره

نافې د مشکو دی د دانا خبرې
د نادانانو خبرې هوښې دی
خوږې پرانزې نکهت ئې نغرې
د مښکو بوئ شی په هوښړونږې

دین دې که دل دې که عقل صبر
اوس راته پاتې دا یونفس دې
له مائې یوړل واړه په جبر
دا به هم یوسی بچی د ګبر

شته ستا خبرې پښه پښه شکرې
په هر سپی نغرې په خو شکرې
پښه پښه شکرې شته ستا خبرې
په خوشکرې په هرسپی نغرې

څما توبه ده له نادان یاره
دې به دِ بنهٔ غواړی تاته به بد شی
چه ئې یاری ده میرڅی تیاره
غم به پیداشی د دهٔ له پیاره

پیرئ رانیول له ما څو کاره
چه مهر مینه یاری ترې غواړم
لا ئې هم د غشی د توپک له ښکاره
راپورې خاندی څوانه نکاره

خواږهٔ د مهر وی خوارهٔ د زهر
څنې وریځ واوړې اوبهٔ وی
وریځ د رحم وی وریځ د قهر
څنې برلئ تندر د دهر

وفا به نهٔ موې له هره یاره
دا اوس یارئ د وښوخونې دی
یارئ مهٔ کړه له چا هوښیاره
واور ته خونه د وښو تیاره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه فانی دی دَ دُنیا چارے
په ځائے تل نهٔ وی سره قرارے
چه زړهٔ ئے وتاړهٔ باندِ یک لخته
دَ هغو سړیو دی بخرے خوارے

توړے زلفینے لکه سنبل لرے
خوبئ دَ حُسن زیاتے تر گل لرے
چه دَ سړیو په زړونو گرځی
تهٔ هغه هومره زیبائی گُل لرے

ښے دی ترمښکو دَ وطن خاورے
تودے اوبهٔ دی دَ وطن واوُرے
زړهٔ تاخسړے دَ لوئے دریاب کړم
اوس به په کومو موجونو ماوُرے

دَ گل تر پاڼیو نازک اندام لرے
شیرین تر قند و دَ خولے دشنام لرے
خیال به تهٔ نهٔ کړے نور بهٔ ځوک کا
چه په خپل حسن دماغ مدام لرے

هوښیار چه واوُری دَ پند خبرے
وربانِدِ لگی لکه شکرے
نادان دَ خرونو په شمار حساب دے
دَ پند شکرے په خرونو غرے

زړهٔ چه روان شی په لاړے لاړے
فائده ئے وایه وماته بارے
خو پسے دروے اندوه به موے
ټولے به نهٔ کړے پریشانے چارے

چه راته غوټه دَ وروځیو میان لرے
په زړهٔ دِ ځهٔ دی بیا کوم گمان لرے
ناحق دَ بدو گمان بنهٔ نهٔ دے
کافره نهٔ ئے تهٔ هم ایمان لرے

په چا چه نهٔ پسندے گرانے دشوارے
په تا به نهٔ درځی دشوارے چارے
په خدائگو واړه جزا سزا لری
ترپښوکهٔ لاندِ کړے میرِے په لارے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاری له بده بدخویه یاره — شلولی بنه ده په خو اعتباره
که بنائسته وی جور و جفائے وره — گلونه کله وی د باغ بے خاره

په روم په شام شی د لیلیٰ خبرے — په هند په سند شی د مجنون سندرے
عشق م په مثل نافه د مشک شو — چه بوئی ئے خور شی په نزدے په لرے

که چیرے وو ینے عیب له یاره — ښکاره ئے مه کړه د خدائے دپاره
عیب پوشی بنه ده که عیب جوئی بنه ده — فکر د دوارو وکړه هوښیاره

په حق ولاړ اوسه اے ناصبوره — صبر کړه صبر ده صبر تُوره
چه څوک په لاس کا ما امتحان کړه — فتح دائم ده ورته حضوره

چه پاک زوولی دی له موره پلاره — ناپاک ئے مه کړه پروردګاره
دین و دُنیا لره پاکی بکار ده — ناپاک به خوار وی په دواړه داره

درویشی دا ده که تل حلال خورے — که تل حلال خورے بیا د خیل مال خورے
کښینے وعدے کړے مخ دِ خدائے تور کړه — پردی مالونه په دا تیتال خورے

عاشق ویزار دے له موره پلاره — پرواه ئے نهٔ شی له نُوره ناره
وځان ته شا کا ترا یمان تیر شی — کُفر قبول کا د یار دپاره

بنده ئے پسندلے عقل تمیز لرے — څو وائے هومره هُنر هرڅیز لرے
موسیٰؑ د خضرؑ په پیروئ ته — د دے خبرے خبر که نیز لرے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ زور دَ فیل لرې زړۀ دَ ضیغم لرې
علاج ئې وکړه له پسه خوب کړه

له تا چه غم لرې څنګه به غم لرې
په خپله خونه کښې چه مار لړم لرې

تۀ لاړې درنګ ته خپل ځائې دِ درنګ کړه
ستا په فراق کښې لکه ناسځ شوم

په درنګ دِ ولے دا هومره درنګ کړه
غم دِ هم چیرې حُما دَ رنګ کړه

چه عیب نۀ لری کۀ هسې یار غواړې
بې عیبه یار به چرې بیا نۀ مومې

دا هسې یار به په کوم دیار غواړې
کۀ ګرځې ګرځې جهان بسیار غواړې

خدایه چه پاک دی ناپاک ئې مۀ کړه
چه په مخ سرونړی وګور ته دروی

دَ ناپاکانو صابون توبه کړه
کرم دِ ډیر دے ما هم هغه کړه

چه آئینې ته ښکاره دیدار کړے
چه شونډې کښیږدے دَ جام په موړکو

آئینه درسته سره ګلزار کړے
اوبۀ په جام کښې رُبِّ انار کړے

اور کۀ بخرے وی څنګه به ویره کړے
نور نور رنځونه به تا ته څۀ وائم

علیم کۀ خرے وی څنګه به ویره کړے
ښځه کۀ خرے وی څنګه به ویره کړے

دَ هرسړی سره چه آشنائی کړے
دَ آشنائۍ سره غمونه دی

نۀ چه په طمع ترے روښنائی کړے
خان به ترے شرغوړے کۀ دانائی کړے

پلارئې په بند کړه ورئې بند بند کړه
اوس به غزا کښې خپل خان غازی بولی

خان ئې هم شیخ کړه هم دانشمند کړه
په خوشو رنګ ئې خپل خان خرګند کړه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هومره قهر دَ کوتو مرور کړے
چه اوس دِ نوے په لاس نیولے دے
په دا پوهیږم نهٔ پوهٔ به راسور کړے
بے بختہ نهٔ ئے کهٔ دا اکبر زور کړے

نادان پخپله دَ ځان غم ډیر کړ
هغه چه هیر بویه هغه ئے یاد دی
نابودے پوهے سره تیر بسیر کړ
هغه چه یاد بویه هغه ئے هیر کړ

له خپله یاره چه بدګوئی کړے
حق شته انصاف شته عذاب ثواب شته
دَ اغیارانو چه دلجوئی کړے
ولے دا هسے ناپیر خوئی کړے

له تاچه ویره کاځنې به ویره کړے
کهٔ ئے دَ ویرے علاج درونهٔ شی
یا به ئے ویره له زړهٔ بدره کړے
مت کړه چه زړه ئے مهم ترسره کړے

عزت په دا کښے چه هیځ دروغ نکړے
کهٔ زړهٔ دَ یار ساتے دَ یار په رائے دروغه
دَ چاله غوږه خوانه آروغ نهٔ کړے
خیل زړهٔ چه بد نکړے بل زړهٔ به روغ نکړے

تعلیم دَ زاغ و زغن کهٔ ډیر وکړے
دَ ترخے او سپینے توره کړه سازه
ښکار به پرے کله دَ باز په ځیر وکړے
غزا به کله په هغهٔ شمشیر کړے

مردے کهٔ هیڅرے ویره له چا نهٔ کړے
کهٔ لوئے منصب لرے خاص دَ بادشاه وی
طمع له چا نهٔ کړے غم دَ دُنیا نکړے
له میره پیره به خوف ورجا نکړے

ربه وماته دولت اقبال راکړے
حرام کهٔ شبه دکار دپاره
په لون لون دَ دُنیا مال راکړے
چه زهٔ ترستونی ځی هغه حلال راکړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



غافل خوب عمر په ځان کنډهیر کړه
نه ئې ځۀ ورکړ نه ئې ځۀ واخستل
امید ئې لږ شو حسرت ئې ډیر کړه
عمر ئې هسې حبطه تیر کړه

په مارچه وار جوړ کړے که ګذار پرِنکړے
که غول توب دے که بنا غل توب دے
خپل زړۀ خو وپوښته چه زړۀ داغۀ کړے
خود په زړۀ کښې ننداره وکړے

خپل ځان ئې روغ کړ یار ئې بیمار کړ
لا یو ناترس دے یا ئې یاری نۀ زده
پوځۀ بنۀ یار دے خوشحال چه یار کړے
یا ئې پکار نۀ دے تر ځان ئې ځار کړے

څو یو هم خوئ د ختکو نور کړ
وخت د کتیے د نام و ننګ ؤ
ځما په نقش ئې پورے سُوراور کړ
بدو ځامنو ئې ځغه خور کړ

که څوک دِ وښکنځی غیرت پیدا نۀ کړے
نه حمیت لرے نه شرم ننګ لرے
د دۀ وسرته تُوره ترملانۀ کړے
مردی دِ نشته غیرت په دانۀ کړے

له دے دُنیا نه به آخر سفر وکړے
عمل د نیکو د وړاندِ واستوه
پاتے به نۀ شے که ډیر هُنر وکړے
بنۀ نام دلے پریږده که هومره چړو کړے

وخت د بهار دے خوشحاله ځۀ کړے
سترګے هم تتے شوے ګل ته په ځۀ ګورم
ولے ګلګشت د ګلونو نۀ کړے
پیرئ چارے را باندِ وکړے

ماچه دا هسے درپسے ځان کړ
د زړۀ په حال هم واړه پوهیږے
د دُنیا کور هم درپسے وران کړ
که ډیر هوښیار ئې ځان دِ نادان کړ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو موړتے خاورے وی هومره دماغ ورکړے
دَ ملک دَ بند وبست خـــبرے

ننه په زړهٔ کښے دَ عقل چراغ ورکړے
فکر دَ کښت وَ دَکر دَ باغ ورکړے

خوشحاله خوبه فکر تد بیر کړے
چه نیکی بدی درته رسیږی

غم به دِ ورک شی دا کار کهٔ خیر کړے
کهٔ حواله ئے تهٔ په تقدیر کړے

ځوانی چه لاړه ورسره لاړے
بیا به په بیارته ځوانی رانهٔ شی

ډیرے خوبئ کهٔ ژاړے ژاړے
کهٔ ئے له پیره له طبیبه غواړے

چه چا ته ورکړے بیائے پرے زباد کړے
کهٔ تُوره ماته کړے په جنګ کښے هیځ ئے

خپل ورکړه کوره واړه برباد کړے
کار دَ مړانے چه چا ته یاد کړے

درخوهوښیاره وه ځان ئے نادان کړ
تل ئے دَ موراو دَ پلارپیغور تا ړهٔ

نوم ئے بد اصل دَ آدم خان کړ
په زړهٔ مئینه کارئے دا شان کړ

دم واههٔ نهٔ شی داچه خدائی کړے
چه دواړه توکه دِ یورنګ پیدا نکړل

خوک فرعونی کړے خوک موسائی کړے
کبریائی کړے کهٔ دانائی کړے

څوړکے خونے وی چه مرکی لُوټ کړے
مرګ یو تریخ جام دے درته نیولے

خوخلقے ئے سره کُوټ کُوټ کړے
خوبه ترے خولهٔ نیسے دا جام به کُوټ کړے

اے چه له مانه علم مکتب غواړے
روغ ئے کهٔ روغ نهٔ ئے راته ووایه

دود دَ عجم غواړے دود دَ عرب غواړے
له عاشقانو چه تهٔ مذهب غواړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل دِ پردی کړل پردی به خپل نۀ کړے
غم دِ په بڅرۀ شو ښادی به تل نۀ کړے

خصلت دِ بد شو خصلت به بل نکړے
چه نا قابل ئے ځان به قابل نۀ کړے

چه کنګه پیغله شوے کبر دِ ډیر کړ
چه سپینه خولۀ دِ ورته نومړے وه

خصلت دِ واړه په بل بل پیر کړ
هغه دِ ولے له دِله هیر کړ

اے چه یاری کړے به څو څو غاړے
یار دِ دَ خپله لاسه په ګور کړ

په تله ورکړے په خروار غواړے
بیائے په هائے هائے په ورو ورو ژاړے

کۀ زۀ دِ ژاړم چه تۀ مِ نۀ ژاړے
کوشش به واړه ځما برباد شی

کۀ زۀ دِ غواړم چه تۀ مِ نۀ غواړے
مابه دَ غم په مزریو و داړے

مخ دِ له ورایه راته عیان کړ
نظر دِ هورے په بل بل شان کړ

اور دِ راپورے په خانمان کړ
آشنا مِ نۀ ګڼرے ځان دِ نادان کړ

څو به دِ تل وی دا آورے پاورے
څوځ ونۀ خورے کله به آورے

چه دِ په زړۀ وی په خولۀ نے راوړے
چه بلا غواړے په بلا واوړے

په درسته ورځه چه تلا توب کړے
خوشحاله پاسه دا سرپیتوب کړے

دَ دُنیا چارے په څۀ آشوب کړے
چه چرګ به ویښ وی تۀ به لاخوب کړے

چه خیال مکیز کړے هومره خونریز کړے
رانجهٔ چه پورے کړے په برندو سترګو

چه خپل عاشق سره خیال ومکیز کړے
خنجر دَ جنګ او فتنے تیز کړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوار زړه م واخست په تا م باندې کړ
سترګې د بازدې زړه م تمزرے دے

تر ډېرو ډېرو اندېښنو م لاندې کړ
خلاصے ئې نشته اوس ئې د وراندې کړ

خدايه دردمن کړے بے دردان واړه
خوشحاله ملک د بے دردو ډک شو

چه واړه ژاړی دِ ما په غاړه
دردمن په نوروملکونو غواړه

چا ته چه چاه کنے په چاه کښې پريوزے
په خوبه روغ اوسے دا فکر وکړه

بلا چه غواړے په بلا کښېوزے
په پړانګ پرهار وکړے بيا ورپسيوزے

POHA

د چا چه ډک وی زړګے له رازه
يا ئې د خولے نه څۀ بوئ روان شی

کۀ په ويل ئې نۀ کا خولۀ وازه
يا به ئې رنګ وی د مخ غمازه

کۀ په يجوړ لا يجوز پسے ؤزے
راشه په دين د قلندرانو شه

واړه کوهے دے پکښې به پريوزے
چه بے وسوسه په هر څۀ کښېوزے

درته به وايم دا دوه رموزه
خوچه د خپل وے خپل به د بل وے

کۀ بوهږے نۀ شے ليمۀ دِ ؤوزه
ترسيال به نۀ وړے خبره کوزه

پوهه

ترغرونو پريوزه ترزړونو پرے مۀ ؤزه
چه خوک ئې نۀ پسندی هر چا ته بد وی

د سرو مزريو په ډکه کښې مۀ ؤزه
په هغو هسے چارو پسے مۀ ؤزه

په غرونو مۀ څه ترغرونو پرے مۀ ؤزه
زړونو څۀ واړه برابر نۀ دی

ترغرونو پريوځې ترزړونو پرے مۀ ؤزه
دروند ترزړونو د مړونو پرے مۀ ؤزه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار ته بویه دا یو څو خیزه | چه مرنی وی ځما عزیزه
داد و دهش لری دین و دانش لری | نهٔ بې رښتیا وی نهٔ بې تمیزه

نیستی هستی ده کهٔ ته پوهیږې | لوئی پستی ده کهٔ ته پوهیږې
بده تر هرڅهٔ په دا جهان کښې | خود پرستی ده کهٔ ته پوهیږې

زړکې دَ ښکاره خورم بره دَ میږې | دَ سرو اوبو ییم دَ تودې غیږې
تنګ لنډې مهٔ کړه په دا خو توکه | بې نیازه خدایه کهٔ دُعام نغویږې

هوښیار ته کول شه کهٔ دیر پوهیږې | څو خاموشی کړې نهٔ به ستوهیږې
مکې چه ډک وی کله آواز کا | څهٔ ښهٔ دلیل دې کهٔ پرې ګروهیږې

څوچه توانیږې هومره نافع وسه | تل تل دَ نیکو دَ خصلت واضع وُسه
سودئ تر جود تر کرم دپاسه دې | دَ خدائ دپاره متواضع وُسه

کهٔ ته بادشاه ئې دَ تخت دپاسه | خدائ ته ګدا شه خبر شناسه
عارف په ځان شه دوست دَ سبحان شه | غیر فکرونه له زړهٔ وباسه

څو یه زړه دیر دی واړه عزیز وسه | په هره چاره کښې صاحب تمیز وُسه
خو یو بهرام دې په خوئ ناخیز دې | لکه ناخیز دې هسې ناخیز وُسه

په زړهٔ دَ واړو خلقو نیکخواه وسه | هدایت کړونې دَ هر ګمراه وسه
طمع له چا مهٔ کړه سخا په هرچا کړه | بې تخت و تاجه لکه بادشاه وسه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوئ دَ خوشحال راوړه په زړهٔ خوشحال وسه
مټین په شرم دشمن دَ مال وسه
په زړهٔ حلال اوسه په خولهٔ حلال اوسه
دَ نورچا مهٔ شه دَ ذوالجلال وسه

کهٔ هرخو ډیره ده دُنیا تر قیاسه
زهٔ به فتوٰی درکړم چه باک ئے نشته
څائے دَ دُنیا کړه ترنه ړهٔ دپاسه
دُنیا سودمنه وی و تا ته ناسه

په عدل وداد کښے په هرچاسم وسه
کهٔ ته هٔ په کبر دَ خان لوئ غواړے
وقارهم دادے په توره کښے کم وسه
کیدی دَ وژلوئے یومار لړم وسه

طباخ چه ووزی تر یو خو لاسه
پاتے خوراک ئے خوراک دَ سپیو دے
ورځنے وخوری دپاسه پاسه
په داخبرشه سخن شناسه

په شرم ننګ کښے دَ دُنیا ولاړ وسه
په خپلو باغ شه رود رودبار شه
دَ دین په کار کښے دَ دُنیا لاړ وسه
وبیګانه ؤ ته سخت لکه کاړ وسه

آسمان کهٔ نهٔ کا خِسّت دپاسه
چه تار په تارئے په خلق نهٔ کا
هکونه راشی دَ خوشحال ترلاسه
تهٔ داخبره له زړهٔ وباسه

دولت چه مومے دَ چا له لاسه
دے دِ په مثل پروردګار شهٔ
نکبت هم مومے له هغه ناسه
بدکړے کهٔ نهٔ ئے ترے بے هراسه

اندیښنے مهٔ کړه ډیرے درویشه
شکر غنی لره صبر درویش لره
دُنیا به نهٔ مومے ترقسمت بیشه
کهٔ کا هم دا دِ کا هرچه شی پیښه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې لرزه وه په ملک له جیشه
ګوره په ګور کښې هغه شاهان دی
زړه ئې ښاد کام ؤ وله هره بمیشه
چه ژغ ئې نهٔ شی دَ مرګ له طیشه

مادَ دانا کړه دا وینا خوښه
طمع مرغونه په دام بندی کا
راندهٔ دِ نهٔ څی بې عصا کشه
سرې خواریږی له خپله آشه

دَ ښو خبره ده په هر چا فرضه
دَ بد خواه ومنه دَ بنځو مهٔ منه
درته به وکړم پوره دوه عرضه
له مرګه مهٔ تښته تښته له قرضه

وخدائې ته خواردی بهتر دَ خلق
کهٔ خپل دَ خدائې ئې په حقیقت کښې
له ځانه پرې کړه باور دَ خلق
مومن دَ خدائې شه کافر دَ خلق

له زاغه زده کړه دا دوه درې توکه
بل چه دخول کا مخفی له خلقو
یو چه رزق نهٔ ږدی کاندهٔ ته روکه
بل چه په تراه وی له واړه لوکه

بارک مئین دې په دا دوه توکه
بولاق دَ ونځې په خوئ خصلت دې
په سپینه وازده په سپینه روکه
ورلره بویه لویه متروکه

کهٔ پند مِ نغوږې مکړه دوه توکه
دروغ خبره په خولهٔ رامهٔ وړه
خواست دَ خسنړی له خپله روکه
په کاروبار کښې له واړه لوکه

خومره دِ خواده وماته ړکه
هم دِ پیری کړه په ما تعینه
چه تشوې ئې په ما فلکه
هم دِ میرخئ کړه دَ مغل رالکه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نیلي سورئے کرکره لکه
دعوئ دَ کبر په زړۀ کښې کښته
کۀ فهم وکړے چینجے دَ غلوئے
هومره لوئي کړے دَ غلو ډکښته

تل ئے خبرے له بنسۀ خوراکه
ذکر مذکورئے له بنسۀ پوښتنه
خپل کسب هیڅ نه واړه لهٔ ظلمه
هے توبه توبه له هسے ښواکه

جن په حجاب کښے دَ مور له خنګه
مکرځان ژغوري دَ مرد له جنګه
کۀ په صحرا ګرځي کۀ کوڅه ګرده شي
شنده به وکا په خپله تنګه

هرګوره بنسۀ ئے دَ باغ سل برګه
سردِ راوکیښ دَ شیر له تخرګه
ستا په دیدارم سترګے خوږیږي
زړۀ م راووت دَ غم له درګه

کۀ زړۀ دِ خلاص وی دَ شک له زنګه
اندوه به نۀ کړے دَ غلیم له جنګه
برستن دَ خوب ده کۀ صف دَ جنګ دے
دا دواړه توکه نۀ دی دوه رنګه

کۀ سره تولے کړے دَ کلي چرګے
نۀ واړه چرګے نۀ دَ باز سترګے
نۀ دوه سو کښلے جونه بے باګے
نۀ یوه کښلے دَ پاکے پرګے

مغل بے قدره پښتون بے ننګه
توبه له تورے توبه له جنګه
تسبیح په لاس کښے په نظام پور کښے
ناست په مسجد کښے جمدر تر خنګه

غلیم م زړدے په دا دوه رنګه
لکه چه راشي ځي م له چنګه
بل په آسانه راځلره نۀ راځي
بے سپینے تورے بے ډیره جنګه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَخان مِ ولیدل اَخوان مِ ولیدل
یاران مِ ولیدل دوستان مِ ولیدل
چه بنهٔ مِ خیر کړل واړه سړی نهٔ دی
سکان مِ ولیدل ددان مِ ولیدل

چه ئې مخمور پې وې سترګې بې مُله
سنبل ئې هیڅ وُو تر بنهٔ کاکله
وګوره لاپهل هغه مخونه
چه بنائسته وُو دَ باغ تر ګله

راشه کهٔ ګورې اهل نا اهل
یو ابوبکرؓ وُو بل ابوجهل
په ابوبکرؓ محمدؐ نمر وُو
په ابوجهل تر سهاسهل

دا سر کلونه ګوره خوشحاله
ګوره چه څهٔ شی تربله کاله
لکه چه ګل دے هسے ستا عمر دے
راشه خبر شه له دے مثاله

کهٔ ډیر اغزی لرے په ځنګ کښې ګله
اغزی دِ نهٔ وینی شیدا بلبله
چه پرے مئین وی عیب ئې نهٔ وینی
هرڅهٔ ئې اَخلی بے تامله

یاران مِ لاپهل تر خاوره لاندِ شول
موږه ئې پریښو تر موږ دَ وړاندِ شول
په ګور ئې ورشم سپانده پرے ووینم
مګر زموږه دپاره سپاندے شول

چه دَ لیدلو وُو هغه مِ ولیدل
چه دَ خوړلو وُو هغه مِ وخوړل
آخر کهٔ ګورے دا واړه هیڅ دی
لکه مِ وویل هسے مِ ومنل

دایم زهٔ تیر شوم تر اَویا کاله
تهٔ راخبر ئې یا ذوالجلاله
داغم مِ نهٔ دے له اعداء لیدلے
لکه ئې وینم له خپله خیاله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ لوئے ملاشی په لوستل لوستل    آدم کهٔ نهٔ شی لوستن دی لوستل
ځنې لوستل کا ځنې لوستن کا    په شان شان کیږی سبق اَخستل

وخت دَ پیرئ راغے خوشحاله    لاړ دِ په زړهٔ دی دا یو ښو خیاله
خیال دَ ننګونو خیال دَ جنګونو    خیال دَ دلبرو له خط و خاله

دَ مرد دَ علم دَ هنر له حاله    زر خبردار شی له قیل و قاله
دَ نفس له حاله هالهٔ خبر شی    چه ورسره وی په یو ښو کاله

خبر هیڅ نهٔ یم له خپله حاله    حال به مِ ښهٔ کړے یا ذوالجلاله
تکیه مِ ستا ده ستا دَ کرم ده    دایم در تلونے شوم ډک له وباله

کهٔ بنانسته ئے په مخ تر ګُله    بوئ دَ جفاځی ستا تر کاګله
ګُل کهٔ زیبا دے چه بے وفا دے    ځکه فریاد کا ځنې بلبله

ګُل ته ګویا شوه دَ باغ بلبله    چه ناز ډیر مهٔ کړه دَ چمن ګُله
ګُل وے په بخره دَ کښلیو ناز دے    خبرے مهٔ کړه بے تأمله

ګُل ئے په شونډو په مخ منګلِ    سترګے دَ باز دی بانړهٔ منګلِ
کهٔ یولک کښلے وبله تولے شی    یولک من تهٔ ئے نورے من ګُلِ

غریب یم بولم دَ غربت بدله    رنځور شو دواړه دَ بابا دِله
نابود بولاق دی کهٔ بروړے دی    راغلے مهٔ وے ستر برمَوَله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه هیڅ خبر نه یم له خپله حاله — هغه جنین یم بې قیل و قاله
وېږې شم وژاړم موړ شم خندا کړم — هو مره پوهیږم په خو اشکاله

دایم که زړه له دلبرو ونیسم — پسې ښندیږم زړه به په څه نیسم
خوږ ژوند ون دې په دا دُنیا کښې — زړه به له کښلیه مخه ونه نیسم

ماوې چه تا به دَ ځان په رنګ کړم — لکه ملنګ وې زه دِ ملنګ کړم
سړ دَ وهین شوم تر بله کاله — دَ ځان به لویه مصلّی لنګ کړم

نه مرد دَ کفر نه مرد دَ دین یم — نه دَ ګمان یم نه دَ یقین یم
په دواړه توکه مذبذبین یم — هم په زړه توږ یم هم په زړه سپین یم

قرآن دَ وړاندِ په لاس کښې جام لرم — په لون لون حلال حرام لرم
عمل مِ تریخ دے که خوږ کلام لرم — نه درست کافر یم نه درست اسلام لرم

لینده چه نه وی په غوږ یوسمه — غشے چه کوږ وی پر خانه کمه
نه به دَ نخښې ګذار پرے وکړې — نه به په غشی کړے غرځه بے دمه

دا ته ئے یاره که دا زه خواب وینم — دا ته ئے یاره که په شپه آفتاب وینم
چه ستا دَ زلفو نکهت مِ ولیده — مه تورعنبر وینم مه مشکناب وینم

چه جدا شوی یاران ترنړه کړم — لیمه په ډیرو ژړلو سره کړم
کښینم بیا صبر دَ خدائے په کړه کړم — چه صبر نه کړم وایه بیا څه کړم

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډير فکرونه چه صبح وشام لرم
خلق په مينځ کښې دَ اختيار خبرې کا

چه فکر وکړم وا ړه ئې خام لرم
فکرِم وکړ دَ اختيار نام لرم

دَ چرخ له څرخه وخرخ ته سازشوم
لکه په لاس دَ بې شناختو کښيوزی

نيازمن دَ هر هرناکس دناز شوم
هسې بې قدره پَر ماتې باز شوم

په زړهٔ کښې ستا دَ کوڅې غبار لرم
پريشان دَ زلفو بيمار دَ سترګو يم

په سرکښې ستا دَ پيالې خمار لرم
زړهٔ دا دوه توکه له تا يادګار لرم

په غم دِ سوے لوغړن زړهٔ يم
دَ عشق سوارهٔ دِ په ما هراند کړ

صبا بيګا دِ په اوښکو اوبهٔ يم
په رنګ زبيښلي شوے په زړهٔ يم

مست يم په سرکښې مستی دَمے لرم
رقص مِ په تار دَ هغه رباب دے

چه په نشائے ککککے لرم
چه په نغمه ئے ههههے لرم

پيری په ما راغله زړهٔ ئے خراب کړم
هر هر اسباب ئې له مانه بيوړه

په پيچ وتاب ئے دَ هر اسباب کړم
فائده مِ کُمه چه پيچ وتاب کړم

يار مِ کافر دے زړهٔ مُسلمان يم
زړهٔ ئې ځما له ګوګله وکيښ

دَ دهٔ له بده خويه په ځان يم
ځنې په ويره دَ خپل ايمان يم

ځار شم بلهار شم دَ يار ترنامهٔ
باد چه راوالوزی دَ يار له لوريه

دَ يار ترخطه ترښهٔ پيغامه
ورسره راوړی خوښی تمامه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنځ خوځما دے چه هسے یار لرم
کله راته کښیني په تا ډیر کار لرم
چه ئے له لاسه داژړه خوار زار لرم
در به ئے پرانزم دَ کیلو بار لرم

تاچه پیدا کړهٔ هومره اَقوامه
تاچه پیدا کړل حکمت ئے تا زده
حکمت دِ څهٔ دے یا ذوالاِکرامه
مونږه هیڅ نهٔ زده په دا تمامه

چه ځان ته ګورم لاهسے ژړم نهٔ یم
چه غابښ م پریوتل فساد را وشو
چه ځنو ځنو چاړه وته جوړ نهٔ یم
کهٔ هرڅو غوښے خورم په غوښے موړ نهٔ یم

نه زړه په کور کښے نه کښت وکار لرم
رازق دَ خلق ئے په دا اِقرار لرم
دا بست له ځان سره تل سل بسیار لرم
څهٔ غم چه تا غونډِ پروردګار لرم

له خپله بخته و چا ته ژړا کړم
نور م توبه ده کهٔ اکوړے راشی
زړهٔ م اغیار شی چه زهٔ ئے یار کړم
نهٔ به ئے یار کړم نهٔ به ئے پلار کړم

زهٔ کهٔ مے خور یم یا شاهد باز یم
اَندوه م نشته خبر په راز یم
فسق وفجور کړم ګنده په نماز یم
په وَلَا تَقْنَطُوْا وکرم ته ساز یم

ژړهٔ تا پیدا کړم په تا قائل یم
ولے چه بیا به دَ بل ژوندون وی
کهٔ بیا م وژنے دلګیر په دِل یم
هرچه ته وائے زهٔ په منل یم

دَ کوب وچوب دی دا خو اَقوامه
اَسونه خرونه مریونه وړکی
اول عورته واوره اے خامه
بل رعیت دے په دا تمامه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالق خُمانۍ په دا پوهیږم حکم دِ حق دے منم کړو هیږم
چه دِ ظلوم او جهول پیدا کړم په بد رم نیسے دا آندوهیږم

پیری په ما راغله زهٔ نے تاراج کړم نه زهٔ نے محتاجو وته محتاج کړم
ږنخ دَ پیریٔ دے بتر بتر شی فائده نے کمه چه نے علاج کړم

منصور چه مست وُو له هغه جامه جرعه نے راغله خُما تر کامه
منصور په دار شو زهٔ بهلا نور څهٔ شم کهٔ راز م ورشی ترخاص و عامه

کهٔ وینے ژاړم گریوان چاک چاک کړم په غولی کړم غوغا بلغاک کړم
په دا به تللی یاران رانهٔ شی سکه بائده دادی چه ځان بے باک کړم

خواره حیرانه بنی آدمه په هیڅ غمژنه په هیڅ بے غمه
خاندِے وژاړے خاندے دا چار دِ تل ده له عمره سمه

بتر عینځ تیر شوم دا هسے زهٔ وینم احول یو دوه وینی زهٔ یواوهٔ وینم
ترف کهٔ درشم غفد ۱۰۹۲ سر کال دے اوهٔ به شل وینم دا کارنهٔ بسهٔ وینم

کهٔ هرڅو مست ئے اے دُرد آشامه مستی دِ هیڅ ده خُما ترجامه
تهٔ لاخبر ئے له ننګ و نامه خُما مستی ده علی الدوامه

اولاد م ډیر دے منت دَ خدائے لرم دواړو مهر په زړهٔ کینے ځانے لرم
یو څو بدبخت دی زوال ئے زر وشه دَ دوئ له بده خویه هلنے هلنے لرم

POHA
پوهنه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړک رانږدے راغے پیرئ کړ کړم
غابښونه لاړل غم دَ بصر کړم
وخت دَ آرام وُو دَ زړهٔ دَ کام وُو
قسمت په غاړے په غرونو سر کړم

تل به شړلے لیږلے تا یم
بیا په داکار کښې کږلے تا یم
چه ستا په نهٔ دیدن دَ خندن شوم
کهٔ مِ تهٔ نهٔ وژنے وژلے تا یم

چه ځان ته وګورم ځان ګنهګار لرم
دَ نفس له لاسه فریاد چیغار لرم
حال مِ به څهٔ وے کهٔ استغفار نهٔ وے
شکر چه ژبه دَ استغفار لرم

دَ مرد چه نهٔ وی وینا محکمه
په دهٔ به نهٔ شی درغله سمه
چه یوځ زړهٔ وی یوه خبره
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه

خبر دَ دهر په مکر دَ سوه شوم
دا زړهٔ چه ښاد شم یا په اندوه شوم
نهٔ ئے ښادی شته نهٔ ئے اندوه شته
دوا په فساد دی چه بنهٔ پرے پوه شوم

مړک رانږدے راغے زړهٔ لا غافل یم
په شور و شرکښې دَ دُنیا تل یم
په تور ویښتهٔ مِ سل ګناهونه
په سپینه ږیره لا ډیر خجل یم

کهٔ تهٔ جفا کړے زهٔ به وفا کړم
کهٔ تهٔ بنیرے کړے زهٔ به دُعا کړم
خودا جهان دے هومره دِ تهٔ وے
کهٔ تهٔ مِ نهٔ وے نیاز به په چا کړم

خویه کهٔ هسے وی لکه چه زهٔ لرم
کهٔ هر څو ډیر دی یو خویه نهٔ لرم
یو یحیی خان نهٔ شو یوا کوږے نهٔ شو
چنجو منجو دی پټ به ئے څهٔ لرم

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښکار په کار کښې که هر څو ښه یم
چه باز مې ځان دې هغه یو زړه یم
په باز که هر څو قاز او کلنګ نیسم
زیره مې سپینه شوه میر ښکار لاندې یم

دا آزمیښت کوره په ما چه زوړ شوم
له نوړو چا رو په زړه کښې سوړ شوم
را پاتې مینه د ښو دلبرو ده
چه زوړ شوم لاړې په عشق کښې جوش شوم

خلق چه هوښیار دي زړه لیونې یم
نه اوسنې یم لا لرغونې یم
هغه چه لاړې د هوښیارۍ کا
نښې دړې دي پکښې ګڼې یم

هو مره خطا لرم څو چه عاقل یم
هو مره هوا لرم څو چه فاضل یم
تسپې په لاس کښې زړه په وسواس کښې
ولاړ په باطلو کاړونو تل یم

اوس زه په خپلې چارې خورسند یم
مال ملک مې نشته زاهد خرګند یم
خو دا عالم مې وریښې نه پرېږدي
لا ځنې نه شلیږم په قسمت بند یم

توبه مې وکړه له میو پیر شوم
پسرلې چه راغې په زړه دلګیر شوم
د ګل په مخ مې باده را واخسته
بیا د ځوانۍ وکارته خیر شوم

مرګ د نا اهل صبا بېګا غواړم
دعا مې دا ده الله الله غواړم
ځما توبه ده د بهرام له خیره
د ده له شره امان پناه غواړم

لکه ملنګ وې زه دې ملنګ کړم
لکه بې ننګ وې زه دې بې ننګ کړم
څوک یې خبر دې د ذاته نه یم
په څه خپلوۍ دې د خان د خټک کړم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سردارئ چه پوهيد لے يم
ورځئے وتبنتم په غاړے غرونو
سرداری غم ده ترے ترهيدلے يم
لاړ ئے تراوسه په غم نيولے يم

چه خپل عمل يادکړم خاورے په سر لرم
وخت دَ حساب راغے بله تکيه نشته
ډک له ګناهه تمام دفتر لرم
تکيه دَ خدائے لرم دَ پيغمبرؐ لرم

کۀ نور په نوره چارو جلی ستائيم
ورور دَ رسولؐ دے وربانډِ بنائی
زۀ به دَ توره په کار علیؓ ستائيم
کۀ ئے له فرقه بيا ترتلی ستائيم

دَ چا چه نۀ وی دَ سترګو شرم
ځئے امان غواړه کۀ دِ پسر وی
درته به نۀ وی په پندونو نرم
پلار والے پريکړه دَ بے آزرم

کۀ دِ له خويه چا ته فرياد کړم
په دواړه توکه ځما پروا نکړے
يا هيڅ دم نۀ وهم صبر بنياد کړم
يو ځۀ نا ترس ئے ځۀ به دِ ياد کړم

په غم کښے شوخه بنی آدمه
شيرين ياران دِ په مرګ جداشی
درباندِ راشی څو څو ماتمه
سخت ئے چه نۀ چوے له ډيره غمه

زۀ په خپل ملک کښے خودا دوه دم لرم
يوه مِ توره دويم مِ ډال کړ
بنا ئُستله پردے نصرت قدم لرم
په دا څو توکه عرب عجم لرم

په خوب کښے هر کله بوئ دَ دُنيا وينم
مګر يک لخته دَ دُنيا سرے يم
جرګے جنګونه هوس هوا وينم
چه نۀ يو شيخ وينم نۀ يوملا وينم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر هیڅ نهٔ وم چه ورځ وه کومه
غمه په چرته غلط دړومے
چه زووم سعد وه که نحس شومه
غرض په ما لوے دلے رادړومه

شهره په واړه عالم مدام بنهٔ یم
شیخ ته شیخ ئے زهٔ رند هیڅ مهٔ وایه
پرییږده په خولهٔ کښے دخاص وعام بدیم
ته دِ نیک نام اوسے زهٔ خوبد نام بنهٔ یم

مرګ را نزدے شو زهٔ دا ارمان لرم
آرمان م جُونه دی دَ نام جنګونه دی
کهٔ نړوړ لیدهٔ شم اختیار دَ خوان لرم
مقصود م بنکار دے غم دَ ایمان لرم

نړوړ کړم غمونو دَ آشنا زوړ کړم
خوځو تاوُونه را باندِ تیر شوهٔ
له کل هوسه ئے دَ دُنیا سوړ کړم
کُومے م وچ کړ هجران رنځوړ کړم

پریشان په ځان کښے په ډیر حیرت یم
چه تل م ځائے شول غرونه رغونه
خهٔ وم دا خهٔ شوم په خهٔ حالت یم
زهٔ دا په چا پسے مجنون صفت یم

چه سر دِ خوږ شی آمان آمان کړم
خو دا جهان وی هومره دِ تهٔ وے
وایم چه رنځ دِ واړهٔ په ځان کړم
کهٔ نهٔ اور به پورے په درست جهان کړم

دَ بنکار په کار کښے زړهٔ دَ ځوانئ لرم
سترګے هغه نهٔ دی قوت هغه نهٔ دے
غم دَ پیرئ دَ ناتوانئ لرم
چه باز په لاس کړم خوحیرانئ لرم

ولے جنت لرم حور او قصور لرم
چه وائے هسے دی واړه منلی
بل دار تردانه په نعمت پور لرم
ما ته دا پرییږده چه دا حضور لرم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ دا گناه دے چه په تا چُورچُور یم    سکه سرتر پایه له گناه پوُر یم
دَ تورو زلفو په مار دِ وخوړم    گونه م زیره په زړهٔ رنځور یم

په غم غمژن وُم په خوب کړمن وُم    خلاص له غمو نو ستا په دیدن وُم
په خوب په هسے رنګه اودهٔ شوم    چه خلق ویښ وی زهٔ په خفتن وُم

خواره حیرانه بنی آدمه    چه دِ خمیردے خاورے له غمه
یو دم کهٔ وخاندِ په دا دُنیا کښے    بیا دِ ژړاوی په څو څو دمه

کله دَ خاصو نصیحتونه    کله دَ عامو ملامتونه
لا دَ اوله په عشق کښے دا دی    بیا پسے نور نور فضیحتونه

نادان په سر لری څیره زرینه    هوښیار دوه گزه پینکے لرینه
ترهرڅهٔ گوره دا بد ترینه    نادان چه پائی هوښیار چه مرینه

دَ مرد چه نهٔ وی لمن خیرنه    پاک وی په ژبه پاک وی په ژمنه
کهٔ زر بلا وی اندوه دِ نهٔ کا    فرښتے به واړه وی بلاله دهٔ نه

ځوانی م لاړهٔ په غفلتونه    په عسرتونه په شدّتونه
لولئ چه زاله شی تسپے په لاس واخلی    هسے م اوس دی دا طاعتونه

وچا ته وایم دا بنهٔ پندونه    چه دَ منلو مات شول بندونه
پلار دَ خپل رائے شو ځوئے دَ خپل رائے شو    جُدا جُدا دی سره سندونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه غم ئې نهٔ وی له ناحقه خونه     اوربه ئې ولګی په درسته خوښه
نیست ونابود به شی په دا دُنیا کښې     هوړې به پاسی تور تور نخوښه

پند دے سودمند ئې واوره تُوړ نه     آسانه نهٔ ده دَ سرشنده
مصلحت مهٔ پریږده دَخپله لاسه     هم به خپل راز لرے دَ زړهٔ دننه

کارچه خفه شی په اَفکارونه     واړه ابترشی هغه کارونه
څنې کارونه نن لکه ګل دی     کا نده هغه شی لکه خارونه

تاته چه شمار کا دَچا عیبونه     چاته به شمار کا دستا عیبونه
دَسخن چینو مخونه تور شه     په مخ ثنا کا تر شا عیبونه

اے چه خبرے کړے خوږے شیرینې     ولے دِ وُوتے په عمل کښې سپینې
ګفتار سور ګُل دے دَ انار دَ ونے     کردار اَ نار دے کهٔ ته ئې وینې

هومره ثواب دے څومفسدان وژنې     څومفسدان وژنې ګنړه دَدَان وژنې
وبال ئې واړه ځما په غاړه     فتوٰی دَ عدل ده څوچه بدان وژنې

کهٔ کانړهٔ نهٔ وے دَچا غوږونه     مونږه به ووے دَسُود پندونه
کهٔ ړندے نهٔ وے دَخلقو سترګے     مونږه به وښئیل ورته ملکونه

کښلی خوانان دی کهٔ کښلی ځُونه     پرے م سلام دے مونږه به ځُونه
سخ دَ هغو دے چه لمن پاک وی     قضائې نهٔ وی روړے مونځونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخست چه نهٔ شی په غاړے غرونه
مست مست باړونه به مست مست اوښاوړی
ورے دَ عشق دے مونږ ئے وړونه
غرض پرے څهٔ لری غوا یهٔ پاخرونه

تاچه پیدا کړل هومره ملکونه
کهٔ تا پرے نهٔ کړے دا بارونونه
ربه په تا شی دا قدرتونه
واړه به هیڅ ؤو داسے غرونه

ربه چه مات کړے دا صورتونه
دَ نورچا نهٔ دی دا صنعتونه
بیا به ئے ساز کړے په حکمتونه
ربه په تا بنائی دا قدرتونه

دروغ کهٔ اَوړی بلا له تا نه
رښتی پرے مهٔ ده له خپله لاسه
دروغ خوئ مهٔ کړه اے خُماجانه
خدائے به په تا کا ګرانه آسانه

دَ شیخ شاب سره تل طربانے
هغه به ولے غم دَ پیریٔ کا
دلبرے ښے دی بے آدبانے
چه تل ترخنګ لری شکر لبانے

نهٔ سره سم دی واړه مړونه
زړهٔ هم هغه ګنړه چه لکه غرشی
نهٔ سره سم دی دَ هرچا زړونه
کهٔ باندِ راشی هزار غمونه

چه تجلے ؤو هغه مخونه
دَ صورت ونه نا بوده ونه ده
سپیرے ایرے شول دَګور په خونه
هم ئے بنا خونځی هم ئے ویخونه

نه اوس خپلوی شته نه پیوندونه
خوشحاله بس کړه خاموشی ښه ده
ګل سره نهٔ دی دَچا سندونه
وچاته واٹے دَ سود پندونه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین چه خالی شی له ښځه یقینه — کفر بهتر دے تر هغه دینه
چا دا خبره ځهٔ ښه ویلے ده — ماته لینده ده ناقصه مینه

کهٔ دِ هر وکړ دَ دُنیا عیشونه — کوټونه مات کړے په خپل جیشونه
عمر دِ ډیر شی له جم دَ عمره — په تا به وشی دَ مرګ طیشونه

نهٔ اوربشینه دَ خپلے خونے — نه چه غنمینه دَ بلے خونے
ځنو بے ځایه خونے تالا کړے — په ځائے مردانو خوړ ولے خونے

دَ مرد پیغور ده جامه وریښمینه — نهٔ دِ مهینه وی نهٔ لا رنګینه
دا کِسوتونه دَ ښځو بو یه — شیوه دَ مرد ده په جامه سپینه

نفس په آرام دے زړهٔ په خوندونه — دا د واړه زده کړه واوره پندونه
نفس په لونده په وچه آرام وکا — زړهٔ په خوندونو مات کا بندونه

قرآن چه لوست شی په هغه خونه — ځنے به دیو کا خیمه بیرونه
خوچه ښادئ دَ دواړو کونو وی — پرے به دَ دهٔ شی خونه مشحونه

دُنیا م ولیده دَ دُنیا کارونه — ښادی ئے غم دے ګل ئے خارونه
خو درته پریوزی په انبارونه — په زړهٔ دِ پریوزی هومره بارونه

زړهٔ تا پیدا کړم له ماؤطینه — بخره دِ راکړه دَ دین متینه
دین م منلے دَ پاک رسولؐ دے — ځما توبه ده له غیره دینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خهٔ ښهٔ بادشاه دے شاهِ جهانه
چه ته ئے بند کړے څو یه دِ نهٔ دے
هم غور رسه هم قدر دانه
یوهٔ بلا دے پیدا له تانه

هوښیار هغه دے چه سخت جنګونه
نادان هغه دے چه په کار دَ صُلحے
ترخیره راولی په فرهنګونه
ګډکا دَ شر دَ فساد رنګونه

په فتنو ډکه توره آسمانه
چه بل یو نوے جهان پیدا شی
لا به دِ کله شی دا خونه ورانه
ګوندِ څوک بیا مومی خلاصے له تانه

ما ډیر نیزلی دی بدخوئ آسونه
تکه هیچرے په متروکه نهٔ ځی
چه غلا دَ زړهٔ لری بد وسواسونه
کهٔ په وهلو سرهٔ کا لاسونه

هم مِ دولت شته هم مِ ملکونه
دا واړهٔ هیڅ دی په کوم حساب دی
هم مِ ځوانان دی هم لوئے لوئے غرونه
چه پکښے نشته ښهٔ ښهٔ مړونه

چه عاشقی کا پریږدی ننګونه
خپل زړهٔ خالی کا دَ یار و مینے ته
قبول کا تُورے تُوبری جنګونه
له زړهٔ نه واخلی نور نور رنګونه

کهٔ هر څو تیرئے تر صحبتونه
لا به په خپله ژبه ډیر فهم کړے
علم اَدب لرے فصاحتونه
دَ ژبے ډیر دی قباحتونه

بلبلے څهٔ غواړے له ګلستانه
لکه خوښی دَ ګل دَ وصل وی
ګل به بیا نهٔ مومے بے له خزانه
غم به ئے هومره وی بیا له هجرانه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسر ترپا یه کښلي مخونه
هر مخ چه وویني زړهٔ دِ پرې خوښ شي
دا یو یوسف ؤو دَ پلار په خونه
مخ هم هغه ګنړه کړه پرے سخونه

ونه تل نهٔ وي سره یکسانه
خوشحاله مهٔ کړه مانړه له چانه
لښته وي ونه شي ستهه شي جانه
تهٔ هم آسمان کړے په څو څوشانه

هغه مِ سترګے وے چه په ملکونه
پیری چه ساغله چه رانزدے راشي
غرځهٔ به مالیدل په لړے غرونه
هالهٔ بهٔ ځیرکړم آشنا مخونه

کهٔ عقل ورک شي له دے جهانه
هیڅوک به نهٔ وائي چه زهٔ نادان یم
هیڅ پاتے نهٔ شي اے حمًا جانه
هریو به بنهٔ ګنړي ځان له لقمانه

دولت خیمه ده څویه میخونه
غم دَ مور پلار دَ دولت ناتاروي
ښهٔ څویه زیږي دَ پلار په خونه
تورشه دَ بدو څویو مخونه

خوشحاله چاته وائے پندونه
کهٔ زړهٔ دِ وارکا شه به قرار کړه
خلق خوشحال دي په خپل سندونه
مات دي دَ پند دَ باړے بندونه

نظر م وکړه په کتابونه
نورے به نهٔ شي آزلي چارے
ډیرے بنئیل دي ډیرے بابونه
کهٔ ثوابونه دي کهٔ عذابونه

هغه م سترګے دي چه په ښکارونه
اوس چه باز واچوم غوته ئے نهٔ وینم
غرځهٔ به مالیدل په کوهسارونه
آه دَ پیریٔ دي دا آثارونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرهم په زړه بړده په پرهارونه
په هره هره سوړه لاس مهٔ منډه
دانا به گل کړی نادان خارونه
پکښې به خوب کا خوني مارونه

چه درسره کښيني يوځو شيطانه
سود به دِ نهٔ وی بيا به ارمان کړے
يا ران به لرے کړے له خپله ځانه
ارمان به يوسے تر گورستانه

چه خبردار شوم له دے جهانه
هوښيار لا هومره په ځان خوښېږی
خهٔ مسخرے کا په هرچا ځانه
لکه نادان کا خوښی له ځانه

خوشحاله مهٔ کړه مانړه له چانه
په تا چه کيږی دا هومره چارے
فکر په زړهٔ کښے وکړه اے ځانه
بلا دِ واړه ده له خپله ځانه

هغه چه نهٔ لری په نام و تنه
کهٔ سکه ځوئ دے يوسکۓ وکړه
ورځ ته مهٔ کړه دَ هغهٔ کتنه
په ښهٔ په بدۓ مهٔ کړه پوښتنه

ښځه چه پاکه وی او پاکدامنه
پل دَ ناپاکے لکه اوربل وی
دَدے به نور وی خونه روشنه
په خونه بل شی دَ دے له تنه

درته به ووايم دَ ښکار رازونه
ترمينځ به خلاصه شی دَ ښکار هيلۍ
چه سره ونښلی دَ ښکار بازونه
آسمان ته درومی په پروازونه

دا منصبونه دا انعامونه
پښتون مغل به سره دوستان نشي
واړه زندۓ دی واړه دامونه
خوشحال ۓ مهٔ وينه دا اکرامونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اِکـرامونه دا اِنعامونه — دَچاپه یاد دی هسې کامـونه
په بوئ دَ میُو مست شم صوفی یم — ساقی را سر کړل ډک ډک جامونه

عثمانؓ دِ ووژنهٔ خونی آسمانه — علیؓ دِ هم کړ په تیغ بې ځانه
حسنؓ حسینؓ دِ دواړه شهیدان کړل — اوس به ته‌ٔ واړوې تُوره له‌چانه

دَ نیک خواهانو تربیتونه — دَ بد خواهانو سـیاستونه
چه دائې نه‌ٔ وی ملوک ئې مه‌ٔ بوله — که‌ٔ هرڅو بنه‌ٔ وی په خصلتونه

که‌ٔ کښلې ټولې شی سره لکونه — را باندِ پریوزی دا فلکونه
خپل یار به هیچرې پکښې غلط نکړم — که‌ٔ دامِ سترګې وی دا کولکونه

که‌ٔ ډیر ښکارونه وُو که‌ٔ ډیر بازونه — واړه ېم ولیدل نور نور رازونه
چه خبردار شوم په انجام دَچارې — یا ژغ دَ تُورې دې یا نمازونه

لاړې دشوارې غاښې غاړونه — اوښان پرې بیائی په قطارونه
که‌ٔ روئې دَ غرهٔ په سربه ځې — دَ غرهٔ په سربه ځې کښلی بارونه

چه دَ شیخئ نمط لـرینه — شیخی دِ کاندی په ښیره سینه
ځوانی به ولې حبطه ځئینه؟ — بنه‌ٔ مخ دِ ګوری ؟ راب دِ څښینه

په باغ کښې ګوره لاله ګلونه — یاقوت پیالې دی غواړی ملونه
ساقی را پاسه تردا دپاسه — بې میُو نشته تحمـلـونـه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنډ پنډ شکرے ھسے شیرینے — په هر سپي نغرے په مخ نسرینے
مڼین ستا ھسے په غم کښېنے کسی — تلی خبرے ستا شکرینے

ډوډئ غنمینه وی کۀ اوربشینه — په وخت دَ لوږے خوږه لګینه
موږ دَ نبا تو حلوا ته نۀ ګوری — هوښیار به پوھ شی په دا رازونه

کۀ باوری شی دَ ښکار بازونه — بیائے نظر وی په پرواړونه
ښئے هم ھسے دَ ښکار بازونه دی — هوښیار به پوھ شی په دا رازونه

چه بدئے ژواک وی بدئے رنګونه — نۀ مصلحت لری نۀ آهنګونه
نۀ ډیر دولت لری نه ډیر عزت لری — له هغوخۀ غواړے شرم ننګونه

کۀ ته وفا غواړے له مانه جانه — وفا به نۀ مومے له دے جهانه
وفا به بیا مومے په بل جهان کښے — چه غرضونه وُوزی له میانه

په تاکۀ راشی ډیر محنتونه — یا راحتونه فرا غتونه
تۀ ئے په نورچا حواله مۀ کړه — چه ازلی دی دا قسمتونه

دَ ملوکانو دَ قرب بامونه — لوړ دی پرے مۀ خیژه په ډیر کانړو
کۀ ناګهانه ورځنے ورغړے — سروغ به بیا نۀ مومے خپل اندامونه

خدائے دِ اضغاث کا دا وران خوبونه — چه اوس ئے وینم په آشوبونه
دَ روم لښکرے په هندوستان راغلے — نسکور دَ شاه دَ خیمے چوبُونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسرتر پایه ککړ په غـلـو
کښینه مستانو ته صفت دَ میو کړه
په لاس نیولی دسته دَ ګـلـو
نوم او ریدلے چیرے دَ مـُلـو

داکار سرېږو زده نهٔ دَ دَ دانو
عشا چه وُدری په سرد قطب
نظر چه کاندِ په فرقـدانو
جوزا نور تیر شی اے بخردانو

جهان په کام دے دَ وفا کیشو
عمل دَ ښو کا ښځۍ بلا تر ښو کا ښځی
قصد ئے له چا دے له بد اَندیشو
اے بد عملو په بدو پیشـو

شکر په دا چه له نیسته هست شوو
رُتبه به کاندہ په عمل مونده شی
عقل ئے را کړ خدائے پرست شوو
عمل کړئ ولے په همت پست شوو

سوګند مِ ستانه په سترګو تورو
پریږده له هرچا سره یو مخ وړم
په زړهٔ دستا یم په خولهٔ دَ نورو
له ما به څهٔ وړئ په کیسو سپورو

خاندم په زُهد دَ فاسقانو
چه نهٔ ئے دین شو نهٔ ئے دُنیا شوه
خاندم په بدل دَ احمقانو
چارے به ئے نهٔ وی دَ لائقانو

یا بد تر ښو کړه دَ پردیو خپلو
دَ دواړو توکو سُود زیان خپل ګورم
یا غم تهٔ واخله توبه تر تلو
حاجت هیڅ نشته نور دَ ویلو

یارئ ښے وی دَ ښو بخردو
دَ ناکسانو یارئ دَ دو دی
چه پکښے نشته وهم دَ بدو
سود مِنے نهٔ دی یارئ دَ دَ دو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپاتے یو نهٔ شو دولس م ترونه وُو
غهٔ بادشاهان لاړل غهٔ غهٔ خانان لاړل

لاړل فنا شول چه اولسونه وُو
چه په دربارئے ولاړ زرګونه وُو

کښلې دلبره دَ ښوارلس کالو
راغله زر لاړه ځما زړګے ئے

خولهٔ ئے خوش رنګه حقه دَ لالو
یو وړ په دواړو سترګو ملالو

واورے چه ووری په سپیرو خاورو
په مینځ دَ دلو په مینځ تیری کښے

خاورے سپین زر شی په سپینو واوړو
سمه غر سپین شو په سپینو واوړو

بنهٔ وصیت دے دَ بخردانو
بدان دِ ځان وړی هم دِ ایمان وړی

یار دَ دانو شه نه دَ بدانو
ایمان خو خلاص کړه خپل له ددانو

کلی م ولیدل دَ ناکسانو
ګوتے په هیڅ پسے دَ وړونهٔ دی

واړه په خوئ کښے دَ ګرګسانو
خپل ګذران بویه هم نفسانو

پیغمبران وو شاهان خانان وُو
له دے جهانه هسے روان شو!

ډیر خوښ له ځانه بنهٔ بنهٔ ځوانان وُو
وائے چه کله په دا جهان وُو

کهٔ چیرے وار راغے بیا به خبرے کړو
دا ډیر زنګونه چه پراتهٔ په زړهٔ دی

خلق به ویر کا مونږ به سندرے کړو
طمعَ امید لرو غوندِ ئے لرے کړو

پیرئ پرے یُستم له تالا شو نو
هغه خوړل نشته هغه لیدل نشته

هائے کښلیو سترګو کښلیو غاښُونو
لاړم له نورو بنهٔ معا شو نو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږه میرې یو په مزکه گرځو  دَ نس له غمه و بله غوږ زو
بنهٔ ځو په مزکه بلا را سازه شي  چه پر پیدا کړو آسمان ته ورزو

ښتر کهٔ لوئے دے له نورو ونو  چنار کهٔ پلن دے په پانړو پلنو
لکه کمال لري هسے زوال لري  نظر پرے کا نړئ دَ کمال ښتنو

ښتن دَ مزکے ئے دَ آسمانو نو  دَ عرش و فرش او دَ جهانو نو
هاتي کهٔ ماشے کړے ماشے هاتي کړے  توانیږے ربـ ئے دَ دیو توانو نو

سوارے دَ جونو ده کهٔ دَ آسونو  لا ئې ترے رسی توان دَ لاسونو
ښکار دَ ټوپک نشته کهٔ ښکار دَ باز شته  دا هم پیرئ کړے په وسواسونو

چه چا ته پیښ شی غم دَ خوږلو  یا غم دَ ښلو دَ آغوستلو
نور نور غمونه واړه ترشا شي  کهٔ دَ سندرو وی کهٔ دَ بدلو

موږه به ومرو هسے پوهیږو  یاران مولاړل لانهٔ گروهیږو
خاندو و خوښي کړو هوا هوس کړو  نهٔ موړېږو شته نهٔ اندوهیږو

چه په مړوندئے باهو دَ خیال ځو  گوتے دَ زرو غمی ئے لال ځو
وگور ته لاړل هغه لاسونه  چه په حنا به لاله مثال ځو

دَ خپلے خونے نغن دَ خمچو  نهٔ چه غمینه دَ بل دَ کچو
نهٔ اور دَ خپل نغري دَ لوندو پچو  نهٔ اور دَ بل دَ نغری دَ درد دچو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که شور غوغا کا سره تل تر تلو — پا زه به نهٔ ځی سره د خپلو
بدی د خپلو د بل ترښو ښه ده — کهٔ خوک پوهیږی په دا ویلو

ښهٔ ښهٔ یاران ډو ښهٔ آشنایان ډو — چه په دولت کښې را سره ځان ډو
دولت چه لاړ شو را ته ئے شا کړه — جدا له مانه په یوهٔ نان ډو

د خپلے گیډے په خدمت خم یُو — په نوړو نورو فکرونو کم یُو
صبا شی وخوړو بیگا شی وخورو — آدم صورت یُو دواب شکم یُو

کهٔ مونږه وایو دا ړه هیڅ نهٔ یو — یو موږتے خاورے یو چونگ اوبهٔ یُو
کهٔ دا مجاز دے تحقیق به بل وی — سکه زړهٔ به ښهٔ کړو هر گوره ښهٔ یُو

ژبه عادت کړه په ښو ویلو — چه دِ عادت شی هغه تر تلو
کهٔ ئے عادت کړے په بد گو یئ — مخ به دِ تور کا تر پردیو خپلو

چه دا د ساهے ښتبتن همه یُو — کهٔ فهم وکړے لکه رمه یُو
مرگ لکه شرمخ را باندِ زغلی — د رب و فضل ته چه په سمه یُو

پندم په یاد شو د حکیمانو — یاری به نهٔ مومے له غلیمانو
ښهٔ ئے په بند کښے د کریمانو — نه په بوستان کښے د لئیمانو

فلک په قصد دے د بے دردانو — ولے وکاږے د دل سردانو
د موړ په نس کښے مرد لا علقه وی — تل پرے پیرے وی د ښو مردانو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نخښې خو درې دي دَ عاشقانو
ويل کا په مثل دَ وير ژړليو
خوب کا په مثل دَ غريقانو
خوراک په مثل دَ رنځورانو

شکر چه زړونه په غم کښې ښاد لرو
وائي چه ځان ساته له غمه غم راغې
غم ځکه غم دے چه پير اُستاد لرو
مونږ ځو غمونه دا هسې ياد لرو

په نظام پُور کښې په سُوسُوسُوسُو
تل به دَ خوږې په ښنږ کښې نهٔ وُو
قُمرى نارے وهي چه کُوکُو کُوکُو
وائي دا هسې چه ځُوځُو ځُوځُو

ښيره دِ سپينه شوه ځوانى دِ لاړه
اوس دِ دَ غمه سره ژوندون دے
وګور ته لاړل همزولى واړه
ژاړه خوشحاله خټکه ژاړه

چه خوشے زړهٔ م له تا آشنا شهٔ
نهٔ ئے څوک ياد دى نه ئے څوک هيردى
له واړه خلق نه به بے پروا شهٔ
په بوئ ځما ژو په خوئ دَ تا شهٔ

دَ ملوکانو دَ راز خبر مهٔ شه
راز ئے دَ زړهٔ په صندوق کښې وساته
که پرے خبر شے دَ ځان خطر مهٔ شه
په ښکاروَل ئے چا ته لرېر مهٔ شه

دشمن چه وائي درته دا مهٔ کړه
شيطان دِ نهٔ پريږدى دَ خدائے اطاعتة
کهٔ تهٔ هوښيار ئے واړه هغه کړه
خو ډير بهبود دے پکښې دا زده کړه

وچا ته مهٔ کړه دَ راز خبره
دَ راز خبره ده يا تيره تُوره
خوچه توانيږے راز ونه نغره
يا دُر ګوهر ده يا مرغلره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوئ ئے دَ ښو شو بی بی زاهده شوه
تل په تسبیح په اودس ساجده شوه
دَ لاس په وللو مژک دَ تهلیل شو
دَ مخ په وللو پیشو عابده شوه

خوشحاله مخ کړه و ښو کسانو ته
شاکره نا اهلو بوالهوسانو ته
شکرے توئ کړه وشنو طیانو ته
مرداره واچوه وکرکسانو ته

هم مې خیالونه هم مې ښیوه نه ده
هم مې په عشق کښے دَ راز پرده زده
چه یارې مې نشته دا واړه هیڅ دی
کهٔ یارې مې وشی یارې مې ښه زده

نهٔ ننگ نهٔ شرم نهٔ حمیت شته
نهٔ مهر مینه نهٔ محبت شته
څویه چه لوئے شی زوال دَ پلار غواړی
نهٔ په دا دور دا قباحت شته

چه ورته گرځی په اوړه ډوډه
باغکه ورشی آخر تر کوډه
لوئے په مکان دَ هوړے ځان بیائی
خوشحاله ما وړه له خپله هوډه

هرچه وفا لری اهل هغه گڼړه
چه بے وفا وی سهل هغه گڼړه
چه تهٔ ئے اوړوے وښو ته نهٔ اوړی
ځما په پوهه جهل هغه گڼړه

کهٔ تازی ژبه هر گوره ښه ده
فارسی هم ډیره په خوندخوږه ده
چائے پلو دَ جمال وانهٔ خست
پښتو لاهسے بکره پرته ده

چه زړهٔ مې وتښے په طنازئ ښهٔ
په خوځوسنکه په عشق بازئ ښهٔ
چه تهٔ مې غوره کړے په هومڑو کښلیو کښے
رحمت ځما په نظر بازئ ښهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ خبردارئے بے شکره نان مخوره
پیوند دَ عمر په ویښتو تړلے دے
دَ تیرے چارے په زړهٔ ارمان مخوره
غم دَ خپل ځان خوره غم دَجهان مخوره

شپه دَ برات وه یو خوب مِ ولیدهٔ
دوه تورے ماتے شوے یوه مِ روغه شوه
۱۰۹۵
کال ئے غصه دے هرګورِم بنهٔ لیدهٔ
دویم صمصام مِ په رغیدهٔ لیدهٔ

دَ خلقو ځکه دَ پیرئ ویره ده
دردچه په ځان راشی هاله پرے پوهٔ شی
پیری تر مرګه په ژوندون تیره ده
په درد مِ خپله سینه خیره ده

دولت چه ستاوی موجود ئے وګڼړه
حسد په مال مکړه حرص دَمال مکړه
چه په نورچاوی نابود ئے وګڼړه
هغه چه داکا مردود ئے وګڼړه

په تا کهٔ راشی حادثه لویه
تهٔ به ئے دفع په صبر وکړے
تیښته تسلیم وصبر ته بویه
نهٔ په لښکرو په زړو خویه

کهٔ ئے دَ خضرٔ پیاله څښلے ده
هرچه کمال لری هغه زوال لری
دانا هستی، دَ ژوندون ژړلے ده
هستی نیستیٔ سره تړلے ده

په باغ په راغ کښے ګلونه وارهٔ
هستی دا هسے نیستی دا هسے
یو ګل به نهٔ وی بیا تر اَهارهٔ
ژاړهٔ حیرانه بلبله ژارهٔ

ماچه میدان دَ دروغو ولیدهٔ
خو ملک ئے وارهٔ کندے کودری دی
بل یو میدان مِ تر دا لوئے نهٔ لیدهٔ
مار و لړم مِ پکښے پراتهٔ لیدهٔ

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مرد دَ عمر خوبي تر چل ده
تردا دپاسه وخت دَ پیرئ شی
تر شپیتهٔ پورے لا دَا اوربل ده
کهٔ م دَ عمر بقا ترسل ده

کهٔ پند ځما منے نمک حرام مهٔ شه
جوته طعام م خوراک دَ سپیو دے
تر ډیرو پاتے جوته طعام مهٔ شه
غصه په زړهٔ کښے په دا کلام مهٔ شه

کهٔ تل به پائے غم دَ جهان خوره
دا نقد په لاس کښے حبطه مهٔ کړه
دَ جهان غم مهٔ خوره غم د خپل ځان خوره
دَ ضائع شوی عمر ارمان خوره

چه لعل آسا دی په دواړه لب دِ وه
وخت دَ صبا شو په بورجل زر راځه
چه سمن سادے په سپین غبغب دِ وه
ځما په هومره یا رب یا رب دِ وه

نادان بخیله پریوزی و اور ته
مهٔ نصیحت وایه ونا پوهانو ته
بلا بخیله راوړی خپل کور ته
مهٔ آئینه نیسه چیرے وکور ته

دَ خپل غلیم سره په توره جنګ کړه
پرهار په زړونو دَ ژبے مهٔ بږده
نه چه بسکنځلے دَ بنځو رنګ کړه
دَ نامردئ له کاره ننګ کړه

تن دِ په مثل دَ روح قبا ده
دا واړه توکه فنا پذیر دی
لکه آغوستے چه قبا تا ده
فنائے نشته که روح بقا ده

ګمراه م مکړه تل م په لار لره
دَ نیک مردانو سره م شمار لره
دُعا به دا کړم ما پرهیزګار لره
خدایه لائق م دَ خپل دیدار لره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبر دَ زړهٔ راوړه ښتیا دا دواړه — همت په کار کښې له خدا یه غواړه
کهٔ کام دَ فتح وظفر بیانهٔ موړه — تاوان د واړه خما په غاړه

نامردی ښه ده دَ چا تر پوړه — خانی میری کړه نه چه تر کوړه
خهٔ ښهٔ متل دے دَ پښتنو کړے — چه غل شا پړهٔ شی نه چه تر کوړه

چه بل خبر کړے دَ زړهٔ له رایه — هوښیار په خهٔ ئے وماته وایه
هر چه هوښیار وی هنرئے دادے — خبره نهٔ کا چاته بے ځایه

ساقی راپاڅه ډیوټ هوا ده — دا رضائی لا تر جوزا ده
ځو لا یو ګل شته په باغ وراغ کښے — ایاغ رانوشه خما رضا ده

اے چه سړے ئے په یوه ساه ئے — کهٔ دِ دا ساه نهٔ وی ناګاه
هسے به پروت وے لکه مرداره — په ځان خبر شه دَ ځان ګمراه

تازه خبرے تازه بهار ګڼړه — چه پرے منئین دی هغه هزار ګڼړه
رنګ رنګ خبرے رنګ رنګ ګلونه — ګل دَ ګلابو خما اشعار ګڼړه

خوبی دَ عمر دَ چل وینځ ده — کهٔ غابښ کهٔ عشق وی ترشصت نیځه
کهٔ غابښ دِ نهٔ وی سترګے دِ تیتے شی — نورمره کهٔ نهٔ مرے پیری دِ رنځ ده

دَ صاحبانو حکم په ځائے لره — نظر دَ دوئ په حکم رائے سره
کهٔ ئے له حکمه خلاف عدول کړے — زیرمه دَ ګور کړه یا ځان ګدئے سره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګل ته اور راوړه حکم ته زور راوړه
داد ودهش کړه غریب نواز شه
لښکر خو ډېر لړے لاهو مره نور راوړه
چه مفسدان دی پرے شروشو راوړه

کار دَ بیچون او دَ بیچګون ګوره
په سر دپاسه دا شین سیحون ګوره
دَ مرګ مرګ ګوره بیلئې ژوندون ګوره
پکښې دَ ستورو دَ ماهیو یون ګوره

نیکان عزیز دی له خپله رویه
نیکان به بیا کا ګروون له بدو
بدان خوار زار دی له بده خویه
که تیښته ښه ده دَدے له بویه

دا فانی چارے فانی دی واړه
مولیٰ په یاد لره زړهٔ په دا ښاد لره
یوه باقی ده باقی وغواړه
په دا ښادئې کښې همیشه ژاړه

ژبه په تن کښې څهٔ عجائبه ده
چه ښهٔ م خیر کړ ښهٔ پرے خبر شوم
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده

ترسر ترپایه لیلیٰ ښاغلے ده
مینهٔ څهٔ هسے آسانه نهٔ ده
سینه ئې څکه دَ مجنون داغلے ده
چه دا بیځایه په چا راغلے ده

له تا چه بیم کا ورځنے بیم کړه
په زور که هرڅو دَدهٔ دپاسه ئې
مهٔ ئې محروم کړه مهٔ ئې ندیم کړه
حذر ترے بویه کار دَ حکیم کړه

خو چه توانیږے خو خاموشی کوه
په زړهٔ زاهد اوسه تنها عابد اوسه
عیب جوئی مهٔ کړه پرده پوشی کوه
فتویٰ م واخله باده نوشی کوه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سفاهت دَ سفیه آزار مهٔ شه
سپي و مږیو ته غپیږي
و مکافات ته دَ دهٔ تیار مهٔ شه
کم تر مږي نهٔ په خیل وقار مهٔ شه

دَ مهوشانو مینه مشکله ده
خو ورته نیاز کړې د ربانډ ناز کا
غم نے دیار وي ښادي نے خیله ده
دَ جدایئ بلا نے بله ده

پند دے کهٔ آورے څما پسره
څو دِ شراب شته په قرابه کښې
پکښې فائده وینم زهٔ سراسره
خښنه نے خښوه نے کار کړه ترسره

دَ چا ناحقه دَ پیرئ ویره ده
شکر وکاږه خولا څواني لرے
پیري ایمان دے څواني کافره ده
کهٔ درته ناسته نوے دلبره ده

کهٔ سروري غواړے آواره کړونے شه
چه بدله تا وکا په خرخ نے وسپاره
پاره روزي کوه نه پاره کړونے شه
ته نے وکا رته ننداره کړونے شه

ساقي راپاڅه په ویږی راشه
یو څو لبریزے پیمانے راکړه
دَ تا دَ سترګو بلا په ما شه
دَ اُوري مریم تهٔ رم عیسیٰ شه

کهٔ تهٔ رنځور نے طبیب طلب کړه
کهٔ روغ نے واه واه خوښي طرب کړه
ورته زاري ژړا شغب کړه
چه تل تندرست اوسے هسے سبب کړه

څو دِ په مخ دي تسلسلونه
دَ عاشقانو نرمرګ بستر دي
ساړه و ناساز دي واړه ګلونه
د مهوشانو تغافلونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تروږی په مکرمزری په زور شوده
ملا خبرے په سپین په تور زده

غازی په توره د شپه په لور زده
د ګنګو ژبه د ګنګو مور شوده

چه ستا په دین نه دی معدوم نے وکنړه
حرص شومی لری څوک چه حرص کا

چه ته ترے زده کړے مخدوم نے وکنړه
حضرت وئیلی دی محروم نے وکنړه

چرګان نارے وهی سحر صبا شه
غم نے هیچرے په عشق کښے نشته

یار په ارمان کښے له ما جدا شه
د عشق په کار کښے رقیب بلا شه

ځوانی دِ راکړه له کامرانئ سره
بیا مِ به څه کړے په دا خبرنه یم

پیری دِ راکړه له پریشانئ سره
چه مِ ژوندے ساتے له حیرانئ سره

مئین مِ راغے د ملنګ په څیر شه
چه سره نه شو وغاړه غړئ

خبر پرے نه شوم را باندِ تیر شه
افسوس دے ارمان مِ دیر شه

که مهتری غواړے د هرچا وړونے شه
د شړه په کور کښے ځائے د رحمان وکړه

آواره کړونے شه آواره کړونے شه
د زړه له کوره شیطان شړونے شه

زرغورزونے شه ځوانان ساتونے شه
له هرچا وړونے شه سرداری کړونے شه

ځوانان ساتونے شه زرغورزونے شه
سرداری کړونے شه د هرچا وړنے شه

پرده پوشی کوه لکه پرونے شه
د حلم خوئ واخله له بارداریے ونے

آواره کړونے شه د هرچا وړنے شه
چه څوک دِ وولی میوه ورکړونے شه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویښتو تلوار وکړه بږیره م سپینه شوه — راځنې توره دَ ښکلیو مینه شوه
په غم دَ بږیرې شوم غابنونه لاهل — اوس م په سترګو پیری تعینه شوه

خوشحاله زوړ شوې نوره ځوانی مکړه — بې زراو زره ورته حکمرانی مهٔ کړه
چه درسره دی دام او دَدان دی — له دام او دَ ده زندګانی مهٔ کړه

حق دَ خپلوئ دَ خپل په زړهٔ کړه — کهٔ هر څو بد کا ورسره ښهٔ کړه
په هر سلوک چه پردی خپلیږی — سلوک هم هسې ورسره وکړه

چا ته به راز وایم چه م رازدار نشته — غم م به څوک اخلی چه غمګسار نشته
کیمیا به بیاموے وفا به نهٔ مومے — هزار یاران لرم یو وفادار نشته

ستا تر لبانو خوند دَ شکر ورک شهٔ — ستا تر دندانو نرخ دَ ګوهر ورک شهٔ
ستا تر چشمانو دَ ملو خمر ورک شهٔ — ستا تر مژګانو تیرهٔ خنجر ورک شهٔ

کهٔ ډیر ماړهٔ وی دَ ښکار بازونه — په زړهٔ دَ زرکو لری رازونه
نازې دَ وهودے وربا ندِ ښائی — کهٔ ښایسته کا هومره نازونه

په خوږ غافل ئے غفلت نتلیه — له کاره تو له اَمل یستنیه
هیڅ دِ له مرګه اندیښنه نهٔ شی — کهٔ جنازه وزی له هره کمیه

چه لوړے باسی تا له دا داره — نفس دِ شیطان دے دُنیا دے یاره
دوستی دَ خلقو ده څلورمه — دَ ځان دِ بلا دی واړه هوښیاره

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چه قانع دے مخدوم ئے وګڼړه
کۀ رور کۀ ځویه کۀ خپښ کۀ دوست دے

څوک چه حریص دے محروم ئے وګڼړه
چه ستا په رائے نۀ دے معدوم ئے وګڼړه

سر په زانو کښیږده خوشحاله راشه
لعل پیدا کا له سخته کانړی

قدرت ئے ګوره په تماشا شه
خلیل پیدا کا له بُت تراشه

نۀ په خپل رائے راغلم و دے عالم ته
په څۀ شان راغلم په څۀ شان درومم

نۀ په رضا درومم بیا وعدم ته
قطره چه بیله شي درومي بیا یم ته

له بدے اوسپنے کړه تُوره سازه
کۀ ئے په مشک په عنبر ځائے ورکړے

په غوځول شي بیا بد آوازه
بد بوئ به بیا ځي له بده پیازه

دَ لیلیٰ ستر که یوه ګلداره وه
چه پرے مئین وی عیب ئے نۀ وینی

مجنون ته پاکه له عیب وعاره وه
مینه له ځا یه مکر مکاره وه

خوشحاله مۀ ئے په خوئ والی ویاړه
هرچه زوړ ولی دی دَ توتیا له نسه

هم ځنے مهر وفا مۀ غواړه
دَ پدرکُشو په بوئ دی واړه

در پسے واوښتم مۀ کړه پوښتنه
بارخو دِ ګل دے وما ئے راکړه

هسے به نۀ وی دَ چا لوښتنه
مذمومه نۀ ده دَ ګل غوښتنه

وخت دَ تلاش دے په ما پیری راغله
ځویه رم ډیردی چه نا قابل دی

په زړۀ خوښه بیا فقیری راغله
ځکه په خونه دا دلګیری راغله

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ته وینې په سترګو واړه　　بقا ئې نشته بانده مه ویاړه
هغه چه تا وینی هغه باقي دے　　فاني به څهٔ کړے باقي وغواړه

څو نعمتونه ترسر ترپا یه　　چه تا موندلی دی له یوه خدایه
په هره ساه ئے شکر وکاږه　　کهٔ غافل نهٔ ئے ثنائے وایه

کهٔ وی هوښیار دِ وی نادان دِ یار مهٔ شه　　تهٔ به ئے کل کنړے دربانده خارمه شه
وخت دَ فساد دے سړے لونړ بنهٔ دے　　کهٔ بنجهٔ وکا دَ څویه پښیمه شه

هرڅوک چه جن کا په سپینه بریره　　هرسپین ویښتهٔ ئے دَ تیرهٔ ترتیره
دَ هغې جنے دے ترښ پړهٔ وتلے　　درته م ووے واوره په خبره

کهٔ تهٔ آدم ئے کار دَ آدم کړه　　کړے به څوکړے کاروته سم کړه
دَ دُنیا خلق سپی دی ددان دی　　صحبت له سپیو له ددانو کم کړه

وخت دَ پیرئ راغے ځوانی م لاړه　　په کام م شوه پیری په غاړه
داهم پوهیږم چه قدر نهٔ لرے　　کهٔ خاندے خاندهٔ کهٔ ژاړے ژاړه

خدائے په خدائی ښائی چه هومره مینه　　دَ دوو په مینځ کښے هسے کیږدینه
په هسے شان ئے وبل مئین کا　　چه جُبله ځان دجهان بسندینه

ربه دردمن کړه بے دردان واړه　　چه واړه ژاړی ځما په غاړه
خوشحاله ملک له بے دردو ډک شو　　دردمن په نور و ملکونو غواړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه دا کارم ترانجام سراوله    تللے مئین م ترمقام سراوله
نیولے باز م له دامه دُوت    بیائے په بیارته تر دام راوله

نوم م دَ بدو په خلق خور شۀ    کۀ صاف صوفی یم وائی میخور شۀ
هیداد دَ ماشی دَ هغۀ نۀ شی    چه له مستئ هراند په خور شۀ

خزان بد باد دے حذر ترے بویه    باړے دَ هرے وُنے کا تو یه
فائده آخله دَ بهار له باده    تا به دَ وُنے په رنګ کا خُویه

کۀ تۀ لوئی غواړے حُما پسره    لوئی به نۀ مومے بے درد سره
صرفه دَ زرمۀ کړه ویره دَسرمکړه    مګر په دا کړے لوئی تر سره

ماوے حُما غوندِ میخور بل نشته    چه ئے بے میئو شر وشوربل نشته
هسے مستان م په نظر کښیوتل    چه ئے بے میئو بیور بل نشته

دَخپل بد خواه سره په تیغ بازی کوه    نۀ چه بښکنځلے یا غمازی کوه
ژبه خوندی لره دَ بد ګویئ    په حق راضی اوسه سرفرازی کوه

درته به څۀ وایم کار دَ خلیل ګوره    په خوئے وساتۀ دَ اور دلیل ګوره
سبطی ئے پورے پیت قبطی ئے ډوب کړ    دا عقل پوهه دَ رود نیل ګوره

حُما دایمه خدایه موجوده    وجود دَ هرچا دے دستاله جُوده
معبود بل نۀ لرم معبود م تۀ ئے    معبود م بل مۀ کړه حُما معبوده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځما دایمه قایمه خدایه ... په خپل صفت کښې قدرت نمایه
تا مُسلمان کړم تازهٔ کامران کړم ... عزیز دِ راوستم عزیز م بیایه

کهٔ راته غوږ کړې بنه دلسوزی ده ... کهٔ مرګ قبول کړې فتح روزی ده
مټ کړه زخمونه خوره ظفر کهٔ مومې ... کهٔ نهٔ ستا تیښته هم فیروزی ده

یو څهٔ فراق دے چه رابرسیر شهٔ ... اَرمان افسوس دے دا یو څهٔ پیر شهٔ
بیا به ئے دور دَ ځوانئ رانهٔ شی ... وار دَ دلبرے دَ زلفو تیر شهٔ

کهٔ ډیر هوښیار ئے خپسر نادان کړه ... له ښو له بدو سلوک یکسان کړه
هر څوک پوره دی دَ خپلے چارے ... خوشحاله جانه غم دَ خپل ځان کړه

کهٔ هر څو لږه ده په ډیرئے ونیسه ... دُنیا به تیره شی په تیره ئے ونیسه
چه نوم دِ شوم کا کارِ دِ مذموم کا ... داوره په زهر په کندیرئے ونیسه

خوشحاله مهٔ کړه دَ دُنیا خله ... شاهٔ درته وا[illegible] په خو خو خله
نهٔ به زیا تیږی نهٔ به کمیږی ... هرچا موند [illegible] ویش له ازله

دَ کریږ ونه ترخه هم زږه ده ... میوه ئے ولے [illegible]ته خوږه ده
اشر دَ اصل هر څیز پیدا کا ... په خوله خوږ[illegible] ده په زړهٔ کږه ده

زهٔ چه پیدا یم وهغه کار ته ... چارم ښکاره ده وکړد کار ته
یا ننګ یا توره یا دل آرامے ... یا نړهٔ تل تللے [illegible] هر ښکار ته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارئ په هرچا باندِ ښکاره ده　　　دَ ګل یا بوئ دے یا ننداره ده
چه نهٔ ئے بوئ وی نهٔ ئے ښهٔ رنګ وی　　　ګل به ئے نهٔ بولم دَ چارپائے چاره ده

دَ غرهٔ په کانړیو کښے کهٔ چا کیمیا مونده　　　درته به وایم باور کړه ما مونده
په نولس توکه ښائسته روغه　　　لکه مِ غوښته هغه مِ بیا مونده

توغی جج وکړ په ګروم په شام شهٔ　　　کورته چه راغے په احترام شهٔ
شیطان ګمراه کړ کوخه ئے ونیوه　　　په هومره چارے رسوا بدنام شهٔ

بل دِ یو ځائے غوندِ راته پیدا کړه　　　هاله له ما ځه وما ته شا کړه
ګنړه داکومه یاری خپلوی ده　　　ما غم ته پریږ. ده ته ځان جدا کړه

ښځه چه خوانه ده هومره صحت ده　　　څو چه زړه ده هومره زحمت ده
اولاد چه بد راوړی میرمن ومهٔ وینے　　　اولاد چه ښهٔ راوړی وینځهٔ نعمت ده

ساقی وماته ډکے پیالے راکړه　　　شراب په خم کښے دَ دنبالے راکړه
بل به څما غوندِ میخور پیدا نشی　　　کوزے په ځائے کښے دَ سنبهالے راکړه

دلبرے سازے دی سحر سازئ ته　　　له خود راپیځ وبے نیازئ ته
کهٔ زور کهٔ زر لرے توان دَ شور وشر لرے　　　هاله هوس کړه شاهد بازئ ته

کهٔ بادشاهی ده کهٔ وزیری ده　　　کهٔ خواجګی ده کهٔ آمیری ده
زوال دَ وارو وَ تا ته ووا ییم　　　خرخ دَ فلک دے مرګ دے پیری ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پہ طورطور پیدا یُو موېږه
شهد شکرے زهر زقوم یُو
مښک یُو عنبر یُو بصل یُو هوېږه
روښین یُو نیل یُو نسیاں یُو شوېږه

بادشاه سنی دے خلق حیران شۀ
کۀ خوک پہ ملک کښې یوشاه ځلې دے
د رافضیانو دوږ آوان شـه
تُوره ترملا کا وخت د افغان شۀ

کۀ سرداری غواړے خپل زړۀ د شیراوړه
ضرب المثل دے د هوښیارانو
صرفه پہ ځان مکړه حملے پہ ډیراوړه
ملک تہ شمشیر راوړه بنځې تہ کیږه وړه

صحبت چہ نۀ وی لہ ښۀ احباب سره
هوښیار بہ هیچرے بے غلطی نۀ وی
عمر تیریږی لہ ډیر عذاب سره
خطا ترېے ده اهل ثواب سره

مرګ د میدان را پہ بستر م مۀ وژنه
چہ پہ میراث م حساب کتاب شی
مومن م وژنه کافر م مۀ وژنه
هسې غولے تونګر م مۀ وژنه

د عارفانو د زړۀ مـردود ه
کۀ هرخوګرځې ترشرقه غربه
لاړے د دین او دُنیا لہ سود ه
سعی دِ دیـنم واړه نابود ه

د بادشاهانو نمنځلی واړه
کۀ اصل نۀ لرے اَصل پیدا کا
ترهرچا هسکه کا خیال عاشره
کۀ عقل نۀ لرے عقل ترے توره

د مرد وقار ګوره د مرد تمکین ګوره
بیائے لہ پسه دین وآئین ګوره
مهرله دوسته لہ اعد کین ګوره
هغه چہ دا لری بخت ئے قرین ګوره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوچه توانیږے له هیچا بد مۀ کړه
کۀ ئے او بۀ وړی کۀ ئے لمبے سوځی
ښوک چه ښۀ کیږی باندِ حسد مکړه
زړۀ شوے په مار په لړم په دد مکړه

کۀ نورښۀ نۀ وی دا هومره زده کړه
ښوچه یارئ هومره غمونه
چه زړۀ دِ یو دے یاری یوه کړه
ډیرے یارئ له هیچا مۀ کړه

کۀ خپل خدائ پیژنے راته اووایه
خدائ ِم هغه ئ چه نیست وُم هست ئے کړم
درته به ووایم اے رهنمایه
خما توبه ده له بله خدایه

خبرهیڅ نۀ وُم چه دا افعال شته
لکه عابد وکړۀ یا بد فرجام وکړۀ
دَ پلار له خویه سره دا حال شته
دا حال په هرچا دے کۀ په خوشحال شته

قدر دَ کل و دمل مستانو ځ ده
هغه چه نۀ خوري په مے خۀ کار لری
نۀ تیره دلو نۀ تنکد ستانو زده
راز ِم دَ میٔو مے پرستانو زده

کۀ غوږ کۀ سترګے کۀ خولۀ کۀ پوزه
کارچه دَ سمع دے بصرئ کله کا
هر یو خپل کار لری تر بل ئے کوزه
دَ خولے په کار نۀ پوزه فیروزه

چار دَ مرګوتی معائینه ده
پش تیشه ماته کا آئینه سازه کا
ښه ترژوندونه هر آئینه ده
چه تر تیشه نۀ ښۀ آئینه ده

دَ یار وفا کوره راستی دا دواړه
کۀ ښائسته وی اَدب هُنر لری
هغه چه دا لری ور باندِ ویاړه
یار دِ هم دا دے بل یار مۀ غواړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرته غره ولاړ ئے په باد مغروره
نیستی هستی ئے فنا کیدل دی
حباب ته ګوره بلا دِ دوره
واړه ستا چاردی درته حضوره

رورچه دَ خان شو ژوندئے وژاړه
کمین چه مست شی ځنے پناه غواړه
کۀ هوخوښۀ دے په ښۀ ئے مۀ ویاړه
خوشحال خان په سکانو مۀ داړه

باغبان چه کیږدی په باغ کښے وُنه
کۀ برئے ښۀ شی زړۀ ئے پرے ښۀ شی
تپاک پرے خوګا تل په ساتنه
کۀ بد شی نۀ کا باندِ وتنه

خسیس دِ پریږدی په دوه پشیزه
کۀ نۀ دانائے زړۀ به پرے نۀ ترے
هلک دِ پریږدی په دوه مویزه
باری دَ دواړو ګنړه ناخیزه

زړۀ دِیر مئین یم په ښَه خبره
چه ښَه خبره له چا نه واورم
نۀ ښه خبره نه مرغلره
وایم چه ځار کړم ترے مهران خوزره

دَخپل پدر سره دَ خپل پسر سره
خپلوی کۀ مینه کۀ محبت کا
دَ پیر اُستاد سره دَ یوۀ هرسره
په سود نظر لری نۀ دَ ضرر سره

دُنیا پیاله ده یا سپینه تُوره ده
چه دِ رضا ده هغه په لاس واخله
نیکی بدی ئے درنه حضوره ده
په هره چار کښے راستی منظوره ده

ځویه چه ووت دَ پلار له رایه
توبه کۀ نۀ کا سزا به مومی
توبه دِ وکا کم بخت نه وایه
په دواړه کونه لۀ یوۀ خدایه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته معشوقه ئې پروا دِ کُمه ده — زار دَ عاشق دے چه چارئے شومه ده
بے تا کباب دے په اور وُرتیږی — چار دِ دَ هجر دَ اور معلومه ده

خوشحال ته مهٔ گوره گوگل ئې گوره — ډک دے دَ بلولمبو دَ اوره
کهٔ شین مزرے ئې کهٔ مست هاتی ئې — خپل ځان دَ بلو لمبونه ژغوره

خوراک پوشاک دَ سړی دا دواړه — خوښی ئې گوښے خپل ځان ته غواړه
ښهٔ ښهٔ ځایونه ښهٔ ښهٔ باغونه — په داچه وشی شریک دی واړه

قاضی مجنون یم عمر دِ ډیر شه — وعشق ته گوره تر عقل تیر شه
خولهٔ دَ لیلٰی ده دَ عشق په شرع — په موزی گیو زهر گنډیر شه

مهٔ سلطنت غواړه مهٔ ډیر دولت غواړه — ښځے ته وایه عصمت عفت غواړه
توفیق له خدایه دَ عبادت غواړه — خدمت دَ شوئے کړه دَ ځان صحت غواړه

عطا دَ خدائے دی دا یو خوځیزه — تردا بِه نشته نور څهٔ عزیزه
یو ښهٔ جمال دے یو ښهٔ خصال دے — چار دَ قوت ده ورسره نیزه

کهٔ جود په ما وکړے بهتر دے تالره — کهٔ جود په ما نهٔ کړے بهتر دے مالره
دَ جود په کړهٔ به منت په ما بار کړے — منت چه نهٔ وی ښهٔ دے دانا لره

وما ته ښه ده هوښیاره کنډه — تر پیغلے جنے کم عقله تنډه
هغه به زیست وروزگار په عقل کا — دا به روزگار کا په خپله هنډه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانان ئې واړه تلاوت خوان کړهٔ
دَ هند هندوان ئې دانشمندان کړهٔ
وخت دَ اورنګ دې عمل هیڅ نشته
خو کتابونه ئې په عالم ګران کړهٔ

چه بخیل کیږې هسې ساتل مکړه
چه مسرفیږې دا هسې تل مکړه
خپل خوان په هرچا خوره منت په بل مکړه
دَ بل وخوان ته خالي کتل مکړه

دَ چا وخوان ته خالي کتل مهٔ کړه
کهٔ تل دِ خوری منت په بل مکړه
چه پرې باورځې هسې ویل مهٔ کړه
چه مال دَ بل شي هسې ساتل مکړه

راته ښکاره شو وګړې واړه
دوه به وُ نهٔ وینې په یوه غاړه
وفا به نهٔ مومې له آدم زاده
له تاچه وزیږی باندِ مهٔ ویاړه

غضب ملوک لره دروغ ملا لره
بخل غني لره فحش نسا لره
دا خلور توکه هرګوره بد دی
فکرچه راغې په زړهٔ کښې مالره

په درست وجود کښې ښهٔ دی دوه څیزه
یو زړهٔ بیا ژبه خما عزیزه
زړهٔ ښهٔ همت لره ښهٔ خوئ خصلت لره
ژبه فصیحه رښتینې نیزه

اوس بې وفا شول دا یاران واړه
دَ پلار به راځې نهٔ ځي فرزندان واړه
کهٔ نیک کهٔ بد دی په دا دستوردی
سره خپلوی نهٔ کا اقربان واړه

درته به وایم خپل حال په څیره
دَ آزاده وُ په حال خبیره
په توره ږیره م کهٔ څهٔ پکار ژو
په تیرم دنیوهٔ په سینه زیره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت دَ بهار راغے خزان اوس کم شهٔ
شراب له خُمه راغلهٔ بنیبنو لره
مطرب په زیرمه دَ زیر وبم شهٔ
کوزے کاسے را وړه خوشحاله دِ کم شهٔ

دُنیا ناخیزه ده بے دُنیا ژوه
اهل به نهٔ موے نااهل دیر دی
دُنیاکهٔ خیز وے دَ نادان به نهٔ وه
له خلقو گرځه جُدا په یوه

ځما له دِ له دَ بدو خواست بیایه
ظلوم جهول یم په کړو لاړو ځم
وښو کاړونو ته ئے په زغابنت بیایه
الله ته م په راهِ راست بیایه

لا فے دَ عقل وعلم وهوش هومره
دَ سود په لوری هرچاته گوش هومره
دَ کام دپاره جوش وخروش هومره
دَ زیان دپارهٔ دَ خاطر جوش هومره

چه بادشاهان دی خانان دی روره
کهٔ سور مرزے ئے کهٔ تورهاتی ئے
نور خځه ئے مهٔ گنړه بے بله اوره
خپل ځان له بله اوره نه ژغوره

څویه کهٔ وُوزی دَ پلاړ له رایه
ترفیل کهٔ لاندِ شی اندوه ئے مهٔ کړه
څویه دَ چادے کم بخت ته وایه
په فیل کهٔ پاس کښینی هم ئے مهٔ ستایه

زنځ ئے په غاښے په غرونو کښیږده
سعادتمند شه دَ پلار په خونه
گوهر گوهر دے خدائے ئے راپریږده
میندے داهسے څویه تل بلیږده

چاردَ ځوانئ دَ فسق فجوره
اوس م دا زُهد چه دَ پیرئ دے
له لاسه لاړهٔ لکه بنه تُوره
کشکے ئے چاروے هورے منظوره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرښته که کښیني چیرې له دیوه<br>
چه سره کښې شي خوندبه ئې نورنشي

څه به ترې زده نه کا بې مکره ریوه<br>
که مرغوبې کښینوې له سیوه

که راست گوئې لرې پاکه عفیفه ده<br>
که لورد پیر ده که دائې نه وي

که زرخریده ده په ذات شریفه ده<br>
بده کښینه ده کښند د خفیفه دد

چه مستغني شې له شاه و میره<br>
که هیڅ پروا دِ ورباندِ نه وي

که درته بدوائي که ښه په خیره<br>
مردې رحمت دِ په ولي بزیره

نیکان عزیز دي له خپله سوریه<br>
په باغ کښې هره ونه اوبه مومي

ښه کړه له بدو سره خوش خویه<br>
تروه ترخه دې خوږه خوشبویه

د سرود په غاړه کښینه نظر کړه<br>
لکه روانې اوبه چه درومي

غافل که نه ئې په دا باور کړه<br>
رخصت خپل عمرته هم هسې ورکړه

که کار په بزیره دې یا په غابښونه<br>
که کار په نورڅه دې خواجه خضرم

له مانه پاتې شوې ملګونې ځونه<br>
لا به د ځونو ګورم محزونه

مستي د میو مکیال مکیال ده<br>
که دا مستي دواړه سره کړې

بیا د ځوانئ زوال جواب ده<br>
ورځنې دیره د مال دماغ ده

عجب سودا ده د کابین غوټه<br>
فرزند چه ښه راوړي سودې بیشماره

چه ښه وي ښه ئې وسره بوټه<br>
که نه د دسود سودا تروه ترڅه

Poha Foundation<br>
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوک چه توانګر شي په قناعت سره
افلاس ئې نشته په روایت سره
حرص د ډیر شوم دے حریص محروم دے
نظر کړه وکړے په حدیث آیت سره

داچار د نمره لا مشهور ده
نور څه ئې مه ګوره د مرد چه تُوره ده
د مرد تر توُرے دا ښځه ښه ده
که ستر پو ښه پاکه مستوره ده

ساقي تحویل دِ وکړه و ته
پاسه راواخله هغه ته ته
چه مابه تاسره پیاپے وخښنه
هغه زه زه یم هغه ته ته

له خپله یاره غواړه خوښیزه
تش دِ ئې نه وی زړه له تمیزه
ټینګ دِ په شرع ټینګ دِ په دین وی
دُنیا دِ نه وی ورته عزیزه

په درست جهان کښے م آشنا بیا نه مونده
ښوک به ئې څه غواړي چه ما بیا نه مونده
عمرم تیر شو په آشنایئ کښے
له چا م بوئ د وفا بیا نه مونده

مردي دا مه وایه چه په ده
یا په دُنیا ده یا په مال زر ده
که شرم ننګ لرے د سر پروا نه کړے
مردي هم دا ده که دِ په خر ده

ځواني که ګورے لکه سرۀ زر ده
تر سر تر پایه واړه هُنر ده
که هر څو ښه ئې عیبونه نه لرے
پیري د واړو عیبونو سر ده

شرم یوسف دے ارزان ئې مه پلوره
غنچه پکار ده ورته مه ګوره
نرئ وُنه په نري باد شوري
که لویه ونه ئې په لړ باد مه شوره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل خپل فعلونه دَ سړی رهبر ګنړه
چه خیر غواړی خیر به بیا مومی
په خپله یو ځه کښې قا بل یو ځ ګنړه
چه شر طلب وی بخو ځ ځ شر ګنړ ځ

ځوانی که هر څو یو نوبهار دے
په او ږ کښې وسیزه دَ ګلابو ګل شے
چه دروی تلهٔ کا بیا ځنهٔ پکار دی
چه بوئ دِ یاځ ښی دا چار په چار دی

ګوره دا فکر عبث نه مونږه
عمر په لهو په لعب تیریږی
هسے په بادځی نفس نه مونږ ږ
مونږ دَ هوس یو هوس زمونږه

صوفی دا هومره له مانه زده کړه
مستانو مستے پیالے نوشلے دی
نورځهٔ پوهیږے واوره هغه کړه
هر ځهٔ چه وائی غرض م مهٔ کړه

جن هم بنه ده چه مهرداره ده
چه دَ جن والی د فترے خورشو
دَ بلار په کور کښې ناسته قراره ده
کهٔ صاحبی کا بیا خدمتګاره ده

دُنیا مرداره ده ګنده بد بُو یه
واوره سګان دی ګرګان ددان دی
چه پرے تولیږی له حره سُویه
با ندِ غوغا کا دَ نفس په خُویه

لقمه طیّبه صلوٰة دا دواړه
کهٔ دِ په دا کښې خلل پیدا شی
کهٔ ستا په ځائے وی بندی کړه دیږه
غم دِ په کوردے کم بخته ژړه

سړے کهٔ تور دے کهٔ سپین په دامشه
تن یو غلاف دے زړهٔ پکښې توره
دَ مرد په کار کښې عقل خه مشه
مدار په توره دے غلاف نه مشه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه عاشقانو دَ حق دیدار لیدهٔ
جلوهٔ ئے وکړه په بایزید کښې
موسیٰ په وُنه منصور په دار لیدهٔ
دَ تیرے تُوړے په مخ عطار لیدهٔ

کهٔ سرداری غواړے بلا دِ دُوره
لکه آسمان دَته ختنه ګرانه ده
عقل همت راؤړه بیاجود بیا تُوره
سرداری لاده ګرانه منظوره

کهٔ تهٔ خبر شے له دے سامُونړه
نتاج ئے واړه نابود پیدا شی
سپیئ چه لنګه شی له ګرګه یُوزه
وحشی صفت وی مرتبه ګونړه

یو بخت بل عقل دا دواړه څیزه
کهٔ دَ خښتن دی کهٔ دَ مرئ دی
دَ مور له بطنه څما عزیزه
کهٔ ئے میرمن لری کهٔ ئے کنیزه

خوبی دَ عمر تر څلویښت کاله ده
حواس کهٔ درست لرے شکر وکاږه
چه په ځوانئ کښې مالا ماله ده
څو دِ ودانه دَ عمر ځاله ده

یا واړه وینے فاسدے لرے کړه
یا دَ کوس سرے دربلے پریږده
یا دَ ښړهٔ لرے دَ قصد خبرے کړه
یا واړه لرے له کوړ سرے کړه

له ښو سړیو یکانګی ښه ده
په هوښیاریٔ کښې چه خلاصے نهٔ مومے
له بد خلقه بیګانګی ښه ده
ځان دیوانه کړه دیوانګی ښه ده

دَ عقل بخره عنایتے ده
قابل به هیڅ کم عقله نهٔ وی
لا له مثاله هدایتے ده
څما خبره دا آیتے ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشق دَ ځوانئ وکښلے تُوره
چه مِ نیولے دَ پیرئ په دَور دے
ځارنے تر فسق هم تر فجوره
اوس مِ دا زهد دے نه ضروره

نهٔ دِ ځهٔ مهر دَ زړهٔ په ما شته
هیښ یم کهٔ مست یم کهٔ لیونے یم
نهٔ دِ دَ ژبے دروغ رښتیا شته
چه لا مِ طمع دَ یارئ په تا شته

خپله خبره ده مرغلره
پند مِ په یاد لره کهٔ مِ نیکخواه گنړے
بے فکره مهٔ وایه خپله خبره
خو چه توانیږے خبره نغره

یا ترس دَ خدائے دے یا هوښیاری ده
هغه چه دا لری پرے مِ سلام وایه
دین و دُنیا لره چه کامگاری ده
په دواړه کونه ئے رستگاری ده

مهر نیکانو سره جاوید لره
بدان کهٔ هرڅو لائق دَ بدو دی
تل زړهٔ له دیو سره سعید لره
نهٔ چه یک لخت ئے محروم نومید لره

پورے په خونه دَ ایمل خان شئ
دا اورکهٔ ونهٔ مړ دایم نارے وهم
په سول دَ خوئے دَ خان خانان شئ
په واړ واړ پورے په درست جهان شئ

غرق په نعمت کښے یم سر تر پایه
شکر سپاس به ئے په څو په ځائے کړم
زړهٔ دا نعمت لرم له خپله خدایه
چه پیدا شوے یم ضعیف له ځایه

څو تجربه نهٔ کړے خپل خویه رونړه
ځویه هغه دی چه ځان څرګند کا
هومره د دو یو په کار مهٔ هُونړه
گنړه بهتر دی له ځویه لُونړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه سل په زړهٔ لری یوه په ژبه — هغه دِ پریوزی په لویه تبه
چه زړهٔ او ژبه سره یکرنګ لری — هغه به خلاص شی له معائبه

کهٔ دا خودا ده بیدی بیدیا ده — چه دا څما ده کله څما ده
کهٔ دا فنا ده بله بقا ده — عجب غوغا ده عجب سودا ده

اے چه دَ نول ده څما له مخه — دَ رقیبانو په بد ده سخه
په عشق کښے مرد اوسه پروائے مکړه — زهٔ به دِ نهٔ کړم دَ چا په سخه

نن پهٔ م دِ روغ کړ دلبری واه واه — کهٔ زړئے راکړے په غیر کښے آه آه
وخت دَ ګلونو شو تازه بهاردے — بنهٔ مخ تل تل ګوره باده هم ګاه ګاه

زاغ و زغنو خالی غلغل نن ده — دَ ګلو قدر شیدا بلبل زده
هغه چه نهٔ لری مستی دَ میو — هغوِ م کله په ګل و مل زده

دوستان دِ ژوه بدخواه دِ وُمره — زهٔ بر له تا وخورم تهٔ بر له عُمره
چه هومره مهر تهٔ په اغیار وکړے — یار به دِ پائی له هسے عُمره

دُنیا کهٔ دا ده چه را ښکاره شوه — بنه چه له وخته لا آواره شوه
خوا بهٔ خپل خوئی وُ وخوارهٔ خپل رونړه — څما له دیونه سینه پاره شوه

هغه چه شوی دی دَ دهٔ له لوریه — هغه به کیږی له بخته ستوریه
کهٔ دِ دوستان دی کهٔ دشمنان دی — وتلی نهٔ دی دَ ازل له توریه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمق په کلی کښې پیدا خدائے مکره — که دِ په کور کښې پیدا شی زده کړه
لاړے په لرے ملکونو و شړه — یائے له تورو خاورو سره کړه

که هرڅو پوهے خوشحاله راشه — خضرؑ پیدا کړه پسے موسیٰؑ شه
سخ دَ هغهٔ دے چه بنهٔ پیشوا لری — غم به دِ نهٔ وی خبر په دا شه

بنځه که هرڅو په مخ ښیبا ده — په هر هنر کښې پسندلی دا ده
ظاهرے مهٔ گوره باطن ئے گوره — هالهٔ ئے ستا یه کهٔ دا پارسا ده

ځوانی ئے لاړه ځنې مایوس شهٔ — بازدے عالم ته خوشحال تپوس شهٔ
شاه شطرنج دے نزدے وماتته — ورته اوس پاتے یو فیل منحوس شهٔ

گمان دَ نیکو تل په دوستانو کړه — گمان دَ بدو په دشمنانو کړه
دَ جاهلانو سره قرین مهٔ شه — صحبت یک لخته له عاقلانو کړه

دروغ په ځان باندِ خونِ خنزیر کړه — که داړو کیږی روایت ځیر کړه
طبیب چه وائی هسے تدبیر کړه — داړو دَ وینے سره خمیر کړه

یاری ئے نهٔ ده دا سرابی ده — که ودانی ده هم خرابی ده
چه زړهٔ پرے بنهٔ کا هوښیار به نهٔ وی — هستی نیستی ئے په شتابی ده

بل ترخپل دست لره دَ چا تردست مشه — شرم پرست اوسه شهوت پرست مشه
چه کار دَ دین دَ دُنیا خراب پرېږدے — هسے بے خوده دَ میو مست مشه

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه زړه ژوندے لری دَ عشق په مینه
فرهاد که مړ دے مجنون که مړ دے
هغه که ومری گنړه ته مه مرینه
نوم به ئے هرکله په جهان وینه

که چا ته وکړے دَ زړه خبره
که دِ خپل خوئے دے گمان پرے مکړه
تاکید پرے وکړے چه وئے نغره
چه به ئے نه کا چا ته ظاهره

که دین دُنیا غواړے پرده پوشی کړه
که نه خاموش ئے نه پرده پوش ئے
فتنے له خولے پاسی خو خاموشی کړه
بے خوده پریوزه باده نوشی کړه

چه دِ په زړه دی هغه په خوله لره
دا دواړه توکه لکه مرئ
چه دِ په خوله دی هغه په زړه لره
په یوه تارئے پیئیلے ته لره

بله لمبه دِ دَ وصل ژمنه ده
که داد دَ خولے دے که نور دادونه
بله مِ عین دَ زړه دننه ده
چه کبنلیو نه زده کومه ننګنه ده

خو م له تا نه درنه سینه ده
چه ورته وګورے فتنے په لاس واخلے
هومره م دے سره ډیره کینه ده
چه ته ئے مسته کړے ستا آئینه ده

که دِ په غولی ولاړه ونه ده
یا به میوه لری یا به سایه لری
هومره پرے ویاړه خولویه پلنه ده
جوړه په ونه باندِ ستاینه ده

دپاسه نه شوه داچه دَ لاندِ ده
مه ترے حیا غواړه مه ترے وفا غواړه
بل ګل به نه کیده چه دا د سپاندِ ده
هغه لنډئ ده لکه دَ وړاندِ ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



جفا چه وويني له چا وفا وکړه — که څوک بسکنځل وکا ورته دعا وکړه
که آدم زاده خوئے د آدم راوړه — غمژن چه وويني ورته ژړا وکړه

خوا نمرد که نهٔ ئے له مانه نن زده کړه — بخښل د جرم خوښ ول د نغن زده کړه
چه راغله راغله چه لاړه لاړه — خوئ د ښادمنونه د غمژن زده کړه

چه عاشقي کړے پيغور قبول کړه — د واړه خلقو شرشور قبول کړه
که څوک دِ اچوی و سرولمبو ته — د يار د پاره د سور اور قبول کړه

غم او غليم ته له دله دُور کړه — خانده هوس کړه ښادی سرور کړه
که مخ دِ زيړوی په دلګيرئ کښے — تهٔ ئے په دواړو خپيرو سُور کړه

ډيرو ليدلے د ليلیٰ رخت ؤو — شو يه پرصوف وو ناديده رخت ؤو
زهٔ يار مشفق لرم دهٔ يار بدخوئ درلهٔ — زهٔ بختور يم مجنون بد بخت ؤو

دا سحر کوه دُنيا مکاره — څوک يه ويزار کا له موره پلاره
چه ئے ويزار کا له موره پلاره — هسے دا هم شی ځنے ويزاره

که سروِ ونه په قد درازه ده — نهٔ چه ترتا نه هم سرفرازه ده
ځما حذر شی د ستا له ستر ګو — که د کوترے ويره له بازه ده

څهٔ شی مِ بيا مونده معنیٰ له جاهٔ — که جاه بالهٔ شی بد دے ترجاهٔ
په جاه به هيڅوک غلطی نهٔ کا — بے له احمقه بے له ګمراهٔ

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ په دیدن ده دیدن هم ډیر وشهٔ — کهٔ په خوردن ده خوردن هم ډیر وشهٔ
خوشحاله بس کړه وخت د عمل دے — لوستن هم ډیر وشهٔ گفتن هم ډیر وشهٔ

سحر م خوب لیدهٔ اندوه م زیاته شوه — مے چه م وڅښل پیاله م ماته شوه
سمندم پاسه په بام جولان کړ — له بامه پریوت شائے غبراته شوه

یو نیمگړے ده دُنیا نیمگړے ده — نوعاقلانو په هیڅ نومړی ده
چه یلئے وخوړه یائے چا ورکړه — دُنیا خو هغو له ځانه وُړی ده

ژاړه غافله په بار بار ژاړه — د ځان بلا شوے په خپله واړه
کهٔ داجهان دے کهٔ بل جهان دے — د رخخه لاړل په غفلت دواړه

تهٔ قهقهه خاندے غم تم په بل شهٔ — غم تم په بل شهٔ بل چه تل تل شهٔ
قاتله ځله په کابو بویه — پرے باندِ پاسه عرخهٔ غافل شهٔ

د چا ناحقه له مړکه ویره ده — داچا رکهٔ کوړے هر کوره غوره ده
نرکو وښی مات کا اوږئ سازه کا — لاتر وښی نهٔ اوږئ بهتره ده

کهٔ هرخو بشه ده چه تیرید ونی ده — دُنیا په پچه نهٔ پیرید ونی ده
کهٔ بنهٔ کړے بنهٔ کړه کهٔ بد کړے بد کړه — کرده د هیچا نهٔ هیرید ونی ده

جفا د خلقو هرگوره ډیره شوه — وفا د هرچا له دِله هیره شوه
وخت د قیامت شوکهٔ نورآفت دے — یوه بلا ده چه را برسیره شوه

POHA پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر دِ ورنهٔ شی دَ نادان ترکوره
په بدئ خرخ کا قدر ئ نهٔ لری

په زر دولت دِ عزت دے ښکوره
کاسه ئ زړ شی په ډاک نسکوره

سخا تر هرڅا په خپلو لا ښه ده
دَ ښنو دلبرو سره خندا ښه ده

په ښهٔ ویلو ژبه ګویا ښه ده
خوشحال خټک ته دُنیا په دا ښه ده

په قدچه نوم لری سَروَ په څو لکه
خولهٔ دِ حقه ده دَ سرو یاقوتو

په مخ چه نوم لری تمام ورمکه
په سپینو دُرو ګوهرو ډکه

دا چارڅرګنده په هر دیار ده
دَ زړهٔ دِیار مِ خالی نه غیر دے

بدی ښیګړه دیار دیار ده
ښکلي دلبره دیار دیار ده

دُنیا بوډئ ده دَ کالو ډیره
دَ ډیرو مړونو ماغزهٔ ئ وخوړل

ترسلونړرو مړنو تیره
لا به ئ ښنی پرےنهٔ ده سیره

ترباز کهٔ لاندِ کړے دَ کارګه هویه
کهٔ دَ مزری سره یاری آغازه کا

باز به را نهٔ وړی کارګه ترے بویه
کوم خوئ به واخلی دَ مزرې سویه

کهٔ څوئ دَ پلار ئ دَ پلار هُنرواخله
بهرام کهٔ څوئ دَ خوشحال خټک وُو

نهٔ چه ئ مال وملک ویا زر واخله
هُنر ئ نهٔ وُو څُځ خبر واخله

دَ لُور عفت غواړه دَ څوِیه تُوره
چه دا ئ نهٔ وی مرګ ئ ملیمه شه

هغه چه دا لری بلا ئ دُوره
مور دِ دَ وخته شی په دواړه بُوره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل ښی ساله وے دَ خدائے دپاره
دَ ښو ښو جونو جمال تل تل لیدے
ګل ولاله وے دَ خدائے دپاره
په لاس پیاله وے دَ خدائے دپاره

ښځه خوش خویه غواړه خوش رویه
مینه ئے ډیره نوړنګ په بوئ شی
کۀ نه بدرویه ښه ده خوش خویه
خوک چه خبردی دَ ګل له بویه

له قامه لاړ شوم لوے په کروهه
په تیرو چاړو پسے آرمان کړم
خالی آرمان دے روستنۍ پوهه
اوس مِ څۀ سود دے له دے اندوهه

ساقی بیا مهر کړه دَ میو مهر شۀ
پکښے به ډیرے ډیرے خوبئ وی
دَ مینځ دَ تلے مقام دَ مهر شۀ
بیا را برسیره دَ فلک مهر شۀ

دَ نَو دولتو دُنیا کۀ ډیره ده
خوک دِ ئے کرم او ملامت نۀ کا
دَ جُود ویناځ له دِله هیره ده
یوه بلائے ترتندی تیره ده

دَ رقیبانو په ډیره ړخه
شوم یم چه بایم په دا ډیر غم کښے
دایم جُدا شوم دَ یار له مخه
یو جدائی شوه دویمه سخه

دریپښه مۀ شه دَ بخت کږوه
دَ باز شړلی زړکه مِ ولیده
خونی مزرے کا په تا ببړوه
دَ باد خورکو باندِ خوږه وه

ړۀ ئے خبر یم له زیانه سوده
حسد دَ چا دے دَ نامردانو
حسد مذموم دے غبطه محموده
غبطه راپاسی دَ مرد له جوده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه علم وکړې عزیزه خویه
کمکیه ونه باردارهٔ ښه ده
فهم په علم په عمل بویه
نهٔ پلنه ونه بې باره لویه

کهٔ یار دِ سپین دے تاته تورمشه
نیک بد به واړه په دا پوهیږی
کهٔ دَ صفت دم دَ پیغور مهٔ شه
کهٔ ته هغه نے خوئ دِ اوس تورمهٔ شه

په شیخ رحمکار م تازه توبه وکړه
زړهٔ م هرګوره په اندیښنو شو
هغې نګارے راته ښیوه وکړه
توبه م بده ده کهٔ توبه م ښهٔ وکړه

زړهٔ دِ کباب کړم خدائے دِ کباب کړه
نهٔ دِ وفا شته نهٔ دِ جفا شته
غلیم خونهٔ یم خهٔ خو حساب کړه
ناکسه دړ ومه خدائے دِ خراب کړه

کهٔ سروری غواړے دَ هرچا وړونے شه
کهٔ بد ګفتار دے کهٔ بد کردار دے
پرده پوښی کوه لکه پړونے شه
چه عذرخواه شی آواره کړونے شه

وفا ترے مهٔ غواړه دا دوه دے ګړخیزه
یو آس بل ښځه کهٔ هرخو ښهٔ وی
چه بے وفا دی خما عزیزه
دړ یمه توره وړ سره نیزه

دړ یغه ښهٔ ځویه دریغه ښهٔ زوړه
چه دواړهٔ توکه لائق قابل لری
چارے ترلعلو تر دُرو چو ښره
هغهٔ ته وایه کهٔ موږے موږه

سر په زانو کښیږه دا چارحا شا ښه ده
خوکام ترے موے په غم کښے دروے
تر باغه راغه دا تماشا ښه ده
دُنیا کهٔ دا ده دُنیا ته شا ښه ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخم ضائع کا بد اصله مزکه
هغه چه کرکا یا پئ شاربی
بنهٔ پئ خسا کا بده غرکه
هغه دِ نهٔ کا داپوهه ورکه

دَ دُنیا مینے یارئ واړه
چه به ئے ژاړے په جدایئ
بقا هیڅ نهٔ لری باندِ مهٔ ویاړه
جُدا چه نهٔ دی واړه وژاړه

چه په قرآن کښے دی منلی واړه
نفس دِ په دا کښے کهٔ فضولی کا
مشکوٰة مصباح ته نیولی غاړه
شیطان خوار کړے بدبخته ژاړه

چه هر زمان م په زړهٔ میشتهٔ ده
خدائے خودِ صبر له دِ را نهٔ کا
هغه مهرو یه دَ زړهٔ دمه ده
دَ صبر بخره کهٔ هرڅو بنه ده

نهٔ به دا مزکے وی نهٔ آسمانونه
باقی به بل یو جهان پیدا شی
واړه به واوړی دا دیوالونه
مولا لره نهٔ لری خپل جهانونه

دا خاورے نهٔ دی چه مونږ پرے ځونه
گوره له کوموخاورو به گډ شو
دَ خیال ځلمی دی گل کونے جُونه
په هر زمان دی دَ مرګ پیچونه

اے چه دولت لرے بد دِ خصلت دے
بازچه له بده باز داره لاړ شی
دولت به بایلے بنهٔ نصیحت دے
وبه نهٔ نیسی دا تجربت دے

آهن دَ خانانو دی دَ بنو کسانو دی
ماړهٔ خاریهٔ بنهٔ دی وړی گنده دی
نهٔ دَ نادارو مفلسانو دی
دِ نگر دَ چا دی دَ گرکسانو دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزار دَ خولے دے آزار دَ لاس دے
سړے به نهٔ وی هغه به دَد وی
له دوا ړ وخلاص دے هغه چه ناس دے
چه په دا واړهٔ توکه الماس دے

اور وړ ندهٔ ته په تاؤ مفهوم شی
هغه چه پر یوزی وا ورته رنګ واخلی
وسترګه ور ته څرګند معلوم شی
هرڅوک خبردے چه اورے نوم شی

اَ بله هغه دے په ورځ چه چراغ کښیږدی
یا چه دَ شګو عمارتونه کا
یا چه بے درده په صورت داغ کښیږدی
یا چه په بده مزکه کښے باغ کښیږدی

اهل کیمیا دی کیمیا به څوک مومی
نوم دَ عنقا شته په دا جهان کښے
اهل وفا دی وفا به څوک مومی
اهل عنقا دی عنقا به څوک مومی

اصیل چه نهٔ لری اَدب هم هیڅ دے
چه دانشمند دے حکمت هُنر لری
جمیل چه نهٔ لری نسب هم هیڅ دے
که دَ بادشاه لری منصب هم هیڅ دے

اندوه هیڅ مهٔ کړه خوشحاله سخ دے
هغه چه تا وته خوړونے سپے وُو
خواری دِ لاړه دولت ته مخ دے
په لړے لړے ملګونو یخ دے

اُمید کهٔ ګورے بهتر تر بیم دے
چه له اَعدا سره په مدارا وی
عطا پرے مهٔ نیسه کهٔ دِ غلیم دے
دا کار دَ چا دے کار دَ حکیم دے

اے چه بے مثل په کړهٔ او وړهٔ ئے
دا هسے ولے دَ زړهٔ په وړهٔ ئے
ګل رنګه روغه دَ خدائے په کړهٔ ئے
په هیڅ نهٔ ئے خو په خیل زړهٔ ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



آتش قبول کا گنے چه قند شی
ادب دَ ځویه دَ رور بائده دے
په هر دیارے صفت دَ خوند شی
جوهر دَ تورے په صیقل خرګند شی

آسمان چه هومره لوئ رفعت لری
دا به خدائے واړه سره فنا کا
مزکه چه هومره ستر وی وسعت لری
چه لوئ عظیم دے عظیم ساعت لری

آفت که ګورے په بے ننګئ کښے دے
ماله دو رنګو فائده ونه لیده
نکبت دَ دهر په دل تنګئ کښے دے
که سود دے سود خو په یکرنګئ کښے دے

احمق دروښئیم که احمق ګورے
توروته سپین وائ سپینوته تور وائی
احمق راندهٔ دی په سترګو تورے
په غوږ ونو آوری خبرے نوړے

اے چه په ړوکښے ګذار ته سازئے
غازی غرځهٔ دے درباندِ درغے
سترګے دِ لګی غوږ په آوازئے
په تخرګ ئے وُوله که تیراندازئے

اے دَ چشمانو په غمزه الماس ئے
ترسر تر پایه راته ووایه
داځهٔ هنردے له عاشق ستاسے
ترے دِ یستلے یم لارم وباسے

اے نفسِ فضول از فضولی باز آئے
هیچی واز هیچ چه خیزد هیهات
چوں مردمِ جو فروش گندم نمائے
بیهوده مگوے وبرزمان ژاژ مخائے

اوس له دیو ښځو کله مردم زیږی
دخول که نهٔ کړے ورسره ځائے لری
ورځنے واړه مار ولړم زیږی
چه ځنے واړه په عقل کم زیږی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے چه حکیم و علیم دِ نوم دے ورکړے آخلے کار دِ معلوم دے
شیرین ژوندون دِ ورباندِ ترخ کړ خوشحال چه نۀ وڅنے حکمت دِ کوم دے

احمق کۀ هرڅو دُنیا دولت لری دولت به بائے کاچه حماقت لری
کۀ ډیرنادار وی شکر دِ کاندی کۀ خوئے نے ښۀ وی علم حکمت لری

اصیل به شرم حیا وفا لری اصیل ئے وګڼره هغه چه دا لری
کۀ شاهزاده وی چه دائے نۀ وی اصیل ئے مۀ ګڼره یوه بلا لری

ایمان دَ سروزرو ترغرونو ښۀ دے منافقانو وته هیڅ نۀ دے
لال دُرچه پیژنی هغوئے قدر زده چه شناخت ئے نۀ لری سویے ترنه ښۀ دے

اے چه پری وما ته ستائے کۀ یارم وونیے بیا به وونیے
هرچاچه ولیده باندِ بلبل شو مخ دِ کۀ ګل دے دَ دلربائے

آدب چه نۀ وی په سپین په تور کښے عزت به نۀ وی په هغه کور کښے
دولت به دړومی له هغه خلقه چه سره تل وی په شروشور کښے

اوۀ آسمانه اوۀ ئے ستوری دولس برجونه دی چه پکښے شوری
غمژن دِ طمع دَ ښادئی کاندی دَ شپے خښتن دِ سحر ته ګوری

آسپے آسونو وته ساتلے شی ټټوے خرونه سره شړلے شی
ټټوان یا خرونه باندِ ختلے شی ځنے نابودے ګلے حاصلے شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزار دَ اهل وماته جهل دے
دوزخ در بښئیم په دا دُنیا کښے
خپل ځان که ځار کړم تر اهل سهل دے
دوزخ صحبت دَ سفله نااهل دے

اے چه رحمان او رحیم دِ نوم دے
نادان په تاج کړے دانا محتاج کړے
عظیم بادشاه ئے کار دِ معلوم دے
ما پرے خبر کړه حکمت دِ کوم دے

آسمان روغ زړونه نهٔ دی پریښی
خوټے دا ستوری په سترګو وینے
دهٔ دی په هرچا چاپونه ایښی
واړه داغونه دی ټکوښی ټکوښی

بنیاد دَ چارے په مصلحت دے
چه سره یوشی دا دواړه توکه
بیا دَ مردانو په بنځهٔ همت دے
واړه دولت دے عزت حرمت دے

بدخواه دِ کوم دے چه دِ په بدُ ویاړی
کهٔ هرڅو خوځی دَ فرښتو حاصل کړے
نیکخواه دِ کوم دے چه دِ بهبود غواړی
لهٔ چا به تهٔ ژاړے څوک به لهٔ تا ژاړی

باغ په خوبئ لکه مخمل دے
ساقی راپاسه مینا راواخله
راسره ګوره یوځهٔ مخ مل دے
پرخه وریږی ګل دے حمل دے

باورکهٔ وکړے په جُز او کُل کښے
دا ډیرے غاړے نغمه صوتونه
مردان به تل وی په توکل کښے
نشته په باز کښے دی په بلبل کښے

بله به نهٔ وی په حق شناس کښے
چه ئے جارباسی هوړے جار وزری
تل به په حمد وی تل په سپاس کښے
زړونه تسخیر دی دَ خدائے په لاس کښے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



باغ وے سرود وے نُقل وشراب وے
مجلس دَ خاصو کتاب په مینځ کښېږي
ښے ښے دلبرے بنهٔ بنهٔ احباب وے
نقل دَ تورو وخت دَ شباب وے

بارئ ئے نۀ دی گل دَ گلاب دی
راشه کۀ دواړه شونډے ئے گورے
زلفے ئے طعن دَ مشکناب دی
چه پرے مستیږی هغه شراب دی

بطه تل لامبی اوبۀ تل مومی
بدبوئے ئے خکه دروی له تنه
بدبوئے ئے ولے له تنه دروی
هره بلاځی دَ دے تر کومی

بلا بلا وائے بلا هم تۀ ئے
تورهٔ دَ ژبے تورهٔ دَ اوسپنے
خپل بنهٔ هم یاد کړه کهٔ بلا نۀ ئے
څۀ غوخول کا خبر لا نۀ ئے

بخت و دولت دَ سری له ځایه وی
هُنر هاله راشی همائے هاله راشی
نۀ له هنره نۀ له همایه وی
چه باندِ حکم په چا له خدایه وی

بازپه دیدن دَ طاؤس ویاړی
په خپل خپل ښکار پسے هرخوک تلاش کا
سرپسے ئے هرڅۀ سره ونغاړی
مزرے کۀ زوړ شی غوابڼے وغواړی

باغ دَ گلونو کنج او کتاب وے
ښے ښے محبوبے بنهٔ بنهٔ احباب وے
رود وسرود ونُقل و شراب وے
خوبی دَ عمر وخت دَ شباب وے

بادشاهان بنهٔ دی چه په ځوانانو زربښندی
زر سر دا دواړه توکه ډیر گران دی
ځوانان پرے بنهٔ کاچه ورته سربښندی
یو یوئے وبښندی نۀ ئے یو هر بښندی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهانړ دَ آسپو کله يکسان دی
ځنې دَ باردی دَ زيست روزګار دی

ځنې ټټوان دی ځنې آسان دی
ځنې دَ توري دَ برګستوان دی

بې غمه خوب کا چه روغ په تن وی
موړ دَ شکرو حلوا ته نهٔ ګوری

خوب به په څهٔ کا چه څوک غمژن وی
وږے دَ سپوږے روټئ کا زمن وی

بازونه واړه بها دران دی
چه په آسونو کښے خم چم پيدا شی

چه بد شے نيسی بد بازداران دی
آسونه ساز کا چه شهسواران دی

بلبل دَ ګل دے ګل دَ بلبل دے
مينه په پټه دَ هيڅيا نهٔ شی

بلبل هوړ غواړه هوړے چه ګل دے
خپل بوئ دَ مشکو په ځان چغل دے

بدخواه دِ خوار وُسه تهٔ ورته غټ وُسے
څوچه بنا دیُ دی څوچه غمونه دی

خپل نيت دِ زغره تهٔ پکښے پټ اوسے
ودواړو توکو ته په مخ په څټ اوسے

بد مخ ناحقه په زر پسالهٔ شی
کهٔ هر څو رنګ لری سرسپينے پاړدی

بنهٔ مخ چه بيا مومی پسول دِ هالهٔ شی
شندے به چيړے نرګس بالهٔ شی

بدی په لاس واخلی چه ګنهګار شی
چه څوک له خپله شامته خوار شی

چه ګنهګار شی هغه دَ دار شی
خپل پردی واړه ځنې ويزار شی

بزرګی په تا بنائی کهٔ تهٔ ستار ئے
چه پرے حاجت دَ محتاج پوره نشی

ستار کهٔ نهٔ ئے کله بزرګوار ئے
کهٔ مال دِ ډير ډير دے کره ماندار ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بار دَ اوښانو په خرونو ږبښ نهٔ شي
دَ ویښ له حاله اودهٔ خبر نهٔ دے
جام دَ مستانو په صوفیانو څیښ نشي
څوچه له خپله خوبه نه ویښ نشي

بدی له خپلو چه آواره نهٔ شي
کهٔ ښهٔ دے ښهٔ څو هغه سړے دے
خپلوی دَ خپلو په چا ښکاره نشي
چه ئې په خپلو کښے ګریوان پاره نشي

بخت دَ مغلو پښتانهٔ نهٔ پریږدی
ګنړه کهٔ څهٔ هومره پښتانهٔ نهٔ دی
چه اتفاق وکا په تُوره زړهٔ کښیږدی
چه ئې په یاد کا دَ مغلو زړهٔ ریږدی

بانړهٔ کهٔ هر څو دَ سترګو زیب لری
څویه کهٔ ښهٔ دے نور دے دَ سترګو
چه ورکاږهٔ ئې بلا آسیب لری
څویه کهٔ بدشی ماران دَ جیب لری

بیا مِ له بخته مدد څرګند دے
چه خوب مِ نهٔ وُو دَ دهٔ له غمه
خوب کړم خوښی کړم زړهٔ مِ خورسند دے
ترسرمِ لاندِ هغه مړوند دے

بوئ دِ له نطفه دَ کبر وآز ځئ
په مانځهٔ ودرے فکرونه نور کړے
لکه دَ خولے نه چه بوئ دَ پیاز ځئ
عمر دِ هسے ګنده ناساز ځئ

عابد بے بند دے هم بے پیوند دے
سړے لیدهٔ شی کهٔ خوئ ئے ګوره
مور پلار ئے نشته پیدا له شخوند دے
لکه چه دد وی هسے بے سند دے

پکار هیڅ نهٔ دی خالی مستی
هستی تمامه په مستی کښے وبا زهٔ
څولا په زړهٔ لرے دَ غم هستی
کهٔ ما نه زده کړه مے پرستی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ننګ خبر نهٔ دی بې ننګه کلی دی — وفائې نشته له عقله پلی دی
کهٔ مونځ اودس کا په پنځه وخته — هم بې صلوٰة هم مخ ناولې دی

په غم دَ نوړ وغم ته ساز مهٔ شې — سپک وعالم ته په خپل آواز مهٔ شې
سړے په طمع دَ بل بنده شی — دُعا به داکړم اَخته په آزمهٔ شې

په رنګ رنګینه ئې په مخ نسرینه ئې — په لب شیرینه ئې په تن سیمینه ئې
درسته ګلزار ئې تر سر تر پایه — عیب دِ دا دے په زړهٔ سنګینه ئې

په ځان مِ لړ ډیر ځایونه مبتلی دی — څونړ چون مِ کمبلی کمبلی کتلی دی
ستا تر بنا نُسته چه نابناغلی دی — دَ خلق کمبلی کشمیری کمبلی دی

پلار دَ خپل [illegible] ډیر وپاړی — په هره چارئې بهتری غواړی
چه خوئې ئې بد شی نصیحت نهٔ منی — دَ دهٔ له خویه په اوښکو ژاړی

په کاغذو کښې خوانائې ولولې — چه کمبلی نهٔ وی هغه څوک څهٔ لولی
هسې مردان شته په دا دُنیا کښې — تختې دَ وچولی تختې دَ زړهٔ لولی

پند دے سود مند دے کهٔ څوک ئې نغوږی — وخت دَ فساد دے لهٔ تا چه وزیږی
خوئې ئې مهٔ بوله حذر ترے بویه — چه دِ له حکمه له رایه وغړیږی

په تار دَ غنړی ذباب بند کیږی — نهٔ په دا لُومه عقاب بند کیږی
پند وعاشق ته بند دَ خسریو دے — په دا به کله سیلاب بند کیږی

POHA پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنه په اورکښې کونه کونه شي
عادت به هیڅوک د ناکس نور نشي
کانړي په اورکښې هیچ یا چونه شي
که اوړي پوړي په درونه شي

په خپل مقصود پسې په څه مجنون ئې
په خوشحال شې چه په کام کامیاب شې
په خپل مطلب پسې یوڅه مفتون ئې
د کام په نۀ موندلو هردم محزون ئې

په رنګ ممتیازې لکه اوبۀ دي
لکه چه مخ وینې څوک په اوبو کښې
په خوند په بوئ کښې د اوبو نۀ دي
هسې په دې کښې د مخ لیدۀ دي

په خصلتونو کښې عدل انصاف بنۀ دې
چه څوک د غابښ مات کاتۀ ئې هم غابښ مات کړه
له بنوله بدو سره زړۀ صاف بنۀ دې
که عذرخواه شي غابښ ئې معاف بنۀ دې

په پوهه ډک دې هر یو زړۀ ولې
هغه چه خر بیائی یا چه حکمت وائی
وځان ته نۀ وائی هیڅوک غوږ ولې
هر یو فلک دې سره سرې

په تن هڅونه ډک وریشه ئې
خوئ د ددانو د حیوانو پریږدۀ
په دا که کورې یو دوه پشه ئې
که تۀ سړې ئې په اندیشه ئې

پند د سړي دې سړې د پند دې
سړې په پند نیسي خاروې په بند نیسي
پرې به پوهیږي چه دانشمند دې
وهر سړي ته دا کار خرسند دې

پښتون په اصل سر بنې دې
لودی غلچې دې د بیټنی له لوره
یا غور غښتې دې با بیټنې دې
په سره بن پوړې بیا کړلے دې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا خبر شه چه سړے څهٔ دے — سړے دَ غشي کړه دُرمه دے
چه بے اُستاد وی لا غشے نهٔ دے — چه بنهٔ ئے سازکا سړے هالهٔ دے

په رنګ په حُسن په خو نادره ئے — بنیوه غمزے لرے خوجلوه ګره ئے
له خپله یاره خو زورَوره ئے — خوچه بخلاشے بیا مَروره ئے

په عطرو ډوبه هغه خوش رویه — راغله ناګاه له یوهٔ سویه
تمامه شیه ئے را سره تیره کړه — سپیږے م ډکے دی دَدے له بویه

په ډیره پوهه کهٔ بو علی دے — چه جود ئے نشته احمق جلی دے
کهٔ کلمه لولی عقل ئے مهٔ ګوره — چه څوک ئے نغن خوری هغه ولی دے

په قد دَ سروِ تر ونے بوک ئے — په رنګ په اصل په خوئ ملوک ئے
کمے دِ نشته په شش وپنج کښے — په چار په هر څهٔ دَ زړهٔ ګی څوک ئے

په دا به پوهه شی هغه چه کس وی — ډیرے رمے لره یو شرمخ بس وی
چه یو بخړے دَ اور پیدا شی — په مخ ئے وبهے انبار دَ خس وی

په دا دُنیا کښے ښے خوږے مینے — بد رنګے ترخے شی کهٔ ته ئے وینے
نور څهٔ ئے مهٔ ګنړه واړه مقصود دے — ترخوله ئے وباسی ترخے شیرینے

په استخفاف دَ بادشاه دولت بائلی — په استخفاف دَ مُلاجنت بائلی
په استخفاف دَ چهار یارانو — هم مودت بائلی هم مروت بائلی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سپین ویښتهٔ م په زړهٔ سرور راشي
غم د زړه وړوالی په زړهٔ هالهٔ راشي
بزیره چه سپینه شي په مخ کښې نور راشي
چه په غاښونو په لیمو فتور راشي

په خپله پوهه کهٔ ذو فنون وی
دولت ته ورسی تینګ ئے ونهٔ نیسي
وئیل چه نهٔ منی پکښې جنون وی
قابل ئے مهٔ ګڼړه چه په رائے زبون وی

په کارد علم عالمان موندي
دا واړه هیڅ دی ځما په پوهه
شیخان په کارد شیخئ ځان چوڼي
ګوره څوک ورشي په مخ مخ رونړي

په عاشقانو څوڅو خبرے شي
چه عاشقان دی چه صادقان دی
ورته لښکرے شي تورے شي زغرے شي
عشق به ئے کله له دله لرے شي

په باغ چه ګړ شي چه ترے وتونی دی
کهٔ هرڅو وخوری ګلونه بوئ کړی
کهٔ لون لون میوے خوږونی وی
خوعاقبت به ورځنے تلونی وی

په ښایسته ؤ چه مبتلا وی
بے میینے مهٔ شے مئین هم مهٔ شے
بےفکره کله خلا ملا وی
دا دواړه توکه آلا بلا وی

پاکی چه راشي په هغه کور کښې
یوسف چه پاک ؤ ځکه بادشاه شو
بلا ئے ؤسیزی نوره په اور کښې
ځهٔ شوکهٔ بند ؤو ناحق په تور کښې

په شپه آرام شي په ورځ هرکام شي
په شپه په ورځ دی د عشق غمونه
په ما دا کله په صبح وشام شي
آه و زړه ام سره م ام شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مخ که هر څو صاحب جمال وي
که زر تسبیح لولي باور پرې مه کړه
نه په زړه کښې افعی افعال وي
ښځې م واړه د مکر جال وي

پلار مور که هر څو نکو فرجام وي
فرزند که ښه وي خدائے ئے کامران لره
په بد فرزند پورې خجل بدنام وي
د بد فرزند دِ زهر په کام وي

پیرین که ښه وي په کاروبار کښې
زرغه نامرد کا له کاره پاتې شي
نهٔ ډیر فکرونه نهٔ زړغه په کار کښې
مرد تهول اختیار وي په زیست روزګار کښې

په رنګ په خوئ کښې سره پرخې وي
یو سپیند بل پورې لکه لښتې وي
په مرتبو کښې سره نیرې وي
یو غر تر بل پورې لکه غونډې وي

پیوند د زړونو عجب پیوند دے
خوچه وفا وي هومره ټینګیږي
په قطره غوښه وبله بند دے
جفلئے پرې کا کارئے خرکند دے

په باغ په راغ کښې کرل هر څهٔ شي
که لویولے په شودو پئ وي
په خپل خپل اصل بیا واړه وشي
مولئ مولئ ده نور څهٔ به نهٔ شي

په باغ کښې ډیرے ونے ولاړے وي
پلنې نرئ کوږے ناکوږے
چه ښهٔ ئے حئیر کړے په خوځوغاړے وي
ځنې په پورته ښائسته ولاړے وي

په دا جهان کښې چه څو غمونه دي
واړه په بخره د عاشقانو شول
څوڅو خوارئ څوڅو ستمونه دي
بخرے له ځایه په قلمونه دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاداش دَ هرے چارے تیار وی      کۀ نیک کردار وی کۀ بدکردار وی
چه ترس دَ زړۀ لری داکار به ښۀ لری      خوبے پروا وی هومرده زار وی

په زړۀ کښے څړیکه دَ ښکاری لاړه شی      هے هے نارے وهی بوږه نے غاړه شی
چه سره وښبلی دَ ښکار بازونه      زرکه دَ دواړو له منګلو لاړه شی

پرےږم سلام دے جرګے چه پنځے شی      زړۀ ږم هورے دَ هورے چه هنړے شی
خوشحاله زور شوے قرار ناست اوسه      پښتون چه زور شی دَ ننګ دَ تخته شی

پند دَ نیکخواه دے خدائے دِے ښۀ لری      ورمون دَ نیکونیکان په زړۀ لری
هوښیار لازم دے چه خطائے وے      نادان معذور دے چه عقل نۀ لری

پیوند دَ مینے هم ټینګ هم سست دے      جفائے پرے کا په وفا درست دے
ډیرو ومانه په جفا پرے کړه      اوس خو دَ لړ و ځه آمست دے

په سرپیتوب کښے واړه یکسان دی      کۀ مومنان دی کۀ کافران دی
ایمان دَ چا دے دَ مومنانو دے      ایمان نے نشته چه کافران دی

په چا چه عدل یا ستم کیږی      هر ځائے چه بیش و یا څۀ کم کیږی
بے ځا یه هیڅ نۀ دی واړه په ځائے دی      یو آزمیښت دے په عالم کیږی

په هره چار چه همت بسته شی      تیرۀ خارونه هم ګلدسته شی
کۀ بے همتی نے په لاس واخسته      دَ هغو برخه خواره خسته شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانهٔ واړه لکه مار ونه دی — مغل دم کړی په خپل کار ونه دی
چه په مار ونو کښې لوئ مار پیدا شی — پسې ئې غواړی کهٔ په غار ونه دی

پسرلے چه راشی یا پشکال شی — دَ ختک زونی شیخان خوشحال شی
شکرانې اخلی دَ باران وعدے لی — په دړوغژنو وعدو نهال شی

په دا جهان کښې کهٔ خرابئ دی — یا ناحقئ بے حجابئ دی
یوه به نهٔ وی دَ هوښیار له لاسه — دَ نادانانو دَ شتابئ دی

پرے م سلام دے هغه چه مے خوری — خدائے ئے دار وکړه کهٔ په دودئے دَ خوری
اول خلوت بویه بیا بنهٔ صحبت شه — مے په صوت دَ چنګ وئے خوری

په خو دَ ځان په ښیوه بیدار ئے — ویښتهٔ دِ کوز شی هم پرے آزار ئے
فکر دَ ګور دَ خوارئ نهٔ کړے — بند بند به پروت وے ناپروا دار ئے

پریږده پرے سترګے دَ وریو وُوځی — باندِ پراتهٔ وُسی وریژی سرکوزی
لوئے نمړئ دَ ډک طباخ وی — دوئ دی خوړلی دَ طباخ ګخونړی

په خو ولئ وائے لړے چه لږ بیمار شے — پروا دِ نهٔ وی چه چاق تیار شے
هیڅ ئے نابود ئے چه ښهٔ م ولید ے — غفلت خوار کړے کهٔ خبردار شے

په هره ژبه سخن سنجان دی — دَ ځان په فخر پاک دَ سبحان دی
په خوله ئے ذکر په زړهٔ نور فکر — فساد دَ دور دا نا شیخان دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شمار مِ خویه ترشپیتهٔ زیات دی — نیمګی به مرهٔ وی نیمګی حیات دی
چه راخرګند شول په کاروبار کښے — ترد ے ژوندیو بهتر اَموات دی

په رنګ په شکل بنایسته میورے — په زړهٔ سنګینه نا ترسه ګورے
یاران ډیرخوښ کړے بیلے ډیرخوارکړے — داروَ دَ زړونو دَ زړونو زورے

پنځه دِ ګوتے دی کهٔ یوه نهٔ وی — دَ نورو ګوتو چار به دِ څهٔ وی
دَ لاس خوبي ده په پنځه ګوتے — چه سره جوړے وی کار به دِ بنهٔ وی

په رنګ په حسن تازه بلوڅه ے — په تن کښے سپینه ترتازي یوځه ے
ترسر تر پایه کمے دِ نشته — په بنو خبرو څهٔ خبرلوڅه ے

په خپلو او بنکو کښے سرے شنا بنهٔ دے — له هره هرسړی سره آشنا بنهٔ دے
کهٔ ګل له نورو دی اغزی له یاره دی — منت ترهرڅهٔ دَ خپل آشنا بنهٔ دے

په ما دا عدل کهٔ دا ستم دے — چه غم په ما باندِ په هرهر دم دے
واړه مِ خپل دی پردی څوک نهٔ دی — چه ئے له ما سره دا هومره غم دے

په سوات وریږی په سمه شین دے — ترغرهٔ به کوز شی لانماز پښین دے
بتې دَ تالی دَ عبدل لښکرے — خوشحال له زړهٔ دِ له واړوشین دے

په رنګ کهٔ حوره ده پرےګرفتار مهٔ شے — چه خوئے ئے بد دی دَ بنځےیار مهٔ شے
خوشحال ته ګوره چه یوځهٔ یار لری — له بده خویه ئے ته خبردار مهٔ شے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحبت په سرطان کښې په مزرې په وږي
لیندۍ ورغومې صحبت هم زیان لري
مرد به خپل ځان ژغوري ځماله نغوږي
په دا منزل دِ په بهار کوږي

په عاشقانو آرام حرام دے
په عشق کښې شرم په ننګ کارنهٔ لري
عاشق ئے مهٔ بوله چه په آرام دے
دَ دواړو توکو یوخالي جام دے

په دا خبره هرڅوک خبر دي
تا غونډِ کله هوسئ دَ مښکو دي
تراوریدلو لیدل بهتر دي
مښک دِ دَ زلفوکهٔ برابر دي

په تن سیمینه ئے په رنګ رنګینه ئے
زهٔ دِ مجنون یم کهٔ تهٔ لیلیٰ ئے
په لب شیرینه ئے په مومشکینه ئے
زهٔ دِ فرهاد یم کهٔ تهٔ شیرینه ئے

په هرچا کوته غمونه خپل دي
دور دَ چا دے دَ عالمګیر دے
څوک دی چه نن م په غم دَ بل دي
لاس به په غوږ لري چه څوک عاقل دي

پنځه بارونه دی بردن ئے غم دے
پنځه په نوږو دی په تادوه کم دی
ورمیږ دَ خلقو ترلاندِ خم دے
خوشحاله شکر کړه چه بار دِ کم دے

په دواړو زلفوکهٔ عنبر بیزه ئے
دا څهٔ لا نورے خوبئ دِ ډیرے دی
په دواړو شونډوکهٔ شکرریزه ئے
با با دِ ورمه بلا سرتیزه ئے

په لارچه دروم په مخ دلبر راشي
هسے دَ کښلیو په دیدن خوښ یم
یا بنهٔ څهٔ بیا مومم یا بنهٔ خبر راشي
لکه په خوارږ باندِ اختر راشي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاسه یا کوزے دا کارسازۍ　　په څوځورنګه دلنوازۍ
آسمان ته ګوره مزکے ته ګوره　　دا چارے نهٔ دی لوبے بازۍ

خښتن دَ خونے چه بے تدبیر وی　　وینځے مریونه ئے وتیښت ته خیروی
یائے ډیر مست کا هوائے نوره شی　　یائے ډیر خوار کا لکه اَسیر وی

تازی چه نهٔ نیسی کوته چه نیسی　　خلق په بنهٔ نظر کوته ته کسی
تورزن پخپله خپل ځان په قدر کا　　چه تورے غشی په ځان رانیسی

تورے دِ زلفے دی تور دِ اوربل دے　　مخ م دِ ولیدهٔ لکه اوربل دے
هم تور لوګے دے هم سرے لمبے دی　　دَ غوښبوړ پرهٔ م پکښے قبل دے

تل خاموشی کړه چه تل بے غم وے　　طمع له چا مکړه چه به ترجم وے
خوښ په هُنر او سه خوښی په مال مکړه　　هسے کار ونه کړه چه بے ندم وے

تر باز نه نور نور مرغونه کټ دی　　هُنر چه نهٔ لری څکه څو هټ دی
خپل کار څرګند کا په دا دوه ځایه　　مردان دَ کوټے بنځے دَ کټ دی

تر لعلو دُرو عقل تمیز بنهٔ دے　　دَ بل تر مُهر خپل یو پشیز بنهٔ دے
چه خبردار دی دَ صحبت په علم　　تر بے ادبے خبرے تیز بنهٔ دے

توبه هالهٔ بنه ده په ګناه چه لاس رسی　　چه لاس په هر چرته په کوز ویاس رسی
چه لاس ونهٔ رسی توبه څهٔ سود لری　　خالی خبرے په خولهٔ دَ پاس رسی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ چه بادشاه دَ سمن رویوئے    غوړهٔ دلخواهه دَ سنبل مویوئے
تر سر تر پا یه ګل ئے سنبل ئے    بدچه په نغوته دَخوبدخویوئے

تهٔ به هیچرے دَ آس په یون نشی    په تُوره هیڅوک لکه پښتون نشی
اصل په هرڅهٔ کښے خپل ځان ځرګند کا    خوند دَ متړو به ګندم ګون نشی

تل تل تل م ورپسے غم دے    مینه ئے ډیره راحت ئے کم دے
چه نهٔ ئے وینم په سترګو تورو    داجهان واړه په ما تورتم دے

ترې کهٔ بد دی خو بیا همجد دی    هرچه همجد دی هغه امجد دی
بولاق کهٔ هرڅو خټک یا دیړی    دَ سباکئ د لوریه بد دی

تهٔ اوم سبوئے تر څرخ وتلے    دَ اور ترتاوه نهٔ ئے ختلے
کهٔ چیرے وُوزے دَ اور له تاوه    نوم به دَ اُوم وی له تانه تللے

تر سر تر پا یه چه سړے ساز دے    فهم کهٔ وکړے درست سره راز دے
سړے هغه ګڼړه چه خپل ځان پیژنی    چه بے خبر دے یوتش طراز دے

تازی چه زوړ شی په قدر خر شی    مزړے چه زوړ شی ترشغال بتر شی
زوړ دِ دماغ دَ ځوانئ نهٔ کا    په دا وئیل دِ هرڅوک خبر شی

ترظل کښیمنے دَ هغے وُنے    چه ئے نهٔ سته نهٔ پانړے ونے
نهٔ یوه وُنه باغی په غولی    نه ډیرے وُنے پلوسے غنے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاچه پیدا کړهٔ دا اوهٔ ستورې    چه ستا په حکم وِ باړه شورې
په شوریدهٔ کښے ئے ډیر ډیر کارونه شته    ړاندهٔ ئے نهٔ وینی بینائے ګورې

توانګر هغه دے چه قناعت لری    نهٔ چه بارونه یا بضاعت لری
چه خوئ خصلت ئے دَ سړی نهٔ وی    یو ځد ئے وګنړه که شجاعت لری

تل تل چه غورزی دا سعد ستورې    دَ هنرمندو په طلب شورې
کهٔ چیرے ورشی په بے هنرو    ځنے دَ تللو دروازه ګورې

ثابت په ماکړه ګناه مهرویٔ    لاله عذارے عنبرین مویٔ
له هغه پسه تُوره راواخله    وینے څُما دَ ګردن کړه تویٔ

جنت دَ چادے دَ صادقانو دے    دوزخ دَ چادے دَ کاذبانو دے
قرآن چه لولی کذاب عذاب مومی    ثواب بے حده کهٔ دَ قرآن خوانو دے

جنت دَ چادے دَ حق شناس دے    دوزخ دَ چادے دَ ناسپاس دے
ګانده به نورے فتنے پیدا شی    کار کړه کهٔ کار کړے چه نن دِ لاس دے

جنګ دَ هاتی دَ مزرې آسان دے    دَ خپلے ښځے آفت لا ګران دے
چه خپله ښځه ئے په خپل فرمان کړه    هم ئے رستم ګنړه هم لا لقمان دے

جنت په ښهٔ کښے دے په خوشخویئ کښے    دوزخ په ښهٔ کښے دے په بدګویئ کښے
چه نیت ئے لوئے دے هغه خدلئ لوئے کا    کمے ئے نهٔ وی په دا لویئ کښے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان کمر دے دَ خخلئے
لکه چه ژغ کړے هغه به واؤرے
فعل دِ ژغ دے ژغکړونے ته ئے
راشه خبر شه که خبرنه ئے

جهان کۀ واړه سره سور اور شی
کۀ سمندر غوندِ په اورکښے کارنۀ کا
کمان ومۀ کړه چه عارف نور شی
عارف ئے مۀ کنړه مخ دِ ئے تور شی

جهان کۀ واړه سره اوبۀ شی
یوه بیړئ چه خوک رښتونے وی
دادوه بیړئ به ډوبے نۀ شی
بله چه وبړی په چا ماړۀ شی

جهان درست ډک شو دَ ناحقئ
چه خائے پرے نۀ نیسی شوری بښوئیږی
لکه پیمدلے اوبړے په منځ
دَ سرداانه ئے خوشحاله ته ئے

جونه چه نۀ وی وادۀ لاخُورِ وی
چه سرئے سپین شی مخ ئے بے نُور شی
اولاد چه راوړی آدم دستورِ وی
یوه پیریئ درته حضورِ وی

جدا چه نۀ شی ترے اوسپین خرے
په خۀ به سازه شی ترے تیره تُوره
ترے پاتے نۀ کا دَ پونړے زړے
فکر دِ بښۀ وُکا اُستاذ خُوئ مړے

جهان دَ چا دے چه خوک تورزن وی
ناستے دِ دے دَ علم ترسیوره کا
داد و دهش کا په نوم مئین وی
چه خوک دَ علم دَ ورع خښتن وی

خُوانی ډک جام دے په پیرئ آوړی
پیری یوازے په هیچا نۀ راځی
بقائے نشته په وار وار واوړی
خوخو عیبونه ورسره راوړی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



څان وجهان لره پکار سلوک دے
ملوک چه بنهٔ لري سخۀ د مملوک دے
ملوک دِ بنهٔ وائي بوچ پوچ دِ نهٔ وائي
دَ ملوکانو کلام ملوک دے

ځائے او مسکن دِ دَ کارګهٔ ګلشن نشي
کمذات سړے دِ دَجاه څښتن نشي
حسن هغه دے چه اصل ذات لري
دَ سپا ندِ ګل به ګل د سمن نشي

څُنے خبرے په تکلف کيږي
څُنے خبرے په تأسف کيږي
څُنے خبرے په بله ژبه
لکه يعقوبؑ ته قال دَ يوسفؑ کيږي

څُنے په علم په دُنيا مستي لري
څُنے په زهد په تقوىٰ مستي لري
څُنے په تُوره په غزا مستي لري
خوشحال په کوم توکي دا مستي لري

څُنے کهٔ وينځے وي لکه ميرمنے وي
څُنے ميرمنے دَ وينځو کنے وي
عقل هُنر بويه په آدمزاد کښے
ميوه چه بنه لري قدر دَ وُنے وي

څُنے په عقل په هُنر دولت مومي
څوک ئے په جهل په حماقت مومي
يو په دارو دَ طبيب رغيږي
بل بے طبيبه شفا صحت مومي

څُنے خپل جيش لښکر حشم کسي
څُنے خپل لعل وګهر نعم کسي
څُنے خپل علم هُنر قلم کسي
څُنے خټکه هغه صنم کسي

چه سړے خوږ نشي سړے چه داغ کښيږدي
هرڅوک پوهيږي څان ته بلا بليږدي
له چاچه جنګ کړے روغه په زړهٔ لره
هوښيار به جنګ کښے دَ روغے ځائے پريږدي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه نهٔ دَ دین دے نهٔ دَ دُنیا دے
پریږده چه وُمری جهان ترے خلاص شی
هغه کهٔ ګرځی پکار دَ چا دے
په دا جهان کښے یوه بلا ده

چه نن دِ یار دی ګانده اغیار دی
خدائے دے چه دا زړهٔ نه سره جار باسی
ګانده اغیار دی چه نن دِ یار دی
دا زړونه کله په اختیار دی

چه نهٔ طالع لری نهٔ مصلحت لری
چه شکر نهٔ لری کله نعمت لری
دولت به بائلی کهٔ ډیر دولت لری
چه صبر نهٔ لری کله حکمت لری

چه قدر نهٔ لری دَ بادشاه دَ میني
هغه نوکر دِ ښادی ونهٔ کا
توے به ئے نهٔ کا په خدمت کښے وینے
هرڅهٔ به بائلی کهٔ تهٔ ئے وینے

چه خوګ ئے سمه ګنړی کږه شی
دخل دَ چا دے دَ خدائے په کړهٔ کښے
چه ئے کږه ګنړی سمه هغه شی
په حال خبر شه چه څهٔ دِ زده شی

چه غم ئے نهٔ وی دَ نیکنامئ
نهٔ به ئے دین وی مهٔ ترے وفا غواړه
واړه ئے مخ وی په خود کامئ
هرڅهٔ ئے هیڅ وی په دا خامئ

چه ئے په کور کښے لائق فرزند وشی
قابل چه نهٔ وی په هغه کور کښے
کرم له خدایه په سړی څرګند وشی
دولت ئے هیڅ دے کهٔ چند درچند وشی

چه زړهٔ له تانه دَ چا بنهٔ کیږی
آزار دَ هیچا دَ اخستو نهٔ دے
بنهٔ کړه دُعا ګټه دُعا قبلیږی
بنیرے دَ خوږو زړونو لګیږی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دم ئے نهٔ زده دَ اوښکئ
نادان دے پریږه ده وربانده مهٔ ږده
دَ اژدها نیسی لوبیه لکئ
د نصیحت د صابون چکئ

چه راښکاره شوه یوه سرئ
دَ زړهٔ ښند نه آسانه نهٔ ده
زړه دَ م پرے باټلو هغه کړی
بے ځایه څوک ښندی یوه دمړئ

چه نهٔ ادب لری نه عقل رائے لری
چه بے ادب وی آدم ئے مهٔ گڼره
دوپائے لیدهٔ شی څو دَ چارپائے لری
څهٔ شوکهٔ شکل آدم نمائے لری

چه درست گلزار دے دَ اتفاق دے
خارِد په بخره دَ خارکشانو شی
چه درست خار خارد گنده نفاق دے
هوښیار د گلو دَ گلزار مشتاق دے

چه رنګ و بوئ لری گل گل هالهٔ شی
چه نه ئے رنګ وی نهٔ ئے ښهٔ بوئ وی
پرے دَ بلبلو غلغلے هالهٔ شی
ورځنے پاتے بلبل هالهٔ شی

چه تا څوک وینی مهربه څهٔ وینی
عاشق څهٔ وینی چه تاونهٔ وینی
مهربه څهٔ وینی چه تا څوک وینی
چه تا ونهٔ وینی عاشق څهٔ نه وینی

چه ذات ئے بد وی اصل ناپاک لری
زاغ و زغن گوره بلبل طوطی گوره
گنده په فعل گنده په توک لری
خیل خیل پرواز کا خپل خپل خوراک لری

چه جنګیالئ لری ښځه په کور کښے
ښځه حلیمه ښه ده خوش خویه
دهغه کس وی ژوندون په ورکښے
بده به تل وی په شر وشور کښے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه زړۀ ونیسي زړۀ بیا پرېږدي — خو یو نامرد به وي زړۀ به ئې رېږدي
یا دِ ئې زلفې په لاس کښې نۀ نیسي — یا دِ ئې ونیسي سر دِ پرې کښېږدي

چا ته چه چاه کنې په چاه کښې پرېوزې — بلا چه غواړې په بلا کښېوزې
په خوب به ورغ وُسې دا فکر ښۀ وکړه — په پړانګ پرهار وکړې بیا ورپسې وزې

چه خوک ئې کاندي کله یارۍ دي — یا خودکامۍ دي یا عیارۍ دي
چه ښې ئې م خیر کړې دا بهترۍ — یا ویزارۍ دي یا اغیارۍ دي

چه نادانان دي چه فاسقان دي — پردم کار وکا بیا زر پښېمان دي
چه ئې په کار کښې پښېماني نشته — یا عاقلان دي یا صالحان دي

په هر سیرت په وجود غالب دے — په هغه رنګ ئې حشر واجب دے
حریص به خوګ وي حاسد به ګوګ وي — په رنګ دَ دواړو خبر طالب دے

چه کاهلان دي چه احمقان دي — دولت به بائيلي کۀ بادشاهان دي
دولت دَ دین دَ دُنیا دَ چا دے — چه هوښیاران دي په کار چسپان دي

چه تنکه خوله لري اوږده بانړۀ لري — تورې ئې وروځې ملال کا تۀ لري
نورخۀ ئې مۀ ګنړه ځما په پوهه — تر سر تر پایه به صورت ښۀ لري

چه کښېني آورې فریاد د ښېرې لري — دَ زړۀ دَ آۀ تورې تیارې لري
پیر به په هر چا په وار وار راشي — اندوه دِ نۀ کا آسمان پېرې لري

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چینه جیحون نهٔ ده غونډئ به غر نشي
کهٔ اوبنکئ په رنګ دَ مار ده

شمع قمر نهٔ ده سها به نمر نشي
بیا اوبنکئ ده بیا به اژدر نشي

چه جنګیالي دي دولت هغه مومي
دا دواړه توکه سره تړلي دي

چه ننګیالي دي عزت هغه مومي
خوک چه محنت کا راحت هغه مومي

چه نهٔ طالع لري نهٔ مصلحت لري
دولت هغه دے چه درپسے ډېر مومي

دولت کهٔ غواړے چه بدخصلت لري
چه ورپسے زغلي بلا آفت لري

چه ئے دروغ نهٔ دي چيرے وئيلي
هغه به هيچرے خواري بيا نهٔ مومي

چا ته ئے نهٔ وي په بد کتلي
عزت دولت به ورپسے زغلي

چه ئے رښتيا نهٔ وي بل ئے اخلاص نهٔ وي
دولت دَ دين دے کهٔ دَ دُنيا دے

هغه به هيچرے له غمه خلاص نهٔ وي
بيا به ئے نهٔ موي چه خاص لخاص نهٔ وي

چه خوئ ئے نهٔ وي جمال زيبا لري
ښهٔ مخ په مثل لوښے دَ زرو دے

لکه ښهٔ لوښے خالي غوغا لري
ښهٔ خوئ په لوښي کښے خوږ حلوا لري

چه نهٔ ئے ننګ وي نهٔ ئے فرهنګ وي
زر دِ په تورو خاورو کښے پټ شي

نهٔ ئے ښهٔ اصل نهٔ ئے ښهٔ رنګ وي
ژوندون ئے مهٔ وه چه ځلے پرے تنګ وي

چه نهٔ ئے دين وي نهٔ ئے دولت وي
سړے ئے مهٔ بوله يو کا ډ خر دے

نهٔ ئے په علم ښهٔ خوئ خصلت وي
دَ کا ډ خر به په خهٔ برکت وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ بدانو سره مقیم شی — کهٔ بیم ئې نهٔ وی هغه په بیم شی
ضرب المثل دے دَ دانایانو — دشمن چه دوست کړے دوست دِ غلیم شی

چه قبول نهٔ ړهٔ ته دَ چا چار بدٔ شی — چارئې نور بده تل تر ابده شی
روپئ چه قلبه شی پوهٔ صراف ته — هغه روپئ په هرچا رده شی

چه دَ بزرګانو خفت آسان ګڼړی — هغه خفت دِ آفت دَ ځان ګڼړی
لږے بلا به وربانْدِ ورنهٔ شی — جوړ دِ زړګونو بلا ته ځان ګڼړی

چه م په غیرِ کښے ئې ساعت هم دا دے — بیلتون دِ بلے لمبے په ما دے
پاسه وردرومه په سردِ ویره کړم — ښهٔ ئې صبا ګڼړم وخت دَ صبا دے

چه غرد سرو زړو دَ سړی خپل شی — مُهر ماسے ته ئې کله کتل شی
چه بادشاهانو سره ناستے په تخت کا — دا نور ځایونه ورته خجل شی

چه بد بنیاد وی چه بد نهاد وی — په هره چار کښے ئې مایه فساد وی
دَ نیکئ چارے الف ئې نهٔ ښدهٔ — په بده چار کښے کامل اُستاد وی

چه خوند دِ راغے دَ آشنایئ — ګران ئې دَ سترګو تر رڼائی
دُعا به دا کړم په پنځه وخته — چه درد دِ نهٔ وی دَ جدائی

چه دَ تازی سره دَ تهتو زګ وی — کله تازی غوندِ په لاړے تګ وی
رنګ ته ئې مهٔ ګوره عمل ئې ګوره — کهٔ سپین کهٔ سُور وی کهٔ تور کهٔ ترک وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې خکلې دَ مغلو مزې دي      دَ دې په غاړه ډېرې بزې دي
په ښکار دَ چا دي دَ پښتنو دي      نورځمځې مه ګنړه لکه خزې دي

چه پوزه نهٔ لري غوږونه نهٔ لري      شرم اندوه به له بیانه ..........
رنګ ئې ومهٔ وینې سترئې ښهٔ دې      کهٔ رنګ بې غوږه بې پوزې نه لري

چه دَ کهترو جفا په ځان وړي      کهتر به کله دَ مهتر فرمان وړي
سزا دَ وخته دَ کهتر بو یه      کهٔ نهٔ مهتر به په زړهٔ آرمان وړي

چه را په یاد شي دَ نفس بدئ      لا ئې تراوسه دَ غم غدئ
ځواني لا پریږده په سپینه ږیره      فریاد فریاد دې هومره بدئ

چه ورکول کا چه کرم کرد وي      اسراف کهٔ نهٔ لري هاله درست مړ وي
هغه درویش نهٔ دې چه دُنیا نهٔ ساتي      درویش هغه دې چه تړے دل سودوي

چه زر دِ غم شي هسې زردار مشي      چه زر دِ هیڅ نهٔ وي هغه بیشکه رشي
په دالاس راشه په دالاس درومه      دَ لږو ډیر په حساب په شمار مهٔ شي

چه ئې له چا ګنړې لا تهٔ ولي نهٔ ئې      کامل دَ خدائې په پېزندګلو نهٔ ئې
احوال ئې وګوره په تواریخ کښې      خوشحاله صبر کړه پِه ترعلی نهٔ ئې

چه کښت او بهٔ غواړي او بهٔ بیانهٔ موي      له هغه کښته به ګټه څوک څهٔ موي
دَ هرې چارې یو وخت یو وار دې      کل په تموز کښې کهٔ تل و بهٔ موي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه بخت ئې تور شي عقل ئې نور شي — غم ئې په بد و په شر و شور شي
د بدخواهانو ویل پرې ښه لګي — د نیک خواهانو ویل پرې اور شي

چه رښتیا نه لري نه ئې اخلاص وي — زړه ئې د له هسې یاره زر خلاص وي
چه دې خوږ ړه دې په درست وجود کښې — ور کړې بویه و چا چه خاص وي

چه ترس د خدائې لري مرګ ئې په یاد وي — زړه ئې به ئې کله په ظلم ښاد وي
تل به ئې مخ وي په ښو ښو چارو — مخ به ئې هر کله په عدل و داد وي

چه در پسې زغلي هغه دولت وي — چه ور پسې زغلې هغه زحمت وي
قابل هغه دے چه د چا منت نه وړي — په ناقابل باندې ویل منت وي

چه لاس ئې نه رسي غلیم ئې یار دے — چه لاس ئې ور رسي غلیم ئې پلار دے
دا پند به نه موې په شاهنامه کښې — په شاهنامه کښې که ډیر اسرار دے

چه عاشقي کا خوشحال د وپوښتئ — له شرم و ننګ د په کړ دهونو تښتي
ترمال د تیر شي تر سر د تیر شي — چه عاشقان دي تر لوئې کمر غښتي

چه نه ادب لري نه اهل رائې دے — دو پائې لیدل شي په خوئې چارپائې دے
سړے په خوئې سره سړے لیدل شي — په رنګ په شکل سړے د خدائې دے

چه رباعي د خوشحال خان دي — د لاجوردو غښیو په شان دي
تیر کړ که هر څو غښے ښه روغ کا — پروازئې بویه که پرې وران دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه خپل نسر خرڅ کا بهائے واخلی
کهٔ ئے صاحب وته بلا پیدا شی
چه ئے مدا روی مولائے واخلی
نمک حلال دے کهٔ بلائے واخلی

چه درست په مشک په عنبر کښے ډوب وی
قرآن چه لولی هر کوره بد کا
چه په ګنده ګئ ککړ شی خوب وی
چه بیا په فسق و فساد معیوب وی

چه عالمان ئے په تورو سپین وینی
دَ عارفانو علم څهٔ نور دے
چه درویشان ئے په علیین وینی
تر عرشه فرشه په خپل یقین وینی

چه کار پرے پیښ شی په جز په کل کښے
په باغ کښے نور نور مرغی میوے خوری
مردان به تل وی په توکل کښے
بلبل نظر لری دَ باغ په ګل کښے

چه ستا خوبی غواړی دغه دِ یار دے
چه ستا په غم خوښ شی صرفه پرے مکړه
چه ستا خواری غواړی هغه اغیار دے
بیا به ارمان کړے کهٔ دِ خپل وار دے

چه ځان غواص کا ګوهر هغه مومی
دا کار دِ خوشحله په ځان راغلے دے
چه بے ننګی واخلی دلبر هغه مومی
تر سر چه تیر شی ظفر هغه مومی

چه هره چارئے په روایت وی
بیهوده نهٔ آوری بیهوده نهٔ وائی
دَ هغهٔ برخه دَ ولایت وی
غوږئے دَ نیکو په هدایت وی

چه عقل ئے کم وی کله آدم وی
چه عقل ئے کم وی تل باندِ غم وی
کله آدم وی چه عقل ئے کم وی
تل باندِ غم وی چه عقل ئے کم وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَر وکاری ویره دِ پریږدی
یا به راوکاری گوهر له یمه
خالی به ووزی کهٔ زړهٔ ئے ریږدی
یا به داخپله کَله پرے کښیږدی

چه خپل حرم ساتی خدم حشم ساتی
ادب دِ ډیرکا دَخوښو سړونړو
بویه چه واړه دِ محترم ساتی
چه بے ادب شی وځان ته غم ساتی

چه ډیرے ونے لښتی کم آب لری
نصیب زهٔ هسے په پیچ وتاب کړم
څښتن دَ ونو څهٔ پیچ وتاب لری
ما به ترکومه په دا عذاب لری

چه بد بنیاد وی چه بد نهاد وی
هرچه زوولی دی دَ فساد دپاره
دَ موریه نس کښے په بلا یاد وی
ځوچه ځوندے هم دَ فساد وی

چه رابنکاره شوے یوځهٔ نکارے
خوږم په تا باندِ مینه زیاتیږی
ځهٔ جفاکارے کهٔ پری وارے
تهٔ راته غابښ چیچے هسے خونخوارے

چه بدانديش وی چه بدآموز وی
کهٔ تهٔ لولی غواړے لوئی په چامهٔ کړه
چه بدگوئی لری واړه بدروز وی
نیکان په دواړه کونه فیروز وی

چه دین دُنیا کښی دانا فرزند وی
اوبهٔ به نهٔ ښنبی دَ پلار بے حکمه
غوږ به ئے هرکله دَ پلار په پند وی
تهٔ به ئے پورته شونډے په قند وی

چه نهٔ ځوانان لری نهٔ زر نهٔ شولے
کهٔ دلے واړه وی کهٔ ئے ځوانی نهٔ وی
هغه به ولے زوَر ور بولے
زړهٔ بوډئ وچاته پسولے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه سپینے پئ سره غنم وی
چه شکر نهٔ کا په خپله بخره
حرم حشم لری آرام ئے هم وی
د هغهٔ بخره د مار لړم وی

چه حرص ناک وی یا ترسنده وی
دا به دِ پریږدی په تنکسه بلا ته
یاری له دواړو سره کنده وی
بتر تر دانه شکم بنده وی

چه غم ئے نهٔ وی د بدنامئ
دا رنګ سړے کهٔ دِ څوئے رور دی
واړه ئے مخ وی په خود کامئ
ځنے ویزار شے په دا خامئ

چه ښهٔ صورت لری شرم عفت لری
چه ښائسته وی عفت ئے نهٔ وی
واړه د دین د دُنیا دولت لری
څهٔ قباحت لری څهٔ قباحت لری

چه ښکار په کور کښے ورته تیار وی
په باغ و راغ کښے د بهار ګل څهٔ کا
د چا به ولے د صحرا ښکار وی
چه ئے په کور کښے تازه بهار وی

چه څوک دُنیا لری په ځان ئے نهٔ خوری
چه مال ئے پاتے شی وبل حریف ته
د ګورغه تورے خاورے دِ وخوری
چه ئے له خپلو یارانو ښهٔ خوری

چه اصل بد لری ځائ بدخو وی
دا دواړه توکه به هیڅوک ښهٔ نهٔ کا
یا رنګ ښهٔ نهٔ لری ځائ بددرو وی
کهٔ کرامت دے کهٔ ئے جادو وی

چه فهم درست لری هوښیار هغه دے
اوبهٔ چه لړے وی آبدست پرے نهٔ کیږی
چه فهم سست وی حمار هغه دے
چه پرے پاکی موی رود بار هغه دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دانسته درومي چه آهسته درومي
چه کاهلي کا يا ډير تلوار کا
فتح هغه مومي نصرت هغه مومي
نامرد هغه نومي ناکس هغه نومي

چه ډير ياران ئې ترنظر تير وي
په مخ کۀ هرڅو مهر خندا کا
اخلاص ترې مۀ غواړه لباسئې ډيروي
چه درته شاکا واړه ئې هير وي

چه پکښې بانګ دَ مسجد امام نۀ وي
په هغه کلي کښې قتل روا دے
په هغه کلي کښې ميشتې مقام نۀ وي
چه هغه کلے به دَ اسلام نۀ وي

چه مورئې بنه وي بابائې بنۀ وي
چه اصل بدلري بد به ولد لري
بد به ئې څويه لُونړه په څۀ وي
تُخم به هيڅرے بے فتنې نۀ وي

چارے دَ دهر په هغه دستور دي
لا هم هغه دي چه پکښې وُرکے
لکه په تورو په سپين مسطور دي
هومره لښکرے دَ سلم تور دي

چه شرم نۀ لري عيب ته نۀ ګوري
هغه چه پاکے دي شرم حيا لري
تولئ بے شرمے دي خکه خپل ځان پلوري
زړۀ ئې فسادته په لکونو نۀ شوري

چه بنۀ لذت غواړے نيش و آفت غواړے
چه محبت غواړے غم دَ فرقت غواړے
نيش و آفت غواړے چه بنۀ لذت غواړے
غم دَ فرقت غواړے چه محبت غواړے

چه څۀ پکار دي ختک ترې دي
ډيرے پيښے لري حيلے مکرونه
ترميري خيلو برکويټ برې دي
پښتون ئې مۀ بوله بولاق هندکي دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ورځ دِ بنه وی دولت دِ یار وی
چه ورځ دِ بده شی دولت پییر وُ کا
واړه وګړے دِ خدمتګار وی
خپل ځویه رونړه له تا ویزار وی

چه نهٔ تدبیرلری نهٔ ځوانمردی لری
پونډے ته اوراوړه هنرچه تُوره شی
تل به په کار کښیے دَ مخ سردی لری
هغه سړے نهٔ وی چه دل سردی لری

چه نَه لنګیږی نهٔ ئے ځوانی وی
بنځه محبوبه ځوانه دینی بویه
دَ هغې بنځے روزګار فانی وی
چه زیست روزګار کا په بنادمانی وی

څهٔ ئے حیرانه سړیه څهٔ ئے
کهٔ یو دِ نهٔ وی په دا څلور کښے
خاورے ئے بادئے اورئے اوبهٔ ئے
نور دَ ژوندیو په شماره نهٔ ئے

څوک چه ختلے په ملکوت وی
فرقان ناطق دے په امر نهی
دَ هغهٔ کله په کار ناسوت وی
چه نهی نهٔ کا ځلئے لاهوت وی

څښتن دَ خونے دَخوړوخوند غواړي
نادان په بند دَچارے نظر نهٔ کا
وبنځے مریونه دَ خوړو شخوند غواړی
هوښیار په هرے چارے کښے بند غواړی

څوغم غیرت کړے چه غلیم م نهٔ مری
نهٔ به تهٔ پاتوشے نهٔ به دِ پاتو شی
قضا چه نهٔ وی سړے په څهٔ مری
هیڅ بیړه مهٔ کړه هرڅوک به وُمری

څوآزموده نهٔ شی په کاروبار کښے
هومره په ځویه په رور باور مکړه
په صحبتونو په جنګ په ښکار کښے
ورانے به دردلی په لوئے لوئے کار کښے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه سره لوئے وُو په یوهٔ غولی
خٔهٔ په دا دواړو غوښ وںو آ وسم
وکورته لا ںهل هغه همځولی
نارے دَ دیوچه ما هم بولی

چه څوک دِ ښهٔ یشی ورځنے ښهٔ وائے
چه دَ زړهٔ مهر ورځنے مات شی
کهٔ دے بلاوی ورته لیمهٔ وائے
کهٔ هرڅو ښهٔ وی ورته ښهٔ نهٔ وائے

څوک چه دُنیا غواړی هغه رنځور دے
هرچه مولیٰ غواړی ترهغو زار شم
هرچه عقبا غواړی هغه مزدور دے
هغه په دواړو کونو مسرود دے

چه پرے مئین وے کهٔ بد وګوری
ورته دُعا کړه کهٔ دے ښیرے کا
پرے دِ وُوزی دَ سترګو توری
ورته خندا کړه کهٔ دے دِ زوری

چه پس له مرګه سړے ښهٔ یاد شی
چه خوئی ئے نهٔ وی دَ نیکنا مئی
کهٔ هسے خوئی کا په دادِ ښاد شی
ژوندون ئے هیڅ وی ژوندون ئے بادشی

چه څوک سوګند کا کارئے څرګند وی
سوګند به نهٔ خوری چه راستګویان وی
سوګند دروغو زر زر سوګند وی
دَ دروغژنو سوګند کمند وی

څوک چه پروړئ دَ دهقانئ خوری
چه ئے په ظلم خورے وارهٔ دِ زهر شه
خوارهٔ دَ خورو دَ مهمانئ خوری
کهٔ شولا نو نه دَ سلطانئ خوری

چه ئے وهلے قلم مطلق دے
په چا سحر شو پرے روښنائی شوه
ایمان کهٔ حق دے په کافر ناحق دے
په چا شپه راغله با ندِ شفق دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چه قمر یاد کا روڼې دِ رایاد شي
څوک چه مقر یاد کا کوڼې دِ رایاد شي
څوک چه عنبر یاد کا موږې د رایاد شي
څوک چه سقر یاد کا خوږې دِ رایا د شي

څهٔ نعمتونه دي تر سر تر پایه
په هره ساه ئې شکر وکاږه
چه دِ موندلي دي د یوهٔ خدایه
کهٔ غافل نهٔ ئې ثناء ئې وایه

څوک دَ هوا دَ هوس نتلي دي
پلار دَ خپل ځان دَ ځوئې دَ خپل ځان دے
څوک رِ په بُغض په حسد تللي دي
په خپل خپل جور هر څوک نیولي دي

څوک چه آشتي غواړي کهٔ دِ غلیم دے
عفوه بهتره تر انتقام دهٔ
"والصلح خیر" ځائے دَ تسلیم دے
نیکي په بدو کار دَ کریم دے

څوک چه خیرے ستا دَ بنائیست وائي
زهٔ درته ژاړم تهٔ راته خاندے
بنهٔ خوئ خصلت به دِ راته پهٔ څښتانئ
دا هسے کبر به هیڅ نهٔ بنائي

څوک چه په خوئ کښے پاکیزه پاک وي
سلوک چه بد لري زارے دَ ځان دے
سخ په کور دے پاکیزه ژواک وي
کهٔ هر څو بنهٔ وي هغه هلاک وي

څو دا جهان دے دا هسے تل شي
دَ بل وي ستا شي په یوهٔ دم کښے
خپل دِ پردي شي پردي دِ خپل شي
هغه چه ستا وي هغه دَ بل شي

څوک به په چا کرم وي په چا نا کرم وي
تهٔ خپل خوئ بنهٔ کړه په چا کرم مهٔ شه
څنې بد فعل په هر چا کرم وي
خود به شرمیږي چه تر تا کرم وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږ دِ دَ توره زلفو خمونه دی
دَ خپلو تورو سترګو غمزے پوښته
هومره په ما باندِ پراتهٔ غمونه دی
چه ئې په ما باندِ داستمونه دی

خوبه بریتونه دَ ځوانئ ځوانان یوسی
مرګ شته پیری شته دواړه راتلونی دی
خوبی ئې دا ده کهٔ خبردار اوسی
سړے یا مرګ یوسی یائې پیری یوسی

خوږ خو قرنونه به وربانږ تیر شی
لکه چه هیرے دی پخوا پیړئ
شیرین صورت ئې په بل بل خیر شی
خوشحال به هسے له دِله هیر شی

خوبه په لویه غاړه دَ دهٔ بولے
زړهٔ درپوهیږم زړهٔ دِ زخمی دے
دَ غریبئ بدلے بولے
دَ رغیدلو طبیب دے بولے

خوئې غیرت وی خوئې همت وی
مرغهٔ چه نهٔ لری تندرست دوه ښا نکے
دَ مرد به هومره قدر قیمت وی
پرش ئې کله په رفعت وی

خوږ خو ښادئ دی په دا آفاق کښے
خوږ خو غمونه یا محنتونه دی
واړه به بیاموے په اتفاق کښے
یا په دروغ کښے دی یا په نفاق کښے

څوک دِ غم نهٔ کا دَ نامرادئ
دَ فلک عدل انصاف ښکاره دے
نهٔ به تل غم وی نهٔ تل ښادئ
کارئې د ظلم دَ بیدادئ

خوبه سودونه کورته راوانړے
خوبه خوبونه دَ خوبئ کانړے
خوبه خوانونه دَ خوږ و خوانړے
آخر به پریوزی دربانږ کانړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوئے همت دے هومره قوت لري
خلیلؑ آسا دے لکه موسیٰؑ دے
هر مروت لري هر فتوت لري
ابدال په اوریه او به نصرت لري

حب د دُنیا دے چه څۀ بلا دے
هومره رسوا دے داحب چه څومره
چه څۀ بلا دے حب د دُنیا دے
داحب چه څومره هومره رسوا دے

خدائے چه بنده کړي په دے جهان دي
چه سره یوشي دا دواړه توکه
که ئې پرے پوهیږے انسان آسان دے
مشکل کار ونه ورته آسان دي

POHA

خوشحاله زوړ شوے سرے چه زوړ شي
نه څو زړیږے لا مئین کیږے
د مهوشانو له مینے موړ شي
زړهٔ به دِ کله ترے موړ یا سوړ شي

خیال د هغے دے چه شوخ و شنګه وي
چه دائے هیڅ نۀ وي نازبه په څۀ کا
شونډے ئې شهد په مخ ګلرنګه وي
که نازکا نازبه ئې بتر ترجنګه وي

خُټ خُټ د دیګ دے سرود د وړي
چه ئې کش کش شي پر توک وکاږي
غږ د اوبو دے ژوند ون د تږي
هغه آواز دے چه زړونه کوږي

خار دِ بخره د خارکشانو شي
قند دِ په بخره د شنو طوطیانو شي
ګل دِ بخره د ګلرخانو شي
سوز دِ په بخره د پتنګانو شي

خبرے ګرانے دي آسانے چرے دي
په دا دُنیا کښے چه ئې بهتر کښنړے
د چا مشکښړے د چا ګوهرے دي
بے بنے خبرے ترے لا بهترے دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مال په ترس په صرفه په بیم خوړے
په کور دَ کنډے رنړے یتیم خوړے
دَ بل غم نهٔ کړے کهٔ درست کهٔ نیم خوړے
مُلا داولے اور دَ جحیم خوړے

خواری ئے نشته چه څوک هوښیار وی
نراد چه ښهٔ وی دَ نرد ګټنـه کا
هوښیار چه نهٔ وی په خوارئ خوار وی
بدباز په بده بازی ناتار وی

خوشحال کهٔ هرڅو فاجر فاسق دے
چه پارسایان دی په خپل خدمت په څیٔ
عیب ئے مهٔ کړه شیخه عاشق دے
دَ خدائے په فضل فاجر لائق دے

خوب مِ دروغ دے نهٔ دَ ناروغ دے
لکه په ویښه وی هسے په خوب وی
خوب دَ دردمنو نه ړونو دروغ دے
چه چا موندلے دَ زړهٔ فروغ دے

خزان بهار دے بهار خزان دے
شپه شی بیا ورځ شی دورد دَ جهان دے
هجران وصال دے وصال هجران دے
غم چه ښادی لری کار ئے آسان دے

خبر لا نهٔ یم چه لا به کله شی
تهٔ آئینه ګورے نهٔ مِ سینه ګورے
چه مِ به کسی سره وبله شی
چه دِ دَ هجر په لمبه سوله شی

خصلت ئے داوی چه لئیمان وی
کهٔ هرڅو ډیر ورکه خپل ورکړه کم ګنړی
نن چه څهٔ ورکا ګا نده پښیمان وی
دا شان ئے دودوی چه کریمان وی

خوشحاله بس کړه شان شان دِ ډیر وُوے
سود دَ سکونت دے مشغول په دم او سه
پیشو رد وُوے او ښان دِ ډیر وُوے
ژبه خوندی لره پریشان دِ ډیر وُوے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خال دِ دَ زړه ونو په داغل راغلے دے
چه بنهٔ جمال لری هغه بنهٔ خال لری
دننه زړهٔ دِ دخما داغلے دے
مخ دِ بناغلے دے خال دِ بناغلے دے

خسیس کهٔ مال لری پرے بنا دبه نشی
چه همت ناک دے هغه آزاد دے
بنده بنده دے آزاد به نهٔ شی
آزاد آزاد دے عباد به نهٔ شی

خوشحال کهٔ تور دے دَ کنا د به توری
خیل دین محکم لری خدائے ډیر کرم لری
خلق حیران شی چه ورته گوری
مخ به ئے رونړ کړه ترصبا ترستوری

خوشحاله خودِ جوش وخروش دے
هومره تهٔ نهٔ ئے په ځان غره مشه
نهٔ دِ دخهٔ عقل شته نهٔ دِ دخهٔ هوش دے
دَ خدائے کرم دِ لا پرده پوش دے

خوابږهٔ دَ مینے نهٔ سرا پښتیږی
مینه په مثل نافه دَ مبنکو ده
واږه په مینه سره غښتیږی
نافه دَ مبنکو چرته پښتیږی

خوبږ ترشکرو بحر شګرف دے
کاسے خمونه کوزه څه حرف دے
خوشبوئ ترمبنکو صفا تربرف دے
راوړه آخله مدار په ظرف دے

خوب دَ سحر کهٔ هر څو محبوب دے
دُنیا به پاتے شی دَ دُنیا عیشونه
سرے چه ویبن شی سحر لا خوب دے
هغه جهان لره طاعت مطلوب دے

خوش رنګ ترباږه مرغ زرین دے
څهٔ شوکهٔ لوئے لوئے وزرپرے پورے وی
بازم په قدرکښے ترے صد چندین دے
کرګس کرګس دے شاهین شاهین دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانان هغه دی چه په خپل نام دی
چه په کوم توکی دَ نام بښیګړه وی
نهٔ په دُنیا دی نهٔ په خپل کام دی
په هغه فکر کښې په صبح وشام دی

خصلت به دا لری چه منافق وی
یو به ئے ژبهٔ وی یوه ئے شر به
دَ هر مذهب سره به موافق وی
یو به مذهب لری چه خوک صادق وی

خونه چه پاکه وی برکت وورې
پاکی چه نهٔ وی په هغه خونه کښې
وربانِدِ هر کله عزت دولت وورې
وربانِدِ واړه بلا آفت وورې

خلق چه بد شی بادشاه ئے بد شی
خوبی په دور دَ عالمګیر نشته
په هره چار کښې حیران بخرد شی
دَ چا به ولے له چا حسد شی

خوږه نمری کهٔ بښه مزه لری
همائے مرغهٔ م خکه هډ ونه خوری
ترےم توبه ده کهٔ دا بزه لری
آسمان له غوبښو سره خزه لری

خوشحال کهٔ هر څو په رنځ کښې ژاړی
ژړائے واړه په دا سبب ده
نامردئے وکنږه کهٔ په مردنهٔ ویاړی
دَ خدایه خیر دَ خپل ایمان غواړی

خان دَ وکړی چه شمشیر زن نهٔ وی
لکه نامرد میږهٔ چه وادهٔ وکا
دَ دهٔ بښهٔ ورکړل دَ دهٔ بښهٔ نغن نهٔ وی
خوار زار روزګار رکا حال ئے دَ زن نهٔ وی

خوئ چه دَ بدو دَ چا عادت شی
طبیب ئے خوک دے ملک الموت دے
په پند په زجر لا زیادت شی
چه مشرف ئے په شهادت شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل بد خویونه بد خوئ هُنر کړي
په ځان که څه خاوړې وي خاوړې هم زر کړي
په خپل ځان چه څه وي بل هم هغه کړي
یو چه کافر وي بل هم کافر کړي

خپل حکم مهٔ کړه چه کم یا ستر وي
دا فکر مهٔ کړه چه لس یا زر وي
دَ کشید کړې په لاس کښې ستن شه
دَ خط وهونې په لاس کښې در وي

خوشحال غریب دے درویش کدلۀ دے
خپل حکم نهٔ لري دَ یار په رائے دے
چه چرته حکم هورے به درومي
چه کښېنوے ئې هغه ئې ځائے دے

خوشحاله عمر دِ ترشپیتهٔ تیر دے
نیکي دِ لږه ګناه دِ دیر دے
دفتر دِ ډک دے دَ ګناهونو
درته به یاد شي که دِ تا هیر دے

خواره خربه خو هومره بنهٔ ئے
چه روغ په تن ئے چه روغ په زړهٔ ئے
چه دواړه توکه درڅخه نهٔ وي
په تخت که کښېنې وایه تروخهٔ ئے

خوبوه ساه ئې بود دِ هم دا دے
یو موټے خاورے جود دِ هم دا دے
نورسود دِ نهٔ وینم په دا دُنیا کښې
که څهٔ نیکي وکړے سود دِ هم دا دے

خیر په دا کښې دے چه دِ یرمالدار نهٔ ئے
په غم دَ عُشر دَ زکوٰة ګرفتار نهٔ ئے
لکه دِ دخل دے هسے دِ خرخ دے
محتاج وچاته په لږ بسیار نهٔ ئے

خوشحاله پاسه روغے دِ ښئے دي
مکے ته در ومه څهٔ خرخښے دي
ځویه که رونړه که بنهٔ یاران دي
واړه دِ ولین دَ خپلے بنے دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دُنیا خو ډېره هومره ئے غم ډېر وی
هستي نیستي ئے دواړه بلا دی

چه نۀ وی نۀ خوری هم ئے الم ډېر وی
خوبي ئے دا ده چه درته کم ډېر وی

دَخان دښمن ډېر دښمن چه یار ګڼړی
هوښیار به خان دَ نادان په شمار ګڼړی

دښمن چه یار ګڼړی مرګ دِ تیا ګڼړی
نادان هغه دے چه خان هوښیار ګڼړی

دَ بڼړو تیر دِ په خو تیرۀ دے
دا دَ نکریزو نګار پرے نۀ دے

واړه لک شوی خما په زړۀ دی
دَ خوار په وینوئے ورغوی سرۀ دی

د تن خولے دِ بوئ دَ ګلاب لری
عتاب نور مۀ کړه دَ خدائے دپاره

زلفے دِ طعن په مشکناب لری
خوشحال دِ کله دَ عتاب تاب لری

دریغه پوهېږه عمره روستے وے
هغه بیا نۀ راځی په دا هیڅ کار نشی

دریغه روستیه عقل پوهېږے وے
په دا به پوهېږے که بنۀ سړے وے

دریغه له خا یه هسے هوښیار وے
راته ښکاره شوه یاری دَ خلقو

لکه چه اوس یم خپل م اختیار وے
نۀ دَ چا یار وے نۀ م څوک یار وے

دَ ماڼړی خوړئے هر کوړ کړان دے
په څو ځنپله راغله ځلا شوه

خوړئے دَ توره پړهار په شان دے
خوشحال که زوړ دے باطن ئے ځوان دے

دا توره برېږه چه ایماندارے دی
صدق وفا بویه چه داسے نه وی

سپینے ناپاکے برېږے ترے خارے دی
برېږے دَ ځوانو دَ زړو مردارے دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ چا په کور کښې سره وپیځ مُهران وی
کهٔ ته هیڅ نهٔ لرې کمان دا مهٔ کړه
دَ چا په کور کښې دُر و مرجان وی
چه به دستا غونډِ وارِه ناتوان وی

دَ مرد چه صبر چه استقبال نهٔ وی
مردی نۀ هیڅ ده خُما په پوهـه
چه غم پرې راشی پکښې خوشحال نهٔ وی
کهٔ ئې په جاه و دولت څوک سیال نهٔ وی

د ننه زړهٔ م ورپسې سرېږ دی
زوړ شوم نارې وهم توبه له عشقه
چه زلفې تاؤ کا دړې پرې کښېږدی
کهٔ م دلبرې ورپسې پرېږ دی

دَ شاه پالنګ دِ دَ موذی مسکن نشی
ګل دَ بلبل دے بلبل دَ ګل دے
ګلزار دِ ځائې دَ زاغ و زغن نشی
په بنهٔ جمال به غافل مئین نشی

دَ مرګ قتال دے په هر هر کلی
چه م په سترګو هغه یاران لیدل
غشی په ګُرت کښې نیازمن پرې وُلی
اوس ئې لیدل شی په سترګو خلی

دولت په مثل مرغهٔ دَ ښکار دے
له لاسه تللی مرغونه څوک نیسی
باز دے شاهین دے چرخ دے شنقار دے
دَ ښکار مرغهٔ م دَ بنهٔ میر شکار دے

درد چه په بل وی خبر پرې نهٔ وے
سود زیان دَ هرچا جدا جدا دے
چه دِ په ځان شی له درده چوے
کله دَ بل په خوراک موړ تهٔ وے

دا یوخو توکه دَ وقوف دار دی
کتاب دَ چا دے دَ دانشمند دے
باز دَ میرشکار دے زر دَ تجار دی
بنځه دَ مرد ده مښک دَ عطار دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پند پروا لری خاورے خوړ وني
بد دِ دَهیچا تر فهم بنهٔ نهٔ شی
وربا ندِ بد لګی نصیحت کړوني
نهٔ وی دَ پلار دَ خبرو وړوني

دَخپلے خونے دیوال کهٔ کوږ وی
زیست و روز ګارئے پکښے خوندی وی
دَ خپلے خونے په خښتن خوږ وی
لوبنی کالی ئے په دهٔ ښکښے بوږ وی

دولت دَ خلقو په اتفاق کښے دے
نوړ شوم یو یارِ م یکرنګ ونهٔ لیدهٔ
هغه به خوارشی چه په نفاق کښے دے
زړهٔ م تراوسه په اشتیاق کښے دے

چه تل ئے مټ وی په خود کامئ
درست ناسپاس وی حق ناشناس وی
اندوه ئے نهٔ وی دَ بدنامئ
هرځهٔ به بایلی په دا خامئ

ډیرځهٔ م وکړل ما وے کهٔ یار شی
چاوے چه صبر کړه صبرِ م هم وکړ
دیدن ئے ووینم زړهٔ م قرار شی
سیکنړیم کله په صبر کار شی

ډیوټ هوا ده نن په شاخزار کښے
په ژغ ئے ذوق کا ځما بانړ ونه
نړکے فریاد کا په مرغزار کښے
پرخه وریږی ګرځم په بنکار کښے

داچه وتا ته شیخان پیران دی
علم عمل بویه مرشد دَ لاړے
بدخواه دَ خلقو بدخواه دَ ځان دی
چه دائی نهٔ وی واړه سکان دی

دَ یار دَ ظلم دَ غشی پروکی
دَور دَ سپیو سره ئے مل شوم
ځما په زړهٔ کښے پراته دی اوکی
تو ئے ونهٔ وے راته په وروکی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته رښتیا وایم کهٔ م ښهٔ یار ئے
کله م یار ئے کله اغیار ئے
څهٔ خوئ خصلت لرے څهٔ ناقرار ئے
هم وفادار ئے هم جفاکار ئے

دَ یار عتاب م قبول په ځان دے
هم ئے وصال شته هم ئے هجران دے
په عاشقانو دا دود روان دے
جنګ چه آشتی لری کار ئے آسان دے

دروغ دَ چا دی دَ کم ذات دَ وړی
چه دائے نهٔ وی دروغ به نهٔ کا
یا دَ کمزوری په قوت لړی
دروغ چه کاندی خوړ وی په سړی

دَ چا چه نهٔ وی دوړ اندیشئ
دَ هغې وُنے ګلونه مهٔ وینې
مهٔ ئے یاری وینې مهٔ ئے خویشئ
چه ئے اغزی وی دَ دلریشئ

درته به وایم خوګړے پو ښتنې
ځائے دِ هم دا دے بل ځائے دِ نهٔ دے
کهٔ دِ بائلنے دی کهٔ دِ ګټنے
کهٔ منګلے وی کهٔ په لمنے

دَ بل په عیب په خو ویښتهٔ چوے
خپل سل زناره درته ښکاره نهٔ دی
دَ ځان په عیب نظر هیڅ نهٔ کوے
هندو خو یو لری هغه ئے هم شلوے

دَ چا چه دننه سینه په درد وی
کهٔ مرد دَ لاندِ وی ښځه دَ پاسه
دمه ئے عین په آهِ سرد وی
په دواړه توکه ظفر دَ مرد وی

دادِ بارخودی خولهٔ نیولی
دا دِ سرے شونډے دی کهٔ سپین غابنونه
کهٔ لاله ګل دی پرخې وهلی
کهٔ لعل و دُر دی سره پییلی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ غخ په رنګ ئې تر ګل ښاغلې     دَ باغ لاله ئې راته را غلې
لاله په خپله سينه کښې داغ لرى     تا ده سينه دَ عاشق داغلې

ډيرې مرغئ په زړه دلکښې دى     سمر چه زغ کا هغه م خوښې دى
ډير نعمتونه م په جهان کښې وُليدل     چه لوئ نعمت دے نعمت خوغوښې دى

دَ خپله لاسه چه ستمونه دى     ګُڼې په مانهٔ دى په عالمونه دى
دَ خپله لاسه لکه ښا دئ دى     دَ خپله لاسه هومره غمونه دى

دَ بيم په ځائې کښې سرے ملال وى     چه ئې اُميد وى هورته خوشحال وى
هغه په خړواوبو نظر نهٔ کا     چه تل ئې بخره آب زلال وى

دَ چا به څهٔ لره مانړه له بله شى     چه نيکه بد ه په خپل عمل موندله شى
هغه چه وکړے هغه به وريبے     له خپله لاسه هره کړله شى

دَ وړاندِ ايښے درته يو خوان دے     نعمت ئې ګوره الوان الوان دے
تهٔ به ترے پاسے بل به پرے کښينى     له واړو پاتے داشان داخوان دے

دَ څرخ له لاسه زړګوتے ريږ دى     داخوئ به چيرے له لاسه پريږ دى
هرڅوک چه وويني چه داغ په زړهٔ لرى     دَ داغ دپاسه بل داغ پرے کښيږ دى

داچه وتاته دَ دين اخص دى     کهٔ پرے خبر شے کافر دَ نص دى
په نور وحکم دَ لَنْ تنا کا     دَ لکنود دَ آيت مختص دى

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ شپې خښتن دِ سحر ته ګوری
ګوندِ پرے وخیژی دصبا ستوری
هیڅوک دِ طمع امید پرے نۀ کا
باران په تږیو کښتونو ووری

دریغه ځوانۍ ستا کامرانۍ
ژغ م دَ توسرو ژغ دَ خانۍ
زور شوم ناتوان شوم خیال م دَ تورے
کۀ بیا رته راشے ځما ځوانۍ

دریغه جاویده ځوانی بقا وے
دَ بنو دلبرو دیدن لقا وے
ډک ډک جامونه تږیو ته تل نیوے
دَ مهر خضر دَ اوبو سقا وے

دریاب چه لوئے دے هومره هوار دروی
شور و غوغا نۀ کا په خوقرار دروی
سیلاب په خوشا خکی غړپړ پیدا کا
بقائے نۀ وی په ډیر تلوار دروی

ځما په باغ کښے ګلونه ډیر دی
خدائے ئے راپریږدہ په هرخیر دی
داغ م په زړۀ باندِ دَ معظم دے
دا داغ چه راغے نور م پرے هیر دی

دا نمر په ورځ په شپه دا ستوری
چه ناقرار دی وبله شوری
دَ ډیرو سترګے پرے لګیدلے دی
لاهل لا ډیر به ئے په سترګو ګوری

دَ وطن وُنے چند نر اګر دی
خاورے ئے واړه مښک وعنبر دی
کۀ سرائے ونورو وته سنګیر دی
کانړی ئے واړه ماته سرۀ زر دی

دَ تن تیرسو شپیته ګرکونه دی
ستا نه غمونه پکښے زرګونه دی
جدا له تانه چه یو نفس دروی
څو نفسونه هومره مرګونه دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جام چه چا چیښی هسے لا چیښښ شی — مستان ئے خوب کا کله به ویښ شی
حال ئے و هیچا وته معلوم نهٔ شهٔ — آه دے له دِله هردم وکیښ شی

دَ خولے وێل دِ واړه نبات دی — خواږهٔ دِ لا دَ ښکنځلو ږیات دی
څوک ئے چه کښل کا سخ دَ هغو دے — شونډے دِ دواړه آبِ حیات دی

دَ بخت په ځکښے زر ودانئ دی — دَ بخت په ځتے کښے زر ویرانئ دی
بخت دے دَ شاه دَ گدایانو هیڅ نشته — په بخت خوارئ هم کامرانئ دی

دَ ملوکانو صحبت بَل اور دے — دَ اور سکروټه دَ دے بیور دے
که تورهاتی ئے که تور زمرے ئے — ستا مِ له اوره سره څهٔ زور دے

دروغ چه فاش وبے صرفه وائی — خپل خان پخپله خوارئ ته بیائی
تردا هغه بد چه شیطانی لری — مکر فریب کا په نفاق پائی

دَ ملک سردار دِ هوښیار قلاش وی — تل دِ له ښو سره په ښهٔ معاش وی
ځائے دَ آشتیٔ پریښے بو یه — چه ئے له چا سره جنگ و پرخاش وی

درویش هغه دے چه ترس دَ خدائے لری — دَ نیکو فعل دَ نیکو رائے لری
طمعه له چا نهٔ کا لقمه حلاله خوری — جدا له خلقه دَ آسودگئ ځائے لری

دا خوار خاطر چه په قهر نهال دے — دَ سمند نال ئے په دا مثال دے
میږے چه واخلی دانه وغار ته ځی — ستا مِ اخستے وگوره خال دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دَ آسمان دے داد دَ مزکئ
خو دِ په پورته آسمان ته بو تلل

چه دخوشیے لرے دُنیا ته ځهٔ ئے
بیا دِ ئے خاورے کړے کپړئ

دَ ذرۀ په حکم بالا پستی شی
نهٔ تل بهار وی نهٔ تل خزان وی

مستی خمار شی خمار مستی شی
هستی نیستی لری نیستی هستی شی

ډیردی چه بِیرے دَ شیخئ پوسی
بنده دَ چا یم دَ هغه کس یم

ډیردی چه مئے خوری په رندئ کښے اوسی
چه ئے نیولی تر سره یوسی

دَعقل زانړے چه تا لیدلی دی
کهٔ هرخو نر ورلری یا تیز پری لری

دَصبر قازے چه تا کتلی دی
دَ شاه دَ سترګو شاهین وهلی دی

دَ بادشاهئ په تخت چه ناست وی
دولت دولت دَ سحر خیزئ دے

دا کارئے هیڅ دے سحر چه نماست وی
مردان دَ هسے دولت په خواست وی

ډیره خوش رنګه صاحب جماله ئے
عیب دِ دا دے درد دِ ومهٔ وینم

تر سر تر پایه پری مثاله ئے
په مرد حرامه په نامرد حلاله ئے

دَ سردارئ چه څوک هوس لری
غم دَ وسلو دَ جنګ هیڅ نهٔ کا

خپل ځان دِ خاورے خپل مال دِ خس لری
کهٔ دَخپل ځان سره یکانه لس لری

دعوٰی دَ چارے په یوهٔ هر کښے وی
چه بیهوده درومی بلا هغه مومی

عقل هم بویه چه ئے په چر کښے وی
سر په هغهٔ کښیږی چه په هنر کښے وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کور پرېښونه شرم بېغور دے
هر هر کال ئې په جاله تاخت کېږی
هر ځائې چه وزیر ې هغه دِ کور دے
هغه شاهین دے هغه ئې کور دے

درزی لا کز لری مقراض سوزن لری
کوچ ئې آسان دے مشکل هیڅ نهٔ دے
یو جمدر کوہتے خوشحال خیرن لری
غم دَ یارانو درد دَ وطن لری

دَ هوښیارانو ورمونه زر دی
چه دَ هوښیارانو ورمونه نهٔ منی
دا دَ هغو دی چه پرے خبر دی
دَ هغو هر کله خاورے په سر دی

داچه خانان دی یا امرکان دی
غوښے هډونه دَ مظلومانو خوری
په هند کښے ګرځی په هر مکان دی
ځما ترفهمه واړه ددان دی

دَ بادشاهانو چه بنهٔ خانان دی
کهٔ ئې آشنا شے ځنے حذر بویه
کارکشائی کا مقربان دی
اوردی اوبهٔ دی درد دی درمان دی

دَ باغ ګلونه چه ننداره شی
چا ته په خوار و ستر ګو هیڅ مهٔ ګوره
خوشخو کارونه پکښے ښکاره شی
ډیر نا ګنړلی دی چه په شماره شی

درته به وایم کهٔ ته عاقل ئې
دولت کهٔ نهٔ لرے خپل دِ پردی دی
ناحق په نورو چارو خوشدل ئې
کهٔ بخت دولت لرے دَ هر چا خپل ئې

دَ خولے خبرے دِ خوږے ترمن دی
ترخهٔ وئیل دِ دَ خولے هرګز نهٔ وُو
وبختورو وته من من دی
داچه ترخهٔ وائے دارو دَ من دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سردارئ چارے دشوارے دی | څوڅوکمرے څوڅوئے لاړے دی
براق دَعقل دَ همت پیدا کړه | پکښې بیشماره بلا تیارے دی

دَ باغ خښتن تهٔ یوسیب پیشکش وړی | دَدهٔ له باغه بیائے په اش راوړی
هغه به څوک وی عاقل نا اهله | دَ زړهٔ فکرونه چه مشوش راوړی

دَ یار په عیب چه یار خبر شی | یاری ئے لاړه کهٔ پرده در شی
دَ یار دِ عیب هُنر دَخان ګڼړی | پوهـ دِ په عیب هم په هُنر شی

دَ بادشاهانو چه امرکان دی | دَدیو بخرے وِلے شان شان دی
والهٔ کهٔ لویه وی کهٔ کم لښتے وی | آبدست پاکئ لره واړه یکسان دی

دریغه په باد لاړے ځهٔ شوے ځوانئ | یوه شپه خوب وو ستا کامرانئ
ویښ شوم بیدار شوم په پیرئ واوښتم | نهٔ ژغ دَ تُورے شته نهٔ دَ خانئ

دَ سرغلیم دِ کهٔ دانائ لری | بهتر تر دوسته چه کانائ لری
توان یا دَ زړو یا دَ ځوانانو دے | لاپے دِ هغه کاچه توانائ لری

ځما دَ یار په یارئ کار دے | کهٔ مُسلمان دے کهٔ زنار دار دے
کهٔ مهرمینه وفا ربښتیا لری | نور ځهٔ ئے مهٔ ګوره چه پوره یار دے

دَدهٔ په ذکر واړه ګویا دی | کهٔ دَخشکئ دی کهٔ دَ دریا دی
دَدهٔ له حکمه وتلی نهٔ دی | کهٔ ناست په تخت دی کهٔ په بوریا دی

POHA پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دولت ستورے کرځي قابل غواري
کۀ چيرے مل شي دَ ناقابل سره
قابل چه بيامومي نۀ پسے بل غواړي
تکاوُے نۀ وي رخصت ترے تل غواړي

دروغ وعده دِ په ما رښتيا لګي
دَ ښڼرو ناوک دِ په نورونۀ پسند م
ترخۀ دَ ګښليو لکه حلوا لګي
پرېږده چه واړه په زړۀ خُما لګي

داوے مِ خوښ دے چه چا وئيلے دے
بدخواه دِ خوښ کا په ښو خبرو
دُ يرِم په زړۀ بانِدِ ښۀ لګيدلے دے
نيکخواه په بدو خپل ژړوُلے دے

دا مخ چه تۀ لرے دَ بُورے نُورے
يوه به تا غوندِ ښايُسته نۀ وي
مګر دا مخ لري ښے خُورے هُورے
چه اوريدۀ شي دا هُورے دُورے

دانائے مۀ ګڼړه چه صبر نۀ لري
سړے دَ صبر په کار ګڼبے وازميه
چه صبر نۀ لري حکمت به څۀ لري
چه صبرناک وي هرڅۀ به ښۀ لري

دَ يار م واړه دَ سترګو تور دي
چه دَ معشوقے تر سپيځان ځارنۀ کا
چه سپين وتورئے دَ چم دَ کور دي
مئين ئے مۀ بوله هغه څۀ نور دي

دَ آسمان دَ ور خالي رونق دے
لکه ئے راکړل هسے ئے واخستل
ورکا بيا واخلي دائے نسق دے
اوس راته پاتے دا يو رمق دے

دَ غم فکرونه په زړۀ کښے باز دي
خدائے به ئے ښکار دَ ښادئ ساز کا
تل دَ ښادئ و ښکار ته ساز دي
بازونه کله خالي پرواز وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریغه سر یه چه څهٔ بلا ئے
تا به دَ پلار سره خپلوی ونهٔ کړه
واهه دَخان ئے نهَ دَبل چاځ ئے
مقصود دِخپل ځچه دَ بابا ئے

دا دود څنډن دے په دا عالم کښې
جهان یو باغ دے نوے خبرے
نادان بے غمه دانا په غم کښې
ګل دے غوړیږی په هرهر دم کښې

دَ هرچا قدر په خپل همت دے
دَ نیکو فعل دَ خان راحت ګنړه
دَ هرے چارے مدار په نیت دے
دَ بدو فعل دَ خان زحمت دے

دا آسمان نهٔ دے یو خونی پړانګ دے
خولهٔ ئے سره کړے دَ دارا په وینو ده
راته غږمیاږ ... ل تل په ب...نګ دے
شفق ته ګوره دا ووی په ټانګ دے

دَ غرونو کانړی ترحساب تیر دی
کهٔ اهل وویم زهٔ به ترے زار شم
چه واهه کانړی دَ لعل په څیر دی
اهل څوک نشته نااهل ډیر دی

دَ عشق غمونه ترعمره سم دی
دَ نامردانو ورسره کار نشته
په هره ساه په هرهر دم دی
غم دَ مردانو دے مردان دَ غم دی

دَ خپلے چارے هُنر یو هر لری
مزری ګاوز دَ ځنګل په څو نیسی
مغزئے په سر کښې هومره څو سر لری
ګیدړ دَ شلانډو دَ ښکار هُنر لری

دَ عشق په کار کښې یو هر ګډیږی
دا دواړه توکه په عشق کښې یاد دی
یا پکښې قهر ستر ګے ړ ډیږی
سرے ناحقه په باد ډ ډیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغله په وخت د ګلونو ګښبلے
وے ئے چه تا ده توبه وکښلے
ماوه له میو توبه وکښلے
باده ئے بیا وه په زور راښکلے

رنګ د طوطیانو لری شین کوسی
چه اصالت لری چه بنۀ خصلت لری
هُنرچه نۀ لری بے قدره اوسی
هغه په بخره له میانه یوسی

ړوغه کټوه په نغری سمه وی
جن چه ځان خوار کا ملته روپئ شی
ماته کټوه په نغری خمه وی
ملته روپئ په قدر کمه وی

ړندیم څرګندے دی ځما بدئ
پیغور ځما مکړه شیخه خپل زړۀ ګوره
چه راته یو دی خپلے پردئ
چه پکښے پټے دی د عشق غدئ

ړوړه د خدائے له ویرے درتله شی
په آشنا یئ کښے مهر اخلاص بویه
کۀ نه په هرچرته روړه خوړله شی
ګوندِ په درنګ اکښے آشنائی بله شی

راشه کۀ ګورے دا خونړئ
تل تل سرونه د عاشقانو
سرۀ ورئ په سر دړئ
د حلق ته اچوی لکه نمړئ

زړۀ دِ مئین وی په تورے سپینے
دا وایۀ ربښتیا دی عاشقان نۀ مری
خالی دِ نۀ وی له یوے مینے
مجنون ژوندے دے کۀ ته ئے وینے

رنګ رنګ ګلونه په باغ کښے واشی
ګرمے هیڅ نۀ دی د باغ بلبلے
لکه چه واشی هسے فنا شی
چه ئے دا هومره فریاد ژړا شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلهٔ اختر او نوروز همغاړې
ساقي دا وخت دے چه توبه نغاړې
مینا خندا کا چغانه شراړې
وماتے راکړه زړهٔ مې مئے غواړي

نوړ کهٔ بادشاه وي کهٔ اولیا وي
زوړ نے کهٔ هر څو دَ ځان مزدور شي
دَ ځوانے نښځے ځنے بلا وي
دَ ځوانے نښځے نوره هوا وي

زلفے چه تاؤ کا په مخ ئے پریږدي
زړهٔ مې بلبل شي ورباندِ راشي
کښلي کلونه په بار خو کښیږدي
له ډیره شوقه ورباندِ ریږدي

ځویه هغه دے چه خوئ دَ باز لري
نهٔ خوئ دَ چرګے نهٔ خوئ دَ زاغ لري
لوئے لوئے ښکار نه لوئے لوئے پرواز لري
چه ځان دَ غلو خوراک ته ساز لري

زړهٔ وهغهٔ ورکړه چه زړهٔ دِ وساتي
زړهٔ یو ښهٔ څیز دے وسپې ئے ورکړه
کهٔ دوه درے وي چه زړهٔ دِ ښهٔ ساتي
نه وهغهٔ ته چه زړهٔ دِ نهٔ ساتي

زړهٔ مې زخمي دے وینے ترے څاڅي
تیرئے خوړلے دَ هسے لیندے دے
ژاړم له درده څړیکے ترے پاسي
چه په آوازئے دَ ژړئ ناسي

زړ شوے دَ زړو په حال خبروي
زر به په سپینو شکو کښینهٔ موے
چه چرته څیزې په کوم مقر وي
شکے ئے تورے تر خاکستر وي

زړهٔ دِ دَ هر چا سره صفا وي
کهٔ څوک ناحقه له تا پرخاش کا
په چا کرم مهٔ شه کهٔ دِ رضا وي
اندوه ئے مهٔ کړه ظفر به ستاوي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ئې میلمه یم زړهٔ مې میزبان دے
په هر زمان ئې راته صلا ده
را بانده هرکله دَ دهٔ احسان دے
راته ئې ایښے دَ معنو خوان دے

زړهٔ مې په تن کښې لکه باړ ښاد دے
ستر ګې غوږونه ژبه دا درے دی
لاړ په فکرونو صبا بیګاه دے
خانان نور واړه خودی سیاه دے

زړهٔ چه نسکور وی غم ئې په کور وی
تل به یرے پورے دَ سیال پیغور وی
کهٔ دیرے زر وی کهٔ ډیرے زور وی
مخ ئې کهٔ وینځې هم به ئې تور وی

زاغ وزغن دی په باغ کښې ورزی
خوشحال وچاته خپل کار بنکاره کا
چینجې مینجې خوری په ښاخ نګو کرځی
بلبلې نشته چه باندې غورزی

خویه هغه دے چه قد وی دَ پلار وی
چه دائې نهٔ وی زر دِ په کور شی
دَ پلار تر هرے خبرے ځار وی
پیدا دَ پلار نه دے یو عیب عار دی

زر دَ خانانو دَ بادشاهانو دی
خوری دِ کښتې دِ عیش وعشرت دِ کا
دَ نوکرانو دولت خواهانو دی
نور خوک چه زر ساتی دَ کمراهانو دی

زیره دِ کله دَ پښتانهٔ شی
مغل کمزورے غلیم په رحم دے
چه دَ مغل په منصب ئې زړهٔ شی
کله ئې زړهٔ وی چه پښتون بنهٔ شی

زرکه دِ لوړے دَ بازو ګرزی
کهٔ نهٔ بنړے به ئې په پورته غورزی
سر بره دِ لوړے له پړانګه غورزی
په خوګهٔ کښیوزی نوره به پرزی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاړۀ واړۀ غوایۀ په غابنی ځوان وېهی
خوشحال پرېږدۀ خپل بار په خرومۀ وړه

چه توان قوت لری خپل بار په توان وړی
مست مست بارونه مست مست او بنا وړی

نه ړۀ م ډیر بنۀ شو چه تۀ م یار شوے
چه بے وفا وے حال م دِ ولیدۀ

نه ۀ دِ بلبل شوم تۀ م ګلزار شوے
خما په زړۀ کښے یو تیرۀ خار شوے

ځویه زور مۀ شه چه ځوانمرد نۀ وی
میړۀ ئے مۀ بوله ښځه پرے نوم کښیږده

مرد دَ تېکلے مرد دَ نبرد نۀ وی
چه دَ جنګ غشے ورباندِ ورد نۀ وی

ځویه هغه دے چه په رائے دَ اَب وی
کۀ هرڅو بنۀ وی چه ستا پسند نۀ وی

کۀ نۀ له ځانه پیدا غضب وی
غافل ترے مۀ شه اقرب عقرب وی

ځویه هغه نۀ دے چه هواپرست وی
عهد وفا لری سخا عطا لری

ځویه هغه دے چه حیاپرست وی
طاعت تقوٰی لری خداپرست وی

ژوندے کۀ کرځی خان ئے ژړلے دے
چه صبر نۀ لری ظفر به نۀ مومی

تورزن دَ سر په وینو لړلے دے
ظفر له صبره سره تړلے دے

زار دَ هغۀ دے چه آزحاجت لری
هغه به ولے دَ آسمان منت وړی

نۀ ډیر دولت لری نۀ ډیر همت لری
چه مستغنی وی عیش وعشرت لری

ږیره غابنونه م جدا جدا وائی
چه چاته وګورم یا چاته وخاندم

ځوانی دِ لاړه راته هم دا وائی
راته دا دا وائی کاکا بابا وائی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړهٔ مې له کبنليو سره بيا بيور غواړي
نه لفې بنکاره کړه خوشحال خټک ته
ګوره وځان ته بلا په زور غواړي
جنون پرې زور شو بيا رتنهبور غواړي

نه زړهٔ مې په تن کښې په ډېر آشوب شي
نه ورشوم لا خيال لرم دَ مهوشـــا نو
چه کبنلي ياد کړم کله مې خوب شي
په سپينه بږيره هم عاشق توب شي

سړي په مثل کانړي دَ کوه دي
چه جواهر دي پکښې کم کم نشته
په ښو خو رنګه ګروه ګروه دي
نابود بد رنګ ئې انبوه انبوه دي

سړے کهٔ بنهٔ دے په بنهٔ ګفتار بنهٔ دے
ګفتار صورت ګڼړه کردار معنیٰ دے
ګفتار کهٔ بنهٔ دے په بنهٔ کردار بنهٔ دے
چه سره يوشي دا دواړه کار بنهٔ دے

سړے چه وږے شي کچکول په لاس واخلي
خدايه په خيل کښې خوشحال معمور لره
شهوت پرے زور کا نور نور وسواس واخلي
چه بل له لاړے نه کوز وپاس واخلي

سړے کهٔ وږونے شي آواره کړونے شي
راشه په خپلو ستر ګوئے وګوره
دَ لوډيو لويو بخرو په وږونے شي
فائده ئې کومه ده سپے چه خوړونے شي

سهيل چه وخيژي اوړے تمام شي
په اتهٔ مياشتے هسے هوا وي
زيرمه دَ ژمي دَ سرانجام شي
چه دَ ځوانانو پکښې هر کام شي

سړے چه ځوان وي دَ جونو ځان وي
نارهٔ کهٔ بنهٔ کا جونه دِ نهٔ کا
نه ورځے په خټک کښې لکه سوهان وي
جن دِ هالهٔ کا کهٔ دے سلطان وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی په اصل سره یکسان وی — کهٔ چوهړی دی کهٔ باداشاهان دی
فرق ئے په فعل په خوئ هُنر وشهٔ — څکه دوئ هسے سره شان شان دی

سردار هغه دے چه شرم ننګ لری — مدام دَ شرم تُوره ترخنګ لری
صرفه په زرنهٔ کا صرفه په سرنهٔ کا — چه دشمنان وی له هغو جنګ لری

سترګے دِ نهٔ دی ستوری دَ بخت دی — چه ورته ګوری خښتن دَ تخت دی
دَ ناز په غشیو هغه شیخان وُوله — چه لاف دَ زهد کا په زړهٔ پیر سخت دی

ساقی باقی دَ روژے خو وسځے — زهٔ په خندا یم ژاړی وریځے
تحویل دَ تلے اختر یو ځائے راغلهٔ — حاضر په میو شه په خرته خوځے

سړے ښاروے دے کهٔ ته ئے وینے — په تن په غوښے په هډ په وینے
فرق له ښاروی لری په ګویایئ کښے — په رائے په عقل په شناخت په مینے

سحر چه پاسے په استغفار کښینے — په یادوُلو دَ خپل غفار کښینے
دا وخت نور مهٔ ګنړه څما په پوههٔ — ګنړه په باغ کښے دارالقرار کښینے

سړے هغه دے چه ترس دَ خدائے لری — خپل ځان عالم ته آدم نمائے لری
حق دَ حقدار و آشنا په ځائے لری — خوبی دَ عقل خوبی دَ رائے لری

سخ دَ هغو دے چه پاک پیدا دی — کهٔ انبیاء دی کهٔ اولیاء دی
خلاص دی دَ نفس دَ شیطان له شره — په ښو په بدو ځائی دانا دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر صبا شو وخت د بامداد دے
رالوتلې د صبا باد دے
خوشبوئې راوړه د یار له لوریه
په خوشبو ئې نکه م خاطر بنا دے

سخې دغه دے چه ښه ئې نیت دے
نیکخواه د خلق په ښه خصلت دے
تل ئې په علم په طاعت مت دے
حاصل د عمر، علم، طاعت دے

سخې که لک ورکا و ده ته کک وي
بخیل که کک ورکا و ده ته لک وي
د هغو ورکړه په ورکړه مه نیسه
چه ورکا زړه ئې له غمه ډک وي

سړے عزیز ښه دے په دا دُنیا کښې
که نه فائده ئې ده زر په فنا کښې
چه ومری غم نه وي غصه الم نه وي
نه ئې سیالی وي د سیال په خوا کښې

سوزم بې تا نه په لمبو کوښې
خوب و آرام دے را ځنې تښې
غم راعیان کړے بیا ئې پنهان کړے
تا یم دا هسے په لمبو ایښې

سفله په مثل لکه ډیران دے
دولت ئې په مثل باند باران دے
باران چه نه وي بوئې ئې دربلے دے
باران چه وشي بوئې ئې سوان دے

ساقي غوړیږي سل برګ په مني
دلبرے خیال که د ده په مینې
د چا په بخره د میو جام شو
د چا په بخره یو ... پیمنې

سړے که ښه دے چه دیندار نه دے
که ډیر یه کار دے هم ښه نه دے
توښه طاعت دے له دے جهانه
جهان نه هیڅ باند باندنه دے

POHA
پوهنه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړے چه ولامبی په اوبو پاک شی
احمق چه ولولی څو کتابونه
څه رنگ بوټی شی چه تو متاک شی
په څه خولوسته یا وده تاک شی

سړے چه زوړ شی زبور په تن شی
لطیف خوارهٔ دِ خوری دخول دِ لرزه کا
خواس ئے نور شی په زرهٔ هیرژن شی
کهٔ کا نر خیزه چه پرے متین شی

ساقی راپا سه چه بیا نوروز راغے
غم دِ په بخره دَ دښمنانو شی
گل په گلشن کښے جهان افروز راغے
فال دَ دوستانو عجب فیروز راغے

سړی په خپلو سره بے غمه وی
دَ چا چه وی خپل خویه رونړه
وُنه په خپلو ولیو محکمه وی
سیالی ئے کله له سیاله سمه وی

سرشوے په غاړو غرونو شړے
دَ آشنا یئ پیوند ولیدهٔ
دَ ونو پانړے مانړے خوړے
بیوند دے په وینبتهٔ تړے

سترگے چه نهٔ وی مخ په پسالهٔ نشی
فهم کهٔ وکړے دا حال به وویئے
خوئی ئے بد شی دَ خپل کالهٔ نهٔ شی
عیب چه ډیر شی عیب بالهٔ نهٔ شی

سړے کهٔ زوړ وی بنهٔ خویه ځوان لری
دَ پلار بنهٔ خویه دوباره عمر دے
څهٔ به اندوه لری څهٔ به ارمان لری
بد خویه پلار لره بلاشان شان لری

سړے هغه دے چه نوش و نیش وی
په هره چار کښے همت په ځائے لری
نهٔ بدگوئی لری نهٔ بداندیش وی
کهٔ مال و ملک لری کهٔ خوار درویش وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرے چه زورشی و رنځ ته جوړ شي — کهٔ ډیر هوښیار دے په عقل بوړ شي
چه بے ایمان وی حرص ئے زیات وی — کهٔ ایماندار وی له هر څهٔ موړ شي

سوارهٔ دَعقل په براق ښاغلی دی — له عقله پلی په غم نیولی دی
بدری دَعقل دَ براق هم بد ه د ه — سوارهٔ ئے سر په ښتي لویدلی دی

سفله دِ هیچرے دَ مال ښښتن نشي — دَ ښو جامو دِ په اغوستن نهٔ شي
شمله چه پریږدی کتوه بښخه کا — له کبره خیاله ورته ګفتن نهٔ شي

سفله چه زرهتول کا دَمال ښښتن شي — ورانے په لاس واخلی دَ څان دښمن شي
دَنیک خواهانو په پند پروا نهٔ کا — دَ بدخواهانو په صحبت منین شي

صبا به تل وی مسا به تل راځي — چه یو تیریږی بانډ به بل راځي
یو به خوشحال غونډ پیدا څوک نشي — په شپه په ورځ کښے خوشحاله کهٔ سل راځي

سردار دَعفو دَ کرم ښښتن بنهٔ دے — دَ جنګ ترکار په آشتي منین بنهٔ دے
ډیر هنرونه دَ سردارئ دی — چه واړه تیر شي تیغ میرهن بنهٔ دے

ساقی راپاسه پسرلے تیریږی — اهار ار دروهی غارمهٔ ډیریږی
ګوره لا کله به سهیل راخیږی — چه درد وغم به دَ غارمهٔ کمیږی

ساقی راپاسه ګل او ګلاب دی — په باغ وراغ کښے لاله سیراب دی
په دواړو سترګو په انتظار کښے — هم دَ رباب دی هم دَ شراب دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرے په مثل دَ ګبینهٔ دے
خوابږهٔ چه نهٔ وی په ګبینهٔ کښې
شرم په دهٔ کښې لکه خوابږه دے
قدر دَ ژاولے بے خوږ وخته دے

سږ کال چه کال دَ رحمت تم دے
پس له شپږ میاشتو چه چنګابن شروع شو
باران په هرچړته په غرهٔ په سم دے
په هره ورځے ترنیم ضیغم دے

سلخپلوان لږ دی یو دښمن بد دے
په بنهٔ سلوک سره پردی خپلیږی
چه ډیر دښنهٔ لری ځائے ئے لحد دے
چه خپل پردے کا کله بخرد دے

سکان دَ بدر له نوره جنګ لری
سرهٔ زرځهٔ نورځهٔ دی زرنیځهٔ نورځهٔ کړ
ګوګټ دَ مښکوله بویه ننګ لری
ځهٔ شوکهٔ بریښی دَ زرو رنګ لری

سخی ئے مهٔ ګڼره چه نغن ئے خوارنهٔ وی
کهٔ دانشمند وی تفسیر په یاد لولی
باتور ئے مهٔ بوله چه پړے پرهارنهٔ وی
چه ډیر ویل کا دے به هوښیارنهٔ وی

سخ دَ هغو دے چه بے خبر دی
روزګار په غم دے دَ خبردار و
بے غمه خوب کا په خوب وخور دی
چه په زرګونو فکرونو سر دی

شرم ئے نشته ښاووے خوږدار لری
فرق له سړیوله ښاروېو هومره دے
نهٔ هومره مهر په مور وپلار لری
چه شرم مهر په خپل مقدار لری

شونډے دِ نهٔ دی آبِ حیات دی
مخ دِ بهتر تر نسترن دَ باغ دے
زلفے دِ نهٔ دی مښک هبات دی
سنان سنان دِ بانږهٔ یکذات دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهین کهٔ پرلری سردارکهٔ زر لری
مُهم به سرلری کام به دربر لری
سردارکهٔ زرلری شاهین کهٔ پرلری
کام به دربرلری مُهم به سر لری

شرم دے کهٔ ننگ دے کهٔ دارد سر دے
پښتانهٔ واړه دَمغل ښوروا خوری
سمه م پریښوه ځائے م تل غر دے
ماته ئے پاتے داشور وشر دے

شیطان هرګوره ښائسته روغ دے
بدرنګ په دا شوچه بد رسوا شو
چه بدرنګ بولی دا وے دروغ دے
پرے دریدلے دَ لعن توغ دے

شمع کهٔ هرڅو سوز اوګداز لری
دا کارئے واړه ځاخوښ نهٔ شو
ژاړی په اوښکو چهره طراز لری
چه خپله ژبه اوږده په راز لری

شاهان بل اور دی په هرڅهٔ نغری
چه یو بخرے ځان ته پرے نور دے
اعوان سکروټے دَ اور بخری
هوښیار به تل وی واور ته څری

ښځے دَ هیچا په رګ ریشه نهٔ دی
په خپل مقصود دی په غرض سوړی
څرګنده چرده وفا پیشه نهٔ دی
په نور وچار وکښے دِ همیشه نهٔ دی

ښځے له ځایه په عقل کمے دی
وفا ترے مهٔ غواړه په یارئ ئے مهٔ ویاړهٔ
سمے به نهٔ شی پیدا نا سمے دی
کهٔ دِ محرمے کهٔ نامحرمے دی

ښځے په اصل کږے نا سمے دی
شومتئے اور دے چه چرته ولګی
په عقل کمے په دین هم کمے دی
په دم پیرئ په دم آدمے دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنځو ته ډیرے بلا تعینے دی
چه بے ادبه بے نمازے لوئے وی
ښو ستر یو ښے هومره مهینے دی
ورته نظر مکړه که مخ نسرینے وی

ښځه به ترے ځه غواړے هغه چه تل بدوی
د بل علاج وشی د خپل علاج نشی
هم په بازل بد وی هم په ساتل بدوی
چه دِ بد خواه شی تر بل نه خپل بدوی

ښځه خوهغه دی چه د چا په چر نهٔ دی
ځان په ژوندیے د مړو په شمار کړه
که د وګړی په شور وشر نهٔ دی
نیستی هستی د ه ښوک پرے خبر نهٔ دی

ښځے طرارے ښځے مکارے دی
که هر ښو یارے ښځے اغیارے دی
ښځے مکارے دی ښځے طرارے دی
ښځے اغیارے دی که هر ښو یارے دی

ښځه خوهغه دی چه په هیڅ خبر نهٔ دی
جُدا له خلقه په کُنج کښے اوسی
په غم په فکر د سیم وزر نهٔ دی
ښوک ئے چاکر نشته د چا چاکر نهٔ دی

ښے ښے دلبرے د دین یارانے دی
په خولهٔ ئے ښکل کړے زړهٔ ئے ډیر ښهٔ شی
په دا دُنیا کښے غمګسارانے دی
په دواړو شونډو شکر بارانے دی

ښیرے دِ واړه په ما دُعا لګی
که تهٔ م وُلے په سکروټو
ښکنځل دِ واړه په ما حلوا لګی
واړه به ګل د لاله په ما لګی

ښے ښے ښهرے شته په دا جهان کښے
که هر کښلی مخ ونه تل ګورم
کمے ئے نشته په هر مکان کښے
بیا به ترے لاړ شم په ډیر ارمان کښے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښې ښې چين چين خنړې ښښتې جنې
په شين شين ځي شين ژنې
نن نغتې نهٔ شي تښې ښښتې
تښې پوښتنې نتنې شي ځنې

ښکاره په هرڅهٔ دَ چارې بند دے
قدر له ښځې دَ مرد دوچند دے
ځنې سړي دي چه ږيره بريت لري
جوړ ئے له ښځې سره پيوند دے

شيکره چوړے نيسي زانړے شنقر نيسي
شرمخ بيها نړ وهي مږے ايغر نيسي
ولوئے ميلمه ته سړے ساغر نيسي
مفلس ميلمه ته ساغر لاغر نيسي

ښځې ښهٔ ځيزدي کهٔ په مخ کښلي وي
له موره پلاره پاکے زوولے وي
کهٔ دائے نهٔ وي زر دِ په کور شي
چه نهٔ ليدلے نهٔ چاکتلے وي

ښائست دَ ښځې دَ مار يکسان دے
ظاهر ئے مهٔ گوره باطن ئے وران دے
ښځهٔ په سرهٔ کښې خوځو بلا لري
کهٔ مار په خولهٔ کښې دَ زهر وکان دے

ښهٔ ښهٔ ځوانان دي دَ ننگ يک دلي
حاضر په کار کښې سوارهٔ هم پلي
ډير زر دولت وے باندِ خوړ وے
ورته بخښلي هرڅهٔ بخښلي

ښهٔ خوئي بد يري بد خوئي ښهٔ کيږي
په صحبتونو کهٔ څوک پوهيږي
نافه دَ هوسے په بوئ خوشبوئ نشي
حنظل شکر وَ سره خوږيږي

ښځه چه ډکه شي کهٔ کښيني مار راوړي
مار ښهٔ نهٔ ځويه چه ناهموار راوړي
گل چه نهٔ رنگ لري نهٔ بوئ ښهٔ کاندي
ښهٔ داچه وُنه بوټے خاردار راوړي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنهٔ مخ چه ووينې په زړهٔ سخ سخ وائي — بد مخ چه ووينې په زړهٔ چخ چخ وائي
کهٔ د خوشحال غونډې مئين په مخ شې — تل به مخ مخ وائي تل به مخ مخ وائي

ښځې به نهٔ شي د هيڅا يارې — په خولهٔ دي يارې په زړهٔ اغيارې
زړهٔ دننه په اندرون کښې — د پاسه کښېلي ښائسته مارې

صحبت له جنسه لکه ګلاب دے — د ناجنسانو صحبت عذاب دے
کس به ناکس شي ناکس به کس شي — طوطي طوطي دے غراب غراب دے

صبي کهٔ هرڅو مُرسل نبي وي — د پلار د مينې بيا اجنبي وي
يعقوبؑ چه ړوند شو يوسف هيڅ نهٔ شو — په غم کښې ستړي وي نهٔ چه صبي وي

عقل د مزکې يا د آسمان دے — چه دواړه نهٔ لري هغه حيوان دے
عقل د مزکې د مور د نسه دے — چه د آسمان دے د دبستان دے

عشقه ستا واړهٔ چارې اوترې دي — چه زړور نے واړه بهترې دي
ترمرګه پورې سره نظر لري — حُلمي بازونه جونه کوترې دي

عشق چه په خپلو موجونو سرشي — ترا با سينده لا زوروَر شي
بلائے لرے هرڅهٔ چه مې وُړي — چه کانړي بوتي په مخه ورشي

عادت چه بد لري ځان ئے زړلے دے — عادت چه بد لري سرئے خوړلے دے
عادت په پند نهٔ ځي عادت په بند نهٔ ځي — عادت له سره سره تړلے دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجب کار و نه صبا بیګاه شي
زړونه دَ خلقو دَ خدائے په لاس کښې ړه
نیکخواه بدخواه شي بدخواه نیکخواه شي
تبدیل دَ خلقو په هره ساه شي

عزت دَ زړو ډیر دے عزیز دی
کهٔ هرڅو بنهٔ دی په حقیقت کښې
هغه چه زړ ساتي صاحب تمیز دی
نَر عاقلانو وته ناڅیز دی

عالم پرے وُنے تلے کپ ګوري
نظر دا نهٔ کا چه افلاکو نه
دوړونه خدائے کا نهٔ ئے دا ستوري
دَ چا دپاره سره تل بښوري

عاشق په وخت دَ وصال سلطان وی
چه یافت ئے څومره خوښی ئے هومره
هالهٔ ئے مهٔ وینه چه پرے هجران وی
څوچه کالے وی هسے ئے زیان وی

عاشق خپل کار کا شرم بیغورتهٔ دے
زنبق ته ګوره سوسن ته ګوره
چه پرے مئین شوے دلبر سپین تورتهٔ دے
ګرهٔ وړهٔ څهٔ نورتهٔ ئې نمکڅهٔ نورتهٔ دے

عفو کرم دِ په هرچا عام نهٔ وی
کَس چه خطا وکا بانډِ عطا بو یه
په کس ناکس دِ دا کار مدام نهٔ وی
ناکس لا بد شي چه انتقام نهٔ وی

عرب هم ډیر دی عجم هم ډیر دی
نور کښلي واړه غټ واړهٔ ستوري
شماره ئے نشته تر حساب تیر دی
تاغوندِ کله دَ نمر په څیر دی

عیب ئے مهٔ ګوره چه ډیر هُنر لري
سر چه دَ تاج دَ خولئ لائق وی
څهٔ شو په مخ کهٔ تیر سرے نمر لري
څهٔ شو کهٔ څهٔ خو بخے دَ سر لري

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عام دِ دَ خاصو په مجالس نهٔ شي — يار دَ فرښتو سره پيرے ناغس نهٔ شي
دَ ناسو کار دَ نسناسو مهٔ غواړه — دَ پيازو بوټے ګل دَ نرګس نهٔ شي

عمر کهٔ ډير شي بيا دِ هفتاد شي — تردا دپاسه کله رماد شي
چه دَ ځوانئ ساعت رايا د شي — په هر زمان م پسے فرياد شي

غم دَ ګناه مهٔ کړه ګناه قربت دے — ګناه هغه بند دے چه قطيعت دے
کهٔ سل ناسازے په نار معشوق کا — څهٔ شو په کارئ ستر عفت دے

غليم هوښيار بنهٔ دے کهٔ مرګ دِ غواړي — ډير به ترجنګه په آشتي ويا ړي
هوښيار چه نهٔ دے غليم ئے مهٔ ګڼړه — پريږده پخپله به خپل ځان وژاړي

غم کهٔ په زړهٔ کښے دَ دلارام لري — کرم دے کهٔ فکر دَ ننګ و نام لري
چه يارئ څهٔ وي هسے دَ دے وي — کهٔ دين دَ کفر کهٔ دَ اسلام لري

غابن چه دِ وشوري مرئے دِ غل شي — بدخويه ښځه سر دِ ئے کل شي
چه آواره شي هاله ترے خلاص شي — ګڼړه وتاته واړه خلل شي

غم به دَ دين خوړي چه مومنان دي — دا نور غمونه واړه آسان دي
چه دين ئے نهٔ وي کهٔ په تخت کښيني — ښادي ئے غم دهٔ کهٔ بادشاهان دي

غشے چه کوږ وي يا عيب ژن وي — ځائے ئے په کيش کښے کله سودمن وي
يا علاج وکړه چه باوري شي — يا دِئے فکر دَ دور کودن وي

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



غشي چه راشي په واړه تن لګي — ګوره رسا لګي که برسیون لګي
بده خبره ترغشي بده ده — دَ ژبې په سربانډِ دَ مرد وزن لګي

غشي دَ تیټکي لیندې خطا شي — دَ نرمې سستې ګذار رسا شي
بنه تیره توره په لاس کښې داوړی — دَ بچي تورې ګذار بلا شي

غشي چه ډیر وولی بنهٔ تیرانداز شي — چه مشق دَ خط کړي وخط ته سازشي
کاردَ محنت دے دَ مشقت دے — سړو رو په هرهر هُنر ممتاز شي

غشي چه سم وي ګذار پرے بنهٔ کیږي — چه بنهٔ سم نهٔ وي ګذار پرے نهٔ کیږي
رښتیا په هرځهٔ کښې لکه سرهٔ زر دي — په لاس کښې زرلری په زر هرڅهٔ کیږي

غوټۍ دَ باغ دي تل تل غوړیږي — پرے وُښې سترګے دَ بلبل مړیږي
خدائے دِ تازه لري دَ باغ ګلونه — چه وړته سترګے دَ بلبل غوړیږي

فرښتے له نُورهٔ پیرے له ناره دے — وګړه پرے خبرئے سړے له چاره دے
ځکه دا هسے ډیرے فتنے لري — له باد وخاکه له آب و ناره دے

فصل په فصل کندو ډکیږي — لکه ډکیږي هسے تشیږي
چه دا آسمان شته په سرخرځیږي — یو فصل دړومي بل رارسیږي

فلک یو سترګے کهنه تیر ګرد ے — دَدهٔ په هرهر لرګی نظر دے
نړیات په دا دور چه رغوی ئے — دَ سرا غزیو په غشو سر دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرزند هغه دے چه متقي وي — نهٔ بدګمانه بدخوئي شقي وي
خبرچه نهٔ وي دَ خدائے له حقه — دا نوَر حقونه پرېے ناحقي وي

فرزند يو پېروکے دَ پلار له خانه دے — دَ پلار دَ غوښو دَ استخوانه دے
دَ پلار په خوښه وچه پروا دار نهٔ وي — له پلاره نهٔ دے ګوره له چانه دے

فرزند چه وُوزي دَ پلار له ريه — بنا دي ځے کومه ده بدبخت ته وايه
دا نه کهٔ وُوزي دَ پلار له حکمه — خروار به مومی بدی له خدايه

فرزند هغه دے چه شرمناک وي — له بدو چارو په زړهٔ کښې پاک وي
چه شرم نهٔ لري خبره نهٔ مني — چه لا هلک وي زر ږِ هلاک وي

فرزند چه عاق وي کهٔ تهٔ ئے وينے — بدے اوبهٔ دي مردارے وينے
مينے دَ پاکو پاکان پيدا کا — ناپاک پيدا کا ناپاکے مينے

فرق دَ سړيو سره بسيار وي — سړے هغه دے چه ځهٔ هوښيار وي
چه ځهٔ ترے تيروي ځهٔ ئے ليدلی وي — علم ادب لري په صحبت تيار وي

فتنے دَ ښځو هرګوره ډيرے دی — په شيطانئ ترشيطانه تيرے دی
لکه لښکه هسے تکی لری — زهر به خوا کښې کښلے برسيرے دی

فرزند کهٔ هرڅو دَ پلار عاصی شی — چه پلار ته پريوزی بيا په خلاصی شی
خدائے په بنده باندِ لا ډيرمئين دے — له هرګناهه په توبه خلاصی شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرزند کهٔ ښهٔ شي د سترګو نور شي
فرزند کهٔ بد شي غابښ دِ رنځور شي
د سترګو نور شي د زړهٔ سرور شي
غابښ چه رنځور شي نو ردَ انبور شي

فکر م وکړ چه دا انسان دی
ځنې سړی دی په خوئ خصلت کښې
ځنې فرښتې دی ځنې شیطان دی
ځنې بې شکه لکه ددان دی

فاني دي واړه دا نوړے مینے
خبر کهٔ نهٔ شوے په باقي مینه
یوه باقي ده کهٔ تهٔ ئې وینے
ژاړه کهٔ ژاړے په اوښکے وینے

قلبه روپیه ښانسته روغه دی
هیڅوک دَ خپلو شنو بو بد نهٔ وائي
خوچه سوراخه شي نو ربے فروغه وی
صفت دَ هرچا له خپله دوغه وی

قاضي په وخت دَ قضا په یاد شي
طبیب په وخت دَ دوا په یاد شي
غازي په وخت دَ غزا په یاد شي
زاهد په وخت دَ دُعا په یاد شي

قوت م لږ شو نفس م لنډ دے
منزل م اوږد دے کهٔ روغ تړے ورسم
پوهٔ تړے نهٔ شم دَ سریشو ړنډ دے
په سر م اېښے دَ سریشو پنډ دے

قام ته م کله لوئی ښکاره وی
لاس م نیولی وی په دواړو غوږو
په وړو چارو کښې آواره وی
تړے توبه توبه چه هیچکاره وی

قابل هغه دے چه درست طلا شي
نهٔ ئې زکوٰة وی نهٔ ئې قربان وی
کهٔ زر و سیمه په استغنا شي
هسے تړے دړومه لکه چه راشي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن چه لوست شي په هغه کور کښېږي — غم به ئې نۀ وي په سپین په تور کښېږي
که ئې ګناه وي هسې به سوزي — لکه خزله سوزي په اور کښېږي

قرار په دا لرم حال م عیان دے — نوم م د خان دے کار م بل شان دے
نۀ م نرګوته شته نۀ سرسایه لرم — نۀ م اختر شته نۀ م قربان دے

قابل که نۀ وي دولت که بیاموي — لکه ئې بیاموي هسې ترے بیا دړومي
باور په بخت مکړه باور په تخت مکړه — آسمان ئې ونغاړي که شاهنشاه دروي

قربان تر خاصو چه خاص الخاص دي — په نړۀ لۀ نورو فکرونو خلاص دي
که ډېر غمونه ورباندې راشي — تسلیم قضا ته په ډېر اخلاص دي

که څوک په خیر ځیر وئیل ویربړي — خوشحال نۀ ویره کا نۀ شرمیږي
هوښیار به واړه په دا پوهیږي — چه کابړۀ زیږي کاږۀ لوئیږي

که هغه یار م راضي په مرګ دے — دا دے نیولے م ورته تخرګ دے
غشے د بنۀ په سوهان تیرۀ کا — چیرے به بند شي تو برے ئې بغرګ دے

کله یار رغواړے کله یار درشي — کله کار رغواړے کله کار درشي
آسمان په ډول ډول پیرے کا — خوشحاله ګوره ګوندې وار درشي

که م په ډیره ښرا لیمۀ ووزي — یار م ناترس دے په داځۀ څۀ ووزي
ګلګونې اوښکې سا په ۀ آهو نه — څۀ م له سترګو څۀ م له زړۀ ووزي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ پیر والا شې په پارسایئ کښې
غافل هیڅ مهٔ شه دَ نفس له مکره
سیال دِ خوک نهٔ وي په ملایئ کښې
بلا پرې وزي په آشنایئ کښې

ړاته کهٔ غور کړې یو نصیحت دے
باړ دَ فکرونو په ژړهٔ هیڅ مهٔ بزده
نهٔ دِ بدخواه یم نهٔ خدیعت دے
هغه به موې چه دِ قسمت دے

کهٔ زړهٔ خوک ټینګ کاچه نے قضا نهٔ وي
قضا چه وړشي بلا پرے سازه شي
کهٔ تل جنګونه کا مرګ ئے روانهٔ وي
کهٔ په ملکونو چیرے بلا نهٔ وي

کوم دے چه واړه خوبئ دَ ګل لري
یار کهٔ نور بنهٔ یو خوئ مهٔ ګوره
خمار دِ مل شته خارونه ګل لري
اکثر کهٔ ګورے حکم دَ کُل لري

کهٔ بد ویونے بد لمسوونے ئے
کهٔ نیت دِ ساوغ دے اندوه هیڅ مکره
په ځان بخپله اور لګوونے ئے
جهان کهٔ غم شي تهٔ بنادي کړونے ئے

کهٔ خوک دِ وُلید په استکبار کښې
په لار کهٔ درشي سلام ئے مهٔ له
په قول فعل په کاروبار کښې
پاتے چه پل بزدے دَ دهٔ په لار کښې

کهٔ بخت م یار شي یار م به یار شي
چه م نیکخواه دی زړهٔ به ئے بنهٔ شي
بوسه به راکا را به کنار شي
چه م بدخواه دی هغه به خوار شي

کهٔ تهٔ په قدر دَ ځان خبر ئے
زر دِ بخپله ترمِس بستر کړهٔ
تهٔ سرترپایه واړه سرهٔ زر ئے
چه ناسوتي ئے په بدو سر ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ رنګ دِ سپین دٖی کهٔ رنګ دِ تور دے
په داخهٔ نهٔ شی مطلب خهٔ نور دے
بوئ په نافه کښے وینے په قدر کا
شمشاد بے بویه دَ چند نرپیغور دے

کریم هغه دے چه خوش معاش وی
هم خطا پوش وی هم خطا پاش وی
چه ورکا خوبښ شی چه ډیر ورکړه لږ ګنړی
باندِ دَ هرچا شاباش شاباش وی

مرګ دَ لونړو دشوار فرقت دے
ژوندون دَ دویو هم یو مصیبت دے
چه کورٖے لوئے وی شرشورٖے لوئے وی
چه کورٖے کم وی یو لوئے نعمت دے

کهٔ بادشاهی غواړے کارٖے آسان دے
تسخیر دَ زړونو خُلق دَ احسان دے
لښکر چه وشو طالع دِ ملے شوے
داد او دهش کړه خپل دِ جهان دے

کړے په رنګ دَ طوطا نمود دے
په رنګ مدارنهٔ دے هُنر مقصود دے
اصل پیدا کړه هُنر خصلت راوړه
چه اصل نهٔ لری هغه مردود دے

کهٔ نور خهٔ نهٔ وی سرے چه زوړ شي
دَ ننګا شونو په کار کښے جوړ شی
ځوانان چه نهٔ منی دَ زړو بد کا
دَ بدخواهانو زړهٔ به پرے سوړ شی

کهٔ ډکه بنځه کښینی یو دَد راوړی
بهتر تر دا دے چه بد ولد راوړی
داځلئے حیرت دے ځوک به خهٔ دم وهی
بدان چه بنهٔ را وړی نیکان چه بد راوړی

کابنهٔ کارونه ناپوه ته سم وی
بنهٔ سم کارونه ناپوه ته غم وی
فرق دَ هوښیار دَ ناپوهه په دا وُشهٔ
په دا خبره به خبر اعلم وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ سخاوت دے کهٔ شجاعت دے
چه دائے نهٔ وی له مونږه مهٔ ګڼړه
زمونږ په کور کښې ځائی خصلت دے
ګوره ځان کښې ئے پوخهٔ علت دے

کهٔ په رښتیا کښې دَ زړو تله شې
خوبی دِ هومره ده په خولهٔ کښې ژبې
تهٔ به په قدر په قیمت تر تله شې
خوله دړوغو هومره ساتله شې

ګنج دَ خوانئ تر چِل و پنج دے
ځوان په افلاس کښې دَ خوانئ خوښ وی
بهتر دَ سیم و زر تر ګنج دے
زوړ کهٔ بادشاه وی زړهٔ ئے ترِ نج دے

ګناه کهٔ هر څو دَ سړی ډیر شی
نومید دِ نهٔ شی دَ خدائے له فضله
په شمار دَ ونو تر پاڼو تیر شی
ګوندِ دَ فضل په ډکه ویر شی

کهٔ بدئے ښهٔ به شې په ښهٔ خصلت کښې
وفا له هرچا کړه جفا له هرچا وړه
کهٔ کم ئے لوئے به شې په لوئے همت کښې
دین او دُنیا غواړې په ښهٔ صحبت کښې

کړل دی وئیل دی دواړه آوان لری
چه کار دَ نن ورځے پریږدی صبا ته
چه وخت ئے تیر شی افسوس ارمان لری
هوښیار به نهٔ وی داخوئ نادان لری

ښکلی هغه ده صفت ئے ښائی
هغه دَ ښکلیو په شماره نهٔ ده
په هر هر ځائے ئے وګړے ستائی
چه دَ کور ړه مه ئے ستائینه وائی

کهٔ خولهٔ م پټه پریږدے هیڅ نهٔ ئے
په هره ساه شکر وُکاږه
کهٔ باذ دِ بند شی وایه چه څهٔ ئے
چه تندرستی لرے هم هومره ښهٔ ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ په ګناه کښې صبا بیګاه وی
کهٔ هیڅ ګناه نهٔ کا په غفلت کښې اوسی
ګناه ئې نشته چه خوک آګاه وی
هم دا غفلت دَ غافل ګناه وی

کنګاش په مثل دَ سودا کار دے
اهمال پرے نهٔ بویه سودا سودمنه دهٔ
کهٔ په سودا کښې فائده دینار دے
چه پرے اهمال کا کله هوښیار دے

کهٔ دَ نبا تو حلوا پخه شی
نو سر دَ سرپیو له کاره وُوځی
په ناګهانه په سپی جوته شی
جوته دَ سپیو په سپی خوره شی

کهٔ پرے پوهیږے دا کار څرګند دے
په دا خبره کار دَ نادان نشته
پند دَ سړی دے سړے دَ پند دے
پرے به پوهیږی چه دانشمند دے

کهٔ یار ځما دے درست به ځما شی
زړهٔ به وزګار کا له غیره فکره
سستی به پریږدی چست به ځما شی
په شپه په ورځ به په لوست ځما شی

کهٔ میندے لښکے دَ آفریدو دی
دَ دین په کار کښې لهٔ آراسته دے
دَ دیو دَ تورے تورے دَ دیو دی
عزت دَ خیلو هم دَ پردیو دی

کهٔ ژاړے ژاړه په ژړا خهٔ شی
هغه چه لاړل له دے جهانه
کهٔ په ژړا دِ لیمهٔ ړاندهٔ شی
کهٔ تهٔ باور کړے بیا رته رانهٔ شی

ګندګی چه پروت وی ګونګټ پرے ګرځی
دَ دُنیا خلق اکثر ګونګټ دی
چه نهٔ وی پاسی ځنے وورزی
خو چه ځهٔ مومی درباندِ غورزی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کفر په بخره دَ کافرانو دے | اسلام په بخره دَ مومنانو دے
چه هیڅ په کفر په اسلام خبرنهٔ دی | عشق بِہ په بخره دَ عاشقانو دے

کهٔ ښے ښے جُونه کهٔ لباسونه دی | کهٔ ښهٔ بازونه کهٔ ښهٔ آسونه دی
خوشحاله زوړ شوے اوس دا هوس مکړه | دَ ښو ځوانانو دا هوسونه دی

گلزار ته راغله گلونه چونړی | تر مخ ئے نهٔ دی لاله مخ رونړی
چه گورته دروئی له گلستانه | گل ئے لمن شی لاله لستونړی

کهٔ ئے له حاله خوشحال پوښتیٔ | ښځے همه دی کوڼے پُښتنیٔ
کوڼے پښتنیٔ به درسے نهٔ شی | کهٔ په هُنر کښے نامے پُښتنیٔ

کهٔ دِ دَ یار په یارئ زړهٔ وی | دَ یار به هرځهٔ وتاته ښهٔ وی
قدیم بے مثله دے عیب ئے نشته | حادث به هیچرے بے عیبه نهٔ وی

کښلی کهٔ ډیردی په قندهار کښے | یا په کشمیر کښے یا په فرخار کښے
لکه دا کښلی دَ پیښبور دی | هسے به نهٔ وی په هیڅ دیار کښے

گل شوے دَ خوړے دَ بنړ پلوسے | خوشحاله ولے بے گشته اوسے
کشت دَ گلونو ښکار دَ بازونو کړه | چه گورته ډیرے خوښئ یوسے

کهٔ ځوک نیکان دی کهٔ ځوک بدان دی | په دا دُنیا کښے چه په هرشان دی
مهٔ ئے ستائینه کړه مهٔ ئے غندنه | نهٔ به ئے ځهٔ کړے چه دَ خپل ځان دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ یار رخصانے سکه دُر د آشام به شے
نړۀ اوس قلاش یم رندیم او باش یم
کۀ صاف صوفی ئے په خپل فرجام به شے
راسره مۀ کښېنه گنړه بدنام به شے

گران تر ایمان دے کۀ تۀ ئے وینے
سل کبیره کړے ایمان په ځائے وی
کار دَ ښے مینے جگر کا وینے
په صغیره ځی دا ښے ښے مینے

کۀ مړنے ئے مغفر شگاف یے
تر دا دواړه بهتر دا کار دے
دَ بادشاهانو دَ لوئے مصاف ئے
په عهد قول کۀ سینه صاف ئے

کۀ دَ مردانو په دین آئین ئے
کۀ نۀ دِ تخت شته نۀ دِ افسر شته
نۀ بند په سرۀ ئے نۀ بند په سپین ئے
قیصر دَ روم ئے فغفور دَ چین ئے

کۀ مخنوړن دی خود روغژن دی
په صف یم مۀ کړه دَ دروغژنو
ربښتینی کله په مخ خیرن دی
کۀ دَ گنجونو دولت خښتن دی

کۀ نا سپاس ئے ناس نسناس یے
کۀ حق شناس ئے هاله تۀ ناس ئے
هاله تۀ ناس ئے کۀ نا سپاس ئے
هاله تۀ ناس ئے کۀ حق شناس ئے

کۀ دِ نیت ساز دے عمل دِ ساز دے
مدار په نیت راغے مراد په نیت راغے
کۀ دِ روژے دی کۀ دِ نماز دے
دین او دُنیا لره په نیت کښے راز دے

کید یے زړۀ دے وهم وسواس لری
هغه مزیے نۀ دے هغه کید دے
مزیے زړور دے کله هراس لری
په کار وبار کښے چه زړۀ کوز پاس لری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ بلا، کۀ خوبه کۀ دور کۀ یار دے — په دا دُنیا کښې سره یو کار دے
کۀ سود ئې نۀ رسی په دا دُنیا کښې — ژوندون مې مۀ وه عمر ئې خوار دے

کې هیڅ نۀ وُو په ذوالفقار کښې — دَ روم دَ جیش په کاروبار کښې
چه تیغ برش کا فتنې جنبش کا — وئیل هیڅ نۀ شی په هسې کار کښې

کۀ یاری دواړه وبله رائې شی — دروی له ژبې په زړۀ کښې ځائې شی
چه دا باریکې معنیٰ ئې بیا موندے — په هغه کس دِ رحمت دَ خدائې شی

کۀ زړۀ سخی لری چه مال ئې نۀ وی — په ځان مې ولیدۀ خۀ حال ئې نۀ وی
کۀ باز دِ واړه هُنر دَ ښکار لری — ښکار به په خۀ کا چه بال ئې نۀ وی

کۀ سترګې نۀ لرم چه هسې ګوری — بې دَ عینکو دَ کتاب توری
بیرئ تتے کړے شکر وُکاږم — چه لا پرے وینم دَ آسمان ستوری

کۀ باد ئې یوسی په هوا خس خس دے — کۀ شکر خورشی مګس مګس دے
کۀ ئې دولت وشی کۀ دانشمند وی — دا ئې هیڅ مۀ ګوره ناکس ناکس دے

کۀ سحر دَ سترګو غمزې ئې دا دی — لکه چه ستادی بلادی دا دی
خوږې خبرې دِ خوږې شکرې شوې — مشک وګلاب دِ پکښې ادا دی

ګل دَ ګلابو نیست و موجود شی — لکه موجود دی هسې نابود شی
کۀ بوئې ئې پاتې شی په آبګینه کښې — په هغه بوئې ئې هرڅوک خوشنود شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کناس که واغوندی وربښمینې ګنجې
که ئې د مښکو په نافه کښې واچوې
بل څه به نه شی په تنجې پنجې
خپل بوئ ښکاره کا په هر ځائې هنجې

که بادشاهان دی که درویشان دی
که په زرګونو کالونو پائی
که په دا مینځ کښې ښه ښه ځوانان دی
عاقبت واړه د کورستان دی

کبلې چه پریوزی مور ورته وُدَری
که پرورش دے د کبلی که ښه دا
په دوه درے میاشتې په پښو ولړی
ځوک ئې په شاړه کښې دهوسیو کړی

که رور ناکس دے په خوئ کښې کس دے
د مشر ورور به آب په ځائې لری
داخوئ به دے لری ورلره بس دے
نازبه د کشر ورځ ځوئې دسترس دے

کارئې ښکاره شی ونه چه بر واخلی
فرزند هم هسې د وُنې کار لری
یا خوږ ثمر واخلی یا تریخ ثمر واخلی
یا ښه هُنر واخلی یا بد هُنر واخلی

که سر د ښځې سپینې وړئ شی
سړئ نه دی لکه پیری دی
زړه ئې و غو ته هره ګړئ شی
چه غیږ پرے ولاړشی هاله سړی شی

که نادانان دی که هوښیاران دی
خوانه ترخه ئې واړه په کار ګنړه
ګمان دا مکړه چه بیکاران دی
چه پیدا شوی په دا باران دی

کمال د کفر ناقص دین ښه دے
چه کله داشی کله هغه شی
یا درست ګمان ښه دے یا درست یقین ښه دے
دانا ته کله مذبذبین ښه دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ لوئ نعمت دے دَ روغ صورت دے          کهٔ لوئ دولت دے دَ نیکونیت دے
چه داۓ نهٔ وی مزه ئے مهٔ غواړے          کهٔ بادشاهی ده کهٔ سلطنت دے

که ځان دِ وپیژاندهٔ هاله سړے ئے          کنه وماته دَ خرهٔ خرے ئے
اول هم هیڅ وے بیا به هم هیڅ شے          کهٔ ړوغ وی مات شی هغه کړے ئے

ګریوان ئے تل تل له ګله عاږ لری          مژګان ئے تل تل کشته بسیار لری
چه ئے ځما غوندِ دلبره بیاموندہ          هغه له نوړو سره څهٔ کار لری

ګوړه پرے غږ کړه شپیلئ څهٔ وائی          بیلتون پرے ورغے هر ګوره بنهٔ وائی
سینه ئے ګوره خوځایه سورے ده          زار دَ فراق کا نور څهٔ هیڅ نهٔ وائی

کهٔ سُود دے سود دَ سحر سجود دے          بهتر تر درستے دُنیا دا سُود دے
نهٔ به تل تهٔ وے نهٔ به دِ سر وی          سجود له سره سره موجود دے

کدوچه هسے په منږه دا ننګے          پاسه دِ لاړه شی په بهار ځانګے
دا کار دِ بد نهٔ دے بلادِ دا شوه          په ساړهٔ وچ شے حبطه زانګے

کهٔ ډیر هوښیار ئے یا مړنے ئے          په خوشخوئ کښے شکر کنے ئے
مدار په بخت دے چه بخت مددنهٔ کا          هم هیڅکاره ئے هم لیونے ئے

کهٔ ورته وائے کله پوهیږی          قرآن کهٔ لولی کله ګروهیږی
دَ پلاړ په پندئ وتنه نهٔ وی          بدان په خپلو بدو ستوهیږی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ لعل و دُر او یا قوت الماس دی
چه ناس دِ نهٔ وی په سیند کښې پرېوزه
واهره دا ناس دی واړه داناس دی
کهٔ جواهر دِ بیرون تر قیاس دی

کهٔ شیرمردان دی هغه خُوانان دی
تل خوښ له دیو یاران دوستان دی
چه دوست دښمن سره په خوئ شادان دی
تل ترې په طمع لا دښمنان دی

کهٔ دَ غندنې کهٔ دَ صفت ستهٔ
غندنه هومره چه دَ دوزخ ستهٔ
کمې دِ نشته هسې صورت ستهٔ
صفت دِ هومره چه دَ جنت ستهٔ

کهٔ زړهٔ م دا دے غلیم خُما دے
مئین په چا دے دَ چا آشنا دے
غلیم خُما دے کهٔ زړهٔ م دا دے
دَ چا آشنا دے مئین په چا دے

کهٔ خوک ایغر دے کهٔ خوک اخته دے
خوک سره مینې شیر و شکر کړه
هرڅوک په خپلے چارے اخته دے
څوک سره ګوره اور او پخته دے

کهٔ ډیر دولت لرے ډیرے مستئ
کهٔ پرے پوهیږے څو تندرستی دهٔ
دا واهره هیڅ دی بے تندرستئ
چه حلاوت لری ستا دَ هستئ

کهٔ هرڅو بنهٔ شی بیا دِ بادشاه شی
بیا به تنها دړومی دَ ګور وخونې ته
لښکر دولت لری صاحب دَ جاه شی
په خپل عمل به هالهٔ اګاه شی

کهٔ تورهاتی دے کهٔ سُور اسد دے
غوښې هډو نهٔ ئے دَ خلقو وخوړل
نور څهٔ ئې مهٔ ګنړه دَ ګور لحد دے
پرے نهٔ مړېږی هر ګوره بد دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ کړم کهٔ نهٔ کړم دواړه بلا دی
کهٔ خورم کهٔ نهٔ خورم دواړه بلا دی
کهٔ وهم کهٔ نهٔ وهم دواړه بلا دی
کهٔ مرم کهٔ نهٔ مرم دواړه بلا دی

کهٔ سوختګان دی کهٔ آموختګان دی
خدائے ئے روزی کړه بنا دی ئے خپله ده
دَ زنګ دَ زړونو افروختګان دی
چه دَ غمونو اندوختګان دی

کهٔ دِ راحت دے کهٔ دِ محنت دے
کهٔ خاندے خانده کهٔ ژاړے کهٔ ژاړه
کهٔ دِ صحت دے کهٔ دِ زحمت دے
دا به دِ تل وی څو دِ صورت دے

ګلزار ته راغله ختے ګلګونے
پرخه پرے نهٔ ده پرته له شرمه
دَ مخ شغلے ئے تر نمر افزونے
تر هر هر ګل شوے خولے بیرونے

کهٔ دَ جهانو څهٔ برکت دے
دَ هندوستان سره دَ هیچا کار نهٔ وُو
یا ئے څهٔ عقل څهٔ مصلحت وے
ژغ هم دَ دیو دَ سلطنت وے

کهٔ دَ غلیم سره جنګ او مصاف بنهٔ دے
ماچه نظر وکړو چه تجربه وشوه
کهٔ مردئے زړهٔ خوور سره صاف بنهٔ دے
دَ هرے چارے عدل انصاف بنهٔ دے

کا نړی یاقوت دی کیا کیمیا دی
فرق دَ سړیو تر مینځ بیشماره دے
شناخت هغه لری چه څوک بینا دی
ځنے سړی دی ځنے چارپا دی

کهٔ فهم او کړے ستر ګو ته خس بس دے
ایمان دَ یر بنهٔ دے هم دیر قوت لری
نعمت چه درکا ورته مګس بس دے
زوال ئے مهٔ وه ورته وسوس بس دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



گل ئے له مخه دَ خوبئ اغوَر غواړی — خوارۀ نے شهد په [illegible]
ډیرئے په طور دَ شیخ صنعان کړۀ — ستړکے ئے بنۀ بنۀ [illegible]

کۀ آدم زاد دی په بنۀ صورت دی — ښځے د سپیو په طبیعت دی
ښے ئے ښے سپی دی بدے ئے بدے — لا ترے بترے په خوئ خصلت دی

لکه ګټنه دَ مال هُنر لری — هسے خوړنه د مال هُنر لری
لکه بازنه دَ مال هُنر لری — هسے ساتنه دَ مال هُنر لری

لکه پیرئ یوه سرئ — په مخ مهوشه عنبر خټئ
هارئے په غاړه د سرو ګلونو — بخت کړه له ماسره غاړه غړئ

لیلی مجنون ته وے په بیابان تښے — وے له خلقه ئے هسے ګُښے
وے نے ماخۀ پوښتے مګر تانۀ زده — تا یم له خلقو ګوښے پریښے

لکه په ونو باندِ خزان راشی — پیری هم هسے په خپل آوان راشی
خزان د ونو خوبی تاراج کا — پیری هم هسے په زیان دَ ځان راشی

له طبیبانو عالم دوا غواړی — له درویشانو خلق دُعا غواړی
خدایه د هیچا محتاج ئے مۀ کړه — هرڅوک له نور وخوشحال له تا غواړی

لوګے کۀ هرڅو دَ اور فرزند دے — کارئے و هرچا و ته څرګند دے
چه نور ئے نشته او ربه بالۀ شی؟ — څۀ شو کۀ پورته په باد بلند دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شیره شیر زیږی له ګوګه ګرګ زیږی
له بازه بازوی له چرګه چرګ زیږی
هرڅوک خپل اصل ته رجوع کا
خطاکۀ نۀ وی له بزګه بزګ زیږی

لوئی په خدائے بښائی یو ذوالجلال دے
څو ورته خواست کړے هومره حلال دے
دا نور خواستونه واړه حرام دی
کۀ لږ و ډیردے وچاته سوال دے

لعل له کانه په بدخشان کښے
لولو له بحره په لوئے عمان کښے
په څګرخون خیږی دا دواړه توکه
کۀ فکر وکړه سړے په ځان کښے

لکه کتوه په لمبو یشی
خما دننه په زړۀ هغه شی
له چابه څۀ لره مانړه په زړۀ لرم
خوږ یم دَ خپلو ترکو په غشی

لاس کۀ م هرڅو په دُنیا ښخ دے
نه چه دولت م دَ غاړے فخ دے
زۀ ئے میړۀ یم دُنیا م ځکه ده
زړۀ م په هرڅۀ وربانډِ یخ دے

لکه په تا کښے شته نشته په چا کښے
نۀ به کانونو نۀ په دریا کښے
دریغه خوشحال ختکه دریغه
چه تل به نۀ وے په دا دُنیا کښے

لړګے چه وتوږی هالۀ ترے تیر شی
په بنکر هنر وکړی هالۀ زهګیر شی
تردرس چه وُوځی علم حاصل کا
ترسرچه تیرشی سړے امیر شی

لګړ کۀ هرڅو ترباز تیز پر دے
په هره چار کښے ذ باز نفر دے
کوته کۀ هرڅو ترتازی بنۀ زغلی
بیا خو په قدر ترتازی کمتر دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوئی په خدائ بنائی یو هسې لوئې به وی
د نوړو پا نړو په شست و شوئې به وی
په ورځ د حشر چه گفتگوئې به وی
غم به د ځان نهٔ کا اُمتی جوئې به وی

لبان دِ نهٔ دی آب حیات دی
چاچه نوشلے هغه یو ښا ښکے
آبِ حیات دی صفوت صفات دی
په هغه ښا ښکی دیدن دَ ذات دی

لکه چه ډېر دی نیک بخت عاقل وے
دیرش دی کهٔ څودی دریغه ارمان دے
بویه لوئی م اوس یو په سل وے
په هو مره څو یو کښې یو دود قابل وے

مټ کړه قابل شه چه څوک قابل شی
قابل چه نهٔ وی دولت کهٔ بیا مومی
دَ بخت وستوریو ته مقابل شی
بقائے نهٔ وی حال ئے څهٔ بل شی

مټ په هُنر کړه هنر پکار دے
فخر په زر مهٔ کړه په بنهٔ پدر مهٔ کړه
مور پلار به څهٔ کړے هُنر مور پلار دے
فخر په دا کړه هُنر دِ یار دے

مزړے خپل ژغ لری گیدړ خپل ژغ لری
گدائے دَ خپلے جونگړے غم کا
هر یو دَ خپلے چارے دغدغ لری
بادشاه دَ ملک دَ حشم یرغ لری

مردان هغه دی چه همت ناک دی
کار چه آغاز کا انجام ئے فرض گڼی
دَ ننګ په کار کښې چُست و چالاک دی
په زړهٔ هم پاک وی په خولهٔ هم پاک وی

ملوک چه عدل عقل کرم لری
چه دائے نهٔ وی دَ ځان علیم دے
اندوه ئے کم وی له چا څهٔ غم لری
ځان به پخپله عالم ته کرم لری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرد څو غیرت لری هومره بهتر دے
څو جنگیالے وی څو ننگیالے وی
څو صداقت لری هومره بهتر دے
څو سخاوت لری هومره بهتر دے

میړهٔ هغه دے چه صبرناک وی
چه دائے نهٔ وی په سرئے خاورے
دوراندیشی لری په لمن پاک وی
گنده ئے عمر گنده ئے ژواک وی

میلمه په تا ؤ راغے په لاس کښے تیر دے
دا هم لا پریږده واس ته گوره
اول ئے غوښت غوښتل اوس سپینے وریژے
کوری غوړی غواړی او دیشے وریژے

موړ هم هغه گنړه چه زړهٔ ئے موړ وی
چه ډیر دولت لری چه طمع خواست کا
سترگے مړے لری کهٔ زوړ کهٔ ووړ وی
دَ گدایئ وکار ته جوړ وی

مینه په هرچا چه دَ څهٔ د پاره شی
چه حقانی وی مقصود هیڅ نهٔ لری
بقائے نهٔ وی زر کاره کاره شی
دَ هغے مینے به تل ننداره شی

معشوقه کومه چه طربناکه وی
نهٔ دروغژنه نهٔ قهرژنه وی
ناز و نیاز لری په حسن پاکه وی
نهٔ بدخوراکه نهٔ بدپوشاکه وی

مگرچه کښل کا دا کاتبان دی
څخے مشکنړے کښی څخے کنجکے
واړه خوش خط کښے سره یکسان دی
دَ چا تر دُرو حرفونه گران دی

مُلا په علم په کتاب نازیږی
غازی دَ توره په باب نازیږی
حاجی دَ حج په ثواب نازیږی
خوشحال په فضل دوهاب نازیږی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهینه تُوره خورنګ تمام وړی
خُنے ئے کیده یا یو اندام وړی
خُنے مخ واړوی نوغے ونهٔ کا
د هغو توړو ناحق څوک نام وړی

مومن هغه دے چه جوړ یقین لری
ویره له خدایه اندوه دَ دین لری
بار دَ هرچا وړی خپل بار په چا نهٔ ږدی
بنهٔ ئے کردار وی بنهٔ همنشین لری

مزری چه پیژګورے ترس دِ ترکم شی
چه درته غړنب وهی په ځان دِ غم شی
واوړے وهلی اژدر خوړل نهٔ کا
چه نمرئے تود کا هالهٔ ستم شی

مرد به غیور وی مرد به صبور وی
هم به په عفو په کرم مشهور وی
نامرد هغه دے په حقیقت کښے
چه داخو توک ئے له دله دور وی

مردی دِ هیڅ ده که په زړهٔ شیر نهٔ ئے
څهٔ خورشه کهٔ زړهٔ ور دِ یر نهٔ ئے
ترسرچه تیرشے ویره هیڅ نهٔ وی
ویره دِ هومره ده چه ترسرتیر نهٔ ئے

مونږه طوطیان یُو په بنړ راغلی
ځونه کوړو کښلی بنا غلی
خوموقسمت وی پکښے به اوسو
بیا به ترے دړو موږ ونه ډا غلی

مرګ وے هم رنځ وے هم ناتوانی وے
عمر په غم کښے په پریشانی وے
دَ بنو بنو جونو دَ دیدن دپاره
یا سل یا دوه سوه کاله ځوانی وے

میرهٔ دِ تُوره وړکړه وفا لری
ښځه دِ حُسن شرم حیا لری
نوره پوښتنے وړخنے مهٔ کړه
هرڅهٔ به بنهٔ لری هغه چه دا لری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهٔ کړه نادانه دَ نهٔ کړو کار دے      داچه پرے خیژے غلبنے دشوار دے
خِرد کمزورے زبون لیدهٔ شی      چه دِ پرے ایښے دا هومره بار دے

مزرے په خیله ماته نظر لری      له بله دَده کله حذر لری
گیدړچه ښکارکړه دَ شلانډو ملانډو      خوری ئے له ترسه نظر لوبر لری

مقبول دَ خلقو په غم کښے ړوب وی      مقبول چه نهٔ وی هرگوره خوب وی
چه نیست ئے ځان کړله عیبه خلاص شول      چه ځان ئے هست کړ هغه معیوب وی

مینه چه تیره دَ سړی ترهډه شی      دروهی دنه په ماغزهٔ کښے کړه شی
دَ هغے مینے زوال هرگز نهٔ وی      دَ هډ دپاسه په ساعت ړډه شی

مومن هغه دے چه ترس دَخدائے لری      چه ترس دَخدائے لری زړهٔ دِ په ځائے لری
مؤمن دِ غم نهٔ کا دَ گناهونو      چه گناهونه دَ شیطان په رائے لری

ملک دَ کلی چه دَچا سپک وی      دَ کلی مال به ئے بنځے هلک خوری
تل چه په کور کښے میرمن نابوده وی      پئ ئے پیشو خښتی غله ئے مرک وړی

منت دَخدائے ښهٔ دے نهٔ دَ وگړی      دَ ختکی نه دَ دَ یوهٔ زړی
کهٔ مست سنډگان دَی بار به دَ چانهٔ وړی      غوا یه تر بار لاندِ پریږده چه زغری

مونږه مزری یُو په ښکار راغلی      دَ ښکار غمونو زړونه داغلی
چه بخت ئے بد وی ښکار ئے هم بد وی      ښهٔ ښهٔ کارونه کا په بخت ښاغلی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغل پښتون سره په پېچ وتاب دی
چه پښتانهٔ کوره م خانه خراب دی
ښهٔ ښهٔ ځوانان په پښتانهٔ کښې
کهٔ لاس ئې نهٔ رسی خانه خراب دی

ملا هرګوره په ځان مغرور ئے
بحث جدل کړے په هرچا سور ئے
زهٔ دِ دننه په حال خبر یم
خما په پوهه یوتش تنبور ئے

نامرد به ګرځی دَ پلار په نام پسے
نا مرد به ګرځی په خپل صمصام پسے
دولت مخ ښت لری ښتئے په نورو دی
مخ دَ دولت دے په نیک فرجام پسے

تن بیا خپل بخت ته خما تسلیم دے
خرم به اوسم فال م دَ میم دے
چه درد وغم کښې خما غلیم دے
راالوتلے دَ نصرت نسیم دے

نصرت هورے وی هورے چه شخوند وی
دولت هورے وی چه کار پسند وی
په وخت دَ پیښے لستونړی ډیر غړی
په وخت دَ تورے کهٔ ښکاره مرووند شی

مردان هغه دی چه همت ناک دی
په هره چار کښې چست وچالاک وی
کهٔ غم پرے راشی پروا دَ غم نهٔ کا
خوارهٔ له چا په زیست وژواک وی

نظر کهٔ اوکړے اوهٔ آسمانه دی
اوهٔ آسمانه دی اوهٔ جهانه دی
اسرار ئې هیڅ موندلے نهٔ دے
خبرے ډیرے په څوڅو شانه دی

نهٔ به په بیا رته خما ځوانی راشی
نهٔ به بیا دورے شاهجهانی راشی
یو ځوئے م نشته ډیرش دی کهٔ څو دی
چه به په دهٔ کښې خما خانی راشی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفس و شیطان سره یو وجود دی
په دوه صورته سره نمود دی
دواړه مردود دی په شریعت کښے
چه دَ مردود منی هغه مردود دی

نن په نظر راغله یوه ترئ
زړه ئے سیب وه شونډے نرئ
بله به نهٔ وی هسے دلبره
نهٔ په خشکئ نهٔ په ترئ

ناکس هغه دے چه اصل بد لری
دَ نیکخواهانو نصیحت رد لری
دَ حق دارانو دحق پروا نهٔ کا
آدم لیدهٔ شی خصلت دَ دَد لری

نوکر ژوندے نهٔ وی کارئے دَمړهٔ وی
خپل زړهٔ ئے نهٔ وی دَ صاحب په زړهٔ وی
چه ورته حکم دَخپل صاحب وی
کهٔ هر څو ګران وی هم ئے په ورړهٔ وی

ناست په ګلزار کښے یار په کنار کښے
باده ګردانه مطرب په کار کښے
داحال چه زړهٔ لرم په خپل دیار کښے
بادشاه ئے نهٔ لری په هندوبار کښے

نن ډیر نیکخواه دی صبا بدخواه وی
نن ډیر ګمراه وی صبا په راه شی
زړونه په حکم دَ ک ـ کار دی
قضا ته ګوری چه څوک آګاه شی

نهٔ به خما غوندِ بل ننګیالے راشی
نهٔ به خما غوندِ بل جنګیالے راشی
ختک لا پریږده په درست افغان کښے
عجب کهٔ هسے فرهنګیالے راشی

نهٔ ئے حساب شته نهٔ ئے څهٔ شمار دے
خلق دَ طمع له لاسه خوار دے
سړی به څهٔ وائے ماهی مرغونه
په دام چه بند شی دَ طمع کار دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناکس دِ وخوري دَ سترګو کسې
لعل ګوهر پریږدي له خپله لاسه
دا نادانان دِ وړې کسې
په لاس مشکنړې کنځلې نیسي

نے چه واهۀ شي واۀ عذاب دے
غیبت ترڼنا نه تیرے یا دیږي
چه غیبتونه کړے مګر ثواب دے
نے منع شوے په کوم کتاب دے

نازچه دِ زۀ وهم چه یار خما دے
غمه هیڅ مۀ دږومه خما له ځانه
چه بد دِ بنۀ ګنړم خوراته واۀ
چه تۀ خما سره څنړن آشنا نے

نظر دَ هرچا په خپل بهبود دے
هریو په زړمه دَ خپل وجود دے
په زړۀ دَ هرچا خپل خپل مقصود دے
هرڅوک هغه دے چه خپل نے سود دے

نن م وخان ته دا نصیحت دے
اُمید چه پریکړے له غمه خلاص شے
اُمید په زړۀ کښې ګنده زحمت دے
دَ یاس په ملک کښې عجب راحت دے

نن شپه م تلے له دِله زنګ دے
تمامه شپه نے په سینه پروت وُم
دَ شاه په زلفوم وهلے چنګ دے
راپورے واړه دَ زعفرانو رنګ دے

نیاز دَ بے نیازو سره دَ کړو نۀ دے
طباخ کۀ خوږوي چه جوته شوي
دَ بے دردانو منت دَ وهو نۀ دے
کۀ مرے له لوږے هم دَ خورو نۀ دے

نومے پرے نۀ یښي فراق په کام کښې
دَ خوښۍ جام م هسے نسکور شو
سترے مرغۀ یم نښتے په دام کښې
چه څاڅکے پاتے نۀ شو په جام کښې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسته ولاړې دِ په خرخشې دی
په ښړه ړم واړه لکه مرهم لګی
ډیرې فتنې دِ په سترګو کشې دی
دَ تا ناسازې ترسازو شې دی

واړه مستان دی چه مخ ښیبا لری
باورې هیچرې په وعده نهٔ بویه
دَ خپلو تورو سترګو صهبا لری
په خولهٔ به تل تل صبا صبا لری

واده خوک مهٔ کانړئ وادهٔ بلا دے
چه دَ عیال په زنځیر بندی شول
غصے ئے ډیرے غم ئے والا دے
ترهره بنده دا بند بالا دے

وجود په مثل دَ کبینهٔ دے
خوابږهٔ چه لاړشی پاتے ئے ژاوله شی
ځوانی ئے ځهٔ ده لکه خوابږهٔ دے
قدر دَ ژاوُلے بے خوبږوځهٔ دے

وائے دَ خونے شاهتیر دِ ول لری
ښهٔ هم پوهیږم دَ زلزلے ده
کوږ دے تنکے دے لنړ دے خلل لری
تکیه دا خونه دَ عز و جل لری

وخت به ژمی وی کهٔ وخت دَ اوړی
ما به په تورو خاورو کینے واچوی
چه به را واغوندی دَ مړک خرخوړی
پکښے به پریوږم ښهٔ بوری بوړی

ونیا له باغه شی له راغه ځهٔ وائے
ښائیحهٔ زیب نهٔ کا په ړندو سترګو
صفت دَ ګل شی اغزی ځوک ځهٔ ستائی
کهٔ نازکهٔ نازیه بدرنګو نهٔ ښائی

وادهٔ څوک مهٔ کانړی ودونه غم دی
سخ دَ هغو دے چه لونډان دی
دَ دے غمونه له عمره سم دی
په غم نیولی دَ یوهٔ دم دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



والۀ په زړۀ دِغمونه ځومره دی
هرچه مئین شی ځما په پوهه
ځودِ ناسازے راسره هومره دی
دَ قهرولۍ مزړی ړومرد دی

وادۀ دِ هرهر پسرلے هرکال وی
دا دوا ړه توکه دَ دولتمندو دی
بنځه دِ ځوانه آس دِنیم زال وی
ځنے دِ تښتی ځوک چه کنګال وی

وفا به هیچرے له کمذاته نۀ موے
تپوس به باز نۀ شی زاغ بطوطی نشی
کۀ همه عمر په زړۀ دَدۀ دروے
په تربیت ئے کۀ بوعلی موے

وخت دَ ښه وړوالی دے دَځوانئ نۀ دَے
جوړ وجفا وړه وړته نفراوسه
کۀ دِ دَ ځوانے په یارئ زړۀ دے
دا کار په عشق کښے ورسره بنۀ دے

ورته حیران شم کۀ دانایئ دی
هرڅوک خپل اصل سره وصلت لری
دَ جنسه جنسه چه آشنایئ دی
له بله اصله ئے جدایئ دی

والۀ صوفی شه صوفے دِ تۀ شے
کۀ یارساقی دے عمرباقی دے
دروِمه نا اهل شپږ سوشپیتۀ شے
لا به دَ میو ښیښے کړم تشے

واړه غلط دی چه څوک خپل ځانٔ ستائی
کۀ هرڅولوے شی سړے بیاخاورے دے
کبرلوئی کا پریشان پریشان وائی
خَوشحاله کبرلوئی په خدائے بنائی

وُنه به وِلے تازه ولاړه دی
اوبۀ باد خاورے وړلره بویه
چه ویخ ئے نۀ دی خوبئے لاړه دی
ویخ ئے قایم شی چه داخۀ واړه دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرڅوک په خپله وعده قضا وژني
ځوځو مړکونه راباندِ راغلهٔ

ومړی فنا شی نهٔ ئے بیا بیا وژنی
دَ یار بیلتون م ترمړګ یخوا وژنی

هغه چه کاندی عزم کشئ
خاورے شه خاورے چه کل له تاکیږی

هغه به مومی ډیرے خوشئ
اوربه دربل شی په آشتئ

هغه چه عهد قول پیمان لری
څوک چه دَدین وایمان سامان لری

پرے سلام دے دین وایمان لری
ارمان ئے کوم دے چه به ارمان لری

هغه چه کبرخود پرستی لری
کامل به هیچرے بل رلئے دَ زرهٔ نهٔ کا

خدائے دے چه هومره بالا پستی لری
اشیاء دَ خدائے په هستئ هستی لری

هغه محبوبے داسے فائقے دی
خهٔ شوکهٔ مچ په شکرو وګرځی

چه په پاکئ په عفت شائقے دی
شکرے کله دَ مچ لائقے دی

هغه چه خدائے بولی په هرهرځائے دی
چه سرے بوټئ خوری هغه ګرګس دی

ځئے ګرګس دی ځنے همائے دی
چه وچ هډونه خوری هغه همائے دی

همت چه لوئے لری کشال ئے کم وی
چه دون همت وی خسیس ممسک وی

بنا دوی آزاد وی شاهِ عالم وی
کهٔ مال ئے ډیر وی نصیب ئے غم وی

هغه چه مخ لری خوږے وریشے واخلی
هغه چه نهٔ کړی په وبزیو ګرځی

په ویش چه سرشی بخرے شےشے واخلی
هغه چه وکړی هغه ریشے واخلی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندکي چه هیڅ دي په بها دروی
یوئ وفا نشته بل نۀ حیا نشته
خواری له خپله شامته مومي
بل ئې خواهش څۀ نۀ دَ خواست ترکومي

هغه چه تُورے دَ بری په وخت وهي
سپاهیان دَ طمعے دَ خپل مقصود دی
هغه ئې واهه دَ بل په بخت وهي
دَ تنګسے تُورے خښتن دَ تخت وهي

هغه چه مخ کا په خود کامئ
رندیم اوباش یم عاشق قلاش یم
یرے به وسدرومی بے آرامئ
اندوه م نشته دَ بدنامئ

هُنرچه نۀ لری کۀ م پسر دے
چه بیګانه وی چه یګانه وی
چه څوک ئې یادکا دردِ م دَ سر دے
یا م لیمۀ دے یا م ځګر دے

هغه مزه دے هغه ګفتار دے
چه ئې له ملتے ګید پرهم وازدے خوری
چه بل غم نۀ لری غم ئې دَغار دے
کۀ بنۀ دے بنۀ خو دَ مزریوبنکار دے

هوښیار به هرکله زمانه ساز وی
نادان به هیچرے په داخبرنۀ وی
په دانایئ به ئې دَ کار آغاز وی
په هرهرکار به ئې بے ځایه راز وی

هوښیار به هرچیرے په زړۀ درن وی
نادان به تُوسو وته هوس کا
په جنګ چه ورشی نور به تورزن وی
چه تُورے وبریښی نور به ریخن وی

هاتی ته ګوره حال ئې معلوم دے
کۀ یوئ نۀ وی په دا پنځه کښې
خلورئې پښے دی یوئ خرطوم دے
کۀ هست ومست کۀ نیست کۀ معدوم دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې بل هم کړې لکه چه ته ئې
که ته مومن ئې هرڅوک مومن کړې

هرڅوک به ښهٔ کړې په خپل که ښهٔ ئې
هرڅوک کافر کړې که کافر ته ئې

هرچه دَ توروزلفو میرمنې دی
دَ سپینو ږیرو بلا په دوئ شه

په تورو ږیرو باندې مئینې دی
ولې له واړه په زړهٔ غمژنې دی

هغه چه شرم دَ خاصو دَ عامو دی
دَ مړو په رنګ شه په مزکه ړنګ شه

که څوپه رونړه دَ نیک فرجامو دی
چه بد نام کړونی دَ خو نیکنامو دی

هوښیار غلیم به په خولهٔ جنګ غواړی
عمرخویودې چه په غم دروی

ډیر به ترجنګه په آشتی ویاړی
دا هسې عمر دِ وبا ونغاړی

هوښیار به هرکله فهم په دم لری
دم غنیمت کړه په هیڅ مغرورمهٔ شه

نظر به عین په خپل قدم لری
که دلګیر کښینې آسمان څهٔ غم لری

هغه چه مونږ نهٔ کاکهٔ دِ خپل پلار دے
پریږده چه ومری زړهٔ سوے پرے نهٔ بویه

ادبهٔ هیڅ مهٔ کړه په دین کښې خوار دے
که په فاقه کښې لیل ونهار دے

هوښیار به نهٔ وی چه احمق ته پندوائی
خوابږهٔ دَ خرو نهٔ دی دَ آدم دی

خوږې خبرې خرو نه نهٔ ښائی
څهٔ ئې خوراک زده څهٔ ئې مزه ستائی

هندو چه بُت وته هسې نسکور دے
ها دواړه توکه رسم وعادت دے

مومن مخ اینې دَ کعبې په لور دے
اُودهٔ عالمه مطلب څهٔ نور دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار به چست و چالاک بيدار وي
ډير به عمل لري لږ به ئې خبرې
په هره چار به زر خبردار وي
په هر زمان به ئې نظر په کار وي

هوښيار به هيڅرې له ځانه خوش نۀ وي
چه ديرينه وي چه تجربې لري
په خپل دانش به فضول سرکش نۀ وي
په کاروبار به دَ هغوې اش نۀ وي

هُنر په دوئ ورځې ښکاره دَ کس شي
يوشان مرغي نۀ شي دَ سړي له ځائے
عيب ئې رو رو ښکاره پس پس شي
ورځنې باز او کارګان کرګس شي

هغه چه قوم قرار متين لري
چه وائې نۀ وي نور خۀ ئې مۀ کوره
دولت دَ دين دَ دُنيا قرين لري
کۀ ښې ښې چارې دَ دُنيا دَ دين لري

هاتي چه ومري بوئ ئې پيدا شي
پوزه نيولے څنې تيريږي
په لارې تلونى چه څوک پرې راشي
خلاصے ئې نۀ وي يوه بلا شي

هُنر جوهر ساده په دَ لوييځ ستورې
هسې به اوسے کۀ عقل هوش لرې
کۀ دا دِ نشته تۀ ئې کمزورې
چه دَ خندا نۀ شې کاسه نسکورې

هوښيار به نۀ وي چه نادان ته پند وائي
په هر هر توکي کشيدۀ نۀ کيږي
خرۀ ته حنبره دَ قند دَ خوند وائي
ولے به هر چا ته پند خردمند وائي

هوښيار هيڅرې محتاج دَ پند وي
نادان به هيڅرې دَ پند پروا نۀ کا
پند به په دۀ باندِ بهتر ترقند وي
پند به په دۀ باندِ دَ حنظل خوند وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هُنرچه نهٔ لری کهٔ دِ پسر دے
سړے ئے مهٔ بوله یوکاؤ خر دے
کهٔ هرڅو زورلوړے کهٔ هرڅو زر لرے
تر دا همه واړه بهتر هُنر دے

هغه اُستاد کنږه چه درته څهٔ ښئی
کشرهم مشروی چه درته ښهٔ ښئی
په سپینه ږیره به ئے منت لرم
کهٔ ووهے راشی راته څهٔ وښئی

هوښیار به هیچرے بے پنده نهٔ وی
کاراؤگفتار به ئے بے خونده نهٔ وی
چه عقل نهٔ لری بدنفس بے شرم دے
فکرئے هیچرے بے شخونده نهٔ وی

همیش به هیڅوک په دُنیا نهٔ وی
په وار وار به ورځے تلهٔ وی
مرغونه راشی په باغ کښے کښینی
بیائے دَ باغه نه اَلوتهٔ وی

هر یو تربله بهترځان خپل گنړی
نشته چه ځان به کهتر تربل گنړی
په خپل خپل عقل هرڅوک غره وی
په هره چاره کښے خپل ځان عاقل گنړی

یو تور بوړا دے بل تور جعل دے
قسمت دَ دواړو سره بیل بیل دے
بوړا په بوئ دَ گلونو پائی
تل وگندگئ ته جعل اړل دے

یار دَخوشحال دے خوشحال دَیار دے
کهٔ وفادار دے کهٔ جفا کار دے
دَعاشقانو چه څهٔ اسرار دی
دَ رقیبانو باندِ څهٔ کار دے

یار کهٔ څهٔ یاروی له ځوانه زوړ به دے
تل به دِ نیازوړی ونیاز ته جوړ به دے
بل فکر نشته دَ سوات په ملک کښے
کهٔ زوړ کهٔ ځوان وی تروږی موړ به دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څهٔ خارښ دے چه هویدا شی — په خوخو رنګه سره شیدا شی
عیب تر شا کا په لیونتوب کښے — د دوؤ په مینځ کښے دریم پیدا شی

یا بنهٔ خوانان دی یا بنهٔ آسان دی — چه ورته ګران شی مشکل آسان دی
د چا چه نهٔ وی دا دواړه توکه — عیب ئے مهٔ کړه کهٔ هر آسان دی

یو چه مئین شی د بل پرے رخه وی — چه سره بیل شی با ندِ ئے سخه وی
ګل کهٔ بنهٔ نهٔ وے بلبل به څهٔ کا وهٔ — مینه په هر څهٔ د څهٔ د مخه وی

یو مست د میو څو پیمانے لری — بل د جانفلو یو څو دانے لری
خبر په حال د مستانو نهٔ دے — د خپلے چارے سل افسانے لری

یار به د یار په یارئ ویاړی — په هره چار به ئے بنیګړه غواړی
کهٔ یار ئے خاندی دے به هم خاندی — کهٔ یار ئے ژاړی دے به هم ژاړی

یو لوئے تر غرونو فکر راپیښ دے — نهٔ پلار نهٔ خویه نهٔ د چا خویښ دے
نه ګناه هونه په استغفار بخښی — دا خدائے هوښیار دے نه چه پوهیښ دے

یار ئے په مهر په محبت شی — پکښے له پسه هُنر حکمت شی
چه نهٔ ئے داوی نهٔ ئے هغه وی — آخر په دواړه لوریه زحمت شی

یاغی باز ونه یو یو بازدار نیسی — څهٔ چرګے نهٔ دی چه ئے هر خوار نیسی
د هرے چارے اسباب پیدا کړه — افسون دِ زده کا هغه چه مار نیسی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دے چه هر کله حلوا شیرینه خوری
په مرګ به دواړه سره یو رنګ مری

بل دے چه تل تل اوګره جوینه خوری
دَ ګور چینجی به ئے غوښے په مینه خوری

یارم دَ شیږو ترمینځ اودم دے
چه را ښکاره شی په مار نړا شی

چه څوک ئے نهٔ ستائی په حُسن کرم دے
چه مخ ئے نهٔ وینم په ما تورتم دے

واړه مستان دی په مخ زیبا لری
باور ئے هیچرے په وعده نهٔ بویه

دَ خپلو تورو سترګو صهبا لری
په خولهٔ به تل تل صباصبا لری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم ټوک

POHA

# غزلې

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۸۶

صورتګر چه بنۀ صورت په دیوال ساز کا
کل عالم ئې په صفت زبان دراز کا

دَ هغهٔ نقاش په صنع نظر نۀ کا
چه له څۀ ښاځکی نه دا نقش وطراز کا

ستړګې وروځې پوزه نورکیږدی په مخ کښې
غابښ دَ شونډې ژبه خولهٔ سره پرداز کا

یو سربل سر په سر جوړکا دوه غوږونه
چه په دوانړو اوریدنه دَ آواز کا

بند په بند دَ لاسو ګوتې وبله کښېږدی
سر تر پایه درست صورت سره یوراز کا

کهٔ څوک زړکتا به وکښی له دې با به
کهٔ په کښل شی زړه به نور پسې آغاز کا

هر و یښتهٔ چه په صورت باندِ لیدهٔ شی
کهٔ پرې څیر شې دَ شناخت ور به دَروا ز کا

خاص بنده دَ خدائې هغه ګڼړه خوشحاله
چه دَ ځان په معرفت ئې سرفراز کا

اورنګ زیب چه آرائش دَ تخت و تاج کا
تخت وتاج به ئې مرګې تخت وتاراج کا

په جهان کښې به ئې پاتې بنهٔ بدنوم شی
دهٔ زده چارې دَ کسرې کهٔ دَ حجاج کا

زهٔ غمژن په عید په جشن خبر نهٔ شوم
کهٔ درست خلق دَ دهلئ ابتهاج کا

اوبهٔ ستړګولره لاهې اور دَ زړهٔ شو
څوک به څهٔ رنګه ژوندون په دا مزاج کا

چه په رګ رګ ګوتې کیږدی رنګ ئې زیړ شی
طبیبان به م په خوَد رنځ علاج کا

جدائی خما په زړهٔ کا هسې چارې
لکه بازئې په تارو یا په دراج کا

دوه منین چه په هوا د وبله بیل شی
خدائې ئې څهٔ شکل دَ تش سلام محتاج کا

خما اوښکې دَ ګوګل په جوش پیدا دی
لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا

هرناوک چه دَ قضا له شسته خیژی
زمانه دَ خوشحال زړهٔ ورته اماج کا

بازیګر چه دَ بازیو صندوق وا کا
په یوهٔ زمان کښې څو بازئې برپا کا

ننداره چی چه ورته ګوری حیرانیږی
بازیګر چه په بازیو کښې بلا کا

عارفان دَ سر په سترګو ګورې کښېږدی
دَ خپل زړهٔ په سترګو ګوری تماشا کا

دا عالم لکه طفلان ورته ښکاریږی
دَ طفلانو په بازئې پورې خندا کا

همیشه خوشی دَ چا ده دَ هغهٔ ده
چه په زړهٔ کښې دَ دُنیا چارې فنا کا

POHA
پوهنه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هغهٔ په وفا څهٔ خوښی خَوشحاله
چه وفا درسره کا بیا رجفا کا

بیا رباب دَ مغنی ښهٔ سرایت کا
په نغمه کښې نوے نوے حکایت کا
شیخ دِ کنج دَ صومعۀ زهٔ به ګلګشت کړم
دَ بهار ګلونه ما ته هدایت کا
ګدایانو لره غم دَ ګیډے ډیر دے
بادشاهان دِ غم دَ ملک او ولایت کا
دَ وفا مهر وکرم به ئے لاځهٔ وی
په وفا کښې چه دا هومره عنایت کا
په ما نړی ئے هم خوشحال شم هم دلګیر شم
لکه څوک چه له چا شکر و شکایت کا
دا دَما دَ بخت اثر نهٔ دے نور څهٔ دے
له رقیبه چه شکوه په دا غایت کا
په دا ښهر کښې څرګند شراب خرڅیږی
محتسب دَ باده نوشو رعایت کا
کهٔ دَ ښکلیو دَ دیدن مینه ګناه ده
سکه خَوشحال خټک درست عمر جنایت کا

په هرځائے چه طمع خپل هُنر څرګند کا
ډیر هوښیار ماهی مرغونه طمع بند کا
بادشاهی دَ بحر و بر ده کهٔ باور کړے
قناعت دِ کهٔ په خشک و تر خورسند کا
په هغهٔ څُما سلام خرم دِ اوسی
چه دَ چا سره نهٔ مهر نهٔ پیوند کا
خلق واړه دَ اندوه په دریاب ډوب دی
ګله ګله له دریابه سربلند کا
دَ درویش برخه خوښی غم دَ هغو دے
چه په شمار دَ زر و ناسته ګچون و چند کا
هوښیارانو سره ډیرے اندیښنې دی
چه ملنګ دَ مصلے هغه آنند کا
و نور چا وته به څهٔ وته څهٔ وائی
و خپل ځان وته خَوشحال خټک داپند کا

په عاشق باندِ غوغا غماز پدول کا
چه ګلونه پریکوی اغزی قبول کا
ارسطو تر افلاطون ښهٔ وو سکندر ته
په جهان کښې هر څوک مینه په خپل کول کا
څوم زړهٔ په بے غمئ پسے درومی
هومره نور تازه غمونه را وصول کا
دا تازه تازه مضمون چه په بیاض کښم
خبر نهٔ یم چه له کومه را نزول کا
آشنائی لکه ښهٔ تول چه ورته اش کړے
جدائی لکه ښلئ وړانے دَ تول کا
یو ښکاره دَ قیامت علامت دا دے
په فاعل باندِ چه اس تیرے مفعول کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریغه یو هسے پیدا شی چه په عشق کښے — دا دِ ما لیونے زړهٔ خوځهٔ معقول کا
زړهٔ دَ عشق په گنج توانگریم کهٔ نور خلق — تولول دَ زرو مال متاع و پول کا
څما دوے سترگے ولاړے ته خلور شوے — کهٔ ښکاره دَ یار له لوریه خدائے رسول کا

گندِ وی چه دَ وصال په خوښئ خوښ وی
چه خوشحال په جدائئ کښے ئے ډیرنول کا

په اختر په جُمعه څهٔ غرض څما — زړهٔ مجنون یم سر نیولے په صحرا
هغه وخت دَ ما اختر دما جُمعه ده — چه دیدار را ته ښکاره کا دَ لیلا
عاشقان دَ عشق له کاره انکار نهٔ کا — فاسقان به په خپل زړهٔ کښے لری غلا
دَ یارئ لائق نهٔ دے رنگ ئے ورک شه — چه ئے نهٔ وی په یارئ کښے وفا
دَ ربښتینے یارئ لاف ډیر عالم کا — ولے ما پکښے ونهٔ لیدل ربښتیا
هغے توبه دَ عشق دَ پتو سر ولمبو نه — نهٔ وابسهٔ نهٔ ئے لرگی لکی په تا
په یرغ په مصلحت دَ عشق کار نهٔ دے — په لیدل په آوریدل شی را پیدا
نهٔ په پند لوبږی له هر کا نری بحری — دے سوخته بکر لری سودا

دا رنگینے معنی چیرے دی خوشحاله
چه را دروِمی لکه گل په بیاض ستا

تا وے چه غم مکړه نور زهٔ ستایم ته څما
زړهٔ خوږ دِ ژوندے کړم کهٔ دروغ کړے کهٔ ربښتیا

څهٔ بلا زیبائے بے نظیره محبوبائے
کهٔ دا عیب دِ نهٔ وے په زړهٔ سخته ئے بلا

کهٔ کل جهان خوبان شی هم واړه محبوبان شی
عجب کهٔ لا پیدا شی یوه تا غوندِ زیبا

په هو مره ډیر مقوله ته لا هم نهٔ ئے ملوله
کهٔ سل خونونه وکا دَ جلاد تروخهٔ پروا

چه گل غوا یم له تا نه ستاله باغه له بوستانه
کهٔ خس را عنایت کړے هم په گل نیولے ما

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږۀ بنده زنده یم دَ هغو زلفو بنده یم
چه تل ئے سل سل زړۀ نه په هر تار دی مبتلا

کۀ لوټې دی کۀ هلک دی دواړه ستا په نغړ ورکړی دی
په ښهر کښې څوک نشته چه منین نۀ دی په تا

دَ سبر وُنه ګوره په زمان شی نامنظوره
چه وخوزې په باغ کښې تۀ په دا قد و بالا

نسیا جنت صبا دے دَ زاهد دے دَ مُلا دے
په لاس جنت موندلے نن خوشحال دے ستا لقا

تل کۀ داوی دَ خوبئ طمطراق ستا — نور دِ لاس له ځانه پریوځی عشاق ستا
نن په دا دور هغه ښائسته تۀ ئې — چه په هر لوری ثنا وائی آفاق ستا
دواړه شونډې دِ تریاق زلفې ښامار دی — جار وتلی دا ماران دی تر تریاق ستا
لړ شکیب ورته په مثل دَ لوټې غرۀ دے — په شکیب کښې به په خوږائی مشتاق ستا
دَ بارېو دِ موندلے یم غولوه م — دَ ملک غوندِ ربنتیا ګنړم مذاق ستا
تۀ خپل ځان لره مهمیز کړه ځۀ پروا کړې — کۀ قدم دَ چا په سر کیږدی براق ستا
خلق وائی چه دوزخ شته پس له مرګه — په حیات صورت دوزخ نۀ دے دَ فراق ستا
لکه تل وُو همیشه په هغه شان دی — هیڅ ملا مرشد بدل نۀ کړل اخلاق ستا

لکه باد دَ صبا پاشی نړ ګذر کا
ما خوشحال چه آزمائیلے دے میثاق ستا

تلم په خپله لاره راسره مله شوه نګارا
شوخه غمزه کړه خنده رویه خود آرا

رنګ ئے دَ سرې ووا ما خوئ دَ ښا پیریو
تن ئے لکه سیم وُو په زړۀ سخته سنګ خارا

راغلم په ښهر لاس په لاس شوۀ له ما وُرکه
کوځې په کوځې جا روُوزم پسے غواړم بخارا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیرې لرې نخښې دَ صورت دَ ښیایئ
خهٔ خو درته وایم یوخو نخښې آشکاره

دنکه تازه کنکه قد عرعره مو کمره
بنهٔ ئې تر ګلونو دَ ګلابو عذارا

غابښ ئې دُرګوهر په لب شکرآ بروکمانه
تورې بانړهٔ ناوک په دواړو سترګوخونخوارا

پوزه ئې غنچه وه دَ زنبق مسیب سینه زنه ئې
منبک دَ مخ خالونه په مخ کښلې مه پارا

هار دَ جواهرو دوه لړئ دَ مرغلرو
تور وربل اودلې زلفې ئې عنبرسارا

واړه ئې دَ تن جامې ګلګونې زرنګارې
درسته سره لمبه وه چالید له خدارا

بیا هسې مدد کړه چه خوشحال سره دِ تل کړ
بخته دَ دې وړکې سراغ نخښه وما را

ځانئ سرتر پاسه جوړکړ بیا بلا کا
دَ زلفینو په هرؤله دَ زړو نوغلا کا

معشوقې ته چه ئې هومره حُسن ورکړ
دا په داچه دَ عاشق خونه تالا کا

په هرځائې چه خو محبوبې سره کښینی
هغه ځائې م ترجنت ښائسته لا کا

دوه مئین کهٔ سره هرڅو مرور وی
خپله مینه ئې بیا ښد سره پخلا کا

توربانړهٔ ئې تورتوبری دی راخرخیږی
کهٔ دا پورته محبوبا سترګې شهلا کا

خودَ شاه په کښلی مخ باندِ خالونه
ما به هم په هومره داغه مبتلا کا

همکی ئې ستاله مخه ګفتګوئې شی
چه دردمند وبله ټول شی مشغولا کا

په خیرخیرئې مخ ته مهٔ ګوره خوشحاله
په خاطر به دِ دَ اور لمبې والا کا

خهٔ عجب دلخواه دی دا صحبا
کهٔ ساقی ئې راکوی په مرحبا

دَ غنچې خندا محاله په چمن ده
کهٔ نسیم پرې ګذر نهٔ کړی هر صبا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصلحت ئے دَ بلبل په کار کښې دا وو — چه صبا کړه دَ غنچې قميص قبا
دَ بلبلې قدر هم زده کړه اے ګله — کۀ هر څوک ئے په دا خپل حُسن زيبا
چه علاج ئے وا بسته په خپل مطلوب دے — دَ عاشق له نخه څۀ زده اطبّا

بے دَ يار دَ زيبا مخه ګمان مۀ کړه
چه خوشحال به په بل مخ شي شکيبا

چه يار مهر و وفا نۀ کاندِ څوک څۀ کا — چه ئے جور و جفا نۀ کاندِ څوک څۀ کا
دَ جهود به هم زړۀ سوے را باندِ وُشي — چه يار رحم په ما نۀ کاندِ څوک څۀ کا
ما وے زړۀ ئے ګُندِ نرم په ژړا کړم — چه اثر پرے ژړا نۀ کاندِ څوک څۀ کا
کۀ وصال ئے په دُنيا له عمره خوږ وي — چه تل عمر وفا نۀ کاندِ څوک څۀ کا

حال دِ هيڅ له ياره پټ نۀ دے خوشحاله
عنايت چه په تا نۀ کاندِ څوک څۀ کا

چه په ما باندِ ئے زړۀ سيزي تپاک کا — الحذر چيرے به ځان دَ اور خوراک کا
ما پخپله ملامت وته ځان ساز کړ — عام عالم دِ په ما سل خله بلغاک کا
کۀ دَ خضر په چشمه باندِ م کور شي — دَ فراق اندوه به هورته ما هلاک کا
چه بقا ئے په چمن کښې يوه ورځ وي — لاله ځکه دَ قميص ګريبان چاک کا
دَ آسمان له عاشقانو سره قصد دے — هر زمان ئے په هجران سره غمناک کا
ترے به سل رنګه ګلونه شګفته شي — هر سړے چه خاکساري وا خلي ځان خاک کا

زۀ خوشحال په هغه چا پورے حيران يم
چه له ياره نه جُدا شي په خوږ واک کا

چه دَ پلار سره دروغ نفاق خلاف کا — دَ نور چا سره به څۀ رنګه زړۀ صاف کا
ګوره بيا ئے کوم دروغ نفاق په زړۀ دي — منافق په خپل ګناه چه اعتراف کا
نۀ به زۀ دَ ناخلف ګناه معاف کړم — نۀ به خدائے دَ عزازيل ګناه معاف کا
دا وارۀ غرونه لا هيڅ نۀ دي راضي يم — کۀ په ميان کښې موخدائے غر دکوهِ قاف کا
حال دَ خپل ځوئ خپل پلار وته معلوم دے — څوک به څۀ لره دَ عاق راته اوصاف کا
نۀ به دۀ غوندِ دروغ دروغژن واټي — نۀ به دۀ غوندِ سړے مکر و ګزاف کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم هزار رنګه دروغ خلاف په زړهٔ کښې — هم هزار رنګه په خولهٔ دَ صدق لاف کا
په ژوندون ئې دیدن مهٔ وینم هاله هم — پس له مرګه کهٔ دَ ماد ګور طواف کا
چه مِ هسې تربیت دَ ناخلف کړ — دا په دا چه دے له ماسره مصاف کا

په ژوندون به ئې ارمان ووځی له دِله
زمانه کهٔ دَ خوشحال سره انصاف کا

چه دُنیا ورته ښکاره شوه بے وفا — وِدُنیا ته به مخ نهٔ کا بے قفا
دَ غرض یارئ هیڅ یارئ نهٔ دی — کهٔ یاران دی خوا خوان دی دَ صفا
کهٔ کا تهٔ دی کهٔ لیدهٔ کهٔ آوریدهٔ دی — دا دَ ښو یارانو وارهٔ دی شفا
چه په چا بانِد مئین شوے قبلوه ئے — سل نا ز و نه سل ناسازے سل جفا
کهٔ په وصل کښې ئے هر ساعت یو کال شی — لا په دا دَ عاشق نهٔ وی اکتفا
له ما خوار سره څو قاف وهے ورَے کړے — جګی جګی څهٔ خولاَم و تَطے و قا

دلبے درد عالم پرے هیڅوک خبر نهٔ شو
وخوشحال ته ئے خولهٔ ورکړه په اِخفا

څوک چه مخ کا په مذهب دَ خپل مولا — دَ هغو په خدمت ودری دُنیا
څوک چه مخ په نمر روان شی خود ګوری — چه سایه ورپسے درومی په قفا
درویشان کهٔ اشارت وکا وغرهٔ ته — دَ غرهٔ کانړی به هم شی لکه طلا
چه کیمیا کیمیا یا دیرِی په جهان کښې — کیمیا څهٔ ده ښهٔ نظر دَ اولیا
کهٔ دَ تخت د پاسه ناست وی صاحبی کا — دَ درویش په زړهٔ کښې هیڅ نهٔ وی هوا
خبرے زنګ ورځنے نن نهٔ وی چا وُللی — دَ درویش جامه له ځا یه ده صفا
مړهٔ اودهٔ وته ژوندی وی ژوندی مړهٔ وی — دَ درویش هومره قوت دے دَ دُعا

مګر چیرے دَ دشمن په مهر یاد شی
چه خوشحال ئے کړ دا هسے بے نوا

چه خپل خوئ شی په جهان بدخواه دَ چا — دَ خپل خوئ ئے نه چه دے تباه دَ چا
من فلیل په یوهٔ مخ سره بدبوئ شی — بد دِ نهٔ شی یو زمان همراه دَ چا
کانړی لعل دَ بدخشان ګیاه کیمیا ده — چه ئے نهٔ پیژنے تهٔ ګناه دَ چا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه بادشاه ئې ستمګر شي خلق خوار شي
زړه که ئې سل ځله وفا کړم یار جفا کا
دَ جمشید او دَ سکندر فلک پړې نهٔ بنوے
چه کرم نهٔ وی له خدایه فتح نشته

خدائې دِ نهٔ کا ستمګر بادشاه دَ چا
بخت دِ نهٔ شي په دُنیا سیاه دَ چا
پرې به نهٔ ږدی همیشه کلاه دَ چا
کهٔ افزون شي ترملخ سپاه دَ چا

دا دُنیا لکه لولئ ده خوشحاله
کهٔ ئې ګورې کاه دَ چا شي کاه دَ چا

خار تر هغه مخ شم چه به ما په ځان مئین کا
سحر دے کهٔ دم دے کهٔ څهٔ نورې فتنې فن کا

زړهٔ بویه چه خوئې ئې دَ بورا یا دَ بلبل وی
درومی ګرځی غواړی خو په ګل باندِ وطن کا

وُسیزی په اور کښې پتنګ هرچه پتنګ نهٔ وی
وُتښتی له اوره ځان پخپله درو غزن کا

ډیر په باغ کښې ګډ شي خوک خالی وُوځی له باغه
څوک ئې میوه وخوری په ګلونو ډک دامن کا

مائې چه مزه دَ خوبږو شونډو ده موندلے
ناست وُم کهٔ ولاړ وُم زړهٔ م هر کله من من کا

خیال ئې دَ زلفینو لکه غل دَ خپلې خونې
هر کالے لیدلے فراغت ئې دَ زدیدن دے

سترګو ته ئې وګوره څهٔ څنړے تورې زلفې
څَر په سنبل زار کښې دوه هوسیه دَ ختن کا

هرچرته چه ګرځی لکه سرو سمه درومی
هرچرته چه کښینی هغه ځائې لکه ګلشن کا

نن ئې آزا ریږی په قمیص دَ سری صافو
ګل دَ چینې بویه چه خوشحال ئې اغوستن کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه م ولیدے دا تورے سترګے ستا
زهٔ به نهٔ ګرم هیرے نورے سترګے ستا

یا دَ باز یا دَ طاؤس یا دَ شاهین دی
یا دَ تورهوسی کهٔ ګورے سترګے ستا

لکه وژغوړی کیلے په مرغزار کښے
دَ خوارهٔ وربل ترسیورے سترګے ستا

لکه پټ سوارهٔ دَجنګ نیزے په غاړه
دا اوږدهٔ بانړهٔ پرے پورے سترګے ستا

چه دِهسے وهر درو ته ولاړ کړ
دَ عاشق دی او ریه کوړے سترګے ستا

لکه خوک په میو مست شی هسے مست شم
نړهٔ چه وو ینم میخوړے سترګے ستا

کهٔ شیخان کهٔ زاهدان کهٔ عابدان دی
دَ هر چا دَ نړه پړ و نو چورے سترګے ستا

چه دِ غوښت مغه دِ یدن کړے ورته ګوره
کهٔ خوشحاله نهٔ دی کورے سترګے ستا

حقیقت را ته معلوم شو دَ هر چا
باورنشته په آشنا په نا آشنا

چه په سر دِ سوګند خوری ور ځنے ډار کړه
یوه ورځ به ستا دَ سر وُکا سودا

دَ هر چا نه چه دِ طمع دَ وفا وی
هم هغه درته ښکاره شی بے وفا

یا خو ؤو دا جهان واړه بے وفا وو
یا د ما په دورے ډیره شوه جفا

آدمیت له آدمیانو نه خدائے واخست
تر دوه پایو نه بهتر وینم چار پا

کهٔ هندو کهٔ مُسلمان کهٔ بل فریق دے
په هیچا کښے به بیا نهٔ مومے رښتیا

نهٔ دَ دین دَ چارے شناخت مهر دَ وفا شته
نهٔ په شرم ننګ خوک اړ دی دَ دُنیا

دَ تقلید رسم عادت یاری خپلوی کا
دَ هر چا نظر په خپله مُدعا

همګی واړه یاران دَ خپل مطلب دی
بیهوده ناز و منت کا ندی په تا

مخا مخ دِ په ثنا په صفت سر شی
سل بلا دربا ندِ وائی پشی شا

دد او دام تر دے سړیو نه بهتر دی
اے خوشحاله نړهٔ له ښهره په صحرا

خدائے دِ مخ دَ هیخ غافل را ښکاره نهٔ کا
دَ غافل سره دِ ما آواره نهٔ کا

په هر لوری نوبهار دے غوړید لے
سترګے وخوړه چه به دا ننداره نهٔ کا

هغه څوک چه دَ الف په توری پوهٔ شو
نور به خولهٔ دَ نورو توریو شماره نهٔ کا

هغه څوک دے چه په حال څما خبر شی
چه ګریوان به تر لمنے پاره نهٔ کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پہ یوهٔ نظر ئے هر څهٔ له ما یوړهٔ — چه هیڅ نشته نور نظر دوباره نهٔ کا
د چارړ پایو په حساب د سړی نهٔ دی — چه په ساز د سوختګانو نظاره نهٔ کا
طبیبان د رنځ وهرلوری ته ډیر دی — ړنځوران وله د وخته چاره نهٔ کا
د تقوی غلیمی دف کښیږدہ د لاسه — په دهلی بنار کښے خوک نقاره نهٔ کا

واړه ستا دا توړے سترګے خوشحال وژنی
دا قتلونه څهٔ طالع ستاره نهٔ کا

خدائے چه تا رپه تا ریاران بیا سره تول کا — توړے خاورے به په سر د رتنبول کا
د جهان غمونه یو سر ځما بل سر — کهٔ سړے ئے د باور په تله تول کا
نهٔ م یار نهٔ م غمخوار شته په داغم کښے — لکه بے او بو خوک بند په ګرم چول کا
کهٔ په پوهه کښے دانا د زمانے وی — د زړهٔ غم ئے ترهلکو کچو کول کا
چه ئے ډول واههٔ ځما په دلګیرئ — اوس د تر په نخاهم په دغه ډول کا
چه مستان د یوهٔ جام دی غم ئے نشته — کهٔ ئے هر خو زمانه په لاس کچکول کا
د پسالهٔ صفت ئے شی د رنګ ئے نهٔ شی — خوک چه پورے په بد رنګه ناوے پسول کا
کهٔ د او سپنو قلا وی چه بخت یار شی — خاوند خدائے به ئے آسانه لکه شول کا
چه ګلونه د بهار واړه تمام شی — د زړهٔ سود شیدا بلبله په خښول کا
خال ئے مست خونی هاتی د سنبال کړے — چه ښکاره شی شا به ورته د غم غول کا

د خوشحال د رنځ علاج به یوهٔ خدائے شی
چه له درده سره تل شوری آشول کا

خپل عمل چه سړے سپک کا — لکه خس هسے ئے وړک کا
بد عمل لیونے سپے دے — چه حملے په خپل کنډک کا
مګر نهٔ ګوری و ځان ته — چه احول پیغور د بک کا
مزړے ښکار کا د ګاوزو — پیشو ګرځی ښکار مږک کا
دا خبره ده چه کیږی — کهٔ کیسه د دوتک کا
چتے باز په پرونو نهٔ شو — کهٔ آلوزی پرپرک کا
چه بیزو د بازیګر شو — نن څهٔ ناسته په انړک کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



حُما ژبه نهٔ ده اور ده          ګذاره ونه دَ توپک کا
چه حُما اختیار ئے خور کړ          خدائے دِ خوار هغه ختک کا
خوشحال ناست په برمول دے
ارمانونه دَ اټک کا

دَ دُنیا یاران په خوئ دی دَ دُنیا          بے وفا لکه ئے مخ هسے ئے شا
کهٔ دَدین د پاره تاسره یاری کا          له هغوغواړه کهٔ غواړے څهٔ وفا
دَ دُنیا بناد ئے غمونه سره ګډ دی          په خندا خندا دِ زړ کا په ژړا
چه فتنے ترے پیدا کیږی واړه نفس دے          نفساني یاران به نهٔ وی بے بلا
اولیاء دَ اولیاء سره بد نهٔ وی          دا په دا چه ئے دَ نفس نشته هوا
په دُنیا دَ بادشاهانو سره ضد دے          اُمرا سره دښمن وی اُمرا
یا په نهٔ یاری کښے سود دے کهٔ پوهیږے          یا په نهٔ ویل کښے سُود دے دَ دانا
بیا هالهٔ دَ بل جفا وته نظر کړه          کهٔ ته نهٔ وینے په ځان کښے هیڅ جفا
لکه تا سره څوک څهٔ کاندی خوشحاله
ته هم هسے زیست روزګار کړه له هرچا

دَ مرغهٔ ئے کهٔ وزرشته الوتهٔ کا          څهٔ په دور لکه باز هسے خاتهٔ کا
کهٔ متّه غوندِ تیرهٔ لری مژګ داړه          څهٔ متّه غوندِ ګذار وته واتهٔ کا
په ارمان دَ دیدن مرم پرے م سلام دے          چه خیر خیر م دَ یار مخ وته واتهٔ کا
ښائسته په جهان ډیر دی ښهٔ هغه دے          په ښهٔ خوئ چه دَ عاشق دَ زړهٔ ساتهٔ کا
لکه سترګے تصویری زنبل ئے نهٔ وی          چه م سترګے ښهٔ جمال وته کاتهٔ کا
څهٔ خوبئ ئے پکښے اینے دی پوهیږے          هر نفس چه دِ واتهٔ ننواتهٔ کا
په هر څهٔ کښے ئے لذت فرحت راحت دے          لکه ساه چه وَ واتهٔ ننواتهٔ کا
کهٔ په تن خوشحال ختک دے څنے لرے
دَ دهٔ زړهٔ دَ یار په کوئے کښے جار واتهٔ کا

دَعشق په بادیه کښے مهٔ بږده ګام دَ تمنّا
هغه څهٔ عاشق نهٔ دے چه وړی نام دَ تمنّا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زارځما دَ زړهٔ دے زارځما دے په دا کار کښې
کهٔ دا طور به تل دروي ایام د تمنّا

مرم دَ یار له شوقه سره دواړه نهٔ جوړیږی
آغاز دَ یار دَ وصل او انجام دَ تمنّا

څهٔ شوه هغه مینه چه دَ سترګو په کاتهٔ کښې
بنړو به ئے ړاوا ستوهٔ پیغام دَ تمنّا

قدم بږده دَ هغه عاشق په پلهٔ بانډِ خوشحاله
چه کام ئے خپل موندلے په هنګام دَ تمنّا

دُنیائی یاران چه طمع دَدُنیا کا | عاقبت په یوه طمع ځان جدا کا
دیدنی یاران پکار دی په دُنیا کښې | چه یارئ دَ دیدن په تمنّا کا
دَ کوڼکټ مینه په غل په خوشایهٔ دَ | خاصګی مینه په کل بانډِ بورا کا
کهٔ په خپله رضا دروي چاره نشته | کهٔ ځما په رضا دروي خولهٔ بدرا کا
په باربار دَ هغه یار منت رابانډ | چه پلو په مخ نیولے مخ ئے وا کا
صدرحمت دَ عاشقانو په همت شه | چه په طمع دَ دیدن دَ سرسودا کا

په رقیب به ئے بے تیغه مرګ روا شی
کهٔ دلبره دَخوشحال مقصود روا کا

دروغ دروغ وعده چه دِلسنګین سره پیوند کا
عاشق له ډیره خیاله ځان پروین سره پیوند کا

بلا کاندی خولهٔ وانرهٔ دَ فتنو آتش تازه شی
چه ناز وجلوه دواړه نازنین سره پیوند کا

آزاد ترسینه دروي دَ ځګر د ننه کښینی
چه غشی لینده دواړه مه جبین سره پیوند کا

کهٔ نور مهر دِ نشته څهٔ حوکړه دَحال پوښتنه
چه تا په زړهٔ ویشتلے سربالین سره پیوند کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



څۀ زۀ څۀ م مجال دے چه د وصل غواړم دريغه
کۀ زړه توره شړئ څوک ور پښمين سره پيوند کا

کۀ ځان غواړے خوشحاله له چشمانو ئے حذر کړه
خپل ځان وژنی تمځرے چه شاهين سره پيوند کا

دوے دِ تورے سترګے لکه دوے تورے بلا
دوے دِ تورے وروځے لکه دوے تورے ترملا

بيا دِ توربانړه دَ دواړو سترګو کربلا
بيا دِ تورے زلفے تر بناماړو نه بلا

له هسے رنګه حاله راته وُوايه اَصلا
دَ هغو به څۀ احوال شي چه په تا وی مبتلا

عاشقان دِ دارِه سر کړل هميشه په واويلا
چه هسے رنګ ستم به په هيڅ ا نۀ وی اصلا

دَ خاطر بخچه م هسے تا خالی کړله تالا
لکه غل دَ خپلے خونے هميشه روږدے په غلا

نۀ به بل څۀ وکښی نۀ به کاندی نور املا
دا بنده خوشحال او ستا له عشقه مشغولا

دَ خوبئ نوم دِ ولاړ دَ بدخو هم لا
په خپل کلی په اولس په هرسو هم لا

تۀ چه هسے په دا خيال جمال نازيږے
ګُله ستا به دا جمال نۀ وی بو هم لا

چه بد مست شی په مجلس کښے هغه نۀ يم
کۀ کدو دَ ميوتش کړم سبو هم لا

ستا له جوره له ستمه هورته لاړے
هغه ځائے چه آدم نۀ وی آهو هم لا

دَ نماستی په وخت ئے واکړه آرام نۀ شه
دَ وربل غوتے کونځئ دَ ګيسو هم لا

دَ خوشحال خټک دپاره چه مے خور شو
په مغان م ونۀ کښنول باهو هم لا

دوه زړونه چه يوشی غر به هم پاره پاره کا
څارتريګا تکئ چه نعمتونه رابښکاره کا

تورے زلفے بويه خط وخال زر و زيور هم
مخ چه بنا نُسته وی خلقه ئے ننداره کا

څوک چه په اخلاص و بله مئين شی په دُنيا کښے
زړه سازے ناسازے په دُنيا کښے آواره کا

خلق په شيطان باندِ لعنت لعنت لرينه
چارے په سړيو واړه نفسِ اماره کا

سل رنګه غمونه لوړ په لوړ دَ نفس له لاسه
دوه سوه دَ حرص له مخه نور را اجاره کا

چه ويش هئ دَ شکر و ډير عالم و ر باندِ قول شی
چه واخلی خپلے برخے نور ځانونه کناره کا

خوبئ دَ خپلے چارے څوک په متح په کوشش غواړي
څوک خپل کاروونه واړه حواله په ستاره کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خار تریکړنګئ چه زړه ئې یو یو ئې اقرار وی
هرچه دوزبان وی خپل غمونه دوباره کا

هرڅوک دِ دُعا کا نه چه حاجت ئې چا ته نه وی
ولې بادشاه نهٔ وی چه حاجت ئې بیچاره کا

ګل وسری ورکړه چه خوشحال په یوهٔ ګل شی
غرهٔ غوایهٔ نظر کله دَ ګل په پشتاره کا

دَ بې ننګو پښتنو له غمه ما
لوئی پرېښوه ونیوله کمه ما

دا هم بنهٔ کهٔ په دا کار کښې هو موږ کار وی
چه کهٔ واخست انتقام له کرمه ما

چه دَ ننګ ګوهرِ مات شو دواړه سترګې
په شرا نهٔ کړے یو دم بے نمه ما

هغه دُرم په لاس نهٔ راغې بیرې
استاده کړه په ساحل له یمه ما

هغه ملامِ چه په هوډ سره لوئے غرژو
په ناکام کړه ومغل ته خمه ما

هم دَ بخت وما ته شا شوه هم دَ خلقو
په مغل کړ څکه مخ له همه ما

کهٔ مِ لاس وے په رضا به مِ کښې نښول
دَ مغل په لوری دوه قدمه ما

دَ هغو دَ خولې کړے خبرے آوسم
چه خبره ورته نهٔ کړه سمه ما

ذم دَ خپلو دَ پردیو را معلوم شو
کهٔ هرڅو ساتهٔ خپل ځان له ذمه ما

په هغو لویو خبرو شرمسار یم
چه هرچا وته ایښے له نمه ما

سل غندئې پیغور ونه را دوخار شول
چه به ځان ساتهٔ همیش له ذمه ما

دا الم مِ هیڅ الم سره سم نهٔ دے
کهٔ لیدلی دی هزار المه ما

مګر بخت راسره بیا مدد آغاز کا
چه فارغ کا دَ اندوه له سمه ما

هاتی څکه په سر لونی تورے خاورے
چه خبر کړ دَ خوشحال له غمه ما

را ته څهٔ وائے چه یار درسره څهٔ کا
کهٔ وفا کا کهٔ جفا کا واړهٔ بنهٔ کا

دا تل درد دَ بناښته وُ دَ یارئ دے
چه یک لخته دَ زړهٔ مهر په چا نهٔ کا

سل بلائے قبلوه ور پسے در ومه
بناښته دَ جهان کل واړه خپل زړهٔ کا

چه دَ کبر خیال دماغ وته ئے ګورم
اندیښنے مِ ویښ بیدار ورته اودهٔ کا

کهٔ په نهٔ عمرئے نهٔ ګنړم زهٔ خوار شم
هغه عمر چه جدا له یاره تلهٔ کا

تیره چار به دَ هیچا په لاس رانهٔ شی
کهٔ په ډیره شرا سره دواړه لیمهٔ کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بتانو په دیدن دَ زړهٔ نشاط شی | لکه باغ پانړے ګلونه په اوبـهٔ کا
په ورتللوئے شړے په تلوئے بولے کا
چه ئے نهٔ پرېږدے په هیڅ کېښے خوشحال څهٔ

راشه وګوره نن دا طراز څما | حقیقت سره قرین مجاز څما
درست عالم ئے په بازار په کوڅه واڼی | لا وچا ته ښکاره نهٔ دے راز څما
دَ نیاز منو عمر غواړم په دا څهٔ شی | کهٔ بے نیاز وګوره نهٔ وینی نیاز څما
دَ غمزے په تیغ م وژنه صرفه مکړه | څوک به نهٔ غواړی له تانه ساز څما
دَ مسجد محراب دَ چا دے دَ عابد دے | په محراب ئے دَ آبرو نماز څما
ښائسته دَ بنړ طاؤس ورلره بویه | دا وآړهٔ ښکارونه نهٔ کا باز څما
چه په خوږو زړونو بلوڅی سزا مومی | ښهٔ چه خوار شو په دُنیا غماز څما
ته په ما باندِ تل ناز کا معشوقه ئے
زهٔ خوشحال ختک عاشق یم نیاز څما

زړهٔ چه نهٔ وی مبتلا | پرے دِ سازه شی بلا
ترعاشق دِ صدقه شی | کهٔ زاهد دے کهٔ ملا
عاشق هر زمان غزا کا | په تیره توره دَ لا
کهٔ عاشق دَ یار په تیغ مری | پرے منت دے دَ یار لا
زاهد خوښ کنج دَ خلوت کړ | عاشق خوښ دَ یار بالا
ګل دَ عشق دے غوړیدلے | وعاشق ته ده صلا
دَ ادنیٰ چارے ادنیٰ وی | دَ اعلیٰ چارے اعلا
کهٔ شیخی زاهدی غواړے | په خیل لاس کېښے دَ لالا
لکیوره دستار په سر کړه | سر وهه په مصلا
یا مسواک کیږده په سر کېښے | یائے اوتومبه ترملا
په تسبیح خوزوه شونډے | نور تکی کوے کهٔ غلا
مرد دغه ګنړه خوشحاله
چه ئے کیږی مشغولا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه تا پېژنم هوا — واړه تا کړم سرهوا
چه همیش ئې په عالم کا — د جهان ګوره غلوا
په نوائې بې نوا کړل — بې نوا شول په نوا
د هر رنځ دارو موندل شي — د بد خوئ نشته دوا
عاشقئ ځنې په ګور کړل — خوک پراته دي په زګروا
چه مې وینې د ګوګل خورې — وینې کله دي روا
د چمن ګلونه وا شول
د خوشحال نهٔ شهٔ زړهٔ وا

زاهدان چه د رندانو تل پیغور کا — کهٔ توانیږي ازلي قسمت دِ نور کا
بنهٔ چه سپین د زهدلړې له ما ګوځي — چه و توروته نږدې شي سپین هم تور کا
کهٔ ربنتیا وایم ویل ئې په ما اوړدي — خوک چه ماسره بې عشقه بل بیور کا
کهٔ په خولهٔ مُهر وهلے د عاشق دے — په سینه کښې ئې زړهٔ وکوره څهٔ شور کا
د لیلی نهٔ نوریده د مجنون مینه — چه مې زړهٔ له یاره نیسي خلق زور کا
نازنینې د دے ښهر واړه بویه — چه نن نازو غمزه ستاله سترګو پور کا
څمایار په هر محفل باندِ چه راشي — په بنا نست د بنا نسته و بازارخور کا
یو زمان د زړهٔ خوښي په لاله زار کښې — دا فلک ئې بل زمان را باندِ اور کا
چه دیدن د مئین نهٔ وي زړهٔ ئې خنکړم — کهٔ ګلونه شګفتن را ته هرلور کا
تیر یاران به نورونهٔ وینې په سترګو
کهٔ خوشحال ورپسې دوه سترګې څلور کا

سور پیزوان دِ په زړګرنوے سنوار یا — بیا د زړونو آزار اخلې پاریا پاړیا
په خاوند مې دِ سوګند وي باور وکړه — چه هیڅ دم مې له خاطره نهٔ ئې وساریا
زړهٔ هر ګوره دماغي په ځان غره ؤم — ولے ستا سترګو څما دماغ اوتاریا
د چړے د کټارئ حاجت نشته — د بڼو په غشو تا بیچاره ماریا
کله کله ئې له حاله خبر آخله
بیچاره خوشحال خیل زړهٔ درپسے هاریا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنه سړی دَ چا په بد و نظر نه کا | که څوک بد ورسره کاندی دوئ به بنه کا
په باړداره وُنه تل وړیږی کاڼی | وړته ګوره چه باړداره وُنه څه کا
دَ جهان کینې غصې واړه ترشا کا | که سړے په وخت دَ قهر مرګ تر زړه کا
دا په دا چه خود بینی وړځنه نشته | دَ جهان ننداره ځکه دوه لیمه کا
په کینه په حسد هیڅ دَ چا وُنه شی | هر سړے چه حسد کاندی ځان اوبه کا
نصیحت دَ نیکو بنه دے نه دَ بدو | کم بختان به بد فعلی دَ چا په خوله کا
وسړی ته ئے اختیار ورکړو هوښیاره | که په هره چار کښې خدائے واړه خپل کړه کا
شپه او ورځ په لاره روانے قافلے دی | نیک و بد دَ قافلے په لاره تله کا

یک تنها په لاره تلنه ده خوشحاله
په دا هسے لاره څوک څه دَ لارے مله کا

که بے نمازه دَ قیامت په ورځ ممتاز کا | وجنت ته ئے روان په ډیر اعزاز کا
نماز ګذاره وته ئے هسے حکم وُشی | چه فرښتے ئے دَ دوزخ په اور ګذار کا
انبیاء او اولیاء به هیڅوک نه وی | چه تر شونډو به بیرون نورے آواز کا
تر عاصی نه لا بهتر هغه عابد دے | چه په خپل طاعت به عُجب یا به ناز کا

دا ځائے کار دَ هیڅ طاعت نه دے خوشحاله
ګوره څوک به په خپل فضل سرفراز کا

که یو ځل دِ دَ وصاله بهره مند کا | په هر دود به دِ خرم خوشحال خورسند کا
په زمان به دِ پیوند له هر چا پرے کا | که محبوبه دِ دَ ځان سره پیوند کا
نورے میاشت به دِ په مخ ګوری وګړے | که په مخ باندِ دِ جوړ سُم دَ سمند کا
زړهٔ به ځان لکه پتنګ ترے صدقه کړم | که له وړایه دَ دیدن مشعل خرګند کا
مبتلا خاطرم مری دَ یار له لاسه | بیا له میڼے هم دَ یار په سر سوګند کا
چه له سوزه له ګدازه ئے حذر شی | زمانه به ئے ګلاب نه به ئے قند کا
دَ هر چا قدر قیمت په خپل هُنر وی | دَ ګنی قدر خرګند دَ ګنی خوند کا
چه دَ عشق دَ لیو نیو په حلقه شی | کله وی چه هغه غوږ دَ چا په پند کا
دَ جاهل سره ګلګشت لکه دوزخ دے | له دانا سره راضی یم که مِ بند کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ دَ خپلو سپیو نوم ورباندِ کښیږدی
خوار خوشحال به په عالم کښې سربلند کا

کۀ دَ زړۀ لری بها
خان به نۀ کړی کم بها
څۀ وے څۀ به شے خبر شه
ابتدا په انتها
چه به ګاندۀ تنها کیږے
خو لا نن بنۀ ئے تنها
چه ئے نور له تا آخلی
په خپل لاس ئے کړه رها
تۀ خبر نۀ ئے له ځانه
چه په تا کیږی څۀ ها
درته وایم نۀ پوهیږے
څۀ غفلت لرے هاها
بل مخ مۀ ګوره خوشحاله
مخامخ شه په شها

له دلبرے نه مِ خولۀ غوښته امّا
ډکه خولۀ ئے راته دا وے ٠ له ما،
ذمانړی په وخت ئے تل هسے ځواب وو
ګوره بیائے په څۀ زړۀ بد دے له ما
هسے یار سره څوک څۀ لره یاری کا
چه له کبره ئے نظر وی په سما
زۀ به هیڅکله دَ عشقه نه وانۀ وړم
پند ګویانو خپل پند وساتئ شما
څۀ خبر ئے چه اول په عشق کښې څۀ ځی
په اول وصلت ئے ځی له سترګو ما
دَ چانړۀ لکه کا بل دَ چا بګرام دے
دَ یوۀ نصیب ساړۀ دَ بل ګرما
کۀ جمال راته بښکاره کا زۀ به ور کړم
دا کټلے دُنیا واړه رونما
زۀ خوشحال چه ستا په مخ باندِ مئین شوم
پارسائی غواړے له مانه صنما

نوبهار شو بیا نرګس په باغ مستی کا
چه صبا مِ په سنبال دراز دستی کا
په پنځمه ورځ کښې ګل دَ باغ تازه وی
په شپږمه ورځ فنا خپله هستی کا
مبتلا بلبله سرۀ ګل په پښو ږدی
لکه برهمن دَ بُت بُت پرستی کا
تواضع زده کړه په تن له سروِ وُنے
په په هسے بلندئ کښې پستی کا
کرلانی لا نور شراب نوشلی نۀ دی
دا مستی واړه په جامِ الستی کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نا دیده په نادانئ څهٔ بلا کا — الف بے ئے لوستی نهٔ وی ځان مُلا کا
روستائ تردشته نهٔ وی رسیدلے — بیهوده ویل دَ دشتِ کربلا کا
دَ کافرته سروغه کړے دَ دین تُوره — مُسلمان ته ئے مشرک سړے تر ملا کا
ودانا وته بلا شوه خپله پوهه — چه ئے تل په سل غمونو مبتلا کا
دا همه دَ بدخوبئ علامت دے — چه سړے زناخونهٔ ښکی غلا کا
په جهان کښے چه خوبونه دَ بدئ دی — یو دروغ تر زرو بدو تیرے لا کا
عطارد دِ نورقلم له لاسه کیږدی — چه په دا خو بئ بهرام انشا املا کا

دا خبرے دَ خوشحال وچا ته نهٔ دی
خو هم دے له خپله ځانه مشغولا کا

واړه مست شو بد ویل کا — وسړیو ته بښکنځل کا
سل بلا ترخوله وباسی — په تیره توره وژل کا
چه خپل زړهٔ وچا ته ورکړے — هغه چارے په تا تل کا
زړهٔ به څهٔ مانړه له چا کړم — په ما دا چارے زړهٔ خپل کا
ځان به واچوم وسیند ته — څوک به داهومره زغمل کا
دهٔ پخپله دا فتنے زده — کهٔ بدخواه ورته ښنئیل کا
نهٔ ئے ویره دَ آزار شی — نهٔ ئے رحم په وژل کا
چرته خم په چا فریاد کړم — څوک به یاد ځما دَ دل کا

بل تاراج نشته خوشحاله
واړه عشق دے چه نتل کا

هر بیمار چه دَ طبیب سره شدت کا — کهٔ ئے گورے وخپل ځان وته آفت کا
دَ ماهی ژوندون دریاب دے کهٔ تر ووت — په خشکئ کښے به دے کله فراغت کا
بنا پیرک چه له آفتابه نهٔ پټیږی — دَ آفتاب دَ کومے چارے خسارت کا
ومهتاب وته دَ سپیو غپا کیږی — په غپا غپا ځان هسے فضیحت کا
دَ کونګټ دَ ګل دَ بویه نه بلا ده — ژواک ژوندون واړه په بوئ دَ نجاست کا
انبیاءٔ چه کا فرانو وته بد شول — واړه چارے دَ شیطان په مصلحت کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوار هغه چه دَ غلیم په نغوته دروی — مدعی غلیم دَ نیکو نصیحت کا
یو دَ سود په غاړه تږے تشنه لب مری — هر خسیس په خساست کښے خپل عادت کا
دَ فرقان په هدایت فاروق پوهیږی — نهٔ بوجهل بولهب ته هدایت کا
طهارت دَ مسلمان کیږی خوشحاله
نهٔ اودس غسل دَ کبر طهارت کا

یار به څهٔ بے وفائی کا — چه بے جرمه جدائی کا
لکه شمع له ما دروی — په بل ځائے به روشنائی کا
عاشق دِ هغه کاندے — چه قبوله رسوائی کا
خوبناست لری دلبره — هومره کبر و منائی کا
خوار خوشحال ته دَ سروشونډو
بوسه ورکړه گدائی کا

یارم مرور دے که څوک وی چه ئے پخلا کا
زړ پاسه ریباره څما زړهٔ بیے بلا کا
تل به دَ جفا په دریابونو کښے غوټے خوری
څوک چه زړهٔ دَ دور په دلبرو مبتلا کا
څهٔ کنده عالم دے مهٔ ئے دود وے مهٔ ئے رسم
وبنے په ځائے پریږدی ومړو و ته صلا کا
هیڅ سزائے نشته بانډِ لاس دما دَ زړهٔ شوے
تورے سترگے ستا دی چه دائم دَ زړونو غلا کا
ستا دَ تورو زلفو ظالمی څهٔ پټه نهٔ ده
مست چه زورور وی ظالمی ئے برملا کا
تهٔ چه عاشق کړے قبلوه په عاشقئ کښے
تل په عاشقانو بانډِ خلق آلا آلا کا
ستاخونخوارو زلفو زړهٔ تنها نتلے نهٔ یم
څوبه دما خوار غُندِ لا نور هسے جلا کا

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه کهٔ نے گورے دا په خیال جمال مغروره
ځو رنګه نا زونه په خوشحال خلا ملا کا

یار چه تل هسے جفا کا ظلم جور سل بلا کا
نور ځوک هم شته په دُنیا کښے خو کهٔ تل به ئے په ما کا
راشه ګوره ستا له لاسه ځوک خندا ځوک ژړا کا
دَ هغو په حال خبر یه چه په درد ته دُعا کا
کهٔ ربنتیا ورځه نشته مرګ ئے مهٔ وه تل ربنتیا کا
څهٔ ئے شته په زړهٔ پوهیږم دا چه څي نظر ترشا کا
مخ ئے ګل دے زهٔ بلبل یم تل بلبل دَ ګل ثنا کا
هیڅ مانړه مکړه خوشحاله
بنا نشته خپله رضا کا

په سپین جمال چه تار په تار دوے زلفے عنبرفام کا
محبوبه غواړي دا چه رڼا ورځ په عاشق شام کا
چه نیرے دَ یار زلفے یا دوُم مقصود م دا دے
چه ما دَ یار دَ زلفو دَ حلقو دیوانه نام کا
عاشق چه په جهان کښے خپل ژوندون له خدایه غواړي
دَ زړهٔ مقصود ئے دا دے چه خان خاورتر و دلارام کا
زهٔ مست بیخوده پروت یم په یوه پیاله دَ میو
ساقي بنیبنه نیولے راته فکر دَ بل جام کا
په مخ دَ بنو محبوب زهٔ مئین څهٔ هومره نهٔ یم
چه یا به ئے ځوک وکښي یا ئے شرح ځوک مدام کا
دلبره چه له دله دَ عاشق په مرګ راضي شي
دَ سترګو په کاتهٔ کښے وعاشق وته پیغام کا
چه تامنع کوي دَ بُت په عشق کښے ورته وایه
کعبه دَ کا نړو ګوره ترو دے څهٔ خلق احرام کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ غټ دَ عنایت په سترګو وګورې خوشحال ته
دَ دۀ مقصود به واړه په یوه نظر تمام کا

نشته په دا ښهر څوک چه نۀ دے خریدار ستا
څرنګه ډیر تود دے چه م ولیدۀ بازار ستا

ښه دۀ سرو وُنه نۀ چه ښه دۀ ستا ترقده
شهد کۀ شیرین دی نه شیرین دی تر ګفتار ستا

ښے دَ هوسۍ سترګے دی نه ښے دی ستا تر سترګو
ښۀ دَ زرکو یون دے نه چه ښۀ دے تر رفتار ستا

څوک دی چه تا وُويني منین دربانږ نۀ شی
هر لوری ته ډیر دی کۀ نے ګورم خریدار ستا

چاچه تا ته کړے یو نظر دے په درست عمر
څوچه دُنیا پائی نور به تل وی طلبګار ستا

زۀ به ورته نۀ وایم سړے چه تش کالبد دے
هر چه تۀ نے وُلیدے لوټ نۀ شو په دیدار ستا

ګل دَ لاله داغ لری سختی دَ رامبیل پانړے
چاوے چه لاله دے یا رامبیل دے ګلعذار ستا

ډیر طبیبان راغلۀ لګه راغلۀ هسے لاحاصل
راشه حال نے ګوره چه څۀ حال لری بیمار ستا

وے م وطبیب ته چه دَ رنځ دارو م وکړه
وے نے چه دارو کړم اوربلیږی په پرهار ستا

سر لری خوشحال درته پیشکش کۀ د پکار دے
په ترډا نور څۀ چه دَچا سر راشی پکار ستا

په زړه م هسے نهال نے اے له دوو سترګو غائبه
کۀ زۀ بله نامه وایم نامه ستا راشی په ژبه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هردم م ډیره ځله اضطراب شي ستا دیدن ته
په تړي بانډ تل وي د اوبو مینه غالبه

تره ترخه که نۀ وے د خوږو قدر به نۀ وو
سکه ځکه جدائي شوه آشنائي سره واجبه

یو د بیلتانۀ رنځوري ګرانه ده که نۀ وي
نور همه زحمت آسان دے که نس خوږے وي که تبه

ناځا په دوه مشتاق چه سره وویني په سترګو
تر دا به بله نۀ وي په جهان کښې عجائبه

په ډیر ضرور خوشحال د یار له مخه جدا کیږي
ارواح کله راضي وي چه بیلیږي له قالبه

په هغه جهان به خلاص ګړ له عذابه — که دلے سریکار وي له کتابه
واړه ورځ یم چه م هسے شراب بد کړل — کنږه کومه بدي غواړے له شرابه
د شیطان له چارو لرے لرے ګرځه — یو د رنګ مۀ اوسه بے چنګ وبے ربابه
د بنځ مخ په ننداره کښې خیریت دے — که ځما له لوري چار نۀ شي خرابه
چه دا هسے ارت ملک په خپل سر تنګ کړے — په خلوت کښې د ځځ سود دے شیخ وشابه
چه نے سرے لمبے په ځان کړے قبولے — د بنځه بوي نفس پیدا شو له ګلابه
هم حیوان نے هم سرے نے هم ملک نے — که ته بنځه په ځان خبر شے له حسابه
که خبر له حاله نۀ شے در ته وایم — په بل نام به بالۀ نۀ شے بے دوابه
که پخوانے خرابي ده چا لیدلے — بیا به هم وي د وجود مینه خرابه
هر طنابۀ نے ودانا و ته معلوم دے — دا خیمه ولاړه نۀ ده بے طنابه

د خوشحال ختک په ژبه برکت شه
چه ویل کا په پښتو له هره بابه

ته چه هسے په غوغا دروے سیلابه — ولے هسے په ساعت کښې شے بے آبه
آفرین دے په همت د لوئے دریاب شي — چه په هیچرے نے چار نۀ ده کریابه
چه په پورته د کاغذ و کوړ دروي — که رښتیا ده دا دے د روي بے طنابه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَطوطی ژبه اُستاد غواړی دَ نُطق
ګنزه دے به لا بتر وُو تر غرابه

چه په مخ کښے دِ نا بود شی واړه ستوری
دَ آسمان په ستوریو وخیژه آفتابه

که لمبے ورباندِ بلے کا ایرے شی
دَ ژوندون هُنر به نهٔ ځی له سیمابه

له یا قوته دِ هالهٔ سیالی شِبه کا
که دَ اوره تاؤ کښے دانشی بے آبه

چه مرغونه وزر بیا مومی آلوزی
هیڅ مقصود ترسره نهٔ ځی بے اسبابه

په ځوانئ کښے اوده ؤُو په زوړ والی
دَخوشحال سترګے بیدارے شوے له خوابه

خوار عاشق په خاصیت دے دَ سیمابه
خو ونهٔ مری ځنے نهٔ ځی اضطراب

ولے هسے خپل عاشق په جفا وژنے
نهٔ دیت شته نهٔ قصاص شته نهٔ عذاب

ستا دَ سپیو سره ګرځم ستا په کوځ کښے
ګُندِ ما ورسره ګډ کړے په حساب

خوخوښی دِ دَ خپل یار دَ دیدن مومم
که په ویښه میسر شی یا په خواب

چه په ډکه خولهٔ دِ ووے یاری نهٔ کړم
دَ بلا په خولهٔ دِ ورکړم زهٔ خراب

دا چیستان دَ یار له شونډو راته حل شو
آوریدهٔ شو یو ځائے نقل او شراب

په ملال ملال کا تهٔ عاشقان وژنے
ستا په سترګو کښے چړے دی دَ قصاب

ماته څهٔ وائے چه وایه څوک دِ وژنی
تهٔ له خپلو سترګو غواړه دا ځواب

که دِ ډېرهٔ وی چه به زړهٔ دَخوشحال کوړم
راشه وګوره په اور ایښے کباب

خپل بیمار م حواله کړه په نصیب
ورته زهر شوے ګولئ دَ طبیب

برآمد ورباندِ صوت دَ غراب شو
خوشامد ورته آواز دَ عندلیب

طبیعت چه محبط شی سود ئے نشته
نهٔ په پند په نصیحت نهٔ په ترکیب

په اعجاز دَ محمدؐ خلقو اقرار کړه
دَ بوجهل تل ناړے وے دَ تکذیب

عمارت لکه خطا هسے خطا ځی
په اول ئے چه خطا پریوزی ترتیب

نصیحت دَ ناصحانو باندِ بادشی
چه زوال دَ چا دَ چارے شی قریب

دانشمند دے خپل دانش لرے ساتلے
دَ تعلیم او دَ هُنر اثر په ترِیب

دَ پنځو په حال اومهٔ کله پوهیږی
دَ مقیم په حال خبر نهٔ دی غریب


A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصیحت بې ځایه واړه ځکر خون دے ‌ ‌ ځکه زه به تر غابښ لاندې کړه ادیب
دَ هلک مینه په چاوی په هلکو ‌ ‌ دَ لبیب مینه په چاوی په لبیب
په زړګونو م دُنیا و هرچا ورکړه ‌ ‌ په جهان کښې پیدا نهٔ شو یو حبیب
دَ خوشحال خټک په شمار په حساب نهٔ دے
په هر ځائے په هر دیار لری رقیب

دا تاو تاؤ زلفې بنکاره کړه له نقابه ‌ ‌ چه ځار ځارے شم له هره پیچ وتابه
زړهٔ چه چیرے تاته سوال کړم تهٔ بنکنځل کړې ‌ ‌ نور به څهٔ غواړم تر دا خاصه ځوابه
دَ سمند سمونه سره په وینو دروي ‌ ‌ کوره بیا دِ دَ چا مینه کړه خرابه
تا به هسے بے صرفه خونونه نهٔ کړل ‌ ‌ که دِ ویره شوے له خونه له عذابه
لکه څوک چه له تیرو تورو ویریږی ‌ ‌ هسے ډار کوم زړهٔ هم ستاله عتابه
چه دَ کښلی زیبا مخ نظیر دِ غواړم ‌ ‌ په نور څهٔ م نظر نهٔ شی بے آفتابه
که فتنې او خرخشې دَ کښلیو دود دے ‌ ‌ نه چه هسے هومره ډیرے بے حسابه
زهٔ خوشحال که له تا خواست کړم مستحق م
خوله زکوة راکړه دَ حُسن له نصابه

که یو ځله مخ بنکاره کا له نقابه ‌ ‌ دَ بنانښت نامه به واخلی له آفتابه
لاله ګل به ئے له مخه خوبی پور کا ‌ ‌ په زلفینو په سنبل کاندی بے تابه
خلق څهٔ لره تهمت په زمانه ږدی ‌ ‌ په چشمانو ئے دُنیا کړله خرابه
دَ خمار په علامت ئے سترګے سرے دی ‌ ‌ که چا بے وخته بیداره کړه له خوابه
دَ خاطر وینے ئے نوش په ځائے دَ میئو ‌ ‌ بیائے نقل هم دَ زړونو له کبابه
خاصه مرګ دَ معشوقې دَ مقتولانو ‌ ‌ چه جنت لره به دروی بے حسابه
ځما زړهٔ قبله نما شونهٔ جاروزی ‌ ‌ وبل لورته ستا دَ ورو ځیو له محرابه
په وعده ئے زړهٔ خوشحال مکړه خوشحاله
دَ وفا طمع څوک نهٔ کا له حبابه

که دیدن شوے بے نصیبه ‌ ‌ ما به ولیدے حبیبه
په پرهار م اور بلیږی ‌ ‌ دارو مهٔ سیزه طبیبه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ دَ یاریم یار ځما دے        ترمینځ ځۀ غواړے رقیبه
لیونی به لیونتوب کا        بے پروا دی له ادیبه
وعاشق وته ناصحه        ځۀ وئیل کړے بے تقریبه
تر فرهاده تر مجنونه
په خوشحال پیښه عجیبه

کۀ ناګاهه رابنکاره شی هغه خوبه        زړۀ به یوسی له عاقله له مجذوبه
رقیبان به سرنګون له غمه پریوزی        کۀ په راځے کښے دَخپل یار دروی محبوبه
هر زمان په نوی نوی غم اخته شوم        چه تل تل نوے شیوه کا دل آشوبه
دَیوسفؑ دَمینے لاف واړه عالم کا        ولے بل پسے ړوندنۀ شو بے یعقوبه
کۀ لاځۀ درته دَسرومال وجود وی        په دا فکربه ورنۀ شے ترمطلوبه
تۀ ئے تل په سر دُعا کوه خوشحاله
کۀ دِ نوم په ژبه نۀ آخلی محبوبه

مرد هغه چه زړۀ ئے وینی سترګے په خوب        په خپل سپی ئے ګمان شی دَلیونتوب
درویشان دِ دُعا کا زۀ ئے په ځان کړم        کۀ دَ زړۀ نه م رَوان شی دا زهوب
په مخ تویره بنائسته ئے نوم دِ ځۀ دے        دَعاشق دَځان بلا فتنه آشوب
کۀ په توره ئے ځواب ورکړے مردی ده        کۀ وجود دِ ځوک آزار کا نۀ په چوب
په هغے لارے چه بل ږدے هسے وایم        کۀ با نزۀ کړم دَ هغے لارے جاروب
کۀ هردم ورته ژړا کړم فائده نشته        سنګین زړۀ به ئے په چا نشی نروب
دَدُنیا سختئ تل نۀ وی غم مۀ کړه        په حلوا ګُندِ بدل شی دا اتوب
کۀ په تور دَعاشقئ بندیخانه شی        دَعاشق له نۀ ځی ستلا توب
کۀ م لاس ورباندِ برشی هیرم نشی        پیرسرونه به چیت پیت کړم په میخ چوب
ستا په تش دیدن م هسے زړۀ خوشحال شی
لکه ترے په اوبو شی بنۀ خړوب

ما دَمزکے په مخ ولیدۀ مهتاب        چه خجل ترے دا مهتاب دے هم آفتاب
دَزلفینو تر نکهت ئے مشک شرمیږی        دَخولو تر بوئ ئے نۀ رسی ګلاب

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ وربل په هرهر پیچ کښې ئې نافې دی
مشاطه ئې چه پرا نزي پیچ و تاب

نور شراب ورته اوبهٔ دَ ترخوبې دی
چه ئې مست وی دَ لبانو په شراب

وې م زړهٔ م ستا دَ مخ په اور ورتیږی
وې ئې پریږ ده چه بنهٔ وریت شی کباب

ستا په راز م صورت سر تر پایه پُر دے
زړهٔ م کوره په تصویر کښلے کتاب

عاشقان م کُشتګان دَ معشوقې دی
کُشتګانو څخه نشته سوال ځواب

کهٔ ته څهٔ خوا اشارت وکړے دَ سترګو
دَ خوشحال خټک به وو ینے شتاب

نول دَ تن دځان شیون دَ زړه آشوب
یوه څهٔ بده بلا ده عاشق توب

والړ ته په چا منیږئې را تروایه
بے له تا له نورو مینو توبا توب

خولهٔ چینه ده دَ حیات په تور سلسل کښے
نوم ئې شته لا هیڅوک نهٔ کړی پرے خړوب

ستا له تورو شهلا سترګو ئې سیالی کړه
نرګس څکه کیبنود سر دَ دار په چوب

خار وخس به دِ په لاره کښې پرے نږدم
چه ئې توږم دَ مژګانو په جاروب

واړه شونډې په لذت سره یو نهٔ دی
خوږ حلوا دی دَ نباتو خوږ اتوب

لکه باز خال دَ تارو دا ښکار دَ دهٔ دے
کهٔ څهٔ شی ځما دَ زړهٔ په تلاتوب

دا ځما دَ سترګو اوښکے وینے نهٔ دی
دَ ویشتلی زړهٔ له سترګو ځئ زهوب

ستا دَ مخ په یادئے دواړه دَ زړهٔ لاړل
دَ خوشحال دَ زړهٔ آرام دَ سترګو خوب

پلاؤ وخورے یوه لپه
ننه پریوزے اندرُ غپه

هیڅ خبر نهٔ وے له ځانه
نهٔ له راسته نهٔ له چپه

نهٔ درود وی نهٔ دِ ذکر
هندو هم نهٔ وی بے جپه

چه هوائے درته بنهٔ کا
زړهٔ دِ ځی په هغه هپه

په هر ځائے چه له چا کښینے
یا دِ راز وی یا دِ ګپه

نهٔ به ځان ترهر چا بنهٔ کړے
کهٔ بنهٔ کیږے په غړپه

کهٔ په خپل فهم طبیب ئے
دَ خوشحال تر فهم تپه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دَ مارغونډِ راضی له خپله بخته
چه دَغم له پوسته ووتم یک لخته

بیا هغه حسن وجمال هغه لیدهٔ شی
کهٔ دَ بخت سترګے مِ خوبږوے یوځوخته

ګرد غبار لرے وے یځے ترمینځ لاړے
بیا دَ نمر سترګه بنکاره شوله ویخته

خدائے دِ وارهمت ورک نهٔ کا دَ مردانو
په دُنیا کهٔ بانډِ راشی ګرانه سخته

زمانے په هر بازار وګرځولم
خبردارئے کړم دَ هر بازار له رخته

دَ بهار په وخت ئے بیا نشوونما وی
په خزان چه پا نړے پریوزی له درخته

دَخوشحال خټک طالع ترخرم بنهٔ دے
چه بندی شو خاوند بیا وروست ترتخته

په جهان کښے څلور قسمه دے نعمت
عاقلان ئے دی خبر په حقیقت

لمړنے نعمت دَ علم دَ بنهٔ خُلق دے
دا نعمت په دواړه کونه دے راحت

بل نعمت په دا جهان دَ ډیر دولت دے
چه هر شان پرے ا بلهان کا فراغت

بل نعمت دَ ریاضت دے کهٔ ئے ګورے
په هغه جهان راحت دے محنت

په خونی هاتی سوره شوه مے پرسته
زهٔ هم مست هاتی هم مست دے داهم مسته

خدائے دَ دریو واړو مستانو سره سرکړ
بله نشته یا به نیست شی یا به هسته

نندارو لره ئے راشئ نندار چیو
یوه لویه هنګامه شوله پیوسته

چه ئے ستا زلفینے کیوتے په لاس کښے
لاس ئے پریوزه کهٔ ئے دے پریږدی له دَسته

یار دَ ما څخه دَ کور دننه ناست ؤو
زهٔ بے روحه ګرځیدم دَ دهٔ په مرسته

نهٔ یاری نهٔ آشنائی واړه لباس دے
چه خبر شوم دَ وګړی له بربسته

ما په وبږیو سترګو ډیر یاران خوړلی
په ځیر ځیر دِ مخ ته نهٔ ګورم له کسته

دَ خوشحال په ځان دَ ډیرو غشی لګېدی
خو هم دهٔ زده چه دے مری دَ چاله شسته

تورے سترګے ستا دی اے زیبا نګارے مستے
تور نرګس شهلا دی اے زیبا نګارے مستے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاچه بوسه راکړه زۀ پرے بے حسابه مست شوم
شونډے دِ صهبا دی اے زیبا نګارے مستے

ماچه ستا دا کښلی بارخو په سترګو خیر کړۀ
ګل دَ لاله دادی اے زیبا نګارے مستے

خولۀ به دِ آخلی چه پرے ستا دَ خاطر مینه وی
ډیر په تا شیدا دی اے زیبا نګارے مستے

هرچه ستا له ظلمه و نور چا وته فریاد کا
واړه بے وفا دی اے زیبا نګارے مستے

خوب کاندی بے غمه یائے چیرے قرارے شی
خوک چه بے له تا دی اے زیبا نګارے مستے

چارے په ما وکړے وائے چارے خما نۀ دی
ستا نۀ دی دَ چا دی اے زیبا نګارے مستے

تا ووے خوشحال ته نورے لا ترما زیبا شته
خوک ترتا زیبا دی؟ اے زیبا نګارے مستے

چه مئین شوم دَ بلندے په قامت
راته ودَرېدۀ داړ دَ ملامت

چه بلائے دَ قامت راته ښکاره شوه
ګویا پاسیده بلا دَ قیامت

چه محراب ئے دَ آبرو راته ښکاره شۀ
هغه دم م تعره وکړه قد قامت

دَ مژګانو ناوکی ئے هسے نۀ دی
چه به خوک ورځنے دروی سلامت

چه نۀ مئے نۀ معشوقه نۀ ګشت دَ ګلو
تیرئے عمر دے په غم په غرامت

نن دَ کښلیو دَ دیدن ننداره کوره
اوکۀ نه ګاندۀ به درشی ندامت

چه دَ کښلیو ننداره و نخښه لاړه
خبر نۀ یم کوم ګناه وو کوم شامت

چه نظر به دَ کرم په خوشحال کاندی
لا به کله وی دا فضل و کرامت

څۀ به وایم دَدے نفس له آزمینښته
نفس آدم دے را ایستلے له بهشته

چه پکښے دَ دواړو کونو مراد مومی
هغه چار دِ ترنظر لاندِ کا نۀ شته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَکیمیا دَ بوټی ګل کله موندهٔ شی
چه دَ ښنو تلی ګلګون نهٔ شی په غوښته

دَ سړیو په غفلت پوهه حیران یم
چه په کور کښې توری خاوری هومرهٔ نښته

بیا به څله څوک طلب دَ دُنیا کاندی
چه ئے خلاص نهٔ وی یودم دَ کار له کښته

کهٔ دَ سر لاندِ بالښت کښیږدی دَ پرونو
عاقبت به تر سر لاندِ کاندی خښته

دَ دُنیا مینه په مثل دَ خارښت ده
هیڅوک نهٔ وینم خالی له دے خارښته

ر صحرا په کا ټړی رخه دَ شیطان شوهٔ
عیسیٰ سر په مزکه کیښو له بالښته

دَ زړهٔ مینه په مثال لکه پتنګ ده
چه دَ کوځے خښتن وهله هرته رغښته

غمے واړه دَ آشنا دَ بیلتانهٔ دے
دَ خوشحال چه سړیکار شوله جوړښته

چه مِ ولیدهٔ په سترګو ستا ښائست
ښاپیریو څخه نشته دا ښائست

هم هغهٔ دربانډِ هسے شان ملین ګرم
چه دے کړے ئے وتادے دا ښائست

غږ ئے کله دَ لاله غوندِ زیبا دے
دَ لالا تر ګل ئے ډیر دے لا ښائست

ګرمه نهٔ ئے چه خیلخان ستائے نګارے
وائے نهٔ لری قمر څما ښائست

لور په لور به دَ بلبلو ژغ پرے وشی
کهٔ صبا کا دَ ګلونو وا ښائست

دَ نرګس ګلونه هم هرګوره زیب کا
ستا دَ سترګو وینم لا زیبا ښائست

عاشقان دِ ډیر پتنګ کړل چه وریتیږی
خدایه تا کړ په جهان پیدا ښائست

ملاحت وو نزاکت وو لطافت وو
دَ خوشحال دلبره سرتر پا ښائست

چه ئے خوب په پالنګ نهٔ ووبے دَ پرو له بالښته
راشه ګوره تماشه کړه تر سر لاندِ اُومه خښته

چه فانی دُنیا دُنی ده بُودے نشته ناهنی ده
څکه داده اے نادانه دَ هوښیار تر فهم زشته

دا دُنیا خارښتی بزه ده په ساتلے څهٔ مزه ده
شپون ئے وشړی له بزو نه چه ئے پوهشی له خارښته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هم تول ځئ هم دلئ دا طوفان دے کهٔ بړلئ
چه وېږے مونده نهٔ شي هغے توبه له هسے کښېنسته

ماليدے په داچشمانو وړانے مينے دَ شاهانو
يکباره ورځنے ولاړهٔ چه ئې درسته دُنيا غوښته

دَ لکونو پيدا غول کړه دَ جهان ګنجونه تول کړه
نهٔ به تهٔ نهٔ به ستا پښت وي بيا سنجرشويو څو پښته

دَ سيلاب په مخ دِ کوردے دا دنی فکردِ نور دے
چا به نهٔ کړه هورته خونه چه به دا په سيلاب رغښته

په دُنيا کښې کهٔ شداد شے بيا به تهٔ په بلا ياد شے
کهٔ بهشت په دُنيا روغ کړے ځهٔ دِ سود دے له بهشته

هغو يوړله له ځانه دا فانی دُنيا ائے ځوانه
چه ئې تار په تار خوره کړه نهٔ هغو چه ئې ونغښته

مائې وليدل کاړونه طور طوړ رفتارونه
په ورتلهٔ به ستغ ختنه په تلهٔ ګنډے غوندِ رغښته

کهٔ کم عقل کهٔ کانائے کهٔ هوښيار ئې کهٔ دانائے
دَ ميرباز غوندِ ورزغله دَ خوشحال غوند ترے تښته

چه دَ پلار په بدګويئ سرشي پوت
صد لعنت دَ دهٔ دَ مور په ګنده چوت
چه دَ مور په چوت ئې خير وبرکت وي
له هغې موره به نهٔ زيږي کپوت
بختور ئې هغه پلار هغه ئې مور وي
چه له موره نه فرزند زيږي ثبوت
دَ بد خويه ژغ دَ فسق ودَ فساد ځي
دَ بنهٔ خويه ځي نارے په ملکوت
دَ مزرى په خوئ پيدا شي ځنے ځويه
ښځې غواړي دَ ګيدړ غوندِ خپل قوت
چه ئې نوم په جهان پاتے شي دَ نيکو
هغه ځوئې دے په جهان کښې لا يموت
وصورت وته ئې مهٔ غوړوه سترګے
دَ خپل خويه خو عمل ګوره کرتوت
دَ سپين توت چه مزه نهٔ وي ځهٔ پکار دے
کهٔ بنهٔ خوند لري ترے بنهٔ ګنړه تور توت
ډير ځوانان چه احمقان دی لکه پياز دی
وخوشحال ته هوښيار مشک دے پير فرتوت

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خهٔ به لا ډیر بنهٔ وي دَ بهار دَ ګلو وخته  کهٔ زر درپسے نهٔ وي دَ خزان سیلئ سخته
په وخت دَ بنو ګلونو دوساله باده نوشلی  دَ زړهٔ اندوه دِ واړه دَ عشرت یوسی یکلخته
په وخت دَ بنو ګلونو په خلوت دننه ناستے  راوُوخه نندارهٔ کړه ناسوتی شیخ بدبخته
هر ګل وته چه ګورے ګوبنے ئے نکهت وي  په رنګ سره یونهٔ دی نفیوسم دَ بل له رخته
په سم دی کهٔ په غرهٔ دي دَ بهار خاصه ګلونه  آخر به ئے رشون وی دَ ګلونو له درخته
چه تعینه دَ اهار ګرمه سیلئ شی په چمن کښے  ګلونه دَ لاله لکه بادشاه پرېوزی له تخته

چه کښته پورته زانړے مرغاوئ تلهٔ راتلهٔ کا
خوشحال خټک خوښ کړی په جهاکښے دادو وخته

ځوک به ستا دَ مخ نقاب کا رتے پټے  ځوک به ستا په انګیو کښیږ دی ګوتے
کهٔ دِ بیا نوی شیوے په خاطر نهٔ دی  دَ وربل غوټے دِ ځله دی آرتے
مظلومانو وته ځهٔ خو نظر وکړه  په دربار دِ فریادی دی ځیرے ختے
چه ئے پښی شا له ما هومره ویل کړه  نخاخ دَ هغو وړے ژبے نښتے
په خیل یار به ئے کیدے دا هسے شندے  چه همیش ئے دَ رقیب خبرے نغوتے
یار په هر لوری جلوه کا ورته ګوره  کهٔ دِ نهٔ دی دَ لیدلو سترګے تتے
په نوروز کښے دا غزل واخله مطربه  په آواز به دِ بلبلے شی ساکتے
ګل ته چا دا هسے زیب وحُسن ورکړ  چا ئے هسے ته په ته پانړے پرانتے

دَ خوشحال په پالنګ بیا راغله سرشاره
په زعفرانو په چووه لړ د ختے

خپل پردی چه چالینده په لاس آخسته  هر یوهٔ کړه په ما تشه درسته
چه قضا دما دَ چا په غشی نهٔ وه  دَ بادشاه لینده ئے هم کړه په ما سسته
چه تعلیم ئے دَ سیفی له ما نه آخست  بیا هغو دما د بدو سیفی لوسته
په زرګونو راته لاف دَ یارئ کړے  په دولت کښے ئے دما بلا آخسته
اوس چه ورځے دَ نکبت راغلے یوزښته  چه څما دپاره وُوځی له بانُسته
کهٔ بادشاه له تخته پرېوزی نا آشنا شی  بادشاهی ده دَ دولت په تار آمسته
دَ نکبت ورځے په مثل دَ دانو دی  بنا ئسته سړے وباسی له بنا ئسته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنرونه ئے عیبونه شی خوشحاله
د سړی چه چار د بخت شی سسته پسته

د شرابو مستی زر شی نیست و هسته — لایزاله مستی نهٔ دی و می له مسته
چه م نوم په جهان لاړ شو د رندئ — د رندئ کار به نهٔ پریږدم له دسته
کهٔ بادشاه ئے په زندان کا غم ئے نهٔ وی — د آزادو آزادی ده له الستة
نهٔ یاری شته نه خپلوی واړه غلول دی — چه خبر شوم د وګړی له بربسته
د ښادئ په اُمید اوسی په غم کښې — تل په شپه پسے را درومی ورځ پیوسته
د مقصود ګوهر په لوئے دریاب کښې پروت دے — غواصان پکښې غوپے وهی په مرسته
په ادراک له قعره نهٔ ګوری ساحل ته — هغه کب چه ویره ووینی له شسته
د عاشق خاطر او خیال لکه دریاب دے — چه چپه ئے کله لوړه کله پسته

د خوشحال له زړهٔ د یار محبت نهٔ ځی
لکه مینه د خپل بُت له بُت پرسته

د صبا نسیمه راشه وګلشن ته — د ګلونو انتظار دے شګفتن ته
زاهد څهٔ خبر له عشقه چه عشق څهٔ دے — د ګلزار له حاله څهٔ وائے زغن ته
زاهدان چه په پنځه وخته سجود کا — زهٔ دائم په سجده پروت یمه وثن ته
د لیدو په ننداره ئے نهٔ مړیږم — کهٔ هر څو په ځیر ګورم وديدن ته
تهٔ خو باد شقائق په زړهٔ کښې داغ زدے — چه په شین شین دروڅے وچمن ته
قهر مهر دِ د ورو څیو په مینځ وینم — د جبین تخته دِ اینبے ولوستن ته
کله جنګ وخرخشے کړے کله مهر — زهٔ په زړهٔ ساده حیران شم هوم‌ڼن ته
کهٔ دما په مرګ دِ زړهٔ ګ دایم زهٔ هم — ستا جفا جور نزدے کړم ومردن ته
اوس دِ اوره باندِ بل کړه پستنه شه — چه لوګے دِ ننه نهٔ ووځی پیرهن ته

کهٔ تل ستا له لاسه تُوره د ستم وی
ما خوشحال قبوله کړے وګردن ته

دواړه شونډے کړه په بیار ته — د رسیږی وکړه خپل یار ته
زهٔ چه ستا و مخ ته ګورم — زړهٔ م نهٔ کیږی ګلزار ته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل له شرمه خولې پرېږدي　　چه نظر کا ستا رخسار ته
کهٔ م وار ورباندِ جوړ شي　　منتظریم وخپل یار ته
ګله دا دې باندِ بنائي　　چه څېر څېر ګورې وخار ته
کهٔ وفا کا کهٔ جفا کا　　یار دم مهٔ وهه اغیار ته
آئینې و ته نظر کړه　　کهٔ دِ مینه شي ګلزار ته
زار وچا ته کړې خوشحاله
چه دِ نهٔ ګوري څوک زار ته

دَ شوم سړي له کوره کهٔ اوبهٔ وي دَ حیات
په ما باندِ لګیږي لکه زهر دَ ممات
موسیٰ څخه میږ نهٔ وُو دې سره یوه عصا وه
قارون څخه دُنیا وه خودئ ولیدهٔ آفات
هرچا څخه چه مال وي وبال هم ورسره مل وي
دانا به هسې کار کا چه ئې نهٔ وي وبال زیات
دَ ګل دَ عمر کار دَ دُنیا مال دَ سفله مهر
دا درې څلور کاروونه بې بقا دي بې ثبات
چه شرم ننګ ئې نهٔ وي نهٔ هُنرلري نهٔ پوهه
په مال ئې نظر مکړه مهٔ په حُسن مهٔ په ذات
دانا په ځګر خون کښېنې دَ نادان خوښي افزونه
عالم واړه حیران دې په دا هسې واقعات
چه تل به پرې بنادي وي غم به نهٔ ورځي په عمر
هیچا دې نهٔ دې په دُنیا کښېنې دا برات
عادت دَ فلک دا دې هم دِ بناد هم دِ غمژن کا
کهٔ هر څو بنهٔ صفا وي بیا زنګ ونیسي مرات
خوشحاله څهٔ اندوه کړې خوښ په دا اوسه خوښي کړه
چه بې ماله غني ئې نهٔ دِ حج نهٔ دِ زکوٰة

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ م ستړکې دَ باور کړې سره لواتې
په جهان کښې خونیکی ده نوړې باتې

کهٔ دِ لاس دَ نیکئ نهٔ رسی دَ زده کړه
را شه واوره اَلاَعمَالُ بِالنِیَاتِ

په جهان کښې کهٔ حجاج . نوشیروان وو
هم دا داد او هم بې داد شو ځنې پاتې

له قسمته به نهٔ کم نهٔ به څهٔ زیات شي
داد دِ واړهٔ اندېښنې دی کم و زیاتې

کهٔ په څهٔ هُنرِ هومره توان رسېږی
چه به تهٔ کړې دَ مرګی لښکرې ماتې

بیا هالهٔ په جهان خوښ ګرځه هوس کړه
ګنړه نورې اندېښنې دی کم و زیاتې

دَ دُنیا ودانې خونې چه لیدې شي
عاقبت به ئې مرګې کا ندی میراتې

له دُنیا نه هم هغو ده بخره وړې
چه ئې نوم شي دَ نیکئ پکښې پاتې

سر تر پایه دَ خوشحال سره لباس کړې
خدائې دِ واخله لباسې دُنیا کم ذاتې

کهٔ داستا ستړګې راوجار باسم ځان ته
له بنادئ به نور شاکړم وجهان ته

یو زمان م کهٔ داستا لیدل نصیب شي
نور به ستړګې پورته نهٔ کړم ګلستان ته

طبیبان دِ خپل دارو ورځخه کښېږدی
تا وېشتلې مینه نهٔ کا و درمان ته

کفرستان دَ شاه دَ تورو زلفو ګوره
چه په څهٔ رنګه تا وېړی وایمان ته

چه په ما باندِ تیریږی ستا په عشق کښې
خدائې دِ هسې حال پېښ نهٔ کا مسلمان ته

په جوړ بورا به هم نهٔ کا و تنه
عاشقان کله خالی دی و سهمان ته

اول بنهٔ شهپر پیدا دَ الوتو کړه
بیا له پسه الواتهٔ کړه وآسمان ته

په فراق دَ بنو یارانو چه ډېر ژاړم
دواړه ستړګې م پیغوړ کا و باران ته

چه په خپله افغانی ژبه نادان دې
ملئې دواړه شونډې بیا مونډی په کور کښې
په ترکی خبرې څهٔ واې افغان ته

نور دِ لعلو لره درومی بدخشان ته
هغه شونډې چه ځائې بې پا نوسرې دی
هغه شونډې څهٔ حاجت لری وپان ته

له خوشحاله ئې بهرام غونډِ پیدا کړ
دم واههٔ نهٔ شی څوک څهٔ وائی یزدان ته

ما چه نظر وکړو په ذرات په موجودات
ګول په جهان راغلم تر به ګول د روم هیهات

یوځا درترمیان وی فهم پاتې شی له کاره
دا هومره کېسې هومره ادراک دَ سماوات

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ نبي ولي ئې درست اسرار موندلې نهٔ دې — لویه کارخانه ده کهٔ وګوره کائنات
وزیږي له نوحه دَ طوفان په موج فنا شي — ځوئ دَ آذر و موسی له ناره نه نجات
کار دَ بل حکیم دې چه څهٔ کاندي هسې کاندي — وا ړه سر ذکم دي دا آبا دا اُمهات
دخل دَ ساعت دَ طبیعت دې کهٔ دَ نور څهٔ — نیک زیږي له بد وله بد ذاتو نه نیک ذات
هو مره علم نه ده کړه چه فرښتو ته سبق وکړې — بیا به خبر نهٔ ئې دَ جهان په ترهات
ته دي کهٔ مقبول دي کهٔ معقول کهٔ نا معقول دي — ګوره نندارہ کړه تر دا دم مهٔ وهه زیات

سر په سجده کښیږدې دې وائې مونځ کوم خوشحاله
زړهٔ ته نظر نهٔ کړې پکښې خولات و منات

نن م ولیده هغه مسته — غنچه خولهٔ ئې نیست و هسته
په دوُو زلفو عنبر پا شه — په دوُو سترګو مې پرسته
څهٔ شیوې دي په جهان کښې — دَ همه شیوو همدسته
منفعل ئې ګل تر مخه — تر ښهٔ قدئې سروَ پسته
اوس م بیا مونده په کور کښې — چه دائم ئې وُم په مرسته

دَ بالا بلائې ښه ده
دَ خوشحال سره پیوسته

یارم کبرجن شوخ څهٔ به ووائي وما ته — دروُ مه صبوري کړه نور به څهٔ وایم وتا ته
صبر به هرګز له هسې یاره وکړې نهٔ شي — درومه سکه دُعا کړه چه دِ مینه شي ترما ته
تل دعا زاري کړم لا م مینه پرې زیا تیږي — ژاړه ژاړه ژاړه کوندِ غوږ کا ستا شړا ته
تل په ورت ورت ژاړم لا ئې زړهٔ په ما ښه کیږي — لا په ورت ورت ژاړه چه ئې لاشي خوښي نیا ته
خوش به لا هالهٔ شي چه زهٔ ومرم په ژړا کښې — وُمره چه دا مرګ دِ لا بهتر دې ترحیا ته
نهٔ په مرګ راضي یم رقیبان به خوارا ځي کا — مخ دَ رقیب تور شه ګوره تهٔ دَ یار رضا ته

شهٔ په مرګ راضي خوشحال یوه خبره وایم
یا رکهٔ مخا مخ په وخت دَ مرګ کښیني وما ته

کهٔ عطار دَ خپلو مشکو کا صفت — په داخهٔ خوئې سوان نهٔ شي نکهت
مشاطه دِ دَ دریو آرائش کا — ولې دریغه کهٔ دَ ناوې وي صورت

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ دَ خرهٔ زین دَ سرې واړه سرهٔ زر کړې — خربه آس نهٔ شي په دا زیب و زینت
کوړې هم لکه یا قوت هسې لیدهٔ شي
جوهري ئې خبردار دې په قیمت

ما دَ نیت خبره ووې و ناکس ته — نورځهٔ نه په نن ئې ووې وعسس ته
خوږې شونډې به ئې نهٔ موې وهه ئې — سر په دواړه لاسه وایه و مګس ته
دې پخپله دَ خپل ځان په سوختن دې — دَ ګذار له حاله ځهٔ وائې ققنس ته
نرهٔ چه نن دا رنګینه خبرې وایم — پرې پوهیږم چه به پاتې شي بیا پس ته
وطوطیانو ته مِ پرېښو دې خبرې — دا مردا ره جیفه پاتې شوه کرګس ته
پاتې رنګ پاتې آواز دَ ځان بلا شي — څوک چه اچوي مرغونه وقفس ته
ګله نور عیب دِ نشته عیب دِ دا دې — چه په واړه و ستر ګو ګورې وهر خس ته
دَ غفادٔ کال بهار ګوره خوشحا له
چه دَ مړو به ئې هوا وشي هوس ته

په رښتیا وئیل غوږېږي دَ زړهٔ غوږه — دروغ زن خوري لکه سپي دَ غولو سوته
په دریاب کښې خښته واچوي هیڅ نشي — په یو څو ځاځکي خوره شي اومه لوته
دَ هغې شې صحبت لکه دوزخ دې — چه میرهٔ وته تل کښیني په مخ بوته
په دا کار نادان هوښیار دواړه پوهیږي — دَ کابل خربوزه په ده تر پهوته
څوک خمونه تشوي مستي ئې نهٔ وي — څوک دَ میو عربده کا په څو ګوته
دَ هغهٔ یاري پکار نهٔ ده خوشحا له
چه له خپلې خولې وباسي دیناجهو ته

کهٔ دَ شمع غوندِ کښیناستې مخ پېته — تجلې دِ دَ جمال وینم تر ختته
تهٔ ورځه په نجاست باندِ پیرې کړه — دَ ګلزار له ګلو ځهٔ غواړې ګونګته
دَ چندنړ دَ ونې لړ لرګي تحفه دي — نهٔ دَ بلې بدې وُنې درسته سته
په وکښلو به ئې څوک وي چه بد وائي — دَ ګلنړ هیر ونه کهٔ خیږي تر بنسته
کهٔ په څوړا باندِ وخیږي خدا شي — راته وایه چه دِ بربوزه دواړه متهٔ
مګر مرګ ئې په ارمان وبله جدا کا — دَ جیحي جدائي نشته له لو یته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دِ زړهٔ هغه به وویني خوشحاله
خو یوه قطره کهٔ تیرشي تر دا څه ته

چه بد نهٔ کاندي خبیث — نور به څهٔ کاندي خبیث
څښې طمع دَ بښو مکړه — کله ښهٔ کاندي خبیث
چه دَ بل بښیګړه ویني — ځان اوبهٔ کاندي خبیث
کهٔ ئې ځائې وکړې په زړهٔ کښې — خوږ دِ زړهٔ کاندي خبیث
کهٔ څما په خولهٔ شي خدائې دِ — زر پړاندهٔ کاندي خبیث
چه جهان ورڅخې خلاص شي — خدائې دِ مړ وکاندي خبیث
دَ میړې غوندِ خوشحاله
الواتهٔ کاندي خبیث

یارم بیا دَ سترګو تورکا الغیاث — واړه جور ظلم زور کا الغیاث
په ماخوار باندِ ئې ترناحقه لیږدي — سل بلا دَ څنګه نور کا الغیاث
زاهد هم هسې له عشقه خالي نهٔ دے — په عاشق به څهٔ پیغور کا الغیاث
چه دَ وصل په دولت وي سره جمع — جدائي به هغه خور کا الغیاث
دَ خزان دوک ئې لید لے دے په سترګو — چه بلبلې هومره شورکا الغیاث
هومره اورچه دَ خوشحال په خاطر بل دے
څوک به مړ دا هومره اور کا الغیاث

ساقیا آتش مزاجه — له صفا مینا زجاجه
دَ شرابو پیاله راکړه — دَ همه زحمت علاجه
نهٔ یوه پیاله دَ میو — نهٔ دَ درست جهان خراجه
زړهٔ او مئې اے محتسبه — کهٔ م خونه شي ناراجه
وزګدا دَ میخانې شه — کهٔ شاهي غواړې له تاجه
دَ رندانو بازارتو دوي — دَ شرابو له رواجه
صومعې ته تلهٔ له دیره — یا وه کار دے بے منهاجه
دَ ساقي پیاله راواخله — پکښې ډیر دي ابتهاجه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقی هر کله دِ وینم    مه جبینه مخ سراجه
دَ بلوړو پیاله ډکه
دَ خوشحال دَ احتیاجه

ته چه خیال په زر زری جامو کړې غُنچې    دَ آسمان ستوری به نشی په دا تچې
که بادشاه دَ مملکت شی په تخت کښینی    چه به تل په جهان نهٔ وی دا په پچې
ځان چه کم کنړی تر بله هغه لوئ شی    دَ سلیمانٔ کوته په دا راغله په خپې
ځما ستا په خولهٔ به مرګ کا تور خاورې    کهٔ ته هر کله حلوا خورې ړهٔ خمچې
ودانې دَ درست جهان په محبت شی    ړانشه کوره محبت دَ مچ دَ مچې
ړهٔ خوشحال کهٔ خپل مئین په ژړاموم
په ژړا به پسے نهٔ کړم ستړکے وُچے

چه صاحب نظر پرور نهٔ وی هم هیڅ    په نظر کښے چه هُنر نهٔ وی هم هیڅ
په پالنګ دَ معشوقے وړځی سر تیرے    هر عاشق چه تیر تر سر نهٔ وی هم هیڅ
له معشوقے نه شیوه بویه خو رنګه    دَ عاشق چه پرے نظر نهٔ وی هم هیڅ
کهٔ په زر رنګه خوبئ آراسته وی    چه ځلمی په بلا برنهٔ وی هم هیڅ
هوښیارانو لره عقل فکر بویه    لیونی چه بے خبر نهٔ وی هم هیڅ
چه له شوره شره خلاص دٔ مرګان دی    دَ ژوندیو چه شور شر نهٔ وی هم هیڅ
کهٔ بادشاه سره بے شماره خزانے وی    چه ئے بنهٔ جنګی لښکر نهٔ وی هم هیڅ
مړنے چه بے وسلے شو په څهٔ کار دے    چه سنخی سړے تونګر نهٔ وی هم هیڅ
زړور سړے کهٔ تر څنګ کښینوی بنه ناوے    چه قوّت ئے دَ نهٔ وی هم هیڅ
سوداګر کهٔ وقوفدار دَ هر کالی وی    په کیسه کښے چه ئے زر نهٔ وی هم هیڅ
کهٔ سړے دَ جهان واړه علم وُکا    چه دَ دهٔ دَ عمل چر نهٔ وی هم هیڅ
باز کهٔ لوئ کټه خوشرنګ دَ ډیر صفت وی    چه تیز پر په زړهٔ زړور نهٔ وی هم هیڅ
یو دَ بل له حاله پند آخلی خوشحاله
دَ سړی چه دا سیَر نهٔ وی هم هیڅ

...
*
...

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرزو لرم ساقي يوځو اقداحه / که ئې راکړې د خاصه بنيښې له راحه
چه دا هسې نوبهار د رومي بې ميو / داخبره په هر چا ده ناصلاحه
ځما پير وائي د ميو توبه کار شه / د بهار په وخت توبه ده نامباحه
تل به وخت د نوبهار نهٔ وي ګلګشت کړه / په دا باغ کښې ترصباحه تر رواحه
د نرګس ګلونه پلې سپاره راغلهٔ / ننداره ئې د بهار کړه افتتاحه

رنګارنګ غنچه دِ واکړه په چمن کښې
د خوشحال دپاره بنهٔ راغلې مباحه

ګلګ خراباتي يم له مامهٔ غواړه صلاحه / ډک د پيالې اخلم ترصباحه تر رواحه
څوک دي چه د نمر خوبي به ستا د مخ پېخير کا / نمر مثال چراغ دے ستا جمال لکه صباحه
مهٔ پوښته زاهده د بنهٔ مخ له نندارونه / سترګې چه دا کار دې په فتوی د عشق مباحه
توئ کړه په هنګام د حادثې ساقي په جام کښې / مے چه باد را پاسي په زجاج کښې بنهٔ مصباحه

پاسه محتسبه خوشحال راغې جنګ ته جوړ شه
غسل په مئے وکړه د مومن وضو سلاحه

د چمن په لوری وخوزه له کاخه / چه د ګلو ننداره شي انتساخه
ګل چه ستا تر لاسه د رغې تازه شو / لاس دِ لا لري شرف د ګل ترشاخه
غنچه ګل چه ستا له خولې سره سيالي کا / خوله ئې باد په طماچه کړله فراخه
د بنهٔ مخ خوبي دِ بنه ده لا تر ګله / په زړهٔ هم سختي لرې تر سنګلاخه
چه تراوړ تر اوبو ووځې هالهٔ ورشي / سور پيزوان د شاه د پوزې تر سوراخه
غه خبرې چه بې ستا له مخه کيږي / له هغو خبرو ونيوې صماخه

په بيمارو سترګو تل پټې کښېوې شي
د خوشحال په ليمو پښه کيږده ګستاخه

د خوبا له بې نيازۍ سل آوخه / چه ځما له کاره تښتي په فرسخه
د يارئ په کار و بار کښې فهم وکړه / چه رانهٔ شي د بدانو سينه يخه
ځان اوښړهٔ صبر آرام نے له ما يوړل / له ژوندونه خوهم داخهٔ وورا ځخه
که جهان په تا بشندم ته ئې قبول کړه / د ميړې په لاس خوبښه ده له ملخه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرچه نن د محبت په اور وریته شول  ترونے کله پروا کیږی له دوزخه
ډیر بندی ئے د زلفینو په کمند شول  کله وی چه به دوئ خلاص شی له دې ښخه
خوار خوشحال چه پکښے پریوت وتے نشی
څهٔ بلائے د شهئ چاهِ زنخه

یو قرین هسے پیدا نهٔ شو زما څخه  چه دما په زړهٔ ئے نهٔ کړه منګل ښخه
چه احوال د هر یوهٔ راته معلوم شو  هر یوهٔ ته مِ تیار کړل یو خو ڃخه
آشنایئ د نا اهل عالم نهٔ دی  په هر لوری تیرے تورے دی نا څخه
کهٔ په دوکښے چیرے لره بُدری وخورم  له چا بله وینا وانهٔ ورم بے اخه
د هر چا سره چه کښیني درته رام شی  نور وغاړے ته تیار کا لومه پخه
کوته سګ د زمانے هرګوره ډیر شول  لکه پړانګ د زاوه ونیسه کرخه
چه رقیب ئے خوار و زار په نظر کښیوت
د خوشحال خوهم په داشوه سینه یخه

ابلهی بدګمانی تر هسے حده  تر نظر ئے له وسوسه ښه هم بده
بدګوئ خِست بدنیت تردا په هورته  سکه رونړه ئے پردی کړل له حسده
کهٔ ښهٔ نیت کهٔ ښهٔ خلقت کهٔ سخاوت دے  دلئ وارِه له زړهٔ لاړ له خولے له یده
په مجلس ئے برآمد له مینځه تللے  بل مذکور پکښے خطا بے خوشامده
چه په ملک د پلار غلیم هغه ئے سترګے  په دوستانو ئے د پلار کینه بے عده
کهٔ دباغ انګور ئے ډیروی وخپل پلار ته  مګر درست ژنګورے ورکا له سبده
یا دِ ښهٔ خویه پیدا شی له ښهٔ پلاره  یا دِ هسے تنها اوسی بے ولده
د ژوندیو د زړهٔ رنځ کړے د مړو شرم  بل ژوندون د بابا ورشه تر لحده
د خوشحال عقل خطا نهٔ وو تور څهٔ وو
چه خانی ئے په بهرام کړله نامزده

افغان بچهٔ شوخی هرګز په عاشق بماند
لطفے نه کنی رحمے دا هم کله خوک کاسند

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یک لحظه بیا بنشین ما خوښ په ښه خندا کړه
قربان سرت گردم، چه نوړو وَته خاندِ

گل لافِ لطافت زد چه ته په چمن را غلې
از غایت خجلت شد سرگشته ستا دَ وړاندِ

دُکان شکر یعنی ستا ښه خوږه خُلگئ
افشانِ شکر یعنی گاہے چه ته وخاندِ

کبک دری و عنبر ، دا دواړه حبطه شی
گاہے که تو بخرامی دوه زلفے آویزاندِ

خوشحال دلش شیرے ستا سترگے لکه شوے
اے وائے که شد شیرے تر لکه شوے لاندِ

په وار وارِ دَ خندا منت را باندِ چه له ورایه راښکاره شے راته خاندِ
چه ئے زړهٔ ترکاڼری سخت دے پرمئین شو لاس دِ نشیٔ دَ سری ترکاڼری لاندِ
چه بل مخ وته نظر کړم دهداد شم توړے زلفے ئے دُرے دی آویزاندِ
چه دِ توره دَ غمزو راته تیره کړه اوس خو به شهیدی ده ستا دَ وړاندِ
رنگ و بوئ دِ دَخپل خان هسے پیدا کا که په رنگ دَ یاسمین دے گل دَ سپاندِ
زهٔ به څهٔ لره له نوره خلقه زار کړم په ما واړه چارے زړهٔ دے چه ئے کاندِ

اوس خوشحال خټک خپل یار په غیر کښے وینو
رقیبان دِ سترگے اَړوی نغلاندِ

چه دَ زړهٔ اخلاص دِ نهٔ وی له معبوده لا عجب که ئے راضی کړے له سجوده
محرمانو اجازت موندلے نهٔ دے کنړه دیر به ئے خبر کړل له دے سُوده
محبت غلام بادشاه بادشاه غلام کا خبر واخله له ایازه له محموده
خدائے څما تر فهمه ښهٔ دَ عشق هُنر کړ که دا چار ده نور عالم وته نابوده
توړو زاغو دَ گلونو قدر څهٔ زده له جماله ئے بلبله شوه خوشنوده
په سنت به دَ همه زړونو مردود شے که دِ چار شی تر یوهٔ پورے مردوده
تر مطلوبه پورے شرط دَ رسید و دے که تمامه لار په وینو شی آلوده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو یو بخت دِ ناسازی راسره نهٔ کا — تل کینه کوه له ما سره حسوده
کل مقصود دَ زړهٔ هورے چه هغه یار وی — بخته راشه تهٔ مِ وروړه ترمقصوده

ما خوشحال ئے سودا کړے نادیده ده
کهٔ کالی په بهانه خئ بے نموده

چه خدائے په بُت منین کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ
سجود کهٔ دَ وثن کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ

عالم وائی عاشق شوے زهٔ سوګند خورمه چه کله
درست خلق دِ دوغژن کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ

کهٔ نور خلق خپل زیست کا زهٔ سرتور مصله لنګه
په ملک ګرځم دیدن کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ

کافریم کهٔ ئے وباسم هغه ساعت له زړے
ستا نوم چه ځنګدن کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ

کهٔ ستا کوڅه جنت سره څوک سمه راته کښیږدی
کوڅه به دِ وطن کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ

تحسین لره بل نهٔ لرم چه هومره پیره مدحه
دَ خپل شعر سخن کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ

چه ځوان وُم دایم زور شوم په ربښتیا ربښتیا خبرو
عالم دَ ځان دښمن کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ

شیخان او زاهدان واړه پټ پټی شا ویل کا
په مخ ئے مبرهن کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ

کهٔ نور په صهبا مست دی زهٔ خوشحال په خرابات کښے
مستی ئے په دیدن کړم کهٔ دا عیب دے هم وی دِ

چه صحبت دَ ملوکانو سره کا نـدِ — بویه دا چه ویل نهٔ کا لانـدِ بانـدِ
په ربښتیا ویل دِ هسے باوری شی — چه پیدا کا خپل عزت دَ دهٔ دَ وړاندِ
کهٔ ئے دواړه ښنے تنزاکے په خدمت شی — دَ خدمت منت دِ نهٔ کا په دهٔ بانـدِ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاسدان به ئے زوال دَ دولت غواړی — همیشه دِ لوګوی وځان ته سپاندِ
دَ غضب په وخت دِ لرے ځنځے ګرځی — دَ خوښئ په وخت دِ عیش ورسره کاندِ

چه نادان ته نصیحت وائے خوشحاله
دا دِ واړه نادانی ده په ځان خاندِ

خدائے راکړه په غیږ کښے دَ دیدار منت راباندِ
سپینه خولهٔ سرے شونډے دواړه زلفے آویزاندِ

یار را سره یار دے دَ هرغم م غمګسار دے
غم اندوه م نشته چه رقیب را رخه کاندِ

پرېږده چه پرے سوزی ستا دَ مخ بلا آخلی
عشق دِ لکه اور دے عاشقان دِ لکه سپاندِ

داځهٔ بارخونهٔ دی نهٔ پریشانے تورے زلفے
پروتے دی په ګلو دَ سنبلو پانړے تاندِ

نهٔ ورپسے دروم دَ یوهٔ نظر په طمع!!!
بیا رته نظر نهٔ کا هسے درومی مخ په وړاندِ

بخت نهٔ دے نور ځهٔ دی په داهومره ډیره مینه
ژاړی رخه کړونی چه خوشحال ختک ته خاندِ

ډیر عالم ځما په یاد پوهېږی تیر شولکه باد
هم داهسے راشی تیر شی — په ځائے نهٔ لری اِستاد
عجب لو یه کارخانه ده — چه پیدا کړه لوئے اُستاد
وحباب وته نظر کړه — ځهٔ حباب ځهٔ ئے بنیاد
هسے نهٔ ئے کهٔ پوهېږے — بنهٔ مثال شو درته زباد
هیڅ خبر نهٔ شوے له ځانه — هئے فریاد فریاد فریاد
غمژن والے دِ په ځهٔ وی؟ — بیا په ځهٔ شے هسے بناد

ځهٔ سختی لرے خوشحاله
دا دِ ړهٔ دے کهٔ فولاد

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دما کومه اندیښنه ده که ما پرېږدې　　ته به نوم دَ بې وفا په خپسر کښېږدې
زړه یو هسې یار لرم که م روزی شی　　که صفت ئې درته وکړم وبه ریږدې
ته سرې ئې که ښاروې ئې رنګ دِ ورکښه　　دَ بهار په سرو ګلونو باندِ ښېږدې
ما په ډېرو سهتو اور دې لګولې　　په داغه که خوخسړی باندِ کښېږدې
زړه چه ستا په دا اوږدو زلفو مئین شوم　　لا به څو دُور او دراز ئې رانه بلیږدې
دَ خوشحال خاطر په مثل سجنجل شو
وارِه ته دَ خپل جمال نخښې پکښې ږدې

داغه بارخونه دې ستا دَ تورو زلفو لاندِ
پروتی دی په ګلو دَ سنبلو پانړې تاندِ
تلی ئې په طلب وُم آخر خوبن له خپله بخته
هسې یار م بیاموند چه عالم ئې کیسې کاندِ
قیس وو که وامق وو که فرهاد وو که خسرو وو
هرچه عاشقی کا سل رحمت په واړو باندِ
نور خلق فانی دی که باقی دی هم هغه دی
هرچه په فانی دُنیا یادیږی ورو ستو وراندِ
نورې کیسې څه دی و خپل ځان ته نصیحت دې
شمعې ته نظر کړه خود به وژاړې چه خاندِ
ته ګوره په چرته زه خوشحال په کوم ملکو نو
پاس په زړه پرتې دی ستا دَ تور وربل پیا ندِ

زړو سړې چه دَ ځوانئ هوس کاندِ　　ورته وایه چه داغه په کُنه خاندِ
چه په کال کښې ئې زوړ توب وی هم ځوانی وی　　دَ سړی ترکاره بنه دې کار دَ سپاندِ
کله هسې په خوان مور شی چه ئې نه خوری　　کله خوان ته ستړګې اړوی نغلاندِ
په نیتونو په صورتونو په لا سونو　　خلقې دی سره یو تبله هراندِ
اوس په سینه ږیره څه له مزکه دارکړم　　یاران تورې ږیرې ولاړل ترما وړاندِ.
چه دَ مزکې مخ ئې لاندِ وو تر حکم　　راشه وګوره هغه تر مزکې لاندِ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا عالم ریګِ رَوان دے که ئے ګورے — خو هم هسے سره اوړی لاندِ باندِ
دَ قضا تنور ما ولیدهٔ په سترګو
ما خوشحال چه پکښے سیزی وچے تاندِ

سپے چه ولامبی په رود — لابدبوئ شی دا دے دود
په بهار او په خزان ئے — هیڅ ونهٔ شو څما سُود
لیونے لیونے تر شی — څو چه شی ورته سرود
په سوړوالی کښے چه کار شی — وهیچا ته مهٔ شه تود
چه ئے قصد دَ ګذار نهٔ وی — هغه نهٔ کا نغره خود
کهٔ ته کام غواړے خوشحاله
کام به مومے په مشود

عمر هرزمان رفتن کا لکه باد — مرګ دِهر سړے همیش لری په یاد
چه دَ عمر ئے بنیاد په هوا ایښے — په دا هسے ژوندون څهٔ دے اعتماد
دَ آدم خاورے دَغم په اوبو نم دی — خمیره په قدرت کړے چل بامداد
انبیاء او اولیاء لاړل وګوره ته — ته به وائے چه دَ دوئ نهٔ وو بنیاد
دَ دُنیا ژوندون هیڅ نهٔ دے که ئے ګورے — چه هیچا څنے بیا نهٔ موندهٔ مراد
همیشه ژوندون کهٔ غواړے درته وایم — همیشه کوه دَ نفس سره جهاد
مسافر چه ئے سفروی خو دَ وړاندِ — په مقدار دَ هغے لارے اخلی زاد
راشه زړهٔ له غیرو پریکړه اے خوشحاله
په امیدئے دَ دیدار لره زړهٔ بناد

کهٔ مِ یو ځله رسد وشی تر سنده — نور دِ نهٔ وینم په توره سترګو هنده
نهٔ به سترګے دَ سړی په چا خوړے شی — نهٔ ئے ماته په اوبو شی دَ چا تنده
دَ پیپلو پاڼے خوره په غرهٔ کښے اوسه — نهُ چه پان دَ هندوستان خورے څما جنده
په هغهٔ بازار به څهٔ سود و سودا کړے — چه قارغهٔ پکښے قدری دے تر شهنده
اے دوستیه عقله دریغه کهٔ پخوا وے — ما به ولے په خپل ځان کړه هومره شنده
هرچه وشول هغه واړه در بخښلی — اوس خوشحاله په لاس مهٔ نیسه ناپسنده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی څوک نشته لاندِ باندِ　وارہ دے دےچه څهٔ کاندِ
دَ دهٔ حکم به نوی نهٔ شی　کهٔ شړا کوے کهٔ خاندِ
دے قادر دے باندِ بناتی　کهٔ کیمیا کا گل دَ سپاندِ
څوک بیا وربانډ پاس کړل　چه پراته دُو تربل لاندِ
څو سینے کړے قرارے　چه په غم وے ځلبلاندِ
خلقے نے دی کهٔ گورے　سره یو تربل هراندِ

په لیدو دَ یار مړے شوے
دَ خوشحال سترگے نغلاندِ

ودِ نهٔ زیږی فرزند　دَ بابا په غولی وند
دَ مریخ په کوکب شوے　شوخ بے باک بلا لوند
دَ زهره په ستوری زیږه　خوش خورم خوشحال خورسند
نحس او سعد اوهٔ ستوری　په نور شته لا بلند
په هغه طالع چه وُشی　تردا نور عالم کښے شی څرگند
بختور دانا مخ روښے　دَ وکړی دل پسند
دَ دهٔ زړهٔ په هره چار کښے　دَ همت سره پیوند
همکی په خوږ و ړک وی　دَ لُنی غُندِ بند بند
دَدهٔ علم عطائی وی　نهٔ سبق دَ دانشمند
چه تر ژبه څهٔ وُباسی　نصیحت وی وعظ پند
په خپل شرم ننگ راغلے　نهٔ په شخوندوی نهٔ په خوند

داته څهٔ وائے خوشحاله
خرو ته څهٔ ورکوے پند

هردم تر نقاب لاندِ　وعاشق ته شیوه کاندِ
تازه اوربل اودلے　تورے زلفے آویزاندِ
انگنزے بناسته کړ　چه را ووته دَ باندِ
ځما په مرگ دِ زړهٔ دے　چه بے درد و سره خاندِ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښۀ ظلم ښۀ ستم کړے
چه پلو نیسے دَ وړاندِ
ښۀ عجب غزل ئے ووے
آفرین په خوشحال باندِ

هم خدلئے غواړے نادانه هم فانی دُنیا نابوده
په خوبه دِ سوزی شی فکر وکړه دا دوه سُوده

چه سر په مخکښے کښیږدے زړۀ دِ ډوب په اندیښنو شی
په خدائگو کۀ خبرئے دَ خاصانوله سجوده

په زړۀ دَ کعبے مینه دَ کعبے په لور روان شی
یو غول دے په بیابان کښے بل سرسر کابے مقصوده

یو وهم دے کۀ ښۀ دے چه په خلقو باندِ پیښ شو
دُنیا دُنیا هیڅ نشته کۀ نمود کۀ نۀ نموده

سیلاب دَ پاسه راشی په غورځی په کښته درومی
موجود دَ سیلاب دَ اوبو هم ده ناموجوده

اِیَّاکَ نَعۡبُدُ لولے په سبع مثانی کښے
دَ زړۀ دِ خو هوا دی هغه واړه دی معبوده

په صافه آئینه کښے هرچه وینے په سترګو
په لاس آخستۀ نۀ شی آئینه په زنګ آلوده

په خو رنګه ګنجونه په هرلوری په جهان کښے
تۀ باد په لاس شنا ز شوے حبطه په هیڅ خوشنوده

خوشحاله ځوانی لاړه په پیری کښے اوس مټ کړه
حاصل چه په شړ وندون دے هغه چار وکړه زوده

هرګروه له خپل ګروهه دے خوشنود
هر سړے لری نظر په خپل مقصود
دانشمند دَ دانشمند په صحبت خوښ دے
دَ جاهل په صحبت ګړ شی جاهل زود
مُسلمان ئے په لوئی په بزرګئی پوهـ دے
دَ جنیدُ له حاله ښۀ پوښتی جهُود
دَ جماع په لذت خیز کله خبر دے
کۀ ئے حوره په پالنګ کښینی ښۀ سُود

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په خوئ دِ خبر نۀ شو غیرجنس دے
غیرجنس سره خوشحاله کم بهبود

داچه ګرځی کښیني پاڅی پائنچے لنډے  شا نکی وهی دربلی څرے لنډے
داهمه واړه رهزن دَ طریقت دی  خپلے خونے لره وړی پردئ ګنډے
نیک وبده چه وچا وته رسیږی  په خپل ځان تړی دا دواړه په ړوډ ونډے
دَعالم رخنے تړه په صبادے مره  خبرنۀ دے داګیدی له خپلے انړے
وړنخوړته وړکوه صحت په نذر  کښلے څوئ په دروغ ورکړه وشنډے
قتلولے وړکولے باوړ وکړه  چه هم دادی په دُنیا کښے دَدین خنډے
چه به بے خدایه یقین په نورخۀ کاندِ  دَهغو دَ ایمان یو وړې شیطان ونډے
عالم کفرته وباسه په ړمان کښے  دے ترخپل ایمان وتلے لا په ځنډے
شرع منړه دَنبی ده که ولی دے  یو قدم به بل سر نۀ دړومی له منډے
دائے ذکر دَ کامل نۀ دے اخستے  لکه خرونه ناړې شوي وهی تونډے
لا به کله دا سکان وشړې خوشحاله
چه به دا ثواب حاصل کړے پنډے پنډے

دَخوږ وشونډوئے ډیر دے تلذذ  ترهمه خواږۀ ئے تیردے تلذذ
ماوے زۀ به ئے عسل سره نسبت کړم  دَ دشنام ئے په بل پیردے تلذذ
له شکروړۀ نیوۀ شی نۀ له دۀ نه  دَپیروی په خۀ خیر دے تلذذ
څوږم یاد دَ هغے خولے دَ مچے خوند دے  نوړم ګل له دله هیردے تلذذ
دَ ناوک ئے هم لذت ترحساب تیردے  ولے ړیاتے ئے دَ شمشیردے تلذذ
لکه وو دَ زنخ سیب په هغه تان دے  نۀ چه اوس ئے تیروبیر دے تلذذ
ستادَ ژبے دَ سر ډیرمنت راباندِ  په دائم ئے را برسیردے تلذذ
په هجران دَ شکرلبو په جهان کښے
په خوشحال زهرګنډیر دے تلذذ

آه دا هومره استغفاره  چه ئے تل کړے په اسحاره
که رښتیا دا استغفار دے  بیا ګناه خۀ ګنهګاره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ دا کار دِ په دروغ کړے — شرم وکړه له دے کاره
هم دروغ کړے هم ګناه کړے — ترس دِ نۀ شی له قهّاره
هم توبه کړم هم ګناه کړم — تۀ مِ وینے کردګاره
زۀ عاجز بنده عاصی یم — پرده پوښ مِ شے ستاره

دَ خاصانو توبه راکړه
ما خوشحال ته استواره

آئینے وته نظر کړه ښیوه ګرے — خود به ستا دَ حسن وکاندِ خبرے
دَ رندو سترګو حاجت دَ رنجو نشته — په بدرنګے ناوی څۀ بولے سندرے
مرجونړا په مټ پُردۀ دے په دانۀ ده — چه ئے را وړے مرغچے مرغلرے
چه نۀ مهر نۀ تپاک نۀ پکښے شناخت وی — له هغو بے دردو تښته لرے لرے
چه میوه ئے دَ کابل خوړلے نۀ وی — دَ هغو ترفهم وځکے دی ګرګرے
پټه مینه دَ سړی نه لړمون خوری — دَ وښو تر لمبے بد وی اور دَ څړے
زۀ کۀ غرۀ په غرۀ ځا رووزمه عیب کوم دَے — تل مزرے ګرځی په لوړے په ژورے
په خطا ختن دَ مشکو قدر نشته — نۀ په هند کښے څۀ قیمت لری شکرے
حق باطل سره بیلیږی رابرسیر کړه — مزے څو به دَ قارون خزانے نغرے

چه دَ ننګ تُوره دِ واخسته خوشحاله
دړومه سوات ته څۀ خټک څۀ ئے لښکرے

پیاله ورایه په خندا راغله نګاره — دَ ښۀ کال خوبی ښکاره وی تر بهاره
مختوری دَ رقیبانو دَ یار وصل — فلک ښۀ راسره وکړل دا دوه کاره
دَ ګلزار ګلونه څۀ دی راشه ګوره — تر ګلونو ښائسته دواړه رخساره
لکه روح چه له قالبه نه واتۀ کا — په دا شان مِ جدائی کیږی له یاره
دَ مانړی تُوره ئے څۀ تورے پریباسے — چه په زړۀ ئے یو ګذار وی شل پرهاره
څما خوار سره چه تل غاړه غړی وه — اوس نظر را باندِ نۀ کاندِ له عاره
دَ عاشق په لاس ژړا ده تل دِ ژاړی — معشوقه چه ویره نۀ کا له آزاره
دَ معشوقے دَ پالنګ لاڼے خطا دی — څو څما په سر کښے پروت ئے دَ سرداره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَدے کلی طبيبان واړه ناترس دی
دَ دارو په طمع مهٔ اوسه بيماره

کۀ هرخوځے لټوے پسے ئے غواړے
په دا باغ کښے به يو ګل نۀ وی بے خاره

هرساعت سره يو نوے نوے خيال وی
کۀ څما دپاره بيا ورشے ريباره

کۀ څوک غواړی چه خپل زړۀ په غم اخته کا
آشنائی دہ لاس په لاس په فتنه تياره

په يرغ به مصلحت نۀ ده ځائی ده
دَخوشحال چه سربکار شۀ له اشعاره

کۀ پوستی له پوسته واوړی ګنډِ واوړی
دَخوشحال خوجاروا تۀ نشته له بنکاره

په دا سرو شونډو ئے نۀ ده دنيځه توره
راشه خضر دَحيوان په چشمه ګوره

مخ دَيار له خط وخاله مستغنی دے
دَغنی وی هر اسباب له خپله کوره

چه ئے سيوره په ماوه لکه بادشاه شوم
هماځی وه ستا دَ تورو زلفو سيوره

ستا بارخو بله لمبه وربل دِ څۀ دے
لکه تور لوګے چه تول پاسی له اوره

دَخپل پلۀ خاوره دِتبه په عنبر کړے
درته چاوے چه په دا بهائے پلوره

په خوبل لوری ته ګورے خان نادان کړے
چه په ما با ندِ غوغا شی لور دَ لوره

تۀ په دا حسن دَګل غُندِ زيبا ئے
کۀ زوولے ئے له خپله پلاره موره

چه په خولۀ ئے نوم آخلے روح ئے نۀ دَے
عاشقی چه ويرہ کاندِ له پيغوره

زۀ له ميو توبه وکړم توبه ګار شم
دَساقی پياله م بيا کا توبه نوره

چه ئے څوک په کوڅه پل ږدی هغه سرخوری
په جواه باندِ ئے مهٔ ګرځه سرخوره

کۀ ئے نازدے کۀ ئے خيال دَے مابه يووړ
ولے ما سره ډير کبر کا هر ګوره

زوروئے واړه دَخپل مخ ورته بنکاره کړ
خوار عاشق ئے څکه درست پريوست له زوره

چه معنی ورسره نۀ وی ويل سيور وی
خدائے به نۀ کا دَخوشحال خبره سپوره

په راحت کښې په دولت کښې يارئ ډيرے
په محنت کښې په زحمت کښې ياران چيرے

نۀ به هر کله بهار نۀ به خزان وی
دا دستور يوه چارو نيسه په تيرے

کۀ م لاس لکه درياب له دُروتش وی
ولے ستر ګے م درياب غُندِ دی سيرے

له يوے فتنے ئے ځان په دُعا خلاص کړم
فلک بيانوی فتنے کا را بر سيرے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې دور په يارانو باور نشته — په زمان ورته اغيار شي يار د غويږې
چه به ما ورته کاته له جاه نه کړه — له هغو خبرې آورم تيرې بيرې
پرورش ئې که په شهدو په شکر کړې — د خرما ترخوند به نه رسيږي بيرې
د دستار ترمرتبې به نه رسيږي — که په لعلو مکلل کړې پا ئزيرې

په ژوندون ئې د خوشحال د زړه وباسي
ستا کردې به ئې په ګور کښې نشي هيرې

نه چه دا سکلې څهره لرې نګارې — خکه تا په عاشقانو اوکړې چارې
چه دِ لاړې د ديدن را باندِ بند کړې — دما او ښکې په ګريوان څي لارې لارې
چه ګلې ګلې دِ ووينم له ورايه — دا لاهم بې بخته نه يم شکربارې
هره ورځ تازه مانړې تازه جنګونه — تل دِ ما ته تيرې تورې دي تيارې
که دِ غابش وشونډې ګورم دُرمرجان دي — که دِ مخ و ته نظر کړم مه رخسارې
دريغه نور نور سحر کړبه ملک پيدا شوې — چه دا ستا سحرئې مات کړې سحرکارې
خو به ما باندِ چه راشې خان نادان کړې — ګنړه نشته نورې تا غوندِ هوښيارې

په کوڅه ئې باد ګذرنه کا خوشحاله
ته له کُمه سازوې ورته نګارې

تا غوندِ به نه وي بوه کښلې په دا دور — يُون دِ دې د زړګې دواړه سترګې دِ د مور
وخت د نوبهار دې باغ وراغ دواړه ګلزار دې — راز د کردګار دې دا ګلونه طور په طور
بار دربانِدِ مه وه زه هم زړه لرم ويريږم — بازخوری د زړه غوښې يا ئې ته خوړې ئې بور
نور عالم بې غمه زه دائم په درد و غم کښې — عشق نه دې بلا دې چه ئې ووينم خور
هـ شته چنګ ونې شته ساقي راشه باده راکړه — تل به بهار نه وي چه تيريږي وخت د ثور
کښينم و ورود بار چه رولئې او به ګورم — عمر غوندِ دروځه به شه وکړم باندِ غور
يار دِ که د کور دين قبول کا په دا خه شي — شرط د محبت دے ته هم واخله دين د کور
مينه د مجنون به په ليلى وشوه لا ډيره — څو به چه عالم ورباندِ وکړه هور نور

طبع د خوشحال ده لکه ښه باغبان په باغ کښې
ګل وهرچا ورکا چه ئې زړه وي علي الفور

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چه سرتر دیوال هسک کړې سړی ګورے — دَ کُس تاؤ نخښے دِ نشته تردا نورے
کهٔ دِ زرهٔ دَ غینې په عشق نهٔ وی باڼلے — په وادهٔ به و یرخهٔ هرلوری ته شورے
پرده پوښے په ضرور وُوځی نما نځه ته — سترګے وازے په بازار ګرځی سرتورے
یائے نیت دَ کا سیرئ یا دَ میړهٔ وی — هره ګُنډه چه لاس سرهٔ کا سترګے تورے
په هغ باندِ ګواهی دَ بدئ وُله — چه ئے ګشت په نورِ خونوخیل وَو پورے
دَمیړهٔ په بړیره نهٔ خاندی نورځـهٔ کا — چه دَ بل سره خبرے کا خسورے

دَخوشحال ویل به بے مضمونه نهٔ وی
چیرے نه چه ئے مذاقو سره شمورے

په تازه عاشقئ مهـر کوه مهر — چه آشنا شی نور کهٔ مهر کړی کهٔ قـهر
کهٔ دَ زهرو پیاله وی خو ستا له لاسه — تر عسلو به لا ښهٔ وی هغه زهـر
چه له لویو له هلکو جفا آؤرم — مګر دود دَ وفا نشته ستا په ښهر
په عالم کړی بلا ستا سترګے نزولے — خوک به څهٔ لرهٔ تهمت وائی په دهر
نهٔ هالهٔ دَ عافیت نا دی قبول کړم — چه م خپله تمنا ورکړه په مهر
دَ وصال ورځ هلکے تر کړئ دی — بے لیدلو میاشتے کال شوے کړئ بهر
دَ دیدن تږے بے حده تلوار کاندی — کوثر کله به خړوب شی ستا په نهر

خوار خوشحال ئے لکه خس هسے لاهو کړ
چه دَ عشق سیلاب راوخوت لهر لهر

ته چه مخ په آئینه کړے برابر — ربړه شی په دا مینځ کښے مخ دَ نمر
مړنی سپارهٔ دَ مخ دی دا دوه توکه — تورے وروځے تورے سترګے مخ لښکر
چه پلو له مخه واخلی زهٔ دُعا کړم — هرچا زده چه دعا ښه دهٔ په سحر
دَیوسفٔ غوندِ مخ پټ کړه په برقع کښے — چیرے نهٔ وی چه پرے ولګی نظر
مخ هغه چه ئے ستا نه درست عالم کا — نه هغه چه لکه ستا ئی دلال خر
زاهد مخ په نقاب و نیوهٔ سجود کا — ستا دَ وروځو په محراب نهٔ دے خبر
مخ دِ هسے شان لیدهٔ شی په خالو نو — کهٔ ئے ګورے لکه ګل دَ پیغمبر
ستا دَ مخ محی به نهٔ کړم نور مخونه — نور کهٔ ستوری دَ آسمان دی ته ئے نمر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دَ مخ خوبی ئے وګوره خوشحاله
دَ شرابو دَ مستئ لری اثر

چه م ولیدے داستا ستر ګے خونخوارے
چه تراوسه لا ژوندے یم شکربارے

په یارئ به دِ هیښ وی چه غلط شی
چه خلور پیسے لری دَ هغهٔ یارے

مایوه دَ زړهٔ په غوره ده نیولے
کهٔ هرڅو په جهان ډیرے شی نګارے

وئے خولرے ږلے خما په زړهٔ کښے
ترحساب و ترکتاب تیرے بے شمارے

دَ میړی چه وزر نهٔ وی هومره ښهٔ وی
قباحت دے تجاوز له خپلے چارے

اوس به وړلے په غلا دَ مینے کار کړم
چه په حال م خلقے شوے خبردارے

په خاطر به دِ قراره قرارے وی
کهٔ داخپلے ستر ګے ونیسے قرارے

بے اثره به دا اوښکے پاتے نهٔ شی
چه م ورځ اوشپه په مخ ځی لارے لارے

نهٔ یوازے دَ لاله په زړهٔ کښے داغ دے
په دا داغ کښے سینے ډیرے دی داغدارے

په خوشحال ئے عندلیب غوندِ اور بل کړ
چه پلوله مخه واخست ګل رخسارے

چه مرغونه دَ آسمان ساتی دا کار
دَ هوښیار دے دَ بیدار دے خبردار

زهٔ دانهٔ وایم چه زهٔ هوښیار بیدار یم
دَ ماهم دَ لاسه لاړی خودینار

دَ نادان خطا لاهسے ګرانه نهٔ وی
کهٔ خطا ده خو خطا ده دَ هوښیار

هودا هومره تفاوت ترمینځ لیدهٔ شی
چه میرښکار سړے پوهیږی په خپل کار

سررشته دَ میرښکارئ ورځنه نهٔ وی
بیهوده مرغهٔ ضائع کا نامیرښکار

ښهٔ مرغهٔ دَ نامیرښکار تر لاس ورمهٔ شه
او کهٔ ورشی یا به خاورے شی یا خوار

دَ خوشحال خبره نغوږه پرے عمل کړه
تجربے ئے دی لیدلی دَ روزګار

چه په درست تومن اوڅاره
نن هغه ده خما یاره

لاخبرِ تم سرګنړئ
چه حجاب نهٔ کا له پلاره

یوسورکے پیزوان په پوزه
ور بلوتے یو څو تاره

مخ نسرینه مهٔ جبینه
سنبل مویه پری واره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکر لبه پُر طربه هوسئ ستر‌ګې ګل رخساره
قد عرعره مو کمره سر تر پایه قلم کاره
په زړهٔ سنګه شوخه شنګه جفا خویه زړهٔ آزاره
زهٔ دې قتل په لیدل یم دا را نهٔ ده پروا داره
چه مې نوم ورته څوک اخلی و بنکنځلو ته تیاره
څهٔ کړم کوم فکر علاج کړم دم واههٔ نهٔ شی له ډاره
دَ دې خوئ خصلت دا هسې څما ده مینه بسیاره
دا یو څهٔ علامت وشو په ماخوار دَ خدائے د پاره
کهٔ پټ نیاز ورځنې غواړم په نیاز نهٔ ده خبرداره
کهٔ خپل زور بانډ بنکاره کړم خیلخانه لری خونخواره
کهٔ ئے وغواړم په زرو زر هم ډیر غواړی بے شماره
نهٔ په زور شی نهٔ په زر شی په جهان دی دا دوه کاره
دَ خوشحال تکیه په خدائے ده
بیا په تا ده شیخ رحمکاره

چه یو کړئ په جمع زړهٔ بنهٔ مخ و ته وګورے
کهٔ درسته دُنیا ستا شی هم څهٔ نهٔ ده تر دا ګوره
دا خوئ څما قدیم دے څهٔ ما اوس نهٔ دے راوړے
چه بے له زیبا مخه راته خس دی چارے نورے
دَ خلقو تهمت یو سر دَ هجران غمونه بل سر
هم تهٔ مې به له هسے رنګه سختے بلا ژغورے
دا اور چه په ما بل دے دَ خپل یار له جدائی
نهٔ کړم نهٔ ملامت یم کهٔ تل وینے ژاړم تورے
آشناته وا یهٔ نهٔ شی نا آشنا به څهٔ خبر یږی
دا راز چه له ما نهٔ دے آورید لے خپلے سیورے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوک ئې دَ مژګانو دَ آبرو په کمان جوړ کړ
مانهٔ زده چه دَ چا تر زړهٔ به وُوځي پورې وورې
بنهٔ باز دِ دَ خوشحال خټک خاطر په لاسو کښېیوت
په قدر ئې خبرشه چیرې نه په لړ ئې پلورې

چه دا هسې وړُوځې غوټه کړې خبرې
بدخواهان به زړهٔ راښغ کا بنیوهٔ کړې
یا څما تر فهم بنهٔ شوې عاشق پروند دې
یا خوک نشته په بناښت ترتا نادرې
ستا تر شونډو ترغابښونو به ئې خار کړم
کهٔ یاقوت دی کهٔ سرهٔ لال کهٔ ملغلرې
داڅهٔ جام دَ میټونهٔ دې چه ئې تهٔ څښې
دارم وینې دَ عاشق دی چه ئې نغرې
هغه کار لکه دوه تورې سترګې ؤکا
هسې کار نهٔ شي په تُوره په لښکرې
دوه قدمه بیلتون هم له یاره مرګ دې
خوک به څو بائی ژوندې له یاره لرې
دَ بنړو ناوک ئې بشوې دروِمي ترزړونو
دَ ترکانو غشي بشوې دروِمي تر زغرې
دوا ړه شونډې دَ خوشحال خټک په خُلهٔ کړه
و طوطیانو ورکوي خلق شکرې

څهٔ سرې څهٔ ئې تدبیر
هم هغه شي چه تقدیر
کهٔ جهان شي تیره تُوره
ستا په مرګ شي خلق خیر
بې تقدیره به ونهٔ مرې
نهٔ به تُوره نهٔ په تیر
بې اَجله مرګ نشته
تیغ وهه مکړه تقصیر
لکه کار دَ مړني دې
هسې کار نهٔ دې دَ پیر
دَ غازیانو شهیدانو
پروا نشته دَ سعیر
کل کتنه ده دَ تُورې
کهٔ کابل دې کهٔ کشمیر
مړني دي چه یادیږي
په سندرو هم په ویر
چه دروغ دَ تُورې لاف کا
دَ هغو نه یم دلګیر
تُوره بخره دَ خوشحال ده
کان په کان خلق خبیر
ترا وو پیریو پورې
وارهٔ مړهٔ په تیغ په تیر
دا دَ څان ستائنه نهٔ ده
حقیقت وائیم په خیر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له خپله هوډه نهٔ واوخت منصور کهٔ وکړی په سولئ کړ مخ ئے سُور
ملامت چه په عاشق باندِ وایهٔ شی په مذهب دَ عاشقانو دے معذور
عاشقان په معشوقو باندِ پتنګ وی له جهانه به ولاړ نشی دا دستور
څو دَ عشق مینه زیاتیږی په کوګل کښے دَ عاشق په پوهه نورٌ علی نُور
عشق کار په لیونتوب دے نور څهٔ نهٔ دے راشه واوره نهٔ په عقل نهٔ شعور
معشوقے وته بادشاه لکه بنده شی کهٔ قیصر دے کهٔ خاقان دے کهٔ فغفور
سروغ ئے هیڅ په حال خبر نهٔ وی له درده کهٔ په درد کښے قرارے نهٔ کا رنځور
سر ښکر ړهٔ مِ سر ترپایه واړه آبله دے په فراق کښے لکه وبړے دَ انګور
مرګروه له خپل ګروه سره سرور کا دماهیځ نهٔ شی له چاسره سرور

عاشقان په عشق کښے واړه ناصبور دی
څهٔ خوشحال یوازے نهٔ دے ناصبور

چه پلو له مخه نهٔ اخلی دلبره مګر شپه دَ خوار عاشق شوه بے سحره
نهٔ ئے زړهٔ په ما نرمیږی نهٔ ګورهیږی خدایه څهٔ مِ سر یکار شو له کافره
نهٔ مِ خوب نهٔ مِ قرار نهٔ مِ آرام شته همیشه را باندِ تبه وی شیبره
دَ وصال اُمید رمق دے لږ را پاتے اوکهٔ نهٔ بیلتانهٔ وُوژلم اکبره
په یوهٔ نفس کښے زر خطونه راوړی په هرلور چه غور زوُم دَ زړهٔ کوتره
دَ معشوقے په پالنګ به هغه خیژی چه له سره نه بیرون کا دَ سرویره
غلیواز چه هُنر نهٔ لری آزاد دے باز په دواړو پښو بندی دے له هُنره
څهٔ وه څهٔ شوه خبر نهٔ یم بیا به څهٔ شی اے یوهٔ خدایه څما په حال خبره
څهٔ یوه نیزه څهٔ دوه څهٔ تر دا زیاتے دَ غریق اوبهٔ چه پاس واوړی تر سره
مګر خضر مِ مدد شی دُعا راکا چه لاهو بیړیٔ مِ وُوځی له خطره

خوئے څله هر ساعت شی هومره ځله
دَ خوشحال سینه لګیږی له حجره

چه مکے لره څوک درومی په خرهٔ سور کهٔ حاجی شی نهٔ ئے ننګ وی نهٔ پیغور
چه خبر په هُنر نه هغه کم عقل چه دَ خط سترګے ئے نهٔ وی هغه کور

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه یې خدای وچاته ورکا دَ هغهٔ دے — بخت دولت نهٔ په کوشش دے نهٔ په زور
اصالت هُنر چه دواړه سره یو وی — لکه بنهٔ کشیده جوړه په انځور
په خصلت هُنر سیرت دانش باقی وی — قد قامت صورت فانی دے سپین و تور
دا همه له ناپوهئ پیدا کیږی — خرخشے دعوے ناسازے شر و شور
پیر زوئنه بنهٔ سلوک نمنځنه عدل — کهٔ دِ دا خویونه شته څهٔ غواړے نور
کبر ژن حریص بے زړهٔ چه دروغ وائی — دَ یارئ لائق نهٔ دی دا ځلور
کهٔ وعده یې قیامت وی دَ غوښتنے — دَ هوښیار سړی به نهٔ وی پکار ربور
کهٔ طالع یې دَ دولت په شربت ډک کا — بیا آخر شی دَ کم عقل جام نسکور
دَ یارئ دَ دوستئ لائق هغه دے — چه آزار ورځنے نهٔ وی پلار و مور
کهٔ ځوان مردے ځوان مردی به دِ هاله وی — سل بدئ آواره کا دَ خپل سرور
په ایمان په ځان په دواړو صرفه نهٔ کا — چه دَ خپلے ژبے ولګیږی اور

دَ هوښیار سره مجلس بنهٔ دے خوشحاله
دَ نادانه سره بنهٔ نهٔ دے بیور

چه په سپینه بږیره کا ځوانے نګارے — په خپل ځان باندِ به وکا ځنے چارے
کهٔ په خولهٔ دَ زاړهٔ یار ترسره ځاریږی — په زړهٔ نهٔ دی ځوانے هیڅ دَ زاړهٔ یارے
نیک و بد په دا جهان کښے پیدا کیږی — نیک و بدے دَ زاړهٔ نهٔ دی ویزارے
خوبنهٔ ځوان دَ ځوانے ښځے په غرض دے — کهٔ بادشاه وی دَ زاړهٔ نهٔ وی ویزارے
په کم ذات په اصیل هیڅ نهٔ دی راغلی — ښځے واړه دَ بنهٔ کار دی طلبګارے
زوړ دِ ځوانے ښځے نهٔ کا کهٔ یې کاندی — فکر بویه چه له بنهٔ ځایه وی بارے
له بنهٔ ځایه له بنهٔ کوره ستر پوښے — په حیا په شرم ننګ وی خبردارے
چه په پلار نیکهٔ دَ ننګ و ناموس نهٔ وی — هغه ښځے قباحت ته دی تیارے

اوس په خپلو زړو ښځو اوسه خوشحاله
دا دَ دور ځوانے مهٔ کړه نا پکارے

خپل پردی راته په خولهٔ وائی زر زر — وعالم ته ترهر څهٔ دی بهتر زَر
اوس په دا دور ما ولیدل خواږهٔ دی — تر پدر تر برادر تر پسر زر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورِ چارو وته څۀ گورے دا گوره — چه صاحب دَ مسلمان کا کافر زر
کۀ دِ قصد کینه حسد ورسره پریوزی — په وژو دَ سید درست کا محضر زر
فیروزه الماس یاقوت لعل له کانه — له دریابه نه وکاږی گوهر زر
مزکه څۀ چه دَ آسمان بناشت په زر دے — ستوری زر دی آسمان زر دے قمر زر
شاهزاده بے زره کوښے تنها گرځی — دَ هند و سره روان کا لښکر زر
زور قوت حرمت هوړے دروم چه زر وی — دَ بادشاه په سرخوک کښیږدی دا افسر زر
خدائے دِ ما دَ قانعانو په حساب کا — چه و دیو وته یو دی حجر زر
ښۀ خوانان ئے لیدل نۀ مومی له ورایه — دَ نامرد په غیږ کښے ورکا دلبر زر
جوهری قدر و قیمت زده دَ جوهرو — قلب سرۀ سره جدا کا زرګر زر
دَ کید پرونوم په خوله څۀ لره آخلے — دَ مزری له تنه هم پرے کا سر زر
هر مراد چه دَ سړی وی په دُنیا کښے — دَ طلب په وخت ئے ورکا دربر زر
کۀ چمیار دے کۀ نداف دے کۀ جولا دے — تراصیل سړی ئے کښینوی بر زر

نۀ به دے په لړ و زرو نظر وکا
نۀ به پریوزی وخوشحال ته غرغر زر

ښه ښه بخ بخ دلداره — وفا جویه غمگساره
چه کنم چه چاره سازم — چه دِ زۀ کړم راکناره
بدکه گویم از فراقت — چه م زړۀ شو پاره پاره
نه کند به دل سرایت — کۀ زاری کوم بے شماره
تو چه سنگدل نگاری — چه م ستا وکړه ننداره
به عشاق بے سرو پا — ستم مۀ کړه ستمگاره
به نگاه گاه گاهے — مهر کړه دَ خدائے دپاره
اے نگار من حذر کن — دَ ویشتلیو له آزاره

نه رود ز در گهے تو
کۀ خوشحال شي سل واره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخونی سترګې چه ته ئې لرې دلبرې　　په کشتن به خلقې کاندی ډېر برې
لا به کله ځما خوار طالع مدد کا　　چه به ستا سترګې په ماشی برابرې
په خرام خرام راځه چه بوئې واخلم　　دواړه زلفې په عنبرو معنبرې
په عارض دې د زړه بوئ ولاله ورکړ　　یا سمن دې د پیغور کړل سمن برې
باز دَجال کوترې ووینی پرې ورشی　　تپوسې باندې پیرې کا لرو برې
ګوره چرته وې په چر ته ګرځیدلې　　چه فراق کړې هومره اوښکې راخبرې

محتسب دې ځنې لرې لرې ګرځی
مست خوشحال سره کوتک کې د ډمبرې

دم به نهٔ وهې له خپله زور شره　　کهٔ ئې ووینې یا وارو ې کور کره
چه وتا و ته نزدې شی هغه تور شی　　په ستنه راځنې ګرځه تور تره
یو یو هوردې چه شاهین ځنې آلوزی　　مشکیرک لکړ مکړ له هور هره
دَصبا په باد نشاط وی دَ ګلونو　　کهٔ جنبش کا دَ بلبل له شور وشره
پیشکشی غواړې دَ اوښکو ملغلرې　　دا ګوهر په دواړو سترګو ووره وره

دَ خوشحال شعر حلوا ده دَشکرو
ستا په دا حلوا ځهٔ کار غل خوره خره

دا معنیٰ دی زورَورې　　سمې چیرې دی خبرې
ځوک چه لب کا سره بیارته　　ځنې توئې شی شکرې
ځوک چه کیوزی په وئیلو　　واړه وائی خاورې خرې
دَ مشکنړو په بازار کښې　　توئې نهٔ وی ملغلرې
خپلې خپلې شلومې ستا ئې　　چه شلومې پلوری ګوجرې
هر هر سکنړې ئې وګوره　　په هنر رغیړی زغرې

ډیر دې بنهٔ وې خوشحاله
بس کړه مهٔ دروه ډیرلرې

دَجهان په مخ به نهٔ وی هسې تا غوندې دلبره
پری رویه عنبر بویه، سنبل مویه سمن بره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلعذاره زلفے ماره شهسواره خوش رفتاره
باده نوشه مے فروشه قصب پوشه موکمره
دل نوازه سرفرازه عشوه سازه لعبت بازه
خود پسنده سربلنده شکرخنده لب شکره
طربناکه ګریوان چاکه تل بے باکه تش تپاکه
خود آرایه خود نمایه خود ستایه خوش هُنره
غزل خوانه خوش الحانه دُر دندانه لب خندانه
عنبرخاله پُرخیاله تل خوشحاله دَ زړهٔ غوره

دَ غریق اوبهٔ چه پاس واوړی تر سر — دَ جهان له حاله هیڅ نهٔ وی خبر
خبردار ئے په پسارهٔ په اوږدهٔ نهٔ وی — چه دریاب تر کومه لاړ دے پهن تر
اوس م درست صورت دَ غم په دریاب ډوب دے — په هیڅ باندِ م نهٔ لګی نظر
اندرون بیرون همه په غم کښے ځار شوم — هم دَ غم سره م یو شو درست پیکر

ښواک ژوندون م همګی واړه په غم شو
غم په مثل لکه اور ښهٔ سمندر

دَ دولت لمن نیوهٔ نهٔ شی په زور — ښه وند کهٔ ږیره په وسمه کا لا پیغور
دولت څهٔ دے په مثال بنا ئسته ناوے — دَ نامرد کره ئے عمر وی په اور
دَ ګنده ټټو نه بد ټټو پیدا شی — ښهٔ آسونه دَ میدان راوړی ښه مور
دَ دولت په آس دِ هر ناسور سور نشی — کهٔ سواری ورباندِ کا ندی خوشاه سور
چه په کور کښے م اول ټټو راغلے — دما بخت وولا اول له ځا یه تور
ټټوګی دی تازیګی دی ترے زوولی — همیشه کا په پائګاه کښے شر و شور
نهٔ یو ښهٔ لائق فرزند دَ پلار په خونه — نهٔ دَ سرو دَ سپینو ګنج دَ دهٔ په کور
ربه ډیر اولاد دِ راکړ منت دار یم — دَ خوبئ ژغ ئے بیائے په هر لور
چه په رونړو کښے نفاق کا نالائق دی — یائے ښهٔ کړه یائے مهٔ ګرځوه نور
دَ خوشحال په دُعا غوږ و سترګے وکړه — کهٔ بهرام عابد دی دواړه کړو کور

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بازونو ښکار د چا دے د زردار
هم زردار هم بے پروا قلندروار

که ئے غم د هوس کا د زیان ئے نهٔ کا
که ئے مری په قوشخانه کښے څو دینار

د هغه سړی څهٔ کار دے په بازونو
چه بنده دے د درم او د دینار

د ښکار کار په مصلحت په سیالئ نهٔ دے
دا یو عشق دے چه ئے ورکا کردګار

چه په اصل کښے شجاع عالی فطرت وی
د هغهٔ په زړهٔ کښے حب پریوزی د ښکار

قمارباز به له قماره صبر وُکا
مست به هم شی له شرابو توبه ګار

زهٔ خوشحال به د بازونو ښکار پرېنږدم
څو ژوندے یم دا مې کار دا مې روزګار

ذرے ته چه هسے بریښے منوّره
که یو هیرے دا بریښنا دِ دهٔ له نمره

دائے لار د ختو نشته وآسمان ته
زهٔ به لار درته پیدا کړم بے هُنره

د عشق شور که د عاشق د زړهٔ قضا دے
له دے شوره خالی مهٔ شے خما سره

هم د خلقو ملامت هم ستا ناسازے
دا به شوے چه یارم ته نیوے په غوره

راز ئے ولے ښکاره وو ښه چه په دار شو
د منصور سزا په داوه لا بتره

ویرېږم دا دے چه له کښلو به جدا شم
څهٔ له خپله سره ته ده خما ویره

زهٔ به غوږ د ناصحانو په پند نهٔ کړم
که ئے اروے دا وینا ده مختصره

وائی ومره چه دِ زهٔ له غمه خلاص شم
خما دا دعوی لنډېږی تر محشره

د خوشحال زړهٔ په داده نور څهٔ نهٔ ده
چه په مهر ورته نهٔ خاندی دلبره

زهٔ ژولیده ترېم که مجنون ژولیده تر
هیڅ خبره مهٔ کړه سره دواړه سرپه سر

ګوره چه څهٔ حال دے ستا په زلفو کښے د زړهٔ مې
باد راله راوړ نن پریشان پریشان خبر

مخ دِ مسلمان دے واړه زلفے دِ کافرے
دواړه مې قبول دی مسلمان دے که کافر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل د لاله ښهٔ دے راته وایه کهٔ بار خو م
ستا زیبا بارخو به له ګیاه کړم برابر
نهٔ په ګشت د باغ نهٔ په سیل ځی د ګلونو
څوک چه په کوځه د دلربا لری مقر

تا وته د خپلو شونډو قدر ښکاره نهٔ دے
مازده چه عسل دی یا نبات دی یا شکرے
مخ په پلوٗ پټ کړے رڼا ورځ ورباندِ شام کړے
بیا چه پلو واخلے په عاشق شی سپین سحر

ډیر په غیر کښے پروت قدرے هیڅ نهٔ نهٔ ے زده شی
چا د دُر قیمت زده جوهری صاحب نظر
سترګو ته ے ګوره خوشحاله با نړهٔ ورُوځے
ستا د مړګ له پاره په خوجوړ لری لښکر

راشه ګوره د بهرام د نفاق چر — کاه سنی کاه رافضی ګهے کافر
کله ښهٔ څوئ د پلار ښهٔ رور د رور شی — کاه له دواړو توکو ګرځی پر نځر
دا تاثیر د بدپیتی دے کهٔ د تخم — چه غنم باندِ کرے کیږی جو در
کهٔ لوګے د اور فرزند ے په دا څهٔ شو — چه د اور غونډِ ے نشته خیرو شر
په مادر کښے ے بلاوی کهٔ په پلار کښے — چه دا هسے ځنے زیږی ګیدی خر
بهرام خان دے سعادت ے هم یحیی دے — په خصلت کښے سره یو تر بل بد تر
وخانئ وته زغله هُنر هیڅ نه — وعالم وته پیدا کړه دردِ سر
خانی کار د هرچا نهٔ دے د هغهٔ دے — چه صرفه ے نهٔ په زر وی نهٔ په سر
یکباره ے په نظر کښے شرم ننګ وی — د دُنیا په سود وزیان نهٔ وی خبر

د خوشحال خټک کهٔ سل ځویه نمسی دی
لا لائق د خانئ نهٔ وینم پسر
راشه کهٔ ے آورے داخبره ده نادره
چه ے وو تل له سترګو هغه وُوځی له خاطره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرم چه جدا کیږې ته مې روح ئې که پوهیږې
مه دړومه له ما نه راته تل اوسه حاضره

بخت مې مرور شي چه په نورو دې نظر شي
بخت راته ناظر شي چه وما ته شې ناظره

هر حسن دې ډیر دې دَ لیلی تر حسن تیر دې
زه چه دې مجنون کړم په چشمانو ئې حاضره

ډیرې دي نګارې هوسئې سترګې پریوارې
تا غوندې په نه وي شوخه شنګه دلاوره

شونډې دې یاقوت دي غابښ دې دُرِ دَ زړونو قوت دي
درسته دې دا تنګه خوله دَ بلئې دَ جواهره

لام و بې ئې زلیبنه چه ښه ښکلې شي درپیښه
تل شکر وکاږه چه شکرې خورې شاکره

ډیر دَ ملک شاهان دي چه دَ کنیزلیو غلامان دي
تا دا قدرت ورکړ و دلبرو ته قادره

تل له ډیره خیاله خو پیښې کړي له خوشحاله
هم روغه هم جنګ کړي مهرژنه هم قاهره

POHA
پوهه

راشه مه کوه ډیر جور زه هم خوئې لرم یو طور
زه فرهاد دَ زمانې یم ته شیرینه دَ دې دَور
دَ غماز په خولې مه وژنې نه انصاف لرې نه غور
په خبرو دې پوهیږم زه لا نه یم هسې ثور
دما زړه لکه دَ باز دې که ته رنګ لرې دَ مور
ګوندې راشې په منګلو درته پروت یم لکه بور
په خوشحال څنې چارې
دَ غمزې په هور او زور

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په داغ راغلم له موره — خدائے مې مۀ کړه د غمه نوره
کم خدمت یم په خدمت کښې — ځان لا نۀ یم وینم هر کوره
کۀ زۀ هر څو کم خدمت یم — تۀ خپل شرم وته ګوره
خانه زاد بنده کمین یم — هم بے توانه هم بے زوره
توان او زور مې واړه تۀ ئې — بے تا نۀ پیږم په توره
بد غلیم راته په څو دے — له غلیمه مې وژغوره
تۀ شفیع د قیامت ئې
خوشحال وساته له اوره

شپه ئے وینځه بی بی نور — تور زنګی نوم ئے کافور
مرده شوئے چه منافق وی — مرجهود بولی مغفور
نادیده چه مُنیه لولی — ځان ملا کاندی مشهور
سفله ټول کا څو درهمه — تر خواجګانو شی مغرور
دروغژن تر ټو په ورشی — د کابل کاندی مذکور
خپله بل وته نیولے — په پردئ باندې غیور
پټے دکے پیالے اخلی — بنکاره مۀ خوره یو انګور
موحد د رسالو شه — تر ځان کوز ګڼړه حضور
د خوشحال سره خندا کړه
بیائے ژاړه په سرور

عمر هر زمان ګدا زکا لکه واؤرے — یا به ستا له مرګه واؤرم یا به واؤرے
هغه تیرباران به بیا بیا رته رانشی — کۀ په سر باندې زالونم تورے خاؤرے
بړبوکئ چه پوزے واخلی پورته دروی — نۀ پوهیږم چه به کوم لوری ته ماؤرے
زور د ځج د وهلو نۀ لرے نادانه — نۀ پوهیږم چه دا درونډ وړے په چادرے
په سمن د شهلا نقش د سیور زیب کا — په بنیوه چه سترګے کوږے له حیا ورے
دواړه سترګے مې چه ستا په مخ دوخته شوے — عجب بنۀ له ځانه دوه قبله نما ورے
د خوشحال غوندې به ډیر دا هسے نوروی — تۀ چه هسے رنګه زړونه رونما ورے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشق ترځوانه نه زورِ لاکاندی نسکور   په نچه وُنه لابنهٔ ګټیږی اور
اندرون دَ هرچا شین کا عشق په شین کړے   دا یو اوردے لګیدلے لور په لور
چه په عشق کښے خوک پیغور تړی په نورو   هم په دهٔ پورے به لګ وی دا پیغور
زاهد ورچانے انکار کاندی له عشقه   نل دَ من لیلیٰ مجنون لولی په کور
چه دَ مزکے دَ آسمان په مینځ کښے څهٔ شته   زهٔ همه وینم له عشقه سپین و تور
زهٔ حیران یم دامِ څهٔ دی په ګوګل کښے   چه په ورځ په شپه پرے تل وی شروشور
په وصال کښے سل هراسه دَ هجران وی   په هجران کښے خو غم پودے نهٔ وی نور

جهان واړه کورِ دَ عشق دَ محبت دے
په خوشحال بانډِ بانډِ ه شور نتبهور

فلک کا دا هسے چارے   دَ دهٔ چارے دی مردارے
دوه یاران سره جدا کا   بیائے بند کا سره لارے
ګاه دِ زړهٔ وی په ښادئ کښے   ګاه دَ غم ژړا چیغارے
ګاه دشوارے ګاه آسانے   ګاه آسانے کا دشوارے

دواړه توکی ګذران شی
بده دا هم نهٔ ده بارے

قربان دِ ترنامے شم محمّدهٔ پیغمبره
اول ثنا دَ خدائے بنائ بیا ستاپیَداوه غوره
آدم کهٔ دِ پدر دے په معنیٰ کښے ستا پسردے
تر واړو مرسلانو مقدمه موخَره
دَ نوحٌ نجات له تا وه دَ طوفان له امواجونو
ګلزار په خلیل اورشوستا له رویه اے سوورهٔ
چه خلاص شوله کُشتنه اسماعیلٌ مړنے قرباَن شو
چاړهٔ دَ دهٔ له حلقه ستا ارواح کړه لره بره
موسیٌٰ ته خرګند نهٔ وو وعیسیٰ ته ښکاره نهٔ شو
په قاب او په قوسین په هغه اسراءِ خبره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسیٰ په کوهِ طور دَ تجلّٰی طاقت رانهٔ وړ
تا ولیدهٔ دَ سر په سترګو خپل مولیٰ بهتره

کهٔ دِ زلفې نهٔ وے تارتار　　مابه نهٔ ژړل زار زار
ستاله خاره خاره عشقه　　په سینه کښې م خار خار
چه په تانے دَ زړهٔ مینه　　هغه تل ګرځی خوار خوار
زړهٔ دَ یار له لاسه مرینه　　بیا مدام وائی یار یار
تورے سترګے دِ کوابڼ کوندے　　بانړهٔ ستا وائی مار مار
ستا دَ شکرینو شونډو　　اشتیاق لرم بار بار
خوشحال ستاله مخه وائی
واړه بڼهٔ وائی څار څار

کهٔ هیڅ نهٔ وی چه ویل راشی له یاره　　تول دَ یار مهر په لاس راکړی ریباره
سره لاله په هغه مزکه شګفته شی　　چه خوبی دِ باندِ اوری له رخساره
دَ غمزے په تیغ م وژنی زهٔ دُعا کړم　　چه خما په خون نے مهٔ نیسے دا داره
چا وے خپل نتلی کښې چه نے په یاد وی　　بخته وخت دے چه نے ونهٔ ووځم له شماره
پوه شنه پانړے خپل بخت په لاس رانکړ　　خلق خوګلونه وړی له دے ګلزاره
په آرزو کښې هسے لیونے شی　　چه خبرشوم دَ عاشق سړی له کاره
کهٔ دَ دِ رست په سینه کښې دِ وب ګړم هم به سوزی　　چه سوختن نے په نصیب شو له روزګاره
په وژو دَ عاشقانو هسے زغلی　　نیم بسمل نے په ځان پریښوم له تلواره
چه نے ستا په کوځے ځائے ونیوهٔ نو موړ شو
دَ خوشحال خاطر له　　باغه له بهاره

کهٔ نین سوکړ په تن اغوند حلوا خوری　　خوآخر دَ مرګ سرے نے و به مرے
دا مستی به دِ تل نهٔ وی خوبه ګرځے　　په خمار سره آو بنتے سترګے سرے
چه بے شماره خزانے کړے سره تولے　　دَ دُنیا ارمان به بیا ګور ته ورے
ستا پخوا دَ طبیلو خښتن وګوره　　چه په ګور باندِ نے ګرځی غوا او خرے
همیشه ولے فانی دُنیا ګنده ده　　کهٔ ګنده ده ولے نهٔ تیریږے ترے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دُنیا خوږ دیر منئین هومره غم ژن شي　　جکي جکي راشه مۀ کړه مینه پرې

یو غفلت بل جهالت دریم شهوت دے
دَ خوشحال دَ ځان بلا دي هم دا درې

کۀ په خوله را سره جنګ کا هغه یار　　په زړه مهربانګا رنګ کا هغه یار
چه له ما سره راځي غاړه غړې　　خدای مې لرې له زړۀ رنګ کا هغه یار
هیڅ حاجت دَ تورې نشته ما نه بس دے　　کۀ مې مرګ وته آهنګ کا هغه یار
چه مثال ئې دَ جمال راته ښکاره کړ　　بیا به ما باندِ پتنګ کا هغه یار
چه ملنګ دَ مصلے غواړي خپل مخ ته　　عاقبت به مې ملنګ کا هغه یار
له هر چا سره خندا په ارت زړۀ کا　　خو په ما باندِ زړۀ تنګ کا هغه یار
مرصع بیسرِ دِ نور لرې په پوزه　　اکتفا په تور لونګ کا هغه یار
زۀ فقیر یم دے بادشاه کۀ باندِ بنائي　　کۀ ځما له یارئ ننګ کا هغه یار

رقیبانو وته نرم شي تر مومه
وخوشحال وته زړۀ سنګ کا هغه یار

کۀ په زړۀ کړې دَ خوشحال خبرې زبرې　　دَ دانش له کاره نۀ دي لرې برې
خلائق سره پیدا په تفاوت دي　　پوهې نۀ دي سره واړه برابرې
په زرګونو کښې یو دوه سړي خبر وي　　نورې واړه خلقې دي ناخبرې
لکه کار دَ خوئ خصلت په تفاوت دے　　هسې زیړی په ښائست سره دلبرې

دَ سیرت ښیبائي ښه ده تر صورته
چارې واړه دَ باطن دي معتبرې

کۀ مسجد ګورې کۀ دَیر　　واړه یو دي نشته غیر
یو مې بیا موند په هر څۀ کښې　　چه مې وکړ دَ زړۀ سیر
هغه ځائې په سیر ګرځم　　چه ترې نۀ رسیږي غیر
په احوال باندِ یو دوه شي　　ځکه نشته باندِ خیر

خوشحال یو دینې خوشحال دے
ورته ورک دے غیر وزیر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ مِ نوم پهٔ ژبه نهٔ اخلې هیچرې / پهٔ تش نوم به دِ هم سود کوم دلبرې
دَ زاهد دَ سترګو آب هومره په ځائې دې / چه ئې سترګې باندِ نهٔ دي برابرې
دَ ښادئ نوم پرې زور دې تل تر تله / چه په زړهٔ ئې ستا دَ غم شیشئ شي سرې
زهٔ به څهٔ ځنې مانړهٔ کړم یوزهٔ نهٔ یم / په غمزه ئې خلق کړلې ډېرې
دَ بڼړو سورې ئې خار په پښو خړخیږی / له حیا چه کوز کوز ګوری ناز پرورې
شونډې ستا لکه نبات هسې خوږې دي / تریخ ویل ځنې نهٔ ښائي لب شکرې
وائي شته په چین ماچین کښې کښلې ډېرې / خدائې دِ نهٔ کا چه تر تا به وی بهترې
بې خبر له ځانه ډېر ورته پراتهٔ دي / تهٔ ئې هم په حال خبر شه بې خبرې
دَ ختا دَ ملک نافې وارهٔ خجل شي / چه دَ تا زلفې ښکاره شي معنبرې

کهٔ دِ چیرې دَ آشنا په لور ګذر شي
دَ صبا باده ځما سلام پرې ورې

لکه کار لری نظر / هسې ژبه کا اثر
ماهیت ئې مونډهٔ نهٔ شي / چه څهٔ څیز دې دا بشر
هم ترکیب دَ نیک و بد دې / هم محجون دَ خیر و شر
هم فرښته دې هم حیوان / هم مومن دې هم کافر
کله اور کله اوبهٔ شي / کله تورهٔ کله سپر
کله خوړب شي له بادهٔ / کله بیا به هیڅ ړنګر
لکه دې دې په جهان کښې / بل به نهٔ وی دیده ور
دَ څلوړو میندو خویه / دَ اتو پلارو پسر
څهٔ خو لږ تر خدائې راکوز دې / کهٔ ئې نهٔ دې برابر

دا وچا ته کړې خوشحاله
دَ مستئ شور و سر

لاس په لاس موسره وکړلې څهٔ چارې / چه پرون مو تورمنګور وژلهٔ په لارې
دواړهٔ ښځې له تا نیول له ما اخستل / زهٔ به پاس په سترګو کیږدم ستا پائزارې
څهٔ اغزی لړې په مخ کښې زړهٔ مِ سکنړې / اې په تور بانړهٔ ځما دَ زړهٔ ګی خارې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



رویت والی به ئې خوښنا صفت کړم     چه صبا کړې دَ غنچې پاڼړې ویزارې
چه ام پاس په غاړه پروتې څنډېدلې     بنې وی ستا مختولې زلفې تار په تارې
چه په تا باندِ ئې جوړ کړم زړهٔ مِ بندهٔ شی     نوم دَ حورې دَ پرئی اې نګارې
غرول ئې هم و تا و ته بنکاره دی     چه دا تورې سترګې تهٔ لرې خونخوارې
زهٔ کوم کهٔ تهٔ شکنځل کړې لا خوشحال شم
چه کومه ستا دَ مخ زیبا ننداره

لیونی سره به څهٔ کړې نور تدبیر     لیونی لره زندان بویه ځنځیر
دَ مازړهٔ ئې په حلقه دَ زلفو یوړه     لکه لوئې ماهی په شست دَ ماهی ګیر
کهٔ خوبنی ده په جهان کښې دَ لیدو ده     نهٔ خوبنی دَ بادشاهئ دَ سریر
کهٔ یوسف ئې دَ کنعان له چاه و کیښ     په نیک بخت ستوری زووله وو بشیر
دَ شکرو په دُکان هندو بچه دے     کهٔ تور خال دے ستا په سرو شونډو جاګیر
دَ بهار په وخت په بوړه دَ سرلئ ګرځم     نهٔ په بوړه دَ کابل او دَ کشمیر
دَ لنډی اوبهٔ هغه کنړه خوشحاله
چه یادیږی په جنت کښې جوئے دَ شیر

مرد به نهٔ شے په ګفتار     څو پیدا نهٔ کړے کردار
چه دِ وکنځی مرد نهٔ ئے     کهٔ له تا نه وی په ډار
چه څهٔ دے خوانتقام دے     پوړ دَ مردانو کاروبار
عفوه هور ته ځائے لرینه     چه نهٔ عیب وی نهٔ عار
چه عزت ورځنه نهٔ وی     هغه مرد نهٔ وی پکار
هم مهره لری هم زهر     بنهٔ مردان وی لکه مار
چه هم تندر هم باران دی     تر هغو مردانو ځار
مرد به غم دَ خپل هُنر کا     نهٔ دَ زر نهٔ دَ دینار
مرد به غم کا دَ خپل شرم     دَ عزت دَ اعتبار
نامرد فخر په نسب کا     مرد نهٔ مورلری نهٔ پلار
دَ خوشحال خبرے ګوره     لعل و دُر پیئ په تار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمه شپه م په پالنګ راغله دلبره ۔۔۔ پری رویه عنبر بویه سمن برے
رنګینه جامے اغوستے زر نګارے ۔۔۔ سَرَه درسته تجلّیٰ وه پا تر سره
په سپین والی دَ مخ سپین لکه مومنه ۔۔۔ په توروالی دَ طُرے لکه کافره
سرے تور بنیښه په لاس باده ئے ښنبلی ۔۔۔ دَ مستیٔ په خپل ځان نهٔ وه خبره
دَ پاتلو او دَ ښوری ئے شرنګهار شو ۔۔۔ زړهٔ له خوبه راپرتاب شوم ډیر په ویره
ما دے ګوره بنا پیریٔ وه که حوره ۔۔۔ چه دا هسے شان په ما شوه برابره
تورے وروځے ئے لیندہ بانړهٔ ئے غشی ۔۔۔ غاښ ئے دُر قیمت بها په لب شکره
په خندا خندائے دا ووے وما ته ۔۔۔ چه وما و ته نظر کړه بے بصره
تهٔ ما نهٔ پیژنے زهٔ هغه خوبا یم ۔۔۔ بله نشته په خوبیٔ تر ما بهتره
عاشقان ځما دَ خولے په کلی ډیر دی ۔۔۔ بختورئے چه م وینوے په غوره
خوبوسے ئے دَ لبانو وما راکړے ۔۔۔ حقیقی پیاله ئے راکړله احمره
درسته شپه موسره راز په پالنګ وکړ ۔۔۔ دَ وصال خوښیٔ ئے لا نهٔ وه تر سره
چه آواز دَ مؤذن دَ آذان وشو ۔۔۔ په سحر له مانه ولاړه نازپروره
چه په ډیر ارمان محبوبه ځنے درومی ۔۔۔ کشکے شپه دَ خوار عاشق وے بے سحره

چه له هسے محبوبا خوشحال جدا شو
دَ آتش لمبے ئے دروی له بستره

نهٔ م لاس رسی په یار ۔۔۔ نهٔ طاقت دَ انتظار
دا ستم په ما خپل یار کا ۔۔۔ کهٔ ګردش دے دَ روزګار
پکښے ستا غمونه ځائے دی ۔۔۔ کهٔ یو زړهٔ دے کهٔ هزار
تر وینتهٔ ضعیف وجود م ۔۔۔ ستا دَ زلفو دے یادګار
غم دَ یار دَ بیلتانهٔ دے ۔۔۔ چه تر هر څهٔ دے دشوار
خپلے او ښکے م دریاب شوے ۔۔۔ پکښے نهٔ مومم کنار
چه م تل په دیو زورے ۔۔۔ ستا په شونډو لرم کار
چه خوک سوزی هغه سوزی ۔۔۔ هم پتنګ ګوره هم نار
ځما زړهٔ څهٔ آسان نهٔ دے ۔۔۔ چه ئے وړے نهٔ ترس نهٔ ډار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بوسے وعده دِ وکړه
زهٔ خوشحال لړم تلوار

ننګیالی قبلوی ګور
ګورخونهٔ دے رنتبهـور
لس په کال پړے ننوزی
خپے ووځی درے ځلور
مور زادی بلا پروټ یم
چه بلا هورے م کور
ننګیالی دَ ننګ دپاره
په هرځهٔ لګوی اور
سر په باد دَ سړی پریوزی
چه ئے نهٔ وی ژوندون نور
چه په نام وننګ اړنهٔ وی
کهٔ تل شړوی مخ ئے تور
دَ جهان بلا دِ کل وی
خو دِ نهٔ شی ولی سپور
سرپه دار لک شوٓبنهٔ دے
نهٔ لک شوے په پیغور

په همت سړے پرده دے
نهٔ دَ مست هاتی په زور

نهٔ دَ مادَ هُنرشته څوک طلبګار
نهٔ دمادے دَدے ملک هُنر پکار
په یوه ژبه ویل سره پښتو کړو
ولے هیڅ خبله نهٔ شو خبردار
چه دَ سوات په ملک ماننداره وکړه
بل اُولس تر یوسفزیونشته خوار
زور زیاتے خود پسندی خصلت دواړو
هرسړے ئے طمع خواست وته تیار
کهٔ په کورکښے مال دولت لری سترګ ورږی
ملکان ئے لا تر نورو دی مردار
حقه چاربه دَ عزیز کا ندی ناحقه
کهٔ په بډے رشوت مومی یودینار
خټکے له خټکی نه رنګ آخلی
عالمان شیخان ئے لادی نا پکار
چه م ولیدل له نورو خبرنهٔ یم
داخو واړه یا غوایهٔ دی یا حمار
داپه هردیارکښے سیل هم بدنهٔ دے
چه خوشحال وته ځرګند شو هرا سرار

چه دَ سوات دَ سیمےخاوړےخوشحال بوئ کړه
یو سړے به ځنے نهٔ وی وفادار

نخبنه نهٔ ولی همیش لیندے په سر
کله مینځ کله بنے کینړ کله لر بر
دایو لحظه دَ هوښیار غلطی نهٔ وی
یا هرګز دَ لامبوزن نهٔ وی خطر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زمان کښې به خپل ځان ترهرچا ښۀ کا — دَسړی کۀ لاس رسیږی په قدر
بخته چیرے به له ورایه راښکاره شے — چه مِ ښۀ ترعراقی شی لاشه خر
دانشمند په خوارئ خوارجاهل کامران دے — دَ سړی طالع پکار دے نۀ هُنر
هنرمند سړے په هر دیار عزیز وی — په هرځائے قدروقیمت لری سرۀ زر
دَ بلبلو په کار گل دے نۀ دا نور څۀ — په چمن کښے خار وخس بلا بتر
چه دَ زرکو ښکار په غرۀ کښے پیدا کیږی — باز په دا سبب نیولے دے لوئے غر
اول فکر دَ زړۀ وکړه بیا ویل کړه — کاتبان دَ ښکو یخوا وهی مسطر

هیڅ خبر دَ ورځو شپو په حساب نۀ دَے
همیشه ښۀ دَ خوشحال خټک اختر

وخت دَ نوبهار دے زۀ جدا له خپله یاره
دریغه دریغه چه بے یاره ځئے بهاره

ژاړی غاړے غرونه په احوال دَ عاشقانو
سیل دَ واؤرے نۀ دے چه را درومی له کهساره

اور دَ خوږو زړو دے چه دَ غرۀ په ونو بل شو
سرے ږدوزے خیژی له نښتره له چناره

غواړے چه احوال دَ فراق ژ نو درمعلوم شی
گوره هغه زانړے چه جدا ځی له قطاره

داسے معلومیږی چه احوال دَ ماتم ځائے دے
ښنے جامے اغوستی دَ طوطیانو له چغاره

نورے نارے نشته خو نارے دَ بیلتانۀ دی
راشه کۀ دے آورے دَ رباب له هره تاره

رنځ مِ نۀ کمیږی په زمان زمان زیاتیږی
زر راځه طبیبه گنړه مرم دَ خدائے دپاره

مرگ دَ رقیبانو بل ژوندون دَ حبیبانو
خدائگو په هنگام دَ وصل کیږی دا دوه کاره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځۀ شوکۀ لا دم وهې په شمار دے دَ ژوندیو
زنځ چه لا دواشی طمع پریکړه له بیماره

یا تے سړی نۀ شو چه داګرځی ددو دام دی
ښکه ویره نۀ شی دَ دردمنو له آزاره

هسے خوار و زار شوم زه خوشحال په عاشقۍ کښے
خپل دی کۀ پردی دی راته نۀ ګوری له عاره

ولے په کوڅه دَ هغه یار نکړے ګذر ورلره دِ بولی تۀ لا ګرځے در په در
خاورے دِ په سر شه چه به ورپه ورځار وځے زده کړه دا خبره دربه درخاورے په سر
یار دِ په ښائست کښے د بهار تر ګلو ښۀ دے ولے نے له مخه لاله ګل ته کړے نظر
هرچه تۀ نے غواړے هغه یار درته حاضر دے دواړه سترګے وخوړے هیڅ په ځان نۀ نے خبر
دایم درته وایم ستا بدخواه نۀ یم نیکخواه یم فکر دَ توښے کړه چه په خوا لرے سفر
زرګے تورتارو تمزری هر لوری ته ډیرے دی هسے باز درنځه تانے وتړل شهپر
تخم شته هم مزکه هم قلبه لرے تیاره هر اسباب دِ جوړ دے ولے نکړے کار دَ کر
ګانده به حساب وی مو بهو سوال ځواب وی ځۀ دِ پکښے کښلی را شه ګوره خپل دفتر

مۀ وسه بے غمه غلیمان لګی له هم
فهم کړه خوشحاله چه دا لار لری خطر

ودره چه ځۀ خو په یارۍ شے خبره ګوره به چه ځۀ بنیوه په لاس واخلی دلبره
لا دِ ځۀ تراوسه هغه قد نۀ دے لیدلے ښکه دَ خپل قد په لا فو سرے صنوبره
ځانے دَ چپ و راس چه دَ کافور دپاسه نۀ دے تۀ نے ځۀ سیالی له تور و زلفو کړے عنبره
ځوک چه نظر وکا هغه بنۀ بشکلی دلبرته ځی له ډیرے مینے دَ یوسف سورۀ کا زبره
تۀ نے چه دَ مخ سره نن شپه برابری کړے شمعے! دا دعوه ترصبا یو سه برابره
مینه هسے ځیز ده چه په ځا بانډ مښین شوے ولے وینځه نۀ وی ترې بې شی په تا بره
لارے دی بے شماره زرکوځے دی ترمعشوقے ځو به پکښے دروے قدم مۀ بزده بے رهبره
مۀ پریږده له لاسه کا روبار دَ عاشقۍ چارِ دَ عاشقۍ ترهرځۀ ده معتبره
هره شپه چه دروی په خوشحال بانډ دوزخ ده شپه دَ جدایۍ ده کۀ رسیږے پیغمبره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه ګوره شوے همګی دَ دُنیا چارے
چه لیدۂ م هسےنهٔ دی واړه چارے

خوٴئے پلار سره کا رونه دَ غلیم کا
لونړه مورته لګه بنے دی تیارے

چوهړی پلاؤ شولے خوړه حلوا خوری
په سیّد باندِ حلالے دی مردارے

باوړی دَ بادشاهانو لګه غلهٔ شول
رهزنان ئے په دربار کا څنے چارے

بلبلان طوطیان حیران په بیابان ګرځی
په ګلزار باندِ کارګان کاندی چغارے

په وبنو دَ عراقیانو ژواک ژوندون دے
را تبونه وهی څو یه دَ حمارے

نادان خوبن بے غمه خوب په فراغت کا
په هوښیارو باندِ راشی شل دشوارے

په څښتنو باندِ حکم کا مریونه
تر میرمنو نه تل وینځے دی رونیدارے

په دوران دَ عالمګیر بادشاه خوشحال
خانه زادے واړه بڅرے لری خوارے

هر ساعت چه په چاڅئ هسے بیکار
تر هغۀ نه زهٔ لا بنهٔ ګڼړم بیکار

زغوران کهٔ کاروبار نهٔ کا معذور دی
روغ سړے به ولے نهٔ کا خپل روزګار

کهٔ هیڅ کاروبارِ نهٔ وی درته وایم
هسے مهٔ کښینه بیکاره نا پکار

په هرڅهٔ چه غم غلط شی واړه ذوق دے
کهٔ په نردکهٔ په شطرنج وی کهٔ په ښکار

سړے هر ساعت هر وخت په بل بل حال شی
همیشه په یوهٔ حال دے کردګار

ستا به نوم په جهان پاتے شی خوشحاله
یوه لو یه مشغولا دهٔ ستا دکار

هوسئ سترګے لب شکرے
په غابنو ئے مرغلرے

تا به ستایم په څو رنګه
ستا ثنا دَ مخ دلبرے

چه جمال وته دِ ګورم
حیرانیږم سمن برے

خوئ دِ نن راسره نور دے
دم واههٔ نهٔ شی له ویرے

ذکر ستا دَ تنګے خولے دے
رنګینه پری پیکرے

زړهٔ چه ستا سره یاری کړی
سلامت به وُسی چرے

شور دِ ګډ کړیه وکړی
صبر وړونے شوروشرے

صبر وړے چه له تا دور شی
طربناکے نازپرورے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهر نن له تا جدا یم — عین ما ته برابر ے
قامت سم لرے تر سروِ — کج کلاهے کج عرعرے
لرے مهٔ درومه له مانه — مخ یه ما کړه مخ قمرے
نور به ستا له دَره نهٔ ځم — وینا داده پرده درے

هرچه ستا رضا هغه کړے
خوشحال ونیوے یه غورے

یو دا هسے بنهٔ بهار — بیا پرِ صوت دَ هزار
څوک سوارهٔ په عراقیانو — تر چا لاندِ بنهٔ رهوار
په لاس ناست خاصه بازونه — په هر لوری خاصه بنکار
بنهٔ کرجی وړاندِ نیولے — دَ بازونو سره یار
بنهٔ تازی په ړور ترړلے — پړانګلے په وار وار
زړهٔ فارغ له هره لوریه — پکښے واړه خیال دَیار

تر دا هسے بنهٔ هوس به
زهٔ خوشحال کړم دُنیا ځار

اے چه لافے دَ رنځور دَ رغیدو کړے — دَ خیل کلی رنځور روغ کړه ما به څو کړے
نور به ستا په رضا ځم توبه وکښلے — څوک هٔ دا ځله ځما ګناه ترپښو کړے
یوه ورځ به په مرګی سره جدا شو — یاره تل دَ بیلتانهٔ خبرے څو کړے
تور باڼهٔ راته خښے په دا پوهیږم — یوه ورځ به مِ په دا تیرو نیزو کړے
دَ تیراه اوبهٔ دِ وخښے خوئ دِ نور شهٔ — آفریدی غوندِ خبرے دَ اولجو کړے
چه په زړهٔ نے کرخوم په تا معلوم دی — تر و یتی غوندِ ویل پتوله دَ زړو کړے
ستا په خوئ م ویره شی ظالمان ځوان مرګ — له آزاره ویره اوکړه ظلم څو کړے
کهٔ دَ غشی په ویشتهٔ سره خوږیږے — زهٔ چه ستا په تیر زخمی شم ما بخښو کړے
ولے تا وته به وکړم اوس بنکنځلے — لا به کله دا نبات په ما پیرزو کړے
دَ طوطا خبرے هم دا هسے نهٔ دی — په بند بند دِ مشغولا ویل رورو کړے
ستا په ډیر ماڼری به حال دَ خوشحال څهٔ شی — چه په لږ ماڼری نے ډیر په اندیښنو کړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا وماوته غمزے نګارے وکړے — دَجلاد ترتیغ ئے لاخونخوارے وکړے
چائے شمار دَ زلفو هیڅ نهٔ کړ ترسره — دَ تار تار ئے عاشقا نو شمارے وکړے
چه دلبرے لره دردمی یوه لار ده — مشتاقانو پسے ډیرے لارے وکړے
په نری آواز کانړهٔ دی نهٔ خبریږی — خُکه ما هومره په زوره نارے وکړے
څوک چه سترګے غړوی ترهغو واړه — ما په پټو سترګو ښے ننداره وکړے
څوک خبر ورځنے نهٔ دی خو ماهم زده — چه ئے ما په دوؤ رخسار و چارے وکړے

تهٔ چه ډیرے آشنایئ کړے خوشحاله
په هرلوری دِ دَ غم اجارے وکړے

په څهٔ شان ئے دواړه زلفے کج په کج کړے — یکباره ئے دَ عالم مینے په بج کړے
تورے زلفے ئے زنځیر مخ ئے کعبه دے — دا ځنځیر په لاسو ونیسه کهٔ حج کړے
کهٔ یودم دِ دا زنځیر په لاسو کښیوزی — همیشه به دَ خپل زړهٔ په حال فرج کړے
بیا هالهٔ دَ یګانګئ له حاله لاف کړه — کهٔ دَ غیرو اندیښنے له زړهٔ خرج کړے
زهٔ ترنام و ترننګ تیر شوم ستا دپاره — ته به څو خُما دَ کار له پاره بج کړے
قند وګل چه یادوُم مقصود مِ دا دے — څو بوسے کهٔ له کنځا سره مزج کړے

ما خوشحال له خپله ځانه خاطر موړ کړ
چه دا هسے دَ غمزے په تیغ حرج کړے

په سرو شونډو دِ بازار دَ شکرمات کړ — تورو زلفو دِ ناموس دَ عنبر مات کړ
چه دَ صبر په آهن مِ وتړ لے — تا دَ زلفو په حلقه هغه ورمات کړ
چه ئے ستا دَ خط وقد ننداره وکړه — صورت ګرو مِ پرکار و مسطر مات کړ
سحرګرو اوس دَ سحر دُکان ونغښت — دواړو سترګو دِ دَ سحر هُنر مات کړ
په دا دوه سوارهٔ دَ مخ یعنی ستا سترګے — تا مِ درست دَ پارسایئ لښکر مات کړ
په هوس هوس راځے طره پرنیښے — ګوره بیا دِ دَ چانوے سنګر مات کړ
چه آرزو لرم په زړهٔ کښے ستا دَ وروځو — دے آرزو مِ په خیګر کښے خنجر مات کړ
تا وے نور به قول مات نهٔ کړم سوګند دے — په سوګند سوګند دِ لاځهٔ بهتر مات کړ
په بار خودِ مار حلقه شو کهٔ صهبا مِ — ستا دَ تورو زلفو خولے وته سر مات کړ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما توه دَخوشحال زړۀ بيابه ووائے
چه م ځۀ لره داسے گوهرمات کړ

په داشکر چه ئے بوئ بنکاره آتش کړ | آگو درست صورت واوروته پیشکش کړ
زړۀ پچپله هغه مخ لره لاړه نۀ شو | د زلفینوئے هرکار ورته دلکش کړ
دا بےغش شراب دَ کومے میخانے دی | چه ځما دَ زړۀ ئے لرے غل وغش کړ
لیونتوب ئے مُبارک شه تل تر تله | چه ئے یار د زړۀ په غوره پریوش کړ
په یاری ئے مزناحقه نازیدلم | بیهوده م په سراب دَ اوبو اش کړ
مشوش کړه روزگار دَ پرهیزگارو | چه کاکل ئے په جبین رامشوش کړ

ماوے سپینه خولۀ به درکړے وخوشحال ته
په خندائے له ناخواله ینج وشش کړ

په خوانانو پورے پیچمے کا ولاړے | تۀ په سپینه ږیره خولۀ ورځنے غواړے
دَ خوانئ هوس مۀ کوه چه زوړشوے | اوس له تانه دَ خوانئ چارے ولاړے
تیرساعت به دِ دَ عمر بیا رانۀ شی | ورځ و شپه کۀ په زار زار ورپسے ژاړے

کۀ ئے بیا له مزکے اخلی سودئے کوم دے
چه له خولے په مزکه پریوزی دچا لاړے

پارسائی ئے دَ پارسا له لاسه یووړه | دانائی ئے دَ دانا له لاسه یووړه
چه م کړے وه توبه له مےخوری | په چشمانوئے دَماله لاسه یووړه
معجزه چه دَاِحیاء ده په دوه لب ئے | لاس په لاس دَ مسیحا له لاسه یووړه
دلبرانو چه دعوی دَ دلبری کړه | دا دعوی ئے دَ هرچا له لاسه یووړه
راته پاتے دا یوه مُسلمانی ده | دا م هم هغ ترسا له لاسه یووړه
ماوے زړۀ به دَعشق رازلرم پۀ زړه کښے | داخبره م ژړا له لاسه یووړه
چه دَ زړۀ صبر دَ یار له مخه غواړم | محبت م دا دُعا له لاسه یووړه

کۀ دَ نورو هوښیاری په عشق کښے بس وړی
دَ خوشحال ئے لا پخوا دَ لاسه یووړه

Poha Foundation
A.S.KB

تهٔ پسوَد دُنیا مینے مُبدل کړے — فکر نهٔ رسی هورے پسے جدل کړے
هره ورځ دَ دے فانی دُنیا دپاره — زر فتنے الا بلا دغا دغل کړے
کهٔ دِخپله مُدعا پکښے درستیږی — بے صرفه به او ردَ پلار په خونه بل کړے
کهٔ کافر درته دَ سود خبرے وکا — دَخپل سود دپاره ځان دَ کافر مل کړے
کهٔ دِسل چارے دَ زړهٔ واړه پوره شی — په حرص به دوه سو نور ورته تکل کړے
کهٔ دَ عمر بقا نشته واړه هیڅ دی — کهٔ ګنجونه دَ قارون په کور کښے تل کړے
چه په دواړو سترګو ړوند په غوږو کوڼ شوے — لال په خولهٔ غفلت په لاسو پښو هم شل کړے
په ښیڅهٔ کښے دِ دَ ځان رستګاری ده — تهٔ په دا کښے هم په څو رنګه خلل کړے
کهٔ خلوردی کهٔ ښیځهٔ کهٔ شپږ اُوهٔ دی — له اصلی چاره دِ ئے واړه معطل کړے
ښے خوږے چارے دَ دین درته ترخے شوے — نفس ترخے چارے وتا وته عسل کړے
عاقبت به دِ دَ کور په خا ورو خوب وی — چه ئے اوس په نهالئی او په مخمل کړے
ستا پخوا هم دَ دُنیا طالبان نور وو — چه ئے مینے تار په تار خورے اجل کړے

بهشت ځائے دَ پرهیزګارو دے خوشحاله
تهٔ بهشت وته هوس په کوم عمل کړے

چه مې زړهٔ دَ مال و ملک په هوا نهٔ ولاړ — کهٔ په ښنګلیو پسے لاړ شو به چه به نهٔ ولاړ
عقل و هوش صبر و آرام ورپاتے نهٔ شی — دَ هرچا چه په دلبرو پسے زړهٔ ولاړ
هرچه خوږ دَ کښلی مخ په مینه نهٔ وی — دَ جهان په مخ او دهٔ راغے اُو دهٔ ولاړ
هم مې زړهٔ په غمزه وړی هم ځان نادان کا — راته وائی وا یه بیا دِ زړهٔ په څهٔ ولاړ
محبت دَ کښلی مخ څما په زړهٔ کښے — باور و کړه لکه اور په وچ وابهٔ ولاړ
دَهجران په شپه ئے درست تو کړ تو کړ شو — په ژړا ژړا مې زړهٔ تردوه لیمهٔ ولاړ
هغه یار راځخه واڼے هرګز نهٔ وو — هیڅ مې نهٔ زده کهٔ همیش راسره وهٔ ولاړ
هر زمان به ئے شا راته په ما نړی وه — یوه ورځ بے غمه نهٔ وو تل تل تهٔ ولاړ

نور به بیا په بیا رته رانشی خوشحاله
ګذشته عمر په سر لکه او بهٔ ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library
POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه م بنهٔ تروېت د خپلې چارې خیر کړ — خان م واړه حبطه په خپل تدبیر کړ
لکه واچوې دانه د دام په مېنځ کښې — خلقو ماسره په مهر کښې تزویر کړ
ما په دا سترګو لیدهٔ د دُنیا خلق — څوک دېر د دُنیا سود هومره ځې وېر کړ
مور زادې کانړهٔ هرګز نهٔ هوښیارېږي — نصیحت په تور زړهٔ کې کله تاثیر کړ
په نابوه باندې غمه بې غمې ده — د دانا آفت ځې خپل ضمیر منیر کړ
راشه وګوره یوګز مزکه نیولې — چه ځې مټ د خپلې خوڼې په توفیر کړ
د ارمان لاسونه مړهٔ مړې په ګور کښې — چه مو ولې په نیکئ کښې تقصیر کړ
د هرچا م خپل هنر بلا د ځان دے — خپلو پړونو په خزه بندي کجیر کړ
چاځې وصل په خپل مټ حواله کړې — چا د هرې چارې حکم په تقدیر کړ
لیونی د لیونتوب په سبب بند شي — مست هاتي خپلې مستئ په زنځیر کړ
په باربار د خپل اُستاد منت راباندې — چه له زنګه ځې صفا خما ضمیر کړ
د زړهٔ ښهر م په ځاځې د قناعت دے — په ناحقه م حرص پکښې امیر کړ
کهٔ ویل ځې د غماز منلي نهٔ دي — بیائې ولې له حیرانه زړهٔ دلګیر کړ
پوره زر اتیا کالونه په کابل کښې — دا غزل م په بیاض باندې تحریر کړ

د خوشحال د زړهٔ خوشي نهٔ شي بې سرایه
خپل وطن ځې په هرچا باندې کشمیر کړ

چه م ولیده په خپل انګنړ ولاړه — ما په تیکې سترګې بیا موندهٔ بیا ولاړه
کهٔ بنهٔ مخ وته کا تهٔ کول ګناه دي — دا ګناه دې دي دایم دما په غاړه
یوځهٔ یځن زړهٔ ځې راکړ هسې وایم — چه دماوې د جهان دلبرې واړه
زهٔ جدا له یاره کُم خیر ناصحه — په ژړا کښې راته وایه خیر غواړه
د بنهٔ یار په جدائئ کښې ګرم نهٔ ځې — کهٔ دې دواړه لیمهٔ ووځي لاهم ژاړه

د طوطي خوراک شکرې دي خوشحاله
جګي جګي څهٔ خو ورکړه د خولې لاړه

چه دا هسې بې نیازي کوې دا بنهٔ کړې — زهٔ به نور یاران پیدا کړم تهٔ به څهٔ کړې
د بل څراغ غوندې په شپه د هجران راشه — چه په راغله م روښان دواړه لیمهٔ کړې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله مانه نوره مهٔ کړه د زړهٔ مينه نور م کل واړه منلی دی چه تهٔ کړې
دما زړهٔ ورځنې صبر وو چه ګونګ دے نن ځما طوطا يو ښو خبرے وکړے
په ژوندون له مانه مهٔ ځه د يار غمه تهٔ به سم ځما له ساهے سره تلهٔ کړے
ګوره بيا دِ ځهٔ په زړهٔ کوم م ګناه دے چه ليد ولره دِ درشم ځان اُودهٔ کړے
د غمزے تُوره دِ ماته شه په ما کښے غم م دادے پس له ما به نور بے مړهٔ کړے
واے ستا په عيادت ځما رضا ده مګر و مرم هاله سر دما په ورهٔ کړے

چه تر خولے د بيلتانهٔ ويل وباسے
د خوشحال ختک روزګار په اوراوبهٔ کړے

ښوئے بوئ په هر طرف بهير ونهٔ کړ په ګلونو عندليب نفير ونهٔ کړ
ځما او ښکو کانړی هم په مخه يو ړل ولے ستا په زړهٔ ئے هيڅ تاثير ونهٔ کړ
په ژړا په بے صبرئ کهٔ ليدل مو مم ما په دواړه توکه هيڅ تقصير ونهٔ کړ
په خندا خندا دِ مرګ وته نږدے کړم ترو دِ څهٔ رنګه په ما تزوير ونهٔ کړ
خولا زهٔ يم چه د غشيه نه دِ درومم ګنړه هومره مټ به تور نخچير ونهٔ کړ
مګر زهٔ سهل غوځهٔ وُم ستا تر فهمه چه ځما په مرګ دِ هيڅ تکبير ونهٔ کړ
اوس به څهٔ رنګه خلاصيږم له دے غمه چه لومړے م د خلاصی تدبير ونهٔ کړ
د کعبے په لار به څهٔ رنګه بری کړے چه هرګز دِ يوه شپه شبګير ونهٔ کړ
په صورت به دِ تل دير وی پس له مرګه کهٔ د ځان دِ په ژوندونی ويرونهٔ کړ

زهٔ خوشحال چه سر و تير ځم ستاله تيره
هيڅ ارمان دِ د غمزے په تير ونهٔ کړ

ښو بيږئ په دا سيند کښے ډوبے لاړے چه تخته ئے مونده نهٔ شی کهٔ نهٔ غواړے
فراق هر څهٔ ته لمبے دی لګولی لکه لوند لرګے په اور ايښے ښو ژاړے
غم بنا دی سره ترلی دی له ځا يه هغه هومره به وژاړے ښو وياړے
چاے نوم راته وانهٔ خست چه د چا دی منارے م ډيرے وليدے ولاړے
په هزار رنګه غمونه د جهان شته په زر رنګه نارے واؤره د خراړے
لکه راے ځما د زړهٔ هغه لا نور دی خلق ښو خبرے کاندی غاړے غاړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



داطومار خهٔ هسے نهٔ دے چه تمام شی　　غوړوے نے پتوے نے لولے نغاړے
دین دُنیا لره کوده خپله کرده دهٔ　　لوندوی حلق د هر سړی په خپلے لاړے
چه بے غمه بے وباله نے خوارهٔ دی　　دَ بادشاه ترخوا نه به کنږم جنجاړے
غافلان په غوړ کانړهٔ دی نهٔ نے آوری
دخوشحال خټک دَ خولے خبرے لواړے

خدائے تعالیٰ یو هسے فکر راکړ　　چه نے ملک راته رنړا کړ
چه په ملک په ملکوت دی　　پرے خبر نے زړهٔ دما کړ
په اعلیٰ په اسفل واړه　　راښکاره نے هر اشیا کړ
کهٔ په نورو توره شپه ده
په خوشحال نے سپین صبا کړ

داچه وائے چه ډیر مهر به فلانے کړے　　به یارئ دِ رضانهٔ دهٔ بهانے کړے
ستا وصال به دُعا غواړم نهٔ نے مومم　　ما به ډیر ورتلهٔ راتلهٔ سترے ستانے کړے
زړهٔ مِ ستا وتیرِ ته نغښه دے قتاله　　پرے به کله جوړ دَ غشیو بړخانے کړے
چه جمال وته دِ گورم حیرانیږم　　خدائے به ما بانِدِ یوسف دَ زمانے کړے
سحرگر به سحر توړے او به پرنړ کا　　تا خُما او ښکے به مخ دانے دانے کړے
زهٔ چه شونډے ستا به شونډو باندِ کیږدم　　وایم نوشے مِ دَ میو پیمانے کړے
خُما زړهٔ لکه زمرے ؤ خاوند خدائے مِ　　ستا دَ سترگو وهوسیو ته ژړانے کړے
دَخوشحال په دود به ستا دَ ژړه پراته وی
چه په ښنوے ستا دَ زلفو خُولانے کړے

داچه وائے چه دا بد کړے یا دا ښهٔ کړے　　کهٔ رښتیا وایم زهٔ نهٔ یم واړه تهٔ کړے
چه په بین الاصبعین زهٔ خبردار شوم　　په لحظه لحظه کښے خهٔ چارے په زړهٔ کړے
په خطا باندِ عطا په طاعت قهر　　چه په وهم فهم نهٔ وی هغه وکړے
داچه اوس دوا پرو خلقو ته رسیږی　　چه دِ کړی په ازل دی هغه کړهٔ کړے
دَ هر چا په باب چه شوی هغه کیږی　　په هیڅ رنگ به خپل مبرم حکم نورنهٔ کړے
چه بیگاه ډکے په شهدو په شکر دی　　په صبا دَ هغو خولو خاؤرے به خولهٔ کړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هر دم دَ العطش نارے وهینه
په ساعت ئے دَ مقصود په رودا وبۀ کړے

په یوه مزکه یوۀ باغوان کرلی
عباسی ګلونه زیړ و سپین و سرۀ کړے

دَ سحر ګټهنه ډیره تر هر څۀ ده
غنے څنے ورته ویښ څنے اُوده کړے

چه په تور و یښتۀ مغرور یه خپل پرهیز شی
دَ صنعان غندِ ئے خوار په سپین ویښتۀ کړے

آلوده لړلے درغے درګاه ته
هیڅ مِ نۀ زده چه به حالَ دَ خوشحال څۀ کړے

دَ الف غوندِ ئے ته په قامت سم کړے
خدائے خما دَ زړۀ په سرباندِ رقم کړے

مخ به چیرے راته سم کړے په یاری کښے
کۀ داخوئ به تل خما دَ عمرہ سره سم کړے

دا ګلزار دَ هیڅ ګلزار سره سم نۀ دے
چه زلفینے په سپین مخ راته خم کړے

دریو هیرِ مِ چه مِ سره ته په څو ئے
کۀ هزار خله خما په سر قسم کړے

چه له دم سره مِ کښته پورته کرځے
ته په ما باندِ داچارے په کوم دم کړے

چه دِ و وژلم یخپله هم بیا ګوره
بیا به ما باندِ تهتر و هے ماتم کړے

چه په په زړۀ مِ ګرځیدے هغه خبرے
کور په کور په هر دیار خورے عالم کړے

دَ هجران ورځے چه کښے په شمار دَ عمر
دَ قضا کاتبه عدل کۀ ستم کړے

چه ویاروته مِ تل غندے رقیبه
څۀ په دا به دَ یار مهر له ما کم کړے

چه دِ سر تر پایه درست په غم دَ لیو کړم
راته وائے اوس خوشحال وسه څۀ غم کړے

زۀ خوشرابی یم شیخه څۀ راسره جنګ کړے
بخرے ازلی دی کشکے ما دَ خان په رنګ کړے

بنۀ وائے واعظه برکت دِ ستا په ژبه
بنۀ ئے به ویلو دَ دریاب اوبۀ کوڼګ کړے

لا هل وجنت ته چه په پوهه خبر نۀ وُو
لا هل و دوزخ ته چه ئے لاړے د فرهنګ کړے

پند دَ محمدَ دَ ابوجهل پکار نۀ شۀ
خوک به ئے صیقل کا چه لے خدائے آئینے زنګ کړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښینې په خلوت کښې شیخه سودئې راته وایه
ولې په خپل ځان دا هسې اَرَت جهان تنګ کړې

زهٔ خو دَ زړهٔ درد غواړم په هریوهٔ مذهب کښې
تا زده ستا خبرې چه نقلونه رنګارنګ کړې

راڼشه مطربه دَ نوروز سرود آغاز کړه
ښې نغمې زړهٔ سوزې په رباب په نے و چنګ کړې

هرلورې ته ګل دی شقائق نرګس سنبل دی
بے ګلزاره به کځ ویل لورې ته آهنګ کړې

چا دړپسے ډیرې پیسې واخستې طلب کا
څنو مصلې دَ بے ننګئ درپسې ننګ کړې

کاشکے دَ عمل تله درنه په قیامت شی
موم په رقیبانو په عاشق بانډِ زړهٔ سنګ کړې

مرګ لره ئې واړه دَ د هلی لښکر را غلے
تهٔ لا دَ خوشحال په مرګ ځان روغ نهٔ لنړې تند کړې

ګله تهٔ چه په بلبلو هومره خیال کړې داخیالو نه همګی په خپل جمال کړې
داجمال به دِ جاوید په جهان نهٔ وی بنهٔ خو دا کنړه چه شکر په دا حال کړې
دَ انصاف په سترګو بنه ننداره وکړه جهان څو کښلے څهرې هسے پائمال کړې
ډیرې خونے دَ هجران په لمبو وسوے مالیدې چه تجلّے ئے په وصال کړې
دَ بهار ګلزاره بنهٔ ئے خوئے دِ بد دے چه را تلنه یو څو ورځے په درست کال کړې
تر قدرت به دِ ځاریږم ذوالجلاله رنګا رنګ ګلونه بنهٔ هسے نهال کړې
دَ بلبل دپاره تل وے په چمن کښې دَ پسرلی ګله تهٔ ولے دم د رحال کړې
کهٔ دِ سترګے دَ عرفان شته مبارک شه دَ ګلزار په ننداره چه استقلال کړې
ګل ته هسے رنګ و بو ورکړے چا دے دَ لاله دَ ګل چا هسے پانړے لال کړې
چه ګلونه همیشه دَ چمن ګوری لکه خضر دومره عمر دَ خوشحال کړې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ په زغرو په چپوکړے نیزے خوړے ... چه نیکی درځنه نشته واړه کوړے
د هرچا سره خوږه ژبه بانده ده ... په خوږه ژبه مارهم وُوځی له سوړے
دارو دوړو سره فوځ د سوروننۀ وی ... په جهان کښے لړے نۀ دی تشے دُوړے
یا وه ګوئے دراز زبان مۀ شه کۀ ګوړے
بیهوده خبرے مۀ کړه پوچے بوړے

لکه خدائے چه د یار حُسن بے نظیر کړ ... هسے ما د زړۀ په سر باندِ تصویر کړ
د مجنون غوندِ په درد د عاشقئ کښے ... په خپل حال م همګی خلق خبیر کړ
ما وے ګوندِ تفحّص وکا پخلا شی ... تو پروړنه نه ئے نن ما نړے کبیر کړ
بنائسته د قندهار د چا په یاد دی ... په دا حسن ئے بنده واړه کشمیر کړ
دا څۀ حُسن څۀ جمال څۀ ئے اقبال دے ... چه شاهانوئے په در کښے خان فقیر کړ
زړۀ پخپله هغه مخ لره ولاړ نۀ شو ... د زلفینوئے هر تار ورته زنځیر کړ
نۀ ګناه نۀ ئے خطا نۀ نیت ئے نور دے
نر ناحقه ئے خوشحال په زړۀ دلګیر کړ

لکه قلبِ مهر په لاس باندِ بریښنا کړے ... چه دا ورپه تا وکښے پر یوزے خان رسوا کړے
هیڅ څما په زړۀ کښے ستا آشنائی نۀ وه ... ګوره چارے لره خدائے څما آشنا کړے
کۀ پیریدِ راسره کړے په نښه ئے نیسم ... خپلے مینے راته ستا ترخے حلوا کړے
چه په تا باندِ مئین شوم حال م ګوره ... مګر خدائے څما خوارئ لره پیدا کړے
کۀ وعده دِ دلیدو په ماسختن وی ... په بورجل باندِ دِ ناست په ما صبا کړے
کۀ د ما په دوکان ناست ئے کالی ګوره ... په زرسل ځایه په خوځایه سودا کړے
په داخوئ دِ اورځما په ګوګل بل کړ ... زۀ د شمعے غوندِ ژاړم ته خندا کړے
چه وفا دِ د خوشحال سره اونۀ کړه
راته وایه اوس به چا سره وفا کړے

مخ ئے فکر د نسرین راځنه یووړ ... خط وخال ئے مشکِ چین راځنه یووړ
د ترسا زلفے زنار شوے راترغاړه ... شکر شکر چه ئے دین راځنه یووړ
بے د یار د شونډو تل چه یادوم ئے ... مینے نور ذکر تلقین راځنه یووړ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسته شپه ژړا نارې آه وفریاد کړم — بیا ئې خوب په خټه آئین راغخه یووړ
دواړه سترګې ئې شاهین شهپرنې زلفې — خما زړه کوتر شاهین راغخه یووړ
په واتلو ئې درست آرام دالړه راوړ — او په تلو ئې درست تسکین راغخه یووړ
دچمن ګلونه کوز ګوري دا وائې — چه دلبرې هر تحسین راغخه یووړ
چه م زړه وړی ما وې پاسه په آسمان ده — ولې ترکې په زمین راغخه یووړ
زړه هاله د عافیت ناوی قبول کړم — چه هوس ئې په کابین راغخه یووړ
تل اوبه په نری تار باندِ ما تیرې — عقل هوش ئې نخستین راغخه یووړ
هغه ورځ م زړه له خپله خانه مورشو — چه له لاسه دل سنګین راغخه یووړ
چه دعا خما د صبر کا وګړې — عشق د دې دعا آمین راغخه یووړ

ما وې زړه به ئې لا فکر د علاج کړم
ولې خوار عاشق زړه خونین راغخه یووړ

ما د کښلیو ننداره کړه زاهد ننګ کړ — بنه ده داچه خدائې دې هم د ما په رنګ کړ
هغه وخت چه را په پادشی ډیر خوشحال شم — چه به ما درته دعا کړه تا به جنګ کړ
د ما زړه ئې په قلاب د زلفو یووړ — ورسره ئې اوده کړې په پالنګ کړ
که ژوندې نه شی له مرګه عمرئې شوم دې — چه په خاک ئې د پائلو باندِ شرنګ کړ
کښلې مخ م چه څراغ هسې بلیږی — خوار عاشق ئې په دا څراغ باندِ پتنګ کړ
ملنګان ئې د دربار دریوزه مومی — ما هم خکه ځان د یار د ور ملنګ کړ

ته د ځایه هسې نه وې داځه حال دې
چه په ما باندِ د زړه دا هسې سنګ کړ

مالیدلې دی په دا سترګو یوهږې — لکه نخښې د هرچا غشی ته لړې
په زړه څو ځایه ورتو ینږئې روغې — په خوله نرنا حق وهرچا وتېزېږې
په خندا خندائې اښکې څې ترسترګو — لکه چرګه د مستئ وهې کګرې
په صبا بنګاه ئې فکونو رخځه نه وی — تل ذکر د وی دلبرې
هیڅ له خپله خوبه نه آورې په عمر — که ئې درې په تندی کړې درې دړې
همیشه سترګې نیولې وخپل ښکارته — وغوټې وته وارساز لکه لګړې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغږې ولاړ په درست جهان دَ بدکارئ
سُوربیرغ دَ چتکي پورې په لکړې

په چووه په عطرغرقه سرتر پا یه
دَ اجمیر په فلیل دواړه زلفې غوړې

دَ مخل دننه ناستې زر بفت پوښې
چوهړي ته وُوځې پریوزي په غوشیرې

کهُـ ږې پلارنیکهٔ له څایه بادشاهان وُ
نهٔ دَ پلار نهٔ دَ نیکهٔ په شرم اړې

مرهند و غندِ په سرو لمبو کښې وسوې
چه ږې ولیدې خوشحال دَاور لوخړې

وے م که زهٔ درشم ستا ترځا یه خولهٔ به راکړې
وے ږې سکه هزار سره لرې چه داوبنا کړې

وے م چه په مخ دِ تورې زلفې تورښامار دے
وے ږې تروسکه څهٔ لره ښامارو ته ویسا کړې

وے م چه په کوم توکي به تا وته نژدے شم
وے ږې چه کهٔ سرله تنه بې تیغه جدا کړې

وے م چه په تا پسې هرګوره لیونے یم
وے ږې چه په دا عقل به لاصورت رسوا کړې

وے م چه ما تا سره خندا په یوهٔ وخت کړه
وے ږې هغه څوک دوچه ږې تا سرهِ خندا کړې

وے م چه هرګوره کبریا شوے خدائے دِ وینې
وے ږې چه کهٔ کبرکړم ستا څهٔ دی چه غوغا کړې

وے م چه دَ سپینې زیبا خولې عاشق دِ زهٔ یم
وے ږې چه خدائے څهٔ داعاشقئ هم ویړیا کړې

وے م چه له نتے دِ چار ګل په پوزه زیب کا
وے ږې دا خبرې کړه هالهٔ که چا په تا کړې

وے م که زهٔ ستا په کوئے ومرم ستا رضا ده
وے ږې کشکې خلاص له دردِ سره سپي څما کړې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې م چه په څورنکه خوشحال په تا منين دے
وې ئ دختک سړی دَ مينې څۀ ثنا کړے

بربر راشه نوروزه دل افروزه
ستا په وخت م آسوده شي سترګے پوزه

ستا په وخت سترګے دَ باغ ګلونه ګوری
پوزه هم کا ندِ دَ بوئ خوښی اندوزه

غوږ لاهم ستا له طفيله خط حاصل کا
معنی شی عندليب په څوخو سوزه

په وصال دَ معشوقے عاشق فيروز شی
دَ ګلزار په وخت بلبله وی فيروزه

خپل غوږ ونه ورته څک کړه کوندِ واوږے
راز دَ مينې دَ بلبلو له للوزه

دَ نوروز له فيضه بوټی خالی نۀ دی
فيض نے رسی هم ترسپاندِ هم ترخوزه

کۀ همه عمر دَ باغ ګلونه ګورم
څما خوابه پرے سړه نۀ شی هنوزه

دَ بهار هوا هر ګوره ښه هوا ده
کۀ آفت ورپسے تۀ نۀ وے تموزه

په راتلۀ ورله دېره خوښی راوړے
په خوشحال باندِ قدر دے نوروزه

پر دَ قاز نشته پر دَ باز
لکه پر هسے پرواز

لکه سترګے ليدۀ هومره
لکه حلق هسے آواز

لکه قدجامه هم هومره
لکه حسن هومره ناز

دَ دانش کشيده بويه
نۀ دَ سرو زرو دراز

بيړئ ګرځی په بيله کښے
په قلزم ګرځی جهاز

سک لاهوغوندِ خونۀ دے
مږک کۀ هرڅو وی اوباز

په دا پړانګ نۀ شو خوشحاله
کۀ پړانګ پيش دے پړانګ تۀ ساز

چه دا هسے په پالنګ راغله نوخيزه
الوداع ده دَ خوشحال ختک پرهيزه

عقل و عشق چه سره دواړه په دعوی شی
بل مجال دَ عقل نشته بے ګريزه

هم پخپله جنګ آغاز کا جنګيالئ
هم پخپله صُلح کا ندِ صُلح آميزه

په بازئ بازئ وژلے کُتهل نۀ شی
په خنداخندا خونونه کا خونريزه

زۀ دَ کښليو په دا کار پورے حيران يم
چه له چا نه زده کوی هومره مکيزه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ له دله ئې شلوم شلوله نۀ شي — دَ دلبرو یاري خوده دل آویزه
غوځول ئې هسې نۀ دي چه ځۀ پرېږدي — تر الماس ئې دَ غمزې توره ده تېزه
قند وګل سره دا هومره لذت نۀ کا — چه خولۀ ورکا دَ زور ل سره آمیزه
دَمعشوقې نوم عاشق په جهان خور کا — دَ شیرینې بازار تېز دے له پرویزه
کۀ م بے له تا نه بله یاري وکړه — را ته ګوره راڅکوم حدیث په پېیزه

په کا تۀ کا تۀ زړۀ لا درته تاؤ تاؤ شي
دَ لړګي لښتې په غاښ کړے ریز مریزه

چه ئې سوزنۀ وي له سازه — یا ئې سر له سرو ناشزه
دَ ژوندون راحت ئې کوم دې — را ته ووایه همرازه
غم م وا ړه تار په تار شي — دَ هر تار له ښۀ آوازه
ځما لاس له کا ره وو ځي — چه په کار کښې شے شهبازه
په هر ځائې چه ښا نسته وي — ترے سلام م دے له نیازه

چه دَ ښکلیو ننداره کړم
ورته پاتې شم خولۀ وازه

چه هر یار ته م ترخولۀ ویوست آواز — زر په واړه عالم خور شو هغه راز
کۀ دِ زړۀ دے چه رسوا په هیڅ نۀ شے — دَ قلوب دننه ښۀ دے ساز ناساز
کۀ آواز دَ زړکو نۀ وے په درو کښې — چا به چیرے ورپیے ګرځاوۀ باز
چه نارے کا تور تارو په مرغزار کښې — باز ځُره ئې ښکړے یوسی دَ طراز
چه ځما ترخولۀ ونۀ ووت چا ونۀ وے — خپل نفس دے په سړي با ندِ غماز
په صبا به هغه راز په کلي خور وو — چه په شپه به ما وځوئ ته وې په ناز
ډیر یاران م تر سر تیر دي ځوان ووم زوړ شوم — په زړکو نو کښې پیدا نۀ شو دمساز

په خپل زړۀ کښې ځګر خون کوه خوشحاله
خپل پردی ته دَ زړۀ رازمۀ کړه آغاز

کۀ هر څو دي ښښتې جو نه طنازې — دا دَ هند سکښړې هم نۀ وي بے نیازې
نۀ ئې جنګ نۀ ئې مانړې نۀ ئې هو ړونه — خړه مهرے خړه مینې خړه نازې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خویوه ذره پره ناسازه دے کا     په ماںړے کښے نۀ دعوے کاندِ آغازے
په خدمت کښے ترصباحه لکه شمع     په یوۀ قدم ولاړے ځان ګدازے
په غمزو په کرشمو په مسکیزو نو     فرح بخشے غم تراشے دلنوازے
په ادب په ظرافت په رموز پوهے     د صحبت په علم ښورنګه ممتازے
کۀ هزار جور وجفا وینی له تا نه     بیاله تا سره خندا کا په خولۀ وازے
نوی نوی شیوے کا درته جوړیږی     په ښورنګه جلوه کا جلوه طرازے
د بڼو سُوکے ئے تیغ ځی تر زړونو     چه تیرۀ تیرۀ کا ته کا لکه بازے
په جیو جیو درته پستے خبرے وائی     هر زمان له تا په ښورنګه همرازے
عجب سرے په پانو شونډے درته خاندی     مینځی غابن په مسی تور عشوه پردازے
غټ غټ تی لکه آنار په ملا نرئ     سر ترپایه د اومو رینبمو سازے
د صورت په لطافت بے مثله روغے     په قامت ترسرو وُنے سرفرازے

خرخشے ئے د خوشحال له دله نۀ ځی
کۀ جُدا دی دماغی باریک مجازے

لکه غشی لره بویه تیر انداز     هسے شعر لره بویه سحر ساز
همیشه د زړۀ په لاس تله د وزن     زیات وکم د وزن یو تورے غماز
په تور اَس د حقیقت ناوے سوره کا     په سپین مخ پلو نیولے د مجاز
تل جلوے سل کرشمے سل مسکیزونه     په نظر کښے ئے ښکاره د سترګو ناز
د صنعت زیور په ښورنګه پریوزی     د تشبیه چندنړ چووه باندِ طراز
د تجنیس پایلے خوری ئے په پښو کړی     د ترصیع امیل په غاړه اوږد دراز
د مضمون د نزاکت غمزه ورځنه     سر ترپایه درست صورت سره پوراز
کۀ په نظم کښے کا ږګۀ اوتپوس راوړے     هم د زړونو په ښکاره کرځی لکه باز
چه یوه وینائے وکړه هوښیار هغه     عاقلان به وبل کاندی په ایجاز

د پښتو ژبے ئے ډیره خوبی وکړه
چه خوشحال کا په پښتو شعر آغاز

په خاطر باندِ م نۀ وے پروتے لړے     ښوخاطرم لتوے هومره م کړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بل رنګ مې به زړګي باندې سوړ نشي ... رقيبان شو د نوکونو ترمينځ سيړې
وهرچا وته چه وکورم فرياد کا ... يو زړه نه يم د جهان دي سينې خوړې
دا دوه توکه وهوښيار وته يوراز دے ... د نامرد سړی بريتونه بريت د مږې
په جهان به هيڅوک نۀ وي چه آزاد وي ... ځنې عشق اندوه بنده کړه ځنې لوږې
چه احمق سره ياري کړے خبردار شه ... يوه ورځ به په تا وکا کار د يږې
چې بے علمه تصوّف وائي باور کړه ... دام واړه بوس دانے سره اغږې
هيڅ مذکور ورسره نه بويه نۀ بنه دے ... په نا دان د دانش خبرے زوږې

چه دِ لاس په کيدړنۀ رسي خوشحاله
ومزريو وته ځۀ لاسونه مږې

ته چه سترګے تورے خود به يو هيږې ... لونګين چه شورے خود به يو هيږے
سر تو پايه جامے واغوندے کلګونے ... ځان چه هسے جوړوے خود به يو هيږې
تور سنبل د باد ومخ وته ولاړے ... چه په کل ئے خورے خود به يو هيږے
په ورځ سل ځله آشتي کړے هم جنګونه ... هر دم خوئ چه نورے خود به يو هيږے
هم په لاس د ميو جام راکړے چه نوش کړه ... بيا م جام نسکورے خود به يو هيږے
خپله ځۀ د درست جهان فتنے نازونه ... چه عاشق ته پورے خود به يو هيږے

مکر لږ دي د خوشحال د زړه غمونه
باندِ نور تنه ورے خود به يو هيږے

چه ژوندي وي غم دِ نۀ کاندي د لوږے ... شنۀ طوطي لره شکرے نۀ دي لږے
په شکرو په نبا تو ئے سود نۀ شي ... چه په چا شوے ستا د خولے خبرے زوږے
په لحظه لحظه دِ وينم قهر مهر ... په ځائي خصلت دا هسے خوږے خوږے
ستا په لبو به لباب شم په داخوښ يم ... که ئے هر څو م دا ورو غوندِ اغږے
دا چه اوس در ته حاضر دي بنځه ئے ګوره ... په هجران به ئے آخر لاسونه مږے
عقل وهوش ئے وسري وته پيدا کړ ... دا چيچل دا رل د پړانګ دي يا ديږے

دا بے درد که په ظاهر سړے ليدۀ شي
د خوشحال ته مې ميږي دي ماشي سيږے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسته شپه دِ په کوځه کښې مرم له سوزه
لاس مِ مات شه که دِ نهٔ کرم روږ بوږه

تهٔ به خوبے غمه خاندے خوشحالی کړے
خما غاره په ژړا درپسے بوږه

ستا خوئ دَ زلفو کار سره یو رنګ دے
سر دوالوئ دا هومره سمه کوږه

حال دِ واره وار په وار راته معلوم شهٔ
ټکه یاره په زړهٔ تریخه په خوله خوږه

خما یار چه میخوری کا په بدل ئے
ولے مالره راځه دَ دردو روږه

پکښې زړهٔ دَ خوار خوشحال دے چه خوږ نشی
په رو رو دَ شهٔ ئ زلفے نموږه

اے په خیل کمان کښې بروسه
له اصلی کاره مایوسه

دانه نهٔ ئے چه دِ مغز وی
بے دانے حبطه بوسه

وخیل عیب وته پروند شوے
دَ پردی عیب جاسوسه

چه پیدا ئے خوشبوئ شوه
اګر بنهٔ شو ترا بنوسه

دَ طوطی برابر نهٔ ئے
کهٔ نګار لرے طاؤسه

کهٔ غوته کړے په چرګوړیو
په دا باز نهٔ شوے تپوسه

لعل و دُر پرے حبطه دی
چه رنګ نهٔ لری عروسه

راشه مخ په آئینه کړه
چه چهره شی درمعکوسه

دَ خوشحال خټک توبه ده
ستاله رزقه له سالوسه

په رموز دَ عاشقانو عاشقان پوهیږی بس
په طلب دَ طالبانو طالبان پوهیږی بس

په ضمیر دَ نخلبندو نخلبند سره خبر وی
په تصویر دَ نقاشانو نقاشان پوهیږی بس

چه کشتئ پکښې بیائی په عظیم دریاب ګډیږی
په بیولو دَ کشتئ ملاحان پوهیږی بس

چه ګردش ئے ورځ وشپه کا دَ کامل انسان دیاره
په اسرار ئے کاملان یا دا آسمان پوهیږی بس

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپینې ږیرې وته بویه چه نظر په خپل قوت کا
اوهوس دَ شوخې ښکې په دا خوان پوهیږي بس
نادانان دَ ملک ښتن کا دانا هسې ورته ګوري
دغه پوهه دَ چا نهٔ ده پرې سبحان پوهیږي بس

چه خوشحال ئې په بیاض کښې دا تازه تازه خبرې
نو په دا تازه خبرو سخندان پوهیږي بس

په هرلوري دې فغان دَ مرګ له لاسه
په هرلورپه هرمکان دَ مرګ له لاسه
دَ آدم صورت ئې مرګ لره پیدا کړ
خرابي شوه په جهان دَ مرګ له لاسه
هم کې پیغمبران کهٔ اولیاء وُو
دوئ په مزکه شو نهان دَ مرګ له لاسه
عاقبت به شي بې شکه بې ګمانه
دا ودان کورونه وران دَ مرګ له لاسه
راشه تهٔ هم دَ توبې په سرانجام شه
کاروانونه شو روان دَ مرګ له لاسه
اې خوشحاله کهٔ په تن شاه جهان شې
هم به دروې په ارمان دَ مرګ له لاسه

په درست کلي کښې م یار دې هغه کَس
چه په درست تومن اوښار دې هغه کَس
کهٔ په شکل شمائل سرې لیدهٔ شي
سرتر پایه پري وار دې هغه کَس
خکه زهٔ وربانډِ هسې عندلیب یم
چه په حسن یو ګلزار دې هغه کَس
کهٔ هرڅو راته کنځل کا یا قهریږي
په خولهٔ واړه شکر بار دې هغه کَس
کهٔ ئې زلفې کهٔ کاکل کهٔ ئې ګیسو دې
هم کې مشکِ تاتار دې هغه کَس
چیرې نه چه په توله کښې ئې غلط کړې
هوسئ سترګې ګلرخسار دې هغه کَس
دَ جانئفل په ځائې به سر ورته پیشکش کړم
کهٔ په سرِم مینه دار دې هغه کَس
چه زهٔ خولهٔ ورځنې غواړم نور کنځل کا
بې حسابه ستمګار دې هغه کَس
زړکې ځهٔ لره په خپل رفتار غوره ئې
لا ترتا نه خوش رفتار دې هغه کَس
چه صورت سیرت ئې دواړه سره جوړ کړ
دَ خوشحال دَ زړهٔ پکار دې هغه کَس

په لحد کښې به هوانهٔ وي هوس
درسره به خپل عمل درومي نور بس

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بے طوطی نه قفس هیڅ نهٔ دے باور کړه　　روح په مثل دَ طوطی دے تن قفس
فهم وکړه چه ضائع درخنه نهٔ شی　　لکه دُرِّ بے بها دے دا نَفَس
چه دا دُرِّ بے بها هسے تلف کا　　دَخا رویو په شمار دے هغه کَس
دَخانانو په خاکونو گذر وکړه　　زرغونه ئے په خاکونو خاورو خَس
هرچه شوی نهٔ بدلیږی دا په څهٔ کړے　　هومره ډیرے اندیښنے هومره وسوس
په نصیب به له جهانه یو کفن وړے　　هغه هم اتهٔ یا نهٔ گزه یا لسٔ
دا به واړه له تا پاتو شی اے جانه　　کهٔ ښے جونه کهٔ اَسونه کهٔ اطلس

تیاریږه وخت دَ کوچ راغے خوشحاله
په هر لوری نارے اورے دَ جرس

تهٔ څهٔ زړهٔ لرے څهٔ لاس　　واړه گنج ئے کوز و پاس
گاه دَ مزکے طراحی کړے　　گاه په عرش کښیږدے اَساس
لکه ډک شے هسے تش شے　　دشناخ دے ستا آماس
لکه پوندئے وَ اور ته　　واوبو وَته قرطاس
هم گوهرئے هم شبه ئے　　هم کُتنی ئے هم کرباس
هم ملک ئے هم ملَک ئے　　هم خنزیرئے هم خناس
په افلاس کښے دِ دولت دے　　په دولت کښے دِ افلاس
تهٔ له دیوه په هراس ئے　　دے له تا نه په هراس
نهٔ اطلس دے نه زربفت دے　　لا څهٔ ښهٔ دے ستا لباس

واړه ښهٔ وائے خوشحاله
وایه هیڅ نشته وسواس

چه ئے غم لرے دَ مخ هم دَ وصال بس　　اندیښنه ئے دَ جمال دَ خط وخال بس
بادشاهان دِ زرزری جامے اغوندی　　دَ قانع گدا په شابانذِ یو شال بس
په بهاندو او بو کښینه نندارہ کړه　　دَ جهان دَ تیریدلو دا مثال بس
خویوه گیډه خواړهٔ دوه درے خرخوری　　کهٔ دانائے په جهان کښے دا جنجال بس
وحریص وَته درست مال دَ دُنیا لږ دے　　وقانع ته یو فلوس دَ دُنیا مال بس

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاهد ستړی کړے ترے پوښی زړهٔ کښلی کوړم — کۀ جنت لره م بیائی دا وبال بس
کۀ لائق ئے دَ جمال دَ لیدونۀ یم — کۀ ئے بیا موم وصال په خواب خیال بس

دواړه کونه دَ هغو چه ئے طلب کا
ستا دَ ستړګو ننداره دَ خوار خوشحال بس

خدایه کۀ زړۀ تا ته نزدے کیږم په افلاس
زر م کند په غاړه کړه یومات کچکول په لاس

تۀ کۀ په دا خوښ ئے چه خاوند دَ ملک مال و م
مال و ملک م هومره کړے چه تیروی تر قیاس

هسے مال را مۀ کړه چه ئے ځائے وی تر زړۀ کښته
هسے اموال را کړه چه ئے ځائے دَ زړۀ دَ پاس

لاس م همیش برلره په واړو غلیمانو
دوه م غلیمان دی یو م نفس بل م خناس

طمع کۀ حسد وی کۀ حرص کۀ بد خو یو نه
واړه له ما پریکړه دَ خپل فضل په الماس

توان دَ طاعت را کړه چه اخلاص ور سره مل وی
نۀ هغه طاعت چه شی په رسم په لباس

یا بار کریمه دَ خوشحال ختک دا خواست دے
تل دَ دۀ په زړۀ کښے لرے ټینګ دَ دین اساس

داځما زړګے په خپل زړه کوتی نسه — چه دِ زړۀ دے ځما زړۀ هم هسے کسه
دا دَ وړکیو خوئی دِ څۀ وینو په لاس کښے — چه زر زر څۀ ورکوے بیا ئے را نسه
زۀ به هیڅکله دَ تا له ورۀ وانۀ وړم — کۀ هر څو وائے چه مه راځه ناغسه
کۀ هر څو دَ شندی کا ځۀ بنۀ لیدۀ شی — رخ ئے نۀ دے چه سیالی کا له نرګسه
چه ئے تل وغوا و غیلو ته سورے دی — خدائے دِ واخله دَ بے دردو مجالسه
هر دم دا رنے په خپل کار کښے کښے خوښ کړے — کۀ سرے دے کۀ پیرے کۀ کوس و غسه
چه یو هم دَ زړۀ ساتونے پکښے نشته — توبه توبه دَ ختکو له اولسه

Poha Foundation
A.S.KB

زهٔ خوشحال چه په مزریو باندِ تیغ کړم
تا ته خهٔ رنګه ګیدړ شوم تر ورم کس

زهٔ هغه سړے یم چه قلم واخلم په لاس
ناظرم عطارد دے چه به خهٔ کښی په قرطاس

نائب دے دَ تقدیر دَما تدبیر په مصلحت کښے
صائب دے خما فکر دَ هر امر په اساس

دَ تورو په میدان کښے چه سودا وی دَ سرو نو
هغه زمان م ګوره تل به سوروی دما آس

حاسد م لکه کا نړے دَ صحرا په هیڅ حساب کښے
په قدر په قیمت کښے یا یاقوت یم یا الماس

کهٔ حال م دَ قضا په حکم هسے محول وی
قمر وته نظر کړه کله بدر کله کاس

ظاهر لکه شهباز یم کهٔ وما وته نظر کړے
باطن لکه خورشید یم هیڅ م مهٔ غواړه په قیاس

کهٔ لاف دَ کوزئ دَ هسکئ وهم باور کړه
تر تورو خاورو کوز یم تر آسمان یم لا پاس

وئیل کوے وچا ته چه دَما وئیل سره زر دی
رندو وَ ته خوشحاله لکه زر هسے رصاص

زهٔ هم چیرے فرزانه وُم فرزانه یم لا تر اوسه
تل بیخوده دیوانه وُم دیوانه یم لا تر اوسه

جدائی نشته وصال دَ خنے بُعد هم خیال دے
له هغهٔ چه همخانه وُم همخانه یم لا تر اوسه

چه راغلے په جهان یم خبر شوے په خپل ځان یم
دَ رازونو خزانه وُم خزانه یم لا تر اوسه

په عالم خما خبرے خلق کا په نږدے لرے
په وګړی افسانه وُم افسانه یم لا تر اوسه

چه دَ مخ پلوئے واشو، یو مشال و وچه نماشو
هغه دم پرے پروانه وُم. پروانه یم لا تر اوسه

ناوکی ئے دَ مژګان دی چه بلا دَ ما دَ ځان دی
ورته عمر نشانه وم نشانه یم لا تر اوسه

چه ئے خان سره آشنا کړم له هرچائے شاپه شا کړم
له عالمه بیګانه وُم بیګانه یم لا تر اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library
POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بحر چه محیط دے په افراط او په تفریط دے
دغه بحر دُر دانه ؤم دُر دانه یم لا تر اوسه
هغه شان له خپله یاره بے وکیله بے ریبا ره
زهٔ خوشحال چه یکانه ؤم یکانه یم لا تر اوسه

سړے ښهٔ دے حق شناس — سرِ دِ وخوری ناسپاس
دَ یوے دانے او ربشے — احسان ډیر دے ترقیاس
چه احسان وته ئے شاشوه — مخ ئے تورشه نهٔ دے ناس
څو اخلاص ورسره نهٔ وی — یاری نهٔ شی په لباس
یارئے مهٔ کنړه اغیار دے — چه ته ئے پریوزے درکا لاس
تل خالی وی له خلله — دَ رښتیا مینے اساس
کهٔ دِ یار دے هغه یار دے — چه خپلوی ئے بے وسواس
چه وفا دی دا درے توکهٔ — تُوره، ښځه، دریم آس
دَ خوشحال خبرے دُر دی
چه ئے کیښلی په قرطاس

کهٔ اغزی وی ستا تر لاسه — تر گلونو دی دے یاسه
دَ زړکوتی سرِ م ته ئے — کهٔ یاران لرم بے قیاسه
چه به بل ترتا راتیر کړم — دا وائے دَ زړهٔ وُباسه
کهٔ دَ نورو سره خاندم — جهان نهٔ دے بے لباسه
له مانه یه به دِ وُمرم — خهٔ خو مخ را وجاربا سه
کهٔ څوک تاغوندِ ښکاریږی — خلوښنت بیل دے تراماسه
تر هغهٔ به نادان څوک وی — چه خر ښهٔ کنړی تر آسه
دَ اغیار و سره خاندهٔ
په خوشحال تندریږی باسه

کله باز کا ومردارے ته هوس — دغه کار دے دَ کلاغ و دَ کرکس
وگفتار وَته ئے مهٔ غروه سترگے — په کردهٔ په عمل گوره کس ناکس

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ ئے سر په لګئ اړوے هغه دے
په ظاهر شماره کهٔ لس سره دوٗه پنځ دی
دوه سړی په باغ کښے ګډ شی یو ګل ګوری
زهٔ دائم په بیلتانهٔ کښے له هغو یم
کهٔ هر څو بنائسته روغ د څوک ئے خهٔ کا

په هیڅ رنګ به نور خهٔ نشی سک مکس
دَ ابجد په حساب نوی وګنړه لس
دویم ګرځی په طلب دَ خار و خس
چه دَ یار بے یا د و نهٔ وی یو نفس
دَ طوطی له مخه بنهٔ یشی قفس

خوار خوشحال به خنے خو شړے په جور
کهٔ سړے شو نړے د شکر دی دے مکس

کهٔ مردی دِ په دستار ده په منډوسه
کشکے زهٔ دَ نامردانو په شماره وے
دَ لوهړ ګلو نه بنهٔ دی تر نلګوسه
چه ظاهر باطن ئے دواړه حبطه وی
په دروغ په ناراستئ کښے ډیر غم دے
چه به هر کله جفا کړے وفا هم کړه

سکه مردی دِ مُبارک بر یتونه پوسه
چه فارغ وے له ارمانه له افسوسه
ولے بیا چیرے لوهړ چیرے نلګوسه
منافق سړے بتر ګنړه تر کوسه
دَ رښتیا روزګار کوه بے غمه اوسه
دَ اغزیو سره ګل لری پلوسه

په جهان کښے بدخوئی واړه دوزخ دے
دَ خوشحال له دله خوئی دَ بدو یوسه

کهٔ دَ مور نفس کښے خهٔ وے لکه وے هسے به اوسے
چه په خهٔ دِ دَ زړهٔ مینه هم هغو مینه به یوسے
لاس دِ زړهٔ د پاسه کښیږده چه خهٔ حال دِ زړهٔ معلوم شی
خهٔ تسپے په لاس کښے نمورے خهٔ په بړمنځے بړیره یوسے
کهٔ دَ باغ دی کهٔ دَ راغ دی په سلګونو دی دا وُنے
څوک سپیدار دی څوک چنار دی څوک پلوُ دی څوک پلوسے
اینځر نهٔ لری ګلونه میوه سپینه لری توره
دَ انګور ژنګوری ګوره میوه ګل لری نلګوسے
دا جهان پتے پتے دے جنس دَ جنس سره خوښی کا
مار له ماره یوز له یوزه خرس له خرسه کوس له کوسے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ عصمت فتوت ئے نهٔ وی واړه و سیزه په اورکښې
چه په خیال په هوا کرځی زیړ پړونے سرغنډ وسے
الحذر دَ عشق له اوره کهٔ دِ لاس رسی زړهٔ ژغوره
دَ دلبرو مینه اور ده اے خوشحاله زړهٔ کړه بوسے

په طلب کښې دِ سستی وینم درویشه — چه وتلے دَ دے خونے له ویشه
نعمتونه رنګارنګ دی په هر لوری — په عوښتونی باندِ نهٔ ده جفا پیشه
خو طلب هومره موندل دی په دا دور — بلکه لا تر طلب بخره مومے بیشه
دَ عسلو خوارهٔ کله هغه مومی — چه حذر کا دَ مچیٔ له بده نیشه
لا دَ وخته دَ طبیب طلب باندهٔ دے — خولا پائے په دُنیا دَ زړهٔ له ریشه
په هیڅ دین کښې ما وفا لیدلے نهٔ ده — خبردار یم دَ هرچا له دین وکیشه
په هرغشی چه زخمی شوم بیارم وکوت — هغه غشے وو په تن خما له کیشه
هیڅ پروا اندوه دَ بل دَ بدو نهٔ کړم — خودِ یا نهٔ سی بلا له ځانه خویشه

په پیغام دَ بوسے سود نهٔ شی خوشحاله
چه خما په خولهٔ مِنِین ئے را نزدے شه

تورانی خود جنجال دی دَ پرخاش — دروغژن سوګند خوارهٔ بهتان تراش
ایرانی دَ آشنایئ دَ وفا دی — دَ خلقت دَ مروت دی دَ معاش
پښتانهٔ دَ بد نیتئ دَ خصومت دی — په حیا په شجاعت ئے وکړه شاش
کهٔ بلوخ کهٔ هزاره واړه چرکین دی — نهٔ ئے دین نهٔ ئے مذهب ستر ئے فاش
کهٔ هندی دی کهٔ سندی دَ غم ئے تورشه — نهٔ حیا نهٔ ئے وفا نهٔ نان و آش
کشمیری کهٔ ترکهٔ ښځے واړه هیڅ دی — دَ مردئ ورځنه نشته هیڅ تماش
دَ آدم له نسله نهٔ دی کوره څهٔ دی — دواړه ورک شه یو اوزبک بل قزلباش
لغمانی بنګښ سواتی تیراهی واړه — موټ متر لوبیا چنړه دی مهے ماش

هر احوال ورته ښکاره دے دَ وګړی
دَ خوشحال خټک په پوهه کړه شاباش

څهٔ غم دَ نعمتونو چه اختر راغے درویشه — په طمع په اُمید اوسه دَ هرغنی له ویشه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوګل م په دا باغ کښې ناګهان په نظر کښېوت
عجب ئې خوشبوئي وه تر هغه ګلونو بیشه
چه ما وکړه پوښتنه دغه ګل له حقیقته
دهٔ کړې تحمل وو دَ هر بوا غزي له نیشه
نافې چه له اوله خپل څکر وکړې سرې وینې
له روسته ئې روانه خوشبوئي شوله ریشه
په څو به دَ دیښتلیوله احواله نه خبر یږې
چه هیڅکله دِ نهٔ ده چیړې پښه په اغزي ریشه
له دوه اویا مذهب سره به ساز وکړې له دله
خوشحاله کهٔ خبر شې په تحقیق دَعشق له کیشه

دلربا پسره راشه
اې ځما بشره راشه
چه دَ ښهر ښائسته دي
ترهر چا بهتره راشه
سرتر پایه واړه ناز ئې
ځما نازپروره راشه
په خوږو خبرو شهده
په خندا شکره راشه
چه دِ نهٔ وینم هیڅ عیب
تمامي هنره راشه
توره شپه دِ تورې زلفې
په ښهٔ مخ سحره راشه
دَسما قمر به څو کړم
دَ غبرا قمره راشه
دَ راتلو لارې دِ ګورم
اې ځما دلبره راشه
څهٔ به وایم چه بې تا مرم
اې په زړهٔ خبره راشه
چه په څوترو تازه ئې
دَ چندنړ شجره راشه
چه دِ نهٔ وینې نور روند شي
دَ خوشحال بصره راشه

کهٔ ئې غواړم نهٔ ئې مومم هسې تاغوندِ مهوشه
خنده رویه سنبل مویه ګلعذاره پیاله کشه
سمن بره قد عرعره موکمره لب شکره
آهوچشمه څره خشمه مهرژنه منقشه
دلنوازه سرفرازه چشم بازه عشوه سازه
تیز نظره غمزه ګره په دوو زلفو مشوشه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربلنده خود پسنده خودنمایه دلربا یه
دَعاشق دَځان بلا یه رنګ زیبا په خوئ آتشه

طربناکه تل بې باکه ګریوان چاکه تش تپاکه
زړهٔ ئې سخت لکه آهن په مخ یوه آئینه بې غشه

دَ زلفینو سرئې تاؤ لکه نخوش دَماهي ګیر شو
کله وی چه خوشحال خلاص شی له دَهسې رنګ نخوشه

دا ښائست چه ئې په تا باندِ ګښېښ دَ زړهٔ داغ به ئې په ما باندِ ګښېښ
کهٔ جمال ئې و یوسف نهٔ وے ورکړے چا به غم په زلیخا باندِ ګښېښ
مګر ګل په اشارت کښې ورته وے چه بلبل تهمت په ما باندِ ګښېښ
کهٔ دَ زلفو مارئې وخوری عاشق ګرم دَے چه ئې لاس په اژدها باندِ ګښېښ
زهٔ کهٔ ستا په لړشو بو باندِ پروت نهٔ وے دَ سپي نوم به دِ په چا باندِ ګښېښ
کهٔ هرڅو به دِ شارهٔ دَخپله دره
خوار خوشحال به قدم لا باندِ ګښېښ

نشته هسې مینه دَ یارانو خاص الخاصه چه یو خپله ځان ئې بې جهان کښې له اخلاصه
یو راز دَے په دا کار کښې کهٔ ته ښهٔ فهم پرې وکړے چه شمع سرجنبانه پروانه ورته رقاصه
له مرګه مِ څهٔ غم کړے چه دَعیش په شریعت کښې قاتل په شرع خلاص دَے له دیته لا قصاصه
کهٔ لاس مِ رقیبان په تېرهٔ تورهٔ سرٔ بېرے کا لمن به دِ لا هم خوشحاله لا سه نشی خلاصه
زاهد به په عشرت څوک له برمه نهٔ خبر یږی دَ عاموځهٔ مجال دَے چه خبر یږی له خواصه
چه ګورم و تا ته همګی په دُرو پُرئې
څهٔ خیز دے اے خوشحاله له محیطه هم غواصه

له تا به ستا له تیغه عاشق چیرے کا اعراض
دَ شمع دَ اور ښتې مینه نهٔ ځی په مقراض

دَ خپل خاطر احوال به زهٔ خپل یار و ته معلوم کړم
بیمار به له طبیبه په څو پټ لری امراض

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دا نه به بل کوم طاعت ته به موم ای دِ له
چه یو ساعت مِ کښیني دَ زاهد سره مرتاض
سودا ئے دَ چشمانو په ژړا ژړا ابتر شوه
دَ اوښکو محرومي ئے اوس وو رینه په بیاض
دَ یار کوڅه مِ بیا مونده دَ یار له بو یه پُره
هوا به دَ ګلونو نوره څو کړم دَ ریاض
خوشحاله مستعد وُسه و فیض وته قابل ئے
وریږی دَ قابل په زړهٔ تل فیض دَ فیاض

سپین نمری اغوستی په پښوسرے کوښے نوخطه
څهٔ رنګه رادرومی لکه تکه سپینه بطه
سل دِ سره کښیني واړه یو تر بل بهترے
خدائګو کهٔ به زهٔ کړم تا په واړو کښے غلطه
بخت غوندِ ناګاهه څما خوار کره سیده شوه
راغله دِ په قصد وو کهٔ دا راغلے بے نمطه
وا یم چه کهٔ واړه زاری زهٔ راوړم خیل کور ته
څوک چه چا ته زار کا دَ دلبرو له سخطه
راشه سره مِ پریکړه لا به نهٔ شم په وفا کښے
خود په دا پوهیږے قلم لا نهٔ شی له قطه
ډیر به دریاب ګډ شی واړه مټ کا دَ وتلو
څوک یکښے لاهو شی څُنے وریږی ترشطه
لوړے لنهے نورو زده خوشحال ده غوره کړے
نهٔ لوړه نهٔ لنډه په قد بنه روغه وسطه
هر سړے چه لاس و نیسی غلطه زمانه ورته پیدا کا ډیر سخطه
محبت محنت په خط کښے سره یو شی محبت سره جدا شی له نقطه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مۀ یک لحظه مرے شه مۀ غوړے
په دُنیا کښے هره چارښه ده وسطه

مصلحت ئے په هر قط کښے دَخوبئ دے
کاتبان چه قلم نۀ پرېږدی بے قطه

دَمزری منګل کا وزے غواړی غوېرے
دَشاهین حمله په زاڼرے ده په بطه

بے ښځۀ مخه به دِ قدر قیمت نۀ وی
دَښځۀ مخ قدر کړه زده له خال وخطه

چه مدد ئے مهترخضر دے خوشحاله
دَ هغو بیړئ به ورسی تر شطه

چه دَکښلیو په لیدل نۀ وی محفوظ
دَسرود په آوریدل نۀ وی محفوظ

چه حاصل ئے دَخپل یار ننداره نۀ دی
په ګلزار ئے سوخته دل نۀ وی محفوظ

کۀ شیخان کۀ زاهدان کۀ عابدان دی
په داخپل عمر به تل نۀ وی محفوظ

چه ئے دواړه شونډے کښل کړم پرے محفوظ شم
خوک به هم په مے خوړل نۀ وی محفوظ

کله کله هسے دخت په سړی راشی
چه دَکلو په کتل نۀ وی محفوظ

دَخوشحال وئیل هُنر دے هغه خر دے
چه به دے په دا وئیل نۀ وی محفوظ

زړۀ مِ بے له عشقه په بل کار نۀ وی محفوظ
بے له کښلیه مخه په ګلزار نۀ وی محفوظ

کله مړے دے چه دَ تورے په میدان کښے
دے دَ تیرے تورے په پرهار نۀ وی محفوظ

هرچه عاقلان دی په فتوی دَعقل کار کا
هرچه عاشقان دی په دا کار نۀ وی محفوظ

هرچه بل ئے وُولی بیا دے پرے غشے لک کا
هیڅکله ښکاری په هغه کار نۀ وی محفوظ

خاورے ئے په سرشه حبطه ئے عمر تیر شو
هرچه نن دَ کښلیو په دیدار نۀ وی محفوظ

عیدشو هم بهار شو وصحراو ته خلق ووت
زار دے دَ هغۀ چه په خپل یار نۀ وی محفوظ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دور دَ عاشقانو دے کۀ ؤکورے پہ عشق کښے
پند کۀ ورته وائی پہ خپل پلار نۀ وی محفوظ
هر کله چه راشے ورته وخاندے له ورایه
خوار خوشحال بہ ولے پہ بار بار نۀ وی محفوظ

سخت ساعت دے دَ وداع ‏— پہ آشوب و پہ صداع
چه یو ځل سره ښوک بیل شی ‏— بیا پہ بخت وی اجتماع
عجب هر زمان نیاز کا ‏— نوے نوے اختراع
چه پہ لړ مانړی وه نزع ‏— ترو بہ ځۀ وی پہ نِزاع
هم م ؤغلوی بیا وائی ‏— نۀ یو هیبری پہ خداع
شونډه بوخه پہ نخوال کا ‏— چه م وینی اوضاع
دَ بورجل غمژن پہ رقص ‏— دَ یا ښلو پہ سماع
چه ترے دَ لیدو لارے ‏— ځۀ دِ خیر دے مناع
نۀ ئے یو دیدن خوشحاله
نۀ دَ درست جهان متاع

خلقے سره یاری کا پہ دروغ ‏— و بہ نۀ وینے دوه زړونه سره روغ
دَ شودو بیو عوض ئے وی پہ زړۀ کښے ‏— چه سفله دچاته و رکا چیرے دوغ
دَ هغو صحبت کیمیا دے کۀ ئے مومے ‏— چه ئے بیا مومے پہ ناسته کښے فروغ
دَ دے دور یاران واړه منافق دی ‏— پہ خوله ئے تا سره هو هو کړه پہ زړۀ یوغ
پہ قیامت بہ ئے پہ کوم عبادت پټ کا ‏— پہ آزار دَ خپل پدر ترے توغ
نور کا رونه اوس پکار نۀ دی خوشحاله
یا دچا ځۀ ورکوه یا دَ الجوغ

نشته هسے سر چه بہ خالی وی له دماغه
کوم دے هغه زړۀ چه بہ روغ پاتے وی له داغه
چرته پسے درومم بہ کوم لوری بہ ئے مومم
ؤرکه مونده نۀ شی بے رهبره بے سراغه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مست یم مئے پرست یم همیشه ایاغ په دست یم
یو ساعت چه ځئ رابانډِ غم دے بے ایاغـه

باغ دِ دَ هغو دے په هرچا چه دِ پیرزو دے
زهٔ په ارمان تل دَ یوهٔ ګل یم ستا له باغـه

ګل دَ عندلیب دے په قسمت دے په نصیب دے
درومه درومه په جیفه ګرځه کلاغـه

تل هوا هوس کړه تراوله یو په لس کړه
ستاله غمه څهٔ دی که زهٔ لاړم له فراغـه

ورځ وربانډِ شپه ده په تورتم کښے میشته ده
کله به لیدهٔ شے دَ خوشحال دَ زړهٔ چراغه

یارم بیا دَ رقیب یار شو دریغه دریغه
په خبرو دَ اغیار شو دریغه دریغه

یو څو ورځے لے په زړهٔ کښے مهرځائے وو
بیا بے مهره ستم ګار شو دریغه دریغه

هغه ګل چه م ساتهٔ دَ زړهٔ په وینو
مل دَ هر خس و هر خار شو دریغه دریغه

و قصد منو ته کا تهٔ څما په قصد کا
دَ وژوم روا دار شو دریغه دریغه

بے له تا م دَ ځیګر وینے خوراک شوے
تیر م عمر په دا کار شو دریغه دریغه

غهٔ بهار چه تل بلبلو پرے چیغار کړ
دَ خزان له لاسه خوار شو دریغه دریغه

بیچاره خوشحال په طمع دَ وصال وو
په هجران کښے ګرفتار شو دریغه دریغه

یوه بده زمانه شوه دریغه دریغه
دَ هرچا م دَ خاطر مینه آمیغه

مهر مینه محبت له زړونو لاړ شو
سینے ډکے شوے همه له مکره زیغه

چه لے ځائے په دواړو سترګو باندِ زهٔ کړم
هم هغه م هلاکت غواړی بے تیغه

چه دَ دے دور فتنو وته وګورم
وَ لے کا نړی تیرے نه ووری له میغه

دَ زړهٔ رازله بے دردا نو نه پټ بنهٔ دے
کهٔ له درده دِ سینه شی سره هیغه

په نوبت به دَ هرچا تر ځیګر خیژی
دَ قضا نیزه و هرچا وته نیغـه

کهٔ په تن شاهِ جهان دَ زمانے شے
هم دِ نهٔ وینم خلاصے دَ مرګ له نیغه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ بازدارئے پسے روکاندی بندونه — ذکرغول ئے علاج کوم دے بے کریغه
فهم وکړه کهٔ خودبین او خودنما شے — زمانه به دِ پائمال کاندی تر زیغه
زورورچه لاس ونیسی ناسازے — هغے تو به دَ زورورو له بلمیغه
داپه خم ختلی غواکهٔ هرڅو لویشے — سیم و زر به ئے حاصل نهٔ کړے له لویغه
تابه چیرے هومره کبر هومره خیال کړ — کهٔ دِ نهٔ وے رنګ زیبا په صورت سیغه

چه دِ بنهٔ له خویه بویه خبردار شوم
له خوشحال سره یاری کړے په درویغه

کهٔ یوګل وماته راکړے دَ خپل باغ — خدائے دِ تا تروتازه لری تل باغ
ستاله باغه یوګل ماله دولت دے — نهٔ په سل رنګه ګلونه دَ بل باغ
چه ورتلهٔ دِ باندِ نهٔ وی سیرهٔ ډاک وی — په راتلهٔ دِ شی درست ملک و بورجل باغ
په خوږو خوږو میوو په ګلو ډک وی — چه بنکاره کړے راته ته په کنځل باغ
دَ بنهٔ مخ دَ ګلستان بلا هجران دے — تل ګلونه په خزان ریژول باغ
نورباغونه دَ نوروز په وخت غوړیږی — په اهاړ کړه غوړیدهٔ دَ کابل باغ

همیشه به پړے ناره وی دَ بلبلو
داچه ساز کړه نن خوشحال په ویل باغ

را معلوم شو دَ اورنګ عدل وانصاف — دَ دهٔ بنه مسلمانی بنه اعتکاف
سکه رونړه وار په وار واړه وژلی — پلار په بند کښے اچولے په مصاف
کهٔ هزار ځله ځوک سر وهی په مزکه — یا په صوم تر شمځے ورولی ناف
خو دِ نیت دَ بنهٔ عمل سره جوړ نشی — عبادت طاعت دِ واړه دی خلاف
چه دَ ژبے لار یوه دَ زړهٔ ئے بله — په چاړهٔ ئے شهٔ ځیګر شګاف شګاف
مار په تن دپاسه بنهٔ بنائسته روغ دے — ولے ننه اندرون لری ناصاف
مړنے په کرده ډیر وئیل ئے لږ وی — دَ نامردو لږ عمل وی ډیرئے لاف

کهٔ دلے دخوشحال لاس په ظالم نشته
دَ قیامت په ورځ ئے خدائے مهٔ کړه معاف

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې میاشت کړه د آسمان دپاسه شقه | چه آفتاب ئې راښکاره کړله شفقه
چه په سر باندې ئې ابر سائبان وو | چه ئې پاتې جبرئیل شو له ابلقه
چه خوږې ئې د خولې لاړې ترعسلو | چه همه علم ئې زده شو بې سبقه
چه جمال ئې ښائسته په ملاحت وو | چه د مښکو بوئې ئې هیڅ ؤو ترعرقه
چه سایه ئې د وجود په مزکه نهٔ وه | چه بره ورته ګویا شو له طبقه
چه ئې تار په تار د باد په مخ خوارهٔ کړل | د تورنت و د انجیل واړه ورقه
دواړه کونه په طفیل د هغهٔ دی | مُرتّب او مهیّا په ډیر رونقه
چه دوستدار د څلور یار د اهلِ بیت دی | په هغو د بنو ګواهي ووله مطلقه

چه عرب ئې وثنا ته نهٔ رسیږي
د خوشحال ژبه مښود کاندي ناحقه

چه بُنیاد ئې پیدا شوې په نفاق | د هغهٔ نه طمع مهٔ کړه اتفاق
چه دودلي وي په ذات توره شړئ | سپینول ئې و هرچا وته دی شاق
چه په باغ کښې رنګا رنګ میوه پیدا شي | لون لون ئې مزه وي په مذاق
د عسل سره ئې خوره خوږه به نشي | مرغوني چه ترخه ده په میثاق
د دانا به د ناپوه سره څهٔ زیست شي | کونګی هیڅکله د بازنهٔ وي مشتاق
کهٔ اخلاقِ ناصري په یاد ووائي | په اخلاق کښې به بنهٔ نهٔ شي بداخلاق

د طاؤس سره کهٔ زاغ په قفس بند کړې
تر وصاله ئې خوشحال وي په فراق

خرد سرو زرو د زین نهٔ دے لائق | بنهٔ خرې ورلره بویه موافق
بوالهوس چه عاشقي کا عاشق نهٔ دے | په خالي هوس ئې مهٔ بوله عاشق
نفساني تاریکه شپه صادق هغه دے | چه سحر غوندِ سینه لري صادق
څهٔ به علم په تلقین سره نور نهٔ شي | چه راغلي له ازله دے فاسق
د سینا خویه له ځایه شیخ ملا وو | آراسته نهٔ شو په درس په خوانق
په ادب آداب به نهٔ فائق ترچا شي | چه له ځایه په فطرت نهٔ وي فائق
صالحان له ظالمانو نه پیدا شي | له زاهده نه پیدا شي غل سارق

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بدخوئ دَخوئ علاج ملک الموت دے
نۀ په ډیر علاج خبر حکیم حاذق

هغه باغ هغه باغوان هغه نے گل دے
چه فرهاد بانډِ بلبل وو یا وامق

زړۀ سوخته مئینان ډیردی په جهان کښے
څۀ یوازے یو مجنون نۀ دے عاشق

کۀ کارکۀ غونډے فهم وی خوشحاله
هیڅ اُستاد به شین طوطا نۀ کړی ناطق

ډیر دَ خیال سوارۀ ترے لاړل معلّق
سور په شا پرے ینیے نۀ دے دے ابلق

په دا طشت کښے هره ورځ وینے توئیږی
ښکارول نے هر ما ښام کاندی شفق

په ازل چه دا نسق دَ بیلتانۀ دے
ترا بده به وران نۀ شی دا نسق

وګدائے وته به څۀ رنګ پاتے کیږی
دَ بادشاه له تنه خیږی دا یلمق

روغ به هاله دَ درمن په حال خبر شی
چه په زړۀ بانډِ رسا وخوری شلق

پیدا کیږی فنا کیږی نۀ بښکاریږی
په دا سیند کښے جهاز ونه هم زورق

کۀ دَ مرګ سبق دِ هیر دے ګورے ګوره
خپل یاران درته یاد کاندی سبق

کۀ هر څو په سود سودا کړم لیدۀ شی
ترما بنا مه دے دَ دے بازار رونق

عاقبت به وا ړه ستړی شی خوشحاله
کۀ خوک ژاړی ناړی مرګ کنږی ناحق

دریغه سره تش کړے داډک زړونه دَ فراق
تول کړلے په تله دَ چا زیات شوے اشتیاق

مرګ به ما قبول کړنۀ بیلتون له خپله یاره
څۀ کړم چاره نشته حکم داوو په میثاق

ویش چه په ازل وو دَ هر چا دَ قسمت نو
غم وو کۀ محنت وو په نصیب شو دَ عشاق

خوک په عاشقئ ولاړ چه زۀ پاتے هجران وته
اوس به له ما څۀ غواړی وکړی خوئ اخلاق

هر محنت آفت شدّت نکبت په جهان بنۀ دے
یو بیلتون بلا دے تر هر څۀ په اتفاق

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشق ئې د زلفینو لکه زهر د مارونو !
شوری په څیګر کښې دواړه لب ئې دی تریاق

تل صبا بېګاه باندې د آه د ناوکېو
ووری سپین توبری څه بنادی کا اهلِ نفاق

تل شهدو شکرې که خوشحال خوری ګمان مکړه
چه بې هغو لبانو به خوږ شی د ده مذاق

که د سرو شونډو سره غواړې تحقیق
د یمن په ملک به نه وی دا عقیق

خوله ئې هسته ده که نیسته نه پوهېږم
دا رموز دی وهرچا و ته دقیق

په زرګونو راته لاف کړی د یارئ
مایو یار پکښې ونه لیده صدیق

په هر لوری م غورزوی په سر لګېږ م
زمانې کړم لکه سنګ د منجنیق

اول غم د یار وما و ته غلیم وو
اوس تر ده نه بل څوک نه لرم شفیق

په لومړی قدم دِ سر له تنه پرې کا
چه قدم کښېږدی په دا خونی طریق

چه د عشق په بحر ډوب دی حال ئې ګوره
د دُنیا په حال خبر نه دی غریق

طلبګار ئې د وصال په لوئې طلب وی
له ازله ئې راوړې دا توفیق

آزاده عالم بندی دی که ئې ګوری
د زلفینو په زنځیر ئې دی عتیق

ګنړه زیان د عشق یو ازې د عاشق دې
اُمید قطع کړه خوشحاله د رفیق

یو څه بحر دی عمیق
د سیماب غوندې حریق

په شنا ترې واته نشی
څوچه بخت نه شی رفیق

په ساحل ولاړ څه زده
چه څه حال لری غریق

حال دما یو معمّا ده
چا م حال نه کړ تحقیق

که هند وکه مُسلمان دې
بت پالی د خپل فریق

چه م یار د طریقت وو
بیکار نه شو هیڅ طریق

یو له بله بهره موی
په اخلاص او په توفیق

چه ئې زه لرم په زړه کښې
عجب فکر دی دقیق

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل بلا دَ جهان کل وے
جدائی نهٔ وے تفریق
په نامهٔ به شقیق نهٔ شی
کهٔ څوک نوم کښیږدی د شقیق
په دا ښهر کښے اکبر دے
دَ خوشحال یارِ شفیق

بذگرچه دا دانے لونی په مزکه
دَ یوے دانے زر طمعے لری خکه
حقیقت دے کهٔ مجاز درته ئے وایم
یوه ښه ښائسته جل بله کو څکه
چه محنت په خان قبول کا راحت مومی
خدائے به نهٔ کاندی خواری دَ هیچا ورکه
کهٔ خبر نهٔ ئے خبر شه چه حال څهٔ دے
په ظاهره ډیر ټکی لری لټکه
هر زمان په دَ اوبو په فکر نهٔ وو
بے اوبو کهٔ ما تیدے دَ تږی سکه
دا پریشان پریشان وئیل م دمستیٔ دی
چه دِ مزے دَ ژوندون بولم خوږکه
ترلیدلو نه ئے نهٔ لیدل بهتر دی
چه وغږ ته ئے نظر کیږی په کرکه
دَ دے باغ گلونه واړه ښائسته دی
چه همیش ئے بقا نشته په کنجکه
چه ئے مینه دَ زړهٔ سنگو روزی نشوه
په قیامت کښے به دَ هغو تله وی سپکه
چه بوسه دَ هغے د ټکے دَ خولے غواړے
یا ئے دواړه خوږے نسه یا خوږکه
دا دِ واړه ناپوهی نهٔ ده نور څهٔ ده
چه دَ لویو چارے غواړے له هلکه
دَ بدگوئے دَ خولے خبرے واړه روغے
چارهٔ تُوره بے سندانه بے خو ټکه
دا م شعر په بیاض کښے نهٔ دے جمع
په کچکول کښے م پراته دی خو کنډکه
چه سرے شلومیے ئے خښم په وخت دَ اوری
بادشاهی دَ اورنگ زیب خُما غږکه
کوم یاغیان هوډیان دِ پړے یستل له هرڅهٔ
چه دا هومره ډیر دماغ لرے خڼکه

تل چه ارته لمن نهٔ څکوے په مزکه
غره توب لرے دَ مخ په خوبئ څکه
په بیسرد رنګا رنګه ټکی کوړه
په دا شان به ښائسته نهٔ وی لوڅکه
چه دا هسے شیوه کړه څنے زووے
سړے نهٔ وهٔ ښاپیرئ وه ستا آدکه
دَ مستئ له مخه دا پریشان وئیل کړم
چه دِ مزے دَ ژوندون بولم خوږکه
زهٔ به تا وته نږدے شم تا به کوږم
کهٔ دِ ماګنده نه نهٔ کیږی ستا کرکه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بوسه مِ دَلبا نو سرفراز کړه — همیشه په زړهٔ لرم دَ شربت څکه
لیونے دِ وجمال نهٔ یم نورخهٔ یم — چه په خپله خونه نهٔ پریږدم ګنجکه
لون لون شولانو نه دَ شاهانو — دَ هردر رالره بس دی څو کنړکه
سربازم وصال دِ غواړم هغه زهٔ یم — لکه څوک چه په بل لوری غواړی وُرکه
دَ بنا ئست برخه ئے ورکړه دَ ترکانو — محبت راپیدا کیږی له تاجکه
چه ئے تُوره پکارنهٔ وی حبطه وی — کهٔ ئے روغه دی دَ سپینو زرو تِکه

مګرتاڅخه سامان دَ سلطنت دے
چه په هوډ م سپینه خولهٔ غواړے ختکه

چه وفائے له چا نهٔ مونده په مزکه — وآسمان وته روان شو عیسیٰ [۳] څکه
په زړګونو راته لاف کړاوس یو نشته — آشنائی له هرچا بنه ده بے خټکه
دَ هغوله خولے کږے خبرے آ وُرم — چه به ما ورته کا تهٔ کول بے کړکه
دَ راحت په وخت چه تل ترتاڅاریږی — په سختئ کښے ویزا ریږی له ا بکه
مادے واړه په احسان څما بندی دی — همګی ئے زیست روزګار وو له کوتکه
دَ معنیٰ په سترګو ګوره کهٔ دانائے — په ظاهرجامه کهٔ بنه بریښی لتکه

مروت یاری ترے مهٔ غواړه خوشحاله
هرسړے چه اوبهٔ وځښی له اټکه

چه په دوئ به ئے بخښل شی پاک ناپاک — بل سړے نهٔ دے صاحبؐ دے دَ لولاک
ترهلال ئے صدقه شم تر بلالهٔ — په اخلاص یم زهٔ دَ دوئ دَتلی خاک
دَ بوذرؓ او دَ سلمانؓ ئے درویزګر یم — تل دَ دوئ په محبت ئے څما ژواک
ذوالفقار ئے اژدها وو دوے ئے ژبے — چه دَ دین مخالفان ئے وو خوراک
په دا هسے مرتوب ئے آفرین وو — چه په کار ئے محمدؐ شو فرحناک
کهٔ سواره ئے مرنی دَ لښکر پیر دی — لاس څما دَ دلدل سوار دَ زین فتراک
دَ خیبر په کوټ ئے هسے زوربنکاره کړ — چه له ویخه ئے راوښړول پــاک

محمدؐ دَ علم ښهرعلی ئے وَرَ وه
ترقنبر ئے شهٔ خوشحال خټک فداک

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه وبازئ ورکولے تیرے نوکے
ترتهتر به ئے ویستے د زړکے سوکے

د بانړې نظر د چتی په لګېږئ
د شهباز نظر د میور په خونړکے

د کارګهٔ توره مبنوکه د ګندګئ ده
قند لائق دے د طوطی د سرے مبنوکے

د ګلرنګو ناز په هرکله د وړو دے
بیهوده بے ځایه ناز کا رنګ املوکے

یا به سر د خپل ورمیږ په وینو رنګ کړم
یا به کُبنل کړم دغه ستا شونډے ملوکے

آفرین دِ په دا تورو شهلا سترګو
چه ئے کُبنلے د کشمیر کړلے مملوکے

لا به کله هغه ګل په چمن راشی
د نرګس ګلونه ګوری سترګے بوکے

د هجران له غمه هیڅ سرے خلاص نۀ شۀ
ښوک په رو رو ژړا ژاړی ښوک په ګوکے

چه توبه د ملوکا په وخت د ګلو
پرے بنائی کۀ د هغو په بږیره توکے

یا د بنو ځلمیو غږ دے په میدان کښې
یا د بنو دلبروځی په جهان کوکے

د زاړهٔ خوشحال خوانی په بوسه نۀ کا
پښتنې جونه بخیلے بد سلوکے

دال او واؤ د محرم د صفر اک
د ړومبئ خورے درویشتم څه یک

د دویمے خور سړ ومبئ ا تلسمه
د دریمے خورے یا مۀ و کړه شک

څلورمے خورے دال چه سره ید شی
د رجب دے ب و یج د شعبان دک

د روژے د میاشتے جګ پوره حساب دے
حے شوال ذیقعده لط ذوالحجه وک

چه په هره میاشت کښې دوے ورځے نحسے
هم دغه دے حساب وشو خو بک

بیا روستئ چارشنبه د هرے شنبے
نحسه ورځ ده وائی بنۀ خوشحال ختک

کۀ زۀ نۀ وے تا به ځان لره بلل ښوک
په پالنګ به دِ داهسے درختل ښوک

واړه عشق دے چه لے سر دا ته ګیاه کړ
ګنړه زۀ په ځان مئین د سربلند ښوک

چه پتنګ ته روښنائی د څراغ ښکاره شی
نور له څراغه نه ئے غواړی جا روتل ښوک

بد ګله کۀ محبت د اسره نۀ وے
یک تنها به په خونخوارے لارے تلل ښوک

د دے میو پیالے ډیرو دی اخستی
ولے ماغوندِ به نۀ وی لا یعقل ښوک

د زنخ په چاه دِ بند د شونډ و مست دی
روغ هوښیار به په کوهی کښې پریوتل ښوک

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تۀ بخیله راته وولۀ چه وا یه ‌ ‌ ‌ ګنړه زۀ دَ مینې راز ښکاره وېل څوک
تۀ م وژنه دَ قصاص اندیښنه مکړه ‌ ‌ ‌ دَ خپل خون په توربه ونیسم یو بل څوک
ښه خودا چه دَ چا نوم پکښې یادېږی ‌ ‌ ‌ په فاني دُنیا به نۀ وی ژوندې تل څوک

تا بخیله سپینه خولۀ وخوشحال ورکړه
ګنړه دې دا هسې شوندې کښلول څوک

مرد هغه چه همت ناک برکت ناک ‌ ‌ ‌ دَ عالمه سره خوږ په زیست و ژواک
مخ ئې مخ قول ئې قول عهد ئې عهد ‌ ‌ ‌ نۀ دروغ نۀ ئې فریب نۀ تش تپاک
لږ وئیل ډیرئې کول په خاموشۍ کښې ‌ ‌ ‌ دَ غنچې غوندِ خولۀ ډکه سینه چاک
چه خبره دَ پستۍ دَ بلندۍ شي ‌ ‌ ‌ په لوئۍ لکه آسمان په پستۍ خاک
په تمکین کښې لکه سرو په پستۍ کښې ‌ ‌ ‌ په هر لور خانګې ړنګوړې لکه تاک
لکه ګل شګفته روئ تازه په باغ کښې ‌ ‌ ‌ همیشه دَ ښو بلبلو پړې بلغاک

چه دا هسې ښۀ وئیل کا زۀ حیران یم
چه خوشحال راوړۀ له کومه دا ادراک

نۀ په خولۀ ګولئ خوړلې دَ توپک ‌ ‌ ‌ نۀ نړې دَ لئیمانو دَ بنا نک !
کۀ دَ تن وینې یو جام وڅښې لا ښې دی ‌ ‌ ‌ نۀ اوګره دَ بخیلانو یو کا شک
کۀ اوبۀ دِ دَ بخیل دَ منګی وڅښې ‌ ‌ ‌ ستا دِ وخیژی دا نه په چنغړک
نۀ دَ شوم دَ لاسه سل بیرې خوړلې ‌ ‌ ‌ نۀ دَ مرد دَ لاسه پانړې دَ پالک
دَ نامرد سره مکې ته رسیدلې ‌ ‌ ‌ ښۀ دَ مرد سره په بیدِ بیدیا ورک
مخ دِ سوې دَ دوزخ په لمبو ښۀ دې ‌ ‌ ‌ نۀ چه سم کړې وممسک وته ورسک

دَ منت سره حلوا مۀ خوره خوشحاله
دَ حلوا نه لا بهتر دې وچ کنړک

چه ماکړی په جهان کښې رنړا سترګې ‌ ‌ ‌ بې له تا م خوږې نۀ شوې په چا سترګې
کۀ زۀ ستا له مخه وګورم بل مخ ته ‌ ‌ ‌ نور په قطع دِ ړندې شي خما سترګې
هر ښکاري چه غرڅۀ وولي ورته ګوري ‌ ‌ ‌ تۀ یو سر بل سر مکړه له ما سترګې
هر ګورم له هیبته وارخطا شي ‌ ‌ ‌ چه تۀ وا ړوې وما ته شهلا سترګې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخوشحال غریب په در درته ولاړ دے
ته هم کله کله ماته کړه وا سترګے

که ښولے زرکه بازپرېږدی له چنګه
زړه به هم له لاسه پرېږدم شوخ وشنګه
در په در کلی په کلی پسے ګرځه
دریوزه که د دیدن مو سے ملنګه
ګل که هرڅو ښائسته دے په دا باغ کښے
کله وینے بیا اغزی لری له څنګه
چه دِ توان رسی په لوئے دریاب کښے ګرځه
په بیله کښے دِ زوال وینم نهنګه
عاقبت به ګړئ وربانده کښېږدے
ترڅراغ چه ګېنز وهے ګرځے پتنګه
پندګویان چه عاشقانو ته پند وائی
د هوښیار په پوهه سروهی له سنګه
ترسحره م دیاره سره ناز وو
درسته شپه راته کوتاه شو تر درنګه
هغه یار که په پالنګ راسره نشته
داهم شکر چه ئے بوئ ځی له پالنګه
چه ئے زړهٔ د معشوقے په مینه مست شی
د هغو سر یو ځهٔ له نام و ننګه
لیونے به لیونے نهٔ وو عالمه
که ئے بخره وی له عقل وله فرهنګه
که لیلی ونور عالم ته کښلے نهٔ وه
په داځهٔ چه ومجنون ته وه خوشرنګه
د غمزے په تیغ ئے خوږ ښهٔ ئے خوشحاله
مړنے په روغ صورت نهٔ ځی له جنګه

مست د هغے مخ یم چه مخمورے لری سترګے
هسے پرے غوخیږم وائی تورے لری سترګے
یارم په ښائست کښے بے نظیره بے مانند دے
لا په درست صورت کښے مشهورے لری سترګے
ډیرے کښلے سترګے ما لیدلی دی د کښلیو
تاغوندِ یو یو په بڼړو پورے لری سترګے
سل خله دِ شیخ ملا صفت ورځنے کاندی
ښے به ستا تر تورو سترګو خورے لری سترګے
ناست دی لکه څری رقیبان وخوار عاشق ته
څکه ستاله مخه هورے دورے لری سترګے
هرچرته چه ته ئے هغه لورته م نظر دے
هرچرته چه زانړی شاهین هورے لری سترګے
نشته په جهان کښے تل طلب ورپسے ګرځمه
یو هسے منظور چه نن منظورے لری سترګے
نه ګوری وچا ته څو په خپل ښائست غره ده
ګوره داخیالی په څومغرورے لری سترګے
سخ دے د هغهٔ چه خوش خرم د یار په وصل
هرساعت د یار په مخ مسرورے لری سترګے
راشه که ئے ګورے چه خوشحال په درد و غم کښے
ورځ وشپه بے تا په اوښکو پرے لری سترګے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښتر ستا دَ قد سيالي ونکړه دنګے　　اورئے بل کړ په خپل ځان په ننګے ننګے
سره بنهٔ دَ زړهٔ خوښي کاندي همزولي　　نهٔ دَ لوئے نهٔ دَ هلک دي يار دَ کنګے
په خيال خيال ئے تړوې بَدري ومهٔ خوره　　دَ منړيل شملے پړے ئيښے سور دَ خنګے
دَ خوشحال وئيل وهرچا ته ښکاره وي
نهٔ دَ مښکو بوئ پټيږي نهٔ دَ هنګے

اقربا راته عقرب شول　　رضامند مِ په تعب شول
دواړهٔ ترونه مِ نااهله　　ابوجهل بولهب شول
زهٔ ئے بند کړم په مغلو　　په خانئ او په منصب شول
رشوتونه ئے قبول کړل　　په تلاش کښے روز وشب شول
دالوئے خويه مِ لوئےمهٔ شه　　دَ هزار بلا سبب شول
زهٔ ئے هند لره روان کړم　　په نشاط او په طرب شول
خيلخانه مِ شوه په عزونو　　پړے کارونه پيښ عجب شول
ناز پرور ځويه مِ واړه　　په فرياد و په شغب شول
چه ئے نمر ليدلے نهٔ وو　　په ځنګلو تشنه لب شول
درست اُولس قبيله واړه　　ګرفتار په ډير غضب شول
په آه آه دَ فراق ژنو　　زړونه ورئ دَ عنب شول
خوشحال نهٔ مونده خټکو
کهٔ ئے هر خو په طلب شول

اورنګ زيب بے دليله　　په ظاهر باطن عليله
لګه مچ په انګبين کښے　　پسو بند شوے په قليله
په تسبو کښے دِ بلا ده　　هئے توبه ستا له تهليله
دَ يوهٔ صورت دپاره　　خيلخانه دِ کړه قتيله
نهٔ په ځويه نهٔ په پلار ئے　　په هر چا باندِ بخيله
په دا هسے بے عدلئ　　هلاکو سره عديله
بے له خدايه بل يو نشته　　دَ خوشحال په سته سيله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دَ عشق دریاب را وخوت چلے چلے / عاشقان پکښے لاهو شول بلے بلے
کۀ دَ سر ملاحظه نکړے غواص شے / مرغلرے په دریاب کښے تلے تلے
دَ پتنګ محبت لا پسے ژړیا تیږی / چه دَ اور لمبے لیدے شی بلے بلے
ناګهان ئے مخ ښکاره کړو بیائے پټ کړو / په خندائے دا وئیل چه چلے چلے
ماوے چرته به وی کان دَ خوږو قندو / شاه و لب ته اشاره کړه دلے دلے
دَ عشق بحره عطائی لکه ایمان ده / موندۀ نۀ شی په کوشش به خلے خلے
چه دِ خوله له ما غوښته وتام درکړه / دا چه بیا له ما مانړے کړے ولے ولے
همیشه پسے جارووځه شها غواړه / کۀ دِ پښے دَ طلب نۀ دی شلے شلے
زۀ خوشحال به بل دَ یار برابر نۀ کړم
په جهان کۀ ښکلی ډیر شی ډلے ډلے

بیا خیره په سر کړه کښیږده له خیاله / چه خوبا دِ په خوله نوم واخست خوشحاله
بیا سینه پسے په دواړو لاسو مږم / لکه باز دَ هونړائی ووځی له جاله
زۀ لا هسے کجکول نادیده نۀ یم / چه لا له به بهوم ستا له جماله
کۀ دَ مښکو انبارے مِ په لاس کښیوزی / همګی به صدقه کړم ستا ترخاله
خما مینه هسے نۀ ده چه نوریږی / کۀ هزار رنګه جفا کړے خما لاله
دَ عاشق عمر کوتاه دے لا په دا هم
کۀ دَ عمر هره ورځ ئے شی سل کاله

بدرحمت شی په بازونو یو یو کال / نوم ئے څۀ دے په فارسی سیه پیخال
طعمه اچوی طلب دَ اوبو ډیر کا / تور پیخال کاندی دَ لویو په مثال
په نبات دَ غوا په غوړ سره بازصاف کا / یا علاج دَ سنګتا وکړه دم درحال
دَ سنګتاؤ ترتیب اوبۀ دَ دریاب واخله / دَ صحرا په غوشیو تاوده سفال
پکښے اچوه چه ښۀ اوبۀ په جوش کا / بول ناس نبات پکښے مثقال مثقال
دا سنګتاؤ کۀ دَ اوبو سره بازخښینه / فائده ئے تجربه ده دَ خوشحال
کۀ یوه ذره لونګ هم پکښے وینه
په ښیښه کښے ئے ساته په ماه وسال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پہ بنیوہ بنیوہ رفتار کا ندی غزا لہ ... وائے پښے پہ مزکہ نۂ کښیږدی لہ خیالہ
وغمزو وتہ ئے حکم دے چہ وژنہ ... ھم ھغہ چہ مینہ کا ځما لہ خالہ
دَ زړۂ حال ئے امانت پکښے لیدۂ شی ... چہ ئے تن پہ صافی صاف دَ ترزوالہ
لہ دوؤ سترګو خبر واخلہ چہ ئے وژنی ... نور بہ څۂ پوښتے ځما دَ زړۂ لہ حالہ

کۂ شیرین آشنا وفا درسرہ نۂ کا
پہ جفا ئے ھم خوشحال اوسہ خوشحالہ

پہ دا ښهر کښے دِ نۂ وینم ځوک سیالہ ... خبردار نۂ یم دَ بل ښهر لہ حالہ
پہ ښا ئست کښے دِ ارمان دَ صورت نشتہ ... دریغہ دریغہ پہ خوئ ھم وَےٖ خوسالہ
پہ دردمنو کښے نن زۂ یم بے مانندہ ... پہ دلبرو کښے نن تۂ ئے بے مثالہ
پہ دا سپین تندی دِ طعن پہ آفتاب شی ... پہ ابرو دِ ګرو وړے لہ ھلالہ
نن بہ تۂ دا کبر نۂ کړے نور بہ څوک کا ... چہ پہ خلقو دِ نارے دی دَ جمالہ
کۂ تل جنګ وخرخشے کړے زۂ پرے خوښ یم ... ښا ئستہ دَ جھان نۂ وی بے جنجالہ
چہ دَ حال پوښتنہ نۂ کړے مړګ مِ راغے ... کلہ کلہ مِ خبریږہ لہ احوالہ
پہ پنځۂ وختہ چہ لاس پہ دُعا ھسک کړم ... ستا دَ عمر دُعا کړم پہ ډیر ډیر کالہ

دا بے وختہ سپین ویښتۂ نۂ وو بلا وو
چہ دَ کښلیو زړۂ ئے بد کړو لہ خوشحالہ

پہ درست جھان بہ نۂ وی یو ځما غوندِ رسوا بل
ورځم تورہ وکښلے چہ منین واوژم پہ تا بل

یو تیر دِ وویشتمہ چہ ځما دَ درد دارو شو
ھاں اے ځما طبیبہ چہ ښۂ روغ نۂ یم یو بیا بل

کۂ سرو کۂ عرعر کۂ صنوبر ستا تر قامتہ
څۂ نورے دَ باغ ونے چہ پہ خیر ستا دَ بالا بل

نن ما وتہ چا ووے چہ آشنا غواړی خپل تیغ تہ
دَ خدائے دپارہ کوم بہ لہ ما بۂ وی آشنا ستا بل

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا زلفو م زړۀ یوړو سترګې راته په څو دی
تاراج به دا ترکان کا نۀ به ځیز یوسی په غلا بل

نۀ ننګ لری نۀ شرم تا وے هرچه عاشقان دی
بے ننګ دی کۀ بے شرمه هیڅ عاشق نشته ترما بل

ملائے فتنه ګردے وربښیٔ فتنے جنګو نه
تعلیم ته ئے خوشحاله زر پیدا شوے یو مُلا بل

په دا باغ کښے به دِ پاتې نۀ وی ګُله
کۀ خبر شے دَ خزان له تطا وله

دا څو ورځے غنیمت ګڼړه په باغ کښے
چه په تا باندِ سینه وهی بلبله

مرتبه دَ هغه باغ څۀ پاتے نۀ وی
چه خالی وی دَ بلبلو له غُلغُله

وهغے ښیښے ته نۀ غورېږی سترګے
دَ ساقی څخه چه تشه شی له مُله

په دا پُل باندِ دَ خلقو ګذر ګوره
څوک پر یوزی څنے یوړے وُوځی تر پُله

په درست عمر به ئے نۀ وُوځی له یاده
چه لیدلے وی تا رُو دَ باز منګله

مقدر به په هیڅ رنګ مبدّل نۀ شی
کۀ په خان باندِ تل لوے لے څلور قُله

عاشقان چه عاشقی کا غم به نۀ کا
دَ رقیب او دَ غماز او له چُغُله

څۀ کړم لاس ودستم نشته قلندریم
ګڼړه ما به دُنیا وُباز له ګُله

په پالنګ به خوب په څوبے غمه کاندی
چه خبروی دَ فلک له تزلزله

هسے یار لرم بنا نست ئے تردا قیاس کړه
چه دَ مښکو بوئ ئے هیڅ دَ له کاکله

دَ دلبرو په ماڼړی کښے هم مزه شته
بیچاره خوشحال ئے مری له تغا فله

تردا دوۀ سترګو م اوښکے بهیدلے
په فراق کښے تر لمنے څڅیدلے

ستا دَ وصل اش رمق دَ راته پاتے
وائے څۀ رنګه بے مانه پائیدلے

ستا په غم کښے م دَ زړۀ نندارہ وکړه
پکښے واړه سرے لمبے وے بلیدلے

داهم بخت چه په بالښت دَ خسته راغلے
وے دِ اوس په څُنګدن ئے خندیدلے

زۀ نۀ ګرم نۀ ملامت نۀ م څوک یار کړ
تۀ په کوم توکی دا هسے قهریدلے

خلئے په خانئے درته بلبلو میشته وکړه
لا دِ اوس دَ باغ غوټئ غوړیدلے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دِ یار په غیر ونیوهٔ هوس کړه — چه ئې ډیر په بیلتانهٔ کښې رنځیدلے
ځکه تل دَ باد له لاسه خوری څپیړے — چه له قد سره دِ سروِ سمیدلے
اوس ئې جور وجفا وړه دا دِ سزا ده — فکر اوکړه چه په چا مئین کیدلے
دَ رقیب گونځه بده شوه لیده دِ — چه وماته په تولی کښې موسیدلے
په زړهٔ یاد لره دا اور چه دِ رابل کړ — یو ترشا نظر دِ نهٔ کړ تیریدلے
بے دَ یار له مینے واړه لکه باد دی — چه په زړهٔ م ډیرے مینے گرځیدلے

چه په تلل شوے له خوشحاله لکه عمر
کهٔ ئے ډیره بلا کړه نهٔ دریدلے

چه مزرے خپلے منگلے نهٔ کا کښل — هومره نهٔ وی خربے غوښے ورته تل
مرجونړاو دَ دُر مرجان هاله اولجه کا — چه قبول کاندی دَ بحر خونی چل
عاشقان چه ترسر تیر شی هاله کُښل کا — دَ دلبرو پا ستهٔ لب لکه بخمل
باز چه والوزی له ځالے هاله گوری — دَ کبانو ښا ئسته سترگے کجل
چه دَ اور بخرے باد سره رفیق شی — بیا هاله کا په ملکونو آتش بل
چه سیلاب دَ غرهٔ دسره نه روان شی — بیا هاله بیائی په مخ خاوره تخل

خپل هُنر له لاسه مهٔ پریږده خوشحاله
خوره غصے ډیر دی بهتر غصے خوړل

چه په زلفو ئے پا یست شول — دَ ماهی غوندِ په شست شول
دَ خمار ویره ئے نشته — چه دَ شاه دَ سترگو مست شول
چه په لام وبے ئے مینه — دَ سرو میو مئے پرست شول
دَ هغو ښادی به تل وی — چه دَ شاه دَ غم تردست شول
چه دَ خولے رموز ئے بیاموند — عاشقان له نیسته هست شول

دَ خوشحال خلاصے له کومه
چه ئے تا غوندِ په قست شول

چه دا هسے ښا ئسته ئے زیړه گُله — ځکه تا په ځان شیدا کړله بُلبله
چه ئے طور ستا دَ تورو زلفو واخست — ځکه بوئ دَ مهر نهٔ ځی له سُنبله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذلبانو بوسه بیا ورکړه مشتاق ته
چه مستي ئے لا اثر وکا ترمله

چه په پټو سترګو ناست لیدل دیار کرم
خلق څهٔ خبر له هسے رنګه شغوله

راشه خپل وژلی کوره په خپل ور کښے
په غمزو په خرخشو په تغا فُله

چه دَخلقو له نظره دِ امان دی
همیشه دربانډِ لو لم څلور قُله

لکه یار راسره وو په هغه شان دے
بنهٔ چه بیا دِ مخ تورے وشو چُغله

لا به کله سر ځما په غیږ کښے کښیږ دے
چه دَ مښکو بوئ دِ دروی له کاکله

څوک چه صبر ستا له مخه راته وائی
ځما څهٔ غرض دَ صبر و تحمّله

درست عالم دِ په خوشحال بانډِ غوغا کا
باز پروا کا دکارغانو له غلغله؟

چه ئے بخره ازلی راغله اصیله
دا فلک ئے همیشه ګرځی په سیله

چه عزیز ئے په خپل فضل په کرم کړل
چار به نهٔ شی دَ هغو چیرے ذلیله

چه بخیله ئے عطا په خلقو نهٔ کا
دهومال بخره به واخلی له بخیله

دَحاتم په مسند ناست هغه ځلے دے
چه دُنیائے په هرچا بانډِ سبیله

دَعارف په بخره علمِ لَدُنِّی دے
په اَلَسْت ئے روزی شوے بے تحصیله

چه ئے وارہ آمنّا و صدّقنا کړهٔ
دَدانا وینا به نهٔ وی بے تاویله

دَدے دور درویشان خلیفه بس دی
اوس خپل ځان لره بل کار کړه عزازیله

کهٔ کامل دی په جهان هغه کسان دی
چه فارغ دی دَدُنیا له قال و قیله

عالمان دی رهزنان چه غواړی نغاړی
عام عالم لره زده کړی څو دلیله

دا جاهل شیخان شیخان نهٔ دی شیطان دی
چه فساد ئے پیدا کیږی له تهلیله

کهٔ دیارہ نه جدا وی دوه درے لویشتے
وعاشق وته ښکاریږی دوه درمیله

زهٔ هم ځکه په جهان کښے بے عدیل یم
په جمال م معشوقه ده بے عدیله

چه آرام ئے دَخپل یار په لیدو اوشو
دَ خوشحال له دله څهٔ غواړے تعجیله

څهٔ به ووائے خوشحاله
له تلمیله له کماله

دَ هغهٔ مرغهٔ څهٔ نوم دے
چه په اور کښے لوے ځاله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم بے چون هم بے چگون دے | هم بے مثله بے مثاله
هم بے سره هم بے پایه | بے وزره هم بے باله
په بوۀ نفس الوزی | څو عنقا دروهی څوکاله
دے میوه دَهغه باغ خوری | چه ئے وُنه نا نهاله

چه په دا مشکل خبر شے
ځان به خلاص کړے له جنجاله

خپل پردی چه دَ شمشیرشول | کشتنی تر شماره نیوشول
تُوره و نغاره خوشحاله | اوس به څو وڼے چه ډیرشول
که صاحب ؤو که تُرسم ؤو | ختک ډیر دَ دوئ په خیرشول
هسے چارے کا ستا ځویه | چه آتش شاهی بیک هیرشول
چه نظر وکړم خپل ځان ته | څوغمونه راچاپیر شول
داپیری ده که طالع ده | چه کیدړ وو راته شیرشول

هیڅ دم مهٔ وهه خوشحاله
چه نبات در ته کندیرشول

دَ بنهٔ یار دیدن وے تل | سره ځانے چمن وے تل
ترکنار او ترآغوش م | هغه گلبدن وے تل
لکه سیب ځما په خولهٔ کښے | غه شیرین ذقن وے تل
رقیبان ولاړ له ورایه | له ما هم سخن وے تل
جدائی نهٔ وے له یاره | سره ځان و تن وے تل
مهٔ مانړے وے نهٔ عتاب وے | په رقیب شیون وے تل

دَخپل یار دَکوڅے خاورے
دَخوشحال وطن وے تل

دَ بنا ئست په کارکښے نهٔ لرے څوک سیاله | دَ یارئ په کارکښے نهٔ ئے هومره سیاله
هومره کبر خیال چه ستا دَ زچا نهٔ دے | څو به زار کړم ستا له کبره ستاله خیاله
ستا په تش لید وځما دَ زخم علاج شی | کنړه مرمه وویریږه له وباله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاویشتلے یم په خپل ګذار پوهیږے — چه د سترګو دِ ګولئ دی څو مثقاله
یږے د صبر پھے بردم واړه خسا کیږی — چه په زړهٔ باندِم داغ د ستاله خاله
جګی جګی ما نړے مهٔ کوه بچلا شه — خرخشو فتنو دِ زړهٔ کړم بے مجاله
خرخشو فتنو د مرګ وته نژدے کړم — چه یو دم راسره نهٔ ئے بے جنجاله
راته ګته شورونے ناخواله وائے — حال به وو ینے خمونږ د خان زواله

دَ خانئ د تورے ځائے نشته په عشق کښے
معشوقے وته مرنیے اوسه خوشحاله

زړهٔ م یوړلو خوردسالے — ښائسته پورے مثالے
په دوؤ زلفو عنبر پاشه — دواړه وروځے ئے هلالے
تورے سترګے ئے تور زاغ دے — راپیدا د باز له ځالے
ګلعذار ئے لاله ګل دے — غابښ ئے دُر شونډے ئے لالے
تر بنهٔ قد و تر قامت ئے — سروِ هم بے اعتدالے
تروئیل ئے نهٔ رسیږے — دلربا شیرین مقالے
تر یانهٔ پورے ئے پوچے — دَ خطا د ملک غزالے
دَ خوشحال معشوقه داده
خولهٔ ئے میم زلفے ئے دالے

ستا دَ زړهٔ سختی م سر تر پایه ولیدله
سنګ به سینه وور کړی ستاله هسے سنګه دِله
څهٔ خو رابښکاره شوه په څنبل دَ سترګو ولاړه
ما وے دَ آسمان بریښنا ده نهٔ م پیژندله
نوره دُنیا نشته چه څهٔ وه راښخه خلقه
وار په وارم واړه په دلبرو وښندله
نازکهٔ کرشمے دی کهٔ غمزے فتنے جلوے دی
اوس م په دا کار کښے سره درست وپسندله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل چه شګفته شی عندلیب باندِ نارے کا
نشته یوه کښلے چه پرے وبولم بدلے
یادِ م هغه وخت دے چه په شپه به سرِّ ناست وو
شمع به ژړا کړه ، صراحی به خندیدله
اورچه په ځان بل کړے په خپل ځان باندِ لګیږی
اوس مِ دا خبره په زړهٔ بنه وُلګیدله
تل ګونه وهلے هرزمان ساړهٔ آهونه
ماچه عاشقی کړه خود په ما به دا کیدله
سرے لیمبۓ بَلے دَ خوشحال خټک په زړهٔ کړے
سرے ختے اغوستے په دا لارے تیریدلے

مخ دِ لاله ګل دے لا بهتر تر لاله ګله
سرے شونډے دِ مُل دی لا بهترے دی تر مُله
دار کړمه لازم شم چه پریشانے کړے خبرے
مښک دی کهٔ عنبر دی ستا پریشان پریشان کاکُله
زلفے دِ ښکاره کړه چه خجل شی په خپل کارکښے
څهٔ لره ښیوه کا لکه ستا زلفے سنبله

نهٔ زهٔ ملک غواړم نهٔ مال — نهٔ دَ دهر نور جنجال
نهٔ په تلهٔ دَجهان غم کړم — نهٔ په راغلهٔ خوشحال
دَاسفل فکرونه نه کا — په اعلیٰ ختلے فال
په آسمان باندِ پیره کړم — دَ همت په پروبال
دَ خپل خدائے منت را باندِ — چهٔ را نهٔ کړو بل خیال
بخار بخښم هغه یم — په دیدن دَ یوهٔ خال
وجهان وته ئے شا ده — کهٔ خوشحال موی وصال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یارمِ غوښت چه مِ اندوه یوسی له دِ له
زړهٔ مِ وسپارهٔ وتاته چه ساته ئے
یو پیغام ئے دَ وصال راله راوړ
له اوله عشق بازی راته بازی وه
خدایه تا په بنانسته وُ مبتلا کړم
کهٔ همه دنیا خما په لاس ودست وے
دَ هجران دَ تورے هسے شان گذار دے
کهٔ دَ مستے دَ غمزے دَ تیغ مشتاق ئے
کهٔ مِ داخله صورت له غمه خلاص شی
ما په هیڅ محصل نهٔ وو کمارلے

نه چه کا خما په زړهٔ دَ غم کوله
نهٔ چه ته ئے سره وسرویه په بله
دَ جهان خوښی ئے ما وته بخښله
اوس همه راته راپیښه شوه مشکله
چه له غمه ئے خالی نهٔ یم هیڅکله
مابه کُل دَ یار په زلفو وښندله
چه پرهار ئے بل خُلے نهٔ کیږی بے دله
لُمرے خپله خون بها کړه ورته پله
نور توبه دَ عاشقئ له حاصله
تا وماته خپل خاطر راکړ بخپله

کهٔ یاری دِ دَ خوشحال سره هم دا ده
ستا یاری ئے سرتپایه ولیدله

یو خله کهٔ ووینم بیا وچُولے دَ یار خپل
نور نه‌بلم تر قیامته شکروایم دَ دا دار خپل

هرچه بار ئے پریوت په ځانٔ پاتے شهٔ له ملونو
بے وفا یارانو تیارے وکړئ دَ بار خپل

ښهٔ سرے پردے په دلاسه په نیکئ خپل کا
گومه بنا غلتیا ده چه خوک بد کا زړهٔ دَ یار خپل

درد دَ زړهٔ پنهان ساته کهٔ وینے دِ څکېږی
مه وایه دشمن ته کهٔ دِ دم خیژی اسرار خپل

زهٔ خو امید واریم گوندِ وی چه مرهم کښېږدی
پس له انتظاره په پرهار دَ اُمید وار خپل

حکم حکم ستا دے کهٔ آشتی کوے کهٔ جنگ کړے
مالهٔ لاسه واچوهٔ اوس حکم انتظار خپل

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړۀ کۀ عافیت غواړے نظر په کښلیو مۀ کړه
هرچه کښلی کوری نور دِ واچوی قرار خپل

کبر کۀ ترسا دے کۀ جهود کۀ مسلمان دے
دین قبله لری خما قبله دے مخ د یار خپل

مۀ وایه وچا ته د خاطر له درده دُوکه
اے خما لیمۀ چه څوک به نۀ مومے غمخوار خپل

یو ځله د زړۀ په غوږ و فهم کړه خوشحال ته
تاو ته چه عرض کا کوښے کوښے د زړۀ زار خپل

آشفته دِ د جمال یم ‏ همیشه دِ په دا خیال یم
نوږ و مینو ته مِ شا کړه ‏ منین ستا په زلفو خال یم
چه مِ او ښکے په گریوان ځی ‏ دا په تا پسے بے حال یم
ځائے مِ تۀ نے په خاطر کښے ‏ تۀ ریحان ئے زۀ سفال یم
نور مِ هر څۀ فراموش دی ‏ آرزومن دِ د وصال یم

لا د مهر وئیل پر یږده
په کنځلو دِ خوشحال یم

په مردن پروا دار نۀ یم ‏ په زندان پروا دار څۀ یم
یو غصه دویم بیلتون دے ‏ چه په اور په او بو زۀ یم
اشرف خان دی را ته کښلی ‏ څۀ خوخوښ په خط د دۀ یم
پینځۀ میاشتے یم په بند کښے ‏ بابا ډیر داده په زړۀ یم
ځویه ماخو غم د تا کړ ‏ چه تۀ بنۀ ئے زۀ خوښۀ یم
چه فلک سره سر با سی ‏ په همت کښے هغه زۀ یم

کړۀ ئے نۀ دی بے حکمته
زۀ خوشحال د دۀ په کړه یم

په زړۀ تریا رځا ریږم د پتنگ غوندِ پیرے کړم
یو راز دے په دا کار کښے کۀ په خولۀ ورته بشیرے کړم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو باغ دے دَ گلونو چه وما وته غوړیږی
چه یار را سره ناست وی ورته زهٔ دَ ناز هیرے کړم

عاشق م پاتو نهٔ شو پریږده پخے پرتے اوسی
بنائی چه بوالهوس ته دَ غمزے تورے تیرے کړم

چه خانے م په گلشن وو هغه زهٔ وم را شه کوره
په هرچرته چه درومم په گلخن باندِ ډیرے کړم

دا زړهٔ دے کهٔ قسمت دے کهٔ څهٔ نورے کوڅے مورے
چه زهٔ ئے مبتلا دَ ستمگرے په خیرے کړم

چه تهٔ له مانه ولاړ شے کهٔ بالښت کهٔ نهالئ وی
په درسته شپه چه ژاړم په ژړا دواړه ترے کړم

کهٔ پایم په دُنیا کښے زهٔ خوشحال په دا زوړوالی
دَ خپلو دَ پردیو به لا څو میښے سپیرے کړم

ته دلبره کهٔ عذرائے زهٔ وامق یم
ستا په مینه کښے هر کوره موافق یم

تهٔ کهٔ بے له مانه پائے معشوقه ئے
زهٔ به بے له تا په څو پایم عاشق یم

تهٔ تل خانده هوسیږه هُما زړهٔ ئے
غم به زهٔ کړم چه همیش دَ غم لائق یم

پتنگ څان په اور کښے وویشت دائے ووے
کهٔ م لاف دَ میښے وواههٔ صادق یم

کهٔ دَ غشیو تیرباران را باندِ وشی
کهٔ به سترگے له تا واخلم منافق یم

چه وتورو خا ورو هسے حسن ورکا
زهٔ حیران پاتے په صنع دَ خالق یم

دَ نیمگړو طبیبانو دارو اور دے
زهٔ خوشحال په طلب سترے دَ حاذق یم

تاوے نورے ترمابښے دی پسے درومه | راته وایه ترتابنه ده بله کومه
چه م ستا وخرخشو ته نظر وکړ | دَ دُنیا په مخ به نهٔ وی هسے سلومه
دَ خاطر مرغهٔ م ستا په زلفو بند شو | اوس به چرته څُی چه نښتے دَ په لومه
دا چه ولے درومه صبر کړه له مانه | بیا م کُله بے صبری ده در معلومه
په عاشق باندِ ئے تل ظلم وستم وی | ستا دَ سترگو ویره نهٔ شی له مظلومه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ لا اوس په زړهٔ تنکے نوے عاشق یم    په خندا خندا بورجل لره رادرومه

په خوشحال باندِ کهٔ تل نارے سورے وی
باز پروانهٔ کا دَ زاغوله هجومه

تا چه زلفے کړے خم خم    ځکه نهٔ وائے سم سم
تا چه سترګے کړے راپورته    پکښے زهٔ وینم غم غم
څو به تهٔ لکه هوسۍ ئے    تل له ما ګرځے رم رم
دَ خوبئ کار په تا دے    نن په دا دور تم تم
کهٔ دِ ډیر نهٔ وی په زړهٔ کښے
خوشحال یاد لره کم کم

تاخو یاری پریکړه واړه زهٔ دریسے درومم
څو دریسے درومم هومره ډیره خواری موم
هیڅ په ما پوهیږے نوم مِ څهٔ دے ستا په عشق کښے
قیس دَ لیلیٰ وو تاو یشتلے زهٔ لیس نومم
زهٔ څهٔ هغه نهٔ یم چه خو بنی غواړے له مانه
تل دِ دَ غمونو لبالب جامونه شومم
هرچه شهسواران دی واړه وُ تیزلے وړاندِ
زهٔ دَ دوئ په منډه دایم ځم وریسے درومم
ځار ترتا رسوله تام یار لیدهٔ په سترګو
راشه رانزدے شه چه دِ دواړه کسی چومم
یولوړے مِ نشته مینے هسے سر هوا کړم
با دغوندِ خوشحال په هزار طرفه درومم

تا هُنر دَ سردارۍ نهٔ زده بهرامه    سرداری دِ په خپل دورکړه بدنامه
هم تمامے خیلخانے لره بلا شوے    هم خپل ځان لره بلاشوے بد فرجامه
تا طاهر دَ کم عقلئ په جرګو مړ کړه    او فارغ شوے دَ طاهر له انتقامه
تا خپل ځان لره دَ مرګ رخنه پیدا کړه    خیلخانه دِ په بدخوئ کړه بے آرامه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا هسې بدخويئ بې بخته نهٔ ئې
چه لا نهٔ ئې دخونى هاتى تر ژامه

مشر رور دِ په زندان کړ تهٔ خانى کړې
داخانى دِ شه په خان پورې حرامه

چه خانئ ته دِ هوس دَ زړهٔ په زور کړ
لاخائى وه ستا دَ زړهٔ اندېښنه خامه

نور دِ نوم څما دَ خويو په شما رمهٔ شه
دَ خوشحال خټک وينا په دا تمامه

څهٔ عجب زيبا صورت دے چه زهٔ پا بست دَ دهٔ يم
راشئ اوګورئ عالمه چه په څو تر دست دَ دهٔ يم

دواړه زلفې ئې څما دَ زړهٔ په قصد سره شکست کړې
زهٔ په خان و زړهٔ بندى په هر يوهٔ شکست دَ دهٔ يم

زهٔ حيران يم له دے حاله چه دا څا عالم ته ووے
چه همه عالم خبر شو چه زهٔ هم نشست دَ دهٔ يم

آوازه شوله په دهر نيک و بد دواړه خبر شول
چه څما آشنا هم بُت دے زهٔ هم بُت پرست دَ دهٔ يم

درسته شپه ئې په هر غولى زهٔ ولاړ ناره وهمه
چه اے خلقو عيب م نشته کهٔ مستى کړم مست دَ دهٔ يم

کهٔ دا خپل صورت دِ نيست کړې تهٔ په عشق کښې اَخوشحاله
بيا دَ خان دا هسې لاف کړه وايه زهٔ هم هست دَ دهٔ يم

چه دا هسې دِ له جوره مشوش يم
له آزاره م حذر کوه دردکش يم

کهٔ قوت دِ دَ هاتى په زړهٔ زمرے ئې
زور قوت را با ندِ مهٔ کوه آتش يم

دَ مجنون بخره م اوس نهٔ ده هالهٔ وه
چه منين په هغې يار پريوش يم

څوک به ماغوندِ يو هيښ په زړهٔ ساده وى
چه وفا غواړم له کنبليو په دا اش يم

راته څهٔ وائې چه تهٔ په چا منين ئې
په ايما به درته وايم پنج و شش يم

کهٔ مرئي م زرخريد ګرځى بے شماره
و خپل يار ته زر پيرودے دَ حبش يم

طعام خوردم مزه م نهٔ دروى ترکومى
هميشه دَ شيرينئ مزه چش يم

غم دَ اوړله تاوه زړلرى چه قلپ وى
څما څهٔ اندوه له اوره چه بے غش يم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دے دور حریفان کۀ شوده پټ دی
زۀ خوشحال دَ شودو پیو په سررش یم

خما خوب له اندېښنو نه شي بیدار شم — وعالم وته په دا تهجد گذار شم
غرونه غرونه گنا هونه را په یاد شي — وخپل خدائے وته گویا په استغفار شم
استغفار په خوله په زړۀ دَ شر فکرونه — بیا له خپله استغفاره شرمسار شم
دَ دے دور دَ شیخانو حال م وکوت — چه ساعت ورسره کښېنم تړے ویزار شم
ما دا هسے شیخي دوئ وته بخښلے — په محشر دِ دَ رندانو سره شمار شم
چه حلال کسب ئے نۀ وی شکرانے خوری — خدایه بخن په شیخئ دَ شیخ رحکار شم
دا ناتار چه په جلی ذکر شیخان کا — کله زۀ په تاخت راضی په دا ناتار شم

چه خرکنده سربازی کاندی دَ تورو
زۀ خوشحال خټک تر هسے هنرځار شم

چه دَ عشق په ملک ندیم یم — دَ اندوه په ملک مقیم یم
نۀ بهشت وته هوس کړم — نۀ په ویره دَ جحیم یم
بند دَ یار په اختیار یم — آزاده له هر نعیم یم
سینه زۀ لرم روښانه — تا ته تور سیه گلیم یم
هغه قول چه ما کړے — په هغه قول مستقیم یم
خلیفه اصل خما دے — لوئے نسب یم کۀ یتیم یم
کۀ نور اوس دَ مینےلاف کا — زۀ عاشق په یار قدیم یم
په غه اور چه عشق ئے نوم دے — که براهیمؑ کله کلیمؑ یم
دَ یوۀ نفس دپاره — په اُمید وهم په بیم یم

زۀ خوشحال په خرابات کښے
کرم په امانت عظیم یم

چه ستاله زیبا مخه چیرے گل وته نظر کړم
په خپلو سترگو خیر شم چه کۀ سیخ پکښے خنجر کړم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ستا له زیبا مخه خوک بل مخ راته وُستا ئی
یو هسې قهر راشي چه کهٔ غوڅ ئې دغه سر کړم

کهٔ هر خو دَ بهار ګلونه ښهٔ دي په چمن کښې
یو ګل به په بنا ئست کښې ستا له مخه برابر کړم

دا مهٔ وایه وماته چه ته ولې در په در شوې
خپل مخ وَته وُوایه چه ئې ولې در په در کړم

خاطرِ م خهٔ خو خلاص وو فراغت وُم له غمونو
چه مخ دِ را ښکاره کړ زهٔ دِ بیا په نارو سر کړم

کهٔ وارهٔ خزانې دَ شاه جهان بادشاه خُما شي
همه وارهٔ به زهٔ په یوهٔ خال دَ خوبا ورکړم

رښتیا خبره ښه ده راته غوږ باسه خوشحاله
کهٔ تیر تر سرومال شوې خُما ځانه خولهٔ به درکړم

خهٔ زهٔ خهٔ م مجال دے چه به ووایم ستا یار یم
دا هومره عزت لږ دے چه ګدا ئې دِ دَ دربار یم

مازهد تقوی طاعت بندګئ لره خوک بولی
زهٔ کله ستا له عشقه وبل کار وته وزګار یم

په لویه ورځ به ستا په ګریوان ښځې کړم منګلې
خهٔ ته خهٔ دِ وئیل دی ستا دَ خون خهٔ پروادار یم

په ما باندِ ته تل تر دوا بړو سترګو نه عزیز ئې
کهٔ ستا تر فهمه هر خو تر دا تور و خاور و خوار یم

سودا دَ یار دَ وصل کهٔ په سر شي یا په مال شي
دَ سرومال به هیڅ صرفه و نهٔ کړم خریدار یم

چه وُمرم عزیزانو تور کفن را لـره بو یه
په دا سبب چه زهٔ دَ تورو سترګو سوګوار یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هزار ځله په کال کښې یوه میاشت دَ ګلو وخت وی
دَ یار په صحبت زهٔ محبوبه تل تازه بهار یم

خلهٔ جک وهے ناصحه چه وما ته نصیحت کړے
وردرومه خپل روزګار کړه زهٔ خوشحال په خپل روزګار یم

چه نظر دِ په ټیکه دَ تور وربل کړم    دَ جهان بادشاه دَ خان مخے ته بل کړم
لا ځما طالع بهتره تر هر چا دے    چه دا هسے کښلیو سترګو ته کتل کړم
دَ سرو شونډو په شرابو چه بیخود شم    له مستئ رقیبانو ته کنځل کړم
اجابت به ئے لا کله تاثیر کاندی    چه دُعا دِ دَ وصال په سحر تل کړم
چه م زړهٔ ورپسے سوو هوم سر پرې    چه په مخ ئے پرهارونه په چیچل کړم
دَ بنهٔ مخ مینه م نهٔ درومی له دِ له    کهٔ تل غوږ دَ ناصحانو په وئیل کړم
په صورت م پرهارونه دی خوږ پرې    په وار وار دَ هر پرهار دارو به تل کړم
دا داغونه چه م سر په زړهٔ پخوس دی    تر بل کاله ئے دَ عشق له لاسه سل کړم
چا په زور رالره غم نهٔ دے راوړے    وخپل زړهٔ ته ئے پخپله راوستل کړم
ازلی م دَ غم برخه ده راوړے    غم کهٔ نور ولره دروی زهٔ ئے خپل کړم
یو نیک بخت ساعت به وی چه راته غوږ کا    چه په درځ په فریاد فریاد ژړل کړم

چه لا بنهر دَ دهلی نشته دَ خوشحاله
څهٔ فائده کهٔ وران په آه سره کابل کړم

چه په خیال په زرزری جامو کښے دروے    کهٔ نظر په خوارو کړے ثواب به موے
پکښے څهٔ رنګه هو بنیار مرغونه بند دی    ستا دَ ورو خوځال دانهٔ دَ زلفے لوے
ستا دَ شونډو سرهٔ به ولے هسے نهٔ وی    چه پرے هر کله دَ زړونو وینے شوے
زهٔ به تا غلطه نهٔ کړم په تولی کښے    کهٔ هر څو دَ خلقو جونه شی هجوے
دَ مجنون مینه یوازے په لیلی ده    تر نظر پورے ئے نورے دی معدوے
ناز نخرے بنیوے غمزے فتنے خیالونه    په دا کار به نهٔ وی تا غوندِ څوک سلوے
دَ بنائست سره هزار کارونه نور دی    چه ئے ته لرے نهٔ نورے بروسے شوے
چه رضائے په جفا وی نور م ستائي    دَ دلبرو خرخشے دی را معلوے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوشحال ته چه دنورو نوم اخلی

بے له تانه مینه ماته شی په کومے

چه په خوب شم ستا له خیاله سرخواب کړم
چه بیدار شم دَ غم سود دِ په آفتاب کړم

چه م ستا دَ خولو بوئ ترسپیږمو تیرشو
نور به څۀ مینه په مشک او په گلاب کړم

بے نصیبه لیدل نۀ میسر کیږی
په لیدو بسے کۀ هرڅو اضطراب کړم

بنۀ لیدل ئے په مثال آب حیات دی
دا تشنه خاطر به کله پرے سیراب کړم

په دشنام م کله کله سرفراز کړه
هغه دم چه دَ سوال طمع په خواب کړم

ماته څۀ وائے چه چاهسے خراب کړے
چه دَ حال پوښتنه نۀ کړے تا خراب کړم

ماته مۀ وایه چه ولے پیچ وتاب شوے
ستا دے تورو زلفو هسے پیچ وتاب کړم

چه له مخه دِ پلو واخست لمبه شوے
بیچاره خوشحال دِ درست سره کباب کړم

څو ژوندے ئے دَ رزق مۀ کوه هیڅ غم
خپل قسمت به در رسیږی بیش وکم

قابل غم دَ ننگ نام کا په دُنیا کښے
نۀ په غم وی دَ دینار او دَ درم

قارون لاړ تحت الثرٰی لره لا درومی
موسیٰؑ پاس په علیین کښیښن قدم

پس له مرګۀ بنخ دَ مرګ ترقدم بنۀ یم
ګوره م مۀ شه دَ نامرد له ګوره سم

دَ خوشحال قدر کۀ اوس په هیڅ نشته
پس له مرګه به ئے یاد کا هر عالم

چه په ما باندِ مئین زۀ پرے مئین یم
چه خُما په غم غمژن زۀ ئے غمژن یم

ما وے یو زمان کۀ بیل شم زۀ به وُمرم
چه جدا پایم له یاره دروغژن یم

کۀ دَ پښتو خیرے ئے نۀ یم بارے شکر
چه دګرد په دودئے نښتے په لمن یم

په نور څۀ م دَ خاطر دَ لاسه نۀ شی
په جهان کښے آرزومن دَ بنۀ دیدن یم

خوبه راشه ما اودۀ کړه چه بخښو شم
په فراق کښے په ژړا ژړا کړمن یم

کۀ رقیب په دا خبر شی تروبه څۀ کا
چه له یاره سره زۀ لاس وګردن یم

یمانی چهره م لاړه حبشی شوه
دَ فراق په اور ئے سوے لوغړن یم

لرم دُوو په ځائے درے ګواه په عشق کښے
رنګ م زیړ سترګے لمدے زبون په تن یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ محبوبه کهٔ شیرینه ذدے وخت نے
زهٔ خوشحال د اوسنی دور کوه کن یم

خوک خوبه کیدهٔ واړه به نهٔ وو سره سم
تهٔ دَ ښکلیو سرئے نور تر تا دی واړه کم
یو کلے یا دوه چه نے ستا ئنه کا دا ډیر دی
چونړ ښکلے هغه دے چه ئے ستائی درست عالم

وخوزه په باغ کښے رنګا رنګ ګلونه ګوره
ګل دے دَ ګلابو دَ ګلونو مقدم
خهٔ لره اے میاشتے تهٔ خپل مخ ستائے وماته
دَ یار په مخ م نورځی ستا په مخ درومی تو رتم

مخ ئے لکه اوردے پرے پرتے دی تورئے زلفے
خهٔ رنګه بازی کا په سرهٔ اور کښے تور ارقم
خوک چه ډیر ډیر ګوری یا رَدَ زړهٔ مینه لږیږی
خوئے ډیر ډیر ګورم پرے شین شم دم تر دم

تا وئیل خوشحاله کهٔ م غم لرے په زړهٔ کښے
خوښ اوسه خوښی کړه تل تر تله ستا خدٔ غم

چه بازئ په جهان کړم هغه زهٔ یم ۔ هم ئے بوسم هم ترے یوسم اړ پرے نهٔ یم
واغیار ته لکه کانړے موم ویار ته ۔ په سختئ وپه نرمئ کښے هغه زهٔ یم
وبلاته دَ اختیار تورهٔ په لاس کښے ۔ وقضا وته تسلیم په شان دَ مړهٔ یم
لکه بوټے دَ کیمیا په مرغزار کښے ۔ چه په حال م خبردار شی دَ هغهٔ یم
تندر هم څما دَ ذاته نه پیدا دے ۔ په سپین زړهٔ که د باران سپینئ اوښه یم
په هر نام چه دِ رضا هغه م بوله ۔ آدم زاد فرشته پری بوده لیوهٔ یم
دَ کونینو ننداره دَ زړهٔ په عین ۔ دَ ویښ والی په دود کړم تا ته اُودهٔ یم
دَ هر چا بازار څما په سودا تود دے ۔ خبردار په سود دَ بحر هم دَ غرهٔ یم
هم داوس غونډ هلک سره په لار ځم ۔ چه په بده لاره م بیائی هلته نهٔ یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مې خیز هم مې ناخیز کا په میدان کښې
زهٔ خوشحال په حال خبر نهٔ یم چه څهٔ یم

څو به ستا د دیو غمونو زغمل تل کړم
دَ یارانو کښې نشته یار به بل کړم
په قراره قرارئ دِ یاری پرے کړه
دَ نیمګړی نیت وچا وته وئیل کړم
چه وعده دِ د وصال چیرے خطا شی
په ژړه لو خاورے خټې دَ بورجل کړم
هر طبیب لره چه ویر شمه ناقص وی
چه له حاله ئې خبر شم خپنے تلل کړم
نور به هسې یکتنها له خلقو اوسم
د هرچا سره چه کښینم غم حاصل کړم
بلا پیرے زړهٔ لرم دا ئې عادت دے
غم و بل لوری ته درومی زهٔ ئې خپل کړم
چه منګی مې تشول دَ میو زهٔ یم
اوس نور ډک پیالے آخلی زهٔ کټل کړم
منکری دَ عاشقئ سره مله دَ
په انکار کښې دروغژن یم دروغ سل کړم
خالی لاس ورځنے ځم هیله مې نهٔ وه
چه ډک زړهٔ به ئې له ډکه باغه تلل کړم
په دا هومره هوښیارئ هسې هیښ یم
خوک چه زهر راته نوش کا هم منل کړم
غر ګناه راته دَ خس غوندِ ښکاریږی
چه په مهر کرم را یشم بخښل کړم

هم غزل مې په بیاض باندِ و ګوره
زهٔ خوشحال خټک دَ زړهٔ په وینو کښل کړم

چه مئین دِ دَ زلفینو په سلسل یم
خود په خود ولیونتوب وته مائل یم
وائی ته به دَ مجنون غوندِ مئین وے
نهٔ وچا روته مې ګورے ترے فاضل یم
ما به څهٔ پوښتے چه څه لره زړهٔ تنګ ئې
ستا دَ تنګے خولے په فکر کښې تنګدل یم
دَ ګلونو په لیدهٔ دِ مخ را یاد شی
ځکه هسې په ګلګشت دَ چمن تل یم
په خیر خیر راته کا ته کړے خیروے مې
مګر ستا ګمان په ما کیږی چه بل یم
ستا له کویه به ولاړ نهٔ شم که شړے مې
چه دِ زړهٔ هسې جفا کړه اوس دِ خپل یم
لکه خوک چه په خپل دین کښې مستحکم وی
هسې زهٔ دَ یار په مینه مستقل یم
چه جدا له خپله یاره ژوندے پا یم
زهٔ په دا ژوندون له یاره تل خجل یم
دَ نفر غوندِ مې عذر چاره نشته
هرچه ما وته څهٔ وائې په منل یم
لکه خوک چه خوارهٔ شهد وخوری خوښ شی
هسې خوښ دَ شکرلبو په کنځل یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خوشحال په کلریزئ کښې بهار راغې
په زیبا و ښیل هر کل ته مقابل یم

حیران یم نهٔ پوهیږم چه زهٔ څهٔ یم څهٔ به شم
له کومه یم راغلے بیا به کوم لورې ته ځم

خبر دَ هغو تللیو بیا په بیا رته چا را نهٔ وړو
له حاله له احواله ئے کهٔ هر څو څوک پوښتم

دلے چه څوک لیدهٔ شي نن ئے شپه په دا بانډه کښې
آخر ئے له دے ځایه وار په وار واتهٔ گنړم

جهان یو کتورے شو زهٔ په مثل دَ میږې یم
حیران پکښې چار روزم لاس وپښے پکښې وهم

په هیڅ کله زړهٔ بنهٔ کړی کله زړهٔ په هیڅ بیا بد کړی
کهٔ کام کهٔ په ناکام دی واړه باد دی پیمایم

دُنیا وته چه گورم کاروبار ته دَ وګړی
دَ وړکیو تماشې دی زهٔ ئے هم ورسره کړم

چه ته پرے مبتلا ئے کهٔ دِ مال دے کهٔ دِ ملک دے
دا واړه بے له خوبه بے له خیاله نهٔ وینم

چه تور وینښتهٔ دِ سپین شول خوئی دِ نور نهٔ شو خوشحاله
با ورکړه اوس ناحق دَ سړي نوم درباندِ بږدم

دَ یار غم به په تنها صورت زغمم
دا بے دردِ عالم به نهٔ را خبروم

چه دا اوښکے مِ غمازے دَ فراق دی
زهٔ ئے څکه په ګریوان کښې تویوم

همیشه ئے په دا فکر درماندهٔ یم
چه دَ خوږ خاطر علاج په څهٔ کوم

ملامت ئے دَ عاشق دَ سرپګړئ دهٔ
دا پګړئ له سره چرته اچوم

دَ هجران دَ آتش لا لمبے تازه شي
خو دَ صبر اوبهٔ زهٔ پرے پوبږوم

آشنائی له جدایئ سره بنه دهٔ
دَ مرهمو قدر داغ څخه ګنړم

له طبیبه خوخلق هیله دَ شفا کا
زهٔ خسته دَ خپل طبیب له لاسه مرم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره تهٔ چه جدائی جدائی وائے
زهٔ خوشحال دَ دے خبرے توان لرم؟

دَ صفا په لارے نهٔ ایښے قدم
همیشه له درویشئ وهم دم
هغه کله شیخ ملا ولی درویش دے
چه نظر په سودا وزیان په مدح وذم
درویشان په تفاوت نهٔ دی راغلی
خپل پردی په سترګو واړه ګوری سم
دَ درویش تر زړهٔ به نهٔ رسی دا دواړه
آئینه دِ سکندر کهٔ جام دَ جم
ودرویش وته سرکوزے بادشاه نهٔ دے
دَ آسمان ورمیږ لا هم دے ورته خم
دَ درویش علم په درس په مکتب نهٔ دے
تل نظر لری په لوح او په قلم
کهٔ خلور دی کهٔ پینځهٔ کهٔ شپږ اُوهٔ دی
دَ درویش نشته دا هیڅ اتم نهم
ماوتا وته دیوار شته غاړے غړونه
په درویش ترشرقه غربه دے یو سم
نهٔ په نون دے نهٔ په میم دے نهٔ په جیم دے
کامل پاس په لام وهلے دے قدم

چه ذره طلب دَ نمر کاندی خوشحاله
په همت مهٔ شه تهٔ هم ترذرے کم

دا نهٔ وایم وچا ته چه پارسایم فاسق نهٔ یم
دَ خدائے منت راباندِ هرچه یم منافق نهٔ یم
یا مازده ستا په حُسن یا خُما په مینه تازده
کهٔ هرڅو کښلی ډیردی نور په هیچا عاشق نهٔ یم
دَ مخ مشال دِ بل کړ دَ پتنګ غوندِ پرے راغلم
بیا تهٔ به راته وائے چه په عشق کښے صادق نهٔ یم
کهٔ تهٔ لکه لیلیٰ ئے ما مجنون بوله په عشق کښے
کهٔ تهٔ لکه عذرائے زهٔ هم کم تر وامق نهٔ یم
یا مست یا لیونے یم یا م نهٔ زده کار دَ مینے
ښکاره ښکاره وئیل کړم دَ رازونو سارق نهٔ یم
دَ هر ښهر په کوڅے کښے ناقصان طبیبان ډیر دی
کهٔ هرڅو پسے ګرځم زهٔ لا پیښ په حاذق نهٔ یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ذکر خو مذکور کړے تل خما د ګمراهئ
انصاف بنه دے زاهده زۀ مخلوق یم خالق نۀ یم
دروغ وعده هم بنه ده د سړی د زړۀ امید شی
یو تش مهر خو وکړه کۀ د ډک دِ لائق نۀ یم
کۀ وائے هغه وایه چه د عشق د محبت دی
کۀ نور څۀ راته وائے زۀ خوشحال ئے شائق نۀ یم

دَ خپل یار مینے په زړۀ هسے بیمار کړم — چه په درد کښے ئے هر کوره نا قرار کړم
چا ناقص م دارو کا پرے نۀ رغیږم — دَ حاذق طبیب طلب په کوم دِیار کړم
تورے سترګے تورے وروځے تورے زلفے — دا همه تورے بلا دی زۀ ئے خوار کړم
کۀ یو تش نظر د مهر راته وکا — دَ دُنیا واړه منصب مال به ترے څار کړم
زۀ خو هسے نادیده نۀ یم اے خلقه — چه به بهٔ ترغځ ګلونه د بهار کړم
دَ بهار ګلونه اور شی زۀ پرے سوزم — چه ئے کښلیه مخه سیل دَ ګلزار کړم
بے له څانه په بل چا م پیرزو نۀ شی — چه کا تۀ دَ مهوشانو په دیدار کړم
چه ډیر ډیر ئے کښلی مخ ته کتے نشم — دواړه سترګے ئے مزرئ دی څخے ډار کړم
ماخوشحال په څان پخپله چارے وکړے
چه په ملک کښے یونا ترس وی زۀ ئے یار کړم

دَ تقوی دَ پارسایئ دُعا تل کړم — چه دُعا م اثر نۀ کا څۀ وئیل کړم
زړۀ م خدائے مئین کوی په بنا نستۀ وُ — هسے نه چه زۀ پخپله زړۀ ما ئل کړم
چه عالم م اړوی دَ عشق له کاره — زۀ اقرار ورته په خولۀ انکار په دل کړم
مګر زۀ فسق او فجور لره پیدا یم — چه بیا بیائے ماتوم کۀ توبے سل کړم
واعظ حورے بنے کوی تردا دلبرو — کۀ هوهو ورته لرم کله منل کړم
زۀ په دا سبب لیمهٔ غواړم له خدا یه — چه دلبرو ته دَ سترګو غوړول کړم
چه دَ عشق غمونه نور چا لره درومی — زۀ ئے مخے لره ورشم واړه خپل کړم
عاشقان به دَ جهان په ما پیغور کا — زۀ کۀ اوس په عاشقئ کښے خوئ بل کړم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهرچا وته ئے راز وایم د مینے

د هرچا سره چه یارشم یارخجل کړم

زۀ لومړے په آشنایئ نا زیدلم
واره غم ؤ چه پرے بنلۀ وپوهیدلم

د زړۀ زور د صورت توان راتخۀ لاړشۀ
چه درانۀ د بیلتانۀ پیتے ئے اخلم

آشنائی یاری په مهر په رضا شی
په دا کار کښے په چا نۀ شی زور وظلم

سراول د یار د یاد په بالین کښیږدم
له غه پسه په پالنګ باندِ ځملم

چه د سر په ځائے سینه راته بږه کا
هم هغه به د بنړو په غشیو ګولم

بنانسته لکه ګلونه زۀ طوطی یم
چه وهرلوری ته ځم په ګلو ملم

کۀ سیالی له نره شی نۀ ئے له بخته
شاه بخیله بے ریباره ؤ بللم

هوسئ چا په دوو نیولی دی خوشحاله
بیهوده په غزاله ؤ پسے زغلم

زۀ چه هسے په تعجیل او په شتاب ځم
خرابات لره په هیله د شراب ځم

د ساقی د لاسه مئے چه تناول کړم
بیا په بیارته به بیخوده مست خراب ځم

د ساقی د مخ جذبه م مخ ته بولی
چه دا هسے میکدے ته په ترتاب ځم

درد درز م ئے له خمه دی نوشلی
اوس په هیله په امید د مئے ناب ځم

چه م نشی بله یو سر بل سر ستړکے
له جهانه مخ پوښلے په نقاب ځم

له دوو ستړګو م روان دا وښکو سیند شو
د دے سیند دپاسه زۀ لکه حباب ځم

خوب وخور م له خاطره فراموش دی
د جمال په خیال ئے درسته شپه په خواب ځم

د محبوبے د جمال شغلے آتش دی
زۀ خوشحال ئے له لیدلو زړۀ کباب ځم

زۀ چه تل هومره ناسازے د عالم وړم
د خپل یار د پاره دا جور وستم وړم

د لاله غوندِ داغ دار په جهان راغلم
هم دا داغ به له جهانه د صنم وړم

په وصال ئے د جهان خوښی راشی
چه له کښلیو جدا کیږم ځنے غم دړم

په عالم د مجنون غږ دے مردم بو له
په محشر که ځنے وړاندِ خپل علم وړم

هر قدم په ځیګر خون بږدم تو ئے مشه
د شرابو پیالے ډکے په تورتم وړم

Poha Foundation
A.S.KB

چه نرګس ته نظر نهٔ کاندِ له کبره
وهغوته ځهٔ ګلونه د شرم شرم وړم
کارکنان د کار فرمائے په حکم کار کا
زړهٔ چه حکم فرمائی هوړے قلم وړم
هومره ډیرے خرخشے فتنے جنګونه
بیا به وائی چه زهٔ ستا غنچونه کم وړم
په هر دم د هغه یار منت راباندِ
چه ئے هسے ډیر خیالونه په هر دم وړم
مخ به چیرے راته سم کړے په یارئ
کهٔ داخوئ به همیشه له عمره سم وړم
چه په کوئے کښے دِ مقیم شم دروغژن یم
کهٔ به نوم په ژبه چیرے د ارم وړم
راته وائے نن زړهٔ څه رنګ وړے له مانه
کهٔ دِ خوږین کړم ئے خوښ خوشحال خرم وړم

زهٔ چه خپل قدم د عشق په خونی راه ږدم
هر زمان له تنه سر لکه ګیاه ږدم
د جمال خوبی دِ زیاته تر آفتاب ده
د نظر دپاره نوم دِ باندِ ماه ږدم
در سته شپه چه ستا له غمه سوځتاؤشم
هر سحر په افلاکونو باندِ آه ږدم
کهٔ ته تیغ د جفا وکاږے و ماته
ستا و تیغ وته به سر لکه ګیاه ږدم
کهٔ م چیرے لاس دواک دروُرسیږی
په سپین مخ به دِ د غاښ نخښے سیاه ږدم
بیچاره خوشحال چه ستا د درګدائے شو
ځکه زه درباندِ نوم د بادشاه ږدم

ستا د راغلو منت ډیر لرم نسیمه
چه ګلونه غوړوے ځما په سیمه
وصبا وته ئے هیڅ بے ځایه نهٔ دے
چه خبر شوم د ګلونو له تسلیمه
د بلبلو بے خودی بے ځایه نهٔ ده
چه مستیږی د ګلونو له شمیمه
بیم د هجر د هرچا سره جار وځی
هیڅ عاشق به خالی نهٔ وی له دے بیمه
ګل بلبل سره بنهٔ وصل لری دریغه
کهٔ داچاره همیشه وے مستقیمه
کله وصل د خپل یار کله هجران وی
سرشته د عاشقئ ده دا قدیمه
د بهار په وخت چه ګشت د ګلزار نهٔ کا
هغه خوک به اندیښنه لری سقیمه
په بلبلو د ګل بوئ لکه وصال دے
کهٔ ئے رنګ په سترګونهٔ وینے ندیمه
هر ورق ئے معرفت د کردګار دے
وهر ګل وته کاتهٔ وکړه حکیمه
کله هر لوری ته ګل د بهار ګورے
کله نهٔ وینے یو ګل په خپله سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوم یا ر دویم گلزا رساز وساقی شته     نن م کومه اندیښنه له غین ومیمه

دَ گلزار په اشتیاق دے په خزان کښے
په خوشحال باندِ کرم وکړه کریمه
ښائسته نۀ دی بلا دی آشنائی ئے ده له غمه
آشنائی ئے ده له غمه زۀ نارے وهم عالمه
زۀ نارے وهم عالمه عشق یو یم دے په موجونه
عشق یو یم دے په موجونه الحذر له هسے یمه
الحذر له هسے یمه چه عالم پکښے فنا دے
چه عالم پکښے فنا دے دا دریاب روغ دے له دمه
دا دریاب روغ دے له دمه چه ساحل ئے لیدۀ نشی
چه ساحل ئے لیدۀ نۀ شی ډیر غرقاب دے تر قلزمه
ډیر غرقاب دے تر قلزمه نۀ زیاتیږی نۀ کمیږی
نۀ زیاتیږی نۀ کمیږی ترا بده تر قدمه
ترا بده تر قدمه چه شنا کا په دا یم کښے
چه شنا کا په دا یم کښے چه دعوی لری محکمه
چه دعوی لری محکمه هغه دُر وریسے غواړی
هغه دُر وریسے غواړی چه بها لری اعظمه
چه بها لری اعظمه هغه دُرئے بنۀ جمال دے
هغه دُرئے بنۀ جمال دے چه خوبی ده باندِ تمه
چه خوبی ده باندِ تمه په جمال ئے زلفے ماردی
په جمال ئے زلفے ماردی خبردار ئے یم له سَمَه
خبردار ئے یم له سَمَه په خوقسمه تورماران دی
په خوقسمه تورماران دی خوک دَدم گ خوک بے دمه
خوک دَدم دی خوک بے دم دی هغه مار خوشحال خوړلے
هغه مار خوشحال خوړلے چه ژوندے دے تردے دمه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنځ به هغه وخت وي چه به یار لره ورد رومم
وایم چه به زۀ باغ و بهار لره ور درومم
زلفې ئې بنکاره کړے مښک عنبرئے په ما توئے کړه
اوس به له د پسه څۀ عطار لره وردرومم
خدائے په کور کښے راکړه هغه تورے سترګے ترکه
اوس به ئے په مرسته څۀ فرخار لره وردرومم
زاړ دخوږو زړه و نوخوښ خرم زړه و نه آزار کا
غم اندوه م دادے چه خپل زار لره وردرومم
هرچرته چه خار دي هغه ځائے مونږ ګلونه
خکه په دا هیله هر خار لره وردرومم
کوم سحر ئے وکړه په ما خوار باندِ حیران یم
مرګ وته م ناست هغه خونخوار لره وردرومم
هم ئے په ما وکړل خوښو رنګه ستمونه
بیا له ناچارئ ستمګار لره وردرومم
یار م په بنائست کښے لکه ګل د نوبهار دے
سو دئے د جمال کړم چه ګلزار لره وردرومم
بنځ خوار ده یاران چه ما خوشحال لیول په سترګو
اوس ئے په زړه زړه مزار لره وردرومم

کۀ مثین زۀ په ګلزار یمه په ځائے یم
کۀ جُدا ورځنے یا تو یم عالمه
یار م لا سوشو په دالار ورپسے دروم
بے له عشقه بله چار نشته بهتره
په جنت کښے هم د حور و صفت کیږي
په یارئ کښے هیځ حساب د جور نشته
له خوږ وشونډ وئے سرے شکرے اوري

کۀ د مځ ئے په ننداره یمه په ځائے یم
په زړه کۀ په چغار یمه په ځائے یم
کۀ د یر سترے په دالا یمه په ځائے یم
کۀ دایم د عشق په چار یمه په ځائے یم
کۀ طالب د بنځ نګار یمه په ځائے یم
کۀ دا دخواه له ستمګار یمه په ځائے یم
کۀ طوطي د شکر بار یمه په ځائے یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ خوشحال په لیونتوب کښې خوشي لې کړم
لیونے دَ پرې وار یمه په خانے یم

کۀ مِ هر څو ته بادشاهۀ زۀ ګدا یم
مخ له مانه مۀ جاروباسه مبتلا یم

زۀ چه ستا دَ غلامئ داغ لرمه
هیڅوک ځان سره سم نۀ ګڼم بادشاه یم

دَ خاطر درِم تړلے دے په غنو
له عالمه سره ناست په فکر ستا یم

کۀ دِ څوک په درد رومن کړ زۀ دردمن یم
کۀ دِ څوک دَ تلی خاورے زۀ خاکپا یم

کله ستا دَ راز خبرے په کاغذ کښم
کله ستا له مخه حال قلم ته وایم

دَ بنۀ مخ دَ عاشقانو دِ شمار نشته
ولے زۀ په همه وارو کښې یکتا یم

خادمانو له شمارے مِ محروم مۀ کړه
کۀ دَ نورو انعامونو دِ ترشا یم

کۀ په ما مهر کرم کوے تۀ بنائی
کۀ په ماجور وستم کوے، سزا یم

تا خوشحال وَته وئیل چه څۀ بکارے
کۀ بکار کۀ نابکار یم خو هم ستا یم

کۀ همیش دَ ملامت کانړي په سر خورم
غم مِ نشته چه په تورے دَ دلبر خورم

کۀ دَ سپیو دَ کودی اوبۀ نے موم
زۀ به وایم چه په تن آبِ کوثر خورم

لکه باد په نرګس وُلګی تازه شی
دَ رقیب خپیره هسے په بصر خورم

زۀ به لا ورته تلوار کړم لکه ترے
کۀ تل ستاله لاسه توره یا خنجر خورم

چه په بڼاخ نے ډول ډول میوے زانګی
لا به کله دَ وصال دَ وُنے برخورم

تا وئیل خوشحاله چپ شه خوله مِ واخله
زۀ طوطی یم چغار وکړم بیا شکر خورم

کۀ ګناه نۀ کړے آدم
تر و به چا به شو کرم

سکه کرم لره بانده دی
چه پیدا شوے نور عالم

په یوه توبه ګناه ځی
دَ سرې له عمره سم

ګرد غبار چه په ګل پریوزی
شست و شوئے کا شبنم

دَ مومن ګناه په غاړه
دَ شیطان وی بیش و کم

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهزاده چه بدي وُکا — دَ نديم سرشي قلم
دَ دهٔ بد په نور ويشل شي — يار تر يار ه نهٔ دې کرم
په لا تقنطوا خوشحاله
تل خوشحال اوسه خرم

کهٔ گذر په خيرآباد وکړې نسيمه — يا دِ گشت وُشي دَ سرائے دَ سيند په سيمه
په وار وار خما سلام ورته عرضه کړه — ورسره خما دَ لوري په څو تسليمه
اباسيند وته ناره وکړه په زوره — ولنډي ته وينا وايه حليمه
گوندِ وي چه بيا م ستا سے جام نصيب شي — په گنګا جمنا به نهٔ يم تر قديمه
کهٔ دَ هند له هوا زار کړم خو به زار کړم — دَ اوبو بلائے لا بده عظيمه
کهٔ دَ نهر اوبهٔ څښے کلے پر يباسي — هم دَ هر کوهي اوبهٔ نهٔ دي بے بيمه
چه سړے اوبهٔ دَ غوړهٔ نشته په هند کښے — ترے توبه کهٔ واړه ډک دے له نعيمه
تل به هيڅوک نا اُميد په دُنيا نهٔ وي — په کريابو کرم کيږي له کريمه
دَ ويشتلي وصحت ته اُميد وُشي — دَ پرهارئے چه کمے وشي له ريمه
خدايه زهٔ م په وصال دَ هغو خوش کړه — داچه اوس ورځنے لرے دے دوه نيمه
عاقلان به هيڅ انکار ورباندِ نهٔ کا — هر افعال چه صادر کيږي له حکيمه
هميشه به په هند نهٔ اوسے خوشحاله
عاقبت به عاصي وُوځي له جحيمه

گرم خونړ يم کهٔ ارمان کوم لا زاړم — دَ باغ گل م غوړيدهٔ زهٔ ځنے غواړم
بل بادشاه نشته اورنګ م عدل نهٔ کا — کهٔ صبا بيګاه ځے تل په دربار تاړم
دَ طلب غړي م لاندِ شول تر غرونو — هغه بيل ياران په کومو غړيو غواړم
دَ هواد ياران م هر زمان ياديږي — چه ئے مخ په خوب کښے ووينم وويا ړم
چه قاصد دَ يار دَ خولے کتابت راوړي — ځوئے لوند په اوښکو نهٔ کړم نن ئے نغاړم
زهٔ خوشحال په خپل قسمت پوړے حيران يم
چه په چرته گرځيدم په چرته ولاړ يم
گرم خونړ يم چه له درده سره خورم — نور به ډکے پيالے آخلی زهٔ به گورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاله زار به شګفته په هغه ملک شي
چه باران د دوا پروستر کو باندِ وورم

وائي زړهٔ له مانه وژغوره که بنهٔ کړې
کشکې ستا له لاسه خلاص شي زړهٔ تږغورم

خان به در کړم مچه راکړه بنه سودا ده
که دې تهٔ په چا پیرې زړهٔ دې پلورم

په دا راز به هر بې نیاز کله خبرېږي
چه خوشحال راته دعا کا زړهٔ دې زورم

که غمونه د دې خپل خاطر کباب کښنم
بویه داچه دفترونه یا کتاب کښنم

په بیان په قصیده به تمام نهٔ شي
که ناسازې د سپهرو د شهاب کښنم

د فراق غمونه لوړ په لوړ انبار دي
په کاغذ باندِ د کوم یوهٔ حساب کښنم

په ډیر غم کښې هیڅ خبر نهٔ یم له حاله
زهٔ به دا واړه په حکم د وهاب کښنم

که جفا د زمانې وه که د خلقو
زهٔ به دا واړه په حکم د وهاب کښنم

په فلک باندِ د هیچا حکم نشته
چه یې ظلم ستمونه انقلاب کښنم

دا کړې په کوټ کښې بند شاه جهان دې
د دارا به هغه کوم فاني جناب کښنم

نهٔ به زړهٔ خما سړېږي نهٔ به بس کړم
ورځ و شپه که سلامونه په احباب کښنم

خراب شوي د فلک له لاسه ډیر دي
اوس به حال د هغه کوم یوهٔ خراب کښنم

که د خوږ خاطر له حاله چا ته کښل کړم
بیا آهونه یا ژړا یا به عذاب کښنم

یو مکتوب د خپل آشنا را لره راغې
اوښکې بغرګې تویوم چه یې ځواب کښنم

حاسدان م په حساب لکه کلاب دي
حیف نهٔ دې چه به جور د کلاب کښنم

ما خوشحال په خوب دا حال نهٔ وو لیدلې
چه به دا د غم بیتونه په پنجاب کښنم

له هنره چه خوک ووائي لرم
چه م بخت نهٔ کا یاري څهٔ ووایم

په جهان کښې د وفا هنر کیمیا دې
زهٔ یې څهٔ لره د چا هیله کوم

د وفا میوه د دهر په باغ نشته
بیهوده یې هره ونه لټوم

غه باران چه په دریاب باندِ ورېږي
په باران به یې زهٔ څهٔ حسابوم

ناداني م غلبه په هوښیارۍ شوه
مرغلرې په دریاب کښې تویوم

له قسمته به نهٔ لږ نهٔ به څهٔ زیات شي
غه روزي چه خما نهٔ ده نهٔ یې خورم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه خما له رزقه زيات خما څخه وي    اَمانت غوندِ ئے بل لره ساتم
کوم مکان دَ زمانے له مکره خلاص دے    چه هغه لوری ته تيښت ورځنے کړم
کهٔ په تيښتے خلاصيدے ځنے به خلاص شوم    دَ قضا له لوری کوم لوری ته ځم
زمانه مِ دَ فتنو په کانړو وُولی    زهٔ اَبله دَ ښيښے سپر په مخ کښيږدم
چه په راغلے ئے ښادی راسره نهٔ وه    په هجران به ئے څهٔ زړهٔ زهيروم

چا وئيل چه صبر نخښنه دَ بری دے
زهٔ خوشحال په صبر څکه زړهٔ ترړم

لا به کله خپل مقام و دلبر ورکړم    چه کتلے مال همه ورته دَ لوړ کړم
يو ولی د دلاسه راته پرے نږدی    خان کهٔ هرخو خپل مئين ته مرور کړم
هيڅ ونهٔ کړه خما دَ زړهٔ ساتنه    هر سړے مِ زړهٔ دردمن کا چه زړهٔ ورکړم
په درست کلی کښے يو هسے دلبر نشته    چه خپل زړهٔ دَ دهٔ په وصل ښهر ورکړم
خبردار به شی عالم خما له درده    کهٔ دَ آه په اور پړ وزے پيښور کړم

ستا دَ خولے خبرے نورے دَ زړهٔ نورے
زهٔ خوشحال ختک يو هيښ يم پرے باور کړم

ما شراب خوړلی نه په حد واهٔ شم    کهٔ ئے وخورم خبر نهٔ يم چه به څهٔ شم
په هر لوری چه نظر کوم اغيار دی    دَ زړهٔ حال وچا وته وئيلے نهٔ شم
زمانے را باندِ وکړے هسے چارے    لکه دَر دَ خرمهره سره پييئ شم
دَ اورنګ بادشاه په دور عدل نشته    ترطناب لاندِ په ښهر کښے لوټه شم
کهٔ دَ رنځ دارو مِ کړے طبيبه وخت دے    هالهٔ ستا دارو ومشه چه په تلهٔ شم
خپل خونی وچا ته څهٔ ښنايم په کوته    چه دَچا دَ لاسه مرمه خود ليدهٔ شم
درسته شپه لکه اَغزی په زړهٔ څرخيږی    دَ فراق غمونه څهٔ رنګه اُودهٔ شم
هيڅ په سترګو ليدهٔ نشی يو قصاب دے    نهٔ ئے لاس نهٔ ئے چاړهٔ په زړهٔ ورڅ شم
لکه وو په هغه شان په وفا ټينګ دے    چه تر يارئے خجل نهٔ کړم خار تر زړهٔ شم
په دالوخو پوخونهٔ رسم تر يارہ    دَ سيميا علم مِ نشته چه مرغهٔ شم
خلق تشے تسلے کا زهٔ له خلی    دَهلک غوندِ دَهر سړی په خولهٔ شم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللهدا دچه بند په بند کوتے په تار ړدی
دخوږ زړهٔ دمه م شي څهٔ خوتابهٔ شم
نهٔ شیخان نهٔ طبیبان نهٔ ساحران شته
چه له دے رنځه دچا په سبب ښهٔ شم

زهٔ خوشحال له نوروځهٔ لره فریاد کړم
په زړه زړهٔ واړهٔ په خپل غشی ویشتهٔ شم

مابے دوده توسنی کړه منجیدلم
عاقبت ئے په کمند و ځکیږلم
وړاندِ روستوئے را واچول بندونه
په آخورئے قیزه کړے وتړلم
هغه ډیچے هغه ترنډے له ما ولاړے
چه به خوشے په جلګو کښے ګرځیدلم
ریاضت ئے دمولا را باندِ کښینې
رنګ په رنګ ئے په جلب و پوهولم
چه م لاس دچا ترشا نهٔ وُو راغلے
اوس پخپله شا پخپله زین اخلم
د سورلئ هُنرئے و بنایهٔ وماته
په تیمار او په راتب ئے وساتلم
ورځ وشپه م د تپاک خبر آخلی
کهٔ خوراک خورم کهٔ ولاړ وُم کهٔ څملم
هم ئے نوم د ډیرے مینے په ماکښیښ
هم ئے زړهٔ پخپله نخښه وداغلم
چه تمام هُنر م واړه ورمعلوم شو
خپل څښتن په خپله ژبه وستائلم
بیهوده زغابنتنه واړه له ما ولاړه
چه په هرلوری ئے حکم هورے زغلم
چه په ما به ئے نظر په حقارت کړ
هغو واړو په هُنر کښے و پسندلم
اوس م قدر یو په سله یو په زردے
چه اول په څو درمه پیریدلم

اوس په هر توکی خوشحال خورسند خرم یم
په خپل قدر په قیمت و پوهیدلم

مست یم مئے پرست یم رندی کړمه کړم
واوره محتسبه باده خورمه خورم

نور شراب م واړه نور عالم وته بخښلی
لاَم و بَ م مئے دی پسے مرمه مرمه مرم

موړ به څښے نهٔ شم زهٔ د میو مستسقی یم
تل کهٔ هسے ډکے پیالے څښمه څښمه څښم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا رَ دَ محبت ده تل به روغ سلامت نهٔ یم
زهٔ چه په دا هسې لا رې تلمه تلمه تلم

څهٔ وائې وما ته حال دِ څهٔ وو په هجران کښې
نور خبردار نهٔ یم په زړهٔ سومه سومه سوم

خلق را ته وائي رنګ دِ بیا زیړ شو عاشق شوې
هیڅ منکري نهٔ کړم خلقه شومه شومه شوم

دود د عاشق دا دے چه په عشق کښې ملامت وړي
ځکه زهٔ خوشحال ملامت وړمه وړمه وړم

نجومي چه قدم نهٔ ږدي بې نجومه
موت وفوت ونا کامي مومي له کومه

چه کړئ ګړئ دَ ورځو شپو تیرېږي
پکښې راشي په چا نیکه په چا شومه

ځان به خلاص نهٔ کا دَ بد ساعت له شره
نجومي نې کهٔ خبر دے له علومه

نیک وبدئ په قبضه کښې دَ قضا دي
بیهوده خبرې مه پیمه وردرومه

مقدر به په هیڅ رنګ مبدّل نهٔ شي
هر سړي لره ورځې بخره مقسومه

کهٔ په پوهه افلاطون دَ زمانې شي
دقیقه به دَ قدر نهٔ کړي مفهومه

ګړي چرګ ترمزکے لا ندِ او به وینې
ولې نهٔ وینې په زمکه باندِ لومه

په تنزري نن دَ ګاندہ حال معلوم دے
ولې بند شي دَ هلکو په کړکومه

ورځے شپې سره همه نهٔ دي یکسانې
نن یوه ده ګانده بله شي معلومه

وسړي ته وار په وار هغه رسیږي
چه دَ دهٔ په پیشانئ باندِ مرقومه

په خوشحال یوه هغه ده بله دا شوه
بیا به ګوره په قسمت پیښه شي کومه

نور به مخ په آئینه برابر نهٔ کړم
نهٔ به دواړه سترګې تورې په رانجهٔ کړم

نهٔ به سپین لاسونه سرهٔ کړم په نکریزو
نهٔ به نور په ږمنزې ساز دَ سر ویښتهٔ کړم

نهٔ به ملتے ماتے څنړے په مخ پریږدم
نهٔ به لا ندِ باندِ لب په پا نو سرهٔ کړم

چه دَ مینې یار م نشته چه ئې ګوري
دَ صورت سنګار و کوم یوهٔ ته و کړم

درست صورت م سرے لمبے شي شنے به دزے
چه دَ خپل منین دَ مینې راز تر زړهٔ کړم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ ژوندون ترهر څۀ خوږ دے په جهان کښے
اوس بے یاره په ما ترخیږ دے زۀ ئے څۀ کړم

هغه یار چه چرته دے خوشحال دِ اُوسی
دے دِ خپله خوشحالی کا غم به زۀ کړم

وړاندِ روستو دوه عدمه
په دا مینځ کښے یو دوه دمه

خو هم دائے چه لیدۀ شے
کۀ څۀ نور څۀ ئے آ دمه

چه دا دوه دمه دِ نۀ وی
په حساب ترجیفه کمه

ستا غفلت و ته حیرت یم
په خپل ځان با ندِ ستمه

دَ حرص په وزر ګرځے
هم په غرونو هم په سمه

کۀ بادشاه دَ درست جهان شے
چار دِ تیره شی ترجمه

بادشاهی به دِ خلاص نۀ کا
چه اجل درشی له همه

خو روزګار هومره ئے فکر
خو دُنیا هومره غمه

په زړۀ یو درم یو داغ دے
دوه داغونه دوه درمه

خو عالم سره ګډیږی
غم به مومی له عالمه

چه و هر څۀ ته ئے شا کړه
په هغو ده مُسلّمه

چه نۀ څۀ آورے نۀ څۀ وینے
زړۀ دِ خلاص دے له اَلمه

تۀ هم ډیر بنۀ ئے خوشحاله
ولے ځار پرِ دِ تر قلمه

هغه دم چه دَ ساقی پیاله نوش کړم
په مستی ئے دواړه کونه فراموش کړم

په معنیٰ کښے هم شراب یم هم ساقی یم
طالبان دَ میوشته چه ئے مدهوش کړم

ناصحان را ته دَ عقل دفتر لولی
خدائے به ئے نۀ کا چه ئے زړۀ په وئیل کوش کړم

دَ زاهد په صومعه کښے مِ زړۀ تنګ شو
له دے پسه به خدمت دَ مئے فروش کړم

زۀ بلبله خوش نوا دَ دے چمن یم
په موسم دَ ګلو څۀ رنګه خاموش کړم

چه په زړۀ ئے اثر نۀ کیږی خوشحاله
څۀ فائده کۀ تل په رو ورته خروش کړم

هله مخ را ته بنکاره کړه دیوانه شوم
په همه واړه عالم کښے افسانه شوم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا مِ ستا دَ مخ چراغ لیدلے نهٔ وو ‏ ‏ زهٔ زړهٔ سوے لاهاله پرے پروانه شوم

آشنائی دِ له بنادئی نهٔ وه غم وو ‏ ‏ چه دا هسے له بنادئی بیګانه شوم

ستا دَ زلفو دام مِ ولیدهٔ په لارے ‏ ‏ له مسجده نه مقیم په بُت خانه شوم

ستا دَ زلفو دَ زنځیر هوس مِ وُکړ ‏ ‏ نهٔ چه زهٔ له بے عقلئی دیوانه شوم

آغزین دِ دَ بڼو نهٔ وو بلا وو ‏ ‏ چه په ځان د زړهٔ ئے هسے نښانه شوم

زهٔ چه تل دَ لیونیو په شماره وُم ‏ ‏ بیا له کومه په ساعت کښے فرزانه شوم

زهٔ خوشحال هم بے نظیر یم په عالم کښے
چه منین په بے نظیره جانانه شوم

یوه غښبه درته وایم دَ بے شرم ‏ ‏ په وعده په قول نهٔ وی نرم ګرم

خدایه ما دَ هغو مل مهٔ کړے په لارے ‏ ‏ چه ئے نهٔ وی په یارئی کښے آزرم

دَ ناکس یاری په مثل دَ اوړو دَه ‏ ‏ چه دَ باد په مخکښے دروی ترم ترم

یوه بده زمانه شوه دریغه دریغه ‏ ‏ په هرچا چه دَ یارئی با ور وسَم

کهٔ هندو کهٔ مُسلمان دَیت په کار کښے ‏ ‏ چه مِ ولیدهٔ دَ هیچا نشته برم

خوک چه نرم ونیل کا عمل ئے ګوره ‏ ‏ تګان هم په خولهٔ ونیل کا نرم نرم

دَ هغو مخ ته مهٔ ګوره خوشحاله
چه ئے سخت په بے شرمئی کښے دَ مخ چرم

آه هم دا هومره آهونه ‏ ‏ پوده په دم بیا ګناهونه

هم هغه پکښے پرے وزی ‏ ‏ چه کنی چا ته چاهونه

لکه باد هسے تیریږی ‏ ‏ دَ فانی دُنیا جاهونه

اور دَ آه ئے هسے نګی ‏ ‏ لکه اور په ګیاهونه

ګوره بیا به په چا سرشی
دَ خوشحال ساړهٔ آهونه

آدم خیلے آفریدئی دی سرے او سپینے ‏ ‏ پکښے شته دی بنا نسته په رنګ رنګینے

غتے سترګے لونے بانړهٔ فراخے وروځے ‏ ‏ شکرلبے ګل رخسارے مه جبینے

تنګے خولے لکه غوتئی هوارغابښونه ‏ ‏ سرئے ګرد په تورو زلفو عنبرینے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وجود کښې لکه ها له وینښتو خلاصې
پښې کمکۍ غنډې پنډۍ پهن سرینې

ترنخې کیږې سینه ورې ملا نرۍ
قد ئې سم لکه الف په تن سیمینې

که د باز غوندې م ګشت په غرونو کیږي
ښکار م هم شوې ښائسته زرکې ثمینې

باز که چوز وي که کرج طلب د ښکار کا
لا ترچوز وي د کرج غوټې مهینې

یا اوبه د لنډي سیند یا د باړې دي
چه په خوله م ترشربت لګي شیرینې

دماتري غلبنې نیغ دروم آسمان ته
په خاته خاته لنډیږي باندې سپینې

آدم خیلو سره زه په تیراه راغلم
نور رخصت ورکړې خوږ په زړه خوږینې

مینه واړه کار د اور لري خوشحال له
که لمبه ئې پټوي لوګي ئې وینې

اې چه مخ د ښائسته دې په خالونه
په داخپل ښائست ډیرمه کوه خیالونه

همیشه به د دا هسې ښائست نه وي
د ګلشن ګلونه نه وي تر کالونه

چه د خپلو عاشقانو وبال اخلې
هومره ښه نه وي په غاړه وبالونه

کله ماوته دعا کله کنځل کړې
درته چا ښنئیل دا هسې جنجالونه

ډیر د ماغوندې غلولي په رنګ رنګ دي
څه بلا ئې په لباس په تیتالونه

ستا د ورو ځو خال کوتره د هونړا ده
تورې زلفې د چا پیرې ترې جالونه

د بلبل په خاطر هومره بلا نه وي
چه غنچه کا غوړیدل په اهمالونه

ستا دا نیسته هسته خوله هسې اشکال دې
چه به نه وي نور دا هسې اشکالونه

نه به باز نه به شاهین نه به شنقار شي
که تهپوس د الوتو لري بالونه

په دا څو تو که د هیڅوک باور نه کا
په وعده د کښلیو خوب دې که فالونه

د مجنون په بیړۍ ناست دې مرګ ئې مه وه
چه په سپینو خولوئې وشندل مالونه

خبردار وربانده روغ لیونی نه دی
په خوشحال کښې چه پرا ته دي دا حالونه

په هره کوڅه ګرځم که م چالیده رنګینه
ګل مخه، عنبر بویه، هوسئ چشمه، مه جبینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خولۀ غنچه د هانه په غابښونو دُر دندانه
په دواړو خوږوشونډو ترشکرو لا شیرینه
په زنې لکه سیبه په غبغبو دلفریبه
په غاړه لکه زانږې سروقده تن سیمینه
په تور بانړۀ ناوکه په ابرو لیندهٔ بې شکه
په پوزه لکه لیدې چه را پاسی له کمینه
کلکونې ختې واړه مرصّع مینې په غاړه
تیکه په تندی ایښې په زلفینو عنبرینه
په خوږی خونی خون ریزه مهر ژنه جنګ آمیزه
بې باکه عاشق کشه بې پروا له دادو دینه
کۀ زرخونونه کاندی زړهٔ ئې نهٔ شی لاندِ باندِ
لا نور ورپسې غواړی خوشحال بېری خوچه مرینه

په کاتهٔ شم وعالم وته حیران
چه د نن دپاره خهٔ کا داسګان
هسې چارې ئې پیدا شی له وجوده
چه په فکر ذکر نهٔ وی دَ شیطان
تل قرآن دَ وړاندِ ایښې قرآن لولی
ولې هیڅ عمل ئې نهٔ وی په قرآن
په کوم لوری پسې خُم چرته ئې غواړم
دَ کیمیا غوندِ نایاب شول دا نایان
ښهٔ سړې لعل و یاقوت دې موندۀ نشی
لکه نور کا نړی لږ نهٔ دی ناکسان
کۀ په نورخلقو کښې ښهٔ سړې موندۀ شی
ولې ښهٔ سړی به لږ وی افغانان
کۀ هرڅو ورته دَ پند خبرې وائی
دَ پلار پند ئې هم ښهٔ نهٔ لګی په ځان
هره چار دَ پښتانهٔ ترمغل ښه ده
اتفاق ورځنې نشته ډیر ارمان
دَ بهلول اودَ شیرشاه خبرې آورم
چه په هند کښې پښتانهٔ وو بادشاهان
شپږ اوهٔ پیړئ ئې هسې بادشاهی وه
چه په دوئ پورې درست خلق ووحیران
یا هغه پښتانهٔ نورووداخهٔ نورشول
یا دَ خدائې دې اوس داهسې شان فرمان
کۀ توفیق دَ اتفاق پښتانهٔ مومی
زوړ خوشحال به دوباره شی په داځوان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخیزن شول پیوندونه — په دل نهٔ لری پندونه
کهٔ پدر دے کهٔ پسر دے — سره بیل لری سندونه
نا اُمید شو سره پاتو — نهٔ باور په سوګندونه
نهٔ سزا دَ بدکردار شی — نهٔ دَ غلهٔ څخې مېړوندونه
دَ اورنګ په ظلم مات شول — دَ بابر دَ وخت بندونه
په دا هسے وخت خوشحاله
مرګ بهتر دے له ژوندونه

په تیرو تورو وردرومی یکرنګان — په لمبو باندې ځان ولی پتنګان
دَ کنجکو قدر یو دَ ډُرو بل دے — ننګیالو سره څهٔ ژوی بے ننګان
ارتګی دَ زړهٔ دلیل دَ جنتی ده — دَ دوزخ دَ اور لائق دی دلتنګان
دَ بادشاه په سلطنت پورے خندا کا — په سپیرو ایرو لړلی ملنګان
نور ماهی نے تار په تار دروی له مخه — ماتوی لونے بیړی نهنګان
دهاتی دپاسه سور ورته پیکه وی — چه دَ میو پیالے اخلی سرهنګان
څهٔ دَ ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرهار ژلی پلنګان

بیهوده په ځان غره دے دا انسان — په ساړهٔ په غارمهٔ چینګه خولهٔ حیران
لیونے ملال دلګیر دَ خوب په وړل کښے — نهٔ دَ لوږے نهٔ دَ تندے لری توان
په یوه ذره خبره خوارخسته شی — په یوه ذره سرخوری شی په ځان
په دا هسے رنګ خو کبر څو لونی کا — چه نظرنے له خودئ وی په آسمان
واړه عمر تیروی په دا غفلت کښے — ترهغهٔ پورے چه وُمری په دا شان
په ژوندون چه دَ خپل ځان فکر نهٔ کا — پس له مرګه به هغه کا ډیر ارمان
زاهدان شیخان وهر لوری ته ډیر دی
دَ خوشحال خټک پکار دی عارفان

پنځه بد روز بکر حیران بها درخان — هدایت ترین سوخته ذوتردا میان
شیخ ستار ماشه هم نیک عبدالرحیم ذو — دَ هم نیک کنده خدائے یار جامکے کامران

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ توپک کُندهٔ هرگز نهٔ وی بے سیخه — حق ناحق ئے پکښے جوړ کړ جهانخان
دَ تسمو په ځائے گویا دا نور عالم وو — اسفندیار غوندِ یو ښکیدی پاجیان
مرد کے دارو همه خواجه صادق وو — بند وتخی صاحب صوبه وو به خپل ځان
په دا هسے غرځهٔ رُخ دَ گذار نهٔ وو — په آزار به ئے کړه وړ کا خدائے جهان

په مثال خواجه خضری غرځهٔ خوشحال وو
چه گذار ور باندِ وشو ناگهان

تل په ځان کیږ دے تازه تازه نومونه — زهٔ دِ پیژنم دَ زلفو په خمونه
نهٔ ئے ښوک وینی په ستر گونهٔ په خوب کښے — چه رارسی ستا له غمه داغمونه
کهٔ مِ تهٔ دَ زړهٔ له سوزه خبر نهٔ ئے — خبردار م په دا حال دی عالمونه
لکه ستا بانړهٔ په شمار په حساب نهٔ دی — هسے ستا دَ ستر گو ډیر دی ستمونه
ستا دَ توُرے دَ گذار حاجت هیڅ نشته — په وکښل ئے دَ عالم خیژی دمونه
مگر ښوک په غاړ و غرو نو ژوندی کرځی — ستا سُورو په وینو ولړل سُمونه
چه ډیر ډیر به ئے کښیښول پړ پرهارونه — طبیبانو ځغه ورک شول مرهمونه
اوس دِ غم لکه لوئے غردے راته پا تو — غر به نهٔ اوړی دَ چا په اَرمونه
یا د ستا دَ مخ ثنا خوشحال ختک کښی — یا دِ نهٔ نیسی په گوتو قلمونه

چه خوشحال ئے په کاغذ یا په قلم کښی
په خاطر کښے هومره نهٔ دی اَلمونه

تهٔ چه دا حسن لرینه — ځکه هومره کبر کړینه
توُرے سترگے په کجلو — په تنبولو شونډے سرینه
په مثال لکه شاهین ئے — چه دَ زړونو غوښے خورینه
کهٔ تهٔ هرڅو ښائسته ئے — کبر مهٔ کړه وبه مرینه

دَ خوشحال خاطر مفت نهٔ دے
فکر وُ کړه چه ئے وړینه

چه له عشقه بله چار گنړی اَفزونه — تر دا بله اندیښنه نشته زبونه
باور وکړه چه دَ عشق په کار و بار کښے — کهٔ زیات نهٔ یم کم هم نهٔ یم تر مجنونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهری ګونه دَ زړۀ په حال ګواهی لی — کۀ هیڅوک نۀ دی خبر له اندرونه
تۀ نا ترس به ګوته هم پرې لمده نکړې — کۀ له دوو سترګو روان کړم دوه سیندونه
چه دَ زړۀ له تا وه وُځی غه خبره — اثر و کاندی آخر په واړه زړونه
کُل عالم دَ بیلتانۀ له لاسه زار کا — زړۀ په څو خبرو خوښ یم له بیلتونه
یوځ قدر دَ وصال راته څرګند کړ — بل ئې سهل رابنکاره کړۀ نور غمونه
چه تا شان دَ لیلی کړ زۀ پوهید لم — چه به ستا له لاسه څاۀ کړم غاړې غړونه

چه یک لخته دِ خوشحال له زړۀ نه ویوست
در پوهیږم دارِدِ نۀ کیږی له څُونه

چه ئې تا غوندِ رادرومی په پوښتنه — زنځوری ده دَ هغۀ زنځور سودمنه
دَ بیسرموتی دِ لاس دَ سکندر کړ — شوریدۀ ئې اشارت په جاروتنه
تل په تا پسې غمژن یم هومره نکړې — چه مِ و پوښتې څۀ حال لرې غمژنه
کۀ دِ سر له ما نه غوښت له تا مِ دریغ کړ — بیا هالۀ وایه و ماته دروغژنه
زړۀ مِ ستا په لاسو درکړ تا خراب کړ — هلک څۀ زده دَ زیبا طوطا ساتنه
خدائ دِ لاس دَ هغه چا په تِهِ کښې پرې کا — چه په قصد به پریکوی دَ ګلو ونه
کۀ یو ځل ئې طماغه له سره پریوزی — نورو بازو وَ ته څوک بنائی وهنه
کۀ دَ کښلیو وعده هر کله خلاف ده — خدائ دِ تا دروغژن نۀ کاندی په ژمنه

وخوشحال ته څو هم دا وایه مطربه
چه زار زار کله به رائشی مئینه

چه نۀ لری ننګونه — وئې مۀ وینې ننګونه
دا دَ ننګ دپاره ګرځم — په دا هسې ګړ ننګونه
صد رحمت را باندِ بنائی — په دا هسې آهنګونه
په څو به ځنې دروې — چه دَ زړۀ لرم زنګونه
مهدی له غاره وُوزه — کښیږده پښه په پالنګونه
نۀ دین شته نۀ آئین شته — شرم لاړ په فرسنګونه
مختورن ظالمان پیر دی — چه اخلی قلنګونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ عدل تُوره واخله ملک اسلام کړه په جنګونه
بیداره اُوسه زړکے شهمند کرځی په خنګونه
خوشحاله فهم وُکړه
چه پریوزی خر سنګونه

خوک خبر دی دَ فتنو دَ دے جهانه نوی نوی را پیدا شی له دورانه
ما وتا غوندِ به خوباد وړی یاد کا کهٔ خبر واخلے له زمکے له آسمانه
چه له باده دمه ټک ووکهٔ ئے ګورے بادئے خاوره په ملکونو کړه پریشانه
په شان شان م دَ وجود نداره وکړه بیا به هم شی په خو رنګه په خوشانه
نهٔ ئے زر نهٔ جواهر شته یو تاوان دے کهٔ به بنهٔ کړے ځان ئے خلاص کړ له تاوانه
زمانه م شوه په غاړه اے خوشحاله
کهٔ ئے ګورے نهٔ له تانه نهٔ له مانه

خو ګلرنګه خهرے راغلے په جهان بیا فنا شوے لکه ګل دَ ګلستان
یو رمق دے راته پاتے په فراق کښے چه په مرګ له ما جدا شول بنهٔ یاران
کهٔ دَ زړهٔ سترګے دِ شته نداره وُکړه په وصال کښے مهیّا ګنړه هجران
دَ هغهٔ بقا فنا ده بقا نهٔ ده چه تبدیل ئے په دُنیا شی هر زمان
داخهٔ تورے خاورے نهٔ دی چه پردرومی خاورے شوی کښلی ځونه دی خوانان
چه را یاد شی بنهٔ یاران وُګورته تللی تل په ما وی دَ غمونو ګنړ باران
همګی تر مزکے لاندِ شول خوشحاله
اوس دَ مزکے په مخ نشته راز داران

څوک به څهٔ ساتی په پوهه په پندونه په ویښتهٔ سره تړلی پیوندونه
په یوهٔ قفس کښے بند قارغهٔ طوطا کړه سره بیل به وی دَ هر یوهٔ سندونه
یا کُشتی دَ زوروَرو سره مهٔ کړه یا د دوئ غوندِ پیدا کړه مروندونه
موږ په داعقل روغ نهٔ یُو لیونی یُو معشوقه چه وعاشق وَته غندونه
عاشقان دَ شاه دَ خولے یُو زرمو نشته کهٔ په سرئے لیدل مومو سر شندونه
چه باور دِ په رښتیا خبره نهٔ کا وهغوئ وَته به څهٔ خورے سوګندونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ناپوهه سره تیرېږي ډېر افسوس دے — دَ دانا سړي کیمیا غونډِ ژوندونه
په خپل ښکار پسے به څهٔ رنګ باز الوزي — چه باز دارنے پسے وانهٔ کا بندونه
دَ شکرو خوند به هېڅ وربانډِ نهٔ وی — چه خبروی دَ خبرو په خوندونه
تا دَ زلفو په زنځیر کښے خوشحال بند کړ
آفرین دِ په دا هسے شان بندونه

څوَ ملک وارث ونهٔ وهي سرونه — هومره چیرے قرار یږی سمے غرونه
یا به ستا په ورهٔ نارے وی ته به ژاړے — یا دستاله لاسه ویر دَ چا په ورونه
رخنه کړ دَ ملک پرے مهٔ پرېږده په خپل ملک کښے — په حکمت په زر و زور په لښکرونه
څو په تورو په توبریو په نیزو شي — صد چندان شي په تدبیر په هنرونه
رور او خوئ دَ ملک په کار کښے قتل کېږی — نوریه واړو باندِ جوړ شول محضرونه
بے دَ تیغ له آبه نورے اوبهٔ نشته — چه جنګجوئے سره ساړهٔ کا تهٔ برونه
دَ سردار دَ ریاست ونه په وینو — په لیږ شنو دَ اعداء کا ثمرونه
په میدان کښے تونے ښهٔ دی دَ سر وینے — نهٔ چه ډکه سینه وړے له څکرخونه
یا دَ مرد غونډِ شمله دَ دستار پریږده — یا په سرکړه لکه ښځه میزرونه
خدایه چا وته نے کښم څوک به پرے پوهه شي
ما وئیلے هر یو بیت دے دفترونه

څوخبر په قباحت نهٔ شي انسان — نیک و بد هوښیار نادان ګنړی یکسان
کهٔ یوکس په زر کښے بیا موے هم ډېر دے — په هر لوری صد هزار دی ناکسان
هومره ترس څما له یږه خوکهٔ نهٔ شي — څو په زړهٔ یم له جاهله هراسان
دانایان په ناکامئ کښے خوار حیران دی — کامرانی دَ جهان څوک کاندی خسان
په خپل ښکار باندِ غوټے وهي بازونه — په مردارے باندِ ګرځی ګرګسان
تفاوت ئے په کردهٔ په فعل ګوره — هم مچئ دی سره واړه مګسان
چه په درست عمر کښے یو ځله تېر شي — نور اصیله تورهٔ نهٔ غواړی متهان
چه هر دوړے واودو ته هوس کاندی — دَ زر بفتو هنر چیرے دے آسان
کهٔ دِ زړهٔ دے چه لذید شعر ژواېم — دَ خوشحال غونډِ پیدا کړه خپل لسان

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږ ژوندون په سرې تریخ کانډی بیلتون
په سوزانو لمبو پاس کیږدی لړمون

چه څۀ زور قوت دَ زړۀ وی په ګوکل کښینے
وار په وارئے له دوو سترګو کا بیرون

تر دا هسے عمر نۀ عمر بهتر دے
چه تیر یږی ورځ وشپه په څیګر خون

په څیګر څیګر م ولے صرفه نۀ کا
دَ غم لیندیو راته وواهۀ زنګون

څما زړۀ طومار دَ مهرو دَ وفا دے
څیراوۀ شی چاۓ زده نۀ کړ مضمون

کۀ کتان چه مهتاب څیرے کا ګانده شی
سکه څما دَ زړۀ به هم وشی ګنړون

کشکے څوک هسے پیدا شی زۀ راضی یم
چه م زړۀ دَ یار له لوریه کا خوګ ستون

په هجران کښے کۀ اُمید دَ وصال نۀ وے
دَ حیران عاشق به هم نۀ وو ژوندون

چه قدم په هغه لار کښیږدی سردرومی
زۀ همیش په هغه هسے لار کړم یُون

یو دَ بل په ځاۓ کښینی دَ دُنیا دود دے
زۀ خوشحال قایم مقام یم دَ مجنون

دواړه زلفۓ پریشانه په څو شانه
په جبین خورے ورے په لب خندانه

له مستئۓ سرتور ګریوان شلید لے
صراحی په لاس نیولی غزل خوانه

په خمارۓ سترګے سرے وبله آو ښتے
نیمے شپے را باندِ راغلهٔ ناګهانه

سپینه خولهٔ څما غوږ وته نږدے کړه
په نرمئ‌ۓ دا وینا کړه را بیانه

زۀ خورے زلفینے ستا په پالنګ راغلم
تۀ تر اوسه لا اودۀ ئے څما ځانه

هر عاشق لره چه هسے شاه وردرومی
نور ئے کومه آرزو وی له جهانه

څو پیالے ئے پیاپے وما ته راکړے
دَ توبے پرده ئے واخسته له میانه

چه له هسے رنګه حاله خبر نۀ شوے
شیخه څکه څما چار ده په تا ګرانه

عشق راغلے دَ توبے په ماتولِ دے
هیڅ بدی را باندِ مۀ وایه نادانه

کۀ خوشحال غوندِ دَ یار باده پرست وے
تا به هم کړه دَ توبے خونه ویرانه

دَ دلبرو په ستاینه
ما نچه کړه خپله ینه

نا ترسی دَ دیو ګوره
چه په حال نۀ کا پوښتنه

زۀ به ولے هسے خوار ووم
کۀ دَ حال م وے کوږنه

Poha Foundation

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل ئے خیال دَ تورو زلفو ... شندے کا په زړۀ دننه
چه جمال ئے را په یاد شی ... لاله ګل ته ګړم کتنه
دَ زړۀ سود دَ دۀ دَ قد کړم ... په شمشاد په سروِ وُنه
نۀ سلام شته نۀ پیغام شته ... نۀ ئے پیک شته نۀ ئے ژمنه
په ارمان ئے ورځ وشپه صرم ... یوه نۀ لرم نیا زمنه
سینه زیره نه ده غم ده ... ډیره مۀ کړه لټونه
چه نۀ زر وی نۀ خوانی وی ... عاشقی ده دروغژنه
په دا هومره ډیره مینه ... یوه نۀ لرم مینه

چه خوشحال نۀ ده موندلی
دغه دے دغه غوښتنه

دَ زیبا جمال ئے ډیرے زیب وزین ... ولے زړونه دَعالم وړی په عینین
یوه سترګه ئے رحمان بله رحیم شوه ... چه همه مراد پکښے دے دَ کونین
چه دَ شهر زاهدان شیخان پیران دی ... زړۀ دَ هر یوۀ کشان وړی په زلفین
لکه عین دَ خپل پلار خونی وژلے ... پسو سرے سترګے راځی په شین شَین
واړه لواړ سرونه نغری دَ دردمنو ... دَ مزری ترخولے تیر دے دَعشق عَین
په خپل یار ئم باور شته چه بل به نشی ... غمازان کۀ غمازی کا تر دا بین

په رضائے خپل خاطر ورکړ خپل یار ته
په خوشحال محصل نۀ وو دَ چا تین

دواړه شملے پریږدی بریښوی ورته خپل ځان
ګوره هغه تُرکه به نظر کا په کوم ځوان
څو رنګه مخونه په دا خاورو کښے بدرنګ شول
څو دَ خیال کړے پکښے یاد لری جهان
دور دَ دلبرو دَ بنائست دے یو څو ورځے
ندله برمه پریوزی لکه ګل دَ ګلستان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرے سترګے آو ښیتے لکه ډیر خونو نه کړی
خدا یه خیریت کړے چه را درومی په دا شان

زړه مِ لکه ګوئے دے دَ مستئ په میدان کښے
تل ئے هغه تُرک وهی دَ زلفو په چوګان

تل دَ تن هډونه راوکاږم په نُوکونو
غم ئے دَ ناوک خورم چیرے مات نشی پیکان

پټه په نقاب وه دَ هرچا ورته نظر وو
مخ ئے راښکاره کړ ورته خلق شهٔ حیران

مخ په وړاندِ درومی پټ په ځنګ ورته نظر کا
خوښ اوسه خوشحاله بیاښهٔ پیر وکړ آسمان

دَ جهان په مخ به ډیروی ښهٔ مخونه    ولے زړهٔ مِ ستا و مخ ته وکړه خُونه
کله کله مِ له حاله خبر واخله    کهٔ دِ چیرے اندیښنه کیږی له خونه
دَ فراق په شپه سورکټ په ماسُوا ورشی    یو زمان مِ باندِ نهٔ لګی اَورخونه
په ښړوم زړهٔ و سترګو ته راکاږی    لکه مست لره کباب ځی په سیخونه
نوبهار ئے په را تللو شګفته شی    دَ لاله ترګلو ښهٔ لری بارخونه
خو غمزے ښیوٗ فتنے جلوے ما نړے کړے    هومره کیږی په خوارانو شواخونه
کهٔ دا سرے شونډے دِ لعل غا ښ دِ ګوهر دی    شرارے دی ستا په غاښو کښے میخونه
تورے زلفے دِ په لیچو باندِ زانګی    ښاماران دی دَ چنډړو په ښاخونه

چه ئے یو زمان له سترګو جدا کیږی
دَ خوشحال په مخ دَ اوښکو ځی ورخونه

دایم راغلم په دا عمر چه مِ وینے    خُلمی توب راغځه یو وړ بږے سپینے
یو دَ ښکار زبل دَ کتاب، بل دَ دلبرو    په جهان کښے نورے نهٔ شوے دا درے مینے
دَ همت جامه مِ سپینه پاکیزه ده    پرے دوستی دَ زړه وځهٔ وه لکه وینے
شیخ ملا عابد زاهد ورخبر نهٔ دی    چه په زړهٔ کښے دَ عاشق دی دلنشینے
کهٔ تېرو هے له تیرے ګمان مهٔ کړه    چه به مهر په تاوکا زړهٔ سنګینے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دوُو کونو مراد کل درکا په غیږ کښې
په خندا چه درکنار شی مه جبینے

نور به کوم ارمان دَ گنج دَ گنجینے کا
چه په غیږ کښې نے نیولے تن سیمینے

ډیر مئین ووچه لے لافے کړے دَ مینے
په ارمان وبله تیر شوکه نے وینے

څوک چه یار به او ښکو ژاړی ژړا نهٔ ده
ژړا دا ده چه نے وژاړے په وینے

دَ ریښتینے مینے کار خود خپل زړهٔ دے
دروغژنے مینے غواړی تورے سپینے

دَ مجنون او دَ لیلیٰ مینه ریښتیا وه
دَ پرویز او دَ فرهاد او دَ شیرینے

ستا په رنگ به په جهان راغلے نهٔ وی
په جهان کهٔ ډیرے تیرے دی رنگینے

تورے سترگے دَ شهلا نرگس دَ باغ دی
تورے زلفے دَ سنبل دی مخ نسرینے

له دیو خاوره نه چه کل زیږی خوشحاله
دا په دا چه تل وردرومی مه جبینے

راښکاره شوے کج فهمئی دَ جهان
دَ جهان دَ کج فهمئی الامان

دا هم ځائے دَ تعجب دے کهٔ ئے وینے
په بازونو چه غوټے وهی زاغان

دا هم ځائے دَ تعجب دے کهٔ ئے وینے
چه مغل کاندی بازئ په افغان

دا هم ځائے دَ تعجب دے کهٔ ئے وینے
چه گیدړ په واز دو ډک وړی شیران

دا هم ځائے دَ تعجب دَ حیرانئ دے
چه لښکرے په خوشحال کا بهرام خان

رنگینه کالی اغوستی راښکاره شه ناگهانه
راته وگوره وخانده خوشحالی م کړه پریمانه

خدائے دِ تاله وربو سترگو نه وژغوری دلربایه
چه ټیکه په جبین کښیږدے او سنگار وکړے خوشانه

هغه دم چه تور گیسو په خپل صورت باندِ خوارهٔ کړے
خوشبوئی دَ خاصه مشکو په درست غولی شی پریشانه

ځان و زړهٔ م هم چا پیر درسره دروی اے نگارے
چه گهے په شین شین په انگنړ کښے شے روانه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین وزړهٔ صبر و آرام راځنې لاړل اوس پوهیږم
چه یوځان دے را ته پاتے دا به هم یوسے له ما نه
دَ یارئ دَ آشنایئ دودونه هیڅ له تا پټ نهٔ دی
ولے ځهٔ کړم په خوشحال باندِ خاوند کړے نادانه

ستر ګے دِ مستان دی ځما زړهٔ بنیبنه مهینه
پروکی پروکی مهٔ شه چه ئے کُنج په کُنج وهینه
سپین صبا دِ ګوره دَ تیکے په شفق بند کړ
جګی جګی جګی رائے واخله له جبینه
کبنلی دی کهٔ ګورے چه مخ پټ که خر ګند کا
ګل دَ بهارنهٔ دے چه رازیږی له زمینه
وارهٔ په سبب دَ بد اصلانو دَ هُنر دے
هر آفت چه ګورے چه را پاسی له کمینه
مست په بهار راغلے په سرود دِ ګوتے کښیبنوے
خو به لاوُبا سے ډیر دِ ویاستهٔ له دینه
چرته لوئیدلے نوم دِ خور په جهان نهٔ وو
غوغا دِ شو په بنهر چه ئے کوزه کړے له زینه
تل جام دے دَ شرابو ستا په لاس توبه په شونډو
دَ خلقو لړمون شین دے کهٔ پوهیږے ستاله شینه
حیات لا یزال به دِ نصیب شی کهٔ باور کړے
دَ زړهٔ لیدونے دواړه کهٔ روشن کړے له یا سینه
دَ عشق دَ محبت دَ ناوی مهرما سوا دے
اول ئے درته وایم چه ئے ورکړے له کابینه
هر خوکهٔ ئے په پټه په تهتر کښنے وی سا تلے
ځهٔ بده بلا ده نهٔ پټیږی دَ زړهٔ مینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله منت اخلی دَ یوے ګیدړے دپاره
هرچه همت ناک دی چه په کور لری جوینه
زانړے بطے ګوره چه په هرلوری غوغا کا
هیڅ درنهٔ پوهیږم چه په چرته ئے شاهینه
هرچه دانایان دی په امان امان تیریږی
هئے توبه له دوره الامان له دے آئینه
نوم به دِ هرګز په ژبه وانهٔ خلی په عمر
دا یاری دوستی چه ستا خوشحال ته شوه مبینه

ستا په سترګو کښے فتنے کاندِ خوابونه
توره زلفے دِ هم ډیر لری تابونه
کهٔ ته زرحجابه وُنیسے په مخ کښے
رابشکاره وی ستا جمال تر حجابونه
دَجنت حورے کهٔ وګوری ستا مخ ته
نور به واچوی له شرمه نقابونه
کهٔ شُغلے دِ رابشکاره شی له جماله
لور په لور به سرخړکند کا آفتابونه
زهٔ چه ستا دَ بیلتانهٔ په لمبو وُسوم
نورم څهٔ دی دَ دوزخ په عذابونه
ستا دَخیال میلمه مِ ناست دے په کوګل کښے
تل مِ خوری دَ زړهٔ دَ غوښو کبابونه
تاویه ماوتا ته ډیر ځلے خولهٔ درکړه
دَ یارئ په کار کښے هم شی حسابونه
زهٔ وتا وته دُعا کړم تهٔ کنځل کړے
هم له تا بنائی دا هسے ځوابونه
تهٔ چه حال دَ خپل عاشق غواړے په شرح
بویه دا چه خوشحال وُکښی کتابونه

ښځه بویه هوس ناکه، خنده رویه، مهر ژنه
پاکیزه په زیست روزګار کښے په ښهٔ بوئی باندِ مئینه
دَ صحبت په رموز پوهه، زړهٔ ئے خلاص له مکرودهٔ هه
کم خوراکه، خوش پوشاکه، همیشه ناسته دننه
په وصال دَ یار خوشحاله یار ئے خوښ له قیل و قاله
چه له یاره نه جدا شی هم غمژنه هم خیرنه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



له نیکانو همنشینه له بدانو په زړه خوږ ینه
له مور والی ئے توبه کا که ئے مور وی دروغژنه
دَ میلمه په کار حاضره په بخوالی بجها دره
حق دَ چارے په ځائے راوړی په رنځور باندِ پوښتنه
پاکیزه ئے دَ کور صحن نهٔ په غولی کښیے نور لحن
پرستارے ترے خوشنودے بنه دَ هرچا په ساتنه
کهٔ دا هسے ښځه پیدا شی دَ خوشحال په لاس وراشی
هیڅ تقصیر به ئے ونهٔ کا دَ یارئ په پالنه

عارف سړے هغه دے چه ئے شناخت وشو دَ ځان
دَ ځان په معرفت کښیے معرفت دے دَ سبحان
چه ترس ئے دَ زړهٔ نهٔ وی نهٔ عمل لری دَ نیکو
په دائے نظر مهٔ کړه چه په یاد لولی قرآن
په کور کښیے دِ بلادی دا دَ نفس غلطے چارے
کهٔ ته په ځان شیطان نهٔ شے بل هیڅ نشته شیطان
حرص مکړه هوا پریږده له هرچانه پریکړه طمع
بل نوم به په تا نهٔ ږدم په ځان نوم کښیږده سلطان
چه خدائے ئے په لار نهٔ کا په ویل به په لار نهٔ شی
کهٔ پاسوے له کوره وهغهٔ و ته لقمان
عیسیٰؑ په معجزه سره ړانده سری بینا کړهٔ
دانائے په دُعا نهٔ شو په عمر یو نادان
کهٔ هیڅ ورځخه نهٔ وی غم دِ نهٔ کا کهٔ دانا وی
خوشحال ختک گواهی لی دَ دانا نشته ارمان
گوره راته ځهٔ وائی داستا دواړه چشمان
نورعالم نوربښکار کا مونږ دَ دین او دَ ایمان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مری چه لیندهٔ وینی قارغهٔ ستا داخال د وروځیو
ناست دے تور قارغهٔ په څو په موتی د کمان

راغله په خندا خندا وړه وړه پوښتنه
چا ورته وئیل دا په رقیب نهٔ کړم گمان

رښتے رښتے اوښکے تل سارهٔ ساړهٔ آهونه
ستا په درد و غم کښے زهٔ هم دا لرم سامان

نوره پیشکشی راځه نشته په فراق کښے
یار لره به وړمه دُر دَ سترگو په سامان

یو زمان هم نهٔ ځی هغه یار دَ زړهٔ له سره
څهٔ شی که ئے زهٔ په زړهٔ یاد نهٔ یم یو زمان

پاتے یم له خپله یاره لرے لا ژوندے یم
خدائیگو په دا خپل ژوندون هرگوره یم پښیمان

بیا به ئے لاکله دَ بهار په سپوږمۍ دریغه
وئیسم په لاس کښے تورے زلفے ډیر ارمان

خوښ اوسه خوشحاله دَ خپل یار په درد و غم کښے
درد دَ یار دَ مینے لا بهتر دے تر درمان

کهٔ په هند کښے نشته سپینه　هوسئ سترگے مه جبینه
خدایه تهٔ وماته راکړے　یوه سبزه نمکینه
په دوو زلفو عنبر پاشه　په دوو شونډو شکرینه
چه هر ځائے وته ئے گورم　ښائسته ښکلی مهینه
هوس ناکه ښیوه گره　شوخه شنگه دل سنگینه
دَ یارئ په علم پوهه　سخن دانه نکته چینه
درځ وشپه کا ځنے چارے
په خوشحال دَ ښکلیو مینه

چه همیش دِ همنشین وی تور ماران　ښهٔ دی دانه چه قرین دِی بدکاران

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چه ستا عیب وتا وته ښکاره کا
په جهان کښې هم هغه کنړه یاران

په کردار کښې یار اغیار سره بیلیږي
تر یارانو ډېر لباس کا اغیاران

د کمذات یاري به هیڅ وفا ونه کا
لا په تیره بې نمازان او مې خواران

لکه تخم، هسې بر، هسې ئې بوټې
نه ئې خوند مزکه بدل کا نه باران

د زړه راز وچا ته نه وېلې بویه
چه د مزکې په مخ نشته رازداران

په قیامت به یو په یو واړه ځواب لي
کۀ میږي ملخي پائمال کا شهسواران

د خوشحال باندِ سلام بادشاه د وخت دي
په سپیرو ایرو لړلي خاکساران

کۀ هرڅو ښائسته ئې نه یوسفؑ ئې د کنعان
کۀ هرڅو ډېر هوښیار ئې نه مخې ئې د لقمان

کۀ هرڅو ډېر حشم لرې بادشاه د مملکت ئې
په زړۀ کښې فکر وکړه څۀ بادشاه وو سلیمانؑ

ښو کښلي بنۀ مخونه ښو هوښیار ښو بادشاهان وو
چه راغلۀ هسې لاړل اوس ئې نوم دې په جهان

یو نوم دې پاتې کیږي نور به هیڅوک پاتې نشي
په بد بدان یادیږي په نیکئي یادوي نیکان

کۀ نوم د حجاج آورې، آورې نوم د نوشیروان
په عدل کافر بنۀ شو، ظلم بد کړ مسلمان

کۀ بنۀ کړې ساعت دادې چه په شمار ئې د ژوند یو
نۀ سود نۀ به فائده وي، کۀ په گور کښې کړې ارمان

کافر سړې هغه دې چه د نفس په هوا دروي
مومن سړې هغه دې چه تل غم کا د ایمان

هیڅ شک په دا کښې نشته چه په مرګ به واړه وُمرو
خو شک په دا کښې کیږي څوک به مومي گورستان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخ به دَ هغهٔ وی چه ایمان سره ئے مړګ وی
ګور په عزت بیاموسی پسے لولی قرآن
وخت دَخوانئ تیرشوا وس پیری راغله خوشحاله
نورکارونه پریږده خودَګور ګوره سامان

لامنت لرم په دا هم له آسمانه ... نندارهٔ دَ اباسین له میر کلانه
په تیراه په سوات په خوړه دربه درشوم ... بیا ام کوم لوری ته تهٔ بیائے آسمانه
لکه ګوئے هسے په حکم دَچوګان یم ... درست وجود پرهار پرهار یم له چوګانه
سرنوشت م له ازله مګر دا وُو ... زهٔ به څهٔ لره مانړه کوم له چانه
قدیمی دَ پښتنو جهل خرتوب وُو ... اوس په طمع په حرص دروی له میانه
کهٔ رښتیا وایم شیرشاه دا هسے نهٔ وُو ... لکه مونږیو نهٔ پیدا له کوهستانه
پښتانهٔ چه بے ننګی کا خوک ئے څهٔ کا ... ګورستان لره به درومو له آرمانه
دَ ختکو دَ نفاق له ناپوهئ ... یا چه غم لرم له خپله خاندانه
چاته وایم خوبه کښم څهٔ هومره نهٔ دی ... چه تمام شی له مذکوره له بیانه

دا داغونه چه خوشحال لری په زړهٔ کښے
رغیدل به ئے په تا کیږی سبحانه

مهٔ وے هسے کلی چه دَ چرګوکو لے خورینه!
شل خمبے په کورکښے دَ نیستئ له غمه مرینه

بل فکرئے هیر دے خوبه غم دَ زرو پول دی
نر بنځے ئے واړه خو تنکے تنکے لرینه

ډیرئے ملکان دی پکښے بنهٔ ملک هغه دے
هرچه بے ننګی کا دَچا بډے رشوت خورینه

کښینی په مسجد کښے دَ سودونو کا خبرے
یا دَ خور ولور دَ ولورونو وئیل کړینه

لس کالونه تیرکا په یوه جا مه خیرنه
کوز وجود بربنډ په سرڅهره کښیږدی زرینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاندی پروانۀ کا شرم نۀ لری دَ تیښتې
ډیرے بے شرمئ دَ ژوندون دپاره وهینه
جنګ لره چه ورشی نورځۀ هیڅ نۀ کا بے تیښتې
جورجاړ وسله تښتی سکه رور ته نۀ دریـنه

هیجړے دَ شولو دَ سرې برکت نۀ وی
شل شی، شول شی، شوم شی چه هیش شولے کړینه
نور و ودانئ ویران بنههر دے خوشحاله
لا ترے ویران مۀ شه ورځ په ورځ ده کهترینه

نس مِ آفریدے دے ځۀ غم نۀ لری دَ دین
بنۀ فکرئے لړ دے ډیردے بدو وَته شین
زۀ دَ درویزه غوندِ ایمان بنـئیم وَ دۀ ته
دے دَ پیر روښان غوندِ دَ کفر کا تلقین

دوه شپیتۀ کالونه په حساب لرم خپل عمر
تور ویښتۀ مِ سپین شولامِ زړۀ نۀ دے هیڅ سپین
نشته هغه دُرِ دَ سرو یاقوتو په دبلی کښے
نه هغه نرګس دے نۀ دَ باغ هغه نسرین

زۀ بے غمه خوب کړم په پاستۀ بالښت سراینښے
یریواتۀ په ګورکښے چه ځما وو هم بالین
ډوبے شوے بیړئ دَ فنا په اباسین کښے
ډیر یکښے لاهو شو چه ځما وو همنشین

ځۀ دَ غم پلو دے چه ځما په سترګو پروت دے
نۀ وینم په سترګو حقیقت واړه مبین
هومره رنځ په ځان کښے طبیبان په داجهان کښے
مرم دارو هیڅ نۀ کړم په دا هسے کار نفرین

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ ځانئے سقرشو مګر خدائے پرے کرم وُکا
نفس و شیطان دواړه له خوشحال سره قرین

ناز نخرے مهرخندا فتنے جنګونه — دَخپل یار سره هم تازده دا رنګونه
کله کله خوا په خوا غاړه غړۓ — کله تښته په دوو پښو په غوږ زنګونه
چه خُما سره ئے ناسته په پالنګ وه — اوس له ما په چرته لاړ په فرسنګونه
په لیدو پسے کچکول واخلی ملنګ شی — مینه کا دا هسے چارے آهنګونه
په نصیب دَ روغو زړونو فراغت دے — په قسمت دَخوږو زړونو الهنګونه
عاشقی به هغه کا ندی چه ترشا کا — زیست روزګار شرم بیغور ویره ننګونه
چه بوسے دَجفا جویو دَخولے اخلی — ګوندِ اخلی دَ یاغیانو قلنګونه
څوک مایوس څوک په اُمید دیار دوصل — څوک پراتهٔ غاړه غړیٔ په پالنګونه
په لیدو به ئے دَکور مړی سرهسک کا — کهٔ پرے دروی دَ پائلو په ژرنګونه
کهٔ پستے پستے خبرے دَ راز نهٔ کا — دَجنت دَحورو مهٔ وینم رنګونه

زهٔ خوشحال دَ آهو چشمے مینے سرګرم
دَ غرڅهٔ غوندِ په هسے ګرنګونه

نهٔ دی لب دَ جانِ من — بنهٔ یاقوت دی دَ یمن
نن ما خپل کنړے له طنزه — ماخو نهٔ زده هومره فن
بختور م ئے نوم کښیښی — لاکهٔ نشی دروغژن
څنړے تاؤ کا چین ئے ګورم — شی بنده در ته ختن
ښتنے په چین چین څنړے — بخښی چین تبت خُتن
ښے ښے څی په شین شین — ښهٔ غبغب ښهٔ ئے زقن

په ښے فیض څنے زیری
په زمین چه څی په فن

نهٔ ئے ملک نهٔ ئے لښکر نهٔ ئے ګنجونه — ترخانانو دماغی دی ښکلی جونه
کهٔ خانان په زر په زور په تورهٔ ناز کا — ښکلی مخ لری شیوے غمزے غنجونه
یا دَ ښکلیو دَ زړه راڼے دے چه م وُکوت — یا دَ لوئے دریاب په څو رنګه موجونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوک به روغ سلامت پرې نږدي په ملک کښې	بیا ئې با ندِ کړل تاختونو ته سرجونه
په رقیب شه په غماز شه په بدخواه شه	چه به کښېلېو لره ځي هغه رنځونه
بل سرمه څه په دلبرو کښې ئې غواړه	اوۀ ستورې دَ آسمان دولس برجونه
زۀ امي په دا خبره نۀ پوهیږم	چه عالم ئې را ته کا په مخرجونه
په چا داد په لېه نمنځ کوي فلکه	په چالوئې په اوږیو په چجونه

دَ خوشحال خاطر بښیښه دے مات دِ نشي
ستا دَ سترګو مستي وړي په ښو ګنجونه

یار ځما ګره د ننه	زۀ ئې سر یم په غوښتنه
عجب حال را باندِ پیښ دے	دروِمه هیڅ مکړه پوښتنه
دَ وصال په اوبو ؤمري	اور چه ؤ لګي په سینه
کۀ په رنګ کښې زیړ لیدۀ شې	ګنګو نۀ ئې کور کمـــنه
کوم ماتم درباندِ پیښ دے	دَ اختر په ورځ خیرنه

خوشحال تل په غم کښې بند دے
غم دِ نۀ ځي له غمژنه

آفرین دِ په دا سرو سترګو خونخوارو	چه بې تورو پرهارونه کا په خوارو
تورې سترګې ئې تورباز بانړه ئې نوکے	چه ځما خاطر ئې یوړو په نوکارو
چه اُوچت اُوچت وهل کا هغه بازوي	په ښکل باز باندِ نظروي دَ بازدارو
دَ وربل په هرهر تار ئې زړونه بند دي	مشاطه ورباندِ نور پیڅئ په تارو
په مذهب دِ عبادت مګر ګناه ده	چه دِ هیڅ پوښتنه نۀ شي دَ بیمارو
لا دِ پېئ دَ دواړو شونډو نه ښخېږي	په خُواب دِ ژبې بند کړے دَ هوښیارو
ښکل یاران به په پیغور کړے دَ وګړي	چه دِ داد مهر نظر دے په اغیارو
په ښائست کۀ ښائسته ترښاپیرئ ئې	ولے دا جهل دِ بد دے ترګوارو
تل په تشو تسلو عاشقان تیر کړے	تا ځۀ لږ غلولي نۀ دي په دا چارو
بلبلان دَ ګلستان په مینځ کښې ګرځي	ګرګسان ګرځي په طمع دَ مردارو
زمانه به ئې په سرګلونه نۀ بږدي	هغه سر چه سزاواروي دَ پاټزارو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبان ئې دَ جمال لکه حاجیان دی　　چه کعبې لره ورځي په لاړو لاړو

نژدې یار سره رو رو خبرې کیږي　　لرې یار وته وئیل شي په چیغارو

یک تنها ئې دَ خوشحال خاطر یونه وړ

په جمال ئې زړونه یوړه دَ بسیارو

آفرین دِ په ولول تورو سنبلو　　چه ئې ځانئې دپاسه ونیوو په ګلو

ماچه ستا دَ شونډو مئې سره مزه کړل　　مستغني شوم دَ جهان له واړو ملو

کۀ په اصل پښتنه دَ هندوستان ئې　　دا دَ ظلم خوئې دِ زده کړله مغلو

مګر مور دِ دَ خطا دَ ملک هوسئې وه　　چه دَ مشکو بوئې دِ دروی له کاکلو

زۀ په هومره تمنا کښې دا به څۀ شي　　چه ته هر کله په هومره تغافلو

دَ هر ګل ثنا صفت کا په زر ژبو　　په دا باغ کښې چه غوغا ده دَ بلبلو

دَ خوشحال په زړۀ ئې هسې چارې وکړې

لکه باز چه زرکه یوسي په منګلو

بیاله کومه لوریه هسې را پیدا شوې　　چه ځما زهد و تقوی لره بلا شوې

ستا نظر لکه تور باز زړه مې تارو دې　　په تور باز دَ تورتارو غوښې روا شوې

په بار بار دِ دَ خندا منت را باندِ　　چه په ما دِ نظر وشو په خندا شوې

په فراق دِ ځما دواړه سترګې ګوره　　ورځ و شپه لکه څخواکې په ژړا شوې

هغه شونډو چه درود و تسبیحات وې　　راشه وګوره دَ میو دَ مینا شوې

وهرچا وته دِ مخ دَ لاله ګل دے　　کۀ ځما تر سترګو دا رنګه زیبا شوې

په باطن کښې دِ دَ زړۀ په سترګو وینې

په ظاهر کۀ له خوشحاله نه جدا شوې

بیاله کومه لوریه بوئې راغې دَ ځنړو　　چه خاطر مې په هائې هوئې راغې دَ ځنړو

دا اوږده اوږده غمونه پریشانئې　　چه ځما دی دا ئې خوئې راغې دَ ځنړو

هم په دا به مې دَ زړۀ پرهار ګا نه ۀ شي　　شکر شکر چه ئې موئې راغې دَ ځنړو

په هر مخ باندِ څۀ ځنړې بنا ئست نه کا　　لائق شوې یو یو روئې راغې دَ ځنړو

چه په خیال ئې په سپین مخ باندِ ولوکړې　　نوبهار ئې په هر سوئې راغې دَ ځنړو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا کوڅې کښې چه مقیم شوم خلقه خکه　　چه نکهت ئې په دا کوڅې راغې دَ خنړو
بیا به هم دَ مشکو نوم په ژبه واخلی
چه خوشحال لره ئې بوئ راغې دَ خنړو

بند و بست دَ کائنات دے په خبرو　　یو تر سله صدقه شه سل تر زرو
دَ همت په بال وپر سړے الوزی　　مرغهٔ پورته الواتهٔ کا په وزرو
ورته وایه توره کښېږده په صندوق کښې　　هر سړے چه مړنے وی په تلبرو
یا دَ سپینې تورے مرد شه یا عاشق شه　　چه یادیږے په بدلو په سندرو
دَ عاشق بخره خواری زاری ناندری ده　　دَ معشوقے خهٔ پروا له مرورو
له یوهٔ دریابه خیژی فرق ئې ډیر دے　　کهٔ نظر کړے دَ دریاب په مرغلرو
چه ئې غم دَ غلیم نشته بختور دے　　خدایه ما کړے په شماره دَ بختورو
دَ خوشحال ختک خوښی په هغه وخت وی
چه بریښنا دَ سپینو توروشی دَ زغرو

پرے غوغا کا نړئ بلبلو　　تل به وخت نهٔ وی دَ گلو
دا گلونه مسافر دی　　کال به تیر کا په راتللو
ستا په مخ به ئې نوشمه　　ساقی مهر کړه دَ ملو
ځائیکی دِ وویشتلم　　کم خطا ئې په ویشتلو
کهٔ صورت ژغورے له غمه　　سترگے نیسه له کتلو
دا دَ مهر وئیل پریږده　　زهٔ دِ خوښ یم په کنځلو
ماوے خوبه م لا سوزے　　په خندا ئې وے تر تلو
نهٔ به باز نهٔ به شهند شم　　نهٔ به راشې په منگلو
وعده درسته کړه خولهٔ راکړه
خوشحال نهٔ دے دَ غلولو

چه م ولیدو په سترگو حال دَ واړو　　مهر شانے قبلوی وبال دَ واړو
په جمال غره کهٔ ډیر وبله تول شی　　ستا جمال خجلوی جمال دَ واړو
دَ کشمیر کهٔ دَ فرخار کهٔ دَ تاتار دی　　بنا نسته ځما بنهٔ یارڅے سیال دَ واړو

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماۓ بنه تحقیقی وکړه چه عاشق شی
په هجران باندٙ وخیژی حال د واړو
سل وسل خبرے کاندې مرګ ۓ مۀ وه
په یوۀ خواب پورد کا سوال د واړو
چه ورتلۀ کا تلۀ به هم ورځنے کاندی
سلامت به پاتے نۀ شی مال د واړو
وعنقا وته به څۀ لره څوک دام ږدی
چه پرے راشی خیرے کاندی جال د واړو
کۀ شیخان کۀ زاهدان کۀ عالمان دی
له عمل سره جوړ نۀ دے قال د واړو

چه ۓ لافے دٙ یارئ دٙ آشنایئ کړے
وخوشحال وته بنکاره شوحال دٙ واړو

چه په وار دٙ رحیل راغے دٙ واړو
څۀ کسرٰی او څۀ پرویز او څۀ خسرو
ناست په تخت څوک له منزله خبر نۀ وی
چه تخت څۀ رنګه په باد دروھی په دٙو
لوۓ کور لره را دروھی راشه ګوره
خوانان څۀ رنګه اخته دی په خپل لو
چه م سازه کړه دونهه دٙ ملنګۍ
مافیها دٙ زمانے شول راته جو
هم ۓ وینم هم ۓ آورم ترے تیر یږم
چه په خنک راته بړوه کا بو بو

دٙ زړۀ نوۓ بنۀ یاران ورځنے لاړل
دٙخوشحال دٙ زړۀ ژوندون ووپه دانو

خما خرابه دله تۀ یوځۀ رنګه خراب شوے
چه ؤو درځخه لاړل په هرځیز پسے کباب شوے
دٙ مشکو دور تیر شو دٙ کافورو دور راغے
چه نوم دِ دٙ شباب ووپه نامۀ دٙشیخ وشاب شوے
دٙ باغ نرګس دِ هم لکه تازه وو هسے نۀ دی
دٙ باغ دٙ لاله ګلو دِ هم پانړے پیچ و تاب شوے
دٙ خولے حقه دِ ډکه په ګوهرو ده خالی شوه
په حُزن په حسرت دٙ یوۀ هر دُرِّ نایاب شوے
په باغ به دِ چه کښلیو ښاښته بلبلو ژغ کړ!
یوه بلبله نشته ثمرے ۓ دٙ غراب شوے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیړۍ دِ دَ سینې په زورچه پاسه تله په غرونو
غوټه خوړې پکښې ګرځې اوس خسنړې دَ درياب شو

مزرى به دِ له ترسه په هیبت ؤو په کوهسار کښې
نزدې درته ويغ ويغ کاله کيدړو لاجواب شوې

چه ډکې په بنومشکو په عنبرو هغه خولې وې
بدبوئې چارچوبئ دَ زمانې په انقلاب شوې

په عمرچیرې ویښ وې بیا به هم چیرې ویښیږې
هئې هئې دَ خوشحال بخته ولې دا رنګه په خواب شوې

پیرې لرى خوشحال دَ آسمان ننداره وکړه
چه څهٔ وې په کوم شمار وې دازمان په څهٔ حساب شوې

چه مِ اوښکې هسې آل شوې دواړه سترګې مِ سرهٔ لال شوې
څهٔ په نورڅهٔ پسې نهٔ دی واړه ستا دَ مخ په خيال شوې
لیونې شوم خوب مِ نهٔ شی راته تهٔ پرى مثال شوې
نور مِ محو شول له دِلــه چه مِ تهٔ په زړهٔ نهال شوې
دَ زړهٔ داغ دِ مُبارک شه چه مئين دَ شاه په خال شوې
خلق خوبن ګرځي هوس کا خما زړهٔ ولې بدحال شوې
مګر نول دَ بیلتانهٔ دے په ناله کښې لکه نال شوې
نورخوک هم شته دے اے غمه
کهٔ یوازې دَ خوشحال شوې

حُب دَ دُنیا څهٔ دے سردَ کل واړه بد یو
بده ژبه بیل کا، تاله خپلو له پردیو
هرچه غَل کا سیروى دَ هغو سره مل مشه
مل دَ غلو کا سیرو په شماره دے هم دَ دیو
هرچه بد شومت دی خپل شومت ورله بس دے
تل به باندِ تاخت وى دَخپل فعل دَ غديو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو نشته په زړکښې چه ئې خوئ دَ آدم زاد وی
هر چرته چه ګوری خلق سرشو په بد یو
خاندی به دا دور لیونی په هوښیارانو
پیچمې مسخرې کا بې خبر په بخبر دیو

دَ شهئ زلفو مختولو
سرهوا پریشانو ځولو
چه ئې لاف هر سړی کا
عشق آسان نهٔ دې فضولو
څما راز مو په ملک خور کړو
ای څما اوښکو پیدولو
په کوڅه کښې دَ دلبرو
حساب نشته دَ مقتولو
تا سو مهٔ شوې سره تولې
کوښې کوښې دَ زړهٔ ټولو
دا خبرې چه خوشحال زده
نهٔ دی دا دَ نامعقولو

دَ ښادمنو په خندا کو
دَ غمژنو په ژړا کو
دَ رندانو په رندئ
دَ شیخانو په تقوی کو
دَ وصال په سل خوښئ
دَ هجران په زر بلا کو
دَ بهار په ښو ګلونو
دَ بلبلو په نوا کو
چه تړې سروِ ونې هیڅ دی
په هغه قد بالا کو
چه مکحولې دی له نازه
په هغو سترګو شهلا کو
چه نرئ ترویښتهٔ ده
په هغه باریکه ملا کو
چه عاشق ورپسې مرینه
په هغه جمال زیبا کو
چه راځی دَ یار له لوریه
په هغه بادِ صبا کو
چه پیغام راوړی دَ وصل
دَ هغه قاصد په پا کو
چه دَ وهمه پکښې نشته
دَ ریښتینو په ریښتیا کو
په دا هو مره سوګندونه
صد هزار ځله بیا بیا کو
چه ترځان په تا مئین یم
زهٔ خوشحال خټک په تا کو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته مهٔ وایه په تا ګو | چه په تا نهٔ ګو په چا ګو
تهٔ ځما دَ سترګو تورے | په دا تورو سترګو ستا ګو
مخ دِ ورځ زلفے دِ شپه دی | په صبا ګو په مسا ګو
په جهان کښے مِ ځان تهٔ ئے | نهٔ چه نور په تا جا نا ګو
یادمِ تهٔ ئے په خاطر کښے | هر زمان په خپل مولا ګو
ستا دَ پښوخاورے توتیا دی | چه ما ستا په خاکِ پا ګو
تمنّا لرم ستا ډیره | په دا خپله تمنّا ګو
ترخندا پورے دِ هیڅ دی | لال و دُر ستا په خندا ګو
یارخوستا یم دَچا نهٔ یم
زهٔ خوشحال ستا په لقا ګو

دواړه سترګے مِ چه ستا په مخ دوختنه شوے
په لمبے کښے مِ اوښکے اندوختنه شوے
په ماڼړے ماڼړے ئے خوره مزه ئے اَخله
تهٔ ځما دَ زړهٔ په وینو آموختنه شوے
په لکهونو په کروړونو دِ بها ده
دَ یوسفٔ غوندِ په سهل فروختنه شوے
ما وے تهٔ ځما دَ تورے شپے چراغ ئے
ولے تلے په بلے خونه اَفروختنه شوے
چا دا اور درلګولے دے خوشحاله!
چه لاله غوندِ دا هسے دل سوختنه شوے

ستا په در دَ سرفرازو | تل سجود دے دَ بے نیازو
ستا ملالو سترګو پوچ کړو | واړه کار دَ سحر سازو
ستا یوه وینا تیرے کا | تر هزار سخن طرازو
سپین او سرهٔ دَ دُنیا دارو | دَ عشق ګنج دَ جان ګدازو
دَخوشحال وئیل هم واوَرئ | راشئ اے نوا نوازو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپینو وازدو لړه ورغله پیشو
دَعاشق په زړهٔ کښے خیال دمعشوقے وی
دَ لولئ پرتو ګابش پیسه پرانزی
درباری ناپاکے ښځے چه اخته شی
په دربار کښے دِ کم ذاته میشتهٔ نشی
ورانوی دَ کور بنا د کښ له تاوه
په خالی کیسه به نهٔ رسی تر کامه
دَ هغو بخره خواری ده تل تر تله
چه په هره کوڅه ګرزی هرزه کار شی

خوله به ونیسی له وازدونه په خو
دَ هندو په زړهٔ کښے فکر دَ تبیلو
محبت ورسره نهٔ شی بے پیسو
لورا لور لونډان بولی په دَ لسو
چه میشتهٔ شی هغه خونه شی دَ سوُو
کور په کورئے دَ ربار وی تګ و پو
ځهٔ حاصل کهٔ بوعلی شی په کِسو
چه زکوٰة خوری دَ کتاب په مسئلو
ترد اهسے ګشت زنځیر بنهٔ دے په پښو

یو خوشحال خهٔ زړهٔ کباب نهٔ دٔ له تا نه
تا دَ خلقو زړونه کښېنول په لمبو

عجب کار دے ستا دَ شونډو — بنهٔ روزګار دے ستا دَ شونډو
پرے پنړاؤ دے دَ ځوانانو — ځهٔ دربار دے ستا دَ شونډو
په کالونو له ما نهٔ ځی — بدخمار دے ستا دَ شونډو
لکه ستا زلفینے زړهٔ م — په کنار دے ستا دَ شونډو
دَ یمن یاقوت آبدار دے — کهٔ آبدار دے ستا دَ شونډو
په صورت کښے م ځان خهٔ دے — یو یادګار دے ستا دَ شونډو
په هجران کښے سرے اوښکے — دا نثار دے ستا دَ شونډو
ځکه ځان هسے عزیز دے — پرے ګذار دے ستا دَ شونډو
چه دَ خضر ترے مایه ده — چشمه سار دے ستا دَ شونډو
ځان بے ستا له شونډو یائی — شرمسار دے ستا دَ شونډو

دَ خوشحال خټک په زړهٔ کښے
انتظار دے ستا دَ شونډو

کهٔ دَ زړهٔ خهٔ خوترس پار دٔ خهٔ به بنهٔ ؤو — لرِ دِ مهر په ما خوار دٔ خهٔ به بنهٔ ؤو
زهٔ چه ستا له غمه زار کړمه په در کښے — کهٔ دِ غور ځما په زار وے خهٔ به بنهٔ ؤو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په ما باندِ پیغور کاندی په عشق کښې ستا له حُسنه خبردا ر ؤخته به بنه وُو
هرچه تن دَ زهد لاف کا په جهان کښې په لیدو دِ پرهیز گار ؤخته به بنه وُو
پس له مرګه مِ یو هسې مکان ګور شوے چه پرے تل دَ کبنلیولار ؤخته به بنه وُو
ستا په کوئ کښې دیر کوته تازي پراته دي زهٔ هم ګڼو دَ دوئ په شمار ؤخته به بنه وُو

ستا په غم به په دا لږ عمر مور نشي
دَ خوشحال عمر بسیار وے خته به بنه وُو

کل قربان شه ترجمال دَ بنو یارا نو ورځاریږه ترمقال دَ بنو یارا نو
دا صورت مِ خهٔ ژوندے په ارواح نهٔ دے تل ژوندے دے په وصال دَ بنو یارا نو
په خاطر کښې مِ بل حُب محبت نشته یکښې ځائے دے دَ زړهٔ خیال دَ بنو یارانو
کهٔ دوئ ستا په رضا درومي یا نهٔ دروي تهٔ هرکار کړه په اقوال دَ بنو یا را نو
په جهان کښې دَ هر خهٔ مثال موندهٔ شي ولے مهٔ غواړه مثال دَ بنو یا را نو
په هر زیان زوال راضي یم په دُنیا کښې خودِ نهٔ شي یو زوال دَ بنو یا را نو
مرګه ستا علاج کهٔ شوے په هر خهٔ وکړے چه قتلان کړے په هر کال دَ بنو یارا نو
په جهان کښې کهٔ خهٔ دَ خوبنهٔ یاران دي خبردار شه په احوال دَ بنو یا را نو
ګورښې ګوښے ځان اوزړهٔ لره راحت دي کهٔ ئے ګورے خط وخال دَ بنو یارانو

دَ یارانو دَ یارئ په لذت پوهٔ دے
چه ثنا کاندي خوشحال دَ بنو یارانو

لیونی شول پښتانهٔ په منصبونو خدایه ما ژغورے له هسې غضبونو
دَ کنګاش علم دَ چادے دَ تور زنو لکه خوک لولي قرآن په مکتبونو
دَ کنګاش له علمه هیڅوک خبر نهٔ دي خبردار یم دَ هرچا په مشربونو
پښتانهٔ لره لوئے عیب دَ کهٔ ئے ګورے چه نازیږي دَ مغل په لقبونو
شرم ننګ نام وناموس ئے په یاد نهٔ دي خو وئیل کا دَ منصب دَ ذهبونو
دَ مغل سره لیدل په طمع مهٔ کړه کهٔ کیدے چرے په نورو سببونو
خټک واله بلنځه بنه ځما ترملا ده نهٔ بښیوه دَ نوکرئ په قصبونو
دَ بادشاه دَ زندان شپه ځما په یاد ده چه تمامه شپه مِ تله په یاربونو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانهٔ کهٔ جنګ مغل سره په تیغ کا
هر ختک نیوے مغل تر جلبونو

دَ ختک دَ ننګ جرګه نشته خوشحاله
راوتلی دی له کومو نسبونو

ماخوب لیدهٔ په خدائے کوچه زهٔ ته سره ګډ یو
خوږے خوږے خبرے دَ زړهٔ حال وبله وا یو

ما څخه کتاب دے پکښے واړه غزلونه
تا څخه مینا ده دَ ګلزار په تماشا یو

لاس ترلاس نیولی سره ګرځو کښیښو پاڅو
خپله خوشحالی هوا هوس کړو په خندا یو

پیاله کړے راته ډکه زهٔ ئے ستاله لاسه واخلم
دَ شونډو بوسه راکړے بیا په نوره تقاضا یو

مطرب راته له ورایه په تار ونو لیندئی ا یښے
په بم په خیر جاروونې مونږ ئے څوبه نوا یو

ته ګل واړه خوبئ لرے زهٔ واړه کامرانئ
ښادئ ته مخامخ غم واندوه ته شا په شا یو

ناګاهه له دے خوبه دَ سحر په وخت راویښ شوم
نهٔ ته وے نهٔ دِ وصل زهٔ دا کار سره جُدا یو

څو پایم په دُنیا کښے دَ چا کار راسره نشته
یو زهٔ یم یو دِ غم دے سره دواړه خوا په خوا یو

خوشحال یوازے نهٔ دے څو په ملک کښے عاشقان دَ ئ
په خوب په بیدارئ کښے سره دواړه باد پیما یو

ماهغه سړے شمارلے دے په ورکو — چه په خوئ کښے بے وفا عادت په سپکو
هغه باز تر مبنګیرکه لا بتر دے — چه غوټے ئے دی په شلانډو یا په مږکو
غافلان له دے دُنیا سره کا لوبے — لکه پیغله جن بازی کا په لوښکو
عراقی په اشارت کښے ځان خرګند کا — تهمو سم په لارے نهٔ ځی بے چابکو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې ډېرې اندیښنې دَ دُنیا نشته　　زۀ په دا خبره خوښ یم له هلکو
له عالم سره خواړۀ نۀ خوری له کبره　　لا تر روغو نه بهتر دے کار دَ پکو
کۀ په شهد ئې ساتې مزه ئې نۀ وی　　ناشپاتۍ دَ سمرقند دَ هند په مزکو

دَ خوشحال وئیل کۀ دُر قیمت بها دی
وناپوهو ته بتر دے تر کُنجکو

مونږه مئې پرست یُو　　ذ ازل په میُو مست یُو
په سما مو قدم ایښے　　لکه مزکه هسے پست یُو
هغه خولے و ته نظر کړه　　هغه هسے نیست و هست یُو
کۀ په تخت دپاسه کښېنو　　بیا یو مات کچکول په دست یُو
څوک دَ وصل خبرے کاندی　　مونږه خوښ په خپل برېست یُو

تل موزړۀ په دا خوشحال دے
چه خپل زړۀ سره پیوست یُو

ودِ نۀ وینم زۀ ستا وصال په سترګو　　کۀ بے تارا دَ رومی بل جمال په سترګو
میلمستیا مِ دَ زړۀ وینے ور ته کښېښوے　　چه میلمه مِ شوَ د یار خیال په سترګو
هغه دم مِ دَ زړۀ داغ له دله دور شو　　خو چه راغے ستا دَ ورو څوخال په سترګو
چه ډېر خلق سره ناست وی عجب بنۀ شی　　دَ منینو سره قیل و قال په سترګو
په غمزو په کرشمو په مکیزو نو　　نن دِ نۀ وینم په ملک کښې سیال په سترګو
عارفان دَ قناعت په ګنج توانګر دی　　چه ئې نۀ راځی دَ خلقو مال په سترګو
دَ مکے دیوال به نور په خولۀ یادنۀ کړم　　ما چه وُلیدۀ دا ستا دیوال په سترګو
ستا په ګوتو کشیده رومال چه راغے　　زۀ له مینے مړ م ستا رومال په سترګو
هغه مخ چه به مِ تل لیدۀ اوس ګوره　　چه ئې نۀ وینمه ماه وسال په سترګو
چه بے ستا له زیبا مخه بل مخ ګورم　　زۀ به چیرے کښېنږدم دا وبال په سترګو
و بنۀ مخ و ته له ورایه ځلبلاند شم　　لکه وُوینی لوغسی تال په سترګو

نورعالم خود یارانو نا ز په سر وړی
تل نازونه وړی دیار خوشحال په سترګو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرنا اهل مزه څۀ زده دَ خبرو — دَ خبرو لذت بنۀ دے تر شکرو
چه دانائے په دانش سره انشا کا — یوه بنه خبره بهٔ ده تر زرو
بے اُستاده شاعری بے لارے تلۀ دی — یا وه کوڼے گرځی په لوړو په ژورو
تفاوت دَ خاص و عامو سره ډیر دے — برابر نۀ دی شبه دَ مرغلرو
دَ شهبازو دَ عنقا برابر نۀ دی — مچ او ماشی چه الوزی په وزرو
په چا دم آسمان به ناست لکه عیسیٰ وم — کۀ آسمان نه الوتۀ شوے په خبرو

عام به چیرے دَ خوشحال په وئیل پوهشی
دَ گوهرو قدر څۀ زده بنیبنه گرو

یا په زړۀ کښے مهر ځائے وے دَ بتانو — یائے ورکړے صبوری و عاشقانو
یا حیران عاشق په مرگ وُمرچه خلاص شۀ — یائے هومره جور نۀ وے دَ چشمانو
چه ظاهر باطن ئے دواړه سره جوړ وی — څۀ عجب خاصه مشرب دے دَ رندانو
چه په یار ریسے روغ ځان سیزی په اور کښے — زۀ په دا رسم منئین یم دَ هندوانو
دَ خپل یار په بدو خاندم هوسیږم — چیرے زړۀ نۀ شی رابنۀ دَ رقیبانو
چه مِ نوم په ژبه واخلی هسے خوښ یم — لکه ژغ دَ خلاصی وُشی په بندیانو

بیا به صبر دَ خوشحال خټک اولجه کا
راڅرگنده شوه سره کړے خولۀ په پانو

یو څۀ داغ لرم په زړۀ دَ نادرستو — دَ دے داغ علاج و نکړ سستو پستو
یائے عین په زړۀ وخوری یا زخمی ځی — چه هوسئ په یره وُرسی دَ چستو
دَ بے ننګو بے ننګی مِ به ارمان شی — خدائے به واړه چارے بنئے کا ورانډِ روستو
دَ بنزو او بنکے مِ وینے شی ترے خاخی — دا دَ تن جامه مِ نۀ وی دَ اغوستو
دَ درد منو حال دردمن په قیاس معلوم کا — کۀ ئے وائے بنکاره نۀ وی په تندرستو

دا غزل چه دَ خوشحال ورشی ترسرا یه
بنۀ یاران به ئے ناریے وُکا دَ لوستو

اے چه ستا دَ یار له غمه استعفا ده — کۀ سینه دِ له زنګاره نه صفا ده
هیڅ دَ خپل منئین دَ بدو غارت مشه — دَ اغیار تر وفا بنه دَ یار جفا ده

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ یار بد هم لکه ښهٔ هسې حساب کړه    هم په دا دَ عاشقئ اِکتفا دهٔ
کهٔ ئې نیش زیاته نهٔ کړې ترنوشه    بیهوده دِ طمع کړئ دَ شفا دهٔ
مخامخ دَ یار وغم ته ودریږه    کهٔ دَ غیرو آشنایئ وته قفا دهٔ
آه کهٔ یو ځله م وُلیدې په سترګو    چه م تل تل ستا له غمه واسفا دهٔ
دَ خوشحال دَ رنځ علاج به څوک په څوکا
چه زګیروے ئې له طبیبه په اِخفا دهٔ

اے چه اصل دِ یوه قطره منی دهٔ    په دا هسې رنګ وجود دِ څهٔ منی دهٔ
راشه زړهٔ وربوړے مهٔ تړه نا دا نه    کهٔ ئې ګورې دا فانی دُنیا دنی دهٔ
عارفانو وته تلخه شوه تر زهـــرو    په غافل باندِ شیرینه ترګنی دهٔ
له ګدایه نه لاځهٔ خوږ جار باسی    تل تشنه ناسته په وینو دَ غنی دهٔ
روغ ئې واړه په کمند دَ مکربند کړهٔ    آزادی کهٔ څنے شته دَ لیونی دهٔ
تل دِ خوش دَ خوشحال زړهٔ دَ عشق په کاروی
خو یو عشق دے چه دَ دهٔ خوښی هغی دهٔ

بیا م څهٔ دَ نورو یار بولے تورمهٔ کړه    په ماخوار دِ ظلم ډیرو کړو نورمهٔ کړه
وائے سپی غوندِ م څو په کوڅه ګرځی    څو ژوندے په جهان پایم پیغور مهٔ کړه
سر تر پایه اخلاصی یم په یارئ کښے    په ناحق م لباسی بولے زورمهٔ کړه
چه په دؤو پیالو دَ میٔو بدمستی کا    هغه څوک په مجالس کښے میخورمهٔ کړه
یو عجب دَ میو جام دے ساقی راوړ    خداوندئے په دا مینځ کښے نسکورمهٔ کړه
چه حرمت دَ عاشقانو پکښے نهٔ وی    په هیڅ رنګ م په هغه کلی کورمهٔ کړه
آشنائی دَ ناکسانو دَ ځان غم دهٔ    ناکسان له خپله ځانه خمسورمهٔ کړه
زهٔ چه نن دَ بیلتانهٔ په اور وریتیږم    دَ دوزخ لمبه نسبت په دا اورمهٔ کړه
راز دَ عشق دے فهم دار اوسه خوشحاله
ښکاروُنه ئې په خپل خوئ و رورمهٔ کړه

بے اخلاصه دَ یارئ څهٔ جواز نشته    خود پوهیږه بے اودسه نماز نشته
دَ دانش مرغهٔ م هسې پورته لاړشهٔ    چه هورے دَ کته بازو پرواز نشته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ هر خوئے پہ سور او رکښے لولپه کړے     دَ یاقوت دَ اوبو دار دَ ګداز نشته
هغه باغ چه تل ما وا وو دَ بلبلو     اوس په دۀ کښے دَ بلبلو آواز نشته
دَ زړۀ راز وچاته وُوایم حیران یم     په هر لوری چه نظر کړم همراز نشته

توکلتُ علی الله وبنا یوه دۀ
دَ خوشحال دَ زمانے سره ساز نشته

باغ وے دَ ګلونو پکښے ناست وے زۀ او تۀ
ګل وے غوړیدلے باندِ نماست وے زۀ او تۀ

زیره زعفرانی شوے یا ګلګونه معطره
لاس تر لاس نیولی سره زغاست وے زۀ او تۀ

سپینه خولۀ دِ راکړے بیا م هم درغنچه غوښتے
نور خواستونه نۀ وے خو دا خواست وے زۀ او تۀ

تل م درد و غم وے دَ زړۀ کاست او مهرمینه
تل په دا دُنیا دا کم وکاست وے زۀ او تۀ

رنګ دَ غماز ورک شه راست روزګار دِ دَ ناراست کا
خانے دَ ناراست نۀ وے سره راست وے زۀ او تۀ

نمر خیژی خوشحاله چه خروس دَ سحر بانګ لی
شرط دَ پت نیاز دے چه برخاست وے زۀ او تۀ

په دا ساه نشته ویساه     هر دم تۀ وایه الله
هر نفس یو غنیمت دے     پهره دار اوسه دَ ساه
دَ سالک په وئیل کار کړه     کۀ دَ ځان نۀ ئے بدخواه
دَ سالک وئیل هم دا دی     تۀ ئے وایه بے اِکراه
چه له خلقه نه زړۀ پرے کړه     زړۀ پیوند کړه له الله
کۀ هوا دِ کړله ترکه     نور قبول ئے دَ درګاه
بادشاهی به دَ هر تن کړے     کۀ دَ خپل تن شے بادشاه
مُوتُوا قَبْلَ اَنْ تَمُوتُوا     په دا راز شه اِنتباه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جوار ئے دَ قربت کښې    دَ کم شناختو نشته راه
دَ بيدارو دِ نصيب وی    بښهٔ دولت دَ سحرگاه
څهٔ اُميد دُور و دراز کړے    په دا لږ عمر کوتاه
تل توبه کوه خوشحاله
چه دِ محوه شی گناه

په جهان کهٔ لويه چار ده دَ ميرښکار ده    کهٔ دا چار کورے هر کار لره بکار ده
ښوقا بوتالاش دا واړه دی په ښکار کښې    چار دَ جنگ دَ مرنتوب کهٔ دِ بکار ده
ورته هيڅ دَ ښکار دَ ذوق خبرے مکړه    دَ ضعفهٔ سړی چه طبع دَ بے کار ده
آلوده دی په ډير غم دَ عمر ورځے    چه په شمار دَ عمر نهٔ ده ورځ دَ ښکار ده
په خوشحال باندِ دَ ښکار هوا ژوندون شی
مرده دِله کهٔ په تا باندِ بيکار ده

په خولهٔ کلمه لولی مونځ روژه کاندی کافر شته
دعوے کا دَ شيخئ تر شيطانه لا بتر شته
منطق معانی لولی، درس، فتوىٰ، قاضی گری کا
اکثر په دا فرقو کښے کهٔ نے گورے کُون خر شته
له کوره لوټه واخلی استنجا لره روان شی
تقوىٰ تر هسے حده په اولجه ئے وړی کهٔ زر شته
دَ بل کره چه ورشی په خپل روئے بنديان پرا نزی
په ځان باندِ چه راشی کله روئے دَ پيغمبر شته
يوځائے آلوده نهٔ دے په دا هسے درويشانو
په دا دورکهٔ گورے دا ناپاک په هر کشور شته
بادشاه قطب اقطاب دی امراکان چه ورته گرځی
کړے خيرے تړلے دَ هرچا په سر ميزر شته
چه خاص دَ زمانے دی حال ئے دا دے نور وگړی
دَ غواؤ دَ خرو کلی خالی نوم باندِ بشر شته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه حال دَ پرهیزګارو سراسر واړه دروغ شو
رښتیا غواړے له چا نه چرته پاتے دا هنر شته

نهٔ مهر محبت نهٔ مروت نهٔ وفا صدق
عالم سره برهم دے څو دا دور دَ قمر شته

آشنا له هیڅ امهٔ شے کهٔ ښخوا آشنائی بنه وه
چه اوس له چا آشنا شے نورے څو رنګه خطر شته

تر دے ژوندیو ښهٔ مړهٔ پراتهٔ په ګورستان کښې
چه نهٔ ئے دا مکرونه نهٔ دا فعل نهٔ دا شر شته

دروغ و ټیل هغه کا چه ئے ویره وی یا طمع
خوشحال په دا اړ نهٔ دے حق به وائی څو ئے سر شته

په دُنیا کښې نعمتونه رنګا رنګ شته
دَ دیدن دَ نعمت کوم نعمت همسنګ شته

عاشقِ دِ هغه کا چه لیونے وی
دَ هغو غرض پرے څهٔ چه ئے فرهنګ شته

ما په عشق کښې دا همه واړه ترشا کړه
ته لا بنهٔ ئے چه دِ غم دَ نام و ننګ شته

ما وے زهٔ به دَ زړهٔ حال ورته عرضه کړم
یو غماز ئے تر شیطان بتر ترخنګ شته

په آشتئ کښې کُشتن دَ عاشق وژنی
همیشه ژوندون هم دا دے چه ئے جنګ شته

خدایه زر یو بل اورنګ لره پیدا کړه
په جهان کښې بنا دی نشته چه اورنګ شته

په وار وارئے دَ خوشحال خاطر صیقل کړ
ولے بنکته ئے لا پاتے څهٔ څو زنګ شته

پروت یم ستا په درکښې په خیرات مِ یاد لره
دا نابنا د خاطر مِ په پوښتنه بناد لره

څو کړے ظلم جور په څو رنګه طور طور!
وُکړه فکر غور اندیښنه دَ داد لره

خیال دماغ دِ ډیر دے ترحساب ترشماره تیر دے
مرګ قیامت دِ هیر دی بنه دا هومره یاد لره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرم په انتظار کښې نهٔ شي هيڅ په زاري زار کښې
سخت ځما په کار کښې ترسندان فولاد لره

شرع شته کتاب شته دَعذاب دَخوئ عذاب شته
بندٔ کهٔ څهٔ ثواب شته تهٔ داخوئ معتاد لره

خدائے وته څرګند دے چه دَخپل خاطر پسند دے
څهٔ مهر پيوند ئے هومره دا عناد لره

خوئ خصلت چه ستا دي وارہ پټ نهٔ دي پيدا دي
مهر ناز کهٔ دا دي تهٔ ئے تل بنياد لره

ملک شته کښته پورته کورم ستا دَ ستر کو لورته
مهٔ درومه بل لورته ځائے په دا سواد لره

زلفے دِ زنځير دي پکښے ډير زړهٔ ونه اسير دي
خوک په دا تدبير دي چه خوشحال آزاد لره

په دا کلي کښې خوک نهٔ لرم نيکخواه — چه رښتيا وايم هم دا لرم ګناه
له څوا نمرده په خندا په هوس درومي — له نامرده جدا کيږي په آه آه
لکه سورے وړاندِ روستو راسره ځي — چه وهرلوري ته ځم صبا بيګاه
لکه لاس په شمار دَ زرو پول توريږي — په دوستئ ئے سرے هم شي روسياه
زهٔ په رغم دَ صوفي خراباتي يم — چه دَ مکر ذِکر کا په خانقاه
دَ زاهد په کار کښې څو رنګ اشتباه دي — دَ اوباش په کار کښې هيڅ نشته اشباه
کهٔ خوک زړهٔ سيزي په ما ځائے دَ زړهٔ سوده يه — کهٔ مِ لاس وے زهٔ به وئے وُم اِکراه
چه ئے لاف دَ پاکئ کړے څهٔ ناپاک شهٔ — راشه ګوره چه څهٔ حال لري تباه
ولئ سر په عاشقئ کښې درته څهٔ دے — درته وايم کهٔ باور کړے يو ګياه

رعيت لکه عيال ساته خوشحاله
په ياغي باندِ مهم کاندي بادشاه

په هر کار کښې مصلحت شته — خپل پردي ته نصيحت شته
چه لربر له مصلحت شي — کله خير برکت شته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سړي هومره بنا دي ده
چه په زړه کښې ئے همت شته

چه همت د سړي نهٔ وي
مهیا ورته نکبت شته

سرهاله په تنه بنهٔ دے
کهٔ د سر سره عزت شته

د سړي چه عزت نهٔ وي
د ژوندون ئے څهٔ حاجت شته

په صحیح غني هغه دے
د هرچا چه قناعت شته

د نیستئ ئے اندوه مهٔ کړه
کهٔ په تن کښې دِ صحت شته

چه صحت د صورت نهٔ وي
څهٔ پکار کهٔ دِ دولت شته

دین دُنیا دِ مبارک شه
کهٔ دا ناسره صحبت شته

اوس یاري مهٔ کړه خوشحاله
د یارئ سره آفت شته

په خپل قسمت راضي شه تل د بل قسمت مهٔ غواړه
فراغت دِ مُبارک شه کهٔ دِ ونیوهٔ دا دواړه

د ژوندون پیوند ترلے په یوهٔ او مهٔ سپړسي دے
د جهان غمونه پریږده نور به څهٔ ژاړے ځان ژاړه

خپل دي کهٔ پردي دي قلم وُځکوه په واړو
دور د فساد شو په خپل ځوئ روړ مهٔ ویاړه

هرچرته چه گرځم څنې هسے چارے وینم
کار مدار په نن شو د صبا اندیښنه لاړه

گورم کوم یو باد دے چه په درست جهان راوالوت
زړهٔ په چا بنهٔ نهٔ شي لباسي شهٔ خلق واړه

ما وے کلے میشت دے چه په کلي باندِ راغلم
تش کنډر پراتهٔ دي خالي مینه ده اُوجاړه

هرچرته چه گرځے په لاحول ترے تیریږه
سل بلا په زړهٔ کښې سل دانے تسپے په غاړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیره سودا وشوه سل دعوے دَ سود په طمع
وخت دَ مازیګر شو دِله دا دوکان وُنغاړه
تل وائے خوشحاله چه دُنیا وته به شاکړم
لاخو دا دُنیا ده مخامخ درته و لاړه

په هره تنګه خولۀ کښے برابر نۀ دی خوارۀ
په خُنو کښے حلوا دی خوګ نبات لری ناړۀ
سمے کړے ډیرے په خپل زړۀ لرے یا رخپل ته
خُکه دِ دَ زلفو ویښتۀ سم وی هم کاړۀ
بخت دے چه ئے اوس ستا دَ لبانو سره خښمه
تا ږم چه دننه زړۀ په سرۀ پیزوان ځاړۀ
زۀ دَ زړۀ بد خواه وُم ما پرے وُکړۀ پرها رونه
خۀ لره مِ دے دَ یار غمزو لره لاړۀ
اورلرے په مخکښے چه په تا مئین کیدلم
ما په دا بله لمبه ننه زړۀ ځاړۀ
زلفے ئے تورمار دی زۀ ئے هسے وخوړلم
مرم را بانِو نۀ ئی دَ دم ګرو هیځ پاړۀ
مست یم مے پرست یم زۀ خوشحال په خرابات کښے
له میئو به وا نۀ وړم کۀ م وژنی په وراړۀ

توراوربل دِ په سپین مخ را آشفته شۀ سمن راز دِ په سنبل کښے نهفته شۀ
عاشقانو دِ آرزو وُکړه لیدن ته چه دَ کښلی مخ صفت دِ تشنفته شۀ
خۀ خوسوله غرفے هسک کړه وئے ګوره لاله زار دِ په جوار کښے شګفته شۀ
تا چه زلفے پیچا پیچ سوه وَلول کړے په کلونو کښے یو تور منګور خُفته شۀ
هغه دُر دِ فخر کا که ئے تمیز شته چه ئے یاسه دَ تیکے په تار سفته شۀ
ستا دیوال مګر دَ عشق په خښتو روغ دے چه ئے شیخ ترسیوری کښیناست آشفته شۀ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



څکه هسې رنګه بوئ لری خوشحاله
دا غزل چه د بهار په وخت ګفته شئ

تُوره چه تیریږی خو ګذار لره کنه
زلفې چه ولول شی خو خپل یار لره کنه

ولې راته وائې چه په کښلیو نظر مهٔ کړه
سترګې چه پیدا دی خو دیدار لره کنه

شیخ دِ مونځ روژه کا زهٔ به ډکې پیالې اخلم
هر سړے پیدا دے خپل خپل کار لره کنه

تا وے چه څما د خولې بوسه لکه دارو ده
غواړم دا دارو د زړهٔ پرهار لره کنه

وینې م د زړهٔ خورے مګر نور څهٔ لره نهٔ دے
زړهٔ څما پیدا دے تا خونخوار لره کنه

څهٔ ژړا فریاد کړے د شمئ د تورو زلفو
تهٔ ورتلے پخپله دے تور مار لره کنه

خود به ستا ترمخه د ګیاه غوندِ خړګند شی
ګل د لاله راوړه خپل رخسار لره کنه

مے شته چنګ ونے شته د خپل یار سره خوشحاله
خپل بیاض په لاس کښېٔ څهٔ ګلزار لره کنه

تونګران په ملک ومال لری تکیه — درویشان په ذوالجلال لری تکیه
د عارف ژبه ئے بند کړه له مقاله — عالمان په قیل و قال لری تکیه
د عاشق سره چه هومره استغنا کا — ښائسته په خپل جمال لری تکیه
کهٔ تکیه ده خو تکیه د یوهٔ خدائے ده — چه په بل ئے کړے څهٔ حال لری تکیه
دانا یو دے تکیے ګوره د وګړی — چه په ستوری چه په فال لری تکیه
د دُنیا تکیے ئے ولیدے په سترګو
نور به چا وته خوشحال لری تکیه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترهرچا دے حُما یار بنهٔ — شیرین لب وشکر بار بنهٔ
تر سنبلوئے بنیے زلفے — تر گلونوئے رخسار بنهٔ
تورے سترگے تورے وروځے — تور گیسوئے تار په تار بنهٔ
تنگه خولهٔ ئے نیسته هسته — لکه خولهٔ هسے گفتار بنهٔ
لکه دُر هسے غاښونه — لا تر دُرو سپین هموار بنهٔ
تر ویښتهٔ ئے ملا نرئ — تن ئے لا تر سپین چوتار بنهٔ
قد ئے بنهٔ تر سروِ وُنے — لکه قد هسے رفتار بنهٔ
چه هرځائے وته ئے گورم — سر تر پایه پریوار بنهٔ
خدایه ماتے هغه خولے کړے — چه به وائی هندوبار بنهٔ
هومره کلی ډیر ښهرونه — پکښے نشته یو نگار بنهٔ
چه پکښے خوارهٔ یاران دی — پیښور تر هر دیار بنهٔ
په موسم دَ ښو گلونو — تر هرځهٔ دَ میرے ښکار بنهٔ
ښهٔ په هند کښے چنبا گل دے — تر دا گل دَ وطن خار بنهٔ

دَ سرائے قدر نورچا نهٔ زده
په خوشحال دے تر فرخار بنهٔ

تا وژلی هم دَ خپله لاسه خوښ کړه — کهٔ دِ زړهٔ باندِ بخیرِی زړهٔ پریخ کړه
رقیبان دِ لکه سپی دی په کوځه کښے — چه انګړ دِ پاکیزه شی واړه پخ کړه
دَ جنت میوے م نور وته بخښلی — کهٔ کُمے حُما په خولهٔ سیب دَ زنخ کړه
هغه واړه مهتیا دی په هجران کښے — چه واعظ وما ته شرحه دَ دوزخ کړه
کهٔ پرواز دِ دَ شهباز دَ شاهین نهٔ دے — دَ مطلوب په لوری پرونه دَ ملخ کړه

چه دِ قدر دَ وصال نهٔ وُو خوشحاله
په فراق دَ ښو یارانو اوس آوخ کړه

چه م ستا کوځه ماوا شهٔ — غم حُماله زړهٔ بِسوا شهٔ
ستا کوځه لکه بهشت ده — په بهشت کښے م زړهٔ وا شهٔ
زړهٔ م ستا دَ مخ په دور — له چمنه بے پروا شهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یار چه دَ خلوت وو
وهرچا وته رسوا شهٔ
عالم درد لره دوا کا
دَ یار درد ځما دوا شهٔ
شانه رو وهه په زلفو
پکښې زړهٔ مِ سرهوا شهٔ
چه تهٔ مهر باندِ نهٔ کړې
خوشحال ځکه بې نوا شهٔ

چه دَ دوا رو سترګو شیر درڅخه شته
پرې نے خوره له ځانه سیر درڅخه شته
آئینې وته نظر کړه ګل به څهٔ کړې
چه خپل مخ دَ ګل په څیر درڅخه شته
کهٔ دِ زړهٔ ځما په زړهٔ دے چه نے تول کړے
تولوه لے چه کشمیر درڅخه شته
ډیر به ما غوندِ په عقل تیرو بیر کړے
چه وربل دِ تیر وبیر درڅخه شته
تل دُعا درباندِ کا ځنے خبر یږه
یو خوخوار له دِله هیر درڅخه شته
کهٔ جمال کهٔ ناز وخیال کهٔ کرشمے دی
دا تر شمار ترحساب تیر درڅخه شته
لږ دَ مهر دَ وفا خویونه زده کړه
دَ جفا خویونه ډیر درڅخه شته
عاشقان غریبان وژنه صرفه مهٔ کړه
دَ غمزے تیرهٔ شمشیر درڅخه شته
کله ډک مِهر دَ خولے په خوشحال وکړه
خو کهٔ تش مهر برڅیر درڅخه شته

چه دا هسے رنګ ما نړے کړے بے ګناه ده
ویره نکړے دَ عاشق دَ زړهٔ له آه ده
چه په هر لوری روانه په بنیوه شي
ورسره ځما دُعا دروی همراه ده
چه دِ هومره ډیر دماغ وته وګورم
بل دِ سیال په جهان نشته بے بادشاه ده
معشوقه مِ دَ عاشق غندنه نهٔ کا
ګل بورا وته وئهٔ وے توره سیاه ده
یا په ما باندِ منینه کړے دلبره
یا مِ مینه ځنے ماته کړے الله ده
چاته حال دَ زړهٔ معلوم کړم خبر نهٔ یم
یو نیکخواه په جهان نشته بے بدخواه ده
رقیبان دِ غوغا کا پروا مِ نهٔ شي
شیر به کومه اندیښنه کا له روباه ده
په یوهٔ ګذارئے درست مقصود پوره شو
چه نګاه ئے په خوشحال وشو ناګاه ده

چه له هرچا طمع پریکړے سلطاني ده
کهٔ دِ زړهٔ په خاموشئ کړے سبحاني ده

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَحاتم دَ سخاوت خبرے مۂ کړه
لا پہ دا کښے هم دَ طمع نښانی دہ

پہ خو رنګه دَ یاری صفت کیږی
زبانی یاری نا نی یاری جا نی دہ

ترجانی یارانو هرڅۀ صدقه کړه
هم پہ دا سبب پہ کار دُنیا فانی دہ

دَ دُنیا پہ پریشانیٔ کښے جمعیت دے
دَ دُ نیا پہ جمعیت کښے پریشانی دہ

چه له دوسته له دښمنه بنۀ سلوک کا
دَ هغو سړیو بنهٔ زندګانی دہ

چه پہ کور کښے م څۀ ؤو تزوار و تیر شوم
وخپل یار وته م هسے مهمانی دہ

پہ زرګونو کتابونه ملا لولی
الف بس که ئے غرض مُسلمانی دہ

پہ نادان با ندِ هم رحم شته خوشحاله
معذرت دَ نادانو نادانی دہ

چه دا هسے ئے آغازه عربده کړه
مګر تشه ئے له میو میکده کړه

عقل ډیره شعبده لری پہ میو
ساقی تار پہ تارئے هره شعبده کړه

بنۀ جمال لره پیدا کړه څما سترګے
له غه پسه ئے جمال مشاهده کړه

یو ځل بیاله زیبا مخه پلؤ واخله
دا پہ غم کښے پراتهٔ لا پہ غم زده کړه

ستا له غمه چه ډیر ډیر همیشه ژاړم
دَ وړو سترګو م مجله نربده کړه

دَ ویشتلو آه چه ولګی بنۀ نهٔ دے
لا دوخته ئے دَ زړهٔ له حاله زده کړه

دَ قلم له سره تور لوګے روان شو
چه خوشحال دَ دے غزل مسوده کړه

څۀ دَ بدو ژغ وو چه ما بنام را باندِ وشهٔ
تندر وو یا توپ وو پرے م تخنے تخنے زړهٔ شهٔ

څۀ خوبنی دَ دهٔ وه چه بیا زر پسے اندوه وو
چاوے چه پہ رنځ کښے معظم پہ خوب اُودهٔ شهٔ

دا ژوندون هیڅ نهٔ دے چه م ساه وینی دا خلق
زهٔ پہ ځان پوهیږم اوس م کار لکه دَ مړهٔ شهٔ

ما وے زړهٔ م سنګ دے چه پہ هیڅ به نرم نشی
راشه کهٔ ئے ګورے پہ ژړا ژړا اوبهٔ شهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دَ معظم په لیدو مینه ما ته نهٔ کړه
څهٔ دَ قضا رنځ وو په هفته کښے څهٔ وو څهٔ شهٔ
رنګ ئے ترخوئ بنهٔ وو خوئ ئے لا بنهٔ وو تر رنګه
ګل وو دَ ګلابو شګفته شهٔ نور په تلهٔ شهٔ

دریغه دریغه دریغه کهٔ ئے مرګ په بدلیدهٔ وے
خو به مِ پرے ورکړل ولے مرګ میلمه دَ دهٔ شهٔ
زور او ستم نهٔ وو نهٔ څهٔ جنګ تورے نیزے وے
بل علاج ئے نهٔ وو دَ دهٔ مرګ دَ خدائے په کړهٔ شهٔ

زهٔ یوازے نهٔ یم ډیر عالم پسے کباب دے
آه دِ پسے کیږی روزی نهٔ وه روزی نهٔ شهٔ
بنهٔ تاریخ ئے راغے "بے بدله معظمه"
خوشحال دَ دهٔ نیکهٔ دے دَ نیکهٔ ئے داغ په زړهٔ شهٔ

چه بنیاد دَ عاشقئ چا کا وهٔ — دا ئے څهٔ کړهٔ په دا کار نهٔ پوهیدهٔ
په جهان ئے یو څهٔ بلا پیدا کړه — یو خدا یه کورتهٔ وران کړے دَ هغهٔ
دَ هغهٔ جهان دوزخ په غوږ وو آورم — دا دوزخ مِ په دا سترګو ولیدهٔ
خوک ناحق دَ بیلتانهٔ لهٔ لاسه ژاړی — آشنائی ده چه تاختونه کا په زړهٔ
دَ هلک له لاسه والوزی مرغئ — په ژړا ورپسے سرهٔ کا دوه لیمهٔ
هغه وخت چه دَ زانګو او دَ وُنړی وو — په مرغئ هیڅ نظر نهٔ وو دَ دهٔ
خولونیږی آشنائی ئے پرے ډیریږی — دروی دروی په اوړو کښے بنهٔ ویښتهٔ
دَ وصال قدر غمژنو دَ فراق زده — دَ تشنه ژوندون په څهٔ دے په اوبهٔ

په حدونو سره ولاړ وا وس خوشحاله
په کوم لور به سره مومو زهٔ او تهٔ

خُما عشق په هغه شان دے لکه وو — ستا خاطر هغه سندان دے لکه وو
کهٔ ته هر څو بد قولی او بد عهدی کړے — قول عهد مِ همان دے لکه وو
خرخشے دِ لکه وے په هغه شان دی — فتنه ګر دے سُور پیزوان دے لکه وو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رقیب خبره مهٔ نغوږه اے یاره — چه رقیب هغه شیطان دے لکه وو
د بنړو په ناوکیو دِ غلبیل کړ — نښانه مِ د رته ځان دے لکه وو
په خاطر باندِ مِ داغ دے ستا د لاسه — ولے هسے بے درمان دے لکه وو
بل ګمان فکر خاطر له درمهٔ وړه — خوشحال ستا د بندګان دے لکه وو

چه دِ زړهٔ هسے پرے نازکوه دلبره
په خوشحال دِ خاطر ګران دے لکه وو

څو را سره خلقه جفا ډیره هغه کس کړه !
خدائے مِ په دا خوئی کښے په دهٔ مینه بو په لس کړه

زار د خوار عاشق دے د محبوبے څهٔ پروا ده
زهٔ وغم ته روغ یم تهٔ تل خاندہ تل هوس کړه

زړهٔ ئے د کافر دے خو په خولهٔ کلمه لولی
څهٔ ئے را ته ستائے مالیدلے ده نور بس کړه

ګرځی په ګلو نو کښے ګندګی وریسے غواړی
څهٔ ئے په جهان کښے بده بخره د مګس کړه

بنهٔ چه را پیدا شوے د بهار زیړیه ګله
تل دِ یادونه عندلیب په هر نفس کړه

لیږدی کاروانونه صبا کیږی اے ساربانه
پاسه د شتر په غاړه پورے اوس جرس کړه

څه هغه شهباز شه چه ئے ځائی په سردرو دے
نهٔ لکه د کلی قارغهٔ ګرځه غم د نس کړه

بخت دے که طالع دے کهٔ دا خپله فقیری ده
خدائے مِ چه شړئی برابره د اطلس کړه

قدر د خپل ځان د عافیت ورځه نهٔ وو
ځکه عاشقی هسے آغاز بوالهوس کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور وحریفا نو واړو ډکے پیالے نوش کړے
بنهٔ چه دِ خوشحال پیالهٔ ئے ډکه په بکس کړه

خوجفا راسره ډیره هغه کس کړه
خدائے م مینه په دهٔ باندِ یو په لس کړه

بنه چه راغلے دَ بهار زیرے یه گله
اندیښنه دِ عندلیب په هرنفس کړه

دَگلزار په گل غرض نه کا گُل غواړی
په جهان ئے بده بخره دَمگس کړه

کهٔ زهٔ خوار دِ دَگلونو لائق نهٔ یم
ستاله باغه عنایت داخار و خس کړه

درست عالم په داخبره خبردار دے
چه بلبله خپلے ژبے په قفس کړه

تهٔ ئے شناخت علم ادب لره پیدا کړے
نهٔ چه گرځه بیهوده چارے عبس کړه

دَ ژوندون په قدر هیڅ خبردار نهٔ وو
عاشقی م چه آغازه بوالهوس کړه

کله سول کله ژوندون بخښل وماته
دَ عشق اوره په ماچارے دَققنس کړه

دَ دُنیا غمونه لږ نهٔ دی خوشحاله
نن دَ یار ومخ ته گوره واړه پس کړه

چه په عشق کښے ئے ونوروته پیغور شهٔ
اَخ چه لاس په لاس په دهٔ پورے داتور شهٔ

محتسب چه په احداد وودَمستانو
دَرندانو سره ناستے دَ باده خور شهٔ

چه پرون م فاسقانو سره جنگ وو
نن هغه ترعاشقانو لاخهٔ نور شهٔ

چه غیبت ئے بداوهٔ دَبل تر زیا نه
راته گوره په غیبت دَ پلار ومور شهٔ

کهٔ دَ بزیرے په وکښل ئے ورته وایم
نصیحت دَ نیک خواهانو باندِ اور شهٔ

گوره خو عالم به لاندِ کا تر چلو
نن چه دا دریاب راوخوت موج ئے زور شهٔ

صنوبر چه هومره ډیره لوئی غوښته
ځکه هسے په باد تهٔ په باد نسکور شهٔ

چه ئے زړهٔ ترکانړی سخت هغه م یار دَ؟
بد ے بخرے ځهٔ ځما کانړے په کور شهٔ

تورے سترگے ئے بلا دی عاشق گوره
په بلا باندِ وردرومی کورو کور شهٔ

دا دَخپل عمر دلیل وکړه خوشحاله
چه لاله په باغ کښے وغوړیدهٔ خور شهٔ

چه کتل خورُول بخښل کا خوان هغه
چه توره لری دَ تُورے خان هغه

کان دَ لعل دَ یا قوت دَ گوهر ځهٔ دے
چه احسان ترے پیدا کیږی کان هغه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئے ته په ګیډه وخورے حبطه شی — دَ مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه
که دَ مال دے که دَ ملک دے که دَ لیچو — چه ئے توان دَ چا پکار شی توان هغه
په تمامه شپه په ورځ په میاشته کال کښے — چه دَ خدائے په یاد و دروی آن هغه
چه دِ ښوک دَ وړاندِ روستو ځی داځهٔ شی — په تنها وجود چه شان دے شان هغه

ونور چا وته وران مهٔ وایه خوشحاله
چه په قول عهد وران شو وران هغه

ځان چه پیژنی که ګورے ښهٔ هغه — چه ناحق په ځان غره دے څهٔ هغه
واړه زړونه فراغت وی په ښادئ کښے — چه په غم کښے مردانه شی زړهٔ هغه
ملامت لره ئے نور عالم پیدا کړ — ملامت لره چه روغ دے زهٔ هغه
یا یاری یا اغیاری ده که ئے ګورے — په دا دوه کښے نهٔ ته دا شوے نهٔ هغه
چه تر تانه وړاندِ وروستو ځی ملهٔ نهٔ دی — چه په لار در سره سم ځی ملهٔ هغه
چه په عشق سره ژوندی دی هغه نهٔ مړی — چه بے عشقه ژوندی ګرځی مړهٔ هغه
چه دروغ تر خولهٔ وباسی کله خولهٔ ده — چه رښتیا تر خولهٔ وباسی خولهٔ هغه

هیڅ حجت له هیچا مهٔ کوه خوشحاله
هر چه تا وته ښوک وائی تهٔ هغه

څهٔ لره م زړهٔ وړے چه دَ زړهٔ ساتل دِ نهٔ زده
مست یم مستی کړمه ګنړه هر هنر م ښهٔ زده
تل په اوښکو وینو همیشه ژړا آهونه
نور راخبر نهٔ شول یا م سترګو یا م زړهٔ زده
ذکر فکر مونځ روژه طاعت ورلره بویه
شیخ ملا زاهد عابد مونی په میوځهٔ زده
کله دَ طوطیانو په ګفتار کښے دا لهجه ده
راشه که ئے ګورے زړګے تا کله دا تلهٔ زده
روغ عالم به چیرے دَ دردمن په حال خبر یږی
درد چه په چا تیر دے په دردمنو هم هغهٔ زده

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



څۀ زړونه ئې وړی، ستا بارخو پریشانو زلفو
بسه وه دا خبره چه یا غلۀ زده یائې ملۀ زده

ستا دا سور پیزوان چه فتنه کړدے بے حسابه
څو رنګه فتنې چه په جهان دی واړه دۀ زده

چیرې به له دله یو ډک مهر را برخیر کړے
تل دِ کۀ دا هسې دَ لاسې تښې په خولۀ زده

څۀ پوښتې خوشحال دَ بیلتانۀ په اِشتیاق کښې
ستړې په منزل یو هیرې تږے په اوبۀ زده

چه پیدا چیرې په ملک کښې یو حبیب شه
لکه خار ورته په څنګ کښې بل رقیب شه

محمدؐ ته ابُوجهل نصیحت کا
راشه ګوره څوک رنځور شه څوک طبیب شۀ

دَ دانا په خپل وطن کښې قدر نۀ وی
دُرهالۀ قدر پیدا کړو چه غریب شۀ

په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه ډیر دی
دَ زړۀ داغ مِ دَلاله دَ زړۀ نصیب شۀ

کۀ ئې رنګ و بوئې ګل نۀ وے ورکړے
مبتلا به باندِ ولے عندلیب شۀ

راشه تور و سپین دَ سترګو نندارہ کړه
هغه یار راسره لا تر دا قریب شۀ

چه پرون راسره یار وو خبر نۀ یم
نن له مانه بیا ویزار په کوم تقریب شۀ

تنا وُونه ئې دَ زلفو دی دا زړۀ مِ
لکه ملک دَ یاغی لاندِ تر تخریب شۀ

چه ئې پریښوده یاری دَ لیونیو!
ګمان مهٔ کړه چه خوشحال ختټک لبیب شۀ

چه مِ زړۀ پرے بنۀ کیدۀ له واړو بد شۀ
بنۀ خو دا چه اوس یوازے دَ احد شۀ

کۀ ژوندون دَ خلقو دا دے چه لیدۀ شی
بنۀ وما ته مړے خلقه دَ لحد شۀ

دَ دُنیا یاران مِ وُلیدل په سترګو
هر سړے ځما په سترګو لکه دد شۀ

نۀ حیا شته نۀ وفا شته نۀ خپلوی شته
خلق واړه په معنیٰ لکه مرتد شۀ

چه ئې نن کا نده له ما سره خپل قوم کا
مګر دا جور له قومه په احمد شۀ

تفحص دَ تور و سپین نشته په چا کښې
دَ همه عالم په سترګو کښې رمد شۀ

نور به چا ته یادوُم چه رد ګمراه دے
چه پیدا ځما له ځانه خلق رد شۀ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرزندان چه مِ له کیږي نه پیدا دي
یوخ ځماله ناخلفو نه کبد شۀ

په طالع په بخت د مال وملک ښتن دي
بخت هغه دے چه په بخره د بخرد شۀ

له هغه بخته ځما توره بلا ده
چه له هره ناهمواره په مدد شۀ

چه د پلار له ځانه ښۀ ځویه پیدا شي
تهٔ به وائے چه ژوندون ئے مجدد شۀ

چه قابل ئے پیدا نشي په اولاد کښے
کۀ هزار ځویه د پلار روي بے ولد شۀ

د بهار ګلونه هیڅ دي چه تیریږي
ښۀ هغه وماته ګل دے چه سرمد شۀ

کۀ په ذات کښے د خوشحال آل واولاد شته
په صفات کښے لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ شۀ

یخ د نمروتا ته نۀ دري خوشحاله
په داخۀ چه یو څو ورځے منجمد شۀ

څو په باغ کښے لا یو ګل د نوبهار شته
د بلبلو د طوطیانو پرے چیغار شته

نن دِغم له مانه ځان ساقي کۀ ښۀ کا
چه په سیل د بهار راسره یار شته

چه له یاره سره مست د ګلو ګشت کړم
محتسب کۀ را نزدے شي پا ئیزار شته

شیخ ملا دِ ځما غم په بهار نۀ خوري
چه رباب و سریندے غوندِ غمخوار شته

نۀ به زۀ د میو جام کښیږدم له لاسه
نۀ ځماله پارسایئ سره کار شته

ما و خپلے پارسایئ ته رخصت ورکړ
په دا نورو پارسایانو مِ اوس پار شته

ساقي بیا ځما د ښهر خبر واخله
لا یو څو په کوڅو پاتو پرهیزګار شته

ګل و مُل سازو سرود ساقي سرے سترګے
لا به ډیر عالم رسوا کا چه دا چار شته

چه په هره پیاله عقل له ما رزدوئي
د ساقي منت را باندِ په بار بار شته

د ګلونو په موسم کښے خوار هغه دے
چه ئے نۀ پیاله په لاس نۀ ئے نګار شته

نن هغه شاهِ جهان د زمانے دے
چه دسته ئے د ګلونو په دستار شته

چه نا اهل په غفلت وریا ندِ نۀ ځي
ښکه وصل د هر ګل په څنګ کښے خار شته

د بهار زیبا ګلونه سوداګر دي
لخلخه به څنګے پیري چه خریدار شته

نن خوشحاله د زړۀ داد د عشرت ورکړه
داڅو ورځے غنیمت دے څو ګلزار شته

څو په باغ او په بوستان کښے لا لاله شته
د بلبلو د طوطیانو پرے ناله شته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن دِ غم له ما نه لرے لرے گرځي — چه په وخت مِ دَ بهار په لاس پیاله شته
که مِ یار په لاس باده واخلي ساقي شي — بیرے مِ دا ارشي چه ئے زهد صد ساله شته
راځه وُ بنیه چه څم تر پښنوئے پریوزم — که په دهر کښې څوک ما غوندِ واله شته
دَ بهار په زیبا گلو ډیر ویریږم — چه باران شي دَ باران سره ژاله شته
دَ بهار په سیل تل دروَمه خوشحاله
یوځو ورځے چه دَ گلو پر کاله شته

چرگ دِ خپل چرگ والے کا که ئے رضا ده — چه له بازه بازي کا دَ دهٔ قضا ده
هغه چار به مخامخ په مخه ورشي — چه دَ چا دَ هغې چارے تقاضا ده
څوک به خوښ سره پرے نهٔ ږدي په جهان کښې — دا دَ ځایه دَ دے دهر اِقتضا ده
تیره چار چه یادوی فائده ئے کومه — ورِ دا نا ته مضا واړه بے مضا ده
دَ کمان لرے به تار په تار خورے کا — دَ یقین اندیښنه بهه تر بیضا ده
دَ خوشحال په وئیل غوږ او فکر بویه
چه مومند نه دَ خبرے په اِمضا ده

چه مِ ولیدهٔ دَ زړهٔ په سترگو خپل زړهٔ — دَ خپل زړهٔ غوندِ مِ ونهٔ لیدهٔ بل زړهٔ
عاشقي دَ خدائے بلا ده عاشق مهٔ شه — څوک په سرو سترگو تو ابیښے لري تل زړهٔ
په وئیل وئیل مِ هیڅ تقصیر ونهٔ کړ — کهٔ سټنیږي له دلبرو په وئیل زړهٔ
عاقبت به آفت سر لره پیدا کا — چه جار وُزي دَ بُتانو په بورجل زړهٔ
ورځے واچول دَ زلفو زنځیرونه — کهٔ هرگز آموخته نهٔ وو به تړل زړهٔ
دَ خپل سر په مهرهم دا هسے نهٔ وی — لکه خوښ شي دَ دلبرو په کنځل زړهٔ
ډیرئے صبر شکیب وکړ نهٔ پائیږي — نور له تنه جدا کیږي په نیول زړهٔ
دَ خوشحال ختک فریاد له نورو نهٔ دے
په دهٔ هومره چارے وُکړے واړه خپل زړهٔ

چه وایم هغه نهٔ کړه دا څما خو یه گمراه
غوولی دِ پرے نهٔ شي یا خوما گنړي بدخواه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ کار په دوئ نهٔ شی په شماره دی دَ غوولیو
کمے دے دا دَ دیو کهٔ خما دے دا ګناه

کهٔ ما دَ خان بدخواه ګنړی دا لا بله بلا ده
هیڅ پلار به په جهان بدخواه دَ خویه وی آه آه

کهٔ پلار دَ چا مزرے وی مزرګټے ورځنے زیږی
خما خویه وګوره دَ جیفے ګیدړ روباه

څو ډیر دی کهٔ قابل وے دا به څهٔ بلا بنهٔ کار وو
یو شیر دَ درګه بنهٔ دے نهٔ ګیدړ پکښے پنجاه

دَ نورو نوم څهٔ اخلم دَ ټومے بیوجه څو دی
یا عاق یا عاق ته روغ دی خو دَ واړو مخ سیاه

خما په نامهٔ زرشول دَ بی بی په ذات زرنیخ شول
زرنیخ په نرخ دَ زرو کا قدرت لری اِله

هر کارئے په تقلید دے تحقیق نهٔ لری په ذات کښے
نهٔ نام نهٔ ملګری شته هومره ګنج هومره سپاه

ارمان ارمان چه زوړ شوم یو قابل خویه مِ نشته
چه زهٔ خوشحال دُعا کړم په صبا او په بیګاه

POHA
پوهه

چه تاو ته نظر کړم نور مِ هیر دی بنائسته
په طور دِ مثین کړم ګنړه ډیر دی بنائسته

هم ځان را ته بنکاره کا هم مِ ورک شی زر له سترګو
په دا کلی کښے واړه پری خیر دی بنائسته

تلخئے دَ هجران بد ه بلا ده عاشق وژنی
چه دائے را په یاد شی څهٔ ګنډیر دی بنائسته

یاران لری زړګونه دَ هر چا سره ساز باز کا
په قول په وعده څکه تیرو بیر دی بنائسته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل جور تل خاتل ستمونه په عاشق کا
په دا واړو کارونو کله سیر دی بنائسته
دَچین اودَماچین م اوریدلی دی په غوږو
په سترګو م لیدلی دَ بونیر دی بنائسته
خوانی لاړه خوشحاله راوړه زرکهٔ عاشقی کړے
یا زر دی یاخوانی چه ورته زیردی بنائسته

چه پرویزی څوک له پانړه مومیائی ورلره بویه
په کور کښے چه تیارهٔ شی روښنائی ورلره بویه
چه کار دَچا مشکل شی په تدبیر وبله کښیني
دا کار څهٔ آسان نهٔ دے دانائی ورلره بویه
په کانړی کښے مرأت شته دَکیمیا بوټے په غرهٔ کښے
طلب چه دَ دے کار کا بینائی ورلره بویه
کهٔ لور دَ اورنګ زیب وی معشوقه په اصل لویه
دا کارئے منظور نهٔ دے پارسائی ورلره بویه
کهٔ هرڅو بنائسته وی معشوقه په هُنر پسنده
دا کارئے هم پکاردے بخت خائی ورلره بویه
کهٔ څوک بنائسته غواړی په کوځه کوځه دَګرځی
په هر ښهر په کلی ګدائی ورلره بویه
یو زړهٔ دَخوشحال نهٔ دے چه جهان پکښے لیدهٔ شی
دَ هرچا زړهٔ مرآت دے صفائی ورلره بویه
حیران یم نهٔ پوهیږم چه له یاره مخ پوښل څهٔ
اغیارو ته په قهقه لاله ورایه خندیدل څهٔ
کهٔ نهٔ ئے وی په زړهٔ کښے دَ عاشقه سره مهر
سکه دهٔ وته داغنج ودا دلال اودا کنځل څهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه م چه لیدلے دَخپل یار بنائسته مخ دے
کهٔ حُورے کهٔ پری وی وبل مخ وته کتل څـهٔ

بنهٔ ئے دِ وئیلی چه زړهٔ یودے یار دِ یو وی
بنهٔ ده داخبره چه سریوا وسودا سل څـهٔ

زار ژړا هغه کا چه دَ یار له مخه دُور وی
وخت دَ یار دَ وصل کوک په کوک نارے وهل څهٔ

خوشحال دِ بنهٔ چه مړ کړ تهٔ په کوم توکی دلګیرے
تر سر دِ صدقه شم ګوندِ تا ته چا و ئیل څهٔ

خپله پوهه به لرم خپله لره وهر چا ته خپله پوهه دهٔ کره
کهٔ فاسق یم کهٔ فاجر یم دَخپل ځان یم دَ زاهد دَ عابد څهٔ دی راسره
لیونے کهٔ مسخره دے وعالَم ته عالَم هم وی لیونی ته مسخره
په معنیٰ پانړے ګلونه دی خبرے دَ سرِی کرده دَ وَنے ثمره
نن یوازے یک تنهاله یاره بنهٔ یم خوک دَ غیرو دَ وهم نهٔ وی راکره
دَ نور چا غرض پرے نشته چه صرافی هم هغه زده په سره په نا سره
په بنوره مزکه کښے کله شی ګلونه درته چاوے چه ګلونه پرے کره

شاړے تل په کُن پره ګرځی خوشحاله
مړنے لیندے په څُ په سر پره

خوارهٔ عُمر غوندِ تلنه کوے بنـه په مدت دَ دیدن ژمنه کوے بنهٔ
په ناستی دِ رغیدن دَ بیمار وشی په ولاړے پښے پوښتنه کوے بنهٔ
خویُ دِ درست دَ ترهیدلی غرځهٔ وا خست وراندِ ځے بترشا کتنه کوے بنهٔ
دا دَ زړهٔ بنهرم ستا دے چه په ستر کو باندِ هر کله ختنه کوے بنهٔ
په خولهٔ ما سره دروغ دروغ یارئ ویزارئ دَ زړهٔ دننه کوے بنهٔ
هم په خور نګه غمونه باندِ کښیږدے بیا ګیله له دے غمژنه کوے بنهٔ
په زمان کښے بنهٔ ګلزار دَ وصال نهال کړے بیا په خپل لاس ئے وکښنه کوے بنهٔ
وصل هجر و دا دواړه په خپل لاس دی چه مانړه له خپل مینه کوے بنهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خوشحال په زړه دِ کښینبودل داغونه
پرے دَ مالګو دوړونه کوے بښـئ

خوله م غوښته له نګاره راڼې نه کړه — دَ رقیب په خوله شوه آرے راڼې نه کړه
ماوے درومم ستا له دره دُعا راکړه — په فریاد او په چیغارے راڼې نه کړه
صبوری له جفا کاره یاره غواړم — راڼې وکړے خپے چارے راڼې نه کړه
په یوه جلوه له ورایه رغیدے نور — دا خما سترګے بیمارے راڼې نه کړه
دیوے غمزے په طمع ورته ګورم — عمر تیر شو په دا لارے راڼې نه کړه
په اُمید وُم چه یوه پیاله به راکا — هغه مستے شراب خوارے راڼې نه کړه
وےئ دربه کړم بوسه دَ خوږو شونډو — رانژدے نژدے شوه بارے راڼې نه کړه
ګلدسته ئے چه له باغه وه وشیلے — که ئے ورکړه وریبارے راڼې نه کړه
هسے نه چه ئے دَ زړه دَلاسه نه زده — دَ لاسه لری تیارے راڼې نه کړه

زه خوشحال دَیوے ګنبلے په طلب وُم
دا فلک لری بسیارے راڼې نه کړه

خاتمه که دَ سړی په خیریت ده — ترصحت ئے چار بهتره دَ زحمت ده
په زحمت کښے ئے نخوت له سره وُځی — رنځوری نافی دَ کبر دَ نخوت ده
هر زحمت چه دَ سړی په وجود ورشی — معافی ئے دَ ګناه په روایت ده
په یوه تبه چه لږه په چا ورشی — هغه هم دَ ګناهونو کفارت ده
په هر چا باندِ چه ډیره تبه ورشی — په صحیح چه دغه لار دَ مغفرت ده
هغه کس ولی دَ خدائے دے ګمان نشته — دَ هر چا چه صبوری په مصیبت ده
غم ښادی چه وسړی وته رسیږی — همګی واړه له ځایه په قسمت ده
په ښادئ کښے دِ ئے شکر سړے کاندی — په غمونو کښے دَ صبر چار فرحت ده
چه دا دوه چارے لری حبیب الله دے — په ویُیل نه ده داچار په عنایت ده

وار په وار به په خوشحال باندِ وردرومی
هره چار چه دَ محنت یا دَ راحت ده

دَ آسمان په حکم څه فتنه برپا ئے ده — نه زده چا چه قراری ئے په کوم ځائے ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندیوان ئے اورنګ زیب لره روان کړم — ننداره م په هر ښهر په هر سرائے ده
پښتانهٔ م چه حال ووینی کباب شی — په لیدهٔ م دَ هرچا ژړا هائے هائے ده
لوئے هلک م نندارو لره رادرومی — دَ هندو دَ مُسلمان نارهٔ وائے وائے ده
زهٔ هرچا وته موسیږم ترے تیریږم — چه دَ دواړو اندیښنه را ته نمائے ده
نهٔ یوازے په ما ظلم ستم وشو — زمانه دا هسے تل کا په خپل رائے ده
په هر ځائے م په څوکئ راځی فوځونه — دبدبه م دَ زمری یا دَ همائے ده
په ولاړه کښے هاتی شمار په یوهٔ غرهٔ دے — او چه پر یوزی په دوه غروئے آولئے ده
زړهٔ م درست سورے سورے لکه غلبیل شو — محرومی دَ لیدو بده غم افزائے ده
ګوندِ وی چه بازی بیا را وچا رو ځی — همګی عالم وئیل کا چه اوس بائے ده
کهٔ په اور کښے دَ سرو زرو وښے پریوزی — عیب نشته په دا کار کښے ئے جلائے ده

نورے واړه تکیئے تار په تار خورے شوے
دَ خوشحال خټک تکیه په یوهٔ خدائے ده

دَ جهان خوښی همه دَ هغه کس ده — چه همیشه ئے دَ محبوبے په جوس ده
دَ ښهٔ مخ له ننداره چه نظر نیسے — کهٔ ئے ګورے هم دَ هغه هوا دَ نس ده
کهٔ سوګند را ځنے غواړے هم به وکړم — تر اول م په تا مینه یو په لس ده
ډیرے مینے آشنایئ څهٔ پکار نهٔ دی — یوهٔ زړهٔ لره یوه آشنائی بس ده
چه دوه ښهٔ خوا ږهٔ مئین سره دلګیر کا — دَ غمازو وینا څهٔ دَ سترګو خس ده

بے پروا بے فهمه مهٔ راځه خوشحاله
په پالنګ م ډیره ویره دَ عسس ده

دَ عشق بخره ازلی ده په جنګ نهٔ ده — په کتاب په مسئلو په فرهنګ نهٔ ده
په قسمت ئے له ازله دی راوړی — دا دَ سولو بخره اوس دَ پتنګ نهٔ ده
خلقے سره درغړے کړو کړے — لا دَ مستے دَ غمزے توره زنګ نهٔ ده
تل دَ یار دَ صورت نخښے پکښے ګوره — کهٔ دننه آئینه دَ زړهٔ زنګ نهٔ ده
دا پیاله چه ما نوشلے ده پرے مست یم — دا پیاله م دَ شرابو دَ بنګ نهٔ ده
دا اغیار سره یو دم ناستے ښهٔ نهٔ دے — هیڅ خپلوی م دَ زجاج او دَ سنګ نهٔ ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَګلونو په موسم کښے هغه خوار شول — چه ګلرنګه معشوقه ئے ترخنګ نهٔ ده
لیچے څهٔ لره غړی تُوره وُکاږی — کهٔ دَخوارود وژو په آهنګ نهٔ ده
کهٔ زهٔ نهٔ یم لیونے په آهو سترګو — مصله م دَ آهو پسے لنګ نهٔ ده

کله کله خوار خوشحال و ته نظر کړه
دَعاشق نمنځنه هیڅ عیب ونګ نهٔ ده

دَمجاز عاشقی عین حقیقت ده — وهغے ته زینه ایښے دصورت ده
تر ثړیٔ تر ثریا کهٔ فهم اُوکړے — په څلور کُنجه غوغا دَمحبت ده
په جهان به هیڅوک نهٔ وُوکهٔ عشق نهٔ وے — دبدبه دَعشق قائمه ترقیامت ده
چه په مینه کښے یو زړهٔ او یو زبان وی — ترهرچا دَ هغو چار په برکت ده
دا یوه وینا دَ زړهٔ په غوږ و واوړے — چه بهتره دَ اورنګ ترسلطنت ده
سر دِ درومی مال دِ درومی پت دِ نهٔ ځی — دَ سړی دَچارے کل خوبی په پت ده
چه یوځله زړهٔ دَچا په مینه بند کړے — په شلو ځئے کمی دَ مروت ده
چه دَ نیت غُلتی لری بلا به ورشی — ترهرڅهٔ بده بلا غُلتی دَ نیت ده
چه ئے خدائے ورکه وچا شکر دِ کاندی — په جهان کښے لویه بخره دَهمت ده
په تیرهٔ الماس دپاسه قدم ایښے — یوه څهٔ باریکه لار دَ شریعت ده

چه کنړو ته نصیحت ولے خوشحاله
وایه څهٔ فائده ستا دَ نصیحت ده

دَ سپیرو خاورو غوغا ده — چه پکښے غورزی هوا ده
وحباب و ته وُګوره — څهٔ دِ نوره تمنّا ده
ګمان نهٔ کړم چه به ستا شی — داچه ته وائے خما ده
چه به ګاندهٔ فنا کیږے — ګاندهٔ نهٔ ده نن فنا ده
دَ هلکو لوبے ګوره — سرشته دَ هرچا دا ده
تهٔ لا طفل دَ اوږی ئے — کهٔ دِ ږیره کربلا ده
دا درګاه یو بوډئ — که خندا که دِ ژړا ده
چه ئے یو ځله آراند کا — دا هم لویه تماشا ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه وګوره په سترګو — چه دَچا وه اوس دَچا ده
خوب و هم خوب وخیال دے — کوم ژوندون کومه دُنیا ده
دَ نورچا نهٔ ده خوشحاله
ستا دَ خولے وینا هم ستا ده

درته چاوے چه دَ یار سره جفا کړه — دَ اغیار سره وفا مهر خندا کړه
چه دَ ښلهٔ خاورے دِ سترګو لره غواړی — دَ هغهٔ سره فتنے جنګ وغوغا کړه
هغه ته ئے چه له ما دِ محبت کړهٔ — کهٔ غه هومره مینه ما سره نورچا کړه
کهٔ په اور م کښینوے په اور به کښینم — چه دځائے په سترګو کړم راته دِ ښا کړه
دَ بادشاه دَګدائے څهٔ وو دَ یارئ — څهٔ کړم خدائے مِ ستا په مخ مینه پیدا کړه
کهٔ څما په مرګ دِ زړهٔ دے تیغ راواخله — دَ قصاب غوندِ م بند په بند جدا کړه
زهٔ خوشحال جیواری دَ سبکل نهٔ یم
دَ دُنیا خونه م ستا په مخ بیدیا کړه

دَ ماړهٔ ترفهم هیڅ نهٔ ده غمنینه — ولے وږی ته حلوا ده اوربشینه
په تونګر باندِ اطلس لکه شړئ وی — په نادار باندِ شړئ ده وریښمینه
ومجنون ته دَ لیلی خبرے وا بیه — نهٔ له علمه له مذهبه نهٔ له دینه
هغه خدائے چه دَ هجران غمونه راکړهٔ — کهٔ دَ وصل ښادی راکا توان لرینه
خدا یه کله به دیدن دَ آشنا راکړے — چه به زهٔ پرے ما توم دَ زړګی مینه
یوځل بیا په حیات ولیدے په سترګو — بیا له پسه کهٔ مردن وی هم دِ وینه
نمر په کوم لوری پریوزی چرته خیژی
په خوشحال باندِ یوه شوٗ توره سپینه

دَ ګلونو قدر چا زده — یا بلبلے یا بورا زده
په جهان کښے به یو وی — چه هُنرے دَکیمیا زده
چه وفا ورځنے غواړے — بے وفا کله وفا زده
کهٔ جهان درخبر نهٔ دے — ما په تا زده تا په ما زده
تهٔ ښادی کړه زهٔ به غم کړم — تا خندا زده ما ژړا زده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه وګوره په سترګو | چه دَ چا وه اوس دَ چا ده
خو یو وهم خوب وخیال دے | کوم ژوندون کومه دُنیا ده

دَ نورچا نهٔ ده خوشحاله
ستا دَ خولے وینا هم ستا ده

درته چا وے چه دَ یار سره جفا کړه | دَ اغیار سره وفا مهر خندا کړه
چه دَ پېلهٔ خاورے دِ سترګو لره غواړې | دَ هغهٔ سره فتنے جنګ وغوغا کړه
هغه تهٔ ئے چه له ما دِ محبت کړهٔ | کهٔ غه هومره مینه ما سره نورچا کړه
کهٔ په اورم کښېنوے په اور به کښېنم | چه دِ ځائے په سترګو کړم راته دِ شا کړه
دَ بادشاه دَ ګدائے ځهٔ وو دَ یارئ | ځهٔ کړم خدائے مِ ستا په مخ مینه پیدا کړه
کهٔ څما په مرګ دِ زړهٔ دے تیغ راواخله | دَ قصاب غوندِ مِ بند په بند جدا کړه

زهٔ خوشحال جیواری دَ سبکل نهٔ یم
دَ دُنیا خونه مِ ستا په مخ بیدیا کړه

دَ مارهٔ ترفهم هیڅ نهٔ ده غمنینه | ولے وری ته حلوا ده اوربشینه
په تونګر باندِ اطلس لکه شړئ وی | په نادار باندِ شړئ ده وریښمینه
ومجنون ته دَ لیلیٰ خبرے وایه | نهٔ له علمه له مذهبه نهٔ له دینه
هغه خدائے چه دَ هجران غمونه راکړهٔ | کهٔ دَ وصل ښادی راکا توان لرینه
خدایه کله به دیدن دَ آشنا راکړے | چه به زهٔ برے ما توم دَ زړګی مینه
یو ځل بیا په حیات ولیدے په سترګو | بیا له پسه کهٔ مردن وی هم دِ وینه

نمر په کوم لوری پریوزی چرته خیژی
په خوشحال باندِ یوه شوٓ توره سپینه

دَ ګلونو قدر چا زده | یا بلبلے یا بورا زده
په جهان کښے به یو وی | چه هنرے دَ کیمیا زده
چه وفا ورځنے غواړے | بے وفا کله وفا زده
کهٔ جهان درخبر نهٔ دے | ما په تا زده تا په ما زده
تهٔ ښادی کړه زهٔ به غم کړم | تا خندا زده ما ژړا زده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ دِ بنۀ دے خوئ دِ بد دے
زۀ خوشحال یم ماربنتیا زده

دَصبا باده ګذر په چمن بیا کړه
په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه وا کړه

زۀ دِ توان دَ خرخشولرم چه کړے ئے
کۀ دِ زړۀ ځما په مرګ دے دا دا کړه

بے نیازځۀ خبرله نازه چه نازځۀ دے
ستا دَ سترګو بلا واخلم ناز په ما کړه

زۀ له خپله بخته چا ته فریاد کړم
چه پرون ئے راته مخ وونن ئے شا کړه

خوله م ډکه شوه په شهد وپه شکرو
چه سحر م ستا دَ لام وبے ثنا کړه

عاشقي کۀ سراسر واړه بلا ده
ما په ځان دَ زړۀ قبوله دا بلا کړه

زۀ خوشحال کمزورے نۀ یم چه به ډار کړم
په بنکاره نعرے وهم چه خوله ئے را کړه

دَ دانا په ځان بلا شوه خپله پوهه
چه هرګز ئے خالي نۀ وي له اندوهه

چه فلک وچا ته عیش وعشرت ورکړ
هومره ډیر ورباندِ کښیږدي ښوستوهه

ګله ونه دَ خزان په وخت لغړه
کۀ بیا خوبي دَ پانړ یوړے انبوهه

په ناحق ئے په میدان په سمه غواړے
چه دَ غرونو غرځۀ نۀ ګوري بے کوهه

چه م ولیدے خوخولے هومره خبرے
راځرګند شول واړه دوه او یا ګروهه

په خپل خوئ اورو رباور نشته خوشحاله
غافل مۀ شه دجهان له مکره دروهه

درسته شپه دِ په کوځه کښې مرم له سوزه
لاس م مات شه کۀ دِ نۀ کړم روږ بوږه

تۀ په خوبے غمه خاندے خوشحالي کړے
ځما غاړه په ژړا درپسے بوږه

هم م بے حسابه پورے کړه په سترګو
دَ رنجو غوندِ م بیاله سترګو توره

ستا دَ خوئ دَ زلفو کا رسره یو رنګ دے
سرهوا لوئي دا هومره سمه کوږه

حال دِ واړه وار په وار راته معلوم شو
ټکه یاره په زړۀ ترېخه په خوله خوږه

ځما یار چه میخوري کا په بدل ئے
ولے مالره راځه دَ دُردو روږه

یکښے زړۀ دَ خوار خوشحال دے چه خوږ نشي
ړے رو رو دَ شهئ زلفینے نموږه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ناکس له آشنایئ توبه توبه — دَ شوختیئ له رونړایئ توبه توبه

چه پرده ئے په الماس جراحان پرې کا — له دے هسے بینایئ توبه توبه

چه ولوړے په زرکونو، جن بد رنګه — له دے هسے کدخدایئ توبه توبه

چه په جهل، وحماقت دانا خان بولی — دَ احمق له دانایئ توبه توبه

دَ سفله دی دَ سفیه دی واړه توکی — له خودئ خود ستایئ توبه توبه

کۀ هزار رنګه شیخی زهد تقوی کا — دَ جاهل له پارسایئ توبه توبه

چه عمل ورسره نشته تش وئیل کا
دَ خوشحال له ګویایئ توبه توبه

درخو خود په آدم خان باندِ شیدا وه — تر دا منځ دَ میروکی ژبه بلا وه

چه په مینځ کښے دلال نۀ وۀ وصال نۀ وی — په مجنون باندِ مینه کۀ لیلی وه

په خپل یار پسے ژړا نۀ په زړه کښے — دَ عالم سره په زور خُما خندا وه

چه غوټئ ئے شګفته کړه په چمن کښے — کۀ دِ زده داچاره واړه دَ صبا وه

چه ئے ګل دَ بهار ستا وغځ ته ونیو — ستا دَ مخ خوبی ترګلو لا زیبا وه

هومره رنځ محنت آفت ځنے پیدا شو — خو ځما دَ خوار خاطر مینه په تا وه

دا ئن شپه چه په ما تیره شوه بے یاره — تۀ به وائے په دوزخ کښے م ماوا وه

نن خپل بخت را سره درسته مخامخ کړه — چه پرون را ته یک لخته شا په شا وه

ماوے زۀ یم چه پیاله لرم په لاس کښے — ولے دا پیاله په لاس کښے دَ هرچا وه

بس چه بیا ئے ستا جمال په نظر کښیوت
دَ خوشحال خټک دَ زړۀ ځله هم دا وه

دیوۀ بادشاه په حکم شوم آګاه — امرنهی م قبول دی دَ بادشاه

یا مهدئ ئے یا عیسئ چه راښکاره شوې — په جهان دِ غلغله وشوه ناګاه

دَ مهدئ او دَ عیسئ دَ وړاندِ خۀ دی — هم دجال هم دَ دجال واړه سپاه

خیرآباد لره دِ راغیشی لښکره — چه احوال دَ غلیمانو شی تباه

چه خیبر لره ما بولے قضا کیږی — ډیر کا رو نه په دا ملک دَ خیرخواه

دریاخان درویزه واړه په حضور دی — ګویا زۀ هم په حضور یم دَ درګاه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواه ناخواه که امر دا دے چه راد رومه — دا بنده به در روان شي خواه ناخواه

دا د نده د عریضے خما د لوریه
زباني خبرے هم لری همراه

د سپي غل د دروغژن په خوله کښے تل کړه — په رښتیا خبرو خوله د سړي کښل کړه

هر عمل چه سړے کا مضمر به نه شي — در ته چاوے چه لوګے مکړه او ربل کړه

که پوهیږے چه د بل جهان حساب شته — ته به دا جهان نظر په خپل عمل کړه

ستا د خولے چینه حنظل ده هم عسل ده — و هر چا ته تویونه د عسـل کړه

چه د دین دنیا کارونه در ته پیښ شي — د دنیا ترکاره کار د دین اول کړه

چه د مشکو د نافے شمیم راخور شي — راخرګندے تورے زلفے تور وربل کړه

ساقي وخت د نو بهار دے شراب راوړه — د شرابو سره نقل د خولے مـل کړه

نن خلل دے او مے مکړه زاهـده — چه موسم د بهار تیر شي بیا خلل کړه

چه یو دم د عشق له اوره خالي نه وي — خدایه څه دے د عاشق تهتر منقل کړه

ستا د مخ په دور زه جهان ګیر شاه یم — راته کښینه کرشمے د نور محل کړه

ستا دا تورے سترګے خود تورے بلا دی — در ته چاوے چه نے تورے په کجل کړه

که هزار خله شیخي کوے خوشحاله
چه بنه کښلے در نزدے شي نورے کښل کړه

د بنا نست سره سل تورے چارے بویه — چه عاشق په ځان مئین کا ند مهرویه

تل د مشکو بوئ روان په بسترنه وي — دریغه دریغه د مهرویو ګفتګویه

عاشق یو لکه لیوه په شمال پائي — بل په غیتو سترګو خوب کا لکه سویه

په صبا پسے نے مرم نه صبا کیږي — د هجران شپه نے په ماشوه ترکال لویه

خما دواړه سترګے جوئ ته سروقدے — سرو ونه جدا بنه نه ده له جویه

اوس د جونو هوس مه کوه خوشحاله
پښتنے جونے ترهیږی له ذوه مویه

د لیلی د مخ خو ډیره زیبائی ده — د مجنون ورپسے هومره رسوائی ده

که م سل هنره کړل ترسره نه شول — یو څه رنګه نا بوده آشنائی ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه د ستر کوئے تقوی سره میرخی ده
په ناحقه م نیولے پارسائی ده

چه ئے سیوره په ما وه لکه بادشاه وم
ستا د تورو زلفو سیوره همائی ده

په وار وار راځی یوړل عاشقئ
که هرڅو راځه پوهه دانائی ده

چه نهٔ مهرنهٔ تپاک نهٔ پکښے شناخت شته
تردا هسے وصل ښه جدائی ده

دَ خپل یار په مخ اوس نهٔ دے مئین شوے
دَ خوشحال په زړهٔ کښے دامینه ځائی ده

دَ دُنیا دَ سود دپاره کونړ او کوره
څهٔ خوشرم مروت وَته وُړکوره

په درست عمر هغه خانے وربسے غواړے
چه دِ پریوزی له پلوهه حرته تُوره

په زړکی باندِ توره سوے داغ شی
چه دِ توره یا پیسه ووزی له کوره

دَ لوئے غرهٔ کندے په تا باندِ پریوزی
چه دَ کوره دِ ډوډئ ووزی نان کوره

دُدُنیا مینه په تا باندِ دریاب شوه
تهٔ په دا دریاب کښے ډوب لاړے هرکوره

کهٔ په دا دریاب کښے هرڅو لامبوزن ئے
عاقبت به پکښے بیا پریوزے له زوره

کهٔ هرڅو په خپل حرص کړے دُنیا ټوله
دا به واړه دَ اجل سیلئ کا خوره

گورستان لره به هسے شان مفلس ځے
لکه و زوو اول له خپلے موره

چه ئے خوښه عقیده دَ قلندر شوه
خدائے به نهٔ کا دَ خوشحال عقیدهٔ نوره

دا بنهٔ گل چه ئے کیمے دَ جمال نشته
پودَ وفائے حیف دا دے څهٔ حال نشته

کهٔ وفا بقائے هم وے څهٔ به بنهٔ وو
دَ ښائست ئے په دا دورخوک سیال نشته

عالم زړهٔ په هیڅ خورسند کاچه وصال وی
دَ هرچا بخره هجران دے وصال نشته

چه ئے وصف دَ جمال کاندی تر سره
هرچا زده دَ واصفانو مجال نشته

منونه منونه ظلم جور پکښے پروت دے
دَ ناترس خاطرئے مهر مثقال نشته

دَ غمزے په تیغ عالَم وژنی غم نهٔ کا
تهٔ به ولئے چه ثواب دے وبال نشته

لکه ډک په بنو گلونو په هر کال وو
د دے باغ هغه گلونه سبز کال نشته

راته څهٔ وائے چه یار په تا مئین دے
مختصر به درته وایم څهٔ حال نشته

ماخوشحال وته په زوره نارے وکړے
چا وماته خُواب راکړ خوشحال نشته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَغلیم سره به نهٔ کا مکر دروه      مکر ډیر تر بلا تیر په عقل پوه
بدخوئی به دَخپلوانو سره څوک کا      چه بخپله په خپل ځان پسندی اندوه
ماچه ولیدل اتلس زره قومه      دَخپل ذات سره اُلفت کا هر گروه
دَمحنت په وخت یو مل را سره نشته      د راحت په وخت زرگونه وو انبوه
په خوبنیه کښې زاړهٔ لکه ځلمی شي      ځوان ځلمی تر زاړهٔ لا کا ندی ستوه
دَگذار په ځائے اوس نهٔ وینم هوسئ      په ځوانئ مِ کهٔ کیلے لیدهٔ په گروه

غر به هم لکه وینښتهٔ هسے نرے کا
کهٔ غمونه دَخوشحال کښیږدے په کوه

راشه کهٔ ئے آورے دا خبره ده نادره!
چه وواتهٔ له سترگو هغه وُوزی له خاطره

مرم چه جدا کیږے ته مِ روح ئے کهٔ پوهیږے
مهٔ درومه له مانه راته تل اوسه حاضره

بخت مِ مرور شی چه په نورو دِ نظر شی
بخت راته ناظر شی چه وماته شے ناظره

هر حسن دِ ډیر دے دَ لیلیٰ تر حُسن تیر دے
زهٔ چه دِ مجنون کړم په چشمانو ئے ساحره

ډیرے دی نگارے هوسئ سترگے پری وارے
تا غوندِ به نهٔ وی شوخه شنگه دلاوره

شونډے دِ یاقوت دی غابن دِ دُر دَ زړونو قوت دی
درسته دِ دا تنگه خولهٔ حقه دَ جواهرو

لام و بے ئے زبیبنه چه بنهٔ کښلی شی دربیبنه
تل شکر وُکاږه چه شکرے خورے شاکره

ډیر دَ ملک شاهان دی چه دَکښلیو غلامان دی
تا دا قدرت ورکړو و دلبرو ته قادره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل له ډيره خياله خو ييښې کړي له خوشحاله
هم روغه هم جنګ کړي مهرژنه هم قاهره

راته نيسي جانانه دَ شرابو پيمانه
دَ شرابو پيمانه راته نيسي جانانه

مغنی په چغانه راشه بيا ګنبيږده ليندئ
راشه بيا ګنبيږده ليندئ مغنی په چغانه

کوردے داکړٔ بُت خانه پکښې تُوله جُونه ناستے
پکښې تُوله جونه ناستے کوردے داکړٔ بُت خانه

پاس په سرِ دَ آشيانه تورکارګه قمر ترے لاندِ
تورکارګه قمر ترے لاندِ پاس په سرِ دَ آشيانه

کوره جوړ دام و دانه زلف وخال دَ هغه مستے
زلف وخال دَ هغه مستے کوره جوړ دام و دانه

په پيسو کښيږده شانه چه دَ مشکو بوئ لا ډيرشي
چه دَ مشکو بوئ لا ډيرشي په ګيسو کښيږده شانه

عشق مجنون کا فرزانه شک ګمان نشته په داکښې
شک ګمان نشته په داکښې عشق مجنون کا فرزانه

تهٔ عاقل زهٔ ديوانه خهٔ مو روخ دَ ملګيرئ
خهٔ مو روخ دَ ملګيرئ تهٔ عاقل زهٔ ديوانه

داغزل دے رندانه ماخوشحال ختک و ئيلے
ماخوشحال ختک و ئيلے داغزل دے رندانه

زهٔ هم بيا واله مجنون شهٔ بنه چه شهٔ
په خپل يار يسے مفتون شهٔ بنه چه شهٔ

هغه غم چه په منقال په شير شاهي وو
اوس تر منونو لا افزون شهٔ بنه چه شهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې دَ يار دَ مخ له خياله بل فکرت م ؟
له خاطره نه بيرون شئ بنه چه شئ

دَ وصال په وخت م قد لکه الف وو
په هجران کښې لکه نون شئ بنه چه شئ

لکه قدر دَ وصال را څخه نه وو
چه په بخره م بيلتون شئ بنه چه شئ

په هوا په اشتياق ئې دَ سرو شونډو
کئ م وينې درست لړمون شئ بنه چه شئ

زړهٔ هرګور په غيرو چارو مبتلا وو
چه له غيرو چارو ستون شئ بنه چه شئ

زړهٔ ئې درست له هره حاله نه خبر کړم
چه دَ هند په لارې يون شئ بنه چه شئ

هيڅ مکتب له يوهٔ فيضه خالي نهٔ دے
چه م ځائې دَ سرزنګون شئ بنه چه شئ

عاشقان په عشق کښې هرکله زبون وی
کهٔ م زړهٔ په عشق زبون شئ بنه چه شئ

چه ئې توره دَ غمزے راته په لاس کړه
کهٔ م اس ورته هارون شئ بنه چه شئ

چه ئې پښه دَ دلبرئ په رکاب کړه
دَ خوشحال زړهٔ ئې شګون شئ بنه چه شئ

زړهٔ را پسے سرشو راته وائي چه وتيږه
وايه وايه له وتيلو مهٔ دريږه
تش شه له خروشه خو به تا کيږی له جوشه
ژاړه ژاړه ژاړه په صبا بيګاه نولېږه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظلم جور ستا دے چه په نرناحق په ما دے
مهٔ کړه مهٔ کړه مهٔ کړه له آزاره وویریږه

سوے لوغړن یم تل په آه و په شیون یم
وسوم وسوم وسوم دروموه اور درولګیږه

اوس خوبے پرواۓ کهٔ زهٔ ومرم بیا به واۓ
مرمه مرمه مرمه خولا پایم و پوهیږه

څهٔ وایم چه څهٔ کړے سراسر واړه ښهٔ نهٔ کړے
جګی جګی جګی په رښتیا م مهٔ قهریږه

تلهٔ دی تیریدهٔ دی ښهٔ له هرجا سره ښهٔ دی
ښهٔ کړه ښهٔ کړه ښهٔ کړه دنیکغواه خبرے نغویږه

کبرلوئی مهٔ کړه چه دعاګټے هغه کړه
وینه وینه وینه ولے مهر کړه تیریږه

ریږدی غاړے غړونه دخوشحال په فریادونه
واوره واوره واوره راشه څهٔ خو وګروهیږه

زهٔ یو یار غواړم زیبا ښهٔ — سر تر پایه دلربا ښهٔ
ښائیسته په شپږ جهته — هر اندام جدا جدا ښهٔ
څو د ښهر ښائسته دی — دے په حسن ترهرچا ښهٔ
تن ئے ښهٔ د ګل ترپاڼرو — تمامی قد و بالا ښهٔ
دواړه زلفے عنبر پاشے — ګلعذار تر لاله لا ښهٔ
تورے سترګے تورے وروځے — تور باڼرهٔ اوږدهٔ والا ښهٔ
تنګه خولهٔ حقه د لعلو — غاښ ئے دُر قیمت بها ښهٔ
ګبینه ئے سر د ژبے — دواړه لب ئے ترحلوا ښهٔ
ګل ریزی کا په خبرو — تر شکرو په خندا ښهٔ
خره نیاز وخره نازوے — په جفا ښهٔ په وفا ښهٔ
کهٔ م وژنی تیغ راواخلی — ددهٔ تیغ لګی په ما ښهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ هوا ده دَ بنهٔ مخ ده
نشته بنهٔ تردا هوا بنهٔ

هرچه دا هوائے نهٔ وی
هغه نهٔ دے په دُنیا بنهٔ

دا غزل چه خوشحال ووے
شوک به ووائی تردا بنهٔ

زمانه راته په څو پرته په څو وه
زهٔ ئے واخستم خونی مزری دَ زور وه

ودانی ئے په ډیرغم په ځیګرخون وه
ویرانی ئے راشه ګوره په څهٔ دَور وه

دَ بے دردو یاری مابا غنم ګنزله
چه م ولیدله سرتربایه جَو وه

تندرتل په مناره باندِ پریوزی
دَ خسوف بلا دَ میا شتے په پرتو وه

حق ناحق ئے وج لاؤنده وبله کبنیبنول
ظالمی دَ اورنګ زیب پره دَلو وه

هغه تورهندو بچه به چرته غوارم
چه ځما دَ زړهٔ متاع باندِ ګرو وه

دَ زړهٔ نوی بنهٔ یاران ووخدائے جداکړهٔ
دَ خوشحال دَ زړهٔ دمه په هغه نو وه

زهٔ خبر ورځنے نهٔ شوم بهارتیر شو
دَ ګلونو لون واړه په بل پیر شهٔ

حیف داچه دَ ګلونو عمر لږ دے
په جهان کښے دَ اغزیو عمر ډیر شهٔ

دَ بهار بلبلے نهٔ راځی په سیل
مګر زړهٔ م دَ بهار له سیله سیر شهٔ

هغه ګل چه دَ حمل وو په جوزا کښے
ځائے ئے پاسه په سوات یا په بنیر شهٔ

خوږ ژوندون جدا له بنهٔ شیرینه یاره
په ماخوار باندِ یا زهر یا ګنډیر شهٔ

هومره غم دَ بیلتانهٔ لری په زړهٔ کښے
دَ خوشحال له دله ګشت دَ بهار هیر شهٔ

سپینه ږیره دَ مردانو کدخدائی ده
دَ غابنونو پریو تنه رسوائی ده

دَ سری چه غابښ په ځائے وی ږیره سپینه
په دا هیڅ زور والے نهٔ دے برنائی ده

دَ خضاب خوانی دَ چا ده دَ احمق ده
تر دا کله ږیره بنهٔ په بنهٔ نائی ده

زور سړے دِ دَ زور والی اندوه نهٔ کا
کهٔ په ځائے ئے دَ چشمانو بینائی ده

زاړهٔ مردلره لیده دَ دلبر څهٔ دی
په معنیٰ دَ خوږو زړونو مومیائی ده

شیخ به کله عاشقی له لاسه پریښوه
لاس ودست ئے نهٔ رسیږی پارسائی ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ خوشحال په عمر لاړ تراویا تیر شو  لا په زړهٔ کښې ئې دَ ښایستو آشنائی ده
توریږې بړیږې سره وصله نادانی ده  سپینې بړیږې سره وصله دانائی ده
شیخ به ولې ننداره دَ ښایستو نهٔ کا  چه دَ دهٔ دَ زړهٔ دَ خوږ وموميائی ده
زوړ خوشحال چه دَ دلبرو دیدن غواړی
دَ دلبرو په وصال کښې رونړائی ده

سر دَ سره بیا جنون را باندِ زور شهٔ  یا دَ مینې لیونے شوم خوئی م نور شهٔ
کهٔ هر څو پندار کوی پروا پرے نهٔ کړم  دا هُنر م وعالم و ته پیغور شهٔ
دَ ساقی دَ میو هسې شان اثر دے  په خمار کښې م دستار له سره خور شهٔ
حریفانو په هائے هائے باندِ نارے کړے  چه ساقی دَ میو دا دک جام نسکور شهٔ
هو دا کار دَ آزمینت نهٔ دے نو څهٔ دے  چه څُما بلا څُما دَ سترګو تور شهٔ
کهٔ ګدائے له لوږے مری علاج ئے نشته  چه دَ دور دَ خواجه روزګار په پور شهٔ
په خاطر باندِ م ډیر داغونه جوړ وو  ولے ستا له لاسه داغ باندِ انځور شهٔ
خوب خندا دِ له خاطره فراموش کا  دَ غنچه دَ ویشتلی په چم کور شهٔ
هر کالے چه دَ رضا پکښې موندهٔ شی
دَ خوشحال خاطر م ښهر دَ لاهور شهٔ

ستا له خویه نهٔ م خوږیږ ده اینه  څکه هسې وهم کانړی په سینه
کهٔ دِ زړهٔ دے چه م مینه در ښکاره شی  راشه ونیسه و مخ ته آئینه
چه دِ زړهٔ دَ درملنګ شوم خز به څهٔ کړم  راته توره شړئی بس ده پشمینه
کله کله راته ګوره ستا نوکر یم  راته بس ده هم دا هومره مهینه
خزینه دَ سرو مهرانو دَ شاهانو  ستا دَ راز لرم په زړهٔ کښې خزینه
ولې تهٔ کله په مخ څُما مئین شوے  ستا په مخ باندِ مئین یم دیرینه
چه څُما سره ئے ستا دیاره کاندی  خوښ یم ستا دَ رقیبانو په کینه
ما تیدل ئے هیڅ دشوار نهٔ دی کهٔ ګورے  چه وکا نړے ته نژدے شی آبګینه
دَ بادشاه په تخت وتاج پورے خندا کا  دَ درویش بوریا توپټی پشمینه
انګوری ترخهٔ شراب ورلره بویه  میخواران له ګبینهٔ لری کینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ هغه ښه ده چه تهٔ پکښې خوشحال شې
کهٔ شنبه کهٔ سه شنبه کهٔ آدینه

ساقي بيا دَ مهر کړه چه عيد شهٔ
دَ رندانو دَ ښاديو وخت جديد شهٔ

په هرلوري يو آفتاب دے خليدلے
ښاپيرک ئے له جماله نهٔ کور دید شهٔ

په هرڅهٔ کښې ننداره دَ هغه مخ کړم
چه له ډيرے پيداني ناپديد شهٔ

هم هغهٔ دے هميشه ژوندون موندلے
چه دَ مستے دَ غمزے په تيغ شهيد شهٔ

زمانه په خلقو هسے آزميښت کا
چه يوسفؑ دَ قبطيانو زرخريد شهٔ

واړه نخښې ئے په زړهٔ وينم حضورے
چه آشنا په لرے حد له ما بعيد شهٔ

هرچه ستا دَ درد سپيو په حساب دے
په جهان کښې هم هغه سړے سعيد شهٔ

خط وخال په ښهٔ جمال باندِ يو دود دے
نهٔ چه حسن دَ خوبا په دا مزيد شهٔ

چه دِ نوم دَ خوار خوشحال په ژبه واخست
په درست عمر کښې خوښ ورباندِ عيد شهٔ

سترګے ستا غروي زړهٔ
سترګے ستا پټوي زړهٔ

چه دا خولهٔ خوزوي دے
ژبه ستا وَيوي زړهٔ

چه څهٔ کار په لاسو پښو کړے
دا هم ستا شوروي زړهٔ

اوريدهٔ په دواړو غوږو
هم په تا آوروي زړهٔ

چه نيکي کړے يا بدي کړے
واړه ستا سندوي زړهٔ

چه خندا کړے يا ژړا کړے
خندوي ژړوي زړهٔ

دواړه کونه لکه تن دي
کار دَ تن جوړوي زړهٔ

زړهٔ بے چون او بے چګون دے
خوک دا غوښه ګڼړي زړهٔ

دَ خوشحال په زړهٔ کښې يو دے
خوک ئے څهٔ لټوي زړهٔ

ستا له حاله م يو داغ دے په سينه
چه هميش را سره يار دے ديرينه

تاچه واغوستے دَ خيال جامے رنګينے
بله ستا په ډول نشته رنګينه

يو ګلزار پکښې ناګاهه شګفته شي
چه په مخ دِ مخامخ شي آئينه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې په داچه بنانسته ږ وته ګورې — په بل څيز مِ له چا نهٔ کيږي کنه
ساقي نن له لاسه څهٔ خو باده پريږدهٔ — چه په سر کښې مِ خمار دې دوشينه
دَ بادشاه دَ سره تاج ئې مخې نهٔ دې — دَ درويش دَ سر ټوپئ پشمينه
زهٔ په عشق کښې مستثنی لکه مجنون يم — چه مِ نشته په ډير قرن قرينه
داغهٔ راز دَ مينې نهٔ دې په ګوګل کښې — دا مِ ايښی ده په زړهٔ کښې ګنجينه
مېئ خورئ لره شنبه خوښوي خلق
وخوشحال ته څهٔ شنبه څهٔ آدينه

ستا په غم کښې مِ آرام دَ زړهٔ بيرون شهٔ — دَ غرځئ غوندِ مِ خوب په ځيګر خون شهٔ
هميشه په غاړې غرونه سرګردان يم — په دا دورِ مِ درست ډول دَ مجنون شهٔ
عاشقي سړې رسوا که هالهٔ ومري — بنهٔ هغه چه مړ په تبه په طاعون شهٔ
ګوره خو عالم به لاندِ که تر چلو — چه روان مِ تردا دوو سترګو جيحون شهٔ
هديره ئې دَ شهيد په خټک کښې بو يه — هر سړې چه مړ په توره دَ بيلتون شهٔ
په ګلونو به ئې ژغ کاندِ بلبلې — دا ګلزار چه په بياض ځما زرغون شهٔ
چه درست کال ئې بيا بيا وايم لا يو راز دې — دا يو راز تر دفترونو نه افزون شهٔ
په زر ژبه ئې ستايه واړه يو راز دې — عبارت کهٔ مختلف شهٔ يو مضمون شهٔ
عشق خوشحال وته يو هسې سبق ورکړ
چه ئې زړهٔ دَ قال وقيل له درستون شهٔ

شپه دَ بيلتانهٔ ده پهر پهر کال په ما شهٔ
بانګ دې دَ چرګانو په هزار هيله صبا شهٔ

رايشي ګلزار ته وار په وار ننداره کاندی
وار په وار پرې تير شي اوس که ګورې وار ځما شهٔ

پيغام راوړي دَ وصل عجب بنهٔ راځئ په مهر
هدهد دَ يار له لوريه نن په ما بادِ صبا شهٔ

په وخت دَ مشغولا دَ ګلو کله آواز کاندی
چه درومي له ګلزاره په چيغار چيغار طوطا شهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درست عمر ئے مهر دَ سکوت په خولهٔ وهلے
خُما دَ زړهٔ طوطی دے چه نن گورمه گویا شهٔ
زنگ چه بانډِ پریوزی آئینه دَ زړهٔ تبئ شی
زړهٔ دَ خوشحال گوره له هر زنګه مصفا شهٔ

شیرازی که بنهٔ خوراک وو وار وو تیر شهٔ
ملوکی که بنهٔ پوشاک وو وار وو تیر شهٔ
که خپلوی دَ زن فرزند وه حال ئے دا دے
که له خلقه زیست وژواک وو وار وو تیر شهٔ
که منصب وو که خانی که سرداری وه
که په لاس ملک و املاک وو وار وو تیر شهٔ
فرش فروش نقش و نګار دَ محلونو
که بسترِ عطرناک وو وار وو تیر شهٔ
چه له ښکاره به په خیال راتلم وکور ته
سور به تل خُما فطراک وو وار وو تیر شهٔ
خپل پردی نیکان بدان له هره لوریه
په دربار به م بلغاک وو وار وو تیر شهٔ
تار په تار دَ اکوړخیلو ګړے لاړے
په داغ م ځان هلاک وو وار وو تیر شهٔ
اوس ئے روح دَ ملنګئ دَ دوښئ دے
دَ خوشحال چه سرائے اوتاک وو وار وو تیر شهٔ

شل کاروونه پریږدهٔ نندارہ ئے دَ جمال کړه
دواړه کسی واخله په سپین مخ بانډِ ئے خال کړه
ښبینه په انګړ ښکنبے مخامخ چه درته ګورم
تور لونګین دواړه چه نړهار په سینه تال کړه
راغلے وبازار ته درست وجود کړه لکه کسی
ګوره که ړوند نهٔ ئے نندارہ ئے دَ کمال کړه
تلهٔ دی تیریدهٔ دی ښهٔ له هر چا سره ښهٔ دی
وُنه دَ نیکئ په دا باغ کښے نونهال کړه
واړه وَرکوَل دَ جهان ګوره عاریت دے
غم دَ بیلتانهٔ خُما زړګیه په وصال کړه
بے دَ یار له مینے چه به کور دَ دُنیا جوړ کا
واوُره درته وایم خدائے ئے مینے په زوال کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ هغه رستم ئے چه شاهان دِ طلبگار دی
چا درته تلقین کړ چه خدمت دَ پیرِ زال کړه

الف دِ دے سر ایښے ستا په میم چه درته گوری
په دواړه لوریه زړهٔ وړے په مخ دواړه زلفے دال کړه

نور خلق په بخښودی چه پړے بار نشته دَ مینے
بار لری دَ مینے ناز و نیاز په خوار خوشحال کړه

عجب جوییٔ سره مِ هومره ده کینه — وبه نیسم و مخ ته آئینه
خدائے دِ ما بے غمه نهٔ کا په دُنیا کښے — زړهٔ او غم سره یو ځائے یُو دیرینه
ساقی څو خمار شکنے پیالے راکړه — چه په سر کښے مِ خمار دے دوشینه
دایم زړهٔ ورپسے سریم که ئے مومم — په دوران کښے مونده نهٔ شی خزینه
نن ئے مهٔ کړه تفحص وایه چه نن دَ — که ئے بیا مومے په قرن قرینه

لاله ځایه چه خوشحال په جهان راغے
دَ لاله غوندِ ئے داغ دے په سینه

فراق خړنگ را اُوږده کړه په مانن شپه — دَ جوزا شپه ئے یلدا شی په غمژن شپه
په فراق کښے مِ په سترگو خوب حرام شهٔ — په هیچا بانِدِ ورمشه دَ لیچن شپه
چه ریبار رورته پیغام دَ وصال راوړی — په هوس هوس تیریږی په مئین شپه
دَ فراق په شپه اُمید دَ وصال څهٔ دے — که ئے گوړے په معنیٰ کښے وُرکه ستن شپه
دَ دوهیٔ ملنگ هم تیره کړه دوهیٔ ته — کهٔ تیریږی په تونگرو په برستن شپه
روغ عالم بے غمه خوب کا خبر نهٔ دے — چه په څهٔ عذاب تیریږی په دردمن شپه
دَ وصال وَته هجران دے ورنیولے — بنځه شوے وه دَ ورځے په لمن شپه
ورځ ئے مالیدلی نهٔ ده په درست عمر — خدائے به نهٔ کا سپین صبا دَ دروغژن شپه

دا نن شپه چه په خوشحال دَ فراق راغله
ورد ِ نهٔ شی هسے سخته په دشمن شپه

کهٔ عالم وته دلخواهه بادشاهی شوه — عاشقی و ماته لا عالی جاهی شوه
دَ تقویٰ په کاروبار ډیر خبردار یم — ولے څهٔ کړم چه نصیب مِ گمراهی شوه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهدانو ته دَخضرؑ عمر غواړم
حیف دا دے چه دَ عمر کوتاهي شوه

چه له ځایه ئے ګناه لره پیدا کړم
کۀ نظر وُکړے خُمابے ګناهي شوه

یارم ولیدۀ له ورایه شکر دا دے
چه قبوله م دُعا سحرګاهي شوه

لکه ستا کسی په خوارو برابر شی
دَ طالع تر رونړا بنه دا سیاهي شوه

زۀ دَ یار په جفا هیڅ آهونه نکړم
راته غم دَ رقیبانو بدخواهي شوه

ستا دَ سروشونډو په دور مئے حلال شول
بنه چه اوس روادَ میومناهي شوه

سربازی یا دَ پتنګ یا دَ عاشق ده
یا قسمت دَ مجاهد یا دَ سپاهي شوه

بخته داخله ئے راوله تر غاړے
چه بیړۍ م په دریاب کښے تباهي شوه

کۀ خبر له حاله نۀ وے څۀ به بنۀ وو
وخوشحال ته غم داخپله آګاهي شوه

کۀ په زړۀ کښے دِ دَ یار مینه ځائی ده
سکه ناحقه دِ دَ غیرو آشنائی ده

مخ ئے کله دَ یوسفؑ غوندِ زیبا دے
دَ یوسف تر مخ ئے زیاته زیبائی ده

چه ئے رائے دَ خپل خاطر وی هم هغه کا
په دلبرو مسلمه خود رائی ده

کۀ دِ زړۀ وی چه داخوږ خاطرم روغ کړے
دَ لبانو مچه راکړه مومیائی ده

زۀ اوستا دَ دواړو شونډو مئے هغو زده
چه ئے نن په لاس نیولے پارسائی ده

دَ معشوقے په ترخه کښے ډیر خواږۀ دی
کۀ ئے ګورے نیکنامی ئے رسوائی ده

چه په خلقو کښے دوزخ دوزخ یادیږی
بل دوزخ په جهان نشته جدائی ده

په پیغور په تور په زور به ځنے نۀ ځی
دَ هرچا چه خپله بخره شیدائی ده

دَ افسون دَ سحرکار دا هسے نۀ وی
دَخوشحال په زړۀ کښے دامینه ځائی ده

کۀ ربښتینے محبت لرے مۀ ناوړه
په یوه ناره بیل شوے یار وُ ژاړه

دَ رسا ویشتلی کله توان دَ ژغ وی
په فراق کښے نارے مۀ وهه له باړه

په معنیٰ کښے جدائی نشته وصال دے
دَ آشنا په غم کښے خوښ وسه تل ویاړه

په هجران کښے هغه هسے شان وصال شته
لکه څوک له خپله یاره لاس تر غاړه

دا دیدن لکه په پټو سترګو کیږی
دا دیدن له واړو سترګو نه مۀ غواړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیلیٰ پلار لره په سل پردو کښې ناسته    مخامخ وه و مجنون و ته ولاړه
پس له مرګه هم جدا نهٔ وی رښتینی    په یوهٔ نجد کښې ورشی سره دواړه
دَ رښتینی مینې ډار دَ زوال مهٔ کړه    چه رښتینې عشق لری سلام پرې واړه

دَ یار غم دِ دَ خوشحال له دِله نهٔ ځی
دَ فانی دُنیا خوښی کهٔ لاړه لاړه

کهٔ ملیح ئې دَ زړهٔ مینه په ملیح کړه    کهٔ قبیح ئې د روم ه چارې دَ قبیح کړه
دَ بهار ګلونه ډیر دی واړه ګوره    چه دِ زړهٔ وی هغه ګل پکښې ترجیح کړه
کهٔ دِ زړهٔ دے چه دَ مخ ثناء ئې وائې    دَ بلبلې غوندِ خپل زبان فصیح کړه
مسیحا دَ زخم وهر لوری ته ډیر دی    دَ خپل زخم دوا دَ وخته په مسیح کړه
له ازله ئې رند رند زاهد زاهد کړ    زهٔ به ډکې پیالې اخلم تهٔ تسبیح کړه
په حسد په رخه څهٔ ځما پرواه ده    چه دِ پټه کینه کړه اوس ئې صریح کړه
زهٔ کهٔ بد یم هم دَ یار دَ سترګو تور یم    وهرچا و ته ځما دَ عیب تشریح کړه
دَ توبې دریاب ئې تالره پیدا کړ    دَ ګناه دَ توریو ځان لکه صبیح کړه

دا دَ سر په سترګو مهٔ ګوره خوشحال ته
کهٔ دَ زړهٔ سترګې لرې بنګ ئې صحیح کړه

کهٔ نیمګړې پیاله راکړے ساقی تازده    هوګکی مدار په نیت دَے باقی تازده
دَ شرابو په مستئ بیخوده لاړے    کهٔ له سره دِ پریوزی طاقی تازده
دَ بابا په رضا ځه جنت به مومے    روایت م درته وکړ عاقی تازده
زهٔ دِ وخوړوم په مار دَ تورو زلفو    حال م خود وینې په سترګو راقی تازده

دَ خوشحال غوندِ همیش په ځان ناچاق یم
تهٔ چه تل په صورت چاق ئې چاقی تازده

کهٔ هوښیار دی کهٔ نادان کهٔ ساد کهٔ غلهٔ    هیڅوک نهٔ وینم دَ خپلې لارې ملهٔ
یو په غم شریک یار نهٔ وینم په ملک کښې    خلق ټشې تسلې کاندی په خولهٔ
دَ میږیو غوندِ یون دے ودانو ته    چه وماوَته عالَم کا تلهٔ راتلهٔ
چه اُمید دَ میږی نهٔ وی ودانو ته    وهغه لوری ته نهٔ کاندی هیڅ تلهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ویشتلے غرځهٔ مهٔ پریږده خوشحاله
ځانے په ځانے ویښے توئے دی په پلهٔ

ګم ګشته او ګم ګشته سره رفیق شهٔ
ګم ګشتن د دواړو تنو په تحقیق شهٔ

د شرابو جام په لاس شاهد بازی کا
شیخ د بنهر عبادت پرینبو زندیق شهٔ

یوئے اصل سره دوه او یا مذهبه
خدایه څهٔ بنی آدم فریق فریق شهٔ

عشق څهٔ هسے آسان نهٔ دے هومره خلقه
په بلخیو کښے خو یو سړے شفیق شهٔ

د آسمان دستوریو هم وبله فرق دے
ځکه غوره په یارانو کښے صدیق شهٔ

چه توفیق ورسره مل شهٔ کار آسان دے
کل مدار د واړو خلقو په توفیق شهٔ

آزاده به له چا طمع اُمید نهٔ کا
چه به طمع له چا کا کله عتیق شهٔ

د غلیم مهر په هیچا باندِ نهٔ وی
یو فساد ورباندِ کاندی چه شفیق شهٔ

وخپل بخت وته تسلیم کړه چه غلیم د
همګی د غم په بحر کښے غریق شهٔ

نور کهٔ سل پیالے آخلی دے د سل ښنبی
چه خوشحال د باده نوشو په طریق شهٔ

ګوره د یار مخ ته بیالیمهٔ پرے
ولوه
زړونه د بد رنګو رقیبانو
ویلوه

دا دے هغه مخ چه هجران کښے پسے تهٔ مرے
اوس ئے په وصال کښے دواړه لوریه بنکلوه

لو یه پیشکشی دهٔ په وصال کښے درته وایم
دُرے په لمن کښے ورته ګوره تلَوه

زهٔ د بیلتانهٔ په حال خبر نهٔ وُم خبر شوم
خدائے له خپله یاره نه هیڅ یار مهٔ بیلوه

تند ر د رقیب په کور پریوزی قهقه خاندی
سپینه آئینه د ششت خپل یار ته ځلوه

یو ځله چه زړهٔ د چا په مینه مهر بند کړے
شرط د یارئ دا دے زړهٔ بل ځلے مهٔ نښلوه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې دي د زړونو ستا د مخ په لور ر ولنے
واړه ملک بوستان دے په هر ځائے نے ملوه
درسته دِ له خپلو نمریو وویستم خوشحاله
یو د غاړے هار م د ګلونو مهٔ شلوه

لکه زهٔ یم پیدا شوے په دا مینه | دَ نورچا به هسے نهٔ وی پیدا مینه
دَ قصاب چاړهٔ په غوبنو هسے نهٔ کا | لکه کاځما په زړهٔ دَ آشنا مینه
درست عالم را باندِ غاږ کا زهٔ حیران یم | چه له زړهٔ به په خولے کړم ستا مینه
په یوهٔ تن کښے دا دواړه توکه نهٔ وی | هم دَ حُسن استغنا هم دَ چا مینه
نهٔ به بوئ دَ مشکو پټ شي په نافه کښے | نهٔ به پاتے شي مخفي دَ شیدا مینه
ما په سحر په جادو تقصیر وُنهٔ کړ | دَ ناترس خاطرے نهٔ شي په چا مینه
په ژړا به مِ دوه سترګے وُچے نهٔ کړے | کهٔ به ما شوے دَ خپل یار په ژړا مینه

لور په لورے په همه عالم رسوا کړ
کشکے نهٔ وے دَ خوشحال دا رسوا مینه

لکه ستا دَ زلفو تاب شته | په سنبلو کښے هم تاب شته
لکه ستا دَ خولو بوئ دے | هسے هم په ملک ګلاب شته
ستا دَ مخ ترخال به بهِ وی | په خطا کښے مشکِ ناب شته
لکه زړهٔ ځما ستا شونډے | نهٔ کباب شته نهٔ شراب شته
کهٔ ونمر ته خاتهٔ ګران دی | دَ زلفینو نے طناب شته
چه کا تهٔ دِ په حساب شول | دَ یارئ هم حساب شته
ګُښلی ډیر وو ما تهٔ یار کړے | تل دَ ګلوا نتخاب شته
ګُل په ما شهد و شکر دی | کهٔ دِ قهر یا عتاب شته
مجنون مړ نهٔ دے ژوندے دے | چه لا ما غوندِ خراب شته
دَ هجران په شپه مرګ غواړم | ځما سترګو ستا سے خواب شته
چیرے نهٔ په بل مرګ وُمرم | دَ غمزو دِ هم شتاب شته
چه مِ وژنے کوز به ګورم | له آشنا سترګو حجاب شته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخپل خون ورته پل کړې
کۀ څما دَ مرګ عذاب شته
دَچامخې م پکار نۀ دی
چه م خپل لب ولباب شته
دروغژن یم کۀ دا شعر
دَمیرزا په درست کتاب شته
دا غزل چه خوشحال اووے
نن ئے چا څخه ځواب شته
له حاله ئے خبر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
قلاش و قلندر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
کۀ لږه ده کۀ ډیره واړه وُنیسه په تیره
په خوئ دَ پیغمبر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
دَعمر څۀ اندوه کړے څۀ اندوه دَ کۀ ځان پوه کړے
ژوندے تر ګوره ور شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
بادشاه دَ بحرو بر ئے کۀ قانع په خشک وتر ئے
دَ دهر سکندر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
کۀ دُردی کۀ ګوهر دی کۀ ګلونه دَ شجر دی
دَ واړو بے خبر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
بے وخته غواړے بد کړے بیهوده رخه حسد کړے
په صبر تونګر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
مۀ ژاړه مۀ پرے ویاړه غم ښادی پریږده دا واړه
واقف په دا سیُر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
بلا دی چه تو لیږی په هیڅ نۀ پاتے کیږی
فارغ له سیم و زر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
له یاره مهر غواړے کۀ ئے نۀ موے نور ژاړے
دَ یار په رضا سر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته
کۀ وصل کۀ هجران دی دواړه ماوته یکسان دی
آرام په خپل مقر شه کۀ شته شته کۀ نشته نشته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوسعي ځوطلب کړے اندیښنے په روز و شب کړے
په واړه برابر شه که شته که نشته نشته

لږ عمر دیر غمونه په زړهٔ هومره ستمونه
قانع په خشک و تر شه که شته شته که نشته نشته

په خپل هُنر نظر کړه خو ژوندے نے خپل هُنر کړه
خوشحاله شیر نر شه که شته شته که نشته نشته

... ... ...

لکه مخ ښما دیار دے نمر خو هسے وی کنه
لکه زړهٔ په عشق کښے زیر یم زیر خو هسے وی کنه

دعالم دیرے خبرے لور په لور تورے لښکرے
زړهٔ م نهٔ خوزی له ځایه غر خو هسے وی کنه

بے دعشق له شور و شره چه هرګز ښما له سره
نهٔ ځی نور څهٔ هر څهٔ دروهی سر خو هسے وی کنه

چه نے ریبم عمل لا کا چه نے ورک کړم ځا پیدا کا
ورځ و شپه دا هسے کرکرم کر خو هسے وی کنه

تا وے درومه نوم م زیر کړه بل سبق له زړه بدر کړه
تل م ته نے په خاطر کښے زبر خو هسے وی کنه

وهغهٔ ته م سرګوز دے چه معلوم ورته رموز دے
په خبره نهٔ پوهیږی خر خو هسے وی کنه

په دا باغ کښے یوهٔ وُنه تل تازه تره بر څُنه
چه نے اوږے ژے برخورم برخو هسے وی کنه

چه آزاد مرئیے وردروهی خپل مراد ورځنے موهی
په هیچا نهٔ دے تړلے درخو هسے وی کنه

په یوهٔ زمان تر یاره ورشی راشی څو ګذاره
دخوشحال خاطر تیز پرده پرخو هسے وی کنه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایزاله بادشاهي کهٔ چا موندله
کیخسرو به وخسروته نهٔ سپارله

جام دَ مېیُو را په لاس کړه ساقي کوره
په هر لوري داخُما دَ غم کړله

په امان امان یوه لا تیره نهٔ وي
په زمان زمان بنکاره فلک کا بله

ډیر په یاد لاړل دستا غونډِ باد وړي
تهٔ ئے روستو دم کړهٔ ئے خُما دِله

جام وساز ساقي بهار واړه اسباب شته
صراحي ولے خالي وینم له مُله

په جهان دَ نیکو نوم بویه خوشحاله
چه یادګار به وي ترتلوهم ترتله

لور په لورے دَجهان ګرځوان پاره شهٔ
کور په کورم دَرندئ کار بنکاره شهٔ

چه م پته په لستوڼي کښے نوشله
دَهغے پیالے جهان په ننداره شهٔ

داخهٔ زړهٔ نهٔ دے چه اوس مهر په ما کا
راته نرم هغه سخت سنګِ خاره شهٔ

چه دَعمر خهٔ ما په ترواړو تیر شوم
دَخوبئ ملک خُما په اجاره شهٔ

اوس به کوم ارمان کوم سوبه م وشوه
چه رقیب دَیار له دره آواره شهٔ

دَهغهٔ قدر لوم ترے به ځاریږم
چه په غم کښے چاره جوئ دَبیچاره شهٔ

اُودهٔ بخت وته م ډیرے نارے وکړے
وینښ له خوبه په روستئ نرئ نارهٔ شهٔ

جدائي ورځنے مرګ دے سرے وُمري
دَ بُتانو وصل عُمر دوباره شهٔ

کهٔ خیل خان هوښیار وي هوښیار به نشي
اوس خوشحال دَلیونیو په شماره شهٔ

له تانه چه جدا شم په ناکام په ورځ و شپه
نهٔ خوب نهٔ م خوراک دے نهٔ آرام په ورځ و شپه

بل خیال فکر ئے نهٔ وي بے دَ یار له رویه مویه
دَ زړهٔ په حال خبر یم زهٔ مدام په ورځ و شپه

دَ مخ ثنائے وایم دَ زلفینو ئے صفت کړم
په خولهٔ کهٔ په خامه وي په صبح وشام په ورځ و شپه

یو بنهٔ نظر چه وُکا سرمایه م دَ ژوندون شي
کافي دے خلوق ته یو بادام په ورځ و شپه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مشکو دَ کافورو خوشبوئی به ترے قربان کړم
کۀ ستا له لوریه راشی یو پیغام په ورځ و شپه
دَ مشکو ګل قندے به ئے خوشحال ترے صدقه کا
کۀ ته ئےم سرفراز کړے په دشنام په ورځ و شپه

ما پټ دَ زلۀ کوګل کښے همیشه اسرار دَ زړۀ
آخر ئے خوناب وکړ په هر لور پرهار دَ زړۀ
له پښے اغزے مشکل دے په حکمت له تلی خیژی
دانا طبیب بکار دے چه وکاږی خار دَ زړۀ
دَ نورو تونګری کۀ دَ دُنیا په سیم و زر شی
په دا به تونګر نۀ شی بے دید نه خوار دَ زړۀ
دَ شونډو دارو ورکړه کۀ ئے ته په رغول ئے
په سترګو ئے علاج کړے خوبه مری بیمار دَ زړۀ
کۀ بنۀ دے هغه زړۀ دے چه مئین په هیچا نۀ دَے
چه یو ځله مئین شی نور تر تلو زار دَ زړۀ
غمژن به دارَ دَ هجر خوبش دَ وصل په اُمید کښے
په اور او په اوبۀ کښے کړۀ خدائے څۀ روزګار دَ زړۀ
دَ یار مهر ترما راغے خُما مهر تر یار ه !
رښتیا ده داخبره چه تر زړۀ ده لار دَ زړۀ
چه خپل اختیار ئے ټول دَ خپل آشنا په لاس ورکړ
رحمت ئے په دا کار شه خو هم دا دے کار دَ زړۀ
خوشحال خسته به اوس دَ خاطر راز و چا ته وائی
چه لاړ ورته ئے شاکړه دماغی بنۀ یار دَ زړۀ

ما دَ شیخ او دَ ملا حکایت نۀ زده — ما بے میه نیه بل روایت نۀ زده
چه ئے نوم دَ عاشقانو په شماره شو — دا هم بنۀ کۀ بوالهوس محبت نۀ زده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چه هسې په چمن کښې چمان کېږې
سیوره تا څما دَ یار په قامت نهٔ زده

عام عالم وته بخپله ځان نادان کړم
هسې مهٔ وایه چه ما کنایت نهٔ زده

دَ درویش په زړهٔ کښې درست کتاب مرقوم یم
کهٔ په خوله ئې دَ عربو لغت نهٔ زده

وائې تا سره مې نیت دے دَ یارئ
هسې هیښ یم ګنړه ما په تش نیت نهٔ زده

نادان یار ربه صدقه تر هوښیار یار کړم
نادان یار دَ آشنایئ قیمت نهٔ زده

عاقلانو څخه خو رنګه حکمت دے
لیونیو دَ عقل و حکمت نهٔ زده

وعاشق ته نصیحت مهٔ کړه ناصحه
خود پوهیږې چه عاشق نصیحت نهٔ زده

دَ خدمت له نتیجې نه چه محروم شوم
زهٔ لائق نهٔ یم کهٔ تا عنایت نهٔ زده

چه بے ستا میلمه کیږی هغه زهٔ یم
کهٔ آشنا مې دَ هندو غوندې ست نهٔ زده

زاهدان چه مونځ روژه کا جنت غواړي
ما خوشحال دَ مزدورئ طاعت نهٔ زده

ما په ننګ دَ پښتانهٔ ځوانان قربان کړهٔ
بیا مې غوره غوره جمع بنهٔ ځوانان کړهٔ

دَ سرې دَ لاسه مړهٔ دې څهٔ په بنهٔ وو
لیونی ګوټه سپي مړهٔ کوره شیران کړهٔ

هومره کوټه کوټه کوټه ارمانونه
هر نفس څې په ارمان ارمان ارمان کړهٔ

په یوهٔ ساعت بنادی په بل غمونه
په لحظه لحظه تیریږی دَ آسمان کړهٔ

چه په شپه راسره ټول وو په زرګونه
په صبائې له ما واړه ځان په ځان کړهٔ

څنې مړهٔ څنې ژوندی له ما جدا شول
زهٔ جدا په غاړه غرونه په ارمان کړهٔ

چه شاهان ځوانان مې و مړل هاله مردم
کهٔ دَ هر یوهٔ مې ساری سل په مان کړهٔ

یو مهلت دَ عمر بل مدد دَ بخت وے
په دشمن باندې مې وشوې په دا شان کړهٔ

لوئے قتل هلک بند بنهر و نه سوی
مال اولجه بندیان دِ ګل واړه جهان کړهٔ

چه نو بنهر مې واههٔ کوهاټ مې پریښود
لا هاله څما دا کړهٔ وو دَ نادان کړهٔ

چه بد اصل سره بنهٔ کا کله بنهٔ کا
دَ موذی سره څهٔ سود دِ دَ احسان کړهٔ

سر خودا په خوشحال وشوه بیا تر کاله
ګوره څهٔ رنګه بنکاره شی دَ سبحان کړهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن په ستړګو ورُوځوله ماخوار زهد وتقوٰی وړه
ناز وغمزے ګوره عقل وصبر م صبا وړه

شیخ ملا قاضی مفتی صوفی سره یو ځائے دی
پاسه بنیوه وګوره یو یو خیز م له هر چا وړه

جورد اغزی وړی چه وګل وته هوس کا
یا رکهٔ بنائسته وی تهٔ ئے هم جور وجفا وړه

دور دا ورنګ زیب دے د ریا زاهدان ډیر دی
پټه په لستونړی د شرابو ډک مینا وړه

تل چه عاشقان دی پسے تعین رقیبان دی
تهٔ چه عاشقی کړے د وګړی شور غوغا وړه

مال دے کهٔ م ملک دے خولا م نهٔ یم ژوندے یم
هرچه ستا په خوا دی هغه واړه لا پخوا وړه

ډیرے دی نګارے بنائسته پری رخسارے
نورو لره نورڅهٔ تهٔ خما زړهٔ په تنها وړه

شونډے د حلوا دی عاشقان د حلوا وږی
بنهٔ په اوږ یو ځه په پلو پټه دا حلوا وړه

تا وئیل خوشحاله یو کالے به له تا غوا ړم
زړهٔ دے نورڅهٔ نهٔ دے بنهٔ درکړے م وتا وړه

نن ئے بیا د دلبرئ خنجر ترملا شهٔ
بنهٔ چه سرئے لا اوله په پارسا شهٔ

بنهٔ چه زر د مختوری وشوه رقیبه
هغه یار چه مرور وو بیا په پخولا شهٔ

ما وے بخت به یو بنهٔ یار راکا وماته
چه د درست جهان ناترس وو یار خما شهٔ

ګل په دا سبب ارزان دروی په بیه
چه ئے ډیره بقا نشته بے وفا شهٔ

په بلبلو باندِ زیرے د بهار کا
چه نرګس په هسے سخته خله واشهٔ

راشه ګل وته نظر وکړه اغزیه
ګل په هومره زیبائئ یار د چا شهٔ

د فراق شپه ئے څهٔ هومره اوږده نهٔ وه
په خوشحال باندِ هزار خله صبا شهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته بانګ د مؤذن په درست تیراه — مګر واورې بانګ د چرګ په سحرګاه
که اورکزي ئې سراسر واړه ګمراه دي — آفریدي دي تر ګمراهو لا ګمراه
د اسلام ارکان احکام حلال حرام شته — آفریدي اورکزي نه دي پرې آګاه
نه نمونځ د جنازې نه ئې امام شته — نه زکوة نه سرمایه نه د زړه ترّاه
بنه هغه چه مستقیم په شریعت وي — بد هغه دې چه په شرع وي تباه
د دنیا چارې همه واړه فاني دي — که باقي دې خو یو نوم دې د الله
چه یک لخته د دنیا په کار کښې غرق کړ — له هغه غافله څوک ئیه نه آه آه
په او بو سره ګندګي له تنه درومي — په توبه په استغفار سره ګناه
موحد د تصوف د رسالو دې — مسئله د شریعت ګڼړي ګناه
کله کله چیرې ووائي دا هومره — څنې څنې لا اِلٰه اِلاّ الله

چه ګناه همیشه کا توبه ئې نه وي
له هغه قومه خوشحال غواړي پناه

نامرد مل د چا مل مه شه — سر په بد نائي کل مه شه
پئ غوړي واړه مردار کا — د خپل کور پیشوغل مه شه
یوچه دوه ورته بنکاریږي — څوک په سترګو احول مه شه
چه یا سیب یا بهي کیږي — بصل مه شه حنظل مه شه
د غوټئ غوند موسیږي — د ابرو ترمنځ خل مه شه

په و ئیل که ډیر افضل ئې
له خوشحاله افضل مه شه

نصیحت دې که ئې آورې درته وائي بیچاره
نفس به ډیر خه درته وائي پسې مه شې آواره
روحاني بخره د چا ده چه ئې مینه په درویش وي
نفساني بخره د چا ده چه جاهل وي هیچکاره
چه وهل خوړل خوړل کا هغه باز دی یا شاهین دې
چه ئې سوړې لره وړینه یا میږې دې یا فاره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



علم تا بیائی په پورته جهل تا بیائی په کښته
یا عیسیٰ لره وردرومه یا قارون ته ځان سپاره

چه ئې علم فضل نهٔ وي چه په تخت دَ باد شاه کښیني
یا یو یږ دے یا لیوهٔ دے یا ئې ګاوُ خر شماره

بے وفا دروغژن مهٔ شه ناسپاس حق ناشناس هم
ره زنی کړه بنګ شراب خوره څرخ وهه په دوتاره

دَ نبا تو حلوا مهٔ خوره چه منت ورسره مل وي
خپل کشکاب دَ خپل محنت خوره په سرا وره پشتاره

کهٔ وعده په قیامت وي هوس مهٔ کوه وپورته
څو توانیږے بخښه مهٔ کړه کهٔ په مخ وي ستاره

په هوا په هوس تللم لا تراوسه هسے زغلم
واویلا دَ نفس له لاسه ګریوان چاته کړم پاره

څوک نیکخواه په جهان نهٔ وو چه ئې ماته هدایت کړے
چه خبر په قباحت شوم پکښې ډوب یم یکباره

لوئے دریاب دے توره شپه ده پکښې ځې ځما بیړئ
خدایه خضرؑ رابنکاره کړه چه لاس راکاندي بنکاره

هنر هم په خپل مقدار شته دانش هم شته په خپل قدر
کهٔ یو بخت ورسره مل وي دَ خوشحال کړه ننداره

نهٔ ځما دَ زړهٔ لړ بر دي بنا نُسته
همیشه مِ دَ زړهٔ سر دي بنا نُسته

خپل ژوندون دَ دوئ دَ مخ دپاره غواړم
له دننه مِ خبر دي بنا نُسته

بُت پرست دَ یوهٔ بُت یم نهٔ دَ واړو
کهٔ بُتان مِ دَ آذر دي بنا نُسته

زهٔ به مخ دَ یار مخے نهٔ کړم دَ واړو
کهٔ ګلونه سراسر دي بنا نُسته

زهٔ له دیرے څلے یو پر یږدم بل ګورم
سره یو تر بل بهتر دي بنا نُسته

خال وخط به ئې ځما له زړهٔ لاړ نهٔ شي
کهٔ بیرون مِ تر بصر دي بنا نُسته

په وار وار ترے لعل ودُر دي راتوئیږي
ستا وئیل لکه سرهٔ زر دي بنا نُسته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خطا کهٔ په ختن کهٔ په کشمیر شته — نهٔ چه دام تر دلبر دی ښائسته
کهٔ هر څو دَ ځوانئ عشق لری خوشحاله — کهٔ زړونه مکدّر دی ښائسته

نن دِ دور دے دَ خوبئ کبر دماغ کړه — یا دَ یار په زړهٔ مرهم پړده یائے داغ کړه
په خندا خندا راځه غاړه غړئ شه — دَ خپل یار خاطر له غمه نه فراغ کړه
ستا دَ زلفو په تورتم کښے م زړهٔ ورک شهٔ — چهٔ بیامومِ ښکاره دَ مخ څراغ کړه
دَ مخ خال دِ تورکاڑکهٔ دے ځما زړهٔ وړی — دَ بازونو دَ شاهینو ښکار په زاغ کړه
دَ خلوت په مخ کښے ناست زاهدان ښهٔ دی — ساقی زهٔ چه زاهد نهٔ یم گشت دَ باغ کړه
ساقی لور په لورگلزار دے چه لیدهٔ شی — له توبے نه کړه توبه په لاس ایاغ کړه
کوړه کوم لوری ته لاړ دے موندهٔ نهٔ شی — دَ خوشحال دَ زړهٔ پیدا چرته سراغ کړه

وچ لرگی و بله کښیږدہ — اوربړے پورے کړه نور پریږده
په تیرو تیرو اغزیو — تا ته چا وئیل چه پښے ږده
پکښے ظلم ډیر ستم شی — له بیداده ښهر لیږده
دَ خزان سیلئ راغلی — لکه پانړے هسے ریږده
تل طفلان دَ خپلو اوښکو — دَ گریوان په اوړی بلیږده
په اعُوذُ په لاحَوْل — سرآخله له سر ویږده
اوس پیری راغله خوشحاله — دَ ځوانئ چارے پریږده

هر عاشق چه بهره مومی له حضوره — په هغهٔ باندِ سلام له ما مهجوره
ښهٔ دِ قدر دَ وصال دَ ساعت زده کا — و ناظر ته تل جلوه نهٔ کا منظوره
اوس دَ دیو جونو وینځو په ځائے نهٔ دهٔ — دُرخانئ آدم خان کړه مشهوره
چه په دا هسے جمال ورځنے زووے — بوره مور دِ ښاپیرئ وه کهٔ حوره
یار به چا په یوهٔ درنگ له لاسه پرېښی — جدائی له یاره نهٔ شی بے ضروره
صبر تا له مانه درست په کاتهٔ یوور — بیا وَ ما وَ ته وئیل کړے ناصبوره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ لاهسې په یارئ کښې غوخ نهٔ یم — چه لمن به دِ پرېږدم په تیره تُوره
لکه باد چه لوئے نښتر وُولی په مزکه — هسې رنګ ورپسې ولوښتم بېخ بُوره
دَ ښهٔ یار دیدن دَ دواړو سترګو نور دے — خدائے دِ نهٔ کا دَ هیچا سترګې بے نُوره
کهٔ آسمان او زمکه خولهٔ وبله ورو ړی
دَ خوشحال خاطر به نهٔ وی بے سروره

هغه کار لکه په تور وو — مالیدهٔ چه په سپین نور وو
چا به مشک په کافور ورکړهٔ — ولے بیه نهٔ وه زور وو
تل په شپه بازار خورېږی — په رنړا کوره چه خور وو
یا یو خوب وو چه لیدهٔ شهٔ — یا یو خیال خالی بیور وو
چه ځیګر خوری دَ خپل څو یه — عجب ښهٔ مهر دَ مور وو
اوُ دهٔ غلهٔ پرے حواله وو — څهٔ ناتارشهٔ یو څهٔ کور وو
لږ ئے راکړهٔ ډیرئے یوړل — پوروړے ئے سودخور وو
ما ته وُلیدے خوشحاله
چه دِ څومره زور وشور وو

هر سړے په خپل کنکاش پوهیږی ښهٔ — په خپل زیست او په معاش پوهیږی ښهٔ
بزګر دَ کرد کیلے هنر ښهٔ زده — بازګان په خپل قماش پوهیږی ښهٔ
تولول به ئے هغه کا چه ممسک وی — په بازنه ئے قلاش پوهیږی ښهٔ
څوک دِ هیڅ ورته دَ متې خبره نهٔ کا — عاشقان په خپل تلاش پوهیږی ښهٔ
دَ شرابو صفت څهٔ کوے نور چا ته — په دا کار رند و اوباش پوهیږی ښهٔ
دَ عسلو په حلوا مارهٔ ناپوهه دی — ګرسنه په نان و آش پوهیږی ښهٔ
قلمزن حساب کتاب هندسه رقوم زده — شمشیرزن په جنګ پرخاش پوهیږی ښهٔ
وخوشحال ته وائی خلق ښهٔ پوهیږی
ظن دَ خیر دے دے کهٔ کاش پوهیږی ښهٔ

هر چه ستا دَ زړهٔ رضا واړه هغه کړه — خو چه زړهٔ دَ چا خوږېږی هغه مهٔ کړه
کهٔ دَ کسب دَ روزګار رنګ ئے نهٔ مرد شته — دَ نامرده ډوډئ مهٔ خوره خان خفه کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یار هغه چه دَ تنګسے په وخت پکار شی
چه دعوی کا دَ یارئ حال ئے زده کړه

چه تنګسه دربانـدِ درشی کۀ میرۀ ئے
په تنګسه کښے دَ خوارئ ځان ورمۀ کړه

په خوارئ کښے زیست روزګار ترمرګ بتر دے
یا دَ بل کیدہ یا خپله کیدہ بڅره کړه

له ځوانمرده هومره غوارہ چه د زیست شی
دَ نامرد خونه همه وارہ اولجه کړه

غلیواز دَ بل منګلے وته ګوری
لکه باز لرے نزدے خپله غوټه کړه

کۀ دعوی دَ مړنتوب لرے په زړۀ کښے
آس دَ وند تلاش په غشی په لیندۀ کړه

هر یو بیت ئے دَ حلواخوږه نمرئ دہ
کۀ مشتاق ئے دَ خوشحال ویل مزه کړه

هرآفت چه په درست عمر را دوچار دوو
چه مِ خیر کړ درست ځما دَ زړے کار دوو

چه ودانے چارے ورلنے په ساعت کا
چه مِ ولیدۀ په چارو کښے تلوار دوو

دَ هرچا یاری مِ ولیده په ستړګو
هم هغه راته بلا شۀ چه مِ یار دوو

ناهموارے به هرګز ورپیښے نۀ شی
کۀ په خپله اندیښنه سرے هموار دوو

صبرناکو سره جور فلک نۀ کا
دَ فلک جور له چا چه سبکسار دوو

په دا باغ کښے مِ ډیر ګل ترنظر تیر دی
دَ هر ګل ترخنګ ما ولید چه خار دوو

زړۀ په طمع دَ وفا له بے وفا کړه
په خپل ځان باندِ ځپله ستمګار دوو

کۀ هرڅو باندِ مرهم ږدی نۀ رغیږی
دَ خوشحال په زړۀ داغۀ دَ غم پرهار دوو

هرګز به توبه نۀ کړم دَ بنۀ مخ له ننداره زۀ
شیخان پیران دِ واوری دایم وایم په نارو زۀ

کۀ ما دَ عشق خبره په ایما تردا پخوا کړه
ښکاره به ئے اوس وایم په رباب په دوتارو زۀ

کۀ نور عالم ګلونه په دستور راوړی خپل کور ته
راوړم دَ یار له باغه هره ورځ په پشتارو زۀ

زاهد وائی وماته راشه کښینه تسبیحات کړه
یو مِ ده نیولے نۀ یم هیڅ په داشمارو زۀ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



گدائے غونډِ چار دو زم سینه سوې په طلب کښې
کهٔ ډیر لرم په کور کښې هر قماش په انبارو زهٔ
پرهارے دَ بنړو دَ غشی لا بده بلا ده !
وتلے یم دَ غشو دَ نیزو له پرهارو زهٔ
خوشحال غونډِ کهٔ سود لری کهٔ زیان خما قبول دے
عادت یم دَ غمونو دَ اندوه په اِجارو زهٔ

هیڅ خبره نهٔ وه چه به ما تر خولے ایسته
ستا دَ خولے تشبیه م غوټۍ ولے راوسته
ستا دَ خوږو شونډو په شاړهٔ شی بیا رته گرځی
څکه مگس سر وهی دا هسے دو دسته
زهٔ او تهٔ په دا دور تر واړو نه افزون یُو
څهٔ حیران مجنون وو، څهٔ لیلیٰ خواره خسته
ستا دَ تورو زلفو زنځیرونه دی په پښو کښې
نهٔ شم چرته تلے درته پروت یم پا بسته
هر زمان ستا خیال دے چه خما په سترګو گرځی
ویښ یم کهٔ اوده یم کهٔ ولاړ کهٔ نشسته
گل او سے په حُسن آما گل مهٔ شے په عمر
راغله ، سرفراز شوم، ستا له باغه گلدسته
واړه هغه حُسن لطافت دے ستا په مخ کښې
چاچه دَ یوسف قصه وما ته ولوسته
کله سرو وُنه هسے سمه ده په قد کښې
چا نامه دَ سروِ ستا وقد ته اخسته
وروځے دِ لیندے دی تور بانړهٔ دِ تیرهٔ غشی
ووله صرفه مهٔ کړه چه دِ ډکه ده درسته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاوئیل وماته خو ډیر غم غواړے له مانه
ستا په غم خوشحال یم خو رادرومی پیوسته
زړۀ لړے دَ کانړی په خوشحال باندِ پوست نۀ شو
خۀ شوکۀ دَ خولے خبره کړے چیرے پسته

هرتشنه چه دَ وحدت په سیند سیراب شۀ
نور همه جهان ورده وته سراب شۀ
چه په زړۀ ئے دَ وحدت ډیوه شوه بله
تجلے به ئے له مخه څی آفتاب شۀ
چه دَ عشق دَ نافے بوئ پرے لګیدلے
درست صورت ئے سرترپایه مشکِ ناب شۀ
هرچه وُلیږ لۀ هستئ ونیستئ ته
فراغت دَ دواړو کونو دِ عذاب شۀ
چه تروۀ ترخۀ قبول لکه دریاب کا
هم هغه دَ قیمتی دُرومآب شۀ
چه لمبه ئے دَ آتش کړه په ځان تیره
له غه پسه دَ ګلابو ګل ګلاب شۀ
کۀ په زړۀ کښے ئے سختی وه لکه پنډه
هم هغه دَ زمانے دَ اور په تاب شۀ
چه دَ ډیرو اند یښنو نه ئے زړۀ ورکړ
په مثال لکه خسنړے دَ دریاب شۀ
دَ شرابو خوبنی هیڅ نۀ وی بے نُشله
نقل څۀ دی معرفت عمر شراب شۀ
دَ کمال کسب پایه دَ سعادت ده
هغه بنۀ چه دَ کمال په اکتساب شۀ
تۀ هم زړۀ مراد وُغواړه له عالمه
چه په علم ئے عمل وکړ کامیاب شۀ
چه دوستی دَ محمدؐ لری په زړۀ کښے
مینه دار ئے په اولاد او په اصحاب شۀ
چه له شرعے یو قدم درومی بے رُخه
وګوشمال وته تیار لکه رباب شۀ
په هغۀ م زیرے وکړه چه دفتر ئے
واړه ډک خاصه په ګښلیو دَ ثواب شۀ

په حیات صورت به وګټی ځان خاورے
چه خوشحال غوندِ ځبر په خپل حساب شۀ

هو په دا قائل یم ښکلی ډیردی لاړ په لور شته
خدائیګو کۀ دَ حُسن سپارۀ تا غوندِ یو سپور شته

تاوے چه غم مۀ کړه یوه ورځ به دِ غم وخورم
څۀ لره به غم خورم چه م تا غوندِ غمخور شته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په سر سوګند خورم ته ځما و سرته لوړے
ښهٔ مهرِ دا دے کهٔ لا ښهٔ مهرِ نور شته

اے چه راته وائے عاشقی شرم پیغور ده
واړه ﻡِ قبول دی کهٔ ﻡِ شرم کهٔ پیغور شته

خلق ﻡِ چه بولی ستا له مخه و ګلزار ته
بل بهار به څهٔ کړم چه ﻡِ یو بهار په کور شته

حکم امر ستا دے کهٔ ﻡِ بولے یا شړے ﻡِ
څهٔ به درته وایم دَخوشحال بنده څهٔ زور شته

یا ځما دَ بینایئ نظر نشته
یا په دا نزدے ملکونو دلبر نشته

کهٔ اَخترنهٔ وی دَ یار سره اختر دے
بے منئینه کهٔ اَختروی اَختر نشته

سپینه خولهٔ کهٔ راکوے په ځان اړنهٔ یم
معشوقے له مانه زرغواړی زر نشته

په اول وصلت دَعشق په توره لاړ شو
دَعاشق سړی په تن پورے سر نشته

کهٔ غوټے پسے وهے په لاس به درشی
چا وے داچه په دریاب کښے ګوهر نشته

نور تروهٔ ترخهٔ کهٔ خوږے کوندِ پیدا شی
وطوطی ته هسے وا یه شکر نشته

ستا غزالره به زهٔ خپسر کا فر کړم
څهٔ ارمان کړے چه غوک وژنم کا فر نشته

په شامت ئے دَ ما ترے غر نړیږی
لا په دا دَ آفرید یو بصر نشته

دَ شمال ښسئینه کا په جنوب دروهی
دَ ښکاری سړی په ژمنه باور نشته

کهٔ دَجنګ په کار کښے ډیر دی حکمتونه
ښوصابرنهٔ شے ځلمیه ظفر نشته

څهٔ عجبه بادشاهی لکه خورشید کړم
یک تنها په جهان ګرځم لښکر نشته

نن دَ دواړو دلبرانو غوره ته ئے
کهٔ دِ یولونګ په پوزه زیور نشته

دَ عنبرو بوئ الوزی ستا په کوڅے کښے
واړه ستا دَ زلفو بوئ دے عنبر نشته

په ښوغرهٔ په غرهٔ دَ باز غوندِ پرواز کا
بیا به ولے دَخوشحال ختک پَرنشته

آشنائی دِ راښکاره شوه بے وفائے
چه ځما سره آشنا دَ بل آشنا ئے

وبل باغ وِ ته به ستر ګے کړے نکړے
چه ځما دَ باغ بلبله یا طوطا ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا به کله خاۓ خما په سترګو وګړے
تهٔ منین ځماد دوٶسترګو توتیاۓ

زهٔ جدا له تا په سوز و په ګداز یم
تهٔ په ګشت دګلستان په لاس میناۓ

په لیدلو دَ خوبنی درسره راوړے
لکه تللے یاغی باز راغلے بیاۓ

دَ اُمید غوټئ م واړه شګفته شی
چه دِ اوویښم په ما لکه صباۓ

ستا په مینه پورے سل کا نخوالونه
دَ خوشحال دِله په چا باندِ شیداۓ

مُسلمان به درته خوګ وائی خوشحاله
دَ هوا زنار په غاړه یو ترساۓ

آزلی بخره چه چا راوړه له خدایه
نور یدل به ۓ په چاشی راته وایه

چه دِ زړهٔ راضی دَ چا په آزار نهٔ وی
تهٔ په خپله بخره خوښ اوسه هایه

دائے واړه دَ فراقه نه فریاد دے
چه په خورنګه نارے آورے له نایه

کهٔ په اصل دِ سیّد بادشاه زاده وی
چه هُنر درځنه نهٔ وی مهٔ ۓ ستایه

کهٔ هرڅو دِ زور قوت تر هرچا ډیر شی
دَ خدایئ دعوی مهٔ کړه کد خدایه

یو ساعت چه په طاعت تیر کړے دا بهٔ دے
دَ دُنیا له کروفره هوئ وهایه

کله ګل غوندِ نماۓ کله بلبل شے
خوګ به نهٔ وی لکه تهٔ ۓ خود نمایه

بله بخره به په زور له چا واخلی
دَ خوشحال بخره چه توره ده له ځایه

اوس خو کار دَ وار دَ پار دے
کهٔ دَ خویه کهٔ دَ پلار دے

یا ځما خویه دا شان دی
یا دَ هرچا دا روزګار دے

نهٔ په حق نهٔ په ادب دی
خبر نهٔ یم دا څهٔ کار دے

چه په خپل اولاد نازیږی
هغه کس کله هوښیار دے

دَ اولاد په کار خبر شوم
اولاد واړه لړم مار دے

دیرش م خویه په شماره دی
دَ نمسیو م څه شمار دے

لوئے هلک واړه خبر دی
هر یو جنګ وته تیار دے

اورنګ شاه وته نظر کړه
چه یو څهٔ خونی خونخوار دے

ورونړه پلارۓ وبله کښیښول
بادشاهی کا شهریار دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ژوندے ګرځے خوشحاله
لا منت دَ ګردګار دے

اورۓ وُلګی په خونه چه عاشق شی
کورۓ خورلکه دَ قیس اودَ وامق شی

یوهٔ زرهٔ لره یوه مینه کافی ده
څوک چه ډیرے مینے کا دَغم لائق شی

دَ مجنون له حاله څهٔ وایم چه څهٔ دے
په ژوندویو کښے به کوم ترما فائق شی

ډیرعالم دَ مینے لاف وهی په ژبه
مرد هغه چه په دا لافو کښے صادق شی

چه ئے لار دَخولے یوه دَ زړه وی بله
یوه خدایه مخ دِ تور دَ منافق شی

دَ راحت په وخت هزار یاران وی
دَ محنت په وخت کښے یو یو موافق شی

دَ نیمګرو طبیبانو ادراک نشته
دَ خوشحال دَ رنځ علاج به په حاذق شی

آه کهٔ یو ځله مِ یار راشی په دست کښے
لکه لوئے ماهی دَ خوار صیاد په شست کښے

چه په هر زمان ئے ونیسی و مخ ته
دَ ګلابو ګل پیدا شی ستا په شست کښے

ناز غمزے بنیو چه ستا زده بل چا نهٔ زدهٔ
سرئے نن دَ دلبرئ په بندوبست کښے

داخوبی به دَ ګلزار ترتلو نهٔ وی
ساقی ستا کومه خوبی ده په نشست کښے

ساقی جام دَ میو مهٔ پرېږده له لاسه
څو دَ عقل څهٔ ذره وی لا په مست کښے

دانایان فکرونه کا ورنهٔ رسیږی
دَ دلبرو تنګے خولے په نیست اوهست کښے

په بلند همت کښے پورته پورته درومی
کښته کښته ځی سړی په همت پست کښے

په طلب به ئے خوشحال تقصیر ونهٔ کا
په مدد به دَ طالع راځی په دست کښے

برایه مِ زړهٔ خبرے ستا دَ ناز وے
له خوبنئ به ئے یوه وینا باز باز وے

دَ هجران له دوکه مرم هغه مِ وژنی
چه به ما او تا جدا له غیرو راز وے

دوه په دوه به سره ناست وو تر صباحه
دَ یوهٔ راز موانجام دَ بل آغاز وے

همګی په مثال شهد یا شکر وو
چه به تا را ته ترخهٔ ترخهٔ ناساز وے

ستا له زلفو عقل ستړګو ته فریاد کا
کله چا دَ غلو خبرے په غماز وے

چه له یاره ئے بیلتون په ډیر آرمان وو
دا غزل خوشحال په وخت دَ بانګ نماز وے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې يارئ دِ داخوار مرى يا رَوه ئے
رقيبان په داخوار يږى خوارَوه ئے

تا وے مخ به دربنكاره كړم صبر وكړه
نور م توان دَصبر نشته بنكاروه ئے

زر فتنے راسره كړے زهٔ ئے اخلم
كهٔ يوځل چيرے غلط شوم بنكاروه ئے

ترجمال ئے ډير پټنګ غوندِ ځاريږى
ستا دَحسن كمے نشته ځاروه ئے

چيرے نهٔ چه سلامت له پرے وُوزى
يو عجيب غارى غرځهٔ دے ځارَوَه ئے

منتونه دِ دَ خولے را باندِ بار دى
ستا ترسپينه خولهٔ ځاريږم با روه ئے

وهرچا وته مرهم شه ور ته خانده
ګناهګار خو يو خوشحال دے خوارَوه ئے

بې بنا ئسته دَهيڅ مخ ننداره نهٔ شى
چه ګل پريوزى محبت له خاره نشى

دَهجران دشوار ترهودشوار دے
دَچاچار دِ په هجران دشواره نشى

اندرون خاطرِم درست پاره پاره شهٔ
اوله خولے نه م فرياد له ډاره نشى

دَدے هسے رنګه رنځ علاج هم دا دے
چه زګيروے م په طبيب اظهاره نشى

دَخاطر علاج م زر وكړه طبيبه
چه م زړهٔ پاره دَخدائے د پاره نشى

دَهجران له ډُوكه وايم چه نعرے كړم
ولے خو كړم چه زبون شوم ناره نشى

ما په خپل صورت دا كار دے آزمائلے
له هرځهٔ نه صبر شى له ياره نشى

په وئيل ئے فهم وكړه اے خوشحاله
چه دَ يار دَ مينے راز دِ بنكاره نشى

بې دَيار دَمخه نهٔ وينم په كسى
دوا په كسى ملك دَ نمر په شعلو كسى

زړهٔ م ستا په زلفو بند شهٔ تا كباب كړ
څوک شهباز هم دَكباب د پاره نسى

خدائے ستا دَغابنو شونډو امان وُكا
لال و دُر په نظر مات كا بدحرصى

ماله خپلو شونډو ومهٔ شره بل لور ته
دَحلوا له خوانه نهٔ دروى لوغسى

ستا دَمخ په مينه سوزم لوليه شوم
دَ آتش لمبه هيڅ نهٔ پريږدى دسى

كهٔ ئے چيرے دَ قدم خاورے موندے شى
خوار خوشحال به ئے رنجوله رانيسى

بادئے لاس په لمن كښيږدى سڅ ريږدى
كله ئے مخ وته نظر كا خولے بريږدى

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاله ورا په رنګ وبوئ ورته پیشکش کا — چه په سیل دَ بهار دَګلو پښې بږدی
خوږم ستا مروند دَ سو سرو یږدے نشی — سر به هیڅکله کښې نۀ بږدم په سرو یږدی
هغه کس چه م داغ ایښے په خاطر دے — هم هغه به بیا مرهم ورباندِ کښیږدی
خوخپل زړۀ نیسم دَ زلفوله سودا نه — راشی بیا دُورے درازے راته بلیږدی
دَ خوشحال خاطر په مثل کاروان سرائے دے
اندیښنے پرے کاروانونه ملی لیږدی

بیهوده ئے دَ دستار په شمله خیال دے — چه په وختئے دَ مردئ حال بل حال دے
مرتبے دَ هرچا نۀ دی سره سمے — دَ خرۀ بار دَ فیل په شاباندِ مثقال دے
څوک جرعه دَ میو نلری په جام کښے — دَ چا جام دَ صافو میو مالامال دے
داګلسن دِ همیشه تروتازه وی — چه ئے خیزدَ بنوګلونو کال په کال دے
په خوږه میوه دَ وُنے قدرشناخت دے — دَ سړی قدر دَ نیکو په خصال دے
په ناحق به ګوم ما نړه له هیچا نۀ کا — دَ بدانو غلیم واړه خپل احوال دے
کۀ جنت لره څوک بیائ یا دوزخ ته — بله نۀ وینم په مینځ کښے خپل اعمال دے
کشکے پاتے شی ترتلو دا و ماته — په دُنیا م دَ هرچا سره جنجال دے
چه دَ پلارا و دَ نیکۀ هُنرئے نۀ وی — هغه څویه پیدا شوے غیر سیال دے
تۀ چه لاڅے دَ مردانو دَ میدان کړے — په میدان دِ کوم راوړے استقلال دے
دَ شهباز ترڅا یه کله با ښے رسی — کۀ راوړے ئے له ځایه پروبال دے
کۀ همه خلق ئے سرشی په غُند نه
بیچاره خوشحال په خپل هُنر خوشحال دے

بدبختان دَ مورپه نس کښے بدبختان دی — چه دَ مورله نسه پریوزی هغه شان دی
په دُنیا کښے زیست روزګار په بدبختئ کا — بل جهان لره بدبخت شقی روان دی
حمیده چارے چه کا پکښے ناخوښ دی — خوچه شی په ذمیمه کښے دل شادان دی
چه هوائے دَ خپل نفس په هغه لورځی — پیروی ئے په هرکار کښے دَ شیطان دی
کۀ قدم چیرے ثابت کښیږدی په لارے — په دویم قدم بیا زر په زړۀ پښیمان دی
کتا بونه دَ آسمان دَ مزکے لولی — په عمل ئے فرق دَ مزکے دَ آسمان دی

پوهه POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باطن ئې زړهٔ کمان سره لړلے
په ظاهر وئیل په ژبه مُسلمان دی

په خبرو کښې ئې فیض مونده نشی
مذ بذب په قول عهد په پیمان دی

په طاعت په عبادت کښې کهٔ بلعم شی
په آخر دَ نس په نغوته بے ایمان دی

زهٔ خوشحال خټک بنده دَ هغه چا یم
چه ئې رَو دَ زړهٔ دَ خولے سره یکسان دی

بخت دولت دا واړه توکی فلکی دی
نهٔ په ذات نهٔ په بنا ئست په زیرکی دی

دم به نهٔ وهی په دم وهل کښې زیان دے
نندارهٔ دِ دَجهان کا چه ذکی دی

غم اندوه شدت هغه وروړی خپل زړهٔ ته
چه په کار دَ مشیت په زړهٔ شکی دی

په یوهٔ نسب کښې نیک و بد پیدا شی
محمدؐ او بولهب دواړه مکی دی

چه په عقل پوهه کم دی تر هلکو
نن هغه دَ دُنیا مال لری لکی دی

دَ مردانو قدر ورک شو بلا دا شوه
چه په هرچا پوړے زیری غینکی دی

چه دَ پلار په خوئ پیدا دی هغه خوږیه
چه دَ مور په خوئ پیدا شول کُسُنکی دی

خوک په غم دَ نام و ننګ په جهان راغلهٔ
خوک په فکر دَ طباخ دَ شچنکی دی

هیچا ما سره یاری نهٔ کړه تر سره
خټک واړه پوز پریکړی بوچکی دی

نهٔ ئے بوئ شته نهٔ ئے رنګ شته نهٔ ئے خوند شته
حاسدان م دَ سیلمټی ختکی دی

په زمان زمانے خرخ دی و بل لور ته
اندیښنے دَ زړهٔ په مثل توتکی دی

کله یو سر کله بل سر کله کوړه
تدبیرونه دَ هلکو مردکی دی

رنګا رنګ ویل دِ خدائے لره خوشحال له
دا ویل دِ لکه غشی ناوکی دی

بیائے واغوست سپین قمیص پټے پټے
باندِ زلفے ځنړوی لتے لتے

خوک به ستا سره څهٔ نرد کا دَ خوبئ
چه په هره منصوبه کټے کټے

والئے خوک به زړهٔ خماله لاسه خلاص کا
دریغه څهٔ خبرے کړے کټے کټے

عاشقان به دِ له دره نه وانهٔ وړی
کهٔ هر خوئے لکه سپی ربړے ربړے

چه نری نری سپېړسی غرم دَ شعر
په بیاض باندِ لے بږدم اټے اټے

دواړه شونډے م عسل دی اے خوشحاله
څهٔ په دودے په حرص ختے ختے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هره زمانه ترلیلیٰ کښلے پیدا کیږی
مجنون ورلره بویه چه په مخ ئے شیدا کیږی

په رنګ په هُنر نهٔ ده نهٔ دا کار په سحرو دم دے
یوسر دے دَ زړهٔ مینه چه په چا هویدا کیږی

چه خوک په مهر مینه سره خپل پیوند محکم کا
کهٔ سل تورے ور واخلے سره چیرے جُدا کیږی

یا حسن دے یا عشق دے دَدُنیا په دا بازار کښے
په نازاو په نیاز سره دا دواړه سودا کیږی

خولهٔ وُنغاړه ناصحه چه وما ته نصیحت کړے
بنهٔ مخ و ته مهٔ ګوره وایه دا به په ما کیږی

په سر ترلی نهٔ دی نهٔ اندوه دَ دوزخ کاندی
دا کار چه عاشقان کا وایه کله په چا کیږی

په رب خُما سوګند دے واړه ګل په ما اَغزی دی
چه بے له زیبا مخه مِ ګلګشت په صحرا کیږی

خپل زړهٔ مِ لوئے مفتی دے روایت ورځنے غواړم
چه صبر کړم له یاره وائی کله روا کیږی

یاری چه تازه وُکړے صبر فهم پکښے ویه
په رو رو نوے یار په هُنرونو آشنا کیږی

اَنبار اَنبار پراته دی عاشقانو ته غمونه
پیغور دَ عاشق دا دے چه ئے غم و ته شاکیږی

کهٔ نازکا کهٔ خیالونه واړه وړه دَ دلبرا نو
خوشعاله چه مئین شوے کهٔ ئے نورے بلا کیږی

په څهٔ دردے ځان نیولے ستا ترځنګ ږے — دَ رقیب خبره مهٔ منه بدرنګ دے
زهٔ چه ډیر ډیر ستاله ډیره جوره ژاړم — تر دؤ چشمو مِ چشمه بحرِ دَ ګنګ دے
ښاپیرئ دِ په اورته هورته ګرځی — نن په دا لوری دَ شاه دَ باهوشرنګ دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس نے مۀ پریږده له لاسه خولۀ نے وا خله
پریوتلے په یاغی راجه قلنګ دے

په وړۀ مهر محبت په خولۀ کنځل کا
څۀ عجب زیبا دَ دوؤ مینو جنګ دے

لکه سپے دَ خپل خښتن جور و جفا وړی
خوار عاشق تر معشوقه پورے ننګ دے

په رو رو باندِ قدم کښیږده خوشحاله
خدائے دِ پل دَ چا خطا نۀ کا ګړنګ دے

په زړۀ سخت بے مهره یار ئے
جفا کار و دل آزار ئے

کۀ هر څو په کوکو شا ام
تۀ لاخوښ څما په کار ئے

تا ویشتلے یم فریاد کړم
کۀ خبر په خپل ګذار ئے

زۀ مرهم کړم له تا طمع
تۀ م مالکه دَ پرهار ئے

چه بهتل ژاړم و تا ته
کۀ تۀ خوښ څما په زار ئے

زړۀ دِ وُسپاری و غم ته
دَ هغو چه تۀ دلدار ئے

څوک به څۀ وائی و ما ته
تۀ یو څۀ رنګه نګار ئے

چه پخپله عاشق وژنے
هم ئے وير کړے په چغار ئے

کوم ګناه دے عاشق کړے
چه ئے خبره په ناتار ئے

کله درد کله دوا شے
کله خار کله ګلزار ئے

په خوشحال دِ غم نازل کړه
چه اغيار سره ګنار ئے

په کا تۀ کا تۀ م سترګے په خا تۀ شی
چه خبر دِ دَ را تلو را باندِ وشی

تۀ خو اوس له ما نه لاړے مرور شوے
داڅما یاری دِ هم ګوندِ په زړۀ شی

ګوره تا را باندِ کومے کوړے وُکړے
کۀ په پښو درځم درد م زړۀ م نشی

چه دیدن دَ مئين وکړمه تازه شم
لکه کښت چه په باران سره اوبۀ شی

دَ بنۀ یار بیلتون دَ ستونی پريکول دی
په يرغ به ستونے چيرے پريکاوۀ شی

په ارمان دَ هغه وخت يم دريغه دريغه
کۀ دَ زنی سیب ئے بیا څما په خوله شی

دَ خپل یار دَ جدائی هسے کار دے
لکه ساه چه دَ وجوده په واتۀ شی

بخته هو مره مدد بيا را سره وکړه
چه په غيږ کښے م بيا تللے يار اُوده شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَخوشحال سلام په واړو ښو یارانو
ګوندې بیام په لیدو سره زړهٔ ښهٔ شي

په ښهٔ مخ به خوناباں ئې — ښهٔ ترمیاشتې دَآسمان ئې
کهٔ پرون دې زړهٔ او سترګې — راشه نن ځان دَجهان ئې
لکه سورې په ښو پروت یم — زړهٔ هُورې چه ته روان ئې
خدائې په ښهٔ جمال یوسف کړې — په کروړونو هم ارزان ئې
کهٔ دِ دوه کونه قیمت شي — په دوه کونه رایګان ئې
دواړه شونډې دِ یاقوت دي — مرغلرې په دندان ئې
په رښتیا وئیل بد مهٔ وړه
خوشحال ستا دے ته دَځان ئې

پښتانهٔ کهٔ آدم زاد دي — په خویونو کښې هُناد دي
نهٔ حکمت لری نهٔ عقل — خوبښ هر ګوره په فساد دي
نهٔ دَپلار په وئیل کار کا — نهٔ په نغته دَاُستاد دي
چه په دیو کښې یو ښهٔ وي — دَهغهٔ دَسر جلاد دي
یو دَبل په کمې ناست دي — ځکه تل په بلا یاد دي
اول زهٔ دا نور له پسه — خو شته واړه دَاحداد دي
په نفاق ئې واړه ورک کړل — کهٔ شجاع دي کهٔ جواد دي
نهٔ ئې قدر شته نهٔ پدل — ډیر ترمور او ترجراد دي
دالا شکر کړه خوشحاله
چه بنده نهٔ دی آزاد دي

په نیکئ به له بدانو نه خلاص نهٔ شې — بویه داچه لکه دوئ دې هسې ته شې
دَغمو په لذت به نهٔ پوهیږې — دَهرچا چه زیست روزګار وي په او ربشې
دَغلیم سترګې به تا ګنړې خسنړې — کهٔ په زړهٔ کښې ورته کسې دَلیمهٔ شې
دَبدخواه دَبدخواهئ خلاصے نشته — کهٔ آسمان ته الوتهٔ وکړې مرغهٔ شې
په پاکئ کښې به دِ ګړې کا متیاز ے — په صفت کښې کهٔ بد ذات سره او بهٔ شې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروغژن به دِ بیا لرے کا د زړهٔ نه  کهٔ هرڅوئے په رښتیا پورے په زړهٔ شے
دَ بدګویو له وئیلو خلاصے نهٔ شی  په پاکئی کهٔ فرښتو نه ورته ښـهٔ شے
آفتونه په ګډون کښے دی خوشحاله
ښهٔ خوداچه کهٔ دائم غرڅهٔ دَ غرهٔ شے

په ښانست کښے دِ ځوک نشته دَ سیالئی  کهٔ دِ ځهٔ خو مهرهم وے نتیالئ
ورځ په ورځ دِ دَخوبئ ګل غوړیږی  تهٔ لا اوس دَ نوی بوټی په زالئ
په پسالهٔ به مینه کاچه رنګ ئے نهٔ وی  تهٔ ګلرنګه ځهٔ محتاجه دَ پسالئ
ستادَمخ سپاهیان همه تورے پرپاسی  ولے دوه سترګے دِ لادی جنګیالئ
زهٔ چه ستا دَ در په تورو خاورو پروت یم  راته خس دی دَ بخملو نهالئ
دَ پائلو په آواز سره دِ ویښ شی  چه پړے درومی تصویرونه دَ قالئ
تهٔ خواوس دَ زهد لاف کوے زاهده  کهٔ ئے وُوینے زړهٔ ټینګ کړے مرد هالئ
زهٔ به نیت درباندِ وهارم باور کړه  کهٔ دِ ځلئے دے دَ هاتی په انبالئ
خدائے دِ امن دَخوشحال دَ سترګو وکړه
په خندا خندا چه ځی په خوشحالئ

په دانام دَ ناپوه دیدن اَلم دے  دَ ناپوهو دَ صحبت نتیجه غم دے
چه دانا م دَ نادان سره ګډون کا  دلئے واړه په خپل ځان باندِ ستم دے
بدسړے کهٔ په ظاهر سړے لیدهٔ شی  په باطن کښے نور ځهٔ نهٔ دے مار لړم دے
دَ بدانو په صحبت کښے دین دُنیا ځی  شک په دا خبره مهٔ وکړه قسم دے
دَ ناپوه سره په جشن حاضرمهٔ شے  دَ دانا سره قبول کړه کهٔ ماتم دے
کهٔ بے عقل تریوسف ښائسته روغ وی
دَ خوشحال خټک په پوهه یوصنم دے

په دا قول دَ درست خلقو اتفاق دے  ګله ستاخو یوځو ورځے طمطراق دے
کهٔ دَ رنګ خوبی ئے ستائے بودنے نشته  په جهان کښے کهٔ باقی دے خو اخلاق دے
هسے یار دَ غورے خدائے راکړه په غیر کښے  چه په نونس توګه دَ یه حسن طاق دے
لکه ترے واوبو ته په تلوار دے  خسته هسے دَ خپل یار دَ مخ مشتاق دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت دِ ارزانی وی په شیخانو     ملامت ئے بخره کړے د عشاق دے
چه یو وړه په سړی وتړی بل وا کا     رزق به هر چا ته رسیږی خدائے رزاق دے

کۀ ئے سر له تنه درومی نور به نشی
د خوشحال چه د خپل یار سره میثاق دے

په رور روخۀ خو خبر شوم ستا له مینے     لکه اور لیدلے نۀ لوګے ئے وینے
پردیسی حیران پریشان له خلقه تښتی     دا په تا پسے جوګی شوم کۀ م وینے
چه په تا پسے ژړا کوم د اوښکو     عاقبت به دا ژړا وکړم په وینے
چه هغه ساعت په یاد کړم لولیه شم     چه به تا راته خبرے کړے شیرینے
خوک به تا غوندِ پیدا په جهان نۀ وی     هوسئ سترګے عنبر موئے مخ نسرینے
هغه وخت را ګخه لاړ چه م به کښل کړے     دواړه ستا میګونے شونډے شکرینے
کۀ خامتا وا غوندِ لابنۀ شے تر نورو     کۀ خو رنګے جامے وا غونډے ریښمینے
تۀ م پاس د زړۀ په سر باندِ میشته ئے     نورے واړه یو سر بل سر دل نشینے
ستا په خوئی پورے حیران یم خوئی دِ څۀ دے     په تنا را سره جنګ کړے نازنینے
لکه زۀ په تا مجنون دا هومره نۀ وو     نۀ فرهاد هسے مئین وو په شیرینے
عشق تنها څۀ په لیدۀ د سترګو نۀ دے     لا د خولو په صفت هم کا ینے خوږینے

د خوشحال د زړۀ د خوږے لکه ځراغ ئے
لا به کله رابنکاره شے مه جبینے

په دریاب کښے چه جهاز بیائی ناخدائے دے     چه ساقی ئے دوبوئے هغه خدائے دے
بادشاهی ئے په نصیب او په قسمت وی     چه سایه د چا په سر کاندی همائے دے
خوک چه طمع له چا کا په حقیقت کښے     کۀ بادشاه د درست جهان شی ګدائے دے
درته چاوے چه پرے مۀ پرانیزه غوټه     تا مل د هر سړی ګره کشائے دے
یا د ښو زویو سندرے وی د زووو     یا د تورو په میدان هوئے وهائے دے
د هغۀ د غلطئ اندوه نۀ وی     چه رفیق ئے په سفر کښے رهنمائے دے
وچ لکه تنتر داغ داغ په مینځ کښے هیڅ نۀ     چه نارے د جدائی وهی نائے دے
خوئی خصلت وته ئے هم نظر د کړو دے     کۀ جمال ئے په خوږ رنګه دلربائے دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هزار ژبه ئې ته ستايه بلبله
گل پخپله د خپل حسن خود ستائے دے
که باغونه که راغونه که څه نور څه
چه د زړه پکښے خوشحال شو هغه ځائے دے

په هر ځائے چه قدمونه په خرام ږدی
سل منته په دا مزکه په هر گام ږدی
زړه به چیرے آزادی ورځنے موم
چه دلبره را ته تل د زلفو دام ږدی
که ترنوم او تر رنگ تیر شوم غم نے نشته
عاشق هر کله قدم په ننگ و نام ږدی
نه بهار شته نه ساقی شته نه مینا شته
اوس به څوک خما په لاس د میو جام ږدی
څوک ئې نه پسندی په ما هسے بدنام شوم
د نیکئی نام چه څوک په ما بدنام ږدی
په صحیح سالک هغه دے په دا لار کښے
چه قدم د ترقئ په مقام ږدی
زړه د کښلیو په ښنو سر ږدم که نور خلق
خپل سرونه د پیرانو په اقدام ږدی
ستا د خیال فکر م نه دروی له دله
په زړگوتي م داغونه صبح و شام ږدی
راشه گوره د خوشحال د خاطر وینے
په بیاض باندِ چه هر حرف د کلام ږدی

په ناحق په ما منت کاندی وگړے
ما دا هسے منت نه دے د چا وړے
زړه له ځایه دماغی په جهان راغلم
ما دا هسے دماغ اوس نه دے راوړے
که درست باغ د میو ډک وما ته کښیږدی
تر همت پورے م څه دے یو خسړے
په یوه بیلک ئې نن تر هر چا په کړم
بلبلئې هم دے په صبا راته نومړے
هغه کوم سبق د ناز او د نیاز دے
چه وما ئې په ایځی نه دے راکړے
په خوږه خندا د خضر عمر راکا
په ماڼزی سره م بیا کا لکه مړے
یو څه بند م د غماز په غاړه پریوت
لا تر اوسه گرځوم د غاړے پړے
له اصلی فولاده هاله تیغ رغیږی
په وار وار چه ځنے لاړشی اوسپین غړے
د جهان په وړو وړو نظر وکړه
هره وُنه خپل خپل خوند لری خپل زړے
زړه د یار غمونو درست په زړه زخور کړم
لا م نه دے د زړه حال وچا ته سپړے
د تازیانو په میدان باندِ غوټے وی
کوته هم ور پسے زغلی لبغړے
چه وچا و ته ئې شمار یا ئې بیان کړم
هومره غریو م له فراقه نه دے نغړے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مخ ئې په خپل کور په پالنګ بيامونډ
چه خوشحال وو په طلب ورپسې ستړے

په سينه کښې م اوده مينه پخه جاګی       ځما ستا محبت ګوره کيسی لاګی
ذ رقيب ويناڼې ياده شوه که ځه شوه       سپينه خوله ئې په خندا راوړه پرهاګی
په بازئ بازئ وژلی ګټل نهٔ شی       ځکه ما په مسخرو وژنے بيجاګی

زهٔ خوشحال چه لا له ورايه وربښکاره شوم
په خندائې وے چه آؤ ميرا بيراګی

په دا کلی کښې ډېر کښلی       چونړ چونړ خلق دی وکښلی
ما په دواړو کښې يو يار کړ       نور ئې شمار کړ لکه کښلی
هغه هم هسے بدخوئې دے       چه په زور راسره نښلی
کهٔ دَدهٔ له چارو وايم       راڼې هيڅ نهٔ دی پريښلی
ولے ځهٔ کړم پرے مئين شوم       چه ځهٔ کا واړه بخښلی
خو مئين په هيڅا مهٔ شے       په بلا دی مئين لښلی
ګاه کباب په جدايئ کښې       ګاه په وصل زړهٔ وکښلی
عاشقان دی سينه سوی       له اَندوه سره اَخښلی
په خمار هغه پوهيږی       چه شراب ئې دی نوشلی
په دُنيا کښې به هرچا وی       په ارمان لاسونه مښلی
چه وما وته ئې فاش کړل       ځهٔ رازونه دی پوښلی

دَخوشحال غوندِ په عشق کښې
نشته نور په رنګ زبيښلی

پښتانهٔ په عقل پوهه ځهٔ ناکس دی       کُوته سپی دَ قصابانو دَجوَس دی
بادشاهی ئې دَمغل په زرو بائله       دَمغل دَ منصبونو په هوس دی
اوبن له باره په خپل کور کښې ورغلے       په اولجه دَ اُوبن دَغاړے دَجرس دی
دَ نعرين لائق په نام سرَبنی دی       له اوله کهٔ دا نور ورپسے پس دی
بے ننګان دَبے ننګئ کاروبار کا       ننګيالی دَ ننګ په کار کښے هرنفس دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرنے هورے قندهار بل نے دمغار دے
تر دا مینځ همه میشته واړه عبس دی

په هرکسب کښے چه ئے حبیب الله نے
که له خدا یه له رسوله نه آگاه ئے

په محشر به له تا عدل ایمان غواړی
که په تخت دپا سه ناست دملک بادشاه ئے

نفسه تا داهسے زه مذبذ بین کړم
هم توبه هم گناهونه څه گمراه ئے

نورخوک څه لره بدخواه گنړے نا پوهه
چه پخپله دخپل خوئی دځان بدخواه ئے

زمانه به د بد رنګ کا غره مه شه
که هرڅو په خپل جمال کښلے ترماه ئے

په خاته کښے نے هیچرے ثقل نشته
تل چه کښته پورته کیږی یوه ساه ئے

که په خپل گمان کښے ځان وتاته کوه د ے
وقضا وته په مثل لکه کاه ئے

دخوشحال ویسا په سخت ساعت په تاده
اے چه ته د درمانده و پشت پناه ئے

په داخه که د بنګښ راته په تنګ دے
زه هم بنه یم خما هم برغو ترخنګ دے

عقل زور د غوریه خیل تر بنګښ زیات دے
غوریه خیل را سره هم ولاړ په ننګ دے

د بنګښ نه هومره زور وینم نه توره
دا په کوم توکی له ما سره په جنګ دے

غوریه خیل که په ناکام ورسره زیست کا
په رضا ورته بنګښ نیولے تنګ دے

غوریه خیل او بنګښ دواړه مغلی دی
همیشه ورته مغل وهلے لنګ دے

که زه گورے د ر د آشام ورسره شمارم
خوار هغه چه ئے له ما سره آهنګ دے

هرملغی د سربازئ هنر څه زده
چه په دا هنر کښے سرشندی پتنګ دے

لا ترا وسه ئے ما غزه په قرار نه دی
چاچه ما سره وهلے سر په سنګ دے

د گیندیو په ځیګر کښے نے گولئ دی
که لید لے چا خما د بنکار تفنګ دے

لا په خوب کښے په لرزه پریوزی له کته
چه د چا ترغوږ خما د تورے شرنګ دے

که په دا دورم گورے هغه زه یم
چه م داغ په خاطرا ښے د ا ورنګ دے

درست جهان م ومغل وته خیبر کړ
ځائے په ځائے نے ښستانه وته قلنګ دے

ځنځه لوئے دعوے لرم په زړه کښے
ولے څه کړم چه ښتون واړه بے ننګ دے

خو طالع راسره هسے مدد نه کا
گنړه تیر م ترفریده نه فرهنګ دے

Poha Foundation

A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خوشحال دَ زړهٔ دَ حال ننداره وکړه
کهٔ دَ تخت د پاسه کښینی هم ملنګ دے

تا په دوُو سترګو مکحُولے چه ئے واړوے مَلوُلے
په حیرانو عاشقانو سل بلا وے کړے نزُولے
نهٔ ئے شمار نهٔ ئے حساب شته خلقے دِ کړے مقتُولے
راز م هیچا ښکاره نهٔ کړ څما او ښکے دی یدولے
نهٔ په سریم نهٔ په مال یم نهٔ په ملک یم نهٔ په پوُلے
پوه په نام و ننګ نهٔ یم په فروع په اُصولے
چه دَ عشق الا بلا دی همګی م دی قبولے
لاف م ستا دَ پالنګ وکړ کهٔ رسیږم تر مقبولے
هیڅوک نشته چه پرې پوهٔ شی بے خبرے دی معقولے
چارے واړه په قسمت شی نهٔ په ځلے نهٔ په ځولے
بخت په کور ورکړه خوشحاله
تار په تار زلفے مخټُولے

نهٔ چه هسے حکم نازکړے په وګړی په تاخهٔ دَ چا پوره دَ چا نیمګړی
دَ دریاب سره دریاب وی یو ځو وخته بیا په هر لوری پراته وی اوبو وُړی
چه ئے خوب په پورته لوړے لوړے وړی دَ عقوبانړئ وګوره چه لوړی
لکه تهٔ ئے بیهوده یا وه باد وړے جهان ځو دا هسے یاد لری باد وړی
طمطراق دَ جهان کل واړه عبث دے هوښیارانو وته کم دے ترخسړی
داچه تا وته ژوندی دی ژوندی نهٔ دی دا وما وته ښکاریږی لکه مړی
چه خوږے میوے لری خوشبوئ ګلونه په خپل باغ کښے دِ کښیښنودی هغه زړی
چه آواز سره سرے بندی خانه دے دَ ځاروی علاج په ترکیږی په پړی
جنتی دوزخی پټ نهٔ دی ښکاره دی خپل عمل دی په نوم نوم واړه نومړی
زلزله په جهان کړه شوه خوشحاله
دَ آسمان له شدتونو کنړے رغړی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ هغه لیلیٰ ئے چه دِ تل په بخره ناز دے
زهٔ هغه مجنون یم چه مِ تل درپسے نیاز دے

ماوے خو یو زهٔ یم نن شهره په عاشقئ کښے
لا ترما دَ نور وګړی لا لړے آواز دے

زهٔ ترعشق ځاریږم ترهغو چه عاشقان دی
وایه عشق پکار دے حقیقت دے که مجاز دے

رایشی له کومه ځائے په خو وکا په زړهٔ کښے
هیڅ پرے نهٔ پوهیږم عشق یو څهٔ سوز وګداز دے

هئے دَ خدائے دپاره تفحص رانپسے مهٔ کړه
پلار ته وایهٔ نهٔ شی عشق یو هسے مخفی راز دے

تورے تورے زلفے کبود خال لکه کوتره
راشه که دے ګورے پرے بندی یو څهٔ شهباز دے

سکنړی دَ زړهٔ وُلی چه په شونډو کښے موسیږی
تیغ ئے دَ غمزے داخله لاشهٔ تیرهٔ ساز دے

هرڅوک یو یو بت لری خپل بُت وته سجود کا
بُت دَ خوشحال تهٔ ئے تل ئے تا وته نماز دے

تمامه شپه دَ ژمی په هئے هئے په ما تیریږی
چه تهٔ ځما طبیب ئے رنځ به لاځما زیا تیږی

دا سحر دے که مینه که څهٔ لا بله بلا ده
که هرڅو ئے له دله هیروم نهٔ هیریږی

خپل زړهٔ وته نظر کړم په دا هومره محبت کښے
یو هسے مستسقی شو چه په بحر نهٔ سړیږی

یوسف دَ زمانے دے درست جهان پرےوو شندے
دا یو جهان لا پریږده چه په دوه جهان پیریږی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دُنیا لکه حلوا ده بنهٔ شیرینه مـزه نا که
حریص ئے لکه مچ دئے باندِ غورزی نهٔ مړیږی
چه ننګ کا ننګیالی دی ورته ایښی دی دوه کاره
یا کام دَ ننګ حاصل کا یا دَ دوئ مینه سپیریږی
کهٔ مشک وو کهٔ ګوهر وو همګی لاړل خوشحاله
وځان وته وګوره چه اوس ځهٔ عمر تیریږی

تورے سترګے ستا دی بیا په تورو رنجو کړی
دوه تورے بلا دی پرے م وژنے بابا مړی
وخاندی وما ته شونډے بُوڅے په ناخوال کړی
دا فتنے بنیوے دِ بیا له کومه دی راوړی
زر دِ کهٔ په درمری په هیچا دِ زړهٔ سوے نشی
زړهٔ لرے دَ کاڼړی بیا خپل ځان بولے بنهٔ زړی
هیڅ درنهٔ پوهیږم کهٔ ربنتیا وائے کهٔ پیچے
ما وته دِ خولهٔ ده په خندا خندا نومړی
پټے پروتے بنے دی ځهٔ بردم وهم و چاته
ماځهٔ هومره نهٔ دی ستا فتنے ناسازے وړی
ما وے چه ځما ده موذی یوړه سیاه چشمه
ځهٔ شو کوته نیسی دَ پری هو سئی سترګی
ته په دا خیالونه په بشیوو غمزے موجونو
سیند دَ اباسین شوے چه خوخوبیږئ نغړی
ځهٔ لره خوشحاله تا دَ زړهٔ قیصے بنکاره کړے
ستا دَ ظلم نهٔ دی ما وچا ته قیصے سپړی

ترهرچا نه دَ ربنتینو کار اول دے　　خدائے پخپله دَ ربنتینو سره مل دے
په معنیٰ قلبه روپئ ده مخ نے تور شه　　هر سرے چه په یاری کښے په زړهٔ غل دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بد بويو بد بوئ به پټه نهٔ شي　　کهٔ په سل پَردوئے ونغاړے بصل دے
کهٔ دَ زړهٔ سترگے دِ شته ننداره وُکړه　　دَ جهان په واړوچا روکښے خلل دے
اباسيند وَته نظر کړهٔ ودرېږه　　ستا دَ عمرِ دَ اوبو غوندِ چل چل دے
کهٔ دَ خولے وئيل دِ ښهٔ دي په داخهٔ شي　　چه ښکاره دِ وعالم وته عمل دے
نهٔ به زوړ پرېږدي نهٔ ځوان نهٔ نن زووے　　چه ناڅا په نا تاړُونه کا اجل دے

بدکردار به نيک کردار نهٔ شي خوشحاله
دَ شيطان لښکرو لاندِ کړ قبل دے

تا يارى له ما نه پرېکړه کهٔ پښيمان ـــئے　　بيا راد روم هغه زړهٔ ئے هغه ځان ئے
هميشه خما دَ باغ زرغون طوطا وے　　اوس خبر نهٔ يم طوطا دَ کوم بوستان ئے
زاړهٔ هم کله ځوانان وو وارئے تيرشهٔ　　په زړو پورے خندا مهٔ کړه کهٔ ځوان ئے
يوجهان دا دَ ظاهر بل دَ باطن دے　　راته ووايه دَ کوم يوهٔ جهان ـــئے
کهٔ طامع په سريرپاس کښينئ گدائے دے　　کهٔ وآزو ته دِ شاکړله سلطان ئے
په بل خانئے م پيرزونهٔ ئے دَ يار غمه　　ته خما دَ زړهٔ دَ مات کودى ريحان ـــئے
غم الم به دِ ونهٔ رسي و زړهٔ ته　　کهٔ دَ خپلے ژبے هرکله پاسبان ـــئے

تهٔ جوهر دَ لوئ نهٔ لرے خوشحاله
دَ کم شناختو په بازار هسے ارزان ئے

تاچه دانا سازے چارے دى راکړې　　لا دِ خوا راسره نهٔ ده با با مړې
چه م هسے شان په خوارو سترگو گورے　　ماد دا نا سازے نهٔ دى په چا سپېړې
تهٔ په دا حسن دَ گل غوندِ پيدا ـــئے　　بورے مور کهٔ ښا پيرئ ـــئے راوړې
راته ولئ صبورى درځخه څهٔ شوه　　تا په تورو سترگو نهٔ ده له ما وړې
بيا په کوم توکي دا هسے بے قولي کړے　　تا وما ته سپينه خولهٔ نهٔ ده نومړې
دَ تقوى سپاهيان چه ستا په کوځه تيرشي　　دَ غمزے په تيغ ئے کښينوے په خړې
دَ خوښئ مفرح راعنايت کړه　　تا دَ غم گولئ ډيرے دى ـــ رانغړې
گوره کوم به دِ په بخت په طالع موى　　خلق دى په طلب درپسے سترې
په پلهٔ پلهٔ درپسے خم دَ پريښونهٔ ـــئے　　ځائيگي وينشتلى دروى له بغړې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه مېین شوې درست دَ یار په رضا درومه
اوس که خپله رضا کړې خوشحاله پرې

تورو سترګو دِ په غوږ وړې دي خولې ایښې
په څو تار په تار پریشانې سره تښې

داځما دَ پریشانئ نه څه وائې
که ئې لا نورې اوږدې دي درته بلښې

نندارچي چه ورته ګوري کټ کوټ کیږي
دَ مخ نخښې دِ بلادي ګوښې ګوښې

ترلبانو دِ خجل آبِ حیات دی
په بانړه په سترګو سهم و تیر کښې

چه مېین شي قبلوي مکر دروهونه
په یارئ م قبول کړې که بنګښې

زهٔ خوشحال دِ دَ بدئ نیکئ ګواهي لم
دَ بنائست مخ دِ نښته په خوئ وشي

ته چه دا دماغ لرې
څوک به څهٔ فراغ لرې

توره شپه دِ دواړه زلفې
پکښې مخ څراغ لرې

دا دِ خال دَ دوروخیونهٔ دې
دا دَ زړونو داغ لرې

واړه باغ دې په ګلونو
یو څهٔ کښلې باغ لرې

که ساعت دَ ساعت دا دې
چه په لاس اَیاغ لرې

چه طوطي دِ دې په لاس کښې
څهٔ نظر په زاغ لرې

بیا وِ کوم لوري ته ورک شو
دَ خوشحال سراغ لرې

تر مکې تر مدینې لاړې حاجي
لا دَ نفس له خویه هیڅ نهٔ ئې ناجي

صفائي دَ زړهٔ پکار ده نهٔ دَ ږیرې
څو به ږیره ګرځوې شانه عاجي

صوفي لافې دَ سلوک کا هم دا لافې
سراسر ګنړه دَ دهٔ بې منهاجي

په مُلا توره تیارهٔ شوه چه حق پوش شو
که په لاس ئې فتاوٰی وي سراجي

علم څهٔ دې په معنیٰ کښې ګبینهٔ دې
کاسه هم ورلره بویه خراجي

دا تاراج لکه شیخان کا ندي په مکر
آفریدي نهٔ دي دا هسې تاراجي

دائې سحر دَ بابل دَ مزکې راوړ
چه درست اوبن په ګُت کښې وماندهٔ حاجي

نوربه وساتم خپل رخت په خپل صندوق کښې
په دا ملک ده دَ بنهٔ رخت بې رواجي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ جیحون دے نهٔ سیحون دے لا افزون دے
دَ خبرو دریا بونه مواجی
کهٔ صاحب په لارے پلے، نفر سور ځی
خو هم بیا صاحب صاحب پاجی پاجی
له اوله تر آخره په جهان کښے
دَ سیّد غونډِ ښوک نشته معراجی

زهٔ خوشحال ختک په حب دَ اهل بیتو
خارجی او رافضی کړم اخراجی

تور وربل به ئے وچا وته غوړېږی
په وصال به ئے دَ چا تهتر سرېږی
دَ لبانو له بوسے به ئے بس نهٔ کړم
په خوږو نباتو که ښوک مړېږی
نور به کومه آرزو لری په زړهٔ کښے
چه ئے سترگے کښلی مخ وته غړېږی
عاشقان تر تور وخا ورولاندِ نهٔ مری
په دا سپین ویښتهٔ به څرنگه زړېږی
بیا به تورے بلا لا تورے بلا کا
چه ئے تور رانجهٔ وسترگو ته اوړېږی
دَ بڼو ناوک ئے نهٔ دری تر زغرو
ښوک به هسے ناوکیو ته برېږی
دَ فراق غمژن په مرگ تر ژوندون خوښ دے
چه په غم کښے آه آه سره سرېږی
دَ جهان عمارتونو ته نظر کړه
ځنے نوی نوی شی ځنے نړېږی
ماوے نن دَ زمانے ژبه ور زهٔ یم
یوهٔ کس وته څما ژبه اړېږی

دَ دے باغ گلونه لږ نهٔ دی خوشحاله
تازه تر تر تازه ترو نور غوړېږی

تازی سپے چه په نمړئ موے وړیادے
سپین وسرهٔ باندِ شینهٔ کهٔ په بها دے
په کوته باندِ دا دوارهٔ حبطه دی
چه دِ تش په غولی گرځی هم بلا دے
کهٔ ئے ته هٔ په منت موے وائے مڅخله
کهٔ دَ چا په باغ کښے بوټے دَ کیمیا دے
بخت چه کوږ شی یوهٔ تن نهٔ دے راوړے
چه دَ خدائے باندِ پیرزو دے دَ هر چا دے
دَ آسمان پیرے دایم نهٔ وی یکسانے
کهٔ ئے څرخ دے نن په تا کاندِ په ما دے
یوه ورځ به ئے دا رنگ زیبائی نهٔ وی
راشه گوره چه گل څهٔ رنگه زیبا دے

دَ هر چا یاران دا هسے بے وفا دی
کهٔ خو یار دَ خوشحال هسے بے وفا دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ دِ اوسے په دا شهریاریٔ کښې    کهٔ زهٔ عُمر تیروُم په داخواریٔ کښې
غم دَ یار دَ جفا هیڅ راسره نشته    خدائے دِ مابے پته نهٔ کا په یاریٔ کښې
هغه یار دِ خدائے له هره رنځه ژغوری    زهٔ کهٔ پروت یم همیشه په بیماریٔ کښې
په زاریٔ زاریٔ به ما په ځان مئین کړے    کهٔ ئے مینه زیاتیدله په یاریٔ کښې
لکه باز دَ زړهٔ په وینو آموخته شو    بل به نهٔ وی هسے تُرک په خونخواریٔ کښې
دَ رېبار منت ئے ډیر راباندِ بار دے    چه مِ یار موندهٔ دَدهٔ په رېباریٔ کښې
خدائے په ما باندِ نادان کړ بخت مِ تور دے    کهٔ وینتهٔ ځوی په ډیره هوښیاریٔ کښې

ناقرار دَ خوشحال زړهٔ همیشه بنهٔ دے
یو زمان دِ نهٔ وی بند په قراریٔ کښې

جهان شرم نام و ننګ دے    کهٔ دانئ وی جهان رنګ دے
چه وفا ورځخه نشته    ګل به ځهٔ کړے چه خوشرنګ دے
چه ئے عشق ترسره کړے    نور څوک نشته خو پتنګ دے
دَ بنائست کمے ئے نشته    ولے یار مِ په زړهٔ سنګ دے
ترکنځلو ئے ځار یم    بیا ئے چا سره دا جنګ دے
په بناغلیو جهان ارت    په غوُلیو باندِ تنګ دے
بنهٔ چه راغلے په غیږ کښې    بیا مِ لرے دَ زړهٔ زنګ دے

چه خوشحال پاندِ ناستے کا
دا پوُزے نهٔ دے اورنګ دے

چه په خپل عیب بینا شی    سړے هاله درست دانا شی
نادانی ئے پته نهٔ ده    چه له ځانه ئے تنها شی
دَ بلا اندوه به نهٔ کا    چه له خدائے سره آشنا شی
په دُنیا به دین حاصل کا    چه خبر په لن ترا شی
په جهان باور پیدا کا    چه رښتینے ئے وینا شی
چه غنی په قناعت شو    له هرچا ئے استغنا شی
ابدی ژوندون به خپل کا    چه خوشحال غوندِ فنا شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه توفیق ورکوی رب العالمین دے
له آزاره په ستنه اوس درست دین دے

په هرلورچه غور زوی سرے هوا ده
دَ هوا فرس وهرلوری ته زین دے

څوک چه خوښ نه وی له ځانه هیڅوک نشته
هر سړے خپسرد انا گنړی یقین دے

په بهبود دَ خپلے چارے هرڅوک مت کا
په خپل زړهٔ کښے هرتنک خرخ بالانشین دے

دَ دستار دَ سوری رنګ واړه یکرنګ دے
که دستار په سریا سوریا تور وسپین دے

حبشی کهٔ په ځان نوم دَ کافورکښیږدی
سرتر پا یه وهرچا و ته مبین دے

آزمینت دَ دهر ګوره خوشحال له
چه مَلک دَ شیاطین سره قرین دے

چه خون په غاړه کیږی له دے کاره خځهٔ خوغم دے
یا ران ځما په ګور کښے زهٔ په کور کښے یم ستم دے

چه هومره بنهٔ ځونه په داخاورو کښے په ګور دی
چه دوی له ورد رومم ګور وما وته ارم دے

پیری راغله زبون شوم کهٔ ځهٔ نور ځهٔ علالت شو
چه ځهٔ زهٔ کړم هغه نهٔ شی هغه ملک هغه عالم دے

کهٔ بنهٔ وایم وچا ته هم ئے بدنیسی په زړهٔ کښے
یا بخت دے دَ مغلو یا ځما ځهٔ عقل کم دے

نهٔ بخت دے دَ مغلو نهٔ زهٔ هیڅ په عقل کم یم
دا کل واړه پیری ده چه مِ کار درهم برهم دے

مغلو ته چه ګورم هغه هسے مغل نشته
دَ تورو وارئے تیرشو اوس وریا تو یو قلم دے

پښتون په زرونیسی په فریب په تهیتالونو
په مائے اثر نهٔ شی لا په ما دَ خدائے کرم دے

نهٔ چچ یم نهٔ قارغهٔ یم چه په ګرد مرد ګرځم
یا باز یم یا شاهین یم په خپل ښکار زړهٔ خرم دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ ماغوندِ نورهم وے په دا کاربه ډیرخوشحال وم
چه ماغوندِ ښوک نشته څکه پروت را باندِ غم دے
ایمل خان دریاخان دواړه په بنۀ رنګ تیرشو په ننګ کښې
دَ دواړو په ماتم کښې څما تل آه و ماتم دے

چه تا ګورم حیران شم چه تۀ څۀ رنګه بشرېٔ
زوډلے ئے له حورے کۀ سرے پری پیکرېٔ
دَ ماء طین له میانه ښوک داهسے پیدا نۀ دی
په داحُسن جمال ترمیاشت ونمره لا بهترېٔ
چه شونډوته دِ ګورم تر یاقوتو لا تیرے کا
چه زلفوته دِ ګورم په عنبرو معنبرېٔ
کۀ هرڅو دَ لاله ګلونه بنۀ دی په چمن کښې
په دواړو اننګیو داغ دَ واړو دَ څیګرېٔ
کۀ خوار دی هغه خوار دی چه محروم دِ له دیدار دی
کۀ سخ دے دَ هغو دے چه ئے تۀ نور البصرېٔ
کۀ آه نالش م کړ مُسلمان نۀ یم کافر یم
راواخله تیره تُوره کۀ مشتاق څما دَ سرېٔ
په حُسن په بنا نست کښې دِ ښوک سیال په جهان نشته
کۀ داعیب دِ نۀ وے چه په زړۀ لکه حجرېٔ
زۀ ستاله ډیره غمه همیشه په آه واوه یم
په څو په آسائش بے غمه پروت په خپل بسترېٔ
خوشحال و ته دِ ووے چه بے ما به په څو پائے
په بنو به ژوندے پایم تۀ م خود په حال خبرېٔ

چه دَ پلار په نصیحت نۀ کا ژغرئ — دَ هغۀ څویه دا نه شه په مرئ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پرون ورځې به نن حلاوت نه وي
کله کورې ورځ په ورځ ده کهترۍ

لکه مونږ د با باخویه وو په نغته
اوس په دا دور له چا طمع لرئ

که له پلاره خویه مومي په راڼې درومي
کنږه نکړه زيست روزګار د پسرۍ

نورې واړه سرشتې درهم برهم شوې
خو په ځاڼې ده سرشته د نوکرۍ

داهم هيڅ حق د نمک ته نظرنه کا
په نایافت کښې بهانه غواړي نرۍ

اوس په سينه زيره زرغواړه خوشحاله
که په زړه لرې دعوې د سرورۍ

چه په سب د ابوبکرؓ د عمرؓ دی
که په خوله کلمه لولی هم کافر دی

د هغو په مرګ ثواب ګڼلے بويه
چه بد ګوی د ذي النورين و د حيدر دی

رافضي خارجي دواړه باور اوکړه
نرسګانو ترکوسانو لا بتر دی

ترمهدي پورې يوولس دي يا دولس
چه همه خويه نمسی د پيغمبرؐ دی

همه واړه امامان وو د خپل د دور
همه واړه د دُنيا د دين سرور دی

له اوله ترآخره که ګروهيږی
د بتولؓ اولادم واړه نور بصر دی

چه دوستي ئې د سيّد نه وي په زړه کښې
د هغو سر يوتل خاورې په سر دی

ترهلالؓ او تر بلالؓ نے صدقه شم
لا رانجه م د پله خاورې د بوذرؓ دی

په سروزر وکښې کهې د قدر نشته
صحابیؓ د پيغمبر واړه سره زر دی

زه خوشحال ختک مغه سني مذهب يم
چه ياران را باندِ واړه برابر دی

چه نظر دِ په اغيار هورې دلے وی
څما اوښکے په باړخوولے ولے وی

ته چه هسے بنائسته ئې ګرم خونه يم
که م تل درپسے هسے واويلے وی

چيرې نه چه خه دِ ورسی خاطر ته
که له چا سره م تښے تسلے وی

يو ځل بيا سرتوره مسته را ښکاره شه
چه ګيسو دِ په سپين مخ شملے شملے وی

ته به وائې د ګلاب په ګل شبنم دے
چه بارخو دِ د نماستی په وخت خولے وی

د رقيب له ويرې بل لوری ته ستر ګے
او د زړه م ستا د مخ و ته ښملے وی

په عاشق باندِ د پلار نصيحت اوردے
اوس به چيرې د دے نور خلق په خولے وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له ستر‌ګو ئې غږېږي غم رنګه | جدائي ئې لکه قحط د غلې وي
د ناپوهې خوبا تول مهر په يار شي | د هوښيارې په سر خو تيرې ماملې وي

زه خوشحال به دِ وانه وړم له ديدنه
په دربار کې دِ هرڅو پروتې ګلې وي

چه دانا نه کړې ګردش د زمانې | نور به زده کړې دانش د زمانې
زر پيري لري د ستر‌ګو په خنبل کښې | خبردار شه په روش د زمانې
په يوه زمان دِ شاه بيا دِ ګدائي کا | څه باور په نوازش د زمانې
په خزان کښې د بوستان په ونو راشه | څه وو څه شو بيا پوشش د زمانې
کله مزکه سپيره ډاک کله ګلونه | څه باور په آرائش د زمانې
د سفله غونډې ورکړه رانيول دي | غره مه شه په بخشش د زمانې
د حلوا سره ئې زهر هلاهل دي | که لذت لري خورش د زمانې
پت اميد دِ پلار د خوي سره پرې کا | څوک دِ نه غواړي سازش د زمانې
شاه جهان بادشاه د چا په بند بندي دې | راشه ګوره آزمائش د زمانې
حقيقت ئې سرتر پايه رامعلوم شو | راته مه کړه ستائش د زمانې
زر علته زر فساده زر عيبونه | پيدا کيږي په کاوش د زمانې
چه ئې شاکړه د دُنيا و آسائش ته | هم هغه کا آسائش د زمانې

چه دا هسې ئې کړدې ذره په ياد دي
لا خوشحال لري خواهش د زمانې

چه م زړه پسې مينښ مينښ شي | صبر و هوش پسې ليښ ليښ شي
د هغو شونډو شربت به | يا نصيب چه کله چيښ شي
په پرهار م ظلم کيږي | چه توبري څنې وکيښ شي
په خزان کښې نورې وَنې | توان لري چه سرو سريښ شي

زه ئې ناسته په پالنګ يم
که خوشحال له خوبه ويښ شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه یوه م ده نیولے
په رښتیا م ده نیولے

لکه یو یو مرد نے نیسی
هم هغه م ده نیولے

خوک دِ هیڅ ملامت نهٔ کا
عجب ښه م ده نیولے

اوس به نهٔ دړومی له مانه
چه له زړهٔ م ده نیولے

په هیڅ رنگ به پرینبوه نشی
چه ترے پښه م ده نیولے

گوندِوی را باندِ راشی
سر پړه م ده نیولے

کهٔ نے نهٔ وینم په سترگو
بنا نسته م ده نیولے

گوندِ سمه شی عالمه
کهٔ کږه م ده نیولے

دَ خوږ وهیله خوشحال کړم
چه ترخه م ده نیولے

چه نے هسے لایعقل لاړم په شومی
دا پیاله دَ چا له لاسه ده څهٔ نومی

خدایه څهٔ دِ یو باد وړے زړگے راکړ
چه همیش دَ عشق دَ با د په څکښے دړومی

په دا هم لا رقیبان کا په ما رخه
چه م زړهٔ دَ یار په یاد و راحت مومی

ما لا حرف نهٔ وو له یاره بدل کړے
دَ سحر خروس دِ وویشت شی په کومی

بیلتانهٔ څما په قصد چاړهٔ تیره کړه
دَ قصاب دلسوزی نهٔ شی په ورغومی

واړه دُوک م دَ آشنا دَ بیلتانهٔ دے
په دروغه سر ترم بهانه د دومی

چه نے بے له دهٔ بل خیال نشته په زړهٔ کښے
دَ خوشحال دلبره کومه ده څهٔ نومی

چه دَ عشق په کرانه لار کښے ډیر خطر دے
هر قدم چه پکښے اخلم ډار دَ سر دے

کهٔ سینه م سره چاک کړے و به وینے
چه م ستا له غمه وینے درست ځیگر دے

ستا دَ مهرباران نهٔ اوری چه شین شی
ما په زړهٔ کرلے ستا دَ مینے کر دے

ستا په راز به ژبه هم نهٔ کړم خبره
تل تر ژبے رسیدلے راز سهر دے

زهٔ له عشقه خبر نهٔ یم چه عشق څهٔ دے
هو مره آدرم چه له حسنه نے اثر دے

چه نے عشق تر سره کړے هغه کم دے
په دا کار کښے لاف وهلے یوهٔ هر دے

صبر مهٔ غواړه له ما دَ عشق په کار کښے
جو دا نه صبر په ما باندِ لوئے غر دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشقي لا زۀ تۀ نۀ ووچه پيدا وه — نۀ چه ما وتا کړ کړے دا هُنر دے
خوځما طالع بنۀ نۀ دے يارجفا کا — کنږه کوم يو په وفا ترما بهتر دے
دَ عشق غم له خلقه پټ لره خوشحاله
څۀ نے پټ کړم چه جهان ځنے خبر دے

چه پيدا شوه جدائی — کشکے نۀ وے آشنائی
دَ بلبلے بخره نول دَه — دَ ګل بخره زيبائی
تا چه شان دَ ليلیٰ واخست — کۀ مجنون شم سرا بنائی
دَ ليلیٰ دپاره سر شو — خوار مجنون په ګدائی
چه عاشق شو قبلوی دِ — پيغورو نه رسوائی
ستا په درد دهان وهلے — درته ناست يم دوائی
کۀ پَل بل لوری ته واخلم — تۀ م بولـه هر جائی
چه به زه بے تا نه پايم — بے جيجی لويت پائی
چه نے وُليدے په ستر ګو
خوشحال ځکه تا ستائی

چه نے درے څيزه حاصل وی — دَ هغۀ خوبنی به تل وی
اول خپل صورت ښاغلے — بيائے بنۀ صورت واصل وی
غه دريم وايم چه کوم دے — دَ دُنيا دولت نے خپل وی
چه په دا کښے نے يو نۀ وی — پريشانی به نے په دِل وی
چه نے يو وی په دا درے کښے — غم به تل باندِ نازل وی
هرچه درے واړه نے نشته — کۀ چا مړ کړو دے دِ تل وی
دَ خوشحال وئيل معقول دی
پرے به خوبن شی چه عاقل وی

چه بندی دَيار دَ زلفو په کمند دے — بهانه نے دَ خلاصئ دغه بند دے
سر م يار وته پيشکش کړ لا شرميږم — دَ نادارو عذر پټ نۀ دے ښرګند دے
نۀ شکرے دی نۀ قند دے نۀ نبات دی — دَ شهئ دَ شونډو لا کوبنے بلخوند دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



څۀ صفت دَ هغې حسن په غزل کړم
چه په نولس بابه کل شکل پسند دے

څۀ به غم دَ مال وملک دَ دین ودل کړم
چه لا ستا له غمه روغ کړځم انند دے

یوۀ زړۀ لره یوه آشنائی بس ده
نور به ډیرے یارئ نۀ کوم سوګند دے

په خپل زړۀ به مې داهسې شندے نۀ کړے
کله هم دَ عاشقئ کار پسند دے

دَ خوشحال خټک دِ ستا په سر سوګند وی
کۀ ئے بے له تا په نور څۀ زړۀ خورسند دے

چو هرے دَ خپلے خونے په بوئ خوش وی
ولے بوئ ئے په چمیار باندِ آتش وی

نور وګړے دَ چمیار له خونے تښتی
په چمیار دَ خپلے خونے بوئ دلکش وی

هسے رنګه دَ هر چارے تفاوت دے
یو تر بل پورے مطعون او مشوش وی

دَ دهقان فهم په یاله یا په یوم دے
دَ سپاهی نظر په توره په تیرکش وی

چه دلبره دلربا ده هغه تۀ ئے
چه خودرا په خود ستا ده هغه تۀ ئے

چه دَ کبر دَ فتنو دَ خرخشو ئے
په همه عالم غوغا ده هغه تۀ ئے

چه مشتاق دِ دَ خندا ئے هغه زۀ یم
چه دِ تل وما ترشا ده هغه تۀ ئے

په جهان کۀ بنائسته وو بے حسابه
چه په وار و دِ خندا ده هغه تۀ ئے

دَ پسرلی ګلونه څۀ دی چه ئے ستایم
تر ګلونو چه زیبا ده هغه تۀ ئے

ستا په مخ مې په څراغ نشته وتنه
چه دَ تورے شپے رڼا ده هغه تۀ ئے

خپل عاشق سره وعده نۀ کړے ترسره
چه په عهد بے وفا ده هغه تۀ ئے

کۀ هر څو دی دَ خوشحال معشوقے ډیرے
چه ورتیره تر هر چا ده هغه تۀ ئے

چه ایرو غوندِ ئے پروت په دربار نۀ وی
دَ هغو به وآسمان وته لار نۀ وی

عندلیب چه په ګل رائشی نارے کا
وائی دا چه یوه ورځ به ګلزار نۀ وی

دَ زړۀ چاک مې به په هیځ سره ورنۀ شی
خو ګنډلے ستا دَ زلفو په تار نۀ وی

ستا دَ زلفو نوم به نور په خوله وانخلم
دَ هوښیار پا نړو تور مار سره کار نۀ وی

ترهندوے مشه کم دَ یار په پت کښے
چه ئے هیڅ له بله اوره نهار نۀ وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ماهر زمان اختر دې چه يار وينم — بې اختره به حال شم چه يار نه وي
په کوم ځلئ م به مرهم کښېږدې طبيبه — چه د يار د غشي نښه پرهار نه وي
په هغه د عاشقئ نوم حرام دې — چه په يار پسې درست صورت خوار نه وي

هيڅ ما نه ده له ياره مه کوه خوشحاله
د دنيا ساعت به تل په قرار نه وي

چه په زلفو عنبرسا ده هغه ته ئې — چه په شونډو شکرخا ده هغه ته ئې
چه نازکئ دې اندام د ګل ترپاڼې — په قد ښه ترعرعر لا ده هغه ته ئې
که هر خوشي په جهان محبوب ديږي — چه خوشرنګه ترهرچا ده هغه ته ئې
له عذابه له وباله د ترس نه شي — چه په دا دور ترسا ده هغه ته ئې
چه اثر م د ژړا ورباندې نه شي — چه په زړه حجرآسا ده هغه ته ئې
چه تمامه شپه د خوب په ما حرام کړي — چه د ستر سحر بلا ده هغه ته ئې

چه له مينې ستا په سر لوري خوشحال دې
چه د ده د سرقضا ده هغه ته ئې

چه ئې عمر د خارو په سره تيروي — زيست روزګار د هغوهم په هغه خيروي
چه شيطان غونډي رانده شي څوک ئې څه کا — که هرڅو ورځنه علم هنر ډير وي
ځوانان واړه برابر نه دي په وزن — ځينې من ځينې نيم من ځينې نيم سير وي
که په زړه ئې بانديې پراته دي زر غونه — چه م يار په نظر کښېوزي واړه هير وي
د شکرو ترحلوا به ئې لا ښه خورم — که د يار له لاسه زهر ياګنډير وي
د ښه مخ په ننداره به لګه روغ ځم — که په تن م پرهار ونه د شمشير وي
هر عاشق د عاشقئ ته هوس نه کا — د عشق لاف د هغه ځوان کاندې چه شير وي
دريغه بيا راسره زرغاړه غړئ شوې — چه فليل په زلفو پورې د اجمير وي

د خوشحال ختک خو کښلي مخ بکار دې
که د سوات که د پکلئ که د بنير وي

چه په زړه ئې ستا د غم غشي سيده شي — قرارې به ئې له دله رميده شي
هميشه به ئې سرا پيښې په زنګون وي — په فکرت به ستا د زلفو خميده شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري ستر ګې تورې روڼې سره زيب کا
په تهتر باندې نې خط د ويښتو نهٔ دې
ستا خوبي ځما په پوهه ډېر تيرې کا
په بنړو باندې م ښې په احتياط بړده
ځان و زړهٔ م هغه لوروته پرواز کا
زهٔ په دا سبب په دوو سترګو مئين يم
له قسمته زياتې مهٔ غواړه ناپوهه
لاس په لاس نې ګرځوي هنر آموزې

بيا په تيره چه وسمه پرې کشيده شي
دائې سورې دخړې دې چه ليده شي
د يوسف خوبي کهٔ ډېره اوريده شي
چيرې نهٔ چه م بانړهٔ پرې خليده شي
هغه ځائې چه بنه دلبره شنيده شي
چه څهره د بنو يا رانو پرې ليده شي
وهرچا ته خپله برخه رسيده شي
چه بښکاره د هنرمندې کشيده شي

په ژړا به م ونهٔ غلوې خوشحالـه
کهٔ د سرې وينې روانې ترديږ شي

چه بنيرې وماته وکړې ژوندوې م
داچه وائې راته خير ګوره چه مورې شې
غمازانو اغزي توئې د غمازۍ کړل
ماخپل زړهٔ وته وئيل چه اې بدخويه
وې نې عمر م په دا بدخوئي تيرشو
کهٔ م سر په عشق کښې دروي هم دلاړ شي
کهٔ د زهرو پياله راکړې هم به وايم
چه ګلې په مخ را ښې ګنکس خورې
کشکې زهٔ دربانديې نهٔ وې مئين شوې

چه م ياد کړې په کنځلو نهالوې م
کهٔ تمام عمر د ګورم مړوې م
چه د دوئ په وينا غوږ کړې پرېځګوې م
ځهٔ په هرصورت مئين شې سوړ ځوې م
ځهٔ دااوس راته وئيل کړې اړوې م
خپل وژلي راته شمارې ويروې م
خدائې د خير وتا در کا ژوندوې م
يو ترشا نظر ونهٔ کړې ځوروې م
تا نادانې مينه نهٔ زده پخوې م

ماخوشحال ځخه په ذات دورنګي نشته
د زړهٔ حال م درمعلوم دې ويوې م

چه دروې په انګنړ کښې درست انګنړ سره يو ګل شي
د منبکو بوئ راپاسي چه د تار په تار کا ګل شي

چه سترګې کړې ورپورته په نرګس شي بلاسازه
چه زلفې کړې نمودې حبطه واړه سنبل شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ملا دَ وېښتهٔ فرق به دِ هېڅ يو سره ونهٔ کا
کهٔ واړه دانايان م په دا فکر تأمل شي

عالم وائي وما ته له ښځهٔ مخه صبر وکړه
حيران يم له ښځهٔ مخه په څو صبر و تحمل شي

دَ خوشحال خاطرې هسې څنې يوړه تورو سترګو
لکه صيد دَ شاهينو ترمښوکو ترمنګل شي

چابه راکړه په پالنګ داهسې کښېنلے — کهٔ م نهٔ وے په ازل په قسمت کښېنلے
شيخ دَ حورو صفت کا زهٔ دَ دلبرو — داځما هغه دَ دهٔ دعوے پرېښېنلے
عاشقان ئې صد هزار دي په هر لوري — سرګشته حيران پرېشان ګونه زبيښېنلے
په دربارې سنا سي شه ورته کښېنه — تار په تار دَ سرو ښتهٔ ايرے مښېنلے
کهٔ څو دَ خلقو جونه ښائسته دي — مايوه ده غوره چونړ پکښې وکښېنلے
لا به کله نندارهٔ دَ هغه مخ کړم — چه م کړه دَ خاطر ده پسے ښېنلے
دَ هغې پيالے مستي لرم په سر کښې — چه پرون م دَ ساقي له لاسه څښېنلے
نهٔ دَ مښکو پتهېدنه نهٔ دَ عشق شته — په ازل ئې نهٔ دي دا پردے پوښېنلے

چه م تل دَ مخ ثنا وائې خوشحاله
په صله م سپينه خولهٔ درته بخښېنلے

چه ګلرنګه معشوقه لري په کور کښې — دَ صحرا سيل دِ وسيزي په اور کښې
په هجران کښې م ژړا هغه خندا شوه — چه م يار سره خنداوه په بيور کښې
لکه لوند خرخوړے تاؤ کړے نم ئې نهٔ وي — بيلتانهٔ هسې نچوړ کړم په خپل زور کښې
دَ عشق شور دِ دَ عاشق له دله نهٔ ځي — په جهان ئې فيروزي ده په دا شور کښې
په هر ځائې چه دَ رندانو مجالس وي — ترقيامته به يا دېږم په څلور کښې
شور و شر به دَ رانجا په جهان نهٔ وو — کهٔ دَ هير صورت پيدا نهٔ وې په شور کښې
کهٔ خبر دَ درخانئ له مخه نهٔ وے — آدم خان به څنې څهٔ غوښتل په کور کښې
پښتنې جونه دِ زلفې باد ته نيسي — چه شمال ئې بوئي راوړي په رنتهبور کښې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَعاشق لہ نام وننکہ سرہ څۀ دی    څۀ م غم کۀ آشنا مومہ پہ پیغور کښې
دَخوشحال دَ زړۀ مِ بنہ نندارہ وکړہ
سمندر غوندِ بازی کا پہ بل اور کښې

چہ لہ ورایہ راخرګندہ مستہ شا شی    دَجمال ئې پہ خورنګہ تماشا شی
چہ پلو پہ مخکښې وُنیسی ما بنام کا    چہ پلو لہ مخہ لرې کا صبا شی
دَجمال خوبی ئې زیاتہ دہ ترنمرہ    چہ دیدن وتہ ئې غټ کوری پہ چا شی
تریانۀ پورې ئې کوږہ شی کوترہ    تروئیل پورې کونګ کویا طوطا شی
حبشی زلفې ئې پاس پہ سینہ ځانګی    یمانی بار خوئې ګل غوندِ نما شی
مرګ مِ سل ځلہ قبول بیلتون دِ نۀ وی    دُدې هسې یار بیلتون ترمرګ بلا شی
پہ مانړی ئې مُردہ شو یو کرہ عید وی    پہ خندائې جوهری کرہ ژړا شی
تورې خاورې دَ رقیب پہ سر کا تو ئې    چہ کیلہ لہ مینځہ وُباسی پخولا شی
چہ پہ نۀ لیدو ئې نۀ ومرې خوشحالہ
ځکہ هسې دَ جهان بلا پہ تا شی

چہ محنت پہ ځان قبول کا نو راحت شی    چہ عارف دَ مصیبت شی عافیت شی
کۀ فلک ئې دَ مزری پہ خولہ کښې ورکا    خدائې دِ نۀ کا چہ عارف پکښې غارت شی
لکہ باد کلہ ئې مخ کلہ ئې شا دہ    بیهودہ غرور دَ هرچا پہ دولت شی
یو لالہ پہ غوړیدۀ بل رژیدۀ کا    شګفتن دَ باغ دَ ګلو پہ نوبت شی
دَ یوۀ مانړئې شی سر دَ بل نړیږی    پہ جهان کښې نوې نوې عمارت شی
واویلا ژړا نارہ سارۀ آهو نہ    خوهم دا پہ ورځ وشپہ پہ هر ساعت شی
داهمہ چارې دَ دۀ دی چہ راکیږی    یوہ خدایہ کور دِ وُران دَ محبت شی
هغہ شان لکہ پہ تور وواوس پہ سپین دې
دَ خوشحال مجاز بہ کلہ حقیقت شی

چہ راغلې پہ حیلہ دې    عقل ځکہ عقیلہ دې
کۀ مثال ئې لہ ما غواړې    عشق مزرې عقل نیلہ دې
آشنائی ئې دَ جمال دہ    چہ مئین پہ جمیلہ دې

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروانه پرے پرپرے کا     اور خو بل په فتیله دے
خوار مجنون دَعشق په کار کښې     سپک په قام په قبیله دے
هم خالق ته هم مخلوق ته     واړه کار په وسیله دے
دَ خبرے په میدان کښې
نن خوشحال ختک قیله دے

چه بښکاره په آرائش کښې شګفته شي     صلوات ئے په جمال بانډِ ګفته شي
آشفته کاندي روزګار دَ پرهیزګارو     چه ئې زلفې په عذار و آشفته شي
چه ئې نۀ وینم زړۀ هسې ځلبلا ند شم     لکه ګل له عندلیبه نهفته شي
چه دَ غوږو وُدرے نۀ وینم په سترګو     دُر ګوهر م په هرهر بانړۀ سُفته شي
دَ وصال په وخت هم خوب دَ عاشق نۀ وي     تروبه وخته په هجران په خوخفته شي
بښۀ خو دا چه ئې برقع په مخ پرته ده     او که نۀ پرے به وګړے آلفته شي
زړۀ م وائي چه ورتلے په درئے ایل کړے     په هرځائے چه بښه محبوبه شنفته شي
وخوشحال ته دَ دے باغ غنچه بښکاره وه
چه به دا رنګه ګلونه شګفته شي

چه ادب لري سړے سړے هالهٔ شي     بے ادب سړے سړے کله بالهٔ شي
خۀ پتو نئے په شمار په حساب نۀ دي     که په چا دَ آشنا یئ پت پالهٔ شي
چه همت دَ سړي خو قدر ئے هومره     دَ تمیز په تله هرسړے تالهٔ شي
دولت مند سړے هغه بللے بویه     چه له سینده ئے جدا دَچا والهٔ شي
هرسړے چه دولتمند شي که داناوي     په هرکار کښې دِ نظر په خپل کالهٔ شي
که دَ تورے کار دَ ځوان دے یا دَ نور خۀ     مصلحت دے دَ هغۀ چه په زالهٔ شي
دولت مند دِ په هُنر په علم مینے کا     که هرخو بښا نُسته مخ وي بیا پسالهٔ شي
ځوک دُنیا وته مریونه دي خوشحاله
شاه ځلمو وته دَ لوبو چنغالهٔ شي

چه راندهٔ وته آسمان ښیئے یا ستوری     وایه روند به ئے په کومو سترګو ګوری
رنړا ورځ په بښا پیرک بانډِ تورتم شوه     روښنائي دَ نمر ښکاریږي په هرلوری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که خښتن ورته زور دل کا یا کنځل کا
مرئیه هم په زړه کښې دي خښتن زوري

بیا به شنے په پانړو نه شی وُچے وُنے
که باران د بشکال په شیبو زوري

زور قوت د هر چا سم برابر نه دے
خوک له ځایه زور زور و شو له ځوکه کمزوري

راشه نن دِ د نخاس ننداره وکړه
یو کالے به بها پیری پل نے پیوري

چا د سر د پاسه سُور مندیل تړلے
څنګه هسے خو رحیږن کوزی سر توري

د چا حکم د چالاس ورباندِ نشته
په خپل بخت په خپل قسمت یو یوزی غوري

په تلوار په اضطراب چه صبر نه کا
د خوشحال خاطر سیماب شو سر بسوري

چه م خپل منځین نیولے تر آغوش دے
د جهان هوس م وارد فراموش دے

ساقی زه څه هوښیار نه یم باده راکړه
لیونتوب د لیونیو پرده پوش دے

چه پرون ئے اهانت د میخور وکړه
نن هغه د میو ډک سبو په دوش دے

ساقی ترس د محتسب د دُرے نشته
چه بابا ئے د مجلس سره مینوش دے

هدایه وقایه څه لولے و ماته
چه څُما د نائے وني په آواز ګوش دے

دا ګلګون شراب د کومے میخانے دی
چه صوفی ئے په جرعه سره مدهوش دے

د بهار په وخت به څه له میو اوړم
چه سرود د معنې په نوشا نوش دے

بیا به دا ګلونه نه وی میخوری کړه
د بلبلو په آواز کښے دا سروش دے

ډیر د باد سواره په خیال تر ما تیریږی
همیشه په دا بازار کښے پوشا پوش دے

چه په ډیر ارمان د یار له مخه بیل شو
د خوشحال په بخره هر کله خروش دے

چه لرے په خپله خونه کښے خوشخوئ
د جنت هوا به هم کړے د دے شوئ

دین دُنیا ئے دواړه کښیوتل په لاس کښے
چه په کور کښے ده خوشخویه م خوش روئ

د بلبلو غوغا تل په هغه ګل وی
چه صفت ئے شی له رنګه هم له بوئ

زه د لے له غمه مرم چه جدا کیږے
په شانه سره د شاه د زلفو موئ

چرته ویر چرته سندرے په جهان کښے
که ئے ګورے دهر نه دے بے هلئے هوئ

ګلدستے دِ د بهار را لره راوړے
پیکه بنه راغلے په وخت د یار له سوئ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنت کښې پراته چیرې چرته دروغ
چه خوشحال شړی عالم د یار له کوئ

چه په آن وآن په مزکه په آسمان دے  پۀ غمونو په بناد یو کښې انسان دے
دا یوه خمخه د ځان وینے بلا شوے  چه سړی سره ئے غم په هر زمان دے
د نامرد د مرد په دا تفاوت وُشو  په نامرد شرم آسان دے په مرد گران دے
مست هاتیان خونی مزری تورے وکښلے  کۀ د سر ویره دِ نشی کار آسان دے
کشکے تۀ په دا دُنیا همیشه پاتے  په احتیاط احتیاط کښې ډیر خلق طوفان دے
کۀ د ځان کۀ د ایمان بدخواه م ډیر کی  ما په خدائے با ندِ سپارلے ځان ایمان دے
ننګیالی چه د اخلاص توره په لاس کا  ډیر لښکرئے ترهمت پورے کاروان دے
له اوله تر آخره خو روزګار شته  چه عالم باندِ غوغا کا داجهان دے

په بنادئ سره شریک دی اولسونه
غم یوازے د خوشحال خټک د ځان دے

چه وربل دِ په سپین مخ آشفته کیږی  په ما بنام کښې رنړا ورځ نهفته کیږی
کۀ د مخ بنائست ئے دا دے چه لیدۀ شی  لا به ما غوندِ پرے ډیر آلُفته کیږی
په بنړوئے او ښکے نۀ دی آویزا ندِ  همګی دُر وګوهر دی سُفته کیږی
یوئے رنګ یوئے نکهت یوئے وی پانړے  په دا باغ کښې عجب ګل شګفته کیږی
په ژړا م به پوهیږے خوب ونۀ کا  هغه څوک چه په ګیسوئے خفته کیږی

د خوشحال د خولے خبرے خوشے نۀ دی
دا همه د یوۀ حاله ګفته کیږی

چه مور پلار ځنے آزار شی هغه عاق دے  د عاق څو یه ځائے دوزخ په اتفاق دے
هغه مور و پلار به خلاص نۀ وی له غمه  چه فرزند ځنې زوولے بد اخلاق دے
هغه څو یه به آخر په خوارئ خوار شی  چه بنکاره ئے د خپل پلار سرۀ نفاق دے
د اورنګ بادشاه په دور رسم دا شو  چه هر څو یه د خپل پلار د سر مشتاق دے
نن هغه قطب آفاق ګنړی خپل خپسر  چه ګواه ئے د عاف والی درست آفاق دے
ناخلف څو یه په ګور خلف دِ غواړی  هر پدر چه د پسر په اشتیاق دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځما همه ګله ده دَ تهتوا نو
رائے وبنسیه چه کوم پکښې تفچاق دے
دَ تهتوُو نه همه تهتوګی زیږی
کهٔ ایفرنے دَ عرب یا دَ عراق دے
دَ هغهٔ اسلام اسلام نهٔ دے خوشحاله
چه بهتر ورځنے ګبر په میثاق دے

چه دَ خولے وئیل ئے نور دَ زړهٔ ئے نور وی
دَ هغهٔ به مخ په دواړه لوریه تور وی
دَ ناپوهه سره راضی نهٔ یم په باغ کښې
دَ دانا سره قبول لرم کهٔ اور وی
کهٔ په لاس کښے ئے ډک جام کښیږدے دَ خهٔ سود دے
دَ هغهٔ چه له ازله جام نسکور وی
نالائق ځوئ دِ خدائے دَ چا لوئے نهٔ کا
چه په ځان دَ دهٔ له ځویه پلار او مور وی
یو لائق ځوئ دَ پلار کره لوئے بنهٔ دے
نالائق په خهٔ شماره کهٔ دَ ړخلور وی
بنهٔ لائق ځویه مور پلار په نیکئ یاد کا
نالائق دَ پلار آزار دَ مور پیغور وی
دَ غوولی ځویه شور وی په خپل کور کښې
دَ بناغلی په جهان کښې شرو شور وی
کهٔ هر څو دَ سړی ډیر ځویه پیدا شی
بیا په واړو کښې خو یو ځویه انځور وی
هغه ځویه خو په کور بنهٔ دے خوشحاله
چه بهرام غوند یوازے دَ خپل کور وی

چه دا هسے سحر کړے ستړګے ستا دی
په ناحقه دَ تقوٰی لافے ځما دی
پښتنے جونه م ولیدے په ستړګو
څوک چه تُرکے دَ ختا ستائی خطا دی
بنا پیرئ کهٔ هر څو ستائی وکړے
ستا تر حسنه تر جمال په شمار دَ چا دی
تا چه وُوینی مئین در باندِ نهٔ شی
هغه زړونه غونډی کا نړی دَ بیدیا دی
واعظان چه یادوی دَ جنت حُورے
ما په دا ستړګو لیدلی په دُنیا دی
یا به ستا زلفینے وُنیسم په لاس کښې
یا به سر در باندِ بایلم دوه وینا دی
دَ ناموس خبرے مهٔ کوه خوشحال ته
عاشقان له نام و ننګه بے پروا دی

چه م کړے هر آشام دے
کهٔ په خولهٔ کهٔ په اندام دے
اوس له هغهٔ واړو توبه ګار یم
په اخلاص م دا کلام دے
ته کرم را باندِ وکړه
ستا کرم په هر چا عام دے

پوهه POHA

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دوه سترګو م منلی — چه د شرعے هر احکام دے
واړه امر م قبول دے — ترے توبه چه نهی ئے نام دے
استقلال د توبے راکړه — د شیطان د بلا دام دے
ماسا ته د دۀ له شره — نفس م مدعی خودکام دے
په توبه کښے ثبات راکړه — لکه حکم د اسلام دے
په خپل لاف به هیڅ او نۀ کړم — کۀ زۀ لاف کړم لاف خام دے
چه توفیق له تا نۀ وی — د زاهد زهد حرام دے
په هغه لارے م بیا یه — چه پرے ایښے نبیؑ گام دے
نور به څۀ کړم ډیر خواست نه — دا یو ما لره تمام دے

چه ثابت ولاړ په دین دے
د خوشحال باندِ سلام دے

چه په زړۀ ئے ګرځوے وړے وړے — یوه ورځ م به له دره وُ شړے
چه په تا پورے ئے زړۀ نۀ وی تړلے — په هغۀ پورے زړۀ څۀ لره تړے
کړم د ژمی سا زړۀ ډیر وی قبلوه ئے — مړے ایرے د نغری څۀ لره لړے
چه خیر خیر ئے مخ ته کورم نۀ مریږم — دا خما سترګے به کله شی مړے
ستا خوږے شونډے نبات دی رقیب مچ دے — بنه خو دا چه ئے له شونډو وُ شړے
خوځوانان دِ په خپل ځان دی کښینولی — لا به څو در باندِ کښینوے زړے

یاره تۀ چه له اغیار سره خندا کړے
د خوشحال په لړمانۀ دروی چړے

چه د بخت د تالو سپین دی تور به نۀ شی
چه شیرین دی له ازله شور به نۀ شی

هرچه غوږ د محبت لری په زړۀ کښے
کۀ پرے زر کالونه تیر شی سپور به نۀ شی

د دے نورو بازارونو خوریدل شته
یو بازار د محبت دے خور به نۀ شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوچه وُزیری له موره چه بد ذات وی
په روزئ ئے غلط مه شه روربه نهٔ شی

چه له یاره سره کښینم رقیبان م
تل په بد نظر کاتهٔ کاکوربه نهٔ شی

څوک چه زور سره ښکاره کا و زیاتیږی
کهٔ په خپله بوسه را کا زور به نهٔ شی

هسے نه چه زور م نشته زرهٔ دِ کوردم
نهٔ ښخپله مهر وکړه زور به نهٔ شی

وهر چا وته رسیږی خپله برخه
چهٔ پلے په ازل کړ سور به نهٔ شی

لاس په لاس سودا بهتره تر هرڅهٔ ده
مسافر په لار ولاړ یم پور به نهٔ شی

کهٔ هزار ځله حکمت هنر تدبیر کا
د خوشحال په باب چه شوی نور به نهٔ شی

چه په حُسن په بنائست دی زوروړے | د هغو وائی بدلے یا سندرے
رغیدهٔ ئے ستا د خولے په دلاسه دی | د رنځورو دارو نهٔ دی له تالرے
ماچه ستا د خوږو شونډو لذت بیاموند | نهٔ م شهد په غرض دی نهٔ شکرے
عقل خپل فوځونه تاربه تارخوارهٔ کا | چه پرے راشی د عشق خونی لښکرے
د بنړو په تیرے بیا سره پاش پاش کا | کهٔ خپل زرهٔ وته پوښم د صبر زغرے
تریانهٔ دِ د خطا آهو خجل شی | چه په شین شین یُون کړے بشیوه کړے
یونظر په درست صورت علامت وُکا | په مثال لکه بخرے وُچے سوے
ترخورهٔ خندا دِ ځار شم راته خانده | چه پریوان کړے په ما لعل د ملغلرے

چه څوک بے عشقه څهٔ وائی با ور وکړه
لکه باد دی په خوشحال هسے خبرے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ خپل عقل وئیل کا هغه کله خرد مند دے
چه پوښتنه مصلحت کا هغه هم دَ عقل بند دے

چه م فهم فکر وکړه په دا خپله دانایئ کښے
بل نادان را ښکاره نهٔ شوکهٔ نادان دَ خود پسند دے

تر مشرقه تر مغربه چا دا هومره جهان وغوښت
عقل عِلم هم دا هسے په جهان کښے چند درچند دے

ګړ شه دُ غواړه باغونه په هزار رنګه میوے خوره
راشه راشه راته وایه سم دَ واړو لذت خوند دے

لعل الماس دی په جهان کښے دُر مرجان شته مشکر دے
واړه هیڅ پوشیده نهٔ دی دَ هرچا قدر څرګند دے

هر سړے چه محنت نهٔ کا هغه کله راحت مومی
راشه راشه رنځ قبول کړه کهٔ ته ګنج غواړے ښهٔ پند دے

کهٔ ته غواړے له آسمانه جبرئیل شے په دا خځ شی
خوف رجا راوړه اے جانه کار دَ تورے یا دَ شغوند دے

څوک چه حکم ریاست کا سیاست دِ کا په شرعه
اوس لا بلکه خلق بد شو په توره عمل هم سند دے

ډیر په ښهٔ ښهٔ څویه راوړی دا ننګ پلاره خلور میاندے
نن په واړه پښتانهٔ کښے یو خوشحال لائق فرزند دے

چه اُمید په دا ایام لی
دا اُمید ئے ناتمام لی

عافیت غوښتل له دهره
دَ صبا هیله له شام لی

کل اُمید خامے تکیئے دی
څوک به څهٔ تکیه په خام لی

په سراب دَ تږی خوئ دے
دَ اوبو ګواهی مدام لی

زهٔ له غمه مخ جا ربا سم
دے را وړاندِ شی سلام لی

په هیبت دِ ناست وخیز کا
چه مزری څخه مقام لی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غه خون په خپله غاړه
چه یم په ځائے آرام لی
دَ خوشحال بلا هغه شو
چه سوګند دَ دهٔ په نام لی

چه په خوام په خاطر نهٔ وے لیدلے
فلک ډیرے ننداره را وُبنئیلے
وار په وارم واړه وُلیدهٔ اغیار وو
چه همیش ئے دَ یارئ لافے وهلے
په بخشش ئے ترناحقه غلطی کړے
وار په وار به جهان واخلی واړه خپلے
چه خبر له ځانه نهٔ وو ما خبر کړل
له هغوم خو خبرے واوُریدلے
نهٔ هغه شته نهٔ په خولهٔ کښے هغه غاښ شته
چه به ما په اننګیو وُچیچلے
چه په خولهٔ م کښلوُل پړے نازید لم
دَ هغو دَ خولے م واوُریدے کنځلے
چه ئے نن وُکړے په چا کانده په تاشی
ویړیانهٔ دی چارے واړه ګړ په تلے
چه همیش به په تسلیم راته ولاړ وو
دَ هغو م خوناسازے دی زغملے
دَجهان ګلونه واړه بے وفا دی
بیهوده وربانده مینے کا بلبلے
کشکے زهٔ یو خر غوخکے وے سړے نهٔ وے
هومره چارے سړیتوب راونمائلے
دوه رفیق دی دَ یوهٔ په وئیل ژغ کړم
دا دویم را بانده غرپ وهی چه غلے
نهٔ دَ دین نهٔ دَ دُنیا دی ځنے نورے
دَ یا غی دا یل په مینځ کښے وبلبلے
چه اوربشے کړی کله غنم وُشی
پته نهٔ ده څهٔ کړے هغه اَخلے
یوئے تولهٔ په محنت کا بل ئے یوسی
راشه ګوره چا اولجه کړه چا ساتلے

یا دارو دَ لیونتوب اوکړه خوشحاله
یا ناحق دروغ خلقه سره ملے

چائے راز دَ خولے تحقیق نهٔ ګ موندلے
کهٔ صفت ئے واړه خلقو ګ وئیلے
په چشمانو کښے ئے سحر دَ بابل دے
په ملال ملال کاته کښنے مالیدلے
یو نظر ئے راته وُکړ نور په تلهٔ شوه
څما زړهٔ وړی دَ بنړو په تار پیئلے
وچمن لره چه دروم تللے نهٔ شم
دَ مخ باغ ئے ترلمنے یم نیولے
په هرلوری کښلی ډیر دَ خلق وائی
څوک دِ یو راته بنکاره کا هسے کښلے
چه ومرګ وته م مینه ستا غمزه کا
خدائے دِ ستا له لاسه روغ کا څما خلے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجلب نیولے تل باندِ سور لمے کا    زړهٔ مې پټ مړنے سورے د خال دِ پلے
چا به بے دَ عشق له کاره بل کار نهٔ کړ
دَ خوشحال دَخولے وئیل کهٔ چا منلے

چه سړے ترعقل تیر شی مختبط شی    زیست روزگار دَ مختبط سره غلط شی
دَحرص دریاب ترشرقه دے ترغربه    حریصان پکښے غوټے خوری لکه بط شی
نن څما بیړئ لاهوشوه په دریاب کښے    لا به کله دا لاهو بیړئ په شط شی
دتهِ دردے جامے قدر قیمت ډیروی    دَ اَغوستے سرو پائے قدر وسط شی
غابښ وتلی ږیره سپینه آزمیښت دَے    لا څما وعاشقئ وته نمط شی
جا ودانه خوښی داده په جهان کښے    چه دَ زړهٔ دَ عشق په کار کښے منبسط شی
بښائسته یاران مِ هسے ملک ته لاړل    چه نهٔ ځائے دَ پیغامونو نهٔ خط شی
دَخپل یار و تیغ ته سر کښیږدهٔ خوشحاله
دَ قلم خوبي هاله کنړه چه قط شی

چه دَ لویو کتابونو دانشمند وی    دَ ملکو کتابونو په کار بند وی
چه خرمائے دَ بلوټ نهٔ وی خوړلی    وهغو ته پېټوے خرما خوند وی
چه دَ هند په شکر قند و خبر نهٔ وی    وهغو ته ګنا خړے شکر قند وی
دَ اټک په مناره به نظر نهٔ کا    چه هغهٔ ته دَ ډهلی ملک څرګند وی
هرسړے دَ خپل وطن ثنا صفت کا    دَ هر چا تر فهم کښلے خپل فرزند وی
دَ ناپوهه سړي دَ پند سره کار نشته    ماچه ولیده دانا محتاج دَ پند وی
زهٔ خوشحال ئے دَ دانش په سترګو وینم
دَ هر چا چه بده پوهه غلط سند وی

چه ئے مخ ترګل زیبا دَیار څما دے    چه په مخ ئے عندلیب شوم کار څما دے
چه ئے تش په کوڅه تیر شوم لیونے شوم    کهٔ ئے ووینم په سترګو زار څما دے
کهٔ واعظ مِ دَ بنهٔ مخ له مینے نیسی    کهٔ مِ لاس ورباندِ برشی پلار څما دے
بے له کښلیه زیبا مخه کهٔ ګلزار دے    چه هرګل وته نظر کړم خار څما دے
چه هرلوری وته دروم مِ په غم آوړم    تهٔ به وائے غم یک لخته ښکار څما دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه به په ما وار دَ رقیب نهٔ وو — بیا له خپله بخته خوښ شوم وار څما دے
دَ خپل یار سره دوزخ څما قبول دے — کهٔ بے یاره جنت موم نار څما دے
بُت پرست کله دَ بُت له مینے آوړی — زهٔ کهٔ مینه دَ یار پریږدم عار څما دے
زهٔ خوشحال چه دَ منصور په مذهب خوښ یم
اوس څهٔ غم چه زهٔ دَ دار یم دار څما دے

چه دَ خلقو نیکخواهی لری په زړهٔ کښے — مُبارک شه بادشاهی لری په زړهٔ کښے
چه ئے غوږ دَ دانشمند په نصیحت وی — څهٔ عجبه آګاهی لری په زړهٔ کښے
دَ ناصح په نصیحت به اصلاح نهٔ شی — هر سړے چه تباهی لری په زړهٔ کښے
دَ مردانو په علاج به ورتلے نهٔ شی — کهٔ دَ سعی کوتاهی لری په زړهٔ کښے
مختورن دَ دواړو کونو نهٔ دے څهٔ دے — چه هرچا سره سیاهی لری په زړهٔ کښے
نیک بختان به اندیښنه کانده دَ نیکو — ګمراهان به مناهی لری په زړهٔ کښے
په هغه هُنر کښے تینګ اوسه خوشحاله
هر هُنر چه سپاهی لری په زړهٔ کښے

چه ئے تل کښینبوے په سر دَ خیال دړیځ — تور ویښتهٔ شو دَ هغے سپینے وریځ
دَ روانو او بوکار دَ عمر یو دے — بیا به ورځ و شپے رانهٔ شی دَ نړیځ
محبت بے خدایه واړه کهٔ ئے ګورے — دَ دریاب په مخ دَ خلیو پُل تړیځ
تهٔ په دا حسن جمال چه درته ګورم — نهٔ پوهیږم بنا پیرئ ئے کهٔ سړیځ
بے مدد دَ باده نهٔ رسم مراد ته — کهٔ هرڅو روانوم دَ زړهٔ بیړیځ
ستا دَ زلفو له بنا ماره ویره نهٔ کا — چه ترخولهٔ ئے ستا دَ مینے شی جړیځ
دَ خوشحال زړهٔ په تقویٰ کښے لکه غرو و
ستا په مینه یکباره شو دَ وړیځ

څوچه مینه دَ دُنیا پریوزی په زړهٔ کښے — هومره غم شدت بلا پریوزی په زړهٔ کښے
څوک له ځا یه پاکیزه ځنے ناپاک دی — دَ ناپاکو به په دا پریوزی په زړهٔ کښے
په یوه بنیښنه کښے شاش دَ قارورے دی — او دَ بلے بښهٔ صهبا پریوزی په زړهٔ کښے
چه څهٔ وینی چه څهٔ آوری چه څهٔ وائی — دَ سړی هغه هوا پریوزی په زړهٔ کښے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څۀ نۀ وينې نۀ آورې نۀ څۀ وائې — وايه کومه تمنّا پرېوزي په زړۀ کښې
نيک و بد په خپل قسمت وئي له چا نۀ وي — په ناحق کينه له چا پرېوزي په زړۀ کښې
نۀ په پندځې نۀ په بندځې نۀ په نور څۀ — چې مزه دَ ناروا پرېوزي په زړۀ کښې
چې صحبت دِ له چا کيږي هسې تۀ شې — هم هغه خويونه ستا پرېوزي په زړۀ کښې
دَ بلبل محبت يو دے کۀ بلبل وې — چې دَ ګل ئے هر صبا پرېوزي په زړۀ کښې
نا آشنا عالم دَ چا په فکر ګرځي — انديښنه خو دَ آشنا پرېوزي په زړۀ کښې
دَ بهار په وخت دا درد وي دَ دردمنو — چې ئے سير دَ صحرا پرېوزي په زړۀ کښې

دَ خوشحال غوندِ به بيل شي له عالمه
دَ هر چا چه دا سودا پرېوزي په زړۀ کښې

ښوک په لورې دَ کعبه ځي په هے هے — ښوک دوارے لره چليږي په جے جے
دوارۀ توکه په معنیٰ په حقيقت کښې — په هر لوري غورزوي وارۀ دے دے
عاشقان ئے سل هزار يوۀ معشوقه — په هر لوري ورپسے دي · په پے پے
ښوک په کور دننه ناست ورسرۀ کيل کا — ښوک هميش ورپسے ګرځي په لے لے
ميخانه يوه هزار پکښې خمونه — دَ مستانو ئے نعرے دي چه ے ے
کۀ هما ئے دے کۀ ګجيرۀ ے کۀ ګرګس دے — دَ هر چا ئے خپل خپل شان دے دَ خپل فے فے
هر ښوک وصل دَ خپل اصل پسے غواړي — چې نارے دَ جدائۍ وهي نے نے

زۀ خوشحال چه دَ وحدت په ميو مست شوم
وايم دا چه کاؤس کله کے کے ؟

څما مرګ هغه زمان دے چه رښتيا دَ يار هجران شي
کۀ هجران له منځه ووزي نور به هر مشکل آسان شي

زۀ به ځان جهان شندمه په آشنا پسے به ځمه
پرے به پاسه قدم بږدمه کۀ دشت نه بيابان شي

تا زړۀ ورکړ يوۀ هر نه يوۀ هر يوۀ بشر نه
لکه اوبۀ دَ جوئې له سره هورې ځي چه بيل روان شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو خدنګ ئے وویشتمه وائی بل به دِ هم وُلم
ورته پروت سرِم نیولے چیرے نه په دا پښیمان شی

ما د شاه د خولے سودا کړه په کرورونوئے بها کړه
خوله ئے لنډه د هرچا کړه مګر دا په شاهجهان شی

له یو هسےِم روزګار دے چه که یار کله اغیار دے
په همه کاره هوښیار دے خو په ما باندِ نادان شی

د خوشحال خاطر سوخته دے ستا په جور آموخته دے
درد و غم ئے اندوخته دے هم دا درد ئے بے درمان شی

څما مینه یاره چه نن ناست څما په کټ ئے
موندلےِم په بخت ئے که موندےِم په مټ ئے

آرام شته د زړهٔ کام شته د چمن لاله غوړیږی
په دور د شرابو ساقی وے هسے لټ ئے

نهٔ دین لرم نهٔ دل لرِم نهٔ صبر شته نهٔ عقل
په دواړو سترګو وروځو تالا کړونے د دست درهټ ئے

چه مخ و ته دِ ګورم لکه نمر هسے ځلیږے
قربان دِ تو جمال شم په معنیٰ تر نمره غټ ئے

چه ته راغلے نهٔ وے یو کنګال د زمانے وُم
بادشاه د درست جهان یم چه له ما سره لټ پټ ئے

پیرے به په ګلزار کړے کهٔ بلبله د ګلزار سے ئے
ګندګئی لره به دروے کهٔ په اصل تورګونګټ ئے

دوه درے ځایه څهٔ دی چه ئے ته په ځګښے نیسے
په زر پردو کښے کښینه بیا وما ته په چپټ ئے

په خوب په بیداری کښے همیشه په فکر ستا دے
اورنګ وته خیبر دے وخوشحال وته کوهټ ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځما ځویه دَ ننګ نهٔ دی نور تیار دی ‌‌‌‌ پرے پوهیږم چه همه واړه مردار دی
نهٔ ئے لو یه اندیښنه نهٔ ئے لوئے کارشته ‌‌‌‌ دَ مغلو وطباخ وته تیار دی
دَ منصب دَ اضافو خبرے کا ندی ‌‌‌‌ په عزت په حرمت کله خبردار دی
اتفاق یکا نګی ئے سره نشته ‌‌‌‌ همګی روان په بیله بیله لار دی
یو ځو ګند قابل هرګز په دوئ کښے نشته ‌‌‌‌ کهٔ و دیر شو ته نزدے ځما په شمار دی
په الکیش الکیش ئے ستړے کړم ښکار نهٔ کا ‌‌‌‌ دَ کوټه سپئ کوکری پکښے سه چار دی
یو ځو دی پکښے هر ګوره ناپکار دی ‌‌‌‌ دا نور ځویه م لا لږ او ډیر پکار دی
نهٔ دَ نوم دی نهٔ دَ شرم نهٔ دَ ننګ دی ‌‌‌‌ اندیښنے ئے دَ ناکس دَ ناسردار دی
نهٔ له پلاره نه پیدا دی نهٔ له موره ‌‌‌‌ خو صندوق بچے ئے دواړه مورو پلار دی
چه به تلل دَ نا قابل سړی دَ وړا ندِ ‌‌‌‌ خو دا هسے بیرقونه نګونسار دی

شکایت له نورو مهٔ کوه خوشحاله
چه خپل ځو یه هم په ننګ له تا ویزار دی

خلقے واړه دَ شاه دَ خولے په غم دی ‌‌‌‌ چه دَ شاه هے خوله ئے کښل کړه هغه کم دی
چه دَ شاه دَ زلفو خیال لری په زړهٔ کښے ‌‌‌‌ هغه تل په زړهٔ پریشان په صورت خم دی
کهٔ په زړهٔ با ندِ ئے زرداغونه جوړ شی ‌‌‌‌ چه دَ یار له داغه آه کا هغه کرم دی
عشق یو څهٔ عظیم بادشاه دے کهٔ ئے ګورے ‌‌‌‌ چه ګدائے له سلطانه محتشم دی
تهٔ دَ عشق سورو ته سهل نظر مهٔ کړه ‌‌‌‌ چه بے زرو بے لښکرو لکه جم دی
دا دَ عشق دَ ګدایانو هسے چار ده ‌‌‌‌ چه دَ فقر په جامه کښے محترم دی
دَ چند نړ دَ وُنے څکه بوئ روان شو ‌‌‌‌ هر چه وِلے ئے دَ عشق په اوبو نم دی
چه له عشقه خبر نهٔ شو لخدائے ئے وا خله ‌‌‌‌ کهٔ ظاهر صورت بادشاه دَ کل عالم دی
دَ آتش لمبه کړ و لره پیدا ده ‌‌‌‌ په هغو دَ آتش څهٔ غرض چه سم دی

چه په زړهٔ رحم لرے دا رو طلب کړه
دَ خوشحال وئیل دَ خوږو زړو مرهم دی

خلق فراغت کا زهٔ تل ستا په غم نیولے ‌‌‌‌ څهٔ بده بلا وے زړهٔ ما نهٔ وُ پیژندلے
له کبره ډیره خیاله به څهٔ سم وائی وچا ته ‌‌‌‌ دَ کلی دَ محلت سره چه زیست کا نا نمنځلے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کوره نه به پاسی رنګینه جامے اغوستے
د حشر په ساعت به هم څرګند وي تا وړلے

چه سترګے په رنجو کړے برنډ کښیږے خوږ زلفے
چه غټ به درته ګوري یو یو مرد بویه بللے

هرګز به آوریدلی د لیدلو مخي نۀ کړم
خوبي د یوسف آورم ستا جمال مے د لیدلے

په ورځ د جدایئ څوک څۀ مۀ وائی و ما ته
مرده وته هم کله نصیحت دے چا وئیلے

کۀ پس له مرګه زړۀ د خوشحال وګورے په کور کښے
هرګز به د بنۀ مخ محبت نۀ وي ځنے تللے

خلق نا دیده دی په خبرو پسے زغلی
څار تر عارفانو چه په حال دی پوهیدلی

دوه او یا مذهبه پکښے هوموړ قال و قیله
واړه سر هوا په خپل مطلب پسے دی تللی

ډیر دی کتابونه مشتمل په دیرش حرفونه
کل واړه کۀ ګورے له الفه دی زوولی

سل بهی سل بسیبه چه ئے ما په یو ځائے کړے
سل به بلل نۀ شی سره یو دی مالیدلی

واړه نور د نمر دے هم د نه هم د با ند
هر چرته دا نور دے په هر بنهر په هر کلی

زۀ خوشحال خټک یم د رندانو په مذهب کښے
نور وئیل م نۀ زده مختصر دی ما وئیلی

خولۀ دِ غنچه ګل ده تور ګیسو د سنبل پانړے
پښے دِ دی د زرکے سپینه خولۀ دِ ده د زانړے

شونډے دِ ژوندون بخښی په سترګو کړے خونونه
ژبه دِ شکرے دی د ننه په نړۀ کانړے

مهر دِ له دله لکه مو له مخه ورک شو
رائیشه نا ترسے لور د ترک کۀ د پټانړے

هیڅ پرے نۀ پوهیږم دا دِ زنه کۀ منړه ده
خال دِ دے په زنے کۀ دانه ده د ممانړے

تۀ په پالنګ پریوزے زۀ حیران په فکر لاړشم
پنډ دے د ګلو نوکۀ داتۀ پته په پانړے

زۀ هغه خوشحال یم چه دِ راز لرم ساتلی
ولے هسے وائے چه تا عشق نۀ زده ناجانړے

Poha Foundation

A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندنی هسې لړبړ ګرځي برسېرې — برابر په تورو وریښي سرتیرې
یو مرغۀ په سرو به سپینو قیمت مومي — بل هزار حیله به توره پیسه پیرې
په غوټه کښې تپوس کله لکه باز دے — که ئې خلق د منګلو ښښتن شمیرې
مرغۀ لیوۀ حمله به ښکرور کا — د نامرد یا به ورغومي یا به لیرې
دا دوه خیزه پټوه به څۀ به پټ شي — د نامردو نامردي د ښځو نمیرې
آوښتولره پخته کوتر باڼدۀ دے — د باز یو هُنر هیڅ نۀ ده کتمیرې

په جاهل خلق کښې ورک شو چه عاقل دے
یو یو بیت به د خوشحال پیرې په زیرې

خسته زړۀ مې چه مې نګار هوړ هوړ وي — هر بلبل مې چه بهار هوړے هوړے وي
زړۀ ئې څکه د زلفینو به ارمان مرم — هر څوک وائي چه ګنج مار هوړ هوړ وي
که ته یار غواړے ورځه رقیبان کوړ — د ګلا بو ګل چه خار هوړے هوړے وي
د ښادۍ خوان ئې نورو وته کښیښ — غم ئې واړه چه داخوار هوړ هوړے وي
په هیڅ رنګ ئې آوښته ورځنې نشي — لیوے ئې منصور چه دار هوړے هوړ وي
تپوسئ به په مردارے باندِ ګرزي — د هنده شهند چه ښکار هوړ هوړے وي

نۀ په باغ وي نۀ په راغ نۀ په بل لوري
د خوشحال خاطر چه یار هوړ هوړے وي

خټکي له خټکي نه خوند آخلي — همسایه د ګاونډي نه پند آخلي
څۀ به غم د صغیره ګناه هغه کا — چه په غاړه کبیره څرګند آخلي
هوښیاران د نیکخواهانو ویل نغوږي — ناپوهان د بدخواهانو نه سند آخلي
د مظلوم آهونه کا نړي د غرۀ سیزي — ظالمان به آزارونه چند آخلي
د هغۀ لاسونه مۀ سیزے په اور کښې — چه له ښښو د بند یا نو پند آخلي
که په زړۀ کښې ډیر غبار د غلیم پروت وي — پرے خوروه چه غبارونه شغوند آخلي

خوشحال خپلو خوږو شونډو وته پریږده
چه طوطا خوږه مزه د قند آخلي

خوږے شونډے دِ شکرے نۀ دي څۀ دي — کښلي غابن دِ مرغلرے نۀ دي څۀ دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بے له تاچه راته نور مخونه ستائی
دا وماوته خبرې نهٔ دی ښهٔ دی

چه تسخیر په تورو سترګو کا دَ زړونو
سیه چشمے سحرګرے نهٔ دی ښهٔ دی

چه دَ زلفو په زنځیرے مزری بندکړل
هوسئ سترګے زوروړنهٔ دی ښهٔ دی

چه دَ باغ سروے پستے تر قامت دی
پښتنے په قامت سترے نهٔ دی ښهٔ دی

ولے نورے مینے لرے کړه له دِله
ستا دَ مخ په دور لرے نهٔ دی ښهٔ دی

چه لاشنے دَ خوشحال په زړهٔ خوخیږی
سرے لبنتئ سرے بمبرے نهٔ دی ښهٔ دی

خبر ورځنه نهٔ وُم په ښهٔ خیال راغله پیری
په لوړو په ژورو دم درحال راغله پیری

دَ سترګو په جوهروم په سی کښے رابنکاره شوه
په مشکو په کوهروم په کال راغله پیری

تر مرګ ښهٔ کمه نهٔ ده ملے بنه نداره وکړه
په زوراو په قوت په ملک ومال راغله پیری

په زړهٔ چه راپه یاد شی دَ ځوانئ تلاشونه
دَ واړو تلاشونو پائمال راغله پیری

دَ مخ ده کهٔ دَ تن ده کهٔ دَ لاسو کهٔ دَ پښو ده
دَ کل واړه خوبیو په زوال راغله پیری

اقبال په مثال ګل دے تن په مثل لکه بوټے
په تن باندِ چه راغله په اقبال راغله پیری

وردرومه آئینے په یوهٔ کنج دَ مزکے پریوزه!
دَ ښکلیو په جمال په خط و خال راغله پیری

چه جونه وته ګوری خجالت ورځی پخپله
په عشق او محبت کښے انفعال راغله پیری

نهٔ ښکارشته نهٔ ګذارشته اوس دِجوړ سلامت کرځی
دَ تورو دَ غرهٔ بزونه په خوشحال راغله پیری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوا ړه شونډې دِ خوږې شکرپارې دی　　دَ ګلا بو ګل دِ دواړه رخسارې دی
دَ هغهٔ خونی څهٔ باک دَ چا له مرګه　　چه په تیغ ئې روغې شوې مناره دی
چه دِ لاف دَ سپینې خولې کا هغه سرخوږی　　په دربار دِ دَ سرونو انبارې دی
دَ خپل یار کره دِ ګل نشته له باغه　　دَ اغیار کره پراته په پشتارې دی
دَ دردمنو له آزاره ویره وکړه　　ورځ و شپه ئې ستا په ورباندِ نارې دی
شیخ ته هٔ راته دَ پند خبرې وائې　　چه مِ غوږ ورباندِ نهٔ دې څه شمارې دی
په دا اور کښې دِ ځما لمن وُنهٔ سوه　　په هرلوری رسیدلی شرارې دی

حریفان ډکې پیالې اخلی له ورایه
دَ خوشحال ختک په بخره نندارې دی

دَ ځوانئ په خوبئ کښې څهٔ شک دے　　دَ پیرئ عمر درست له عیبه ډک دے
پرهار ونه مِ په زړهٔ تازه تازه شی　　دُوړوله په پرهار باندِ نمک دے
کهٔ ښادی درباندِ راشی پرځوبن مشه　　په ښادئ پورې هرکله غم لک دے
هیڅ فریاد دَ چا دَ ظلم جور مهٔ کړه　　په هرچا باندِ چه شندے کا فلک دے
غم ئې بے حکمته نهٔ دې پیدا کړے　　دَ نامرد دَ مرد په مینځ کښې غم محک دے
خوچه ډیر ډیر لذتونه ډیر غمونه　　ښهٔ هغه چه بس ئې کیږې تر کنډک دے
توره چا وته ترم چه زهٔ ملنګ یم　　ښهٔ خوداچه مِ په غاړه یوکوتک دے

تفحص کهٔ څوک دَ خپو و زړونو کا ندی
دَ خپل قوم له لاسه ورک خوشحال ختک دے

دَ عطار خونی عطاو وَته اظهار دے　　کهٔ جلاد ئې دَ خطا دَ ملک تاتار دے
خدایه ته مِ په ښهٔ مخ باندِ مئین کړه　　دَ عاشق دَ عاشقئ سره څهٔ کار دے
څوک ئې هومره مینه کښیږ دې په ګوګل کښې　　عندلیب چه په ګلونو مینه دار دے
نهٔ لیلیٰ زده نهٔ مجنون زده په دا مینځ کښې　　یو نازک لطیف رموز باریک اسرار دې
دَ هرڅهٔ رموز موندهٔ شی په جهان کښې　　چه نظیرې موندهٔ نهٔ شی ځما یار دے
عقل صبر دل و دین لاړ شهٔ په عشق کښې　　خورا پاتې یو ژوندون شهٔ په دا لار دے
دَ دې ښهر دلبر واړه زړونه سم خوری　　پَل به نهٔ ږدی په دالوری چه هوښیار دې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساقی زهٔ دَ جرعې نوشو غوندِ نهٔ یم
کهٔ دِ نهٔ وینم په سترګو ستا په یاد م
چه سنبل ئے دَ زلفینو نمودار شی
تا هرګز دَ چا دَ زړهٔ دَ لاسانهٔ ښه دهٔ
مګر ستا دَ زلفو لوسے ئے وُکاږی
دَ سُونډک مُونډک سیلئ آخری کیږی

پکے پکے پیالے راکړه څما وار دے
شګفته تازه دَ عمر لاله زار دے
هغه ځائے دَ تورو مشکو څهٔ مقدار دے
چه په تا باندِ مښین شول تالے زار دے
چه م مات دَ بیلتانهٔ په زړهٔ کښے خار دے
په بلبلو خبر وُکړه بیا بهار دے

په وصال کښے ئے بادشاه دَ زمانے وو
چه له کښلیو نه جدا شو خوشحال خوار دے

دا یم له تا لاړم کهٔ په ناسته م ملال ئے
لاړم ستا له دره ستا په یاد و به مشغول یم
زهٔ غریب نامراد یم څهٔ وما وته ګوا نسیږ
هیڅ ګناه م نشته چه م وژنے یام وُوئے
خدائے خو خبردار دے چه له تا به ئے دریغ نکړم

کبرلوئی مهٔ کړه کهٔ هر خوصاحب جمال ئے
لاړم له ما نهٔ ځی دا چه ته په زړهٔ نهال ئے
قهر کړه هغو ته چه دِ سیال ګڼیلے سیال ئے
وارهٔ دِ مستی ده تهٔ تړلے په وبال ئے
لږ وه دیر مشتاق څما دَ سر کهٔ یادمال ئے

تل جور ستم کړه هغه نهٔ یم چه زړهٔ بد کړم
سل جور و جفا کړه بیا لیمهٔ دَ خوار خوشحال ئے

دَ دُنیا خانی میری په زور او زر شی
وعاشق ته نصیحت په مثال څهٔ دے
کار څما او دَ مجنون سره یو رنګ دے
چه په دا رئے آبدست کړو په خپلو وینو
څو به راز دَ زړهٔ پنهان لرم له خلقو
په هر باد پسے پریشان پریشان جارو وزام
خوار خاطر م چه مقیم شو ستا په در کښے
کله کله چه په مهر بوسه راکړے
چه په غولی ئے نظر وکړم له ورایه
زهٔ به هیڅکله وانهٔ وړم ستاله کُویه

عاشقی په نور څهٔ نشی په خپل سر شی
لکه اور چه په پوکلو تازه تر شی
لکه دوه لرګی په اور کښے سر په سر شی
کوم سړے به دَ منصور تر ځایه ور شی
عاقبت به لوئے هلک ځنے خبر شی
کهٔ په بوئ م ستا دَ زلفو سوړ تهړ شی
کله وی چه ستاله دره در په در شی
ستا تر خولهٔ دِ صدقه شهد و شکر شی
خار و خس ئے راته ګل دَ پیغمبر شی
کور او کلے کهٔ همه راته لښکر شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ هرڅو سرې وینښتهٔ چوی په پوهه    چه قضا وربانږِ راشی کور وکر شی
دَ یارغم له خلقه پټ لره په زړهٔ کښې    کهٔ لاله غوندِ دِ وینے درست څیګر شی

چه ئے ورُوځے ورښکاره کړے خلقو بویه
چه خوشحال ئے دَ کشتئ قلندر شی

دریاب څهٔ دَ جالے دپاره نهٔ ځی کهٔ څوک وائی
په خپله رضا دروړمی جاله هم ورسره بیائی

په غرونو واورے اوری بارانونه    په ملکونو
له هیڅا خبر نهٔ دی چه په مونږه هم څوک پائی

په دولس برجه ګرځی نمر پوره په دولس میاشتے
په دا خبردار نهٔ دے چه صیفی دے کهٔ شتائی

په درست جهان کښے ګرځی باد حیران په څلور کُنجه
په هر لوری چه ګرځی ناخبر چه څهٔ پیمائی

میوه غلے ګلونه څنے رنګ رنګ نعمتونه
له مزکے پیدا کیږی مزکه پروته ګل ولائی

څلور واړه عنصره چاکران دی اے خوشحاله
چاکر هغه خدمت کا چه صاحب بانږِ فرمائی

د دانا په حال نادان کله خبر دے    چه په خپله نادانئ کښے اوتر دے
دلیچن په سترګو وځلیدهٔ ستوری    وعالم ته ئے ناره وکړه چه نمر دے
دا داغونه مِ چه ایښی په څیګر دی    خو هم مازده چه مِ پوخ څنے څیګر دے
کهٔ څوک خپلے سترګے وساتی غم نشته    چه په زړهٔ تندر پریباسی خپل نظر دے
خدلئے دِ هیڅوک په دُنیا کښے عاشق نهٔ کا    عاشقی په خپل صورت بانږِ لښکر دے
لیونے زړهٔ مِ پرون په خندا لاهو    راشه ګوره چه نن بیا په ژړا سر دے

چه دَ فکر مرجونړا له بحره وکیښ
راشه ګوره دَ خوشحال کلام ګوهر دے

دَ چا به څهٔ لره مانړه له بله شی    نیک وبده په عمل موندله شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرچه وګړی هغه به ریبي
له خپله لاسه هره کړله شي

دا خود نما یه محبوبه ګوره
چه کله ګل شي کله بلبله شي

کله غوغا کا په خرابات کښې
کله د ذکر په حلقه داخله شي

لون لون ښیوې ئې ډیرې دي
اول به کومه یوه وئیله شي

نور و خوښیو و ته به شا کړې
که د یار د مینې خوښي دِ خپله شي

شمع چه ژبه په راز او ږده کړه
ځکه ئې هسې کله وهله شي

چه زاهدان ئې په زُهد مومي
د عاشقانو په آه ګټله شي

جفا ئې واړه په وفا حساب کړه
د یار جفا په وفا نیوله شي

که اور د رنګی چاته مهٔ وایه
چه اور رابل د سینهٔ مِ سوځله شي

خوشحاله فهم کړه مجلس د عامو دے
د منصور پیاله به په منصورٔ نوشله شي

دا نهٔ زهد پارسایئ دی چه کیږی
په هرلوری رسوایئ دی چه کیږی

نصیحت د دا نایانو لکه باد شو
د وګړی خودرایئ دی چه کیږی

هرنا پوهٔ په خپله پوهه افلاطون شو
خهٔ نا بوده دانایئ دی چه کیږی

نهٔ ئې برنهٔ برکت نهٔ فکر ذکر
د شیخانو تنهایئ دی چه کیږی

مخ بدرنګ زر وګوهر زیور پرے پورے
خهٔ بے ځایه زیبایئ دی چه کیږی

نهٔ ئے داد نهٔ ئې دهش نهٔ ننګ نهٔ شرم
دا د خلق کدخدایئ دی چه کیږی

د ښتینې مینې بوئ نشته خوشحاله
د دروغو آشنایئ دی چه کیږی

د دنی دُنیا دا هسې قرار داد دے
چه ګیهې ئې رانیول کله ئې داد دے

عاقبت به د دُنیا په غم غمژن شي
هغه زړهٔ چه د دُنیا په بنادئ بناد دے

دو وشش نارے وهي دوه خال ئې پریوز
دا دُنیا په مثال نرد سرے نراد دے

له دُنیا نه هیچا کام موندلے نهٔ دے
که شیرین وه که خسرو وو که فرهاد دے

د دُنیا مثال که وګورے عاقله
په حساب لکه اوبهٔ یا لکه باد دے

نهٔ اوبهٔ په یوهٔ ځائے کښې قرارے کا
نهٔ د باد په یوهٔ ځلئے باندِ استاد دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبتلا ئې همېشه په زړهٔ محزون دے    طلبګارئې هر زمان په بلا یاد دے

تر وفا ئې دَ جفا خوبونه ډېر دی
ځکه هسې دَ خوشحال ځنې فریاد دے

دَ عاشق په زړهٔ دِبانديِ بار دَ یار روی    خدائې دِ نهٔ کا چه به لاندِ تر بل بار وی

یو ځل بیا سر توره مسته را ښکاره شوې    چه ئې زلفې آویزاندِ په رُخسار وی

ستا په نهٔ دیدن ئې شمار نهٔ ئې حساب شته    اندیښنې په زړهٔ آړاندِ صد هزار وی

چه تا اُوینم تازه غزل اِنشا کړم    پرې بلبلې فریاد کاندی چه ګلزار وی

په درست ملک کښې چه څوک لاڼې بنا ئست کا    همګی دِ لکه سپاندے ستا بخار وی

ستا تر هر چارے ځار یم بلا دا شوه    په ما خوار پورې چه خاندی څوک به آوری

تاوئیله چه خپل زړهٔ وما ته راکړه    دا خوار زړهٔ م ستا دَ ورِاندِ کهٔ بکار وی

زهٔ خوشحال دَ یار دیدن وته تلوار کړم
تل بلبلې ځلبلاندے دَ بهار وی

دَ بڼرو غشی ئې ګل واړه دلدوز دی    عاشقان دَ دغو غشیو غم اندوز دی

نن م بیا په نظر کښېوته مهوشه    تر لباس ئې شرمنده اَهلِ نوروز دی

په مثال ئې توره شپه دا تورې زلفې    ګل عذار ئې چراغونه شب افروز دی

په بارخو باندِ ئې خرپ دَ دَ غابنو نو    دا چیچل ئې دَ عاشقِ نوآموز دی

اَغوستن لره ئې پانړے دَ سوسن دی    کهٔ دَ نوږ جامے روغے سمندروز دی

دَ کوترے اشارت دَ دیو مرګ دے    عاشقان ترې کله زار بازونه بوز دی

سر تر پا یه په لمبه باندِ ګذر کا
دَ خوشحال وئیل په دا سبب دلسوز دی

دَ نادان په یاری څهٔ لره څوک ویاړی    هر زمان ښکاره یاری راځنې غواړی

دَ یاری هُنر هیڅ ورځنه نشته!    کهٔ پندونه ورته وایم را ته ژاړی

هسې مست بې پروا یار ځما پکار دے    چه دَ خلقو بیغورونه سره نغاړی

دَ رقیب په بد وئیل عاشق دا نهٔ شی    لکه سپی په خپلو داړو سپے داړی

ډیر م وکاندهٔ ګریوان دَ عشق په کار کښې    نور به ما نهٔ شی وهل دَ ګریوان نهاړی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ وصال په وخت امان دَ رقیبا نو — دَ بهار په موسم دېر کوزنی غوبارې
هر شاعر څخه تازه مضمون دَ خان دے
دَ بنځه لیندی صدقه خوری دَ ښکار ژارې

دَ همه خلقو نظر په خپل بهبود دے — په هر څه کښې ورته خیر مه خیال مقصود دے
چه څه درد دَ عشق لری توبه زاریږم — که مومن دے که کافر دے که یهود دے
چه خپل یار وته نظر وکړم خوشحال شم — تر جمال پورے ئے بل جمال مفقود دے
دَ یار مخ که په ظاهر له ماجدا شو — په باطن کښې هر زمان را ته موجود دے
دَ عاشق دَ آه له غشي بویه ویره — چه تو برے ئے تمامی زهر آلود دے
دا آسمان چه سراسر کبود لیده شي — پرے پوهیږے پورته لا پر دَ زړو دود دے
بیا خما طالع مدد وکړ په خدا ئکو — چه رقیب دَ یار له دره نه مردود دے
دَ جهان بنادئ کل وارِه خما دی — غم م کل وارِه په بخره دَ حسود دے
دَ خپل درخا ورے کله ورکا خان ئے واخلی
دَ خوشحال خټک په دا سودا کښې سود دے

دَ خاطر م له اندوهه نه څه ننګ دے — که ئے زده چه دَ بنادئ ساعت یو دم دے
لا م یو خدنګ له زړه وتلے نهٔ دے — بیا خما په زړهٔ نوبت دَ بل خدنګ دے
هر سحر به ماله ورایه تیغ وکښلے — خول په سر ایښے راځی په نیت دَ جنګ دے
تر چشمانو م اوره کنږه بے نمه — تر محنت پورے م غر لکه لا سنګ دے
په خروار عیش و عشرت کاندی وکړے — خو خما دَ زړهٔ په بخره عیش تنګ دے
ما دَ زړهٔ په سترګو رنګ دَ زړګی وکوت — همګی دَ غم په سرو وینو کښې رنګ دے
دا آسمان چه پاس په سر باندِ څرخیږی — په چا چتر مرصع په چا پلنګ دے
دَ دُنیا په لوبئ څهٔ با ور خوشحاله
پرون دور دَ خرم نن دَ اورنګ دے

دلبر با خوبا وربل دِ تیرو بیر دے — هر هر تار ئے دَ عاشق تر زړهٔ چاپیر دے
دَ اوزبک تاړاک به هم دا هسے نهٔ وی — لکه ستا دَ سترګو تاخت په خوار و تیر دے
خما زړهٔ چه مزری تر زړهٔ تیرے کا — ستا دَ سترګو وکبلیو دَ ته زیر دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه راز چه به ما تا سره تنها کړ　　نهٔ به هیر شی له خاطره نهٔ م هیر دے
دَ غمزے په تیغ دِ مرم خونی م تهٔ ئے　　بیا به وائے چا وهلے په شمشیر دے
دَ خوشحال ومرګ ته څهٔ تورے وُکا رَ دے
دَ بڼو ناوک دِ هم ورلره ډیر دے

دا کلام م دے هغو ته چه په هوش دی　　نصیحت ته ئے نیولی دواړه ګوش دی
په تکی تکی جامو کښے کهٔ لوئی دهٔ　　دَ سپلمئ ملغی هم الاچه پوش دی
دَ مردانو دَ خپل شرم کاروبار دے　　نورئے هر څهٔ له خاطره فراموش دی
دَ زنانو په حساب دی مردان مڼ شه　　چه له زیبه له زینته هم آغوش دی
شړی ورپښتون به سل په ډکه پوسی　　کشمیری چه بغرګ شالونه ئے په دوش دی
هوښیارانو څخه ډیره هوښیاری دهٔ　　په مجلس کښے چه سامع نشته خاموش دی
په هغوئے دَ جهان بنا دی پیرزو دهٔ
چه په غم کښے دَ خوشحال سره په خروش دی

دا وئیل څما دَ راز دے　　دا منزل دور و دراز دے
تازی سوار دے پکښے پاتے　　څهٔ تهتو څهٔ تهتو تاز دے
دَ نائی بیره ناسازه!　　دَ بل بیرے وته ساز دے
دَ دانش کشیدے بویه
نهٔ دَ سرو زرو طراز دے

دَ کمال لافے دِ نهٔ کا نا درستے　　چه تلقین ئے دَ کامل نهٔ وے اخستے
دانشمند دَ معمّا په علم پوهـ دے　　دَ ابجد په علم څهٔ خبر نالوستے
هیڅ کمے وځان ته نهٔ پریږدی په ژبه　　دَ کردے په کار کښے غوخ په کیسو سکښتے
دَ دانا تر سرِ م دُر ګوهر نثار کړے　　دَ نادان په سرم پنړ دَ خاورو لوستے
ارادت ئے برخیرن په ورانِدِ نهٔ ځی　　دَ خپل پیر په عیب سر شهٔ یقین ستے
دَ ململو قدر چا وته ښکاره دے　　چه ململ ئے همیشه په تن آغوستے
په هغے یاری څهٔ باور خوشحاله
چه پیوند ئے په ویښتهٔ سره آمستے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یار غم کله اغیار وته ولاړ دے
د یار غم خو هم خپل یار وته ولاړ دے

د هغه بادشاه له ملکه عالم تښتي
چه دے ظلم و آزار وته ولاړ دے

بې همت سړے له هر کاره غږیږي
همت ناک سړے هر کار وته ولاړ دے

د هغه شاعر مخ تور شه چه په طمع
وهر در وهر دربار وته ولاړ دے

خلق هیڅ را خبر نهٔ دي چه په عشق کښې
څو فکرونه وماخوار وته ولاړ دے

چه دِ تورے زلفے ووینم حیران شم
په حیرت سړے تورمار وته ولاړ دے

په بورجل باندِ دِ هسے ناقرار شم
لکه ښهٔ ښکاري خپل ښکار وته ولاړ دے

د جمال په ننداره ئے هسے خوښ یم
لکه څوک چه و گلزار وته ولاړ دے

لیونے خوشحال په نن دے دیدن ورکړه
د صبا فکر هوښیار وته ولاړ دے

دا ستم چه خپل آشنا دے په ما کړے
نا آشنا سړي به نهٔ وي په چا کړے

په یاریٔ ئے دِ هیڅوک غلط نهٔ شي
وار په وار ئے درست عالم دے ترشا کړے

کوره سر به ئے په رندکښ په زاهد شي
د غمزے خنجرے اوس دے ترملا کړے

د مخ خال ئے تور تار و دے په گلزار کښې
د زړهٔ بازم دے نظر پسے وا کړے

خدایه تهٔ ئے د زړهٔ مهر په ما وکړه
چه دِ زړهٔ په ظالم یار یم شیدا کړے

د فراق غمونه هسے را پسے دی
درسته شپه ئے وماخوب نهٔ دے را کړے

زهٔ به ولے د ښهٔ مخ ننداره نهٔ کړم
ننداره لره ئے زهٔ یم پیدا کړے

یو وصال د ښو یارانو بل هجران دے
چه خوشحال ئے په خندا په ژړا کړے

د تقوی لاف وهي د صادقئ
په قاضي ئے گواهان تیر د فاسقئ

په رښتیا خبرو هم متردد یم
په وسواس کړم د عالم منافقئ

دا چه وائي څوک بهشت کړم څوک به نیست کړم
سکه دعوی کاندی سړے د خالقئ

کهٔ عذرا په ملک کښې شته مخ دِ ښکاره کا
زهٔ په تن کښې زړهٔ لرم د وامقئ

آدم زاد په تفاوت سره پیدا دی
یو په بل تیرے لري د فایقئ

د بزرگانو په مسند هغه تیرے کا
چه لري واړه اسباب د لایقئ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګیالیو سره ویره د سر نشته — سر سړے پرے کا د خر په سارقۍ
نمر په ګوته پټوه نهٔ شي خوشحاله
هیڅ منکر مهٔ شه د خپلے عاشقۍ

د هغو چه ګرځید نه ستا په تل شي — ستا په تل به ئے آخر سر ونړ دل شي
ستا چشمانو م زړهٔ یوړ بیړو قبل کړ — د هغو به څهٔ احوال وي چه قبل شي
د وصال د ناوي مهر څهٔ دے غم دے — هغه هم واړه یکباره معجل شي
عشق یو څهٔ د مزري بریت دے په ګوګل دے — د رنځور ئے په څو ورځے رنګ بدل شي
ښائسته که هر څو لاڼے د ښائست کا — چه ئے ته په نظر کښیوزے نور خجل شي
یو ګلزار په یوهٔ درنګ کښے شګفته شي — چه ئے زلفے په بار خوباندِ ولول شي
تر هر حرف ئے د خطا نافے څاریږه
آفرین دِ د خوشحال په دا غزل شي

دا سړے خو په ادب سره سړے دے — چه ادب ورسره نه وي نور خاروے دے
چه وفا ورځنه نه وي سړے نهٔ شه — تر هغهٔ نه په وفا کښے بهتر سپے دے
عادلان م د جنت د ګلزار ګل دي — ستمګر م د دوزخ د اور لرګے دے
سپے چه چا سره آشنا شي څهٔ پرے وخوري — وهغهٔ ته ئے تم نهٔ وي خو ژوندے دے
د انصاف د خښتن غم د دوزخ نشته — د انصاف م تر قیامته لا پرخے دے
په ښهٔ خوئي د سړي قدر و قیمت کیږي — بد خصلت سړے یا دیو دے یا پیرے دے
چه ئے علم و هنر نهٔ وي څخے تښتته — بے هنر سړے که ګورے لا شے دے
چه په پند په نصیحت د بندي نهٔ شهٔ — تور زنځیر ورلره بویه که مز رے دے
په روا په ناروا د ملحد څهٔ دي — په مذهب د ملحدانو کورے ورے دے
د راحت په وخت د یار تجربه نهٔ شي — چه محنت درسره واخلي یار دِ دے دے
هر زاهد چه زهد واخلي بے مرشده
د خوشحال خټک په پوهه تش ملخے دے

دواړه شونډے دِ شراب پرتګالي دي — په سرهٔ والی له یاقوته په سیالی دي
په سپین والی په ښائست په زیبائي — واړه غابښ ئے مرغلرے لالی دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښیوه ښیوه چه پل کښیږدی په لارے
کښلے پښے ئے دَ گلزار پا نمالی دی
په کالیو سره مخ ښائسته کیږی
ستا په مخ ښائسته ستا دَ مخ کالی دی
په طلب په استغنا چه تجربه شول
عاشقان معشوقے دواړه جنجالی دی
نن هغه سړی که غوارم مونده نشی
چه خوشحال خما دَ زړه په خوشحالی دی
هره چارے قبلوه که پرے مثین ئے
ښائسته کله له خیاله نه خالی دی
په ریښمینو نهالیو دِ نور خوب کا
دَ کوځے خاورے ئے ما ته نهالی دی
دَ فراق په وخت خما ستر گو ته گوره
په ژړا ژړا شیبے پشکالی دی
تل ژړا ناره بلغا کی خوب په خو کا
چه میشته دَ فراق ژن په حوالی دی
زه دَ مستے په پیزوان باندِ مثین یم
که دَ مخ کالی ئے غوره غوتیالی دی
نوم ئے مه اخله خوشحال وته په ژبه
مخ ئے تور که په یاری کښے تیتیالی دی

دَ هوښیار دَ نادان هومره تفاوت دے
خود مزکے دَ آسمان په مینځ کښے وت دے
نادان خوړ ب فراغت گرځی خوښی کا
هوښیار تل تر اندیښنو لاندِ چت پت دے
که په ما باندِ خرخ خوړی پروائے نکړم
دَ هر کله دانا سره په نسبت دے
که حاتم شی یا رستم شی خوله ئے گوره
چه ئے لاف دَ خولے وکړے نوراندت دے
عشق یو مست هاتی ولاړ سړه خوزیږی
دا په ځان خونی عاشق ئے مهاوت دے
چه دِکم اختر پرے وشولوئے به هم کړے
چه خیرن دِ زخه نشی دا یوخت دے
خوک دَ بل گوته خوری وریسے گرځی
چا خوړلے په درست عمر بنکار دَ کرت دے
دَ تحصیل او دَ ترتیل بلا په ده شه
چه ملا دَ حق گوئی په کار ساکت دے
حاجی لاړو مکے ته راغے ده م
په دروغو په حرص ډک کړے کت دے
چه دیدن ئے دَ گلرویو سره کیږی
مئے دِ خوری نوروزدِ کا بهارئے نت دے
چه په کور کښے ئے کښیږدی په چائے نه خوری
خدایه مال ئے وما راکړه په مُعتَت دے
چه کردار ئے دَ گفتار موافق نه وی
همیشه دَ دروغژن په ږیره ډت دے
دَ باطن په ستر گو گوره هغه مخ ته
ظاهری نظر دَ نمر په لیدو تت دے
دَ خوشحال کلام شیرین دے تر نبا تو
چه په خوند ئے خبرنه دے ورته گرت دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سوختهٔ یو وصال دے    چه هجران یکښے محال دے
دَ یار غم چه معشوقه شی    نورے وصل لایزال دے
کهٔ هزار پردے ترمینځ وی    هغه واړه اتصال دے
کهٔ راځی دَ یار له لوریه    ورته پس هغه شمال دے
چه په عشق کښے سوخته وی    ورښکاره هغه جمال دے
دَ هغه بیلتون له کومه    چه تل خوښ دَ یار په خیال دے

مځ دَ یار کوره په تیل کښے
دَ خوشحال خټک مثال دے

دَ فساد فکرِ نشته خدائے حاضر دے    خپل ساعت به تیروم عمر آخر دے
اطاعت دَ اولوالامر ځکه نهٔ کړم    خلیفه دَ زمانے په زړهٔ کافر دے
پلارئے وُوژهٔ په بند رونړه په ګوره    په آزار دَ مومنانو بهادر دے
دَ ابلیس غوندِ مکرونه ئے په زړهٔ کښے    په فریب کښے ترا ابلیسه لاماهر دے
په باطن ئے وګاڼئ ته نظر نشته    په ظاهر کهٔ ودانئ ته ناظر دے

دَ چا زړهٔ به ځنے روغ په دُنیا نهٔ وی
دَ خوشحال خټک چه چاؤ د ځنے خاطر دے

دا دُنیا ده چه په دا کښے څهٔ موجود دی    دَ دُنیا سره همه واړه نابود دی
بد هغه چه ئے نظر په سود و زیان دے    ښهٔ هغه چه نهٔ په زیان نهٔ ئے په سود دی
نهٔ محمود شته نهٔ ایاز دورئے تیر شو    په جهان پاتے خبرے دَ محمود دی
دَ خپل دین دَ خپل اُمت سیلمه ثنا کا    مومنان دی کهٔ ترسا دی کهٔ جهود دی
تربیت ئے دَ فلکه دے موندلے!    کهٔ پوهیږے چه دا درے واړه موجود دی
کهٔ آفتاب دے کهٔ مهتاب دے واړه ستورے    ورځ او شپه په عبادت کښے دَ معبود دی
په خپل حکم به ئے بیا سره تازه کا    دا هډوته چه په مزکه کښے فرسود دی
اَغوستن کهٔ ئے زربفت وی کهٔ شړئ    په دا دواړه توکه ښهٔ سړی خوشنود دی
کهٔ دَ لرے کهٔ نږدے شمار و نه مهٔ کړه    چه به درومی یا را درومی دواړه زود دی
په قیامت په بل ژوندون چه شک کمان کا    شک پرے مهٔ راوړه خوشحاله چه مردود دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هوښیار غلطي نهٔ وي اوکهٔ وي خو دَ خندا شي
په خپل عقل غره مهٔ شه کهٔ غره شې حیف دا شي

دَ دُنیا لالچ ډیر مهٔ کړه دَ دُنیا لالچ خو ډیر کړې
و زړهٔ ته به دِ هومره ډیر غمونه را پیدا شي

قربان ئې تر همت شم چې هسې لیونی شته
کهٔ تخت دَ سلطنت وي پرې دَ دوی کله پروا شي

چه ستا نصیب قسمت دې کهٔ طلب ورپسې نکړې
په غیبو کښې به دِ واړه خواه ناخواه درلره راشي

دَ یار دَ زړهٔ ساتنه په مثال دَ روغ کالی ده
هیڅ حال دَ کالی نهٔ وي کهٔ پیوند دَ کالی بیا شي

چه باز دِ پرواز وکا په طلب ورپسې گرځې
کهٔ بخت مددگاري کاچه ئې ونیسې بیا ستا شي

نادان دې کهٔ هوښیار دې له هرچا نه عقل اخله
یا تور غشې خطا کا دَ هلک غشې رسا شي

چه دِ وخوړ هغه ستا دې مال چه نهٔ خوړې بلا داشي
په مرگ یا په ژوندون به په نصیب گوره دچا شي

مدد دَ طالع بویه چه هنر سره همراه شي
هنر به سود ونهٔ کا دَ طالع کهٔ درته شا شي

په زړهٔ کښې خپل غرض دې چه هیڅوک ځنې خلاص نهٔ دې
یا یافت دې یا نایافت دې چه خندا شي یا ژړا شي

خپل ځان وته ئې وائی خوشحال دا خوږې خبرې
حلوا ده دَ نبا تو کهٔ ترخولهٔ دِ دا حلوا ده

دُنیا بده بلا ده چه وماوته ښکاریږي
په دې له خپله پلاره سکه ځویه ویزاریږي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه خوک وبله خپل دی ولے فهم فکر نهٔ کا
چه مرګ شته په دُنیا کښے سره ولے نهٔ ځاریږی

په هر لوری چه ګورم وعالم و ته حیران شم
دُنیا دَ هیڅا نهٔ ده په دُنیا سره خواریږی

وبل ته تُوره واخلے په دا کار کښے ډیر حیران شے
چه خپل دِ په بدئ شی ستا وجنګ ته تیاریږی

چه بخت را سره مل وو مار به ما ته چرُمبکئ شوه
چه بخت وما ته شاکړه چرمبکئ را ته ماریږی

دُنیا دَ مست هاتی په خوئ خصلت ده که ئے ګورے
چه یو مهاوت وُمړ بل ئے شا ته تیاریږی

عالم عالم غمونه چه خوشحال وینی له خپلو
غم خورئے که پیدا شی خپل پردی ته به شماریږی

دَ ناکس دَ تربیت سره څهٔ کار دے دَ سنګیړ دَ زراعت سره څهٔ کار دے
کهٔ ترملاړ که درسته په آس سور شی دَ نامرد دَ شجاعت سره څهٔ کار دے
ورځ وشپه دِ په آرام باندِ تیریږی دَ بے ننګ دَ حمیت سره څهٔ کار دے
په پالنګ کهٔ ورته کښینی کښیلے خوره دَ نامرد دَ بنهٔ صورت سره څهٔ کار دے
دَ کاوزو ورمیږ ونه مزری نموړی دَ کیډړو دے قوت سره څهٔ کار دے
چه هوسئ په میدان وهی تازیان دی دَ کوتره دَ دے حالت سره څهٔ کار دے
فصاحت دَ باغ بلبلو څخه غواړه دَ قارغهٔ دَ فصاحت سره څهٔ کار دے
چه له ځایه ئے په بخره سلامت شو دَ زاهد دَ ملامت سره څهٔ کار دے
دروَمه هر لوری ته ګشت کوه خوشحاله
دَ رندانو دَ خلوت سره څهٔ کار دے

دا دروغ دی چه په ستوریو سوُوزیاںٔ شی سُود وزیان واړه په حُکم دَ سبحاںٔ شی
کهٔ دَ رنګ خوبی ئے شته بوئ ئے له کومه دَ کاغذ ګلونه هم دَ ګل په شان شی
زمانه په طبیعت ده دَ هلکو هلک تل چه وچا ورکه زر پښیمان شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دُنیا اقبال چه مخ کا و نادان ته　　دانشمند ئې دَ خبرونه حیران شي
دَ منصب سره خُما خبرې دُر وې　　اوس راضي یم کهٔ په چا باندِ مرجان شي
ګوره کومه چار به کاندهٔ مخ بنکاره کا　　دَ عالم خبرې ډیرې تردامیان شي
دَ دُنیا لالچ خو ډیر اندوه ئې ډیروي　　چه ئې ډیره تولوي ډیر پریشان شي
دانشمند څخه چه مال دَ دُنیا نهٔ وي　　وعالم وته په مثل دَ نادان شي

زهٔ خوشحال ختک هغه یم قدر نشته
دا مِ واړه له افغانو نه افغان شي

دَ باطن په تجلّي ظاهر صفا شي　　دَ بد ذات په آشنایئ کښې سل جفاوي
لکه نوم چه دَ کیمیا دَ عنقا اورې　　تردا دواړو نه نایابه لاوفا وي
دَ ناکس سرې نه زر خبرې واورې　　په یوه وینا ئې کله اکتفا وي
دَ دې دور په یارانو غلط مهٔ شه　　مخامخ ئې درته مخ قفا قفا وي

دَ هغهٔ طبیب طلب کوه خوشحاله
چه دَ مخ په تجلّي کښې ئې شفاوي

ډیر مشین په تازه مینه سره تیر شي　　په هجران ئې خوږ ژوندون زهر که ډیر شي
لا یو غم مِ تمام نهٔ وي څهٔ نصیب دې　　چه ناڅاپه نور غمونه رابرخیر شي
زهٔ په ویر دَ معظم په غم کښې ډوب وُم　　خبر نهٔ وُم چه طاهر به تیروبیر شي
لکه بېره دَ طاهر نهٔ وې په زړهٔ　　ډهر هر ویښتهٔ ئې غم را باندِ ډیر شي
خدایه هسې غم بل ما ته پیدا مهٔ کړې　　چه په دهٔ مِ طاهر خان له دِله هیر شي

"طاهر و مړ په شباب کښې" دا تاریخ دې
چه به کال دَ دهٔ دَ مرګ ترې رابرخیر شي

راستي لار ده بادشاهي　　پکښې نشته ګمراهي
دَ رښتینو پروا نشته　　دَ جهان په بدخواهي
دَ رښتینو سره مل وي　　تل نصرت دَ الٰهي
دَ رښتینو ځائې جنت دے　　دَ قرآن په ګواهي
بیا به نهٔ موې خوشحاله　　په راستئ کښې تباهي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



رفتار ئې مستانه دے     په غمزه کښې يګانه دے
دا په سر په لب شکرے     چه هر غابښ ئې دُردانه دے
کۀ په ستر ګوئې نظر کړے     ګل له نازه هم خانه دے
کۀ وګړ و ته ئې ګورے     لاله ګل ئې نښانه دے
په دا پيچ و تابو زلفو     چه دَ مشکو خزانه دے
لائې پيځ خاځي دَ شونډو     په هر کار کښې فرزانه دے
ځما ځان تر دۀ فدا شه     چه هم ځان هم جانانه دے
نۀ چه زۀ په دۀ مئين يم     دَ همه خلقو ستانه دے

خپل صورت ستائي پخپله
دَ خوشحال زبان بهانه دے

رنګ دِ وُرک شه بدے روے     راپسے ئې سينه سوے
له يوے فتنے دِ خلاص شم     راپيدا کړے بله نوے
ستا غمونو هسے توغ کړم     وګښے نۀ شمه سيلوے
چه اُودۀ وے هومره ښۀ وے     کشکے تل وے اُودۀ شوے
پرے به کله باران وُشي     چه به وتو کيږی سوے

فصل نۀ کوی خوشحاله
خو پيټه نۀ شی په يوے

راښکاره دی دَ دے دور لنډ لستوڼی     پردی مال و ته اوږدۀ لاسونه موڼږی
کۀ په باغ ئې دَ يتيم دَ کونډے ګړ کړے     دَ انګورو په خوارۀ بړنګوری چوڼږی
دَ خوړو مزه پوښتی بزه ئې هيره     ښے خرے لنډے وهی ورباندِ سوڼری
کله سر په سينه ووُمنډی شيږکے شي     کله سرموږی دَ مار لکه سر بوڼږی
چه په ښهر په اُولس کښے ساده هيښروی     ورځ و شپه پرے حواله وی لکه کوڼږی
په خپل ځائے لکه شا خوږے خوخولۀ خُشکه     په بل کور کښے لکه آس په راتب پوڼږی

کۀ ځۀ کار دے دَ رندانو دے خوشحاله
چه ظاهر باطن ئې دواړه دی مخ روڼږی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه کوره نامردان بلا وهلی!
دَ بری میدان پریږدی لړے ته زغلی

دَ آسمان دپاسه کشت نندارهٔ نهٔ کا
کور دَ مزکے دَ تلی په مینځ کښے ملی

کم دلیل دِ دَ سردواړه سترګے وُخوری
په تورتم دَ جنازے سره څملی

مرهٔ هغه چه نهٔ ئے نوم نهٔ ئے نښان شته
تل ترتله په ژوندون پائی بناغلی

ښوک په خپل پتي کرل کا دَ اغزیو
چا په خپل پتي ګلونه دی کرلی

پسینه کرنه هومره فائده نهٔ کا
چه په وخت کرل وکا برے آخلی

دَ کرلو وخت آخر شو تخم لږ دے
خوار هغه چه ئے له کره لاس ختلی

چه محنت په ځان قبول کا راحت موی
رنج وګنج سره دا دواړه دی ترلی

چه لذت شهوت ترک نهٔ کا ولی نهٔ دے
اولیاء نهٔ دی دَ نفس په خوښئ تللی

دَ هوی ترکول عروة الوثقیٰ دی
درویشان په دا وئیل دی پوهید لی

چه دَ نفس دَ ظلمانی کوهی را ووځی
دَ هغو سترګو ملکونو دی لیدلی

دُرخانئ پکښے یو آدم خان خوښ کړ
یوسف زی خوانان ډیر وو سواره پلی

خو مخلص تمام خالص نهٔ شے خوشحاله
خطرونه دی چاپیر درچار و تلی

راشه کوره ځهٔ کارونه درنګ په درنګ شی
په ساعت دَ دُنیا چارے په بل رنګ شی

واړه وُسوزی په اورکښے خبر نهٔ یم
پیاله کومه راپیدا هومره پتنګ شی

لا به کله مخامخ راسره خاندی
چه کا تهٔ ئے که کښے راته په خنګ شی

چا وئیل دَ ښکلیو جنګ پسے آشتی وی
ولے ما سره آشتی نهٔ کا په جنګ شی

په هر چا باندِ ئے زړهٔ دے لکه ژاوله
خو په ما باندِ چه راشی زړهٔ ئے سنګ شی

حال دِ وَکوری ځما بیادِ آهنګ کا
دَ هر چا چه عاشقئ وته آهنګ شی

په فراق دَ مهوشانو لاچینه دی
کهٔ روان ځماله دواړو سترګو کنګ شی

تا په خپله رضا ونیوو په غوره!
اوس دِ ولے دَ خوشحال دَ یارئ ننګ شی

راشه لیونے شه چه دِ نورخلق غمخور شی
خو چه هوښیاری کړے غم به لا درباندِ زور شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ پرې نۀ پوهیږم چه دَ چا وئیل رښتیا کړم
سل رنګه خبرې په دا مینځ کښې لور په لور شی

صبر دَ دردمنو زړونو هر کله اثر کا
خدایه لا به کله دَ غماز سرې غږ تور شی

زر هُنره ؤکړه نصیحت په کوم حساب دے
ځائې خوئې وی فکر مۀ کړه چه به نور شی

یو هند و بلا دے چه په مکر ټیکه کښیږی
څوک به ترې خلاصیږی هغه ځائے چه دَ ځلور شی

چین جمال دِ ګوره ښائسته په تور خالونه
په کشیده بانډ تکئې دَ انځور شی

درسته شپه م تیره په فریاد او په ناروکړه
شپه ئے دَ هجران وه سور پالنګ په ما سُوَر اور شی

غیر بیګانه چه اخلاصی شی زور هغه دے
زور چه بیګانه شی راته وایه کله زور شی

ډیر دی په دا څم کښې چه پټ پټ دَ مینې لاف کا
ولے اوس یواځے وخوشحال وته پیغور شی

رابښکاره چه دَ دلبرې دَ مخ خال شی
لکه ښکار دَ ښکاری ؤلګی خوشحال شی

په خوږبه شاعری په جهان کیږی
دَ هر چا ثنا صفت دَ ښۀ جمال شی

دُنیادار کره چه نۀ وی ښے دلبرے
او رِ دِ پورې دَ دُنیا په ملک ومال شی

په وصال دَ سمنبرو زړۀ تونګر شی
چه ئے نۀ وینی په سترګو خوار کنګال شی

چه عاشق دَ معشوقے په عشق کښې غرق شی
جدائی له مینځه لاړه تل وصال شی

ارمان دا دے چه به زړۀ همیشه نۀ وُم
همیشه به سرۀ ګلونه کال په کال شی

دَ ګلونو وخت تیریږی ساقی کړم ئے
لکه دَ جام په راکولو دِ اهمال شی

لکه باغ چه په ګلونو مالا مال دے
ځما جام دِ په شرابو مالا مال شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه گوره د یارانو بې غمي
هومره مهر هومره مینه محرومي

زۀ دا هسې په فراق په اشتیاق کښې
حقیقت ئې راته نۀ کړ قلمي

آسمان لیږې مزکه کړوږه عاشقان دي
چه په څو رنګه غمونه تل زغمي

ما په دا جهان کښې غوښته مونډ نشوه
کۀ په بل جهان پیدا شي خرمي

خوک چه دم د همدمۍ وهي ترسو پړشوم
چه م ولیده د خلقو همدمي

چه په هیڅ ساعت خالي نۀ وي له غمه
مګر غم لره پیدا دې آدمي

هیڅ طبیب نشته چه حال ورته معلوم کړم
چه په کوم زحمت کښې پروت یم المي

تۀ چه ما ته عربي خبرې وې
د عربو ژبه څۀ زده عجمي

کۀ خبر په دا مثال ئې وې وایه
چه په کوته یوه کوته دوه غمي

بادشاهان به ئې هیڅ کم نۀ کا خوشحاله
کۀ یو خدائې د سړي نشي په کمي

کۀ قدم دِ د وفا په لاره ټینګ کړ
د خوشحال په پوهه دا ده رستمي

راشه گوره خلقه نصیب په څوخوري
نورې نور ځوانان وهي منصب صد خوري

په غارونو کښې مزري ختهي منګلې
په تیارۀ کښې د ګرګ وازدې پیشوخوري

هغه ډک طباخ په سپي خوړلې بنۀ دې
چه ترخنګ ئې د عورتو په سوپر وخوري

لکه خوک چه ډک چلم ښبنوي په غم کښې
فراق ژن هسې لوګې د اندیښنو خوري

د فلک د نا قابل سره غیرت دې
نا قابل به د نبا تو حلوا څوخوري

لا به کله هغه ګنج وسکوې بخته!
چه خوشحال به ئې په پلیو په سوروخوري

رابنکاره شوې د جهان بې وفائي
نو دِم راڅکا وۀ قلم په آشنائي

لکه اور په بوټي وُلګي بیا نۀ وي
یو څو ورځې دي ارمان د جدائي

روښنائي د معرفت تر نمر والا ده
خوک دِ ونۀ ووځي له هسې روښنائي

له یوۀ ځائې نه څۀ صورت پیدا کا
هم په خدائې بنائي کارونه د خدائي

تا هالۀ ګل خپل زړۀ ورکړې بلبلې
کۀ ئې تل وې دا بازار د زیبائي

په ګلزار کښې نا ستې هم دا هسې نۀ وي
چه خبر شوم ستاله قدره تنهائي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په خپل کوشش بهبود دَ دُنیا غواړی
راته هیڅ نهٔ دی دَ خلقو دانائی

چه ځما دَ درد علاج لره پیدا دی
زړهٔ له چا غواړم دا هسې مومیائی

چه بلا ورسره وصل دَ فراق ده
دَ دلبرو حُسن څهٔ لره ستائی

چه گوهر ترخزمهرو په قدر کم دی
مګر نشته جوهری دَ بینائی

چه په څرته بنهٔ صورت هوی زړهٔ دی
خوښنا کړم دَ خوشحال دَ پارسائی

رحمت په اکوړی شه چه ئې وُنیوو ځائې سرائې
چه بنهٔ فهم ئې وُکړے باور دُکره ځائې دے ځائې

تور غوئې دَ هوډی دے ترتیراه پورے سم تللے
نیلاب ولنډی دواړو عجب سرا یښے په پائې

پرے سازه لویه لار دَ هندوستان دَ خراسان ده
ګذرئې دَ اټک دے چه ترے ترس کا شاه ګدائې

هر فیض دِ دَ جهان څهٔ چه یا دیرې پرې رادرومی
کهٔ ملک ئې بارانی دے څهٔ بهار لری هائې هائې

کهٔ سوات کهٔ اشنغر کهٔ پیښور دے دا ملکونه
رجوع لری ودهٔ ته فیض وردرومی دَ هر ځائې

په هر لوری ئې ښکار شته دَ شاهین دَ باز دَ هر څهٔ
واه واه کالا پانړی چه ئې ښکار دے دلربائې

ځوانان ئې چاق درست چُست وچالاک ګډ په هر کار کښے
خوبښ سترګی سپین اوسرهٔ دی چه بالا دی په نمائې

پکښے میشته م خویه خیلخانه لمسی اُولس دے
چه څوک پکښے میشتهٔ دی په امان وُسه دَ خدائې

آسمان څنے جدا کړ لاس دَ چا رسی آسمان ته
خوشحال له سرا یه نهٔ دے جدا شوے په خپل رائې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلفې دِ دلدارې چه زنار فرمائي — څۀ لره وماته څوک بل کار فرمائي
سهل دې دا امر کۀ زۀ سر و مال قبول کا — څوک به دا وائيل کا چه دشوار فرمائي
څۀ لره اے عقله ډیر له صبره راته وائې — زۀ بنده د عشق یم دے تلوار فرمائي
څو راته ناصحه نصیحت کړې لیونے یم — کله هسے کار کا چه هوښیار فرمائي
ما ترې توبه وکړه چه د عشق په شریعت کښې — دین مذهب هغه دې چه دلدار فرمائي
قطع لیونے دے چه د یار د مخ په دور — څوک وماته سیر د ګلزار فرمائي

خپله رضا پریږده چه رښتینې ئې په عشق کښې
کړه هغه خوشحاله چه د یار فرمائي

زۀ چه ستا د مخ ګلزار ګورم په کور کښې — د بهار ګلونه وَ سیزم په اور کښې
ما په دا تندی اخستے ستا دیاره — کۀ زۀ تا غوندِ یار موم په پیغور کښې
د توبلی په مخ کښې ځې په شین شین — لکه مست هاتی چه یون کاندی په دور کښې
اوس په هر چرته جهان په بلا ډک شو — کۀ یخوا به لباسی وو په لاهور کښې
په قراره قرارۍ کښې عالم خوښ دے — ما دِ خدائے لری د عشق په شر و شور کښې
کۀ رستم د زمانے شے ګمان مۀ کړه — زمانه به دِ پرے نۀ پردی په خپل زور کښې
د سلیمان په ګتی کښلی دا وینا وه — چه دا تخت د سلیمان به نۀ وی کور کښې

د خوشحال دِ د هغو نه لاس په سر وی
چه به ځائے د کوتے غواړی په ښلور کښې

زلفې ئې سبب دی د عاشق د پریشانئ — ننداره ئې بهانه ده د بیحدے حیرانئ
درد یم سرشته ده د هزار رنګه دارو وو — غم ئې لا تیرے کاندی تر ډیرے بنادمانئ
زخم ئې ما په ده لایزاله حیا نکی ده — ورانے ئې دے موجب په جا د دانه ودانئ
محتسب چه احتساب لره وځی مجال ئې نشته — د برند و سترګو مست ئې همیشه کاندورانئ
ما په عشق کښې رسولے دے خپل کار تر هسے حده — لکه څوک په مټ د توړې سزاوار شی د خانئ

زۀ خوشحال خټک د عشق په کار هومره خوشحال یم
څو سلطان غره په خپله بادشاهئ او سلطانئ

زۀ او عشق بے قراری دم په دم ژړا زاری

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیغ وکښلے راښکاره شوه ... خوار عاشق دخان سپاری
چه هر دم په ما ستم کړے ... ستا دا هسے ده یاری
ستا له مهره ستا له لطفه ... زهٔ لوم امید واری
دایم ستا دغم ورے وهم ... شرط دعشق دے برد باری

خاکیانے اوسه خوشحاله
لوئے به کاندی خاکساری

زهٔ اول درخبر نهٔ وم چه دا هسے بے وفا ئے
په ورځ سل سوګنده وکړے بیا له وارو بے پروا ئے
ماچه زرهٔ وتا ته درکړهٔ خلقے را باندِ غاوُ کا
ولے هسے خبر نهٔ دی چه تهٔ څهٔ رنګه زیبا ئے

اے چه ما و ته وئیل کړے چه په کښلیو نظر مهٔ کړه
څوک به ستا په وئیل غوږ کا چه دمرګ خبرے وائے
په ما یو ویښتهٔ دخپلے معشوقے ترحورے ښهٔ دے
ملاځهٔ په هر زمان دجنت حورے راته ستائے

دګلونو قدر هر زاغ و زغن نهٔ زده طوطا زده
هسے مهٔ وایه نادانه چه په څهٔ صورت شیدائے
دا څهٔ تورے سترګے نهٔ دی چه خما زړګے ئے یووړ
دا څهٔ لا نورے بلا دی خدایه تهٔ دا نابینا ئے

دا نهٔ خال نهٔ زنخدان دے نهٔ پریشانے تورے زلفے
دا یو رازِ الٰهی دے کهٔ تهٔ پوهه په دا وینا ئے
دا دخلقو ملامت دے کهٔ پیغور دے د وکړی
دا همه خما قبول دی خو کهٔ تهٔ له ما پخولا ئے

نن به څراغ په کور کښے نهٔ بل دم چه کمان هیڅوک ونهٔ کا
دا نزدے دچم وکړے چه نن ښهٔ میلمه خما ئے

Poha Foundation
A.S.KB

زړهٔ به ستاله جوره ظلمه په خوځان وړي
غم د درد به دِ ترکومه په دا شان وړی

ما دا هسے رنګ هند و لیدلے نهٔ وو
چه په حُسن دین و زړهٔ د مسلمان وړی

هغه لاس چه دِ کوتاه دې تر لمنے
هر زمان ئے په ډیر غم کښے ترګریوان وړی

دَ هغه عمر غهٔ حال حلاوت نشته
چه ئے بے له تا په غم کښے په پایان وړی

چه هوس دَ هغو شونډو غابښو کاندی
دَ ارمان کوتے هردم په خپل دندانٔ وړی

ستا دَ زلفو وچوګان و ته حیران یم
چه دَ ځنے ګوئے دِ ښخنګه په میدان وړی

پکښے بند زړونه ووکاړی که ئے ګورے
چه دَ سر زلفینے تل دَ زنخدان وړی

چه دِ زړهٔ په ما هغه حکم فرمان کړه
ځما زړهٔ به دستا هر حکم فرمان وړی

دَ خاطر خوبنی م هر کله په دا ده
چه دا ستا غمونه هر کله پریمان وړی

دَ نور چا په ماخهٔ کار دې زهٔ پرے خوش یم
که م دین و زړهٔ همه واړه بُتان وړی

دَ وفا خصلت چه خدائے نهٔ دې ورکړے
څوک به څهٔ لره په کښلیو دا ګمان وړی

دَ زړهٔ مینه ئے په کښلیو ما ته نهٔ کړه
خوار خوشحال به له دُنیا نه دا ارمانٔ وړی

زرځما تر لاسه نهٔ راځي ویریږي
کهٔ هر څو م دَ لاسه ورسره کیږي

ځما لاس ورته تر اوره هم بتر شو
لا په اور کښے ئے یو درنګ ساعت تیریږي

زهٔ او زر سره له ځایه غلیمان یو
په جهان کښے غلیمان سره رغیږي

چه غلیم دَ مړنی په نظر کښیوزي
نور ئے زړهٔ دَ دهٔ ومرګ وته پرکیږي

شاه ځلمی به خپل غلیم کا تر ځان وړاندِ
و نامرد وته به سل حیلے دریږي

په قرآن کښے ستا اموال په غلیم یاد دی
بل به کوم حجت تر دا قوی یادیږي

کانړے زر کهٔ سره وکوړې یو رنګ دی
فرق ئے دا دے چه په زرو زړهٔ رغیږي

هغه زر تر کانړے بوټے لا بتر دی
چه ئے وُمنډے په مزکه نهٔ خرڅیږي

چه اوبهٔ په ځائے حصارے شی نوخساشی
صفائی ئے هم په دا ده چه بهیږي

تل دِ لاس په غلیم بر اوسه خوشحاله
غلیمان دِ شرمنده تر تا ځاریږي

ساقی ګل شګفته کیږي
خس له باغه رفته کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ دَ باغ خوبنی په زرشی — د راغ هسې مفته کیږی
دُرگوهرځما بې مېنو — په مژګانو سفته کیږی
کهٔ ئې پټ لرم له خلقه — رازم نهٔ نهفته کیږی
باد دِ زلفِ آشفته کا — ځما زړهٔ آشفته کیږی
هغه راز چه به ما تا کړ — په محفلو ګفته کیږی

دَ خوشحال بخته بیدار شه
تل څوک کله خفته کیږی

ستمگر به همیشه په دُنیا نهٔ وی — پس له مرګه به لعنت لعنت په دهٔ وی
هسې خوبن دَ ظالمئ په کار ولاړ دے — تهٔ به وائے مرګ ئې نشته تل به ژوی
ظالمان په نور څهٔ هیڅ راغلی نهٔ دی — خو دُنیا وته څوئیږی لکه سوی
چه دَ خپلے کامرانئ په کار راشی — کهٔ عالم ته وبالاشی پرے ئې زړهٔ وی
په ګفتار کښې فرښتو سره سیالی کا — په کردار کښې شیطانان ترے پورته وی
کهٔ په شول ئې دَ دُنیا مقصود حاصلیږی — دَ مکے په ورهٔ به هم پورے کا سوی
په خپل زور خویئے زړهٔ نهٔ وی تړلے — دَ خپل پلار ومرګ ته هم مړی ورغوی
په هغه چاړهٔ قلم روغ کا قرآن کښې — په هغه چاړهٔ دَ رور مرئ سکوی
په رکوع کښې تسبیحات دَ مال وملک کا — په سجود کښې خپل حشم غواړی کهٔ بنهٔ وی
کهٔ نیکخواه ورته دَ پند خبرے وُکا — چه دَ بد وخصلت پریږدی زړهٔ ئې چوی

زهٔ خوشحال چه دَ اورنګ بادشا نوکر یم
کهٔ وحُویه ورکول کړم زړهٔ م نهٔ وی

ستاله جوره ظلمه هیڅ نهٔ کړلے ژړلے — چه له دره دِ په څو کرخم شړلے
همیشه ځما دُعا په غوږو آورے — یوه ورځ دِ په بنکنځا نهٔ یم ربړلے
رقیبان دِ لکه سپی په کوڅه غاپی — ترے هم خیرے جامے دروم هم خوړلے
چه به تهٔ دَ هغه تال په پړیو زانګے — هغه پړی دَ ریبنمو دی غړلے
قافلے دَ همرهانو شوے روانے — ما هم بار دے دَ خپل کوچ پسے تړلے
حاسدان بے غمه خوب کا دریغه دریغه — چه په کور ئې دَ بلا نقیل تړلے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ خوشحال ئے وکرم وته اُمید دے
کۀ هر څو په ګناهونو دے لړلے

ستا دَ کښلې مخ په خال م زړۀ په داغ کړ — په دا داغ م له عالمه زړۀ فراغ دے
سخ چه ناست یم دَ ګلونو په چمن کښے — بیا ساقی را ته نیولے ډک ایاغ دے
یا دَ ښو زلمیو خیال دے په شمله کښے — یا دَ ښو جونو دَ تور وربل دماغ دے
دَ زلفینو په تورتم کښے به ئے غوارم — دا ورک زړۀ کۀ رابشکاره کا مخ څراغ دے
چه دَ کښلیو دَ جمال ننداره کا ندی — وهغو وته سپیره ډک سیل دَ باغ دے
په سپین مخ ئے تازه خط نوے توکیږی — زړۀ به زړۀ ورځنے زغورم روږدے زاغ دے
دَ ګلونو په بوئ ځی په ګلزار ورشی — دَ ګلونو بوئ بلبلو ته سراغ دے
نۀ په اصل دومره ښۀ نۀ ښائسته ئے — تا په کوم توکی راوړے دا دماغ دے

دَ خوشحال سترګے هورے چه ښائسته دی
خلقه زړۀ ئے نۀ په باغ دَ نۀ په راغ دے

ستا وصال لکه دریاب دے زۀ ماهے — په هجران دِ هر زمان دے په ماهے
په ژړا م ځنے خواست دَ سپینے خولے کړ — په خندا ئے وے چه ځۀ کا دا سرے
وے ئے څوک ئے چه ځما په کوځه ګرځے — بنۀ حاضر خواب م ورکړ ستا مریئے
هم په څو رنګه ناله هم په تن نال شوم — بیلتانۀ را باندِ کړ کار دَ نے
دَ خوانئ بهار ځۀ ښۀ دے دریغه دریغه — دا بهار کۀ همیشه په دُنیا وے
ګل، سنبل، نسرین، نرګس، لاله غوټئ — دَ مقدم سره دِ راوړۀ درست پسرلے
چه ئے ونیسم په غیږ کښے را ته ګوری — لکه مست دَ مور په پیو کم کیلے
دا شیرین یاران به نۀ ویم چه مُرم — خدایه ما په جهان تل لرے ژوندے
غم خو ستا دَ رسوایئ کړم نۀ دَ سر کړم — کۀ م دا اندیښنه نۀ وے تا کتے
هسے ستا دَ بیلتانۀ په آتش سوزم — لکه څوک په لمبه کښیږدی وچ لرګے
دیر صفت دَ ښاپیریو آوریدۀ شی — ولے ستا دَ مخ څوک نۀ وینم مخے
په ښائست کښے هیڅ لقب دربا نِدِ نشته — کۀ دِ ځۀ خو دَ عاشق ننځنه کړے
اورنګ زیب به دَ کابل دَ خلل غم کا — ساقی وخت دَ نوبهار دے راوړه مے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه زړۀ سوې دِ دَ خوشحال په فریاد نشی
په سینه کښې دِ سندان دے که زړګے

ستا په غم کښې لکه زۀ یم بل به نۀ وی    دروغژن یم که بل هسے لکه زۀ وی
ستا له غمه مِ خیګرله وینو ډک شو    چا ته هیڅ وئیلے نۀ شم زړۀ مِ چوی
تا وئیل څما دیدن قیمت بها دے    زۀ حیران یم ستا دَ مخ بها به څۀ وی
سر په درکړم په بها کښې دیدن راکړه    په سودا کښې خلل مۀ کړه که دِ زړۀ وی
هسے ګل دَ ګلستان په منځ کښې نشته    هر چه ستا رنګ و بوئ پورے په دۀ وی
که تل تا لره درځم ملامت مۀ کړه    دَ بلبلو تل وګل وته ورتلۀ وی
دَ بنۀ خیز پوښتنه مۀ کوه له اصله    دَ یو هر دوکان چه وی کالے دِ بنۀ وی
که صورت ژغورے له غمه کا تۀ مکړه    زړۀ هاله په غم اخته شی چه کا تۀ وی

زۀ خوشحال چه آشنا وینم خوشحال شم
لکه ګل چه تازه شوے په اوبۀ وی

سړے هومره څوئے نیت وی    جامه هومره څو قامت وی
کرګدن کردن دَ فیل خوری    څۀ میړے څځے قوت وی
نۀ هر خرۀ دَ عیسیٰؑ باروړۀ    نۀ هر سر سره دولت وی
وصورت ته نظر مۀ کړه    په کرده دَ مرد قیمت وی
زۀ مریئے دَ هغه کس یم    چه صورت وی هم سیرت وی
که صورت سیرت دِ جوړ شول    سر تر پایه عنایت وی

دَ خوشحال په وینا غوږ کړه
په وئیل کښے ئے لذت وی

ساقی تل به دِ داست وی که به نۀ وی    له جهانه به مهلت وی که به نۀ وی
راشه ډک دَ میو جام په مئے ناب کړه    تل به هسے فراغت وی که به نۀ وی
هر هوس چه دَ صورت کړے نن ساعت دے    ګوره کا نده به صورت وی که به نۀ وی
په رښتیا وماته وُوایه طبیبه    چه دَ رنځ مِ به صحت وی که به نۀ وی
دَ وصال وعده دِ وُکړه ستا سوګند دے    په دا کار کښے به غفلت وی که به نۀ وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ په تا پسے ملنګ دَ مصلے شم
شاه په تا م به قیمت وی کۀ بهنۀ وی
سپینه خوله کۀ بے ریباره ورپیشکش کړم
په خوشحال به م منت وی کۀ بهٔ نۀ وی

ستا په تور م مال تالا ما نړۍ نړیږی
ستا غمونو لره هر کله ژوندون وے
وائے ما ویشتلے څۀ کا حال ئے څۀ دے
دَ فراق په شپه ئے خوب په ما حرام کړ
لا به کوره څۀ شان شان غوټۍ وا کا
ما به هیڅ په رټ رټ نۀ ژړل عالمه
دَ رښتیا خبرے خیر و برکت دے

راشد کوره کۀ په دادِ زړۀ سرېږی
په دالبرِ عمر م زړۀ کله مړیږی
په کوڅه کښے دِ لادم وهی غمیږی
وائے مالګے م په سترګو کښے غمیږی
دَ بیائست بهارئے اوس نوے غوړیږی
ولے څۀ کړم چه م ننه زړۀ ژړیږی
په قاضی دَ دروغژن ژبه اډیږی

دَ خوشحال خټک په کار پورے حیران یم
مینه لا وربانډ زور شوه څوز ړیږی

سخ دَ آئینے دے چه دِ مخ وته تل ګوری
سخ دَ لونګین دے چه دِ پاس په تتر شوری

نۀ دی ستا دَ غوږو غټے غټے مرغلرے
وصل دی په میاشت پورے یو سربل سره ستوری

روغ م کړے له رنځه چه دَ خولے بنیرے دِ آوُرم
شهد وشکر راکړے چه م ستا شونډے وزوری

ظلم دِ دَ سترګو په ما خوار هرګوره ډیر شو
څۀ کړم توان مجال دَ زور ور لری کمزوری

زۀ کۀ ډوب په غم یم تل دِ ډوب وُم چه عاشق یم
تا دِ خدائے معشوقه تل له هرے بلا ژغوری

ما وته ارزان دی ډیر په مشکو په عنبرو
څوک به تورے خاورے ستا دَ پلۀ نه بها پلوری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل ځئ ستا ولور ته په ارمان ارمان کا ته ځ کا
سپین ئې په کاته شي دَخوشحال دَسترګو تورې

ساقي راکړه وما مئے یو ښو جامه پیاپے
دا هم ظلم دے که ګورے چه بے میو ځي سپرلے
هغه ځائے چه ګل وملِ وي ورع ښو کاندې سرے
ګوره ځه وائي پړۍ غوږ کړه چه آواز کا چنګ و نئے
بیا به تیر ساعت رانشي آه ارمان ارمان هے هے
دَ دُنیا ژوندون هم بنه دے که تر تلو همیش و نے
چه تر تلو همیش نه دے نورئے وګنړه لا شے

ډیر مئین ئې وبل تیر کړل
فلک نه لری زړه سوے

ستا په زړه دَ دُنیا ښلے دَ دوزخ لمبې دی بلے
چه دَ ګور لړم ماران دی هم دا ښلے دی پیسئلے
که دِ یو ځله ځان خلاص کړ غم دِ نشته هورے دلے
دا لړم شلوه له دله که دِ نه وي لیچي شلے
چه به وو تسپې په لاس کښې نن ئې تور بریرے ئې کلے

ته اصیل ځان دِ مریئے کړ
هے تو به خوشحاله ولے؟

ساقي چه مهربان شي په پیاله کښې مِ زیا تیږي
چه مے ورځنے اخلي دَ رقیب بښینبه ما تیږي
قربان ئې شم تر سترګو په طالع کښې زور ور دے
چه هر کله ئې سترګے په زیبا جمال توانیږي
بوسه دَ سپینے خولے راکړه بدمه وره مستحق یم
دَحسن له نصابه دِ ښو تو که نن کا تیږي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



آفت دَ هلکوالی وو جمال دَ هغه تُرکے
چہ کال باندِ تیریږی آفت لاسہ تازه کیږی
ژوندون دَ عاشقانو دَ معشوقے په مثال دے
چه بیل شی له معشوقه ژوندے نۀ ږ وفا تیږی
چه او سپینے ترے خیژی هغه کانړی رنګارنګ ږی
ترخے خوږے ترے خیژی څوک فولاد ترے مِزآ تیږی
دَ چا خونے چه وُمری پس له مرګه شی میراتے
دَ چا خونے خوشحاله په ژوندونے میراتیږی

سترګے دی کۀ وروځے کۀ نے زلفے کۀ اوربل دے
څۀ تورے بلا دی چه م زړۀ یکښے قبل دے
چرته به خلاصیږے دا بلا تر زړۀ چاپیرے
مخ ته کۀ ئے ګورے لا په سرو لمبو اوربل دے
خیال ئے دَ زلفینو عقل وصبر و دین و زړۀ وړی
نۀ پریږدی په کور کښے بنۀ کالے دَ خونے غل دے
نور عالم لا پریږده چه عاشق وته څۀ وائی
پلار کۀ نصیحت کا و عاشق وته خجل دے
قیس وو کۀ وامق وو کۀ فرهاد وریسے نور وو
ما را وړے نۀ دے دا دَ مینے دود اول دے
مینه آلستی شته لباسی شته نفسانی شته
مشک شته هم اوږه نفسانی لکه بصل دے
هرچرته یو مخ دے کۀ په سترګو احول نۀ ئے
یو چه ورته دوه شی خود پوهیږه چه احول دے
جام بینا ته ورکړه چه ئے ډک یوسی ترڅا یه
جام ورکړه ړاندۀ ته هسے وا یه چه تل دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشق دے نور ځۀ نۀ دی چه غواص په دریاب ډوب کا
ځان سوزی په اور کښے ښځۀ عشق ورسره مل دے
ځائے په ځلئے چه کورم زۀ خوشحال ورته حیران یم
بله غوغا نشته هم‌کی دَ عشق کل کل دے

ستم دِ دَ عینینو یاره عین عنایت دے
بند دِ دَ زلفینو دَ خلاصئ کنایت دے
په شپه ځما وئیل کله آمیز وو له هستئ
په ورځے ځنے دوریم هغه خرچه شکایت دے
خبرے دَ مجنون او دَ لیلیٰ لاړے زړے شوے
ځما او ستا خبرے تازه نوے حکایت دے
ځما او ستا خبرے دی پټ راز ځۀ هسے نه
چه چاته ئے پیدا یا بدایت یا نهایت دے
په مخ چه بنا ئسته شوے که پسو پسلے نۀ وے
ساده دَ ورو ځیو خال دِ دَ درحسن کفایت دے

هیڅکله دَ مرګه دَ خوشحال اندیښنه مکړه
چه وئے وژنے دلبر خون ئے روغ په روایت دے

سر په بیدی بیدیا وینوے ژړلے
په صحرا دَ ونو پانړه پټ خوړلے
که آشنا که نا آشنا واړه لیدل شی
دَ همه واړو په زیره ورخسړلے
چه دَ قام دَ خیلخانے واړه خبر شوم
ځۀ روزګار به پکښے شی په غم لړلے
په ناحق یم آزادئ وته تلاش کړو
په زندان دَ اورنګ زیب بنۀ وُم تړلے
خپل پردی چه دَ دُنیا شکرخواری دی
لکه مچ هسے له ځانه وُ شړلے
ځما حال به وهغۀ وته معلوم وو
که دا هومره ډیر آهونه چا نغړلے

که خوشحال پنجهزاری کړه مۀ ئے وینه
دَ مغل له نوکرئ دے اغیړلے

شین مزرے چه ګینډی داړی
بااندِ نۀ خیژی خسی زاړی
ځۀ عظمت ځۀ مهوتے دے
چه په مرګ به ئے څوک ویاړی
دَ بنادئ سترګے دِ وُوزی
پر یږ دہ دے ور پسے ژاړی
په یوه غوته یو نیسی
باز نۀ دوه تارو ونغاړی
عابد خاځما شنتار دے
په غوته وهی دوه ښاړی
هم شنقار یم هم شاهین شته
هم بنۀ باز لرم لک غاړی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت دَ ښکار دے سهیل وخوت | خپل خپل ښکار به پسے غواړی
زهٔ په ښکار یم دَ سرخابو | وړاندِ زاغ راغی مرداړی
خرقه خیرے دَ زاهد شوه | رنګ ئے نهٔ وینم دَ نماړی
زر به ورک شی مدعی م | یوخوځ دی دَ غوباړی
آزمیښت کوره دَ دهر | راته لیندی شول اوس شاړی

تیغ پړے سورمهٔ کړه خوشحاله
چه لائق دی دَ خوباړی

شفاعت دَ محمدؐ ثابت په نص دے | داپه داچه دے دَ درست جهان اخص دے
دَ موسیٰؑ دَ عیسیٰؑ کله داصفت وو | دَ لولاک نعت په دهٔ باندِ مختص دے
اولیاء ئے دَ امت واړه ممتاز دی | هرولی ئے په ارشاد کښے مُرخّص دے
سرحلقه دَ اولیاؤ هغه شماره | چه شیطان ئے بندی کړے په قفس دے
دَ رستم دَ مړنتوب خبرے هیڅ شوے | ذوالفقار چه ئے یادشوے په قصص دے
دوستداران دَ اهل بیت داوره خلاص دی | بے دوستئ ئے عالم کله مخلص دے

په وِلا کهٔ دَ علیؓ رافضی کیږی
سکه خوشحال ئے په وِلا کښے مشخص دے

ښے ښے شپے شی څنے پیښے! | غیږ په غیږ شے شفت زبیښے
څښے څښے ښیښے تشیږی | ن به شی بخښنے ښے ښے
چین چین څنړے څی په شین | بُتے زشتے فتنے پیښے
شی په چین تشے پو ښتنے | چین چین څنړے پښتنے ښے

هسے څی په شین شین
نخښنے نخښنے ختے پښے ښے

ښهٔ سرراست توپک دے چه نظر څنے لربرشی | کوره چه ګذار دَ کم خطا په چرته سرشی
ولے هسے نهٔ وی چه ویښتهٔ چوی په عقل | بیاچه درے څلور مصلحت وکاندی ښهٔ چرشی
څوک چه مخ ولی لیندئی ډیر وبله کښیني | کله په سپینکی دَ هلک غشے برابر شی
نورے لوبئ هیڅ دی دَ نسب که دَ نور څهٔ دی | ښهٔ لوئی هغه ده چه لوئی ئے په هُنر شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرَ سرورئ دعوی کا ندي په جهان کښې — یو سړے په زر وکښې په بخت سره سروړشي
آس ترکتے لا ندِ شا په خوځایه زخمي وي — ځلـئ دے دحیرت په را تبو نو سا تهٔ خرشي
یوتر ویتی نشته چه خپل حال ورته معلوم کړم — کله به ځما دَ بخت دستوري لا اثر شي

زور لوړے کهٔ عقل په دا دواړه مهٔ نا زیږه
بخت راوړه خوشحاله چه دِ کار لکه شو زرشي

بنهٔ هغه چه لاړ بېخوده په خیال ستا دے — کهٔ اشغال دے په جهان کښې اشغال ستا دے
بنهٔ م ولیدل په سترګو واړه کښلي — چه تر واړو لا تېرے کا جمال ستا دے
دَ دُنیا په مخ به ډېروی بنـهٔ مخو نه — چه تر هرځهٔ ډېر لذت کا وصال ستا دے
دواړه زلفې دِ حلقه کړے لکه لومے — چه دانهٔ دے په دا لومه کښې خال ستا دے
دواړه پښې ګلګونے سرے په دماغ دروے — ګوره بیا خو مره وګړے پا ئمال ستا دے
تهٔ کشتن دَ غمزے کړه مهٔ ودریږه — مقتولا نو قبول کړے وبال ستا دے
تا خو نوم دَ جنجالی را باندِ کښښېښو — کهٔ په زړهٔ کښې م جنجال دے جنجال ستا دے
کهٔ همه دَ خلقو کښلي سره تول شي — خستهٔ زړهٔ م په تولی کښې لیوال ستا دے
چه دِ خوک په کوځه تیر شي نو ر مئین شي — چه تمام له عشقه روغ دے دیوال ستا دے
کهٔ مثال دَ صورت غواړے ګوره میا شته — چه پوره دَ دوُو هفتو شي مثال ستا دے
چه صبا بیګانے لوند لرم په اوښکو — یا دګاری راځنهٔ پاتے رومال ستا دے
خوریبار درسره نهٔ بیائے دَ وړاندِ — چه په چم به نے تیریږے مجال ستا دے

کهٔ په قهرئے شړے په لطف ئے بولے!
چه ئے نهٔ پریږدے په هیڅ کښې خوشحال ستا دے

بناپیرک کهٔ په هوا ځی په تورتم کښې — په راتلهٔ دَ رڼرا ورځے دے په غم کښې
لکه چتے درسته ورځ دروُمی په پورته — هغه هومره باز شاهین درومی په دم کښې
دَ چند نړا وبنوانهٔ فرق سره هیڅ نهٔ وُو — کهٔ چند نړ تر بنوانهٔ بنهٔ نهٔ وے په شم کښې
چاله ړنړه دُرګوهر نهٔ دی وُکښلي — قیمتی لوُلوُ لا لا غواړه په یم کښې
کهٔ ګیدړ په خُم کښې رنګ شو په دا ځنی — خوبیا هم هغه ګیدړ دے په شیم کښې
زاهدان شیخان م ولیدل نا مرد دی — مرد عالِم رَبّانی دے په عـالَم کښې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرخ م خکه دا په سر لوني گلونه | چه ئے خاورے غونډ پروت یم په حرم کښے
کهٔ ها تی دَ بادشاه و مری غم ئے نشته | چو هرے دَ سپی په مرګ دے په الم کښے
عشقه واړه ستا دَ غمونو خرخشے دی | چه په سوات را سره ګرځی هم په سم کښے
ګوتے ومنډه په غوږ کښے ترے تیریږه | ذاکو زر ذکرونه کا زړهٔ په درم کښے
کهٔ خوبئ ئے دَ وصال ورسره نهٔ وی | عاشقان که خوښیږی په ارم کښے
مغه چرِدِ واړه ګوتو ته نظر کا | چه ئے وی ستر ګے نیولے په صنم کښے

آفرین دِ په وئیلو شه خوشحاله
چه دَ تورو روزل کړے په قلم کښے

ښهٔ هغه چه ښهٔ ئے رنګ ښهٔ ئے جمال دے | ښهٔ هغه چه په قوت دَ هرچا سیال دے
ښهٔ هغه چه په میراث خانی میری کا | فراغت بے غمه ناست صاحب اقبال دے
ښهٔ هغه چه که احمق وی که جاهل وی | په طالع په تخت صاحب دَ ملک ومال دے
ښهٔ هغه چه په رشوت قاضی ګری کا | په مسند دَ قضا ناست په قیل وقال دے
ښهٔ هغه چه ډیر لښکر ورپسے درومی | ډیرے کبر ډیرے جاه ډیرے جلال دے
ښهٔ هغه چه په مجلس دَ ملوک ناست وی | تمامی عمرے زیست روز کا ره تیتال دے

په عالم کښے بدی نشته واړه ښهٔ دے
چه و بدو وَ ته روغ دے یو خوشحال دے

ښا رونئ دِ غوا شیئ پسے غواړی | باز دَ غرهٔ ښائسته زرکے پسے نغاړی
کهٔ په رنګ کښے لکه غلوځه هسے روغ دے | دَ خوږو هیله ومنګره له غوباړی
یو آواز دَ ښهٔ آسونو دَ ششنا دے | بل آواز دَ ګنده خرونو دَ چه ناړی
خوک ژړا دَ آخرت دپاره کاندی | خوک دَ دے جهان دَ سود دپاره ژاړی
دَ ګذارد پاره لیندی په خو ناست دی | دَ قطرے په حرص ګرځی پسے ښاړی
مرتبے دَ دواړو نهٔ دی سره سمے | خوک دَ ځا یه باز شهند خوک خوږ ځاړی

کهٔ دَ ختک پرونه ئے هر خو کښلی روغ دی
دَ بازونو پرواز مهٔ غواړه له ښاړی

ښهٔ سرے ګنړه هغه چه په زړهٔ صاف وی | همیشه ورځه شرم هم انصاف وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دا خو توکه نهٔ وي سړی نهٔ شهٔ
هر چه کاندي نور د ننګ کا هغه معاف وي

په دُنیا چه دا عالم سره خلاف کا
لکه سپي چه په مردار ئے خلاف وي

نوشیروان چه مخ په عدل په انصاف وُ
کهٔ ئے ګورے تر قیامته ئے اوصاف وي

کهٔ دانا سړے بد رنګ وي په دا خهٔ شي
کهٔ د ښئے تورے سازشوے بد غلاف وي

دَ هیڅا غرض په دا خبرو نشته
قلب سرهٔ چه سره پیژنی صراف وي

جوهري به ئے خود کا رسره ښکاره کا
تر یا قوتو کهٔ شبه په رنګ شفاف وي

دَ یارئ د پاره ګرځم نهٔ ئے موموم
چه وفالري هغه په کوم اطراف وي

دَ ښځملو په اودل به خبر نهٔ شي
په شماره کهٔ اتیا زره بوریا باف وي

عشق په حق په باطل هیڅ نهٔ ګډ راغلے
تر کعبے ئے ډیر وَ بت وَ ته طواف وي

ښائسته هر ګوره ډیر شول پرے ویریږم
ما خوشحال چه دَ تقوی وهلے لاف وي

عاشقان کهٔ ستا دَ لاسه په جفا مري
بارے شکر چه په عهد په وفا مري

بیدلان م دَ هجران په تیغ قتیل وي
دا یو حرف دے چه په توره دَ قضا مري

زهٔ مرده وُم ستا دَ جام په کوټ ژوندے شوم
چه ئے دا جرعه نوشلی غه په چا مري

زړهٔ م ستا طرے طرارے ته هوس کا
ځان م ستا غمزے بیمارے ته رښتیا مري

اے تازه ګله بلبلے ته نظر کړه
په نوا کښے ستا له شوقه بینوا مري

خوار خوشحال په مرګی حال دَ ځنکدن کا
راشه ګوره په ارمان دلیدو ستا مري

عاشقان له بیش وکمه آسوده دي
له وجوده له عدمه آسُوده دي

دَ ساقي له لاسه ډکے پیالے آخلي
په مستئ کښے دم تر دمه آسُوده دي

بُت پرست دي دَ مغان په خرابات کښے
خوش خرم خوشحال له غمه آسُودهٔ دي

ورځ وشپه باندِ تیر یږي په ښادئ کښے
هر زمان م له صنمه آسُوده دي

تل ساقي دَ میو داد کا بے منته
کریمان م له کرمه آسُوده دي

همیشه شونډے دَ جام په مو رګه ایښي
په خاطر له جامِ جمه آسُوده دي

بادشاهان کهٔ خزانے وبله آسپي
دا ګدائے م له دِرَمه آسوده دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دریاب کښې ئې دَعشق دَ غُسل کړې — له حدثه له قِدَمه آسُوده دی

اے خوشحاله کۀ نظر دربانِد وکا
ډیرئې تا غوندِ له دمه آسوده دی

عاشقان چه دَمعشوقې دلداده دی — له همه واړو غمونو آزاده دی
په یوه لحظه کښې هست په بله نیست شي — کۀ ئې گورې عاشقان په زړۀ ساده دی
مگر زۀ له خُدایه غم لره پیدا یم — په هر دم راته غمونه آماده دی
نۀ یو زۀ دَ نظام پور په گټ کښې پروت یم — سوختگان ئې په هر لوری افتاده دی
په دِرون دَعاشقانو نظر وکړه — دَلاله غوندِ دَ داغ سره زاده دی
تُرک تاجیک عرب عجم عاشقان واړه — مست بیخود دَ دیو دَخمرو په باده دی
دَ هوی خدایان دِ لرې کا له دله — یوهٔ خدائے وته چه ناست په سجاده دی
چه ترخپلې رضا تیرشي اولیاء شي — اولیاء له هره غمه آزاده دی
غوبانۀ شپانۀ ظاهر سړی لیدل شي — په معنیٰ کښې دَ پاده سره پاده دی
شیخه تۀ چه ډیر طاعت کړې جنت غواړې — وجنت وته ورتلۀ په اِراده دی
عاشقان کۀ معشوقه په تیغ ووژني — ورمیړونه ئې وتیغ ته نِهاده دی

چه دَ ننگ په چارو نر نۀ دی خوشحاله
کۀ ئې نر وینې په ستر گو هم ماده دی

ارتیېنې په عقل کمې — خود بخود دَ صورت غمې
تۀ دَ دیو سره سمې — دوئی له تا سره نا سمې
زړ نیکي ورسره وکړه — په یوه ذره برهمې
درته زهر شي تاؤ ژنې — چه ئې تۀ گڼړې مرهمې
دَ وفا په خوئ کښې نۀ دی — همیشه جفا شِیَمې
دَآدم په صورت روغې — په معنیٰ کښې نا آدمې
تا به کرم په لږ گناه کا — دوئی په لوئې گناه ناکرمې
خوئې کج وړې هومره کجې — خوئې درد وړې هومره غمې
په هر کار کښې دیکو کونې — په خولۀ راڅې په زړۀ رمې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاسه تن ئے بنائسته دے ‏ ‏ په درون لکه ارقم
نو رخه مهٔ وایه خوشحاله
تر وجود بنے دی عدمے

غم آخر شو دَ بنادئ روزګار راغے ‏ ‏ چه موسم شو دَ ګلونو ګلزار راغے
په تلوارئے تیارے دَ سیل کانړئ ‏ ‏ و بلبلو وته وایه بهار راغے
په دا هسے وخت دَ بنو ګلونو ‏ ‏ دَ مطرب دَ ساز آواز م په کار راغے
داځے واړه له خزانه نه فریاد شی ‏ ‏ چه ګلونو ته طوطی په چغار راغے
دَ هجران مشقت ډیر وو خدائے آسان کړو ‏ ‏ بیا م سخ دے چه عشرت دَ دیدار راغے
کهٔ په نورو باندِ هرکله اختر دے ‏ ‏ په ما دا زمان اختر دے چه یار راغے
لون لون کالی بیا پیری خواجه شو
چه خوشحال دَ یار دَ مخ په بازار راغے

غم بنادی چه په چا ویر شی ‏ ‏ لکه ویر شی هسے تیر شی
سر رشته ئے مونده نهٔ شی ‏ ‏ ګوناګون دَ دور پیر شی
چه په خوا په خاطر نهٔ وی ‏ ‏ هسے چارے په تا دیر شی
په هجران کښے غم دَ یار دے ‏ ‏ چه همیش تر زړهٔ چاپیر شی
هرچه وواتهٔ له ستر ګو ‏ ‏ عاقبت له دله هیر شی
چه به سخ په خوشحال کا
ګونډِ زر دَ ده په خیر شی

غنیمت ګڼړه ګلونه میخوری کړه په چمن کښے
چه به پس له هفتے نهٔ وی دا ګلونه په ګلشن کښے
په غنچه چه تطاول کا صبا دا کله باطل کا
دَ بلبلو کام حاصل شی دَ ګلزار په شګفتن کښے
وطن بنهٔ دے کهٔ غم خوری بنهٔ یاران دِ لور په لور وی
خو چه شته کهٔ هومره نور وی لاغریب یم په وطن کښے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مانړې شته هم عتاب شته هم ترخهٔ ترۀ خواب شته
نهٔ ئې شمار نشته ئې حساب شته څهٔ خوښي ډېره دیدن کښې

اور اوبهٔ نهٔ ده نور څهٔ ده چه په تلهٔ یا په راتلهٔ دٔ
په راتلهٔ په اور اوبهٔ ده اور را بل کا په رفتن کښې

کهٔ ئې تل په ظلم زړهٔ وی کهٔ م زړهٔ له غمه چوی
خدائې دِ نهٔ کا دا به نهٔ وی چه ئې خوږ کړم په گفتن کښې

چه بلبلې وته گوری له آوازه ژبه ژغوری
دَ بلبل په آواز شوری هو مره ژبه په سوسن کښې

چه جدائی و دِ مرینه له غمونو چه خلاص شینه
څوک چه بې یاره پائینه سود ئې کوم دے په زیستن کښې

کهٔ دَ سپی غوندې وُلی په رو روبه پسے زغلی
خوار خوشحال به ئې اخلی څو چه خان لری په تن کښې

کهٔ م یاد کهٔ م نا یاد کا ندی مخدوم دے
دا گدائې وَ وصال ته څهٔ هوس کا
په عاشق چه ستا له لوریه ظلم وشو
همیشه ئې سوړ سوړ آه وی گونه زیړه
په جهان کښې چه څهٔ رنځ وو څهٔ محنت وو
هغه یار چه وفادار دے موندۀ نهٔ شی
دَ خاطر وینه م خوری په تنگی تنگی
کهٔ یار سر غواړی له دهٔ نه نَه به نهٔ کا
چه په عشق کښې موافق نهٔ وی اے دِله
دَ دوزخ لمبې به نهٔ رسی عاشق ته

دَ چا کرم له خښتن نه جحت کوم دے
چه بادشاه ئې له دیدنه نه محروم دے
اوس په هر لوری چه دے د رومی مظلوم دے
دَ ډیشتلو حال کهٔ نهٔ وائی معلوم دے
هغه وارِه سره تول شول عشق ئې نوم دے
په جهان کښې دَ وفا هُنر معدوم دے
له گناهه ویره نهٔ کا ندی معصوم دے
هر چه پوهه دَ عاشقئ په رسوم دے
دَ هغهٔ لیدل په څهٔ گوره چه شوم دے
چه دَ عشق په تُوره مړ شو غه مرحوم دے

ما خوشحال ته ستا دَ خولے اسرار مکشوف شو
کهٔ دا راز دَ چا له سترگو نه مکتوم دے

کهٔ یو دم دَ یار په غم فراغت کښینې
په دا دم به له عالم فراغت کښینې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ دِ کار دَ محبت وَنيو په لاس کښې — په دا کار به خوښ خرم فراغت کښينې
کهٔ گدائے شے دَ مغان په خرابات کښې — هميشه به لکه جم فراغت کښينې
ديرو لړ دَ زړهٔ زحمت دے کهٔ عاشق شے — تهٔ به تل له بيش وکم فراغت کښينې
کهٔ اختر دے کهٔ نوروز دے خو هم دا دے — مخ په مخ چه له صنم فراغت کښينې
کهٔ په کوم کښے ئے مقام وکړے زاهده — په خاطر به له ارم فراغت کښينې

لاس په لاسه بهشت دا دے اے خوشحاله
چه خپل يار سره يو دم فراغت کښينې

کهٔ دا عقل دَ همه خلقو يکسان وے — سکه بانده ووچه همه سړی لقمان وے
دَ دے لال قدر به نهٔ وو په عالم کښې — کهٔ دا کانړی واړه لعل دَ بدخشان وے
په بيغرت به دَ هرچا کره پراته ووُ — کهٔ دا دُرم دَ ژلئ غونډ ارزان وے
هيڅ حساب به ئے په هيڅ ځنګل کښې نهٔ وو — کهٔ دُرے واړه گنی دَ هندوستان وے
په خوراک به خرو غويو نهٔ قبلولے — کهٔ دَ بړهٔ دَ وني پاڼے واړه پان وے
دا تپوس به هم په لاس دَ بادشاه ناست وو — کهٔ دَ باز و دَ شهند غونډِ ئے شان وے
دَ ليلیٰ او دَ مجنون مينه به هيڅ وه — کهٔ همه خلق ليلیٰ او مجنونان وے

ماخوشحال دَ حقيقت په ژبه ووے
دريغه دريغه کهٔ څوک پوهه په دا ژبان وے

کهٔ صورت وَته دِ گورم په صورت کښې يو حيوان ئے
کهٔ معنو وَته دِ گورم شهزاده دَ کل جهان ئے
چه ظلوم جهول يا دير دے کُنتُ کَنزًا هم پوهيږے
تهٔ و داته نظر مهٔ کړه چه دا غوښے اُستخوان ئے
چه مسجود وو دَ ملکو ځائے ئے پاس وو په فلکو
تهٔ خلف دَ هغهٔ هسے خليفه پدر نشان ئے
غوښے هډ څهٔ پکار نهٔ دی دا دَ گاډُ او دَ خرهٔ هم وی
دَ گدائے په کند کښې پټه تهٔ يو خور ننگه سلطان ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې ستا په حال پېغور شو ترا بده ئې مخ تور شو
دَ چا نوش ئې دَ چا نیش ئې دَ چا درد دَ چا درمان ئې

دَ دُنیا عقبیٰ باغونه پکښې واړه نعمتونه
واړه ستا د پاره جوړ دي ته مقصود دَ کن فکان ئې

که هر څو ګلونه ډېر دي تر حساب تر شماره تېر دي
دَ فطرت په حدیقه کښې نو باده دَ ګلستان ئې

نور به څه وائې خوشحاله له دې حاله له احواله
هم دا هومره وئیل بس دي که پوهېږې نکته دان ئې

که په باغ کښې رنګا رنګ ګلونه ډېر وي
هسې نه چه دَ ګلاب دَ ګل په څېر وي

آشنائي دَ ګبینه ده که شکرې
چه خواږه ئې په څو رنګه را برخېر وي

ستا دَ در دَ سپېو خځ ثنا صفت کړم
چه تر پېره مېره زړه وته راتېر وي

آرزو به دَ حیوان دَ اوبو نه کا
عاشقان چه دِ دخولې په مېو سېر وي

چه په عشق سره ژوندي دَ مرګ ئې نشته
که په ګور کښې تر دا تور و خاورو زېر وي

دَ غمزې توره ئې هر چرته وژل کا
لور په لور ئې شهیدان په دا شمشېر وي

تل ئې لوبې دي حُما دَ زړه په وینو
ستا دَ سترګو آهو ما ته لکه شېر وي

ستا دَ زلفو هر هر پېچ وته چه ګورم
هُمکې په رنګ وبوئي لکه کستیر وي

چه خوشحال دِ یو زمان دیدن ونه کا
یو زمان ورته تر کاله هم لا ډېر وي

مګر هېڅ ئې دَ زړه حال ورښکاره نه دې
چه لیده ئې دَ خوشحال سره ډېر ډېر وي

که راضي م په جفا او په وفا ئې
نور را درومه چه زړه ستا یم ته حُما ئې

بې له ما که جهان ستا شي په اوربشه
چه زړه ستا شم که اوربشې خورې دا رلئې

که دِ طمع دَ مخلوق له دره پرېکړه
بادشاهي دِ مُبارک شه که ګدا ئې

غاړې غړونه خبردار دي چه مجنون م
که جهان په دا خبر دې که لیلیٰ ئې

جګې جګې په لیمهٔ م قدم کښېږده
چه ړندې سترګې م روغې شي توتیا ئې

کله ما وتا روزګار په یوه ځائې کړه
بر بر را شه دَ یار سپیه چه آشنا ئې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه یاری له یاره کړے د سود له مخه ۔ په خاوندم د سوګند وی بے وفائے
چه د یار سره په خپل غرض یاری کړے ۔ د یارئ بلا په تاشه یار د چائے
چه دِ بولم معطل مه کړه را دروسه ۔ که د بازغوندِ حاضر په ژرغ دبیائے
په دربارم چوترے دی د سرو نو ۔ راشه واوره چه په خپل کشتن شیدائے
چه دِ خوئ خصلت د رنګ سره جوړ نه دے ۔ رنګ دِ ورک شه که هرخو په رنګ زیبائے
په دا هسے بنانُسته جمال چه ستا دے ۔ غم شدت آفت فتنو لره پیدائے

په اُمید دِ د دیدن په در کښے پروت یم
که ته هر خو له خوشحاله بے پروائے

کله خپل بشرد ګل غوندِ نمائے ۔ کله کله د بلبل په ژبه وائے
چه هر هر زمان په هر شکل جلوه کړے ۔ عجائبه دلبربایه خود نمائے
په یوه ویښته دِ نه ارزی دوه کونه ۔ په غایت لکه ګوهر قیمت بهائے
د خپل درد دوا به زه له چا نه غواړم ۔ چه هم ته محبوبه درد ئے هم دوائے

کله ناز کله تغافل کړے کله مهر
له خوشحاله مروره که پښولائے

کوئے لرے له جماله نه جلباب شی ۔ حبطه به ئے ترخ پورے آفتاب شی
کوئے بوئ د پیچا پیچو زلفو ورشی ۔ په خطا کښے به بے قدره مشکناب شی
خو بوسے که له دشنام سره آمیز کا ۔ شماتت به ئے په قندو په ګلاب شی
که هرخوله زیبا مخه خاطر نیسم ۔ زړه م بیا په اضطراب لکه سیماب شی
یکباره ئے قرارے له ما نه واخست ۔ درسته شپه په ماحرام شه که م خواب شی
د هغو طاعت قبول نه دے نور څه دے ۔ چه سجده ئے تل د ورو خو په محراب شی
دا پیاله چه څما نوش د زړه پرے مست یم ۔ دامستی م نه په بزم د شراب شی
د رندانو د شرابو هسے کار دے ۔ چه زاهد ئے هم په بوئ سره خراب شی
نامحرم م د صحبت ته څه هوس کا ۔ چه خاله محرومانو هم حجاب شی
که یو تول د بنانُسته وُسره کښینی ۔ خو هم بو یه د همه و انتخاب شی
غم روپئ چه د ټکسال له لاسه نه وی ۔ و صراف و ته ظاهره په هر باب شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروغژن غشے که هرڅو ثابت روغ کړے — خو به بیا د هلکا نو تیر پر تاب شی
دخرما ونه خو سازه کړے له مومه — دخرما غوندِ به کله ترے دوشاب شی

ما خوشحال چه په پښتو شعر بیان کړ
د پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شی

که په عشق کښے زړه د نورو په لیده ځی — څما زړه په آوریده تر لیده بنه ځی
نورے مینے نے څما له دِله یو ړے — یکباره مِ په دیدن پسے لیمه ځی
هسے یاد بویه چه یو ځله یار یاد کړے — نور دِ وینے لکه باز تو هر و بینته ځی
پکښے خیال د سرو قدو دے پالم نے — چه مِ هر کله تر دزو ستر کو وبه ځی
که په زړه شوے زه به اوس د یار غم ډم — چا وے دا چه پښے هوړ دروم چه زړه ځی
که د مال وو که د ملک وو که د زر وو — وار په وار م د زړه مینه له هر څه ځی
د دنیا مینه په زړه باندِ لوئے بار ده — آزاده به بار په زړه وکوره نه ځی

روغ به خوب د بیغمیٔ کاندی خوشحاله
چه څه خوړ د زړه لری خوب د هغه ځی

که میوه د چندنړ نشته هسے شنړ دے — لا ئے بنه ترمیوه دارو و نو خنړ دے
وائے زه به په تاو کړم څنے چارے — زه د دے چارے ارمان لرم ډیر څند دے
که مِ ځان ځی که جهان پرے به ئے نړ دم — ما نیولے اوس د عشق د سوز و منړ دے
په دا لارد شهسوارانو ختل گران دی — گوره څو به باندِ خیژے ملکند دے
زه اودا د هر ناکس سازے نا سازے — که رښتیا وایم خپل ځان را باندِ بنړ دے
که مثال ئے په دنیا غوارے له مانه — چه الا بلا پکښے وی هغه ړنړ دے
د چرے د لاره کار نشته نادانه — چه تبرونه پرے ما تیری هغه خنړ دے
یا صبا دے یا غرمه یا نماز پښین دے — نماز دیگر د بنکار تکل کړم ساعت لنړ دے

ځوک د حج ځوک د تلقین ځوک د مکتب شول
یو خوشحال په واړو خلقو کښے لونړ دے

کام د زړه که هر څو بنه دے — ترایمانه نه بنه نه دے
چه ئے دا اندیښنه نه وی — هغه کس سرے په څه دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتبار په دا دُنیا کښې — دَ سړی لکه لیمهٔ دے
دَ هرچا چه لیمهٔ نهٔ وی — کهٔ بادشاه دے خوار په زړهٔ دے
سپے په بښهٔ کرم دَمرئي نه — سپے دَ کور هم زړے دَ غرهٔ دے
خوکهٔ بد دے بیا ورے وړی — بد سړے بدتر تر خرهٔ دے
تهٔ ئے ویښ وینے په سترګو — غافل ویښ نهٔ دے اُودهٔ دے
په رښتیا کښې زوال نشته — دا ځما کلام په ولهٔ دے
اولیاء بللے بو یه — چه حلال په خولهٔ په زړهٔ دے

تهٔ ئے سست وینے په سترګو
دَ خوشحال اختیار تیرهٔ دے

کهٔ په حسن دَ کشمیر خوبان او ښاردی — یا دَ چین او دَ ماچین او دَ تاتار دی
ښښتنے جونه چه ما په سترګو ځیر کړے — هغه ګل واړه خجل دَ دوئ تر کار دی
په ښائست باندِ ئے ختم دا ونیا ده — چه په اصل دَ یعقوب قوم وتبار دی
هیڅ حاجت نشته دَ مشکو دَ ګلابو — په ښځه وخته مانځه عطر عطار دی
کهٔ تیکه کهٔ کنهاله کهٔ نور سنګار دے — دا همه تر تورو زلفو پورے خوار دی
کهٔ اوړنئ مقیش دوزی کهٔ سالو دے — دا همه واړه تر سپین پړونی ځار دی
تر صورت ئے دَ سیرت خوبی افضل ده — تر ظاهر ئے دَ باطن خوارهٔ بسیار دی
کُل روزګار ئے سرتر پایه پردہ پوښ دے — نهٔ ګرېوان تر نامهٔ ځیرے په بازار دی
له حجابه پورته غږ کتلے نهٔ شی — نهٔ آموخته په کنځلو په پانزار دی

ما خوشحال له ډیرو لږ دی خهٔ ویئلی
له دے حاله ګوئے مګوئے ویئل بے شمار دی

کله رِند غوندِ ملا واقف دَ راز دے — دَ کتاب دَ مسئلو زبان دراز دے
زهٔ مریئے دَ هغه چا یم ترے ځار یږم — چه دَ زړهٔ سره ئے جوړ دَ خولے آواز دے
چه ئے رو دَ خولے دَ زړهٔ سره یو نهٔ دے — کهٔ په هر نمانځهٔ اودس کا بے نماز دے
وار په وار ځما په زړهٔ کا هسے چارے — کهٔ دَ سترګو ئے غمزے دی کهٔ ئے ناز دے
لا به ډیر ګلونه واشی په دا باغ کښې — دَ ګلزار دَ غوړیدلو ئے آغاز دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوک به نۀ وی چه به غاؤ ورباندِ نۀ کا
دَ هرچا و ملامت ته عاشق ساز دے
خان وتن سره مثال کړه دواړه توکه
محبت کۀ حقیقت دے کۀ مجاز دے
چه عزت ترے پیدا کیږی قناعت دے
چه خواری ورځنے زیږی هغه آز دے
زۀ خوشحال له خپله بخته دلګیر نۀ یم
چه څما ستورے څائی دشمن ګداز دے

کۀ هر څو په خپله پوهه کښے سقیم ئے
دَ حکیم په حکم کار کړه نور حکیم ئے
کۀ په خولږ په غوږ په سترګو څۀ زده نکړ
نور ور درومه ازلی سیه ګلیم ئے
دَ سیرت خوبی پیدا کړه چه جوهر دے
په صورت خو هډ و غوښه وینه ریم ئے
پیر اُستاد مرشد به واړه درته شاګرد
کۀ په جهل مرکب کښے مستقیم ئے
عاقبت به دِ په بخره ندامت شی
چه دا هسے دَ جاهل سره ندیم ئے
دا دانش چه دَ هندو دَ شمار حساب دے
کۀ ته دا دانش دانش ګنړے لئیم ئے
سخاوت په روایت په روخ په رنګ کړه
نۀ چه درسته دُنیا وبازے کریم ئے
همیشه په زړۀ خوشحال وُسه غم مکړه
په اخلاص چه و دانا وته تسلیم ئے

کۀ هر څو په هوا پرونه وهی چتے
بیائے زړۀ وی په ډکی دَ ونے نښتے
شاه خلمی توُرے نیزے خوری تردد کا
په بریښنا دَ تورے تښتی تیز آرتے
سترګه ور او را ورکے وینی چه بریښی
نوی میاشت په سترګو نۀ وینی سترګ تتے
ناسوتی عالم په څو په دُنیا خوښ دے
هلګ دَ مور په تی پورے وی نښتے
دے دَ خپلے کوتے غم کا ندی کۀ نۀ وی
په شګون کښے عالم بنۀ ګنړی شپږ کوتے
په هر کار به بے خطا چورب آلوزی
ماخیل بازدے په پهرو پهرو پرلتے
کۀ ئے بل له بدبوئی سپیږمے نیسی
دَ خپل بوئی په بدبوئی خوشی وُخسا کوتے
خوک به څۀ لره خوشحال ته نصیحت کا
عاشق نۀ دے نصیحت دَ چا نغتے

کۀ هر تارئے دَ کوځئی مشک تاتار دے
دَ کوځئی تر تارئے بنۀ دَ زلفو تار دے
هغه ځائے چه م دَ زلفو بازار جوړ شی
هغه ځائے م دَ ماتیو تش بازار دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه لذت دَ تورو زلفو را تر زړهٔ شي | دَ ماتيو زيست روزګار کله پکار دے
دا خبره څهٔ عجب دهٔ چا وئيلې | چه دَ تورو زلفو بد سوے ناتار دے
چه دَ تورو زلفو خيال ور تخته نشته | تورے خاورے ئے په سر عمرئے خوار دے
کهٔ دُنيا پرے وشندے هم هيڅ دهٔ | هغه کس چه مې دَ زلفو خريدار دے

خوار خوشحال چه ډير صفت کاندي دَ زلفو
په قيمت دَ تورو زلفو خبردار دے

کهٔ هزار ځله هُنر کا هيلے بيلے | خوک به نهٔ کا دَ ازل چارے تبديلے
دَ ازل حکم په مثل دَ هاتي دے | دَ سړي فکر مثال پرے دَ ډيلے
دَ حيات اوبه سکندر په هيلو غوښتے | خضر بيا موندے عبث شوے دَ دهٔ هيلے
يوه ځهٔ رنګه خونريزه لار دَ عشق ده | پکښې ډيرے قافلے شولے قتيلے
عشق يو هسے يو ديرشم تورے راز ده کړ | چه په ديرش تورى څکوم دَ قلم کيلے
عاشقانو ته اندک دَ دُنيا مال دے | تر همت پورے کثيرے دي قليلے
دا دلبرے چه په دا کشور کښې نن دي | په کشمير کښې به ئے نهٔ موے عديلے
هغه ترکه چه ځان جوړ کا را ښکاره شي | تر جمال ئے حورے هم نهٔ دي جميلے
په ارمان ارمان مې ځان راغے تر شونډو | تا دَ شونډو دارو نهٔ راکړه بخيلے
بيا هاله دَ محبت په کوڅه پُل بردهٔ | کهٔ دِ وينے لکه ماء کړلے سبيلے

خپل پردى به دِ هيڅوک سيله ونهٔ کا
اے خوشحاله کهٔ دِ بخت نهٔ شي په سيلے

کهٔ خاطر دِ دَ خوشحاله نه دلګير دے | په خوشحال باندِ هم ستا دَ ماتړى ويړدے
دَ بيمار ساه په شونډو باندِ راغله | دارو کړے لاعلاج ته په تدبير دے
دَ موسیٰ په معجزه به څهٔ کړو هيڅ | دَ فرعون چه دَ هامان غونډ وزيردے
يار ځما په پالنګ ناست زهٔ لاړ په خوب يم | سراسر ځما له لوريه نه تقصير دے
ما خپل سر تر فلک وليدهٔ په پورته | دا دے خوب مې معبره کوم تعبير دے
بيا مې کينړه ستر ګه لاندِ باندِ رڅي | مګر بيا مې زړهٔ ياري کښې تزوير دے
په ژړا پورے مې خاندي چه مې وکوت | دا همه واړه ځما دَ بخت تاثير دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ یو مخ به نے مخې دَ بنا نَست نۀ کړم — ماچه ستا جمال لیدلے په خیر خیر دے

خمازړۀ دَ یار زلفینے سره کوره
لیونے په لیونتوب کښې په زنځیر دے

کۀ پکار دے دۀ دخدائے پېژندګلی — پیروی دَ محمدؐ کړه دَ علیؓ
هرآیت چه به راتۀ پاسه له عرشه — لا په عرش به نے علیؓ وو متلی
محمدؐ چه هغه رازنے په معراج کړه — یکایک وو دَ علیؓ وته جلی
په محشر به هغه تور مخونه پاسی — چه نے نه دی تورے خاورے دَ تلی
محمدؐ علیؓ چه دوه وینې په سترګو — په دا کار کښې احولی دۀ احولی
دَ زړۀ زنګ په بل صیقل نۀ لرے کیږی — په دوستئ نے دَ علیؓ دۀ مصقلی
کۀ دا هومره وئیل کا ورته رخصت دے — محمدؐ دے پیغمبر علیؓ ولی
چه په بغض دَ علیؓ یا دَ عمرؓ دی — رافضی دی خارجی دی خللی
دَ علیؓ دَ آل دوستی دَ ایمان زړۀ دے — څوک دِ شک په دا په زړۀ نۀ راولی
چه ترمینځ دَ چاریارانو بد وئیل کا — په مذهب کښې دَ هغو دۀ درغلی

دَ علیؓ دَ آل په مدح کښې جنت دے
دَ خوشحال خټک په دا دۀ تسلی

کۀ رویت نے ناممکن وے په دُنیا کښې — اَرِنیْ وئیل به نۀ وو په موسیٰؑ کښې
چه موسیٰؑ وته خواب لن ترانی وو — څۀ عجب جلوه لیدله شی په دا کښې
چه په ملک په ملکوت کښې موندۀ نشی — هغه هسې څیز نے اېښے دے په ما کښې
زۀ حیران په دا خلقو نۀ پوهیږم — تری مری ولاړ تر حلقه په دریا کښې
چه په لا اُحصِی وئیل نے خبردار کړم — چا څما ژبه ګویا کړه په ثنا کښې
دَ عاشق دَ معشوقے سره یو راز دے — چه هیڅوک ترے خبر نۀ دی په دُنیا کښې
چه لیلیٰ کړه دَ مجنون کونډئ ماته — خوار مجنون نے سرفراز کړه په هرچا کښې
نور کۀ هرڅو پاکیزه زۀ ګنهګار یم — غم م نشته بیام ځائے دے په ما وا کښې

دَ خوشحال دَ هغو لار سره جدا دۀ
چه نے غواړی په مسواک په مصلیٰ کښې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ چرګان قرقره دار دی  بیا وبازو ته ناچار دی
نۀ یو باز دَ ښکار دپاره  نۀ کۀ چرګ چرګے هزار دی
دَ معشوقے ښیوے واړه  دَ نور چا نۀ دی دَ یار دی
عاشق عشق لره پیدا دے  کفر دین ئے څۀ پکار دی
عاشقان دَ معشوقے دی  نۀ دَ مور دی نۀ دَ پلار دی
دَ خپل در عاشقان ګوره  چه په خو پړا تۀ خاکسار دی
په هغو دَ خدائے نظر دے  چه مئین په ښۀ دیدار دی
عشق ناپوهو ته آسان دے  ورته ګران دی چه هوښیار دی
په خوشحال به عیب نۀ کا
چه په حال ئے خبردار دی
کۀ آسمان دَ چا په حکم جاروتلے  څۀ څۀ چارے به وشوے ښاګتلے
په رندو باندِ لا هسے توره شپه ده  کۀ همه عالم ئے وینی نمر ختلے
هم ئے هیڅ راته پرے نښول هم بیا وائی  چه نړاوه اوسه لا هیڅ نۀ ئے نتلے
بیائے شکل په څۀ شان راته ښکاره کړ  لکه باز وی له ګریزه سرا وتلے
چه اَدب ورځنه وی صحبت هغه کا  بے ادب له مجالسه وی ایستلے
هغه یارم لکه باز په پرواز لاړشو  طالع بیا څما ترلاسه راوستلے
ځان چه نن ترمئین ځار نۀ کړے خوشحاله
ځان به تا وی ونور چا وته ساتلے
کۀ په کور کښے دِ سرد دَ بدخشان وی  یا ژنګوری دَ انګورو یا زمان وی
چه ئے زړۀ ورځنه مور وئ نۀ ئے ګوری  دَ ور سترګیو ورته څو رنګه ارمان وی
مور به څۀ پوښتے له نغنه چه نغن څۀ وی  ورے سپے خوړلی نغن ته نګران وی
کله کښلے معشوقے ته نظر نۀ کړے  کله کوځے درته هم راحت جان وی
په ساعت ساعت کښے حال باندِ نوری  چه م ولیدۀ سرے کله یو شان وی
دَ سړی فکر په مثل دَ سیماب دے  اضطراب ئے هر هر خوا ارمان ارمان وی
کله کله ښانشته شی په ګلونو  کله کله لکه باغ باندِ خزان وی

Poha Foundation
A.S.KB

کله کله دَ خوښئ په صحبت کښېني
کله کله په غمونو کښې حیران وی

چه دایم په یوه حال دے هغه خدائے دے
چه حالونه پرې وردرومی دا انسان وی

آخر تله دی له جهانه باور وکړه
که هر څو خوشحال ژوندے په دا آوان وی

که هر څوئے په دا خپل حسن کښې لویه
دَ یارئ حق هم پیژندے بویه

ما به زړه له تانه وتاړه په بله
که موندے شو هسې تا غوندې دلجویه

دَ شرابو په خوړو کښې فهم وکړه
چه دِ نهٔ شی دا پیاله له لاسه تویه

چه مکان ئے ناپیدا نشان ئے نشته
څوک به څهٔ غواړی دَ سپینو بازو هویه

دَ تشنه خوَدَ اوبو سره مقصود دے
که اوبهٔ ئے دَ دریاب وی یا له جویه

عاقبت به برخوردار په خپل مراد شی
که دَ بلار په نصیحت کښې درومی څویه

دَ خوشحال دَ ټیل خواږهٔ ترنیشکر دی
که په خوند خبردار شې وے ژوی

که تهٔ خولهٔ وماته نهٔ راکړے ملګئ
بے هم راته نومړے ده خولګئ

په غمونو کښې دِ هسې زنځیری شوم
لکه اوړکے چه زبون شی په بلګئ

په کړکیتو کښې دِ ډیر زړونه پراته دی
په دا دوه زلفو دَ زړونو ئے غلګئ

چه څراغ ورځنې درومی پتنګ خوار شی
یو زمان له مانه مهٔ درومه دلګئ

ما دَ بنو نخونو بنه ننداره وکړه
نشته تا غوندِ زیبا بله جلګئ

ما ساده پښتانهٔ څهٔ زده چه ئے وائے
په پارسئ پارسئ خبرو سغلګئ

جدائی ئے هسے سخته په خوشحال ده
لکه څوک دَ چاله ځانه نه سلګئ

کهٔ آشنا کهٔ ناآشنا دی
بولاق واړه بے وفا دی

کهٔ ئے خویښ کړے یائے خپل کړے
شاهی بیګ غوندِ بلا دی

چه آصف خرّم بنهٔ نهٔ شهٔ
نور خرّم په یاد دَ چا دی

خوشحاله کهٔ یارِ غار وو
هم دَ دهٔ نه دا غوغا دی

کهٔ ئے ځان کړم یائے زړهٔ کړم
ځان وزړهٔ کله څما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ ئې ننګ شته نهٔ ئې شرم — نهٔ په خپل قول وینا دی
چه کوتک وَته بښکاره کړې — لکه ښځې واړه ستا دی
په خپل سود په خپل مقصود وی — بند په خپله مُدعا دی
دَ سیالانو خوئي ئې نهٔ دے — په بیکار خصلت پیدا دی

مخامخ وتا ته خپل شی
پردی واړه پسِ شا دی

کهٔ په فضل شی خهٔ غم دے — کهٔ په عدل شی ماتم دے
له ګناهه به خلاص نهٔ وی — چه په نوم بنی آدم دے
چه ظلوم جهول ئې یاد کړم — کهٔ پوهیږے ډیر کرم دے
په لاتقنطوا تکیه ده — ګنړه اور ووری تورتم دے
زهٔ هغه نا توان ضعیف یم — چه میږے ترما محکم دے
په داضعف هغه بار وړم — چه ترے تښتې درست عالم دے
کهٔ لوېئ وَته م ګورے — میاشت و نمر څما پرچم دے
آسمانونه م خیمے دی — پرے دَ ستوریو زینت تم دے
لام نور باغونه نور دی — کمکے باغ م دَ ارم دے

غم م هیڅ نشته خوشحال یم
کهٔ خپل بخت را سره سم دے

کهٔ دَ یار د پاره غم شدت خوک مومی — په خندا خندا دِ مخے ته وردرومی
دَ هغه سړی یاری خهٔ یاری نهٔ ده — چه بے یاره ئې اوبهٔ دروی تر کومی
زهٔ له ورایه ورته ګورم یار م ګوره — دَ اغیار سره دَ میو پیالے شومی
ما به خهٔ پوښتے څما دَ یار له نومه — یو بے مهره بے وفا بے مهر نومی
نهٔ ئې زهٔ یوازے قتل په غمزو یم — خوئې ماغوندِ په درکښے دی لړومی
په فراق ئې څما اوښے هسے تلهٔ کا — لکه څوک چه اختہ شوے وی په دومی
دا دواړه بدان نهٔ ګوری له قصده — په بنهٔ مخ باندِ ومهٔ شه دانے سپومی
کهٔ تازه بهاری ښے نهٔ دی خوشحاله — څوک به نهٔ خوښوی غوښے دَ ورغومی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ سړے په مصلحت کښے لوبر نهٔ شی ... زهٔ ضامن چه د دهٔ کار به ابتر نهٔ شی

وهغهٔ ته سړے مهٔ وایه چه پوخ وی ... آراسته خو سړے تر پایه په هُنر نهٔ شی

کهٔ هر خو مشکل کار ونه درته پیښ شی ... فکر مهٔ کړه چه آسان به په زر نهٔ شی

ماچه ولیدهٔ خوز ردی په دُنیا کښے ... خو سړے دِ ئے په مینه کافر نهٔ شی

خُویه یار کهٔ لاف کوی باوری نهٔ دی ... خو به ډیرے حادثے دِ باور نهٔ شی

بخت چه بنهٔ سره یا ورشی هاله بنهٔ شی ... دَ سفله دِ په لحظه کښے یاور نهٔ شی

دَ رستم دَ مړنتوب خبرے آورم ... ولے خوک به بے لبنکره صفدر نهٔ شی

چه دَ مرد دَ نامرد شناخت ورځنهٔ وی ... بد صاحب ځنه دِ هیڅوک نوکر نهٔ شی

دَ خوشحال خبرے واړه نصیحت دی

مګر خروی چه په زړهٔ ئے اثر نهٔ وی

کهٔ تا وته حیران دی دَ لیلیٰ حکایت کړونی

و ما وته په ځان دی دَ مجنون روایت کړونی

دَ هر ویښتهٔ په سر لوم زهٔ تا سره زر کاره

خبر نهٔ دی له حاله دا بیکار نصیحت کړونی

ځهٔ بنهٔ وشول طالع وے چه ئے ولیدٔ په سترګو

ترما پورے خجل شول دا ځما ملامت کړونی

دَ حُسن یغماچی چه دِ الجه راوړی دَ زړونو

پنجک دستا و سترګو وته بیل کا قسمت کړونی

چه درد لری په زړهٔ کښے دَ هغو دارو مندل شی

هیچا لیدلی نهٔ دی دَ بے درد طبابت کړونی

چه زهٔ دَ بُت سجود کړم مخامخ راته حاضر دے

ځهٔ خیز وینی حیران یم دَ مسجد عبادت کړونی

کوم ملک دے له ما پاتے چه مِ پَل نهٔ دے پرے اینبے

هر ځائے به ورته یاد کړم کهٔ خوک شته سیاحت کړونی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دوه اویا مذهبه راته یوشول صلح کل یم
د کوم یوه مذهب دی اوس خما عداوت کړونی

په هسې ځائې مئین یم چه ئې نوم واوری وګړې
نور تبنتي تار په تار شي د خوشحال حمایت کړونی

که هر څو په سر د خیال دستار زرین ږدې
عاقبت به سر د خاورو په بالین ږدې

د سلیمان غوندِ هم پریوتل له تخته
په فرس باندِ به خود زرو زین ږدې

دغه پښې به دِ خوراک شي د چینجیو
چه ئې اوس په شین شین په قالین ږدې

په ارمان به خالي لاس ورځنې درومې
که په کور کښې په هر لوری سره او سپین ږدې

په الا بلا که ټول د دنیا ګنج کړې
په خپل زړه به داغ په دم واپسین ږدې

چه کردار دِ له ګفتار سره سم نه وي
تش ګفتار واړه په ځان باندِ نفرین ږدې

تا په زړه کښې سل خدایان دي کښینولي
راته وایه سر وچا ته په زمین ږدې

د غفلت تسپې به ورځ وشپه جار باسې
څومره به په کرام کاتبین ږدې

هر آیت ئې د معنو په ستر ګو ګوره
د صورت ستر ګې تر کومه په یاسین ږدې

یو قدم که په رښتیا له دنیا واخلې
خدائ کو بل قدم به پاس په علیین ږدې

که اسلام د خلقو دادې اوس خو بویه
چه هندو غوندِ ټیکه په خپل جبین ږدې

زمانه څه نا انصافه را ښکاره شوې
پا نیا تو نه په دا دورِ آخرین ږدې

شاه جهان غوندِ بادشاه په بند بندی کړ
په اورنګ باندِ خطاب د محي الدین ږدې

د مچئ لاشه هم جوړه ورسره وړې
په هر حلق کښې چه خواږه د انګبین ږدې

د خوشحال خټک کوم جرم کوم ګناه دې
چه په زړه کښې ئې آهونه آتشین ږدې

که منصور غوندِ کافر د محبت شي
ته به هاله مستقیم په شریعت شي

د هوښیارو مجالس به درته هیڅ شي
که د عشق د لیونیو په صحبت شي

د جهان خواږه به تا وته ترخه شي
که خبر د یار د مینې په لذت شي

فراغت به دِ هاله وزړه ته ورشي
که له خلقو کناره کنج خلوت شي

د جهان په خزانو به دِ خندا شي
که تونګر په خزانو د قناعت شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ نظر دَ کیمیا کړ درباندِ وشی  کۀ تۀ خاورے ئے ترزروبه قیمت شے
دَ بے آبے مرغلرے هیڅ قیمت وی  په زیبا سیرت به قدر دَ صورت شے
اے خوشحاله بتخانے دی زړے ړونده
خلیلی ناره پرے وکړه په همت شے

کۀ په مخ باندِ خالونه عنبرین بړدے  هومره داغ به په خاطر څما مسکین بړدے
دَ پیالے او به خوږے شی ترنبا تو  په پیاله باندِ چه دواړه لب شیرین بړدے
خدایه زړۀ په ما دَ کښلیو مهربان کړے  تۀ په زړۀ کښے دَ بتانو مهروکین بړدے
دواړه زلفے چه ولول سره حلقے کړے  په هرول کښے ئے ګلونه دَ نسرین بړدے
خدائے نۀ کا چه ئے یوسرکړم یا بل سر  کۀ تلی م په دا چشم جهان بین بړدے
ستا دپلۀ خاورے رنځور غوندِ اخلم  په هرځائے چه قدمونه په زمین بړدے
ستا تمامه خندا بخت دَ څوک ئے موی  په دا نیمه خندا طعن په پروین بړدے
چه لیدلے دِ دَ عشق قمارخانه ده  په ړومبی بازی به یار ته دل و دین بړدے
آفرین دِ په ونیلو شه خوشحاله
په بیاض باندِ عجب شعر رنګین بړدے

ګله تۀ چه زیبائی دَ دے چمن ئے  خاروخس وته په خنده په خندیدن ئے
دَ خپل ځان په قدر ولے نۀ پوهیږے  په دا باغ کښے خو یو تۀ نازک بدن ئے
دَ بلبلو ږغ به تل درباندِ نۀ وی  کښلیه ګله په وفا کښے مبرهن ئے
په خپل بوئے دَ بلبلانو خاطر خوښ کړه  یو څو ورځے چه تازه په دا ګلشن ئے
کۀ جفا وچا ته وایم شمار ئے نشته  په دا هومره ستمو نو جانِ من ئے
چه دَ یار له جوره چا وته ژړا کړے  دَ یارئ بلا په تا شه دروغژن ئے
په یارئ پورے دِ پیچے کا خوشحاله
فکر بنۀ وکړه په چا باندِ مئین ئے

ګل کرم اَغزی ترے زیږی  نوشدارو م زهر کیږی
چه م څراغ په اد بو بل دو  اوس به تیلو نۀ بلیږی
کۀ ئے مخ وی کۀ ئے شا وی  په خپل بخت هر څوک پوهیږی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ کۀ سل غمونه　　له جهانه سارسېرې
څما زړۀ په دا ډادمن دے　　غم ښادي واړه تېرېږي
هم خزان هم به سپرلے وي　　چه آسمان په سر څرخېږي
څما اوښکے کرمے نۀ دي　　کۀ سیلاب غوندې بهیږي
په حضور دیدن ئے وینې　　طاهرخان ځنے بېلېږي
اوس خو اور په خوشحال بل شو
بیا به څۀ رنګه سړېږي

لکه یار راسره یار روو هسے نۀ دے　　چه ډېره ډېره مینه دار روو هسے نۀ دے
کۀ په خو رنګه به ما وربانډې ناز کړ　　چه دَ نازم خریدار روو هسے نۀ دے
دَ بهار بلبلے ژاړه څو په تا شی　　لکه تل تازه بهار روو هسے نه دے
شکر شکر چه ئے څۀ خوخوئ بدل شو　　چه یک لخته ستمګار روو هسے نۀ دے
ستا دَ مهر دَ باران بانډې کهے شو　　چه م جور دَ زړۀ ګلزار روو هسے نۀ دے
یائے ویره شی له خونه یائے هیر کړم　　چه م مرګ ته په تلوار روو هسے نۀ دے
ډېرے مینے دَ خوشحال عقل تغیر کړ
لکه نور کله هوښیار روو هسے نۀ دے

لاله ګل ئے تر جمال پورے بد رنګ دے　　دَ زلفینو ئے دَ چین له مشکو ننګ دے
تورے زلفے ئے لیندے بانړۀ ئے غشی　　دَ عاشق تر زړۀ ئے تللے هر خدنګ دے
دواړه سترګے ئے په تن تورے بلاشوے　　همیشه ئے دَ عاشق له دله جنګ دے
تۀ به وائے حبشي شکرے پیری　　هغه خال ئے چه دَ دوو شونډو تر څنګ دے
تجلّی ئے دَ جمال لکه مشال شوه　　خوار عاشق په دا جمال بانډې پتنګ دے
چه له غوږ وئے مقصود مومی لښتیٔ ده　　چه له پوزے ئے مراد مومی لونګ دے
په بنا ئست کښے ئے تقصیر دَ صورت نشته　　څۀ خو دا عیب لری چه په زړۀ سنګ دے
دَ هرچا په خپل غرض پورے کوشش دے
دَ خوشحال ئے په جمال پسے آهنګ دے

لکه بڅن چه حلوا خوری　　عاشق سپینه خوله دَ شا خوری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک دَ غاؤ وربانډِ نۀ کا
واړه خپله خون بها خوری

زۀ ئے تل خورم خوږ شونډے
کۀ دا نور من وسلوٰی خوری

دواړه تی ئے ناشپاتی دی
چه ئے پوپو اُمرا خوری

هغه هیڅ مرنے نۀ دے
چه به تُوره په قفا خوری

هم عاشق مری ستا له لاسه
هم سوګند په سر دستا خوری

وړے ځۀ پوښتے له حاله
چه روا کۀ نا روا خوری

خولۀ ئے پټه خوره خوشحاله
باز دَ ښکار غوښے په غلا خوری

له شیخه خبر نۀ یم چه په کوم عمل مشغول دے
چه عشق ئے را فرمائی هغه کار ځما قبول دے

عشق لکه بادشاه دے زۀ په مثل دَ چاکر یم
چاکر چه دَ صاحب په رائے نۀ وی نامعقول دے

دَ صبا نسیمه پاځه په تلوار تلوار درومه
په هغو مِ سلام وایه چه په در کښے ئے نزول دے

بل اُستاذ دے دَ عاشق دَ معشوقے په مینځ کښے نشته
په دا میدان کښے ګوره محبت دَ دوؤ رسول دے

دَ یار غم مِ له خلقه پټ پنهم در له په زړه کښے
ولے ځۀ علاج ئے وکړم چه مِ رنګ دَ غم په دول دے

چه په تور دَ لیونتوب مِ هر سړے په زولنو شو
ګرم ئے خلقه مۀ کړئ هم هغه ځما په کول دے

هم هغۀ دے همیشه ژوندون موندلے کۀ باور کړے
چه دَ مستے دَ غمزے او دَ جلوے په تیغ مقتول دے

دَ ګلونو پاڼے بویه چه قمیص شی دَ ملوکے
دَ ریښمو دَ قمیصه ئے نازک بدن ملول دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره ښهٔ جمال چه لا به کله درښکاره کا
داچه همیشه دَ خوار خوشحال و رپسے نول دَے

لکه زلفے دَ هغو چه سودا ستا وی
بویه داچه ئے سرونه تر پا ستاوی

کهٔ دَ سروِ ونه لاف کا ستا تر قد ه
بویه داچه دا په قد و بالا ستا وی

هغه زړهٔ چه تا ویشتلے زړهٔ هغه دَے
تا ویشتلے زړهٔ به تل په هوا ستا وی

په خاطر کښے به ئے ځائے دَ نور څهٔ نهٔ وی
په هغه زړهٔ چه هوا تمنا ستا وی

کله وی چه ستاله لاسه چا ته ژاړم
کهٔ هر څو بے حده جور په ما ستا وی

کهٔ په سل رنګه زیبا دَ چمن ګل دے
دے به څهٔ رنګه په رنګ دَ لقا ستا وی

دَ خوشحال غوندِ به مست ګرځی په میو
چه هوا دَ برندوستر کو دَ چا ستا وی

له اوله په سر جوړے کا دړیځے
بیا ټیکه په وروځو ایښے خونړئ

جړاوے حلقے په غوږ بیسر په پوزه
قیمتی دَ مرغلرو دوه لړئ

مرصّع باهو په لاس ګوتے په ګوتو
ژرنګهار ئے دَ پایٔلو دَ خړئ

په ښیوه ښیوه عاشق ته ځان ښکاره کا
په غمزه غمزه ئے زړهٔ کا ودوړئ

چه له هسے محبوبانے آشنائی وی
پرے به کیږی پادیشونه دَ نړئ

په وصال به ئے په څو رنګه هوس کا
په هجران به ئے ساه راشی ترغړئ

سر تر پایه آراسته شی په څو رنګه
په لیدلو ښاپیرئ ده نهٔ سړئ

دَ زلفینو ښامارانٔ هسے نهٔ دی
چه خوړلی ئے رغیږی په جړئ

خلقو زهٔ دَ تورو زلفو لیونے یم
لاړم ښهٔ په رنځیرونو وتړئ

زړهٔ ئے هسے دَ هجران غمونو موړ کړو
دَ خوشحال ترستونی نهٔ دروی نړئ

لکه زهٔ په یار مئین یم بل به نهٔ وی مئین هسے
لکه زهٔ پسے غمژن یم بل به نهٔ وی غمژن هسے

هم م ووژنی پخپله هم په ما باندِ ژړا کا
څهٔ ښهٔ یار دے ښهٔ ئے مینه وژل هسے شیون هسے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ ئے درست سره ګلزار دے رنګارنګ لری ګلونه
تفرج دَ بهار ګوره پکښے نشته ګلشن هسے

زړهٔ داغدار غرق په وینو لاله ګل وته وګوره
هیڅ شهید نهٔ دے راوړے له ازله کفن هسے

تورو زلفو ته ئے ګوره بښا نشته دواړه رخساره
دَجهان په مخ به نهٔ وی سنبل هسے سمن هسے

لکه زهٔ ئے نندارہ کړم ورخ وشپه په خپله خونه
خوار مجنون لیدلے نهٔ وو په درست عمر دید نه هسے

کهٔ دَګل پا نړے ئے خط کړے لا به هم با ندِ خرخیږ
دا نازک بدن چه ستا دے دَچانهٔ دے بدن هسے

کهٔ ئے رسم یا کهٔ دود دے یا وفا دَ هندوکئ
چه له یاره سره کښیني څوک به وکا سوختن هسے

چه څوک تاپ درپسے وکا سره تک وهی لاسونه
دا ژوندون دے مردن نهٔ دے کهٔ دِوشی مردن هسے

دَ اِرم آرام م بیا موند ستا په غولی کښے خوشحاله
خوښ له بخته له قسمته چه ئے راکړو وطن هسے

چه خوشحال ختک ئے وائی په پښتو ژبه خبرے
په پارسی ژبه به نهٔ وی کهٔ پوهیږے سخن هسے

له غمونو به خلاص نهٔ شے دَغم خویش ئے
کهٔ بدګوئے وبدآموز وبدا ندیش ئے

مهٔ بدوایه مهٔ بدآوره مهٔ بد ګوره
درویشی دِ مُبارک شه نور درویش ئے

ستا په زخم به دارو مرهم نور کښیږدی
کهٔ په ځان مرهم دارو دَچا په ریش ئے

کهٔ دِځان په خپله شمار تر هرچا کم کړ
نور ځما په پوهه ته تر هرچا بیش ئے

یا به دد یا به منګور یا به لړم ئے
کهٔ دا ارل کړے یا چیچل یا په چا نیش ئے

په خپل دین نظر لره دیونه ډیر دی
څهٔ جاسوس دَچا دَدین دَچا دَکیش ئے

کهٔ هرڅو درنه غریب م بد خو یه
څهٔ په هره کوڅه بیا وما ته پیش ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګوګار توره مشکنړه ئې خوشحاله
په ګفتار سره د سپینو دُرو ویش ئې

مخ ئې را ښکاره کړو وے ئې هسے رنګ آفتاب وی
زلفې ئې نمود کړے وے ئې هسے مشکناب وی

وے م خپله عمره په شتاب له ما نه مهٔ ځه
وے ئې کۀ دِ عمر یم دَ عمر تلۀ شتاب وی

هسے ئې بے آبه دَ ګلابو ګل تر مخ شو ! !
زر منه کړ وسیزے حرام کۀ پکښے آب وی

هجر م وژلو ته تیار دے کۀ خولۀ را کړے
هجر به هلاک شی زۀ به خلاص شم ستا ثواب وی

مرم دَ عشق له لاسه نۀ دَ مستے په غمزه مرم
کار تیره چاړه کا لاس او زړۀ خوږ دَ قصاب وی

هر چه ته ئې ولیدے په تا ئې زړۀ بائې نۀ کړ
زۀ وایم سړے نۀ دے هغه به هم دواب وی

نن کا نده هر کوره په آزار دَ زړونو مت کړے
هسے فکر نۀ کړے چه آزار دَ زړۀ عذاب وی

نور به دَ خپل یار سره خبر ګند مهر آغاز کړم
خوړم به له خپلو له پردیو نه حجاب وی

ستا دا بے نظیر جمال چه وویني په دۀ کښے
تر زر سحر خیزئ بنۀ خوشحال ته هغه خواب وی

ماچه ستا په جمال ستر ګے کړے رنړے ... کښلے واړه ستا دَ مخ دی رنړے
چه په داد او په فریاد م نۀ رسیږی ... دا دلبرے بے پروا دی کۀ ګنړے
ګوندِ وی چه بیا م راشی په منګل کښے ... لکه باز دَ زرکے توئے کا ندی بنړے
سپینه زنۀ ئې منړه سمرقندی دۀ ... ګوره څوک به خوږ کا زړۀ په دامنړے
کۀ دِ سپین بار خو کبود کړم په چیچلو ... اوس م نۀ ګنړے هالۀ به م ګنړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخته ته ئے کۀ دَ خوشحال سره مدد کړے
دَ رقیب په سرئے وشلوه پنړے

ماخو توبه وکړه کۀ زړۀ هم راسره مل شی
عشق دے چه همیش ئے په توبه باندِ یرغل شی

ډیر کاندی فکرونه دا سرے به ډیر رنګونه
کا شکی دَ چاچارے په داخپل فکر فیصل شی

څو وائے پندونه دروسه اے نصیحت ګویه
زۀ څۀ مغه نۀ یم چه وما وته اٰکل شی

هومره رسوائی دم وهل دَ پارسایئ
راشه کۀ ئے ګورے چه داڅۀ دغا دَ غل شی

کار دَ عاشقئ څۀ آسان او سهل نۀ دے
اوس چه پښیمانی کړے دله دا فکر اول شی

زهد په لاس واخلم چه به نۀ ګورم دلبر ته
خیال ئے دَ زلفینو راته بیا دَ زهد غل شی

زۀ وایم کۀ تل دَ ښائسته وُ ښنداره کړم
شرم دَ پیرئ تر دا مینځ راته خلل شی

تل به په اَرمان اَرمان مګس مړی لاسونه
یادئے چه په زړۀ دَ شاه دَ لام وبے عسل شی

اور دَ محبت دے چه ځما په زړۀ کښے بل شو
ګوره په دا اور به اور په څو ځایه نور بل شی

زۀ په بیلتانۀ کښے دَ وصال نعرے وهمه
څوک چه اوبۀ واخلی وپایاب وته ئے زغل شی

کښینمه په طمع دَ مئین دَ مخ په اور کښے
نور ځایونه پریږده کۀ تنور راته بورجل شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ رسی تر یاره هرچه ډیرے اندیښنے کا
نورے قیصے پریږده دَ عشق کار په توکل شی

که شم په ګلشن کښے لمن ډکه کړم دَ ګلو
بیا بیخوده لاړ شم واړه ګل راځنه تل شی

هرچه بد غلیم دے ګرفتار په عاشقئ شه
اورئ پیدا نهٔ وے دَ دهٔ سینه منقل شی

هو مره دَ خوشحال ختک تقوی زهد پرهیز شته
ستا چه تورے زلفے په سپین مخ باندِ ولول شی

ملاحت چه صباحت سره آمیز شی — دَ دلبرو حسن هاله شورانګیز شی
خدائے په خپله په بنهٔ مخ باندِ منین دَ — خدائے واخله چه له کښلیو په پرهیز شی
په زمان به دَ زاهد خونه اُولجه کا — که دَ سترګو دَ تُر کانوئے پرخیز شی
دَ غمزے سمند ئے جوړ کړو جولان ته — ګوره بیا به ئے په چا باندِ مهمیز شی
دَ دوزخ لمبے به هم ورځنے ډار کا — کهٔ دا اورِ م دَ خاطر په حشر تیز شی
دَ عشق بوئ به مِ لاړ نهٔ شی له هډونو — کهٔ هر څو په توروخاورو کښے ریز ریز شی
چه که ناز کا که عتاب کا کله مهر
دائے واړه له خوشحال سره مکیز شی

مخ دِ آئینه دَ بے باندِ نهٔ دے ترسیری — آه دَ خوار عاشق دَ بے ډارئے وکړه دَ ډیری
سر ترپایه زیړے زعفرانے جامے اغوستے — راشه تورے زلفے فلیل پورے اجمیری
تاوے چه دَ مخ قدر قیمت مِ په تا څو دے — څو به درته وایم په ما دوه کونه پیری
زار دَ خوار عاشق دے چه په شپه دَ جدائی — درسته شپه بے خوابه دَ آسمان ستوری شمیری
تا وئیل ځیر ځیر م مخ ته ګوره ګوندِ مور شے — زهٔ یم هغه وړے ځئے له ما غواړے سیری
تا سره په سیل دَ ګلونو سهیلئ — هسے نمائی کا لکه بلبلے دَ سیری
واړه راخر ګندے دی دَ درست کلی دلبرے — نهٔ ګل دَ نرګس ئے نورے ګل دَ ګندیری
سترګے دِ بلا دی چه ئے واړه وے ملالے — زخم پیدا نهٔ دے نه زړونه زنځیری
ته چه په بنهٔ حُسن جمال تیره تر لیلی ئے — خکه تر مجنون دَ خوشحال ژغ دَ بے دَ تیری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزری کله پرهیزګار دی — خوراغلی په خپل ښکار دی

خوره خوروه له خپلو لېچو — مزری دا کا چه روئیدار دی

چه په توره ترک تازی کا — هغه هر کله کامګار دی

چه اخلاص لری په زړهٔ کښې — هغه واړه ایماندار دی

چه ئې زړهٔ نهٔ وی دَ توره — هغه زړونه څهٔ پکار دی

ننګیالی چه په ننګ راشی — ننګ په څوی نهٔ په پلار دی

سل دَ ښکار تر تازی خارشه — کوتکان چه دَ بازار دی

مور دِ نهٔ شی باندِ بوره — چه میړونه دَ کار زار دی

څوک چه شته تر شرقه غربه — دَ تورزنو خدمتګار دی

سر دِ نهٔ غواړی خوشحاله
دَ بلا نه چه سردار دی

مخ دے په پلوٗ کښې که چراغ دے چه بلیږی
خولهٔ ده چه وئیل کا که شکرے دی تلیږی

سترګے دی که وروځے که په څوکښې تیرانداز دی
شونډے دی که غابښ دی که دالعل و دُر څلیږی

زړهٔ دے په کوګل کښې که دا کاڼے په سپین زر کښې
قد دے که شمشاد دے چه تازه نوے څلیږی

مهر خندا پریږ ده دَ دلبرو درته وایم
تش خالی کا تهٔ ئې هم په هیڅ نهٔ چلیږی

چائې چه په غولی باندِ اېښے چرے پل دے
بیا چه ځنې درومی په ځائې پاتے شی شلیږی

ستغ لری هم څویږ لری دَ غرهٔ غوندِ سینه م
تل باندِ دَ اوښکو کاروانونه دی چلیږی

څهٔ حساب و شمار کړے چه په سر ګرځی دا ژرنده
څوعالم ئې دل کړ لا به څو عالم دلیږی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاف به میرهٔ نهٔ کا کهٔ ئے چیرے ترخولے وُوت
بیاکۀ نوروئیل کا نور دَ دهٔ بڼیره کلیږی
هیچاۓ صفت دَ مخ و مو ترسره نهٔ کړه
سل دَ سخندان په ورځ وشپه سره للیږی
زهٔ خوشحال پښتون چه په پښتو په فارسئ طاق یم
لامِ په پښتو ژبه کښې ژبه درغلیږی

ماځهٔ شونډے غابن دَ هغه یار نهٔ دی ستائیلی
راشه کهٔ ئے ګورے لعل و دُرِ م دی پیئلی
هرچه عاشقی کا خوب خندا با ندِ حرام شی
نورعالم به څهٔ کړے ما په ځان دی آزمئیلی
ځنے عاشقان هوا هوس کا په وصال کښے
ځوک جُدا له یاره په آه آه کښے زیړ زبیبلی
یو مزے وینسته په طریقت کښے لوئے حجاب دے
ځکه قلندر بڼیره بریتونه دی خرئیلی
ما په دا جهان کښے بل اُستاذ نهٔ دے لیدلے
پیر مرشد مِ عشق دے واړه عشق کړی ښئیلی
سل سرِبنی دِ تردا یو غزل ځاریږه
نن چه دا پښتو ده کړلا نړی خوشحال وئیلی

ماچه وُلید دَ دُنیا خلق مختورے قا بوچی دِ واړه ګوری پتاؤ سیورے
چه ئے څهٔ دَ دُنیا سُود ځئے فائده وی دَ خپل زړهٔ په پیرغ نیسی هغه لورے
خپل ئے لا په بدئ پاسی ترپردیو خو دِ خدائے دَ بدونهٔ کا دَ چا ستورے
یا دَ لیچو زور پکاردے یا دَ زرو خوار هغه شو چه په دواړه وی کمزورے
سرتر پا یه منافق واړه بدبوئ دے کهٔ په سر ئے سپین مندیل دے لکه اورے
کال په کال چه ورته ګورم نور نهٔ شهٔ دَ لاله دَ زړهٔ په داغ ختلے غورے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ناپوهـ بخره بنادی دَهوښیار غم دَ ۔۔۔ خوک به وران کا دَازل دَ قلم تورے
دَ یوهٔ گوله په خولهٔ دبل په زړهٔ کښے ۔۔۔ په حساب لکه ګډ ورے شهٔ دوه مورے
غل بے غمه نندارهٔ کاندی خوشحاله
په تهمت تړلے ساد دروهی سر تورے

ما فراق دَ حبیبا نو ژړوی ۔۔۔ زړهٔ په ما دَ رقیبا نو سوړوی
چه سیلاب ځما دَ اوښکو روان شی ۔۔۔ عمارت ځما دَ صبر نړوی
عشق ځما په عقل وکړے هسے چارے ۔۔۔ چه هلاک م په خبره واړوی
مهٔ هجران وے مهٔ دَ دهٔ تراخهٔ غمونه ۔۔۔ چه م تل له خوږه عمره مړوی
دَ فراق په شپے ئے خوب په ما حرام کړ ۔۔۔ دایم مالګے م په سترګو دوړوی
په پیغام ئے دَ وصال هسے تازه شی ۔۔۔ لکه باد دَ ګل غوټئ غوړوی
یمه پوخ دَ عشق په کار لکه کودرے ۔۔۔ نور م څهٔ دَ غم وَ اور ته کړوی
په لیدو یسے ئے مرم سخ دَ هغو دے ۔۔۔ چه ومخ و ته ئے سترګے غړوی
کهٔ دَ زړهٔ په محبت شی خوشحال خوان دے
په دا سپین و ینبته ئے خلق زړوی

ملک افشانه په کاکل ئے ۔۔۔ عنبر بیزه په سنبل ئے
چه ومخ وته دِ ګورم ۔۔۔ په مخ درسته لکه ګل ئے
تنګه خولهٔ دِ غنچه ګل ده ۔۔۔ په لبانو لکه مُل ئے
په رفتار کښے لکه زرکه ۔۔۔ په ګفتار لکه بلبل ئے
پښتنه ئے په بد جهل ۔۔۔ ستمګره تر مغل ئے
په دا تورو شهلا سترګو ۔۔۔ هم شاهین هم ئے منګل ئے
خو خوبئ دَ جهان دی ۔۔۔ آراسته په واړه کل ئے
لکه سروِ په چمن کښے ۔۔۔ په قامت په تجمل ئے
دَ خوشحال و مرګ ته ناسته
په غمزه په تغافل ئے

مار کهٔ هر څو پیچ وخم ځی ۔۔۔ خپلے سوړے له سم ځی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ غفلت له خوبه ویښ شه　　شیرین عمر دم په دم ځي
مرګ به هیڅ سړے پرې نږدي　　وار په وار به درست عالم ځي
بے دلیله به ځان ورک کا　　مسافر چه په تورتم ځي
دَ پښتو وارے خطا کیږي　　چه قاضي لره څوک ګرم ځي
که قضا وته تسلیم شي　　هم په دا له دله غم ځي
دَ دوزخ دَ اور علاج کا　　چه سحر تر سترګو نم ځي
هغه عمر لکه باد دے　　چه په غم دَ بیش وکم ځي
چه تور مشک دِ حبطه کړل　　په کافور و خنده ستم ځي
چه نهٔ تول لري نهٔ پول　　هغه هر چرته خرم ځي

منهے پرے مهٔ ږده خوشحاله
که دِ سر لکه قلم ځي

مګر رسم دین آئین هسے لرے　　چه دا خوار زړهٔ م غمګین هسے لرے
دا دَ زړونو میني ورانے پرتے پنے دي　　چه تل آس دَ جفا زین هسے لرے
عاشق به لکه مچ ورباندِ ګرځي　　دواړه لب چه شکرین هسے لرے
څهٔ نسرین دِ دَ سنبل سره دسته کړهٔ　　چه دَ تورو زلفو چین هسے لرے
دا یو ستورے دَ آسمان دے که ټیکه ده　　چه ئے ایښے په جبین هسے لرے
کله کله به مرهم ورباندِ کښیږدے　　که همیش م په زړهٔ خوږین هسے لرے
لکه مخ ځما دَ یار دے اے باغوانه　　په درست باغ کښے یو نسرین هسے لرے
په کوڅه کښے ئے څهٔ تهٔ ګرځے زاهده　　که دا خپل عقل دوربین هسے لرے
میاشت به څهٔ لره اوس لاف دَ خوبئ کا　　تهٔ دلبره چه مخ سپین هسے لرے
که هر څو بنائسته ډیر لرے کشمیره　　لکه یار یو نازنین هسے لرے
چه ئے پورته کړے کلونه ترے بنکاره شي　　یو پلؤ دواړه آستین هسے لرے

دَ خوشحال په حال به چرے ترحم کړے
مستے تهٔ چه زړهٔ سنګین هسے لرے

نصیحت دَ دانا یا نو دَ کتاب دے　　دَ احمق جواب هم نهٔ جواب جواب دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه عیسیٰ په غرو نو تښې له احمقا نو | دا تعلیم ئې را ته پاتې په دا باب دے
لکه دد دَ صحرا ډیردی په هر لوری | په هر ځائې دَ احمقانو څۀ حساب دے
سړی واړه سره سم نۀ دی په عقل | یو آفتاب دے بل مهتاب دے بل شهاب دے
یو په قدر شهنشاه دے په دُنیا کښې | بل دَ دین په مرتبه قطب اَقطاب دے
دَ هوښیار چه له نادانه زیست روزګار شی | کۀ ئې ګورے دا هم سخت ګنده عذاب دے
دا سړے دے چه اغزے دے سرترپا یه | دا سړے دے چه همه ګلِ ګلاب دے

ما خوشحال چه خان له خلقو کناره کړ
دا په دا چه نادان ډیر دانا نایاب دے

نۀ دَ عشق مدار یوازې په دیدن دے | په دا کار کښې لا په هورته شنیدن دے
بنه چه شپه دَ جدائی خدائې آخر کړه | صبا کیږی اوس دَ صبح دمیدن دے
تل په ستغ په خوږیدا وښکو قاصدان دی | چه طلب ئې دَ دلبرو دَ دیدن دے
دَ خطا آهو په بوئې دَ نافې ښکار شی | را ته بس دَ هغه زلفو شمیدن دے
دا ستم په عاشق هغه کا نۀ نور څوک | چه دَ ښکلیو ئې ورکړے دا دیدن دے
کله کله به آرام حُما دَ زړۀ شی | چه یک لخته ئې زده کړے رمیدن دے
خوند دَ شهدو دَ شکرو را ته هیڅ دے | خو م یاد دَ هغو شونډو مکیدن دے

نور دارو ورله مۀ ګوره طبیبه
چه خوشحال ورپسې مړ هغه دیدن دے

نفس شیطان دواړه بلا دی | را پسې څرګند په غلا دی
ځنې چاره لرے پیتې | ځنې چاره ئې ملا دی
دَ هغو جزا سزا کا | چه په جهل مبتلا دی
خدائې ئې خلاص لره له عجبه | څوک چه ناست په مصلیٰ دی
دَ دُنیا دَ هوا چاره | سرترپایه ابتلا دی
جاه په چاه شی وهغو ته | چه دَ جاه په تولا دی
دَ دُنیا ښادئ واړه | کۀ باور کړے واویلا دی
اندیښنې ګوره خوشحاله | څرته سرے په قلا دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نا قرار زړونه قرار شوے — دَ زړهٔ غم ئے تار په تار شوے
دَ هجران غمونه لاړے — بیا دَ وصل دندوکار شوے
هغه لاس چه بے حنا دے — بیا جفا سره نګار شوے
شانه ورغلے تر زلفو — رانجهٔ سترګو سره یار شوے
دَ پائیلو دَ ځرنګ ! — په هر لورې شرنګهار شوے
په ګنګو دِ زیر پروني — په چوره سره خالدار شوے
وار دَ غم دَ ژړا لاړے — وار دَ بوس او دَ کنار شوے
په عذار دَ مهوشانو — بیا کبود کبود پرهار شوے

چه خوشحال ورپسے مړ پینه
ور بنکاره هغه دیدار شوے

نن ځما کره میلمه عزیز دَ خدائے دے — چرته پاس ځما په سترګو باندِ ځائے دے
په خپل ځائے باندِ قایم دے لکه قطب — همیشه دَ ګم ګشته وُ رهنمائے دے
چه پرے څهٔ خو توجه دَ فکر وکا — یو زهٔ څهٔ چه دَ هر چا مشکل کشائے دے
چه ګذرئے په دا غولی باندِ وشو — سعادت ئے ورسره راوړ همائے دے
ما پرے اوس دَ غلطئ کربنه وکښه — په خپل رائے م چه منلے دَ دهٔ رائے دے
دَ بادشاه خزنے مهٔ غواړه چه نشته — هغه ګنج لکه په کور کښے دَ ګدائے دے
تناوونه به ئے ورسی تر نمره — لکه زلفے چه ئے سرا ښے په پلے دے
دَ بنهٔ حُسن به ئے څوک کاندِ ستاینه — چه دَ خپل حسن په خپله خودستائے دے

لکه عمر لا رغهٔ رائشی زر دروُمی !
په هجران ئے دَ خوشحال ختک هائے هائے دے

نن دَ یار دَ لاسه بیا یو تیر راغلے دے — بد رسا دَ ځان په وړلو خیر راغلے دے
زهٔ چه دوا سپه له عشقه تښم پټیدلم — بیا را پسے ګوره ګیرا ګیر راغلے دے
بنهٔ چه پکښے بند شو وے مهٔ شلوه له زلفو — زړهٔ م لیونے دے په زنځیر راغلے دے
چرته ئے اے عشقه چه ور بوزے راته مات کړے — بیا ګوره چه عقل په تدبیر راغلے دے
څومره بنائسته ئے چه دَ مخ په ننداره رودِ — درست وګړے مات شه ما وے پیر راغلے دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول محبوبے راغلے سمن بویہ سیہ چشمے — ما وے چہ تہ راغلے درست کشمیر راغلے دے
خوک کہ جهان نیسی پہ لښکرو هغہ تُرک م — گوښے خان دَ زړونو پہ تسخیر راغلے دے
زړونہ ئے زخمی کړہ چہ ئے کوتے پہ بم کېښوے — غوږ باسہ لہ بمہ اوس پہ زیر راغلے دے
وچولے چہ تریو کړے ورتہ نۂ گورے پہ مهر
وایہ لہ خوشحالہ کوم تقصیر راغلے دے

نادان پہ خپلے چارے بنۂ پوهیږی — دانایان کۂ ئے پہ چارو اندوهیږی
چہ نادان ئے پہ مخ وخوری هالۂ پوهـ شی — کنړه هومره پہ خبره نۂ گروهیږی
کانړی بوټی وچ لامدۀ هرځۂ پہ مخ وړی — مشیت لکہ دریاب دے چہ بهیږی
چہ سرے او بڼے کښیوزی پہ نظر کښے — کلہ تړے لہ سرو اوبو سخیږی
پہ هغو خوړو پیښ مړۂ شے چہ ئے نۂ خوړے — سړے هسے پہ لیدو ورتہ سوهیږی
کۂ وڼیل ئے پہ هزار رنگہ سود من دی
دَ خوشحال پہ وڼیل کلہ خوک گروهیږی

نن ځما پہ خپلخانہ کښے څومرہ غم دے — چہ حیران زمونږ پہ کار پورے عالم دے
ناخلف ځویہ اغزی کړی خپل پلار تہ — دَ خلف ځویہ گلزار لہ عمرہ سم دے
ناقابل ځویہ دوزخ غوندِ پیدا دی — بنۂ قابل ځوئ پہ خونہ کښے ارم دے
بنۂ فرزند دَ پلار پہ خونہ چراغ بل شی — بد فرزند دَ پلار پہ خونہ کښے تورتم دے
پہ لوئ والی کښے ئے خوئ دَ دام و دد دے — اوس دَ ځوئ خوبی هومرہ وی چہ کم دے
نالائق ځویہ ننگ نام دَ بابا ورک کا — کۂ ولاړ ئے دَ نیکۂ دَ پلار علم دے
دَ قابل سرہ بہ غم دَ نام وننگ وی — ناقابل پہ غم نیولے دَ شکم دے
چہ دا هسے رنگہ سپی ځنے پیدا شول
لا پہ شک یم چہ خوشحال کلہ آدم دے

نۂ م زړۀ پہ سوداری دَ درست خوشحال دے — نۂ ځما دَ خپلخانے ځۂ حال احوال دے
دَ ختک اولس پہ ننگہ نۂ پوهیږی — کاړ ئے درست دَ نا دیدہ ؤ پہ خصال دے
پښتانۂ لکہ مگس وربا ندِ گرزی — ورتہ ایښے دَ مغل دَ حلوا تال دے
نورئے وارہ لگیا تار پہ تار خورے شوے — اوس پہ منځ کښے یو کرم دَ ذوالجلال دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمل خان دریا خان دواړه خورد بین لاړل
اوس خو پاتو ومغل ته یو خوشحال دے

وسړي وته داخپل عیب وینتۀ دے — دَ بل عیب ورته لا کتله تر غرۀ دے
په خپل خان پسنده نیکه په بل بده — دا مذهب دَ مؤمنانو مذهب نۀ دے
هُنر ورځ نیک سیرت بلند اختر ئے — کۀ بل تا وته تر خپله ښۀ نۀ ښۀ دے
چه م یو ځله اِخلاص ور سره وشو — یار کۀ سل ځله جفا کا تور لیمۀ دے
بیا دَ خپل مئین ځما له سترګو نۀ ځي — کۀ په سترګو کښے م خرخ لکه با نړۀ دے
چه غمونه درته را وړي سترګے غوړ دے — چه م ځان دَ بل مړئے کا هغه زړۀ دے
کۀ خوارۀ خوري کۀ او به ښښي په داخه شي — مرده دل کۀ ژوندے وینے شمار په مړۀ دے
ځما زړۀ توکا نړي سخت وو ښو ئے تر پریوت — تر الماس ئے دَ غمزے غشے تیرۀ دے
کۀ یاران م تر حساب تر شماره تیر دي — په کوګل کښے م زړۀ یو دے دَ یوۀ دے

دَ سړي دَ صورت کار دا هسے نۀ وي
چه ئے زړۀ دَ خوشحال یو ور لا نور څۀ دے

وچراغ ته دَ اور پښتی حال معلوم دے — په دا منځ کښے دَ خبرے حاجت کوم دے
یو دَ بل له حاله نۀ کاندي پوښتنه — دَ دے ښهر په عالم کښے بد رسوم دے
یا یک لخته هغه یار واړه جفا زده — یا له ما سره جفا کا بخت م شوم دے
نن چه زۀ باندِ مئین یم په ډیر رنګه — درے ورے وښیم چه کوم دے څۀ ئے نوم دے
یو په حسن بل په دا چه عاشق وژني — په دا دوه توکه په درست جهان کښے سلوم دے
ننداره چي ئے دَ جمال دي نور څۀ نۀ دي — چه په هر لوري هر ځائے خلق هجوم دے
چه ګلونه دَ بهار باندِ لیدل شي — دَ بلبلو سیل تل په هغه بوم دے

څۀ به هر یوۀ ته حال وائے خوشحاله
دَ لیمو په حال خبر کله اُدوم دے

ورځ په ورځ دَ باغ غنچے دي چه غوړیږي — دَ بلبلو وُرِي سترګے پرے مړیږي
چه ښۀ مخ وته نظر کاندي لازم دي — کۀ ئے سترګے و بل مخ وته غمیږي
جګې جګې مانړے مۀ کوه پخولا شه — چه په ما دَ رقیبانو زړۀ سړیږي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عاشق خاطر په مثل د نافې دے — کهٔ کاونه پرے تیریږی نهٔ زېږیږی
زهٔ جدا له یاره خوب په شپه ونهٔ کړم — وائے مالکهٔ م په سترګو کښې دوړیږی
روغ عالم خندا خوښی هوا هوس کا — پرهار زړلے په غمونو کښې نړیږی

نور عالم ئے تار په تار تښتی له غشیو
یو خوشحال دے چه ئے غشیو ته بړیږی

وایم خلق نهٔ دړئ — زړهٔ م یووړ یو زمرئ
دا خبره چه زهٔ وایم — ترو یښتهٔ ده لا نرئ
چیرے نهٔ وی لیوے شم — چه په خوب وینم پرئ
زهٔ له یاره سره خهٔ یم — د یوهٔ مزی مرئ
چه ئے خوند د میو خوړ وی — هم هغه بوڼے کرئ
تهٔ هم خر ورسره مړ شه — کهٔ خوک خرشی په خرئ
په کهترو دِ نظر کا — خوک چه غواړی مهترئ
بله نهٔ ګوری بل مخ ته — تل دِ سترګو کړم ژغرئ

د رُستی پسرلی نرګس وی
د خوشحال قدر لرئ

وښهٔ مخ وته نظر دے هر چا کړے — نهٔ دا دود دے په جهان کښې ما راوړے
زهٔ په هیڅکله له عشقه نه وانهٔ وړم — کهٔ هر څو را ته وئیل کاندی وګړے
ما وئیل چه زړهٔ به نهٔ ورکوم چا ته — ولے څهٔ کړم چه بد زړهٔ لرم بد وړے
د عاشق د ریښتینئ نخښه دا ده — چه په عشق کښې سر حساب کا نهٔ خسرے
په یو ګوټ کښې به ئے د عشق د میو هیر کړ — کهٔ دِ واړهٔ د جهان لذت دے نغړے
چه په ښاخ باندِ ئے اوړے ژمے ګل وی — خدائے خُما په زړهٔ نهال کړے هسے زړے

چه به بیا په څهٔ علاج په لاس کښیوزی
د خوشحال خاطر ئے نهٔ دے هسے وړے

و مجنون ته د لیلیٰ د شونډو وایه — لال و دُر یاقوت د نورو وته ستایه
د مجنون له ودانئ سره څهٔ کار دے — هر چه ورانه ویرانی هورے ئے بیایه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه به بله اندیښنه کاندی اغیار دے     یار دِ خوک دے چه دِ نهٔ وو زی له رایه
درست جهان دِ تیرے تورے درته واخلی     یو ویښته به دِ کند اونهٔ کا بے خدایه
ما داهسے دماغ اوس نهٔ دے راوړے     زهٔ داهسے دماغی راغلم له ځایه
وے کاندہ به خپل درته ښکاره کړم     زهٔ په کاندہ ماندہ نهٔ یم ننئے نمایه
دَ دولت شهپر کارغانو تخنه نشته     کهٔ ئے غواړے خوئے غواړه له همایه
تهٔ دَ زړهٔ اغزے په کوم طبیب وکاږے     چه وکیښلے ئے اغزے نهٔ دے له پایه

دَ منصور په حال خبر نهٔ ئے خوشحاله
درته چا وے چه دَراز خبرے وا یه

ورته کوره ځما یارځهٔ ننداره دے     لکه اوړ مکئی په ستورو کښے ښکاره دے
خوعاشق په معشوقے باندِ مئین شی     هومره دے و معشوقے ته بیچاره دے
ما وے عشق خو یو بنهٔ خیز دے خبر نهٔ وم     چه دے لا تر مست هاتی نه خونخواره دے
چه نصیب ئے دَ بنهٔ مخ ننداره نهٔ شوه     هغه خوک ځما په بوهه آواره دے
غم ځما له دله نهٔ دروهی بل لور ته     ته به ولئے چه ځما په اجاره دے
عقل علم هُنر مهٔ یادوه ما ته     چه م ولیدهٔ مدارئے ستاره دے
هغه زهٔ یم چه دَ اوښ ورے په شا وړم     دَ غوایهٔ ورے ځما په پشتاره دے
چه علاج ئے په چا نهٔ شی خوک ئے څهٔ کا     چه په ما باندِ ئے زړهٔ سنگ خاره دے
غم په نورو یو ځل وریشی بیا تیر شی     خو په ما باندِ کهٔ گورے سل باره دے
چرئے هیڅ دَ بنا نُسته ومینه نهٔ وی     رنگ ئے مهٔ وینئے چه نفس اماره دے
دَ بنهٔ مخ ننداره نهٔ کا خلوتی شو     زاهد ځان ژاړی بے ځایه هیچکاره دے

بادشاهان دِ هم سیالی ورسره نهٔ کا
خوشحال ستا کړ درمرئیو په شماره دے

لا به م قلندر شوم دا م مال دا م احوال دے     مات کچکول په لاس کښے بل م کند دَ دُنیا مال دے
وران وکړے کوره په څو قلپ کا رونه کاندی     واړه اقبال غواړی ولے لا بقا اقبال دے
زهٔ تر هغه ځار شم چه ئے داکړه تر ځان ځاره     ځار تر ما هغه شه چه ځار شوے تر متقال دے
هیڅ په منځ کښے نشته په خالی دوکان غوغا ده     ما چه فکر وکړو واړه وهم خوب وخیال دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو په کور کښې ښخ کا بل په کور کښې نه کا فکر　　درې ورځې ماتم دَ خاورمه ورځ بل حال دے
ما خولاس په غوږ کړل ځکه تښتم که خلاصیږم　　خلق پرے خوار یږی شهوتخوږ عظیم جنجال دے
نور عالم به ځه کړے دَ خپل ځان په خلاصی مت کړه
لاندِ ځے خوشحاله دا یو ځه دَ بلا جال دے

همیشه مِ تر بهار وینے بهیږی　　که هر څو باندِ دارو ږدم نه لګیږی
که فریاد له درده کړم ملامت نه یم　　چه بهار په بهار وشی خو خوږیږی
همیشه مِ دَ یار یاد دَ زړهٔ سبق شو　　چه ډیر ډیر یږے یادوم زړهٔ مِ خوږیږی
زړهٔ مِ ګل دَ نیلوفر ځے آفتاب دے　　نیلوفر مِ وآفتاب و ته کږیږی
دَ خوشحال دَ خوشحالۍ وخت هم دا دے
چه رباب سریده جوړ سره غږیږی

هیڅ صفت ئے نه ځائیږی په تحریر کښے　　چه دِ زلفے مشک عنبر کړم په نظیر کښے
ستا دَ خځ دَ شونډو مثل را معلوم شو　　لکه نهر دَ جنت شهد په شیر کښے
نه چه خوله دِ ننه زړهٔ مِ هم پرے خوږ شی　　چه دِ نوم دَ شونډو واخلم په تقریر کښے
ما چه ستا دَ چهرے ښه ننداره وکړه　　څوک به ستا په حسن نه وی په کشمیر کښے
زړهٔ مِ ستا په زلفو بند شو پرے خوشحال شوم　　لیونی ترلی ښهٔ دی په زنځیر کښے
که هوا ده که سودا ده پکښے ستا ده　　بل خیال فکر مِ هیڅ نشته په ضمیر کښے
زړهٔ چه ستا په تیر زخمی شوم فراغت شوم　　چه عجب دارو دِ ایښی وو په تیر کښے
لکه بوئ دَ یار دَ زلفو دے عطاره　　هسے بوئ نشته په مشک و په عبیر کښے
محبت مِ هډو پلو سره مخلوط شو　　ناصحا نو راته شا کړه په تدبیر کښے
چا به هومره دَ عشق ګنج راعنایت کړ　　که مِ نهٔ وے خپله برخه په تقدیر کښے
دَ خوشحال وئیل په نورو کښے څرګند دی
لکه زاغ چه دَ ویر ژلی په ګنړ وېر کښے

همیشه مِ له ښهٔ مخه ګفتګوئے شی　　چه په لوبنی کښے څهٔ وی هغه ترے توئے شی
دَ بلندے په قامت باندِ مئین شوم　　هر چه لوئے چارے کاندی هغه لوئے شی
چا خپل یار په غیر کښے وښوهٔ خوبنی کا　　لا دَ چا ورپسے هسے جستجوئے شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ منصور غوندِ به غل دَ خاص و عام شی — کهٔ ښکاره م و عالم ته کوئے مکوئے شی
په زړهٔ هومړ پروتی نهٔ دی چه ئے شمار شته — اوس ئے چا وته سپړنه موئے په موئے شی
خار و خس سره ئے څهٔ مهر پیوند دے — دَ بلبلو مینه تل په رنګ و بوئ شی
نهٔ به زهد وی نهٔ علم نهٔ څهٔ نور څهٔ — کهٔ خر کنده م عالم ته په دا روئے شی
ځکه هر کله خوشبوئ او معطر دے — دَ صبائے چه په چم کښے تګ و پوئے شی
دَ ناپوه یاری په مثل دَ ډک جام ده — کهٔ هر څوئے ښهٔ ساتم را څخه توئے شی

دَ خوشحال ژړا څهٔ مزناحقه نهٔ ده!
چه ئے تیره درسته شپه په هائے و هوئے شی

هر ګناه چه په توبه په استغفار ځی — دَ هغهٔ ګناه به څهٔ په زړهٔ کښے دار ځی
ساقی راشه سرهٔ شراب راکړه سړے شونډ — نرچشما نو دِ څارېږم چه بهار ځی
په هر چین کښے ئے دَ ځنړو مشک چین ځی — لځانځے ځنے تو ئیږی چه په لار ځی
دَ خپل زړهٔ خبرے واړه ویرانی کا — یار هغه چه همیشه په زړهٔ دَ یار ځی
جهان ځلئے دَ خوښئ نهٔ دی دَ ناورین دے — چه طوطا له ګلستانه په چیغار ځی
په وار وار چه په دُنیا بانډِ را غلی — عاقبت به ځنے واړه وار په وار ځی
کهٔ له درده م خبر نهٔ دے وګړے — چه م سرے وینے تر ستړګو په رخسار ځی
دَ هغهٔ طبیب نوم څهٔ اخلے په ژبه — چه بیمارو لره رائشی بیمار ځی
کهٔ م پیژنے هغه لیونے زهٔ یم — چه نادان را لره رایشی هوښیار ځی
دروغژن به همیشه وی په خزان کښے — دَ رښتینو په مخ هر کله بهار ځی
دَ رقیب خلل به زر وُوځی له میانه — وخت نژدے راغے دَ وصل د ندو کار ځی

چه محروم ئے دے له مینو خوشحال دے
ګنړه واړه حریفان ځنے سرشار ځی

هره مینه چه په خال په زخه کیږی — هغه واړه دَ ښهٔ مخ له مخه کیږی
زړهٔ دلګیر مهٔ شه دَ خلقو په جفا کښے — په عاشق دَ رقیبانو رخه کیږی
خاوند خدائے دِ سرزنش دَ هغو وکا — چه په حال ئے دَ دردمنو سخه کیږی
مرغهٔ به له همایه څهٔ پرواز کا — چه لا اوس ئے تن وجود په نخه کیږی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ هوس کوې خوشحال هوس نے تميل شه
غم هوس چه به بے ستا له بخه کيږی

هر زمان چه دَ فلک مهر بنيا د شی
نامراد دَ زمانے په خپل مراد شی

په هر شام پسے سحر شته نظر وکړه
عاقبت چه خوک غمژن شی بيا به ښاد شی

ساقی نن دَ سرشارئ شراب را کړه
محتسب چه حاضر نۀ ئے دَ خدائے احداد شی

چه نن مے نۀ معشوقه بهار رفتن کا
نن څماله بخته نه فريا د شی

يو له بله زده کوی دَ جهان دود دے
له اوله چه شاګرد شی بيا اُستا د شی

يار به مخ راته ښکاره کا لکه شمعه
عاقبت به رقيب خوار او نا مراد شی

يا دِ يو زر بو به يا بخت بو به يا توره
چه په سينه بِيره څوک دِ چا دا ماد شی

دَ ملحد په زړۀ به نۀ لګی خبرے
کۀ وئيل دِ ورته تل دَ نون وصاد شی

زمانه به نۀ پرے نږدی و ثبات ته
په هوا چه دَ حباب غوندِ پُر باد شی

صورتی عمر فانی دے باقی داد ے
چه ئے پس له مرګه نوم دَ نيکو ياد شی

عقله ته له عشقه لرے لرے ګرځه
مخالف چه سره ورنيشی فساد شی

دَ هغه سړی په مرګ ژړا هيڅ مۀ کړه
چه دَ بد و نوم ئے خور په هر بلاد شی

په هرچا باندِ ئے زړۀ دے لکه ژاولے
په خوشحال باندِ ئے زړۀ لکه فولاد شی

هر سړے کۀ ربنتيا کوئے وی
نۀ دِ مړ کۀ سړئے کوټے وی

دَ لوېئ لاف به نۀ کا
چه په اصل هُنر جوئے وی

کۀ ئے نغارے پټ به نۀ شی
په هر ځائے چه رنګ وبوئے وی

چه خپل يار له مابلتون کا
څما سترګے پسے جوئے وی

په بيلتون دَ مينا نو
زړۀ تر دؤو سترګو راتوئے وی

چه قيمت دَ کالی خومره
پسے هومره جستجوئے وی

خوجفا کا زۀ خوشحال شم
يار دِ هرکله بدخوئے وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر نا پوه ځلموټی څه زده چه څه ده د عشق بازی
تر وخته مچ څه نے مجال چه په هوا کا پروازی

هر قلاش چه خپل صورت په عشق بائے کړ کۀ با ورکړے
په مذهب د عاشقانو هم شهید وی هم غازی

کۀ د یار په غم کښے و مری خاصګی ژوندون هغه دے
کۀ په پښبوئے تندے کښیږدی هم دغه ده ممتازی

حقیقی سجده هغه ده چه د یار په لورے وکړے
وکعبے ته چه سجده شی دا سجود دے مجازی

تورو زلفوئے په بادکړۀ ډیر سرونه د مظلومو
تورے سترګے ئے په زړونو کا همیش ترکتازی

اے خوشحاله چه عاشق شوے اوس له خپله سره تیر شه
دا څما خندا خندا ته بازی مۀ ګڼړه بازی

هغه دم چه م له یار سره صحبت وی
د فرښتو آواز په ما بانډ زحمت وی

چه له یار سره باده خورم په خلوت کښے
باده ستاد له غه ځایه نه رخصت وی

بنۀ یاران چه سره ناست وی محبت کا
چه اغیارو بانډ راشی قیامت وی

تل ګدائے په بادشاهانو منّین شوے
نۀ دا کار به له ما خوارو نه بدعت وی

عاشقی م خدائے له ځایه خوئ خصلت کړه
هم هغه کاندی سړے چه ئے خصلت وی

ستا د شونډو تر لذت به نۀ رسیږی
کۀ هر څو م د شکرو زیات لذت وی

ما به زړۀ د معشوقے له لاسه خلاص کړ
ولے دریغه کۀ له عشقه اجازت وی

د زنخ د چاه د بند فراغت غوارم
په تنور کښے پراته کله فراغت وی

بنۀ صورت خو هم هغه چه زړۀ ئے یووړ
نۀ چه کړۀ او وړۀ ئے بنۀ وی بنۀ صورت وی

ما به سترګے لکه باز درلے آندرتے
کۀ م زده وے چه د سترګو بد تښد وی

خو به مۀ راځه په ملک څما د سترګو
ګڼړه ځان به د په وینو کښے لت پت وی

شیخ به ولے ک رندانو عیب نۀ کا
تل له مرد سره نامرد په غم غیرت وی

ستا په زلفو کښے م خوار خاطر بنا د نشو
د مومن په کفرستان کښے څۀ حرمت وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر وا ړه جوهری په مرګ تمام شول — چه ترډُر به دَ ژلئ زيات قيمت وی

بل جنتئ شيخه تا وته بخښلے
دَ خوشحال دِ هم دَ يار کوڅه جنت وی

هغه مخ چه بنا نسته دَ ننداره وی — چه ئے وينې وهرچا پسے هوهو وی
دَ بلبلو له بلغاک نه دلګير مه شه — هغه ځائے چه رنګ وبوئ ګفتګو وی
که هر خوبنا نسته ډيردی ګمان نکړم — چه به بله لکه ته پاکيزه رو وی
تور ګيسو پرے همګی صورت خوارۀ کړه — چه دِ درست صورت همه دَ مشکو بو وی
زۀ به ستر ګے ستا له مخه نه وا نخلم — مخا مخ که تيرانداز راته يوځو وی
قاصدان ځما دَ اوښکو کښته پورته — هميشه دَ کښلی مخ په جستجو وی
نن چه ته له مانه ځے، زړۀ م خوشحال کړه — يا ره ستا وعده به کله دَ راتلو وی
کا تبان به ئے په کوموګوتو کښينه — غم خبره چه سوزونکے تر لمبو وی
دَ سحر په بلا ته يادشه اے چرګه — ستا په ژغ دَ عاشق زړۀ په پرهر و وی

دَ خوشحال خټک له حاله خبردار شوے
چه په زړۀ به ئے دَ عشق داغونه ګوری

هغه څۀ دے روغ صورت دے — چه بهتر تر سلطنت دے
دَ دُنيا دولت کۀ بنۀ دے — تر دولت نه بنۀ عزت دے
چه ډير بنۀ دے تر توقيره — يوعفت بل صداقت دے
چه سړے له غمه خلاص کا — هغه څۀ دے قناعت دے
په طاعت کۀ ته لوئی کړے — حبطه هغه طاعت دے
چه فائده لری بے شماره — هغه څۀ دے مصلحت دے
په منت چه ورکول کا — هغه کله سخاوت دے
چه دوزخ دے په دُنيا کښے — دَ ناپوهٔ سره صحبت دے

خپل نيت بنۀ لره خوشحاله
کۀ څۀ بنۀ دے خو بنۀ نيت دے

هغه يار کۀ په ظاهر له ماجدا دے — په باطن کښے هر زمان راهويدا دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوندیو سره گرځي په عالم کښې
خوار عاشق په معشوقه باندې فدا دے

کښت کهٔ وسیزي باران ورباندې مشه
کهٔ په خوارو به کرم کړې ساعت دا دے

کهٔ ئې غواړم په کوکل کښې موندهٔ نشي
زړهٔ م لاړ د بنائسته ؤ په سودا دے

خدائے به امن د هرچا له سترگو وکړه
یو عجب صحبت د مینے ابتدا دے

زهٔ به زار کوم له دله هم له یاره
چه په څهٔ په بے پروا باندې شیدا دے

خپله مینه په عاشق باندې سور اور شوه
چه پرے سیزي خبردار باندې خدا دے

گوره څو قرنه کالونه باندې تیر شو
چه فرهاد په بے ستون کښې لاصدا دے

زهٔ خوشحال به چا ته څهٔ وایم له حاله
د زړهٔ حال د مخ په رنگ پورے پیدا دے

هر سړے چه د اخلاص په لارے دروي
کهٔ هر څو په غرونو دروي نهٔ په نغوي

نومیدي د بنهٔ بادشاه په درگاه نشته
هر سړے چه خدمت کا نتیجه مومي

ځما زړهٔ د هتول دلبرو ترمیان ورک شو
نوم د کوم یوے اخلم چه څهٔ نومي

بنهٔ چه زهٔ په عاشقئ کښې شهید شوم
په دا لارے کښې څهٔ لږ نهٔ دي لړومي

ما د سویو ښکار کاوهٔ هوسئ م ښکار کړه
ځما رزق به کله تلهٔ د بل ترکومي

نور د صافے پیالے خوري نصیب ئے غم دے
کهٔ خوشحال په درد و دوک کښې پیالے شومي

هغه یار چه له ما لرے په هواد دے
همیشه راته حاضر د زړهٔ په یاد دے

د وصال خوښي ئے هم لاهو مره نهٔ ده
چه م زړهٔ د دهٔ له خیاله ښار ښاد دے

بیهوده له یاره ځار کوم و چاته
د خپل یار له جوره چا موندلے داد دے

په ما وارهٔ چارے وکړے آشنایئ
په ناحق م له بیلتونه نه فریاد دے

چه م هیڅ اثر د آه ورباندې نهٔ شي
دا ناترس خاطر ئے کا نړے کهٔ فولاد دے

د خطا هوسئ په بوئ د نافے ښکار شي
راته بس د هغو زلفو بوئ مراد دے

ته چه ما وته ارشاد کوے په عشق کښې
کله غور د عاشقانو په ارشاد دے

چه په هیڅ توکې ځماله زړهٔ نهٔ ځي
د خپل یار د مینے څهٔ محکم بنیاد دے

یو زمان ورځنے خلاص نهٔ یم په عمر
په ما خوار باندې د عشق جورمعتاد دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خهٔ عجب ښهٔ بوئ راځي د يار له لوريه — نن ځما د زړهٔ دمه د صبا باد دے
تل ګريوان په اوښکو لوند ساړهٔ آهونه
چه خوشحال مڼين کيدٔ دائے احداد دے

هر خاطر چه ناقرار شي — قرارے ئے په ديدار شي
چه خپل زړهٔ وچاته ورکا — هغه خهٔ په خوارئ خوار شي
هسے سيند لرم په سترګو — چه جمنا ورته رودبار شي
يو خهٔ راز لرم په زړهٔ کښے — هيڅوک نشته چه رازدار شي
هسے ژاړم له بيلتونه — چه غليم راسره يار شي
زهٔ هم عار لرم له خلقه — کهٔ د خلقو له ما عار شي
واويلا علاج ئے څهٔ کړم — پرهارونه په پرهار شي
هومره ډير پيران شيخان دي — نشته يو چه مددګار شي
په بيلتون د خندهٔ ږويو
د خوشحال ژړا آزار شي

عقل سل د مصلحت بندونه جوړ کا — چه د عشق سيلاب پرے راشي وارهٔ نوړ کا
ماته مهٔ وايه عاقله چه عشق څهٔ دے — کهٔ مڼين شے تا به هم له عقله موړ کا
عشق به هيڅ له خپله هوړه نهٔ وانهٔ وړي — عقل څو به قهر تل د ګوتو مروړ کا
زهٔ کهٔ هر څو خپل پيوند شلوم له عشقه — ولے ما او عشق خدائے لادبله جوړ کا
ځما عمر بےحساب له شلو زيات دے — د عشق غم به م په لږ کاله کښے زوړ کا
کهٔ ئے چيرے د خپل يار په وصال لاس شي
بيچاره خوشحال به هم خاطر پرے سوړ کا

چه م کښته پورته اوښکے تک وړو کا — د خپل يار په طلب ګرځي جستجو کا
زهٔ په دا طمع د شاه د سپينو مل شوم — ګوندِ ما د خپلو سپينو سره تو کا
هرچه ستا په کښلي مخ باندِ مڼين دي — هغه درسته شپه له ماهه ګفتګو کا
کهٔ زهٔ رووايم خبرے ګوم م مکړه — ځائيګي ويشتلے تل خبرے ږو کا
ستاله غمه چه وچاوته وئيل کړم — لام حرف د ټيلے نهٔ وي چه هو هو کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر ځائے چه دَ بخلو روبله ناست وی — چه پرے غوبړ باسم خبرے دَ مهرو کا
بادشاهان ئے آرزومند دَ ننداره دی — ګدایان بہ ئے دَ خولے طمع په خو کا
دَ مکلونو دورتل نهٔ وی خوشحاله
ښائسته به په خپل حسن کبر خو کا

هرچه ستا کوځه مقام کا — ترتلی دِ ننګ و نام کا
زهٔ چه ستا ترفهم خوارشوم — نور خځهٔ غم دَ احترام کا
غمزه خځهٔ اَستوے بل ته — پرېږده کار دِ ما تمام کا
نازنینے دَ دے ښهر — فتنے ستا له سترګو وام کا
ستا مخمورے سترګے دواړه — مست مِ لا دَ مے ترجام کا
چه رَوانه په ښیوه شی — غزال خځهٔ دے چه خرام کا
ورته وګوره په مهر
خوشحال تاوته سلام کا

ستا له چمه به وانړ وړی عاشقان ستا — کهٔ هرخو تیرهٔ غابښو نه وی سکان ستا
چه قدم له تا نه اخلم زړهٔ مِ نهٔ شی — پابسته یم دَ زلفینو په ریسمان ستا
تهٔ لا اوس لکه غنچه په غوړیدو ئے — دَ ښائست خبرے لاړے په جهان ستا
په ښائست دَ ښائسته یوسف ثانی ئے — په دوه کونه ښهٔ دیدن دے رائیګان ستا
په جهان کښے کهٔ ترمرګه ګران خځهٔ نشته — زهٔ ترمرګه لا بهتر ګڼم هجران ستا
زهٔ به نوم دَ سلطانئی باندِ کښیږدم
کهٔ تش نوم دَ خوشحال تیر شی په زبان ستا

ور په ورجا روزم لور په لورے په طلب ستا
له خپلوله پردیو م بلا شوه په سبب ستا
مستی دَ نور وګړی دَ شرابو په پیالو ده
خما مستی په خځهٔ ده درته وایم په دوه لب ستا
پخپله عاشق وژنے بیا پخپله پسے تاپ کړے
چه چارو ته دِ ګورم واړه چارے دی عجب ستا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خهٔ ما سره غضب کړے چه په غټ کا ته دِ زهٔ مرم
هغو سره غضب کړه چه نے توان دے دَ غضب ستا

کهٔ ځان م په سوزانو لمبو کښیږدے خدائے دِ نهٔ کا
چه زهٔ بنده به وغواړم یا تبه یا سروب ستا

په دا دور راغلے په طالع دَ مشترى ئے
خاوند دِ تل تر تله رخشنده لرى کوکب ستا

چه مسته په خمار کښے دَ غمزے سمند جولان کړے
له قتله له کشتنه به هم څوک نیسی جلب ستا

کهٔ بیا دِ له اغیاره سره نهٔ ده باده څښلے
سکه وواېه دلبرے چه په څهٔ دے دا طرب ستا

کهٔ تهٔ به له خوشحال سره یارى خو په دُنیا کړے
رادرومه یاره وى دِ دَ خوشحال واړه منصب ستا

هے هے توبه له تا نه ستا له خویه بویه تښتے
څما خاطر دِ وریت کړ لکه سیخ په لمبو ایښے

له سترګو دِ وُرځو زلفو له بڼو به دِ ځان څهٔ وړم
دَ مخ سیاهیان دِ هسے راته جوړ لښکر زهٔ ګوښے

څما په بخره نیاز دے چه عاشق یم زهٔ به نیاز کړم
دَ ناز اسباب م واړه معشوقے وته پرے ایښے

په مخ دَ مهوشانو چه څهٔ خال وخط لیدهٔ شی
بلا دَ ځان دَ زړهٔ دى کهٔ ئے ګورے ګوښے ګوښے

عاشق په اند یښنو کښے دَ تازى غونډِ نس نغښتے
غافل په بے غمئ کښے دَ سندا غونډِ بد غوښے

بدخواه دِ په قصد کړے ده خوشحاله ملا محکمه
څهٔ ویره څهٔ اندوه کړے تهٔ هم وروسنے چه بلښے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرچرته چه کښېنې هغه ځائے دَ ګلو باغ شی
چه دروے په چمن کښې دَ لاله سینه داغ داغ شی

چه با دِ تورے زلفے په سپین مخ کاندی پریشانے
دَ مشکو دَ عنبرو بوئ پریشان په هر دماغ شی

په زلفو کښې دِ ورک څما زړګے شو مخ خرګند کړه
دَ ورک کالی غوښتنه تل په توره شپه په څراغ شی

چه ما مزه موندلی ستا دَ شونډو د دروغژن یم
که دا مزه به هم مونده دَ میو په ا بیاغ شی

پیغام څما اے باده ترشیدا بلبلو وروړه
لا شک چه په دا باغ کښې دَ ګل بوئ دَ ګل سراغ شی

یو دم دَ خوار خوشحال سره ته هم فراغت کښېنه
چه زړهٔ ئے له دیو ډیروا ندېښنو څهٔ خو فراغ شی

یاما زده یا م ستر ګو چه نن شپه را باندِ تیر دی
یا ما زده یا هغو زده چه وهلی په شمشیر دی

داروئے دَ دردمهٔ کړه نهٔ ئے روغ دَ رغید و دے
چه خود په زړه دا لی دَ خوبا دَ چشمو شیر دی

له درده نهٔ خلاصیږم چه طبیب پسے طلب کړم
ګنړه هیڅ کمے ئے نشته طبیبان په جهان ډیر دی

عاشق دِ لا دَ وخته خپله زیرمه دَ کفن کا
چه تور با نړهٔ ئے غشی وکُشتن وته دلیر شی

عاشق وته بشکاریږی لکه مخ په آئینه کښې
دَ شاه دَ جمال نخښے که تر زر تتق تیر دی

څهٔ ته وما وائے اے ناصحه چه عشق هیر کړه
چه بے دَ عشق دَ کاره م نور ټول کاروته هیر دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خټک چه بیامونډ لذت د یار د شونډو
وډه وته نور وارهٔ د جهان خوارهٔ کندیر دی

یا خومهٔ کړه لیونی سره یاری — یا د کند د پهوړئ کړه تیاری
چه په نور خندئ حساب کړی هغهٔ زدهٔ — زړهٔ بے یاره عمر کل کنډم خواری
چه د یار د راغلو زیرے په ما وکا — تر هغهٔ سړی به زهٔ شم بلهاری
په خرام کښے دا آهو علامت ګوره — د ګذار وارنے خطا کړ د ښکاری
خما حال به و هغهٔ وته معلوم وی — چه تمامه شپه بیدار ستوری شماری
خدائے د تا په جهان تل لری اے باده — په خما د یار ترمینځ کړے ریباری
معطر د شاه د زلفو نه رادرومے — ستا له بویه نلفے زارشه تاتاری
چه وعده د یار د وصل نژدے کیږی — د عاشق له زړهٔ نه درومی قراری

کهٔ ئے ستا د رو خوشحال په نظر کښیوت
د خوشحال شی نور له غمه ویزاری

یو قدم چه په خلاف د نفس ځان شی — په هغه زمان ولی هغه انسان شی
چه د نفس په حکم درومی هغه خوار وی — سر پسوب ورځنی هغه وارهٔ شیطان شی
دا سړے چه فرښته دے هم شیطان دے — کهٔ سړے وخپل عمل ته نګران شی
یو په بد عمل کښے تحت الثریٰ ته — بل په ښهٔ عمل کښے پاسه پر آسمان شی
دا سړی دی چه په عقل کښے سړی دی — دا سړی چه په عقل کښے ددان شی
داخو نو نه په توپک په توره نهٔ شی — داخو نو نه چه د خلقو په زبان شی
تربیت کهٔ د باغوان د لاسه مومی — په هر ځائے بانډ ګلونه د بوستان شی
هر اُستاد سره چه کښیني یو څو ورځے — د هغهٔ هنر په دهٔ کښے نمایان شی
د نیکانو په صحبت کښے به ښهٔ کیږی — اولیاء له اولیاء نه راعیان شی
چه مغلو سره کښیناستے مغل شے — د افغان سره چه کښیني نو افغان شی

د خوشحال سره چه کښیني یو څو کاله
دا د غرهٔ خټک به واړه شاعران شی

... ... ...

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



باپ تخت باندِ بادشاه وے  یا درویش دَ خانقاه وے
چه په لاردی هغه ډیر دی  یوځوما غوندِ گمراه وے
زهٔ هردم په بسم الله یم  کهٔ یاران به بسمِ الله وے
چهٔ کار دَ میړهٔ نهٔ وی  هغه نهٔ وے میړهٔ داه وے
په شماره م ځویه وُرک دی  کهٔ یوځو پکښې واه واه وے
غاړے غرونهٔ ځنے ډک دی  سرانجام کهٔ دَ سپاه وے
ابلق په کار کښے هیڅ وے  یا درست سپین وَیے یا سیاه وے
توره شپه ده دَ غمونو  دَ ښادئ صبحگاه وے
په خوشحال به ئے بد نهٔ وے
کهٔ ئے څوک په حال آگاه وے

کتابت : غلام لطیف ۔ چپړ ړے ۔  دسمبر / ۱۹۹۸ء

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلورم ټوک

POHA

# قطعات

او

پوهه

# متفرقات

Poha Foundation
A.S.KB

جګې جګې نفسه ډېر درېږي لا سه م — ته هم څه خواوس په ما پېږې روان شه
چه دِ وے هغه خوارۀ م وتا درکړه — د تروو د ترخو هم مزه چشان شه
ډېرم ستا په رضا خوب ترخا بنته کړے — اوس راضي له ما په خوب کېږې تراداں شه
زۀ خلوېښت کاله له تا سره کافر وُم — ته له ما سره څو ورځې مُسلمان شه
حميده م د بدل په ضميمه کړل — څۀ فساد دِ په ما وکړ کور دِ وران شه
په هر در دِ لکه سپے وُ درۀ ولم — له دے تکه پو يه منع يو زمان شه
په يوۀ خاطر م زر اندېښنے تو لے — دا همه شومېت دِ تا دے ورک دِ ځان شه
پيمانے دِ د هوا څما په لاس کړے — وارۀ باد پرے پيمايم سور دِ دوکان شه
کله ما وته وئيل د مال و ملک کړے — چه عزت په مال و ملک کېږي د يوهان شه
هرچه پلار نيکۀ دِ کړے هغه کار کړه — د ناموس د ننګ په کار کېږي نامي خوان شه
کله ما وته وئيل د خان او مير کړے — چه ورځه له خان او ميره همزبان شه
کۀ دروغ دي کۀ رښتيا ورته ئے وايه — مسخرۀ غوندِ د دۀ سره خندان شه
کله ما وته وئيل کړے چه خدمت کړه — په خدمت کېږي دلنشين د شاجهان شه
حق ناحق خونونه کړه د مُسلمانو — په هر شان ئے خوارۀ وه باندِ خريزاں شه
کله ما وته وئيل کړے هر څۀ پرېږده — په جمال د ښو محبوبو نګران شه
په هر لوري درته کښېنوه په څنګ کښې — بهره مند ئے له صحبته په هر شان شه
کله ما وته په ياد تازي ترکي کړے — چه د ښکار په هوا سور په عراقيان شه
په صحرائے زغلوه هوا هوس کړه — د بازونو ښکار کوه غوره په ځان شه
کله ما وته وئيل د ګل ولاڼے کړے — چه باني د عمارت باغ و بوستان شه
کۀ په مُزد کۀ په بېګار ځايونه ساز کړه — پکښې ناست وُسه صاحب د ښۀ مکاں شه
په حشمت د زلوچو د پاسه کښېنه — په دا کار کېږي يا فرعون يا هامان شه
کله ما وته وئيل زري جامے کړے — چه زرينے جامے اغونده رخشان شه
کله ما وته وئيل کړے شعر ښۀ دے — سخندانو سره کښېنه سخندان شه
دا شماره ډيره مجمل ده چه م او وے — مفصل ئے ته پخپله ترجمان شه
هرچه ته وما ته ولے هغه کار کړم — ولے کوم پکښې حاصل دے خودګويان شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چه ستا په رضا درومم سوړم کوم دې
چه به ستا په رضا دروی سوځې زیاتي شه

آواره دِ په خوښئ د اماره کړم
له دې هسې بده خویه لږ پښیمان شه

چه دا هسې بې حسابه فرمائش کړې
په دا هسې فرمایش څه خونادان شه

مطربان دِ سرودونه در تاڼه کاندي
ته ئې خوښ په صوت او غاړه په الحان شه

وازه کړې دِ د آز د حرص خوله ده
ستام مات د قناعت په سنګ دندان شه

د غفلت په ګهواره کښې فراغت کړې
غوږ دِ تا د ګهوارې دغه ریسمان شه

ستا لښکر وم په زړه ده میشته کړې
دا لښکر دِ په تیره تُوره طوفان شه

که قدم په نفس کښېږدې اې خوشحاله
نور ته هاله دې دوو کونو سُلطان شه

په هیڅ رنګ به د عالم له خُلې خلاص نه شې
که په خوئ کښې له فرښتو شې برابر

په خوانئ کښې که تقوی کړې دا به وائي
له هوسه وُوت خاورې ئې په سر

په پیرئ کښې که هوس کړې دا به وائي
چه په سپینه ږیره څه کا ګیدی خر

له خبرو که خوله ونیسې خاموش شې
نوم به زو کښیږدی په تا د غوبل شتور

که خوله پرانزې هر چا دا به وائي
چه ګړ بیږی ماغزه نه لری د سر

که له خلقه ګوښه ګیر شې دا به وائي
چه خان روغ په خلقونه وینی مکر

که هر چا لره وردرومې دا به وائي
چه صبا په بیګاه ګرځي در په در

که دُنیا ډیره ګټې په ځان ئې نه خورې
د شوم نوم به په تا کښیږدي خپل پسر

که په هر چا لوستنه کړې د خپلو زرو
دا به وائي چه د غلائې دی دا زر

که توانګر شې د قارون په نوم بالله شې
بې شعور کم بخت بالله شي نا توانګر

که بښې بښې خبرې وکړې په خواب کښې
وائي څه حرامزاده دې لسنه ور

که جواب وچا ته نه ورکړې سرکوز کړې
وائي هیڅ نه دې غووې بې هُنر

که په تُوره مړنې شې ګړ وې ئې
لیونې جاهل دِ بولی هم ابتر

که له جنګه په ستنه وُسې وار ګوړې
وائي خان ساتي نامرد دې نه زړه ور

که زربفت او میلک اغوندې تکلیف کړې
وائي دا د ښځو خوئ دې نه د نر

که ساده جامې اغوندې در ته وائي
چه د شوم او د ممسک دې هسې چر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ سفر دَ هر دیار کړے درته وائی | چه حرص ئے ګرځوی په هره لِیَر
کهٔ په کور کښینے هیڅ لوری وته نهٔ ځے | وائی کښیناست په خپل کور لکه دختر
کهٔ لوندٔ ګرځے وادهٔ ته هوس نکړے | بیا دِ بولی حیز، نامرد، مُرده ذکر
کهٔ وادهٔ وکړے بیا دا درباندِ وائی | آزاده بنځهٔ نهٔ وه؟ شو په بلا سر
داخلهٔ زرداهسے رنګ ملامت نور شته | کهٔ ئے کښنم درته به ساز کړم یو دفتر
خدائے لا هم ځنے خلاص نهٔ دے کهٔ ئے ګورے | چه ترسائے دَ عیسیٰؑ بولی پدر.
زهٔ او تهٔ دَ چا په یاد په خهٔ شماریُو | دَ عالم له خولے خلاص نهٔ وو پیغمبرؐ

نیت دَ هرچا سره بنهٔ لره خوشحاله
په هر کار کښے دَ سړی دے نیت رهبر

چه صرفه کاندِ په سر | یا صرفه کاندی په زر
نهٔ به خان نهٔ به سُلطان شی | نهٔ به خپل کاندی کشور
چه په ځان مرنے نهٔ وی | مرِ نتوب نهٔ کا لښکر
یا تخت دے یا تخته ده | دَ شاهانو ځائے مقر

کهٔ ئے ګورے بدژوندون دے
په جهان تر مرګ بتر

قسمت خوچارے راوکړے | ننداره دَ درست جهان شوم
نهٔ ګناه نهٔ م تقصیر وو | دَ بادشاه په بد زندان شوم
عالمګیر چه په تخت کښیناست | له قرانه په قران شوم
له بګرامه پښے ترلے | هندوستان لره روان شوم
په دهلی په رنتهبور کښے | درے څلور کاله حیران شوم
په اګره کښے م پښے واشوے | بیا نوکر دَ بد سلطان شوم
دَ شجاع په شور وشر کښے | خپل وطن وته روان شوم
زړهٔ م درست سره داغ داغ دے | په تلاشے دَ درمان شوم
لنګرکوټ مغلو ساز کړ | زهٔ په ننګه دَ افغان شوم
کهٔ یوسف وو کهٔ منډړ وو | زهٔ دَ دواړو نګهبان شوم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یمل فتور آغاز شو
د مغلو م بلا شوه
خپل اُولس م مغلی شو
شوم بهرام م د ځان غم شو
په خوکاله دا شورش وو
کهٔ اُولس م بیګا نه وے
سمه سوات په یوسف زئ
فضولی راکړله نهٔ شی
په تول د یوسف زئ
بیا م سوات سے ته شا کړه
نا خلف م مخالف شو
په شامت د دهٔ تر اوسه
په ګنبت چه ختک وُمړل
یا چه راغلم چوترے ته
یا چه ناست په نظامپور وُم
خو تری دی خو بولاق دی
کهٔ م زور لکه د فیل دے
دا همته شامت د دهٔ دے
کهٔ م خپل دی کهٔ پردی دی
و هرچا وته لښکر یم
دے لښکر را پسے بیائی
ناخلف را پسے سر دے
چه کوکب م یاری نهٔ کا
چه م کار شو له نادانو
چه م بد زوڅل له ځانه

د مهمندو هم عنان شوم
غر په غر په کوهستان شوم
نا اُمید له خاندان شوم
زهٔ هم غم د دهٔ د ځان شوم
په ملکونو سرګردان شوم
په هر کار به زهٔ کامران شوم
د هرچا کره مهمان شوم
خو همت په هسے شان شوم
مظفر په هر میدان شوم
په خپل غرهٔ په خپل مکان شوم
زهٔ د دهٔ په کار حیران شوم
درته زهٔ وایم څهٔ شان شوم
یا چه زهٔ زخمی په ځان شوم
شاهزاده لره روان شوم
د هر کام به په ارمان شوم
نندارچی ئے د زبان شوم
و هرچا وته ناتوان شوم
چه محتاج د آب و نان شوم
زهٔ له واړو په فغان شوم
ناخلف وته کاروان شوم
زهٔ له دهٔ نه ګریزان شوم
زهٔ په کوه په بیابان شوم
په دا څهٔ کهٔ کوکب دان شوم
کهٔ هوښیار وُم هم نادان شوم
خود په خود بلا د ځان شوم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



داڅهٔ چرخ څهٔ ګردش دے ‏ ګول په چارو دآسمان شوم
زر ځلور اویا هجرت وو ‏ هغه کال چه بندیوان شوم
اوس زر نوی کال د هجرت دے ‏ چه بانی د دے بیان شوم
هغه زهٔ هغه م زړهٔ دے ‏ په کالونو کهٔ کلان شوم
کهٔ م بخت کهٔ م لښکر دے ‏ لا پخته په امتحان شوم
خود به دے هسے ګردش کا ‏ چه په کام د دښمنان شوم
کهٔ م آرزوی له هوده ‏ نهٔ یم مرد کهٔ ترے ترسان شوم
واړه وشول شپاړس کاله ‏ چه په دا طور پریشان شوم
په اتهٔ شپیتهٔ کښے زهٔ یم ‏ پسرلے تیر شو په خزان شوم
دا هم هیڅ کهٔ په دا عمر ‏ د آسمان په سود و زیان شوم
زیان ئے هم راته آسان دے ‏ چه له سودے پښیمان شوم
ځوانی لاړه پیری راغله ‏ برمند ګل د ګلستان شوم
کهٔ م غاښ نشته په خولهٔ کښے ‏ مست هاتی یم بے دندان شوم
لکه نمر په وخت د عصر ‏ په هر کار هسے ناتوان شوم
اوس نور غم راسره نشته ‏ خو په غم د عابدخان شوم
خو چه کام د دهٔ د زړهٔ دے ‏ کهٔ کامران شی زهٔ کامران شوم

کهٔ م دا مقصود حاصل شی
ګنړه سر د سره ځوان شوم

کهٔ بادشاه د درست جهان شی په تخت کښینی
ترس به کا د بادشاهئ له زوال نه

کهٔ لوئی د سکندر وه خو بیا هیڅ شوه
کهٔ قصه شی د یوسف له ښهٔ جمال نه

خو سکندره خو یوسف به درته یاد کا
کهٔ خبر واخلے له نمره له هلال نه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ جمشید وو کهٔ کسرٰی وو کهٔ خسرو وو
وا ړو وکړله وداع له ملک ومال نه

دَ شاهانو کیږئ دی خاورے نهٔ دی
چه پراتهٔ دی وکړه سوال له هرسفال نه

دا تحبه کهٔ په رنګ بنه ده خوئ ئے کوره
جدائی ورځنے بنه ده دَ وصال نه

کهٔ لقمان کهٔ افلاطون وو واړه تیر شول
چه مِ داد ورکړ دَ عقل قیل وقال نه

هرکمال سره زوال عاقلان وینی
خکه تښتی دَ دُنیا دَ هرکمال نه

دَ دُنیا عیشونه واړه دَرګذر دی
غواړه عیش دَ عقبیٰ دَ ذوالجلال نه

عاقلان کهٔ دَ دُنیا په حال خبر شی
زر به غواړی خپل خلاصے دَدے جنجال نه

کهٔ طوعًا ده کهٔ کرهًا په دا هفتاد کښے
ما رخصت وکړ دَ ملک مال ومنال نه

دَ ایمانه سره مرګ عظیم نعمت دے
خدایه دا نعمت اوس زر ورکړه خوشحال نه

کهٔ خوشحال به په دُنیا لرے خو کاله
سکه بهرام به تهٔ تیرنکړے ترسرکال نه

بد قرین لکه دوزخ دے په دُنیا کښے
مائے خلاص کړه له عذابه له وبال نه

هر سړے کهٔ په دُنیا کښے ژوندے ګرځی
خلاص به نهٔ وی دَدُنیا له قیل و قال نه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حیات صورت هرګوره د یر ضرور شي
لاس وکښنه دَ دُنیاله ملک ومال نه
هرساعت په ما یوحال دے چه تیریږي
چه جدا یم له اطفاله له عیال نه
خپل پردی م څوک ونهٔ لیدل رښتینی
چه خبر شوم دَ وګړی له احوال نه

یو هسے ستورے وخوت په دا بده زمانه
چه ګرځئ دَ لمبه غوندِ ترخولهٔ ځی زبانه
عالم وائي چه نخښه دَ وبا ده یا دَ قحط
زهٔ دا وایم چه نهٔ دَ قیامت ده نشانه
قیامت دا هسے رنګ نهٔ وی نور څهٔ وی
چه څوئ ئے بادشاهي کا پلارئے ناست بندیخانه
۱۰۷۵ھ
دا کال م په حساب کښے پوره عین غین هے وو
پخپله به پرے پوهٔ شی چه سړے وی فرزانه

دَعالم په جفا هیڅ خبردار نهٔ وُم
نیک وبد وما ته دواړه وفادار وو
لکه کونړ سړے په ډیرو نارو آوُری
دا یُو اوس دَنیک وبد وجفا آر وو
چه م کل ګنړل همه واړه اغزی وو
چه دا روم ګنړل کل واړه پرهار وو
چه همیش به ئے ځما په سر دُعا کړه
چه م ولیدل همه واړه مکار وو
بے وفا یارانو واړو راته شا کړه
بنهٔ چه واړه له مالا پل په څهٔ کار وو
په زړګونو کښے م یو سړے بیا نهٔ موند
چه ئے ما سره یاری کړه بیا کنار وو
کهٔ دِ عمر بقا شته ساعت نږدے دے
څوک دِ هیڅ بناد ی ونهٔ کا خوُبه وار وو
سَلم تورغوندِ فلک هسے پرے نښول
ډیر نا اهل دَ کردار له لاسه خوار وو
چه کفران ئے دَ نعمت کا وهٔ لیدل م
فضیحت رسوا په خلق خوار وزار وو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے روزګار دَ هغو واړو کار تمام کړ ... څوک چه ماحواله کړی په روزګار وو
آوریدل م به غلط غلط حکمونه ... روستائی قاضی دوه مل سره په دار وو
هیڅ حکیم به نۀ دَ رنځ علاج وڼۀ کا ... دَ هرچا چه خپل خویونه لړم مار وو
چه م مسلۀ ګنړل په دواړو جهانونو ... هم هغه له ما په داجهان ویزار وو
ما ډیر ولیدل دَ بام په سر ختلی ... بیا دَ بام له سره کښته نګونسار وو

یا وه سړے هغه دے ... چه ئې غیږ نۀ وی پړواک
صحبت په هفته بو یه ... کۀ هر څو ئې قوت ناک
وجود لکه مایه دے ... دا اوبۀ ئې دی اوتاک
څو غوړو هومره بل وی ... ځراغ بے غوړو وی هلاک
له څوا نو صحبت بنۀ دے ... له زړو دِ نۀ شی ژواک
چه تیر شی تر پنځوسو ... ډیر دخول دِ ګنړی باک
صحبت دِ کا په منی ... یا په حُوت یا په ویساک
په باغ کښې صحبت بنۀ دے ... چه بلبلې کا بلغاک
چه دا هوسناکی کا ... تل دِ کا ګرم خوراک
په عطر کښې دِ اوسی ... بنۀ مهین دِ کا پوشاک
تودے اوبۀ دِ تل وی ... چه په غسل کا ځان پاک
دخول دَ حیض بد دے ... یا پړمی شی یا سوزاک
له پاکے دِ صحبت کا ... دَ ناپاکے په سر خاک
کۀ خورے فلاسفه خوره
هم ئې باه شته هم امساک

ځما مشران څو یه ... چه ئې کار شو امتحان
اشرف خان هم کارفرمائے دے ... هم کارکن دے هم کاردان
سدو په کار پوهیږی ... کۀ کارکن نۀ دے په ځان
یعنې وکار ته زغلی ... کار ویران کا په زمان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عابدخان په کار کامل دے ‌‌ کارفرمادے په ښهٔ شان
خالدخان په کارو بار کښې ‌‌ کله ښهٔ کله نادان
ښهٔ خوئ ذ بابا دل دے ‌‌ تل دِ ژوی په جهان
په بازچه نظر وکړے ‌‌ پکښې شته ذ مردئ شان
کهٔ خدائے راته پریږدی ‌‌ ذوالفقار دے صدرخان
بهرام هم کار فرما دے ‌‌ هم کارکن دے زړهٔ پریشان
دا نورځهٔ غټ وړهٔ دی ‌‌ واړه ښهٔ کړه پاک سبحان
پوره په اوبیا ساغلم ‌‌ چه م ودے دا بیان
زر دوه نوی ذ هجرت ‌‌ گوره څهٔ وکا آسمان

په سوئ سور سالو دے ‌‌ هم ذ کور سره لمن
په سر سره سوراور څی ‌‌ لکه گل ذ لاله تن

سره ورغلل دوه غرونه ‌‌ یو مغل دویم پښتون
رنځ شدت ئے هسے نهٔ دے ‌‌ چه خوک صاف کا خپل لړمون
خدایه تهٔ دانا بینا ئے ‌‌ هم بیچون هم بیچگون
تهٔ حکیم ئے پرے پوهیږے ‌‌ زهٔ پرے نهٔ پوهیږم چون
واړه ستا په حکم کیږی ‌‌ کهٔ گنړون دے کهٔ شلوون
دا غمونه تهٔ توانیږے ‌‌ کهٔ له ملکه شی بیرون
کهٔ بیرون نهٔ شی له ملکه ‌‌ غم لرے پکښې زرغون
کهٔ رودونه پار پرار وو ‌‌ سرن ذ وینو دی جیحون

په هرحال شکر بانده دے
تبه ښه ده نهٔ طاعون

ذخوشحال ختک ذحال پوښتنه څهٔ کړے ‌‌ په درون کښې ئے گرومونه دی څیگر
له وجوده ئے یو هسے خیز پیدا شو ‌‌ چه په خوئ ترخرس وخوگه دے بتر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دروغ په بے شرمئ په بدګویئ کښے — یاجهود دے یا ترسا دے یا کافر
په خست په بخل لا بده بلا دے — یو درم به پیرزو نهٔ کړیه په پدر
خویک لخته دَ خیل خان په بنیرازی دے — بنیرازی ئے پکار نهٔ ده د پسر
په خست ئے خو زرګونه سره تول کړه — لا هم هسے ورپسے دے ګیدی خر
کهٔ دَ پلار خونی ئے مری په دوه روپئ — هغه دوه روپئ به زار نهٔ کا ترسر
دے په مثل لکه تروړی زړئے پوست شول — ګوره خوک به ئے له تنه کا تبدر
په وسواس په نامردئ په وهم ویره — لا په زړهٔ به وی ګیدړ تردهٔ زړهٔ ور
پلار نیکهٔ ته ئے نهٔ خوئ دَ نهٔ ئے نسک دے — درست په خوئ په بوئ پیدا دے دَ مادر
دَ مور پلار نیکهٔ ئے واړه پدرکش وو — دَ چارپایو دَ ددانو په سیر

دَ هر خیز رجوع دَ اصل وته کیږی
په فرزند کښے زیات دَ مور کیږی اثر

پنجشنبه م وار پرے سازشه — څهٔ جمعه څهٔ پنجشنبه
یکشنبه ته ئے پرے مهٔ ږده — کهٔ ته موے ګنج شنبه

ارتینے په مثال ګل دی — ګل تازه ښهٔ دے خوشحاله
ترشل کاله تازه ګل ده — بده نهٔ ده تر دیرش کاله
چه تر دیرش کاله زیاتیږی — پریواتهٔ ئے دی له خیاله
چه دَ سرو ینبتهٔ ئے سپین شی — نورئے څهٔ له خط و خاله
کهٔ درست ځان زر و زیور کا — سُود ئے کوم دے له جماله

زوړ چه ښهٔ جمال ته ګوری
بیائے ځوان شی له وصاله

چه مرګ شته په دُنیا کښے — ښادی نشته په جهان
دَ خیال میرمنے جُونه — دَ دماغ خبنتن خوانان
هرچه راشی هسے دروی — لکه ګل دَ ګلستان

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

تله دی له جهانه په افسوس او په ارمان
مونږ لکه لاله یو په دا لږ عمر خندان
بلې شمعې ته نظر کړه چه په څهٔ ژاړی خپل ځان
بار در وتړه خوشحاله
د جرس آورے فغان

سخاوت او شجاعت سره زیبا دی بهادر به خالی نهٔ وی له سخا
بهادر تخه چه خوئ د سخا نهٔ وی خرس او خوږ غوندې وکړی دانا
خرس او خوږ کهٔ هره ورځ کاندی خوندی خرس او خوږ څهٔ مرنے نهٔ شو په دا
په سر یو سر آسمان دے زر پرے گران دی سر شندی د زرو نهٔ کاندی عطا
هغه هسے سر چه غوږ ور سره نهٔ وی سر د خرهٔ دے چه هیڅ نهٔ لری بها
مړنتوب د دانا یانو په بنهٔ رنګ وی نادانان د کشتن نهٔ لری پروا
ځوانمردی په سر شندل په زر شندل ده کهٔ ځوان مردے راوړه خوئ د مرتضا
نهٔ به مال د چا نقصان په ورکول شی نهٔ به ومری چه د چا نهٔ وی قضا
نامردانو ته دا دواړه توکه گران دی ځوان مردان دی په دا دواړه بےهمتا
مهٔ په حلق کښے د مزری د مار پریوزه مهٔ ممسک شه مهٔ مسرف زده کړه له ما
ځوانمردان ترسود تنګ دپاره تیر شی
تروسکه مال په کوم حساب دے د دنیا

مصلحت لکه توپک دے ستا مراد لکه نخچیر
کهٔ د بنهٔ گذار پکار وی تر اول ئے کړه بنهٔ خیر
په گذار کښے هول مهٔ کړه په خپل ځان وسه خبیر
نور ما شه کړه باندِ کوزه لرو بر مهٔ کړه نظیر
زهٔ خوشحال ختک ضامن یم کهٔ خطا دِ شی یو تیر
چه د مرګ اسباب پوره شو
هم دغه ګڼړه تقدیر

شیطان په مثل باد دے څوک خلاص نهٔ وی له دے باده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړے دے لکه بُوټے | دا دُنیا مِ لار دَ باد ده
چه بیخ دَ وُنے ټینګ وی | غم ئے هیڅ نۀ وی له باده
چه بیخ ئے برخیرن وی | خلاص به نۀ وی له فساده
علم څو دَ سړی ډیر وی | عطائی وی له اُستاده

کۀ دا وُنے دی کۀ بوټی
واړه ټینګ دی له بنیاده

سړی کال چه دَغواصؒ دے | په هرلوری دی تبړن ډیر
دَ مرګ تبے یو څیر دی | دَ ژوندون تبے بل څیر
ترمیاشتے تبړن ورشی | لا ترمیاشتے تیر و بیر
بخت ناک په دوه هفتے شی | دَ فانی جهانه تیر
ژوندے وو درویشت کاله | ځلمی توب شو باندِ زلیر
څو بنۀ کبنلی مخونه | دی ترتورو خاورو زیر
په رنګ دَ چنبے ګل وو | چه ترے تیل شی دَ اجمیر
په خوبئ لکه ملک وو | په تقویٰ په طاعت ډیر
دَ پلار په زړۀ ئے مرګ دے | لکه زخم دَ شمشیر
یوځۀ دَ بلا غم دے | چه آسمان کړ را برځیر
کۀ ډیر وو نور غمونه | په دا غم شول واړه هیر
ارمان چه په دیدن ئے | مئین نۀ شول واړه سیر
غلیم ئے کۀ بادشاه وی | پلار ئے کړے باندِ پیر
چه ور به ئے له ورونړو | نۀ وو کار دَ شرزه شیر

دَ خدائے سره جنګ نۀ شی
کۀ هرڅو وی څوک دلیر

نژدے راغے ساعت | چه په خاورو شی صورت
بند په بند به سره بیل شی | ترمر دارے فضیحت
چینجی به ترے خوتکیږی | یا به هسے شی لت پت

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفت د صدف مهٔ کړه    د گوهر کوه صفت !

گوهر مغز گوهر دے

چه یکانه دے په قیمت

لکه مست هاتي زنځیر کا ترے ترے    چه په خوب کښې ورښکاره شي هندوستان

زهٔ هم هسې تر تقوی تر زهد تیر شم    چه را یاد شي د شرابو حریفان

ساقي نن د میو جام را کړه وما ته    څهٔ شیخي ده په دا هسې گلستان

په طاعت به تر جنته څوک ورشي

خو پرے فضل کرم نهٔ وي د سبحان

دا طالع ځما څهٔ اوس نهٔ دے ځائي دے    چه په چابانډ منین شم دماغي شي

چه ترے مینه پیتوم هومره ایلي کا    چه پرے مینه ښکاروم هومره یاغي شي

هغه زړهٔ به فراغت آرام په څهٔ کا    چه د ښکلیو د جمال په خال داغي شي

په هجران نے په سنګیر میشتهٔ ځما وي

په وصال د مهوشانو زړهٔ باغي شي

غم په زړهٔ کښې بد غلیم دے    خو توا نیرے خوا‌ر وه یٔ

یا تیره توره سا او اخله    خو چه وي هموار وه یٔ

یا غمخوار چرته پیدا کړه    ورته کښینه ښکاره وه یٔ

یا فریاد فریاد فریاد کړه    تاره تار په تار وه یٔ

یا خوشحال غونډ زړهٔ راوړه

ځائے نے کړه انبار وه یٔ

یو بیان به درته وایم کهٔ ئے آورے    ځما دا خبرے نهٔ دي دروغژنے

د غلجیو جونه سپي سره یو ځائے خوري    همکي واړه بد پوښے دي سپيړنے

د شیر زادو جونه بازے د سپین غرهٔ دي    په شینوارو کښې هم شته یکښې ښښنے

فیروزخیلے اکاخیلے د صفت دي    نورے زیړے خربیشې دي چینجنے

د مغل د پښتانهٔ دمه پرے کیږي    د کوهاټ بنګښې مه شه سترګ بیښنے

په بنګښ کښې بړه خیلے بدے نهٔ دي    نورے واړه خود نمائے دي نیازمنے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ توریو دَ ځاځیو ځونه ښې دي
که جدرانړې که وزیرې که ساړنګي
دَ هندکیو په حساب دي عیسیٰ خیلي
دولت خیلي لوهانړۍ دي لوټې چارې
دَ شیتکو ځونه سالې ښتنې دي
دَ ابدالو ځونه واړه ګډبنې دي
دَ دَوړو ځونه واړه لکه باغ دي
دَ ختکو ځونه واړه غوبنې دي
دَ مهمندو ځونه سرې لکه ایماغ دي
په خلیلو کښې سکنړۍ پیدا کیږي
داؤد زئ ځونه چینګې خولې حیرانې
خو صفت دَ ګکیانړیو ځونو زه کړم
مهن زئ ځونه واړه لکه خرې دي
چه په خویشکیو روهانړیو باندراشي
ماندوړئ پرملئ بیچاره دي
دَ لازاکو ځونه پټ سپاهیان پریباسي
چه په ملک دَ هزاره ترین مرین دي
په مندوړو کښې خال خال چېرې پیدا شي
دَ بنیر دَ ځونو نوم په خوله وامه خله
اکوزئ ځونه واړه لکه باغ دي
په اړهنګ برهنګ کښې هم شته اتمانخیلې
دَ صافیو ځونه صافې په صورت دي
خوګیانړۍ واړه خوګې دَ صحرا دي

بلا دا چه دي له سیلې لورنې
داخو واړه نهٔ سړي دي نهٔ چڼې
دَ سنبلو ځونه ځهٔ خو سرپېزنې
نورې واړه پوونده دي غوشینې
خو په ژبه په پوشاک دي برخیرنې
کهٔ ترینې دي دَ پشین دي دَستانې
کشیده پکښې ملئ دي دَ سټنې
خو یوازې اکوړخیلې دي میرمنې
کټه سرې وړې سترګې پوزې پلنې
هغه هم بدې بخیلې سرکودنې
دَ وادهٔ په ورځ ودیرې سرخیرنې
واه واه واه داګکیانړۍ په یار مېنې
دَ سړیو په شان روغ ځنې ځنې
داخو واړه دَ بغرئ دي دَ میچنې
نهٔ دَ خواښې دَ جواب دي نهٔ دَ بنې
چه په قهر غصه راشي قهر ژنې
دَ سنګری ځونه داغ کښېږدي په ینې
نورې واړه ګیډورې دي پړس بنې
دود آلودې غوړیالئ زیړ بخنې
مولی زئ پکښې شته دَ چندنړ ونې
دَ سړیو په جاې جاې ریمنې
ولې ډېرې په روزګار کښې دي خیچنې
په نغرې ناستې ډوډئ وهي پلنې

په جهان ترلغمانیو نورې نشته
ګنده بوټي ګنده بغلې مچ بیېزنې

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پہ جهان کښې دَ زړهٔ غوره دی درے توکه  هم بل هم ورسره شته دے څلورم
یو ښهٔ حُسن بل ښهٔ ځائے دریم ئے بُوئ دے  بیا سرے او ښهٔ چه زړهٔ شي پرے خورم

یا دا درے توکه ځما له دله واخله  یائے زر وماته راکړه لاس په لاس
اول ښهٔ ښکلي محبوبه چه ئے ګورم  دویم باز دَ مهورے دریم ښهٔ آس

بے صبری کهٔ ډیره ځله  زار ژړا مانړی ډیر ځله
دا دَ بله مخه نهٔ شي  واړه مینه ده بے تله

تهٔ له خپله لوریه ښهٔ اوسه خوشحاله  نور دِ سل رنګه خبرے ماته وائی
کهٔ ومشکو ته خوک ووائی چه هیڅ دی  لاس په لاس به مشکخپل بوئ ورته نمائی

چه مرے خوهسے وُمره  چه خوک تاپ درپسے وُکا
مهٔ مارشه مهٔ لړم شه  چه په مرګ دِ خوک زړهٔ ښهٔ کا

یو چه ډیرخوری سوګندونه  بل چه ډیر کاندی پورونه
آشنائی ورسره مهٔ کړه  دا بے پته دی خویونه

چه مئین په وسله نهٔ وی  مرد دِ نهٔ وائی خپل ځان ته
لاس دِ سرهٔ کا سترګے تورے  ځان دِ وجوړوی ځوان ته

مستظهر په عفوَ شوے  بیا پرخاش دَ انتقام
دا کار دَ مردئ نهٔ دے  پرے پوهیږی خاص وعام

مُسلمان وئیل رب رب کا  هندو وائی چه رام رام

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یوهٔ وته چه گورے دواړه بولی دَخدائے نام
دَخوشحال ختټک تسبیح دِ
زنّار نهٔ شی والسّلام

کهٔ بادشاه شی په تخت کښینی هم گدائے گڼره طامع
کهٔ حشمت دولت ئے نهٔ وی هم بادشاه گڼره قانع

مخزن دَ درویزه دَ میاں نور شیخی پیری
الثالث بالخیر دَ حمزه خانی میری

دا درے توکه ډیر قدر ډیر عزت لری په سوات کښے
وخدائے وته بنکاره دی وټیل نهٔ شی په خیری

څما له غیبره ترپ ئے خوچه وکړ بیبړی ورد
دَ مورتر کښ دِ تیر شی یارچه نهٔ وینه زړهٔ ور

دَ زړهٔ غلا په زړه کښے غم دے لا په تیره دَ سردار
هر سردار چه په زړهٔ غل شی ځان رسوا کا خلق خوار

کهٔ نظر وکړم په کانړی سوے زړهٔ به ترے اخراج کړم
تهٔ ترکانړی لا بتر ئے کم دلیله څهٔ علاج کړم

یو صحبت بل عقل دواړه تهٔ په دا کښے خوبی غواړه
چه دا دواړه توکه نهٔ وی نوره هره خوبی لاړه

یا هرگز مهٔ کړه له هیچا سره بده کهٔ ئے وکړے نهٔ ترتل و ترا بده
چه دَچا سره دِ کار دَ نیکئ وکړو نورنیکی ورسره تل بویه سرمده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ هندو دَ مسلمان سره رفیق شی — په رښتیا کښې ئے روزګار به ښۀ طریق شی
په دروغ کښې مومنان سره زیست نۀ کا — چه دروغ ئے مکر سره تحقیق شی

کم دلیل په سترګو ړوند شه — لکه ړوند وی په دوو سترګو
باز په کور کښې کښېنولے — ګرځی ښکار کاندی په چرګو

ځلبلاند درپسے زۀ یم — کۀ ته نۀ ئے ځلبلانده
څو به ما په مانړی وژنے — پلوړے کړه وُخانده

چه مړۀ دی په وفا کښې — دَ هغو تر ګور ځارېږه
ژوندی چه بے وفا دی — ته دُعا کړه چه خوارېږه

چه مِ وُلیده په سترګو — لکه زۀ ترمِ په بند
نه بتر تر شانه بین یم — نۀ زبون تر ژاله بند

عقل زور صورت ته ښۀ دی — چه یاری مومی له بخته
چه له بخته یاری نۀ وی — اور ورُو لګه دَ وخته

شپږ اوۀ میاشتې په هند په خراسان — چرته ونۀ شۀ په سم په غرۀ باران
دَ او بو دَ ونو ډیر کمامت وشو — ځائے په ځائے شول دَ غلې نرخونه ګران
چه باران په جهان وشو پس له یأسه — فتح الباب وو په تحویل دَ سرطان
دَ اسد تر نویشتمه ورځ په ورځ شی — په باران سره نهال شو درست جهان
په دا کال چه شاه عالم راغے له هنده — صلح وشوه دَ مغلو دَ افغان
دا سږ کال چه ئے تاریخ رحمت تم دے — په وګړی مُبارک دے په هرشان
یو دا کار هر کوره سخت پکښې پیدا شو — چه هلک پکښې نۀ وینو، شول طوفان

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیرن موږ دَ خیلخانے هلکان وُمړل　　داغ دَ زړهٔ دے عبداللهٔ دَ یحییٰ خان

په نیکنام پسے کهٔ زړهٔ دَ رانړئ چوی
دَ بهاګو خاطر خوشحال شو په کامران

ګوښی ګوښی خما خان لره بلا شول　　چه پیدا دی همګی خما له ځانه

کهٔ پنځوس دی کهٔ شپیتهٔ دی داغ دَ زړهٔ دی　　یو ځو لا پکښے آفت شول تر دا میانه

چه نے ورځ وشپه په ما باندِ یوه کړه　　دریغه دریغه جت وباز وصدرخانه

ځو ګردش دَ زمانے سره څرخیږی　　زنده سر به پاتے نهٔ شی بے خریزانه

چه دِ زهٔ دَ بښو یارانو نه جدا کړم　　دا ته وایه سود دِ کوم وُشو آسمانه

په یرغ په مصلحت په پیرین نهٔ دهٔ　　آسمانی بلا پریوزی ناګهانه

چه همیش په یوهٔ حال دے هغه خدائے دے　　په سرِی باندِ ورځی ګراته آسانه

دَ سرِیو حال کهٔ تل په یوهٔ شان وے　　دَ سلیمان ګوته به نهٔ تله له سلیمانهٔ

دَ دهلئ تخت کهٔ تل په یوهٔ کس وے　　تل به نهٔ وو باندِ بے شاهِ جهانه

هیڅ په داخبره ځائے دَ بلے نشته
له فانی جهانه تلل دی له ارمانه

وعالم ته خوشحال زوړ حُویه نے ځوانان دی　　دَ زاړهٔ بلا په سر دَ دے ځوانانو

پلار نے درسته ورځ په ښکار وژنی آسونهٔ　　په پالکئ کښے ځی په رنګ دَ سنځورانو

کهٔ په شمار په حساب دیرشوته نژدے دی　　همه واړه دی په شمار دَ نامردانو

په یوهٔ کښے هومره کار برکت نشته　　لکه کار دَ نام وننګ دے دَ خانانو

دادَ کانړی کاک خما دَ عابد خان دے　　دَ مغل پلاڈ دَ نورو فرزندانو

کهٔ دا هومره ناخلف واړه خلف وے　　نن به ما نوبت واهه دَ خسروانو

کم ګوترے دَ لویو سپینږ هُنر اخلی　　پیروی کا کشران دَ مشرانو

دَ دمړیو دَ کنجکو حساب غواړی　　په لیکه په جوکه ځیردی ترهندوانو

په جهان کښے چه محنت دے یا راحت دے　　په وار وار واړه ورځی په ملوکانو

کهٔ خزان دے کهٔ بهار دَ هرچا نهٔ دے　　دواړه توکه دی دَ باغ دَ صاحبانو

دَ آسمان وګرځیدو ته نندارهٔ دهٔ　　ګوندِ وی چه پیره بیا راوړی یارانو

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلیل خوره رانجهٔ نکریزے ورته پیری | مشاطے غوندِ خدمت کا دَ زنا نو
خوئ دَ پلار دَ نیکهٔ هیڅ ورځنه نشته | په خصلت دی همګی دَ پراچګا نو

دَ محنت دَ مشقت دَ تالاش نهٔ دی
دَ راحت دَ فراغت دی دَ ریحا نو

شپږ اَوهٔ پیړیٔ ځما وګورته لاړے | همګی په وینو رنګ په تیغ ورژلی
اشرف خان په یو پرهار به ځان واخلی | نهٔ دا نور دَ دهٔ دَ موره چه زوولی
ترځلو بینتو کالو تیر شو لا تر اوسه | دوه تیرهٔ اغزی پرے نهٔ دی ځرخیدلی
خودَ پلار په نام ئے خوری چه مشران دی | نور دَ تورے دَ کار نهٔ دی دا غوولی
خوحسد بخل نفاق ئے دے په بخره | کله لویو لویو چارو ورته زغلی
اکوړے شهباز په دوئ پورے بدنام شول | دَ پدر په خوئ و بوئ نهٔ دی راغلی
مکر مور دَ دوئ باز رنګه پلارئے باز وو | په آشیان وو سره دواړه ورغلی
هیڅ تا ودهٔ سارهٔ په ذم په مدح نهٔ دی | دا بے شرم م ځهٔ لږ نهٔ دی غندلی
دَ پلاوُ دَ دوپیازو دَ نازنعمت دی | دَ چوړے دَ ارګجے دی سپین سپیڅلی
دَ صندوق دَ بخکئ په غم اخته دی | دَ روپئ دَ اَدیلے خبر آخلی
روزنامه ئے چه حاصل خاطر نشاط شی | بیا هاله ئے سترګے پټے شی ځملی
دَ بکری نه بخری پنځ پیدا کا | دَ بتي بخری نهٔ دی چا لیدلی
حقیقت ورځنه نهٔ تقلید دَ پلار کا | چه تر پلاد تر نیکهٔ مونږ یو خوړیدلی
نهٔ ئے مړ وی په غلیم نهٔ فیروزی وی | کهٔ زګونه ورسره وی سوارهٔ پلی
دَ دُنیا په حرص غرق وی سر تر پا یه | په پدر په برادر نهٔ دی ترلی

دَ کلاغ غوندِ غُل خوری ځانګونه هسک کا
چه ځانګونه م دَ غُلو دی ساتلی

زهٔ دَ غینِ دَ لاسه چا وته فریاد کړم | مونږ ځماله لاسه دُځی چه کښ یاد کړم
په درست کال به مخ نا ولی کښ ته پرڅ وُم | په حیرت شم چه په یا دهغه فساد کړم
دَ ځوانئ حال م نهٔ دے چه م ووے | دا خبره دَ پیرئ دَ هفتاد کړم
له پردیو م توبه واړه په خپلو | دَ ځوانئ حال به هم درته په یاد کړم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله لس کله زیات کم کله تر شلو
دَ دخول وئیل وَچاوَته تعداد کړم

چه ملا به بانګ نما زوے ما به کښ غو
دَ روژے په بنه ثواب به نے نا بناد کړم

نهٔ په حیض نهٔ په نفاس له ما خوک خلاص وُو
خهٔ دَ غیبٔ نا سازے چارے په فریاد کړم

ورځ وشپه راته مخ ځتے وے لس پنځلس
ګوئے مکوئے وئیل لړ. نهٔ دی کئے یا دکړم

په څوانئ کښے م کار لکه دَ دَدَ وو
په پیری کښے خدائے خهٔ خو آدم زاد کړم

چه م غیبٔ دا هسے بد دے ګمان مکړه
خکه خدائے په ډیر اولاد کښے بد اولاد کړم

له نا پاکو نه ناپاک له پاکو پاک وی
زهٔ دا نقل دَکتاب دَخپل اُستاد کړم

کهٔ خوک شته چه ئے دَ زړهٔ په غوږ وآوری
مسخرے مذاق م نهٔ دی دا ارشاد کړم

دَکشتن دی دَ زدن دی دَ تاختن دی
یو ورکزئ بل بنګښ دریم بولاق

دَ ورکزئ دَ بنګښ دَ بولاق نشته
یو انصاف دویم حکمت بل اتفاق

خدائے دِ ورک دَ پښتنو کا دا درے توکه
یو بدجهل بل بدنیت دریم نفاق

سرداری لره بویه دا درے توکه
یو همت دونم تُوره دریم اخلاق

څو دا مزکه دا آسمان شته دا به هم وی
یو روزګار دویم وصال دریم فراق

دَمغلو حال هیڅ نشته کهٔ ئے نهٔ وی
یو دولت دویم شوکت دریم وفاق

چه له قومه نا اُمید شوم خکه زهٔ یم
یو بے ملکه بل دلګیر دریم فراق

په بدقام دِ نن څما له لوریه تل وی
یو نفرین دویم لعنت دریم طلاق

دَ تیراه په ملک چه راغلم دا م بویه
یو ډیر عزم بل ایلاق دریم قشلاق

په صورت په تیراه ناست زړهٔ م په یوتے دے
یو په ذکر بل په یاد دریم مشتاق

حقیقت دَ یوسفزی راته معلوم شو
کاروبار به ئے بنکاره شی په دوه رنګه

یا به کور په کور اخته شی په میرځیو
یا به ملک و مغل ورکاندی بے جنګه

خدائے چه ورک کا بنهٔ مړونه په اُولس کښے
بیبنوی هغه اُولس وته بیا ننګه

اوس په درست اُولس کښے بنهٔ ملک عبدل دے
کهٔ ئے زرکا خدائے خهره په مرک بدرنګه

حمزه خان هغه چمند دے په جنګو کښے
وراندِ روستو پری پرے کا له غورزنګه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ طالي ملکي تتـه آئينـه ده! چه څهره پکښې ليده شي رنګارنګه
طالې چرګه نر ښځې دے په ديدن کښې لوڅې چا رخويل لکه دَ چرګ په هويو کړنګه
الهداد لکه لګې په جيـفه ګرځي دَ مردارے بوئې ئې ځي له دواړه چنګه
مصري خان مندړ دَ غاړے ماهي اخلي سګ لاهو غوندِ ځان ژغوري له نهنګه
مصري خان مندړ پټ شخوندکوي په ورځ کښې لکه پيغله جل په حيض کښې روژه ړنګه
نوم ئې څهٔ دَ کشرانو په خولهٔ اَخلم چه ئې واړه ملکان وينم بے ننګه
مختصره وينا دا د بازار سپي دي په ړوديو پسے درومي څو فرسنګه
بس دا هومره نور څهٔ مهٔ وايه خوشحاله دَ ځکو لښکر نهٔ لړے ترخڼګه
نهٔ حميد شته نهٔ کچے شته نهٔ کاچوشته څهٔ له نورو سره سر وهے له سنګه
کهٔ دَ سوات په هوا خوښ ئې پکښې ښکار کړه او کهٔ نهٔ ورځنې تښته په فرسنګه
دَ بي بي په کورنۍ ووري کټ کا نړې چه دَ سوات ځلمي بيليږي له پالنګه
لس به ملهٔ سره ونهٔ وينې په ننګ کښې
کهٔ درست ملک سره پره کړے ترتورسنګه
دَ اُومو خاورو کَندُوړے تا زيبا کړ په څو رنګه
عجب زرهٔ دِ پکښې کيښو تا دانا کړ په څو رنګه
دَ ثنا ژبه دِ ورکړه تا ګويا کړ په څو رنګه
معرفت دِ پکښې کيښو!
تا آشنا کړ په څو رنګه

وخت دَ اورنګ شاه دے دَ هرچا قسپے په لاس دي
خدائے ځنې خبر دے په اخلاص کهٔ په لباس دي

په هرچا دَ سپينے ږيرے حرمت ډير دے خو په جونو قدر نشته دَ سپين ږيرې
هګۍ واړه خريدارے دي دَ مشکو يوه نشته چه کا فور په بها پيرې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفاوت دَخپل پردی وربانِدِ نشته
که ئے گوری اورنگ زیب بادشاه گمراه دے

مستجاب غریب ئے وُوڑے په ظلم
دَخوشحال منصب ئے واخست کوم گناه دے

دَمنصب په اخستهٔ خهٔ دلگیر نهٔ شو
دَخوشحال خاطر خوشحال دَخدائے گواه دے

په منصب پورے خوشحال خټک نوکر وو
چه منصب ورځنے لاړشه اوس بادشاه دے

اُوهٔ میاشتے دی چه لار دَکابل بند شوه
حال احوال دَخلائق واړه تباه دے

دالاځهٔ په هندوستان توره تیارهٔ ده
په هرځائے دَدهٔ دَخویه بویه آه دے

دَاورنگ بادشاه په دور آرام نشته
چاوئیل چه جهان ځائے دَآرام گاه دے

لکه مخ دپاسه تور سیاه لیدهٔ شی
اندرون ئے هغه هسے تور سیاه دے

کهٔ ونیت وته ئے گورے یو یزید دے
کهٔ طاعت وته ئے گورے اهل الله دے

دَدهٔ خیر واره دهٔ وته بخښلے
خوله شره به ئے دار کاچه آگاه دے

په بنا دئ سره شریک دی اُولسونه
غم یوازے دَخوشحال خټک دَخان دے

چه پرآن وآن په مزکه په آسمان دے
په غمونو په بنادیو کښے انسان دے

دا یوه خصلتئ دَخان ویئے بلا شوے
چه سړی سره ئے غم په هرزمان دے

دَنامرد دَمرد پرداتفاوت وشهٔ
په نامرد شرم آسان شهٔ په مردگران دے

مست هاتیان خونی مزری توری وکښلی
کهٔ دَ سر تر ویرے تیرشوے کار آسان دے

کشکے تهٔ په ډیر احتیاط همیشه پائے
په احتیاط احتیاط کښے ډیر عالم طوفان دے

کهٔ دَخان کهٔ دَایمان بدخواه ډیردی
ما په خدائے بانِدِ سپارلے خان ایمان دے

ننگیالی چه دَاخلاص توره ترملا کا
ډیر لښکرے ترهمت پورے کاروان دے

ترآوله ترآخره چه روزگار شته
چه عالم بانِدِ غوغا کا داجهان دے

اَتهٔ ویشت لرم خویه
نشته یو دَبل په رنگ

اَشرف ئے لائق خوئے دے
دریغه نهٔ وے په خوئ پرنگ

صدو دَ نورخهٔ نهٔ دے
خوئے غواړی په پالنگ

بهرام هغه خنزیر دے
چه لائق دے دَ تفنگ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانان هغه شاهین دے | چه ئے سرۀ په وینو چنګ
باز په لاس دَ عظیم کام دے | یا مزرے دے یا پلنګ
نظام ریښمین رومال دے | پورے غوته موټے بنګ
یحیٰی خالد دا دواړه | بوالعجب لری فرهنګ
په واړو کښے آزاد دے | هم دَ روغے هم دَ جنګ
بخت ناک هغه ځلمے دے | نشته بل دَ دۀ په رنګ
ما لوجلو دا دواړه | ژک ژوندی په مزکه ړنګ

نورغشے آغریں دے
سرآغزے دے یا خدنګ

هُما پلار په ګورئے نور شه | یو ربښتینے وو هر ګوره
تل دَ خیل عزت دپاره | تیر تر سرو وو تیر تر کوره
دَ بادشاه زیاتے ئے نۀ وړه | سرئے خلاص نۀ وو له شوره
تل په خیال دَ مړنتوب وو | خوچه ورغے تر ګوره
یا ګټل یا ئے بخښل وو | چارئے دا وه نۀ وه نوره
خرخ ئے زر دخل ئے یو شو | تل به خلاص نۀ وو له پوره
بل په غشی کم خطا وو | دَ بنګار مینه وه پرے زوره
چه دَ دۀ ځویه نمسی دی | دا خوبونه پکښے ګوره
کۀ دَ خیل بابا په رنګ دی | بنۀ زوولی دی له موره
تراو بۀ ئے حلم زیات وو | تیر په قهر وو تر اوره
بل دَ دین په کار متین وو | له دُنیا نه ئے خوا توره

ناروا کۀ بنا پیرئ وے
پرے ئے نۀ وه دَ تن سیوره

اورنګ چه عدل نۀ کا | ظالمی ئے کړه بنګاره
کۀ خدائے په دا راضی وی | دَ خوشحال تروخۀ چاره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځوانئ چه پرهیزګار شي — دَ جنت دَ بڼ طوطا دے
په دا وخت کښے چه لوبر شي — ندامت ورته زیبا دے
په پیرئ کښے چه بدکار وي — کهٔ ابلیس غواړے هم دا دے
په سړي کښے هرخوئ شته — چه په څوک ئه پیدا دے
دَ فرښتو خصلت پکښے دے — دَ شیطان پکښے ماوا دے
په ښهٔ خوئ ترفرښتو ښهٔ شي — په بدتیر ترشیطان لا دے
دَ فرښتو سره شماره دے — هغه کس چه تل پارسا دے
چه ئے تل دَ بدو خوئ دے — هغه کس ترشیطان لا دے

کهٔ لږ بدکا ندی ډیر ښهٔ دے
سرپیتوب باندے روا دے

نهٔ دَ سوال په هُنر پوهه یم — نهٔ طالع لرم دَ پیوس
نهٔ زاهد دَ شکرانو یم — نهٔ ملایم زکوة خور
نهٔ دهقان نهٔ سوداګر یم — نهٔ حرفت لرم څهٔ نور
ځائے کښې لرم په سر کښے — په میراث دَ تورو شور
وهفتاد وته نزدے شوم — هر نعمت راځي په کور
کهٔ په کور راشي زرګونه — هسے دروي لور په لور
خپل روش به اوس نورنهٔ کړم — کهٔ رم نور کړم مخ رم تور
کهٔ ځما ترلاسه راشي — خزانے دَ درست لاهور
تار په تار به ئے خورے کړم — څان به نهٔ کړم دَ پیغور

زر دَ نوم دپاره ښهٔ دی
هیڅ په کار نهٔ دی په کور

سرلے هرګوره بدولد دے — چه په حال ئے شوم خبر
دیرش ځما لس دَ قاضی دی — واړه یو تر بل بتر
مشران رم لا بلا دی — کشران دی لا لچر
مصطفیٰ وته وګوره — په بهرام وګوره نظر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دا هسې څنې زوول — تُو په پلار هم په مادر
زهٔ په خان بانډ سړے یم — کُوته سپی م شول پسر
قاضی خود لکه غوښکے وو — له غوښکی پیدا شو خر
بنهٔ پېتے غنم غنم کا
بد پېتے ئے کا جودر

په دا هم لا راضی من یم له آسمانه — ننداره دَ اباسین له میر کلانه
په تیراه په سوات په خوږ در په درشوم — بیا م کوم لوری ته تهٔ بیائے آسمانه
لکه ګوئے هسې په حکم دَ چوګان یم
درست وجود پرهار پرهار یم له چوګانه

بنهٔ عزت بنهٔ اعتبار — بنهٔ ئے زیست بنهٔ ئے روزګار
دَ نادان بخره خواری ده — عزت بخره دَ هوښیار
نادان هسې څهٔ ښکاره کا
چه خپل ځان کا خوار و زار

کهٔ څما ژبه پښتو ده — په پښتو وایم خبرے
یو پښتون رانهٔ ښکاریږی — چه پرے پوهه شی نزدے لرے
په خوږ والی کښې ئے فرق دے — بنهٔ تر ګوړو دی شکرے
ګبینهٔ لری مچیٔ — ګُبکے لری بنبرے
له یوهٔ دریابه خیژی — مرغیچے مرغلرے
تفاوت ئے ترمینځ ډیر دے
په قیمت دی سره لرے

جهانونه څهٔ لږ نهٔ دی — تهٔ ئے نهٔ وینې نادانه
ګوره څو دی هسې مزکے — ګوره څو هسې آسمانه
واړه ځائے دی ستا په زړهٔ کښې — اے تر عرش لو یه انسانه
آئینه دَ زړهٔ صیقل کړه — چه ئے ووینې اے جانه
کهٔ دِ دا ننداره وشی — جدا نهٔ ئے له سُبحانه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه مونږ د رزق مشتاق يو
هسې رزق زمونږ مشتاق دې
که صله حرص دِ نهٔ وی
رزق به رسی خدائے رزاق دے

چه فاضل دَ زمانے دی پرې به پوهه شی
دَ خوشحال ختک دا شعر مزه ناک دے
سک مکس خوسک مکس دې نور به نهٔ شی
کهٔ هر څوئے اړوې کا واک کا واک دے

په دا شان مرد دَ دِرم دَ دِرم شی
کهٔ ئے وګورے په دار ټګے بیا کاک دے

کهٔ جمال دے کهٔ ډیر مال دے
کهٔ ډیر علم ښـهٔ نسب
دا په هر لوری لږ نهٔ دی
هُنرونه بو العجب
کهٔ صفت کړے دَ ښهٔ خوئ کړه
په ښهٔ خوئ کوه طرب

دَ ښهٔ خوئ منصب باقی دے
باقی نهٔ دے بل منصب

دوه سرکښ لرم په کور کښے
چه مِ تل لری په تبه
کهٔ هر څوئے جلب نیسم
نهٔ سهیږی بے مراتبه
دواړه پټ نهٔ دی څرګند دی
یو ذکر دے دوئیم ژبه

دا راتب غواړی دَ شعر
هغه کوږه عجائبه

دَ بهرام له حاله څهٔ وایم وچا ته
حال دَ خپل خوبه ښکاره دې وبابا ته
هم فضول هم مزوّر هم مذبذب دے
هم یکرنګ وئیل به نهٔ کاندی وچا ته
په یوه ذره کښے پاسه په آسمان شی
په یوه ذره کښے ځی تحت الثریٰ ته

دَ خپل خوئ په ګردا بونو کښے غوټه خوری
دا عادت به ئے رد نهٔ شی ترمماته

په ځنګلو کښے چه ګرځی
په الګه یو کښے چه پرزی
په اغزیو به خوږیږی
په ژور په لوړ به پرزی
ویره کا له غور کمانی
په آسمان چه مرغهٔ ورزی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجاهل وته چه وائے　　نیمه بزیره دِ شی چاله
واحمق ته چه وئیل کړے　　درسته سپینه شی خوشحاله
چه جاهل درته څهٔ وائی　　جواب ورکړه څما لا له
چه احمق درته وئیل کا　　ورته تف کړه بے مقاله
وَجاهل وته اُمید کړه　　گوندِ واوړی له افعاله
له احمقه طمع پرے کړه　　نور به نهٔ شی په سل کاله
جاهل دروهی په تورتم کښے　　څکه چارئے ده محاله

په احمق بانِدِ ورځ شپه ده
وبه نهٔ ووزی له اشکاله

یوه ښه وینی عورته　　خوش صورته خوش سیرته
بل ښهٔ آس بله ښه گوره　　بله زغره پُر قیمته
په دا جهان کښے دا پکاردی　　نور همه وهه په لته
کهٔ تر دا پاتے څهٔ نورشته　　نشته بے له ښهٔ نکهته

چه بهتر تر دا همه دے
نشته بے له عبادته

چه زر لری په کور کښے　　هاله شی ښه سرداری
دوستی ئے بده چار ده　　بده نهٔ ده زر داری

دَ بنگش په تورهٔ مات نهٔ یم باور کړه　　دَ کنبت په جنگ م ماتی آسمانی وه
نهٔ بنگش وو نهٔ ئے تورهٔ نهٔ ئے زور وو　　دَ موشکو دَ سینیو شیطانی وه
چه وغرهٔ وته ئے تیښت وکړه بے جنگه　　دَ څینی تنبه له څایه نقصانی وه
چه م ښهٔ سوارهٔ دَ خان دَ ورانډِ نکړل　　هم په دا سبب راپیښه پښیمانی وه
چه م تول دَ ورانډِ نهٔ تلل په جلب کښے　　همگی دَ حسن خیلو نادانی وه
سل رحمت دَ مهمندیو په تنبه شه　　چه دَ دیو چار له ماسره جانی وه
برتویو تورے لروند په وهل کړے　　په مردئ دَ هریوهٔ جانفشانی وه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په توره یې شیرخان پریوست له آسه  په میدان د عابدخان پهلواني وه
چه سردار د بنګش پریوت ختک مات شه  په دا هسې رنګې چارې حیراني وه
عابدخان چه په مردۍ راغې له جنګه  وخپل پلار وته یې ښه ارمغاني وه
پروکي پروکي یې د سر شالونه لاړل  په سرو وینو یې چهره ارغواني وه
لاس په لاس یې انتقام د بابا واخست  په دا کار باندې سزا ثنا خواني وه
چه یې جنګ په میدان کړو یو خوسواره وو  نور د وارو بخره تیښت تن آساني وه
د ختکو په سورو باندې لعنت شه  په یوه جلوې تیښته ځان ځاني وه
چه اول ماتې یې کړه په سورو کړه  په سورو کښې چار د جټ د عثماني وه
ښه ځوانان چه د ګنبت په میدان مړه  د هر ځوان په زړه کښې ننګه افغاني وه
همګي ځوانان ځما د زړه ارمان دی  پکښې بیله د عبدل تانده ځواني وه
د غلیم سره په آس غاړه غړې شو  د عبدل د مړینتوت بخره کاني وه
ما دا هسې جنګ هرګز لیدلی نه وو  خوږم عمر خوږ ختک خوږم خاني وه
ځوانان جنګ تمام د ورځ کا نه ما تیږي  په یوه لحظه لمحه ماتې آني وه
نه په طمع په امید نه شرم ترس وو  د لښکر م سررشته الماني وه
یا لښکر د نام وننګ وي یا د زرو  ځما دا تول د ننګ نه وه ناني وه
همګي په یوه سیر راسره تول وو  په یوه ساعت یې ځکه پریشاني وه
چه نه دین وي نه دنیا جنګونه څوک کا  مګر سهله جانبازي جانستاني وه
چه په خواست و په ضرور سره تولیږي  د هغو لښکرو کله ودانې وه
چه م داځله غلیم له دکې خلاص شو  پرې یکباره د فلک مهرباني وه
لکه ځارې چه وباز وته ځان خیر کا  هغه هسې د فلک پر افشاني وه
که زه روغ په ځلې ولاړ وی غلیم څه وو  د پرهار په کارم درسته ویراني وه
که طالع م په ظاهر مدد ونه کړه  توجه یې په ما ډیره نهاني وه
زه د عمر د ښادۍ دوازه امید کړم  د غلیم که م خو ورځې ښادماني وه
داځه مړه ځما ځوانان نه دي په جنګ کښې  داځما د ننګ په کار کښې مهماني وه
که م خپل که م دښمن مړي په دا کار کښې  په هر توکي م حاصله کامراني وه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالف مِ په دا کار کښې پاتے نهٔ شو — چه فاسده اندیښنه ئے وجدانی وه

سل خلویښت خوانان مِ قتل په میدان شول — دَ اختر په عرفه کښې قربانی وه

دَ هجرت دَ کال غفو وو په حساب کښې ۱۰۸۹ — په غرهٔ داوره وریدله نسانی وه

چه بے زخمه له میدانه ځی نامردی — زهٔ زخمی لاسهم دَ ځان نګهبانی وه

یوه تیښته نامردی بله مردی وی — ودانا و ته دا دواړه عیانی وه

انتقام وَته مِ تیښت وو له میدانه — نهٔ مِ یاده دَ دُنیا زندګانی وه

تل خونی مزری هم جنګ کا هم ځان ژغوری — دَ مزری دَ تیښته څهٔ بدګمانی وه

پیغمبرؐ چه له کافرو نه فرار کړے — وکافر ته ئے په زړهٔ کښې تیغ رانی وه

کهٔ ظفر کهٔ هزیمت بیا مِ میدان دَے — چه دَ پلار نیکهٔ مِ برخه میدانی وه

کهٔ ژوندے په دُنیا پا یم خود به ګورے — چه په تیغ مِ څهٔ ورانی څهٔ ودانی وه

دَ خوشحال اختیار تر واړه بنګش تیر دے

کهٔ بنه ننګ دَ خټک دَ کولانی وه

یا سردار لره خپل عقل — یا وزیر صاحب تدبیر

کهٔ هر څوئے عقل ډیر وی — بیا هم بویه بنهٔ وزیر

کهٔ دا نهٔ وی نهٔ هغه وی — په ژوندون ئے بویه دیر

بنهٔ سردار لره دوهٔ کاره — دایم بویه په ضمیر

یو دِ هسے رنګ بخشش کا — چه پکښې نهٔ وی تبذیر

چه بے ځایه تربیت شی — دَ تبذیر لری نذیر

دَ تازی دِ تربیت کا — په کوته دِ نهٔ شی خیر

باز دَ چرګ دَ دانو دے — بنهٔ دِ پوهـ شی په دا خیر

بل چه ننګ ته تیاری کا — په دشمن دِ شی خبیر

کهٔ لښکر ئے یګانه وی — بیا دِ کا دَ جنګ تدبیر

کله جنګ و ته هوس کا — چه آشتی مومی بشیر

کهٔ په صلح کښې روزګار شی — څهٔ حاجت دَ تیغ و تیر

په دُنیا دِ سرشندل شی — یا چه حکم وی دَ پیر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاچه کار دَ ناموس پیښ شي    هورته هم نهٔ شي تقصیر
کهٔ نهٔ څوک نیسي ځان تیغ ته    نهٔ شلغم دے نهٔ پنیر
چه نیولے په عقرب کښې    نوے باز وي بے نظیر
یا وه میر شکارئے مړ کا
وائي مړ شو په تقدیر

چه لاف وهي دَ شعر    نن په دا دور دي ډیر
خدائے دِ نهٔ کا چه به وایم    حال دَ دویو تیرو بیر
څوک پا وے څوک نیم پا وے دے    قلندر پکښې نیم سیر
ځموږ ه په حساب دے    هیڅ م نهٔ دے واصل هیر
بل دولت فقیر درے پاوه    زهٔ ترے څو سرشاهي تیر
چه په سرائے کښې به پیدا شي
پس له قرنه پوره سیر

په دا هومره قباحت اشرف عاق نشو    چه بهرام دا هسے عاق شو څهٔ حکمت دَے
چه وعقل ته دَ دواړو نظر وکړے    بیروت دَ دواړو په وجود کښې حماقت دَے
دَ بهرام تیرے په دادے په بدئ کښې    چه لړلے دَ دُنیا په محبت دے
خدائے دِ دا علت نصیب دَ هیچا نهٔ کا    دَ دُنیا محبت سر دَ هر علت دے
لکه نیت دَ بهرام څهٔ وو هسے وشو    دَ سړي دَ چارے کل مدار په نیت دَے
په دا هسے وخت چه دور دَ فساد دے    پلار ناحقه دَ فرزند په تربیت دے
چه خپل پلار شړي په تُورو په لښکرو    په دا هسے څویو سل ځله لعنت دے
کهٔ څوک شته چه په دا چارو نظر وکا    ځائے دَ پند دَ نصیحت ځلئے دَ عبرت دے
څوئے له پلاره نه ویزارشي پلار له څویه
قباحت دے قباحت دے قباحت دے

چه م بندهٔ په زړهٔ کښې فهم فکر وکړ    احمقان را ته بښکاره شول په څویو نو
یو هغه سړے احمق بللے بویه    چه باور کا دَ غلیم په سوګندونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه    چه پاړ وشي دَ لړمو دَ مارونو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل هغه سړے احمق بللے بویه چه په سینه زېره خیال کاندي د جونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه د ښځو سره پاسی په جنګونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه د خسرګوره به اوسی په کالونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه وینښتهٔ به تورَوی په خضابونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه بزرګانو سره خیر شی په جنګونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه یک لخت به اعتبار کا په تربرونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه په هر طبیب داروکا د رنځونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به بے تورے دعوی کا د ملکونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه په جنګ وته پریکړے ځی ترملونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه لوئی کا په لباس په کسوتونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به دے غواړی لوئی په نسبونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه د تیښتو ګمان ورک کړه له مړیونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به مال د دُنیا نهٔ خوری په کورونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه بد خواه سړے به پریږدی په رویونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه بے ځایه زغلول کا د اسونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه پیران به کښینوی په خپلو خونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه سجده تکلف کا په ځانونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه خبرے کا په سترګو په لاسونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به لوړی د سړیو په سرونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه د غوښتو کربه کاندی په ډاګونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به سُود او سوداکاندی د باڼونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه بربنډه کونه لامبی په سیندونو

بل هغه سړے احمق بللے بُویه !
چه غوږ نهٔ کا د خوشحال په داحرفونو

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږده کوراو ودانیه راته څهٔ ستا ئے تهٔ بنځه
سر دَ هغې بنے بنځے دوړ وورکړئ په تربنځه

نیک وبد به هرڅوک فکر کا دَ خپلے چارے
فهم کړه خوشحاله کهٔ څوک بد دروهی تهٔ بنهٔ څه

کهٔ په مینه دَ صدیقؓ ولاړ صادق یم هسے ما کړه په مهر دَ عمرؓ
په عثمان باندِ به څهٔ وایم چه څو یم په هزار رنګه مئین یم په حیدرؓ
محبت دَ خاندان لرم په زړهٔ کښے دولس واړه امامان م دی بصر
پاکیزه سنی مذهب یم نورڅهٔ نهٔ یم چه م نور څهٔ کړی خاورے په سر
رافضی خارجی دواړه توکه بنهٔ دی دَ یوهٔ سترګے په شینغ دَ بل ځیګر
زهٔ خوشحال چار یاری یم خوښ له خدایه
چه سنی راغلم په دین دَ پیغمبرؐ

په ژړا ژړا سیلاب دے یا دریاب دے قرارے مهٔ کړه یو دم ځانے دَ ژړا وو
سترګو تاسو په شماره څاڅکی راتوئے کړهٔ دَ نظام دَ آشنایئ درد خو دا وو
دَ اورنګ په تفرقه کښے چه غوغا وه په آرمان ومړ له پلاره نه جدا وو
خدایه وبخښے نظام ځانے نے جنت کړے کهٔ دَ پلار په رضا شی ځنے رضا وو
په دریمه خور کښے ومړ کال غفو وو
شپږ ویشت کاله ئے دَ عمر وو برنا وو

په بناس ندئ چه راغلم په نظر راغلهٔ سارس
په بل لوری م نظر کړ راته ژغ وکړ طاوس
وے ئے غم بنادی خوشحاله دواړه توکه دی تس پس
پرون ورخ دِ مخ په کړ وو نن دِ بیا په خپل اُولس

حکایت شو ځنے پاتے
نهٔ ماهی شته نهٔ یونس

آفرین دے په انصاف دَ عالمګیر چه په داهٔنر کښے نهٔ لری نظیر
نهٔ په غلهٔ نهٔ په رهزن نهٔ په پاسبان دے خوک دِ وی چه ئے کښیوزی په زنځیر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورزادی کم عقل هیځ نهٔ هوښیاریږی — کهٔ په یا دلولی خلور واړه کتابه
کهٔ هزار زمیٔ صابون و ربانډِ مږے — دَ تور والی رنګ به نهٔ ځی له غرابه
لکه رنګ چه دَ چا بندهٔ شی دَ چا بد شی
عقل هم هسے عطا ده له وهابه

یو تازه دولت مونده لے — بل ځوانی دے یم شراب
چه دا هسے کس حاکم شی — عالمونه کا خراب
بهتر سړے هغه دے — چه ئے هیځ نهٔ کا جواب
چه خلاص کړے خدائے له بنده — اوس خوشحاله ځهٔ شتاب
اَعدادِ شرمنده شوه — لوئے کرم وکړو وهاب
اشرف دِ په ځائے کښیناست — خدائے تل لره کامیاب
ته ناست ئے په آګره کښے — دا هم بویه په حساب
کړته ګرځه یو څو ورځے — سیر ځهٔ وُکا شهاب
خو دا درے دی بله نشته — اوس آخر دے پیچ و تاب
یا خواه ناخواه منصب دے — یا یو ګُنج په لاس کتاب
یا زغ دَ سپینے تُورے
کوهستان مرجع مآب

دوه پرهاره بندهٔ دی پرے لوئی دَ مردو زن
یو پرهار غیږ بل پرهار دَ غابښ په مخ
زهٔ خو وایم بند شوم اوس نهٔ داشته نهٔ هغه
چه دواړه ورته جوړ وی دَ هغو ځلمیو سخ

چه له خلقه لرے وُوزے — و خالق ته نزدے کیږی
زړهٔ له واړو خلقو پریکړه
ایمان دا دے کهٔ پوهیږے

پس له بنده دِ دا عزم — دَ خوشحال دَ خاطر جزم
یا نیولے مخ مکے ته — یا مغلو سره رزم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا یو کُنج دَ غرۀ نیولے
نمونځ روژه دَ لوستو بزم

مولانا عبد الحکیم          دَ دُنیا دَ دین حکیم
دَ جوګیانو وګروه ته          په تعظیم وو به تسلیم
چا انکار ورباندِ وکړ          وے نۀ هیڅ نۀ یم فهیم
دَ هرچا سره سلوک کړه
دا صراط دے مستقیم

چا په وخت دَ ځنکدن وے مجنون ته          وخت آخر دے په زړه یا دلره خپل خدائے
ده وے زړۀ م دَ لیلی په یادو ډک دے
پکښے نشته دے دَ نورو یادو ځائے

تۀ لا اوس دَ الف بے سبق آخلے          تکی هم په دروغژنو غشـیو ولے
بے هوده لاړے دَ کنز دَ قدوری کړے
په ناحقه دَ ګازو په ښکار رغلے

کۀ دِ مکر مکارت شته          خود به وینے خپل حال
را ښکاره دی ستا مکرونه          راڅرګند دے ستا تیتهال
تۀ ګرم نۀ ئے په سیرونو
زۀ ګرم نۀ یم په مشقال

کۀ ښۀ دی خو فرښتے دی          چه نس نۀ لری خوشحاله
هرچه نس ئے وچا ورکړه          خلاص به نۀ وی له جنجاله
چه هر څوک سره ویزار کا          دا دُنیا ده بے مآله
کۀ پخوا تر دا اخلاص وو          اوس څۀ نشته بے تیتاله
قیامت رانژدے کیږی          بد تربینه کال تر کاله
باور هیڅ نشته په څو یه          وا یم څۀ دَ بل له حاله
چه په خولۀ کلمه لولی          زړۀ ئے درست په قهر ځاله
چه احوال دَ خلقو دا دے          ولے نۀ پا سے دجاله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا خو تلے له خلقو تښے یا څۀ نۀ کړے بے قتاله
کۀ شیخان کۀ عالمان دی
نور څۀ نۀ دی بے له قاله

نن مِ وکړۀ له اُستاده نه خو سوال — سرفرازئے په جواب کړم دَهر سوال
وے مِ څوک دے چه همیش په یوۀ حال دے — وے ئے تل په یوۀ حال دے ذوالجلال
وے مِ څوک دے چه همیش په بل بل حال دے — وے ئے خوار بنی آدم لری دا حال
وے سر دَ فراغت دی دا درے څیزه — تندرستی او ایمنی دَ دُنیا مال:
وے مِ کوم سړے لائق دے دَ یارئ — وے ئے هرچه دروغ نۀ لری تیتپال
وے مِ خوان دِ په خوانئ کښے کومه چار کا — وے ئے هر زمان دَ علم اشتغال
وے مِ زوړ دِ په زوړوالی کښے کوم کار کا — وے ئے جوړ دِ کاله علمه خپل اعمال
وے مِ کوم سړے به تل وی په حرمت کښے — وے ئے هرچه له چا نۀ کا ندی هیڅ سوال
وے مِ طمع قطع نۀ بویه له چا نه — وے ئے هرچه ښه ئے اصل ښۀ خصال
وے مِ څۀ دی دَ دُنیا دا ښه ښے چارے — وے ئے واړه افسانے دی خواب وخیال
وے مِ کوم بحث وجدل دے چه تل ښۀ وی — وے ئے دا دَ علم بحث دے جدال
وے مِ کوم رښتیا چه ووائی پرے سپک وی — وے ئے خپل هُنر چه وائی دم درحال
وے مِ کوم یو بے نوا بللے بویه — وے ئے هرچه ئے په غاړه ډیر عیال
وے مِ کوم سړے نیک بخت بللے بویه — وے ئے هرچه سخاوت کا په اموال
وے مِ کوم سړے لائق دے دَ ستائنے — وے ئے هرچه په بخښلو شی خوشحال
وے مِ خلاص به شم په څۀ له بده یاره — وے ئے تل څنے پوښتنه کاکړه دَ مال
وے مِ ډار او ترس له کومه شخصه بویه — وے ئے هرچه ورته یو حرام حلال
وے مِ څۀ خیز و نه ګران په مرد تر ځان دی — وے ئے دین او بل دانش دے دَ رجال
وے مِ څۀ دی چه دانش پرے ضائع کیږی — وے ئے لاف دَ دروغو قیل و قال
وے مِ لاف هوډ په څۀ ترسره کیږی — وے ئے زر بویه خوانان بویه قتال
وے مِ څۀ دے چه نشان دَ خوان مردئ دے — وے ئے عفوه په هنګام دَ استقلال
وے مِ څۀ رنګه به والوزم آسمان ته — وے ئے دا شی دَ همت په پروبال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وے م کومه چار بهتره تر هر څهٔ ده    وے نے هرچه نیک عمل کړے نیک افعال
وے م څهٔ کړم چه محتاج دَ طبیب نشم    وے نے لږ خوره لږ دخول کړه لږ مقال
وے م څهٔ کړم چه هر څوک په ما مئین شی    وے نے مهٔ وایه دروغ مهٔ کړه جنجال
وے م چا سره تدبیر کوم په کار کښے    وے نے هرچه رسیدلے تر کمال
وے م چا سره یاری دَ کړلو نهٔ ده    وے نے هرچه ابلهان دی غیر سال
وے م کوم سړے دشمن بللے بویه    وے نے هرچه په بنادئ دِ شی ملال
وے م چا سره خوښی دوستی دَ کړُ ده    وے نے هرچه تر تا کُوز لری احوال
وے م کوم سړے مؤمن بللے بویه    وے چه هرچه راضی نهٔ وی په وبال
وے م کومه چار جنت ده په دُنیا کښے    وے نے بنځه چه هم نے خوئ وی هم جمال

وے م څهٔ دی دَ خوشحال ختک خبرے
وے نے واړه دُر گوهر دی عقیق لال

کهٔ بد گناه څوک وکا    ته گناه ورته معاف کړے
نشان دَ مردئ دا دے    چه زړهٔ درست ورسره صاف کړے

کهٔ بیا دِ په زړهٔ بد وی
نور ناحق دَ مردئ لاف کړے

یا زړهٔ څهٔ لیونے شوم    یا دَ خلقو روش نور شو
څوا نمرد په څوانمردئ کښے
دَ هرچا دَ سترګو تور شو

زر په بده ورځ پکار وی    هوښیار خکه ساتی زر
دَ زردار بلا په زرو    دَ نادار بلا په سر
چه سپر وی ګذار په سپر شی
چه سپر نهٔ وی لاس شی سپر

په بهار کښے رنګا رنګ تا روکی ګورهٔ    چه په ګلو را پیدا شی لور دَ لوره
خود بخود له یوهٔ لوریه را پیدا شی    نهٔ اثر دَ دوئ له پلاره نهٔ له موره
چه دا هسے رنګه حال په سترګو وینے    په دوېم ژوندون څهٔ شک کړے څما روره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



داڅوځيزه که ونهٔ خوری — هم ځر بيبری پرسری
چه بشهٔ جمال ته ګوری — بل دا نا سره نا ستے

بنهٔ بوئ جاے مهينے
چه دَ جنګ راوری برے

سرود هورته دے روا — چه نهٔ غاؤ وی نهٔ غوغا
سامعان ئے صاحب دل وی — نهٔ ئے نفس وی نهٔ هوا

اوکهٔ نهٔ دا هسے نهٔ وی
آ ؤريدل ئے دی خطا

دَ شرع حکم دوه دی — يو جواز دے بل افضل
کهٔ مردئے له جوازه — وا افضل ته وهه زغل

کهٔ دواړه سره نهٔ وی
سړے نهٔ ئے تهٔ بيتل

راشه وغوړوه سترګے — دَجهان ننداره ګوره
چه بناشت لری په ستوريو — دَ آسمان ننداره ګوره
دَدے خيل وجود په باغ کښے — په هر شان ننداره ګوره

چه هرګل وته نظر کړے
دَ باغوان ننداره ګوره

مادَخپل بابا هډونه په مړو پټ کړهٔ — په هرهډ بهٔ ئے شل شل وی ما غوښتلی
کهٔ دَ چاله لاسه ومرم ګمان مهٔ کړه — چه بهرام سدوبه روغ کا دَچا خلی
چه نهٔ ننګ نهٔ ئے غيرت په دا حيرانتٔ شوم — چه خدائے ځهٔ لره پيدا کړهٔ دا غوولی

چه حيات په دُنيا ګرځی هم اموات دی
دَ ژونديو نه مړهٔ لږ نهٔ دی زوولی

په خويونو کښے ډير فرق دے — کهٔ سړے پرے خبردارشی
ځنے هسے خوئ آغاز کا — چه خپل هم ځنے ويزار شی
ځنے هسے خوئ آغاز کا — چه پردی ئے خدمتګارشی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ څوک خپل خصلت د بنو کا
ترسرو زرو به روښیدار شي

خپل شاګرد وَته طبیب دا نصیحت کړ　　رنګ نے ګورہ چه رنځور د دارو خوری

دَ هغه رنځور دارو کړه چه رغیږی
دَ هغه رنځور دارو مهٔ کړه چه مری

چا ته سهل نظر مهٔ کړه　　په هر سړی کښے سِر دَ خدائے شته
دَ مزرے څخه کهٔ زور دے　　دَ لومبړے څخه رائے شسته
زیرکی دَ کارغـه ګوره　　کروفر کهٔ دَ همائے شسته

هیڅ مکان ترے خالی نهٔ دے
په هر لوری کتخدائے شته

دَ هر چا دَ زړهٔ مرهم شـه　　کهٔ نیکان دی کهٔ بدان

خپل عمل وته ئے پریږده
ته به څهٔ کړے تردا میان

خوچه خولهٔ کا سره وازه　　حال دَ دواړو شی څرګند
کهٔ جاهل دَ کوهستان دے　　کهٔ دَ ښهر دانش مند
په وئیل کښے یو پریشان څی　　بل وئیل کا بند په بند
دَ جاهل وئیل خوند نهٔ کا　　دَ دانا وئیل کا خوند
دَ جاهل وئیل سرکه دی　　دَ دانا وئیل دی قند

خاموشی ورلره سود ده
کهٔ جاهل م منی پند

په باران چه ودانی دَ درست عالم ده　　په باران سره کهٔ خونه دَ چا خاځی
دَ باران په وریدلو راضی نهٔ وی　　کهٔ دا نور عالم همه په باران یاځی

په هر څهٔ کښے دَ سری دا خپل غرض دے
چه په زړهٔ کښے ئے جنبش دَ ذرهٔ راپاځی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبردار شه په ابدالو کۀ په ویښ دی کۀ په ناست دی
په حواس ئے زیست روزګار دے
ترحواس وتلی ناست دی

بے تا واړه ودانئ دی دریغه دریغه بیا به رانشے ځوانئ
په پیریٔ کښے فکرونه اندیښنے دی
چرته لاړے دَ ځوانئ نادانئ

یوه بیره دویم قهر په سړی پرېباسی قهر
کۀ څوک داخوبونه ورک کا تل به خوښ اوسی په دهر
دا هرچا لره بلا دی
لا ملوک لره دی زهر

اندیښنه کۀ په غرۀ کښیږدے غر به هم لکه ویښتۀ کا
خوار سړے سلامت نۀ دے
کۀ په غم کښے ځان اوبۀ کا

دَ ملک او دَ دولت خښتن خطا کا چه په مخ نیسی په خمر په خمار
چه خدائے پرچا دَ چا حکم روان کا څۀ آسان وسهل نۀ دے دغه کار
کۀ یوه پښه دَ کوډ ماته شی په لار کښے
خدائے به دے پوښتی په ورځے دَ شمار

وهغۀ وته په قهر نصیحت کړه چه په نوم نوی پند و نۀ بندیږی
چه پخپله سرو ملونی وَته اورد کا
هغه آس رم کله بند په کمند کیږی
هرڅوک دِ خپل یون کا کۀ کارغۀ دے کۀ کوتره
څوک چه خپل هنر بدل کا خپله چار کاندی اوتره

بسه دۀ دا خبره کۀ ئے پند کړے دَ خوشحال
داد په خرواړو کړه حساب وکړه په مثقال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرچا کښې عقل قاضي کړه    ورځنې غواړه رواياتونه
ذهرې چارې چه فتوی درکا
ترخوله ؤباسه هغه حرفونه

غلوېښت کاله کښې چيني شي    پرې شندلې شي سرې سپينې
کودي منګي په ورځې سل شي
خودې قدر قيمت وينې

خوشحال خټک که زوړ شو    عيب نې کوم دې ګيدي خرو
د آسمان په دور نوري    بوئي د مشکو د عنبرو
چه د بېرکاله پرې تير شي    بوئي لا ښه شي د اګرو
چا پرې ګوته ايښې نه ده    د نودرو والي په ګوهرو
په هربازار چه وړ شي
قدر نه ځي د سرو زرو

د سيالانو په جرګه د ناستې نه کا    چه له سياله نه ئې نه دې خپل ګټلي
چه ونه وهي په دواړو لاسو توره    چا ملکونه په ميراث نه دي موندلي
چه ترسرو ترمال تېرنه شي په عشق کښې
خوک د جونو په پالنګ نه دي ختلي
چه د بل قاضي مفتي د کتاب نه دې    د خوشحال سبق له چا دې له منصوره
په سولئې کښېنوه په اورنې سيزه
انا الحق وينا به نه شي ځنې دوره

د جهان په حال اول خبردار نه وم    دايم اوس په سپينه زيره خبردار شوم
چه هرچا به راته لاف د ياري کړې    په اخلاص به ترهغه سړي ځار ځار شوم
چه م وليدل چه واړه د خپل زړه دي    د همه واړه جهانه نه ويزار شوم
چه م يار دې يا قلم دې يا کتاب دې    اوس له دې ياري پاتې په ابصار شوم
د بازونو ښکار م هم دمه د زړه وه    د نظر په کمي کم د باز په ښکار شوم
په طاعت په عبادت که څه حاصل وي    شکر دا چه وطاعت وته وزګار شوم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ خوشحال ختک حیران یم نهٔ پوهیږم    چه دَ چرخ دَ لاسه څهٔ وَم په څهٔ شمار شوم
پو ستم دا ورنگ زیب بله پیری شوه    په دا دوه توکه داهسې خوار و زار شوم

کهٔ دَ ځویوم لښکر دے هیڅکاره دی
لا دَ دوئ له غمه هسې تار په تار شوم

تر هغهٔ نه به بل بد په جهان نهٔ وی    چه تهٔ راز دَ زړهٔ ورهٔ ته کړے آغاز
دے دستا په کمی پاسی ستا بدخواه ته    یکایک واړه بیان کا هغه ساز

په قیامت به چه جزا دَ خپل عمل وی
دواړه لوسیه به مخ تور وی دَ غماز

په هر کار کښې مصلحت شته    کهٔ دَ سترګو اړول وی
نادان پرے نهٔ پوهیږی    پرے پوهیږی چه عاقل وی
هر چه کار په مصلحت کا    هغه هر کله خوش دل وی
کار چه کا بے مصلحته    په غمونو کښې بنښ تل وی
فرض واجب سنت شته نفل    مراتب ته ئے کتل وی
دَ دین کار په سرشته دے    چه به وحی پرے نازل وی
هسې کار دَ دُنیا هم دے    چه په عقل ئے موندل وی
چه ئے عقل پوهه نهٔ وی    دَ هغو چارے باطل وی
یا دَ نفس په هوا دروی    یا ګمراه ګرځی جاهل وی

راته څهٔ وائے خوشحاله
دا دِ چا وته وئیل دی

تر مشرقه تر مغربه    درست جهان واړه خبر دے
زیست روزګار دَ واړو خلقو    چه راوخیژی په نمر دے
ښاپیرک وسخنے تښتی    دَ نمر کوم خلل خطر دے

روندے نهٔ وینی په سترګو
وینی نمر چه سترګه ور دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه مغل وته م وتړله توره
درست پښتون م وعالم وته ښکاره کړ

ختک کله په شماره په حساب یاد وو
ختک ما د اُولسونو په شماره کړ

اتفاق په پښتانۀ کښے پیدا نۀ شو
ګنړه ما به د مغل ګریوان پاره کړ

څۀ په عقل په تدبیر په توره نۀ ده
حواله م مرشدکار په ستاره کړ

خپل تدبیر توره م کښیښوه په کندُو کښے
دادے خان م له عالمه کناره کړ

اوس م نور غمونه نشته غم م دادے
چه اولاد م خدائے دا هسے هیڅکاره کړ

سره یو تربل اخته دی په خپل کور کښے
په نفاق ئے غم وما ته اِجاره کړ

د مغل په منصبونو غوسره ګوخُو
یکباره ئے مخ په نفس اَماره کړ

ما دولت ورته ګټلے وو په توره
داځما د توره نقش ئے آواره کړ

خو د خدائے فضل وکرم وته اُمید دے
ګنړه حال م د ځامنو نندارة کړ

په منصب چه غلول نۀ کا نور به څۀ کا
مغل خدائے وپښتنو ته بیچاره کړ

ښائسته عالم خانه ده
یرے تکه ئے واړه ستا دی

ورته ګوری حیرانیږی
چه د چا سترګے بینا دی

په هغۀ م رحم کیږی
چه هیڅ نۀ وینی اعما دی

چه وماته نصیحت کړی چه زر بنۀ دی
تولول به کا د زرو چه خبر دے

چه په کور کښے خزانے لری د زرو
هغه کس چه یک تنها کے زورور دے

هر بادشاه چه خزانه ورځنه نۀ وی
عاقبت ورځنه تار په تار لښکر دے

هر سړے چه په نام لوئے په دولت کم وی
په معنیٰ بد رنګه ښځه سپین څادر کے

په مثال ئے د هغے مرغۍ مثال کړه
چه سینه ئے کشاده تن ئے لاغر دے

ګوره ما د هغۀ څۀ رنګ جواب ورکړ
چه به پوهه شی هر سړے چه دانشور دے

ما وے مرد لره خو نام بویه نادانه
نۀ د زرو تولول چه بدهنر دے

کۀ هندو ځنے انبار انبار مُهران وی
په مُهرانو به ښۀ نۀ شی مختصر دے

کۀ په خرۀ باندِ د زرو صندوق بار کړے
خر به هیڅ په دا ښۀ نۀ شی خر خر دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هُنرئے دَ لویئ ونیو په لاس کښے
دَ هغهٔ وجود پارس شو واړه زر دے

یو دَ بله زده کوی دَ دُنیا دود دے — چه شاګرد نشی اُستاد نهٔ شی سړے
زبونی به ئے په دین کښے پیدا نهٔ شی — کهٔ زبون په اعتقاد نهٔ شی سړے
خواست دُعا په آسانئ کله قبلیږی — دَ تقوٰی په کار خوراد نهٔ شی سړے
دَ زحمت علاج ئے کله طبیبان کا — څو په آه و په فریاد نهٔ شی سړے
کهٔ لږ خوری لږے خبرے لږ دخول کا — په زحمت به هرګز یاد نهٔ شی سړے
کهٔ ئے زړهٔ نهٔ دے په خپلے رسوایئ — راضی من دِ په فساد نهٔ شی سړے
زمانه به ئے دَ باد په ستنه نهٔ کا — کهٔ شنا زغوندِ پُر باد نهٔ شی سړے
په خالی وئیل به نهٔ آدم زاد کیږی — په عمل چه آدم زاد نهٔ شی سړے
کهٔ په عمر صد ساله شی لا آدم دے — چه سیّاح دَ هر بلاد نهٔ شی سړے
په اولاد کښے ئے اثر دَ اصل وشی — دَ بد اصلو دِ داماد نهٔ شی سړے
لکه بنهٔ غنم چه وکرے جودر شی — په دُنیا دِ بد اولاد نهٔ شی سړے
دَ رورئ به ئے هیڅ حلاوت نهٔ وی — چه وَ رور ته په سداد نهٔ شی سړے
چه مدد ئے آسمانی نهٔ وی له بخته — لوئے په اصل په اجداد نهٔ شی سړے
بیدادی به دَ هیچا باندِ ونهٔ شی — په خپل ځان کښے کهٔ بیداد نهٔ شی سړے
کهٔ کوشش کا په اخلاص زهٔ ئے ضامن یم — کهٔ کامران په خپل مراد نهٔ شی سړے
لا به چارے دَ ځوانئ ترے پیدا کیږی — چه په عمر کښے هفتاد نهٔ شی سړے

بهتری دَ خوئ خصلت بویه خوشحاله
خام طمع دِ په نژاد نهٔ شی سړے

کهٔ ژوندے شی افلاطون — سوات کښے و نسی سکون
اکوزیو ته بیان کا — کتابونه دَ فنون
هدایه کفایه دواړه — په پښتو کاندی موزون
دوئ به وائی چه داخهٔ دی — مخزن بنهٔ دے دَ اخون
نیشکر به غوایهٔ خهٔ کا — په وابنهٔ ئے دے ژوندون

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دروه په ملک کښې بنهٔ پښتون یا دیږي　　نن مهمند بنګش ورکزي آفریدي دي
دَ مهمندو سپي بهتر دي تر بنګشو　　کهٔ هزار خله مهمند بتر ترسپي دي
چوهړي دَ افریدیو نه ورکزي دي　　آفریدي کهٔ همه واړه چوهړي دي
هرچه بنهٔ دَ پښتونخوا دي حال ئې دا دے　　هغو بد وته خوک وائي چه سړي دي
له ژوندیو پښتنو ښیګړه نشته
هرچه بنهٔ وو هغه کل دَ ګور بندي دي
نن دَ واړو پښتنو بهتر مهمند دي　　هغه هم و واړهٔ خلقو ته څرګند دي
چه مغل ورته ووائي "دولتخواه است"　　نور حرام شه کهٔ په خپله کوَنه بند دي
پښتانهٔ دِ ننګه و باسي له دله
اوس ترلي دَ مغل دَ آش په خوند دي

کهٔ آزاد دي هغه مرغونه دي　　چه هم بے رنګ دي هم بے الحانه
په بند بندي دي خو هم هغه دي
چه هُنر ئے پاسیدهٔ له خپله ځانه

چه تا نهٔ وینم په کور کښې　　اور به پورے په درست کور کړم
کهٔ مِ لاس په ځان رسیږي
ځان به هم تر بلا هور کړم

خوئ دَ هاتي دا دے　　چه خرورشي دَ وړاندِ
کهٔ نهٔ غرېږي له دهٔ نه
دے ترے ځان کناره کاندي

یو کا نړے دَ بیدیا　　ترتندي لاندِ کړه عیسیٰ
چه بنهٔ فهم ئے وکړ
هم ترے بوئ تهٔ دَ دُنیا

شریعت دَ وُنے بیخ دے　　طریقت لکه ښاخونه
حقیقت دَ وُنے پاڼړے
معرفت میوه ګلونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه کبنل کا سپینه تُوره　　دُنیا لونی بازینه
تیمر غوندِ که نهٔ شی
دَ عنبر غوندِ دِ شینه

کهٔ تُورے کهٔ توبری دی　　کهٔ مزری دی کهٔ مارونه
دا همه واړه آفت دی
ژبه لا ده ګُونا ګُو نه

یو بنهٔ مخ دے بل بنهٔ آواز دے　　چه ځان له تنه صبرله زړهٔ وی
چه دا دوه تو که سره سره شی
ځان او زړهٔ م دواړه سره وړی

مجنون چه و مړ په ګور کښے پر یوت　　فرښتو ترے سوال کړ چه څوک دِ خدائے دے
دهٔ وے په نورڅهٔ خبردار نهٔ یم
دَ لیلیٰ خیال م په زړهٔ کښے ځائے دے

چه نادان چیرے غلط شی　　ورته وِوائی نادان دے
خدائے به واړه چارے بنے کا
دَ هرچا سره شیطان دے

چه اَشرفِ میرباز دِ هم غلوی خوشحاله　　ورسره لا دَ یحیٰی غوندِ دهمن
کارِ دَ بلے هوښیارئ پاتے نهٔ شو
اوس یا مرګ دے یا مکه ده یا دکن

چه م ولیدهٔ وګړی دَ دُنیا　　تر قضا پورے اَصم وی هم اَعما
دانائی عقل دَ هرچا حبطه شی
په هرچا باندِ چه رائشی قضا

څهٔ کم عقل نادانان دی　　دا سړندهٔ بے بصارته
نعمتونه په خپل کور کښے
مری له لوږے له هیبته

بهرام غرِ دَ خیرآباد په حماقت دے　　آب سیند دَ خیرآباد دے په دروغ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نړا دَخرونونهٔ ده پورے خاندی ‏ ‏ چه په خو سرو پیوند کا سوغ ناروغ
دَخبروئے فروغ نشته دَ کار ئے ‏ ‏ لکه پڼی داونبانو واړه دوغ
په خبرو کښې ئے کچ دَ رشتیا نشته ‏ ‏ هم په دا سبب اصلا نشته فروغ
په دا هسې قباحت چه دے پیدا دے ‏ ‏ دَ سړی نه به هم بل پیدا وی بوغ
دَ دهٔ سر دَ سردارئ دَ دستارنهٔ دے ‏ ‏ دَ دهٔ سر لره پیدا شوے لچوغ
بیګانه غلیم پروا. وسخهٔ نهٔ کا ‏ ‏ خو په خپلو باندِ دانګی دَ دهٔ توغ

خوځماله ځانه نهٔ وے پیدا شوے
زهٔ خوشحال ئے په جهان کړمه تور وروغ

چه ځار به مړ و نه جغدی کېږ دَ مردان دی ‏ ‏ تو یوی په سپینو وریژو زیړغوړی
مرتبه اچار شربت په خو خو رنګه ‏ ‏ و میلمه ته مهتیا کړی کړی
مرد به تل دَ میلمانهٔ خدمت په ځان کا ‏ ‏ تفقد به باندِ کا کړی کړی

څوک په زور میلمه وخوئے وته بیائی
څوک په زور میلمه له خوئے نه شړی

بدخوئی راسره یار شوه ‏ ‏ خدائے دِ امن ځنے را کا
چه تش وګورم وچاته ‏ ‏ نور ځما جزا سزا کا
کهٔ لږ ووے وبله وکړم ‏ ‏ په ما نړی شی راته شا کا
مګر بخت په میان کښې راشي ‏ ‏ چه ئے ما سره پخولا کا
هیڅ ځما په رضا نهٔ وی ‏ ‏ څو چه شی خپله رضا کا
چه مئین شوے قبلوه ئے ‏ ‏ کهٔ هر څو جور و جفا کا

دا دِ یار نهٔ دے خوشحاله
داخپل زړهٔ چارے په تا کا

خپل مزاج دے ګوښے ګوښے ‏ ‏ هر څوک کار په خپل انداز کا
چه قدرت لری دَ پرونو ‏ ‏ پرنده هومره پرواز کا
مجال نهٔ رسی دَ چتی ‏ ‏ هغه ځائے چه دورے باز کا
سپے دُرمه ببیی دَ غشی ‏ ‏ پړانګ حمله په تیر انداز کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه غشے ترسپر پریوزی ترهوسۍ که هسے پریوزی
لوے مقصود به دِ حاصل شی
په عجب خوبنۍ به کښیوزے

که څوک دا وینا وتا ته کا معلومه چه دَ نوح دَطوفان مآء راغی له کومه
ورته وایه نه دَارض نۀ دَ سما وے
هغه مآء دَ نوح دَاوښکو وے مخدومه

چه په کور کښے دِ کمان دَمار لرم وی له هیبته به دِ خوب چیرے رضا شی
دَدوزخ مار ولرم دِ به یاد نۀ دی
په قراره قراری دِ نموږ قضا شی

دَ مجنون په نظر کښیوته ارهنډه سرتر پایه سره درسته کنډه کنډه
وارهنډے ورته ډنګ په سجود پریوت په دا حال کښے دَعالم په نظر کښیوت
ورته ئے ووے چه دا څۀ کړے لیونیه مجنون ورکړ دا جواب چه اے ځلمیه
دا ارهنډه په ما ونه دَ جنت ده که سجود کړم ورته ځائے دَعبادت دے
یوه ورځ په لارے تلم له خپله کوره
لیلیٰ ناسته وه دَدے ونے ترسیوره

سودا قرض له چا غوښتل تاخت و باخت رهزنی غلا
دا تا واړه ناروا کړل ما هم پریښول ناروا
وائے زۀ دَ رزق ضامن یم
خود به وکوړو چار ستا

یو یو ځوان دَسپینے تورے حق په ځائے کا که نۀ هرګیدی ئے وتړی په ډوډی
وایه څوک برابر نۀ دی زوولی زیات که وکورے اوړنګ ئے دَمور جوړی
ځان دَخلق سره خلق کړه خوشحاله
دا زیاتی خبرے ومنډه په کوډی

ملائی په ډیر تحصیل شی شاعری ده له حکمته
ملکی خو بادشاهی ده خانی هم له سلطنته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیری لا لویه پایه ده ‏ ‏ ده له ډیره ریاضته
مفت آسان ګنړی داواړه ‏ ‏ پښتانهٔ له جهالته
هر سړے ورته ملا وی ‏ ‏ چه په یاد کا خو آیته
چه پیرو هغه شاعر دے ‏ ‏ قافیه غلطه کته
هغه سګ ورته ملک دے ‏ ‏ چه کلي وړی له محلته
خان هغه چه توکس پریوزی ‏ ‏ په زانګو کښیے وهی لته

پیر هغه چه پسے دروی
خو سرتوری په دا لته

POHA

آفریدی په خوئ پردی دی ‏ ‏ په یاری ئے نفرین
ښځهٔ تیراه ښځهٔ ئے وکړے ‏ ‏ ښځهٔ ئے ملک ښځهٔ ئے آئین
دوه درے سپے غله واخلی ‏ ‏ څوک چه ښهٔ وکا سادین
نهٔ ئے مونځ نهٔ ئے روژه شته ‏ ‏ دَ شیطان لری تلقین
خکه هسے اولجئ دی ‏ ‏ چه نهٔ رزق لری نهٔ دین
یو لعنت په آفریدی شه ‏ ‏ سل لعنت ئے په دے شین
آفریدی لا ښځهٔ په رنګ دی ‏ ‏ دیشین لا دی ترے بے دین

خدائے دِ دواړه قومه ورک کا
په دا نړ ورځے آمین

پوهه

چه زړهٔ دَ چا ژوندے دی ‏ ‏ هغه مینه کا په ښکار
له ښکاره ئے ښهٔ کار دے ‏ ‏ چه په زړهٔ نهٔ وی بیدار
کهٔ ښکار کا دَ مرغونو ‏ ‏ دَ بازونو دے پکار
دَ سپي ښکار هم دروِمه ‏ ‏ کهٔ میدان دے کهٔ کوهسار
دَ غشي ښکار ډیر ښهٔ دے ‏ ‏ کهٔ باتور دے په ګذار
کهٔ ښکار دے دَ توپک دے ‏ ‏ کهٔ پرے تهٔ وکړے تلوار
نن خوشحال په دا دوه کاره ‏ ‏ په جهان کښیے دے اوخار
دَ باز دَ توپک دواړه ‏ ‏ هم په دا دے مینه دار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویه چار دَ پښتانهٔ له لاسه نشي — مګر چار ئے آسماني ده کمه کوزه
که هر څو ئے سموم رانهٔ سمیږي — چه کارهٔ دی دَ بد بخت څو وربوزه
په فساد کښے هیڅ فائده نشته خوشحاله — دَ فساد په اور کښے سیزي وابنهٔ دروزه
هغه چار چه عاقبت لره ښهٔ نهٔ وي — دَ هوښیارو په مذهب ده لا یجوزه
یوسفزئ ننګیالي پښتانهٔ نهٔ دي — دَ بے ننګو پښتنو له مینځه وُوزه
یادَ بنو په لور دومه تموله وکړه — ترخوشابه پورے ملک کړه شنه پدوزه

یا په کُنج کښے دَ عزت کښینه طاعت کړه
یا مکے لره ځه بس دا دے رموزه

دایم راغلم په دا عمر — چه م سپین شو تور ویښتهٔ
یا خاورے دي یا کانړي — راته واړه سپین او سرهٔ
هیڅ کار نهٔ شي بے له زرو — چه پرے وپوهیدم زهٔ
کرم نهٔ دے دا وګړے — چه پرے وباسے لیمهٔ
چه سپین و سرهٔ پرے ورکا — هغه کښل کا سپینه خولهٔ
هم زر دي که ئے ګورے — چه په غرهٔ بیائی اوبه
که هر څو له تا زړهٔ بد وي — بیا په زرو غیږي زړهٔ

خدائے رسولؐ سره خپلیږي
په زر نورے چارے څهٔ

کني کبر، مزرے یاره، وزے هم، دا دوه شهوره
صحبت مکړه له ښځے که په رنګ ده ښځه حُوره
که لینده ده، که ورغومے، دا دوه شهره هم خانزغوره
چه پیدا دَ نرګس ګل شي، له سینے ئے مهٔ کړه دُوره
خولا ګل شته په ګلزار کښے نے ومے معشوقه واړه
که دِ لاس باندِ رسیږي لحظه مهٔ شه بے سروره

ستا به څهٔ یاد کړم تیراهَ — چه دَ زړهٔ وکړم پرینر
هر بیګاه به دِ باران وو — په شیبو شیبو ډیر ګنر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ورکزیو آفریدیو — په هیواد باندِ دروننږ
لوړُ نښتر لوړُ خیږیٔ — بے میوے نا بُودہ بنږ
دَ پوزیو کمے خوڼے — سپی سرِی پکښے سیجنږ
دَ رنجړو د بویہ ڈکے — پمن والے پکښے کښنږ
خسی ورغومی پکښے کوییتے — خا ورے سرے درست انگنږ
چہ پہ شک پکښے سرِی وُو — یواحمد وو بل چند نږ

چینے دَ تیراہ ښے دی
لا اوبہٗ دہٗ دَ پیتنږ

زُلفے ستا نافۂ ناب دی — لب شراب دی دَ فرنگ
کُنبلے مخ دِ نسترن دے — ستا بانڑہٗ تازہ خدنگ
پہ مخ ڈیرہ ښا ښتہ ئے — لږ دی کُنبلی ستا پہ رنگ
تل تل غم باندِ نایاب دے — خانے د خواب دے ستا پالنگ
ښا پیریٔ م کنږلے — دَ خړیٔ دِ ښہٗ ژرنگ
پہ تابنائی چہ آخلے — دَ پریو نہ قلنگ

بدن سیمہ خوبا تہٗ ئے
قلب دِ نہٗ دے، دے دَ سنگ

ختک چہ پہ آس سورشی — درستہ وتړی پہ کونہ
شملہ دَ دستار پریږدی — پہ تندی کښے اوږدہ پلنہ
سایہ دَ شملے گوری — دَ خپل آس پہ ترپونہ
جنجو تہ کا ښکنځلے — پہ کولک کاندی پوښتنہ
دعوی دَ خانیٔ واخلی — پہ فساد کاندی جستنہ
حسد بدہ بلا دہٗ — دَ سړی پہ ورکونہ

دَ هیچا خہٗ ونہٗ کا
حاسد شنہ کا خپلہ سینہ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناګاه به دِ په کور با ندِ غوغا شي ... چه فلانه ترجهان تیرشو فلا نه وخت
دَغسل دَ کفن زړمه ئې کانړئ ... وکفن لره ئې راولئ بښه رخت
په ګورکښې به دِ کښېږدی خویه رونړه ... بیا به کوره وته را ئشي یک لخت
حساب به دِ دَ مال کاندی په زړهٔ کښې ... په دا کارکښې ګرفتار وی واړه سخت
ملګیری به دِ په ګورکښې خوک و نهٔ کا ... کهٔ دِ مل خوبه عمل وی هغه وخت

خپل عمل به دِ په ګورکښې پکار کیږی
په عمل کښې کهٔ نیک بخت وې کهٔ بد بخت

دَ بادشاه دَ سره لعل په ښکارکښې پریوت ... چه شعلې ئې ځلیدې تر بله اوره
ناګهانه دَ شپانهٔ په لاس کښې کښیوت ... زرو مورلوه شپانهٔ راوړ تر کوره
یو ګډورې ئې په خونه کښې عادت وو ... ذګډوری ئې په غاړه کړهٔ اے روره
هغه لعل دَ جوهری په نظر کښیوت ... په بهانهٔ ځنې یوړ په یوه توره
لک روپئ دَ هغه لعل قدر و قیمت وو ... نا دیده عالم په توره وسکړ ګوره

داد سر په سترګو مهٔ ګوره خوشحاله
دَ باطن سترګې پیدا کړه ته ئې ګوره

سړے وباسی له کاره ... پکار نهٔ دے ډیر خربښت
ناقابل خویه لوئې مهٔ شه ... لاتر ډیر خربښت دے زبښت
تربیت دَ قابل ښهٔ دے ... په ښه مزکه ښهٔ شی کښښت
ناقابل دَ بښورے کښت دے ... تربیت ئې دے کا هښښت
چه ناکس م تربیت کړ ... ماخپل ځان ته آفت غوښت
دواړه توکه ئې بلا شوه ... هم ساتنه هم نوشت

بل علاج نشته بے صبره
اوس م صبر دے بالښت

غځ خوش رنګ زیبا ګلونه ... له دیو خاورو نه پیدا شي
بیا په خو ورځو معدوم شي
په دا خاورو کښې فنا شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبش په مکه راغے
چه مکه کاندی ویرانه
قریشو جنګ ونهٔ کړه
تاربه تارلا ہل له میانه
چه وخت دَ محمدؐ شو
عرب سلوم شول په مرانه
مدار په بنهٔ سردار دے
نورخهٔ مهٔ وایه اے خوانه
چه میر دَ لښکر مرد وی
ګرانه چارشی پرے آسانه
کهٔ صبر کهٔ همت دے
فتح یوسی له میدانه

حَمل ثَور دا دوارہ فروردین اُردی بهشت دی
پښتو به درته وایم اول ورے دویم غوئے
جَوزا سَرطان خرداد و تیر دی په حساب کښے
پښتو ئے غبرګولے او کُنی کبر حساب دے
اَسَد سَنبله دوارہ امرداد شهر یور دی
پښتو سنبله ویږے اسد وګنړه زمرے
میزَان عقرب دا دوارہ مهر آبان سره حساب کړه
پښتو تله لړم دی دا دِ یاد لری سرے
لینده ورغومے خهٔ دی لا دا واوره درته وایم
یو قوَس دویم جدَی دوارہ دلدی آذر دے
چه دلو حوت ووائی یو بهمن بل اَسفندیار کړه
پښتو له مانه واوره یو بوکه دویم ماهے

کدوم دَ چنار په ونه وخوت
وچنار ته ئے آغاز کړهٔ دا مقال
چه ته دَ څو کالونو ئے چناره
راته ووایه خپل عمر خپل احوال
چنار ووے چه دَ دوه سو کالو زهٔ یم
په حساب کښے ګوندے کم وی یو نیم کال
کدو ووے هائے خوته پمُدت لوئے شوے
دایم زهٔ درسره سم شوم دم درحال
چنار ووے چه وخت سخت دَ ځله راشی
زهٔ او ته به سره زده کړو هالهٔ حال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوښيار به پرے پوهيږی    هيڅ باور نشته په بخت
کۀ په بخت کله باور وے    تل به يوناست وو په تخت
بخت باران دے چه وريږی    چرته نرم چرته سخت
کله وُوَرَی په کانړی    کله وُوَری په درخت

بخت خوشحال سره غليم دے
چه لری دَ هُنر رخت

درست عالم تيرسو شپيتۀ بخرے حساب کړه
هغه تيرسو بخرے واړه ناکسان دی
په شپيتۀ کښے پنځوس بخرے هوښياران دی
په داهومره کښے لس بخرے غازيان دی
درست جهان په ناپوهانو سره ډک دے
ولے زيات کۀ پکښے وګورے افغان دی
هوښياران يکان يکان په هرمکان شته
چه کثرت ئے دے په ملک دَ خراسان دی
چه داخل حه جمع خرخ نۀ دی په دا کښے
هغه واړه جټ هندکی دَ هندوستان دی

کۀ فرزند غواړے له خدا په    چه لری حيا وفا
چه حيضه پاکه نۀ شی    دخول مهٔ کړه دَ نسا
کۀ له حيضه پاکه نۀ وی    بد فرزند شی ترے پيدا
کۀ دليل غواړے له مانه    لاس په لاس دے دليل دا

و بهرام وته نظر کړه
هم ئے وفا هم ئے حيا

په يوۀ باران کښت ورک کا    خلقے کا سره خوارے
رهزنان باندِ تعيين کا    مسافر وژنی په لارے
يسيران کا تندی اوړکی    چه له لوږے وهی نارے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوې ژړېږي سره بېل کا     دَ مرګوتي په چيغاړے
خدائے عادل دے ظالم نهٔ دے
نهٔ په ظلم کا دا چاړے

په ډېر رنګه فضيلت شته په جهان کښې     دا يو خو به درته ياد کړم زهٔ خوشحال
فضيلت دَ بنهٔ نسب دَ اصالت دے     فضيلت دے د بنهٔ حسن د جمال
فضيلت دَ شجاعت دَ مړنتوب دے     فضيلت دَ سخاوت دے د ډېر مال
فضيلت دَ ډېر هنر دے دَ ډېر علم     فضيلت دَ ډېر اولاد دے دَ عيال
نهٔ دا کل فضيلتونه منونه منونه
نهٔ چه بخت دَ چا څخه وي يو مثقال

لږ خوراک تنګے کلمے بويه دَ ښځے     مرد هغه چه ډېر خوراک کا ډېر خبرې
چه خاربهٔ مړونه جغدی کښېږي دَ مردان دي     تو يوي په سپينو ږيرو ډېر غوړي
دَ هغو دُنيا نابوده نهٔ ده څهٔ ده     چه پېسے په کور کښې ږدي اوګړے لړي
مرتبے دَ هر چا راغلے بېلے بېلے     سره نهٔ دي برابر واړه سړي
خوک په زور ميلمه وخونے له بيائی
خوک په زور ميلمه له خونے نه شړي

په اتم دَ سنبلے ! منتهي شي دوه خيلے
اباسين په ته کښې کښېني په تن وچے شي خولے
وړې وخيږي دَ شولو     کار ښکاره شي دَ غلے
هونړائی وغرهٔ ته جوړ شي     دَ خپل ښکار په مشغلے
زانړے ووهي غړنګے
لور په لوړ هوړے دلے

کهٔ ئے کښېنوے په باغ کښې     مرد به ونهٔ کا آرام
خو پوره په غليم نهٔ کا     هره چاره دَ انتقام
فراغت کا خبر نهٔ دي     نامردان په ننګ و نام
بهرام و ته وګوره     درست بنده دے دَ خپل کام

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَصورت په زورقوت غرنهٔ ما تیږی کهٔ خبرئ دَ کوهکن په زور قوت
چه دَ روح قوت پیدا شی قمِ شق کا
په هرلوری ئے په مخ درومی نصرت

کهٔ هرڅو باندِ باران دَ بهار وُوری گل سنبل به ترے پیدا نهٔ شی له سنګه
امتحان لره خاورے کړه وګوره
چه ګلزار له تا پیدا شی په څو رنګه

کهٔ واړه جهان په لاسو راوړے دَ قارون تر خزانو دِ ګنج بسیار شی
دا کل واړه م تردا پورے هیڅ نهٔ دی
چه دَ لاسه دِ ناحق سړے آزار شی

پلار هرګز په بد دَ ځویو راضی نهٔ دی ولے بد ځویه آخر دَ پلار بدخواه شی
چه دَ پلار په بد راضی شی هغه ځوئے
په محشر به ئے بیشکه مخ سیاه شی

نن چه په جهان باندِ لاس ستا دے دَ نیکئ تخم کره خودِ په دست شی
ستا پخوا دَدے دُنیا صاحبان نور وو
پس له تا به هم دَ نورو بندوبست شی

په کوم ګرداب کښے ګرځے ګردابونه صد هزار دی
په هسے دریاب ډوب ئے چه موجونه ئے خونخوار دی
راشه ځئے وونړه ! دا واتهٔ ځئے پکار دی
نهٔ ئے غم نهٔ ئے اندوه شته
چه وتلی په کنار دی

دَ مغلو سره ګډ په زیست روزګار کښے
کهٔ سودا ده کهٔ خوښی کهٔ نوکری ده غوریه خیل دی یا ترین دَ قندهار
په دا دورچه کوتونه پکښے ساز شول نور پښتون دے له مغلو نه ویزار
یوسف زئ تر دا دواړه دی مردار
کشمیری به هم دا هسے رنګه نهٔ وی
چه نر بنځے دَ مغلو خدمتګار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ یوے بنیښے شراب دی ‏ ‏ ‏ سره کړځي دست په دست
چه اصیل سړے ئے وڅښي ‏ ‏ ‏ نهٔ بدګوئے شي نهٔ بدمست
سل ناسازے په لاس واخلي ‏ ‏ ‏ چه بد ذات شي مئے پرست

دَ شرابو ګناه کوم دے
ګناه ستا دے هرچه هست

څو نرهٔ پایم په دُنیا کښې ‏ ‏ ‏ دا دوه خواست کوم له تا
یوم روغے لرے سترګے ‏ ‏ ‏ بل م تینګه لره ملا
بنائسته ؤ لره غوارم ‏ ‏ ‏ دواړه توکه هغه دا
کهٔ دا دواړه توکه نهٔ وی ‏ ‏ ‏ ما هم بیا یه له دُنیا
هرڅوک پلار دَ لونړومهٔ شه ‏ ‏ ‏ په ډیر غم شي مبتلا
څوچه لونړے وی په کور کښې ‏ ‏ ‏ په کور وی هومره بلا
څما په کور کښې دیرش دی ‏ ‏ ‏ کهٔ تردیرش دی ډیرے لا
کهٔ غم وهم دَ دے وو ‏ ‏ ‏ را سره صبا بیګا
پخپله خدائے وادهٔ کړے ‏ ‏ ‏ چه له سرایه شوم جدا
چه تهٔ کړے واړه بنهٔ کړے ‏ ‏ ‏ یوه خدا یه ربّنا
ترکار دِ نهٔ رسیږی ‏ ‏ ‏ عقل فکر دَ هیچا

کهٔ چار ده هم هغه ده
هرچه پسندے وی په تا

دَ نړے بنځے په کوس کښې ‏ ‏ ‏ دا جلاب جمال کوته وی
بند په بند ئے سره بیل کا ‏ ‏ ‏ غوئے رغښتهٔ ترکوته وی
په کمر دِ درد پیدا کا ‏ ‏ ‏ پکښې داهومره تروته وی

رنګ ئے مهٔ ګوره په سترګو
کهٔ دِ نګره کهٔ موته وی

مُسلمان سړے به څهٔ لره دروغ کا ‏ ‏ ‏ چه په کفر کښې دروغ دی هم ناروغ
کهٔ دِ سرځي کهٔ دِ مال ځي دروغ مکړه ‏ ‏ ‏ اعتبار دَ سړی لاړشي په دروغ

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ په هره کوځه کرځې    پکښې دروې پهر پهر
لا به هم پرې خبر نۀ شې    بې رهبره تلۀ دی زهر
کۀ ځما په نغوته دروې    لویه لار نیسه دَ بنهر
درویشان لکه ماران دی    هم مهره لری هم زهر
په آزارې راضی مۀ شه
چه اخته نۀ شې په قهر

میاشت دَ وُمړئ خور وه    چه داخل شوم په میدان
کال څهٔ وو هـ۱۰۸۵ وو    بیا تحویل دَ سرطان
هسې شان ساړهٔ وو    لکه نرم زمستان
سرے اوربشې لَو وے
غنم داړه تنکی شان

چه دَ پلار دَمرګ م تیرشو پوره قرن    دَ صفرې په میاشت ومړه ځما مور
پوره زر اتیا کلونه دَ هجرت وو    چه دَموړ په خوا م ومړ مشر کور
چه دَ مور تر مرګ م ومړهٔ وړاندِ رو ستو    یوه لور دَ شاه بانو وه پسې خور
خدائې دِ باغ دَ جنت ځائې کاندَ دواړو
چه به باغ دَ دُنیا نۀ وُوینی نور

په جهان کښې خو سړی دی    څلور قسمه دی پیدا
زده ئې زده ئې چه مۀ زده وې    دا فریق دی مقتدا
زده ئې نۀ زده چه ئې نۀ زده    خبردار کړه دَ ایذا
زده نۀ زده م موښ نۀ زده    دَ تعلیمه دی پیدا
زده نۀ زده چه زده م
تر شیطان بتر دے دا

حمزه خان دَ رستم باد دے    چه په خو رنګه پیرے کا
کله هسې خو سراپاسی    چه مشکی کوځې ډیرے کا
کله هسې راپیدا شی    چه عالم وته بنیرے کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخر یاد دے په دا څۀ شی
کۀ په ګرد ږیرے سپیرے کا

کُلمے دَ سړی خوږ شی
هم ئے نۀ پریوزی خړ
شودۀ دِ ښځنی دَ میږے
چه په نس کښے ئے شی اړ
دارو دَ تنا بویه
یا دِ دَ حنظل جړ
کۀ زر دا دِ وینۀ کا
دَ مور رنګ به ئے شی زیړ

اوچه لړغونے شی
پریکوی دَ کُلمے سر

لګړ دَ بنا رونیو په سیل ګډ شو
له هیبته ئے درست سیل شو تار په تار
تپوس له بله لوریه را پیدا شو
په یوۀ باندِ دۀ هم وکړ ګذار
خوشحال ختک حیران شو ورته پا تو
چه ئے ولیدۀ دا هسے رنګه کار
په ختک کښے یو هوښیار سړے ولاړ وو
دا خبره ورته وکړه غه هوښیار

چه هیڅ ورته حیران مۀ شه خوشحاله
تل په مات لښکر سوړے کاندی ګذار

دَ تیراه په ملک کښے نشته
دَ اَذان اَلله اکبر
دَخپل غین منت راباندِ
چه م ویښ کاندی سحر
چه بهرام ځنے پیدا شو
ماوے غین م دَ کافر

هم ډیر کافر هم نۀ دے
په تیراه کښے شۀ په چر

دَ دُنیا دَ دولت ویش دَ چا په لاس دے
چه ئے ورکا په اړاؤ ګیدی خر ته

کۀ څما په لاس وے دست دَ دولت ویش وے
ما به ورکړے یو چونګ خا ورے بے هُنر ته

په هر فن کښے چه م غواړے هغه زۀ یم
قرینه م به بیا را نشی په قرنه

په دا هومره ډیر هنره لکه زۀ یم
یو هُنر ئے فلک ورنۀ کړ هُنر نه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادیده ګواهي ملهٔ هم له حقه نه ویزار یم
حلال نهٔ دي زهٔ ئې خورمه دَ فتنوئې مینه داس یم
دا ښاوړ کاروونه کړمه خدائې دِ نهٔ کا چه بدکار یم
کهٔ په ما باندِ خهٔ واځئ
زهٔ هم تا وته تیار یم
چه وُزیری له تاته بیانئې تا ته درځي عیب
له ځانه دِ پیداشي په ګندګئ ګوښي حیات
دخل دَ ساعت په طبیعت دے دَ سړیو
چه بد زیری له نیکه له نیک ذاته نه بد ذات
کهٔ نهٔ دي کهٔ ښاوړدي کارئې چاته ښکاره نشو
سر دَ رکم دریاب دے دا آبا و امهات!
قدرت دَ هغه خدائې دے چه قادرِ برکمال دے
خاموش وُسه خوشحاله تردا دم مهٔ وهه زیات
کهٔ دِ توان رسي خوشحاله تقوی مهٔ پریږده له لاسه
اوکهٔ نهٔ په فتوی کار کړه مخ له شرعے مهٔ جارباسه
کهٔ دا دواړه توکه نهٔ وی
سکه بترئې ترکنا سه
کهٔ بادشاه له تخته پریوزی ګدائی واخلي په لاس
کهٔ دَ خدائې سره آشنا وی زړهٔ به نهٔ کا کوزو پاس
ترغنا نه فقر ښهٔ دے نهٔ ئې غم نهٔ ئې هراس
دَ ژوندون اساس په باد دے څهٔ ژوندون څهٔ ئې اساس
کهٔ ژوندون دے هم هغه دے
چه ئې نهٔ وی هیڅ وسواس
ما په عمر مدح نهٔ ده دَ چا کړے چه دَ مدح ښښتن یونهٔ وو پیدا
په غندل م پوست دَ ډیرو دے وُکښلے چه دَ هجو لائق ډیر وو هویدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ صفت مې دَ هغو کړه بزيره سپينه
چې زهٔ وُم په سپين مخ بانډِ شيدا

خدايه مهٔ وے هسے ذکر	چې ئے خلق سر هوا کا
درويشان دَ «لا» په تُوره	هميش لو د ما سوا کا

ديو دَ «لا» تُوره وکښلی
پړو دَ غيلو يا دَ غوا کا

عمر ډير وو عقل لږ وو	عمر لږ شو عقل ډير شو
يو ژوندون وو په جهان کښے	په دا شان سره تير بير شو

دَ ځوانئ ساعت خوشحاله
خوب وو وليدهٔ شو تير شو

زهٔ چه زوړيم حال مې دا دے	دَ ځوانانو به څهٔ حال وی
درسته شپه دَ غيږ له لاسه	درازی په ما محال وی
ورځ و شپه مې دا فکرونه	کهٔ وادهٔ مې کال په کال وی

تر اويا کالونو تير شوم
وا ويلا مې په جمال وی

راشه هومره جور ظلم ستم مهٔ کړه	دَ دردمنو آهِ سرد دَ خدائے بلا دے
څوک چه درد رسوی چا ته درد ور در ومی	چا ته مهٔ رسوه درد دَ خدائے بلا دے

چه انصاف عدل تميز ور څخه نهٔ وی
رنګ ئے ورک شه هغه مرد دَ خدائے بلا دے

عيسیٰؑ يو نادان هوښيار نهٔ کړ په عمر	په اعجاز ئے کهٔ ړاندهٔ بينا کوُل
څوک چه خدائے په ازل نهٔ وی بينا کړے	کار دَ چا دے دَ نادان دانا کوُل

چه نادان په سبق زده کا حال ئے څهٔ وی
په خضاب سره زاړهٔ برنا کول

مار په مثل دے دَ ښځے	دے په سوړه کښے بهتر
چه له سوړے نه بيرون شی	خلاص به نهٔ وی له خطر

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له سترګو بنځه ووځي
نور پرې وار شي د ذکر

د نوروز په دولسم! میاشت صفر کال د غفط وو [۱۰۸۹]
غله ګرانه کښت زبون وو په عالم نازل سخط وو
لوئ باران وشو په خلقو
د وګړي وار غلط وو

هیڅ ناکس به په تعلیم سره کس نهٔ شي داخبره د داناشوه راپه یاد ده
سراغزي به نورخهٔ نهٔ شي سراغزي دي کهٔ په باغ کښې ئې پیوند کړې له فرصاده
ادم دیوال به په کهګل سره پوخ نکړي کهٔ هرڅو بانډ هنر کوي اُستاده
د نادان د غلطئ عیب کوم دی غلطي خود هوښیار بده بلا ده
لا د حرف د عبارت غلطي پریږده رسوائي په زیر او زور کښې د ملا ده
چه حاذق طبیب په چار کښې تیروبیر شي
پښیماني د زړهٔ اندوه ئې په دا لا ده

ما تازه ګلونه ولیدهٔ په باغ کښې همګي په رنګ وبوئ سره زیبا
ما وې تا سې غونډ هسې ښهٔ ګلونه له دیو هسې توره خاورونه پیدا
وې ئې هرچه خپسر خاورې کا خوشحاله
مرتبه به بهه بیاموي تر دا

کهٔ همه عالم په عقل زیست روزګار کړي هیڅ بدی فتنې به نهٔ وي په دا میان کښې
حماقت جهل ګنده خویونه بد دي شور غوغا بلا پیدا کا په جهان کښې
واړه نفس دي چه په مونږ کا فسادونه
ګنړه کومه ګمراهي ده په شیطان کښې

چه سړي له وردرومي عیب عار په هیڅ رنګ د سړي نهٔ کا هغه کار
چه سړي له عیبه ځان ساتي کهٔ ښهٔ کا لا د وي د دین په کار کښې استوار
د دُنیا چارې فاني دي باقي نهٔ دي
همیشه به تل باقي وي د دین کار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې دَ خولې دَ کلمې تفاوت کوم دې  په دا دَور په هندو په مُسلمان کښې
سل دانې تسبیح په لاس زر گناهونه  دَ هغو به څهٔ بنا دی وی په ایمان کښې

په توبه په استغفار په پینځه وخته
ورځ او شپه دَ معصیت فکر په ځان کښې

په بائن کښې زیست روزگار شی  اوس خو پاتې یو طلاق دې
کجی بنه ده په لاس پوهٔ شوم  نور ځما له تا فراق دې

وهغهٔ ته ورکړه کونه
چه دې تل دَ تا مشتاق دې

نن دا پند په خاطر راغې زهٔ ئې  واٸم  څوک کهٔ پند ځما منی کهٔ نهٔ منی
دَ کم ذات په آشنائی کښې سود نشته  په دُرمې کښې کله خوندوی دَ گنی
دَ ټوپک گوله په خوله خوړې بنه ده  نهٔ چه وخوري څوک نمړئ دَ دَنی

بیوفا سړې بتر تر کوته سپی دې
چه ژغرئ کا دروغ دَ لیونی

دَ آسمان په کجروئ  چار په ما وه ونشینه
غر فرهاد په تیشه غوځ کړه  خسرو بیا مونده شیرینه

یو لاشهٔ خوری دَ مچئ
بل خوا پهٔ له انگبینه

یو دولت ته رسیدل دی  بل دولت ترسرؤل دی
دَ نادان سره گډ ود شی  دوارهٔ توکه دَ عاقل دی

بخت خو آس وسپړی ورکا
گران دَ آس تیزل ساتل دی

په ذره کښې روغ رنځور ئې  په لحظه کښې بناد غمژن
بڅن ستا په کبر خیال شهٔ  په داهومره بادی من

درست غفلت خود ستائی
لاف وشاف دَ دروغژن

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهرام بنځه دے بدرنګه     رنګارنګ زیور پرے پورے
کهٔ زیور ورځنے واخلے     نور به نهٔ پیږے په تورے
کهٔ احمق په دولت بنهٔ شی
کهٔ ترے لاړ شی خود به ګورے

خوګ چه سپینه زیره رنګ کا     بیا ځوانی غواړی په زوره
په مثال کښے غلګے سپے دے     په ګټوه وربوز توره
کهٔ قوت دَ مرد په ځائے وی
سپینه زیره څهٔ پیغوره

دَ دے دور شیخان ډیر دی لور په لور     اورنګ زیب بادشاه دَ واړو دے انځور
په هغه چارهٔ قلم ساز کا قرآن کښے     په هغه چارهٔ شمرګ پریکا دَ رور
په رکوع کښے تسبیحات دَ پلار دَ مرګ کا
په سجود کښے نوری خیله مشره خور

خدایه واخلے هسے ذکر     آلوده په ډیر غفلت
خدائے دَ ځان دپاره بولی     په عالم کاندی منت
په الله الله وئیلو
تاخت تاراج کا درست محلت

کلیله دمنه چه لولی     دانایان ګڼری خپل ځان
کهٔ په دا کښے څهٔ فائده وے     بند به نهٔ وو شاه جهان
چه آسمان فتنے برپا کا
هورته څهٔ کا دانایان

منجم کهٔ درته نحسه آدینه کا     یا طبیب وتا ته بدے کا شکرے
په جمعه به وما نځهٔ ته ونهٔ ووزے     له شکرو به هم ګرځے لرے لرے
په قرآن کښے چه شراب دی منع شوی
ته ئے ولے لګه پټی دَ مور نغرے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مغل په طباخ ډیر یوسف مندړ دی
لکه وښی مچ ډیرېږی درنګ تر دړنګ
کهٔ کعبه کهٔ ئے قبله ده خو تهٔکه ده
په پیسه پسے به درومی تر فرسنګ
کهٔ پیسه دَ ملنګئ په لباس مومی
مصلے به دَ ګیدړ کا پسے لسنګ
چه بنهٔ وخوری بیا بنهٔ کښینی
بنهٔ خوب وکړی په پالنګ
کهٔ په اصل نامرد نهٔ وی
تل به لوند لری خپل لنګ
کهٔ دِ دا صحت نصیب شی
دَ طبیب مهٔ ګوره رنګ
کافری لکه بیزو دے
دا متل دے دیرینه
چه جفتی شی له ناجنسه
ضائع کیږی قرینه
چه اولاد له بیزو وشی
نیم آدم نیم بوزینه
چه نظر م دُ دنیا په روزګار وکړ
بل خصلت م بنهٔ ونهٔ لیدٔ ترجُوده
ورپسے م بنهٔ وئیل دَ عقل خوبښ شؤ
دا هغه دوا ړه بے ځایه دی بے سُوده
جود هغه وی چه اسراف ورسره نهٔ وی
بنهٔ وئیل هغه چه نهٔ وی بے مقصودهٔ
چه اوبهٔ په ځائے حصار شی نور خسا شی
صفائی ئے هم په دادهٔ چه بهیږی
کانړی زر کهٔ سره وګوری یکرنګ دی
فرق ئے دا دے چه په زړه د زړهٔ رغیږی
هغه زر تر کانړی لوټے لا بتر دی
چه ئے وُ منهٔ ی په مزکه نهٔ خرخیږی
آل اولاد چه دَ آدم دے
بنهٔ ئے خوئ دے بنهٔ ئے روئ
هندکے آل اولاد دَ کوم دے
چه نهٔ روئ لری نهٔ خوئ
خود طمع یا دَ ډار دی
ذ وفائے نشته بوئ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دے دور سړوش دا دے
چه په مرهٔ پسے تاپ نشی
نهٔ خویښی شته نهٔ خپلوی شته
په خپل سود دَ هرچا زړهٔ شی
نهٔ حیا شته نهٔ وفا شته
تاپ په چا پسے په څهٔ شی
کهٔ اوبهٔ سرے په تنده په خوارهٔ ښبی
دَ باړے اوبهٔ خونړ نا حقه وڅښبی
پسته ونے پلوسین بار ه ماتړے
دَ تیراه دپاره غا ښی ما ښی وُمبنی
یوجوزا دویم خرچنګ مزرے بل وږے
یکښے هو مره مدت تیرکړی نور تړے تنبتی
خدائے کم ذات سړے دَعلم ښبتن مکړهٔ
دَ کم ذات دَ علم چا رهیسے لیدهٔ شی
چه کم ذات ته خوک ښنئینه کا دَعلم
په خمتا باندِ دَ زرو کشیده شی
مشکے چه لږ سورے شی
وار په وار کا اوبهٔ تویٔ
په کور کښے فتنه لږه
را پیدا کا فتنے لوئ
چه بل خراغ سړے په ساهه سره وژنی
دَ کدائے دَ کچکول توک خوری لږ بسیار
یواودس په چا رچوبنٔ کښے څوک چه کاندی
درے خلور کاسونه شعردی په شمار
نمر را وخیژی صبا بیګاه پریوزی
چا لوئ خوبی ترسره نهٔ ده وړی
چه کمال لری زوال ورلره تل دی
اوبۀ مکه کله پوره کله نیمګړی
یا یاری له هیچا مهٔ کړه
یا چه یار شے دَ چا ته ئۀ
ښهٔ خو ښهٔ دی کهٔ یار بد کا
هم ئے ونیسه په ښهٔ
کهٔ په مال دَ مالدار زړهٔ نهٔ ئے تړلے
په داځهٔ کهٔ کوته کوته سره پریوزی
تربیړئ لاندِ نهٔ دی اوبهٔ بدے
بدی داکهٔ دَ بیړئ په مینځ کښے کښیوزی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ ملحد سړے مالدار شی مال به خرڅ کا په فساد
مُسلمان څخه مال بنهٔ دے
چه ئے مال شی دَ دین زاد
کهٔ عزیز دے کهٔ ذلیل دے په خپل خوئ کښے دے مدار
په خپل خوئ دَ باز قیمت دے په خپل خوئ دے تپوس خوار
یو په لاس دَ بادشاه ناست دے
دویم گرځی خوار بے کار
کهٔ دَ سر م دستار نشته کهٔ دَ آس م نشته زین
هومره مال هومره م خُویه
دا په چا با ندِ نفرین
برائی په ما آواز وشوله غیبه چه ډیر مهٔ شه په فکرونو ممتحن
چه دَ دوست سره دِ دوست دے هغه دوست دے
چه دَ دوست سره دشمن هغه دشمن
سړی پیری کهٔ کل توری نیزے شی کهٔ همه واړه جهان شی دیو و دَد
چه تا نهٔ وی دَ چا سره بد کړی
له تا به هم څوک نهٔ وکاندی بد
رسم دَ دوستئ شرط دَ یارئ نهٔ دے دا چه تهٔ م عیب را ته هُنر کړے
شرط دَ یارئ دا دے کهٔ څهٔ عیب م وینے
تهٔ به راته ووائے په غړ عیب م خبر کړے
رښتیا کړه له هیچا نه مهٔ ویریږه م بښتیا سړے له هرے بلا خلاص کا
شب گرد دے چه ئے ډار شی له عسسه
خونیان دی چه به ویره دَ قصاص کا
اے چه دَ سرو بخملو په نهالیو پروت ئے دَ بنو زربفتو په بالښتو نه
پاسه له خوبه ویښ شه سر په سجدٔ کړه
کهٔ دا راحت غوارے په بهشتو نه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ بنهٔ دی خو هغه مرغونه بنهٔ دی
چه نڼئ رنګ شته نهٔ آواز شته نهٔ مړانه
په بلا کهٔ ګرفتار دی خو هم هغه دی
چه هُنرئ پاخیدهٔ له خپله ځانه
چه زور لری دَ لیچو
زور دِ نهٔ کا په ناتوانو
او کهٔ نهٔ تو هر چالوئ دے
سیال نهٔ دے دَ ضعیفانو
میلمانهٔ وته یا شا کړه
یائ بنهٔ وکړه خدمت
یا په تُورو ورتلهٔ مهٔ کړه
یا ښکاره کړه شجاعت
سر دِ خوړ شی له کمینه
مهٔ کمین دے مهٔ ئے مینه
دَ دمړئ وړکول کا
دَ مهرانو منت بِ دینه
مګر سګ وی سړے نهٔ وی
چه به دا منت خوک وړینه
دَ مردانو روش نهٔ دے
چه خیل ورکړه یا دوینه
چه صبا صبا او بهٔ ښبی دَ انارو
زهٔ حیران یم چه هغه سړے به څهٔ مری
کهٔ له مرګه چاره نشته وبه مرینه
با ور وکړه په زحمت خو به ونهٔ مری
ژبه بند کړه له ګفتاره
لاس خوندی کړه له آزاره
نور غم نشته نهٔ اندوه شته
فراغت ګرځه بے ډاره
چه تور مُشک راپاتے نهٔ شول
سپین ګوهر نهٔ شول راپاتے
نور به هیڅ نهٔ شی راپاتے
قصئ نشته کښے زیاتے
هسے خوئ مکړه خوشحاله
چه خپل هم له تا ویزار شی
ولے هسے سلوک نهٔ کړے
چه پردی دِ خدمتګار شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دا ژبه ده چه غم ده     هم دا ژبه ده ښادی
که څوک خپله ژبه ښه کا
نور ئے هیڅ نشته بدی
چه څهٔ غم شدت وارسی     همګی شامت څما دے
چه څهٔ عیش فرحت موم     واړه فضل وکرم ستا دے
په خپل زړهٔ کهٔ سازیدے دَ هر چا کار
هیڅ حاجت نهٔ وو په مینځ دَ کردګار
په زمان په سړی هسے چارشی     پیښه
چه دُ چا په فکر نهٔ وی     هغه چار
کهٔ کیدلے په خپل زړهٔ دَهرچا کار     سکه حاجت نهٔ وو په مینځ دَ کردګار
چه رضا دَ کردګار وی هغه کیږی
دَ سړی فکر تدبیر ګنړه بے کار
هیڅ زار دِ څخے نهٔ کا     چه له غیره څوک آزار شی
دا هم دَ مینے کار دے     چه له یاره نه ډیر زار شی
واړه سپی خوړونی بد دی     چه دِ وُخوری څهٔ بدکار شی
چه خپل سپی دِ سپینه پړے کا
هغه لا یو کوڼه کوپار شی
چه په هو په نهٔ پوهیږی     پوره مرد ګنړه هغه
هو دِ هو وی نه دِ نه وی
یاره نهٔ وی هو دِ نه
خواست په هیڅ توکی ښهٔ نهٔ دے     چه ئے څوئ کاندی له پلاره
چه په خواست سره څهٔ موے
تر دا بخره نشته خواره
تهٔ په کوم توکی دماغ کړے     خپسر وکوره چه څهٔ ئے
چه ئے حیض و بول بوسلے     هغه وینه زوه تهٔ ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه هاتیان ساقي پیدا کا لو یه خونه
چه هاتیان پرې ننوزي هسې ور
ګیدړ هر چېر ته خپل وخت ساعت بدل کا
لوئې ځنګل بو یه مزري لره یا غر
لوئې نهنګ لره عمان و قلزم بو یه
په بیله کښې ئې تمام شي او به خور
هر مهتر چه حاجت مند شي دَ کهتر
کۀ باور کړې دغه مرګ دې دَ مهتر

کۀ حاجت ئې پوره نۀ شي ورته شا کا
دغه کار ګنړه تر مرګه لا بتر

دَ احمق سرې زړۀ نۀ دې په ګوګل کښې
زړۀ ئې ځائې لري په ژبه کښې تر تلو
چه ئې خۀ په زړۀ کښې وشي یا خۀ واوړي
خپل پردي وته نور سر شي په وئیلو
با دامې دي را الوزي
په هر لوري دَ بد یو
چه په خپلو زړۀ بنۀ نۀ شو
بنۀ به نۀ شي په پردیو
خپل پردي واړه وهلي
کۀ یاران وي دَ غدیو
اصیلتوب په نور خۀ نۀ دې
اصیلتوب دې په خویونه
په مړیو نو کښې اصیل شته
په اصیلو کښې مړیو نه
دَ فرعون دَ جادو ماران باطل وو
دَ موسیٰ دَ معجزې دَ مار دَ وړاندِ
عاقبت به فضیحت او شرمنده شي
دروغژن چه له رښتینو حجت کاندي
له هیڅ نه طمع مۀ کړه کۀ هوښیار ئې
چه طامع سړې تر هر چا پوړې خوار دې
طمع دړې حرفه لري واړه بې تکیه
هر یو حرف ئې غورځندي ورته تیار دې
دَ بخیل سړي کار بد دې په دوه رنګه
کۀ په زړۀ کښې فکر وکا نړئ یارانو
په هغه جهان حساب دَ توانګرانو
او په دا جهان معاش دَ نادارانو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاقلان به په وئیل کښې — زړۀ رهبر لري د ژبې
اول فکر د زړۀ وکا — بیا قصې کا عجائبې

د هوښیارو ژبه پټه وي په زړۀ کښې — راز به نۀ وائي اشنا و نا اشنا ته
لږ او ډېر وئیل به نۀ کاندي بې ځایه
هیڅ باطل وئیل به نۀ وائي وچا ته
د هندکي په زړۀ کښې مکړو حرکت — لکه پیاز پکښې د پیاز ګنده نکهت
لکه خوند د هر یړې په هر یړه کښې — هسې کاردې د افغان د جهالت
که هر څو پکښې د نیکو بوئ پیدا شي
له مغلو نه به لاړه نشي ظلمت
چه لښکرې یکانه نۀ وي په جنګ کښې — هغه کس به و دښمن ته وي مقهور
چه لښکرې یکانه وي غم دِ نۀ کا
په غلیم باندِ به دې وي تل منصور
ونا پوهه ته داد ډېر ورکړه په غم کښې — عاقلان په خپله پوهه مردانه وي
وهلک چه د لاسه ورکړې قرار شي
بیائې بل زمان ژړا په بهانه وي
غم ئې هیڅ مۀ کړه خوشحاله — که هر څو په ګناه ډک ئې
آدم ئې نفس درپورې
نه چه پاک پیدا ملک ئې
چه د چا سره فلک په کمی پاسي — واړه چارې په لاس واخلي بې تدبیره
د ترږئ چه د خوارئ ساعت راشي
د هلکو په پړکه ښئیني په خیره
ګهړیالي د شپې له حاله خبر نۀ دي — چه ګهړیال وهي بې وخته بې هنګامه
د خوشحال د سترګو کړۀ د شپې پوښتنه
چه بې خوبه پړې تیر پړې شپه تمامه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ شیخان کۀ زاهدان دی
تورے خاورے ئے په سر
کۀ قدم کښیږدی بے شرعے
په خلاف دَ پیغمبرؐ!

هر نعمت دَ خدائے له لوریه
په سریو عنایت دے
تندرستان دِ شکر کاندی
تندرستی یو لوئے نعمت دے

کۀ شیخان کۀ عالمان دی
واړه ښۀ راته ښکاره دی
په هر څۀ کښے عشق بازی کا
عاشقان ګریوان پاره دی

دوه ښادئ دَ جهان دی
چه دا دوه ښادئ نۀ وی
یا ښۀ ځویه یا یاران
څۀ نر ښځه څۀ آسمان

هغه یار چه بے وفا وی رنګ ئے ورک شه
سپے چه ځان سره آشنا کړے له تا نۀ ځی
تریاک نه ئے ښه ده نۀ یاری
بے وفا په لړ ما نړه کا ویزاری

کۀ هر څو چه مړنے وی
دَ ښځو سره ناست وی
چه وسله نۀ لری مرد
ننداره کا دَ نبرد

عاقلان چه دَ دُنیا خصلت وُوینی
دا دُنیا لکه زندان ورته ښکاریږی
دَ دُنیا دولت و دوئ ته لکه بادشی
په واتۀ له دے زندانه په زړۀ ښادشی

دَ بهرام په لښکر مۀ ځه
خو چه څۀ خو توربریښ وُشی
په ورتللو کښے درنګ نۀ کا
نور دَ تیښتے نه ننګ نۀ کا
مګر هورته ئے برے وی!
چه څوک هیچرے جنګ نۀ کا


A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې غلهٔ راکړ شول په دا دَور آخرين کښې!
چه فيل له اَنبالئ پټوی په خپل آستين کښې
زر دانې تسبيح لری شملې د روستو پريږدی
لوې کتاب په لاس کښې بل سيال نهٔ گڼری په دين کښې

دَ پردې په پريکوٚ نه دَ پردې شی پټيد نه
يا څما تبرېځ نهٔ وو يا خوسخته نهٔ وه وُنه
هسې رنگ په وُنه لاړشو چه نهٔ وه کشريد نه
دا چيستان عجب چيستان دې
که نې حل کړې عقل منه

په جهان کښې گرځيدلم په طلب دَ يوهٔ سيار
بنهٔ چه رنځ م ضائع نشو په لاس راغې بنهٔ نگار

دَمزری غوندِ ځان ژغوره مهٔ سرږه شه سرغنده
مزرې ځان په وقار ژغوری سرږه تيښت ته پرنده

ملک په مثل لکه غوا دې چه تندان وربانږ جنگ کا
هريو تنډ چه زوَرور شی تنډ غيمه هغه ترخنگ کا

تر ديوال د ننه ښې وی چه په کور کښې لکه خم شی
چه بيرونتر ديوال شی بنځه نور زن دَ مردم شی
اول ښې له پسه بدې
خو دِ رنگ دَ واړو کم شی
دا حديث دَ پيغمبر دې لکه کر هسې درَوه شی
څوک چه بد نهٔ دې پخپله
هيڅ بدی به پرې ونهٔ شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ په ملک چیرې پیدا شي هنرور — دَ هغۀ په کمی سرشي بې هنر
کۀ دَ تخت د پاسه کښیني بادشاهي کا
آخر بیا دَ بې هُنر خاورې په سر

دَ خوشحال دیوان دوکان دَ جوهري دے — پکښې واړه لعل وُدُر یا قُوت الماس دی
دَ جوهرو قدر چا زده جوهري زده
نۀ هغه چه مرغیچے ئې په لاس دی

اورخو هومره چه دَ چا پرې زیست روزگار شي — چه په هر لورے لمبے شي خیر کوم دے
دَ خانانو خو به رونړه واړه اور دی — خو دَ اور لمبې ډیرېږي کار معلوم دے

چه غمېږي له بلا نه — له بلا نه امن موم
هغه سړے داړۀ شي
چه په پړانګ باندِ ورد رومي

دَ سړي چه قضا نۀ وي — دَ غلیم په زهرو نۀ مري
چه قضا دَ سړي راشي
دَ طبیب په دارو وُمري

دَ څوا نمردئ روش درو بنیم — کۀ تۀ څوا نمردئ پرې به عمل کړے
چه دِ په کف دی هغه په کف دی
چه یوسر بل سر شو څۀ پسے زغل کړے

دَ غفا په بوکه پریوتے په غرو نو — تر کابله ترا ټکه سپینې واورے
شکر زر به درست جهان سره ګلزار شي
دَ بدکال په سر خو بیا شوے تورے خاورے
خو ژوندے په جهان ګرځئ — خوري خوړل کا دَ چیړو
دَ مزري دستور دا نۀ دے
چه جوته خوري دَ کیدړ و

کۀ دُعا دَ کۀ توبه دۀ کۀ دارو — وخوشحال خټک ته خدائے ورکړه شفا
په دوۀ کاله دَ اسهال په رنځ اخته وو — ترې خلاصے په ذوالحجه وو دَ غفا
١٠٩١

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جهان کښې دي دوه توکه ښهٔ آواز دویم ښهٔ مخ
چه لري دا دواړه توکه
دَ هغو کسانو سخ
کهٔ ته هر څو کینه کښ ئې دَ غلیم وهے ورمیږ
وګروش وته ئې پریږده سره ګوره لیوهٔ میږ
لکه زلفې دَ دلبرې پیچ در پیچ دي په صفت ئې زهٔ هم هسې پیچ در پیچ یم
نهٔ پخوا دَ پښتو شعر وونه اوس شته
په دا کار کښې خو بوره لعنت په هیچ یم
کهٔ یار غواړې خوشحاله چه درست سر تر پایه ښهٔ وي
ورځه بے یاره ګرځه سکه دا هسے یار به نهٔ وي
په وریځے م کار نشته کهٔ آسمان وریځ وریځ شي
له باران سره م کار دے
کهٔ په شپه شي کهٔ په ورځ شي
دَ صحرا ښهٔ دي دوه توکه یو ژوره دویم لوړه
په لوړه ننداره کړه
په ژوره کښې ئې رغړه
په سپین مخ باندِ تور خال آرائش دے دَ جمال
په تور مخ باندِ چه خال وي هغه نهٔ لري هیڅ حال
دَ ښهٔ مخ ترسیري خهٔ وي
لکه تندر دَ هلال
چه په حکم دَ حکیم کاندي انکار تر هغهٔ نه به بل نهٔ وي ناپکار
دَ نادان دَ هوښیار فرق وي په دوه رنګه چه نادان به محتاج نهٔ وي دَ هوښیار
دَ هوښیار څخه کهٔ ډیره هوښیاري وي
بیا به دے دَ نصیحت وي طلبګار

... ... ...

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خساجوته مردار هډو نه سپې ګیدړ شرخ ګفتار خوري
دَ مزریو هُنر دا دے
چه یا صبر یا خپل ښکار خوري
چه نے واخلے ورته ګښیښي درته ګوري ورته ګورے
دا لذت په جنت نشته
چه هم شوري هم پرے شورے
اوس دوه ځیزه له تاغواړي یو ساتنه دویم سور
چه دا دواړه توکه نهٔ وي
نهٔ په غرهٔ ښهٔ نهٔ په کور
خُوانه ښځه لکه باد دَ نوبهار ده دَ بهار په باد دننه زړهٔ خوښیږي
زړه ښځه په مثال دَ منی وخت ده
چه علت او رنځوري ترے حاصلیږي
رنځوران مري په درے رنګه ځنے مري بے طبیبه
ځوک ناقص طبیبان وژني
دَ چا مرګ وي له نصیبه
نهٔ دَ پینډے برکت شته دَهندکیو نهٔ دَ تورے برکت دَ ایرانیو
دواړه توکه مسلم دي کهٔ نے ګورے
په دا ملک ګښې په افغان په تورانیو
خدائے دِ ستر ګے دَ بدخواه سرې زندے کا ستا ګلونه به اغزي ورځ ګندیږي
کهٔ په باغ ګښے دِ یو ګل وی زرخارونه
دَ نیکخواه به دِ په ګل ستر ګے لګیږي
چه لباس کا چه تقلید کا چه تیتال را ښکاره شو وار په وار دَ هرچا حال
کهٔ شیخان کهٔ عالمان کهٔ زاهدان دي
له هیچا نه زړهٔ روغ نهٔ دے دَ خوشحال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا بڼې دَ هُنر کړه        چه تر هرڅهٔ ښهٔ هُنر
څو وائې له زړهٔ و
کانړې مهٔ وهه په سر
هغه یو څهٔ مرتوب کا        دغه دوه دی دَ دهٔ ملے
یو حیوان دے په تورتم کښې        باندِ تل وهی حملے

چه ئې وُوینې په سترګو        دَ خوړونی حرص زیات شی
چه وُوته له خوږنے        تو دَ ښځې اودس مات شی

ښځه چه زړه شوه        ور په لاس کړه نور څځه
وایه چه دا تهٔ ئې        دا نغرے دے دا اوګره

صغیره کبیره هر ګناه چه وُشی        هر ګناه له ړه راځی پکار توبه
هم توبه له بدو وکړم هم ګناه کړم
له دے هسے شان توبه هزار توبه
یو حریص بل دروغژن دے        هم احمق هم ترسمنده
دا خلور کسه سړی دی        دَ یارئ په کار ګنده
کهٔ یاری ورسره وکړے
زر به تا کا شرمنده
دَ دے زمانے څویه        چه بے بدو نور څهٔ نهٔ کا
کهٔ ئې وګورے له پلاره        دَ مور غو ګټې کهٔ څهٔ کا

یو باز چه ښهٔ الوزی        نهٔ ګنده بازونه لس
یو باز چه ښهٔ الوزی
هم هغه دَ لره بس

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قلم یې رضانهٔ ده چه خبرېږی ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ دَ رازمنو به رازونه روبرو شی
په زړهٔ هومره پرتې نهٔ دی چهٔ شمارشته
اوس ئې بیا ورته سپړنه موبه مو شی

چه اصیل سړے کم ذاته بنځه کاندی ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ په مثال سره کډېږی غوړی تیل
بل دلیل به ترداپه درلره راوړم
دَ سرو زرو سره ویلے کړه سرویل

هیڅ باور پرے نشته ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ترین واړه منافق دی
دَ ښځو سپینو تورو
واړه توراو سپین لایق دی

چه پرے رائشی حیران شی ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ داروګر دارو دَ چا کا
دَ دے کلی رسم دا دے
روغ رنځور واړه زګیروا کا

چه ئې تولهٔ کا په کور کښې ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ پریشانی به ئې هغه وی
عاقلانو نهٔ کړهٔ جمع
پریشانی به ئې په خهٔ وی

بنګ شراب دربانډ څکه ناروا شول ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ چه په بدو چارو نهٔ شے مبتلا
نهٔ بنګ خورے نهٔ شراب څښے بے مستئ
آلوده ئې په هزار آلا بلا

دویم دَ محرم ورځ دَ شنبه کال دَ غفج (۱۰۸۳) ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ نهٔ غشی وو نهٔ تورے چه مغلو کړه بج
شنوارو آفریدیو دَ ډکے خوارو مهمندو
روپئ په خرواریو یوړے مهران واړه په چج

آفریدیو، شنواریو زړهٔ په اُلجه بنهٔ کړ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ‌ ایمل خان مهمند په ننګ په اُلجه دواړه
دَ خوشحال ختک په بخره خویونګ دے
ترنظر پورے ئې هیڅ ده دُنیا واړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماله عقل له تمیزه بنهٔ بد بیاموندل دوه څیزه
بنهٔ تر و رکړو نور څهٔ نشته بد تر غوښتو اے عزیزه

واړه سرچپتان دی کهٔ واړهٔ دی کهٔ غتمان دی
شرم ننګ ئے نشته دَ لوړ دی دَ وندرے

کوم دے چه اقرار دے چه څما شنوبے تروٓ دی
څوک به هسے وائی چه وئیل م خا ورے سرے

څان په څان و یزار دی یا لیوان دی یا کفتار دی
لویه چارئے نهٔ زده دَ اړخی دی دَ شورے

POHA

لنړ ورمیږ اُوږد ئے پنړئ لویه څوړنده لکئ
نور به څهٔ کوړم و تاته دَ بازونو لانکی تهٔ ئے

چه ئے سر تر پایه درست په غم کښے لیو کړم
راته وائی اوس خوشحال وُسه څهٔ غم کړے

دَ هجران ورځ چه کښے په شمار دَ عمر
دَ قضا کاتبه عدل کهٔ ستم کړے

پوهه

ابدال په داخلورخویه ابدال دی کم وئیل کاکم دَ چا سره کنړون
کم ناستے کا په خوراک کاکمه مینه
په داشان ئے په عالم کښے وی ژوندون

هرڅوک هسے وائی چه کهٔ بنهٔ وی څما کار
کار دَ هغهٔ بنهٔ شی چه خپل بخت ورسره یار

نیت دَ هرچا سره بنهٔ لره خوشحاله دَ خپل نیت نتیجه رسی و هرچاته
شمشیرخان ترین چه تا سره بدی کړه
خپل نیت وجوړیدهٔ دهٔ ته ستا و ماته


A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلاوت دے دَجهان په ښو سړیو　　حلاوت دَ جهان واخلی بد سړی
ښهٔ کچړی لره غوړی پاکیزه بویه
دَ کچړی لذت ګنده کا بد غوړی
دَ بدانو سره کم کښېنه که ښهٔ کړے　　دَ بدانو صحبت پاک سړے پلید کا
راشه نمر وته نظر وکړه چه نمر م
په څو یو ذره ئے ابر ناپدید کا
میږی لا په بلا یادی　　چه وربورے شی وزر
هنج خو هنج دَ مشک به نشی　　که څوک سل وائی که زر
خو به نهٔ رسی ترا سه
که هر څو دروی نرزند
شیطانان لکه مچان دی　　چه ناستے په چرکین ځائے کا
په پاکانو ئے کار نشته
حفظ ئے تل کرم دَ خدائے کا
کهٔ بدخوئ له مزکے لاړشی وآسمان ته　　په آسمان ئے دَ فرښتو سره روزګار کا
نهٔ به خندا نهٔ به لارغهٔ وی چه بدخوئ ئے
هورے هم په سل غمونو ګرفتار کا
کهٔ دَ نظم کهٔ دَ نثر کهٔ دَ خط دے　　په پښتو ژبه م حق دے بے حسابه
نه پخوا پکښے کتاب وو نهٔ ئے خط وو
دا دی ما پکښے تصنیف کړل څو کتابه
کهٔ هر څو دَ صفت دے　　کهٔ مخ ښهٔ لری ګلشن
دَ مور تر کُس دِ تیر شی　　یار چه نهٔ وی مهر ژن
کهٔ تهٔ په ګور دَ مهرو یورا شے　　بلچئ ئے واخلے دَ لحدونو
نور خهٔ به نهٔ مومے دَ دوئ په ګور کښے
بے تورو خاورو سپینو هډونو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپی چه ورته وی ډیر بد وی     شو کوی وانړه مردا ره

څو چه مور وی هومره ښه وی
بله نهٔ کا بد ه غاړه

دَ مجلس ښائست په څهٔ دے     په نغمه او په شراب

له شرابو م توبه ده
زهٔ ماهی یم نغمه آب

چیرته نهٔ وی چه دلګیر شے وارخطا کړے     کهٔ په تا باندِ محنت دَ سفر ډیر شی

کهٔ سفر دَ ډیرو کالو وی غم مهٔ کړه
دَ سفر عمر کوتاه دے زر به تیر شی

چه وبرېښی سپینکئ     دَ لنډ پریو شور هار شی

پو یو مرد بویه خوشحاله
چه په ځائے باندِ قرار شی

چه ژغ شی فلانه ومړ     خلق ژاړی زهٔ خندا کړم

ډیر غم م دَ ځان وکړ
څهٔ به اوس اندوه دَ چا کړم

هغه کار چه غره توب وی     ته ئے دوست پریږده له لاسه

په خپل ځان غلطی مهٔ کړه
نور به هم وی ستا دیاسه

خپل کار وسپاره وخدائے ته     نور خوشحال کښینه خوشحال

دَ هغو چه وکیل خدائے شو
لا یړل خلاص شول له جنجاله

دوه کاره دی په سوات کښے کهٔ خفی دی کهٔ جلی
مخزن دَ درویزه دے یا دفتر دَ شیخ ملی

دا دوه نشته په سوات کښے خوک چه وائی یا علی
اَلصَّالِحُوْنَ لِلّٰهِ وَالطَّالِحُوْنَ لِی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه وهرسړی ته ډکورے نظر کړے — چه تر واړو پښتنوئے دی ډیر کلی
درے خلور تکبیره و وایه ترے تیر شه
دَ مرده ؤ هدیرے دی دَ سوات کلی

کله مار وکه حمله په سمساره — ترے پیدا شی مار بخری په انگاره
ولے نهٔ ئے مار مهره وی نهٔ ئے زهر — نهٔ ئے توان دَ نمرود باد نهٔ دَ واوره
چه دَ پلار نشان ئے نهٔ دی څوئے دَ څهٔ وی — لکه مار په سمساره جوهر سپاره
عشقه تهٔ ئے که څهٔ نور عیب وعلت دے — چه په مرد کړے رنړا ورځ توره تیاره
لکه مار په زور په هر څهٔ باندِ سورشی
دَ خوشحال غوندِ هم شته څنے سواره

POHA

## مُسَدَّس

مکره روخ دِ نهٔ دے دَ غمزے په تیغ خونونه — خون دَ عاشقا نو خون بها لری لکونه
تهٔ چه را ښکاره شے په وربل ایښی گلونه — نرنا حقه لاڼے دَ بنا نُست کا نورِ جونه
تهٔ چه په کلرنگو جامو درسته شے گلگونه
سرے لمبے کړے یلے دَ حیران عاشق په خونه
خولهٔ دِ غنچه گل ده تیار یږی شگفتن ته — توربا نړهٔ نیزے لرے دَ زړونو وسفتن ته
مهٔ پریږده زلفینے په عذار وآشفتن ته — ورځ دَ عاشقانو نزدے کیږی وخفتن ته
تهٔ چه پلو واخلے دَ جمال ونهفتن ته
ولے هسے کار کړے چه بے اوره سیزے زړهٔ نه
ستر گے دِ دَ بازدی وخپل ښکار و ته نیولی — شونډے دِ مهرے دی وبیمار و ته نیولی
زلفے دِ زندئ گرفتار و ته نیولی — زند دِ منزه ده وخپل یار و ته نیولی
سپینے لیچے تورے وگذار و ته نیولی
سرهٔ دِ دَ عاشق په وینو لاس ترمروندهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ ګناه مِ نشته ویره وکړه له آزاره — واچوه له مخه بیا پلو دَ خدائے دپاره
برنده راته کښینه چه دِ ښه کړمه ننداره — تهٔ چه هسے نهٔ نے چه جفا کوے له یاره
واړه غمازان دی چه بلائے کړه دوچاره
مهٔ لیدے په سترګو دَ غمازو تور مخو نه

وروځے دِ محراب دی دَ عاشق ورته سجود دے — مخ دِ سپین کاغذ دے دَ خط کښلے پرے درود دے
خال دِ چه دَ وروځو په پیوند باندِ نمود دے — واړه دَ آهونو په لوګیو تور کبود دے
درست دِ سر تر پایه ننداره سره وجود دے
ونه دَ جا ثغلو واړه ګنج وړی ویخونه

ناز دِ عاشق کُش وواوس دِ خال باندِ ثانی شو — رنګ دِ ودانی کا خوئ دِ خیر په ویرانی شو
تا ګیسو پریشان کړ درست جهان په پریشانی شو — تا چه مخ ښکاره کړ درست جهان په حیرانی شو
خلق ځان ځانی شو دَ خپل ځان په آسانی شو
څوک دے چه به آخلی دَ خوشحال خټک غمونه

# ترکیب بند

دل آرامه کهٔ ځما دَ درد دوا کا — سبب اول دِ هم دَ مهر دارو راکا
دَ دلدارو هوا دار له درد و دوکه — ځما دم دَ آهِ سودسره وا وا کا
دَ وصال سودا سودا دَ سرو مال ده — هر ګدا کله دا سوداو دا سودا کا
دَ آدم دَ آل اولاد سره کُل مکو — کهٔ دَ دور رسم دا وواوس هم داکا
درومه درومه کله مهٔ کوه له دوسه — کله کله دور هم مراد ادا کا
دا مهر و ملوکه وګوره له اصله
کله دے و مرد مراد ورکړهٔ له وصله

دل آزارے کهٔ دِ ځهٔ له ربه دار دے — زړونه مهٔ آزارده روئی دَ دا دار دے
تهٔ چه ژاړے په زار زار ژړا دِ آدم — دا دِ واړه درد او دوک زړهٔ دِ آزار دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه اول دِ دَ زړهٔ داغ وته آرزو وه — اوس وردرومه زړهٔ دِ بنهٔ شهٔ چه داغدار دے
دَ زړهٔ دردکهٔ په زارئ په زوراو زر وے — اے دَ زړهٔ له درده روغه په دا ډار دے

چه دَ زړهٔ له درده روغ دے په زړهٔ روغ
داچه ژاړی ژړا بنهٔ ده په دروغ

تاچه کړے له هرچا سره یاری ده — بنکاره کړی دِ له یاره طراری ده
تهٔ چه ځان کنړے دلداره اے دلداره — کله چا له تالیدلی دلداری ده
ستا دَ قهرطاقت هیڅ زاغخه نشته — راشه قهر له زړهٔ لرے کړه زاری ده
داچه کله عاشق خاندی کله ژاړی — دائے تللی له خاطره قراری ده
کهٔ دَ سرشند نهٔ کړانهٔ تر هرڅهٔ ده — چه له یاره سرساتهٔ شي اغیاری ده

تهٔ چه سرساتے له یاره اَغیارے کړے
شیرین ځان تر آشنا ځار کړه کهٔ یاری کړے

زهٔ زا یریم ځانهٔ ستا تر تله تله — تر تا ځارشم ځانه ډیربنهٔ ئے تر بله
چه دَ غم په کړهٔ دِ زهٔ زهیرشهید یم — تل تل خانده تل تل خانده تهٔ قا تله
چه تل تل په قهقهه خاندے زهیریږم — خونا نرخه تویږے دَ خوږو تله
یو په شله بناسته دَ جونو خانه — تابهٔ ستایم تابهٔ ستایم یو په شله
تهٔ جانا تره تازه تر نسترنه — زهٔ زهیرخسته جلیا یم تر بلبله

تر بلبلے جلیا زهٔ زهیرخسته یم
چه بلبله په غوغا زهٔ بسته یم

نن ئے لوئے څنړے کج کړے خوخوخمه — لوئے څنړے ئے خم خم تر قامت سمه
عاشق کله یو ساعت بے جانا پائی — کج لوکه ماهی هم پائی بے یمه
مخ په مخ شه ماته خانده چه خاطر م — هوسی شی په خوبنئ شي بے غمه
خوخوبئ لرے کل برے قد عرعرے — په بنهٔ مخ لکه لاله ئے لا پر نمه
کل ومُل چه مخ په مخ شي پړخوبنی شي — طوطا کله گویائی کا بے موسمه

کل خوبنی شی په موسم کلِ نرگس
خولا له بالا لولوکا عالم کس

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترجیع بند

ستا له لوریه که هزار جور و جفا وي
له عاشقه به په سل رنګه وفا وي
په عاشق باندِ معشوقه عنایت کا
ستا مدام په خپل عاشق باندِ عنا وي
بنه ما وُمنل چه ته بې حد زیبا ئې
په جهان به کم څوک تا غوندِ زیبا وي
ولې خدائې چه بنه جمال وچا ته ورکا
نه په داچه دې بې مهره کبریا وي
که قضا په ما زړهٔ سوې کا هم به وُمرم
که یو څو ورځې دِ جنګ وفتنې دا وي
که تل ما سره غوغا جنګ وجدل کړې
خدائې دِ نه کا چه له تا به تله څما وي
ستا دَ در په خاورو پروت بیقدره بنه یم
په بل لوری که په تخت کښینم بنهٔ نهٔ یم

هومره ډیره بدی مهٔ کوه بد موړه
هومره ډیره جفا بنه نهٔ ده بد موړه
کوم مُلا درته بښئیلې دا سبق دې
چه بدی کوه له یار سره بد موړه
چه م زړهٔ ساتې هغهٔ ته به زړهٔ ورکړم
تا دَ زړهٔ ساتنه هیڅ نهٔ زده بد موړه
خو فتنې او خرخشې دِ دي په ملک کښې
که بې دا دِ هم څهٔ نور څهٔ شته بد موړه
دَ عاشق سره تل جور هم بنهٔ نهٔ دې
کله کله څهٔ خو مهر کړه بد موړه
ستا دَ در په خاورو پروت بې قدره بنه یم
په بل لوری که په تخت کښینم بنهٔ نهٔ یم

په چشمانو دِ مئین یم را ته ګوره
دَ زلفینو دِ هندو یم مهٔ م پلوره
په دا شکل شمایل چه لکه ته ئې
لا عجب که څوک زووړې وي له موره
په بنا ئست کښې دِ مخې دَ بنائست نشته
حیف خو دا دې چه بې مهره ئې هر ګوره
چه زړهٔ ستا له دو که مرم را ته دِ شا کړه
مکر مینه دِ دَ زړهٔ شوه له ما توره
ستا له دره له درباره به لاړ نهٔ شم
که هر څو م په جفا سیزې بې اوره
که هزار جور و جفا کړې کمان مهٔ کړه
چه له تا به م دَ زړهٔ مینه شي نوره
ستا دَ در په خاورو پروت بیقدره بنه یم
په بل لوری که په تخت کښینم بنهٔ نهٔ یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ په ما باندې څوک زړۀ سیزی ښائینه — نۀ په حال م رحم کاندی ځانۀ لوینه
کل څوک له خپله یاره هسے کا کا — چه هلک ئے له مرغئ سره کو ینه
تړنے ولے له آزاره نۀ ویریږے — مبتلا خاطر م ستا له غمه مړینه
خبردار دِ په وفا په جور نۀ یم — درست صورت م آغشته شو ستا په مینه
په جفا به جور دِ هسے رنګ عادت دے — چه خاطر م ستا بے جوره نۀ پائینه
چه دِ زړۀ هسے جفا جور په ما کړه — اوس ځما ده ستا دَ ورخښته بالینه

ستا دَ در په خاورو پروت بیقدره ښۀ یم
په بل لوری کۀ په تخت کښینم ښۀ نۀ یم

تۀ هم څۀ خو فهم کړه ځما له آهه — هسے جور په ما مۀ کړه بے ګناهه
یکباره په خپل ښائست غلطی مۀ کړه — کۀ په حسن کښے تیرے لرے ترماهه
کۀ په تا باندې زړۀ نۀ وے مئین شوے — خلق به په تا هم نۀ وه آګاهه
چه مجنون باندې مئین شو نوم ئے وشو — ګنړه نۀ وه لیلی توره خانه سیاهه
محبت م دم په دم په تا تیری — په دا حال م دا ده زیره ګونه ګواهه
په دربار دِ درویزګر دَ دیدن پروت یم — یو قدم به دِ وانخلم له درګاهه

ستا دَ در په خاورو پروت بیقدره ښۀ یم
په بل لوری کۀ په تخت کښینم ښۀ نۀ یم

دَ رقیب په وئیل مۀ وژنه ما یاره — دَ یاری حق په تا کښے م بسیاره
کۀ م وژنے بل ګناه په ما ثابت کړه — چه را ښۀ دَ رقیب زړۀ نۀ شی یکباره
کۀ زۀ ستا له لاسه ومرم بختور یم — خو وینا ده دَ رقیب په ما دشواره
ستا دَ مخ محبت هسے به ما ډیر دے — لکه مینه دَ بلبل په ګل بسیاره
تل جفا دَ ښائسته وُ سره مل وی — په جهان کښے به هیڅ ګل نۀ وی بے خاره
کۀ تۀ هر څو جفا کار او دل آزار ئے — زۀ خوشحال به دِ لاسه نۀ شم له درباره

ستا دَ در په خاورو پروت بیقدره ښۀ یم
په بل لوری کۀ په تخت کښینم ښۀ نۀ یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مخمس

ګوره مونږ به څه شو هیڅ خبر نه یو له حاله ورځ او شپه چه دروي خالي نه یو له جنجاله
مونږ به په مرګ ومرو که مو عمر شي زر کاله ګور لره به ورشو ډک لړلي له وباله
بله تکیه نشته خو هم ستا ده ذوالجلاله

شي د مرګ له لاسه په هر لوري طوفانونه دروي په ساعت کښې د کالو نو سامانونه
پاتې شي په زړه کښې په زرګونه ارمانونه کانړي یو که څه یو بلا سخت لړو ځانو نه
حال مو بدل نشي نه څه کم له خپله خیاله

کله خیال د ګولو د پټیو د باغونو کله خیال د دشتو د الګړیو د راغونو
کله خیال د زرو د ګوهرو د لالونو کله خیال د عیش د عشرت د ایاغونو
کله خیال د ښکلیو د جال له خط وخاله

لږ خیالونه نه دي که ئې وایم په زرګونه هر زمان رازیږي وا ړه ستا له اندرونه
ورځ وشپه پړې دروي د خیالونو کاروانونه هم په بیدارئ هم په شپه وینې خوبونه
ستا ده د زړه مینه په خیالونو مالا ماله

کله کوز په مزکه کله پاس په آسمان شې کله ګدائي کړې کله خان لره سلطان شې
کله شیخي واخلې په حلقه د درویشان شې کله دانشمند ملا دانا د درست جهان شې
سر شې په وئیلو په خورنګه قیل وقاله

خو رنګه ستاینه د خپل علم کړې آغازه هم له خپله علمه هم له زهده له نمازه
ته که غلیواز ئې خپسر واړه کړې تربازه نورې بازئ څه دي بازي خدائې سره انبازه
شرم حیا نه کړې نه نادم شې له افعاله

ماروي هغه علم چه په تن د چا لګیږي یار وي هغه علم چه وزړه وته رسیږي
درست تحصیل حاصل کړه چه خصلت دي نه بدلیږي خرئې کتابونه په تا کښلي سره وانیږي
هیڅ دې هغه علم چه خالي دې له اعماله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله درویشان دي چه د خدائے په نامه غواړي ... در په در جار وزي لکه خرونه هسے ناړي
هیڅ پوښتنه نه کا چه څه مومي واړه نغاړي ... کوم ته چه څوسي په خندا خندا وویاړي
تش خالي چه ورشي خوب ئے نه کیږي په ساله

بنه سړے هغه دے چه ځان کم ګڼړي تر بله ... مکر دروغ نه کا په رښتیا کښے وي هر کله
چار چه باندِ ورشي بله لا بنه کا تر خپله ... شکر په نعمت کا په بلا صبر تر بلـه
زړه ئے خالي نه وي همیشه له اشتغاله

عقل آسماني دے ته ئے مه غواړه په مزکه ... ځائے د کومي راغے په حکیم په پنډت ځکه
خپله پوهه واړه شریعت وته کړه ورکه ... سپک به شي بے شکه څوک چه شرع کوړي سپکه
لا د شریعت ده بے آفتابه بے زوالـه

څو رنګه عالم دے خوښ خورم په خپل روزګار کښے ... هر چا ته چه ګورم واړه ښخ دے په خپل کار کښے
واړه خپل مراد غواړي په صبر په تلوار کښے ... سود ګوري مقصود ګوري په هر هره چار کښے
واړه خپل قسمت خوري د دنیا له ملک وماله

وے کناس نه دے چه مالک د زرو پو شي ... کبر لوئي واخلي عجب خیال باندِ نزول شي
دے که نا قبول دے په هر چا باندِ قبول شي ... کله ئے نظر د چا په فرع په اصول شي
څه به درته وایم زه د زرو له احواله

خدائے کوکه خبر وم چه دا زر هسے بلا دي ... اوس چه پرے خبر شوم راته بد ترا ول لا دي
ځکه راته بد شول چه د هر سفله تر ملا دي ... پوخ د هغو تور شه چه په زرو مبتلا دي
نام لره پکار دي که نه کم دي تر سفاله

پاک دي که ناپاک دي د خپل ځان ثنا صفت کا ... خوښ له خپله ځانه په خپل کار کښے فراغت کا
هیڅوک محتاج نه دي چه به غور په نصیحت کا ... خپل غرض ته ګوري کار د زړه په مصلحت کا
وے فضولي کړے دم په خود ا وسه خوشحاله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترکیب بند ذوالقافیتین

خهٔ دَ بد وخوب ووچه مِ وُلیدو سحر
سترګے مِ رنړے کړے ناقرار شوم په بستر

پاسیدم له کټه لکه خوږ شی دَ چا سر
هسے شان اوترشوم نهٔ مِ لیرلیده نهٔ ور

لاهم ترمبرزه هسے ساغلمه اوتر
غُسل مِ په ځائے کړ په سنت دَ پیغمبرؐ

درست خلق اوده وو واړه خوب کاوه خرخر
هیڅوک خبر نهٔ وو اشرف خان مِ کړ خبر

هرچه نصیحت وو لکه بویه دَ پدر
ما په کتابت ورته ادا کړ مختصر

جوړ شوم پیښور ته چه راوام خست جمد
ونزل سروِ نازه په دوه ځایه مکرر

ورځ وه دَ جُمعے رجال الغیب وو برابر
تلهٔ مغرب رویه وو په داما نهٔ کړ نظر

ځوک به وجار باسی مبرم حکم دَ داور
ډیر دِ فراست لری هُنر ګنج و لښکر

لاهم ترمسجده نه وځم وکړ پکه تر
سور شوم په سیلئ نور مِ واچوه په لیر

هسے په هوا تلم لکه باد دروهی صرصر
ګونبے تنها تلمه په نوبنار وخوت نهر

نهٔ وو لا دوبهر چه مِ ځائے شو پیښور
واستوهٔ مغل ته ما هغه ساعت نفر

وے مِ دایم راغلم ستا په خط ستا په خاطر
کوم ساعت حاضر شم په ما کومه لرے چر

داخواب ئے راغے چه راتلهٔ دِ وو بهتر
کانده په دیوان دِ رابنکاره کړه خپل پیکر

دَ ګورځے شوے تیرے دیوان نهٔ کړ کیدی خر
دے په څو وماته زهٔ له ځانه بے خبر

شینځ دَ ګجرات دَ دهٔ پیشدست وو یو بشر
سر تر پایه واړه په دیدن کریه نظر

دهٔ وے ترما راشه چه کنګاش کړو مقور
بیا به دِ نواب ته ویل کړو زیر و زبر

ورغلم تر دهٔ پورے زهٔ پاک په خپل باور
تړونه مِ نااهل مغلی شوی په داشر

لوړ په لوړ مغل ترما چاپیر شو په هُنر
مفت ئے په لاس کښنیوتم په حکم دَ قدر

ژغ وشو په شهر دا خبر شو منتشر
هیڅ نهٔ پسندل په خدائے پسنده وو مکر

کوزئے کړم له کوته چه ئے کښنیوتم په جال
زرئے راپه پښو کړے پنځ سیرئ بیړئ کوتوال

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خور شو په ملکونو دا خبر په درست دیار — درست عالم دلګیر شو لا پښتون یار و اغیار
هر چه اُمرا کان وو په صوبه کښې منصب دار — کل عالم حیران شو چه ئے ولیدهٔ دا کار
لاړل په صبا دَ وخته ټول شول په دربار — وئے وے دا هسې رنګ نیک خواه دَ شهریار
دا رنګه نیوهٔ شی نواب بنهٔ ګڼړی داچار — چه په خولهٔ شو پاتے هیڅ ئے ونهٔ کړ ګفتار
پاسیدل له ځایه اُمرا کان شول تار په تار — درې ورځې شوے تیرې ځما ترونه نا پکار
ورغلل مغل لره قبول ئے کړل مدار — آس او خلعتونه مغل ورکړل په اقرار
ملک ئے ځما ورکړ نالایق ئے کړل سردار — کور او خیلخانه اُولس همه شو خبردار
درست ختک دَ دیو وګښتن ته شو تیار — روح دَ دیو والوت په بلا شو ګرفتار
ما وخیلخانے وقام ته وړے په زنهار — مرګ کښتن نهٔ بویه نهٔ ئے نور شر و اشرار
یو به دشمن بنا دشی چه ئے ورک کړ خیل تبار — بل به فساد کړ شی دَ بادشاه دروهی اعتبار
دوئی او درست اُولس په زیارت و شیخ رحمکار — ټول شول له دې کاره په قریب شول توبه ګار
خو یم نادان وو به خطا لاړل بسیار — مرګ کښتن کهٔ نهٔ وی دَ دې مړ پریښو وقار
بل فکر ئے نهٔ وو ور پیدا شو دَ ځان دار — مرګ وته م کښیناسته په لیل و په نهار
دوئی په زړهٔ کښې داوے چه کهٔ سل کړو که هزار — هر کله چه خلاص شی فلانه مونږه یو به دار
تیر شوے په بند کښې ځما دوه میاشتے په شمار — ملک واړه ویران شو خلق شو په کهسار
وغوښتے پنځوس زره روپئ صوبه دار — ما وے دربه نهٔ کړم یو پوچک نهٔ یو دینار
دواړه لوریه وکړهٔ سره دا قول اقرار — یو مغل بے پته بل م ترونه شرمسار
اوس خو با ئډهٔ دادی چه ئے ځلئے وهندوبار — زړه ئے فکر بویه په تعجیل او په تلوار
زر یه دا لا خوښ وُم چه کړو شم تر دربار — دَ عمر دولتخواه وُم دَ عزت وُم طمع دار

هند ته ئے روان کړم بدرقه م مستجاب
هم ملک هم خان هم دَ همه غوری ارباب

زهٔ ئے کړم له بناره په شتاب شتاب روان — راغلم نرم نرم په رباط دَ شابیګ خان
درسته شپه خوکئی دَ محب خیلو په خیل ځان — بل وو مصری خان داؤد زئے یو ټول احدیان
راغلم تر نوبناره په صباحم په دا شان — خلق په ژړا په ندارهٔ راته حیران
ځهٔ به دَ نوبنار دَ شپے زړهٔ کوم بیان — درسته شپه زلزل وو په هندو په مسلمان

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبح ئے کوچ وکړ پښتانۀ مغل لړزان    لور په لور فوځونه ووځما تولہ ترمیان
ما وو پیغام کړے په اُولس په اشرف خان    نۀ بویه دَ جنګ دَ خرڅښے فکر سامان
مونږ ه دَ بادشاه یو قدیمی دولتخواهان    یوم نام بد یږی بل ستهیږی افغانان
راغلمه ترسوا به سرائے یک لخته وو ویران    تا به وے هرګزنۀ وو میشتۀ دلته انسان
خۀ به درته وایم څۀ پیږے لری آسمان    خوک ورته توانیږی چه شدت کاندی عیان
ډیرے کرانے راشی په سړیو په جهان    خدائے وسړی ورکا بیا دَ هرے چارے توان
ګران ساعت هغه ووچه م ولیدۀ عثمان    بیا راغے زینو دَ خیلخانے یو خوځوانان
راغلۀ په اَرمان خپله جدا شو په ارمان    زۀ او دوئ دَ سرائی جرشجر واړه کریان
راغلو په تړۍ نندارچی مردان زنان    هسے رنګ ولاړ وو لکه بے روحه بُتان
راغلو په کړۍ دَ خیرآباد پیچان پیچان    یورے کۀ راپورے خلق واړه ننداریان
هرچه راسره وو هغه واړه وو ترسان    چا وے چه ختک به حاضرنشی په میدان
ماخو پیغام کړے ووهم دا م وو ګمان    اوس به راڅرګند شی له یوۀ لوریه نشان
هسے جنګ به وشی په دا آخرالزمان    ګوره خو به شمار شی دواړه لوریه کُشتګان
جنګ جنګ جدل ونشو حکم دا وو دَ یزدان    پورے شوم ترسیندہ په اټک شوم نګران
درست اولس م واړه په غوغا پریشان حیران    ویرم په کورونو په هلئے هلئے م فرزندان

راغے په ختکو باندِ هسے یو ساعت
تا به وے نازل شو په جهان کښے قیامت

زۀ ئے له اټکه نه روان کړم په دا حال    ورئے ورم په پړه په بابا حسن ابدال
بیا له هغه ځایه په پنډئ په استعجال    بیا له هغه ځایه ترر باطه وشو چال
راغے په رباط کښے له نوابه یو مثال    بیائے بیرته یوړم ترپنډئ دم درحال
راغے په پنډئ کښے یو خط په دا منوال    وانړی ئے په وړاندِ و دربارته بے اهمال
لاړم له پنډئ شپه ترمینځ دَ ګګړ تهال    لاړم ترلاهوره کوچ په کوچ په ارتحال
خویه سعادت باقی میرباز پریشان احوال    راغلۀ په لاهور کښے راپسے دوئ په دنبال
وړاندِ ترما لاړل و دربارته په ارغال    وئے کړه بخشی ته له دے حاله قیل وقال
خوئے دَ میرجمله دے میربخشی په استقلال    ډیرمهرئے وکړ دَ لا سا جوال جوال

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې ئې را ورسي دربار و ته خوشحال — نو ربه سرفراز شي غم ئې نشته یو مثقال
زه هم په وسط د رمضان کوچال کوچال — ورغلم دربار ته زر خلور اویا وو کال
ډیر ورد وبدل شو په دا مینځ کښې ځواب سوال — حکم د خلاصی په ضمان وشو په اجمال
ځائې په حویلئ کښې تر خپل خنک راکړ کوتوال — جوړ شو ضمانی ته سید شمس د جلال
مونږ په دا فکرت و وچه په میاشتې د شوال — راغې عرض داشت د سید میر په دا مقال
مه پریږده خوشحال د ده پرېښودی اختلال — بیا په مینځ کښې پریوت د خلاصي ډیر جنجال
ملک منصب جاګیر ځما تغیر شو مال محال — دولس منصبدار م تابینی شول پائمال
ترناحق په کښل د بدوئیل د بد سګال — وېسنده ظالم بادشاه په ما باندې اشکال
زه دلے په بند هورے ځما اهل وعیال — تار په تار په غرونو په عذاب او په وبال
هسے چارے وشوے چه د چا نه وې په خیال — نشته د اورنګ بادشاه په عدل اعتدال
لور په لور خورے شوے رالښکرې د دجال — نشته یو مهدی چه رالښکاره کا خپل جمال

دور د آخر دے فساد که شو لور په لور
یو تربل اخته شو جهان واړه کور په کور

خدائې را باندې راوست دا همه واړه محنت — خو چارے سبب شوے درته وایم حکایت
یو چه زه مغرور وم په راستئ په خدمت — بل د مغل طمع ځما نه وه ورکړل عادت
بل م ناشکری بل د رونړو حماقت — بل چه فرزندانو م خطا کړ مصلحت
یو ځله هم نه خطا خطا کړت کرت — واړه مشرانو اشرف خان بهرام سعادت
دوم کړ اشرف و ته د تورے اشارت — هیڅ عمل ئې نه وکړ ځما په نصیحت
ځه خدا یار خلیل څه ئې حیا څه ئې حرمت — څه جګرام هندو څه د هندوانو برکت
یو یو ځوان پوهیږي د غلیم په حرکت — زهر که ډول شي د شکرو په شربت
ځویه هغه ځویه چه هنرلري حکمت — پوه وي د دښمنو په فریب په خدیعت
ونیسی په لاس کښې سخاوت و شجاعت — نه صرفه په ځان نه په جهان اعلیٰ همت
دریغه اشرف خانه دستیاری هومره قوت — درست اولس په لاس کښې هیڅ درونشو جرأت
وراغلل مغل ته د اشرف وو قباحت — هم ځما آفت وو هم هرچا لره آفت
خو چه ملک ویران وو د مغل وو ډیر هیبت — وشوه ودانی د ملک پوره ئې شو حاجت

Poha Foundation
A.S.KB

وې کښل بادشاه ته دَ جګرام مجرا عزت / بوت ئے ووکابل ته اشرف خان په شرارت
پاسیدهٔ بهرام ته په دا مینځ کښې یو غیرت / درست اُولس ئے ټول کړه په نرئۍ را اوخت
تښے سر هوا غوټے دَ بازنهٔ وی خصلت / بازنهٔ وو بازرنګ ووچه ښکار ئے شو حالت
زهٔ وُم په دهلی کښې ګرفتار په دا زحمت / تیرے شوے په بند کښې پنځه میاشتے زیادت
بیا دَ میر جمله څویه بادشاه نهٔ په خلوت / غرض ئے څما وکړه دَ میرخان په کفالت
داووے بادشاه فلانه به خلاص کړم سلامت / زن بچه کهٔ راولی و هند ته په سرعت

حکم ئے دا وکړا میرخان ته وشول کښل
زهٔ په بند بندی څما کورونه را وستل

وارویدهٔ دا حکم سعادت باقی میر باز / راغلهٔ یکایک ئے حقیقت کړه آغاز
میاشت وه دَ صفر چه دَ ګوارړه لکه باز / وې کړه وطن ته په رخصت څما پرواز
لاهل تروطنه په شل ورځے یکه تاز / یو په ځائے راننغے چه زمونږ ووسړه راز
غرب وته قبله وه و مشرق وته نماز / تلهٔ ووکربلا ته دَ حج لورے وو حجاز
څهٔ به درته وایم له دے حاله دور دراز / کوټے کوټے حال دے مختصر بویه ایجاز
وارړه لوئے هلک چه م ساتلی وو په ناز / وارړه په نعمت کښې پرورده ملوک شیراز
تار په تار خوارهٔ شول مبتلا په ډیر نیاز / دَور دَ ګردون کړل دَ بلا سره انباز
هره ورځ فلک لری تازه تازه طراز / هیڅ باورے نشته په نواخت او په نواز
وولی په مزکه یو ساعت کښې سرفراز / پروت په توره خاورو په زمان ئے کا ممتاز
ډوب کا په دریاب کښې چه محکم لری جهاز / وباسی له مینځه چه ئے نهٔ زده وی شناز
څهٔ کړم چا ته آه کړم هیڅوک نهٔ لرم دمساز / چا وته ناره کړم څوک م نهٔ آوری آواز
دروم په بل لوری په فلک راشم با زباز / مهٔ وے دا فلک مهٔ ئے دا هسے امتیاز
اهل په خوارئ کښې نا اهل په اعزاز / څیرے خط میرمنے خدمتګارے په پیشواز
هرچه ابلهان دی روغنئ خوری دَ خُباز / هرچه دانایان دی نان خورش نهٔ لری پیاز
نشته دَ رښتینو کره یو کُهنه پلاز / سرهٔ تغریه کور کښې دروغژن لری غماز
نور مرغونه ګرځی په باغونو په طناز / بندی دی هم هغه چه پلئے رنګ شته یا آواز
آس وارړه شا خوری په نشیب او په فراز / خروهی خر تیرے په آخور کښې په رباز

(c) ketabton.com: The Digital Library
POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبه درته وایم حقیقت دے که مجاز ... بس کړه داخبره مختصره هم ایجاز

خهٔ کرم نهٔ پوهیږم دافلک سفله پرور

لاس رسیدے دریغه چه پرسوړ کړلے تهر

دوه ځله سرائے مات شو یو ځل په بندید ل ... بل دَ سعادت باقی میر باز په رسیدل

یو ځله په ماتے ترهنګاله ورغلل ... بل دَ اکوزیو په سیکری ننه وتل

نهٔ ئے توره سره وه نهٔ دَ سرو ماتیدل ... خویه م له ملکه له اوله ووتل

زهٔ په هند کښې بند وُم اشرف خان وو په کابل ... واړه زن بچه م په سیکری کښې داغیدل

راغلل و بادشاه ته دَ کابل دَ صوبے کښل ... ملک دَ سرائے ویران شو پرے بیحد وشو زلزل

ځائے په ځائے فوځونه په خوګئی کیناستل ... لار دَ سرائے نیولے مسافرئے چلول

جوړ شول یوسفزئی خټک سرائے ته په وهل ... خو تهتوان ئے بوتلل په سحر ترے وختل

بارے خهٔ ختل وو نهٔ ختل وو نهٔ متل ... بارے خهٔ وهل وو نهٔ وهل وُو نهٔ مهل

نام ناموس م لاړ شو چه اعتبار وو دَ مغل ... نوم م دَ بدخواه وو چه نیکخواه وُم تل ترتل

ملک ئے وو راکړے په پنجاب کښې متصل ... حکم دَ بادشاه وو صادر شوے په پرینهو ل

لیږ دَ کهٔ محنت دَ که کشتن دَ که شړل ... واړه په قسمت کښې په سړی باندِ نازل

داچارے چه وشوے بیا ترمیځ شو فکر بل ... خوک ئے په چا نهٔ کا دَ سړی دَ نصیب خپل

زهٔ دَ یوسفزی په ځان زهر وُم قاتل ... بل مقصود م نهٔ وو په خدمت کښې دَ مغل

دیر شاهان خوانان م یو دَ بله وُوژل ... تیر ساعت ارمان دَ پښیمانی نشته حاصل

دا په خیال دَ چا وو یا په فکر جارو تل ... خواست رضا دَ خدائے وه په هر شان چه شو نے بول

شاباش په هغهٔ شه چه دَ ننګ وکا پالل ... راغلهٔ یوسفزئی لکه پیښ شو کار مشکل

یو وو بانیزے رانیزے ورسره مل ... لوئے هلک م واړه تر دریاب پورے وتل

لاړل تر سیکری ورسره مل کوروننه سل ... نور ختک م واړه په خپل ځائے وُدریدل

خهٔ بلا دَ خدائے ده دَ وطن جدا کیدل ... رونړه عزیزان خویشان و بله بیلید ل

یوه هے هائے هائے وو په ژړا وو لوئے هلک

درست عالم حیران شو چه خهٔ کار شو په ختک

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدائے خوخبردار دےکۀ بنکاره نۀ دی په چا
بندیم خلاص دِ نشم کۀ دروغ وایم په ذا

خپل ووکۀ پردی ووکۀ آشنا کۀ نا آشنا
چا سره م نیت د بدو نۀ وو دَ جفا

هرچه مخامخ وُم هسے شان وُم پسے شا
بل فکر م نۀ وو نۀ دَ رویٔ نۀ دَ ریا

هیڅکله په ظلم سوا دار نۀ وُم اصلا
هرچه ظلم کار وو له هغۀ م وه بلا

هرچه رعیت وو څۀ غریب وو څۀ غربا
دا م وو په نیت کښے چه آزار نشی له ما

زرکۀ زرینه کۀ مال وملک وو دَ دُنیا
وا ړه م پیرزو په خیلخانه وو دَ آشنا

بد وُم له هغو چه مبتدع وو ناصفا
درست په زړۀ مئین وُم په فضلا په عُلَما

قصد م له هغو وو چه مفسد وو بے وفا
غم م له هغو وو چه غلیم وو د بادشا

عمر م چه تیر شو په راستیٔ په رښتیا
نۀ م وه په کار کښے دَ مغلو هیڅ دغا

پلار نیکۀ م ځان کړو دَ نمک په کار فدا
بل پښتون م نه وو په راستیٔ کښے همتا

څو یه م په بندشۀ له وطنه شوم جلا
څوچارے راوشوے نۀ گناه نۀ م خطا

تار په تار م لاړے خیلخانے کجا کجا
واړه په ډیر غم کښے مبتلا جدا جدا

ملک واړه برهم ودان بنهرونه یو پنا
تار په تار له ملکه درست عالم په واویلا

څو میاشتے په بند وُم په دهلی کښے په عنا
اوس په رنتنبور کښے بندی پروت یم یکتنها

هیڅ دَاورنګ زیب بادشاه په دانشته پروا
خلق کۀ دَدۀ له ظلمه کاندی تل ژړا

کونبی په مانۀ ده ډیره وشوه په هرچا
ټول صوبے دَ هند دی په هرلوری دَ غوغا

هرچه کتهکان دی په صوبه کښے کد خدا
څوک په بند بندی دی څوک لاکړځی ناویسا

یو په رنتنبور کښے دوه سونا ست دیٔ مبتلا
څوکو هټونه نوردی پکښے بند دی بے احصا

رومبیٔ نے تر واړه په خپل پلار سره کړه خوا
بیا ورپسے نور وهی چه دی اعلیٰ ادنا

رنګ دَ هغو ورک شه چه آوته وائی دروغ
نشته څوک په ملک کښے چه له ډوی په زړۀ دوغ

ده چه له دکنه نه راهسک کړ خپل علم
ورک نے کړ په ظلم هم په مکر ډیر عالم

ونے کړ اول له مراد بخش سره قسم
راغے په اُجیَن جسونت سنګه نے کړ برهم

بیا په آګره راغے په دارائے کړ تور تم
بند نے شاه جهان کړو ترے بیل کړ دربست حشم

بیائے مراد بخش دَ شاهجهان سره کړ سم
یو ړے ترملتانه په دارا پسے برچم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا راغے پہ بیرته پہ شجاع نے ورووست غم
جنګ وو په کجوه کښے چه شجاع شهٔ منهزم

بیا دارا جنګ وکړ په اجمیر کښے بیش وکم
مخ په مغرب وتښتی دارا شا برهم درهم

ونیوهٔ جیونړ پنړی په کور کښے په خپل چم
راغے وست دهلی ته دَ دهٔ سرئے کړ قلم

بیا سلیمان شکوه دَ دارا خوئے مکرم
راوست راجپوتانو ګرفتار شو په اَلم

لاړ شو شاه شجاع ته مشرقي شو دَ دهٔ رم
بیائے څنے بیل کړ په ډیر مکر په ډیر دم

بیا په شاه شجاع پسے دلیر وو معظم
وئے یوست له بنګه ګوره چرته خکوی دم

راغے وست په خونه دَ خپل پلار هسے ماتم
کارته ئے حیران شو هغکی عرب عجم

داترهٔ دَ وارهٔ په دوه کاله بیش وکم
وشهٔ دَ دهلی سلطنت پرے مسلم

وشوهٔ اوهٔ کاله زر اَدیا کاله دوه کم
دهٔ چه دَ دهلی په سریر کیښودهٔ قدم

یا آزار دَ پلار دے یا اثر دے دَ قسم
یائے له غروره مبدل شو خوئ شیم

یو هے هائے هائے دَ په انواع انواع ستم
خو کاله کهٔ نوروی درست عالم به کا عدم

هسے په ظاهر صورت په مکر دے محکم
والئے چه پیدا شو ثانی براهیم آدهم

فعل ئے چه ګورے هلاکو دے یا اظلم
چادی آوریدلی په اولاد کښے دَ آدم

پلار په بند تړلے قتل کړی ذی رحم
وارهٔ ئے دَ خپلے خود کامئ لا په غم

هیڅ دَ خوار مظلوم په حال پوهنته نهٔ کوم
دوارهٔ ورته یو په تفحص کښے کرم ناکرم

داهسے بادشاه دے دا انصاف دائے تمیز
خدائے به ناانصاف په جهان نهٔ لری عزیز

واوره داخبرهٔ درته وایم مستحن
وارهٔ کار په بخت دے په طالع دَ نور سخن

چیرے داراشاه چیرے دَ دهٔ جاه ومخزن
چیرے دَ دهلی زمزمه زغرے جوشن

چیرے اورنګ زیب څهٔ ئے پایه څهٔ ئے دکن
څهٔ دَ دهٔ سامان څهٔ ئے لښکر څن مچن

راغے په آګره دَ دهٔ په سر ا یښے کفن
تار په تار فوځونه دَ دهلی برهم نن دن

بخت چه چاته مخ کا دَ هغهٔ چمن چمن
ګل شګفته کیږی په بسوړ کښے په ګلخن

بخت چه چاته مخ کا ورد بندکا په آهن
ګنج ورښوزی تردیواله تر روزن

بخت چه چاته شا کا کهٔ دانا وی دَ زمن
خپله دانائی ئے سرے لمبے شی دَ خرمن

بخت چه چاته شا کا مرغلرے دَ عدن
نهٔ پیری دَ دهٔ دَ مرغیچو په ثمن

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاردے اود په هیچا نۀ دے مبرهن
دولس ځایه ګرځی په ځائے نۀ لری مسکن

هرلوری ته ګرځی هم پاسبان دی هم رهزن
خوک تر خوف تیر کا د چا و وهی ګردن

څۀ به درته دایم چه ئے خو دے مکر و فن
خلاص ئے له آسیبه نۀ دے هیڅ نوا و کهن

اړه یو نفس دے نتیجه ئے ما و من
واړه په تاڼی دی چه ئے ورځی له دهن

ورک شو د یزید په هغه خو کاله دیدن
یا تو شۀ پرے لعن د حسینؓ او د حسنؓ

تل به د ا ورنګ نۀ وی دا کر و فر و فن
یا توبه په دۀ شی تل نفرین د مرد و زن

څۀ شوکۀ دولتے آویزاند شی په دامن
بیا که سفله دے د اعلیٰ یائے خښتن

هرچه په فطرت کښے پیدا شوے دے خیرن
پاک اوصاف به نشی که ئے تل وینځے بدن

څۀ شوکۀ د بازله ځاله والوزی زغن
بیا زغن زغن دے که هر څو دے پنځه زن

هرچه پاکیزه لری خیل اصل خپل ګوهر
مه کړه خدائے چه راضی شی په آزار د خیل پدر

خدائے وکړے داچارے په ما واړه وکړے زړۀ
څو چارے غلط شوم چه م لوئے کړ احمق ترۀ

بل چه د دۀ لور م امرا ته کړه وادۀ
بل چه م په کور کښے څۀ کښے نبنولسپین اوسۀ

بل م چه کوټ محکم بنا نۀ کړۀ په غرۀ
بل چه م په توره په خدمت غرور کا وۀ

بل چه م مغل په ورکړه مرکړه نۀ غلاوۀ
بل چه م په وخت د نیوو ملک نۀ ولاړۀ

بل م چه قوت د یوسف زئ ورکا وۀ
بل م چه په اصل غوریه خیل پښتونه نۀ ترۀ

وائی چه له ځانه په اولادوی پیرزو بنۀ
خدائے به کا روانے په اصلی ویلوا وبۀ

دا یو خوخبرے چه ما راوړلے په خولۀ
بویه چه همه واړه وکښلے شی په زړۀ

نرد دے که شطرنج دے که چوپړ دے وایم زۀ
دا واړه چه ئے زده شی نوئے لوبه شی هالۀ

هرچه په دا کار کښے خوک اومۀ دی که پاخۀ
وکاندی پاخۀ په زمان چارے په ومۀ

هیڅ په خپله پوهه هنر مۀ شه غرۀ ته
هرچه تر تا بهه دے عقل زده کړه له هغۀ

وائی چه په پوهه بوعلیؓ چا وویشتۀ
بیا په ډیرے چارے خلقو احمق باله

هیڅ سړے هغه دے چه برځی په هره خولۀ
کار په توکل بویه نۀ خلقو ته کتۀ

یا رچه هسے بنۀ وی چه ئے ځائے کړے په لیمۀ
بیائے په یاری مۀ کړه هیڅ غلطیدۀ

څۀ بلا دیر بنۀ دی د دؤ ستر ګو تور بانړۀ
سترګے د رندے کا مشه سترګو ته کا برۀ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مل هغه بالۀ شي چه تیر بیر نۀ ځي ترملۀ
مل دَ خپل مقصود دې چه نۀ وړاندِ روستو تلۀ

نۀ وي دَ چا ترستونی تیر چیرے ترخۀ
بو تې دَ سپلمئ دَ کنډیري کنړي خوا بږه

څوک چه په لوستو لوستو ملانه زده کا څۀ
څوک دَ مور په نس کښې زده کا وزیري هالۀ

دوه سوشل بیتونه دي یوولس بنده بشۀ
ما په رنتنبور کښې دَ زړۀ تاؤ پرسړاوۀ

# مربع

دَ شمشئ تورو سنبلو
په سپین مخ ئے تسلسلو
پرے غوغا کا نړئ بلبلو
تل به وخت نۀ وی دَ ګلو

له ما ګرځئ دوره دوره
نظر نۀ کا له غروره
نور کۀ مری په تیره توره
زۀ ئے مرم په تغا فلو

زۀ هغه اخلاص لرمه
ستا په سترګو سوګند خورمه
چه ما نړے کړے له ما مرمه
مخ دِ تورشی دَ چغلو

راته نۀ خاندے غمګین شم
ستا له جوره په زړۀ خوږین شم
نۀ به باز نۀ به شاهین شم
نۀ به راشے په منګلو

خپل انداز ورلره بس دے
خوښ په خپل هنر هر کس دے
خان ته ګل وائی کۀ خس دے
هر یو مست دَ خپلو ملو

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ مې زړهٔ کهٔ مې دماغ دے
نهٔ ئے باغ پکار نهٔ زاغ دے
په دا بوئ مې زړهٔ فراغ دے
چه ئے راشي له کاکلو

همیشه ورپسے شراهم
په موندنه بهٔ ئے ویاړم
کهٔ ئے موسم زړهٔ ئے غواړم
په اوراد دَ خلور قلو

شکرداچه په پرواز یم
وښکارونو وَته باز یم
زهٔ خوشحال دَ غرونو باز یم
چه په بند د وُم دَ مغلو

## معشر

تهٔ خپل خوب کوه بُستا
کهٔ زهٔ درسته شپه بے تا
سترګے سرے کړم په ژړا
نارے وهم په واویلا
چه ترکا نړی سخت دے لا
هغه هسے زړهٔ دے ستا
خولا پایم په دُنیا
کهٔ زړهٔ سوے دِ شي په ما
نور څهٔ نهٔ غواړم له تا
مکړه دا هومره جفا

کهٔ تیره تُوره وکښلي
راشئ تهٔ قهر نیولي
رقیبانو سند وُلي
دواړه لیچے دِ غښتلي
بیا یو خو کلے وهلي
وکُشتن ته جوړیدلي
ما دِ دا جفا منلي
خون بها مې دربخښلي
هومره مهر وکړه کښلي
رابښکاره کړه خپل لقا
هغه ورځ چه مئین کیږي
عاشقان تر سر تیریږي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ عالم ورته وشیرړی — نۀ ئے ننگ وی نۀ شرمیرړی
نصیحت پرے نۀ لگیږی — لۀ کُشتنه نه ویریږی
لا یعقل شی نۀ پوهیږی — خو مجنون شی ودریږی
پورے خلق حیرا نیږی
لۀ هرچا وی شا په شا

نورئے هیڅ نۀ وی په دِل کښے — په سکوت او په ویل کښے
په خوړلو په نوشل کښے — په خلوت او په محفل کښے
په میدان او په ځنګل کښے — په لیدل او په کتل کښے
په فروخت په پیرزوُل کښے — په ولاړ په پریوتل کښے
په آسان او په مشکل کښے
دَ خپل یار لری هوا

کۀ هجران وی کۀ وصال وی — دواړه دۀ ورته یو حال وی
کۀ هزار غرونه جبال وی — د پرسیدونه ډیرا طلال وی
تر دا مینځ پرده محال وی — وربښکاره دَ یار جمال وی
جلوه کړئے خط وخال وی — خوښ خورم دَ یار په خیال وی
هم په دا لیدۀ خوشحال وی
نۀ ئے کا بله تمنّا

## مُسَدَّس

محبوبا پری رخسارے
دوه دِ سترگے دی کتارے — سرترپا یه قلم کارے
تل په لاس تیرے کتارے — چه ئے وا هړوے بیمارے
خونریزی کاندِ خونخوارے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه د وروځې دی مهینې ــــ دوه دِ زلفې عنبرینې
دوه دِ شونډې شکرینې ــــ نازنینې مه جبینې
سروِ قدې تن سیمینې
جفا جوئې دل آزارې

تور ګیسو دِ مشک افشان دی ــــ په سپین مخ دِ پریشان دی
تار په تار پیچان پیچان دی ــــ په هر تارئې آویزان دی
کهٔ شیخان کهٔ زاهدان دی
په هر چا دِ وکړې چارې

ډیر په تا پسې افګار دی ــــ په فریاد او په کوکار دی
ستا دَ وصل طلبګار دی ــــ صبر نهٔ کا ناقرار دی
عاشقان دِ صد هزار دی
ما به چا سره وشمارې

بیا دِ وې مهر نور شو ــــ چې نظر دِ په بل لور شو
په ګوګل کښې م بل اور شو ــــ فراق ډیر را باندِ زور شو
رود دَ اوښکو دِ را خور شو
زهٔ ئې خو لرم حصارې

څهٔ خو مهر تهٔ دلبر کړه ــــ نهٔ تل جور سراسر کا
په ما خوار باندِ اختر کړه ــــ له برقع نه مخ بدر کا
څما اوښکو ته نظر کا
چې په مخ څې لاړې لارې

چې م یار ګڼړهٔ یار نهٔ وو ــــ بیهوده م زړهٔ پرې بنهٔ وو
په خپل رائې وو په خپل زړهٔ وو ــــ څما ډیر امید په دهٔ وو
دې دَ هر غما زیه خولهٔ وو
تل په ما پسندی دشوارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ئې بیا ترکش په میان کړ  چه ئې عزم دَ میدان کړ
چه سمند ئې په جولان کړ  واړه خلق ئې حیران کړ
زغ ئې کړ په درست جهان کړ
خلقې ئې کړې همواړې
آرائش دَ خط و خال کا  ستائش دَ خپل جمال کا
تل تل کبر تل تل خیال کا  تل تل پیچې تل ناخوال کا
خو نا سازې په خوشحال کا
سل فتنې لرې تیارې

POHA

## مخمس

وعاشق ته دوه قدمه بحر و بر دے  نۀ ئې ګرد په لمن پرونۀ دامن تر دے
په فریاد ناره وهي په نارو سر دے  چه دَ عشق په ګرا نه لار کښې ډیر خطر دے
هر قدم چه پکښې اخلي ډار دَ سر دے
عاشقان دَ شاه دَ خولې په جامې سپینې  قلندر دی نۀ لباس جامې رنګینې
اندرون م واړه ډک شو درست په مینې  کۀ سینه م سره چاق کړې وبه وینې
چه م ستا له غمه وینې درست ځیګر دے
بنا ئسته چه په بنا ئست کښې دلنشین شي  دَ عاشق سره ډیر مهر لرئې کین شي
نۀ چه تا غوندِ آفت دَ دل و دین شي  ستا دَ مهر باران نۀ وُوری چه شین شي
ما په زړه کړے ستا دَ مینې کر دے
عاشقان په عشق کښې نۀ کا دَ سر ویره  دَ سر ویره اندیښنه ده مختصره
کۀ دَ راز پیاله هر خوده تیز تره  ستا په راز به ژبه هم نۀ کړم خبره
تل تر ژبې رسیدلے راز سمر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجې ئې سوړ سوړ آه سپینې اوبۀ وی　　آبله دننه زړۀ لیمۀ ئې سرۀ وی
مشقت ئې هم په ځان هم ئې په زړۀ وی　　زۀ خبر نۀ یم له عشقه چه عشق څۀ وی
هومره آورم چه له حُسنه ئې اثر دے

عاشقان په غم خوشحال دلګیر بې غم دی　　په هوا د یار د زلفو پیچ وخم دی
فارغ شوی له وجوده له عدم دی　　چه ئې عشق ترسره کړے هغه کم دی
په دا کار کښې لاف وهلے یوۀ هر دے

د بلبلې خوشحالی وی په ګلزار کښې　　د عاشق د زړۀ خوښی وی په دیدار کښې
خو به عمر تیروم په انتظار کښې　　صبر مۀ غواړه له ما د عشق په کار کښې
جو دا نه صبر په ما باندې لوئې غر دے

اول مینه د یوسفؑ په زلیخا وه　　بیا له پسه د مجنون او د لیلیٰ وه
له غه پسه د وامق او د عذرا وه　　عاشقی لا نۀ ته نۀ وه چه پیدا وه
نۀ چه ما او تا ګډ کړے دا هُنر دے

کۀ پلو له مخې لرے محبوبا کا　　بیدلان به پروانه په خپل لقا کا
تل له ما سره فتنې جنګ وغوغا کا　　خو خُما طالع بنۀ نۀ دے یا رجفا کا
ګنړه کوم یو په وفا ترما بهتر دے

یو زمان م خالی مۀ وُسه له خیاله　　په خپله کونګ اوسه د عشق له قیل قاله
په ناله دِ کۀ بترشی تن ترناله　　د عشق غم له خلقه پټ لره خوشحاله
څۀ ئې پټ کړم چه عالم ځنې خبر دے

تل دِ ستائې په درست ملک کښې کبنلی سل څوک　　یو به نۀ وی په دا شکل وشمایل څوک
حد د چا دے چه دِ پل رږدی په بورجل څوک　　کۀ زۀ نۀ وے ته به ځان لره بلل څوک
په پالنګ به دِ دا هسې راختل څوک

خدائې خُما په زړۀ کښې ځائې محبت ستا کړ　　نۀ چه ما پخپله زړۀ په تا شیدا کړ
کور په کودم د زړۀ راز مینې رسوا کړ　　واړه عشق دے چه ئې سرا ته ګیا کړ
ګنړه زۀ په ځان مئین د سرښندل څوک

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشقان په عشق کښې خوار و بیچاره شی — لور په لوری په جهان گریوان پاره شی
آواره دَ یار دَ مخ په ننداره شی — چه پتنگ ته روښنائی دَ چراغ ښکاره شی
نور له چراغه دَ دهٔ غواړی جار وتل څوک

کهٔ په زړهٔ کښې م دَ مینې ذره نهٔ وے — هو مره ستا په مهر مینه غره نهٔ وے
لکه زر دَ اور په تاؤ کښې سره نهٔ وے — بدرقه کهٔ محبت را سره نهٔ وے
یک تنها به په خونخوار و لارو تلل څوک

راته وائی دَ رندئ په کار کښې سست ئے — دروغژن په میخورئ کښې نادرست ئے
ما په سر دَ دروغژنو خاورے لوستے — دَ دیو میو پیالے ډیرو دی اخیستے
وے ما غوندِ به نهٔ وی لا یعقل څوک

عاشقان دِ دَ چشمانو مے پرست دی — همیشه دَ بیخودئ پیالے په دست دی
په مستئ کښې له بلا سره پیوست دی — دَ زلفو په چاه دَ بند دَ شونډو مست دی
روغ هو ښیار به په کوهی کښې پریوتل څوک

چه نا ترسه بے پروا راغلے له ځایه — نورے نشته لکه ته ئے خود آرایه
خود آرایه خود پسنده خود نمایه — ته ئے خپله راته وائے چه ئے وایه
کنه زهٔ دَ مینے راز ښکاره وئیل څوک

دَ مجنون او دَ لیلیٰ وئیل یا دیږی — خو ما ستا وئیل په هر لوری زبا دیږی
همیشه م زړهٔ په دا وینا ښاد یږی — ښه خو دا چه دَ چا نوم پکښې یا دیږی
په فانی دُنیا به نهٔ وی ژوندے تل څوک

واړهٔ تازده درته نهٔ وایم چه زده کړه — لون لون طور طور کرشمه کړه
دَ غمزے توره لا ښه په خرخ تیره کړه — ته م وژنه دَ قصاص اندیښنه مکړه
دَ خپل خون په تور به ونیسم یو بل څوک

بے له تا به دَ نور چا هسے شمشیر وی — چه ئے بے قتل وکشتنه نور څهٔ هیر وی
په دا کار کښې ئے نظر تر هر چا تیر وی — دَ سرونو شمار حساب بویه چه ډیر وی
نور دِ مری په دا میدان کښې پردی خپل څوک

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلقه دِ همګی واړه تر پښے شوه
ماوے اوس دِ دَ غمزے توره یکښے شوه
بیا دِ جنګ وته خونریزه شمله پریښوده
چه دِ توره دَ غمزے په غاړه کښیښوده
حق ناحق به دِ په دا توره وژل خوک

ډیرے سمے کړے آؤرم غُنچے مرمه
چا ته دم وهلے نهٔ شم غصے خورمه
چه دَ واړو خواب وکړم توان لرمه
دَ وګړی جفا ستا دپاره وړمه
کهٔ نهٔ زهٔ دا رنګ وګړے دا زغمل خوک

په دا شکر چه نے هومره خوبی درکړه
تهٔ هم تل په خوار عاشق باند نظر کړه
دَ رقیب او دَ غماز خاورے په سر کړه
تا پخپله سپینه خولهٔ خوشحال ته وکړه
ګنړه دے دا هسے شونډے کښلول څوک

## مربع

دریغه بیا مو دوه په دوه وبله رازوے لا یو راز وئیلے نه دَ بل آغاز وے
ستا له لوریه واړه ناز له ما نیازوے
په مزه مزه خوارهٔ وئیل بار بار وے

همیشه په هغه خوئ کښے چه دِ خپل وو هغه خیال چه دِ دَ زلفو دَ وربل وو
داخسته خاطر م هسے لکه تل وو
فراغت بے غمه تا سره دمساز وے

چه به تا پیاله دَ میو را کوله ستا دَ شونډو دَ بوسے سره مِ څښله
زهٔ هم مست وے تهٔ هم مسته لایعقله
میخوری دِ په سر توره کریوان واز وے

له همه واړه عالمه وَز تړلے ستا له لاسه دما دم باده خوړلے
صراحئ خندا کړے شمع ژړلے
په جهان کښے خو دا دوه توکه انباز وے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دماغ کښې پرنده نا ستهٔ وي مخ برنده — التفات دِ له خودئ نه کړے وما ته
دَ خُواب په ځائے چه سوال وکړے وتا مه
زهٔ خسته دِ په ښکنځلو سرفراز وے

ښهٔ آواز کهٔ دَ بربط دَ موسیقار دے — یا دَ چنګ دَ مغني یا دَ مزمار دے
دَ رباب دَ چارتارے یا دَ بل تار دے
مهٔ وے دا ستا دَ چوړاؤ ښهٔ آواز دے

دَ وصال په کامرانئ دست رَس وے — لکه وه ترهغهٔ مینه یو په لس وے
په نیک خواه بانډِ ښادی هوا هوس وے
په بدِ یر غم کښې خهرهٔ زرده دَ غماز وے

چه ئے ولیدے دَ یار په خط وخال کښې — په هزار رنګه خوښئ ئے په وصال کښې
هومره غم بیلتانهٔ کښېښو په خوشحال کښې
مهٔ بیلتون وے مهٔ ئے دا سوز وګداز وے

# قطعات

راشه مهٔ کړه په دُنیا تهٔ اعتماد — دا دُنیا ده سرله سره بے بنیاد
په یوهٔ ساعت کښې هسے رنګ تیریږی — لکه تیرشی په یوهٔ ساعت کښې باد
شیرین عمر په هوس راځغه درومی — لکه سرهٔ زرچه څوک
نفس شدید خرګند غلیم راته پیدا شو — شیطان کرځی دشمنئ ئے پټ په غلا دَ
دَ غفلت له خوبه زر پا سه بیدا رشه
دَ همت نمری درتول کړه

له لسو پورته تر شلو پورے — ښځے دغه دی چه خوئے ګورے
له شلو پورته تر دیرشو پورے — دغه هم ښے دی کهٔ نهٔ وی نورے
تر دیرشو پورته خلویښتو پورے — زهرِ قاتل دی کهٔ څوځان ژغورے
ترشپیتو پورے ورله آنا ده — دَ لحد ورکړه وریسے پورے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ په مذهب دَ خوشحال ختک دی
کښېنه دَ تورو زلفو په سیورے

دَ مزریو نه خالی نۀ وی هیڅ ور
خدائے به ډیر پکښې پیدا کا شیر نر

دَ بی بی اولاد همه ګیدړ میدړ دی
په افضل به مَعظم لګی نظر

کۀ طالع ورسره مل شی ځان خرکند کا
بیا به هاله تهتریځ کا دَ پدر

خوږ دوه اویا مذهب و ته شا نۀ کړه
هو مره نۀ شوم خبردار دَ عشق لکیشه

ته به چیرې دَ خوشحال په خوږ خبرے
چه دِ بوئ تر سپیږے تیرنۀ ګلدریشه

په څو ډیر شوے دَ دُنیا پریشانه غمه
په هر زړهٔ دِ سیاهی پرے یسته محکمه

دَ هجران دَ لمبو تاؤ ترخلقو وخوت
دریغه دریغه دَ بهار سره شبنمه

په سر دِ سُور سالو دے
هم دِ کوره سره لمن

په خوسره سُور اور ځے
لکه ګل دَ لاله نن

چرګ چه بانګ کا په خپل وخت
څوک ئے نۀ بولی کم بخت

چه بے وخته بانګ آغاز کا
سیخ ته ورولی خپل رخت

رسوُل دَ طالب څوک کا ترمطلو به
درځۀ و بښیم په کوته هغه شوق دے

عاشق څکه دَ دلبر له چمه نۀ ځی
چه په غاړه ئے دَ شاه دَ زلفو طوق دے

چه دِ زړهٔ دَ یکرنګئ په ملک پرے میشت
کۀ څیره دِ شره کۀ زیره وار ذوق دے

په هر چرته چه نظر کړم یو یار وینم
په یمین کۀ په شمال کۀ تخت وفوق دے

اور دے سره سکروټه
پرے سینه کباب ځما شوه

زړهٔ عذاب دَ خیلخانے شوم
خیلخانه عذاب ځما شوه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه لیندئ ئے دی په غشی  خورنده وی په خواړهٔ
جاے اغوندی سپینے  بدئے نهٔ وُځی تر خولهٔ
دورنګئ پکښے نهٔ وی  لکه خولهٔ هسے په ځ ړهٔ
په خپلوئے نظر وی  په پردئ نهٔ کا کاتهٔ
په سترسحر بیدار شی  مشغولا کا په نما نځهٔ

جهان ترما قربان شه
زهٔ قربان شم ترهغهٔ

واورئ یارانو چه خوشحال خټک خهٔ وئ
دَ سپی آشنائی بنه ده نهٔ یاری دَ یوسفزئ

چه چا سره آشنا شی یا له ویرے یا له طمع
چه ځائے دَ کوتے مومی غبرګ لاسونه پکښے بیائی

د بادشاه دَ ژمی شپه وه په سموکښے  لیونی کړه درسته شپه په دوهه تیره
چه محنت په سری راشی هسے تیر شی  دَراحت ساعت هم نهٔ کا میشته ډیره

---

دَ سترګو په خنبلو یا سپاهی یا ناسپاهی  دَ خولے په پرزولو یا واهی یا ناواهی

---

جهان ډک دے له اغیارو ننداره کړه  پوکهٔ یو یار په جهان شته راتئے ښکاره کړه

---

یا یو زهٔ دَ درست جهان په لار فقط یم  یا دا درست جهان په لارے زهٔ غلط یم

---

چه رنځور درته محتاج نهٔ دے طبیبه  ښهٔ دَدهٔ دَ رنځ علاج کړے بے تقریبه
درویشان لکه ماران دی  هم مهره لری هم زهر
په آزارئے راضی مهٔ شه  چه اخته نهٔ شے په قهر
یو شان راته ښکاره شو  کار دَ شعر دَ شهرت
کهٔ دا دے کهٔ هغه دے  دواړه غواړی ښهٔ صورت

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ښهٔ حسن ښکاره شي     شګفته شي طبيعت
بل چه ښهٔ صورت وُويني     نور آنګيز وکا آلت
عزل بے غزاله نهٔ وي
جلق واههٔ شي ضرورت
په کاغذ به خط باقي په ډير مدت شي     تار په تار به دَ کاتب شيرين صورت شي
آه افسوس ارمان ارمان دے چه په مرګ به
دَ قالب دَ روح بيلتون په څهٔ زحمت شي

عادل بادشاه پيدا شو     اورنګ شاه دَ دين غم خور
عمل ئے په کتاب دے     له علماؤ ئے بيوور
خپل پلار تړي په عدل     په فتوىٰ وژني خپل رور
ښهٔ حق په ځاي وينه     تار په تار ئے کړ خپل کور
دَ دين طلب ئے دا دے     دَ دُنيائے په سر تور
دَ نکولي حاجت نشته     امرکان کهٔ مومي سپور
چه پښنه ئے په رکيب کړه     له دکنه شو راسور
له مخه ئے بلا تله     په جهان ئے بل کړ اور
کهٔ قحط کهٔ وبا وه     کهٔ جهان شو شورماشور
دَ دهٔ دَ نيت اثر دے
چه په درست جهان شو خور
مونږ محمدي يُو نحوست زمونږ ه نشته
تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰه هم په دا کښے مونږ څهٔ شته

مونږ هغه کسان يُو چه ژوندون موړ دے په سوړه
نن په کورستان دلستان وکښلے تورة

زرکهٔ هر څو ښهٔ دي ننګار ورلره بويه     لور کهٔ د بادشاه وي هم روزګار ورلره بويه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دوستانو په دوستئ نشته اُمید
دَ دښمن په تملق څهٔ اعتمید

په هر رنګ چه مِ لړے هسے به اوسم
ښه خو دا چه خپل خواهش له مینځه یوسم

کهٔ حساب شی کهٔ کتاب شی کهٔ پوښتنه
حال به څهٔ کړے دَ خوشحال ختک ښتنه

## مثنوی

له هرچا سره چه یو نفس قرین شوم
دَ هغوله خویه بویه په زړهٔ شین شوم

زړهٔ مِ خوږ په هیچا نهٔ شو په عالم کښې
له عالمه سره زیست کړم په ډیر غم کښې

خوَدَ سُود له مخه څوک را سره یار شو
چه ئے خپل مقصود پوره شو نور ویزار شو

چه ئے مخ په مخ له تا سره وفا وی
په قفا د سره خیر په سل جفا وی

چه ئے ښهٔ کړے هغه درسره بد شی
تل له تا سره په رخه په حسد شی

هرچه تا سره یاری کا نهٔ یاران دی
همګی واړه لړم دی یا ماران دی

څویه واړهٔ دَ زړهٔ رنځ دَ خپل بابا دی
لونړه کل دَ زړهٔ ژوړے دَ ماما دی

کهٔ دِ یار دے کهٔ دِ خویښ دے کهٔ دِ رور دے
دَ خپل ځان دے دَ خپل سُود دے دَ خپل کور دے

تش دَ خولے لباس مباس دے سره کیږی
دَ هرچا خاطر خپل سُود وته پړکیږی

دَ راحت په وخت سل لاڼے دَ یارئ کا
دَ محنت ساعت چه راشی ویزارئ کا

شاه جهان بادشاه څهٔ لږ نهٔ وو تمځلی
چه په بند شو همګی وو ځنے تللی

هے توبه! له دے جهانه تښے تښے
په صحرا کښې یک تنها ګرځیدے ګوښے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پینځم توک

POHA

# فارسی کلام

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیزار از مے پرستی توبہ فرماید مرا — اللہ اللہ وقت گل این توبہ میشاید مرا
ہر کہ از نظارۂ روئے بتان منعم کند — پند او گیرم بدل در دل نمے آید مرا
شوقِ زلفِ یار دارم بر جنونِ خویشتن — خود گواہی میدہم زنجیرے باید مرا
غم چو آتش دل سمندر وار میرقصد درو — راستی جز غم کنون خاطر نیاساید مرا
از جفائے خار بلبل بر نمیگردد ز گل
چون جفایش پیش بینم مہر افزاید مرا

نامِ لبت گرفتن شیرین کند دہان را — خوش وقت آنکہ بوسد پیوستہ آن لبان را
دردِ درون دل را اگر درکشم بپوشم — لیکن چہ چارہ سازم این چشمِ خونفشان را
از لولو دو گوشش کامے ہر آنکہ دارد — از ما رسان سلامے آن نیک اختران را
آن گفتگو کہ باشد جز ذکر روئے آن بت — نامردم ار نہ بندم زین گفتگو زبان را
برخالِ آن نگارے شہرے دہم دیارے — آن عاشقم کہ بازم برخالِ او جہان را
مجنون و ذکر لیلےٰ فرہاد و یاد شیرین — در پیش شان چہ خوانی صد گونہ داستان را
در کار عشق بازی مجنون وقتِ خویشم — جز خونِ دل چہ آرم بیوقت مہمان را
در دل خیال رویت مہمان ہم لیلےٰ — در دہ ز عشقِ لیلےٰ برباد خاندان را
در ہر رہے کہ بیند کو ہی سگانِ کویت
بر چشم خود گذارد پاہائے آن سگان را

نوبہار و مے و معشوقہ و جام ست اینجا — زہد و پرہیز و ورع را چہ مقام است اینجا
قصہ کوتاہ کہ در مذہب ما اے صوفی — غیر مے ہر چہ بود جملہ حرام است اینجا
یا رب آن مغبچہ را ہیچ گزندے مرسان — کہ برویش نگران خاص و عوام است اینجا
شاہ من تند بران رخش کہ بس مردمِ شہر — بہر نظارۂ تو بر در و بام است اینجا
پیشم از مشک خطا دم مزن اے مشک فروش — کہ پر از نکہتِ آن زلفِ مشام است اینجا
می نوازم نئے خوش لحن بجادوئے نفس — آہوئے کوہ و بیابان ہمہ رام است اینجا
یا نوائے سخن ننگ مگوئید دگر — مست عشقست نہ ننگ است نہ نام است اینجا

*

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



از و دل برگرفتن کار من نیست — که از جان سرگشتن کار من نیست
چمن را گرچه گلها بس شگرف است — ولے ہمچون رخت گل در چمن نیست
مرا گوئی بگو وصفِ دہانم ! — چگونہ چون درو جائے سخن نیست
من و سودائے رویت تا کہ ہستم — اگرچہ خود ترا پروائے من نیست
غمت تا در دل و جانم وطن کرد — مرا در کوچۂ شادی وطن نیست

چرا خوشحال را پرسی کہ چونی
مگر از چہرۂ او مبرہن نیست

این زر و زلفِ سیہ خم نجم است — دستۂ سنبل و نسرین بہم است
لالہ ہرچند کہ زیبا ست بباغ — پیش رخسار تو بسیار کم است
غم از آن ست کہ میرم بہ اجل — گر ز تیغ تو بمیرم چہ غم است
بجز از من بکسے جور مکن ! — زانکہ جور تو سراسر کرم است

از جفاہائے بتان گر میرم
تا نگوئی کہ نکوئے کرم است

پیر فرتوت و ضعیفم دیدہ بر خوبانِ وقت — یا منم سلطان وقت و یا منم شیطانِ وقت
میرسد صیتِ بہ گوش اہل دل شام و سحر — اینکہ درمانم نشیند عاقبت چندانِ وقت
آہ واویلا کہ دیدم بے ثبات و بے بقا — عمر چون باد و بہار و عیش چون پیمانِ وقت
نالۂ مرغانِ این گلشن بمن معلوم شد — آہ و فریاد و فغان دارند بر بستانِ وقت
دشمنِ وقت خودیم و خود روا داریم ما — صد ستم از دست خود در ساعت جانانِ وقت
چون ز دستت شد بدر مانند تیرے از کمان — باز در دستت نیامد ہیچگہ تاوانِ وقت

میزنم خوشحال خرم ہر زمان بر یاد دوست
گرچہ از ما بردہ نقد وصل را ہجران دوست

بیرون زیادِ لعل تو گر لالہ در دل است — داغ دلِ خراب از آن لالہ حاصل است
باران دیدہ را بہ تردد ہمے دہم — خلقے بگشتِ باغ و مرا پائے در گل است
از کشتہ پشتہ پشتہ درین رہ بہر طرف — یا رب نگاہ دار چہ خونخوار منزل است
ماندن زیادِ دور وشب و روز زندگی ! — یک لحظہ دور بودن من زہر قاتل است

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیر آمدن زجان خود آسان بود بسے — سیر آمدن ز روئے بتان سخت مشکل است
انگشت عیب جوئے بجائے نمیرسد — درحسن و درجمال بغایت مکمل است
مستور گشت شاہد و معلوم شد شراب — افغانِ من ز دستِ شہنشاہ عادل است

از دستِ دل خجل شده ام آه چون کنم
پیرانه سر جنون جوانی که در دل است!

دلم ربودهٔ آن زلف وخال و ابروییست — چه خوش ہلال چه خوش دام و دانه دلجوییست
لبت مسیح صفت مرده را روان بخشد — عجب طبیب طبیعت شناس ہر خوییست
مرا که دل بشد از دست اے نصیحت گوئے — گذر ز بیہوده گفتن بیا دم آن کوییست
گذر ز قصهٔ فردوس وجنت طوبے — که این متاع گرامی بہائے یک موییست

اگرچه تیر عدو جانستان بود خوشحال
مرا خدنگِ بلا آن دو چشم جادوییست

شاہِ مرغان شکاری باز است — آنکه محبوب شماری باز است
آنکه بردست شہان دارد جائے — بوالعجب صنعت باری باز است
کوہید بحری وشنقارِ ترا — گر بما باز گذاری باز است
ہمه مرغانِ شکارند بکار — راستی از ہمه کاری باز است
آنکه از چنگل خود نگذارد — دلِ این خسته بخواری باز است
مال و اسباب جہان جملهٔ ترا — بومنِ تحفه گزاری باز است
دل به مرغانِ ہوا نسپاری — اے پسر ورنه سپاری باز است

شاد و خوشحال در آندیم باشم
بینم از ورکه در آری باز است

وصل او با محنت ہجران خوش است — درغمت گراین بود گر آن خوش است
چون مراد ما نشد حاصل ز وصل — از وصالش حاصلم ہجران خوش است
درجہان چون راز دار کیمیا ست — راز او در سینه ام پنہان خوش است
اشک راغماز میدانیم ما — چند گوئی دیدهٔ گریان خوش است
مشک سلطان و منم درویشِ او — مہر شاہان ہان بدرویشان خوش است

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



گه عتاب وگاه صلح وگاه جنگ
این همه از جانب خوبان خوش است
ناصحا از ما نصیحت وا بگیر
درد سر دادن لعاشق ...ن خوش است
زخم تیغ عشق را درمان مجو
زخم تیغ هجر بے درمان خوش است
درفراق روئے او خوشحال را
روز و شب با ناله وگریان خوش است

ایزد چو چشم شوخ بتان را بیافرید
جادوئے بردنِ دل وجان را بیافرید
تا صید عاشقان کند از بهر دلبران
زانروئے پلک تیر وکمان را بیافرید
نازم بقدرتش که چو آئینه حلب
صافئ جان سنگدلان را بیافرید
بنگر که باغبان قضا در ریاض حسن
سرو روان غنچه دهان را بیافرید
گویا برائے خاطرِ عشاق در ازل
سیمین بران و موے میان را بیافرید
میخواست تاکه قدرتِ خود را عیان کند
فصل بهار وفصل خزان را بیافرید
کوهی اگر زمانه فرستد بزار غم
از غم چه غم چو رطل گران را بیافرید

باش تا امروز را فردا کند
عیب پیری عیب ما پیدا کند
مرگ مے پوشد خداخیرش دهاد
ورنه پیری شخص را رسوا کند
برسر ما هرچه راند گو بران
عقل کامل کارکے اینجا کند
من بهمان مرغم که از شاخے لشاخ
برنشیند بر پرو ماوا کند
درمیان خرقه پوشانیم ما
چون شه کز خود لباسے واکند
برفراز نه فلک پرواز ماست
باز تا شهباز ما پردا کند
آمدم خوشحال وخوشحالم هنوز
بخت با من مرحبا ابلا کند

چشم مخمور تو آخر کار کرد
زاهد صد ساله را مے خوار کرد
من مگر از حالِ عشق آگاه نیم
شیخ صنعان را ز دین بیزار کرد
سخت مے پیچد برو عشقِ بتان
هرکه امروز از بتان انکار کرد
باز را در بند عشق آورده است
شیر را در بیشه عشق آشکار کرد

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



در درونِ عاشقان راز نہان — عشق اندر کوچہا اظہار کرد
عاشقِ بیچارہ اندر عاشقی — برجنون خویشتر اقرار کرد
روئے زرد و آہ سرد و چشم تر
عشق کوہی راچنین بیمار کرد

حدیث روئے او با من بگوئید — بہ بلبل از گل و گلشن بگوئیہ
بہ آن چشم و نہ آن مژگان نہ ابروست — بلائے دین و جان وتن بگوئید
زسیل اشک من پروا ندارد — دلست این سنگ یا آھن بگوئید
شب وصل است مو آنجا نماندہ — تو کے گنجی بہ پیراہن بگوئید
زلعل شکرین او نباتے
بکوہی میرسد من من بگوئید

POHA

خال مشک آسائی تو آسایش جانم ربود — ترک چشمان تو غارت کرد ہیشم ہرچہ بود
صورت چین ہر کجا بینم بسانِ برہمن — مے برم بر یاد رویت پیش آن ہر دم سجود
عاقبت خود را زشاخ افگند از شرم رخت — گرد داز وے درچمن گل رنگ و بوئے خود نبود
ما بدشنامے زتو خرسندم وخرم زبخت — صد سعادت از زبانت ہرکہ دشنامے شنود
باوجود وسعتِ کامِ دل وجمع بتان — زاہد افسردہ دل درکنج تنہائی غنود
ما زیانِ عاشقی بگزید زاہد سود زہد — آن زیان را دوست میداریم زین بیہودہ سود
قتل کوہی را بہ تیغ غمزہ خواہد آن نگار
کاش باشد این کرم ایدوستان زانشوخ زود

لالہ درموسمِ بہار بود — عیش با روئے گلعذار بود
بارخ وزلفِ او سرد کارم — در شب و روز روزگار بود
آہوئے چشم تو چہ آہوئیست — کہ دراشیر نر شکار بود
رخِ تو ہمچو نو شگفتہ گلیست — عندلیبان او ہزار بود
قدِ تو در میانِ دیدہ ما — ہمچنان سرو جوئبار بود
وقت آن خوش کہ بعد ہجرانت — یار ہمچون تو درکنار بود
قصہ درد ماچہ مے پرسی — حالم از چہرہ آشکار بود

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



همچو خوشحال عاشق رخِ تو
نیست ممکن که در دیار بود

مرا بدور لبت باده یاد مے ناید
بیاد روی تو گل در فواد مے ناید
چرا بشهر دگر پا برهنه نگریزم
که در ولایتِ تواز تو داد مے ناید
مرا ز روئے بتان سوئے خلد میخوانی
برو برو که زمن این فسانہ مے ناید
چه جائے قاصد و پیغام و نامه و مکتوب
زکاتب تو بسویم جو باد مے ناید
بحق زلف دل آویزت اے پری پیکر
که غیر خالِ تو ام در سواد مے ناید
اگر بکشتنِ خوشحال مائلی برخیز
کزو بغیر رضایت عناد مے ناید

هر که در کوچهٔ آن ماه مکانے دارد
کفر محض است اگر میلِ جنانے دارد
کام دل یافت که از چشمهٔ خضر افزون است
آنکه از لعل لبت روح روانے دارد
شانه را وصفِ دو زلفین سیاهت شاید
که بهر موئے ازین شیوه زبانے دارد
اے نسیم سحری غنچه دل را بکشائے
بلبل سوخته دل باز فغانے دارد
کنج وصلش که درو هر دو جهان زان گنجے
نیست این گنج که اکسیر بیانے دارد
گر نیم اهل ورع عیب من اے شیخ مکن
هر کسے در دلِ خود زعم و گمانے دارد
چند پرسی که ترا تیر ز شصتِ که رسید
آنکه او زابرو مژه تیر و کمانے دارد
تو مپندار که تنها دلِ خوشحال ربود
کیست که او عاشقِ او نیست که جانے دارد

با تو خلوت برگزینم در تو بینم سیر سیر
گرچه وقتِ نوبهارست با وجودت هیر هیر
پنجروزے بیش نبود صحبت گل با هزار
اے دریغا در گلستان گر بماندے دیر دیر
آهوئے چشمِ تو از شیران عالم دل ربود
گرچه با شیران ندیدی هیچ آهو چیر چیر
گفتم اے ایجان جهان از من گهے یاد آیدت
گفت وقت قتل مے آئی بیادم ڈیر ڈیر
مے نیاساید دمے خوشحال بیدردت بلے
لشکر درد تو اکنون کرد دل را زیر زیر

خه خه بخ بخ دلداره وفاجویه غمگساره

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه کنم چه چاره سازم
چه دِ زړهٔ کړم راکناره
بکه گویم از فراقت
چه مِ زړهٔ شهٔ پاره پاره
نکنه بدل سرایت
کهٔ زاری کوم بے شماره
گر از فرقتت بمیرم ؛
لا بهٔ خوبن شے له دے کاره
تو چه سنگدل نگارے
چه مِ ستا وکړه نندارة
بعشاقِ بے سرو پا ؛
ستم مکړه ستمګاره
به نگاه گا گاہے
مهر کړه دَ خدائے دپاره
اے نگارِ من حذر کن
دَ وېشتلیو دَ آشاره
نه رود ز در گہے تو
کهٔ خوشحال شہ کہ سل واره

بکامِ دل نرسیدم ببوئه زلبش
اگرچه جانمن آمد بلب درین طلبش
نگارمن غضب آلوده من زساده دلی
بقهرخنده وے اگه نگشتم از غضبش
دوهفته شدکه درون پر زکین من دارد
ازینکه ماه تمامے نهاده ام لقبش
زحور زاده پرے شکل کار آدم نیست
چه حاجت ست که پرسم زنسل و زنسبش
بکوئے آن صنمے رفت دل نیامد باز
زباز نامدنش شد دو زلفِ او سببش
گہے بروئے ربایدگہے بزلف کشد
بدل ندارد کارے جزاین بروز شبش
زتیغ غمزهٔ او سرمناپو خوشحالا ؛
فزون زکشتنِ عشاق مے شود طربش ؛

یارمن یار زاغیار نمیداند حیف
قدر یاران وفادار نمیداند حیف
جز جفا وستم وجور که میداند خوب
مهر را اندک وبسیار نمیداند حیف
آنچنان بیخبر از بادهٔ دوشین دیدم
کین زمان هست زهشیار نمیداند حیف
رنج وبیماریم از نرگس بیمار ویست
سنگدل پرسش بیمار نمیداند حیف
روز وشب درغم او خون تره میرانم
حالتِ دیدهٔ خونبار نمیداند حیف
یکدم از گوش کنے باتو دو حرفے دارم
دلبران حال دل زار نمیداند حیف
لطفهائے که زمعشوق بعشاق سزاست
روبهیا جمله بیکبار نمیداند حیف

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه برچشم نشین ای شاهِ خوبانِ چگل — لمعهٔ خورشید را برچشم باشد جای تل
تاویل قند و نبات و شهد یکجا دیده ام — آری آری آن دهان و آن لبان و آن ویل
سر دهم تا هرچه فرمائی ترا فرمان رواست — از تو حکم ای بادشاه مهوشان وز ما منل
زار و قربان تو گردم گر به تیغ خود کشی — نی به تیغ دیگران خونم ترا باشد بهل
نن بمن میگفت در کویتو میرفتم رقیب — شوخ چشمی بر نمی گردی ازین کو بر شپل
چون به تن گشتم ضعیف و لاغر و خوار و نخیف — نیست اندر فرقتت خوبا مرا خواب و خول
تا جفا و جور از حدِ نهایت بیش کرد — من نیاز و عجز و زاری میناییم یو په سل
تل صبا بیگاه آه و ناله و فریاد ماست — بر دلِ سختت نشد تاثیر زاری وش بل

هیچرے مثل تو دلبرے نیاید در نظر
زان سبب خوشحال میل دل نمیدارد به بل

به پیش رویت ای نازکبدن گل را چه یاد آرم — به پیشِ لعلِ میگونت می و مل را چه یاد آرم
به پیش قامت دلجوی و پیش زلف شبگونت — نگارا درختِ سرو و سنبل را چه یاد آرم
چو شد یکبارگی در عشقِ مهرویان دل از دستم — دگر ای پندگو صبر و تحمل را چه یاد آرم

چو روهی در حدیث آید نبات و شکر افشاند
در آن دم طوطی خوشگوی و بلبل را چه یاد آرم

چون نظر برحال خوبان داشتم — تخم غم را در دِل خود کاشتم
تا شدم مفتون زلفِ آن نگار — خود برسوائی علم افراشتم
خوبرویان را وفا کمتر بود — بر غلط بود آنچه من پنداشتم
گوش از آن کردم بقول پندگو — از تو میگوید سخن انگاشتم

روهی ام از پیشی خوبانِ چگل
میروم دل پیش شان بگذاشتم

شمع سان سوختن آموختهام — چهرهٔ خویش برافروخته ام
تا سحر آه کشان ناله کنان — فرق تا پای بدل سوخته ام
نیست یک لحظه زعیشم خبرے — همه اسباب غم اندوخته ام
نام خوشحال و خوشے نادیده — واژگون نعل مثل دوخته ام

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلطافتِ رویت چو لاله در بستان / زہے طراوت حسنت چو گل تر و تابان
زہے قدرت کہ بسر و التفات او نبود / زہے چہ ذقنت چاہِ یوسفِ کنعان
زہے دو زلف کجت تیرہ روزگاران را / سلاسل ست ہمہ اُفتادہ اند در آن
بگاہ خندہ چو لبہائے خویش بکشائی / در و جواہر و یاقوت می شود ارزان
کرشمہ کن و بخرام و طرف بستان آئے / کہ در ہوائے تو گلہائے گلشن اندگران
زحسن دلبری و خوبی و کرشمہ و ناز / ہمہ تو داری اے دلبری و شاہِ بتان
بہ این لطافت و خوبی دریغ وافسوس است / کہ نیست در دل سنگین تو زمہر نشان

بزلف و خال تو روئی ہمی مگر سرے دارد
کہ شد شکنج پریشان و تیرہ و ژولان

ہر کرا یار وفادار گزید این دلِ من / غیر نومیدی از و ہیچ ندید این دلِ من
از غم و غصہ ہر ناکس و کس ہیچ نشد / ہست از آہن و فولاد پدید این دلِ من
ترک مقصود بمقصود رسیدن باشد / شکر للہ کہ بمقصود رسید این دلِ من
عاشقی چیست غم و درد و بلا بودن / سالہا شد کہ ز روئے تو کشید این دلِ من
اہل نایاب چو عنقا شدہ در دورِ قمر / زین سبب از ہمہ آفاق برید این دلِ من
سینہ را کرو تہی از غم ہجران شب و روز / از رہِ دیدہ بدامان بچکید این دلِ من
شاہبازست کہ ہر ساعتِ شہ را شاید / گرچہ بیہودہ بہر گوشہ پرید این دلِ من

سینہ را چاک کنم حالِ دلِ خود بینم
ہمچو خوشحال چہ در گوشہ خزید این دلِ من

دل طلبگار تو چندانست چو مطلوبی تو / جان خریدار تو چندانست چو محبوبی تو
کانِ حسنی و لطافت ہمہ سر رشتہ ناز / چشم بد دور ز شائستگی خوبی تو
سرو در باغ سر افگندہ از آن ست کہ او / قامتِ راست ترا دید و خوش اسلوبی تو

رو ہمیا یوسف عہدست نگارِ تو و لے
نیست آگاہ ز دردِ دلِ یعقوبی تو

مارا چو دل بعشق نگارینہ شد گرو / اے ناصح این چہ درد سرے میدہی برو
ما مست ساغرِ مئے عشقیم پیش ما / این وعظ و این نصیحتِ عالم بہ نیم جو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چشم و چراغ دیدهٔ عمدیدٔ چون تونی
بهر خدا که لحظه ز چشم نهان مشو

هان ای دلِ رمیده صیاد چشم او
چون صید زخم خورده اگر میدوی بدو

با هردو دیده آفت دین و دل آمدے
با هردو لعلِ آفتِ جان و تنم مشو

روهی قماش شعر تو نوکهنه زا صفے
فرق معین آمده از کهنه تا بنو

ای شیخ این چه حجت و برهان نمودهٔ
این دلقِ رقعه رقعه که برخود فزودهٔ

پیوند غصه هائے تو بس نیست ای عجب
پیوند هائے دلق بر آن برفزودهٔ

این دلق طیلسان تو چندان بکار نیست
چون واقف از رموز محبت نبودهٔ

ما زهد خشک از تو بیک جو نمے خرم
ور زهد خشک خویش زا جناس بودهٔ

بیرون برآ ببین که جهان بر تو تنگ نیست
تا کے درون گوشهٔ خلوت غنودهٔ

عفو خدا ز جرمِ من و تو زیادت است
لا تقنطوا از آیتِ قرآن شنودهٔ

مخمور عشق باش چو خوشحال تا بکے
مغرور زهد و شیوهٔ شیطان ربودهٔ

بخط نور سید آن نور سیده
بقتل عاشقان خط برکشیده

بدین غنج و دلال او را چه خوانم
درون تن روان و نور دیده

ز آب و گل نظیر او چه جویم
که رضوان اینچنین حورے ندیده

بکام هردو عالم دست دارد
هر آن کو آن لب میگون کمیده

همه روح و همه لطف ست خوبی
بنامِ ایزد چه نیکو آفریده

ز روهی میرود آن گلشن حسن
ز گلزارِ رخش وردے نچیده

لبت از آب حیوان آب برده
رخت نور از رخ مهتاب برده

ندانم در دو چشمِ او چه جادو ست
که از چشمانِ عاشق خواب برده

بتاب زلف و بیچ جعد مشکین
صبوری از دلِ بے تاب برده

گر آن بت را چو محراب است ابرو
منم چون سجده در محراب برده

بعارض دل بچشمان دین بلب روح
سلامت را همه اسباب برده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه تنها دل ز خوشحال خټک برد
که زهد از دستِ شیخ و شاب برده

اول به تیرِ غمزه دلم را بدوختی — آنگه کرشمه کردی و جانم بسوختی
ما بر سر آمدیم چو پروانه جانفشان — چون شمع چهرهٔ رخ خود را فروختی
گفتی که بوسهٔ رخ خود را بجان دهم — وا یوسفِ جمال به ارزان فروختی
آثار غمزهٔ تو اثر برهمه نکرد
از تاب غمزهٔ دلِ روهي بسوختی

ای دلبر لاهوری — بالله که برخ اوری
خوبان جهان پیشت — چون پیش مه ستوری
پروانهٔ شکر دارد — آنرا که تو مے زوری
خواهی که کنی شادم — یکخنده بدین لوری
غمهائے تو برجانم — چون ابر اسد اوری
عالم به تو مے بینم — در دیدهٔ من توری
مے جنگی و میخندی — اینها ست زخمسوری
سودائے رخ خوبت — اندر دلِ من شوری
در کوئے تو چون کوهی
صد شیفته سر توری

برو عالم عیان بودے چه بودے — برایم یک زمان بودے چه بودے
وصال او که چون عمر عزیز است — دریغا جاودان بودے چه بودے
دریغا دائماً پے کان تیرش — مرا در تن چو جان بودے چه بودے
لب لعلش چو کانِ انگبین است — نصیبم زان دو کان بودے چه بودے
برغم مدعی گه گه نگاهے — بسوئے عاشقان بودے چه بودے
خدا در دل بتان را مهر دادے — و یا صبر از بتان بودے چه بودے
بکوئے او که ره دارند روهي
زخیل آن سگان بودے چه بودے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بگردِ کوئے تو کشتن مرادِ ما دے
بود کہ روئے تو بینم کہ کعبۂ ما دے

من این جمال ترا خود مثال کے یابم
کہ خود جمال تو از مہر و ماہ پیدا دے

منم کہ غیر ترا در جہان نے بینم
خلاف نیست خبردار حقتعالےٰ دے

نے شوم متحمل بروز وعدۂ وصل
بیا بیا کہ دلم خوار و زار بے تا دے

بہ آرزوئے تو چونم بگویم اے مہ من
چنانچہ تشنہ و اُبوتہ ناشکیبا دے

گمان مبر کہ زعشق تو بگردد خوشحال
چراکہ بر رخ خوب تو دیر شیدا دے

بہارگشت در افغان ہمان کہ میدانی
بنوش مے برخ آن ہمان کہ میدانی

برائے دفع گزندِ پری رخان خواہم
شوم بر آتش سوزان ہمان کہ میدانی

بغیر وصل تو مارا قرار حاصل نیست
رسد ز شصت تو برجان ہمان کہ میدانی

مرا کشی و بدل نا ورے زکشتن من
کہ عدل باشد و میزان ہمان کہ میدانی

نظر بروئے تو روہی زدور میدوزد
تو خوش نشین بحریفان ہمان کہ میدانی

خود را بروئے خوب چو مفتون کند کسے
وانگاہ یاد محنتِ مجنون کند کسے

کائی بچشم آدمیان آن پری نہ!
از بہر دیدنِ توچہ افسون کند کسے

ساقی بیار بادہ کہ فرداست آن ظہور
دل را ز بہر نسیہ چہ محزون کند کسے

بیگانگیست مذہب خوبان بہ آشنا
باور بعہد و قول بتان چون کند کسے

با داغ دل چو لالہ درین باغ زادہ ایم
از ماست ہر کہ زاویہ درخون کند کسے

دارم متاعِ دُرِّ گرانمایہ کے دہم
سوداگر بملک فریدون کند کسے

دیدیم عطائے چرخ از آن توبہ کردہ ام
باشد روا کہ منت گردون کند کسے

آدم صفت ز روضۂ رضوان بدر شوم
مارا اگر ز کوئے تو بیرون کند کسے

اول وفا نکرد بہ خوشحال بینوا
رسم وفا بجاست گر اکنون کند کسے

دلم بردی کنون در قصد جانی
بکن بسم اللہ اینک ہرچہ دانی

بہ تیغ غمزۂ تو گر بمیری
بیابم از تو عمرِ جاودانی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لبانت راچه گویم در دو زلفت ‏ ‏ میان ظلمت آن زندگانی
وصال آن پری روایگان نیست ‏ ‏ بباید باختن جان رایگانی

اگر روهی ترا در دل الم نیست
چرا از دیدگان خون میچکانی

لطف بیحد و بیعدد کردی ‏ ‏ اینکه قتلم به تیغ خود کردی
تیغ تو آب زندگانی داشت ‏ ‏ کشتی و زندهٔ ابد کردی
ہر جفائیکه از تو بر دل ماست ‏ ‏ صد وفا را برو حسد کردی
فارغست از سریر و افسر و جاه ‏ ‏ کز گدایانش نامزد کردی
دل ز من خواستی و جان دادم ‏ ‏ جا نمن باز گو که بد کردی

چه شرابیست اینکه روہی را
به یکے جرعه بیخرد کردی

من آن صیدم که بر فتراک بستی ‏ ‏ به تیر غمزه جانم را به خستی
غبار بودم و دامان بدستم ‏ ‏ تو چون بادے ز دست من بجستی
نخواہم یکزمانے زیست بے تو ‏ ‏ که در چشم بجائے جان تو ہستی
چسان زین جور جان تسکین بیابد ‏ ‏ مرا کشتی و بے پروا نشستی
نمکدان دلم از خون تہی ماند ‏ ‏ نمک خوردی نمکدان را شکستی
بجان مشتاق دیدار تو ہستم ‏ ‏ یکے بنگر ہمے دانم که مستی

ترا خوشحال این دولت پسنداست
که پیش پائے او چون خاک ہستی

من مظلوم را بر ہر نگاہے ‏ ‏ تظلم میکند آن کج کلاہے
چه مے پرسی که چونی در غم دوست ‏ ‏ دو چشم خونفشان دل پر ز آہے
دلم چون بلبل شوریده در وے ‏ ‏ دلم چون جالهٔ خاشاک و کاہے
دلاور عاشقے بنگر بعالم ‏ ‏ که دارم ہمچو من حال تباہے
نظر بر روئے خوبان گر گناہست ‏ ‏ ندارد طاقتے بس جز گناہے
بران لب خال مشکین راچه خوانم ‏ ‏ دوکان قند و ہندوئے سیاہے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نداریم طاقت روز جدائی
فغان گر بگذرد این سال و ماہے
توا ے بر راہ او افتان و خیزان
ز دور بر متاب از داد خواہی

چشم ظاہربین مردم مردم چشم سراست
عاشقان را در درون چشم چشم دیگراست

سوسن آزادہ دارد دہ زبان در حمد او
راستی درباغ و صحرا ہر گلے پیغمبراست

دل کہ قانع گشت او را گنج قارون گو مباش
گر نبارد ز آسمان باران غم نیلوفراست

من غلامِ ہمت آن کو طمع را سد بہ بست
گرچہ نان جو ندارد جانمن اسکندراست

شیوۂ جود وکرم ہرکس کہ دارد حاتم است
آنکہ نستاند نخواہد او زحاتم خوشتراست

شاہ باش و میرباش و عاقبت ہیچ است ہیچ
از برائی عشرتِ دہ روز این شور و شراست

برفراز چرخ بالا برشدن دشوار نیست
ترک دنیا در ز بالا برشدن را شہپراست

نفس نافرمان درونم دیو بیرونم غنیم
از کجا یابم رہائی من کہ ہرسو چنبراست

داغ گون جامے ست چرخ نیلگون ہمچون حباب
تا نہ پنداری کہ درجامِ نگون شربت درست

دل منہ بر دنیاؤ برجاہ و براقبال او
بیوفائیہائے دُنیا پیش دانا اظہراست

ملک سنجر از حدود کاشغر تا شام بود
ملک ازآنِ دیگران ماندہ و نام سنجراست

در درون گور او باشد مگر عظمِ رمیم
گرچہ گور بادشاہ ملک ازخشتِ زراست

عاقبت برخاک خسپی زیر سر بالین خشت
گر ترا بلغار بالین وز بریشم بستراست

بگذارند در دل این اندیشہ خواہم شد ضعیف
ہرکہ در ناز و نعیم دہر رون تن پرورست

زہر در کاست بریزد زینہار از وے حذر
با تو از راہِ خدیعت خصم شیر و شکرست

یار آن کز وے ترا یاری رسد در وقت کار
ورنہ منگر روئے او ہمچون درخت بے برست

باغبانا از خزانِ وے یکے اندیشہ کن
گرچہ در وقت حمل باغ تو با زیب و فرست

حرف خاص از بہر خاصان حرف عام از بہر عام
گوش نامحرم سروش غیب را کے درخورست

معصیت مقبول طاعت رو چہ استغناست این
کس ندارد دم زدن اینجا کہ حکم داورست

قاصد آمد از دیار یار من آورد خط
گوئیا ہر حرف او خوشبو ز مشک وار فرست

یار در عالم نماند از ہیچکس یاری مخواہ
درچنین عہدے کسے کو یار میخواہد خبرست

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



عهد بے تدبیر و بیداد و دهش انصاف تو | حُبَّذا و وا به میزد چه صاحب افسر است
تا چه بازی رخ نماید تا چه آید از فلک | ماه بختم در محاق و مهره ام در ششدر ست
شاه عالمگیر را باید ثبات عدل و داد | گر ندارد این دو چیز آخر زوالِ کشور ست
قیمت گوهر نمیداند مگر گوهر شناس | از زبان مرد صاحبدل سخن چون گوهر ست

راستی را پیشه کن وانگه دمے مردی بزن
مرد گرے بود درعالم چو شاه خیبر است

منکه خوشحال ختکم زچه رُو | منت سفله و رزاله کشم
وقتِ مردن ز دستِ بر دونے | شربتِ آب زندگی بچشم

یک نیمه بلهو عمر باطل بگذشت | برخے بغم شکل و شمائل بگذشت
اے دل پس ازین مباش چون بیخبران | از بهر خدا که عمرت از چل بگذشت

امروز به از قصر شهان خانۂ ماست | چون آن بتِ بگذیده بکاشانۂ ماست
گنجے که بکنجِ ویران طلبند | اینجا بطلب که کنجِ ویرانۂ ماست

پیرے که در وقوت و اورا کے نیست | وز عشق بتان در دلِ او جا کے نیست
ریش پدرم سیاه در عمر دراز | ریش من اگر سفید شد باکے نیست

* ..........

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم توک

# فضل نامه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

کل ثنا په هغهٔ شائی　　چه ثنائے هرڅوک وائی
کهٔ څوک کوز دی کهٔ څوک پاس دی　　دَ دهٔ واړهٔ په سپاس دی
چه موجود ترماهی ماه دی　　په وحدت دَ دهٔ گواه دی
کهٔ مومن دی کهٔ کافر دی　　په خدائی دَ دهٔ مُقر دی
هسے لوئے عظیم بادشاه دے　　چه آسمان دَ دهٔ مزکاه دے
مزکه فرش ورباندِ غوړولے　　ځائے په ځائے لکه میخونه
دا همه دَ دهٔ صفت دے　　چه دَ ملک زیب و زینت دے
په سجود ورته حجر دے　　په قیام ورته شجر دے
دهٔ آفتاب هسے رخشان کړ　　دهٔ مهتاب هسے تابان کړ
دے دَ مزکے مخ زیبا کا　　برے زیبا گلونه وا کا
خولے ته خوند ورکړے دهٔ دے　　توان دَ شخوند ورکړے دهٔ دے
بګړه غوبنه دے گویا کا　　قطره وازده دے بینا کا
دے شیخان مناجاتی کا　　دے رندان خراباتی کا
دے بنا نست ورکا وگل ته　　دے پرے عشق ورکا بلبل ته
دے آواز کبنیږدی په نے کښے　　دے مستی کبنیږدی په مے کښے
دے افسر ورکا خروس ته　　ښهٔ منظر ورکا طاوس ته
دے آهو ته نافه ورکا　　له غوایهٔ پیدا عنبر کا
دے آواز ورکه رباب ته　　دے گداز ورکا گلاب ته
دے پیدا که نازنینے　　آهو چشمے مه جبینے
دے عاشق باندِ شیدا کا　　عاشقی باندِ پیدا کا
دے باران وکا یا واوره　　مرغزار کړهٔ سپین خاوره
اول شنهٔ بوټی پیدا که　　بیا گلونه باندِ وا که

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا دے بوټی کښیږدی په ګل کښې
ښائسته، کاندی باغونه
خو دَ باغ دَ بوستان ونې
واړه و ونو ته بار ورکه
ونې پیږو په انګور کې.
چه باران نے دَ احسان شی
لکه ګل خوږم تازه شی
چه دَ دۀ دَ احسان خوان خوری
هم عاصی باندې مرېږی
چه په تخت کښینوی دے دے
کۀ کوم په عزازیل کی
کۀ آدم اچوی اور ته
بادشاهی کۀ په منی دے
نۀ دَ دۀ دَ ملک زوال شته.
سلطنت نۀ لا یزال دے

ښکلي پاڼې و پاڼه [illegible] کښې
پاڼه ګلاوڼه هم [illegible]
لونے کښې [illegible]
لون لون اثمار ورکړه
توروسپین په لذت پوره کړه
په حنظل په سیب یکشی
ښاد په نم تازه شی
واړه خلق نے یکسان خوری
هم تقی باندې رسیږی
چه له تخت لوړوی ته دے
نشته، څوک چه قال و قیل که
څوک به سرنه کا ورپورته
ذات دَ دۀ دے چه غنی دے
نۀ نے مل نۀ نے څوک سیال شته
لایزال دے ذوالجلال دے

## صفت دَ پاک رسولؐ

مشک ګلاب دواړه سره کړه
ورک دَ ښکلي خولے بوئی بد کړه
چه دَ دوه کونو بادشاه دے
دَ دۀ حکم په هر جنس دے
دے په خان دَ علم کان دے
دے منذر دے، دے بشیر دے
کۀ تورنیت کۀ انجیل ښکلی
په وار وار پورے قرآن راغے

خولۀ صفا په غرغره کړه
بیا ثنا دَ محمدؐ کړه
محمدؐ دَ عبد الله دے
کۀ ملک کۀ جن کۀ انس دَے
نازل شوے پرے قرآن دے
شریعت نے بے نذیر دے
په وار وار په رانلۀ ښکلی
نجم نجم شان شان راغے.

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په داچه دے کامل وو | درست قوت دَ دهٔ حاصل وو
هر آیت به چه نازل شهٔ | درست به ځائے دَ دهٔ په دل شهٔ
دَ نسیان ویره ئے نهٔ وه | دَ نقصان ویره ئے نهٔ وه
دَ موسیٰؑ کهٔ دا قوت وے | دَ عیسیٰؑ کهٔ دا فطرت وے
خله تورێت وانجیل دواړه | کښلی ولے راتلهٔ دواړه
درست قرآن واړه اعجاز دے | چه ترې تر سینه ساز دے
چه هوښیار دَ درست جهان دی | په قرآن پورے حیران وی
تتبّع کهٔ دَ قرآن کا | په آیت به رسوا ځان که
محمّدؐ په علم ډیر وو | تر موسیٰؑ تر عیسیٰؑ تیر وو
دَ دهٔ علم ډک قلزم وو | درست وشیش علم ترے کم وو
تر لکهه زیات پیغمبرانؑ دی | ریزه خوار دَ دهٔ دَ خوان دی
په هر شان محمّدؐ ستا یه | خو یو خدائے ورته مهٔ وایه

## بیان دَ چار یارؓ

چار یاران ئے برگزین دی | څلور ستنے ئے دَ دین دی
اول یار ئے یارِ غار دے | دویم یار ئے دُره دار دے
دریم یار دَ دهٔ عثمانؓ دے | څلورم شاهِ مردانؓ دے
دوه سخران دوه ئے زومان دی | په بزرگئ کښے په یکشان دی
بزرگه لور ئے فاطمهؓ ده | دَ بزرگئ پرے خاتمه ده
مرتضیٰؓ دَ دے شوهر دے | چه تربور دَ پیغمبرؐ دے
امامان دی ترو زوولی | پاک نبیؐ واړه ستائیلی
شواهد دَ نبوّت دی | شائسته دَ امامت دی
صلوات له ما په واړه | تحیات له ما په واړو
زهٔ دوستدار دَ دهٔ دَ آل یم | په دوستئ کښے ئے خوشحال یم
چه دښمنهٔ ئے دَ اولاد دی | هغه کل په بلا یاد دی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ذِکر اَسَامی دَ امامانو

دَجهان دولس امام دی — په حدیث کښے نام په نام دی
یو علیؓ دویم حسنؓ دے — بل حسینؓ پاکیزه تن دے
چارم زین العابدینؓ دے — بل باقر ستنه دَ دین دے
بل جعفرؓ ورپسے هم دے — بل امام موسیٰ کاظمؒ دے
بل امام، علی رضاؒ دے — محمّد تقیؒ بل بیا دے
بل امام، علی نقیؒ دے — بل حسن عسکریؒ دے
بل امام، امام مهدیؒ دے — چه دَ درست جهان هادی دے
دَ بی بی زهراؓ اولاد دی — پُشت په پُشت داهسے یاد دی
پاک سُنی هغه آدم دے — چه دَ آل په عشق محکم دے

## ذکر تالیف دَ کتاب

دا سر. کال چه دَ غفط دے — یو کتاب م په نمط دے
چه ئے نوے بنیاد کښیږ. دم — یو دا کار په جهان پریږ. دم
ساده نظم بے دِقته — بے اشکال بے لُغته
په خفیف بحر وئیلی — تکلّف ځنے وتلی
چه آسان په یادوُل وی — مختصر بشکلی په کښل وی
چه هرڅوک ورته وګوری — نیک عمل وته و شوری
چه لازمے مسئلے دی — دَ رسولؐ دَ پاکے خولے دی
له حدیثه له آیته — له توحیده له طاعته
زهٔ یاری غواړم له خدایه — چه حرف ونهٔ کښم بے ځایه
خاص اخلاص راکه ومانه — بل غرض وُځی له میانه
کار پرے سازاول ځماشی — دَ هرچا په غرض بیا شی
دَ حکمت له کتابونو — راوتلی له بابونو
دَ دُنیا دَ زیست خبر — پکښے هم شته دی نادر

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین دُنیا به پکښې مومی — کهٔ په حکم ئې ځوک دروی
دا کتاب چه درست زیبا دے — سراسر فضل عطا دے
چه عطا نهٔ وی له غیبه — کار خالی نهٔ وی له عیبه

## باب دَ معرفت دَ پیغمبرانوؑ

ترلکهٔ زیات پیغمبران دی — ځوک نبیؑ ځوک مرسلانؑ دی
همه واړه نیک کردار دی — امینان دی وفادار دی
عالمان دی راست ګویان دی — دَ وګړی نیک خواهان دی
نهٔ ئې نفس نهٔ ئې هوا وه — هره چارئې په رښتیا وه
یا به وحی یا الهام وو — چه ئې چا وته کلام وو
زیات وکم ویل ئې نهٔ کړهٔ — چه ئې کړهٔ واړه ئې ښهٔ کړهٔ
محمدؐ پکښې افضل دے — هم آخر دے هم اول دے
دَ دین کار په دهٔ تمام شهٔ — خاتمت دَ دهٔ په نام شهٔ

## فصل ذکر دَ موت

ولاړ په دا قلم مطلق دے — مرګ په واړو باندِ حق دے
هرچه وُزیږی له موره — بیا به وری شی ترګوره
عزرائیلؑ په دا مامور دے — چه هرځوک وړنی دستور دے
ترقیامته شر و شور دے — له اول منزل دَ ګور دے
سوال جواب دَ ګورا ے یاره — نیک و بدئې حق وشماره
په نیک بخت به ګور ګلزار وی — په بدبخت به غر دَ نار وی

## فصل- ایمان راوړنه په حشر

حشر حق دے و به شینه — نیک و بد به مو تلینه
اویزانده به کا تله — عدالت به کا پخپله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



جبرائیل به وزن کا ندِ
چه کفی د ترازو دی
چه دا درسته دُنیا داړه
د هرچا چه څهٔ کردار وی
همګی به وزن کیږی
کهٔ نیکی زیاته وی خومره
هغه کس به جنتی شی
چه ئے تله سپکه شینه

حکم دا دے په دهٔ باندِ
برابره په هر سودی
خوارلس ځله به وی دواړه
د اخیار کهٔ د اشرار وی
جبرائیلؑ به پرے خبریږی
چه د ژړنو داند هومره
په حساب به فرحتی شی
و دوزخ لره به ځینه

## باب - خلق دړے گروهه پیدا دے

په قرآن کښے حکم دا دے
مومنان منافقان دی
لا رښیونے د هرچا دے
هدایت کهٔ ضلالت دے
مَنْ هَدَی اللّٰهُ ته نظر کړه
د طاعت توفیق له دهٔ دے
معصیّت د کافرانو
په قضا په تقدیر وینه
امادا نهٔ حجت کیږی
کهٔ مومن طاعت ته شاکه
دا په شرعه ناروا دی
کافران کهٔ دا حجّت که
په دا باب قرآن گویا دے
په قرآن دِ عمل کاندِ
په قرآن چه عمل نهٔ که

خلق دړے گروهه پیدا دے
بیاله پسه کافران دی
ضلالت کهٔ د هدیٰ دے
کل د دهٔ په مشیت دے
مَنْ یُّضْلِلْ هسے باور کړه
د عصمت توفیق له دهٔ دے
ضلالت د کافرانو
دا هیڅ بے حکم نهٔ شینه
هر سړے دِ و پوهیږی
په تقدیر حواله دا که
چه دا کا لاس به خطا دی
واړه کار به ضلالت که
لا رښیونے د هدیٰ دے
پل دِ نهٔ ږدی دوستو باند
و دوزخ وته به تلهٔ که

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په خپل عقل ځوک دروغي — په دا لار زوال به مومي
داځانے کار دَ هيچا نهٔ دے — کهٔ هرځو دانا په زړهٔ دے
په قضا په قدر جانه — مرسلان دی بے سامانه
په بلالؓ عنايت وشهٔ — په بوجهل باندِ نهٔ شهٔ
جَاهِدُوْا فِيْنَا وار وکړه — نور غلط فکرونه مهٔ کړه
مدعی کهٔ مبتدع دے — فلسفه کهٔ مختـــرع دے
ډیرګروهونه ګمراهان دی — چه دَ دين مخالفان دی
ځنے لرے لرے ګرځه — دَ بہندو غوندِ مهٔ پرزه
په قرآن باندِ نظر کړه — چه غلط نهٔ شے باور کړه
دا قلزم خونی قلزم دے — تل په موج په تلاطم دے
دَ قضا دَ قـدر جانه — الحذر الحذر جانـــه
چه په دا قلزم کښے غرق شی — هم بے پائے هم بے فرق شی
درست وشرع ته تسليم شه — په دا بحر کښے بے بيم شه

## فصل۔ ذکر دَ پُلِ صراط دَ ګذر

مومنان دِ وګــروهيږي — په صراط به ګذر کيږي
صراط جسر په سقر دے — تر تيرے تُورے تيز تر دے
ترالماسه برنده دے — جهنده دے خيزنده دے
تروينتهٔ باريک ښکاريږي — تور تر تورے شپے ياديږي
په زرګونه کروهه لوړ دے — بے حسابه ئے تيغ جور دے
خلق به پرے تـيريږي — له هيبته به لرزيږي
په ايمان به تيريدهٔ وی — په طاعت به خلاصيدهٔ وی
ځوک به برق غوندِ تيريږي — ځوک به باد غوندِ بهيږي
ځوک به ځی لکه مرغونـه — يا تيز پر يا سُست پرونه
ځوک اَس غوندِ پرے زغلی — ځوک به يون کاندِ دَ پلی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک به تیر په روزانه شي
ځوک به کال ورباندِ دروي
په پینځه ویشت زره کاله
رڼښنائي به د ایمان وي
مومنان چه په صراط ځي
فرښتې به ورسره ځي
بشارت به باندِ کاندِ
په صراط مشکلي ګرانه
هسې رنګ به د دۀ تلۀ وي
په جنت کښې به داخل شي
په صراط فرښتې یاره
یو توحید ایمان صلوٰة هم
شپږم حق د مور و پلار دے
چار د غسل د وضو ده
کۀ په دا کښې دِ کارسازوي
کۀ په دا کښې لرو برېږي
مؤمنان چه ګذران شي
په صراط چه ګذر کاندِ
فریادونه به آغاز کا
حجابونه به پیدا شي
و دوزخ ته به پریوزي
د بد بختو به مخ تور وي
و دوزخ ته به روان شي
په عذاب کښې به تل اوسي
مصاحب به ئې شیطان وي

ځوک به تیر په ماهیانه شي
په رنګ رنګ به خلاصې موي
حال به داوي ځما لا له
په طاعت به کارآسان وي
هکلي به په نشاط ځي
خوښ به دے په بدرګه ځي
ورسره د روستو ورانډِ
په مومن به شي آسانه
چه په هیڅ به خبر نۀ وي
یو نشاط به ئې په سل شي
له تاغوا رې یو خوکاره
روزه حج پینځم زکوٰة هم
هم د خویش و د تبار دے
چه پاکي ئې مو په مو ده
په صراط به دوا پړه سازوي
خود به خود د جان خطرې
بیا به وار په کافران شي
تاریکي به وي پرې باندِ
پریوتو ته به ځان ساز کا
ځائې په ځائې پرې ړړا شي
په آتش کښې به کښېوزي
واړه تن به ئې تورسکور وي
غم به ساز د ددئ په ځان شي
کل ښادي به ځنې یوسي
په دوزخ کښې به حیران وي

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې کړے معصیت وی — هغه دم به فضیحت وی
خپل دفتر وته به ګوری — شرمنده به وی مخ توری
جاودان به ئې عذاب وی — په دوزخ کښے به کباب وی

## فصل - دَ بعث یعنی پس دَ مرګه ژوندون

لکه ګوروته چه یون شته — پس له مرګه بیا ژوندون شته
خدائے په هرچاره قادر دے — بل ژوندون تروالا زر دے
چه په دا باندِ څوک شک کا — ځان به درست له کفر ډک کا
په آواز دَ صور له ګوره — پاسیدل دی خَما ورره
صور شپیلئ دَ اسرافیل ده — لوئ دَ پونسو لکهه میل ده
فراخی ئې خُما لا له — چه سرے ځی په زر کاله
ځلور ښکر دَ صور یا دیږی — هریو ښکرئې جهان کیږی
دَ عمل نامے به وا شی — په هر لوری به غوغا شی
څوک نیک بخت څوک به بد بخت وی — دَ بد بخت حساب به سخت وی
چه نامه په ښی لاس ورکه — نور قیامت به پرے اختر که
چه نامه په کینړ لاس مومی — ودوزخ لره به دړومی
دَ دهٔ مخ به واړه تور وی — درست وجود به ئې تورسکور وی
دَ نیک بخت مخ به تابان وی — تر مهتاب به لا رخشان وی
راضی من به ځنے خدائے شی — جنتونه به ئې ځائے شی
تل به اوسی په جنت کښے — په خوشئ په راحت کښے
ورسره به وی تل حورے — په هردم ورته حضورے

## فصل - دَ دوزخ او دوزخیانو

داحدیث دَ مصطفیٰ دے — دوزخ شو رنګه پیدا دے
دی اوهٔ درکه کل واړه — تهٔ امان له واړو غواړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهنم اول دوزخ دے
په عذاب هر کوره شنځ دے

بیا لظیٰ دے بیا حطمه دے
څلورم ئے هاویه دے

بیا پینځم سقر اے یاره
بیا سعیر جهنم وشماره

قعر هومره دَ هر یک دے
چه حساب ئے لکه در لکه دے

عرض وطول ئے په حساب کښے
ډیر یا ډیری په کتاب کښے

هر هر گروه چه کافران دی
مشرکان که فاسقان دی

هر یو گروه به سره یک کا
هر دوزخ به باندِ ډک کا

دوزخیان به وی مخ توری
سترګے شنے بد بد به ګوری

په ګردن کښے ئے طوقونه
په زنځیرے پتے لاسونه

دَ قطران جامے دَ واړو
ترے به بوئ ځی دَ مردارو

چه خوراک ئے تل زقوم وی
بنه ئے خیزونه به معدوم وی

دَ اوبه به تل مشتاق وی
یا غسلین یا به غساق وی

چپ و راست دَ روستو وړاندِ
سرے لمبے به وی پرے باندِ

هم به پوست دَ دوئ رژیږی
هم به بیا وربا ندِ کیږی

په دا رنګ به پرے تیریږی
جاودان به عذابیږی

## فصل - تعریف دَ جنتونو دجنت دَ نعمتونو

دَ جنت صفت به وایم
نعمتونه به ئے ستایم

دَ جنت لائق نیکان دی
پرهیزګار دی مطیعان دی

خو فراخ دی جنتونه
په صحیح روایتونه

خو آسمان مزکه دا واړه
اووه ځله ته دا واړه

اته وروونه دَ جنت دی
وبله پاس په درجت دی

دی لوئ لوئ ئے قصرونه
دَ یاقوتو محلونه

په هر لوری ښکلی باغونه
مشک عنبر مزکه راغونه

سنګریزے به ئے ګوهر وی
دَ دیوال خښتے به زر وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماڼۍ به شي تختونه     په هرلوري نعمتونه
تل ترتله به بهار وي     په هرلوري به گلزار وي
واړه ونې ئې باردارې     تل ترتله میوه دارې
که ئې خوند د میوو کښم     ترې به کله ورسم
په هرلور به ځي جویونه     په څلور رنگه تویونه
یو عسل بل به شراب وي     بل به پئ بل به آب وي
تل به وي د ونو سوري     رنگا رنگ میوې برپورې
خو صفت ئې کړم له خونده     ترمړئ به ځئ بې شخونده
نۀ به رنځ نۀ به زحمت وي     نۀ به غم نۀ به محنت وي
نۀ به تاؤ نۀ به غارمۀ وي     نۀ به باد نۀ به سارۀ وي
نۀ به ترس وي نۀ به بیم وي     نۀ بدخواه نۀ به غلیم وي
نۀ به مرگ نۀ به فنا وي     تل ترتله به بقا وي
جنتي به تل ځوانان وي     زور قوت به ئې چندان وي
شائسته به ترمهتاب وي     د تخرگ بوئ به ئې د گلاب وي
هر ثمر ته ئې چه زړۀ وي     بې تکلیفه به خوله وي
چوښۀ اس ځي په سل کاله     د کمتر مومن اې لا له
ملک به هومره د جنت وي     ملتبب به په نعمت وي
که د حور وصفت غواړې     په قرآن کښې به وویاړې
نظر وکړه په قرآن کښې     په سورۀ الرّحمٰن کښې
غټې غټې سترگې واړه     مکلّل مِنئ په غاړه
سترگې قاصرات الطّرفِ     په سپین والي لکه برفِ
رنگارنگ حُلّې مهینې     زرغونې زیړې سرې سپینې
تراویا حُلو د لاندِ     د دوئ تن به بریښنا کاندِ
هم به حُورهم به غلمان وي     ښائسته به په دا شان وي
په مروند وشي د زرو     مرصّع په ښو گوهرو

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ به وي تختونه ‏ فرش فروش ښکلي رختونه
خوبش به ناست پرې مومنان وي ‏ خادمان به ئے غلمان وي
تحيّت به سره وائي ‏ په سلام به سره بيائي
ننداره به دَ ديدار کا ‏ حمد به واړه دَ دے کار کا

# دريم باب

## ذکر عبادت و معرفت چه سره لازم و ملزوم دي

عبادت بے معرفته ‏ واړه هيڅ دي پر غفلته
اول پوه په معرفت شه ‏ بيا خبر په عبادت شه
ځان ساته له معصيته ‏ موافق شه له طاعته
کۀ خبر په معرفت شې ‏ لټ په امر په طاعت شې
په ايمان کښې دِ خلل وي ‏ شناخت طاعت سره الول وي
کافران په خدائے خبر دي ‏ چه طاعت نۀ کا کافر دي
حقيقي مومن هاله ئے ‏ کنږه زده کړه مومن نۀ ئے
کۀ دِ شناخت هم دَ طاعت شته ‏ هم دِ ترس دَ معصيت شته
کبيره دَ ايمان زيان دے ‏ هر طاعت لره نقصان دے
زده کړه شه له ما بے درنګه ‏ ګناهونه دي دوه رنګه
هرچه کم دي صغيره دي ‏ هرچه لوئ دي کبيره دي
کۀ سړے کبيره نۀ کا ‏ صغيره به ئے خدائے بښۀ کا

## فصل دَ اهل کبائرو کبيره ګناهونه چه څو دي

کبيره واړه اتۀ دي ‏ شپږ ويشت هم په آوريدۀ دي
چه په ژبه شي يا زده دي ‏ بښۀ ئے زده کړه کۀ دِ زده دي
کبيره دَ نفس اوۀ دي ‏ زيات وکم تر اوۀ نۀ دي
په لاس درے دي نه څلور دي ‏ يو په پښو په فرج دوه نور دي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه په درست واړه ازام دی — شپږ ویشت و شماره تمام دی
چه په ژبه یازده یاد دی — تعداد کړی م اُستاد دی
دروغ کل واړه ناروغ دی — کبیره هغه دروغ دی
چه پرې زیان دَ مُسلمان شی — لس درمه دَ چا زیان شی
ګله شه دَ هغهٔ بنیره — چه دروغ وائی په بنیره
بل چه چا وته دشنام کا — په زنا سره ئې بدنام کا
بل غیبت دے بل بهتان دے — سخن چین هم په دا شان دے
چه لقب په مومن ساز کا — چه مومن په غم ګداز کا
بل سوګند په دروغ شماره — بل ګواهی په دروغ یاره
چه دَ خدائ شریک پیدا کا — بل چه سحر په عمدا کا
چه په نفس وی هغه دا دی — تهٔ ئې ومنه ر بنتیا دی
چه مالونه دَ یتیم خوری — سوائ خمرې بیم خوری
چه ستم په مُسلمان کا — مال ئې خوری ناحق ئې زیان کا
چه دَ کوس غوښې خوک خورینه — یا مردارې پخوینه
چه کشتار دَ کافران دی — چه ئې غوښې خوری دا شان دی
چه په لاس کبیره کیږی — هغه دا ر نګه یا دیږی
اول قتل په ناحق دے — بل دَ غلا نقل مطلق دے
بیا چه ظلم بیدادی که — ښکاره خلق فریادی که
چه په پښو کبیره یاد دی — هغه یو دا هسې زیاد دی
چه په جنګ کښې له کافره — پښه عقب که له مقره
چه په فرج دی یو زنا ده — لواطت بده بلا ده
چه په درست اندام ئې شمار دے — یو آزار دَ مور و پلار دے
بل چه فرض دَ خدائ قضا که — کبیره ګناه هم دا که

## فصل خلود دَ اهل نار چه تل په دوزخ کښې وی

چه ظالم دے یا فاسق دے — دَ دوزخ دَ اور لائق دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ کافر دَ حقیقت دے
نمونځ پرے روغ په شریعت دے

جنازه دِ نے وشینه
چه ترګوره ورنے شینه

دَ لحد کانے پرے کیږدی
دے عمل دوبله پریږدی

شرمنده به ګور ته درومی
خود به خپله جزا مومی

چه په خولۀ کلمه ګوئ دے
ظن پرے بنۀ کړه کۀ بدخوئ دے

په دا باب قرآن ناطق دے
خلاص به نشی چه فاسق دے

جاودان به ئے عذاب وی
په دوزخ کښے به کباب وی

څوک چه امر دَ خدائے نۀ کا
په خلاف دَ رسولؐ تلۀ کا

په دُنیا به ئے مخ تور وی
په قیامت به ئے ځائے اور وی

دا یوڅو فرقے نامردے
یا دے شوی دی لا بدے

هر سړے چه ناحق خون کا
په دوزخ به ئے دروں کا

چه دوزخ لره رخت یوسی
همیشه به پکښے اوسی

څوک چه مال دَ یتیم خورینه
په سفر کښے به تل وینه

څوک چه مال دَ رباخورینه
دوزخی دے چه ؤمرینه

داخبر دَ پیغمبرؐ دے
تواتر دے معتبر دے

چه عاصی دَ مورو پلار وی
له هغۀ به خدائے ویزار وی

تر جنته به ورنۀ شی
کۀ هرڅو په عمل بنۀ شی

سخن چین په داحساب دے
بل چه مخ ئے په شراب دے

بل چه ځان بخیله مړ کا
په چاړه یا په لوړ کا

ترکمر کۀ ځان پریباسی
یا په اور ئے ننه باسی

اغلامی غمازی دواړه
خُلد حرام دی په دا دواړه

دے وعید نړه هغه دی
چه مصر په کبیره دی

خلاص کړه ځان له کبائره
مکړه غم له صغائره

صغیره دَ آدم زاد دی
کبیره دَ بد نهاد دی

## فصل۔ ذکر دَ خیر او دَ شر

Poha Foundation

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر او شر چه له چا کیږی
کفر ظلم پیدا کیږی

په بنهٔ ویاړه په بد ژاړه
دَ سړی فعل دے واړه

کهٔ وخدائے ته ئے نسبت کړے
دا خطا په شریعت کړے

ځوک چه ظلم معصیّت کا
خدائے ولے عقوبت کا

کهٔ دا فعل دَ دا دار دے
سکه دا دار دَ ظلم کار دے

چه پخپله فعل وکا
حواله په تا بد بنهٔ کا

کهٔ وخدائے ته ظالم وائی
صریح کفر به ونمائی

چه بدی کړے تهٔ ظالم ئے
کهٔ ظالم دَ مظالم ئے

مشیّت واړه دَ دهٔ دے
مشیّت چه کل دَ دهٔ دے

فعل کړونے ئے سړے دے
په بنهٔ بد نیولے دے دے

دا ځائے، ځائے دَ شوید ودے
فکر ډوب په اندیښنو دے

ځان لازم بوله په بد و
مکړه نور فکر د ر د و

## فصل-ذکرِ دَ گناه او په گناه باندِ توبه

کبیره گناه چه وکا
خو ارشه دے کهٔ توبه نهٔ کا

کهٔ توبه ئے په اخلاص وی
له دوزخه نه به خلاص وی

دَ عاصی توبه قبلیږی
مغفرت ور باندِ کیږی

ځان چه چرک دَ گناه مومی
دَ توبے په صابون درومی

چه توبه ئے دَ نصوح وی
دَ توبے به ئے فتوح وی

دَ توبے شرطه څلور دی
پښیمانی په زړهٔ درنوردی

استغفار وئیل په ژبه
بیا گناه مهٔ کړه تائبه

ټینگیدل په توبه جانه
چه بیا نهٔ کړه توبه ورانه

په دا رنگ کهٔ توبه کا رشے
له توبے به برخوردار شے

کهٔ قضا دِ وی نمونځونه
یا عشرونه ز کو تونه

په قضا چه روژے ستاوی
یا دَ خون دعوی په تا وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ علاج دَ واړو وکړې
ستا توبه دہ دَخاصانو
کۀ توبه دِ په غرض دہ

په توبه به نور زړۀ بنۀ کړې
ئې له خاصو مُسلمانو
دا توبه نه دَ مرض دہ

## تعریف دَ اخلاص دَطاعت نه دَریا دَ عبادت

راشه واوره هسے دین
په عمل کښے پیچا پیچ دے
هر طاعت چه په ریا وی
په پښتۀ رکه ریا دہ
اول دا چه طاعت کاندِ
دا طاعت ئے هم خراب دے
په قیامت به روسیاه وی
بل چه هسے طاعت کاندِ
بل دُنیا په طاعت غواړی
بل چه مټ په طاعت ډیر کا
هغه هم څۀ طاعت نۀ دے
بل چه خلق وی طاعت که
دا ریا دہ ډیره بدہ
دَ اخلاص طاعت هغه دے
بے غرضه وی اے یاره
له ریا نه زړۀ خلاص بنۀ دے
دَ ریا طاعت اے جانه
فریضه طاعت سرګند کړه

مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْن
طاعت بے اخلاصه هیڅ دے
دَ سړی دَ ځان بلا وی
دا خبره په رښتیا دہ
چه عالم ئې صفت کاندِ
خوئے کاندِ لا ثواب دے
دا طاعت به ئے ګناه وی
بله خلق ئې خدمت کاندِ
چه دُنیا مومی ویاړی
خپل شهرت په زړۀ کښے تیر کا
چه ئے کاندی کله بنۀ دے
چه تنها وی معصیّت که
ترے ئې وساتے اَحده
چه غرض ترے په ستنه دے
خاص ئے کړه دَخدائے دپاره
یو سجود په اخلاص بنۀ دے
لږ و ډیر دے له نقصانه
پټ دِ نفل کا پسند کړه

## فصل۔صفت دَعلم او دَ علم دَ فضیلت

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| زده کول دَ علم فرض دے | په میرو په ښځو فرض دے |
| صد رحمت په هغهٔ باندِ | چه طلب دَ علم کا ښدِ |
| پیغمبرؐ دی فرمائیلی | دهٔ تر پاکے خولے ایستلی |
| کهٔ تر منځ دریاب یا اور وی | په بل لور دَ عالِم کور وی |
| وَ عالِم ته به هورے ځی | کهٔ غرقیږی یا کهٔ سوزی |
| علم واړه عبادت دے | ښو چه کیږی سعادت دے |
| یو ساعت له عالمانو | ناستے ښو دے مُسلمانو |
| چه یو کال په کعبه تیر که | ښوک طاعت پکښے ډیر که |
| چه دَ علم په طلب ځی | کهٔ په ورځ ځی کهٔ په شب ځی |
| په هر گام به ثواب مومی | چه تر کور ترمکه درومی |
| چه یوه مسئله زده کا | خدائے به دے آمرزیدهٔ که |
| نه هزار رکعته نفل | نهٔ یوه مسئله نقل |
| چه عالم نهٔ وی په کلی | هغه کلے دِ وهلی |
| دَ عالِم مرتبه خویه | تر شهیده لاده لویه |
| فضیلت دَ علم ډیر دے | تر حساب تر شماره تیر دے |
| چه دَ شرعے بندوبست دے | داهمه دَ علم دست دے |
| کهٔ حلال کهٔ حرام دواړه | علم زباد کړه ورته واړه |
| کهٔ گفتن کهٔ شنیدن وی | کهٔ رفتن کهٔ نشستن وی |
| کهٔ خوارهٔ کهٔ اوښنبل وی | کهٔ دَ ستر کواړول وی |
| کهٔ سجود دے کهٔ طاعت دے | کهٔ ادب دے کهٔ خدمت دے |
| کهٔ غزا ده کهٔ زکوٰة دے | کهٔ حاجی دے عرفات دے |
| کهٔ عابد دَ عبادت دے | کهٔ زاهد کُنج وَخلوت دے |
| کهٔ بادشاه دَ مملکت دے | کهٔ دهقان دَ زراعت دے |
| کهٔ نکاح کهٔ زیست روزگار دے | کهٔ صائم کهٔ نماز گذار دے |
| کهٔ زکوٰة کهٔ مزکی دے | یا کهٔ فعل دَ زکی دے |

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچه ډیر داهسے کاره
نۀ شي بے علم اے یاره

چه بے علمه طاعت کېږي
کۀ هزار کا نۀ قبلیږي

چه بے علمه قیل وقال کا
هغه کل دَ جان وبال کا

چه کرم با ندِ دَخدائے شي
زړۀ هاله دَعلم ځائے شي

## فصل- اِثبات دَ نبوّت

محمدؐ چه پیغمبر دے
ستا په کوم دلیل باور دے

دلیل دا چه معجزات
لري دے بے نهایات

معجزه ئے قرآن دے
چه راغلے په بنۀ شان دے

عرب ډیر فصیح زبان وو
دانشمند دَخپل آوان وو

اتفاق ئے په دا کار وو
له قرآنه ئے انکار وو

مُدعی دَ مصطفیٰ وو
په بطلان ئے په غوغا وو

څۀ کۀ دین دَدۀ باطل کړو
سحرگر یائے چه بل کړو

جدلونه ئے برپائے کړۀ
کوششونه ئے په رائے کړه

یو آیت لکه قرآن وو
چا ونه وی هسے گران وو

په دا کار کښے سرگردان شول
آخر خاورے دَ قرآن شول

همگی واړه عاجز شول
دَ رسولؐ په دین فائز شول

قرآن درست واړه متین دے
معجزه تربے وسین دے

دَعیسیٰؑ معجزه دا وه
دَ مړ دوٗ په احیا وه

دَ موسیٰؑ عسا په مار شوه
یا به ونه په اثمار شوه

معجزه دَ محمدؐ شته
یو قرآن دے کښے سرمد شته

کۀ ترشرق ترغربه واړه
قصیحاف سازه کا غاړه

یو آیت لکه قرآن دے
را به نۀ وړی هسے گران دے

په اعجاز ئے کړه دوه نیمه
هومره اوزمکے جسیمه

بل گویا ورته کباب شۀ
بل ئے لاس چشمه دَ آب شۀ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل سوسمار ورنه خبر — په بنکاره وکړهٔ نادر
په اعجاز ئے وبله پور — او بهٔ بنیے شوے تلخی شور
په فراق دَ دهٔ نالانه — دَ مسجد ستنه شوه جانه
په هوا دو اُوهٔ پاسه — غرد دهٔ دَ سر دپاسه
چه ئے و بلله ونه — ورته را غله لویه پلنه
دهٔ به وبنئیل څیزونه — چه به ورک شول په ملکونه
معجزے ئے وے بے شماره — زهٔ ئے څوکبنم درته یاره
کهٔ ئے کبنم کتاب اوږدیږی — دانایان به خود پوهیږی

## فصل

### فضایل دَ رسولؐ دَ اصحابو او خلاف په مراتبو دَ دوئ

دَ رسولؐ چه لوئے اصحاب دی — خدائے یادکړی په کتاب دی
سَابِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ — راشه واوره په غوږ ونه
فضیلت دَ واړه ډیر دے — ترشماره ترحساب تیر دے
کهٔ دَ دوئ فضیلتونه — غواړے ګوره آیتونه
هر اصحاب ئے چه په نوم دے — لاربنیونے کالنجوم دے
چه اصحاب ته ئے دشنام که — په لعنت به ځان بدنام که
دَ شیخینو سَب چه کاندِ — صد لعنت په هغو باندِ
دَ اجماع په حکم یاره — کُشتنی هغه وشماره
لس یاران ئے صحبتی وی — شک ومهٔ کړه جنتی دی
یو بوبکرؓ بل عمرؓ دے — بل عثمانؓ دے بل حیدرؓ دے
پینځم سعدؓ دے اے یاره — بیا شپږم سعیدؓ وشماره
ورپسے طلحهؓ زبیرؓ دے — خپل وجود ئے دَ ننړ غیر دے
بیا ابوعبیدهؓ نهم دے — بیا عبدالرحمانؓ لسم دے
دا یاران دَ دهٔ عشره دی — چه عشره مُبشِّره دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلافت دَ چاریا نو
په دیرش کاله وو یارانو

بیا دَ پسه بادشاهي شوه
په سپیدۍ کښے سیاهي شوه

اول بغي راپیدا شول
څوک بادشاه څوک اُمرا شول

## فصل - تعریف دَ امام اعظمؒ او دَ هغهٔ دَ مذهب

له کتابه له اخباره
په اجماع دَ اُمت یاره

چه مذهب دَ دهٔ مذهب دے
دَ امام اعظمؒ مذهب دے

چه له خدایه ډیر ویریږي
امامت باندِ ژغیږي

ډیر په ویره په اخلاص وو
امام څکه خاص الخاص وو

دَ رسولؐ انسؓ اصحاب وو
روایت ئے باصواب وو

چه نعمانؒ بن ثابت دے
دَ دین کار په دهٔ ثابت دے

دَ رسولؐ دَ خولے خبر دے
شک ومکره معتبر دے

چه نعمانؒ به راپیدا شي
څما دین به پرے رنړا شي

دالفظ درے څلے منهاج دے
دے سراج سراج سراج دے

دَ اجماع دلیل معلوم دے
ترکستان کهٔ هند کهٔ روم دے

په مذهب دَ لوئے امام دی
دلیلونه لا کلام دی

بادشاهان کهٔ امیران دی
کهٔ قاضیان کهٔ عالمان دی

دَ امامؒ دَ مذهب ډیر دی
ترحساب ترشماره تیر دی

دَ امامؒ مذهب ماهتاب دے
نور هر یو لکه شهاب دے

دَ امامؒ علم وافر وو
زیات ترکښلو تر دفتر وو

زر دلیل زر ئے حجته
دهٔ راوړه له روایته

دائے داب وو څلویښت کاله
تر بامداد له عشا لا له

په یوهٔ اودس ئے نماز وو
کوره هسے سر فراز وو

درست قرآن ئے په رکعت لوست
دهٔ به درست آیت آیت لوست

په طاعت کښے بے نظیر وو
په جمله علم خبیر وو

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ ورع کهٔ پارسائی وه | همکی دَ دهٔ ځائی وه
کهٔ زړهٔ کونه سره تول شی | عالمان واړهٔ غول غول شی
په حجت تر واړو تیر وو | دَ دهٔ زبان تیرهٔ شمشیر وو
دَ امام جعفرؓ تلمیذ وو | واړهٔ کار دَ دهٔ لذیذ وو
تابعین ئے وو لیدلی | په تقوٰی په دین بناغلی
دَ هارونؒ په خلافت کښے | دَ دهٔ کار وو په رفعت کښے
پلار نیکهٔ ئے دَ کابل وو | بیا په بلخ کښے مقابل وو
په کوفه کښے ئے میلاد وو | په مکتب کښے دَ حمادؒ وو
بیا دَ دهٔ وطن بغداد شهٔ | هومره خلق ځنے بناد شهٔ

## څلورم باب

## ذکر دَ طهارت او دَ فرض واجب او سنت

چه ایمان په خدائے راوړینه | فرض واجب دِ کـــذارینه
دَ رسولؐ سنت دِ کاندِ | چه لازم دی داپرے باندِ
خو چه شته معصیّت واړه | چه دَ دهٔ نه شی په غاړه
په توحید چه ایماندار شی | کهٔ هر څو طاعت بسیار شی
اول مونځ بیا نور طاعت دے | دَ نمانځه هومره قوت دے
اَلَّـذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ! | هسے ډیر دی آیتونه
دَ نمانځه په باب راغلی | په قرآن کښے خدائے وئیلی
دَ اودس سره مونځ بنهٔ دے | بے اودسه مونځ هیڅ نهٔ دے
بے اودسه چه مونځ کاندِ | کفر ورشی په دهٔ باندِ
طهارت دے په دوه رنګه | له دا نشه له فرهنګه
له حدث طهارت دے | طهارت دَ جنابت دے
دَ حدث چه وضو وکړے | پاک شوے نور به نماز ته کړے
چه درست تن په اوبو تر شی | دَ جنب طهارت وشی

## فصل - ذکر دَ نمانځهٔ دَ فرضیت

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمونځ په دا په سړي فرض شهٔ — په معنی کښې لکه قرض شهٔ
سړے نهٔ وو خدائے پیدا کړهٔ — مکرم ئے په دَ نیا کړهٔ
په صورت کښې سر تر پائے — نعمتونه دی له خدائے
سر په تن سور کړے دهٔ دے — مخ ته نور ورکړے دهٔ دے
سترګے وروځے بانړهٔ ګوره — زیبائی لری هر ګوره
کهٔ دِ تور دَ سترګونهٔ وی — ستا به زړهٔ له غمه چوی
پوزے خولے وَته نظر کړه — پکښې خیر لعل و ګوهر کړه
دوه غوږونه دوه رُخساره — دَ زنخ وکړه ننداره
لاس و پښے درکړی چا دی — بند په بند جوړ کړی چا دی
هر وینتهٔ دَ صورت ګوره — په وجود کښې نعمت ګوره
درست ظاهر باطن نعیم ئے — تهٔ یو احسن التقویم ئے
کهٔ په زړهٔ دِ دانائی دهٔ — کهٔ دَ ژبے ګویائی ده
دائے واړه وَتا درکړهٔ — شهٔ ئے واړه وتا درکړهٔ
په هر څهٔ ئے مکرم کړے — خلیفه ئے دَ عالم کړے
یو سجود له تا نه غواړی — په یوه سجده دِ ویاړی
دے دِ رب دے، دے معبود دے — ځکه فرض په تا سجود دے
دَ نعمت شکر بائدهٔ دے — ناسپاس سړے بنهٔ نهٔ دے
مونځ چه فرض شهٔ پینځهٔ وخته — په وخت وخت ئے کړه نیکبخته
چه له فرضه نمانځه دور ئے — بد بنده دے ناشکور ئے
هر بنده چه ناشکور شی — دَ صاحب له فهمه دور شی
دَ صاحب اندوه ئے کوم — چه بنده لری ستر و م
په طاعت دَ بنده سود دے — خدائے غم نهٔ لری معبود دے
په طاعت بنده مانځهٔ شی — په عناد سره شکانجه شی
په قیامت به دا مونځونه — دَ سړی شی براقونه
وار په وار به پرے سوریږی — و جنت ته به رسیږی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل-ذکرعلامت دَ بلاغت

چه په عمر دوارلس ده شي دَهلک دِ هومره زده شي
دے دِ مینه په نمانځه کا وتنبیه ده که نمونځ نهٔ کا
نمونځ هاله ورباندِ فرض شي چه بالغ په طول وعرض شي
دَ بلوغ نخښې څلور دي احتلام دے درے دانور دي
چه په سال هژده ساله شي یا ترے ښځه حامله شي
چه لذت دَ دخول مومي جُهند مني ترے دروځي
بلوغت دَ ښځې دا دے حیض نخښه دَ نسا دے
یا ئے وی اُولس کاله یا چه حمل واخلی لا له
څلورم دا روایت دے احتلام ئے بلاغت دے
هرسړے چه مکلّف شي په مانځه دِ مشرف شي
دَ اودس په کار دِ پوه شي چه دے بیرته له اندوه شي

## فصل- دَ فرض دَ واجب دَ سنت دَ آدبونو

هرسړے چه ایماندار وی په اخلاص به نمونځ گذاروی
پس له شناخته له توحیده دَ نمانځه دے دیر تاکیده
فرض واجب زده کړه دادواړه وسنت ته کیږده غاړه
موافق په شرعه کار کړه په ادب کښے زیست روزگار کړه
په ولاړ په ناست په تلهٔ کښے ادب بویه په هرڅهٔ کښے
دَ سړی چه ادب نهٔ وی ترسړی نه څاروے ښهٔ وی

## فصل-ادب دَ خلا چه چارچوبټی یا صحرا له تلهٔ کا

چه حاجت دِ دَ خلا شي لرے ځائے ته دِ تلهٔ ستا شي
پټ له خلقه لرے کښینه ورکړه زور وکینږے پښے نه
وقبلے وته مخ مهٔ کړه په قمر په نمر هم زده کړه
ځان جامه ساته له بوله غائط وروکوه له هوله
په صحرا مهٔ کړه خبرے کنه غول خورے چه نغرے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاچه ونے وی باردارے
یا سایه لری دَ لارے

یا دیوال چه سایه داروی
یا دَ رود غاړه یالاروی

دا خوځایه غائط مهٔ کړه
کهٔ سړے ئے ادب زده کړه

په غایط په بولِ څوانه
حذر کړه له ګورستانه

بول مهٔ کړه په سوراخ کښے
یا په ورخ کښے یایه کاخ کښے

هورته خونے دَ پیریان وی
خپل مکان په هرچاګران وی

چه فارغ شے له صحرا نه
تهٔ دِ نهٔ وځے بے دُعا نه

کهٔ پوهیږے خدائے پرستلۓ
تهٔ به دا دُعا وولے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَخْرَجَ عَنِّیْ مَا یُؤْذِیْنِیْ

ځان به پاک کړے په درلوطِ
یا دړے کانړی شو کهٔ غوطِ

کهٔ دړے کانړی نهٔ وی یو بس
خود پوهیږی په خپل ځان کس

خو پاکی دَ وجود بویه
لوټه کمه وی کهٔ لویه

وچے پانړے وچ وابنهٔ هم
استنجا لره دی بسهٔ هم

پشم جیره خاورے بیا کے
استنجا ته وی بے باکے

بیا چه واخلے یو څو ګامه
استبراء وکړه تمامه

چه وسواس لرے په زړهٔ کښے
هیڅ تعطیل مهٔ کړه په ولهٔ کښے

په بنی لاس اوبهٔ اَخله
په کینړو نیغه پیتے خپله

په ولهٔ کار مکړه دَ سستو
ځان بنهٔ پاک کړه وړاندِ روستو

کهٔ ککړ تر درم کم ئے
اوبهٔ مهٔ اخله بے غم ئے

چارچوبئ لره کهٔ دروے
دا ادب بویه چه موے

اول کینړه پښه درون کړه
په واتهٔ کښے بنئ بیرون کړه

دا دُعا دَ هغه دم ده
دَ دانا ده دَ اَعلم ده

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الرِّجْسِ النَّجِسِ الْخَبِیْثِ الْمُخْبِثِ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

اهل کار دَ دین پاکی ده
په پاکئ کښے بے باکی ده

له دړے توکه پاک صورت کړه
هاله مخ په عبادت کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اوله معصیت دے — بل حدث بل نجاست دے
دَ گناه پاکي توبه ده — تل پاکي دَ توبه ښه ده
دَ حدث پاکي آبدست دے — دَ هوښیار دے کهٔ دَمست دے
نجاست په غسل دروِمي — ځان جامه پرے پاکي مومي
پاکي درے اوبهٔ هم درے دي — دَ باران کهٔ دَ چینے دي
بیا دَ سترگو اوبهٔ جا نه — چه پرے پاک شے له عصیانه
چه دا درے پاکي لرینه — غم دِ هیڅ نهٔ کا کهٔ مرینه
په صحیح چه دوست دَخدائے دے — دَ پاکو جنت ځائے دے
په قرآن کښے دا آیت دے — راشه واوره چه آیت دے

قوله تعالی: اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ۔

## پینځم باب

## ذکر دَ وضو دَ هره کاره

هر سړے چه اودس کاندِ — تسمیه بویه دَ وهاندِ
بیا دِ نیت دَ اودس وکه — مونځ دِ یاد په زړهٔ پهٔ خولهٔ که
بیا دِ داخلي اوبهٔ پاکے — نهٔ بد بوئے بد خوراکے
پرے دِ دوینځي لاسونه — بیا دِ وینځي اندامونه
په کینم لاس دِ طهارت که — لاس دِ پاک په سمکوټ که
بیا دِ خولهٔ په درے کرته — په اوبو کهٔ لته پته
بیا مسواک بویه په نغته — کهٔ لرگے نهٔ وي په گوته
بیا دَ پوزے استنشاق دے — په درے ځله اتفاق دے
بیا دَ مخ وِلنه درے ځله — بیا ښے لاس دے له اوله
بیا کینم لاس دے تر څنگلے — بیا به مسح لره نه غلے
بیا اوبهٔ وروره ترغوږه — مسح دا ده وئے نغوږه
دَ سر مسح ربع سر ده — دَ درست سر هم اولیٰ تر ده
بیا دَ پښو وِلنه اے یاره — تر ښنگریه نه بسیاره

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



درست کامل اودس هم دا دے
په اودس کښے یو ځل وُلنه
دویم ځل چه اندام ولے شي
دریم ځل ولنه سنت ده

چه م دوث په ربنتیا دے
فریضه ده په پوښتنه
دَ واجب په نام بونے شي
داوینا په روایت ده

## فصل - فرائض دَ وضو

دَ اودس دی خلور خیزه
اول ولهٔ دَ مخ چه کنج دے
وربسے مسح دَ سر ده
کهٔ په دا کښے خطهٔ نقصان شي

فریضه دِ ما عزیزه
بیا لاسونه ترا رنج دے
دَ پښو ولنه پس داچرده
نمونځ په تا باندِ تاوان شي

## فصل - ذکرِ دَ وضو دَ سنتونو

دَ اودس سنت چه زده دی
تسمیه دَ اودس نیت دے
استنجا هم په دا شمار ده
بیا مسواک اوبهٔ دَ خولے دی
بیا دَ غوږ مسحه هوښیاره
بیا ساتنه دَ ترتیب ده
ولهٔ دَ هر اندام درے واره

درته دوایم دوازده دی
بیا دَ لاسو طهارت دے
چه دَ حکم په مقدار ده
بیا اوبهٔ دَ پوزے ملے دی
بیا خلال دَ بڼیرے یاره
ولهٔ دَ وُچولی نصیب ده
دَ ولس وشو وئے شماره

## فصل - دَ اودس مکروهات

دَ اودس مکروه شش دی
یو چه مخ په قبله میږی
بل چه خپل عورت ښکاره کړه
بربنډ ځان چه دَ بل کوری
استنجا چه په ښی لاس کا

ترے حذر کړه چه ناخوښ دی
یا تطهیر غایت ترے خیږی
نامحرم ئے ننداره کړهٔ
بول که په ماء کښے شوری
اوبهٔ ډیرے توئے ناس کا

## فصل - دَ وضو دَ دعوات

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اودس کښې دا دُعا ده — په حدیث دَ مصطفیٰؐ ده
تهٔ چه نیت دَ اودس وکړې — په خپل لاس توئے اوبهٔ کړې
په اودس کښې له اوله — دُعا دا ده وئے لوله

الحمد لله الّذی جعل الماء طهورًا وجعل الاسلام نورًا دلیلًا قا بلًا الی الجنة

هغه وخت چه استنجا کړې — بویه داچه دا دُعا کړې

بسم الله العلی العظیم
والحمد لله علیٰ دین الاسلام الاسلام حق والکفر باطلٌ

چه فارغ له استنجا شې — تهٔ به سر په دا دُعا شې

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنْ عِبَادِكَ الصَّالِحِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الَّذِیْنَ لَاخَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَاهُمْ یَحْزَنُوْنَ ۝

چه اوبهٔ دِ په دهان کړې — دا دُعا دِ په ژبان کړې
اَللّٰهُمَّ اَسْقِنِیْ مِنْ حَوْضِ نَبِیِّكَ كَأْسًا لَاظَمَأَ بَعْدَهٗ ـ

چه اوبهٔ دِ کړه په پوزه — دا دُعا تر ژبه بوزه
اَللّٰهُمَّ اَرِحْنِیْ رَائِحَةً مِّنْ رَائِحَةِ الجنة وَارْزُقْنِیْ نعماؤها

تهٔ چه مخ وینځې مومنه — دا دُعا دِ ده سودمنه
اَللّٰهُمَّ بَیِّضْ وَجْهِیْ بِنُوْرِكَ یَوْمَ تَبْیَضُّ وُجُوْهٌ وَّ تَسْوَدُّ وُجُوْهٌ ـ

چه ښې لاس وینځې داوایه — مزد به بیاموے له خدایه
اَللّٰهُمَّ اَعْطِنِیْ كِتَابِیْ بِیَمِیْنِیْ وَحَاسِبْنِیْ حِسَابًا یَسِیْرًا ـ

چه کینړ لاس وینځې دا لوله — نهٔ یو ځل په خوښو لوله
اَللّٰهُمَّ لَاتُعْطِنِیْ كِتَابِیْ بِشِمَالِیْ وَلَامِنْ وَرَاءِ ظَهْرِیْ وَلَا تُحَاسِبْنِیْ حِسَابًا عَسِیْرًا

بیا چه مسح دَ خپل سر کړې — دا دُعا به مکرر کړې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ بِرَحْمَتِكَ عَلٰی رَأْسِیْ

بیا چه ما وروړی ترغوږه دا دُعا لوله ونغوږه

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ الَّذِیْنَ یَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَیَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ

بیا چه مسحه دَ کردن کا دا دُعا دِ مرد وزن کا

اَللّٰهُمَّ اَعْتِقْ رَقَبَتِیْ وَ رَقَبَهَ آبَائِیْ وَاُمَّهَاتِیْ مِنَ النَّارِ

بیا په وخت دَ پښو وللو دا دُعا ده دَ وئیلو

اَللّٰهُمَّ نَجِّنِیْ مِنْ غَضَبِكَ یَوْمَ یُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِیْ وَالْاَقْدَامِ وَجَاوِزْنِیْ عَلَی الصِّرَاطِ وَاَدْخِلْنِی الْجَنَّةَ یَا ذُوالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ

بیا چه وینځې پښه دویمه دا دُعا لوله دا یمه

اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْ قَدَمِیْ عَلَی الصِّرَاطِ یَوْمَ تَزِلُّ فِیْهِ اَقْدَامُ الْمُنَافِقِیْنَ فِی النَّارِ

چه فارغ شې له اودسه دا دُعا لوله له پسه

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَیْكَ

چه اودس اوکړې روان شې دا دُعا وایه مرخان شې

اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

په مسجد چه قدم کښیږدې دا دُعا وایه چه پسې بږدې

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذُنُوْبِیْ وَفْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَاَبْوَابَ کَرَمِكَ یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ.

## فصل-ذِکر دَ هغو خیزونو چه اودس تباه کوی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه اودس تباه کوینه ‌ ‌ کل اته ویشت توکه دینه
اول بول غایط زده کړه ‌ ‌ بیا مذی ودی شمیره کړه
بیا چینجی تر دوه سوراخه ‌ ‌ باد هم دے تر دوه سوراخه
دَ پرهار وینے یا ښوے ‌ ‌ کهٔ جاری زیړے اوبهٔ وے
دَ حلق وینے لړے ډیرے ‌ ‌ دَ ناف وینے تیر و بیرے
قے دَ خولے وینے دَ پوزے ‌ ‌ دَ اوږې وینے دی بدبوزے
کهٔ اوبهٔ وځی له نافه ‌ ‌ اودس مات که بے خلافه
چه له مغزه بلغم بیل شی ‌ ‌ بیا تر حلق وُځی درغل شی
دَ نامهٔ اوبه هم هسے ‌ ‌ دُ سرې دی بے اودسے
دَ ذکر چینجے هم بد دے ‌ ‌ دے په دے شمیره نامزد دے
وینے ښوے کهٔ زرد آب دے ‌ ‌ دَ بینی په دا حساب دے
ښوے زیړے اوبهٔ وینے ‌ ‌ کهٔ دَ خولے دَ پوزے وینے
کهٔ خندا په قهقهه وکړه ‌ ‌ په مانځهٔ کښے هم بشهٔ نهٔ کړه
بیهوشی که لیونتوب دے ‌ ‌ بل تکیه و هلے خوب دے
بنځه نرچه سره ورشی ‌ ‌ بسوده فرج او ذکر شی
یا بربنډ سره کنار شی ‌ ‌ سره دواړه نا قرار شی
چه جاری پرهر لرینه ‌ ‌ اودس مات شهٔ چه وقت ځینه
په دا شان استحاضه ده ‌ ‌ مبرهنه مسئله ده
زَک وهل هم اودس مات که ‌ ‌ یا کهٔ کم یا ئے ځوک زیات که

## فصل ـ دَ اتو مسئلو دَ وضو دَ نمانځهٔ په کار

دا اته مسئلے بنے دی ‌ ‌ په نمانځه په اودس کښے دی
په درے نمونځ اودس ماتیږی ‌ ‌ په درے نمونځ دَکس ماتیږی
په دا درے توکه نمونځ مات شی ‌ ‌ دَ اودس کله آفات شی
اول توک خندا قهقهه ده ‌ ‌ دَ اودس چار په عمدا ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیهوشی دَ سویدا دہ
یو دَ پوړے وینه جانه
چه خوارهٔ وخوړے نموږ مات شی
بل کثیر فعل اے ناسه

دَ نمانځه دَ اودس دا دہ
دَ اودس دی دا نقصانه
بیا ویل چه کم وزیات شی
یعنی کار په دواړه لاسه

## فصل۔ ذکر دَ تیمم

کهٔ اوبهٔ نهٔ پیدا کیږی
تیمم په خاورو روغ دے
روغ په هم په آهک دے
په کالی کهٔ پروت غبار وی
چه اوبهٔ په نظر کښیوزی
چه اودس په ځهٔ ماتیږی
په اودس کښے نیت سنت دے
دَ سړی چه اودس نهٔ وی
کهٔ حائض نفساء وی
کهٔ ئے توان دَ اودس نهٔ وی
یا چه رنځ دَ چا زیاتیږی
کهٔ سړے دَ اودس نهٔ وی
کهٔ اوبهٔ تهٔ نزدے تهٔ ئے
حد یومیل دَ تیبا نهٔ دے
کهٔ اوبهٔ دی ترمیل کمے
په ورتلهٔ کهٔ وخت تنګیږی
وخت دِ نهٔ پریږدی له دسته
چه تیبون وهے هوښیاره
دواړه لاس په خاورو کښیږدہ

تیمم په تا فرضیږی
دا خبر نه په دروغ دے
هم په سنګ هم په نمک دے
باندِ درست دَ تیبون کار وی
نور تیبون له تنه پریوزی
په هغهٔ تیبون ورکیږی
په تیبون کښے فرض نیت دے
یا جنب غسل په دهٔ وی
تیمم باندِ روا وی
تیمم کا رنځور بنهٔ وی
په دا هم تیبون رغیږی
تیمم کا مریض بنهٔ وی
تیبون کړه کهٔ خبر نهٔ ئے
کهٔ ځهٔ کم دے روا نهٔ دے
یا په غرهٔ وی یا په سمے
په ضرور تیبون رغیږی
بیا دِ کا دَ قضا مرسته
یا که خاوره کړه اختیاره
بیا ئے پاس په مخ ورپریږدہ

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم څل دواړه لاسونه — وُمړه دواړه ساعدونه
هر سړے چه نموځ گذاروی — خبرداره په دا کار وی
نیت ئے پټ نۀ دَے آشکار دے — کار دَ نظم اختصار دے

## فصل- په موزه مسح کول

په موزه مسحه روا ده — معتبره دا وینا ده
درست تمام اودس چه وکړه — بیا په پښو په موزه تۀ کړه
بیا کۀ تۀ شے بے اودسه — په موزه کړه مسحه کَسه
دَ مقیم شبانه روز ده — مسافر لره سه روز ده
په حساب ئے هغه دم دے — چه حدث شی نۀ بل دم دے
کۀ موزه له پښو بدر کړے — بے حدثه پښے به تر کړے
مسح درے خط چکول دی — موزه باندِ لاس مښل دی
کۀ موزه شی هومره څیرے — چه درے گوتے ځی پرے څیرے
نور پرے مسح نا روا ده — دَ موزے خبره دا ده
کۀ دَ لاس و پښو پرها روی — نور لته تر پرهَر جاروی
کۀ صورت ته زیان رسیږی — مسح هم باندِ رغیږی
کۀ ئے زیان په وله کښے نشته — تۀ ئے پرے وینځه اوبۀ شته

POHA
پوهه

## فصل- لس څیزه سنت دَ ابراهیمؑ پیغمبر

په اوبۀ په خولۀ په پوزه — بل مسواک کول به روزه
بل دَ سر وینښتۀ خرئیل دی — زیر ناف دی دَ بغل دی
بل ختنه کول اے جانه — استنجا په اوبۀ څوانه
بل اخستل دَ بریتونو — بل اخستل دَ نوکونو
دَ نساء دَ سر وینښتۀ دی — چه ئے نۀ کړوی بنۀ دی
دا سنت لس دَ خلیل دی — دَ مومن دی دَ اصیل دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په ځائے که دالس خیزه
اولیاء دی اے عزیزه

## فصل- ذکر دَنارینه دَعورتنی دَاوبو

کۀ دَ مرد کۀ دَ نساء دی
څلور رنګه اوبۀ دا دی
اول بول بیا مذی وی
بیا ددی وی بیا منی وی
کار دَ بولو خود څرګند دے
کار دَ نورو په بند بند دے
مذی پاڅی له شهوته
منی وُځی له آلته
ترمذی ودی وی زیات
وُځی پس له بوله پات
اودس مات په دا درماشی
لروه یرځۀ چه پیدا شی
په منی غسل لازم شی
کۀ دخول کۀ محتلم شی
په لذت چه را پیدا شی
په هر رنګ غسل رواشی
کۀ مخفی وی په ذکر کښے
غسل نشته په داچر کښے
دَ نساء حکم جدا دے
په پیدا په ناپیدا دے
دوه پردے دَ ښځے فرج وی
درونی بیرونی درج وی
اعتبار دَ درونی وی
چه مدار په بیرونی وی
احتلام دخول دَ دواړو
حیض نفاس دَ څلور واړو
چه درون ئے آلوده وی
نو ځځ بے غسله بیهوده وی
اول ښځے لره بویه
پرے دِ بوزی ګوته لویه
پاکیزه دِ خپل اندام کا
بیا دِ درست غسل تمام کا

## فصل- دَغُسل په څونوعَ

خوارلس غسل فریضه دی
په کتاب کښے عریضه دی
یو دخول دَمرد وزن دے
کارئے پټ نۀ دے روشن دے
په منی په نامنی هم
غسل بویه کۀ منی هم
دَشیطان غلطوُ نه
دَمنی په تو یو نه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنځه نر چه سره ورشي    بے مني ئے حشفه ورشي
دَ نفاس غسل لازم دے    بیا دَ حیض غسل هم دے
چه نظر وکړه په بنځه    په انزال غسل ته ته ځه
که ځوک یا دیه زړه کښے تهٔ کړے    په انزال به غسل وکړے
یو دخول پست ورسا دے    که ځهٔ غسل دے هم دا دے
بل صحبت دَ مرد له زَنه    دا هم چار ده مبرهنه
که جُنب شے خوب ونهٔ کړے    نهٔ پیشاب غسل زر وکړے
بیا مني له تا جدا شي    دوباره غسل روا شي
که دوه بنځے سره ورشي    فرج په فرج ئے برابر شي
په انزال په نا انزال هم    که دِ غسل دم درحال هم
چه انزال شي له چارپایه    مرد لا نبه ورته وایه
غسل نشته بے انزاله    له چارپائے دِ ما لاله
چه حشفه په دبر لاړه    غسل ورغے په دواړه
چه له خوبه سرے ویښ شي    په مني کښے په تشویش شي
که ئے خوب په یاد هیڅ نهٔ وي    دا ځائے هم غسل بایده وي
په کندګي چه ناپاک تن شي    غسل فرض په مرد و زن شي
دَ جُمعے غُسل سنت دے    دَ عیدین په دا نیت دے
دَ مُرده غسل واجب دے    دا دِ نړه دَه کا چه طالب دے
چه کافر مومن په دین شي    نفل غسل پرے تعیین شي

## فصل - صفت دَ غُسل

غسل فرض دَ جنابت دے    په قرآن کښے روایت دے
چه جُنب شے دخول وکړے    بو یه دا چه ځان او دهٔ کړے
یا پیشاب وکړه اے ځوانه    مني لرے کړه له ځانه
بیا وغُسل ته ځان ساز کړه    غسل دا رنګه آغاز کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول ولنه د لاس بویه
له لاس وللوچه وزګار شي
نجاست له تنه دور کړه
که دیوال که خاورے پاکے
لاس پرے ومږه خوواره
ماء په خوله کړه له اوله
بیا و پوزه اوبه ورکړه
که تمام اودس ته وکړے
وچ که پاتے تار د موئ شي
چه کوخیځ د سر وو دوی
چه ترته ئے اوبه یوسي
د کوخیو بیخ چه ترشي
جنابت دے که نفاس دے
د جُنب غسل چه شان دے
کار د درے واړو یکسان دے
چه په خوله اوبه اندر کړه
په وضو کښے داسنت دی
ته چه غسل کړے اے ځویه
د تنها طهارت من دے
که ئے زیات کړے تبذیر شي
که په کور کښے ئے دا دود دے
تر خلورو منو کمے
که جنب په سیند کښے ډوب شي
که باران باندے وریږی
بویه دا چه اودس وکا

بنه کوزه کړه باندِ تویه
استنجا له به تیار شے
بیا لاس نورعلی نور کړه
وچ خشک یا نم ناکے
لاس بنه پاک کړه یار د یاره
غرغره وکړه درے ځله
بس دا غسل دے باور کړه
غسل بیا وکړه هم بنه کړے
جُنب پاتے زنو شوی شي
که بے شماره ډیر هم خووی
نور دِ هسے وچے وُسی
وچ ویښته ئے هم بهتر شي
که د حیض کوز وپاس دے
د نفاس غسل آن شان دے
پرے به پوه شي چه انسان دے
بیا و پوزه اوبه ورکړه
په تغسیل کښے فریضت دی
خلور منه اوبه بویه
هغه نور د درست تن دے
که ئے لږ کړے تقصیر شي
هیڅ اسراف نشته که زود دے
بدے زیاتے شي دی سے
کار د ده د غسل خوب شي
تن ئے لوند شي غسل کیږی
بیا دِ نمونځ سره هاله کا

پوهه POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارچه ستا دَ جنابت وی — ته ئے زده کړه چه سنت وی
یوچه لاس په دیوال پاک کړے — بیا چه مشته ئے په خاک کړے
یوچه واړه اودس وکړے — بیا تمام غسل هاله کړے
بیاچه پاسی پریږدَ خپل ځائے — پښے بښے پریوځی بل ځائے
په هنګام دَ غسل یاره — وِرد دا سود لری بے شماره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ سَمِيْعُ الْعَلِيْمُ ط رَبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيْطَانِ وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنَ وَاَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ كُلِّهَا مِنْ شَرِّ ذِيْ شَرٍّ وَضِدِّ كُلِّ ذِيْ خَيْرٍ
يَا مُجِيْبَ الدَّعْوَاتِ الْمُضْطَرِّيْنَ بِرَحْمَتِكَ
يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ط

چه تمام غسل ادا که — بویه داچه دا دُعا که

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ
تَمَامَ الْوُضُوْءِ وَتَمَامَ النَّحْرِ وَتَمَامَ الْغُسْلِ وَتَمَامَ الصَّلٰوةِ
بِمَغْفِرَتِكَ وَرِضْوَانِكَ يَا اِلٰهِيْ بِفَضْلِكَ وَبِرَحْمَتِكَ
يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ط

چه دَ ښځے وینے وینے — په درے رنګه به ئے وینے
حیض نفاس استحاضه دے — سرهٔ وَ زیړ وَ بیاضه دے
دَ زنانو له زِړه دانه — راځی نهٔ له پاسه جانه
دَ اقل ئے دی درے ورځے — واکثر ئے لس چه خوځے
کهٔ تردریو ورځو نه کم وی — ترلس ورځو افزون دم وی
کم ډیر استحاضه دے — تیرو بیر استحاضه دے
چه ایام ئے خطا نهٔ وی — پرے اودس په هر نمانځه وی
چه ایام ځنے خطا شی — په هروخت غسل روا شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ نفاس اقل پاکي ده ‌ ‌ ‌ څلويښت ورځے بيباکي ده
تر څلويښت کهٔ زياده وي ‌ ‌ ‌ هغه هم استحاضه وي
يو دخول دَ حيض عار وي ‌ ‌ ‌ نور سوا واړه روزګار وي
لکه حيض چه دَ نساء دے ‌ ‌ ‌ هسے کار دَ نفساء دے
نمونځ روزه نشته په دواړه ‌ ‌ ‌ هم لوستل تلاوت واړه
دَ روژے قضا دِ کاندي ‌ ‌ ‌ دَ نمانځه نشته پرے باندِ
چه نساء مستحاضه وي ‌ ‌ ‌ حکم دا دی کهٔ دِ زده وي
دا دِ کار که لکه پاکه ‌ ‌ ‌ په دخول کښے ده بيباکه
دَ حيض وينے دي سرے غوړے ‌ ‌ ‌ يا کبود تورے زيړے
دَ پاکئ دي اوبهٔ سپينے ‌ ‌ ‌ پاکيزه په رنګ مهينے
چه عادت دَ ښځے څهٔ وي ‌ ‌ ‌ هغه وخت سپينے اوبهٔ وي
حيض کهٔ کم شي له عادته ‌ ‌ ‌ نشته غم له طهارته
دا دِ ځان په غسل پاک کا ‌ ‌ ‌ نمونځ روژه دِ په تپاک کا
يو دخول دِ هله کاندِ ‌ ‌ ‌ چه عادت ورشي دَ وراندِ

## فصل - ذکر دَ څلورو پاکيو

مونځ ګذار له مسطور دي ‌ ‌ ‌ دا څلور پاکئ ضرور دي
اول پاکے اوبهٔ بويه ‌ ‌ ‌ دَ آسمان دي کهٔ له جويه
تن جامے څلورم ځائے دے ‌ ‌ ‌ واړه پاک حکم دَ خدائے دے
کهٔ اوبهٔ شي مستعملے ‌ ‌ ‌ په پاکئ کښے شي درغلے
چه پرے غسل اودس وکړه ‌ ‌ ‌ مستعملے دا اوبهٔ کړه
بيا پرے غسل ناروا دے ‌ ‌ ‌ اودس هم باندِ خطا دے
چه خيرن نمري پريول شي ‌ ‌ ‌ رنګ و بوئ دَ اوبهٔ بل شي
هغه هم دي مستعملے ‌ ‌ ‌ شي دِ زيات تر درے ځلے
مستعملے اوبه ياره ‌ ‌ ‌ پليدي سره وشماره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ کثیر فاحشے نهٔ وی
په صابون په شخا رچه نور
دَ اوبو چه رنګ بل شان شی
کهٔ ئے بوئی طعم بدل شی
همګی وینه روانه
دَ پرهار کهٔ دَ بسمل وی
هغه واړه دی ناپاک
دَ امام اعظمؒ په قول
اِلّاَ بول دَ ښاروی
چه په دا کښے اختلاف دے
غُشا یهٔ واړه پلید دی
هر مارغهٔ چه دَ خوراک دے
یو دَ چرګ پنچال ناپاک دے
هر مارغهٔ چه ښکار کوینه
دَ هغهٔ پیخال مکروه دی
یا چه قے په ډکه خولهٔ وی
دا همه واړه پلید دی
پس خوردے په دړے سلوک دی
دَ سړی پس خورده ښهٔ ده
دَ جُنب دَ نفساء هم
چه ئے غوښه سړے خورینه
پس خورده ئے ګنړه پاکه
چه ګنډکی منډکی سرګند خوری
پس خورده دَ سپی سعیده
چه مکروه ئے پس خوردے دی
کاروبار ئے ښهٔ خوښهٔ وی
کهٔ زعفران وی یا سرهٔ تور
او دس غسل ته نقصان شی
هغه هم هسے خلل شی
پلیدی لری اے جانه
دَ ښاروی کهٔ دَ ښهٔ بل وی
پس دَ غوښو دی بے باک
پلیدی لری هر بول
چه ئے غوښے خوری سړی
په اندک سړے معاف دے
پړے پوهیږی چه سعید دی
دَ همه و پنچال پاک دے
بل دَ بطے هم پُرباک دے
چه خوراک ئے غوښے وینه
پړے خبر بویه چه پوه دی
دَ هغهٔ بلغم اوبهٔ وی
چه ئے ښهٔ ګنړی کور دید دی
پاک، پلید، مکروه مشکوک دی
دَ کافر هم پاکیزه ده
لا دَ حیض دَ نساء هم
کهٔ ښاروی کهٔ مارغهٔ وینه
مګر چرګ بطه بد ژواکه
هاله ښهٔ له علف بند خوری
دهر دوه ګنړه پلیده
مار دَ موش ګربه دا درے دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ دَ شلاندِ کهٔ دَ نول
چه دَ مزکے خښنده دے
چه پیشو وے مژک خوړلے
تهٔ ئے وکنړه پلیده
پس خور دے دی چه مشکوک
کهٔ په ماءِ ئے پوره خولهٔ ده
هم اودس باندِ رغیږی
کهٔ عرق کهٔ ئے لعاب دے
چه ئے نهٔ وی جاری وینه
کهٔ دَ دوئی غوندِ خهٔ نور وی
په اوبو کښے کهٔ دا ومری
کهٔ چیندخه کهٔ ماهے دے
په اوبو کښے کهٔ پراتهٔ وی
کهٔ اوبهٔ دَ خُم دَ چاه وی
مژک، مرغئ یا چرمښکئ
کهٔ په چاه کښے ومری پړسوځی
ترے بیرون دِ بوقے شل که
کهٔ یو نهٔ وی پکښے دوه وی
کهٔ پکښے اما سیده شی
کهٔ سرکه ده کهٔ ګلاب دی
کهٔ خوړے شی شودهٔ پئ
په دا واړه جامه وله شی
نجاست کهٔ دِ په تن وی
هغه ځائے چه دَ سجود وی
کهٔ نجس دِ درم زیات وی

سره یو کنړه دا قول
همګی دَ موش سره دے
اوبهٔ خښنی اور بوز لړلے
لا یجوز ننا مفیده
نهٔ پلیدی نهٔ ملوک
دَ قچرے ده دَ خرهٔ ده
کهٔ تیبون وکړه مونځ کیږی
په مشکوکو ئے حساب دے
لکه مچ مچئ چه وینه
تاروګے کهٔ کوتکټ تور وی
خوک دِ بدګمان پرِنهٔ وړی
چه په ماءِ سره ژوندے دے
مړه، سره واهغه اوبهٔ وی
یا دَ حوض پرے تباه وی
چه کم زیات وی تر مرغئ
دَ سړی په نظر کښیوزی
هم وضوء هم دِ خښنل که
مړه. هاله چهل دلوه وی
واړه چاه دِ پاکیزه شی
کهٔ دَ ونو پئ آب دی
کهٔ ګنی وی کهٔ مولئ
کهٔ جامه دِ آلوده شی
په دا واړه دِ شُستن وی
یا تر پښو لاندِ موجود وی
مسئله ده، نهو نځ ئے مات وی

پوهه
POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ کُشتا روی کهٔ مرداروی — چه ئې پوست د چا پکار وی
په بِسمل سره پاکیږی — بې بسمله نهٔ رغیږی
مګر پاک په دباغت شی — هاله زړهٔ ترې فراغت شی
په سپی وو چه تکبیر وکړه — دې به پاک په بِسمل ته ئې کړه
نموږځ پرې کړه بې دباغته — وایم زهٔ له روایته
د سړی د ګوشت پوست دواړه — ناروا روا نور واړه
شرط په مینځ کښې دباغت دے — چه بسمل شی بې آفت دے

## شپږم باب
## ذکر د نمانځهٔ د هرباب

د نمانځهٔ نهٔ م آغاز دے — په خلور قِسمه نماز دے
فرض، سنت، واجب دا درے دی — تطوّع هم وریسے دی
لکه فرض په مراتب دی — تر سنت هسے واجب دی
درجه د فرض بالا ده — تر واجب، مسئله دا ده
تطوّع نفل نماز دے — چه ئې کړے هومره جواز دے
سود ثواب ئې دے په کړهٔ کښې — عذاب نشته په نهٔ کړهٔ کښې
په قرآن کښې چه صادر دی — یا ثابت په تواتر دی
هغه کل نمونځونه فرض دی — ګذارل ئې لکه قرض دی
چه له فرضه څوک منکر شی — په تحقیق هغه کافر شی
چه ئې زده نهٔ ګذارینه — له فاسقه شماره دینه
چه ادا کا قضا واړه — پرې خلاصیږی د دهٔ غاړه
چه قضا که درې مونځونه — د امام په قول څونه
د هغهٔ قتل روا شی — کهٔ دا کار ئې په عمدا شی
په واجبه کهٔ انکار کا — کافر نهٔ شی نور بدکار کا
کهٔ واجب د چا قضا شی — اعاده د واجب بیا شی
سنت مونځ د زر ادا شی — قضا نشته کهٔ قضا شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



فریضه لمونځونه پنځ دی — په پېنځه وخته پنځ ګنج دی
دَ صبا دی دوه رکعته — چار دَ ظهر بې سنته
بیا څلور دَ مازیګر دی — دَ ماښام درې مقرر دی
بیا څلور دَ ماسختن دی — بې سنت واجب په تن دی
لمونځ دَ وتر دَ عیدین — جنازه کړه بیا عین
دَ طواف بل لمونځ دَ نذر — واجب دا دی شپږ په جهر
سنت واړه کړه دولس — چاوښلي دی اتلس
دَ بامداد دَ فرض پخوا دی — دوه څلور دَ ظهر دا دی
دوه دَ ظهر تر فرض پس دی — بیا دَ عصر څلور بس دی
دوه په وخت دَ ماښام بیا دی — وروسته دوه دَ عشا دی
تحیّت دَ مسجد دوه دی — دا حرام دوه په مکه دی
دا دَ عصر څلور چد دی — تحیّت چه دَ مسجد دی
که ګدازے ثواب ډیر دے — کړه حکم ئے تیر بیر دے

## فصل - دَ مانځهٔ دَ نیت

په مانځه کښې لازم نیت دے — فریضه دے که سنت دے
نیت دَ وخت نیت دَ امام دے — په څلور نیت تمام دے
تطوّع چه ګذارینه — بس چه نیت دَ مانځه وینه
په قیام پښه لرو بر کړه — سجده ګاه ته دِ نظر کړه
په رکوع کښې دِ پښې ګوری — له نورځه دِ نظر ژغوری
په سجود نهٔ په بل لوری — هغه وخت دِ پوزه ګوری
شل سرونه دی دَ ګوتو — په قبله بویه دَ بختو
چه پا سینه چه کښېنینه — په بنډ پښه دِ آغاز وینه
تحیّات چه ابتداء کا — په زانو دِ نظر وا کا
هغه وخت چه مونځ تمام کا — انتها دِ په سلام کا

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سلام کښې دا نیت بنائی ۔۔۔ په فرښتو دِ سلام وائی
په هغو چه خوک شریک دے ۔۔۔ په نمانځه کښې په تحریک دے
په نمانځه کښې تسبیحات ۔۔۔ خود ښکاره دی تکبیرات
چه درست مونځ واړه ادا کا ۔۔۔ بویه دا بیا دِ دُعا کا
اول بویه چه خان ژاړی ۔۔۔ مور و پلار دِ بیا وغواړی
مومنان دِ واړه یاد کا ۔۔۔ په دُعا دِ هرخوک ښاد کا
دا حدیث دَ پاک رسول دے ۔۔۔ پس له نمازه خواست قبول دے

## فصل ۔ دَ نمانځه دَ فرضونو

په نمانځه کښې دولس څیزه ۔۔۔ فریضه دی اے عزیزه
شپږ بیرون شپږ اندرون دی ۔۔۔ درته وایم چه بیرون دی
دَ لاسونو دَ مخ وِلل وی ۔۔۔ په جامه ځان پټول دی
چه پرے نمونځ کوی پاک ځائے دے ۔۔۔ بل په وخت دَ نمانځه راغلے دے
وقبلے ته مخ کول دی ۔۔۔ نیت دَ مونځ په ځائے راوړل دی
دَ تکبیر و ټیل اے یاره ۔۔۔ دروني سره وشماره
بیا په پښو ودریدل دی ۔۔۔ ورپسے قرآن لوستل دی
بیا رکوع دے بیا سجود دے ۔۔۔ دَ قعدے روستئ نمود دے
چه په دا کښې یو نقصان شی ۔۔۔ واړه نمونځ دَ سړی وران شی
چا چه نهٔ کړه دا واړه ۔۔۔ خلاصه نهٔ وی دَ دهٔ غاړه

## فصل ۔ دَ نمانځه دَ واجبات

دَ نمانځه چه واجبات دی ۔۔۔ اُوهٔ څیزه دی، نهٔ زیات دی
فاتحه ضم له سورته ۔۔۔ په اول دوه رکعته
دویم سم چه ودریږی ۔۔۔ په رکوع سجود کوزیږی
تشهد ناستے دریم دے ۔۔۔ آخرین ئے خلورم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



پینځم لوستل دَ قنوت دی
دَ عیدینو تکبیرونه
اُوم لوستل دَ امام دی
بیا سرګند دَ ماسختن دی
کهٔ په قصد کهٔ په نسیان وی
کهٔ واجب پاتے عمداً شی
کهٔ په هیر وی عمل نهٔ وی
کهٔ سنت پاتوله چا شی

چه په وترکښے ثبوت دی
واجب وشول شپږ څیزونه
په سرګند چه صبح وشام دی
دوه نمونځونه یت خواندن کی
فرض چه پاتے شی درست زیاتی
نمونځ نقصان سره ادا شی
سجده سهوه وکړه بنهٔ وی
قضا نشته نور بلا شی

POHA

## فصل- دَ نمانځه دَ سنتونو

څلیرویشت څیزه دَ نمانځه دی
قولی دولس دی عزیزه
چه قولی دی درته وایم
یو سُبحانَكَ اللّٰهُمَّ
بیا وئیل دَ بسم الله دی
لِمَنْ حَمِدَهُ پینځم شی
په رکوع کښے تکبیراته
په رکوع کښے تسبیحاته
فاتحه لوستل یوولس
چه فعلی دی سنتونه
چه تکبیر تحریمه کړے
چه برحال دِ انګشتان وی
هم قومه دهٔ هم جلسه دهٔ
بیا سلام داستا چپا دے
دَ امام متابعت دے

چه سنت دی زیاتی نهٔ دی
بیا فعلی دی دولس څیزه
واوره بنهٔ دی چه دے وستایم
بیا اَعُوذُ دهٔ دویمه
بیا وئیل سَمِعَ الله دی
رَبَّنا لَكَ شپږم شی
دَ سجود وایم وَ تاته
دَ سجود غوږ کړه وَ ماته
تحیّات لوستل پس دولس
په اکثر روایتونه
هسک لاسونه تراوږه کړے
بنے په کینږ پسے عیان دی
بیا په دا پسے سجده ده
کستردن پسے دَ پا دے
دَ قنوت تکبیر سنت دے

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قعده کښې ناسته بیا دے — په دویم هم احصا دے

## فصل - دَ نمانځه دَ ادبونو

دا پینځلس دی آداب — په نمانځه کښې اے احباب
په تکبیر کښې لاس ترغوږه — وروستنه ده ونغوږه
پښې چه بیرته سره کښیږدے — یو څپک ئے ترمنځ پریږدے
په تکبیر کښې چه لاس کوز کړے — بیا سر پورته سم وربوز کړے
په رکوع کښې چه ئے کوز کړے — په ادب کښې دا یجوز کړے
بیا اول په زانو کښیږدے — په اخسته کښې کینړ پریږدے
چه رکوع وکړے بیا سم شے — لاس اوږده کړه سینه خم شے
وسجود ته چه کوزیږے — ادب دا دے که پوهیږے
اول کښیږده زنګونه — وریسے کښیږده لاسونه
بیا زنګون بیا لاس اول ږده — خپل اندام ورسره مل ږده
په اخستل کښې کینړ آخله — که زنګون که لاس اے دِله
له سجدے ئے پورته بوزه — اول وچولے بیا پوزه
بیا کینړ لاس وریسے بیا دے — په کینبو کښې که پروبے دے
تمام قد چه ودریږی — قرأت ته وجوړیږی
لوستل زیات تردرے آیته — تسبیح زیات تردرے کرته
تشهد دراز دیل دی — داخو توکه فضایل دی

## فصل - دَ نمانځه دَ مکروهات

دَ نمانځه چه مکروهات دی — دولس څیزه دی نه زیات دی
په تکبیر چه لاس بالا کړے — ته ئے پورته ترسر لا کړے
قرأت لوستۀ په بیړه — خولۀ بے رنګه پټه ویره
بیا دَ سترګو پټول دی — یو سر بل سره غړول دی

POHA پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رکوع کښې سر کوز پاس کړے
بنسئ پښه په تشهد کښې
منګل تولے کړه په نماز کښې
ترسلام پښوا چه وکړه
دولس دا دی چه انشاء دی
ځوک چه نمونځ کاندِ سرتوروی
یاچه نمونځ وی سربرهنه کا
چه ملا وتړے نمونځ کاندِ
چه نمونځ کاندِ مخ صورت ته
نمونځ چه کا په شاهراه کښې
نمونځ چه کاندِ په آسیا کښے
رودخانه چه ځائے نمناک وی

یکلخت کوز مروند دَ لاس کړے
کښیني ته په تردد کښې
لاس کړه تول دَ نماز په راز کښې
سجده سهوه هم بښه نه کړه
اَته نور موضوع هم دا دی
چه نمونځ کا مخ ئے په اورئے
دا مکروه دی که سجده کا
جامه نغښتے روستو وړاندِ
چه نمونځ کاندِ مخ تربت ته
په حمام یا په پانیکاه کښے
یاچه کا په استبرا کښے
احتمال دے چه ناپاک وی

## فصل- فرق دَ مردانو دَ زنانو

په څو توکه دَ مردانو
په تکبیر کښې لاس تردوش
تولے پښې دِ وُدرینه
نشته بانګ نماز په ښځو
نهٔ پرے بانګ نهٔ پرے قامت شته
نهٔ پرے نمونځ دَ جمعے دین دے
که ئے کَه ثواب به مومی
لاس دِ کوز کښیږدی تر تیو
رو پرے لوسته دَ نمانځه شته
په قیام کښې چه درینه
چه ئے ناست په تشهد وی

کار چه نور دے دَ زنانو
وړی دِ ښځه، نرتر ګوش
چه کښیني یاچه پاسینه
دَ قامت جواز په ښځو
نهٔ پرے نمونځ په جماعت شته
نهٔ په دوئ نمونځ دَ عیدین دے
پوشیده دِ صف ته دروی
پټ لاسونه تر وشیو
پرے بلند قرأت نشته
پښې دِ وصلے سره ږدینه
ناست په کینړ سرین لابد وی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښئ پښه دِ نژدے ړ.دی        ځان دِ تول وبله کښیږ.دی
سرترپایه دِ ځان پټ کا        نامحرم وته دِ چپټ کا
کۀ هلک ئے په دوش ناست وي        یا وَدۀ په غیږ.کښے نماست وی
کۀ جامے ئے پاکیزه وی        دَ نمانځه کله بزه وی
کۀ جامه ئے وی چرکینه        یو درم نمونځ ئے نۀ شینه
پئ دَ تی کۀ هلک روی        په نمانځه کښے نمونځ ئے نۀ وی
مخ وسغوے ، تلے نۀ دی        عورت ۔ نور عورت هرځۀ دی
کۀ سینه وی کۀ پهلو وی        کۀ ورمیږ. کۀ دَ سرمو وی
کۀ ئے لیچے کۀ ئے ساق وی        په دا کار کښے اتفاق وی
چارویک چه برهنه شی.        نمونځ دَ ښځے حبطه شی
کۀ کمتر تر چارویک وی        سکه روا ئے نمونځ په شک وی
کۀ ئے کیږه یا ئے لنړه        کوز دَ پرتا کۀ تر گنډه
کۀ بربنډ تردرم زیات شی        اتفاق دے نمونځ ئے مات شی
مګر ډیر ضرور پرے پیښ شی        حادثه وی یا ئے ریش وی
چه میړو شی دی میرمنے        پرهیزګارے پاک لمنے
مخ تلی دَ پښو رخصت وی        ورته نور واړۀ عورت دی
نابالغ جینئ یا وینځه        داغوک توک ځنے وینځه
کۀ برمنډ ئے سریا مُو وی        یا ئے ساق ګردن باهو وی
باک ئے نشته نمونځ ئے کیږ.ی        په دا کار دِ وپوهیږ.ی

## فصل دَ هغه فعل چه خلل دَ نمانځه لری

په لړم په مارکۀ وکړے        په نمانځه کښے ګذار بنۀ کړے
دَ یوۀ ګذار غم نشته        کۀ دوه درے وی باک هله شته
کۀ دَ خدائے له ترسه ژاړی        په نمانځه کښے به دے ویاړی
کۀ ته ژاړے له ماتمه        یا دوے جهان له غمه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمونځ دِ مات په دا ژړاشي    کۀ په ړو وي کۀ نړاشي
کۀ تۀ یو سر بل سر ګورې    په جامه لوبې کړې شورې
یا ویښتۀ نموږې په ګوتو    یا څان تۀ نموږې په ګوتو
دا شان هر فعل چه شینه    دا نمانځه خلل لرینه
یائې نمونځ شي بې ثوابه    یائې درسته چار خرابه
کۀ سرفه وي کۀ عطسه وي    لکه حق دي هسې بنۀ وي
کۀ اَخ اُخ پکښې پیدا کړې    خپل نمانځه لره بلا کړې
کۀ تۀ حرف پکښې پیدا کړې    نمونځ دِ مات په دا دا کړې
کۀ څوک با دَ څولې پوکینه    په آواز سره نمونځ ځینه

## فصل- دَ نمانځه دپاره شناخت دَ قبلې

چه ئې شناخت دَ قبلې نۀ وي    مسافر وي کۀ نور څۀ وي
دَ قبلې تحقیق دِ وکا    بویه داچه نمونځ هالۀ کا
کۀ څوک نۀ وي دَ پوښتنې    وخت ئې درومي په مرستنې
خپل یقین ته دِ وګوری    نمونځ دِ کا په هغه لوری
په نمانځه کښې کۀ خبر شي    چه ئې نمونځ په بل مقر شي
په نمانځه کښې دِ څرخ وکا    وقبلې ته دِ مخ بنۀ کا
کۀ ئې شک وي تحرّي کا    مخ په کېڼ کله په ښي کا
کۀ څلور لوري په څرخیږي    لازم نۀ دي نمونځ ئې کیږي
په تحرّي چه نمونځ ادا کا    چه خبر شي نمونځ دِ بیا کا
په بېړئ کښې نمونځ روا دے    کۀ ولاړ کۀ ناست بر جا دے
په هر لور چه بېړئ غورزي    وقبلې ته دِ دے ګرځي
کۀ تړلي سره درومي    دو بېړي امام څوک مومي
اقتدا پسې روا دہ    دا خبره په رښتیا دہ
نفل نمونځ کۀ سور په آس کا    مسافر به څۀ وسواس کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرض واجب سنت دِ دواړه — په ضرورت جواز غواړه
کهٔ دشمن یا بادباران وی — مونځ دِ کړه کهٔ ساعت ګران وی

## فصل - ذکر دَ سجده سهوه

فرض واجب چه پیش وپس کړے — یائے زیات وکم ته کس کړے
یا سورة ورځنه هیر شی — یوالحمد وړته ډیر شی
لوست په رو یائے بلند کړے — یا بلند په رو سرګند کړے
قرأت تحیات دواړه — پیش وپس کړه په دا واړه
سجده سهوه شی واجبه — کهٔ ته سهوه شے طالبه
کهٔ دا کار تهٔ په عمدا کړے — نمونځ دِ مات شهٔ نمونځ به بیا کړے
کهٔ په سهوه په عمدا وی — کهٔ سنت پاتے له تا وی
سجده سهوه نشته جانه — مونځ دِ کیږی له نقصانه

## فصل-ذکر دَ مانځهٔ دَ موافقت یعنی وختونه

شب و روز چه فریضه وی — په کتاب کښے عریضه دی
همکی نمونځونه پنځ دی — په پینځه وخته پنځ ګنج دی
اول نمونځ، نمونځ دَ مداد دے — حکم هسے دَ اُستاد دے
چه رښتینے صبح کیږی — ګذاره شی چه نمر خیژی
چه زوال دَ آفتاب وشی — نماز پښین ګذارهٔ هالهٔ شی
چه دَ خیز سایه دوچند شی — ترهغهٔ ګذاره سرګند شی
نماز دیګر دِ ګذارینه — چه لا نمر په غرونو وینه
چه شفق دے تر غروبه — چار دَ شام ده هومره خوبه
چه سرخی دَ شفق ولاړه — ماسختن روا په واړه
کهٔ ترنیمے شپے ګذارهٔ شی — ګذارل دَ عشا نښهٔ شی
ګنړے وخت ئے همدمه — دَ صبا تر صبحدمه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتر نموڅ هم دَ عشا دے
دَ کتاب روايت دا دے

## فصل

چه مې ياد کړۀ پينځه وخته
فضيلت لري نيک بخته
کۀ په ژمی په ترتاب کښې
بامداد نموڅ کړه شتاب کښې
ظهر نموڅ په غارمه مات شي
په ګذارلې ثواب زيات شي
ميانه وخت مازيګر بنۀ دے
څو زيړ شوے نمر لا نۀ دے
خوما بشام اول ادا کړه
فضيلت لري سود دا کړه
درنګ بائدۀ په ماسختن دَ
بنۀ په پهر ګذشتن دے
وترنموڅ هاله بهتر وی
چه چرګ بانګ وکا سحر وی
په آسمان کښې ميغ باران وی
ګرد غبار چه په دا شان وی
مازيګر وی کۀ عشا وی
په وريځ دِ زر ادا وی

## فصل په دا درے وخته چه نموڅ پکښې روا نۀ دے

په دا درے وخته هوښيارۀ
نشته نموڅ له نمازګذاره
يوچه نمر علم سرګند کَه
سرَ دَ مزکے نه بلند که
بل چه تکنره غرمه شي
لاندې لږ سايه کږه شي
بل چه نمر ترغرۀ پنهان شي
بے له عذره بل نموڅ ګران شي
نموڅ دَ عصر يا دَ شام دے
تر دا منځ سجود حرام دے

## فصل- درے وخته چه نفل نموڅ نۀ کيږي

په دا درے وخته کښې زده کړه
ګذارل دَ نفل مۀ کړه
يوچه وخت دَ صبحدم شي
دَ بام داد دَ نمانځه غم شي
بل چه وخت دَ استواء شي
نفل هورته ناروا شي
هرچه نموڅ دَ عصر وکړه
چرے نفل نموڅ به نکړه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا درے وخته روا دی
کۀ قضا ګذارل دَ چا دی

## فصل - ذکر دَ اذان دَ اقامت

بانګ اقامت ویل سنت دی
په ښۀ صوت په ښۀ نیت دی
مؤذن چه بانګ آغاز کا
غوږ دِ هرڅوک په آواز کا
دَ دُنیا وئیل دِ نۀ کا
دَحق ذکر دِ په زړۀ کا
کۀ تنها سړے نماز کا
بانګ نماز دِ په آواز کا
کۀ ئے نۀ کا هم ګفتار دے
قامت بویه کۀ بیدار دے
بے اودسه اذان روغ دے
دا وانه په دروغ دے
کۀ مجنون دے کۀ کودک دے
یا جنب له ګندګئ ډک دے
لا بانګ وائی نساء وی
په مکروه ئے بانګ روا وی
کۀ په لاره ځی اذان کا
یا څوک نا بست اذان عیان کا
یا چه مخ په قبله نۀ وی
دا مکروه اذان دَ دۀ وی
کۀ اذان دے کۀ قامت دے
په دا دوه ځایه سنت دے
یو لازم په فریضه دے
ورپسے هم په جمعه دے
کۀ سنت ګذاری کۀ نفل
پرے آذان نشته په نفل
په قضا باندِ اذان شته
روایت ښکاره عیان شته
یو سړے په تمام ښهر
کۀ سړے واوری په جهر
بس کافی هغه اذان دے
په قامت ئے نمونځ روان دے
مسافر دَ اَس دپاسه
کۀ اذان کۀ روا نا سه
نۀ په دۀ باندِ اَذان شته
نۀ قامت په دۀ روان شته
کۀ په مزد بانګ نماز کا
روا نۀ دی لا جواز کا
کۀ بے مزده عطا مومی
ښۀ کۀ دے ئے له چا مومی
کۀ هلک کۀ بالغ نۀ وی
بانګ نماز روا دَ دۀ وی

## فصل - ذکر دَ امام چه حق لری

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دریږي خوک د وړاندې    امامت دِ هغه کا سند
چه لوستل د قرآن بنهٔ کا    مدوشد ئے خطا نهٔ کا
یا هغه چه فقیهه تر وي    یائے زهد معتبر وي
چه په داکښې واړه سم وي    په قامت دِ مقدم وي
چه عالم راضي په دهٔ وي    د هغهٔ امامت بنهٔ وي
کهٔ امام کنده نعل وي    امامت ئے په خلل وي
چه سر وړاندې دی یا روستو    یا تلوار کا په اخستو
بزه‌گارشي نهٔ پوهیږي    کهٔ فتوي دهٔ نمونځ به کیږي
نمونځ بنهٔ سبک‌گذارل بویه    کهٔ امام شي چرے خویه
قرأت صحیح ادا کړه    خلق سبک‌خلاص کړه م داکړه
شام خفتن صبا درے واړه    جهر دادی په درو واړه
په فرښتو د سلام نیت که    هم سلام په جماعت کهَ
کهٔ امام عورتینه وي    ماموم ښځے نرینه وي
نمونځ د ښځو پسے کیږي    د مردانو نهٔ رغیږي
کهٔ خښتن د جراحت وي    وړاندې کیږي قباحت وي
کهٔ امام تړلے نیت وي    فرض‌گذاري به قرأت وي
تهٔ په دهٔ پسے نیت وکړه    تطوع گذاره بنهٔ کړه

## فصل - د نمانځه د قرأت

د نمانځه قرأت فرض دے    په میرهٔ په ښځه فرض دے
په اول دوه رکعته    واجب شوي دي آیته
فرض خو یو آیت دے یا ره    دیر سنت سره وشماره
کهٔ په وټیاوکښے خطا شي    لوست آیت په تشي بیا شي
یو آیت کهٔ دراز وي    چه ئے ولولي نمونځ ساز وي
کهٔ کوتاه وي درے آیته    د الحمد له سورته

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صبا کښې چه آګاه دی / یا چهل دی یا پنجاه دی
دیرش په وخت ماسپښین دی / شل دیګر عشا تعین دے
سور توره چه کوتاه دی / دَ ماښام په وخت دلخواه دی
دا دِ زده کا چه طالب دی / قرأت لوستل واجب دی
په آخر تشیو روشن دی / چه الحمد لوستل سنن دی

## فصل - دَ قضا نمونځونو

چه یو نمونځ په قصد قضا کا / کبیره ګناه عمدا کا
هغه کس تر خدائے عاصی شی / کهٔ ئے بیا وکا خلاصی شی
نور دِ هسے توبه ګار شی / چه نمانځه ته تل تیار شی
څوک چه درے شبانه روزه / نمونځ قضا کا نورئے بوزه
سرئے ووهه بے درنګه / مکروه غم دَ دهٔ له جنګه
حکم دا دَ لوئے امام دے / دَ بے نمازه وندون حرام دے
روایت په تحقیق دا دے / دَ بے نماز قتل روا دے
کهٔ یو نمونځ سرے قضا که / شافعیؒ روایت دا که
په هغهٔ قتل روا دے / کهٔ بنده دے کهٔ مولا دے
کهٔ په عذر نمونځ قضا شی / اعاده دَ نمانځه بیا شی
عذر خځهٔ دے عذر خواب دے / یا کهٔ اور و باد و آب دے
یا په بند هسے بندی وی / چه او بهٔ ئے ځنے خوندی وی
یا بیهوش یا دیوانه وی / یائے سهوه په خانه وی
یا په رنځ هسے بیمار وی / چه سجود باندِ دشوار وی
په دا هسے شان عذرونه / کهٔ قضا شی شپږ نمونځونه
دَ ترتیب فکرئے نشته / کهٔ پینځه وی باندِ خځهٔ شته
فوت نمونځونه دِ ادا کا / ورپسے دِ وقتی بیا کا
کهٔ قضا وی ډیر نمازه / واړه شمار کړه له آغازه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر هر نمانځه دوه منه
غنم ورکړه ده روښنه
دَ نمانځه قضا په دا شي
دَ سړي غاړه ادا شي
عالمانو دي ويلي
چه دوه منه دي پسندلي
چه قضا شبانه روز وي
په اداکښې ئې فيروز وي
کۀ وارث ئې کردن خلاص که
په دا کار کښې بنۀ اخلاص که

## فصل - چه په نمانځه کښې اودس ماتشي

کۀ حدث شي په نماز کښې
غلطمۀ شه په دا راز کښې
کۀ امام ئې خما جانه
خلافت ورکړه له چا نه
ځ را اودس وکړه بيا راشه
مقيّد په اقتداء شه
خليفه چه نمونځ تمام که
نمونځ تمام په بنۀ سلام که
هله پاسه نمونځ تمام کړه
هم ماموم هم خان امام کړه
کۀ تنهائې نمونځ تنها کړه
کۀ حدث شے هم تۀ دا کړه
په را تلۀ په تلۀ کښې بويه
مۀ خۀ وايه مۀ خۀ ژويه
مۀ خۀ کارکړه مۀ وئيل کړه
مۀ عورت وته کتل کړه
کۀ په داکښې خۀ پيدا کړې
نمونځ دِ مات شۀ نيت بيا کړې

## فصل - دَ بيمار دَ نمانځه

کۀ بيمار پاسيدے نۀشي
بل سړے دِ يار دَ دۀ شي
کۀ ولاړنۀ وُدَرېـنه
بل سړے دِ ئې ساتينه
کۀ خۀ توان لرې اقدام که
فريضه دِ په قيام که
کۀ سنت نشسته کاندِ
ملامت نشته ور باندِ
کۀ ئې توان نۀ وي په ناستے
گذاري دِ نمونځ په ملاستے
دَ قبلې په لور دِ روکه
اشارت دِ په ابرو که
کۀ ئې توان دَ ايما نۀ وي
گذارل دِ ئې په زړۀ وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَصبا دوه رکعته　　دَماښام درے له سنته
داچه دی واړه ګذارل شی　　فرض سنت وتر دِ تل شی
کۀ پېنځلس ورځے نیت که　　چه په ښهر اقامت که
هورته قصر ناروا ده　　چارګانی نماز روا دے

## فصل دَ سجدهٔ تلاوت

تلاوت چه کړے اے خویه　　څوارلس ځا یه سجده بو یه
کۀ بل کس تلاوت کاندِ　　ته د ئے آورے ستا دَ وړاندِ
په سجده باندِ چه راشی　　په تا هم سجده روا شی
کۀ اودس دِ په ځائے نۀ وی　　په اودس دِ بیا هالۀ وی
په سجده کښے تسبیح وایه　　درے کرته صحیح وایه
په قهقهه کۀ ته وخاندِ　　په سجده کښے سجده غاندِ
سجده نۀ وشوه کۀ بنۀ کړے　　بیا به بله سجده وکړے
کۀ ته سور په اوښ په آس وے　　یا په خرۀ په غوایۀ پاس وے
کۀ سجده په اشارت کړے　　تۀ دا کار په روایت کړے

## فصل دَ جُمعے دَ نمانځه

په پېنځۀ شرطونه فرض دے　　دَ جمع صلوٰة چه فرض دے
اول وخت سُلطان دویم دے　　دَ خُطبے حکم دریم دے
څلورم جماعت یاره　　پېنځم ښهر جامع شماره
وخت دَ دے دَ ماسپښین دے　　په بل وخت کله تعین دے
یا سُلطان یائے نائب وی　　یائے حکم کۀ غالب وی
جماعت کۀ یو امام وی　　درے ماموم حکم تمام وی
کۀ اقل وی حکم دا دے　　دَ اکثرو لا احصیٰ دے
خطبه څو چه حمل ادا کا　　په منزل دَ خدائے ثنا کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرط دَ ښهر جامع دا دے — چه حاجت پکښے روا دے
په څلور گروه فرض نهٔ ده — جمه نور په هر چا ښه ده
په زنانو بسند چانو — مسافر په روستایانو

## فصل دَ عید دَ نمانځه

ادینه چه څوک گذارینه — دَ عید نمونځ پرے واجب شینه
دَ کتاب له روایته — دَ عید نمونځ دے دوه رکعته
په څلور شرطه گذارهٔ شی — کهٔ تر کم دی گذارهٔ شی
اول ښهر جامع څوا نه — بل سُلطان بویه اے جا نه
کهٔ سُلطان پخپله نهٔ وی — کهٔ نائب لے وی هم ښهٔ وی
بل چه جمع جماعت وی — بل په وخت قدوقامت وی
درے شرطونه هم هغه دی — لکه یاد په ادینه دی
امّا وخت دَ عید دا حال دے — چه نمر وخوت تر زوال دے
کهٔ څوک څملی نمونځ پرے نشته — چه بیدار وی پر هغهٔ شته
خطبه پس له نمانځه بویه — مختصره وی کهٔ لویه
کهٔ خطبه په نساء وی — مکروهات سرهٔ روا وی
له نمانځه پخوا روا ده — خطبه پس له نماز زیبا ده
کهٔ بے عذره نمونځ قضا شی — فطر نمونځ په صبا بیا شی
کهٔ دَ لوئے اختر قضا وی — نمونځ په درے ورځے روا وی
تکبیرونه ئے ښکاره دی — په حساب دی په شماره دی
په اول رکعت اوهٔ دی — په دویم رکعت پینځه دی

## فصل ذکر دَ کسوف وخسوف دَ نمانځه

خدائے په هر چارے قادر دے — چه پرے شک راوړی کافر دے
چه نمر تندر وُ کماریـنه — تندراو ژمکه هم وریـنه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په داچه هرڅوک زده کا     وخپل خدائے وته سجده کا
ودریږی په طاعت شی     دَخپل ځان په مغفرت شی
نمر چه تندر ونیسینه     دوه رکعته سنت دینه
په مسجد دِ امام سرا شی     ورسره دِ انام سرا شی
نمونځ دِ وکا له امامه     تر آغازه تر انجامه
ترهغه چه نمر خلاصیږی     بس دعا زاری دِ کیږی
که امام دَ مسجد نهٔ وی     نمونځ تنها گذارهٔ بنهٔ وی
که سخت با دکهٔ زلزله وی     هورته هم زاری لابنهٔ وی

## فصل دَ استسقاء دَ نمانځه

څوک چه نمونځ داستسقاء کا     په زاریٔ دِ دُیٔ ادا کا
که تنها که جماعت وی     له امامه برکت وی
په صحرا دِ امام ولاړ شی     نور دِهم دریسے ولاړ شی
دوه رکعته نمونځ فروغ دے     قرات په ښوره سروغ دے
چه امام نماز ادا کا     مخ وقوم وته بیا کا
په خطبه دِ شی په مزکه     بے منبره خطبه څکه
له خطبے نه چه ساکت شی     په رداء رو پروت شی
ترخپل سر دِ ئے جار باسی     په رداء دِ لاس کښیباسی
په بنی کینړ چلو پس وړاندِ     استغفار دعاء دِ کاندِ
په دا رنګ دِ باران غواړی     په توبه زاری دِ ژاړی
په خطبه کښے که تکیه لی     په لنده په توره بنه لی
په درے ورځے دِ دا کاندِ     کوندِ رحم شی وربا ندِ
خدائے باران په خلق وکا     دَ وګړی نږونه بنهٔ کا
دَامام حکم هم بویه     په دا کار کښے څما خویه
دَ امام حکم که نهٔ وی     یک تنها گذارل بنهٔ وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دُعا په زارۍ بویه — جد وجهد څما خویه

## فصل دَ تراویح دَ نمانځه

وارہ شپږ لودی رکعته — تراویح دی تیرسونیته
کهٔ زنان دی کهٔ مردان دی — تراویح باندِ تاوان دی
شل رکعته هره شپه دی — دَ روژے سره همره دی
دوه رکعته چه تمام کا — بیا دِ دوئ هله سلام کا
کهٔ ضرور باندِ قائم شی — یو نیت لس رکعته هم شی
په رکعت لس لس آیته — یوهم شته له روایته
چه به ورځ روژه لرینه — تراویح په شپه پریدینه
په معنیٰ هغه طعام شی — چه نمک سره تمام شی
دَ روژے طاعت مرغهٔ دے — دواړه پرونو سره بنهٔ دے
یو څانګ سپین دویم تور دے — صدق اخلاص ئے قوت زور دے
چه سپین څانګ هغه روزه ده — چه تور څانګ هغه ئے شپه ده
چه یو څانګ دَ مرغهٔ نهٔ وی — په یوه به ئے تلهٔ څهٔ وی
چه ادا فرض دَ عشا شی — تراویح هله روا شی
ترسحر پورے ئے وخت دے — تربه پوهٔ وی چه نیک بخت دے

## فصل دَ نفل دَ نمانځه

مکروهات لری لس وخته — نفل نمونځ لره نیک بخته
قضا نمونځ پکښے ګذارهٔ شی — نفل نمونځ ګذارهٔ نهٔ شی
یو چه وخت دَ صبحدم شی — ترصبا دِ نفل تم شی
بل چه نمونځ دَ صبا وکړه — زر به نفل پسے نهٔ کړه
بل چه نمونځ دَ عصر وشي — ترماښامه نفل نهٔ شی
بل چه بانګ دَ جُمعے وشي — بے جُمعے دِ نور څهٔ نهٔ شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل چه نمونځ په ادینه کا
چه قامت دَ جَمعے اوکا
چه خطبه دَ عید شروع شی
چه خطبه دَ عرفے کاندِ
چه خطبه دَ تراویح شی
چه خطبه دَ استسقاء شی

په منبر خطیب خطبه کا
تطوّع دِ هیڅوک نـهٔ کا
نفل هورته نامشروع شی
نفل نهٔ شی هورے باندِ
نفل هورته ناصحیح شی
نفل هورته ناروا شی

## فصل ذکر دَ نفل نمونځونو

تطوّع کهٔ فضائل دے
دا نهٔ فرض دی نهٔ واجب دی
کهٔ گذاری ډیرئے ثواب دے
په الحمد په سورة ده
یوئے نیت څلور رکعته
نفل نمونځ هسے هم کیږی
رکعتونه کهٔ اتهٔ دی
تراتهٔ چه زیاتی کیږی
چه ورځ زیات ترڅلور نشته
څوک چه نیت دَ نفل وُکا
پرے قضا لازمه کیږی
چه تازه اودس څوک وُکا
دوګانه دِ گذارینه
پیغمبرؐ گذارل اے یاره
نفل نمونځ سهوه لرینه
نمونځ دَچاشت گذارئی یا رانو
چاشت چه نهٔ گذاری غافل وی

نفل واړه یو وئیل دے
نهٔ سنت دی نهٔ راغب دی
او کهٔ نه کله عذاب دے
دوګانه په یوهٔ نیت دے
هر رکعت ئے له سورته
مُصلّی به پرے پوهیږی
یوئے نیت کهٔ کړی هم بنهٔ وی
دَمکروه سره یادیږی
په یوهٔ سلام نور نشته
کا رپرے پیبش شی وئے نهٔ کا
کهٔ ئے نهٔ کا ماخوذ یږی
په مسجد ورشی کهٔ بنهٔ کا
دَ مسجد تحیت دینه
ثواب ډیر لری بے شماره
کهٔ څوک سهوه پکښے شینه
چه لازم دی په بزرګانو
غافلان واړه باطل وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه څلور اته شته دولس — دا رکعت دی نیت یې ولس
په یوه سلام کړه چار رکا — هم مختار دے چه بنده چار رکا
چه ګذاری دولس رکعته — خوش به وړشی ترجنته
که قضا وی فرض نمونځونه — ځائے نه ونیسی نفلونه
پرے به پوه وی چه عاقل وی — خدائے ته قرب په نوافل وی

## فصل - دَ نفل نمانځه وختونه

درته وشماړم وختونه — که څوک کا نفل نمونځونه
یوئے وخت دَ ماسپښین دے — دَ نمانځهٔ په خواه تعیین دے
بل چه نمونځ دَ ماښام وکړے — اختیار لرے چه ته کړے
بل چه نمونځ دَ عشا وشی — که څوک نفل کا هم بنده شی
بل چه وخت دَ سحر راشی — تهجد به ناروا شی
تهجد اته رکعته — دی په شمار له رواېته
په څلور نیته رغیږی — چار رکا نه هم اداکیږی
فضائل لره چه بنے وی — میاشتے ورځے پاکے شپے وی
درست رجب تمام شعبان هم — ورځے شپے دَ رمضان هم
دَ شبقدر شپه تمامه — دَ حاجیانو دَه عامه
ورځ وشپه دَ جمعے درسته — ورځ وشپه دَ عرفے درسته

## فصل دَ شپے دَ نمونځونو فضیلت

چه ګذاری دَ شپے نمونځونه — خدائے به ورکا نهٔ خیزونه
شک په دا کښے ناروا دے — چه حدیث دَ مصطفیٰ دے
پینځه خیزه په دُنیا کښے — څلور خیزه په عقبیٰ کښے
له بلا به ئے امان وی — تل به زړهٔ دَ دهٔ روښان وی
مینه دار به پرے عالَم وی — په دوستئ به ئے محکم وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیض بہ مومی لہ نیکانو　غم بہ نۂ کا لہ بدانو
پا رسائی بہ ئے نصیب وی　لہ نیکانو بہ قریب وی
پس لہ مرگہ بہ لہ گورہ　رونړ مخ پاسی څما زوره
پہ صراط بہ غم نۂ مومی　لکہ برق هسے بہ دړومی
وارہ دا حدیث صحیح دے　پوشیدہ نۂ دے صریح دے
گناهونہ بہ ئے پټ وی　تهجد بہ ورتہ خټ وی
پہ ښی لاس بہ نامہ ورکا　پہ ښادئ بہ ئے سر کا
تر دا درستہ دُنیا وارہ　کۂ دُنیا ما فیها وارہ
ښۂ دَ نیمو شپو سجود دے　دوہ رکعتہ ډیر لاسود دے
خوَدَ شپو نمونځونہ څومرہ　درجے دَ جنت هومرہ
دَ جنت چہ درجات دی　سکہ دلیل پہ صلوات دی
رونړہ وی دَ شپے نمونځونہ　پہ صبا پہ ورځ مخونہ
تحیّت دَ وضو بویہ　چہ تهجد گذار دے څو یہ
وتر نمونځ چہ تهجد وکړے　ورپسے بہ ئے بیا تۂ کړے

## فصل - ثواب دَ نمانځۂ چہ ښہ ئے ادا کا

نمونځ چہ ښۂ سړے ادا کا　خدائے بہ خلد ورتہ عطا کا
پہ دُنیا بہ ئے مخ رونړ وی　ونیکا نو تہ بہ چونړ وی
کام بہ مومی لہ نیکانو　پہ دُعا دَ بزرگانو
چہ ئے ښۂ لہ لاسہ کیږی　پہ درگاہ بہ ئے قبلیږی
برکت بہ ئے پہ مال وی　پہ دُنیا بہ کلان سال وی
پہ دُعا چہ لاس بلند کا　اجابت بہ پرے خرگند کا
لہ دُنیا نہ چہ روان شی　ځنکدن بہ پرے آسان شی
هم بہ موړ هم بہ سیراب وی　نۂ بہ دے پہ غم دَ آب وی
سوبنا ئی بہ ئے پہ گور وی　گور بہ دۂ تہ لکہ کور وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښادئ به پکښے وینه
په قیامت به ئے مخ رونړ وی
یرے به بند د دوزخ وَر وی
دا به هیڅ دَ هغه نۀ وی

نو جنت لرہ ورځینه
تر مهتا به به لاجونړ وی
یرے به واز دَ جنت وَر وی
چه ترک کړونے دَ نمانځہ وی

## فصل۔ عذاب عقوبت دَ تارک نماز

چه ترک کړونے دَ نمانځه وی
په دُنیا په دین به خوار وی
رزق روزی به بانډ تنګ وی
بد ژوندون به ئے نصیب شی
کلۀ ئے ښۀ له لاسه کیږی
کلۀ ئے تل زاری دُعا وی
چه سفر که له جهانه
چه دَ مرګ په خوږو کښیوزی
هغه شپه چه ئے په ګور وی
همیشه به عذابیږی
په قیامت به کاریږے سخت وی
چه له ګور نه به پاسینه
په صراط به په شکم ځی
دَ خدائے خشم به پرے وورې

دَ هغۀ به ښادی نۀ وی
خدائے رسول به ترے ویزار وی
دَ مخ رنګ به ئے بدرنګ وی
له بدانو به قریب شی
دَ دۀ ښۀ به نۀ قبلیږی
دَ دۀ خواست به ناروا وی
دَ مرګ چار به وی یرے ګرانه
دَ غم غر به بانډ پریوزی
دَ دۀ ګور به لکه اور وی
تر قیامته به خوږیږی
شمار به سخت په دۀ بحت وی
دَ چارپائے په څیر به وینه
تر میږی به په تلۀ کم ځی
مؤمنان دِ خدائے ترے ژغوری

## فصل۔ ثواب دَ جماعت او دَ تکبیر اولے

چه پخوا پیغمبرانؑ وو
نمونځ دَ دوئ تنها تنها وو
یو نمونځ ښۀ دے له امامه

چه دَ دیو اُمتیان وو
جماعت پرے ناروا وو
نۀ تنها یونسو اے عامه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کرم په نبیؐ و شو    جماعت حکم په دهٔ شو
جماعت چه ترلس تیر شی    ترهرڅهٔ ئے ثواب ډیر شی
کهٔ سیاهی شی کل سیندونه    کاغذ مزکے آسمانونه
قلمونه شی دا ونے    همه ئے پا نړے وړے پلنے
دا ثواب به تمام نهٔ شی    کهٔ سرې فرښتے په لیکښهٔ شی
دَ امام له جماعته    کهٔ نمونځ وشی دوه رکعته
له امام سره چه نماز شی    له اول تکبیر دَ ساز شی
تر دُنیا چه پکښے شته څهٔ    دے تکبیر اولیٰ لا ښهٔ
چه ثواب دَ جماعت دے    دَ تکبیر اولیٰ نیت دے
چه امام تکبیر کوینه    ستا تکبیر دِ پسے وینه
کهٔ ترنیم الحمد رسینه    هم تکبیر وُ دِ شپینه
کهٔ په دا کښے هم درغل شی    په اول رکعت کښے مل شی
دا لا هم اولیٰ تکبیر دے    روایت م په ضمیر دے

## فصل- عذاب عقوبت دَ تنها گذار

دَ سرورؐ دَ خولے حدیث دے    چه نمونځ کوینی که خبیث دے
کهٔ ئے عذر وی بے باک وی    کهٔ بے عذره وی هلاک وی
جماعت چه ترک کوینه    کهٔ تل نمونځ کا نمونځ نهٔ شینه
چه تارک دَ جماعت دے    تل په دهٔ باندِ لعنت دے
ترهغهٔ خونی بهتر دے    چه خونی دَ خپل پدر دے
پیغمبرؐ ځنے ویزار دے    دے بتر تر شراب خوار دے
نوحه‌گر بهتر تر دهٔ وی    جادوگر و ځنے ښهٔ وی
عیادت دِ ئے نهٔ کیږی    جنازه ئے نهٔ رغیږی
دَ سړیو زړهٔ ترے شین وی    دَ فرښتو باندِ نفرین وی
کهٔ مسجد کهٔ جماعت دے    کهٔ اذان کهٔ اقامت دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهمه شعار د دین دے
د اسلام زینت آئین دے

داچه هرچرته نهٔ کیږی
په هغو قتل رغیږی

کهٔ څوک جنګ ورسره کاندِ
هیڅ بدی نشته ورباندِ

کهٔ توبه کاله دے کاره
بیا خلاصیږی له آزاره

کنږه هیڅ د پریښونهٔ دے
کهٔ نابود شی واړه بنهٔ دے

د دوئ مرګ دے د دانو
دے په شمار د مشرکانو

# اُوم باب

## ذکر د زکوٰة د عشر د هر باب

په اُوهٔ نوعه زکوٰة دے
فرض زکوٰة لکه صلوٰة دے

زروسیم دا واړه څیزه
د سودا په مال عزیزه

آس و اوښ غوئین بیا غیله
اَتهٔ توکه شول ولویله

## فصل - شرطونه د زکوٰة

د زکوٰة چه څوک طالب شی
په اتهٔ توکه واجب شی

پینځم شرط په مالدار دی
دا په مال باندِ په شمار دی

کهٔ د مال څښتن آزاد وی
بیا هاله زکوٰة پرے زباد وی

دویم شرط د بلاغت دے
نابالغ ترے فراغت دے

مُسلمان دِ وی اے یاره
څلورم شرط دا وشماره

پینځم شرط ئے دوامدار دے
کهٔ بے قرض دُنیادار دے

چه په مال دی درے شرطونه
د ما یاد دی له اخونه

اول داچه درست نصاب وی
کم نصاب په څهٔ حساب وی

بل چه تیر وربانِدِ کال شی
هاله فرض زکوٰة په مال شی

بل چارپائے چه همګی وی
اخوری نه سرمګی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ ئې نۀ وی دا شرطونه　　زکوٰة نشته په مالونه

## فصل دَ زکوٰة

کۀ دَ مال خښتن بنده دے　　دَ بنده زکوٰة کنده دے
کۀ دَ مال خښتن مجنون دے　　په هغۀ هم زکوٰة چون دے
کۀ کافر دے یا وام دار دے　　ترے ساقط دَ زکوٰة کار دے
زر کۀ هومره تر وام زیات وی　　څو نصاب فرض پرے زکوٰة وی
چارپایان چه تیر تر کال شی　　صحراچروی هاله مال شی

## فصل۔ ذکر دَ زکوٰة

دَ زکوٰة مقدار اے جانه　　ثابت نۀ دے له قرآنه
چه مقدار پرے مقرر دے　　په حدیث دَ پیغمبر دے
دَ طلا نصاب اے یاره　　په فتویٰ دی شل دیناره
دَ نقره دوه سو دیناره　　په نصاب یا دیرې یاره
کۀ سیم زر تر دا اندک وی　　زکوٰة کله بانِد لک وی
زر و سیم چه دَ نصاب شی　　کال پرے تیر په شمار حساب شی
هاله فکر دَ زکوٰة کړه　　په وکښلئے مهابات کړه
کۀ زر کم وی تر نصابه　　سیم هم کم وی تر حسابه
دواړه توکه سره شمار که　　بیا هاله دَ زکوٰة چار کړه
کۀ نصاب شی دواړه توکه　　زکوٰة ورکړه وچار وکه
کۀ په دوه سو چل زیاتی شی　　هغه چل هم زکوتی شی
چه څلویښت پرے زیاتیږی　　تر هغۀ چه چونسو کیږی
شمار کوه زکوٰة وُباسه　　کۀ پوهیږے پوهشناسه
کۀ مضروب کۀ نامضروب دے　　زر و سیم په زکوٰة خوب دے
کۀ دَ زر و سیم سودا کړے　　یا حلی یائے عصا کړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا زیور وی دَ زنانو — یا وښی دَ کودکانو
زر وسیم کهٔ دیگ ابلق وی — کهٔ دَ زین دَ یرق وی
همه واړه سره شمار کړه — بیا هاله دَ زکوٰة کار کړه
کهٔ دِرم بیرون تر شمار شی — په درم په بزه کار شی
په مضروب باندِ زکوٰة شته — دَ شیعه وُ نه په مات شته
شافعی هم په دا ولاړ دے — شیعه خکه پرے ولاړ دے
کهٔ نهٔ زر وی نهٔ نقره وی — نورچه مال دِ تا کره وی
په سودا په تجارت ځی — سرے پلوری په قیمت ځی
په هرکال واړه حساب کړه — په زکوٰة ئے ځان مثاب کړه
چه قیمت دَ متاع څو وی — زکوٰة هومره دَ نیستو وی
چه قماش دَ سودا نهٔ وی — فرش فروش جامه یا څهٔ وی
کهٔ ستا بے زرو آلات شته — دَ روزگار لوښی یا مات شته
دَ روزگار رخیے تنبوان وی — توشکونه فراوان وی
دَ سوارئ لری آسونه — غوا دَ لویغ لرے پخسونه
کهٔ غوایهٔ دَ زیست روزگار دی — کهٔ اوښان دَ کاروبار وی
میږے بزے دَ دوشیدن دی — چه په کور دَ شیر دادن وی
کهٔ وی وینځے کهٔ مریونه — چه خدمت کا ستا په خونه
کهٔ غله کهٔ حبوبات وی — کهٔ خوراک لرهٔ کم زیات وی
کهٔ دِ ملک کهٔ دِ ضیاع وی — کهٔ څهٔ نور دَ کار متاع وی
کهٔ دَ فروخت دپاره نهٔ وی — تر نصاب کم تر دا څهٔ وی
په دا واړه زکوٰة نشته — دَ یو بستنے حاجت نشته
کهٔ زکوٰة دِ پخوا ورکړو — کهٔ دِ عشر و چا ورکړو
دا بدکار نهٔ دے بنهٔ کار دے — چه ئے وقت راشی بیا شمار دے

## فصل - زکوٰة دَ اوښانو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ اوښان دَچا پينځهٔ وی　　صحرا چر وی دَکور نهٔ وی
يو ګوسفندے زکوٰة کيږی　　چه نصاب باندِ رغيږی
کهٔ ډير کور لږ په صحرا وی　　پرے زکوٰة کله روا وی
تر اتهٔ پورے يو مرږ وی　　کهٔ همه ستا په دروږ وی
په هر کال چه اوښان لس شی　　باندِ دوه مږونه پس شی
چه اوښان پوره پانزده شی　　درے ګوسفنده دِ درزده شی
تر پينځلس کهٔ يو کم وی　　دوه ګوسفند باندِ رقم وی
کهٔ اوښان دَ سړی شل وی　　څلور مږونه ورکول وی
کهٔ په دا باندِ نور يا تيږی　　زکوٰة بنت مخاض کيږی
چه په شپږ ديرش ورسيږی　　هورته بنت لبون کيږی
څلويښت چه په شماره شی　　زکوٰة اوښه سه ساله شی
شپږ اويا چه اوښان چون شی　　هله دوه بنت لبون شی
دوه حقے په نوَد يارة　　تر سل شلئے بيا وشماره

## فصل - زکوٰة دَ غواوُ

دَ بقرے نصاب په سی دے　　پس له کاله په سړی دے
يکساله خوسے دِ ور کا　　په صحرا چه کار دَ چر کا
تر څلويښت څاروی چه تير شی　　په دا باب قولونه ډير شی
آسان تر قول هم دا دے　　تر شپيتهٔ يو يو روا دے
دوه څاروی ئے تر شپيتهٔ شی　　کهٔ څاروی په زياتيدهٔ شی
دوساله دِ په څهل وی　　داحساب دِ په زړهٔ تل وی
کهٔ دَ ميښے کهٔ دَ غوا وی　　دوارهٔ توکه لره دا وی
اوښ کښي کهٔ ګوساله وی　　معاف دا هم بزغاله وی
کهٔ يو کم څلويښت بره وی　　يو ګوسفند زکوٰة سره وی

## فصل - زکوٰة دَ پسونو دَ بزو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مرئ که بز که پسونه
په نصاب کښې برابر وي
په څلويښت پسونو يو پسه وي
که سل يو ويشت په شماره شي
چه دوصد شي يو د پاسه
که رمه شي څونسو پسونه
چه پانصد بانږ پينځه وي
که څلويښت پسونه ديرش غواوي
په شرکت ئے خښتن دوه دے
پرے زکوٰة نهٔ واجب کيږي
که د دوو تنو اتيا وي
يو پسهٔ يوڅاروے پرے کيږي
که همه آسان نران وي
که همه واړه ماده وي
په هر سر بانږ دينار دے
په اکثر روايتونه

ښځے نر که بزه که مېږونه
که د کال شي صحراچر وي
بيا هغه چه پکښے ښهٔ وي
بيا زکوٰة پرے دوباره شي
بانږ درے پسونه شي ناسه
څلور پسونه بانږ شونه
په هر صد يو ورکړه ښه وي
يا پينځه اوښان د چا وي
سود وزيان د دوئ سره دے
چه ئے اخلي نهٔ رغيږي
رمه غوائے شته سره وي
په هر دو زکوٰة رغيږي
له زکوٰة خلاص آسان وي
يا نر ښځے ګډ سره وي
د امامؒ د خولے ګفتار دے
زکوٰة نشته په آسونه

## فصل - دَ عشر دَ خراج

را شه واوره له خطکه
يا عشري يا خراجي ده
عشري مزکه ده شپږ رنګه
دَ عربو ملک درست ياره
نور په جنګ امام نيولي
چه په چاه په باران کيږي
خراجي مزکه چه ياد شي

دوه حکمونه لري مزکه
دا فتوٰی دَ سراجي ده
چه نيولي وي بے جنګه
تهٔ عشري سره وشماره
په غازيانو ئے ويشلي
هغه هم عشري ياديږي
په احياء ئے عشر زيات شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مُسلمان چه بستان ساز که    په هغه عشر جواز که
چه تردا مزکه هوا دی    خراجی سره احصا دی
چه غازیانو دی نیولی    مزکه دوئ نهٔ وی ویشلی
خراجی ده هغه واړه    کهٔ آبی کهٔ للمه دواړه
خراجی ده دَ هند مزکه    چه ویشلے نهٔ ده څکه
ترینګی کهٔ زیات اخلی    دَ خراج دَ ملک بد زغلی
چه دَ مزکے نه څهٔ زیږی    وچ لامدهٔ چه پیدا کیږی
په همه عُشر واجب دے    په لږ ډیر بیا چه طیب دے
اول کار دَ عشر بنهٔ دے    کهٔ په لوکهٔ په ریشه دے
بیا سند باندِ نظر کړه    بَنه غله په عشر ورکړه
کهٔ غله ده کهٔ میوه ده    کهٔ تره کهٔ خربوزه ده
کهٔ پنبه کهٔ توت کهٔ نورڅهٔ    کهٔ ووزی سپین وتور څځهٔ
واجب شوی پرے همه وی    لږ یا ډیر کهٔ تا څهٔ زده وی
په وابنهٔ په لرګی نشته    په ګیاه نور په هرڅهٔ شته
کهٔ ګلونه دَ بوستان وی    کهٔ ترے نفع دَ انسان وی
په هغه هم عُشر کیږی    نور په څهٔ ځنے خلاصیږی
کهٔ ویلئ کهٔ سبزه ده    په هرلس دستی یوه ده
لس کیږئ ګنی اے ځویه    یو کیږئ ترے عُشر بویه
کهٔ مولئ دی کهٔ ګاځرے    په هرلس یوه ده غورے
په وام دار شته په کودک شته    دَ مجنون په بیش اندک شته
کهٔ ئے باغ په چاه ودان وی    عشر نیم درست په باران وی
کهٔ په خواست وغواړی مزکه    یا په اجر اے هلکه
کار دَ عشر په تا نهٔ دے    ملک دَ چا دے په هغهٔ دے
چه عسل په مزکه کیږی    په عسل عشر رغیږی
کهٔ دَ مزکے ګنجینه وی    زرو لیم یا مسینه وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ تاڼره دَ مُسلمان ده
کۀ ئے ورنکړه تاوان ده
دَ خښتن طلب ئے وکړه
حواله ئے په هغۀ کړه
گنجینه کۀ دَ کافـر وه
لرغونئ پټه مضمر وه
پنځ ویک څنې بدر کړه
درویشانو ته ئے ورکړه
نور همه په تا حلاله
خلاص ئے ته له قیل وقاله
کۀ یاقوت کۀ جواهر دی
واړه ستا کۀ لک کۀ زر دی
په دریاب کښے کۀ تۀ درومے
واړه ستا دی چه څۀ مومے

## فصل ۔ ذِکر دَ هغو چه مستحق دَ زکوٰة دی

دَ زکوٰة دی اُوۀ گروهه
چه پرے روغ دے بے اندوهه
اول روغ په فقیران دے
دویم روغ په درویشان دے
دویم روغ په عاملین دی
په تحصیل ئے تعیین دی
بیا مؤلف القلوب دی
کۀ اوس نۀ اخلی هم خوب دی
بیا هغه چه فی الرقاب دی
ځان ئے ویړودکریاب دی
شپږم گروه ئے غارمین دی
چه تر قرض لاندِ غمگین دی
اُوم فی سبیل الله دی
چه غازیان دَ حق دَ راه دی
بیا دَ لارے مسافر دی
چه خوردن وته ناظر دی
کۀ صدقه وی کۀ زکوٰة وی
پرے روا په روایات وی
نۀ په پلار زکوٰة رغیږی
نۀ په ځوئ روا کیږی
کۀ نمسے وی کۀ نیکۀ وی
روغ زکوٰة به واړو نۀ وی
کۀ درهم وی کۀ دینار وی
په دا واړه ناروا دی
کۀ عورته زکوٰة ورکه
وه میړۀ ته بده چرکه
کۀ خښتن ورکه برده نه
زکوٰة نۀ دروی له دۀ نه
دا وئیل نۀ په دروغ دے
په سید زکوٰة ناروغ دے
هرچه کل بنی هاشم دی
په زکوٰة کښې لی هم دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ کفن دَ مړده وکړه | دَ زکوٰة په مال بنهٔ نهٔ کړه
کهٔ مسجد کهٔ خانقاه دے | دَ زکوٰة په مال تباه دے
کهٔ میلمه په زکوٰة تیر کړه | یا تهٔ عشر تیر و بیر کړه
کهٔ زکوٰة کهٔ عشر یاره | مستحق ته ئے وسپاره
هاله ستا غاړه خلاصیږی | په بل رنګ نهٔ ادا کیږی
په زکوٰة کښے نیت بائده دے | زکوٰة بے نیته روغ نهٔ دے
په تونګر زکوٰة روغ نهٔ دے | کهٔ ئے ورکړه کله بنهٔ دے
په خطا کهٔ زکوٰة ورکړه | دَ تونګر نور به حذر کړه

POHA

## فصل - ذِکر دَ هغو دَ ثواب چه زکوٰة بنهٔ وُباسی

دا وئیل دَ پاک رسولؐ دی | کل وئیل دَ دهٔ قبول دی
چه زکوٰة بنهٔ ورکوینه | درے ښادئ به پرے ورځینه
خاندان به ئے آباد شی | رزق روزی به ئے زیاد شی
برکت به ئے په مال شی | ډیرهٔ به ئے هر کال شی
په قیامت به پرے سایه وی | کهٔ زکوٰة کهٔ صدقه وی
دے به خلاص وی له زحمته | دَ غارمهٔ له حرارته
بل به پټ په اغوستن وی | پوشیده به دَ دهٔ تن وی
بل به هسے پرده وشی | چه دوزخ به لیدهٔ نهٔ شی
دے به خلاص وی له هیبته | دَ دوزخ له قباحته
هول وترس به بانده نهٔ وی | هر احوال به دَ دهٔ بنهٔ وی

## فصل - ذِکر دَ هغو دَ عذاب چه زکوٰة نهٔ ورکوی

هر سړے چه لا زکوٰة دے | کهٔ صلوٰة کهٔ لاصلوٰة دے
دا وعید دے په قرآن کښے | هغه خوار دے په ایمان کښے
چه زکوٰة نهٔ ورکوینه | په دوزخ کښے به سیزینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ روپئ کۀ مهران وی — په دوزخ کښې به تابان وی
دَ دوئ مخ به پرے داغینه — په درست ځان به ئے کیږدینه
په قیامت به ئے کټ کوټ کا — لاس وپښے به ئے سوټ بوټ کا
کۀ ئے غوادی کۀ ئے غیله — پرے به پاس خیژی خوځله
درست به دے په پښو پائمال کا — په وهل به ئے بد حال کا
وار په وار به باندِ خیژی — پرے به رغړی پرے به میږی
چارپایان به زبان پیدا کا — دوئ به واره وئیل دا کا
چه قرآن درته ګویا وو — په زکوٰة کښې غفلت ستاوو
اوس پیچه دا عذابونه — ورکوه دا حسابونه

# اَتم بَاب

## ذکر دَ روژے دَ هره بابه

روژه فرض ده اے یارانو — په همه مُسلمانانو!
کۀ مردان دی کۀ زنان دی — کۀ آزاد کۀ بندګان دی
چه بالغ په طول وعرض شی — دیرش روژے وربانِدِ فرض شی
میاشت ئے میاشت دَ رمضان — په بزرګئ ده په هرشان
واوره تۀ له روا نیته — روژه نۀ کیږی بے نیته
کۀ بے نیته روژه دارئے — دَ قضا روژے فرضدار ئے
کۀ ځوک پوهه په مسئله شی — روژه دوه لونه درله شی
یو روژه درله شی عین — دویم رنګ درله شی دین
عین روژه ماهِ رمضان ده — تطوع هم په دا شان ده
بیا روژه دَ نذر یاره — دا درے عین دی وشماره
نذر ستاهغه روژه ده — چه دِ درځ یا میاشت وعده ده
چه به دا روژه لرم — بے روژے نۀ ودرژم

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه سوا تر دا لریېنه  هغه واړه دين دينه
که ئے نيت په شپه ونکړه  روژه عين وی بنه ئے نکړه
په صباځ تر زوال له  نيت دا روغ ګڼړه اے لا له
تر زوال که وخت تير بير شی  نور نيت نشته وخت ئے تير شی
د نيولو وخت ئے کوم دے  صبحدم په تا معلوم دے
چه آفتاب له تا پناه شی  د کشايلو وخت هغه شی
د شعبان چه ديرش پوره شی  که مياشت ميغ وی هم روژه شی
ديرش پوره د رمضان کړه  نور اختر شه ورک ګمان کړه
که سحر وخوری صبا شی  يا افطار وکړه نمر وا شی
که دا کار په عمدانه وی  اندوه مه کوه چه بنه وی
کفارت نشته قضا ده  يوه ورځ روژه په تا ده

## فصل - روژه د کفارت

مسئله به درته وايم  بنه ئے واوره نيکخواه ستا يم
که معتاد خواره په ورځ خوری  يا اوبه کشته تر حلق وری
په روژه کښې کفارت دے  منکر مه شه روايت دے
که دارو که زعفران خوری  مشک دا نور چه په دا شان خوری
که دا کار دِ په عمدا شی  کفارت په تا روا شی
که دا کار دِ په نسيان وی  خو قضا ده کار آسان وی
که لړګی خوری کانی مانی  کفارت نشته په کاڼړی
په دا جنس قضا روژه ده  با ور وکړه مسئله ده
که جماع په دبر فرج وی  چه حشفه دِ پکښې درج وی
کفارت په مرد و زن دے  روايت ئے مبرهن دے
که په ښځه زور ستم وی  يا له عقله بيګانه وی
په دا هم کفارت نشته  په مرد شته په عورت نشته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ چار پلائے دخول ډیر بد دے   چه دا کار که هغه رد دے
په انزال ئے قضا بویه   کفارت نشته اے خویه
که انزال ونهٔ شهٔ نشته   هم قضا غسل چه خهٔ شته
که دخول کاندی له نره   راشه واوره دا خبرد
کهٔ رضا وی په دا غاړه   کفارت راغے په دواړه
کهٔ په ظلم وجوروضرب وی   دَ مظلوم کفارت سلب وی
کهٔ په ښځه ښځه خیژی   کفارت باندِ رغیږی
کفارت چه واجب کیږی   قضا هم باندِ رغیږی

POHA

## فصل۔ ذکرِ دَ هغو چه خوراک پرے رغیږی

کهٔ روژه خوری پنځهٔ گروهه   کار دِ کاندی بے اندوهه
خبردارئے خدائے فتاح دے   په ضرور افطار مباح دے
مسافر کهٔ روژه خورینه   باندِ هیڅ بدی نهٔ وینه
دَ بیمار افطار روا دے   په کتاب کښے حکم دا دے
کهٔ بارداره عورتینه وی   کهٔ روژه خوری چارئے بنهٔ وی
کهٔ هلک دَ دے شیرخوردی   کهٔ روژه خوری بنهٔ ئے موروی
وزاړهٔ وته رخصت دے   کهٔ روژه خوری روایت دے
په خلور گروهه قضا ده   چه روژه وخوری فتوی ده
کهٔ طاقت دَ زاړهٔ نهٔ وی   نیمکی صاع غنم په دهٔ وی
دیرش روژے پنځلس صاع شی   خود کاشته کهٔ ابتیاع شی
مستحق ئے درویشان دی   کهٔ دَ کلی کهٔ خویشان دی
کهٔ بیمار ومری په رنځ کښے   مسافر وی کهٔ په ونځ کښے
پرے قضا نهٔ واجبیږی   پرے دِ هر څوک وپوهیږی
کهٔ بیمار له رنځه روغ شی   مسافر په کور فروغ شی
نیم نیم صاع غنم پرے شینه   ودرویش دِ ورکوینه

پوهنه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ ئے نفل روژه وینه  پهٔ افطار قضا پرے شینه

## فصل - چه دَ روژو دَ کفارت غاړه خلاصیږی

کفارت چه په چا واوړی  دے دِ خلاص کړ دن په دا کړی
یا دِ یو بنده آزاد کا  چه آزاد شی زړهٔ دِ ښاد کا
کهٔ دا نهٔ وی دی دوه میاشتے  پیاپے روژے پیوستے
یا شپیتهٔ وږی ماړهٔ کا  چاشت وشام هسے خواړهٔ کا
آزادی دَ بنده بَنه ده  تر روژے مسئله ده
روژه بَنه ده تر طعامه  مسئله زده کړه تهٔ عامه

## فصل - ذکر دَ نذر دَ روژے نیت

کهٔ دَ نذر نیت څوک وکا  پیوسته دِ خوراک نهٔ کا
کهٔ دَ میاشتے روژه وینه  پیوسته دِ ئے لرینه
کهٔ تر پا توهغه ماه شی  بله میاشت دِ ئے په راه شی
کهٔ درست کال ئے وی یاد کړے  پیوستون ئے وی نومړے
په درست کال باندِ وړینه  پیوسته دِ ئے لرینه
پنجشنبه کهٔ دوشنبه وی  واجب کړی روژه به وی
کهٔ ئے وخوړی کفارت دے  دَ سوګند کهٔ ئے عادت دے
تطوع په رمضان کښے  دَ روژے نشته په آن کښے
رجب میاشت دَ شعبان دواړه  فضائل لره شی واړه
بَنه دَ هم دَ ذوالحجه ده  بیا دهم دَ عاشوره ده
بیا ایام بیض اے یاره  ډیر ثواب لری بے شماره
دَ شوال شپږ هم بَنه ده  پس له عیده چه شپږ ده

## فصل

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

راشه واوره دماجونده　　روژه نۀ ده لوږه تنده
ورسره دی ډیرے چارے　　له ما واوره یو خو بارے
چه روژه ئے یاده کړی　　د الصوم ئے نو مړی
په "اَنَا اَجزِیٰ" ده یاده　　دا وئیل دی له استا ده
دَ روژے اجر په ما دے　　خدائے په دا وئیل ګویا دے
روژه خاص طاعت دَ خدائے دے　　دا کلام څما په ځائے دے
پیغمبرؐ هسے وئیلی　　په کتاب کښے ما لیدلی
کۀ بنده وی کۀ آزاد وی　　چه په حقه روژه شاد وی
درسته میاشت روژه ادا کا　　نیت سنت واړه پرجا کا
هر اندام لکه یو باب دے　　دَ وبال یا دے ثواب دے
دَ وبال ور باندِ بند کړه　　دَ ثواب په لوری پند کړه
ګنړه ته دَ غوبل ستورے　　خولۀ تړلے په څۀ شورے
دا روژه نۀ ده صرفه ده　　درته پاتو سیر غله ده
دَ ثواب نصیب روژه　　راخکوه تنده یا لوږه
چه په خولۀ نۀ ده تمام　　روژه ده په هفت اندام
لکه خولۀ دَ خوړو نیسی　　فرج له نورو خیزو نیسی
سترګے غوږ دا هسے نیسه　　مۀ بد آوره مۀ بد کسه
له ګفتاره ژبه ژغوره　　له غیبته له پیغوره
خولۀ ساته لۀ مُسکراته　　دَ حرامو له آفاته
زړۀ له بدو اندیښنو نه　　له آشوبه له فتنو نه
لاس له بدو هسکیدلو　　پښے له بدو ګرځیدلو
هر اعضاء له بدو ژغوره　　په روژه کښے څما روره

## فصل - دَ روژے دَ ثواب

خدائے برلس خیزونه ورکا　　شک په دا مکر کافر که

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه اوزیږی له موره — تازه وړوکے حُما سوره
له ګناه به هسے خلاص وی — چه روژه ئے په اخلاص وی
کهٔ شُبه وی کهٔ حرام وی — تل به خلاص دَ دهٔ تر کام وی
بل به تل رحمت پرے ورُوری — له بلا به ئے خدائے ژغوری
بل په هره روژه جا نه — دے به ورشی تر جنا نه
دَ یاقوت محل به مومی — له جهانه به خوش دروځی
بل کهٔ تنده وی کهٔ لوږه — دَ قیامت به وی پرے لږه
بل به خلاص وی له هیبته — غم به نهٔ کاله قیامته
بل چه وریشی تر ګوره — خوش خورم به وی اے روره
بل په ګور کښے ډیرے حورے — تل به دهٔ ته وی حضورے
بل به هسے مشال ورکه — په صراط چه ترے ګذر که
بل تیار به ورته خوان وی — چه فراخ تر دا جهان وی
تر عرش لاندِ به ئے ویشی — دے به کښینی باندِ ګویشی شی
کهٔ ئے شمار کړم نعمتونه — مګر وکښم دفترونه

## فصل - دَ روژے دَ اعتکاف

په روژه کښے اعتکاف شته — فکر د کړ حق انصاف شته
اعتکاف دے په دوه شانه — ته ئے ونغوږه له ما نه
یو واجب بل فضایل دی — پرے به پوهه وی چه عاقل دی
چه په ځان ئے نذر کاندی — شی واجب په هغهٔ باندِ
چه په ځان ئے نذر نهٔ کا — کهٔ ئے که نفل دِ بس ئے کا
دَ روژے سره روا دے — نذر بے روژے خطا دے

## فصل - دَعید فطر سرسایه وغیره

دَ اختر په ورځ عزیزه — له تا بویه اُوهٔ څیزه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول غسل بیا مسواک دے — بنهٔ پوشاک دے بنهٔ خوراک دے
خوشبوئی کا په خان پورے — سرسایه ده کهٔ ئے کورے
بیا به نمونځ دَ اختر وکړے — دا سنت به په ځائے تهٔ کړے
سرسایه په تا واجب ده — لاَ دَ وخته مناسب ده
لوئے هلک سره وشماره — کهٔ آزاد کهٔ بنده یاره
په هر سر نیم صاع غنم دی — پوره صاع اوربشے هم دی
کهٔ خرما دی کهٔ مویز دی — دَ اوربشو غونډ نیز دی
سرسایه په تا هاله شته — کهٔ نصاب دے دَ کالهٔ شته
نهٔ دِ ئے وام وی نهٔ دِ پور وی — سرانجام دِ دَ خپل کور وی
چه زکوٰة ورباندِ شینه — سرسایه دِ ور کوینه
شوی وزن په سرسایه کښے — سره بیل دی په مایه کښے
کهٔ مجنون مالک نصاب وی — یا هلک په دا حساب وی
په زکوٰة کښے کهٔ معاف وی — په صدقه کله معاف وی
دَ سودا په مال هم نشته — سرسایه نور په هر څهٔ شته
کهٔ دَ عید په خوائے ور کا — سرسایه هم دا بنهٔ چر کا
په اخترئے کهٔ ور نهٔ کا — په هر وخت چه ور کا بنهٔ کا
کهٔ غله نهٔ ور کوینه — په حساب ئے وکه هم شینه
صاع اتهٔ رتل حساب دے — رطل نیم من په کتاب دے
دَ مکے من دا جائے بویه — نهٔ شهنګ پیمانه لویه

## فصل۔ ذکر دَ مال چه حج پرے فرض کیږی

په اوهٔ شرطه فرض کیږی — حج په دا کهٔ خوک پوهیږی
په عاقل دے په بالغ دے — چه بنده نهٔ دے فارغ دے
بل کافر نهٔ وی دیندار وی — بل تندرست بل چه مالدار وی
چه خطر نهٔ وی دَ لارے — اوهٔ وشول کهٔ ئے شمارے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ ئې نهٔ وی دا شرطونه　　ورته بنه دهٔ خپله خونه
کهٔ وچ لره روان شی　　گرفتار به په تاوان شی
دوه شرطونه دَ زنانو　　زیات یا دیږی ترمرد انو
خپل محرم دِ ورسره وی　　بې محرمه کله بنهٔ وی
بل عدت دِ تیر په ځان کا　　بیا دِ حج ته ځان روان کا

## فصل - دَ عید دَ قربانئ!

اختلاف په دا کښې ډیر دے　　دَ مال حکم تیر و بیر دے
اما هومره مال بائد هٔ وی　　چه دَ لارے زاد دَ دهٔ وی
چه خپل وام واړه ادا کا　　نفقه کور ته مهیا کا
خوچه درومی خو رادرومی　　لوئے هلک ئې هرچه مومی
لا په کور ئې هومره مال وی　　چه دوئ راشی پرے خوشحال وی
فراغت پرے کشت و کار کا　　لا پرے دے دَ سودا کار کا
چه محتاج په هیڅ کښې نشی　　چه په کور دَ دهٔ راتلهٔ شی
سور دِ ځئ سور دِ رادرومی　　چه راحت دَ سفر مومی
کهٔ دا هسې مال لرینه　　حج پرے فرض دے ډېر دِ ځینه
کهٔ علت لری معذور دے　　حج ئې حکم په مزدور دے
بنهٔ دین دار ته دِ مُزد ورکا　　دَ حج کار دِ ورته سر کا
یا کهٔ خوک دَ دهٔ دپاره　　حج په ځائے راوړی اے یاره
پرے خلاصیږی دَ دهٔ غاړه　　کهٔ دے نهٔ وو کا دا دواړه
پس له مرګه تاوان دار دے　　دَ دهٔ مال په څهٔ مقدار دے
دَ دهٔ مال دِ په قسمت وی　　کهٔ ئې کړے وصیت دے
دوه حصے دَ وارثانو　　یوه شی دَ درویشانو
وصیت کهٔ ناصادر وی　　په درست مال وارث قادر وی
کهٔ معلول حج گذارینه　　تطوع دِ حج نهٔ شینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه تندرست شي ځ دِ بیا کا | خپله غاړه دِ ادا کا
که درویش وي چه ځ وُکا | په غنا کښې دِ بیا نهٔ کا

## فصل - ذکر دَ کشتار یعنی دَ مذبوح

واجب شوے قرباني ده | په شهري بیا باني ده
چه بالغ وي چه مقیم وي | دُنیا دار په زر و سیم وي
سرسایه چه وس کو ینه | هغه هومره مال لرینه
قرباني دِ هغه کاندي | چه واجبه ده پرے باندِ
مسافر که ډیر مالدار وي | په قربان ناتوان دار وي
هلک څوځ دَ بابا دے | په قربان کښې لوځ جدا دے
ورځ دَ عید دوه ورځې نورے | دَ قربانئ دي که ئے کورے
په درے ورځې روغ قربان دے | تردا تیر شوندون تاوان دے
دَ قربان په نیت که پسهٔ وي | و درویش ئے ورکړه بنه وي
که لنډئ ګډوډ وي | یا ډنګر چه پوست وهډ وي
که یک چشم وي یا لنګ وي | قربانئ لره ئے ننګ وي
په اوهٔ تنه که غوا ده | قربانئ لره روا ده
یوهٔ تن لره ګوسفند دے | یا اُوز بزه دا کار پسند دے
غوا که اوښ په اُوهٔ تنه | مسئله ده مبرهنه
اُوهٔ واړه دِ نیت یو کا | په قربان دِ هلهرو کا
که په نیت کښې یو ناساز شي | قرباني دِ واړه باز شي
که میرهٔ قربان دَ ژڼکے کا | کار بیرون تر مسئلے کا
که دَ شوئ په نیت قربان کا | داکار بد نهٔ دے په کار کا
دَ قربان که غوښے خورینه | په میلمه په ځان بنهٔ کړینه
له کشتاره درته وایم | ذبح کړونے درته ستایم
که هلک که مست که لال وي | چه بسمل کا چه حلال وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیونے وی کۀ نساء وی یا جُنب جهود ترسا وی
دَ دیو واړه بسمل روغ وی دا وائی کله دروغ وی
کۀ کافر مشرک کۀ گبر له کشتاره ئے کړه صبر
خواجه سرائے کۀ څوک لوینه هیڅ کشتار دِ ئے نۀ خورینه
کۀ تیرۀ کا نړے کۀ نے وی کۀ هډوکے کۀ لرگے وی
په دا واړو کشتار شینه چه رگونه ئے پریکوینه
دَ کشتار دی څلور رگه دَ حلقوم سره اے ړکه
څلور واړه رگه پریکړه اوکۀ نۀ بریده درے کړه
کۀ تر دا بریده کم وی دَ کشتار خوړنه غم وی

## فصل - ذکر دَ ښکار دَ جواز

دَ گذار په وخت چه ښکار کړے کۀ په تیر تکبیر آشکار کړے
کۀ په ځائے پریوزی ولاړ شی یا په ځائے باندِ مردار شی
په تکبیر سره حلال دے خوره ئے ستا کله وبال دے
له طلبه ئے کۀ پریوزے کۀ ئے خورے په وبال کښیوزے
کۀ تکبیر دِ له زړۀ هیر شی خوریئ ترچه په ښۀ چیر شی
کۀ عمدًا تکبیر ونۀ کړے بد کۀ غوښه ئے په خولۀ کړے
کۀ دَ سپی دے کۀ دَ باز دے په تکبیرے ئے کار جواز دے
کۀ مجروح که نا مجروح وی صید دَ باز کشته فتوح وی
خو دَ ښکار مرغونه دینه حکم باز غوندِ لرینه
نا مجروح کۀ دَ سپی مړ وی دَ خوړلو نۀ دے نغر وی
کۀ څۀ وینه ترے جدا وی په تکبیر سره روا وی
په اوبو کښے چه چوریږی په دخول کښے چه ښخیږی
هر لیوۀ گیدړ کۀ تروږ دے بد کۀ غوښو ته ئے جوړ دے
چه چنگال لری اے پوهه لکه باز شاهین دا گروهه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښې بدې وی دَ واړه و
دَ کورچرګه که چارپائے وی
چه خوراک ئے نجاست وی
مګر بندشی علف وخوری
که په اوربه طشت ئے نسی
که مرغهٔ دی که ماهی دی
چه ماهی په ړود کښې ومری
که ښاروی په چاه کښې پریوزی
که بسمل ئے ممکن نهٔ وی
پرے تکبیر وئیلے بویه
نورکهٔ ومری هم حلال دے

ناروا دی تر مرداره
چه ئے ګشت په ګنده ځائے وی
که ئے خورے کراهیت وی
ښهٔ سړے دِ هله وخوری
په حیلت سره لوغسی
چه ئے خور ورباندِ هی دی
بے سببه بدچه وخوری
په نظر دَ سړی کښیوزی
په سلاح سره مړ ښهٔ وی
چه ئے وینے شی چه تویه
سرتر پایه لا وبال دے

# نهم باب

## ذکردَجهاد وغزا ثواب دَغازیانو وشهیدانو

په قرآن کښې دَ غازیانو
په غازیانو خدائے مئین دے
چه پسندلی دَ واحد دی
چه دَ تیغ روشنائی نهٔ وی
دَ غزا ثواب که کښنم
څو غازی په غزا دروی
چه له کوره نه روان شی
له عذابه غازی خلاص وی
تر بهشته به ورشینه
څوچه حج وی دَ حاجیانو
تردا واړه چه بالا دے

صفت شوے دے یارانو
په غازیانو دین روشن دے
زهٔ سوګند خورم مجاهد دی
دَجهان صفائی نهٔ وی
په کښل کښل به نهٔ رسم
په هرپله به ثواب مومی
ګناهونه ئے پریشان شی
آمرزش ئے په اخلاص وی
ګمان مهٔ کړه چه ورشینه
څو کوشش دَ عالمانو
دَغازیانو کوروالا دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوطاعت واړه جهان کا — ښې ښې چارې مومنان کا
ورسره غازيان شريک وي — که ترکان وي که تاجيک وي
چه غازي له چا آزار شي — په دنيا په دين به خوار شي

# فصل

## ذکر دَ شهيدانو چه دوه رنګه دي

شهيدان دي په دوه رنګه — سره بيل دي له فرسنګه
يو په غسل ښخاوۀ شي — بل بې غسله وسپارۀ شي
چه شهيد شي په غزا کښې — نشته هيڅ شبه په دا کښې
بې کفنه دے ښخيږي — غسل هم پرے نۀ رغيږي
دَ شهيد کفن پوشاک دے — څۀ حاجت دَ غسل پاک دے
په خپل مال چه په تيغ ومري — حقيقت وي شهيد بنۀ مري
ښخاوۀ دِ شي بې وللو — مغفرت ئې دے تر تلو
هرچه مړوي په خپل ځائے کښې — دارالحرب سره په سرائے کښې
دَ خپل رخت سره ښخ بنۀ دے — هيڅ حاجت دَ غسل نۀ دے
دَ اسلام په دار کښې مړے — چه په تيغ وي چا مړ کړے
هغه هم دَ غسل نۀ دے — دَ جامو سره ښخ بنۀ دے
چه شهيد وصيت وکه — بيا هاله دَ دم واته کا
مسئله دہ دَ وُلو نۀ دے — روايت دے وللے بنۀ دے
که په خولۀ ذکر دَ حق کا — دَ هغۀ جهان نطق کا
دَ هغۀ غسل نۀ بويه — مرتبه ئې دہ لا لويه
که لري هسے زخمونه — پټه خولۀ وسے په خونه
مړشي دے په بيخودئ کښې — کار دَ وُلو دے په بدئ کښې
شهيدان چه دَ ثواب دي — هغه دا رنګه حساب دي
حقيقي شهيدان نۀ دي — په ثواب شهيدان مړۀ دي
څوک چه لاندِ تر ديوار شي — مړ دَ نفس په بد آزار شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا په اورکښے لولپه شي — یا په بحرکښے غرقه شي
یا په وخت دَ لنګون ومري — ښځه یا په حد چه ومري
چه مقتول دَ حرامي وي — په زندان صمصامي وي
که بے او سپینے ځوک ومري — په ناحق شهید دے ښځه مري
که مجروح داخلي له ځایه — په لاړ دمري وړته وایه
په دا واړه و غسل روغ دے — شهادت ئے نه دروغ دے
حرامي چه مال دَ بل خوري — تیره تُوره غشے بل خوري
هغه هم دَ ولونه دے — عقوبت لره نه ښه دي
نه دِ موخ وربانډِ کیږي — بلکه دے دِ نه ښخیږي

## فصل

## ذکر دَ مرده دَ غُسل

دَ مرده غسل ثواب دے — خبر هسے په دا باب دے
چه مرده ته غسل ورکا — په ښه رنګ ئے وجود تر کا
ځو په تن دَ مړه ویښته وي — مزد به دا هومره دَده وي
چه بنده سرے آزاد کا — په ثواب ئے خاطر ښاد کا
هسے رنګ دَ مرده وله وي — چه ئے عیب ښکاره نه وي
شرمګاه ئے پوشیده وي — نو غاسل آمرزیده وي
که ئے عیب آشکاره کا — غاسل ځان لره بلا کا
مزد ئے واړه حبطه دے — دیر ګنده کاندي ګنده دے

## فصل

## ذکر دجنازے دنمانځه دثواب

دَ ښه خدائے په قول اے یاره — نمونځ واجب په مړه وشماره
ځوک چه نماز جنازه کا — باید دادي دادِ مرده کړه
دَ قبلے په لور دِ کښیږدي — مرده درے صف د پلیږي
برابر په سیلنه ځویه — دَ امام درېدل بو یه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه صغیر وی که کبیر وی — جنازه په چار تکبیر وی
تکبیرونه چه ادا کا — په آخر دِ سلام بیا کا
په اول تکبیر لاسونه — دروره بو یه تر غوږونه
چه اول تکبیر دوائے — بیا سُبحانَ هم دوائے
تحیات پسے ولو له — په دویم تکبیر دا لو له
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ — تا حَمِیدٌ مَّجِیدٌ ط
په دویم تکبیر داوا یه — په حاضر خاطر تر ځا یه

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَیِّنَا وَمَیِّتِنَا وَشَاهِدِنَا
وَغَائِبِنَا وَصَغِیْرِنَا وَکَبِیْرِنَا وَ ذَکَرِنَا وَاُنْثَانَا
اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْیَیْتَهٗ مِنَّا فَاَحْیِهٖ عَلَی الْاِسْلَامِ وَ
مَنْ تَوَفَّیْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَی الْاِیْمَانِ ط

چه څلور تکبیره وشی — ستا سلام دِ بیا هاله شی
په اول تکبیر لاس بو یه — چه ته هسک کړے ځا ځو یه
یا امیر یا قاضی بو یه — چه امام شی راضی بو یه
یا امام جُمعے یاره — یا خطیب پنځم وشماره
که دا هیڅوک حاضر نهٔ وی — هر سړے چه پرے لوست بنهٔ وی
یائے خویش یا اقربا وی — یا چه حکم پرے دَ چا وی
چه امام جنازه کاندی — یا چه لولی په دهٔ باندِ
مقتدی چه ورپسے وی — په لوستن دِ هم هسے وی
که سړی په شمار اندک وی — هم په درے صفه دِ لک وی
داحدیث دَ پاک رسولؐ دے — چه هغه مرده قبول دے
چه دَ دهٔ جنازه کیږی — پرے درے صفه ودریږی
که حاضر پرے ډیر عالم وی — په مرده دَ خدائے کرم وی
جنازه چه شی خبرے — خوک دِ نهٔ کا نږدے لرے
دَ نمانځه چه تکبیر چار وی — په څلور رکعته شمار وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه داخل په هر تکبیر شی / له امامه دِ خبیر شی
چه امام سلام وکاندی / تر روستی ماموم دَ وړاندِ
دے دِ پاتے تکبیر درست کا / دَ سلام دِ هاله لوست کا
کهٔ مرده خلق په گور کا / بے نمانځهٔ نهٔ ئے نسکور کا
پس له درے ورځو کهٔ کاندی / نمونځ پرے کیږی روستو وړاندِ
چه تر درے ورځو نه تیر شی / نمونځ پرے نهٔ کیږی نور دِ یر شی
کهٔ پریوزی له موره / کهٔ مرده وی وے ئے گوره
په جنین باندِ نمونځ نشی / بے نمانځه دِ ښخه وشی
کهٔ ډیر مړهٔ سره انبار دی / نمونځ په واړو یو گذاروی
کهٔ ډیر نر ښځے گډ وډ وی / هلک هم ورسره گډ وی
دَ مردانو صف اول وی / وروسته دَ ښځو بیل وی
بیا دِ وړوکے پسے کښیږدی / جنازه دِ ئے ویلیږی
نمونځ په واړو یو گذاروی / نهٔ په هر مړه بار بار وی
کهٔ ولی ئے حاضر نهٔ وی / دوباره پرے نمونځ هاله وی
جنازه چه په لار درومی / چه ئے ښهٔ سړے بیا مومی
کهٔ نماز وربانِدِ کاندی / صد رحمت په هغهٔ بانِدِ

## فصل

له رسوله روایت دے / په مشکوٰة کښے په صحت دے
جنازه چه دَ مړهٔ وکا / پس له دفنه سړے تلهٔ کا
درے قیراط مزد به مومی / پس له دفنه کورته درومی
هر قیراط په حساب څومره / لکه غر دَ اُحد هومره
په مرده بانِدِ سل تنه / مسئله دهٔ مبرهنه
چه حاضر شی نمونځ وکاندی / مغفرت ورشی وربانِدِ
چه پرے زیات سړی حاضر وی / مغفرت دَ مرده زر وی
په توریت کښے روایت دے / چه رښتینے حکایت دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسیٰ خواست وکړله خدایه
ځما خدایه راته وا بیه
چه د عرش تر سایه لا ندِ
څوک به وی چه راحت کاندی
د موسیٰ وینا بنهٔ آغله
دا ندا په موسیٰ راغله
د بیمار چه عیادت کا
تعزیت د مصیبت کا
په مرده باندِ حاضریږی
چه ئے ګور جنازه کیږی
چه دا درے چارے څوک کاندی
ځائے دے د عرش د لاندِ
ګور په ګچ په چونه بد دے
بدکهٔ پوخ د چا لحد دے
پخه خښته هم ګنده ده
کهٔ په ګور کښے د مرده ده
تابوت هم کراهیت دے
نهٔ روا په روایت دے
کهٔ د کانړی ګور څوک کاندی
بدی نشته په دهٔ باندِ
کهٔ په مړهٔ سړی ژړا کا
بنهٔ کهٔ ډیره ئے لالا کا
چه ژړا نا روغه وینه
آشنائی د روغه وینه
په فراق دی سترګے ګرمے
کهٔ په عمر شی بے نمے
چه مئین سره بیلیږی
پسے نول پسونه کیږی
په فراق چه ژړا نهٔ کا
د روغتون وی نور به څهٔ کا
چه لرګی سره ماتیږی
د لرګیو طراق خیږی
د لرګیو لا بتر دے
چه بیلیږی بے اثر دے
خو چه ژاړے ژاړه ژاړه
ولے نهٔ چه ویر یا غاړه
څوک چه مخ وهی دا بد کا
چه کوحبئ شلوی دا بد کا
چه جامے پاره کوینه
یا خپل سر په ډاک وهینه
یا فریاد نعرے فزع کا
یا افغان نوحه جزع کا
دا په شرعه ناروا دی
چه دا چارے کا خطا دی

## فصل۔ ثواب د صبر په مُصیبت کښے

دا حدیث د پیغمبرؐ دے
تواتر دے معتبر دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصیبت چہ پہ چا ورشی — دے پہ صبر بهرہ ورشی
اِنَّا لِلّٰہِ دِ وُوائی — ترخلوبیښت کالہ څو بائی
خدائے بہ هومرہ ثواب ورکا — چہ مخ رونړے پہ محشر کا
پہ جنت کښے بہ ئے ځائے وی — راضی من بہ ځنے خدائے وی
وُ جنت لرہ احبابہ — صابران ځی بے حسابہ
نۂ ئے سوال نۂ ئے حساب وی — نۂ پہ دۂ باندِ جواب وی
مصیبت پہ مړۂ پہ مال وی — یا دَ ملک دَ تن زوال وی
پہ هر څۂ صبر بائدۂ دے — پہ هر غم کښے صبر بنۂ دے

POHA

## فصل- عذاب چہ پہ مردہ پسے جزع فزع کوی

دا حدیث دَ محمدؐ دے — ناصبور پہ غم کښے بد دے
زور عزیز چہ دَ چا مړ شی — بویہ داچہ غم دِ نغړ شی
کۂ نارے فریاد غوغا کا — وائی ځان لرہ بلا کا
یا جامے کۂ پسے تورے — یا ئے نۂ اغوندی نورے
یا جامے خیری کوینہ — نۂ دستار پہ سر تړینہ
یا خپل کور پسے ویران کا — دغہ وارہ دَ دین زیان کا
پہ قیامت بہ شرمندہ وی — پہ عذاب کښے بہ اختہ وی
پہ دوزخ کښے بہ ئے ځائے وی — همیشہ بہ پرے هائے هائے وی
پہ مردن بہ ئے تور رنگ وی — کور لحد بہ باندِ تنگ وی
خوئے تورے جامے وینہ — عبادت بہ ئے نۂ شینہ
پہ محشر چہ حساب شمار وی — حساب شمار بہ پرے دشوار وی
کل فرښتے بہ پرے لعنت کا — همگی بہ ترے نفرت کا
چہ لہ کورہ نۂ پاسینہ — برهنہ بہ وُ درینہ
پہ صراط چہ گذر کاندی — درماندہ بہ شی پرے باندِ
نوحہ گر چہ مړۂ ستائی — پہ رنگ رنگ ئے ثنا وائی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قيامت به دا پيشو وی — يا به سپے يا به بيزو وی
دَ قطران جامے اغوستے — پليتی په سر اخستے
تن پاره پاره دَ دوئ — ترلرمون بنکاره دَ دوئ
دَلعنت چادر پرے باندِ — چه دَ اورلمبے به کاندی
فرښتے به دا ونمائی — دوزخيان به په ويرستائی
چه بدبختو اوس راځئ — دوزخيان په ويرستايئ

## فصل- عذاب دَ هغو ښځو چه په مُردہ باندِ ويرکوی

پيغمبرؐ دی فرمائيلی — دهٔ تر پاکے خولے ويستلی
چه په ويرکښے مخ وهينه — په محشر به تورمخ وينه
زر لعنته به پرے وُوری — خلق به ورته ګوری
دا به وی لکه زنا ګره — يو يو زنا دَ وير سندره
دا دوه ښځے به اوچار وی — په قيامت چه ګيرودار وی
يو چه خپل ميرهٔ پريږدينه — دا په نورو پسے ځينه
بله ښځه چه ميرهٔ ستائی — په صوتونو دَ وير وائی
خلاص به نهٔ وی له عذابه — دَ دوزخ دَ اور له تابه
په ژوندون کهٔ توبه وکا — خدائے به کاردَ وارهٔ ښهٔ کا

## فصل- دَکفر دَ کلمات

کهٔ جنت دے ښهٔ خصلت دے — کهٔ دوزخ دے بد عادت دے
مُسلمان دِ ژبه ژغوری — چه غضب پرے نهٔ وُوری
چه وئيل کا څوک بے ځايه — پرے لعنت وُوری له خدايه
په زبان وی چه ايمان وی — کفر هم په دا زبان وی
کهٔ څما نغوژی څرک ښهٔ کا — مسخره دِ هيڅوک نهٔ کا
مسخره چه په زبان ځی — په خندا خندا ايمان ځئ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړه ته له روایات
په درے خیزه کافر کیږی
اول کار د اعتقاد دے
بد عمل په درست اندام دے
دا نیت که مسلمان دے
پس په دا نیت کافر شی
چه کافر وی نیت دا کا
په دا نیت مسلمان نه وی
د اسلام شرطونه بویه
د مومن کفر که غواړے
په دا کار نه کافر کیږی
چه ګوندی د کافر کاندی
چه له فرضو څوک منکر شی
چه ئے نه زده وی فرضونه
مسلمان نه دے کافر دے
چه حلال حرام ګنړینه
یا خونونه په ناحق کا
یا زنا یا لواطت کا
که حرام ئے نه ګنړینه
چه د خدائے په وعدو شک کا
عزرائیل که بد ګنړینه
مؤذن چه بانګ نماز کا
څوک چه علم زده کوینه
یا قرآن وړاندِ آلت کا
د قرآن چه آیتونه

دا د کفر کلمات
هر سړے د وپوهیږی
بل د ژبے اقرار یاد دے
درست اسلام په دا تمام دے
چه په کفر داخل ځان کا
په دا نیت تر کفره ورشی
چه ایمان قبول صبا کا
اعتقاد د کافر څه وی
چه په یو ځائے راوړځویه
چه کافر شوے په دا ویاړے
دا کار مکره که پوهیږی
کافری ده په ده باندِ
په انکار سره کافر شی
یا چه نه کا فرض نمونځونه
تر کافر نه لا بتر دے
یا حرام حلال شمیرینه
کبیره ګناه مطلق کا
یا په ظلم مال غارت کا
په دا کفر پرے ورځینه
په دا کفر په ځان کاک کا
په هغه کفر ورځینه
استحقاق په سری ساز کا
بد هغه ته څوک وائینه
باندِ چار د معصیت کا
لولی څوک په سرو دونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا واړه چې نې کاندي
که ارمان وکه ووائي
یا فلانه حرام حلال دے
دا ویل دَ کفر دینه
که څوک وائي چه نمونځ کړم
یا نمونځ نهٔ کا ورته وائي
دے جواب ورکړه نمونځ نهٔ کړم
کافر شي په دا خبرے
چه دَ شرع استخفاف کا
کفر ورغی پرے بانِدِ
که ظالم دَ مظلوم مال خوري
مظلوم ووائي ورده ته
که نهٔ حق به له تا غواړم
ظالم هیڅ پرواه ونهٔ کا
دا هم کفر دے چه کیږي
که څوک ووائي عیب دان یم
دا ویل دَ کفر دینه
چه غیبت دَ پیغمبرؑ کا
که څوک ووائي له خدایه
ویل وکا نهٔ ویریږم
چه عالم وته بد وائي
که بے ځایه دا کار کاندي
که عالم فاجر فاسق وي
که څوک ووائي بالغ یم
یا څوک ووائي وچا ته

کفر ورغې شي پرې بانِدِ
چه حلال وے شراب ستائي
یا حلال دَ ولجے مال دے
ترے دِ ځان مومن سا تینه
ولے هیڅ ترے نهٔ مومم
چه نمونځ کړه ورته ئے ستائي
که نمونځ نهٔ کړم هم دا بنهٔ کړم
مسلمان دِ وی ترے لرے
چه فرمان دَ خدائے کذاق کا
مؤمنان دِ حذر کاندي
خوش خرم نے په وبال خوري
مال م مهٔ خوره وکړه نغته
په قیامت به خدائے ته ژاړم
بلکه لاظلم په دهٔ کا
له قیامت چه نهٔ کروهیږي
هسے شیخ دَ خپل زمان یم
چه ئے وائي کافر شینه
شک و مهٔ کړه ځان کافر کا
وویریږه دی بے ځایه
دا هم کفر شي پوهیږم
په شدت ورسره پائي
کفر ورغې پرے بانِدِ
دَ بدئ خودے لایق وي
نمونځ که نهٔ کړم خوش فارغ کړم
په نمانځه کړه مینه زیاته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے جواب وهغۀ ور کا
نمونځ وتاوته څۀ در کا
نمونځ به هله ګذارم
ګنړه څۀ دی نۀ ئے ګړم
داویل د کفر دینه
منکری له فرضو شینه
کۀ زینار کۀ څوک پړغاړه
یا سجده د بُت دا دواړه
چه ئے کا هغه کافر دے
له کافره برابر دے
کۀ غلول کا دا کارونه
یا ضرور وی یا پچو نه
کافر نۀ شی واړه بد کا
چه کارونه د مرتد کا

## فصل - کلمات دکفر د زور دمخه نور مکروه کارونه

کۀ په لاس د کافر کښیوزی
مومن غم وربانِد پریوزی
ورته وائی چه کافر شه
یا وتیغ ته ترک د سر شه
یا نقصان قبول وجود کړه
یا بت وته سجود کړه
یا شراب راسره وخوره
یا روژه راکره وخوره
کۀ څۀ داغوندِ نور ګران وی
چه آفت د دین دځان وی
کۀ غم خورے هیڅوک نۀ وی
دا دِ کار ورلره ښۀ وی
کۀ دا کار کراهیت دے
هم روا په شریعت دے
له ضروره هرڅۀ کیږی
کۀ په ژړے نۀ رغیږی
کۀ د سر ضرورے نۀ وی
په څِه نورچه زیان دده وی
نۀ دِ کفر قبلو ینه
نۀ دِ خمرو روژه خورینه
کۀ په ښځو ریښمین بنډ دي
په مردانو روا نۀ دی
په هلک په لوئے په دواړه
مکروهات دی ریښمین یاره
کۀ بالښت وی یا بستر وی
لوئے هلک لره بهتر وی
دجامے کۀ تار ریښمین وی
پود نورچه کار مهین وی
چه بوسے سره لاسونه
یا بوسے سره مخونه
په مردانو روا نۀ دی
مګر شیخ ملا دا څۀ دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ تعظیم د پاره ناسته ... ته یې کښېل کړه دواړه لاسه
ابتدا کهٔ دَ سلام کړے ... یا لاس ورکړه په اکرام کړے
کهٔ جهود وی یا ترسا وی ... دواړه توکه ناروا وی
مے فروش چه دَ مے مال خوری ... دے دا مال کله حلال خوری
په وارث یې هم حرام دے ... په درویش بنه کهٔ انعام دے
کهٔ دَ ځوئ زر خلخال کا ... یا وینی مکروه په قال کا
حامله کهٔ رګ وهینه ... په دا کار مکروه کوینه
چه بچه یې و شوریږی ... قصد هاله باندِ رغیږی
چه نږدے شی لګیدو ته ... قصد هم بد هم بدے عورتینو ته
کهٔ تر سر لاندِ کتاب کا ... دَ بالښت په ځائے عذاب کا
مګر ویره وی پرے باندِ ... نګاهداشت دَ کتاب کاندی
چه پائزار سره بدل شی ... یا څادر سره درغل شی
په دا کار دِ نهٔ خونښږی ... کهٔ لری یې مکروه کیږی
کهٔ ښځتن یې نهٔ مومینه ... ودرویش ته دِ ور کړینه
چه وینښتهٔ کلوی ښځه ... یا وینښتهٔ لنډ وی ښځه
دواړه توکه ناروا دی ... کهٔ بے عذره یا پیدا دی
دَ قرآن لوستل روا دی ... ترلوړ نوم لوستل زیبا دی
چه نوېسلی په قرآن وی ... یا پرے ثبت نوم دَ سبحان وی
کهٔ زیور کړ زر کهٔ نور څهٔ ... پکښے مهٔ ساته سپین تور څهٔ
کهٔ دَ خوښے نه وتښتی ... زلزله شی ښځهٔ ورغښتی
چه دَ علم بحث کیږی ... سکوت بویه چه یې نغوږی
چه تکیه ولی طعام خوری ... یا مکروه خوری یا حرام خوری
خوک چه چاکره میلمه وی ... چه وچا ورکه ګنده وی
سړی څهٔ چه سپی پیشو نه ... ورکړه بد دی دَ خوړو نه
دَ یوے نمړئ رخصت دے ... نیات تر دا کراهیت دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که آوند د سیم و زر وی
درس بهتر تر نوافل دے
تلاوت مکروه تعلیم کړه
په پېنځه ځایه خبرے
یو چه وخت د تلاوت وی
بل چه مړه په جنازه ځی
بل چه وخت د استنجا وی
نظر مه کړه پېنځه ځایے
د لمانځه په وخت که بنځه کړے
د هرچا کره چه ورشے
په عورت د چا دا پند کړه
بل چه بنځے تر دا حال وی
په دا دواړه نظر بد وی
آورېدهٔ دا پېنځه څیزه
اول لهوه بازی یاره
بل نوحه شیون مه واوړے
بل چه څوک د راز ویل کا
دا خبره له ما نه ده کړه
خو په کور بانډې حاضر وی
چه حاضر په مصیبت شی
چه مجلس د علم وینه
دا ویل دی د بزرګانو
چه بے روخ سړے خاندی

پکښې خوړی د دین ضرر وی
پړے به پوهه وی چه فاضل دے
په دا کار کار د رحیم کړه
مکروهات دِ شه تړے لړے
بل چه وخت دِ د صحبت وی
بل چه څوک په آوازه ځی
په خطبه کښې ناروا وی
چه دا کار وی د بدرائے
چپ و راست به نظر نه کړے
بدګوهر ته بدنظر شے
چه بربنډ وی نظر بند کړه
یائے کم تر تا نه مال وی
چه نے کړے، مکړه حسد وی
مکروهات لری عزیزه
بل سرود و رود و شماره
بل باطل فضول چه آورے
عوږ داری چه ورته بل کا
پېنځه ځایه خندا مه کړه
په تابوت بانډې ناظر وی
چه قادر په تلاوت شی
یا چه ذکر د خدائے شینه
نصیحت دے مومنانو
خپل حرمت سره وغاندی

چه بے ځایه څوک خندا کا
لیونے بویه چه دا کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم باب

## ذکر دَ کفارتونو په څو نوعه

په څو رنګه کفارت دے ‌‌ ‌ چه ثابت په شریعت دے
یو دَ صوم بل دَ ظهار دے ‌ ‌ دَ یمین ورسره شمار دے
بل دَ قتل دے اے جا نه ‌ ‌ دَ ایلا دے له قرآ نه
چه ہم ویلشه دا طرحه ‌ ‌ درته وو ایم په شرحه
کفارت دَ یمین کوم شی ‌ ‌ چه سوګند تر خوله معلوم شی
په دے رنګه یاد سوګند دے ‌ ‌ کفارت ئے ناځر ګند دے
چه دیده دانسته لوړی ‌ ‌ کار کړی دے بیا لو خوری
کفارت دَ غموس نشته ‌ ‌ په توبه ئے خلاصیدهٔ شته
بل سوګند لغو بالهٔ شی ‌ ‌ چه لو وخوری یا دهاله شی
چه سوګند ہم په دروغ وو ‌ ‌ پریشان شی چه نا روغ وو
چه سوګند په لغو وشی ‌ ‌ سوګند خورئے وباخښنهٔ شی
کفارت چه دَ یمین دے ‌ ‌ هغه دا رنګ تعیین دے
هر سړے چه سوګند وکا ‌ ‌ بیائے مات کار نور دِځهٔ کا
یا دِ لس وږی ماړهٔ کا ‌ ‌ یا دِ پټ لس په واړهٔ کا
یا غنم په دوه دوه منه ‌ ‌ چه ئے خوار واخلی لس تنه
یا دِ یو بنده آزاد کا ‌ ‌ نور به خلاص شی زړهٔ دِ ښاد کا
کهٔ دا نهٔ وی روژه بویه ‌ ‌ پیوسته درے ورځے څویه
کهٔ په لس ورځے یو موړ کا ‌ ‌ هم به کار دَ سوګند جوړ کا
کفارت دَ سوګند وشی ‌ ‌ دروغژن خو به بالهٔ شی

### فصل دَ ظهار دَ کفارت

دَ ظهار کفارت بل دے ‌ ‌ پرے به پوهه وی چه عاقل دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وظهار دَ روژے یاره — کار یکړنګ سره وشماره
دَ روژے کفارت څۀ دے — کفارت هسے دَ دۀ دے
ظهار چه دے درته وایم — لږ و ډیر په دا دانا یم
کۀ عورتے ته ووائے — چه دَ مور لنډه په مائے
یائے ګیډه یا ورنو نه — یا سرین هسے ځایونه
په دا واړو مظاهر شی — کفارت وته جوړ زر شی
کۀ ئے خور کړی یائے مور کړی — یا عمه کړے یائے ترور کړے
یائے خواښے یائے نیا کړے — یائے لور یائے چه دا کړے
چه روا ورباندِ نۀ وی — هغه رنګ ترخولۀ واتۀ وی
تۀ په دا مظاهر کیږی — دخول مۀ کړه کۀ پوهیږے
کفارت اول ادا کړه — نزدیکی له ښځے بیا کړه
په قرآن کښے دا آیت دے — ثابت شوے کفارت دے
آزادی دَ بنده ښه ده — کړه دوه میاشتے روژه ده
کۀ دا نۀ وی بیا طعام دے — په فقراء په چاشت پرشام دے

## فصل - کفارت دَ ایلاء

کفارت بیا دَ ایلا دے — کۀ پوهیږے ایلا دا دے
کۀ سوګند وخوری اے روره — چه به زۀ نۀ ملم له کوره
یا سوګند دا هسے وکړی — چه دخول ورسره نۀ کړی
یا به زۀ او دا سرونه — په بالښت سره نۀ ږدونه
کۀ صحبت ورسره وکا — په څلور میاشتے کۀ ښځۀ کا
کفارت پرے دَ سوګند دے — دغه کار دَ دۀ پسند دے
کۀ څلور میاشتے شی تیرے — و نزدے نۀ شی یا چیرے

یو طلاق باندِ پریوزی
قباحت پکښے کښیوزی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوولسم باب

## ذکر دَ نکاح دَ استبراء

کهٔ پیدا شی پرستاره
آهوچشمه ګل رخساره

څوک ئې خپله په بها کا
یوه میاشت دِ ئې رها کا

چه پوره ئې استبراء شی
بیائې هره چاره روا شی

کهٔ بشکلول وی کهٔ جماع وی
ګنهٔ هومره امتناع وی

چه یوځل دِ وینی وینه
بیا له حیضه پاکه شینه

هغه حیض که شمار شینه
چه په وخت دَ بها ځینه

داهم عین استبراء ده
نور پرے هره چاره روا ده

کهٔ دَ دوو خوبیندو سودا کا
دواړه خپلے په بها کا

په دخول یوه رغیږی
بله کله روا کیږی

کهٔ له وینځے فرزند وشی
کهٔ مرده کهٔ زنده څهٔ شی

کهٔ خواجه ئې نهٔ پسندینه
وینځه هم آزاده شینه

نهٔ روا په فروختن ده
نهٔ روا په بخشیدن ده

کهٔ دخول ورسره کاندی
روا کیږی په دهٔ باندِ

بیائې بل میړهٔ ته ورکا
په نکاح هم دا بشهٔ چرِ کا

کهٔ اولاد ورځنے کیږی
کار خدمت باندِ رغیږی

چه څښتن ئې په مرګ یادشی
نور آزاد وینځه اولاد شی

چه آزاده شوه مملوکه
ورنزدے مهٔ شه ملوکه

کهٔ دخول کا بے نکاح
ددهٔ چار ده نامُباح

په ژوندون هم آزادیږی
کهٔ خواجه پرے رضا کیږی

چه ئې بل ته ورکوینه
چه له حیضه پاکه شینه

ورسره دِ دخول نهٔ کا
دَ بل زیږهٔ دِ باندِ بنهٔ کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



كهٔ ئے بيا ورته زړهٔ وشي    په طلاق به بيا دَ دهٔ شي
چه عدت دَ طلاق تير شي    بيا صحبت ئے په خپهٔ خير شي
عدت درے مياشتے باندهٔ دے    استبراء غونډِ دا نهٔ دے
كهٔ دخول كا بے عدته    خلاص به نهٔ وي له شدته
مدبره پرستاره    خلاصه مهٔ گڼړه له كاره
كهٔ دخول ورسره كيږي    روايت دے چه رغيږي
كهٔ مال ورکا مكاتبه    نورئے مهٔ نيسه په تبه
كهٔ عاجزه شوه له ماله    بيا پرے ستا حكم دے لا له
دَ بنده غونډِ پرے كار كړه    چه دِ زړهٔ پرے هره چار كړه

## فصل

## ذكر دَ نكاح دَ ايجاب و قبول وغيره

ښځه نر چه سره يار شي    په نكاح سره لوئے كار شي
سره يو تن شي دوه تنه    دا وينا ده مبرهنه
لكه دوه ونے پيوند شي    ترے پيدا دَ ميوے خوند شي
چه حلال نكاح مهر شه    وي ترجان تر هر چه خوشه
چه نعمت ترے پيدا كيږي    چه فرزند ورځنے زيږي
فرزندان دي چه شاهان دي    اولياء هم فرزندان دي
صد رحمت پرے شي ميرمنے    چه درے راوړي په لمنے
نكاح فرض دے خما ياره    له قرآنه له اخباره
كهٔ خلور ميرمنے كاندي    په نكاح رحمت وربا ندِ
كهٔ يوه كه يوه ښه وي    چه يوه ئے انديښنه وي
په دولت به ورک پيغور كا    چه دوه درے كا يا خلور كا
گڼړه ولاړ تر كمر پريوت    چه دِ ډيرو په غم كښيوت
كهٔ خوک ما پوښتي له حاله    يوه هم مهٔ درے اے لا له
چه دوران دَ عالمگير شهٔ    درست جهان اخته په وير شهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل با ور نهٔ شي په کو نيتي — څوک به څهٔ کاندي نور پيتي
چه بادشاه په عقل پور وي — پريشانه تر خلق جوړ وي
کهٔ بالغه حره غواړي — پيښېږ شرطه دي دَ غاړے
يو حضور دَ خواهنده دے — بل حضور دَ دهنده دے
بيا رضا دَ مرد اے ياره — بيا رضا دَ ښځن وشماره
بيا حضور دَ ګواهان بويه — يا يو نر دوه ښځے څو يه
کهٔ خندا وکا رضا ده — کهٔ ژړا وکا رضا ده
کهٔ خاموشه وي خوله پټے — هم رضا ده غټے پټے
کهٔ ولي ئے حاضر نهٔ وي — درست جواب دَ ښځے بنهٔ وي
ياچه هسے څهٔ څرګند کا — چه رضا غوندِ پيوند کا
کهٔ دَ کوندے ګنړه کيږي — په ښکاره دِ ووئيږي
دَ کابين طلب دِ وکا — دَ رضا دليل دِ بنهٔ کا
په زبان دَ مرد رضا ده — هسے نه چه په ايما ده
کهٔ دَ بيع په لفظ کيږي — هم ايجاب قبول رغيږي
په سرود کهٔ درته وائي — چه فلان کي تهٔ څمائے
ښځهٔ هسے چه څرګند کا — چه رضا غوندِ پيوند کا
دا لا هم ايجاب قبول دے — چه ئے نهٔ مني فضول دے
دَ هلک حکم نور دے — دَ دوئ واک دَ پلار ومور دے
کهٔ دا نهٔ وي بيا نيکهٔ دے — کهٔ دا هم نهٔ وي بيا ترهٔ دے
يا ئے مور بويه حاضره — چه پرے غوته شي خبره
کهٔ دا هم نهٔ وي اے ياره — نيا وراره ولي وشماره
چه دَ دے ذوالارحام دي — دَ مور پلار قائم مقام دي
کهٔ عمه وي کهٔ خاله وي — چه دا کار پرے حواله وي
دَ دے واړه رضا شينه — چه غم خور دَ جينئ وينه
کهٔ يو بل مصلح ولي کا — دَ نکاح کار دِ جلي کا

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه نکاح ئے منعقد شی ۔ بنځه نر سره نا مزد شی
نور په نور چا نۀ رغیږی ۔ کۀ ئے کاندی حرامیږی
بنځۀ دَ شرع نکاح دا دے ۔ چه په هر توکی روا دے
چه دا لور دَ فلان فلا نه ۔ په نکاح درکړه ما تا نه
مرد ووائی په ژ به ۔ چه قبوله نور دَ دۀ ده
هم په دا کښے کا رِ دَ مهر ۔ په وېل دِ کا په جهر
چه دا هسے نکاح وشی ۔ غوریدۀ ئے په بل رنګ نۀ شی
یا په خلع یا طلاق دے ۔ په دا دوه توکه فراق دے
کۀ کابین ترلس درمه ۔ کم وی بد شی مکرمه
یاچه نیات وی له دیناره ۔ یا ترلس درمه یاره
چه نکاح شی بے کابینه ۔ شک و مکره کابین شینه
کۀ دعوی وکا پرے باندِ ۔ مهرالمثل به ورکاندِ
کۀ نکاح ورسره وکا ۔ بے دخول بیائے نۀ کا
پرے مُتعه واجبه شینه ۔ متعه درے خرچوړی وینه
پوخا در بل پیراهن دے ۔ بل مقنع چه مبرهن دے
مُسلمانه کۀ کافره ۔ روانۀ دۀ برابره
کۀ جهود کۀ ترسا کا ۔ عیب هیڅ نشته روا کا
کتابی کۀ کا مومنه ۔ بدۀ چاره دۀ عیب ژنه
کۀ جهود کۀ ترسا وی ۔ یا کۀ گبر خوک نساء وی
په نکاح ئے کړه عورته ۔ بویه دا له روا یسته
چه اسلام ورته عرضه شی ۔ هراحکام ورته عرضه شی
اول دین به دِ قبول کړه ۔ بیا دِ دے سره دخول کړه
کۀ په خپل ملت آشنا وی ۔ کۀ جهود کۀ ترسا وی
بیاچه بنځۀ مناکحت شی ۔ نور دَ دۀ سره صحبت شی
کۀ په کار کښے وی ابتره ۔ په خپل دین نۀ وی خبره

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دَ اهل کتاب نهٔ ده    چه دَ سوال وجواب نهٔ ده
په نکاح نهٔ روا کیږی    کهٔ اسلام راوړی رغیږی

## فصل

### دَ محارمو چه نکاح ئے نهٔ رغیږی

چه حرامے په نکاح دی    محارمے نامباح دی
اول مور دویمه خور ده    نیاو لور وریسے ترور ده
بیا نمسئ ده بیا وریره ده    بیا خورزهٔ هم ورسره ده
میره هم لکه مادر ده    میرهنه بنکاره چر ده
خوابنے ترورهم په دا شان دی    خبردار پرے مُسلمان دی
چه دَ هرچا وخوری پئ    خوئے دَ رور دَ هغوتهٔ ئے
نهٔ ئے لُور په تا رغیږی    خورئے هم نا روا کیږی
چه دخول ورسره وکړے    بدکهٔ لور بهٔ ئے بیاتهٔ کړے
کهٔ ئے وکړے بے دخوله    دَ میرے لور ده قبول
کهٔ و دے ته طلاق ورکړے    لورئے وکړه همه چرکړے
کهٔ دَ چا سره عقد وکړے    کهٔ صحبت ورسره نکړے
مورئے شوه په دا حرامه    چه ژوندئ ده لا کلامه
په حلال کهٔ په حرام وی    چه په چا دِ ولاړ تمام وی
یا بوسه په شهوت ورکړے    یائے فرج و ته نظرکړے
هم ئے مورشوه لکه خوابنے    لورئے لور پوهه شه کهٔ واشے
ستا دَ خوئ هغه مور شوه    پرے حرامه نور ترګور شوه
کهٔ دِ خور وی دَ عورتے    کهٔ دِ ترور وی دَ عورتے
کهٔ دَ دے خاله وریره وی    په یوه نکاح کنده وی
کهٔ طلاقه کړی عورته    یا په مرګ شی لته پته
روا وی پس له عدته
له دیو هرچه کړے عورته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فصل

## دا یه چه په پیؤ محارمے دی

له نسبه چه حرام دی
له شیرهم هسے په نام دی

پښۍ کهٔ کال روی یا کوټ وی
په نکاح و بله تروټ وی

دَ رضاع حکم مسطور دے
په دود نیم کاله منظور دے

چه ئې وروده مادر شوه
لور دَ دے دَ دهٔ خواهر شوه

دَهغې میرهٔ ئې پلار شهٔ
کار خدمت باندِ ئې بار شهٔ

چه دَ پیو دَ پسر دے
شه کهٔ شوئې دِ دَ خواهر دے

چه دَ پیو برابر دے
شه کهٔ شوئې دِ دَ مادر دے

په نسب کښې دی حرام
دَ شیر نهٔ دی بد فرجام

په قرآن کښې هسے دینه
واوره قل للمؤمنین

یَغُضُّوا یَحْفَظُوا یاره
تهٔ ساته دواړه ابصاره

په خلور رنګه نظر دے
پرے به پوهه وی چه خبر دے

چه نظر کړه برېنډ تن ته
مرد و مرد ته زن و زن ته

بل چه مرد ښځې ته ګوری
بل چه ښځه مرد ته ګوری

یو نظر ضروری شیینه
بل نظر اختیاری وینه

ضروری نظر دَ چا دے
دَ جرّاح طبیب دا دے

په هرځائې چه نظر کا نه دِ
اجازت دے په دهٔ باندِ

کهٔ نظرئې په شهوت وی
په اختیار شی قباحت وی

په عورت دِ نظر نهٔ کا
په هرځائې چه نور کا بنهٔ کا

کوز تر ناف تر زانو پاسه
دا همه عورت دے ناسه

مرد چه مرد وته نظر کا
په شهوت ناروا چر کا

ښځه ښځې ته کهٔ ګوری
په شهوت غم به پرے ووری

ضروری نظر روا دے
دَ طبیب کهٔ په نساء دے

کهٔ نظرئې په شهوت دے
په هرځائې چه شی آفت دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ نظر کا څوک ومور ته    یا وخور ته یا وترور ته
یا میرهٔ یا څوک محرمه    په نکاح له موږه سمه
کهٔ وینبتهٔ کهٔ ئے باهو وی    کهٔ گردن وی کهٔ ئے زووی
نور کاتهٔ بده بلا وی    دا یوڅوځایه رورا دی
په شهوت کهٔ نظر کاندِ    بدگمان وی په ځان باندِ
سکه ومور ته دِ نهٔ گوری    چه ئے زړهٔ وته وشوری
نور دَ دهٔ معشوقه کیږی    په پدر ئے نهٔ رغیږی
کهٔ نظر په میرهٔ کاندِ    په شهوت لعنت پرے باندِ
میرهٔ نهٔ شوه نا روا شوه    دَ پدر دَ دهٔ بلا شوه
نهٔ په دهٔ باندِ رغیږی    نور په پلار نهٔ روا کیږی
کهٔ نظر په وینځه وینه    چه په بیع شرا شینه
چه محرم ته نظر وکړے    داهم هسے کهٔ باور کړے
مخ مرووند وینبته ئے گوره    ساق سینه په شهوت روره
اول ښه وکړه ننداره    بیا سودا کا آشکاره
کهٔ مرئیے دے یا خادم دے    بیگانه دے نامحرم دے
په خاتون کهٔ نظر کاندِ    دے دِ لا ډیر حذر کاندِ
کهٔ میرهٔ نظر په زن کا    سر ترپا یه بربنډ تن کا
واړه ښهٔ چه روا کار کا    هسے نهٔ چه سرے خوار کا
کهٔ وفرج وته ئے کسی    کهٔ په گوتو کښیئے ونیسی
داهمه واړه روا دے    کهٔ دوه تنه خوش په دا دے
کهٔ دَ ښځے شرم شینه    بویه داچه دانهٔ وینه
په هر رنگ چه نهٔ شرمیږی    هسے رنگے زیست دِ کیږی
بیگانه عورته څوا نه    نامحرمه ده اے جانه
لاس ئے مهٔ نیسه په لاس کښې    څنے اوسه په هراس کښې
کهٔ نږهٔ دَ مور په ځائے وی    لاس نیول ئے نور په ځائے وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ ئے رنګ وهی ججام دے
مکروهو مره قمیص بڼره کا
هم په لیچ کهٔ زنګ نمائے وی
زنګ بندهٔ نهٔ دے دَ زنانو
کهٔ ژورے نهٔ کوینه
یا رکهٔ یارکره ورد رومی
بے رخصته کهٔ قدم بږدی
نابینا کهٔ ورتلهٔ کاندِ
عورتینه دِ سترګے ژغوری

په بل ځائے نظر حرام دے
دَ زنګ ځائے برهنه که
ضروری نظر په ځائے وی
نیے ژورے دی یارانو
عورتینے دَ سره وینه
بیا هاله کهٔ رخصت مومی
یارئے یارکره ماسم بږدی
نشته عیب په دهٔ باندِ
نابینا ته دِ نهٔ ګوری

## فصل- ذکر دَ طلاق

روایت په اتفاق دے
یو سنت دے بل بدعت دے
بل رجعی دے وُئے نغوڑه
په دا باب قرآن ګویا دے
چه سنت دے ځما جانه
کهٔ دِ بنځه شوه بد ژواکه
نزدیکی ورسره مهٔ کړه
چه عدت ورباندِ تیر کړه
چه دویم حیض پرې تیر شی
چه دویم طلاق هم ویر کړه
نور په درے طلاق ولاړه
کهٔ دِ زړهٔ ورته بیا وشی
کهٔ هغه ئے کا طلاقه
بیا پرې نوے نکاح وکړه

په څلور رنګه طلاق دے
بل بائن په شریعت دے
بُنبه وکاږه له غوڑه
څلور رنګه طلاق دا دے
ته ئے ونغوڑه له مانه
چه بنه شی له حیضه پاکه
یو طلاق ورکړه دازده کړه
بل طلاق به هله ویر کړه
په دویم طلاق به ویرشی
بیا به بل حیض پرے تیر کړه
نامحرمه شوه مرداره
بو به داچه په میړهٔ شی
نور دِ بیا شی ورته حاقه
چه پو هیږے هسے ته کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلاله دا کار باله شی — چه عدت تیر کا هاله شی
که عورته حامله وی — حکم دا دے که دِ زده وی
چه فارغه شی له باره — دا عدت سره وشماره
دَ بدعت طلاق دا شینه — چه په حیض ئې ورکوینه
یا چه درې طلاقه ورکا — یو ځل دا هم بده چر کا
دَ بائن طلاق پوهیږے — خبردار شه که خبریږے
چه طلاق سرګند ورنکړے — کار په رمز کنایت ته کړے
چه م لا ره په تا پرا نستې — نه ئې نور را سره نشتې
یا خما په ملک کښې نه ئې — یا دَ مور و دَ پلار ته ئې
مامور پلار و ته بخښلے — یا نور ګرځه مخ پوشلے
یا م ته آزاده کړے — بیګانه م ئې نوموړے
یا نکاح مو سره نشته — یا مُباح مو سره نشته
یا م ته عورته نه ئې — یا پردئ دَ خپل زړه ئې
که دا هسې خه سرګند کا — چه په زړه کښې طلاق بند کا
چه بائن طلاق وی دا دی — دوه که نیت که یو ادا وی
که په نیت کښې درې لرینه — واړه درے طلاقه شینه
که ته وائې اے عامه — چه په مائې ته حرامه
یا نور زړه حرام په تا یم — په دا خه شی درته وایم
که دِ نیت دَ طلاق وینه — شک ومه کړه طلاق شینه
که ته وائې ما دروغ وے — طلاق نشی دا تا دروغ وے
که په زړه دِ طلاق وینه — یو بائن طلاق دا شینه
دا طلاق بائن طلاق دے — دخول بو یه که مشتاق دے
یا دِ لمس ورسره وکا — په بوسه دِ ئې زړه بنه کا
که حلال دَ خدائې وائې — چه په ما حرام ونمائې
دا هم هسے رنګه کار دے — ستا په نیت سره مدار دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ نکاح میرهٔ ته پریږدی
کهٔ په دانے کا طلاقه
بائن یو طلاق کهٔ دوه وی
کهٔ عدت وربانډ تیر شی
دَ بائن نکاح مباح دے
حلاله دَ بائن نشته!
چه بائن طلاق صادر شی
ځکه مور د ځما دله
چه په یو طلاق واقع شی
کهٔ ئے بیا شوه چرے یاده
بل طلاق رجعی دے یا ره
کهٔ تهٔ وائے ناچاقه
یا دِ لفظ ترخولے بدر کړو
کهٔ دا هسے څهٔ ظاهر کړی
کهٔ دِ درے طلاقه دینه
چه عدت باندِ تیرنهٔ وی
یا دخول ورسره وکړه
وایه تهٔ مِ ئے عورته
یا کنار ورسره وکړه
یائے تن ته نظر بویه
کهٔ عدت پرے ګذاران شی
نوے عقد نوے کابین دے
اونساء وی په عدت کښے
نفقه دِ ورکوینه
رنګ وبوئ جامے رنګینے

یا پُل زر وربانډ کیږدی
بائن شی له اتفاقه
په عدت عورتینه وی
تر عدت ته ډیر لا تیر شی
کهٔ ئے کا نوے نکاح دے
مسئله ده بے کا هشته
په دا کار دِ مرد حاضر شی
بیوه کلنئے دَ خپله
نور دِ دے ځنے دافع شی
حلاله ده له اُستاده
تر بائن سپک ئے وشماره
خپلے ځکے ته طلاقه
چه مِ تا ته طلاق درکړو
یو رجعی طلاق ظاهر کړی
په زړهٔ هم یو طلاق شینه
رجعت وکړه رجعت بنهٔ وی
په خبره ئے زړهٔ بنهٔ کړه
یائے کښل کړه له بنهٔ نیته
یا درست کار ورسره وکړه
رجعت دا دے ځما ځویه
بویه کار دِ په دا شان شی
کار دا هسے شان یقین دے
نشته شک په روایت کښے
په بنهٔ ځائے دِ ئے ساتینه
کهٔ کړ ګینے کهٔ ریښمینے

POHA پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

آرائش دَ ځان خوړنګ
زیب زینت په ښو آهنګ
په عدت کښې کۀ ئې کاندِ
نښته دا په ښځه باندِ
ځان دِ خوار حیران ساتینه
چه ونۀ شي ورته مینه
په رجعي طلاق کښې بویه
چه جدا نۀ دۀ له شویه
آرائش دِ ورته کاندِ
ګندِ باندِ شي پرے باندِ
په رجعت کښې رجعت وي
دَ ګواهانو څۀ حاجت وي
دَ هلک طلاق هیڅ نۀ دے
کۀ ئې ورکاندِ هم څۀ دے
لیونے هم په داشان دے
چه طلاق ئې بے نقصان دے
کۀ دَ خمر مست مخمور دے
دَ هغۀ طلاق منظور دے

## فصل۔ ذکر دَ طلاق دَ نکاح

دَ رسولؐ دَ خولے حدیث دے
کۀ نکاح دے کۀ طلاق دے
په رښتیا کۀ په دروغ وي
کۀ بنده ورته ووائے
کۀ ئې خوئے یا ئې رود کړے
کۀ دَ چا مریونه سل وي
چه آزاد م بنده واړه
مکاتب پکښے خلاص نۀ وي
کۀ وینځے ته ووائې
کۀ دروغه دا وینا وي
کۀ ئې خورکا یا ئې لور کا
کۀ مور وینځه پلار آزاد وي
کۀ هلک فرزند پیدا کا
کۀ ئې پلور ئې یو ځائے بویه

دۀ یاد کړے دا تثلیث دے
دوه شول دا دریم عتاق دے
کۀ په هزل وي هم روغ وي
چه تۀ یار خدائی ځما ئې
کۀ بنده ئې ګنړي زور کړے
یا ئې ډیر دائے وئیل وي
نور دَ دواړو خلاصه غاړه
نور کل خلاص شي خو دَ دۀ وي
چه میرمن م په رښتیا ئې
آزادي ئې په رښتیا وي
بندګي دِ دوړ کا
کۀ ئې پلار په بندګي یاد وي
خوک دِ وینځه ناروا کا
چه بهائے شي اے ځویه

(c) ketabton.com: The Digital Library
POHA پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل - دَ طلاق دَحلاے

چه پردیٔ په طلاق شی
سړے بیا دَ دے مشتاق شی
چه په درے حیضه صفاشی
بیا نکاح بانډِ روا شی
کۀ زړه وی نا بالغه
حکم دا لری دا لغه
کۀ درے میاشتے شی پرتیرے
دَ نکاح شی ښٔے لا ډیرے
کۀ په ذات وی پرستاره
دَ دے دوه حیضه وشماره
کۀ هلک وی یا پسره
وینځه اے روشن ضمیره
یو نیم حیض دَ عدت دے
چه پرے تیرشی نور رخصت دے
کۀ میرۀ نه پا تو کُنډه
زړه ځوانه پیغله غونډه
په روژګا رکښے زړه ځوانه
یا تنکئ جینئ نا دانه
څلور میاشتے ئے عدت دے
لس ایام پرے زیادت دے
کۀ عورته حامله وی
کونډه یا مطلقه وی
په عدت اُمُّ الولده
په دے حیضه ده نامزده
کۀ آزاده په شیوه شی
له خواجه نه کۀ بیوه شی
کۀ درے حیضه په ځان تیرکه
نورئے زړۀ کۀ ځوان کۀ زوړ کا
کۀ په حیض کښے طلاق ورکا
تر عدت دِ ئے بدر کا
کۀ چنغول لیدلی نۀ وی
دَ چا هسے چنغله وی
کۀ طلاقه ئے کا خویه
دَ هغے عدت هم بویه
نیم کا بین ئے هم رسیږی
پرے دِ هر څوک وپوهیږی

## فصل - لقطه چه څوک بیا مومی

کۀ سړے په لارے درومی
ناګهانه چه بیا مومی
دوه سړی دِ شاهدان کا
دَ زړۀ حال دِ ورعیان کا
چه دا څیز خکه ساتم
چه څښتن ته ئے ورکړم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیمت چه دَ هغه مال وی — هم دِ درست څرګند احوال وی
مال دِ وساتی درے کاله — که ئے څوک پیدا شی لا له
مال دِ ورکا وهغهٔ ته — هرچه ورکاندِ وده ته
که هیڅوک ئے پیدا نۀ شی — په درے کاله نور دَ دهٔ شی
که مال درست واړه په ځان خوری — که ئے درست په درویشان خوری
دے که وی له توانګرانو — بِه که ئے خوری په ناتوانو
مال که ډیر ترسل درم وی — ترهزار درمه کم وی
پوره کال دِ ئے ساتینه — هغه پس دِ ئے خورینه
که ترلس درم تا صد وی — ترهفته ساتل په ید وی
که ګواهان نیولی نۀ وی — درست تاوان دَ مال په دهٔ وی
که لقطه هسے ناچیز وی — چه ساتل ئے سهل نیز وی
په فقراء دِ ئے قسمت کا — ځان دِ خلاص په روایت کا

## فصل- ذکر دَ بیع و شراء

پوهه دَ شرع په هرکار شه — چه سودا کړے خبردار شه
ورته وایه چه څهٔ پیری — په څرګند وایه چه جیری
چه دا څیز پیرم له تا نه — په سل رائے کړه و ما نه
چه دَ مال څښتن ووائی — چه درکړی دا نۀ بنائی
مشتری دِ هم ووائی — چه ما و پیرود دا بنائی
مګر دواړه وخوښیږی — نور دَ بیع نۀ غوړیږی
که په لاره ځی دوه تنه — مسئله ده مبرهنه
بیعه نۀ کیږی په لارے — په دا وپوهیږے بارے
مشتری که ووشینه — چه ما و پیرود په سپینه
بیا څښتن دَ مال ووائی — چه خرڅ کړی بها بنائی
که څوک هسے ووائینه — چه لنده لرم مهینه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په تا ده خرخه کړي
بها هم وي د نومړي
مشتري که نور وئیل کا
پس له دے رنګ جامائل کا
پیرودنے وواٸینه
زده کړه دا بها نه شینه
وے درنګ په مینځ کښے تیر شۀ
لفظ د بیعے تیروبیر شۀ

## فصل. د حلال د حرام د بیع

یوه بیعه ده حلاله
پاکیزه د خپله ماله
که ډیر سود پکښے پیداشي
په فرمان د خدائے رواشي
خوچه سود د ربا وینه
هغه واړه حرام شینه
چه په ټله خۀ تلل شي
یا په اوړي پیمائل شي
په دا دوه توکه کښے شینه
ربا نور چرته نۀ وینه
پس علت د ربا دله
یا په کیل وي یا په ټله
په یوجنس وي دوه خیزونه
که کیلی کا که وزنونه
راس په راس چه برابروي
خرخول د دوئ بهتر وي
که تفسیرے له ما غواړے
وایم واوره که پرے ویاړے
د کوړوي غنم اوربشے
دوه کړوی که پوهته شے
دستا دست ئے که خوک پلوري
کارئے روغ دے چه ئے کوري
په نسیا نۀ روا کیږي
مومنان د و پوهیږي
په دا شان یومن شکرے
په سودا دوه منه کړے
دست په دست سودا روا ده
په نسیا ناروا بیا ده
چه په کیل په تول خۀ وینه
واړه کار دا هسے شینه
که یومن غنم خوک ورکا
بیا یومن واخلی بهتر کا
که یو سیر پرے زیات اخلی
دا ربا کیږي بد زغلی
که غنم په اوربشو پلوري
دا ربا کیږي بد شوري
که په پور نغن ورکوینه
هم ربا غوند دا شینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ دُنیا روږکا وه چا نه — خۀ چه زیات راکړه وما نه
سوائی کیږی بدکار دے — چه ئے خورینه حرام خوارده
کۀ څوک سیم په زربدل کا — لاس په لاس ورکا اول کا
کۀ نسیه ئے سودا کیږی — په بها سره غوریږی

## فصل- دَګواهی دَ شاهدی

قضیه چه چرته کیږی — څوک ګواهان پرے ودریږی
کۀ قاضی په عدل کار کا — نۀ دِ عیب نۀ دِ دوئ عار کا
په ربښتیا دِ ګواهی وُلی — وثواب وته دِ نۀ غلی
کۀ قاضی کار په رشوت کا — په څرګنده قباحت کا
شاهدان دِ ګواهی نۀ لی — قباحت دے کۀ ئے وُلی
چه عادل قاضی پیدا شی — بیا دِ هاله پکار دا شی
چه ګواهی په دروغ لینه — پاک رسولؐ وئیلی دینه
په قیامت چه ژوندے شینه — دَ دۀ شر به به نۀ وینه

## فصل- ذکردَایمان دَشپږ وحصارونو

چه بزرګانو دی وئیلی — هغه وایه ما منلی
دا وئیل دی دَ بزرګانو — تاسے واورئ اے یارانو
ایمان چه دے لکه شهر — شپږ حصاره لری جهر
دوه دَ سرو دَ سپینو زرو — بل حدید بل دَ مرمرو
بل دَخښتو بل دَګل دے — پرے به پوهه وی چه عاقل دے
چه ئے کوټ دَګل محکم وی — کوټ دَخښتو مسلم وی
کۀ دَخښتو کوټ ویران شی — وبل کوټ وته نقصان شی
په هرکوټ چه رخنه شینه — خلل بل لره ورځینه
په شپږم باندِ چه ورشی — خلل درست شهراوترشی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمان هم په هسے شان دے
پرے به پوهه وی چه پردان دے

اول کوټ دَ تا یقین دے
سراسر وارَه دَ دین دے

بیا اخلاص دے بیا فرضونه
بیا واجب بیا سنتونه

بیا په دا پسے آداب دی
شپږ پوره په دا حساب دی

په آداب چه څوک محکم وی
دَ سنت به ئے څهٔ غم وی

کهٔ شیطان په سنت خیر شی
ستا واجب خلل پذیر شی

په واجب کهٔ خلل کړ کا
فریضه به بیا کړ وړ کا

فریضه چه خلل مومی
غم اخلاص لره ورد رومی

دَ اخلاص په رخنه کر شی
په یقین با ندِ به ورشی

په یقین پسے ایمان دے
خدائے دَ هرچا نګهبان دے

## فصل- ادب دَ طعام دَ خوراک

په طعام کښے ځلور څیزه
فریضه دی اے عزیزه

بیا ځلور پکښے سنت دی
آداب هم ځلور شهرت دی

دوه څیزونه دارو دینه
دوه مکروه پکښے شمارینه

فریضه ځلور څیزونه
په طعام کښے دا چه شونه

چه روزی له خدایه شماره
تل حلال خوره بزرګواره

چه توانیږے قناعت کړه
چه قوت لرے طاعت کړه

په طعام کښے سنت دا دی
چه ځلور درته پیدا دی

تسمیه اول وو ایه
بیاله پسه لقمه بنا یه

چه فارغ شی له طعامه
بیا الحمد وو ایه عامه

کهٔ بسم الله نه ووائی
نهٔ الحمد لله نمائی

چه څهٔ خوری وارهٔ کنډ خوری
یا حرام یا افکنده خوری

بیا اول آخر اے عامه
دَ لاس وُله پس له طعامه

بیا په کینږ نشستن دے
هنئ پینه برا فراختن دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب دادے څما جا نه　　نمړئ کمه خوره له خوا نه
په خپل لوری خواره اَخله　　مهٔ وبل لوری نه اَخله
نمړئ ښه سره وژویه　　بیائے ونغړه اے څویه
بل نمړئ دَچا مهٔ ګوره　　داڅلور آدا به زغوره
چه دَخوان مخوزی خورینه　　یا کاسه طباخ څټینه
چه دارو دی هغه دا دی　　په هرچا بانډ روا دی
چه طعام څوک بویوینه　　یا نمړئ پوکوینه
یاچه ګرم طعام خورینه　　داڅو توکه مکروه دینه
ابتداء په نمک یاره　　انتها په نمک یاره
دا داړو سره وشماره　　فوائد لری دلداره
دَصبا طعام اے څویه　　په تلوار خوړلے بویه
درے فائدے دی پکښے یادے　　لا تر درے نه هم زیا دے
یوصفراء له دله وړینه　　بدبوئ دَخولے نهٔ وینه
مروّت دَسړی ډیر کا　　نغن دَنورو خوراک هیر کا
چه دَبل په خوراک شوری　　هغه خپل مروّت پلوری
چه دَچاپه دعوت ورشی　　چرے نه چه لکه خرشی
ترهرچا دَوړاندِ مټ کا　　درست بل برسره چټ پټ کا
چه اسراف کا هغه رددے　　اسراف لاتر بخله بد دے
وبزرګانو وته ګوره　　چه دوئ څهٔ کا هسے شوره
چه څوک لاس په طعام کیږدی　　یا نور نهٔ خوری طعام پریږدی
په هرڅهٔ موافقت کړه　　زرمهٔ پس شه مهٔ سبقت کړه
یک خوره کهٔ سړے خورینه　　رنځ علت به ئے نور ځینه

## فصل - ادب دَاوبو دَڅښلو

ادب دا دے چه اوبهٔ څښنے　　په درے دمه به ئے ته څښنے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئے نوش په یوه دم ځي — هغه اوبۀ دے نۀ آدم دے
بسم الله اول وایه — دَ اوبو په څښنه خوش را یه
کۀ دِ یوه په لار ولاړے — اوبۀ مۀ څښنه په ولاړے
څوک چه ګښیني اوبۀ څښینه — رنځ زحمت به نۀ ورځینه
بیا الحمد لله زده کړه — په اوبو سینه سړه کړه
ښے سړے اوبۀ په اوړی — پسے نۀ یم بوړی بوړی
دا نعمت کۀ سړے مومی — چه یخ آب په اوړی شومی
په هر کوټ چه سپاس نۀ کا — ناسپاس دے کله ښۀ کا
کۀ دَ ماتے کوزے ماء خوری — سراسر واړه بلا خوری
چه په مات لوښی ګښے څښینه — بد کۀ څښنینه یا کۀ خورینه

## فصل دَ خلال

چه خوا ړۀ وخورے پسره — بیا خلال ترغاښو وروړه
چه خلال سړے کوینه — فائده ډیره سره شینه
یا دَ ولے خلال خوب دے — یا دَ توت خلال مرغوب ځي
چه خلال دَ هر درخت کا — خود بخود رخنه دِ بخت کا
چه په ژبه ئے راوُزی — ښۀ کۀ نفس وته پریوزی
په خلال چه جدا کیږی — په خوراک نۀ روا کیږی
توکول هم هسے بویه — چه ئے نۀ وینی څوک څویه
چه خلال وکا دَ وهاندِ — بیا زولنه دَ لاس کاندِ
آفتابه چه راګښیباسی — پښے لاس دِ ئے جار باسی
اول حق دے دَ پیرانو — بیا دے حق دَ عالمانو
په لاس وله هر څۀ چه کاندِ — کار دَ دوئ بویه دَ وهاندِ

## فصل۔ دَ مهمان دَ ادبونو

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمانی کول سنت دی
دَ مرد کار بنهٔ ضیافت دے

ضیافت چه دَ کریم دے
دا سنت دَ ابراهیمؑ دے

چه اول ئے میلمه سیر کړه
دهٔ په نغنوئے میلمه تیر کړ

چه اولاد دَ ابراهیمؑ وی
ترقیامته به کریم وی

په اولاد کښې ئے هاشم وو
دَ میلمه په کار قائم وو

میلمنو د ته ډوډئ
ماتوله ده په پېئ

هشم چه دے په لغت کښې
ماتول دَ نغن په ست کښې

پیغمبرؐ بنی هاشم دے
په انام ئے فخر هم دے

څوک چه کا ضیافتونه
باندِ وی درے ادبونه

اول دا ادب پرے شینه
چه حلال دِ پخوینه

بل خو توان دَدهٔ رسیږی
پخول دِ هومره کیږی

بل چه نمونځ ئے ناوخت نشی
مقیّد دِ په نمانځه شی

په میلمه دی څلور خیزه
ادب اے څما عزیزه

هغه ځائے دِ دے کښینینه
چه میزبان ئے کښینوینه

نور چه څهٔ ورلره راشی
په هغهٔ دِ اکتفا شی

بل چه اذن باندِ وشی
بیا دِ چا کره ورتلهٔ شی

بیا چه ځی دَ چا له کوره
بنهٔ دُعا دِ وکا سوره

په میزبان دی درے شرطونه
څوک چه ورځئ شی په خونه

تکلف دِ هومره نهٔ کا
چه یا پور یا ډیرخواږه کا

چه په کور کښې څهٔ لرینه
په مقدار دِ ئے پخوینه

ضیافت هم ناروا دے
کهٔ میلمه وته په غلا دے

پټ ئے مهٔ کړه له مهمانه
چه په کور کښې لرے جانه

چه میلمه ته خواږهٔ کیږدی
وعیال ته دِ هم پریږدی

چه عیال دَ چا محروم شی
هم بیدا د دے هم په شوم شی

ومیلمه ته چه ولاړ وی
په خدمت دِ ئے جوړ چاړ وی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

کهٔ میلمه ئے یو یا دوه وی
په خوراک دِ ورسره وی

نهٔ دِ قهرکا پسر ته
نهٔ دِ قهرکه دختر ته

کهٔ بنده کهٔ خدمتګار وی
چه داخل په کاروبار وی

په هیچا دِ غصه نهٔ کا
چه ملول دَ میلمه زړهٔ کا

دَ خوړو بخلے آسان دے
راضی توب دَ میلمه ګران دے

چه په څهٔ ئے زړهٔ رغیږی
هم هغسے کار دِ کیږی

چه په کور کښے څهٔ حاضر وی
ما حضر راوړل دِ زر وی

بیا بخلے دَ خوړو بویه
چه په وخت ئے وکړ څویه

و میلمه وته کم بخت وی
چه خوارهٔ دَ چا ناوخت وی

یو ځل دوه ځله وو ایه
ډیر خوره خوره ورته مهٔ وایه

په میلمه چه الحاح کیږی
دَ خستت نخشه ښکاریږی

میلمانهٔ لره هم بویه
ادب دا دے څما خویه

چه وهر چرته نهٔ ګوری
چه خوږل کاندِ وشوری

په خپل لور طعام دِ خورینه
لاس دِ کوږ نهٔ اچوینه

کهٔ اوبهٔ کهٔ مالګه غواړی
په نور غوښته به نهٔ ویاړی

کهٔ غوښتل کا میلمه نهٔ دے
تاراجی یا نور نوڅهٔ دی

کهٔ څهٔ بل منګ یا چه شو خوری
یا اوګره دَ چا دَ کور خوری

په خوشی ئے خوره مهمانه
آزار مهٔ شه له میزبانه

## فصل دَ مهمانی دَ ثواب

حکم دا دَ شریعت دے
چه درے ورځے ضیافت دے

که چه ډیر یا تو میلمه شی
چه خوری داړه صدقه شی

میلمانهٔ دوه رنګه وینه
پرے دِ پوهه و پرهیز بینه

یو خوانده بل ناخوانده وی
چه په خوان ئے نشانده وی

ناخوانده میلمه دَ خدائے وی
چه خوانده وی ستا برائے وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ خپل میلمه عزت کړې
په هر کور چه ورځې ښینه
دَ کاله څښتن نیکنام کا
تردا بله بِه به کوم وی
راشه واوره له ثوابه
هر سړے چه میلمه دوست وی
په امان بویه له ناره
گورستان به ئے جنت وی
چه له گوره نه پاسینه
روښنائی به ئے ترماه
جنتی براق به راشي
دَ جنتی سرو پایو نه
تاج په سر حلّی اخستے
وجنت ته به روان شي
اویا زره روستو وړاندِ
په داشان به دَ دهٔ تلل شي
په محشر کښې به غوغا شي
چه ئے هسې کر و فر دے
فرښتې به جواب ورکا
چه دا مرد پیغمبر نهٔ دے
په دُنیائے چه بخښلې
نن ئے کار په کرامت دے
چه دَ چا کره ورځینه
چه آوازئے دَ ښنو آوری
دَ کاله څښتن پرے خوش شي

دَ خدائے به لا حرمت کړے
سړے خپل قسمت کهٔ خورینه
په لقمه چه ئے خوړ کام کا
نیکنامی ئے ورمعلوم وی
روایت له بو ترابه
چه دَ دهٔ په هډ و پوست وی
کهٔ گناه لری بے شماره
چه شړندون ئے په قیامت وی
دَ دهٔ مخ به روشن وینه
دَ مخ ډیر به وی آگاه
چه دَ دهٔ صفت په چا شي
دَ جنت کښلی تاجونه
دَ براق واگے اخستے
په څورنگ به دا شان شي
فرښتے به جلب کاندِ
په جنت کښې به داخل شي
داویل به دَ هرچا شي
مگر دا یو پیغمبرؑ دے
په دا رنگ به ئے خبر کا
میلمه دوست وو خکه بنهٔ دے
اوس دانه دانه اخلي
پرے بنائی ځائے ئے جنت دے
میلمه داوره هسې وینه
یا نظرئے په دیدار وی
نور حرام په دهٔ آتش شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په میلمه چه څوک خوښیږي
هومره نور باندِ وریږي

چه میلمه ته ښهٔ نظر کا
هومره بخره به خدائے ور کا

خوږے شاد وي په وزتلنه
هومره غم به څي له دهٔ نه

خو دَدهٔ په خدمت شوري
برکت به باندِ ؤوري

خو دَدهٔ کره چه خورینه
گناهونه به ترے څینه

خو دَ دهٔ په دیدار شاد وي
په نیکئ به دَخدائے یاد وي

چه میلمه سره لاس نیسي
په خنداشي ورته کسي

چه کنار ورسره کا ندِ
خورمی شي په دهٔ باندِ

کهٔ گناه ئے ترشمار تیر دے
پاک شي دے کهٔ هرڅو ډیر دے

چه میلمه له تا نه څینه
ورسره وکړه تهٔ مینه

ورسره څه اُوهٔ گامه
مسئله ده له کلامه

په هر گام چه مقرر شي
باندِ بند دَ دوزخ ورشي

خو چه ډیر کیږي گامونه
ډیر به ډیر مومي گامونه

دَخلد ورونه به پرے واشي
په اُوهٔ گامه سود دا شي

پیغمبرؑ دي فرمائیلي
په میلمه چه وي بناغلي

په جنت کښے به تحقیق وي
بیا به ماسره رفیق وي

چه خالي وي له مهمانه
اُوهٔ ورځے کورائے جانه

له فرشتو نه به خالي وي
پکښے ځائے دیوا وپری وي

## فصل۔ آداب له کوره واتهٔ په چرته تلهٔ

چه له کوره نه واتهٔ کړے
ښئ پښه به بیرون تهٔ کړے

لکه ښئ پښه وُباسی
هم به ښئ ننه باسی

په واتهٔ کښے سترگے ژغوره
یو سر بل سرته مهٔ گوره

چه څوک وویني اے عامه
پرے ئے مهٔ ږده بے سلامه

په خوشئ ښهٔ وُموسیږه
لاس ئے ونیسه تیریږه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ په مخه درشي ښځه — کناره ورځنې ته ځه
مهٔ وَ دے وته ځهٔ وا یه — مهٔ نظر ورته کښا یه
کهٔ دَ ښځے ځهٔ شعور وی — دا بهٔ خود له مزده دور وی
په گوشه بهٔ کښیني بیا رته — دا به نهٔ گوری خپل پلار ته
چه مردان په لارے نهٔ وی — دَ دے تلهٔ به بیا هالهٔ وی
لعنت خو ځایه وریږی — پرے دِ هر څوک وپوهیږی
یو چه مرد ښځے ته گوری — په شهوت ورته وشوری
بل چه مرد وته کاتهٔ کا — ښځه بے حیا به تلهٔ کا
عاقلان سړی کهٔ ښهٔ کا — ناست دَ ښځو سره نهٔ کا
نهٔ دِ ناست که له کودکو — چه بازی کا له باغکو
نهٔ ناستے له لونډانو — نهٔ ناستے له فاسقانو
نهٔ ناستے له حرص ناکو — نهٔ یارئ له بے باکو
چه له دیو فرقو کښینینه — ډیرے شندے به پرے شینه
دا مثل دَ فرزانه دے — چه مشهور په زمانه دے
چه دَ بدو سره وُسی — کهٔ بد نهٔ کا بد به یوسی
ناستے ښهٔ دے له هوښیارو — له پاکانو پرهیزگارو
چه ځهٔ پند وتاته وائی — تا و ښے لاسے ته بیائی
دَ هغهٔ صحبت درمان دے — کهٔ قضائے کړے ارمان دے
دَ نمانځه قضا به وُشی — ښهٔ صحبت به بیا را نشی
پُشک کهٔ کړ کا څوک په مښکو — دَ مښک بوئ دروُمی له پُشکو
دَ دانا صحبت اکسیر دے — مِس دِ زر کا بے نظیر دے
دَ دانا صحبت کیمیا دے — مِس دِ زر کا بے همتا دے

## فصل - آداب دَ نماستی

په نماستی کښیے دا ادب دے — ترک ئے مهٔ کړه مستحب دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې اودسه نمانځه مکروه
کۀ نمانځه دِ په آبدست وی
فرشتې به په هر لوری
درسته شپه به تر بامداده
همیشه په اودس وُسه
په اودس چه مومن مړ شی
په اودس چه مومن خواب کا
دَ آسمان دپاسه ګرځی
خواب مکروه دے په درې وخته
یو صبا بل پس له ظهره
بل چه نمونځ دَ ماښام وکړی
قیلوله دَ ورځے خوب دے
قیلوله ده مستحبه
خوب په دے رنګه یادیږی
خوب دَ خلق چه قیلوله دے
خوب دَ خلق چه دَ صباوی
خوب دَ حمق دَ آخر ورځ دے

په اودس سمله ازده کړه
کۀ شیطان دِ په قسمت وی
درته کښینی تا به څرغوری
آمرزش غواړی سا ساده
ډیر ثواب ورسره یو سه
په حدیث شهید نوم مړ شی
دَ دۀ ځان پورته شتاب کا
په سجود پریوُزی غورزی
تۀ ئے یاد لره نیک بخته
قیلوله ده تر منځ ظهره
تر خفتنه به خوب نۀ کړی
نیمه ورځ فراغت توب دے
په جواز ده لا عجبه
چه درے ورځے نماستی کیږی
وهرچاته ستوده دے
دیوانه لره سزا وی
واحمق دے دَ بد روز دے

## فصل ـ جواب دَ ونړی دَ عطسی

دَ عطسی جواب واجب دے
چه سپاس باندِ ووائی
کۀ عطسه دَ زکامی وی
دَ یوۀ جواب کافی دے
پیش دستی په عطسه یاره
درد دَ ګوش کۀ دَ دندان وی

په هغۀ چه مصاحب دے
چه ئے وار وی جواب ښائی
کۀ جواب ئے کړه خامی وی
نور مجلس په معافی دے
دواړه و سره وُشماره
درد دل لره درمان وی

Poha Foundation
A.S.KB

# فصل

## ادب دَ سلام

په آيت په حديث ياره
سلام فرض په ځان وشماره

چه سلام وکاوو تا ته
راشه غوږ باسه وما ته

دَ سلام جواب بنۀ ورکړه
لا تردۀ ئے تۀ بنۀ ورکړه

تر رحمت کۀ دَ اثبات کړی
پوهے اوږد تر برکات کړی

سورکۀ پلی ته سلام کا
حبّذا کار دَ اسلام کا

کۀ سلام کا اِستاده ته
رَوِنده بنۀ نشسته ته

ډير و لږ و ته سلام کا
ځان دِ شاد په دا اکرام کا

چه خپل کور له ورد روے
په سلام به ثواب موے

ښځۍ پښه کښيږده دَ وړاندِ
کۀ ځوک نۀ وی په تا باندِ

هم سلام دے چه ووايه
برکت غواړه له خدايه

کۀ مسجد خالی له چا وی
هم لازم سلام په تا وی

کۀ ډير ناست وی يو پرے ورشی
هم سلام ورباندِ زبرشی

په سلام ئے معافی وی
يو جواب ورکا کافی وی

دَ دانا دَ ژبے پند دے
تر شکروئے بنۀ خوند دے

ځوک چه ناست وی سلام وله
ورسره کښينه اے دله

کۀ دَ ښو خبرے کاندِ
برکت ووړی پرے باندِ

په صحبت ئے بهره مند شه
په خبروئے خورسند شه

کۀ دَ شر کاندِ خبرے
ځنے پاسه زر شه لرے

په اوۀ ځايه اے ياره
تۀ سلام مکروه شماره

يو چه لوستل دَ قرآن کا
چه قامت کا يا آذان کا

په نمانځه چه ځوک ولاړ وی
دَ خطبے په فکر ولاړ وی

يا په کار دَ استنجا وی
يا طعام خوری په غوغا وی

ليونی ته سلام مکروه
مست دَ ميږو هلک زده کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له دے نه بیګانه وی — کهٔ په عقل فرزانه وی
وهغو ته سلام بد دے — لا په تیره چه مرتد دے
دَ سلام جواب ئے نیک دے — هم دا هومره یوعلیک دے

## فصل
## وجوب دَ کسب

هم واجب دے هم مباح دے — کسب کله ناصلاح دے
چه حلال کسب خوک کاندِ — صد رحمت په هغو باندِ
چه له خپله کسبه نهٔ خوری — کهٔ ولی دے کله بنهٔ خوری
دَ ضرور په وخت واجب دے — کسب بویه چه دستوب دے
چه عیال ئے بے نوا شی — په وبال به مبتلا شی
څهٔ په کسب چه حاصل کا — خپل عیال واړه خوشدل کا
دا تالاش ئے کا خبر دے — له جهاده برابر دے
په حلال کسب چه ګرځی — بشکته پورته سره غورزی
چه هرپل په مزکه ږدینه — دے به بے مزده نهٔ وینه
هره شپه چه سملی ستړے — په صبا پاسی خوب وُړے
چه له خوابه را بیدار شی — دَ بخشلیو سره شمار شی
چه حلال کسب نهٔ کاندِ — پریشانی بویه پرے باندِ
چه لهٔ کسبه بے حاصل وی — دا درے چارے به ئے تل وی
له هرچا به طمع خواست کا — کَس ناکَس سره به ندامت کا
مسرّت به ځنے ولاړ شی — برکت به ځنے ولاړ شی
خوشامد به دَ هرچا کا — یا به خوار شی یا به غلا کا
دَ هغهٔ کسب مُباح دے — کهٔ صباح دے کهٔ رواح دے
چه ئے قوت دَ ورځے وینه — عبادت دِ دَ خدائے کړینه

جن وانس چه په دُنیا دی
عبادت لره پیدا دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فصل

## مذکور دَ صحبت دَ ادبونو

دَ صحبت ادب هم بویه ‏ ‏ چه دا چار ده ډیره لویه
دا ونیل دَ شهسوار دی ‏ ‏ دَ زاړهٔ دَ ځوان پکار دی
ځوک چه نوے واده وکړه ‏ ‏ ناوے راوړی دے دِ ځهٔ کا
وُدِ کَه له سر دا یـته ‏ ‏ تطوّع دوه رکعته
چه فارغ شی له نمازه ‏ ‏ بیا دِ بر وُخوری له رانه
په ادب دِ دخول وکا ‏ ‏ سره دواړه دِ زړهٔ بنهٔ کا
کهٔ روزی ئے خدائے فرزند کا ‏ ‏ خدائے به دے سعادتمند کا
مرتبے به لوئے مومی ‏ ‏ دَ مور پلار به لار به دروی
اول شپه صحبت نهٔ بویه ‏ ‏ نوے میاشت چه وی اے خویه
کهٔ فرزند ئے کښے پیدا شی ‏ ‏ دے به تا لره بـلا شی
دَ زند یقو خوئی به کاندِ ‏ ‏ درست به غم وی لاندِ باندِ
په میانه دَ میاشتے جانه ‏ ‏ هم آخر واوره له مانه
په دا هم صحبت نهٔ بویه ‏ ‏ چه بدی ده پکښے لویه
چه له حیضه پاکیزه شی ‏ ‏ بنهٔ غسل وکا بنه شی
بیا هاله دخول باندهٔ دے ‏ ‏ دَ اولاد دپاره بنهٔ دے
په خصلت به خوئی بیکار شی ‏ ‏ مور و پلار لره آزار شی
اِستاده صحبت هم بد دے ‏ ‏ دَ دوابو دے یا دد دے
چه صحبت سره وُشینه ‏ ‏ زوړ دیو سره نهٔ وینه
چه پرے ځان پاکیزه وینه ‏ ‏ کنړه ډیر آفت لرینه
جنگ نفاق به ترمیان شی ‏ ‏ یا طلاق به ترمیان شی
دَ اختر به شپه اے جانه ‏ ‏ دَ صحبت چار ده ویرانه
کهٔ دَ عید قربانه شپه ده ‏ ‏ په صحبت باندِ ناښه ده
کهٔ فرزند پیدا دَ چا شی ‏ ‏ دے به شوم بخیل پیدا شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه باردارة ونه وینه — ترسا یې د صحبت شینه
چه فرزند یې پیدا شینه — یو جلاد خوني به وینه
بربنډ ځان صحبت ښه نه دې — په څه پټ شه حال ښه دې
درویشي وي په دا چار کښې — هم په ځان هم په تبار کښې
چه اذان د چا تر غوږ شي — د صلوٰة د قامت زوږ شي
هغه وخت هم صحبت بد وي — زیان د ځان زیان د ولد وي
بې وضو صحبت ښه نه دې — له وضو سره ډیر ښه دې
که وضو نه وي قبول کا — تیمم وکړه بیا دخول کا
که په ځاې د دا ترتیب وي — سعادت به د قریب وي
که صحبت په تابستان وي — سراسر د صورت زیان وي
تیره ماه که په خزان وي — دواړه وخته صحبت زیان وي
ځان په دیر غار مه کښې نیسه — بل د ښځې رنګ مه کسه
صحبت ښه دې په بهار کښې — چه یې کاندې په ګلزار کښې
په پسرلي وینه زیاتیږي — په جماع سره کمیږي
د سحر په وخت صحبت کړه — په مړه ګیډه نفرت کړه
چه تر حلقه سره موړ وي — هغه وخت صحبت ناجوړ وي
چه یې کاندې کا ډخر دې — کا ډخر په څه خبر دې
ناسته ګیډه صحبت روغ دې — ډکه ګیډه نا فروغ دې
چه په ورځ په شپه دخول کړې — په دا شان به کار قبول کړې
هر سړې چه صحبت وکا — پا سیدل د هم زړه نه کا
په ښځې لوري د زور وکا — یو زمان د ځان اوده کا
چه صحبت د وجود تل وي — په تودو اوبو لامبل وي
په تودو اوبو لامبل کړه — اوړې ژمې صحبت خپل کړه
د سړو اوبو لامبنه — د وجود نه ده ښاتنه
په جماع پیغمبرانو — څکه منه کړه یارانو

POHA پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخت دلی د سړو می له د له
زړهٔ پرے نرم وی هر کله

چه دَ زړهٔ په آرزو درومی
سخت شی زړهٔ چه آرزو مومی

دَ صحبت په آرزو جا نه
زړهٔ نرمی مومی خوشا نه

په صحبت فاسده وینه
له صورته کمه شینه

دَ شیطان وسواس له دِ له
په صحبت درومی عاقله

چه حلال صحبت دِ نهٔ وی
په زنا ته دِ زړهٔ چوی

څهٔ چه دی حلال صحبت دے
چه په قدر په قیمت دے

صحبت وا ړهٔ کل شکر دے
په افراط کښے ئے ضرر دے

چه حلوا وخوری بے رنګه
رنځ ئے ترے بیائی تر دے نکه

ځوان چه ستړے په یلغار شی
نور دخول وکا بیمار شی

چه په حیض کښے ئے صحبت شی
ترے پیدا ګنده زحمت شی

زرد زیره مشک کافور کا
ځوک چه ډیر دخول منظور کا

ډیر دخول سړے رنځور کا
دَ بصر پیدا فتور کا

ځوان که ځان ورځنے نیسی
په پیریٔ کښے به زور کسی

ترپنځوس کاله چه تیر شی
نور بنهٔ نهٔ کا دخول ډیر شی

زوړ سړے که ډیر دخول کا
دَ بصر زیان دِ قبول کا

## فصل- آداب دَ عورتِ دَ میړهٔ دَ زیست روز کار کښے

وصیت دَ مرتضیٰ دے
چه راوی ئے مرتضیٰ دے

چه دِ ناوے په کور راشی
نصیحت دِ ورته دا شی

په اول هفته عزیزه
دا دِ نهٔ خوری پینځهٔ څیزه

یو تریو سیو بله سرکه ده
یو کشنیز بله ګنده ده

پینځم څیز دوړئ سپوره
چه رحم سوړ کا اے روره

له فرزنده شی مایوسه
حمل نهٔ اخلی عروسه

که په کور کښے زوړ بوریا وی
بنځهٔ ترشنړے بنځے لا وی

پکار نهٔ ده بنځهٔ شنړه
که دَ وازدو لری لنړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَجماع په کار ده جانه
لکه نوش ده بنځه ځوانه

دَ زړے صحبت زحمت دے
دما روش دَ دے صحبت دے

چه دَ خوارلسو تیریږی
بنځه تشلو ته رسیږی

په دا منځ لکه نبات ده
نبات څهٔ آب حیات ده

چه بی بی پنجاه ساله شی
نورَ کور په حواله شی

چه تر دیرشو کالو ورشی
نبات نهٔ ده نور شکر شی

ترځلویښتو چه تیریږی
نور دَ کړو په نرخ کیږی

خصمانهٔ دِ دَ اولاد کا
ننداره دِ دَ داماد کا

هسے رنګ دِ سپین سرلوبا کا
چه نور که ګنده آشوب کا

چه سپین سر پریوزی وتاته
تهٔ مولئ کړه پکښے ماته

په جماع سره تن سپک شی
بدوسواس له دِله ورک شی

په جماع عقل زیا تیږی
حرارت دَ تن کمیږی

دَ سیری تر ګرم سیره
بنځه بهه ګنده ډیره

## فصل

## تعریف دَ عورتینے

وصیت دَ پاک رسولؐ دے
چهٔ حکم په قبول دے

دَ امت نیک زنه واړه
په دا کار دِ کیږدی غاړه

چه میړهٔ لره عورته
دا دِ نهٔ وی بے طبیعته

تل دِ وُسی خنده رویه
دَ میړهٔ سره خوش خویه

خدائے دِ ډیر ډیر یا دوینه
پاکیزه دِ ځان ساتینه

همیشه دِ غُسل کاندِ
چه هیڅ چرک نهٔ وی پرے باندِ

په نمانځه دِ وی حاضره
په ربنتیا دِ کا خبره

چهٔ واړه دَ زړهٔ رازدی
خپل میړهٔ ته دِ آغاز دی

تن دِ تل خوشبوئ لرینه
چه بنهٔ بوئ ورځنے ځینه

په رنجو دِ کاندِ شینه
چهٔ زیب دَ سترګو وینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې هرویښته بریښنا کا　　سر دِ هسې جوړ صفا کا
چه د ښځې سر صفا وي　　د شیطان و دې ته شاوي
چه نظر ورته شوهر کا　　دا دِ مزکې ته نظر کا
چه نظر کا په بل لوري　　دا دِ مخ د میرهٔ ګوري
چه نظر ئې په خپل یار وي　　عبادت سره په شمار وي
چه میرهٔ ئې ډېرې خوښیږي　　هسې رنګه دِ کار کیږي
مسخرې خندا بازئ　　خوخو رنګه طنازئ
د میرهٔ سره دا بویه　　خوخو کیږي چارده لویه
چه شهوت ئې ډېرې زیاتیږي　　هم هغه چارې دِ کیږي
چه طلب د صحبت وکا　　نور دِ هیڅ عذر ونهٔ کا
چه رضا ئې د شوهر وي　　هسې رنګ دِ دې چر وي
کهٔ میرهٔ ئې عیب ناک وي　　تر نظر دِ د دې پاک وي
چه خوک کا ځنې پوښتنه　　بد دِ نهٔ وائي د دهٔ نه
کهٔ میرهٔ ئې جفاکار وي　　هم دِ دې ته وفادار وي
لکه فرض د خدائې طاعت دې　　هسې فرض د شوئې خدمت دې
مرد چه ښځې ته هوس کا　　د وادهٔ هوا هوس کا
یکباره د شهوت جله　　پسنده نهٔ ده اوله
د اولاد اندیشنه بویه　　حفظ د مال چه چارده لویه
صالحه ښځه صاحبه　　د مال ملک ده هم نائبه
د میرهٔ د کور غم خواره　　کور په دې خوندي کړې یاره
په حاضر غائب یکرنګه　　زړهٔ ئې خلاص له هره رنګه
ښځه کومه ده بهتره　　چه عفت لري پسره
دیانت حیا لرینه　　عقل و هوش ورځنه وینه
زړهٔ ئې ډک وي له اخلاصه　　له قلیپئ له ټګئ خلاصه
فهمیده کوته ژبانه　　قاصرات الطرف جانه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میرهٔ په مینه مسته
خپل میرهٔ ته نیسته هسته

کهٔ بل کس وی لکه کسی
نهٔ ئے کوری نهٔ ئے کسی

په رموز په هنر پوهه
زړهٔ ئے خلاص له مکره روهه

په ادب په ستړے ستړے
کوز کاتهٔ په سرو خبرے

بنه آزاده حره شماره
نهٔ کم ذاته پرستاره

هسے جن وجان ته کوره
له بنهٔ ځایه له بنهٔ کوره

چه ئے پلار نیکهٔ نامداروی
هم دیندار وی هم کامګاروی

لکه نیانه د فرزند وی
یا نیکانه د فرزند وی

فرزند هم په هسے شان شی
په هغه فطرت عیان شی

ښځه کړه له خپله ذاته
نهٔ ناجنس ته بدصفاته

ترځان کوزه کړه یا سمه
نهٔ ترځان لویه اعظمه

په کالونو ترځان کشره
نهٔ په عمر ترتا مشره

هر بهار نوے نګار
کم نهٔ دے تر ګلزار

کهٔ په دا هومره صفته
بنایسته وی خوش صورته

مبارک دِ دا دولت شه
مبارک دِ دا جنت شه

کهٔ په رنګ کِهٔ وی کهٔ مِهٔ
تربیوه وی بکره بِهه

چور چه غابن د بل په سیب شی
هغه سیب لکه آسیب شی

له بنهٔ ځایه له بنهٔ کوره
کوره دا بله مهٔ کوره

په دُنیا کښے بنه عورته
کمه نهٔ ده تر جنته

حکیمانو دی وئیلی!
دُر و لعل ئے دی پیئیلی

ښځه مهٔ کړه پینځه کروهه
چه تل خلاص وے له اندوهه

حتّا نه منّانه یاره
انانه ورسره شماره

بیا کَیتُ الْقَفَا پُر دانه
بیا خِضرُ الدَّامَن جانه

چه اولاد لری له بله
حتّانه ده هغه دِله

مال د نوی میرهٔ خورینه
خوئ لونړه پرے لرینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



متانه ده هغه کنډه          چه لري خزانه غنډه
غره توب په زر په مال کا          میړهٔ وکا بانډِ خیال کا
آنانه عورته دا وی          چه ئې ښهٔ میړهٔ په خواوی
بل میړهٔ ورته هیڅ نڅوی          خو په ذکر دَ هغهٔ وی
په مخ ستا دَ بل په شا ده          زده کړه داکَیۡتُ الۡقَفَا ده
چه حاضر وی درته باغ وی          چه غائب شی نور دِ داغ وی
مخامخ درته خندا کا          چه ته نهٔ وے بل آشنا کا
اوس خَضۡرَاءُ الدَّامن واوره          دَ دا ناکیسه په وار وه
ښائسته صاحب جماله          آهنګره - ډم - کلاله
یا نیلګره یا چمیاړه          یاقصابه یا مالباړه
لنډکی ماره نیکوړکه          بد تباره په خوئ سپکه
مے فروشه بوزه ګره          زکوتی درویزه ګره
بے حجابه ګرځیدلے          لره بره غوړیدلے
چه په ذات وی نااصیله          په جمال ښکلې وی جمیله
کهٔ په مخ ښکلې لکه ګل ده          بیا په ذات په اصل غل ده
په ښائست ښکلې چراغ بل ده          بیا سبزه دَ مزا بل ده
کهٔ په مخ ښه وی ترما هه          چه په ذات نهٔ وی دلخواهه
خُما پند تر دِله یوسه          دا وُمکړه غرب وُسه
نهٔ یوه په خوئ ښاغلے          نهٔ دوه درے بدخویه ښکلے
ښځے ټولے خرخشے دی          دوئ تر وکله ټولے ښے دی
ملوکان کهٔ ښځے کاندِ          ډیرے ښائی په دوئ باندِ
ښځے دوئ وته بنده وی          په خدمت سرفګنده وی
لاملوک لره هم بویه          چه یوه ښه وی دلجویه

## فصل
## تعریف دَ حمام

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حمام دہ ډیرہ نفعہ — تن دِ سبک کا نرم طبعہ
ما زغۂ صاف کہ مشام وا کا — تن لہ چوکہ نہ صفا کہ
ستومانی لہ تنہ دور کا — زړۂ دننہ پہ سُرور کا
پاکیزہ کړہ زړۂ وینہ — صاف کا درست ګوګل دننہ
خلط جدا کاندِ لہ تنہ — دَ سود چاړئے دہ روښنہ
پہ ساړۂ دَ برد دافع دے — پہ غارمۂ کښے لا نافع دے
چہ حمام لرہ ورځینہ — مرہ ګیډہ بنہ نۂ وینہ
دے دِ لوکوتی وخورینہ — چہ حمام لرہ ورځینہ
پہ حمام کښے چہ تودځان کا — کۂ زر وُځی دَ ځان زیان کا
مۂ سړے اوبۂ بیا ګوړہ — خان لہ بادہ نہ وژغورہ
طعام وخورہ بیا اوبۂ څښہ — مۂ ماء هیچا مۂ طعام څښہ
چہ بیرون شے لہ حمامہ — هغہ ورځ هم شپہ تمامہ
دخول مۂ کوہ اے ځوانہ — ګنړہ نۂ بہ وی بے زیانہ
کۂ جُنب وی آهنګ مۂ کړہ — مسئلہ دہ داهم زدہ کړہ
کۂ جُنب آهنګ یا کل کا — ویښتۂ دین لرہ خلل کا
نۂ دِ نوک جدا کوینہ — جنابت چہ پکښے وینہ

## فصل

## ذکر دَ ادویات

پہ دارو کښے چہ بنۂ نیت وی — دارو نۂ وی عبادت وی
عبادت پہ روغ صورت شی — ګنړہ کلہ عبادت شی
ما دَ طب پہ کتابونہ — نظر وُکړہ پہ بابونہ
چہ هر رنځ لرہ فائدہ دہ — هلیلہ دہ هلیلہ دہ
کۂ درست عمرئے څوک خورینہ — هیڅ علّت بہ نۂ ورځینہ
هم دَ مرد دہ هم دَ زن دہ — هلیلہ شفا دَ تن دہ
پہ ترتیب ئے خورہ هوښیارہ — مصالح ورسرہ یارہ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ماهي په حمل څوېيه — له عسل نے خوراک بويه
په غوايهٔ په جوزا يا رهٔ — مله نے کړه کړه اختياره
کهٔ سرطان وي کهٔ اسد وي — له نمکه سود بے حد وي
سنبله وي کهٔ ميزان وي — دَ شکرو سره جان وي
په لړم په ليندهٔ ښهٔ وي — کهٔ ښهٔ سونډ ورسره ملهٔ وي
جدي دلوه چه نے مره کړي — بويه ښه غنيه خشته کړي
نيمائي مصالح بويه — نيمائي هليله رسويه
دواړه توکه سره تهٔ کړه — هر صبائي خوړل تهٔ کړه
هليله دهٔ اوهٔ قسمه — خبرے تهٔ له اِسمه
کهٔ نے کشم ويل اوږديږي — هوښياران به خود پوهيږي
هليله چه څو ښه وي — پاس په ونه ښهٔ پخه وي
ښه درنه په وزن کوره — هم هغه ښهٔ دي اے سوره
چه دوه درے کاله زړه شي — تازه نوے دِ خوږه شي
هليله کهٔ پروردهٔ شي — په عسل کښے هم لا ښهٔ شي

POHA

## فصل

### دَ سنږکو دَ دارو

پوهه

کُرکمن فلفلين وروره — بيا دَ کانړي مالګه کوره
يا بيړنګ سونډوکو ته هم — يا ړهښي بج و چتره هم
دَ نِم پانړے موته وياړه — دا دارو دَ سترګو غواړه
دا همه برابر جانه — واخله توله شه دوکانه
ورسره دَ بزے متيازے — نور څهٔ هيڅ نهٔ خويوازے
دَ متيازو نے ته آس کړه — ترګولئ سازے په قياس کړه
په سايه کړه ګولئ اوچے — چه کمترے وي تر پچے
سائيده کهٔ له اوبو شي — ستا به سترګو پورے تروشي
دَ نزول مرض به ورک کا — په فرصت به بيمار سپک کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ شهد له روغنه
دَ تپل مرض به دور کا
له هندی سرکے اے یاره
چه دِ باد یا یرقان وی
کۀ ئے پورے که له بوله
دَ بنګرے له اوبو یاره
کۀ دَ بنجے پئ پرےګډ کا
کۀ یوه پوړئ وخوری
کۀ پوړئ وخوری ځوک خوار لس

پورے کیږی ده روشنه
خوش به زړهٔ به دارنځور کا
کۀ ئے پورے کا خو واره
دَ بیمار به ورک آسان وی
خلاص به شی دَ سریش له هوله
شبکوری وړی له بیماره
دَ لیمو کل به ګډ وړ کا
دَ منګور په وش به ندمری
سم خوړلی لره دی بس

## ایضًا

کۀ رانجهٔ سرے تاودهٔ کا
پکښے ډوب تاودهٔ رانجهٔ کا
په دا رنګ دَ بنجے پئ
بیا دوا ړه بنه میده کا
چه دَ سترګو هر زحمت وی

اطریفل سره اوبهٔ کا
اوهٔ ځله دا رنګ وکا
اوهٔ ځله ډوب به دے
په لیمه دِ سائید کا
په رانجهٔ به ئے صحت وی

## ایضًا

غوړ دَ غواچه زاړهٔ ډیروی
هغه هم بنهٔ دی هر ګوره
مامیره هم په داشان ده

ده ساله یا تر ده تیروی
دَ لیمو زحمت ته سروره
چه دَ دوؤ سترګو درمان ده

## دارو دَ سترګو دَ کدورت

کۀ سرے په سترګو تت وی
اول سنګ بصری یاره
بیا دریم غنیمے خشته وی
بیا پینځمه آمله ده

دَ نظر ئے تفاوت وی
مهلطی دویم وشماره
ځلورم دارچینی بنهٔ وی
فلفل ګرد بیا بلیله ده

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلبله چه بنه پخته وي
داُوه وار سره کړه
چه په وزن په تول سم وي
له سرو او بوئے ګډ کړه
خوجبه ګولئ کړه سازے
څهٔ حاجت دَ هغه کس وي
له اوبو دِ حل شي
داعمل دِ په عشا کا
ورته بنے سرے اوبهٔ وي
کدورت به ئے اوبهٔ کیږي

چه ما غزهٔ ئے دَ خسته وي
بیائے بنهٔ سره میده کړه
نهٔ دِ زیات وی نهٔ دِ کم وي
بنهٔ ئے تهٔ سره ګډ وه کړه
واړه ګردے نهٔ دِ رازے
خو یوه ګولئ ئے بس وي
چه په سترګو کښے ئے تل شي
دَ بصر وُلهٔ دِ صبا کا
چه دَ سترګو ولهٔ پرے بنهٔ وي
بنهٔ دی دا دارو خو کیږي

## د دارو دَ سترګو دَ نزول چه آب مروارید ئے بولی

دَ نزول علت بلاوي
چه جراح ئے پرده وا کا
مایو نقل دے لیدلے
هغه نقل درته کښم
دَ دوهو وازده حاصل کړه
دوه سرو وازده ګذار کړه

دَ چا مهٔ شه لا دوا وي
مګر هاله خوک بینا کا
په " شفاء علیل" کښے کښلے
زهٔ له خپلو نهٔ وا یم
فراشتک مرغئ بسمل کړه
چه بنکاره شي بیائے ساز کړه

## دارو دَ نزول یعنی آب مروارید

دَ نزول دا بنه دوا ده
بنه توتیا نیلا توتا وي
چه تول سم سره میده کړه
تل دوه درے میله آخله
چه دَ درست زحمت ورکیږي

کهٔ دَ رنځ په ابتدا ده
چه بنهٔ شنه وي بے همتا وي
په بصر کښے ئے سیده کړه .
بیا پرے خوب وکړه سمله
په بصر دِ پوره کیږي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دا پورته دارو نشته — په دُنیا کښې که هر څه شته

## دارو د یرقان

دارو د یرقان دا دی — که ئے وګورے آسان دی
پښتانه ئے زیړه بولی — سرے زیړ پریوزی له غولی
او سپین خړے چه ډیر زوړ وی — دے علاج ته هغه جوړ وی
ته ئے واچوه په اور کښے — ښه سوړ کړه په تنور کښے
واخله بیا د غوا متیازے — نور څه هیڅ نه خویوازے
په متیازو کښے ئے جوړ کړه — اوه ځله ئے تود سوړ کړه
چه ښه سوړ شی بیا ئے آس کړه — پوډر م ځنے په لاس کړه
چه ناشته ئے په هفته خوره — اوه ورځے ئے پوره خوره
بیا ئے بله هفته جانه — خوره له شهده له روغا نه
شنوبے هم ورسره بویه — غوړ شنوبے د غوا اے ځویه
د صحت طمع اُمید کړه — ښه دارو دی اعتمید کړه

## علاج د پشک

د پشک دارو دی جانه — ته ئے دُنغوژه له مانه
کنبیله تور وا نجو دواړه — سره آس کړه وُ ئے نغاړه
هره ورځ ترے لږ واخله — د کنځلو تیل هم دلته
دا دارو ورسره ګډ کړه — بیائے ښه سره ګډوډ کړه
په پشک ئے کړه ته پورے — نفع سُود به ئے وُګورے
هغه د رنګ ناستے په نمر کړه — یو څو ورځے دا اکثر کړه
خدائے دِ روغ کړه له علته — یا تو ښه شے بے صحته

## دارو د ګنده دانے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ دَ چاګنده دانه وی    چه زرداب ئے نشانه وی
چهٔ ئے زیړے اوبه دړومی    زیاتیدهٔ کاخارښت مومی
واړګونه اغزی لرینه    شته بوټے هرځائے شینه
په هندکو اَپټ کنده دے    فارسی خارَ واړګونه دے
چه ولی ئے دی تړے لاندِ    ملوکان ترے مسواک کاندِ
دَ دهٔ پانړے بنے میده کړه    بیائے پوړے په دانه کړه
مجرب دارو دی جانه    تهٔ دا وُمنه له مانه
چه خوځله ئے کړے پوړے    رنځ به ورک شی خودبه ګورے
کهٔ دَ چاګنده دانه وی    دَ نښتر ژاوله هم ښه وی
دَ مولو تخم هم ښهٔ دے    دے زحمت لره بدنهٔ دے
دَ اوبو سره ئے آس کړه    په دانه ئے پوړے پاس کړه

## دارو دَ توخې

ښه پخه کرکنړه ګوره    ځنې زړی ئے واخله روره
هغه زړی ئے بیا وراتهٔ کړه    آس ئے ګړه له ګبینه کړه
دَ هر توخې دارو دا دی    چه آسان داروی دا دی

## ایضًا

پانړے بیخ واخله دیګی    چه ورته ئے ګرځو ورځې
دا داروخوره په نهاره    شهد هم ورسره یاره

## نور هم

دَ سیارِ دوا دوا ده    تجربه ئے په هرچا ده
دَ خرے پئ خښه په نهاره    خودِ رنځ دړومی بیماره

## دارو دَ استسقاء

استسقاء دَ چا ومهٔ شه    کهٔ ئے وشی دائے زده شه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل دِ خښنی دَ اوبنو پئی
نهٔ خواړهٔ نهٔ دِ اوبهٔ خښنی
استسقاء هغه زحمت دے
دَ سړی کیږه مشکے شی
لاس وپښے نے وېړسیږی
دارو هم دَ استسقاء شته

ورځو شپه تته تشتنی
خو دا پئی دَ تاژه خښنی
چه کنده تر مرعلت دے
ډک په زیړواوبو دے شی
په رنګ زیړ بلا ښکاریږی
خو دَ اوښو پئی رسا شته

## دارو دَ نهٔ چړولو

واخله سخاوژه بیمارهٔ
دواړهٔ سم شپږ شپږ درمه
زنجبیل دولس درمه
هلیله اتلس زر ده
کته شل څلور درمه
واړه ښهٔ سره میده کړه
دوه درمه هر صبا خوره
کُندِ وی چه رنځ دِ ورک شی

پلپل دراز ورسره یاره
هنجه هم درواخله همدمه
جوائن یا نزده اکرمه
حبّه یو درم باور ده
واړه یو ځائے کړه پرغمه
په تودو اوبو دازده کړه
پرے لطیفه غذا بیا خوره
په صحت دِ وجود سپک شی

POHA
پوهه

## بل رنګ

لونګ ویَشوه جانه
دَ لونګو اوبهٔ نوش کړه
نهٔ څړدل په دا ورکیږی
شوه په دوه درے رنګه
کهٔ ناشته نے هر صبا خوری

دوه درمه اے پردانه
ښهٔ دارو دی له ماکوش کړه
قے لاهم په دا کمیږی
آس پرے کړه دَ له فرهنګه
ښهٔ اعلیٰ کهٔ تل داخوری

په زورولی په برنا وی
خورنده به ترهر چا وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دارو دَ قوت باه

واړه سونډ غنيه خشته وی — چه دَ تی دپاره بنهٔ وی
دواړه سم دوه دوه درمه — کنډ کېږدئ کړه همدمه
په اوبو کښېږدئ په جوش کړه — پرے شیر کړے او بیا نوش کړه

## دارو دَ قوتِ باه مباشرت

نک چهکنی ادرک دلداره — دَ غوا پیئ سره کړه یاره
تاووده نه پیئ دِ او مهٔ وی — چه ئے ښښے قوت ته بنهٔ وی
سونډ جائفل کباب جانه — دارچینی واخله پردانه
دا خلور دوه دوه درمه — چارک واړه وپه تول سمه
بیا لونګ عاقر قرحه هم — یویو دا کړه ورسره هم
کُندروچو پنځه درمه — بیل بیل آس کړه دا همدمه
دا داروشی اُوه ښیزه — چه ئے وشمارے عزیزه
په عسل کښېږدئ معجون کړه — وایم ته ئے خوراک چون کړه
دوه درمه په صبا خوره — دوه درمه په مسا خوره
ذوق به دِ یرموے خوشورے — ځئه به وایم خود به ګورے
که دِ یرسوړے دا هالهٔ کړه — غم خوری دَ خپل کالهٔ کړه

## دا هم دَ قوتِ باه دارو دی

دارچینی لونګ اے یاره — بیا عاقرقرحه دلداره
زعفران دا خلور ښیزه — برابر سره عزیزه
ښهٔ خومشک هم ورسره کړه — واړه بنهٔ سره میده کړه
ګبینهٔ سره ئے ګډ کړه — ته ئے بنهٔ سره ګډ وډ کړه
ګوله سازه کړه ښو بیرے — په حساب یا تیرو بیرے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ساعت د صحبت زوره
دا دارو دی بے آفته
ښځه نر سره راضي شي
چه تر دا نه ډیره ښه ده

یوه وخوره ګوله ګوره
خالي نهٔ دی له لذته
ښځه لا متقاضي شي
کهٔ نے خورے فلاسفه ده

## معجونِ نبیؐ

فلفلین واخله اے جانه
زنجبیل وقرنفل هم
برابر په وزن واړه
چه بیل بیل سره آس کړے
کهٔ په تول دا اتهٔ توکه
قند خلور شیر شاهي بویه
اوهٔ ورځے نګاه کړه
دوه درمه په خفتن خوره
دا دارو لکه سرهٔ زر دے
هم صحت د تن پیدا کړه

فلفل مول د خولنجا نه
بیا کهرمول دیبا کهل هم
کُشُے ګُشُے ونغاړه
بیا یو ځائے بهٔ ته ناس کړے
شر شاهي شي دما سوکه
سره ګډ ئے کړه اے خویه
پرے عمل صبا بیګاه کړه
دوه درمه په خواستن خوره
هر زحمت لره بهتر دے
هم قوت د تن پیدا کړه

POHA
پوهه

## علاج مردِ بسته

کهٔ دِ سسته شي خندړه
په ښي لاس کښے ئے ونیسه
په خُلمي چه شرم زور شي
دا رچیني په خوله کښے ژویه
ستا ذکر دِ ستا نګاره
دا رچیني دِ باندِ مږي
دا دِ کا بوس و کناره

واخله بیخ د مرونډه
ورنزدے شه ییکسه
له حجابه ډکه خوره شه
په ذکر کړه وژکه تویه
په خپل لاس ونیسي یاره
ګُنډ ګرم شي ستا شزی
په هوس کاله یاره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ذکر ورکړه په خوله کښے / چه ئے ښښي عشق په زړهٔ کښے
چه حجاب شرم ورکیږی / هسے رنګه دِ څهٔ کیږی
چه ځلمے حجاب زده وی / په دا مرد شی کهٔ چازده وی
معشوقه بویه طنازه / چه دَ مرد سره شی سازه

## دارو دَ بواسیر

یو ځمځوټے دَ شجر دے / په خنسر یو کښے مضمر دے
په خنسر یو کښے روان ځی / جنس چا پیره دوه ترجان ځی
کهٔ هغه واخلی بیماره / لږ زور ورکړه اے یاره
پکښے واچوه سکروټه / کهٔ وړی وی که چه غټه
په سکروټو ځمځئ کیږده / ومقصد ته ئے ورپریږده
باندِ کښینه تر ساعته / مویشی کالته پسته
په ښو ورځو دا علاج کړه / له زحمته ابتهاج کړه

## دارو دَ نفس دَ خلط دَ هر خلط و اشتها و پیرول

## دَ رنګ دَ ښهٔ کیدل

هلیله څلور درمه / په حساب تهٔ بیش وکمه
پترج لس درمه ځویه / ناګ کیسر هم هومرهٔ بویه
دوه درمه زیره توره / شل درمه دَ هنیه ګوره
فلفل دراز انباله بیدهم / شل شل دا سیه سفید هم
شل درم دَ کلوی وی / شل شل دَ نورسماق پرتوی وی
دا همه شی اتهٔ خیزه / چه ئے وشماری عزیزه
دا همه سره میده کړه / بیا همه سره پخته کړه
دوه سوځل درمه ګړه / نهٔ چه بیش و یا کم ګړه
ځنے سازه کړه ګوله / په مقدار دَ بهلوله

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ په ناشته خوره
په آغاز ئے دشتا خوره
طبیعت به دِ صفا کا
خلط به لرے واړه ستا کا
که دِ رنګ په زحمت زردوی
یا دَ نور دَګیډے دردوی
دابه واړه ځنے دور شی
په صحت به دِ مخ سور شی
اشتها به دِ شی ډیره
خورنده به شی تر سیره

## دَ نفس خوږی دارو

ښهٔ داروی دا دَګیډے
که دِ درد شی دا دَګیډے
انګزه سپرکه چوکهار هم
نمک سنګ واخله اشخار هم
ښهٔ خربه هلیله ګوره
پوست ئے واخله دما زوره
دا پینځه توکه همدمه
سره واړه دوه درمه
اوبهٔ واخله خلور سیره
پرے دَ اور لنبه کړه تیره
سره واړه جوشیده کړه
نرم اور پسے سیده کړه
چه نیم سیر اوبهٔ شی پاتے
اوبهٔ نهٔ وی کم و زیاتے
بیا پرے ګډے کړه شکرے
په ناشته به ئے ونغرے

## ایضاً

اطریفل زنجبیل یاره
خلور توکه شی وشماره
سره واړه دوه درمه
برابر واخله همدمه
بیا اوبهٔ خلور آثاره
یکښے جوش کړه ځما یاره
چه نیم سیر شی اوبهٔ پاتے
په حساب نه کم و زیاتے
تهٔ ئے وُنوشه شیر ګرم
پر کوله شی ترم ترم
خوږ نفس ګوله ورکیږی
دا دارو دِ هومره کیږی

## دارو دیګر

دَ کهیل ولے اے ځویه
چه ښهٔ نفع لری بویه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ ئے کیږے لره بیائے | خس ئے مۀ نغره خوش رائے
چه دَ کیږے درد علت وی | په دا کار به ئے صحت وی
دَ نفس کا هلی په دا دروهی | بیمار زر صحت بیاموهی

## فائده

کهٔ سپیرکئے شکرے سے | سره آس کړه پیش و کهے
یو یو کف په هر صبا خورے | په درست کال همیشه دا خورے
هر زحمت په دا ورکیږی | پرے قوت دَ مرد زیاتیږی
دا ویل باور له ما کړه | بیائے تهٔ تجربه بیا کړه

## جلاب

هلیله نسوت دا دواړه | دَ نیلتی تخم وغواړه
سره واړه دوه درمه | سم میده کړه اے همدمه
له تودو اوبوئے نوش کړه | نور خوراک پرے فراموش کړه
چه فارغ شے یوڅو لاسه | بهت شوروا وُخوره پرے پاسه
چه خوږه شوروا دَ مرغهٔ وی | نهٔ دَ غوا نهٔ دَ نورڅهٔ وی

## دارو دَ جاونی دَ تبے

چوب ناز چریته دواړه | پا نسه سونډ کشنیز دا دواړه
سره سم دوه دوه درمه | چار سیرماء واخله همدمه
سره واړه جوشیده کړه | چه نیم سیرا وبهٔ بنے زده کړه
اوبهٔ گډے کړه په شهد | په خوراک ئے وکړه جهد
خو رغیږی دا دارو کړه | دَ شفا په لوری رو کړه
دَجاونی تبه به دور کا | بیماران به پرے سُرور کا

## دا دارو هم مسهل دی یعنی جلاب

هلیله کابلی مرده ! | واخله بیا هلیله زرده
وریسے هلیله توره | بیا دهنیا واخله اے روره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



تج کابۀ ویلنی دواړه — دَ نیلی تخم وُ غواړه
ګلِ لعل اے اکرمه — هرکدام پینځه درمه
مصبّر نسوت دا دواړه — هر یو هفت درم وغواړه
دا دارو واړه وشماره — لس څیزونه شی اے یاره
واړه کُشی کُشی آس کړه — دَ غلبیل ئے کوزو پاس کړه
بیا ئے ګډ په کبینه کړه — سره بنۀ ئے خمیر تۀ کړه
لکه زړے دَ کرکنړے — ګولئ وکړه ګردے پلنے
چه دَ شپے په وخت خَملے — په دهن به یوه وے
پرے اوبۀ ګوته شیر ګومے — چه ګولئ کا ترے ترے
یو څو شپے داهسے کار کړه — دَ ګولئ خوراک وار وار کړه
دا ګولئ به یو څو دسته — دا خلاط بلا کا پسته
کۀ زحمت دِ دَ سودا وی — پرے بهٔخی کۀ دَ صفرا وی
دا جلاب مفید جلاب دی — صفت شوی دَ هرباب دی
پرے خوراک وریژے ماستۀ خوره — نمک سنګ ورسره تۀ خوره
ورته کړی زیره سپینه — دَ مستو سره دِ وینه
کۀ اثر دَ اسهال کم وی — پرے نسوت دَ زیات درم وی

## دَ وجود دَ باد دارو

ګوره لوبیه مروندئ — نۀ تازه نوے لندئ
دَ دے پا نړے کړه نخوړے — اوبۀ بیلے کړه ترے جوړے
په مقدار پینځه درمه — اوبۀ بس دی اے همدمه
پرے اوۀ درمه بېئ — دَ غوا ګډ کړے په دوئ
درے درمه غوړ دَ غوا هم — ګډ دا خوره په هرصبا هم

خوږ باد دَ تن ورکیږی
دا دارو دِ دایم کیږی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دارو دَ باد لقوه

کهٔ دَچا پیدا لقوه شی
مخ ئے کوږ خوله ئے کږه شی
دَ بیمار ساتنه بویه
کرم ځائے تاریک اے ځویه
آغوستن دِ پوستین وی
خورد دِ نان وانګبین وی
درست جائفل دِ په غابښ نیسی
دَ خدائے فضل ته دِ کسی

## دارو دَ خفته باد

دَ بنګرِ ولے هم ښه ده
خفته باد لره فائده ده
کهٔ په سیوری ئے کړے وچه
په مقدار کښیے لکه پچه
له تودو اوبوٹے نغرے
هرصبا زحمت کا لرے

## فائده دَ سپیلنو

سپیلنی دارو دی جانه
نشته ښهٔ تر دا درمانه
کهٔ دَ سُوده ئے خبر شے
په خوراک به ئے تل سر شے
برص پسے دَچا ومهٔ شه
کهٔ ئے وشی دائے زده شی
یومثقال دِ ئے تل خورینه
چه زحمت ئے لرے شینه
کهٔ ئے تل سیزی پرا ورکښیے
تل به نهٔ وی په شرشورکښیے
چه دیوان وی یا پیران وی
همیشه به دے امان وی
په خوړلو هم په سولو
سودئے ډیر دے ترویلو

## دارو دَ بول بسته

دَ خِنی ګل درے درمه
دَ بادرنګ زړهٔ ئے اکرمه
دا څلور درمه تول کړه
همه واړه سره تول کړه
واړه ښهٔ سره میده کړه
اوبهٔ ګرمے ور سره کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې بنکته کړې تر کومې
پرې به بول بسته دړومې

## دارو دَ سنګ مثانې

سها ګه خوګړ کوړ زېړې
له تودو اوبو چه نغړې
که څلويښت ورځې خوک خوري
رنځ دَ سنګ مثانه وېړې
دې زحمت لره يوسنګ دې
لکه پچه تور په رنګ دې
چه ئې حجر اليهود بولي
دَ طلا په نرخ ئې تولي
چه بيمارئې سولوينه
په صبا صبا ئې خورينه
چه ئې سنګِ مثانه وي
توئ په دې دانه دانه وي

## دارو دَ پرميو دَ زحمت

اطريفل کوړکمن يارهٔ
چوب ناز مشکک دلدارهٔ
بيا کلوي، کتهٔ، پاپړهٔ هم
دَ منړې ولې ترخه هم
داهمه برابر بو يه
واړه بنهٔ سره ورسويه
کبينهٔ سره ئې ته خورهٔ
پرې لطيف لطيف خواړهٔ خورهٔ
تردا په به داروئهٔ وي
دَ پرميو کهٔ هرڅو بنهٔ وي
په څو قسم پرې دينه
رنځ دَ واړو په دا ځينه

## ايضًا

واړه توره بنګره لوی
آمله زرچوب هم په وی
داهمه سره ميده کړهٔ
له نباتو سره ئې سرهٔ کړهٔ
په دا هم دَ پرميو درد ځي
هم کَ بنځو هم دَ مرد ځي
دَ دارو يوکف نهارخورهٔ
پرې خوراک روستو په وارخورهٔ

## دارو

دا درې څيزه ډېر مفيد دی
دَ دانا دی دَ سعيد دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو جد وار خطائی دی　　چه داروئے عطائی دی
نر بسی ئے هندوان بولی　　دَ طلا په نرخ ئے تولی
بل تل تل کۀ دارچینی خوری　　نفع سُود به ترهٔنی خوری
مصطکی هم تنها شه ویه　　نفع ډیره لری خو بیه

## علاج دَ دردِ سر

کۀ تازه ماهی ښوک واخلی　　کۀ روهی وی لا بهتر
اندرون ئے درست خالی کا　　آلایش ئے کا بدر
دَ مروه په پانړو ئے ډک کا　　دَ دۀ گیډه درست جگر
بیا ئے گیډه سره کوک کا　　چه محکم شی لرو بر
دَ کُنجد په تیل ئے پوخ کا　　چه بۀ پوخ شی سراسر
بیا دِ پوخ ماهی راواخلی　　له روغنه گرم تر
په طباخ کښے دِ ئے کیږدی　　چه غوړی شی ترے بدر
بیا دِ صاف هغه غوړی کا　　په شیشه دِ ئے کا در
په صماخ کښے یو څو څاڅکی　　یا په پوزه کښے اندر
چه دَ درد څښتن دا وکا　　پرے ورکیږی درد سر
کۀ هغه ماهی ښوک وخوری　　سود دَ باد لری بیشتر

## فصل

## فائده دَ وینے دَ وُښکو

فصد سرې لره نافع دے　　دَ هزار علت نافع دے
کۀ سرسام کۀ برصام دے　　کۀ دَ شنجیو دا نوم نام دے
کۀ سکته ده کۀ سنبات دے　　کۀ دَ تبِ څۀ آفات دے
یمن والی کۀ جُثه وی　　کۀ دَ خولے بده مزه وی
بد بوئ دَ خولے یا وینے　　چه ئے پاس یا کوزے وینے
کۀ خُناق کۀ مفاجا وی　　له فاسدو وینو دا وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه وکاږي له قیفاله
وینې لا بهې وي اے لاله

هفت اندام وي که قیفال وي
فصد دِ هر کله هر کال وي

تر پنځوس چه عمر تیر شي
دَ فصد کار دِ نه لږ ډیر شي

په پسرلي په مني بنهٔ دے
فصد په بل آوان بنهٔ نهٔ دے

درد و کام آماس دَ کومي
په هر ځائے علت دَ سپومي

فصد جلاب دا دواړه خیزه
لازمي ګڼره عزیزه

بل غشیان ورسره هم دے
هره میاشت غشیان لازم دے

څوک چه کا دا دوه درکاره
تل به خلاص وي له آزاره

چه دَ هر زحمت دوا دے
فصد جلاب غشیان هم دا دے

په ډیر رنګه جلاب کیږي
هوښیاران به پرې پوهیږي

بنهٔ جلاب دَ هلیلې دي
دَ تروې هم ورپسې دي

عام و خاص لره چه بنه ده
بنه تازه جمال کوته ده

## فصل

## ذکر دَ عورت دَ حمل

بار چه واخلي عورتینه
دَ فرزند شي خزینه

نهٔ دِ مار په سترګو ګوري
نهٔ دِ لوړ په زور شوري

نهٔ دِ درون بیتې آخلي
نهٔ دِ زور کا نهٔ دِ زغلي

نهٔ دِ پاس په بام وخیژي
نهٔ دِ قهر غصه کیږي

نهٔ دِ دروي وحمام ته
نهٔ دِ زړهٔ کا تر یو طعام ته

چه ترخه یا باد انګیز وي
له هغو دِ ئے پرهیز وي

دارچیني دِ هم د برنه خوري
هر طعام دِ هم سیر نهٔ خوري

په جماع کښې دِ ځان زغوري
چه پرې نهٔ ورنهٔ شي نهٔ شوري

زړک وهل که حجامت دي
دا هم دے لره زحمت وي

کهٔ لطیفه غذا خورینه
خوږ خیز هم فائده لرینه

کهٔ فرزند ځنې جدا شي
هم دَ دے دِ دا دوا شي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



معجونات دِ گرم خورینه     له هوا دِ ځان ساتینه

زعفران دِ له عسل خوری     هم دِ ماءِ دَ سپین بصل خوری

په خپل وخت چه لنگه شینه     په اوبو کښې دِ کښېنینه

اوبهٔ ښې دَ بنفشه دی     مرزنجوش دَ پودینه دی

کهٔ ملغوزے کهٔ بادیان دی     دا همه راحت دَ ځان دی

چه اوبهٔ کا دَ دوئ گرمے     کښینې رنځ کا ترمے ترمے

موم روغن دِ په ځان مږی     چرک حلوان دِ ځان ته کوژی

واکهٔ وهیرنهٔ کا له فکره     ځان به بیا کا لکه بکره

دَ مور پلار په کار دِ ویاړی     مصلحت دِ ځنې غواړی

خوئ دِ واړه هغه کار کا     چه پرے حکم مور و پلار کا

کهٔ ئے ملک وی کهٔ ئے مال وی     مور و پلار دِ پائمال وی

چه فرض شوی په هرچا دی     حق دَ خویش دَ اقربا دی

حق دَ زن په شوهر باندِ     دے لازم په خبر باندِ

وریسے حق دَ مهمان دے     دَ مملوک دَ زیرستان دے

## فصل

### حق دَ خدائے په بنده باندِ

حق دَ خدائے په بنده دا دے     چه دا وائی خدائے یکتا دے

یکتائی په دهٔ بنائینه     یگانه دے تل به وینه

نهٔ شریک نهٔ ئے انباز شته     نهٔ ئے عجز نهٔ نیاز شته

دَ خدائے امر دِ منی نه     پر طاعت دِ کاندِ مینه

نواهی کهٔ معاصی وی     له همهٔ دِ خلاصی وی

کهٔ دا حق دَ خدائے په ځائے کا     خلد به ځائے دَ دهٔ خدائے کا

وربه نهٔ شی تر دوزخه     دَ دیوخوا به نشی یخ

حق دَ مور و پلار چه یاد دے     په قرآن کښې اسناد دے

په اولاد باندِ دا شان دے     چه ویلی په عیان دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر فرمان دِ دے منینه
نامشروع امر دِ نهٔ کا
چه ئے مور و پلار زاړه شی
مظلمه ئے په اولاد ده
په خپل ځان دِ دے خدمت کا
کهٔ خوراک وی کهٔ پوشاک وی
مګر امر نامشروع وی
نور دِ هر څهٔ قبلوینه
دَ مور پلار په کار دِ ویاړی
خوئ دِ واړه هغه کار کا
کهٔ ئے ملک وی کهٔ ئے مال وی
حق دَ مشر ورور بسیار دے
کهٔ حرمت کوی دَ مشر

چه ترخولے ئے څهٔ وُځینه
نور دِ جز و کل هر څهٔ کا
کهٔ غارمهٔ ئے کهٔ ساړه شی
دا خبره دَ استاد ده
ځان دَ دوئ دِ په رحمت کا
دَ دوئ کار دِ پر تپاک وی
په هغهٔ دِ ځان ممنوع وی
اطاعت دِ دے منینه
مصلحت دِ ځنے غواړی
چه پرے حکم مور و پلار کا
مور و پلار ته دِ پائمال وی
مشر ورور هم لکه پلار دے
ستا به هم حرمت کا کشر

## فصل
## حق دَ خویش و اقربا

چه فرض شوی په هر چا دی
چه صله رحم ځوک بناد کا
چه الفت له اقرباء کا
چه شلوون کا له خویشانو
چه مئین په اقرباء وی
دَ رسول دَ خولے وینا ده
چه دَ عرش ترسایه لاندِ
یو چه خوش ترے اقربا وی
دے خوروی په درویشانو
بله کُنډه فرزند داره

حق دَ خویش و اقربا دی
خدائے به دے په بنادئی بناد کا
دَ دهٔ ځلے به خدائے ماوا کا
هغه دے له دوزخیانو
ډیر به دے په دا دُنیا وی
شک پرے مکړه په ربنتیا ده
به هغه وی چه دا کاندِ
بل چه مال ئے دَ دُنیا وی
خیرخیرات کاندِ یاسرانو
دَ شوهره نه ویزاره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونړه څوئ خپل ساتینه — بل میړهٔ نهٔ یا دوینه
په قیامت به دا درے گروهه — خلاص فارغ وی له اندوهه

## فصل

## حق دَ یتیمانو

دَ یتیم په حق خبر شه — له ثوابه بهره ور شه
کهٔ یتیم خښتن دَ مال وی — مال په دهٔ بانډِ حلال وی
کهٔ ئے نور په ظلم زور خوری — څوئے خوری دَ دوزخ اور خوری
دَ یتیم نمنځنه فرض دهٔ — په درست کلی لکه قرض ده
چه ئے لاس په سر څکوینه — تفقد بانډِ کوینه
یا ثمر یا شکر ورکا — زړهٔ ئے خوش په ماحضر کا
دَ یتیم په خوش نودئ — خدائے به ورکا بهبودئ
له دُنیا به په ایمان ځی — وجنت ته به خندان ځی

## فصل

## حق دَ درویشانو

فرض دے حق دَ درویشانو — په همه توانگرانو
خدائے چه مال وچاته ورکا — په ناداروِ نظر کا
دَ درویش چه څهٔ حاجت وی — پرےدِ هومره سخاوت وی
کهٔ زکوٰة کهٔ صدقه وی — کهٔ خیرات کهٔ نفقه وی
دَ درویش چه څهٔ حاجت وی — پرےدِ هومره سخاوت وی
کهٔ زکوٰة کهٔ صدقه وی — کهٔ خیرات کهٔ نفقه وی
چه درویش وخهٔ رسیږی — دولتمند دِ هوسیږی
چه محتاج دَ درویش نهٔ شهٔ — بل درویش محتاج دَ دهٔ شهٔ
بل چه ورکړه په درویش کا — ځان داخل دَ خدائے په ویش کا
ورکړه کله حبطه وی — لس دلے هورے اوبهٔ وی
درویشان هدیه دَ خدائے دی — په سایه لکه همائے دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ همائے سایه نادره — ګوره چرته شی حاضره
ورکوه زاغ وزغن ته — هرمارغهٔ سایه فګن ته
ګوندِ وی چه ستا په لومه — همائے رائے شی له کومه
دَ درویش دَ زړهٔ ساتنه — غنیمت ګڼره لا لسنه
دَ درویش خاطر که شاد کا — درست حاصل دَ زړهٔ مراد کا
چه درویش له چا آزار شی — په دُنیا په دین به خوار شی
خوک چه یو درویش آزار کا — قتل عام ملک هزار کا

## فصل

## حق دَ همسایه ګانو

حق دَ چار دَ همسایه دی — پر مایه که بے مایه دی
په ښادئ دَ دهٔ ښادمن شه — په غمونوئے غمژن شه
چه هر کار لره دِ بولی — قدم بږده دَ دهٔ په غولی
په رنځورئے کړه پوښتنه — مهرمهٔ نیسه دَ دهٔ نه
حجاب وباسه له میانه — که وام پور غواړی له تا نه
ورکوه زړهٔ ئے خوشحال کړه — دستګیری ئے په خپل مال کړه
دَ شادی ئے تهنیت کړه — دَ ماتمئے تعزیت کړه
که خالی ئے درخانه کړه — دَ کالهٔ ئے خصمانه کړه
که سفر لره روان شی — دَ دهٔ یا تو فرزندان شی
خصمانه دَ دویو تل کړه — لوئے هلک واړه خوشدل کړه
عزم کش دَ همسایه شه — په ثواب بلند پایه شه
قبلوه دَ دهٔ رنځونه — په دهٔ مړ ده خپل غمونه
چه دَ تا دَ دهٔ ترمیان وی — که دیوال وی که دالان وی
لوښول دِ ئے هاله وی — هغه رخت چه دَ دهٔ زړهٔ وی

## فصل

## حق دَ مرد په عورت

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق دَ مرد په زن بسیار دے | لزم تا وَ نه په شمار دے
په خدمت دِ وی تیاره | لکه وینځه پرستاره
چه میرهٔ وربانډِ راشی | دا دِ خوښه په خندا شی
کهٔ ئے زړهٔ غمونه غاندی | هم ښهٔ ورته وُخاندی
دا دِ زر پاسی له ځایه | په خندا دِ شی له ورا یه
ځان دِ شوئ وته تیار کا | په بستر دِ ئے قرار کا
کهٔ موزے وی کهٔ پاڼزار وی | په خپل لاس دِ ئے داچار وی
په هر رنګ چه خوشی موی | دَ میړهٔ په رائے دِ دروی
په رومال دِ ئے مخ پاک کا | په دیر رنګ دِ پرے تپاک کا
خوچه زیرمه دَ طعام کا | په میوه دِ ئے خوږ کام کا
ناست ولاړ دِ هسے کاندِ | لکه حکم وی پرے باندِ
کهٔ پرے حکم هسے وینه | ورسره دِ طعام خورینه
کنړه کاروبار دِ کاندِ | یا دَ روستو یا دَ وړاندِ
کهٔ میړهٔ ئے خندا غواړی | دا دِ خاندی هم دِ دیاړی
کهٔ غزل وی کهٔ بیتونه | کهٔ سندرے کهٔ صوتونه
مسخرے دِ کا آغازے | موافقے دل نوازے
کهٔ میړهٔ ئے خشمناک وی | دا دِ هم ځنے په باک وی
کار دِ نهٔ کا دَ بے باکو | سیب حنظل وی په غمناکو
دا ویل دَ پیغمبرؐ دی | په مشکوٰة کښے معتبر دی
چه په ژبه میړهٔ خوږ کا | خدائے به کل شادی په زوږ کا
لویه ورځ چه دَ محشر وی | دَ دے ژبه به لوئے غر وی
ترقفا به وی وُکښلی | غوټه سخته پرے وهلی
ځان دِ جوړ ساتی شوهر ته | بچ دِ نهٔ پرېږدی خپل سر ته
کهٔ تنهائے خپل پدروی | هم دَ دے دِ ترے حذر وی
مجالس دِ له هغو کا | چه دَ نیکو ګفتګو کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ځوانه هرزه کاره
دا دِ نهٔ پرېږدی خپل ځان ته
چه مېږهٔ چرته ولاړه وی
دَ غمژن غوندِ دِ ؤسی
دَ مېږهٔ خونه دِ ژغوری
لوړ آواز نهٔ چه چیغار کا
پَل دِ نهٔ آخلی له کوره
دَ مېږهٔ بې اجازته
دَ مېږهٔ له ډکه کوره
هغه توره به ماران شی
هره چار دِ په رخصت کا
دَ مېږهٔ حکم دِ ژغوری
کهٔ خپل مال هومره لرینه
په خندا دِ واړه ورکا
کهٔ مېږهٔ ئے عیب ناک وی
مړدان هیڅ نهٔ دی کږلی
چه پرې نوم دَ مرد وی پورې
کهٔ دروغ کا کهٔ رښتیا کا
دا حدیث دَ محمدؐ دے
سجود خدائے وته کاوهٔ شی
کهٔ نور چا وته روا وے
چه عاصی وی له شوهره
کهٔ روژے کا کهٔ نمونځونه
دا به واړه نهٔ قبلیږی
کهٔ جنت غواړی نیک زن

لا به تیر بوړی مکار د
چه آفت وی ځان ایمان ته
آرائش دِ تر ولاړه وی
هر هوس دِ له زړهٔ یوسی
نامحرم ته دِ نهٔ گوری
په ادب دِ هره چار کا
نهٔ به ورځ نهٔ به شپه توره
نهٔ دَ پلار کره رخصته
کهٔ ضائع کا یوه توره
حواله به ئے په ځان شی
کنږه واړه خیانت کا
و فرمان و ته دِ گوری
چه په کار دَ مېږهٔ شینه
مال خهٔ ځان دِ هم ترے زار کا
هم دِ دے ته لکه پاک وی
تور سپین واړه دی ښاغلی
واړه ښهٔ دی کهٔ ئے گورے
دا دِ واړه آمنا کا
چه ئے نهٔ منی مرتد دے
بې له خدایه سجود نه
خپل مېږهٔ ته دَ نساوے
په اسلام کښې دهٔ کافره
خیر خیرات دُعا نفلونه
کهٔ هر څو ئے ډیر ډیر کیږی
پری روی سیمین تن

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رضا کښېږدَ شوهر دی — درته ایښی برابر دی
له ښځه ځایه ښځه عورته — خالی نهٔ وی له حکمته
دَدے چار هنر ورزی وی — هم دوبی وی هم درزی وی
هم لا وینځه وی همدمه — هم دَ خونے وی حاکمه
چه خوراک پخوی دا وی — باورچی وی هم سقاوی
کهٔ رښتیا وایم اے ناسه — لامیرهٔ ته وی کناسه
مصاحبه وی حبیبه — داروگره وی طبیبه
باور وکړه ښځهٔ عورت — په دُنیا کښے وی جنت

## فصل

## حق دَعورتے په خپل میړهٔ

دَ عورتے حق هم فرض دے — په مردانو لکه قرض دے
امانت دی دَ عورتے — دَ ښځهٔ خدائے دی امانتے
په مردانو دی سپارلی — په خدمت دی گمارلی
ښځے مردلره پیدا دی — دَ جنت پخے حلوا دی
په عزت ساتلے بویه — دَ دوئی چار ده ډیره لویه
انبیاءؑ کهٔ اولیاءؒ دی — له عورتو نه پیدا دی
بادشاهان ترے پیدا کیږی — ښځهٔ خوانان ترے پیدا کیږی
ښځے محبوبے لکه گل وی — ښځهٔ خوانان بانډِ بلبل وی
کهٔ ئے زهٔ صفت ثناء کړم — مگر بل دفتر انشاء کړم
دوئی به خهٔ وتاته ستایم — له حقونو به ئے وایم
نفقه کهٔ اغوستن وی — دواړه توکه دِ دَ زن وی
لکه ښځهٔ دَ خپل ځان غواړے — په ښیګړه به ئے ویاړے
په خوراک په پوشاک واړه — کل اختیار ورکړه ویاړه
کهٔ مشنی کړ دے کهٔ چاروی — زیست روزگار دِ ئے په دا روی
کهٔ مئین په یوهٔ نهٔ وی — نهٔ چه غم پرے بانډِ تهٔ وی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یائې بنځه ساته تربنې نه — یا طلاق ورکړه دَدې نه
چه کابین ئې ځځه رسیږی — خیانت ئې نهٔ رغیږی
خو دَ تا په نکاح وینه — باندِ تل کړه دَ زړهٔ مینه
تحمل ئې په جفا کړه — خشم کین له زړهٔ رها کړه
چه دَ بنځو سره کین کا — مردی نهٔ ده بد آئین کا
لکه زور دَ بنځې کم وی — دَدې عقل هم درهم وی
چه نهٔ عقل نهٔ ئې زور وی — دَ هغو سره چه شور وی
کهٔ عصمت عفّت لرینه — توره هم کنړه تهٔ سپینه
په دشنام ئې صبوری کړه — مهٔ زړهٔ بد مهٔ ترې دوری کړه
کهٔ ئې وینې ډیر عیبونه — ورته مهٔ کړه پیغورونه
په وهل کهٔ ورته خیر شی — په پرهر به ئې دلګیر شی
په اندام ئې پرهار مهٔ کړه — دا په پوست کښې مالیدهٔ کړه
تل پرې کار اندرونی کړه — نهٔ پرې چار بیرونی کړه
چه دَ خونی کاروبار کړه — کاروبار دِ په مقدار کړه
چه ئې توان ونهٔ رسیږی — هسې کار دِ پرې نهٔ کیږی
مسئلې دِ زده کوینه — په نمانځهٔ دِ کاندِ مینه
ورته دین ښائیلې بویه — چه دین زده کړه چار ده لویه
نفقه چه ورکوینه — پرې دِ تل حلاله خورینه
کهٔ لقمه ورکړی حرامه — پرې نیولې تهٔ ئې عامه
کهٔ ئې ملک وی یائې مال وی — تصرّف باندِ وبال وی
مګر حکم وتا درکا — یادَ تا په لاس چه زر کا
خو به بنځې پسې دروی — مرد به هومره ثواب مومی

## فصل

### حق دَ بنده ګانو په خپل څښتن

دَ بنده په څښتن باندِ — حق هم ډیر دې کړئې کاندِ

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که خوراک وي که پوشاک وي　　دا دواړه په ښځه ژواک وي
چه نه ډلای نه بربنډ وي　　کار خدمت وته به غونډ وي
هسې کار دِ باندِ کیږي　　چه ئې توان ورته رسیږي
بیهوده که بد ویئیل کا　　نه دِ دهٔ وته کنځل کا
که بد خوئ که بد نهاد وي　　بیا دِ دي په مهر شاد وي
هر خواجه چه عبد لرینه　　دے دِ تل شکر کوینه
چه خواجه دے بنده نهٔ دے　　نور عالم بنده دَ دهٔ دے
په مریونو چه ستم کا　　هغه کس به خدائے په غم کا

## فصل

## حق دَ شاګرد په اُستاد باندِ

په اُستاد د شاګرد حق دے　　چه اخستے ئې سبق دے
په معنیٰ لکه فرزند دے　　چه دَ دهٔ په حکم بند دے
شفقت چه په پسر کا　　په شاګرد دِ لا بهتر کا
تل دِ ښه چه ورکوینه　　چه آغوندی یا ئې خورینه
شریعت دِ ور ښئینه　　عبادت دِ ور ښئینه

## فصل

## حق دَ پیر اُستاد په مرید په شاګرد باندِ

حق دَ پیر دَ اُستاد دواړه　　دَ خپل پلار ترحق زیات غواړه
شیخ په قوم کښې کالنّبی دے　　بِه ترآ به نسبی دے
چه حرمت دَ پیر نهٔ کاندِ　　خود به خوار شی روستو وړاندِ
چه ویښته په دین کښې سپین کا　　هغه پیر دے که یقین کا
لکه حق دَ پیر اُستاد دے　　دَ اُستاد هسې لا زیات دے
که په رائے دَ هغې دروې　　دین دُنیا به واړه موی
چه دِ خلاص کاندِ له جهله　　ته ئې دا کار مهٔ ګڼړه سهله
جهل لرے کا له تا نه　　دانائي درکا اے جانه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حدیث په حکم یاره — هر سړی لره درے پلاره
اول پلار چه دَ میلاد دے — دویم سخر دریم اُستاد دے
دریم پلار دِ لا عزیز دے — چه درکړے ئے تمیز دے
چه ئے پوه په شریعت کړے — دَ دے پلار به ډیر منت کړے
کهٔ په حق دَ اُستاد کورئے — په دُنیا په دین مختور ئے

## فصل

## حق دَ فرزند په پلار

دولس حقه دَ فرزند دی — په خپل پلار باندِ څرگند دی
اول ښځه پاکیزه مرکه — چه مایه ئے نهٔ شی ورکه
بل چه ډکه شی عورته — ځان دِ نیسی له صحبته
چه فرزند ئے پاک پیدا شی — نهٔ کړے باک پیدا شی
بل چه نوم باندِ کیږدینه — نوم دِ ښهٔ ورباندِ ږدینه
بل حلاله لقمه بویه — تر هر څهٔ ده دا چار لویه
بل ختنه دِ ئے زر کاندِ — لازمی ده دا پرے باندِ
بل قرآن چه وُلولینه — مسائل دِ زده کوینه
بل حلال کسب دِ زده کا — چه خپل قوت لره هغه کا
بل دِ غشے زده کوینه — چه پرے ښهٔ وپوهیږینه
بل دَ آس سواری لازم ده — آب بازی ورسره هم ده
نور دِ زده کا ادبونه — ناست ولاړ په مجلسونه
خط دِ هم زده کا اے جانه — چه ژوندون کا بے آرامه
نور حصه له ماله ورکړه — په دولت ئے بهره ورکړه
بل له ښځهٔ پاکیزه کوره — ورته ښه ناوے وکوره
دا حقونه ئے په ځائے کړه — ورته نور پناهی خدائے کړه
پرے خوښیږه کهٔ صالح وی — خدائے ئے ښهٔ کړه کهٔ طالع دی
له فرزنده حیا غواړه — کهٔ حیا لری پرے ویاړه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ په ستر ګو کښې نو وی  تل به دے سخن شنووی

## فصل

## ثواب دَ قرآن چه فرزند ئے لولی

هر فرزند چه قرآن خوان وی  دَ مور پلار دِ هم دَ خان وی
په هر حرف به ګونا ګونے  نیکئ بیا مومے زرګونے
په هر حرف ئے له دفتره  څی بدئ ئے لس لس زره
چه لس زره وړی سیر کا  بربنډ پټ تردا نه ډیر کا
په فرزند چه څهٔ خرخیږی  چه قرآن دَ دهٔ زده کیږی
په دُنیا به مومی څومره  لکه غر دَ اُحد هومره
مزد ثواب به هومره مومی  لکه څ لږه څوک درومی
یا جهاد کا یا غزا کا  لس لس زره ئے بیا بیا کا
مزد ثواب دَ قرآن ډیر دے  تر حساب تر شماره تیر دے
په قیامت به څی دَ وړاندِ  چه په خلد ئے داخل کاندِ
چه کودک په دبستان شی  دے اول تسمیّه خوان شی
مور و پلار دی دا درے تنه  مسئله ده مبرهنه
هغه درنګ آمرزیده شی  له اُستاده کهٔ دِ زده شی
چه افضل دَ عبادت دے  شک و منهٔ کړه تلاوت دے
اِستاده چه قران لولی  په نمانځهٔ کښې قرآن لولی
سل نیکی به ئے وکښینه  په هر حرف چه ئے لولینه
شل نیکی به دَ هغهٔ وی  په قرآن چه غوږ دَ دهٔ وی
کهٔ ئے لوستل په ناستے وینه  په نمانځهٔ کښې ئے لولینه
دَ هغهٔ به پنجاه بس وی  دَ نغتونی به ئے لس وی
بے نمانځهٔ چه تلاوت کا  په هر حرف چه روایت کا
لس نیکی به دَ دهٔ وینه  دَ سامع به یوه شینه
چه درست ختم سهے وُکا  دَ هغهٔ بخره به څهٔ کا

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنت کښې يوه وُنه
سايه داره لويه پلنه

خوچه دا واړه دُنيا ده
ترې ځانګه لويه لا ده

دَ هغې وَنې تر سرېره
دې به کښيني خُما روره

رنګا رنګ ميوې خوندونه
ځوځو رنګه نعمتونه

هرطعام چه ئې رضا وی
زر به دهٔ ته مهيّا وی

رنګا رنګ به وی فرشونه
لون لون پوششونه

نور فراخ ارت قصرونه
ښکلی ښکلی محلونه

رنګا رنګ ښکلی اَسونه
مرصّع واړه زينونه

خادمان ښائسته حورې
په خدمت به وی حضورې

دَ قرآن له رويه خدايه
مکړه ماڼې هسې ځايه

مور و پلار خپلخانه واړه
دَ جنت په خوشئ وياړه

## څوارلسم باب

## ذکرخوارج دَباغی ذمی دَخراج وغيره

دانايان به په دا پوه وی
خوارج هغه ګروه وی

چه خروج په امام وُکا
دَ امام اطاعت نهٔ کا

اهل بغی هم هغه دی
کهٔ باغی دی هم هغه دی

چه سر واخلی له امامه
دهٔ ښادی په دوئ حرامه

مُسلمان بللی بويه
کلمه لولی حق ګويه

کهٔ بادشاه عادل دانا وی
جنګ له دوئ سره روا وی

چه په جنګ کښې ورته شا کا
کهٔ پسې دروی خطا کا

کهٔ ئې مومی پرهار ژلی
په تپاک بويه ساتلی

آس وسله دِ ئې ساتينه
کاروبار دِ پرې کوينه

چه آشتی وکا جنګ پريږدی
مال دِ واړه ورته کيږدی

چه باغی سره جنګ کانِدِ
کهٔ مری صدرحمت ورباندِ

کهٔ بې شماره مقتولان وی
هغه واړه شهيدان وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فصل

## ذکر دَ جزیه دَ غنیمت

په جهود جزیه روا ده
په هندو ده په ترسا ده

چه په ملک دَ اسلام اوسی
له هغو دِ جزیه یوسی

په درویش دولس درمه
چه ئې واخلی نور بې غمه

په میانه بست و چهار وی
څلویښت په دنیادار وی

په زنانو کودکانو
په پیرانو بندګانو

جزیه هیڅ نهٔ ده واجبه
څُنې مهٔ غواړه نائبه

غنیمت له دار الحربه
مواشی دِ نهٔ کړی چربه

رخت لباس کهٔ بندګان دی
زر وسیم کهٔ اَس اوښان دی

چه په دار اسلام راشی
ویش دِ کړه په دا اشیاء شی

پنځک بخره دَ امام ده
نور دَ درست لښکر تمام ده

کهٔ په دا کښې څهٔ نقصان کا
زیان دَ دین و دَ ایمان کا

دَ سوارهٔ دوه بخره بویه
دَ پَیکه یوه ده څویه

## فصل دَ خراج

کهٔ آفت په مزکه کښېوزی
له هرچا نه خراج پریوزی

ملک چه فتح شی په تُوره
پرې خراج دے څُما پوره

په هر ګز دَ کښت دَ مزکے
یو درم قفیز بے کړکے

ګزے لوے ارش نه پس دے
هر ارش ئے شصت درشصت دے

په سبعه وزن درم دے
نهٔ څهٔ زیات وی نهٔ څهٔ کم دے

هر درم هفتاد دیناره
دا حساب لره وُ شماره

قفیز څهٔ دے قفیز صاع دے
صاع اتهٔ رطل او ضاع دے

چه انګور په مزکه کیږی
لس درمه پرې رغیږی

په سبزه پینځه درمه
نور پرې مهٔ کړه زیات و کمه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه زعفران په ملک کرینه | خراج هومره څوز غمینه
میوه داره مزکه یاره | په حساب ئې هسې شماره

## فصل
## حکم دَ مرتد

خدائے دِ هیڅوک مرتد نهٔ کا | کهٔ مرتد شی ترو دِ څنهٔ کا
ورته زر عرضه ایمان کړه | په ایمان ئې په امان کړه
کهٔ بدبخت ایمان رانهٔ وړی | تیغ ورواچوه چه وُمری
دَ دهٔ مال ساتلے بویه | دَ وارث ورکړے بویه
مرګ دَ ښځے روا نهٔ دے | بند زندان ورلوه ښځهٔ دے
چه داخله په اسلام شی | نور دِ خلاص په اکرام شی

## فصل
## ذکر دَ مورث دَ فلاکت دے

چه مورث دَ فلاکت دے | هغه دا په روایت دے
چه ئې کا هغه به خوار شی | په دُنیا کښے به نیستګار شی
څوک چه مخ په لمن پاک کا | بیا لاسونه ګنده ژواک کا
په ولاړه چه ښځهٔ نهٔ وی | پوشیدن دَ پرتاګهٔ وی
چه دَ غنړے پریږدی ځاله | څوک په کور کښے ځما لاله
چه پاره جامه اندر وی | څوک اخستی شړئ زر وی
چه په ناستے څوک تړینه | دستار دا هم بدوا ئینه
چه په شپه بربنډ سملی | نوک په هر سکین اخلی
چه دَ ورهٔ په درشایهٔ | کښینی بد کا وُوا یه
چه په کور کښے کا مُتیازے | یا تل خوری خوارهٔ یوازے
چه بربنډ لامبی بدکار کا | دَ بیغور دی ځان به خوار کا
چه مور پلار په نامهٔ بولی | برکت ئې ځئ له غولی
چه ادب دَ اُستاد نهٔ کا | بے دولت دے کله ښځهٔ کا

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په نام بولی عورته — خپل میرهٔ وی بے دولته
مور دِ هم په نام نهٔ بولی — ځکه غم وریٔ په غولی
چه په مات لوښی کښے خورینه — فلاکت نیسی وسځینه
په طعام باندِ چه پښے ږدی — چه لږ ډیر ښادی به پریږدی
په انګنړ کښے چه پریږ دینه — خس رخا ښاک غم به ورځینه
څوک چه پرے کا په غاښونو — نوک دا کار کا دَ غمونو
چه په مات ږمنځ سر ږیره — ږمنځوی بد کا په ږیره
په شرکت چه ږمنځ کویه — فلاکت به پرے وسشینه
په ولاړ چه ږمنځ کوینه — دا هم بده ویلږینه
چه په شپه جارو جارباسی — په کور خیر ترے وباسی
چه دَ نغن پر تکی خورینه — منځ پریږدی نیستی ورځینه
په څرګند چه څوک دخول کا — غم اندوه به پرے نزول کا
دخول هسے رنګه بویه — چه پرے شک نهٔ شی څوک څویه
چه دخول کښے څوک ویل کا — واړه بد کا شرمول کا
چه زنا کا آخر خوار شی — ځوانی مرګ نا برخوردار شی
چه خوراک کوی په ملا ستے — دَ دولت په کم وکاستے
چه خواړهٔ خوری په ولاړے — دَ دولت له ملکه ولاړے
کلهٔ په کټ باندِ خواړهٔ خوری — زده کړه دا خواړهٔ ښهٔ نهٔ خوری
چه په پښو کښے دِ پا ئزار وی — خواړهٔ دا هم بد کار وی
دَ جُنب سره چه خورینه — فلاکت به پرے ورځینه
پوست دَ هوږے پیازمهٔ خیژه — دَ نیستئ په لار مهٔ خوځیږه
په جامه جارو کوٴنه — دَ ځانے ښه نهٔ ده لا لنه
چه خلال په هر هر چوب کا — ګنده کار دے ګنده توب کا

دَ چار رپا یو په ګوارے
ګویدهٔ مهٔ کړه په لارے

POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فصل

## ذکر دَ ایام منحوسه

هره میاشت کی دوه ایامه — نحس اے نیکو فرجامه
پکښې کار که زیات وکم وی — کړه ئې نۀ بویه چه غم وی
څلورم دَ محرّم دی — وریسے ئې بیا پینځم دی
دَ صفر غرّه ده یاره — وریسے شلم وُشماره
دَ ړومبئ خورخوارلسم دے — وریسے پوره شلم دے
دَ دویمے خور غـرّه ده — اتلسم هم نۀ ښه ده
دَ دریمے خور لسم دے — وریسے ئې یولسم دے
څلورمه خور وایمه — څلورمه بیا لسمه
په رجب کښې ده دویمه — وریسے بیا دیارلسمه
دَ شعبان ده څلورمه — وریسے ده بیا شلمه
په روژے کښې ورځ دریمه — وریسے ده بیا شلمه
دَ شوال شپږم اتم دے — ذی قعده دویم انم دے
ذوالحجه شپږم اے یاره — وریسے شلم وُشماره
بیا په هره میاشت نابه ده — چه روستئ چهارشنبه ده
داحساب دِ بیا دستا شی — چرے نۀ وی چه خطا شی

POHA
پوهه

# فصل

## ذکر دَ رجال الغیب

داهم زده که که تورزن ئې — په پرکاش په ښکارمیئن ئې
دَجهان که خوک آګاه دی — یا سبانان رجال الله دی
په اَتهٔ ګُنجو نه ګرځي — یا سبانی کا څُکه غورزی
مخامخ که خوک پرے دروي — فیروزی به بیا نۀ مومی
چه دَ دیو په کین څنګ وی — یا ترشا نور دِ آهنګ وی
استمداد دِ څنې غواړی — دَ نصرت په کار دِ ویاړی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنجغ باشم گوره — کنجغ بشم اے روره
کنجغ باشم زده کړه — کنجغ اشم شماره کړه
دوئ به وی په دامکان کښے — فکربشۀ بویه په ځان کښے

# فصل
## فالنامۀ مصحف

لون لون دی فالونه — طورطور دی قالونه
درمال دَ منجم دی — دَجفری دَ نور هم دی
هرسړے چه مُسلمان دے — دَهر کار پیشوا قرآن دے
چه هرکار په مومن راشی — په قرآن دِ التجاء شی
په قرآن دِ ئے نظر شی — کا دِ هسے چه فال ورشی
اول هسے رنګه بویه — کۀ فال اچوے اے خُویه
اول شرطئے طهارت دے — په وضو کښے برکت دے
فاتحه یو ځل وُلوله — اخلاص ولوله درے ځله
دا آیت بیا له پسه — تۀ ئے ولوله اے کَسه

وَمَنۡ یَتَوَکَّلۡ عَلَی اللّٰهِ فَهُوَحَسۡبُهٗ اِنَّ اللّٰهَ
بَالِغُ اَمۡرِهٖ قَدۡجَعَلَ اللّٰهُ لِکُلِّ شَیۡءٍ قَدۡرًا ؕ

دا آیت ورپسے بیا دے — ورئے لوله چه زیبا دے

فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَقُلۡ حَسۡبِیَ اللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ
عَلَیۡهِ تَوَکَّلۡتُ وَهُوَ رَبُّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِیۡمِ ؕ

ورپسے بیا دا دُعا دِه — درے ځلے یې لوست روا ده

اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ تَوَکَّلۡتُ عَلَیۡكَ وَتَفَاءَلۡتُ بِکِتَابِكَ
فَاَرِنِیۡ هُوَالۡمَکۡتُوۡبُ فِیۡ سِرِّكَ الۡمَکۡنُوۡنِ فِیۡ غَیۡبِكَ

مصحف بیرته کړه وګوره — حرف دَ سطر روښ ه!
بیا اُوۀ ورق شمار کړه — په اُومه سطره کار کړه
چه ئے حرف په سر کښے ورشی — په نیک بد دِ بیا نظر شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کهٔ اَلِف ورشی په فال کښې
په غلیم به دِلاس بر شی
بَ په فال هر کوره بنه ده
هرمراد به دِ حاصل شی
تَ په فال کښې ده کرِ لے
په هر کار چه عزم ستا دے
ثَ په فال کښې برکت ده
بنهٔ دولت ده بنهٔ نعمت ده
جَ په فال کښې جهد بویه
په کوشش به مقصود مومے
حَ په فال کښې بنه ده ویره
هم به ستا غلیم نابود شی
خَ په فال کښې کامرانی ده
تصدّق خیرات ئے روره
دَال په فال کښې حُما لا له
تل به تهٔ مومے بے دیبه
ذَال په فال خواری ستا لیره
کهٔ دِ کار و بار پریشان وی
رَ په فال حاجت روا ده
تهٔ به زر صاحب دَجاه شے
زَ په فال نهٔ ده زیان منه
کهٔ په زړهٔ دِ څهٔ مقصود شته
سَ په فال کښې سعادت دے
بدخصلت له ځانه دور کا
شَ په فال کښې شقاوت دے

ستا خوبي ده په هر حال کښې
کامرانی شادی به درشی
دَ غلیم چه اندیښنه ده
بخت دولت به دِ حاصل شی
توبه کار شه کهٔ عاقل ئے
تېرے په شا شه چه خطا دے
مبارک په هر نیت ده
سعادت ده عنایت ده
چه مراد بیا مومی څو بیه
کنړه تش خالی به درومے
تر حساب تر شماره تیره
میسّر په هر مقصود شی
ولے لږ پکښې ګرانی ده
بلا آروی له کوره
بهتری ده کال تر کاله
خورمی شی له غیبه
په حاسد خواری شوه ویاړه
سرانجام به په هر شان وی
ویاړه هره شادی ستا ده
یا به خان یا به بادشاه شے
سودئے هم نشته لا لنه
نهٔ ئے زیان شته نهٔ ئے سود شته
دَ خوشئ هم بشارت دے
همیشه خوشی سرور کا
مکړه کار چه دِ په نیت دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په زړهٔ دِ شور و شر دے    دَ غلیم سره خطر دے
ضَ په فال کښې صبوری کړه    له تلوارے نه دوری کړه
کهٔ تهٔ کار په صبر غواړے    صبر ښهٔ دے و به ویاړے
ضَ په فال ضامنی مهٔ کړه    نور چه ستا رضا هغه کړه
په هر کار چه عزم وکړے    کړه اندوه مکړه چه ښهٔ کړے
طَ په فال طهارت وکړه    دَ هر زړهٔ زیارت وکړه
په توبه کښې چه ستا مرګ وی    تردا په به نورخهٔ برګ وی
ظَ په فال مراد حاصل ده    دَ غلیم دعوٰی باطل ده
وَ هر کار وَته چه مخ کړے    سخ دے ستا چه بل به سخ کړے
عَ په فال ښهٔ علامت دے    له غلیمه سلامت دے
نهٔ اندوه نهٔ به دِ غم وی    په غلیم به دِ ماتم وی
غَ په فال کښې غمګین مشه    په خوشئ کښې زړهٔ روښن شه
صدقه خیرات چه ورکړے    په غلیم به بیا ظفر کړے
فَ په فال کښې حکم دا دے    چه هر کار پکښې روا دے
یو سفر پکښې نهٔ بویه    اندیښنه ده پکښې لویه
قَ په فال کښې دَ چا کار دے    کړه ئے نورخهٔ انتظار دے
تهٔ به مرد دِ معتبر شے    سخاوت کړه چه لا سر شے
کَ په فال کښې سود من نهٔ دے    کاف فیروز په دښمن نهٔ دے
کهٔ خهٔ پیرے کهٔ خهٔ پلورے    سود دِ نشته زیان به ګورے
لَ په فال دے ډیر ښا غلے    په خوبئ دِ دے راغلے
چه خصلت دِ فرخنده وی    خاندہ ستا دښمن بنده وی
مَ په فال نهٔ دے ښا غلے    پوره نهٔ دے راغلے
کهٔ غلیم لرے دَ وړاندِ    مکړه قصد په غلیم باندِ
نَ په فال خوبی لرینه    غم اندوه له دِله وړینه
په مانځهٔ کهٔ دِل مائل کړے    لا به کام دولت حاصل کړے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



واؤ په فال دولت وصال دے — درست کمال اندر کمال دے
حاجتمند به دَ چا نهٔ شے — کۀ هرڅو معمّر تهٔ شے
ۀ په فال چه دَ چا ښه اشی — نور به غم دَ دهٔ له چا شی
په دُنیا به وی بے غمه — خوش به ورشی تر ارمه
لا په فال کښے کۀ پوهیږے — نفئے حرف دے کۀ پوهیږے
واکشت بویه له غرضه — چه پائیږی بے مرضه
یَ په فال غم دَ اعدا شه — تل خندا کړه عشرت ستا شه
کۀ خپل یار له تا جدا وی — نشته غم چه وصال بیا وی

## پینځلسم باب

## ذکر دَ تسابیح دَ حاجت دَ نماز

کۀ ئے واورے تسابیح دی — په خبر سره صحیح دی
بل تسبیح تر دا به نشته — تسبیحات چه هرڅه شته
هم تسبیح شی هم تحمید شی — هم تهلیل تکبیر تمجید شی
څوک چه دا تسبیح ادا کا — آمرزش په دم پیدا کا
کۀ ئے ډیروی گناهونه — واړه ځی په غاړه غرونه
دا تسبیح کۀ څوک په خله — هره ورځ لولی سل ځله
دَ دهٔ تن به چه هنگام شی — دَ دوزخ پرے اور حرام شی

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ

بل تسبیح دے تل ئے وایه — آمرزش غواړه له خدایه

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهٖ

بل تسبیح هرگوره ښهٔ دے — چه لائق دِ دَ هغهٔ دے

سُبْحَانَ اللّٰهِ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ رَبِّ الْمَلٰئِكَةِ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالرُّوْحِ سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ رَبُّ الْمَلٰئِكَةِ وَالرُّوْحِ ط

بل تسبیح دے حُما جا نه — نازل شوے له رحمانه

سُبْحَانَ الدَّائِمِ الْقَائِمِ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْقَائِمِ
الدَّائِمِ سُبْحَانَ الْحَيِّ الْقَيُّوْمِ سُبْحَانَ الْحَيِّ
الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ وَلَا يَنَامُ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ

بل تسبیح هر کوره بنۀ دے — چې ئې لولے دَهغۀ دے

سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط سُبْحَانَ اللّٰهِ الشَّدِيْدِ
الْاَرْكَانِ ط سُبْحَانَ مَنْ يَّذْهَبُ بِاللَّيْلِ وَ يَأْتِيْ
بِالنَّهَارِ ط سُبْحَانَ الْمَنَّانِ ط سُبْحَانَ فِيْ كُلِّ مَكَانٍ ط
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ط لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
الْكَبِيْرُ الْمُتَعَالُ ط

بل تسبیح دے مُسلمانه — تۀ ئې لوله تسبیح جانه

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ط لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
الصَّادِقُ الْعَدْلُ الْيَقِيْنُ ط لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ
سُبْحَانَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ـ التَّحْمِيْدُ اَلْحَمْدُ
لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ حَمْدَ الشَّاكِرِيْنَ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا
مُبَارَكًا اَبَدًا ط دَائِمًا بِجَمِيْعِ الْمَحَامِدِ كُلِّهَا عَلٰى جَمِيْعِ
نَعْمَائِهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ قَبْلَ كُلِّ حَالٍ ط وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ
حَالٍ وَبَعْدَ كُلِّ حَالٍ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ
وَّاَتُوْبُ اِلَيْهِ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ط

داصلوة دَ تسابیح دے — په کتاب کښلے صحیح دے
په څلور رکعته کیږی — فاتحه سورت رغیږی
هر سورت چې وی ادا کړه — اِستاده بیا ادا دا کړه

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ط

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تسبیح پینځلس ځله — په قیام کښې ته ولوله
بیا رکوع لره روان شه — په رکوع کښې تسبیح خوان شه
پس لس ځله ئے ولوله — په قیام وکړه بیا ځله
بیا به لس ځله ولولې — و سجود ته چه به چلې

# فصل
## دَ حاجت دَ نمانځه

کۀ مهم دَ سړي پریوزي — یا په غم په اندوه کښېوزي
دا نماز دَ حاجت بنۀ دے — هر حاجت لره لیمه دے
لکه نمونځ دَ تسبیحات دے — دا هم هسې رنګ صلوٰة دے
قل هو الله کۀ وُوائې — دَ تسبیح په ځائے هم بنائی
په سلام چه نمونځ ادا کا — دا دِ زده کا چه بیا دا کا
مخ دِ کښېږدی په ښی لوری — په سجود لکه نسکوری
قل هو الله پا نزده ځله — دِ وُلولی له او له
بیا دِ مخ کا په کیڼ لوری — دَ اخلاص په لوست دِ شوری
دا هم څو پینځلس یاره — نور دِ غواړی حاجت یاره
هر حاجت کۀ مسئلت کا — خدائے به درست هغه حاجت کا

# فصل
## دَ نمونځ دَ شب برات

دَ برات په شپه لازم دے — سل رکعته نمونځ دا هم دے
په هر هر رکعت اے یاره — فاتحه اخلاص لس واره
همګی پنځوس سلامه — دَ نمانځه شی چار تمامه
قل هو الله چه ئے شمار شی — همګی واړه هزار شی
چه دا نمونځ سړے ګذارینه — دیرے حد ثواب لرینه

## نمونځ دَ شبقدر

دَ شبقدر په شب زده کړه — دوه رکعته نمونځ په شپه کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتر وګذاره بیا دا کړه ــــ کهٔ توانیږے هرشب دا کړه
هر رکعت فاتحه خوان شه ــــ اُوهٔ ځله اخلاص دان شه
بیا سلام دَ نمانځهٔ وکړه ــــ استغفا ردِ شروع تهٔ کړه

أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِىْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّوْمُ
غَفَّارَ الذُّنُوْبِ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ

استغفار اُوهٔ کرته ــــ چه آخر کړے پرے همته
تهٔ به وُ باخشهٔ شے یاره ــــ تنها نهٔ له مور و پلاره
ډیر ثواب دَ دے نمانځهٔ دے ــــ څوک ئےکبشم چه هومره نهٔ دے

## فصل

## دَ نمونځ دَ اختر په شپه

دَ اختر په شپه اے جانه ــــ پس له ماه رمضانه
نفل نمونځ څلور رکعته ــــ دی په تا له روایته
قل هوالله پنځوس ځله ــــ په رکعت رکعت ولوله

## فصل

## دَ لوئے اختر په شپه

چه دَ لوئے اخترشپه راشی ــــ بویه دا چه نمونځ دِ داشی
نمونځ ئے دے څلور رکعته ــــ پڑا لحمد له سورته
بیا آیته الکرسی جانه ــــ اخلاص درے ځله اے ځوانه

... ... ...

چه مهم لری ګ وړاندِ ــــ په هفته دِ دا ورد کاندِ
دَ اتمام هفت نماز دے ــــ دَحاجت دپاره ساز دے
هم ثواب لری بے حده ــــ کهٔ ئے تل ګذاری لابنهٔ ده

## نمونځ دَجمعے په ورځ

په جمعے څلور رکعته ــــ نمونځ دے اے صاحب حاجته

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه لا نمونځ دِ کړے نهٔ وی
دَ نمانځه پخوا لا بنهٔ وی
هر رکعت فاتحه لوله
قل هو الله پنځوس خله

## نمونځ دَ شنبے په ورځ

دَ شنبے په ورځ چه سازشی
څابښت څلور رکعته نماز شی
هر رکعت فاتحه لوله
قل هو الله پنځوس خله

## نمونځ دَ یکشنبے په ورځ

یکشنبه دولس رکعته
نمونځ دے اے صاحب حاجته
هر رکعت فاتحه لوله
قل هو الله پنځوس ځله

## نمونځ دَ دوشنبے په ورځ

دوشنبے په ورځ بیا بویه
شل رکعته نمونځ اے ځویه
فاتحه په رکعت جا نه
بیا آیة الکرسی څوا نه
بیا اخلاص بویه لس ځله
په دا رنګ دا نمونځ ولوله

## نمونځ د سه شنبے په ورځ

سه شنبه لس رکعته
نمونځ دے اے صاحب حاجته
هر رکعت فاتحه بویه
بیا آیة الکرسی ځویه
بیا چه ورځ دَ سه شنبے وی
دَ زوال په وخت دا به وی
نمونځ کړه اتهٔ رکعته
هر رکعت له دوا نیته
په اول کښے فاتحه ده
بیا اُوهٔ ځله سوره ده
په روستی چار کښے درے ځله
اِذَا زُلْزِلَتْ دُلوله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نمونځ دَ چارشنبې په ورځ

چارشنبه دیرش رکعته — په شپه نمونځ کړه په خونیته
یوځل سبع مثانی ده — یوځل آیة الکرسی ده
یوځل آمن الرّسول دے — قل هو الله بیا قبول دے
بیا په ورځ څلور رکعته — نمونځ دے اے صاحب حاجته
نماز پیشین چه وګذاری — بیا به دا همت وکمارے
فاتحه ده له او له — قل هو الله بیا شل ځله

## نمونځ دَ پنجشنبې په ورځ

پنجشنبه څلور رکعته — نمونځ دے اے صاحب حاجته
فاتحه ده له او له — قل هو الله پینځه ځله
بیا نوډ ۹۹ ونه نام یاد کړه — بیاحاجت غواړه زړه بناد کړه

## ۹۹ نوډ ونه نومونه دَ باری تعالیٰ

نود ونه نام دَ باری دینه — مندرج په کتابونه
غور چون پکښے نه نوی دی — چه په قول دَ نبیؑ دی
هر مومن چه ئے لولینه — ترجنته به ورشینه

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الْمَلِكُ الْحَقُّ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ
یَا اَللّٰهُ یَا رَحْمٰنُ یَا رَحِیْمُ یَا مَالِكُ یَا قُدُّوْسُ
یَا سَلَامُ یَا مُؤْمِنُ یَا مُهَیْمِنُ یَا عَزِیْزُ یَا جَبَّارُ
یَا مُتَکَبِّرُ یَا خَالِقُ یَا بَارِئُ یَا مُصَوِّرُ یَا غَفَّارُ
یَا قَهَّارُ یَا وَهَّابُ یَا رَزَّاقُ یَا فَتَّاحُ یَا عَلِیْمُ
یَا قَابِضُ یَا بَاسِطُ یَا حَافِظُ یَا رَافِعُ یَا مُعِزُّ
یَا مُذِلُّ یَا سَمِیْعُ یَا بَصِیْرُ یَا حَکِیْمُ یَا عَدْلُ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَا لَطِيفُ يَا خَبِيرُ يَا حَلِيمُ يَا عَظِيمُ يَا غَفُورُ
يَا شَكُورُ يَا عَلِيُّ يَا كَبِيرُ يَا حَفِيظُ يَا مُقِيتُ
يَا حَسِيبُ يَا جَلِيلُ يَا كَرِيمُ يَا رَقِيبُ يَا مُجِيبُ
يَا وَاسِعُ يَا حَكِيمُ يَا وَدُودُ يَا مَجِيدُ يَا بَاعِثُ
يَا شَهِيدُ يَا حَقُّ يَا وَكِيلُ يَا قَوِيُّ يَا مَتِينُ
يَا وَلِيُّ يَا حَمِيدُ يَا مُحْصِي يَا مُبْدِءُ يَا مُعِيدُ
يَا مُحْيِي يَا مُمِيتُ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ يَا وَاجِدُ
يَا مَاجِدُ يَا وَاحِدُ يَا اَحَدُ يَا صَمَدُ يَا قَادِرُ
يَا مُقْتَدِرُ يَا مُقَدِّمُ يَا مُؤَخِّرُ يَا اَوَّلُ يَا اٰخِرُ
يَا ظَاهِرُ يَا بَاطِنُ يَا وَالِيُ يَا مُتَعَالِيُ يَا بَرُّ
يَا تَوَّابُ يَا مُنْعِمُ يَا مُنْتَقِمُ يَا عَفُوُّ يَا رَؤُفُ
يَا مَالِكَ الْمُلْكِ يَا ذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ
يَا رَبُّ يَا مُقْسِطُ يَا جَامِعُ يَا غَنِيُّ يَا مُغْنِي
يَا مُعْطِيُ يَا مَانِعُ يَا نُورُ يَا هَادِيُ يَا بَدِيعُ يَا
بَاقِيُ يَا وَارِثُ يَا رَشِيدُ يَا صَبُورُ يَا صَادِقُ
يَا سَتَّارُ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ط

POHA
پوهه

# خاتمه

## شکرانه د کتاب خوبیته

شکر دا چه په آخر شهٔ — دا کتاب م تمام زر شهٔ
په سوړه کښې التیام شهٔ — د اختر په ورځ تمام شهٔ
چه تمام م په خامه کړه — ملائ نوم فضل نامه کړه
ترجمه ئې هم یو نوم دے — که ئې بولے خوک موسوم دے
خو م توان خو م مجال وو — دا م حال دا م مقال وو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارمدار په استعداد دے
یوشاگرد دویم استاد دے

دست بالائے دست یادیږی
په خپل کارهرڅوک بنادیږی

ماته خپلے شروے بنے دی
کهٔ خوږے دی کهٔ تروے دی

وردِ نیشی دوه لاسه
نهٔ ترخط نهٔ تر قرطاسه

یوچه خام بیهوده خط کښی
بل کهٔ بنهٔ کښی چه غلط کښی

دکاغذ مخ تورے وینه
خط چه خام بیهوده کښینه

خدائے واخله کهٔ بنهٔ خط کښی
کهٔ ئے ځائے په ځائے غلط کښی

دخبرو پیوند کړونے
دجگر وینے خورے وینے

چه هرحرف سره پیوند کا
دجگر په وینو شخوند کا

په مثال لکه جولا دے
چه په خپل قماش آگاه دے

په شماره ئے دی تارونه
زیات وکم ئے دی عارونه

کهٔ یوتارئے زیات وکم شی
په وودنے ئے ساز غم شی

څوک دیبا اوکم خواب وو بی
څوک شرېږئ اوخمتا وو بې

په وودل کړه سرپه څرېکی
یکښے کا دَ زرو لیکی

تنستے بږدی دَ ململو
کشیدے کا په بخملو

چه مِ حکم باندِ رائے کړه
ما دا هومره کارنمائے کړه

کهٔ تردا څوک بنهٔ ووائی
مرګئے مهٔ وه تل دِ پائی

والسّلام خبره تم شوه
کهٔ په بیش وه کهٔ په کم شوه

په ورځ دَ دوشنبې ۲۵/ ماهِ رمضان المبارک غفط سنهٔ ۲۰۸۹ھ
- ختمه شوه -

* کاتب : غلام لطیف "چپرهارے" ۲۹/۱/۱۹۹۹ء *

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اُوم ټوک

POHA

پوهه

باز نامه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

خدایه ته په زړه کښې اچوې دا مینه
چه ښې کینم پېژندلی دی دا مینه
په طفلۍ م د چمنو د چتو ښکار کړه
په غرخځ پسې به تلم په سم په غرونه
ورپسې م له مرغونو سریکار شو
هم م کړه د دُنیا خوړنګه کاروونه
په دا سن چه تر شپیته م زیاتي دوه دي
اورنګ زیب له هندوباره دی راغلی
دا څلور پینځه کالونه د فتور دی
مغل واړه په ارمان د انتقام دی
د مغل تکیه په زر په ملک په مال ده
بې وطنه بې اولسه تنها کښې
په دا تور کښې که دوه نور دي دریم زه یم
نور هم په مخکښې شته که کم و زیات ته
کتابونه د هر فن راسره نور شته
په هر زړه کښې چه میشته وي هغه مینه
زه څه لوئے هلک م سل څوئ او نمسي دي
څوک ښکارونه کا په غشي تیر انداز دي
څوک په غره په صحرا کرځي ښکار د سوکا
څوک په ښکار د تازي سپي هوس لرینه
خدائے دِ واړه لري تل په ډیر دولت کښې
پلار نیکه م هم د ښکار هوس وو کړې
که د تورې که د ښکار دا دوه هنره
نور م کار په زرداري نه په ساتل دے

چه په ښکار دِ مبتلا کړم ته م وینې
تا څما په زړه کښې ځائے کړله قرینه
ځلمیتوب م له هوسیو سریکار کړه
په ټوپکو م ویشتلي دي زرګونه
ځان او هوش م همګي د باز د ښکار شو
هم م هیڅکله ناغه نه وو ښکارونه
پښتانه مغل په خو سره اخته دي
د اټک حسن ابدال ئے دي نیولي
چه مغل د پښتانه په تیغ چورچور دي
د خوشحال د سر په فکر صبح وشام دي
د خوشحال خټک تکیه په ذوالجلال ده
غره په غره لکه غرڅه په غرونو تښتي
خلاص په هسې وخت د ښکار له کاره نه یم
د بازونو مینې راوستم تر سوا ته
خوځما له بازنامې سره سرور شته
کفتګوئے همګي له هغې شینه
همګي د ښکار د مینې هوسي دي
څوک څما غوندې عاشق په ښکار د باز دي
په ټوپک سره د غره د غرڅنو کا
هر یو خوښ په هغه ښکار وي چه ئے مینه
تل دِ ژوي په عشرت په فراغت کښې
دا هنر دے په میراث مونږ ه رادړې
را ته پاتې له آبا دي له پدره
کاروبار م په بخښل او په خوړل دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ سخا ده او کۀ توره کۀ خامه ده
په دا درے توکه خما تللی نامه ده

د اولاد و ته م پاتے شوه دا واړه
کۀ مردان وی ترے به نۀ غوړوی غاړه

په فارسی م بازنامه د هنر کښلی
په پښتو م ورته وکښۀ نظم کښلی

په نهۀ سوه او نولس بیته تم شوه
خاتمه د دے بنۀ نظم پرستم شوه

کۀ بښینه کۀ علاج کۀ غزلونه
همګی لری اوۀ څلویښت فصلونه

زر پینځه اتیا کالونه د هجرت دی
د رجب ورځے آخر شوے نهایت دی

په لړم کښے م شروع بازنامه کړه
په شپږ ورځے م تمامه په خامه کړه

چه خما ژبه ګویا په شاعری شوه
تۀ به وائے چه ګویا په ساحری شوه

طبیعت م په مثال د باتور باز دے
کۀ نے ګورے د هرشی و ښکار ته ساز دے

## لوړمبے فصل په بیان د پیژندګلئ د باز کښے

باز کۀ لوئے وی هم تیز پروے بها دی
د نور چا غرض پرے نشته د بادشاه دی

په بازونو کښے کته باز نیسه غوره !
رنګ ترکیب د ته نے مۀ ګوره بسره

کته نے سرا و دګے نے پلنے سترګے کراغے !
کته ورمیږ لنډه لکئ پرے نیسه کاغے

اوږد مار سر غاړه اوږده اوږده لکئ
باز هم دا دے سینه ور غونډے پنډ ئ

سترګے سرے د باز نښان د شجاعت دے
که ربا سترګے دلیل د بنۀ خصلت دے

کۀ د باز د پوزے سر کبود نمائے وی
په لکئ کبود دلیل نے د بنۀ رائے وی

خو د باز پنډئ لنډئ دی پر قوت وی
خو د باز مښوکه لویه بے همت وی

د اوږدو ترمینځ د باز پرونه ښکاریږی
لکه سیب بهی هغه بهتر شماریږی

چه د باز سترګه وتلی وی خۀ ږده
دا نښان نے د شوخئ دے کړه ترے ږده

باز چه ډیر خریطه دم وی د خندا وی
لږ لم خوری د لوئے ښکار د نیوو دا دی

زوړ ند لم لنډه نے غاړه سپینے سترګے
لینګور نری بتر ګنړه تر چرګے

کۀ تیز پروی دلاور وی چار دانګی
بد دی نۀ ترے صدقه نامرد لانګی

زیرے پښے د یار هم نۀ دی خوش نمایه
د یراوږ دۀ شاه پرکۀ بنائی کۀ نۀ بنایه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم فصل په بیان د رنګ د باز کښے

د بازونو رنګ ته مه ګوره ستر ګے / که تیغون دی مګر نشته سپینے چرګے
تیغون باز ځکه په قدر په قیمت دی / چه کمیاب شو نه چه ښه په شجاعت دی
تر تیغون نه قیر خیشن بها دران دی / په میر شکار باندِ دا دواړه لکه ځان دی
بال د قیر د تقدری غوندِ نمود وی / خو شین سُور په سینه پاس په رنګ کبوُ دی
بیا په دا پسے سُور باز چه سیاه فام وی / تور منقاد تور ه ئے ژبه تورے کام وی
زیړ سُور فام لونے کنجکی دیبا پر / په هُنر په خوئی بهتر وی تر چهر
سیه پشت که څۀ سختی لری په څانه / که ئے ساز کړی نورے وګوره مرانه
تر دا ښو رنګه ښۀ نۀ دی نور رنګونه / که پوهیږے خو منه مکړه جنګونه
تور زړی که په ساړۀ کښے مستحکم وی / په هُنر په خوئی خصلت تر نورو کم وی
زیړ بازونه که شوده که ګل بادام دی / په ساړۀ کښے تر تور باز پورے بدنام دی

## دریم فصل په بیان د اشیان د باز

چا اشیان چرے د باز نۀ دی لیدلے / دا شیان ئے خو یو نوم دے اوریدلے
دا سپین غر چه لقا فقاسه راروان دے / لګیدلے په خطا په هندوستان دے
په میزان کښے راخوارۀ شی له شماله / د ظلمات په نواحی کښے لری جاله
دا سپین غر تر حساب ډیر لری ښاخونه / په ښاخونو کښے را ئیشی بازونه
د هر غرۀ چه وُنے ډیرے هوا ښۀ وی / هغه غرونه ئے مکان په ورځ په شپه وی
ابتدا په سپینو غرونو باندِ راشی / خوش له وا وُرو وریدلو په هوا شی
چه په غرونو کښے ساړۀ د ژمی ډیر شی / تاریه تار سره خوارۀ په ګرم سیر شی
په میزان کښے په عقرب کښے ډیر نیول شی / په لیندۀ کښے خال خال تیز پر نیول شی
باز هغه چه ښۀ هوښیار دام دار نیولے / بل هغه چه ناپکار دام دار نیولے
د هوښیار دام دار باز نۀ وی پیر کیدلے / د نادان وی پیر کیدلے ترهیدلے
چه هوښیار دام دار ئے ونیسی په تله / په سپینو کښے ئے پرانزه اے دله

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دام دار ځغنه په تور کښې و تور یږی — څو ژوندی وی هغه خوځی نه ځیږیږی
د نا دان دام دار نیولی باز په صبر — په ورو رو پرانزه مکړه بیړه جبر
په بنډ ځائے کښېنے ساته تما غه ورکړه — په کیدل خوارئ واړه ترے بدر کړه
په خوراک د بنو طمع چه بنډ دوناب شی — بیا دِ هله د کشادو د طناب شی
د عقرب نیولی لا سا تلی بو یه — د لیندے نیولی تهډ دی وُ ئے سو یه
ډیر باز وند په خطا دی یا په دوم دی — په شیروان په ترکستان کښې هم هجوم دی
څکه سپین تیغون راځی له ترکستا نه — ډیرئے نیسی تول په ګراشی له آشیا نه
نهٔ چه ګښې په با زونو کښې باز سپین شته — سپین چرغونه سپین شنقار او هم شاهین شته
مالیدلی دی په ستر ګو شکرے سپینے — خو باښے سپینے تیغون په رنګ منهینے
ابلق باز ا بلق جره م دی لیدلی — چه دما په غرهٔ دما دام دار نیولی
په کارغانو په تمڅرو کښې تیغون شته — په چمنو او په سپیر کنډو کښې دا ګون شته

## څلورم فصل په بیان د ترنیاک باز کښې

چوز باز ونه په عزت قیمت لاشک دی — هنرمند د ښکار په کار کښې داشتولک دی
داشتولک بوزم تولک نه وی بے خال — لالیدلی ئے مرغئ نهٔ وی په خال
داشتولک لره هو بنیا رسرې با ئډه دے — چه ئے واکه کار د هر هوسناک نهٔ دے
داشتولک شنقا رکهٔ چوز واړه سرُّ زرد یٔ — دلاور دی هنرور دی هم نیک پر دی
داشتولک چه په توږی کښې وُ ویریږی — نور ئے لرے کړه په بچه نهٔ پیریږی
چرغ خو چوز وی په کارنه دی ترنیاک — مګر چارے مارے ونیسی بد تر واک
داشترلک شاهین د چا په حساب شمار دی — چوز دا مئے په هزار حیله ښکار دی
کهٔ شاهین دی خو پسندلی اشیانی دی — که ئے موے لا بهتر شاه جهانی دی
ترنیاکه با بنه بنه په غم لوره — چه بتهیری درته نیسی نور په خو ده
کهٔ لګړکهٔ ترمیته کهٔ بیسره ده — د دے واړو په چوزئ کښې چاره بنه ده
اشیانی شکره بهتره تردامی ده — ترنیاکه چه ساتلے شی خامی ده
اشیانی لګړ خومهٔ بیره په توره — ترمیته اشیانی کهٔ ګوری ده کسوره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په هند کښې اشیانی خیزی کوکجال وی
په تیرا دَ ترمیته جالے هرکال وی

کهٔ شکره ده کهٔ بیسره ده کهٔ دوتئے
دیر وئیل ئے په مانهٔ شی خبر نهٔ ئے

په خپل ځائے واړه پکار دِ هرسناک دی
په دیدن په تماشائے ترپناک دی

## پینځم فصل په بیان دَ بندونو دَ باز کښې

بند دَ باز دَ باښے نهٔ بویه چه سرهٔ وی
سرهٔ بندونه باز باښے لره ښهٔ نهٔ وی

غوښخوارهٔ مرغونه نور وربانِدِ راشی
سرهٔ بندونه با زباښے لره بلاشی

سپین او تور په رنګ بندونه دَ باز ښهٔ دی
موافق دَ بازه ښو سره سازښهٔ دی

چغاول دِ هرګز نهٔ وی په خُنکل کښې
تیار مرګ دے دَ تمځری په نیول کښې

ځاړیو چوزو لره ښه ده جغاولئ
یا بتهیری یا چه نیسی ړرے هیلئ

جرس هله چه یاغروی یاځُنکل وی
اوکهٔ نهٔ خو بیهوده زیاتی خلل وی

بے تو پئ دِ بابنه نهٔ وی میرشکاره
مګر هله چه کریز وخوری خو واره

دَ شاهین دَ چرغ خوخود تو پئ په ځاؤی
دَ شنقار او دَ بارئ هم په داشان وی

له اوله تو پئ بازلره ضرور ده
چه ئے لرے شوه له سره نوره دورده

په همه واړه مرغانو صاحب دے
بازپه دا چه بے تو پئ هم مصاحب دے

## شپږم فصل په بیان دَ پیژندلو دَ پیخال دَ باز کښې

چه دَ باز پیخال کته وی لرے دروهی
په اوبو کښې لامبی رغړی فرحت موهی

ځان چه وُخنډی آواز ئے ځی دَ پرونو
یکپائی کا پرروغن کا تر نوکونو

هم ښهٔ خوری ښهٔ هُنر موهی په سینه پرونې
آسائش کا فراغت په لو بو کښیوزی

په پیخال کښې آلوده نهٔ کهٔ خپل پرونه
نهٔ ئے ناست وی پکښې نهٔ وی دَ باد غوندنه

په جحوره کښې آواز دَ قرقر نهٔ کا
سرونغاړی په پرونو ځان اودهٔ کا

دائے واړه علامت دَ خیریت دے
کهٔ ئے دا نهٔ وی نشان ئے دَ زحمت دے

## اُوم فصل په بیان دَ نوی باز کښې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوے باز چه په جال کیباسے دام دا ړه ‏ باندې هیڅ مکړه ناره دخدائے دپاره
خپل ورېوز په ځادر ونغاړه رو ورشه ‏ بندے ونغاړه په جال کښیے پرے خبرشه
بندے واچوه په پښو کښیے سترګے دواړه ‏ بندے وکړه په مزی وے نغاړه
یوځو ځاځکی اوبه داچوه وباز ته ‏ هیڅوک مه پریږده سرے ولوړآواز ته
بیائے کښینوه په لاس آواز پرے مکړه ‏ اوبه غوښے په بنه طور وربشکاره کړه
کوزئے کښینوه په مزکه چه ځان ساز کا ‏ زړه په ځائے له ډیرے ویرے هغه باز کا
که ئے وخوری که ئے نه خوری په خپل طور ‏ په رضا سره ئے پریږده مکړه جوړ
نوی باز لره یا نرکه یا کوتره ‏ یا دچرګ یا د تراج غوښه ده غوره
هم دا هسے رنګ دخوری غوښه ډیره خه ‏ ترهغه چه په خربنت کاسینه سخته
پرمهره دخوری تلغه دخوری له دله ‏ کچ نا نبات سره ګډ وی هم کله کله
وازده بیله خنے توکه تورے غوښے ‏ درکوه باز ته نه وللی ئے کینه کښیے

## اتم فصل په بیان د اموخته کولو د باز کښیے

په خورنګه نوی باز باز دار پرانزی ‏ باز پرانتی د توپئ بنه دے ترمزی
د توپئ په سوراخونو باز واکیږی ‏ په سوراخو به ئے وا کاچه پوهیږی
اول فعل خوئ خصلت د باز معلوم کړه ‏ بیا په هسے دستکشئ هنر مخدوم کړه
خنے درسته شپه پهره غواړی ډیر سخت وی ‏ خنے دوه پهره بس په خوئ نیک بخت وی
خوتلوار وربانده مه کړه خوئ ئے ګوره ‏ په خپل خلئ کښیے قرار ناست وسه مه شوړ
په شپه شپه ئے طماغه اخله له سره ‏ که د ولید چه لاړه د ده ویره
هرسحر ئے مړوه په چرګ ئے بوله ‏ چه بنه رام شی نور ئے خلاص کړه له آشوله
نورتکلیف د تماغی وربانده مه کړه ‏ چه درځنے عالم ګوری ځان ګوبنه کړه
بلکه ننه ئے آرام کړه په خپل کور کښیے ‏ ګاه بیګاه ئے ګډوه په شراو شور کښیے
غوبنه ځان ځخه ساته که بے آرام شی ‏ خه بنو ورکړه چه ئے لرے فکر خام شی
په دا شان ئے بنه له خلقو سره ګډ کړه ‏ سرې خه چه سیی او دس سره ګډ کړه
طعمه هومره ورکوه چه درنه نه وی ‏ نوی باز لره داهومره خوراک بنه دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې تړ دننه ډک پاسه خالی وی — درسته شپه د باز آرام او خوشحالی وی

باز که نۀ وی که ښکاری خو سپک سیر بنډ وی — لا خو نوی باز چه سپک موړ شی ډیر بنډ وی

په تناب ئې د ویښتو په حلقه ساز کړه — په شپه شپه ئې بنډ آشنا د تبل باز کړه

هنگامو لره ئې تل صبا بیگا وړه — نوړ ئې ښکار ورته بیگاه نجه پگاه وړه

نوے باز چه په غرمه په چاشت الوزی — په بازدار به ئې آخر کا نړی پرېوزی

اول لاس په هسے ښکار موړ کړے بویه — چه د بل مرغۀ یونۀ وی یا په سویه

چه یکه یکه خلویښت لاسونه خیر شی — بیا دِ هله ښکار په نوی مرغۀ ډیر شی

نوے باز چه ډیر لاسونه مړوینه — د باز و چه شی دننه د زړۀ وینه

چه حواس کښے ئې خلل ضرر پیدا شی — د گریز تروختۀ نۀ رسی فنا شی

نوے باز دِ په بیگا بیگا الوزی — په هیلیو دِ په وخت په گاه الوزی

د پرواز ویره ئې نۀ وی دا دوه وخته — عصر فجر دواړه یاد لره نیک بخته

د صافی مالگه وچوز لره خواری ده — بس د چوزخو پر مهره طمعه داری ده

په خالی نبات که صاف شی باک ئې کوم دے — د صافی سود ئې بے مالگے خو معلوم دے

یو ئې لری له درونه خلط اخلاط شی — بل ئې رنگ تروتازه وی په نشاط شی

د صافی سره هاله مالگه لازم شی — چه لوئې ښکار وته دِ زړۀ وی یا سالم شی

که په ښکار کښے لره بره که اظهار ه — مست دوناب وی هاله مالگه بویه یاره

د صافی دِ اوۀ چینی نبات وی — نه چه وزن د نمک د چینی زیات وی

که دِ وزن د نمک چرے زیات کم کړه — په خپل لاس دِ باز د مرگ یاد الم کړه

په صافی کښے ئې ډیر کار دے تلوار مه کړه — لکه حکم د استاد دے هم هغه کړه

## نهم فصل په بیان د اموختهکولو د باز په ښکار د مرغابئ

که تۀ غواړے چه دِ باز مرغابئ گیر شی — بیره مه کړه چه دا کار به په تدبیر شی

په دنگ د نک چه بنے بنے ووهی باولئ — اول ور کړه پیش پرانه مرغابئ

بیا پلی ورته نژدے شه پله گوره — چه ئې نسی هسے رنگ ئې هیل ژغوره

په پله ئې پیاده موړ کړه یو خو لاسه — بیا ئې هله مړوه د اس د پاسه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



قواعد د میرشکاری هنر دا دے
هر هنر د قواعد سره زیبا دے

گنی ما په باز جره ډیرے هیلئ
خو نیولی په خپل لاس دی بے باولئ

چه یو ځلے په ښکار کښے وزی ښهٔ بازونه
په خپل زړهٔ کښے خود د ښکار لری رازونه

مرغابئ او باز که پریوزی په اوبو کښے
په اوبو کښے نے هم دے لری په پښو کښے

هسے شان په قرارئ راشه ورباندِ
چه ور تګ ځنے دِ باز ویره نهٔ کاندِ

که نے پرېښووه مرغابئ دا به ښهٔ خوئ که
د اوبو له مرغابئ نه به کوږ روئ که

که نے پرے نښووه لاسونه کړه ترے لاندِ
مرغابئ او باز غوته کړه لاندِ باندِ

چه په ویره ځنے وکاږی نو کارے
چه منکر شی له دے فعله کړه پرچارے

چه په وجه مرغابئ نیول عادت کا
نور د باز په دود د نوی ښکار جرأت کا

لږے لږے نے پریږده چه سینه کښے شی
په ډیر تبل مرغابئ نیسی ستا خوښ شی

خود په خود به د مرغئ په رس عادت شی
څهٔ حاجت چه په دا کار به مشقت شی

## لسم فصل په بیان د ښکار کولو د نورو مرغانو په باز باندِ

د باز ښکار خو مرغابئ ده که نے کورے
بیا سونا بنا نسته غاړه سترګے تورے

زرکے هم په الوتلو تقصیر نهٔ کا
باز چه ځان ورپسے جوړ که چغار ښهٔ کا

تورتارو چه شه قندیل شی هم بد نهٔ دے
چه نے واخلی باز نشاط وکا ډیر ښهٔ دے

نداره که د تمځری هر څو ښه ده
یا جره دی یا تمځری یا بابنه ده

د تمځری کور دِ وران شی باز په ځان کا
په هر بوټی نے وهی پرونے وران کا

چه بټیری نیسی ښے نیسی سیسئ
تیز پری د باز په دا ده نور کیسئ

ښهٔ میرشکار به په تمځری تلوار نهٔ که
ځان چه ساز که بیا به ساز پسے مرغه که

که د باز معراج د ګځارے میرشکاره
امّا بند د پښے نے وباسی له کاره

جوړه باز وته آسمان ګنړه ترځاړی
ښهٔ بازونه چوز هیلئ غوندِ رانغاړی

د سرخاب نیولے جره لره هنر دے
تر هیلئ لا و باز وته بهتر دے

قاز قلنګ چه څوک په باز نیسی ستم کا
ښهٔ شیرین بازونه په الم کا

یکساله طاؤس هم ښهٔ د ښکنګ نے نهٔ وی
چه آزار د باز د پرونو د جنګ نهٔ وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کۀ په باز دے خوَد سرۓ نیول بویه ترپناک لره بدی نۀ لری سویه
ترپناک څخه چل ول وی دَ نیولو چوز دلاوره پرے حمله کړه دَ وهلو
ترپناک بوزم تولک ترچوز بهتر دی بد خودا چه بنۀ کریز نه خوری شوخ پردی

## یوولسم فصل په تشویق دَ بازونو دَ ښکار کښے دَ غزل په طرز

دَ بازونو ښکار کچا دے دَ زر دار هم زردار هم بے پروا قلندر وار
کۀ ئے غم دَ هوس کا دَ زیان ئے نۀ کا کۀ ئے مری په قوشخانه کښے خودیار
دَ هغۀ سړی څۀ کار وی په بازونو چه بنده وی دَ درم او دَ دینار
دَ ښکار کار په مصلحت په سیالئی نۀ دے دا یو عشق دے چه ئے ورکه کړه کار
چه بادر باذل باسل عالی فطرت دی دَ هغۀ په زړه کښے حب پریوزی دَ ښکار
قمار باز به له قماره صبر وُکا مست به هم شی له شرابو توبه ګار

زۀ خوشحال به دَ بازونو ښکار پرے نږدم
خو ژوندے یم دا م کار دا م روزګار

## دولسم فصل په بیان دَ تعریف دَ جُره کښے

جُره څۀ دے، باز نر دے کۀ پوهیږے په تعلیم کښے تر باز زر دے کۀ پوهیږے
تر پیښځه کریزه باز الوا تۀ ښۀ کا چه جره سه کریزه شی پرش نۀ کا
په کریز کښے قابوچي شی کوته پر دے تر کریز لاهور ته تلۀ دَ دۀ هنر دے
لوۓ کته جره دَ باز پر دود کریز که په پرش دوردوی لکه باز تیز که
سینه ورلنډه لکئ جره پکار دی کته سرۓ کړاغے سترګے دَ لوۓ ښکار دی
غاړه ور کته کته مښوکه وړے سترګے هم هغه جره وهی دَ غروبو چرګے
یا دیرکته وباز ته ځوړ جره هغه دے یا ښۀ جوړ هر ګوره وړجره هغه دے
لکه رنګ ترکیب دَ باز هغه جره دے لکه باز پهن دراز جره هغه دے
کۀ دَ باز مینه په ښۀ جره ماتیږی عراقی چرے ترکی سره سمیږی
لکه باز پرونه ساز کا خوش روی که جره کله هغه هسے دور دوی که

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دَ باز علاج دارو هسے دَ ده کړه
طبیعت نے ډیر نازک دے لاڼے بنهٔ کړه

چرگنه وی چه نے ډیر په ښکار کښے خوب کړے
حلاوت نے دے په داچ ښکار پرے لیونی کړے

مرغابئ درے څلور زرکے دا هومره
په تارو تمغری خهٔ وایم چه خومره

## دیارلسم فصل په بیان دَ ښکار دَ بابنے کښے

بابنه هم دَ باز دَ کوره یو مرغے دے
پرورش ئے کهٔ ښوک وکا عجب شے دے

بابنه ښهٔ ده په لیدل سره محبوبه
کهٔ ئے وګورے مطبوعه ده مرغوبه

لکه گل په نزاکت هسے نازکه
په هُنر په لطافت هسے نازکه

په رنگونو لکه باز هومره رنگونه
په نیولو په وهلو شوخ و شنکه

ترهیلئ و ترسرخابه دَ دے ښکار دے
په دا هومره جوسه درمره دَ ښکار دے

بازجُره بابنه یوشان اموخته کیږی
وَ بابنے ته باولئ شے اندوخته کیږی

اشیانی بابنه تحفه ده که موندہ شی
دامی لا تراشیانئ پرش ئے ښهٔ شی

که دِ زړهٔ وی چه بابنه شی کلان ګیره
چرے نهٔ شی خام کشا ده بے تدبیره

بازجُره بابنه کهٔ ښکار که خام کشاد
په حساب دِ هوښیار ښهٔ دے لکه باد

کهٔ ئے ښهٔ خو وینه زیاته دَ وجود شی
یائے کمه دست کشی کړے نورنابود شی

له اوله زیره مهٔ ښیه بابنے ته
زاغ دراج زرکے ئے اچوه و بښے ته

چه یو ښولا سونه سیره په لوئے ښکار شی
هوسناک دِ بیا هیلیو ته تیار شی

چه یو دوه چرگے پرے ونیسے په مینه
نور پرے نیسه مرغابئ لوئے کمینه

بیا له پسه چه ګیره شی په لوئے صید
دریزه نهٔ ئے هم مهٔ لره په قید

کلان ګیره ریزه ګیره بابنه ښه ده
چه ناموس که په هر ښکار بابنه هغه ده

دَ محصول چرچنړے لا ورله ښے دی
دَ بابنے په سیل چرچنړو تماشے دی

چه په کړ چنده ښوک ښهٔ کا بابنه سازه
تیز پرے باندِ ښکاره کا ښوښو نازه

چه بابنه دِ خوب ګیری وکه نورسیره
کشاله وربانِدِ مهٔ پسنده تر ډیره

باز بابنه چه خوب ګیری وکه سیر یږی
هم هغه ئے خوئ خصلت شی نهٔ هیریږی

چه په غږ درلړه راشی بابنه ستا ده
چه په غږ دِ شیدا نهٔ وی دَ هوا ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په طلب ئې هسې خپله په هنر کړه
چه دګان سره ئې ته شیر وشکر کړه

رنځ علاج علت دارو لکه د باز دی
د باښې هم هغه هسې ورته ساز دی

خو مسهل د نبات ورکړه بې نمکه
مالګه زیان لری باښې لره بې شکه

د باښې چه سینه سره وی په شا توره
سرفرازه منګلوره باښه ګوره

سره زیړه باښه ښه ده ګل بادامه
بده کومه لکی وره بد اندامه

کۀ باښه تر ډیره کریزه ورسیږی
د جره په طور به نۀ قابوچی کیږی

خو کریز باندِ تیریږی لا ښۀ کیږی
کال په کال په خو بګیر یو کښې زیاتیږی

د باښې په بتوله کښې لا ډیر کار دے
چه باښه ئې دست روکړه میر شکار دے

چه باښه ډنګره نۀ کا نۀ خیر نه
هم هغه سړے به کاندی پړے نیونه

## څوارلسم فصل په بیان د نیولو او د ساتلو د نوی باز کښې

کۀ په نوی باز بیګا بیګا څوک ښکار کړه
د پرواز ویره ئې لږه ده ښۀ کار که

خا بنت غرمه چه څوک په نوی مرغۀ ښکار کړه
د پروازو ویره ئې ډیره ده بد کار که

هر غرمه په خا بنت غرمه تر نماز پښینه
وآسمان ته په پرواز به دور ځینه

د صبا په وخت ئې فکر د طعمې دی
د بیګاه په وخت ئې غم آرام د شپې وی

باز کۀ هر څو په پهره په هنر ساز کړے
خولا اوم دی لا به ته ترے احتراز کړے

چه پخته شی په هر کار به اموخته شی
په بازدار د ښکاری باز نظر دوخته شی

چه ډیر خوړ ب بے پهروشی کۀ ښکاری دے
هم ورک شوے په کوهسار په هموار دے

ډیر ښکاری خانه کریزدی ما لیدلی
له مستئ نه وآسمان ورته ختلی

باز چه پاس په پرواز وخیژی آسمان ته
په سل کروهه ځی په دم وهر مکان ته

د بد خوئ د لم کۀ وتری خو پرونه
باز به پریږدی د پرواز دور خویونه

کۀ بد فعله باز د چا ؤځی له دسته
بیائے بیا مومی سړی په ډیره مرسته

چه له ورایه ځنے تښتی نیول نۀ کا
درته وایم په دا کار دِ علاج څۀ کا

ورته واچوه تار و زرکه تمځرے
ورته ګوره بیا له ورایه لکه ځرے

باز چه ورشی په خوړل په شوکول شی
ورنژدے دِ نور به فکر د نیول شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادِ وبولی بل باز په چرګه مړګه
دَ هغهٔ په قصد به هم ورشی په چرګه

یادِ صبر ورته وُکاچه تیارهٔ شی
په رنړا به دَ چراغ باندِ نیوهٔ شی

کهٔ دِ ورک شی چرے باز په لویه درګه
بوله باز په لوړ آواز دَ چرګ وچرګه

یا په هر لوری دَ درګے کړه اور پورے
را به والوزی دَ درګے خود به ګورے

ورک باز موهے په پوښتنه په پوښتنه
لس پینځلس ورځے کړه دَ باز پوښتنه

په شلمه ورځ کهٔ باز په نظر کښیوزی
ښکاری باز په چرګ دَ چرګ په آواز پریوزی

یادِ بیا ورته ګزک جوړکه په تور کښے
یادِ وتړی چرګ مړګ ورته په ډوډ کښے

زنګوله دَ باز غماز دے په ځنګل کښے
جانزنهٔ دی دَ هیلیو په نیول کښے

ډیر هنر دے دَ بازونو په ساتل کښے
مګر دا هنر پیدا شی په کابل کښے

کهٔ په هره طعمداری دَ باز په ځائے وی
هم بنهٔ ښکار کا هم ئے ورک دَ بد ئی رائے وی

یا ورځه دَ بازو ښکار ته حلق تریخ کړه
یا خپل ځان په ورځ په شپه ورته په سیخ کړه

ورته وایم دَ بازونو ساتل چون دی؟
جګرخون دی جګرخون دی جګرخون دی

هوسناک ئے کهٔ زر زور شی هم بنائینه
کهٔ په عقل هنر جوړ شی هم بنائینه

## پینځلسم فصل په غزل سره په بیان دَ صافولو دَ باز کښے

چه مرغونه دَ آسمان ساتی دا کار
دَ هوښیار دی دَ بیدار دی خبردار

زهٔ دانهٔ وایم چه زهٔ هوښیار بیدار یم
ځما هم له لاسه لاړه دی خو دینار

په صافی کښے ښهٔ بازونه رانه مړهٔ دی
خام کښا دِم کړهٔ بازونه په تلوار

ز نادان خطا لاهسے ګرانه نهٔ وی
کهٔ خطا ده خو خطا ده دَ هوښیار

خو دا هومره تفاوت ترمنځ لیدهٔ شی
چه هوښیار سره پوهیږی په خپل کار

سرشته دَ میرشکارئ ورسره نهٔ وی
بیهوده مرغی ضائع کړه نامیر ښکار

نهٔ مرغهٔ دَ نامیرښکار تر لاس ورمشه
او کهٔ ورشی یا به خاورے شی یا خوار

دَ خوشحال خبره نغوږه پرے عمل کړه
تجربے ئے دی لیدلی دَ روزګار

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپاړسم فصل په بیان د مهره ورکولو باز لره

بازجره لره که مست شی صافی ورکړه — په صافئ ئے د کولمو علت بدر کړه
چه لوئے ښکار ته هوس نۀ کا باز با زداره — مالګه هله د نبات سره کړه یاره
او کۀ نۀ خوتش نبات ورلره ډیر دی — ورکول د مالګې عین لکه زلیر دی
د صافئ دپاره دوه چنړے نبات وی — مالګه نۀ چه تر یوے چنړے نه زیات وی
نورے چوز لره کولئ ترلے بویه — تر بادام د جره کم د بازده لویه
نوی چوز لره مسهل خوتش نبات دی — ډنګر چوز لره کۀ تش دی هم آفات دی
د ښنبرو د شکرو ښۀ مسهل دی — تر نبات تخم لا دا مسهل اول دی
کۀ صافی د ه کۀ مسهل دی کۀ جلاب دی — درے لفظونه دی دا واړه یو حساب دی
لکه نس د سړی و ښیږی روغ شی — په جلاب جمال کوته ئے زړۀ فروغ شی
هسے باز لره جلاب مسهل بائدۀ دی — تر سړی نه لا مرغۀ لره ډیر ښۀ دی
یوے لوږه حرص ډیر شی بل تندرست شی — بل بد پرېږدی د نیولو په کار چست شی
باز شاهین و هر مرغۀ لره پکار دی — چرغ منقار با ښه شکره چه خۀ د ښکار دی
ګلاب چشم ته او ښۀ ورکړه په جام کښے — سیه چشم ته نازه ورکړه په کام کښے
د شاهین مالګه یو حب نبات دوه حبه — چه شاهین به په دا جوړ شی کړه دالبه
باز شاهین چه مسهل و خوری دام کوش — په لوئے ښکار ئے برابر په هغه جوش کړه
هر مرغۀ چه مسهل و خوری ښکار پرے نکړی — د دۀ لوږه به ضائع شی کله ښۀ کړی
د نبات سره هله مالګه بویه — کۀ په زړۀ د باز د ښکار لړی چار لویه
یا دِ بازخانه ګریزوی یا دوتاب وی — چه د ښکار په کار کښے دے په پیچ و تاب وی
خپله لوږه او خپل جوش باز له کافی دی — د نمک له غمه چوز په معافی دی
د کولئ سره سُود څۀ خو د نمک دے — ډیر نمک خوله آفته سره ډک دے
مګر هله کۀ بیمار د خلط د رنج دے — د هغۀ شیر و شکر مالګه لوئے ګنج دے
پرمهره د هر مرغۀ اکثره بویه — د ورمیږ ماغزۀ پرمهره پرمهره بویه
دارچینی هم کاهکاه ورسره وینه — پرمهره سره دا چار ګنړه مهینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چینجی علاج هم نهٔ پرېږدی وباړته
فوائد د دارچینی د خوړو ډیر دی
د هر ښکار تر ټیخی د خوړو د باز صحت دے
که ډېرے ترېخے خوری په زمستان کښے
برمهره کهٔ ټینګه کلکه راوړی سخته
یا د باد و ګولئ ورکړه چه تندرست شی
برمهره که باز وانهٔ چوی بدکار دے
یا یوه دانه اوربشه مشک باندهٔ دی
نهٔ خو صبر سقوطوی که باز ته ورکړے
دا علت چه باز پیدا کا ورته نهٔ شی
برمهره کهٔ ګل ولائ راوړی پریشانه
کهٔ مس نرم په سوهان سره مصعد شی
کهٔ درانهٔ دواړه هډوکی نیسی بیا رته

باد اغیر زحمت هم نهٔ پرېږدی وباړته
ورته څو کښم څوک م یاد دی څوک م هیر دی
لا د چرګ ترېخے دافع د هر علت دے
څو خشخاش د باز علت نهٔ وی په ځان کښے
بنځ ئے مهٔ کنړه دارو کوه د وخته
یا تقلیل د طعمے بویه چه باز چست شی
په دارو به ئے راواچوی بیمار دے
چه ئے وخوری کنړه هو مره هنځ م بنهٔ دی
پر مهره به ئے په دا هُنر بهر کړے
د چار پائے د قاز قلنګ د لوئے غوښے
بیماری که د پیخال سره عیا نه
یو نخود برابر ورکړے سود بے حد شی
یائے خلط دے یائے ضرب د ډهو بنیار ته

## اولسم فصل په بیان د راییستلو د باز له کریزه

په دا ملک کښے چه ځما وطن مسکن دے
باز اخست شی له کریزه په میزان کښے
په تحویل د سنبلے راشی بټیرے
قازے هم په میزان راشی که ئے وینے
کهٔ راتلل د مرغابیو په خوشه دی
بسرلی کښے ابتدا په دلو راشی
د هیلیو ښکار موندهٔ شی تر نوروزه
تر غوایهٔ پورے د زانړو ښکار موندهٔ شی
تورتارو زرکے سیسئ په حوت د بنو شی
د تښځری ښکار تر تلے تر حمله

ورته وایم د ښکار وخت چه معین دے
بنهٔ شی ښکار د باز شاهین په دا آوان کښے
مرغابئ او زانړے هم شی رابرخیرے
په اول د لړم راشی قازے سپینے
بنے د ښکار لائق عین په لیندهٔ دی
بنے ئے نیسی په دا وخت چرے سونا شی
تر حمل ئے هو رته نهٔ وی نوره روزه
د بټیرو ښکار په دا موسم کښے بنهٔ شی
په دا وخت د دهٔ نیول په ګرښو شی
کیږی بنه د میږے چار ئے ده اوله

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کریز کښې باز تازه شي په جوزا کښې
نهٔ شي نور دَ مرغو ښکار په دا هوا کښې

## اتلسم فصل په بیان دَ کښېنولو دَ بازونو په کریز

باز چه وخت دَ کریز راشي بنهٔ ئې صاف کړه
ورته وګوره بنهٔ کور نوې پسند لے
نهٔ دَ ونو باندِ سورې وی نهٔ سرې
پکښې پاس روښنائی نهٔ وی دَ بخرې
دَ شمال په لور کهٔ کمه دریڅه وي
نشینه دِ ورته وتړی بنهٔ پلنه
څوک دِ بے بازداره نهٔ ورځي وباز ته
څوک دِ پاس دَ دغه کور دپاسه نهٔ ځي
لمبیدل دَ باز بنهٔ نهٔ دی په کریز کښې
کهٔ کړےکهٔ لمبیدل کا هم دِ کا ندِ
سپیلنی دِ همیشه وباز ته سول شي
ښې طعمے دِ ورکوی پاکیزه پاکے
کله چرګ کله مرغئ کله کوتره
همیشه یوه طعمه ورته علت ده
په کریز کښې باز دې پرخورب مست پرېږدی
چه مستي په باز کښې نهٔ وی بنهٔ آرام وی
په کریز کښې کهٔ دَ خلط زحمت پیدا کا
غوړ دَ تورے غوا خرفه سره پاخهٔ کړه
کهٔ دَ زیت غوړی داشان ورکوی بنهٔ وی
مشتکی کهٔ په کریز کښې خوری بازونه
هم به رنګ د باز دَ ښنو په اصلی رنګ وی

فاسد خلط ورځنې لرے په انصاف کړه
چه بد بوئ نهٔ وی لوګی نهٔ وی وهلے
بد بوئ ورځنې ورچنې هم لرے
خوبو ور لری ترے لرے چړی پری
چه رنړائے ډیره نهٔ وی هم به بنهٔ وی
باز دِ وتړی باز دار په کور دننه
یو باز دار دِ تنها بنهٔ ورځي وباز ته
یو قدم کهٔ باندِ کیږدی کله بنهٔ ځي
تل دِ صافے اوبهٔ ښبي په یوهٔ ځیز کښې
ډک تغار اوبهٔ دِ ږدی دَ باز دَ وړاندِ
کهٔ کړے دِ عود کشته بجور کول شي
نهٔ بد بویه ګنده شوے بد خوراکے
دَ حلوان دورے دَ زړکے غوره غوره
هره هره طعمه باز لره صحت ده
په دا کار به خبردار چه باخرد دی
هغه هومره پرے نهٔ اچوی آرام وی
شودهٔ هم شکرے ماکه دِ دوا کا
کله کله ئے طعمه سره ترخولهٔ کړه
په کریز کښې نوردارو ورته بنهٔ نهٔ وی
نهٔ لمدیږی په اوبهٔ دَ باز پرونه
هم به جوړ دَ دهٔ نوکونه دَ دهٔ جنګ وی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نولسم فصل په بیان د دارو کولو د باز په سبب د خلط په کریز کښې

که ضرور شی چه دارو ورلره بو یه
دا یو خو دارو دی نفع لری لو یه

که د خلط په سبب روغ نه وی بیمار وی
بیمار باز پرونه ونیسی آزار وی

اول ورکړه په اوبو نمجنې غوښې
یو خو ورځې بنې بنې غوښې خوښې خوښې

دا خو وخته ئې آرام په دستکشئ کړه
د علت دارو ئې هله په خوشئ کړه

قند بوره دا دواړه توکه بنه میده کړه
دا د غواړ شودو پیو بیا سره کړه

په پخه کښې د باز ترستونې تیر کړه
چه یو خو پیځاله وکه اوبه ویر کړه

د باز خلط به هم په دا علاج بیرون شی
پاک اوصاف به ئې له خلطه اندرون شی

په کریز کښې که بیمار شی هم دا زده کړه
هم دا هومره تر دا نباتات دارو نور مکړه

که بد خوئی یا تریناک یا خام کشادوی
د هغه دِ دا دارو که که اُستاد وی

د غوائی غدود نړدے وذبح گاه ته
یا د مرږه غدود نړدے وذبح گاه ته

غدود بنه په خپلو گوتو کښې ومروړه
چه زرد آب ورځنې لاړ شی چارده جوړه

چه بنه وچ شی دوه عدده څلور ورځې
ورکړه باز ته په طعمه کښې بڅې بڅې

وچې غوښې د ارنب واخله میده کړه
بیائې واخله د مرږک غوښو سره کړه

د بنبرو بچګان په تنګی کښې
جوشیده کړه بنې د غواؤ په غوړي کښې

د طعمې سره که باز هغه غوړی خوری
دا غوړی د باز پرونه لوئې نری خوری

سپین چینجی د ونې هم بنه دی تور غاړی
سازونه د بنبرو غونډه غواړی

خوږ ولږ هم که وچه د سایه شی
له طعمې ئې میده کړی خوری فائده شی

شلاندې هم که په غوړ یو کښې ورته کړی
چه طعمه هغه غوړی کړه په طعمه کړی

په کریز کښې بنه د مرغے د بنا پیرک دے
کم مرغے د تو تکئ هم بهترک دے

پرورده په خوا بره که تیل د شکا نړه غوښې
په کریز کښې ډیرے باز لره دی خوښې

بنه خوږ اچه خبردار په هر علاج شے
علاجونه کړه هله که ته محتاج شے

کنړه کار په طبیعت بنه دے هوښیاره
د دارو چار همیشه ده نا پکاره

پاکیزه طعمې چه باز وهر زنده خوری
زه ضامن که جانور کریز کنده خوری

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شلم فصل په بیان دَ رایستلو دَ باز له کریزه

چه خپل باز په وخت اخلے له کریزه　　له ما یاد لره په ورکړه داخو خیزه
لس پینځلس ورځے ورکړه غوښے وللے　　چې ئے سست که دَ درون دَ وازدو ولے
دستکشی دَ باز کوه چه بنهٔ آرام شی　　بیائے صاف کړه چه ئے لرے خلط تمام شی
له کریزه ئے را واخله بنهٔ ئے ساز کړه　　چه عمل ئے آراسته شی ښکار په باز کړه
کهٔ دِ باز بے وخته واخست له کریزه　　چه ئے وازده لری بنهٔ نهٔ شی عزیزه
دَ کریز محنت دِ واړه ابته دے　　دَ کریز په اخستو تلوار کنده دے
کهٔ هرڅو دَ وخته باز کړ بنړه تو یه　　آخسته ئے دَ میزان په آخر بو یه
چه هوا دَ غارمونهٔ وی ساړهٔ راشی　　دَ کریز په باز هاله مسهل روا شی
په مقدار کرکنړے زړی مالگه بو یه　　په حساب نبات دَ مالگے سره څو یه
اوهٔ بخرے دِ نبات وی یوه مالگه　　تر دا زیات وکم دِ نهٔ وی ذره مالگه
دَ انار په اوبو سازے کړه گولئ !　　ورکوه ئے صبحدم کهٔ خبر ته ئے
دَ کریز دَ باز مسهل په احتیاط کړه　　چرے نهٔ چه باز ضائع شی ځان بقراط کړه
کهٔ بیمار وی نور مسهل ورته نهٔ وی　　تر هرڅهٔ دَ شودو پیو مسهل بنهٔ وی
کهٔ ئے وازده وی په ته کښے پرش نهٔ کا　　پلیته ورلره بویه چه ښکار بنهٔ کا
خورب باز چه له کریزه نه اخست شی　　له آرام نهٔ وی پرکیږی پرے سست شی
چه دَ باز وازده پاره په پرکیدل شی　　په اصلاح بے رانهٔ وړے نور کهٔ سل شی
دَ کریز دی کهٔ دَ کور دی کهٔ دَ تور دی　　کا ردَ هرے چار مرغئ دادی نور نهٔ دی
خورب باز په پرکیدو خلاور ځا یه　　رنځ زحمت مومی کهٔ غوږ باسی خوش را یه
یا په ته یا په لرمون یا په مغزو کښے　　رگ و پئ ئے سست شی و شلیږی په پښو کښے
په شلیدلی باز کهٔ فصل تلینه تیر شی　　بیائے هله کوندِ رنگ دَ باز په خیر شی
په کریز واړه مرغونه سره سم دی　　باز شین شنقار کهٔ لوئے دے او کهٔ کم دے
سنکریزه دِ نژدے اچوی شاهین ته　　چه ئے وخوری خیری نهٔ پریږدی لاچین ته
دَ شنقار کریز دَ یخ دپاسه شینه　　په کریز کښے پاس په یخ باندِ کښینینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاله هم دیخ دپاسه د ښنقار وی
تل د ده له یخ له برفه سر بکار وی
په کربز کښے منع شوے آبداره ده
که د خلط زحمت لری چار نے بنکاره
تر پینځه تر شپږ کریزه پورے جوړ وی
چه تر دا دپاسه کیږی نور باز زوړ وی
په هیلیو که باز زوړ شی هم الوزی
قابوچی شی د تراج د ښکاره وزی
د جره خوبی تر دے یا تر څلور وی
چه تر دے نه زیات کریز خوړی کار نے نور وی
بابنه خو کریزه کیږی لا بنه کیږی
کال په کال بابنه خوا نیږی نه زبیږی
شاهین لا تر باز چه زیات خوړی کریزونه
خوبکیری خوبی د ده شی لا افزونه
باز هغه شاهین هغه چه کریزی شی
په چوزی کښے د ده ښکار نے تمیزی شی

## یوویشتم فصل په بیان د بتوله کولو د بازا و د بابنے

لکه کار د تیرانداز د بر توله دے
هسے رنګه کار د باز د بتوله دے
باز د هسے بتوله وخوری له دسته
لکه غشے سم ثابت وزی له شسته
لس پینځه ګزه چه ولاړ شی پرونه واکه
په قوت د بتولے پرونه پیدا که
خوک چه مشک د بتولے صفا هوار که
د بابنے پرے تړلی وی پرے ښکار که
نهایت د میرشکاری هنرے دا دے
که میرشکار په بتوله کښے په خطا دے
بتوله د د مرغه نه وی په بیره
په قابو په بتوله نے کړه تره ویره
د بابنے په بتوله کښے لا ډیر کار دے
چه بابنه نے ښه دست روکړه میرشکار دے
مشتکی د یا شکره یا د بیسره وی
چه بابنه نے مشتکی کړه مخسره وی
د میرشکار رسا زکړے باز هم د میرشکار وی
د ښه باز د بدسری سره خته کار وی
چه ښه باز د بدسری تر لاسه ور شی
که یو لاس نے بتوله که هم ابتر شی

## دوویشتم فصل په بیان د خورب کولو د ډنګر باز کښے

که تنه غواړے چه د خورب باز ډنګر شی
په دا شان به زر تازه خورب بهتر شی
که ګمان د پرے د خلط د خیرن وی
خلط نے لرے په مسهل کړه مبرهن وی
که د باز نشته طاقت په خط ذلیل دے
د پیوری غوا شوده عجب سبیل دے

Poha Foundation

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا بوره یا مالګه دَ دهٔ حبه میده کړه ——— درې مثقاله دَ غوا پیئ هم ورسره کړه
په نچه ئې چه دَ باز ترحلق فرو کړې ——— دَ خلط ولی به په تِهٔ کښې په ویستو کړې
چه ئې خلط له ځانه ووزی برطرف شی ——— په ښو ښو طعمو به بیا دَ ښکار دَ صف شی
مسهل ځکه وروغ باز ته ورکول شی ——— چه له خلط سلامت شی په نیول شی
دَ مسهل په خوراک باز وی بے علت ——— چه مسهل نهٔ خوری پرے ورشی ډیر زحمت
دَ چینجي په سبب هم مرغهٔ ډنګریږی ——— دَ مرغهٔ خوراک غذا دَ چینجي کیږی
یا دِ باز وَته څهٔ ضرب وی رسیدلے ——— په هغه سبب ډنګراوسی ځپلے
یائې ډیروی په ګرمی کښې پرے ښکار کړے ——— یا بازدار په پړکیدل کښې وی خوار کړے
کهٔ آزار ئې وی دَ خلط حرص ئې وُمری ——— خور درهم پیخال به کهٔ طعمه به نهٔ وری
چه پیخال سره چینجي په مزکه پریوزی ——— دَ چینجي زحمت په دا په نظر کښیوزی
کهٔ آزار ئې له ګرمئ نه وی موندلے ——— هم اوبهٔ ښېنی هم وی رنګ دَ باز وهلے
کهٔ آزار لری دَ ضرب ملول دلګیر وی ——— کهٔ طعمه خوری هم دَ ځان په کاهش خیروی
کهٔ په ډیرو پړکیدلو وی شلیدلے ——— کهٔ ئې کوړے تل ملال اوسی زپلے
په هر رنګ چه باز ډنګرشی دا خوبیه ——— دَ دهٔ ځائې د ننه کونج دَ لکه سوبیه
چه په ډیرې ورځے باز شی ډنګر پاتے ——— هم له ښکاره ئې موقوف کړه ورځې زیاتے
دَ مږهٔ زړهٔ دِ غواړ پیو سره تل خوری ——— یا نرې یا نرې ئې کړه زړهٔ چه باز ئې ښهٔ خوری
کله کله په مسکه غوړه طعمه کړه ——— چه ئې خورینه ښه فائده لری دا زده کړه
کله ګنج نبات ګډ دواړه برابر کړه ——— په مقدار دَ یوهٔ جوزئې باز ته ورکړه
کله یو بادام ماغزه ورکړه دَ وری ——— چه ئې وِته ته تازه غوښے سره وری
دَ بتهیری تازه غوښے هم زیبا دی ——— دَ مږ کوری غوښے سود منے لا دی
کهٔ دَ سوئے غوښے غوړی په غوړې خوری ——— یا چرچنړے ماموله ترې مرې خوری
چه ئې غوښے دَ بسمل په دم لمدیږی ——— تجربه ده ډنګر باز په دا څربیږی

ډنګر باز چه ورېے پاتے شی ډنګریږی
بو یه دا چه په وخت دِ ګډمریږی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درویشتم فصل په بیان دَ طعمه کښے چه دَ کوم ځناور ښه ده

درته ووایم چه ښے دی غوښے کومے   کومے سردے کومے گرمے خشکے کومے
چه به باز پکښے تندرست فراغت اوسی   په خوښئ ئے له مجبوری ته نه یوسی
په ښاروېو کښے اول دَ مرږه غوښے   دَ تندرست ویکساله دَ خوسی غوښے
دَ حلوان غوښے هم ښے دی سردے ترے   که دَ بزے دی که دَ غوا دی چرچرے
هرغرخه ښاروے چه زور غوښے ئے بدے   که ضرور وی که نا کام ورځنۍ دی ردے
سردے خشکے دی غلیظے دَ غوا غوښے   هاضمے لره ترغوا دی دَ خوسی خوښے
دَ اُشتر دَ پسهٔ دَ غوښے یو مثال دے   گرمے خشکے دَ فالج دَ رنځ قتال دے
دَ فرس دَ نیله گاؤ غوښے یوشان دی   گرمے خشکے په عمل سره یکسان دی
غوښے بدے دی دَ خرے دَ گوره خرے   هم غلیظے هم بد هضمے گرمے ترے
خوا نه چرگه هم کوتره ده بهتره   لا ترچرگے نه بهتره ده کوتره
که تمځرے که سیسئ ده او که زرکه   که فاخته ده که چرچڼره ده که کرکه
دَ دے واړو غوښے ښے دی گرمے خشکے   لا په تیره غوښے ښے دی دَ کنجشکے
دَ ماهی غوښے دَ بطے دَ هیلئ   گرمے ترے دی خبر که په دا ته ئے
هغه غوښے چه دَ باز دی درته وایم   دَ تارودی دَ دراج دی خوئے ستایم
یا دَ زرکے دَ سیسئ یا دَ زاغچه دی   یا خو غوښے دَ ځوان چرگ دَ بودنه دی
دَ گوسپند یا دَ آهو یا دَ خرگوش دی   یا دَ زانړے یا دَ بطے بیا دَ وش دی
نرهٔ دَ مرږهٔ کوتره غوښے دَ چرچڼرے   دَ شاهین که، که دَ دهٔ فلاکت سکنے
دَ اوړی مرغئ دَ چا دی دَ باښے دی   له هر څو دارو مرغو لره ښے دی

که فاخته که چرگه ده که موسیچه ده
دَ دوئ غوښه دَ بارئ دپاره ښه ده

## خلیریشتم فصل په بیان دَ آبدارے دَ غوښے ورکړلو

آبداره ښکاری مرغه لره لازم ده   سیه چشم لره ډیره دَ باز هم ده

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بښکاري باز چه مستي وکړه کله
بنهٔ بازدار به لته کښه ورکوله

لته کښه غوښه باز لره کهٔ ښه ده
لمده کړې نه چه سپینه آبداره ده

آبداره خو چرغ شاهین لره واجب ده
ګلاب چشم لره څهٔ خو مناسب ده

دَ شاهین کهٔ لړ خوبې دوم غوزې وي
لر او برئې بیا په ښکار باندِ غوټې وي

چه دَ سپینې آبدارې په غوښو ښکار که
په لوئې صید باندِ هله شاهین کار که

له سرو غوښو سپینه وازده پیدا کیږي
په ګوشتاب سره ئې توره غوښه ریږي

آبداره دَ بازئ منځ کړه ډېره سپینه
نیمائې نیمکوره پریږده پکښې وینه

بارئ ډېره په علت دَ قبل قورت مري
قبل قورت ئې شي چه سپینه آبداره خوري

خپل شاهین په آب وتاب خوړب دوناب کړه
نهٔ په سرو غوښو فربه ئې په ګوشتاب کړه

دَ شاهین چه دا دوه لوړه قوت نهٔ وي
په لوئې صید باندِ دَ دهٔ برې په څهٔ وي

چرغ شاهین لره خو لوړه دَ ښکار بس ده
آبدارې سره سره غوښه نور عبث ده

باز چه ونیسي خپل ښکار غوښه ئې خورینه
ځو مړ یږي باز دِ وخوري غوښې وینه

شوکوي دِ په زور غوښې کمې لوئې
چه او به دَ بازله پوزې شي راتوئې

یو دَ غټې لقمې بویه چه خوراک که
رهګذر به دَ دماغ له خراشکي پاک که

چه سړې دَ باز په ښکار کښې ښهٔ میرښکار شي
هنروَنه ورته ډېر تګه اظهار شي

باریکئ دَ میرښکارئ دِ هنرونو
هومره نهٔ دي چه ئې کښېم په دفترونو

په دا کار کښې هنرونه بالا پست شته
که ئې ګورې روره دست بالائې دست شته

زهٔ خوشحال دَ دغه فوځ تېوسوار یم
پس مانده ورپسې ځم دَ دوئ دَ شمار یم

## پینځویشتم فصل په صحیح تعریف او تشویق دَ میرښکارئ په طرز دَ غزل

په جهان کښې لویه چار دَ میرښکار ده
چه دا چار ګورې هر کار لره پکار ده

خو قابو تالاش دا دوارهٔ دي په ښکار کښې
چار دَ جنګ دَ مړنتوب هم په دا کار ده

په هر کار کښې ئې حکمت هنر حاصل شي
چا چه ښهٔ په لاس نیولې چار دَ ښکار ده

هره چار دَ نیکو بدو چه دَ باز ده
و میرښکار ته ئې په سترګو کښې آشکار ده

آلوده په ډېر غم ورځ دَ عمر راز ده
چه په شمار دَ عمر نهٔ ده ورځ دَ ښکار ده

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته هیڅ دَ ښکار دَ ذ خبرے مکړه
دَ هغه سړی چه طبع دَ بے کار ده

چه خوشحال باندِ دَ ښکار هوا ژوندون شوُ
مرده دِله کهُ په تا باندِ بیکار ده

## شپږ ویشتم فصل په بیان دَ ښکار دَ شاهین کښے

خوک چه ښکار دَ شاهین وویني په سترګو
نور مرغونه شی ودهُ ته لکه چرګے

په خوانئ کښے م هوس دَ شاهین وکړ
چه فارغ شوم ورته باز فرصت رانکړ

اوس په سپینه ږیره ښکار دَ شاهین څهٔ کړم
بیا دا هومره کشالے تالاش ئے نهٔ کړم

کهُ م خویه شاهین چین شی نو بیخے خوښ یم
شاګردی کهُ له ما کاندِ ښهٔ دستکش یم

دَ شاهین ګیرا کوُونه درته وایم
یکایک ئے له ما واوره چه ئے ستایم

کهُ دِ زړهُ وی چه شاهین دِ زمین دوز شی
دا هنر له ابتدا په نوا موز شی

دَ باښے غوندِ ئے واچوه په مزکه
په دلبه ئے نژدے و بوله په مزکه

په وروریُ هسے بوله ناست په مزکه
په دلبه چه درتلهٔ زده که زغابنت په مزکه

په دلبه ستا په ناره چه ښهٔ آشنا شی
پر یه واکه چه حرص پکښے پیدا شی

په دا رنګ یا په رنګ شاهین یار کړه
غرض دا چه په دلبه ئے استوار کړه

چه و مزکے ته نژدے په دلبه راست شی
برابر په دلبه څیُ نهٔ چپ و راست شی

دلبه ئے بوله تل زنده دِ خورینه
آبداره دَ زنده زړهٔ دَ زنده وینه

یوه میاشت یا څلویښت ورځے هنرداکړه
بیا باولئ کَ کوترو ورته دا کړه

چه یو دوه باولئ وخوری دَ کوترے
نور دِ کاندِ په ریزه مرغیو چرے

په ریزه پسے ئے پرین دهٔ بیائے بوله
چه کوهی په بیرته راشی سم ئے توله

په زنده ئے سیر وه آبداره سپینه
چه په ښهٔ حرص ئے خودی ورسره وینه

بیاله پسه مرغابئ یو څو لاسه
چه ښے وُنیسی شاهین دَاس دیاسه

چه شاهین دِ په ریزه نیول اُستاد شی
په نیول به ئے دَ ځان ئے چه اُستاد شی

آبداره دَ هر زنده ورته ضرور ده
کهُ دَ ښکار ده کهُ دَ کور ده چه مذکور ده

اکهٔ شاهین کلوخ نشین شی عیب ئے کوم دے
چه په دا به ئے عیب کاندِ هغه اوم دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بڼهٔ خو دا چه لکه څئ هسې ړادرومي
زړهٔ فرحت دَ دهٔ په تلهٔ په راتلهٔ مومي

په شاهین کهٔ همیشه هیلئ را نیسي
لا به بڼهٔ پرش پیدا که خود به کسي

په هر څهٔ ئې سیروه شاهین بې درنګ
زاغ، کامرغ، ښاړی، لک لک، قاز و کلنګ

کهٔ دِ زړهٔ په ښکار کښې نهٔ یو ښتهٔ ئې صفا کړه
په دا کار په میر میرشکار کښې ئې خلاف کړه

چرې نهٔ وی چه شاهین درنځ سوړ شي
نور به هیڅ درته اونهٔ نیسي کهٔ زوړ شي

همیشه ورکوه سپینه پنبه پاکه
چه هم دائې پرمهره ده له خوړاکه

په ښو ورځ دِ خوری هم وکی دَ پرونه
چه ئې لرې کثافت کا له درونه

آبداره لره با سي غوښه با ئدهٔ ده
آبداره دَ تازه غوښې هیڅ ښه نهٔ ده

اول غوښه په ښهٔ شان سره برګ برګ کړه
یا وُرک په اوبهٔ وللِ دَ وینو ورک کړه

بیائې وُنغاړه دَ شو یو په رو یمال کښې
درست به رنګ دَ وینو ورک شي په دا حال کښې

آبداره به سپینه پاتې شي یک لخته
عیب ئې څهٔ کهٔ درنځ وي یو ښو وخته

دَ زنده سره ئې ورکړه چرغ شاهین ته
منکرمهٔ شه دَ میرشکار و دې آئین ته

## اُوهٔ ویشتم فصل په بیان دَ دستکشئ دَ چرغ کښې

دستکشي دَ چرغ شاهین سره نژدې ده
دَ بارئ دستکشي هم په دا پسې ده

لکه چرغ چه دستکشي غواړي له تا نه
لکړ هم په هسې شان واوره له ما نه

لکړ هم دَ چرغ په اصل کښې یو ذات دے
مساوات لری له چرغه له کجات دے

دَ میرشکار په دستکشئ کښې کار ښکاره شي
هر مرغهٔ په دستکشئ کښې آواره شي

چرغ شاهین دِ میرشکار نهٔ پرېږدي له لاسه
ورځې شپې دِ یو دم نهٔ کیږدي له لاسه

چه ئې هر فعل معلوم شي ښهٔ ښکاری شي
بیا مختار وی چه مرغهٔ ئې اتباری شي

دَ شاهین په باب هر ښو مبالغه ده
خوئې ډېره دستکشي شي هومره ښهٔ ده

دم غوزه بغل سینه دواړه ورنونه
دَ شاهین مرهٔ لګئ دنبال پرونه

دَ شاهین دِ په توپئ کښې دستکشي شي
بې توپئ دستکشي ئې بدمستي شي

دستکشي دَ سیه چشم په دا شان ده
دستکشي دَ ګلاب چشم تر دا میان ده

نوې باز لکه دَ دهٔ فعل خصلت دے
دستکشي دِ ئې په اصل په فطرت وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنې دوه دونیم پهره پهره غواړي
څنې غواړي پهره درسته شپه تمامه
کهٔ هر څو په ښکار کښې سازوي بې هراس
نوې باز چه درته وکا خلوېښت ښکاره
یوه ورځ دِ نوې باز و ښکار ته وړ شي
چه دَ چرګ په آواز راشي خوغږ آوري
نوې باز دِ واوبو وته پرې ایښ شي
داوبو په چشمه سار وي دَ باز جاله
همیشه دِ اوبهٔ ښې هم دِ تغسیل که
دم غوزه لره ئې مهٔ ورو ړه لاسونه
چه شهپر لګئ دَ باز سره یوځائې وي
دواړه ښې دِ پریشانې خطا نهٔ وي
په سینه باندِ مهٔ وهه لاسونه
هر باز دار چه باز خیرن که دَ سزا دے
نوې باز چه طعمه وخوري آرام ورکړه
باز چه ښهٔ په ښکار کښې سازشي باورشي
دا هاله کهٔ باز خوشخوئ وکښنهٔ پرانتي
په چکس ئې کښېنوه تغار دَ وړاندِ
نوې باز کهٔ یوه ورځ کښېني د ننه
هغه ځائې ئې کښېنوه چه عالم ګوري
په ساړهٔ کښې باز ساته په ګرم ځائې کښې
دستکشي دَ باز ښې هم لکه دَ باز دهٔ
چه باز دار سرې دَ باز دستکشي کاندِ

دَ هغهٔ چه سر یه پرونو کښې پیر نغاړي
درسته ورځ ئې هم په لاس لره ترشامه
ترې هراس کړه خو موږ نشي خلوېښت لاس
بیا هاله باندِ باور وکړه اے یاره
بله ورځ دِ دَ بلبلو کاړ پرې کړ شي
هغه باز کهٔ خوک پرې ښکار کاندِ دَ ښکار وي
تل دِ دهٔ ته ډک تغار دَ اوبو کیښ شي
په اوبو دَ باز ژوندون دے دما لاله
په دا کار به ځان تندرست فعل جمیل که
هم ئې تل لره دَ ځانګ دَ لکئ پرونه
چه تیره ناستے عادت کا خوشنمائې وي
په بهله باندِ دجوړ ناستے دَ دهٔ وي
لویولو ته ئې مهٔ پریږده نوکونه
چه هر پرئې درته بریښي هنر دا دے
بیا هاله دَ دستکشئ باندِ هنر کړه
بیا هاله دِ دَ دهٔ دستکشي شي
دَ بدخوئ په دستکشئ دِ ادے تبنتي
چه آرام که فراغت که غسل کاندِ
بیل له خلقو نور خوبي لاړه له دهٔ نه
نور په لاس اخستے بویه چه وښوري
په غار مهٔ کښېنے ئې ساته په سړدنمائې کښې
دَ شکرې دَ بیسري لازیاته جواز دهٔ
روستو نه عالم دِ ځي دَ باز دَ وړاندِ

کهٔ دَ باز دَ روستو تیر څوک په هلئ هرئې شي
چه په ترس پرکیدل کاندِ نو بدخوئ شي

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتهٔ ویشتم فصل په بیان دَ رنګونو دَ مارغانو کښے

رنګا رنګ پاسی له جالے نه مرغونه
لکه باز هسے شاهین لری رنګونه

دَ مرغانو ها په جاله کښے څلور وی
په یوه جاله کښے زیږوی سپین و تور وی

چه رنګونه ورکوی پروردګار دے
یو دَ بل په څیره نهٔ وی عجب کار دے

ابقازی شاهین په ملک دَ ګرجستان وی
یا په غرونو دَ سنبل دَ هندوستان وی

تردا نورو په قیمت په وزن ګران وی
سینه سره په شا دَ تور کارغهٔ په شان وی

دَ سپین باز لا هومره ډیره بها نه وی
تر سپین باز نه لا افزون قدر دَ دهٔ وی

دَ کوترے باولئ وُخوری وهی زانړے
تر اشیان خیژی چه تورے شی ممانړے

دَ کابل دَ قندهار چه اشیانی دی
دا همه واړه په نام خراسانی دی

دَ شاهین مرغے پیدا که په حمل شی
راوکښنهٔ ئے دَ ثور په اول شی

چه شاهین خراسانی وی ځنے ځنے
دَ بارئ غوندِ لوئے روغ وی اوږدے پلنے

تردامی نه آشیانی شاهین بهتر دے
کهٔ دامی شاهین ښکاری بلند پرده

کهٔ شاهین دِ له نیولو نه منکر شی
بویه داچه په زنده دِ خورب زر شی

دوباره ئے لکه نوے هسے ساز که
ښکار ړیرے هرکله بامداد وخت دَ نماز که

په ریزهٔ ئے سیروه ډنګر دِ اوسی
تر هغهٔ چه قاز کلنګ په ډکه یوسی

کهٔ شاهین دِ بلند پرد رومی میر ښکاره
ته ئے مهٔ نیسه هرګز له ریزه ښکاره

په شاهین سره هیلئ ډیرے نیسه
هسے رنګه به تیز پر شی بیا ئے کسه

شاهین ګرد لنډه لکئ سینه ورښهٔ دے
اوږد ورمیږ مښوکه ورتنه وربښهٔ دے

دَ مښوکے سورے ارت کته ساری
کهٔ ئے مومے بل به نهٔ وی دَ دهٔ ساری

دَ مښوکے سورے لوئے مښوکه لویه
باز شاهین څهٔ دا دَ هر جانور بویه

## نهٔ ویشتم فصل په بیان دَ رنګونو دَ چرغ کښے

چرغ هم ډیر لری دَ باز غوندِ رنګونه
پکښے ډیر دَ مړنتوب دی آهنګونه

چه له جالو الوتلی دی مرغونه
خو چرغونه دی چرغونه دی چرغونه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرغونو مزرے چرغ دے که نے ګورے    په تعلیم کښے د میرښکار وینے کا تورے
هم نے چار ده د تعلیم ډیره آسانه    هم د چرغ د تعلیم چار ده ډیره ګرانه
په دلبه ودلره زر راشی تیار شی    مټ په دا بویه چه ښۀ ورسره یار شی
زور ور دے مړنے دے دماغی دے    تۀ به وائے چه اوس ایل شو لا یاغی دے
ښکار د باز کۀ د شاهین کۀ د باښے که    چه ښۀ سازشی عجائبے چارے ښے که
نقره دم وی هم چهره وی بورسوم فام وی    سپین شودۀ وی سیه پشت وی کلبادام وی
پکښے غوره چرغ سورفام وی توره ژبه    تور هم ښۀ وی بادابنت ئے وی په شبه
شنقار هم اصل د چرغ دے خُما یاره    د سیری دے جاله نۀ که بے کهسا ره
ځنے چرغ اشیان په غوره کښے څوک په سم    دلاور پکښے د سمے دی له فهم
یو شنقار چه تل په واؤرو کښے اشیان که    قیمتی دے ښکار ئے څوک که بادشاهان که
یونړے پشم لری ترویخ د پرونو    ځنے ځنے موزه پائے دی تر نوکونو
چرغ شنقار چه سره پیژنی هوښیاره    ښۀ میرښکار ته ئے ښکاره دی یو څو کاره
اشیانی شنقار هیڅ لیدلے نۀ وی    لکه باز هسے نایاب اشیان د دۀ وی
د شنقار پیژند ګلی د هر چا نۀ ده    چه شنقار ئے لیدلی د هغۀ ده
اشیانی چرغونه ډیر دی په هرلوری    دامی هم عالم په هره کوڅه ګوری
اشیانی چرغونه ښے نیسی هوسئ    دامی زانړے قازی خاړی هم هیلئ
تماشه د دامی چرغ خو د قتال ده    د لوئے فوځ د ځښتن ده د ډیر مال ده

## دیرشم فصل په بیان د تیارولو د چرغ کښے

چرغ په اصل دلاور سرکش مرغۀ دے    چه اُستاد د دۀ ښکاری وی د هغۀ دے
اول بویه چه ډیر چرګ په دلبه وخوری    په طلب دِ د دۀ درسته هوا ومری
آبداره دِ ورکوی زړۀ د چرګونو    لړے لړے دِ ئے بولی په ملګونو
چه عاشق دِ د دا دلبه شی باولئ بویه    زاغ کلموغ ریزه میزه باد ائ نه لویه
بیا دِ مور شی په عقار په خاړی ماړی    بیا دِ دۀ لره د زانړے اولنی غواړی
هسے رنګ دِ باولئ خوری چه تاؤنے زور شی    نۀ دِ هسے باولئ خوری چه باولئ خور شی

Poha Foundation
A.S.KB
POHA
پوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باولئ دِ په دوه زانړے تیار که
نور دِ ځی چه دَ صحرا زانړے پړے بنکار که

درد سر دَ چرغ دَ خاړی ترحد تیر دے
ما دا هومره درته ووے دا هم ډیر دے

ما په چرغ سره نیولی دی ډیر خاړی
چرغ خوخاړی دَ بټیری غوندِ نغاړی

پرے م نور دَ زانړو قازو فکرنه ؤو
که ئم فکر پسے وکړے کارئے څهٔ وو

چه هوا دَ یوے چارے څوک پیدا کا
هم پخپله هغه چار سرے دانا کا

شنقار هم دَ چرغ په څیر اموخته کیږی
ترسپین باز په بها ګران فروخته کیږی

کهٔ نیول شی په خطا په ترکستان کښے
خال خال کښنیوزی په ملکِ هندوستان کښے

دَ اورنګ په وخت هم بنهٔ تیغون شنقار ؤ
په یورپ کښے رانیولی چا دام دار وو

یو خما دام دار نیولے بنهٔ شنقار وو
شاه جهان بادشاه لیدلے دَ دهٔ بنکار وو

یو په سوات کښے پر یو تلے وو پشه کال وو
عجائب په رنګ کبود شنقار آل آل وو

په دا ملک په پیښور کښے چرے چرے
یا په سوات کښے بنهٔ شنقار کښنیوزی دَغورے

## یو دیرشم فصل په بیان دَ اصل په بارئ کښے

بارئ اصل کښے کوهی ده نور څهٔ نهٔ ده
دا اشیان په بحر کهٔ کوهی دَغرهٔ ده

دَ دریاب په جزیره دَعود په وُنه
جګرخون کهٔ دَ مرغیو په سا تنه

مکرکرځی دیو پری په هغه مزکه
اشیانی بحری موندله نشی څکه

په چوزئ کښے بارئ ډیر دادو بیداد که
چه په کور کښے کړیږی شی نرخ کساد که

بارئ توره ده کهٔ سپینه خُما رورهٔ
خو په ډیرو کښے یکرنګه بارئ کورهٔ

چه دوه رنګه چه درے رنګه چه قشقه وی
ترے حذر کړه خو یکرنګه بارئ بنه وی

بارئ هم لکه شاهین په دلبه بوله
چه په تاؤ په دلبه راشی سمه ټوله

آبداره ئے څهٔ خوسره بویه نهٔ سپینه
چرغ شاهین ته غوبنه سپینه ورکوینه

چه بحری په دلبه راسته شوه تیاره
زرئے یوسه نورئے مهٔ نیسه له بنکاره

چه بارئ له بنکاره وُنیسے سره شی
نور به بنکار درته ونهٔ که کهٔ زړه شی

دَ بارئ دارو خواصل پرمهره ده
پرمهره دَ پوست، مغز دَ هډ سره ده

په بارئ چه مرغابئ ډیرے شکار کړی
بیا هاله په زانړو قازو تو تلوار کړی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بارئ د ښکار هم لویه ننداره ده — کۀ ریزه ته میل ونۀ کا ندِ ښکاره ده
د بارئ د چرغ ترمیان خنک پیدا شي — ترشنقاره هغه لا نوره بلا شي

## دوه دیرشم فصل په بیان د جفت کیدلو د غیر جنس کښې

باز خوشخور مرغۀ مزرے دا درے اقوامه — غیر جنس سره جفتي که دا دوه عامه
د مزری د پړانګ ترمینځ ببر پیدا شي — کۀ انکار ورځنې نکړې هسے دا شي
ذات په ذات چه اصل باز دے هغه قیرغے — چه باز ونه رنګا رنګ شو دا تاثیر دے
چرغ شاهین شنقار چه باز سرۀ جفتي که — دا په لعلو په یاقوتو درسفتي که
زاغ تیوس لمچے باز رنګ چه ورسره شي — د هغۀ نتاج نابوده مسخره شي
نۀ ئے فعل نۀ ئے خوئ نۀ ئے هنر وي — کۀ په رنګ کښې باز لیدۀ شي هم بتروي
له شنقاره چه پیدا شي ترس لے کم وي — زرکه زانړه دواړه توکه ورته سم وي
یوه پښه خپله لري د ښکار د پاسه — بله پښه ورځنې بیله نیسي ناسه
چه له چرغ نه چه پیدا شي دلاور وي — له شاهینه چه پیدا شي ډیر تیز پروي
له لګړه چه پیدا شي ریزه ګیر وي — په چستئ په چالاکئ کښې بے نظیر وي
د تیوس زوولي اصل هیچکاره وي — هم په رنګ هم په عمل هر څۀ ښکاره وي
پرونه ډیر لري د ځان تنه ئے لږه — نۀ هنر نۀ هومره پرنۀ هومره لوږه
د کارغۀ زوولي وائي چه زړۀ ور وي — اما ډیر په خوئ کښې خوار ګنده لے پروي

## درے دیرشم فصل په بیان د راویستلو د بچوله هانه

خلق ها د چرګے کیږي دي په غله کښې — ترے چرګوري راپیدا شي په چله کښې
هغه تاو د غلے ورسي تر هوئ — هغه واړه ها مرغے کۀ کے لوئ
چه مرغونه تر سینے ترسینے که هوئ لاندِ — تو دوی ئے آړوي ئے لاندِ باندِ
دا هنر دے چا مرغونو ته ښئیلے — په بند بند ئے هسے بند ورته ویلے
دا همه واړه ښئیلے کرد کار که — راشه وادوره باز مرغي سره چه کار که
چه ئے وباسي له هانه لا هلک وي — هسے شان چه ورکوي خوراک ئے سپک وي

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول غوښے په جوړه کښے ورستے کا
بیلئے وکا زی جدا ځنے پستے کا

بیا هغه لکه خشخاش دلنے دانے کا
په حکمت ئے د مرغۍ په تِه خانے کا

چه مرغۍ د باز قوت پیدا کوینه
په غذا ئے هغه هسے شان ساتینه

له بیضے نه چه پیدا توره بنږه که
د غذا نواله منځ او یا چنږه که

بال و پرد الوتلو چه پیدا که
اول حال ئے په ریزه مرغۍ شیدا که

چه په جاله کښے ریزه مرغۍ وُوینے
ولوئے ښکار وته مرغۍ شی په نږه وینے

زرکے مرکے په چنګال سره زده که
چه نیول د باز مرغۍ په هغو زده که

بیائے وُ باسی له جالے وکهسار ته
چه مرغۍ پرونه ساز کاندِ و ښکار ته

تر مرغیو اول باز په ښکار غوته که
هغه ښکار ور ته زبون او نیم مرده که

بیائے پریږدی و مرغۍ ته دے ئے کسی
له مرغۍ نه هم خلاصیږی مړ ئے نیسی

چه مرغۍ د باز ښکاری شی باز ته شاکه
په دروکښے دروهی ښکار نیسی هوا که

چه ئے زړهٔ وی هسے ښکار د کوهستان که
نه مور پلار بیا یاد وی نهٔ ئے یاد اشیان که

چه مرغۍ د باز په باز پروا دار نهٔ وی
هغه هومره مشقت د باز په ځهٔ وی

په دا کار کښے حیرانی ده غرض کوم دے
مګر بوخ په دا پوهیږی نهٔ چه اوم دے

باز ته چا ورکړه دا هومره پوهه مینه
خپل مرغۍ هسے ساتی نور مرغے خورینه

## څلور دیرشم فصل په بیان د ابتدا د میر ښکاری کښے

ابتدا د میر ښکارئ مشق په جکړ دے
بیا شکره بابنه بیسره ده بیا لګړ دے

داځو توکیه چه بنهٔ روسره ښکاری که
بیا هاله دِ باز شاهین ته تیاوی که

لګړ دیر په دا ملګونو پیدا کیږی
ښکاری نهٔ دے چه له دے چیرے ترهیږی

په دلبه چه بنهٔ تیار په ستونو شی
تلهٔ راتلهٔ ئے عجیبه په کرشنو شی

کهٔ علت دے کهٔ دارو دی کهٔ تعلیم دے
په هرځهٔ کښے اتیا لک سره سهیم دے

ښکار د زاغ عجب په شوق ذوق کاندِ
په سلګونو ستونے خوری لاندِ باندِ

بوتیار سویه عنقا رنیسی خوسنکه
بلکه وریشی ترقازو تر کلنګه

شکرے هم په رنګ ترکیب لکه د باز دے
عینه د باز په شان په خپل بیاض دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا ملک کښې اشيانې شته هم داشته
خونريزه نهٔ بنګالي غونډې نامې شته

يا شکره دَ بنګالې يا دَ پنجاب ده
يا شکره دَ کلابست يا دَ مرغاب ده

دَ بلښې غونډې شکره اموخته کيږي
دَ شکري غونډې باښه اموخته کيږي

په تعليم کښې له اوله بدفعلي که
چه عادت شي شکره ځان لکه اهلي که

خو پرونه دَ لکئ ساتلي بويه
چه پرونه سلامت وي چارده لويه

ښه شکره درته کارغږنيسي ښين کوسي
تور تارو تمځرے هم په ډکه يوسي

بيسره ځهٔ ده نهٔ شکره ده نه باښه ده
تر باښې نه کمينه تر شکري ښه ده

په بل ملک کښې جاله نهٔ لري بې هنده
نام نشان ئې رسيدلے دے ترسنده

تر شکري نه په ليدلو ده خوشرنګه
ستر ګے سرے لري تور سرا وکبوډ چنګه

دَ نيولو ئې عجيبه ننداره ده
نهٔ دِ ولي بيسره ښځه وي ښکاره ده

په ښورنګه دے جفتي چرچنړے نيسي
په خپل کورے ملوکان ننداره کسي

## پينځه ديرشم فصل په بيان دَ خلط دَ باز په سبب دَ غوښې

يا دَ خلط په سبب باز غوښې خطا که
يائې زده کهٔ له تر طعمه خاکه

ياچه تل تل هميشه خوري هغه غوښې
له مجبورے نه سرے قي که هغه خوښے

يائې رګ وپے چه وشلوي په کام کښې
په تخ قي ئې راجارباسي په ناکام کښې

ياچه وخوري طعمه ډيروي پړکيدلي
په ګرمئ کښې پړکيدلي وي شليدلي

يائې تهٔ په بلغم پوروي ياله باده
چه زر زر پرمهره نهٔ خوري له استاده

ياجوشش دَ عقلو دے لري په خوله کښې
يائې دردوي يا نورخهٔ ننه په زړهٔ کښې

په هرشان طعمه رده کهٔ باز داړه
هغه ورځ ورته طعمه مکړه آشکاره

په اوبو کښې مستکي کړه مضمحله
چه ئې باز پخپله وخښي بوځو ځله

اوبهٔ ترمے مستکي چه نوش جان که
کثافت له تنه لرے په هرشان که

بله ورځ دَ امتحان دپاره غوښې
دَ چرچنړو ځهٔ خوور کړه کهٔ شوے خوښې

تربيګاه پورے ورکړه دوه مرغئ
په وار وار نهٔ يکباره کهٔ خبرته ئے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ په وار وار ورکړه څوچرچنې
اوکۀ نۀ خړوی طعمه خوا اچول کا
باز کۀ هرکله طلب دَ اوبو کا نډِ !
هلیله ما ګکه نبات برابر واړه
چه یو څو پېښخاله وکه طلب کار شی
چرګه مرګه دِ وبازته چغوینه
کۀ طعمه ئې تِه ته یوړه خیریت دے
دَ مږکوری یو طعمه ورلړه بنه ده
نور په هره ورځ چه نے طعمے پیدا شی
کۀ په دا هم اسانی دَ باز وُ نشی
دَ مږه زړۀ دِ بنۀ ریزه تنک تنک که
تلخ لونګ دِ دَ نساله پیوګړه که
چه ئې وخوری کۀ تازه په دا علاج شو
په مقدار دَ مهے منیٔ کښے لونګ ورکړه
کۀ په دا دارو بنۀ نۀ شو یوه مهه
اُمید کړه چه باز به روغ په دا دارو شی
کۀ پاره کړے دَ تخمری ترحلق کار ته
دَ سنګدان پرډِ دَ زرکو کړه شی وُچے
دَ سینے دَ کونګی غوښے هم لا ښے دی
دَ غنمو دَ نغن موږکه نوی سوی
په هغه اوبو دَ مږۀ غوښه لمده کړه
دے زحمت لره هم بنۀ دَ میږے پئ دَ
بیا ترکیب دَ سونډ وهلم دَ عسل دے
په دا شان به رنځ علت دَ باز وسکنږے
بویه داچه مقید شی علاج بل که
دا علاج دے لازمی په بازدار بانډِ
داجلاب وبازته ورکړه بنۀ وُغواړه
دَ ترپیه دریزه طعمه پکار شی
چه ئې فهم پرے غلط شی طعمه ورنیه
بیا دِ کانده بنه څۀ ورکه چه صحت دے
چه دوه درے طعمے قبولے که ولجه ده
ورکوی دِ چه قوت بهٔ په دا شی
درته وایم اسانی به ئې په څۀ شی
زک ریشه خر بنبت مربنبت ورځنے ورک که
سائیده دِ دَ لقمے سره کړه وړ که
بنۀ کنږه چرے دَ بل علاج محتاج شو
په صبلۀ دَ ریزه په لقمه سرکه
کۀ ئې صبر سقوطوی ورشی ترتهه
اوکۀ نۀ دَ مرګ دے پرېږ.ده چیکسو شی
په صبائۀ غوښے ورکړے شی وباز ته
له طعمے دِ خوری مقدار دَ بزو پچے
ترهرڅۀ وبازته بدے وچے پښے دی
دَ اوبوسره چه داشی اوبۀ شوی
چه ئې وخوری کۀ ئې هضم کړه غم مکړه
چه ئې خوری ورسره غوښے دَ مرغئ دی
مجرب دے آزموده دے ډیر اول دے

په هدف چه غښے تیر دَ تیرانداز شی
یو خو وی چه دَ هدف په سینه ساز شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږ دیرشم فصل په بیان دَ رحمت دَ قبل قورت او دَ دمه کښې

دوه زحمته په کتاب کښې اندراج دي
قبل قورت دمه دا دواړه لاعلاج دي

قبل قورت نرۍ چینجي لکه ویښتهٔ وي
یوه لویشت وي یا څهٔ کم وا اوږدې نهٔ وي

واړه غټ دَ باز شیند چینجي نور هم وي
نهٔ واړه قبل قورت غونډِ لږم وي

په لید لو سره ډیر چینجي لیدل شي
په درون کښې حواله دَ باز په دل شي

دَ هغو علاج به وایمه دَ وړاندِ
ناقلان په خپل محل خبرے کاندِ

دَ اوبو نه نزله دومي هم هر څهٔ دي
چه دا واړه سره بیل کهٔ پوخ هغه دي

دومي څهٔ دومي سیاره ده کهٔ پوهیږې
هیڅ دارو دَ دومے نشته کهٔ کروهیږې

کهٔ دمه دَ توخي دومي یا دَ زور که
یا ئې رنځ دے یا عقله دَ چه دَ شور که

دا همه واړه علاج لري هوښیاره
رنځ علت ئې په دارو ځي له میر شکاره

## اووهٔ دیرشم فصل په بیان دَ چینجي دَ باز کښې

بو چینجې دَ قبل قورت غونډِ دراز وي
لا څهٔ غټ په دا چه غم الم دَ باز وي

هیڅ آزار دَ دے چینجي و باز ته نهٔ وي
په دا روئې برطرف کړه بد کهٔ بنهٔ وي

چه خیږنې طعمے باز و خوري بد شري
دا چینجي شي تړے پیدا لکه ژوري

تنبیله دَ خولے او بهٔ سره ممزوج کړه
دَ طعمے سره ئې ورکړه دا خروج کړه

چه بیخال سره ئې واړه چینجي پریوزي
یا په دا او یا په نورو دارو وو زي

دار چیني چه پر مهرے سره باز خورینه
دَ چینجي علت په ځان کښې نهٔ پرېږدینه

دے زحمت لره چه باز دَ غوا غوړي خوري
دَ غوا غوړ هم په ډکه سره چینجي وړي

## اتهٔ دیرشم فصل په بیان دَ توخي دَ دومي

کهٔ په توخي دومي باز دمه کوینه
یا ئې ګرد خاورے سپیرې مولره ورشینه

یا دمه دَ ډنګر توب یا دَ جوشش که
یا دمه دَ حرب دَ ضرب دَ ډېر کوشش که

دا همه واړه علاج لري باز داره
فارغ مهٔ شه دَ علاج له کار دوباره

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



معطسات نسوار ضرور ورلره بویه
چه په لار دَ سپیږ موکړهٔ شی دارو ځویه

تر سپیږ موۓ چه اوبهٔ خراشکی بیرون شی
نور به بنهٔ دَ بازماغزهٔ دَ بازلړمون شی

اول مرچ بیا انګوزه دریم حنظل وی
وار په وار نسوار دَ دریٔ وارړو اول وی

تل دَ لنګے غوا پئ وُښکوه میرشکاره
چرے نهٔ وی چه فارغ شے له دے کاره

دَ بازځلۓ بویه همیش په ګرم ځائے کښے
خورغیږی غلط مهٔ شه په دارائے کښے

کهٔ دے یو نفس له ځایه نه بیرون کړے
بیا به سرد و باره غوښ دَ بازلړمون کړے

خوچه باد و ربا ندِ نهٔ لګی سود دادے
چه په ځائے کښے ګرم ناست وی بهبود دادے

ځائے کهٔ سوړ وی پکښے اچوه سکروټه
چه دَ ژمی سوړ ساړهٔ شی ځنے وتِه

توخے دروی ترے له ډیر دَ نوی باز شی
ناګهانه ئے میشتی په هوا ساز شی

په میشتی کښے ګرد غبار لوګے موګے وی
په صحرا کښے کله اور کله لوګے وی

په صحرا کښے بنهٔ بنړونه چشمه سار وی
دَ بازونو دَ ذوق هوا په مرغزار وی

ځکه چوز په اول کال کښے تما میږی
په رنګ رنګ به ئے ساتی کهٔ خوږ پوهیږی

چه دَ کورخانه کریز وی بازهاله وی
چوز مرغی نهٔ دَ ساړهٔ نهٔ دَ غارمهٔ وی

نسوارونه په ډیر رنګه ورکول شی
په یوهٔ نسوار کهٔ نهٔ شی بیا دِ بل شی

ونسوار لره بنهٔ صبر سقوطوی دی
یا بهترے بنے اوبهٔ دَ آهوری دی

دَ بادامو غوړ نسوار و له هم بنهٔ دی
کهٔ ئے ناس کړے ورته بنے تودے اوبهٔ دی

کهٔ په دا هومره داروئے فائده نهٔ شی
سکه علاج به ئے په داغ په پلیته شی

یائے واخله دَ سرپاسه کیږی
کهٔ په علم جراحئ کښے اُستاد ته ئے

دَ حلوان دَ پیه دَ موموساز مرهم کړه
پرېږ ده ځهٔ خو پرهار ئے فراهم کړه

چه زرد آب زوے ترے ځی هومره فائده ده
کهٔ دِ زده وی داهم بنهٔ معالجه ده

کهٔ دَ یږے تریخے باز په هرصبا خوری
خوږ دَ موتو دانے داهم بنه دوا خوری

په دارنغ کښے دَ چارپائے غوښے ګنده دی
دَ چرچنړو دَ ریزه غوښے فائده دی

پرمهره دِ بازهم کله کله خورینه
یونیم برګ دِ دارچینی ورسره وینه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهه دیرشم فصل په بیان د علاج د سپږو د باز کښې

په اغیږ مغیږ چه شی باز په لوږے
فلفل مول یا فلفل دانه بنهٔ میده کړه
د باز سپږے به په دا دارو شی لرے
یا یوه لته خامتا د باز په غاړه
د باز سپږے به راټولے په خامتا شی

د خوارئ د مخه وُشی د باز سپږے
د باز پرونه پړے ترویخ بوړے ګنده کړه
کڅئے ګورے بنے خوندی شی د باز سپږے
اندرون ئے په پرونو کښے وُنغاړه
باز به خلاص له هغو سپږو ونه په دا شی

POHA

## څلویښتم فصل په بیان د عقلی د باز کښې

چه علت له عقله باز لره پیدا شی
په کریاس سره دِ مات د باز جوشش که
چه سپین والے برطرف شی له آزاره
دا درے توکیه که یو ځائے سره میده که
هم دِ ژبه د مرغهٔ که پرے ککړه
د چرچنړے د ریزه غوښے دِ خورینه
که د تورے غوا په پیو اول پاک کا
که د باز عقلی د خولے دوائے دا ده
یا روغن د بلا وی یا زنګار بنهٔ دی
چه ئے فاسده غوښه واړه برطرف شی
دا تخوو پئ دِ رنځ لره دارو دی

په دا شان بهٔ ئے علاج دارو دوا شی
پرے دِ مالګه مالیده په ډیر کوشش که
پتکړے سماق دوه دا او یو جو کاره
هغه ځائے دِ د جوشش پرے آلوده که
باز دِ بنهٔ ساتی له باده له جکړه
د چارپائے غوښے وباز ته زیان لرینه
باز لا بنهٔ چه دا داروئے فرح ناک که
که د پښو د کف پادی دا روا ده
پرے ئے کیږده نور دارو مناسب نهٔ دی
زرد چوبه موم پرے تړه چه بنهٔ ئے کف شی
که د پښے په کف پاکه ئے په پرو دی

## یو څلویښتم فصل په بیان د علاج د پردے د سترګو د باز کښې

چه د باز پرده د سترګو شی ظاهره
دا علت ئے د عقلئ له بد اثر دے
یا خیرنے غوښے خوری له زړه ئے ردے

درته وایم که غوږ باسے دا خبره
یا په ښکار کښے سیخ د دهٔ په سترګو پرے دے
دا آزار ئے شی چه نهٔ کا غوښے ردے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټکرے مشک ونبات کافور دا واړه　　برابرۓ سره واخله وٹے نغاړه
په اوبو کښې ئے تمامه شپه لامده کړه　　په صباځ تف په ستر کو دَ باز ته کړه
یوځو ورځے دا عمل چه په باز وکړے　　بویه داچه ترخانه ئے بیرون نهٔ کړے
دَ چارپایو غوښے باز لره ضرر دي　　دَ چرچڼرو دَ ریزے ورته شکر دی
رس چه واچوی په اور کښې چه بنه سره شي　　هغه دس دِ سارهٔ شوے په اوبهٔ شي
بیائے واخله له اوبو بنهٔ ئے میده کړه　　دَ باز ستر کو ته ئے تف ته ئے نیچه کړه
دا دارو هر کوره ډیر بنهٔ دی عجب دی　　خو بازونه په دهٔ سوغ دی مجرب دی

## دوه څلویښتم فصل په بیان دَ علاج دَ خشکئ دَ باز کښې

کهٔ دَ باز دِ دَ خشکی علت ظاهر شي　　بائدهٔ دادی چه دارو دَ دهٔ هم زر شي
کتره یو څله چه دا علت ځائی شي　　نورئے مرگ دے دا زحمت لادوائی شي
مگر بنهٔ میرشکار پیدا شي چه ئے چاک کا　　چه دَ باز دَ دے علته نه باز پاک کا
باز چه بد دے گنده غوښے خوری چرکینے　　په اوبو سره ئے نهٔ وینځی مهینے
یائے اچوی وښکار ته ډیرے رُخه　　باز بیخال دانے دانے که تیرے رخه
دَ بیخال ئے هسے رنگ هسے کونه وی　　تهٔ به وائے عینه لکه چونه وی
څهٔ خوما لکه ډیر نبات کړه دَ غوا پئ　　صاف کړه باز کهٔ په داکار فهمیدتهٔ ئے
یا نبات له کوچو ګډ کړه کله کله　　خو باد ام ورکوه باز له دما دِ له
یا برگ برگ کړه زړهٔ دَ موزه په پیوتر کړه　　یوځو ورځے دا په وخت وباز ته ورکړه
دے زحمت لره ماغزهٔ دَ وزے بنهٔ دی　　دَ پاچو ماغزهٔ دَ غوا غوړی بد نهٔ دی
په اوبو سره لمدے غوښے کهٔ خورینه　　همیشه په دا زحمت کښې سود لرینه

## دری څلویښتم فصل په علاج دَ باز کښې چه وچے غوښے ئے خوړلی وی

باز چه غوښے بے اوبو خوری کلکے وُچے　　هغه غوښے ئے شی غوټه بکښې غوچے
یاچه ډیره طعمه وُخوری بے حسابه　　وړے نهٔ شی نهٔ ئے کیږی شی کړیا به
تهٔ ئے کښته ته تړوړی نهٔ ئے جار باسی　　بنهٔ باز دار دِ ئے په دا هُنر وُباسی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوترې د تارو یا د تمخرۍ

هغه پښه چه مرغۀ روغه وي نغرلي
په رو رو دِ هغه مزے راځکوینه
دا عمل چه یو ځله بنهٔ تکرار شي
نور دِ نۀ ورکوي هیڅ تر صبحدمه
باد اوبۀ علاج د باز د درے زحمت دے
بیا د باز جوره ونموره په کوتو
انګوزه کۀ په اوبو کښې که خوک تره
کۀ د مهے برابر کند رخوک ورکه

په مرغۀ دِ درسته روغه پښه ونغرې
هغه پښې دِ بنۀ په مزي وي ترلي
بند طعمه به هم له پښې سره راځینه
همګی به برطرف د باز آزار شي
بله ورځ دِ طعمه ورکه بیش وکمه
په نیچه ئے ورکړه باز ته چه صحت دے
په اوبو نوره طعمه نۀ وي د نښتو
په سپیږ موږ ورته ناس کم ده غوزه
له جورے به د باز طعمه بهر که

## شلورشلویښتم فصل په علاج د سستۍ د باز کښې

د چا باز چه سست کاهل شي نۀ که ښکار
شپږ اوۀ ورځے ئے وتړه دننه
مۀ پرے ښکار مۀ دستکشي کړه یو خو ورځے
بیا ئے وباسه وښکار و ته روان شه
کۀ حرص وکه د ښکار ته مۀ وئے وړ پریږدۀ
چه یکه یوخو ورځے باز سیر شي
کۀ کهے دِ د چرچنړے لقمے خورینه
کۀ لږ صبر سقوطوي ورکه خومهه
کۀ ضروروي د تندرست هلک متیاز دے

ورته وایم علاج څۀ کړه دا دے کار
ورکوه ښې ښې طعمے ورته ښادمنه
وانۀ مۀ خله کۀ غارمۀ وي اوکۀ وریځے
نور باز ونۀ دِ ښکار که پرے نګران شه
چه ښکار ونۀ که هغه ځائے ئے ورته کیږده
د سستۍ د کاهلۍ خوئ به ئے هیر شي
په لقمه دِ څۀ خومشک پورے کوینه
کاهلی به ئے بهر کاندِ له تهه
په لقمه سره نانده لری وکازے

## پینځۀ شلویښتم فصل په علاج د پرګردان د باز کښې

کۀ علت د پرګردان چرے عیان شي
کله اچوي باز پرونه بے محله
خوک چه شوروب باز په لاس واخلي لکریزه

د هغۀ علت علاج دِ په دا شان شي
کله پرونه په کال واچوي دوه ځله
باز په ښکار نۀ که پیدا کاندِ داچیزه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا ئې خارې دَ وزرېٔ بېخ پیدا شي
یا پرکیږي په کرېز کښې ډیر په دا شي

یا په ښکار کښې خبردار تړې بازدار نشي
شلانډه ملانډه مړک کربوړې تې ترخوښي

یا ناغښی په کرېز کښې یوځو وسځې
له خوارئ شي دَ باز پرونه تځې تځې

کهٔ علت ئې دَ خرښت وي چه ډنګر شي
بې دارو به ئې په دا کښې محکم پر شي

کهٔ دَ چارې په علت وي غذا بویه
نورغلیظه غذا مهٔ ورکوه لویه

کهٔ درون په کامبیله دَ مرغهٔ پاک کړې
کوچ نبات ئې یو دوه درې ورځې خوراک کړې

دا زحمت به ئې له ځانه تاریه تار شي
پرګردان دَ شلانډې سهل وي نوردار شي

## شپږ شلویښتم فصل په بیان دَ علاج دَ بادو دَ باز کښې

قرقرباد دَ باز نشان دے دَ خشکئ
یا چه ونیسي لوئې ښکار که خبرتهٔ ئې

تېزلونګ دَ ښځې پئ سره امیز کړه
په نهاره ئې مرغهٔ په خوراک تېز کړه

یا لږ صبر سقوطوي ورکړه مرغهٔ له
په لقمه کښې چه زحمت لري هغهٔ له

یا ریشه دَ دارچینۍ نفع لرینه
چه ئې باز دَ پر مهرے سره وُخورینه

دَ رونج هلم سوند هم فائده لرینه
کهٔ میده ئې باز له غوښې سره خورینه

دَ چارمغز غوړي هم ډیره لري نفع
کهٔ له غوښې ئې باز خوري زخم ئې شي دفع

په دا رنځ کښې دَ چارپائے غوښې ګنده دي
غوښې بنې دَ عصافیر ریزه میره دي

## اووهٔ شلویښتم فصل په بیان دَ متفرقاتو کښې

نوے باز په چړګ په غوښه په ګشته
په طلب ئې آراسته کړه سرګشته

ښکار چه ونیسي زړه وینه سینه ورکړه
مړول ئې نور په لاس باندِ اکثر کړه

په آس سور شه کرځوه ئې مړوه ئې
بدخوئ ئې خو هیر یږي هیروه ئې

باز لږ خوري دوه خوارهٔ عادت ښهٔ نهٔ دي
چه عادت په یک خوره شي ښهٔ هغه دي

دوه خوره خو دَ با ښې دَ باز ښهٔ نهٔ دے
باز عادت په یک خوره همیشه ښهٔ دے

کهٔ دَ باز یاد با ښې بازدار شفیق دے
باز با ښې لره لازم څهٔ خو ملهق دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متفرقه

چه دَ غوښې په ځائې باز له ورکوینه — ها، ماهې، کُچ دا درې توکيه دِ خورينه
خميره دِ ووړئ بې مالګې منځ ئې ښهٔ دے — ورسره کهٔ ښهٔ صاف کړې ګبينه دے
دَ سرې دَ مخه باز کهٔ څهٔ تر هيږی — چه په خولهٔ نيولے غوښه خوړی ښهٔ کيږی

## متفرقه

باز کهٔ ښکار له ورايه ووينی بے خبر که — په دا حال کښې دے باز دار نودے دلګير که
کهٔ تودے او بهٔ دَ باز په خولهٔ اندر که — پر مهره به دَ باز هم په دا بهر که

## متفرقه

پاکيزه اوبهٔ کهٔ واخلے دوه درے کوټه — پکښې واچوے توده دَ نغری لو ټه
څهٔ خو ښه غوښه په دا اوبهٔ لمده کړه — دَ اغير دارو دا غوښه دهٔ ته زده کړه

## متفرقه

په طعمه کهٔ باز رغبت نهٔ که باز داره — قنبيله ښه ده دَ دے زحمت دپاره
په لقمه کښې خو دانے قنبيله ورکړه — په ساړهٔ ښهٔ ده په اوړی ترے حذر کړه
يا يوه حبه نمک نبات دوه حبه — دم درحال ورکړه په باز دَ مسهل لبه
بيا دِ خوری طعمه دَ غوا په غوړ ککړه — باز ساته ګوښه له باده له جکړه

## متفرقه

دَ کوکړے غوښے کهٔ باز په ژمی خورينه — هر زحمت لره دِ ير سود فائده لرينه
څهٔ شو باز کهٔ که کهے فرياد بنياد که — بد هغه چه ورے موږ درته فرياد که

... ... * ... ...

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متفرقه

دَ سهپر دَلم کهٔ پر په وېخ کښې ماشي | په دارو دَ هغه مات ځنې برات شي

## دغه رنگه

باز بابنه کهٔ دَ باز دارچرې کوړ پرشي | سفيد نفط کهٔ پکښې واچوي سر بر شي
يائے وکنه غازه ځنې بيرون کړه | موم روغن ورباندِ تکے کړه لدون کړه
په توده پړدې کښې نوک دَ باز نغاړه | کهٔ کوړ شوے وي په دائے سمون غواړه

## متفرقه

دَ چا باز کهٔ بدخوئي که حکم نهٔ وري | بنهٔ آشنا به شي کهٔ داګوليه وخوري
مښک لونګ مصري نبات دارچيني عود | برابر ورسره هم دَ مرهٔ غدود
برابر دِ همګي سره بنهٔ آس که | په صاف کړي کبينه دِ ئے ګرناس که
دَ انارو اوبهٔ هم ورسره بويه | په مقدار حبه ګولئي يا ځنې لوبيه
ګرزوي دِ تل په ښکار کښې دا ګولئي | ورکوي دِ تل په ښکار کښې دا ګولئي
باز کهٔ غوښې دَ ښکار خوړي ځهٔ وېنه مينه | ورسره دِ دا ګولئي هم ورکوينه
هم به باز پهٔ الوتو کښې بے خطا شي | هم به کار دَ خوشخوئيئ پکښې پيدا شي
کهٔ دَ باز شهپر په زور چرې ګنډ شي | کهٔ ئے زر علاج ونهٔ کړے نور ګنډ شي
ميده کړي مالګه غوړ دَ غوا دا دواړه | په سوري کښې ئے دَ پر کيږده پرې غواړه
باز کهٔ ډيره بدفعلي کاندِ آغازه | تداوي ورته دَ صاف شهد کړه سازه

## دَ بازدَ تاؤ دارو

قند بوره کافور دا درے توکيه سره کړه | مسکه هم دَ غوا په قدر ورسره کړه
کهٔ هر خوري باز جُره ګرمئي و هلے
دا علت به ئے په دا دارو وي تللے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متفرقه

موخوری لړه دا خوتوکیه پیدا کړه
توروا نجو خنظل نظرون را پیدا کړه

دَ بازونو رنځ آفت دَ پهٔ ګمان کښې
زیات هاله چه ګرد غبار وي په آسمان کښې

## متفرقه

په تورتم کښې چه باز ناست وي ورو ړلاس
زړهٔ ورتوب دے کهٔ ئے نهٔ وکه هراس

## ایضًا

دَ سارهٔ وهلے باز تریخے دَ یړے
یا دِ دا خوری یا دِ خورَ دَ مچے لړے

زیړ دَ هوئی ماهی تلخهٔ سارهٔ ته بندَه
کهٔ په قدرِ دَ خشخاش دَ غوښت دانهٔ

بنهٔ دَ باز دپاره مشک او مومیائی دی
دَ هرځهٔ دپاره دا داروځائی دی

## ایضًا

دچارپائے دَ غوښو رګ وپلے کړه لړے
مرګ دَ بازدے رګ وپلے کهٔ په باز نغرے

باز چه وُنیسی ښکار وخوری وینه مینه
سورشی هله دے بیا ښکار ترے خلاص نهٔ

## ایضًا

کهٔ دَ باز دَ قولنج درد چرے پیدا شی
په طلب په ښکار په هرځهٔ سست نما شی

کهٔ په قدر دَ بادام ورکړے کاځره
دَ قولنج دَ باد هیڅ نشته نوره ویره

کهٔ دِ زړهٔ وی چه دِ باز خوړب الوزی
په اول چه خوړب ساز خوړب الوزی

باز دَ لویو غرونو لوئی وی دَ کم کم وی
دَ تیراه بازونه خواری سره سم دی

کهٔ په دا خبره کاندِ څوک دعوه
نهٔ ده نیکه دَ دهٔ غرهٔ سره جګړه

په جُسه په تنه فرق تفاوت ډیر که
څوک اشیان په سیوری څوک په ګرم سیر که

باز چه لوږه خواری راځکوی بدحال شی
عیب علت مرض پیدا که خو نیمال شی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته وایمه اګر نه یې دانی
باز ته بده ده طعمه د زندانی

بانګې بازکړ ډیر فریاد نارې غوغا که
لوړئ لاچې چه میده ګړه په غوړ د غوا که

په لس ورځې کښې درې ځله کړ داوخوری
ډیر فریاد به باز پرې کم کړ دارو بنځ خوری

## متفرقه

سونډ لونګ مستکي عود سره میده کړه
د لقوی دارو هم دادی له ما زده کړه

پرې وخوروه ګکړه پرې لقمه کړه
چې ئې هضم کا ندِ ورلږه طعمه کړه

سازوه د باز نوکونه چه خوشرنګ وي
د بادامو غوړ پرې مږه چه خوشرنګ وي

کړ ناخن د باز بهرشي له غلافه
د بادامو غوړئې جوړکه بې خلافه

کړ د باز چنګونه سست شي پرش نه کا
دا زحمت لکه فالج دې ترو دې ځ کا

دهتوره کړم اوبه واخله دا دواړه
د سرې متیازې ګډې کړه په دواړه

کړ سونا وي کړ بورچې وي تبل وروکړه
الماں باش سرخ سرخوشرنګ لره خوخوکړه

هغه تبل چه سیخ پره مرغابئې خورې
هغه هسې کله هره مرغابئې خورې

کړ چرګې دی کړ ابلق واړه دانابود دی
په آواز د تبل هیڅ دی بې مقصود دی

په ارکه په لاې خوره چه ستا رضا وي
لکه بنګار هسې د تبل پرې ادا وي

بادهم بویه مخامخ نه چه ترشا وي
مخامخ د باد د باز غوته زیبا وي

باد بښې کینه ترځنګ د باز غوته خطاکه
کړ ضرور وي ضرور هره چار روا که

## ایضًا

هرصبا د باز بیخال پرمهره ګوره
هسې رنګ ئې مروه هسې ئې زغوره

د بیخال ئې کړ په ځلئې واړه تورسپینې دي
دغدغه وریا ندِ مڼه کړه کړ مهین دی

کڼې تور لړلې نه نرسوې رنګ وي
دا همه د خلط اغیر د زحمت زنګ وي

پرمهره نرمه هم نخښه د زحمت ده
سخته تولّه پرمهره د بازصحت ده

کړ په خولئ کښې عقلې د باز پیدا شي
کړ په بله دوانه شي بیا دِ دا شي

د غوا غوړ د غوا شودهٔ سره تا ودهٔ کړه
په هنرسره داغ ځائې د جوشش ته کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# متفرقه

که د باز جبوره خیری شی بازداره
اندر تل ئے ضروری دی له تلواره

په پرهار کښې ئے رانجه سکاره اندر کړه
هغه ځائے ئے د سمن په غوړ وغوړ کړه

که جوشش د باز پیدا شی په چنګال کښې
روغن داغ ورلره بنه دے په داحال کښې

یا جوشش په مالګو بے سره بنه پاک کړه
بیا میده نکاریږے پورے په تپاک کړه

په جسم کښې که جره د باز په رنګ دے
امتحان ئے په مبنوکه یا په چنګ دے

باز چه کوز په مزکه کښیني له چګسه
په چګس دِ بیا په خپله کښیني کسه

په چګس که ئے ته کښینوے بدکار دے
په داهسے کار خوک نه که چه میرشکار دے

په ساړه دِ چګس نغښتے په نمد وی
سوړ چګس په ژمی باز لره پدید وی

د باز پر د بانس په ستن سیب کړے بنه دے
که د پره په تبل سیب شی هم بد نه دے

که د باز منګل اماس وکه له ضربه
یا د ځاړی د سرخاب د قاز له جربه

پریکړه نوک د ده د کمے کوتے نیچے
چه ترے توئے توے وینه شی بیا وچے

نور هاله دارو مارو ورلره سویه
بیا هاله تر بند مربند ورلره بویه

چه د باز فاسدے وینے ورکے نشی
که هزار دارو پرے کیږے په داخه شی

باز په ژمی بنه ساته په ګرم ځائے کښې
اوړے هم چه معتدل وی په رستلئے کښې

په کلک ژمی په نوروز مسهل بنه نه دی
نور په هر موسم مسهل ورکوه بنه دی

چه ئے اخلی له کریزه هوا ګوره
په غارمه کښې جلاب بِه وی ترے ئے ژغوره

په لهم کښې باز اخلی له کریزه
مسهل هم په دا آوان ورکړه عزیزه

مستکی که په کریز کښې خوری بازونه
د بازونو په نم نه لګی پرونه

بل پرونه د بازونو خوشنمائے وی
بل به رنګ د باز د ښو واړه په ځلئے وی

بل به هیڅ اشتها نقصان ونه کا
بل به لرے ځنے عیب د غارمه کا

باز خو رام خو آرام وی کریز بنه کا
چه نه رام وی نه آرام کریز نه کا

چه د خلط علت د باز وی زنده نه خوری
په نابوده طعمه کله کریز بنه خوری

اول باز له خلط پاک کړه مسهل ورکړه
د کریز په کور کښې بیا هاله اندر کړه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ئې وتړې په کور کښې چه انسان وی ۔۔۔ بیل له خلقه په باز لا کړېږ آسان وی
دست گردان کړیږ هم بنۀ دې چه خوښکار که ۔۔۔ په سیرۍ کښې باز درست اوړې خپل کار که
باز که ئې رنځ لری له بادۀ له جګړه ۔۔۔ په سنګ تاؤ سره دِ خوری غوښه کړه
که دَ غواله شودو ګډې کړې شکرے ۔۔۔ یوچونګ ورکړه خلط دَ باز شی په دالړے
که ئې بوره یا مالګه خوخو ورسره وی ۔۔۔ دَ شودو پیروے ورکړه چار لا بنۀ وی
چه دَ باز ته خالی شی غوښه ورکړه ۔۔۔ ګنړه رنځ زحمت به بیا مومی حذر کړه
چه په لاک باندِ باز نۀ شی په نوکونه ۔۔۔ په خپل ښکار کښې ئې واز نۀ که پرونه
باز به چړے خوښګیری یا تیزپری که ۔۔۔ الوتل نیول به واړه سرسری که
دَ ښنبرو دَ شکرو بنۀ مسهل دے ۔۔۔ اختراع دَ مصنف ده ډیر اول دے
که ئې یوچونګ وباز ته ورکړې زیاتې نشته ۔۔۔ پکښې لوږه خوش فعلی صحت هر څۀ شته
باز چه ګرم باد ته وباسی بازدار ۔۔۔ توخی دومی ورته اېښی وی تیار
باز دَ توخی دَ نزلے دمه پیدا که ۔۔۔ مګر بنۀ میرښکار دَ دے زحمت دوا که
درته وایمه چه درسته میرشکاری ده ۔۔۔ میرشکاری طعمه داری شب بیداری ده
که ئې دارو ولې دارو خو پرمهره ده ۔۔۔ دَاو بو سره لمده څۀ خو قطره ده

چه ضرور نۀ وی دارو لره ترے لرے
نور به ختم کړم په دے خپلے خبرے

ختم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم توک

# سوات نامه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پہ دوران دَ شاہ جھان بادشاہ خوانی وہ
سرائے لہ سواتہ فاصلہ لری دیرش کروہ
درے خیزونہ م دَ سوات دَ زړۂ پہ یاد وو
یو خسران چہ پہ حضور دَ وادۂ کار وو
زۂ نوکروُم، یوسف زی روگردان وو
ملوخان دَ وادۂ کار دِما پہ زړۂ کړہ
تماشا دَ نرگس زار وہ کۂ دَ شکار وہ
سوات م واړہ لکہ مال کړۂ سرتر پا یہ
ملک دَ سوات دَ ملکانو دَ نشاط دے
وشمال وتہ ئے غر بلورستان دے
هندوستان وتہ تور غر لری بدغا شی
تر کابل نہ ئے هوا دَ اوړی ښہ دہ
پہ هوا کښے دَ کشمیر پہ آب و رنگ دے
طولانی درہ تر دیرشو کروهہ ډیرہ
لہ مشرقہ ئے دریاب دروَمی مغرب تہ
پہ هر کلی پہ هر کور کښے ئے وَلے خی
نۂ پرے لار رشتہ نۂ بل کار نۂ ئے بل سُود دے
کلہ کلہ پکښے هسے ارزانی شی
هم سرے اوبۂ چینے لری هم واورے
هر هر ځائے دَ سوات دَ ملک ملوکانہ دے
ملوکانو عیش عشرت دے پکښے کړے
پکښے لوئے منارے شتہ، بتخانے شتہ
دَ میوو دے دَ گلونو دبستان دے
دوہ خیزونہ دی دَ سوات تحفہ تر واړہ
دَ سوات ملک چہ پکښے روغ حویلئی دی

میّسرہ دَ زړۂ هرہ کامرانی وہ
چہ ورکوز شی تر دریا دَ سوات تر کوہ
نورے هرځۂ پہ حیات وماتہ باد وو
بل ئے بوئی دَ نرگس زار دریم شکار وو
څکہ ورغلۂ تر سواتہ څما گران وو
زۂ پہ کور دَ صدر موری، را وادۂ کړہ
پہ پیرئی کښے را پیرزو دَ کرد کار وہ
خبردار ئے شوم لہ هرہ هرہ ځا یہ
پہ دوران دَ یوسفزیو وران رباط دے
شرق کشمیر، غرب ئے کابل او بدخشان دے
پرے خاتۂ بہ دَ لشکرو پہ غوغا شی
دَ کابل هوا ترخہ دَ دۂ خوږہ دہ
حیف دے دا چہ کشمیرارت، دے تنگ دے
عرض ئے دوہ کروهہ یا یو یا تیرو بیرہ
پہ گنج راستے ویل مۂ کوہ کاتب تہ
هم ئے خوری هم ئے هرلوری تہ غلے ځی
خو یو کُنج گوشہ لہ خلقو غلہ بود دے
چہ پہ دوہ تورہ دَ تلو مهمانی شی
نۂ پہ سوات بادِ سموم شتہ، نۂ گرد خاورے
بے سردارہ بے حاکمہ کوہ خانہ دے
پہ هغہ هنر کښے نۂ دے دا وکړے
لوئے کوټونہ حویلئی دَ زملے شتہ
دَ ملوک لائق پہ وخت دَ تابستان دے
گل رخسارے کافر، باز، دا دواړہ
پہ هر کور کښے گلزارونہ سهیلئی دی

پوهه
POHA
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سوات ملک چې درست لائق دَے دَ باغونو
په هرلور کښې فوارے دی آبشارونه
هسے ملک هسے هوا هسے جویونه
کال په کال دَ ملک په هسک کا بدِ باختونه
یوسف زئی ډیر چرګین لری ځایونه
کۀ په سوات کښې په نظیر دی ورتے ماشی
پکښې دوه خله تبژن په بروړو شوم
خُوسړی هومره ئے سپی په هره خُونه
درسته خونه ئے نیولے په کندوانو
بائے زی ئے روزګار کا چه سیالان دی
په هر کال ئے دوصو تیرصو بازنیول شی
کۀ بل شکار دَ سوات په ملک کښې په مقدار
مرغاوئی ئے دَ سیند ترسروپا شته
هم ګاوز بزُونه سرڑے هم کوتهه پائے
چه دَ سوات سره ترلے دے ملک ډیر دَے
دَچترال سرحد دَ سوات سره قریب دے
وچترال وته ئے لار دَ کوهستان ځی
درے خلورمیاشتے دالار وی بنه روانه
تلۀ راتلۀ دَخلائق په دالار کم شی
یوه لار دَ هندوکوه وه ترکستان ته
بله لار چه دَ بتن ځی تر کاشغره
داځو لارے په سرحد دَ هندوستان دی
یوسفزی په شماره ترحساب تیر دی
دَ مغل نمک ئم وخوړه شپیژ پیږئ
رعیت ئم یوسفزی درست ختک وو

یوسف زیو برابر کړله راغو نو
بنۀ شهرونه بنۀ سرایونه بازارونه
نۀ ځایونه ۔ نۀ باغونه ۔ نۀ بویونه
بے شکرو په خپل ځان کاندِ تاختونه
آلوده ګنده بدبوئی لکه سرایونه
دَ منګوړو دَ بروړو ویل په چا شی
هر هر ځائے دانے دانے په خوموړو شم
پراګنه کښې ئے چرګان ګرزی سلګونه
په ګنده روزګار بتر دی ترهندوانو
خواجوزی ئے نور خۀ نۀ دی بقالان دی
کافرکۀ ئے په شکل شمائل شی
په هرلوری تل دل دَ زرګو شکار دے
دَ نااهل دَ توپکو پرے غوغا شته
اَمّا ورکے کړے توپچیا نو خۀ به ولے
دَ یوۀ سردار ترسروپایه تیر دے
غرا وسم ئے آبادان جریب جریب دَے
ترچترال په پښخه ورځے کاروان ځی
ډیر آفت لری له برفه له بارانه
مکر کار په بدرقه دَ ملک سم شی
بله لار دا دَ چترال ده بدخشان ته
بله لار کۀ په مورنګ ځی لره سره
نورے لارے په سرحد دَ خراسان دی
اَما واړه ګاؤ خرونه دی کۀ ډیر دی
ماد زرو پکښے راوغ کړے پیرئ
په حرمت او په عزت کښے ئم خۀ شک وو

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مغل دپاره ما تُورے وهلے
کهٔ ورکزی کهٔ بنګش اوکهٔ یوسفزی
پښتانهٔ م په زړګونو دی وژلی
لا تراوسه دَ سرونوئے انبار دے
په دوران دَ اورنګ زیب بادشاه په بند شوم
درے ځلور کاله په بند دَ اورنګ زیب شوم
دَ مغلو زیست سره ورګار را باندِ اوړوو
را په غاړه دَ مغل منصب په زور وو
ناګهانه په دا ملک فساد بنیاد شهٔ
دَ فساد کهٔ یو بخرے وو ما اور کړهٔ
دریاخان م دَ خیبرٔ ګوتے ځلے دے
چه تنبے م دَ خټک دَ وړاندِ تللے
دَ خپل وُچولی په کار دِ ما باور دے
دا آسمان چرخ فلک وو دا به شوله
یکباره ئے په لاس د نیوے ناپسند دے
دا همه واړه دِ ما ظاهر باطن دی
کهٔ مغل سره دِ ما دَ زړهٔ اخلاص دے
نن دَ واړو پښتنو په ننګ ولاړ یم
چه پښتون شوم په دا هسے سپینه بریره
کهٔ مغل وما ته سل وائی خبرے
دا پوهیږم کهٔ مغل لړه کهٔ ور شم
مخامخ به یو څو ورځے شه نمانځهٔ شم
په تعظیم چه ورته وُدرم مخ وړاندِ
په ورتلهٔ به بیا خدمت را څخه غواړی
پښتانه به را ته هم کاندِ شکنځلے

پښتنو به را ته کړے ډیرے شکنځلے
دِ یو همه دِ ما دَ تیغ په تأسف دی
په سرونو بهٔ ئے خړهٔ غوایهٔ وو لشلی
په اټک په پیښور کښے ئے مینار دے
بے تقصیره بے ګناهه دردمند شوم
خدائے چه خلاص کړم انتقامه نهٔ شکیب شوم
په صحبت ئے دِ ما رنګ لکه تور سکور وو
ته به وائے چه منصب نهٔ وو سورا وروو
دِ ما هم دَ تلافی کار په یاد شهٔ
اور م پورے دَ اورنګ بادشاه په کور کهٔ
ایمل خان م دَ پګړئ شملے دے
دَ مغل را سره ملے وے شورے پلے
چه وما ته څهٔ خایش څهٔ ئے خبر دے
اورنګ زیب بادشاه ویرانه کړه پخپله
خود به خود ئے په ځان وکړلے دا شندے
پښتانهٔ چه واړه خوش له ځانه نن دی
خدائے خبر دے کهٔ پښتون له ما اخلاص دے
دا چه هسے په هر در هر درنګ ولاړ یم
نور م خدائے مهٔ کړه مغل وا یم په خیره
همګی واړه په ما دی خاورے خرے
تراول به لا په چاره کښے بهتر شم
پسے شا به حرام خور ګیدی شکانځه شم
اُمراګان به دَ مغلو خوشی کاندِ
پښتانهٔ چه سره وژنی دیو بړے ویاړی
چه ئے لاف په ناحق دَ ننګ وهلے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په زړهٔ کړم دا یو خوخبرے یا دے  نورے واړه اندیښنے شی را نه بادے
ومغل ته به خبرے په وربوز کړم  سرم پر یوزه که به سر ورته بیا کوز کړم
نهٔ په خپل نهٔ په پردی یم خو په ننګ یم  په دا ننګ کښے څوئی پلار سره په جنګ یم
کهٔ دَ ننګ پښتانهٔ شته ساعت هم دا ئے  په دا ننګ کښے سر ومال وملک فدا دی
داهم شکرچه م وستړله تُوره  دِ ما تُوره په جهان شوه مشهوره
ورځ په ورځ فتح ونصرت تازه تازه شی  کال په کال دَ بښو مغلو جناز شی
ترکابله ترا ټک په سم په غرونو  انبارے دی دَ مغلو دَ سرونو
اورنګ زیب بادشاه پخپله رایت راوړے  کهٔ ئے زر وو کهٔ ئے زور دوړ ئے بړچا وړے
په غرزی له هندوستان را ولاړ شهٔ  حبط خا ورے په سر به بیا رته لاړ شهٔ
پینځهٔ شپږ کالونه تیر دَ دے فتور دی  پښتانهٔ په زړهٔ خوشحال مغل رنځور دی
عاقبت وهیچا ته سرګند نهٔ دے  ګوره څهٔ شی کا ردَ خدائے دَ رسند نهٔ دَے
کهٔ حیات په دا دُنیا یم بخت مدد کا  یوسف زئ دَ نفاق خو یونه رد کا
اُوهٔ میاشتے یم په سوات کښے ګرځیدلے  همه واړه دی عظیم سوګند خوړلی
ملکان به ئے وخپل سوګند ته ګوری  په لشکر به جملګی سره وُشوری
ومغل وته س نن کړم اټک پُوله  ملک به خلاص کړم دَ مغل له غاله غوله
دَ اټک دَ پیښور دَ کابل کوټ څُی  لوئے هلک کو تو نه واړه په دا چوټ څُی
په دا کار کهٔ یوسفزئ بے وفا شی  الوداع ده چه دما به ورته شا شی
نورم ځائے په خوتره په لوحانی دے  کهٔ خوک وی کهٔ نهٔ نا کام دَ کړلانی دے
خو ژوندے یم وابه نهٔ وړم له ډهوړه  مړدکی به په واروار ورشی ترکوړه
کهٔ پیوند دَ ایمل خان دَ دریاخان شته  دَ خوشحال ختک سیلوتر دا میان شته
ورځ په ورځ به کار بهتر دَ پښتانهٔ وی  دَ نن کار به دَ مغلو صبا نهٔ وی
کهٔ نور واړه پُښتانهٔ دَ مغل آش خوری  چه دَ موږه ورته شاده واړه شا شرخوری

خدائے دِ نهٔ کا کهٔ له موږه یو کنډ وشی
بیا به هله په چاجوړ دَ مغل بُووُشی

Poha Foundation

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا دَ خان کلان قصیدٔه ده په احوال دَ جنگ جدل چه دَ مغل له مخالفته وو

په دا کار کښې چه چا وو هلې تورې
په شنواری آفریدی باندِ رحمت شه
چه مغل دَ جګدلی تانړه نیوله
دَ ختکو نه یو لک ختک داخل دی
په ورکزئی په بنګش باندِ نفرین دے
یوسفزئی کۀ و هلې نۀ دۀ تورۀ
کۀ فرصت وی تراوله تر آخره
بیل په بیل کتاب خوجزه سرهٔ ساز کړم
چه په دا فتور کښې شوی دی جنګونه
اوس به حال دَ سوات دَ ملک در تہ بیان کړم
چه دَ ځنګ په کار کښې شی پیدا داچارے
پښتانهٔ واړه نادان دَ جهل کان دی
ما دَ سوات دَ عالم بنه ننداره وکړه
خو په خولهٔ کلمه لولی مسلمان دی
دَ لږ سود دَ لږ بهبود دَ لږ مقصود دی
دَ خپل سود دپاره کړم یاری کاندِ
خبردار کله په شرم په کرم دی
هم ئے کبر، هم ئے حکم، هم ئے ناز وړی
یا ئے شیخ ملا په مکر په افسون خوری
سیوائی بدی دَ لور په لونړه پلوری
په کم اصل په بد اصل نظر نۀ کا
آشنائی درسره کا دَ ښهٔ دپاسه

په مهمندو باندِ مې شرمیندګے بورے
په صافیو په غلجیو برکت شه
غلجئی په پوند تورۀ وُو هله
نور ختک واړه تراوسه لاباطل دی
له دیو واړو اولسونو م زړۀ شین دے
په ها هُو شرکت لری بلا ئے دُوره
دَ دے کار به درته نظم کړم خبره
حال به شرح تر انجامه تر آغاز کړم
تر کابله خرابی په فرسنګونه
دَ دے خلق کاروبار به درعیان کړم
دَ ناکس دَ کس همواره ناهموارے
کۀ ئے واوُرے یوسفزئی په بل شان دی
وهر هر فریق م پټه بنکاره اوکړه
په وعده په عهد قول بے ایمان دی
په اندک له تا خوشنود هم ناخشنود دی
چه ئے سُود نۀ وی بے شرم یاری کاندِ
همګی عبد الزوجه عبد الدرهم دی
په هر څۀ کښې دَ عورتو ساز ناساز وړی
یا ئے مال په خپل پردی مکر خاتون خوری
په دا خو توکو کښې غرق دی مختوری
دَ تهنکو په لالچ خور او لور وادهٔ کا
خپل ساتی طمع به کاندی ستا له لاسه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر روپئ به دِ نقصان کا په روپئ
په تمیز کښې سراسر واړه مبهوت دی
که په کور کښې خزانې لری د
زر و
د ادب په کار کښې هسې ناهموار دی
درست عالم ئې د ګوار په شماره دی
کور په کور ګوندی ګوندی او بد نیتی
نصیحت به درته وایم له ما زده کړه
مخامخ ئې نورخه نشته بې اقراره
که باور ئې یا په هو یا په کرم کړې
په درست کال ئې ګوتې نه خیژی له کاره
یا د سوات خاورې ګنده په کار د کِشت دی
ویش قسمت چه د وفا د مروت وو
پول پیسه پکښې د واړو دین مذهب ده
چه یوه پیسه په خه انواع دوه کیږی
د دُنیا په کاروبار کښې هسې غرق دی
یو عالم دې پړې صبا شی یا بیګاه شی
پکښې نه چه یوسفزې په دا طریق دې
ومیلمه وته ست بربر راشه نشته
اصیلان پکښې بنده غوندِ خرخیږی
که مظلوم چرې ملک وته دادخواه شی
که په خوله کلمه لولی مُسلمان دی
تولا که تبرّا که د دین ننګ وی
که هندو کلمه ولولی مُرتد شی
هسې خلاص دی له ادبه له تمیزه
په هر کار کښې ناهموار نافهمیده دی

آواره کا درسته غوا د غوا په
پیټ
چه بړلئ ورته ګوهر شه یا یاقوت دی
بیا خواره خوری په شر شمو به د نبرو
کښر مشر تور و سپین په یوه شمار دی
تر تاجکولا په زیست کښې آواره
دی
بیهوده له خانه خوش بې برکتی
چه په نه ئې باور کړه په هوئې منه کړه
پسې شائې نورخه نشته بې انکاره
د سقه سرې په خان باندِ ستم کړې
بوتیمار دی د اوبو په شالی زاره
یا له خایه یوسفزئ بدسرشت دی
یوسف زئ په دا کښې بدقسمت وو
اندیشه ئې خو د سیم او د ذهب ده
هم هغه کا هیڅ په بله نه پوهیږی
نه د یو بنځې لوئې هلک ئې تا به فرق دی
که په خوب ئې له بندګئ لاس کوتاه شی
چه په سوات کښې مونده نشی کوم فریق دې
نه د ربې چار نه شناخت مهر د زړه شته
هیڅ خوک نه وی چه په دا دې ورسیږی
چه یوه روپئ بل ورکا روئ سیاه شی
په عمل کښې یوسفزی لکه ددان دی
په دا واړه کښې دهریوه زړه سنګ وی
خوک به نه وائی چه دا په دین کښې بدشی
لکه داړه عربی هندی کنیزه
نادیده دی نادیده دی نادیده دی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې نشته میوه دارې باغي وُنې ۔۔۔ همګی دَ غرۀ پلوسې دي یا غنې
په وعده په عهد تول بې وفا دي ۔۔۔ بې اَدبه بې تمیزه ناصفا دي
دُر سیپه کا نړی یاقوت ورته پوشان دي ۔۔۔ سیب شلغم انار بهي ورته یوشان دي
نهٔ مردانو غوندې ځنې شهنکي کا ۔۔۔ سپینې ږیرې سره تول مسروکي کا
نهٔ ئې قول نهٔ ئې عهد نهٔ ئې بول شته ۔۔۔ خو دَ دیو ریش فش دَ بنګو پول شته
نهٔ پرې حکم وو نهٔ چا څخه ورکوینه ۔۔۔ واړه ځان له ګټي په ځان ئې خورینه
آشنائي خواب وخیال غوندې لیدهٔ شي ۔۔۔ یا په مثل لکه باد چه وریدهٔ شي
مبتلا په خو رنګونه پلیدۍ دي ۔۔۔ مزیدي دي، غسیدي دي، ندیدي دي
چه نیکان پاکان ئې داوي دائې حال وي ۔۔۔ له بدانو نه ئې وایه کوم مقال وي
دَ بابا دَ مال یوازې میراث خور دي ۔۔۔ نهٔ په ترور دي، نهٔ په مور دي نهٔ په خور دي
چه دَ رور ئې جنازه په کور کښې کښېوزي ۔۔۔ که رضا که بې رضا په ورندار پریوزي
له قاتله ځان غلط کا په قصاص کښې ۔۔۔ دَ مقتول په ځائې بل ووژني په خاص کښې
هر مُلا په دا صحبت ورسره مل وي ۔۔۔ په ثنا دَ یوسف زئي وي که غل وي
دالاخهٔ دي خنې نور قباحتونه ۔۔۔ کور په کور سره اخته په شدّ تونه
هومره ملک هومره اولس برکت هیڅ ۔۔۔ که ئې مال که ئې دولت سخاوت هیڅ
کهٔ پالیز دَ ختکو خوک ودان کا ۔۔۔ پخیدو ته ئې پرې نږدې آدم ئې وران کا
کومه ملک ئې هومره زړهٔ هومره خواړهٔ کا ۔۔۔ چه خلور ورځې خلور سړي ماړهٔ کا
کهٔ سړي ئې په صورت لکه آدم دي ۔۔۔ په روزګار په خوئي خصلت له دیو سم دي
په غلط غلط خوینو مبتلا دي ۔۔۔ په بدخوئي په بدخصلت دَ ځان بلا دي
نهٔ سزا دَ بدکارانو پکښې کیږي ۔۔۔ نهٔ په خپل عقل پښنهٔ سړي پوهیږي
چه خوک ووائي دا بنهٔ دي هغه بنهٔ دي ۔۔۔ چه خوک ووائي دا بد دي کله بنهٔ دي
کهٔ په مکر خوک خپل ځان پکښې طبیب کا ۔۔۔ خوک به نهٔ وي چه بنکاره دَ دهٔ تکذیب کا
کهٔ په مکر خوک مُلا شي یا درویش شي ۔۔۔ خوک به نهٔ وي چه خبر دَ دهٔ په کیش شي
هر سړي ئې ومنصب ته اماده شي ۔۔۔ هر مغل چه په سوات راشي شهزاده شي
کهٔ دَ کلي دَ اولس دَ تومن بزرګ دے ۔۔۔ ومیلمه وته ئې کتر مکرر چرګ دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبردار کله په ننګِ افغانی دی — کشمیری او پکلی وال دی لغمانی دی
دَ هغوچه زړهٔ دَ چرګ په مړګ ریږدی — مصلحت دَ تورو سپینو ورته بلیږدی
خکه هسې په هر جنګ بانډِ برے کا — بیا له ترسه جنګ ته نهٔ خی خان مزرے کا
دا نے واړه نامردی ده هیچکاره دی — خیراتی دَ جنګ په کار په څهٔ شماره دی
آسوده په مال په ملک په زر دینار دی — دَ دُنیا روزګار نے نهٔ زده بدروزګار دی
نهٔ نے خوان نهٔ دستارخوان نهٔ چراغدان شته — درسته شپه نے د شونتهیو بد دُخان شته
چه په تیل په دستارخوان نے څهٔ خرخیږی — کهٔ زردار وی هم نے غوښے اوبهٔ کیږی

# فصل

POHA

ملکان خانان نے کل واړه خران دی — عالمان شیخان نے واړه جاهلان دی
چه عبدل عبدل بالهٔ شی پکښے کټ دے — اوس بساند کوطه دَ کلی کهتوی چت دے
دَ جهان عیبونه واړه سره ټول کړه — هغه واړه دَ هُنره دَ غار پسول کړه
دَ تالی کهٔ درته وایم یو کالے دے — ډک شحنک دے دَ اوګرے کهٔ یا تالے دے
دَ کاچو نمسے نهٔ خان دے نهٔ ملک دے — کالګرچن دروغژن غشے دَ هلک دے
ملکی نے په کرم نهٔ ده په تُوره — په دا واړه توکه موروه بانډِ بُوره
کار نے څکه مسخره حبطه سپک دے — خوک چه زیات دے په تپه هغه ملک دے
سود حاصل نے یاد بهٔ یو یا دَ خواست وی — په هر کلی په هر چم بانډِ نے زغابت وی
دَ ملک نے دَ دفتر پولے پتی وی — نورے تورے خاورے تونے په کهتی وی
دَ ملک نے کهٔ درے نور رونړه سکه وی — پدری پتے نے درست ریشه ریشه وی
یوه بخره دَ ملک وی درے دَ نورو — په کم زیات نے سره جنګ وی په لښکورو
چه نیکان پاکان نے دادی حال نے دادے — شیخ میاں نُور پکښے تر واړو لا والا دے

اول حال دَ عالمانو درته وایم
بیا له پسه میاں نُور درته وستایم

عالمان نے همګی واړه سفیهه دی — نهٔ عالم دی نهٔ فاضل دی نهٔ فقیهه دی
چه دَ کنز دَ قدوری شی څان مُلا کا — هر حلال حرام په څان بانډِ روا کا
نهٔ دَ کنز دَ دقیقو څهٔ خبر شوی — نهٔ په مخ دَ قدوری مبصر شوی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونه په سر کېږدي څان مُلا کا
کښېني شرع پرېکوي په رشوتونو
وهرچا ته مسئلې دَ سخاوت کا
په مسجد راځي پېنځه وخته آذان کا
دَ میراث مالونه خوره له ظالمانو
په دا هسې علم برند کښېني مُلا شي
نڼې کښل زده وي نه لوستل تل تکل کا
په نا روغ ئې خوشي لا زیاته تر روغ
لا رنځور غریب صحت نۀ وي موندلې
کۀ په ورکړه کښې څهٔ دَ رنګ څخو تعطیل وي
چه دما په خلقو قدر قیمت نشته
چه رنځور له رنځه خلاص شي را ته شا کا
داچه زر هسې نا ساز کا آغازې
وائي موږ ته چه نظر دَ ستر ګو سپک کا
په دا عام وګړي هسې هیبت کېږدي
کۀ ترس له خدایه نۀ کاندي غلول کا
چه مُلا دَ میا نور په حکم دروي
میاں نور کۀ دَ خنزیر غوښې روا کا
دَ میاں نور مفتیان دَ سوات په ملک کښې دوه دي
لږ ئې علم لږ ئې لوسته ډېر تقریر کا
اوس به وایم دَ میاں نور له حقیقته
راشه واوره په دا هومره قباحت
زۀ چه چون په اعتقاد کښې پاک سُني یم
رافضي ئې په دا هسې اعتقاد کړم
دَ صدیقؓ او دَ فاروقؓ په عشق کښې طاق یم

په هر کلي محلت ګرځي تکي غلا کا
څان قاضي کا په غلط روایتونو
خپله خونه ډکوه بله غارت کا
چه زکوٰة سرسایه نۀ وي مسجد وران کا
نوم په څان باندې کېږده دَ عالمانو
وعالم ته میراث خور دَ انبیا شي
تعویذونه ورکوي په دروغ کښل کا
طشت تعویذ دُعا هیکل کښي په دروغ
چه اخون وي اخستو ته ورنیولې
په غوغا په شور و شر ئې قال وقیل وي
دَ رنځور م بې تعویذه صحت نشته
نور بیا دِ ما تعویذ دَ چا بلا کا
خپل مقصود مطلب حاصل کا په نا سازې
خپل ایمان به په دا هومره چار ورک کا
چه دَ دیو په رضا ځي هر څۀ به پرېږدي
اس به پرېږدي زین به باندې په جاهل کا
هم هغه دَ سوات په ملک کښې سیرئ موی
مُلایان به باندې زر جوړه فتویٰ کا
الله داد او دوست محمد دواړه یاوه دي
چه میاں نور ئې لمسوي هغه تزویر کا
چه تر نور ونۀ دے لا دے بدخصلته
چه په ما باندې ئې جوړ کړۀ تهمت
په کندن دَ رافضي دَ بېخ کني یم
په درست سوات ئې په تکفیر په رفض یاد کړم
دَ عثمان او دَ حیدر بنده قلماق یم

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



آل اولاد دَ پاک رسولؐ واړه منمه
امامان نبيان هم ټول واړه منمه

دَ يزيد پليد په کار باندِ لعنت دے
چه دَ آل سره ئے کړے شرارت دے

دَ بد ذات مکر به علم کښے لابد شی
حَبَشی چه په مخ خال کيږدی لابد شی

# فصل

يو کتاب دے درويزهٔ سره جوړ کړے
دَ سوات خلق ئے کل عالم موړ کړے

نامعقول مجهول بيان پکښے بے ځايه
پکښے بد دَ سيّد وايه يزيد ستايه

دا احوال به په بل فصل کښے آشکار شی
په مطلب نظر لرم چه در آشکار شی

ناکُها نه چه دِ ما په نظر کښيوت
په دا حرف په دا وئيل مِ نظر پريوت

چه لعنت به په يزيد باندِ وائينه
چه په رفض کښے غرّه بے حده وينه

دَ حسينؓ په مرګ يزيد کله راضی وو
بلکه دے دَ دهٔ دَ خون متقاضی وو

امرکان ئے دَ حسينؓ په مرګ قصاص کړل
زهٔ حيران شوم دَ يزيد په هسے خاص کړل

بيائے دا وو پکښے کښلی ده له د يـنه
چه په آل به رافضی درود وائينه

بنهٔ جاهل مُلا چه دا کتاب وو کښلے
ما په دا خبرو دے وو ډير شکنجلے

مخامخ ئے دا خبرے کړے نمائے
چه تهٔ هم سکه رافضی ئے چه دا دد ئے

رد بدل دَ دے خبرے ډير مذکور شهٔ
دا مذکور په واړه سوات کښے مشهور شهٔ

هغه نيم مُلا سړے وان شهٔ دميان نور ته
خس خاشاک ئے مره ولوستل تنور ته

سړے لمبے دَ ميان نور په کورشوے بلے
نهٔ وو خوک چه ئے اوبهٔ کړے باندِ تلے

ملايان شيخان ئے واړه سره ټول کړهٔ
ګڼهٔ واړه به دا ډير په دا ګج کول کړهٔ

ميان نور وے چه اخون دَ موږ امام دے
درست مخزن پرے نازل شوے په الهام دے

په مخزن باندِ چه بد وائی کافر دے
دَ کافر قتل په شرع معتبر دے

چا به دا وے چه لعنت په يزيد وائی
رافضی دے دوازده امام هم ستائی

چا به دا وے نهٔ په تُوره دَ کشتن دے
رافضی په سرو لمبو کښے دَ سوختنی دے

چا به دا وے چه دَ ملکه دَ وېستو دے
چا به دا وے چه توبه ٔ دَ ويشتو دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه لویه هنګامه شوله برپا یه
چه ئے زړۀ هسے خبرے په ما وا یه

ملکان دَ یوسفزیو لکه خرونه
په ګندګی سره لړلی خولے سرونه

نۀ ئے علم نۀ دانش نۀ فهم پوهه
خو دوستي دِ درویزه بانډِ انبوهه

په وئیل دَ درویزه عقیده خومره
لکه عینِ په آیت په حدیث هومره

درویزه چه بیان کړے خپل کتاب دے
نوم ئے مخزن الاسرار کړے جناب دے

هر بیان ئے ناموزون مجهول بے رنګه
خالي پا توله دانشه له فرهنګه

کۀ یوه مصرعه په شل بله په سل ده
نامربوطه ناموزونه په وئیل ده

قافیه ئے لام و دال سره وهلی
په ردیف کښے ئے نون واو سره پیئلی

قصیده دَ بوصری ترجمه کړی
عربي ئے تر پښتو مضحک راوړی

هر هر بیت دَ قصیدے چه دُرمرجان دی
په پښتو کښے تراوړیشو لا ارزان دی

معما دَ آزری ترجمه کړیئے
تصوف ئے وعالم وته نوموړیئے

ترجمه دَ شاه ناصر یوځو اشکاله
وعالم ته جوړه کړی له مقاله

مسئلے ئے نظم کړی په پښتو دی
درته څۀ وایم چه څۀ دی دَ بستردی

په داسے شان کتاب ئے مهابات دَ
دَ جامي ترهفت اورنګ ورته نادیات دَے

ګنده پر دَ ګنده خور سره جوړیږی
خاص په خاص او عام په عام ویل خوښیږی

په حیرت به وا ړه ګوتے وچیچلے
دَ اخون په مخزن چا ګوتے کښیښولے

هر سړے چه په مخزن بانډِ څۀ وائی
په دُنیا کښے ترساعته به خوګ پائی

ملکان شیخان ئے واړه سره ټول کړه
په خپل سحر په افسون ئے کچ او کول کړه

یو میاں خان وو بل مانکئی وو بل سنکر وو
یوسنکر څۀ خو په پوهه کښے بهتر وو

دَ لنګر خټک په کلی کښے زۀ ناست وُم
فراغت دَ توت ترسیوره لانډِ ناست وُم

داسکان رالړه راغلۀ زۀ ئے ویښ کړم
په لیدۀ او په راتلۀ ئے په تشویش کړم

په خندا ئے راته ووے دا خبره
اوس تر وپا سه خوشحال خانه زور وره

په درست سوات دِ غوغا ګډه کړه تۀ خوښ کړے
نۀ دِ غم نۀ دِ پروا نۀ طلاطوب کړے

میاں نور در لړه راغے ناست په رود دے
خبرو لولره راغلو دِ موږ دود دے

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه دعوی دَچا په مینځ کښے شي بنیاده ملکان ئې سره ژغوري له فساده
یا ورځه و میاں نور وته جواب کړه یا قبول دَ درویزه مخزن کتاب کړه
دَ درست سوات دَ ملایانو دا رضا ده چه قبول دِ کا دا کار فائده هم داده
ما وے دین دَ محمدؐ دے ما منلے بے قرآنه بل کتاب دے چا منلے
درویزه نهٔ مجتهد دے نهٔ امام دے دے هم خام تاسے هم خام مخزن هم خام دے
مُلایان دَ سوات همه زکوٰة خوارهٔ دي په دانش په دین په علم خبر څهٔ دي
وے ئې داخواب دَ غشي دَ ناوک دے سکه ترو پاسه میاں نور هم درته ړک دے
ملا ئم وتړله زهٔ هم ورسره روان شوم یک تنها مواجهه په ډیر خصمان شوم
چه غریبي ورته و غریبه له سکه کهٔ خلاصے ورځنے نهٔ وی باندِ لکه
مخامخ و بله کښیناستو په قهر په خبرو مه شکاره کړو سره زهر
ملکان شیخان علمان وارهٔ سره شول دَ خپل لوری ننګ ئې واخست مستعد شول
چه به ما ورته ویل کول دَ مشکو ابلهانو به وئیل کول له پښکو
نهٔ ئې علم نهٔ ئې عقل نهٔ ئې پوهه فضیلت ورځنے لرے په ډیر کروهه
څوک حَکَم منصف حاضر نهٔ وو په میان کښے چه په حق په باطل پوهه شوے په بیان کښے
ملکان په ننګ دَ خپل لوری ولاړ وو عالمان شیخان په نور عضو ولاړ وو
خدائے دَ خپلو صادقانو سره مل وی تر هر چا دَ صادقانو کار افضل وی
شیخ میاں نور پخپله کښیوت په تقریر کښے ما و دهٔ وو چوټ ورکړے په تحریر کښے
کتابت ئې لا پخوا وو راته کښلے مشتمل په جهالت وو ناپسندلے
نهٔ ئې خط نهٔ ئې املا نهٔ ئې انشا وه فضولي ئې خپله کښلې په ملا وه
دَ سلوک دَ تصوف وارهٔ لافونه په املا دَ کاف په ځائے وارهٔ قافونه
همګي ثنا صفت له خپله ځانه طرهات ئې په خو رنګه په خوشانه
ما خواب دَ کتابت وو ورته کښلے په هغه خواب دے درست وو پوهیدلے
ما وے تهٔ لکه ګیدړ په خُم کښے شین ئې خو هم بیا هغه ګیدړ ئې کهٔ رنګین ئې
شاپرک غوندِ په شپه په هوا درومے چه صبا په تا راشي هزیمت مومے
په خطو نو کښے چه ځان و ما ته ستائې ماهم پیژنے چه څوک یم داخهٔ وائې

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل صفت دِ یوسفزیو ته وایه
چه دا هسې احول چشم بدخصال ئ
کهٔ څهٔ شرم څهٔ حیا دَ کیدی خر وې
دَ عروض دَ علم فن م دوهم کښلی
دَ دانش ویل م دهٔ ته لکه باد وو
دا ئې واړه ترعالم پورې شهرت کړه
چه دا هومره دعوی نهٔ کړمه پرمایه
چه خبره دَ مخزن بې ځا یه کیږی
درست دِ نفس په هوا غرق وو سرتر پایه
چه انصاف ئې له ازله په نصیب وی
کار دَ خصم دَ خپل خپسر دَ حق ګوئی ته
ناحقږن په خپل غرض باندِ ولاړوی
مګر خدائې په سرسازه کړه خپیره
الغرض چه ئې خبره کړه آغازه
بیائې وُستایهٔ نیکهٔ په خوخو رنګه
خدائې وتړله ژبه له افسونه
مُوژه کله وایو دا چه یزید شهٔ دے
بل دِ موژ مخزن نهٔ شعر نهٔ بیان دے
کهٔ ئې ګورے درست په شان دَ ضعیفو
یو پښتو کلام موزون دے بیان شوے
هغه ځائې چه دَ رښتیا مهتاب ښکاره شی
دَ رښتیاؤ کرامت لکه باران دے
چه دَ دهٔ دَ خولے نه داخبرې وشوے
پوهیدم دِما ستاره وه پرے غالبه
کهٔ ئې بیا کړه دَ افسون شیوه آغازه

زهٔ دِ پیرژنم چه څوئې ځان مهٔ ستایه
دَ یزید دَ دردریان یا دَ دجال ئې
بس وو دا هومره ویل کهٔ ئې جوهروې
په مخزن دَ مغلظ قسم وو کښلی
له هوائې واړه خپل ویل په یاد وو
دانسته ئې هومره مکر خدیعت کړهٔ
دَ مخزن به دا خبره شی بې ځایه
نور دما قدر قیمت په ملک کمیږی
کنه ولے به دعوی کړه ده بې ځایه
په دعوے کښے راضی کله په تکذیب وی
دواړه یودی جوړوی دَ حق سوئی ته
حق انصاف حساب ئې واړه له زړهٔ ولاړوی
دَ کاذب له خولے نه وُځی وینا غویړه
دیرئې وویل دَ خپلے نیا له نهانه
مستمع شه درست عالم ورته تر درنګه
دا وینا دَ دهٔ دَ ژبې شوه بیرونه
په مخزن کښے درویزه ستایلے نهٔ دے
بیان شوے نظم نهٔ دے په بل شان دے
چه راتلے به له آسمانه له هغو دے
په معنیٰ کښے دَ ګرګون دے بیان شوے
دَ کتانو تار و پود پاره پاره شی
دَ دروغو سحر دوړے دَ بیابان دے
تهٔ به ولئې چه په هرچا توئې او به شوے
له هیبته ئې دا ژوته له ژبه
سود ئې نهٔ وو دِما ژبه شوه پرسازه

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وے بس د ما مقصود مراد هم دا دے
دَ یزید ستائینه کوری په مخزن کښے
زهٔ هم دا خبره وایم خلقه خامه
چه هر څوک په دا خبره خبردار شو
چه تر میان دَ مومنانو شدت بد دے
تهٔ په ننګ دَ پښتانهٔ راغلے ترسواته
په دعوی به درست عالم سره ګډوړ شی
دِ ما هم په دا مطلب باندِ نظر وو
کنه دا پردے به ما کړے واړه څیرے
چه خبر ئے شوم له نقشه له ترازه
و مغلو وته کښل چه شیخ میان نور کړهٔ
وے ئے نور م له مغلو نه توبه دهٔ
دَ دُنیا خبره نهٔ وه کار دَ دین وو
دِ ما روغه په رښتیا، دَ دهٔ دروغه
فضیحت رسوا تر کوره پورے ولاړ شهٔ
چه م ولید هٔ یوهسے کږ زبان وو
په اَعوذُ م دَ خدائے په حکم خوار کړهٔ
ما وے دے به دَ مخزن غلطی دور کا
بیا به څور نګے تعظیم دَ مخزن کاندِ
مدعی سره دَ خدائے د پاره بد یم
کهٔ په دا طور او رپورے په درست سوات شی
بیخ بنیا دے ئے په جهان کښے دَ کشود دے
چه دا هسے عالمان هسے شیخان شته
دَ دُنیا حلال حرام وبله وُنغاړی
په دروغ په بے شرمئ عمر تیر کړی

مدعی په دا خبر وخود آګاه دے
هم مخزن نهٔ دے دَ شعر په هر فن کښے
خود ئے وویل خبره شوه تمامه
چه کینه وُځی دَ روغے طلبګار شوو
بل ستا نور غرض تر دا دعوی ارشد دے
غوږ کا نږهٔ کړه دَ عالم په کم و زیاته
دَ لښکر په ټولول به فساد ګډ شی
بل مقصود م و نظر ته مختصر وو
یو ویشتهٔ م به ئے پرے نښهٔ په ژیرے
مائے هم په ژیره ووژل څو پیازه
ما وے نور دا هسے مهٔ کړه دهٔ منظور کړهٔ
هر چه ننګ دَ پښتانهٔ چار م هغه دهٔ
دَ ما زړهٔ دَ مؤمنانو سره سپین وو
دَ میان نُور سره م وشوه هسے روغه
دَ وګړی اعتقاد ځنے ولاړ شهٔ
چه په مکر په تزویر لکه شیطان وو
دَ شیطان ټولے م واړه تار په تار کړهٔ
دے لا ناست دے دَ مخزن سره سرور کا
غلطی ئے ترے وته کښه لاندِ باندِ
آلوده نهٔ په غرض او نهٔ په حد یم
مکر هاله دِ ما سیله مکافات شی
په جهان کښے پا تو کله دَ پریشو دے
په جهان کښے بدان ډیر دی لږ نیکا شته
هغه واړه مدعی دی چه خدائے غواړی
په روش دَ ګدائی مال ډیر کړی

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو به څه طاعت څه عبادت وي
هغه کرم به نه د علم برکت وي

مونځ روژه چه د ریا دپاره کیږي
له آسمانه به لعنت باندې وریږي

چه د خلق قبولیت ئې په غرض وي
د هغهٔ طاعت طاعت نه وي مرض وي

چه په صدق په اخلاص سره ادا شي
په یوهٔ سجود جنت باندې روا شي

کهٔ هزار ساله سجود کړې بے اخلاصه
په دا هسې نما نځه نه وې غاړه خلاصه

شیخ میان نُور چه خجل ورغے ترکوره
په داخیل ویل پښیمان شهٔ راشه گوره

هر ملک سره خواب د دے مکار دے
په کمی په قصد دما د کاروبار دے

د لښکرو په وتلو اولس ساز شي
بیا د دهٔ له فعله بل فعل آغاز شي

دا ناقص چه بیش همیش وهي په کار کښے
گوره څهٔ شي د لښکر په کاروبار کښے

یوسف زئي خود ننگ و ناموس نهٔ دی
خوک چه نهٔ کا د هغه سړي په خوله دي

کهٔ په خوله د میانور نهٔ کا لښکرے
سکه په سرے د لښکرو خاورے سرے

## فصل

هغه وخت چه پیر روښان فساد بنیاد کړ
پښتنو ورسره تهینګ کار د فساد کړ

پښتانهٔ په هغه دور پیر پرست وو
خوک مرید د شاه عیسیٰ خوک د سرمست وُ

د روښان بخره درک زي افریدي شول
هغه خوښ په رهزني په عنیدي شول

د قاسم په بخره واړه غوریه خیل وو
د نګرهار ورته د بنو شیتک ایل وو

ختک واړه بوبکري پیر منصوري وو
له بدعته له فساده په دوري وو

په مذهب کښے درست ختک سني مذهب دي
امّا پیر ورته له جهله لکه رب دے

کهٔ په دا سبب کافري گوندِ وینه
کنه واړه په مذهب کښے سُني دینه

یوسف زئي همه واړه عیسائي وو
ملکا نو سره کړه په سوائي وو

تاسے شاه عیسیٰ ئے سر په جنګ وو
روښانے پیر منصورے سره دا رنګ وو

درویزه له یوهٔ لوریه راپیدا شهٔ
په لږ علم په دا ملک کښے لوئے ملا شهٔ

چه ئے حال د دے عالم مشاهده کړ
خپل کتاب ئے په کاغذ مسوده کړ

Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ روښان خیرالبیان ئې وو لیدلے
دهٔ چه خوشې میدان بیامو ند سخنګوئې شهٔ
هغه وخت په پښتنو کښې علم نهٔ وو
په مذهب سُنی مذهب وو خارجی شهٔ
ملنګانو به یزید ته کړے شکنځلے
خودَ نفس وَ دَ هوا په کارئې مخ شهٔ
ملنګان ئې واړه ویستل له سواته
په دا فن ئې دَ درست سوات عالم مطیع کړ
هیڅ ئې نهٔ کاتهٔ دِ بدو وفساد ته
درویزه دَ درویزے اوګره خوړلی
چه توره ونیخه هم نهٔ وه دَ وړاندِ
یوسف زی په دا کارکښې بدکیشی کا
په هغهٔ آوان آکبر بادشاه بادشاه وو
شاه عیسٰی ته بهٔ ئې وړے دَ زرو بدرے
مریدی په کلاه په شجره دهٔ
درویشان مرید به وران شه په تعین کښې
درویزه دَ ناکشیسینو دین برپائې کړو
عام عالم قرآن حدیث په سترګو وینی
عام وګړے په معنیٰ لکه دواب دے
چه یوه ګړه سوانه شی دَ وړاندِ
حقیقت دَ هر ابله دَ نادان نهٔ دے
څوک په پیراو په مرشد څهٔ لره ویاړی
شکر دا چه په دا وقت عالمان پیردی
خدائے دِ ما له مدعی شیخانو ژغوری
هر عالم چه ربّانی دے ترے ځاریږم

هغه هم مجهول بیان وو ناپسند لے
په وئیل کښې ئې چه زړهٔ ووهیے توئې شهٔ
درویزه تر مجتهد ورته لا ښهٔ وو
دَ یزید په ستائنش کښې مارجی شهٔ
درویزه به دَ یزید پوزے بللے
ملنګان چه ورکیدل په دهٔ به سخ شهٔ
دم ئې اوواههٔ له کشف وکراماته
وعالم وته ئې خپل کتاب بدیع کړ
نقش ئې کښینا وهٔ په مکرخپل اولاد ته
په دا مکرئې حلوا سره لړلی
قیچے قیچے یوسف زی شو تر لاندِ
چه دَ هر یو کم ذات سره خویشی کا
واړه خلق دَ بادشاه سره ګمراه وو
و بلوڅ لره ورتلے دَ خلق صدرے
کهٔ پیری مریدی دا ده مسخره ده
سل فتنے به ئې پیدا کړے په دین کښې
خارجی ئې یوسف زئی ځائے په ځائے کړو
لا په نورو کوځوګرځی خاورے پیښی
په دوّابو کښې دَ ګډو په حساب دے
هغه نورے ګړے تلهٔ ور پسے کا ندِ
چه دَ خدائے باندِ پیرزودے دَ هغهٔ دے
خپل مراد دِ همګی له علمه غواړی
مدعی شیخان کهٔ هم تر شماره تیر دی
تل د ما دی عالمان دَ سترګو توری
نفسانی وته علیم غوندِ ښکاریږم

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په علم عمل جوړ دے رباني دے
بے عمله علم واړه شيطاني دے

نيم ملا بلاد دين او د ايمان دے
نيم طبيب خطر د تن دے هم د ځان دے

مدعي ملا که ډير علم حاصل کا
دے چه علم په دُنيا پلوري باطل کا

چه په زړهٔ کښے نے ذره د دُنيا عشق دے
د درويش درويشي نشته واړه فسق دے

يوسف زئ ساړهٔ کړهٔ له سيّده
ملنګان نے اوشړل واړه له ضده

# تَمّتْ بِالخَيرْ

موږ دا نشو وئيلے چه دا مجموعه په هر لحاظ مکمله ده او په دے کښے د خوشحال خان بابا ټول منظوم کلام راټول شوے دے. ولے موجوده وخت کښے د دے ضخامت دومره زيات شوے دے چه د نور سوا کولو ګنجائش پکښے نشته. په دے وجه موږ دا جلد بند وو او خپل کوشش د لټون جاري ساتو. هر کله چه څهٔ مستند مواد مو په لاس راغلو نو هغه به د دويم جلد په شکل کښے موږ د ناظرينو په خدمت کښے پيش کړو

(ناشرين)

يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور

کتابت :- غلام لطيف "چيرهارټ" کال ۱۹۹۹ / ۳ فروري

Poha Foundation
A.S.KB

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**